به پښتو ژبه کښې د حدیثو د جلیل القدر کتاب (آثار السنن)
د امام النیموی(رح) مدلله، ملخصه او آسان ترجمه شرحه

انوار السنن

پښتو شرح د

آثار السنن

خصوصیات

- عبارت باندې اعراب
- سلیس ترجمه
- اصول حدیث
- دکلماتو تحقیق
- دهریوحدیث تخریج
- مسئلة الباب
- اختلاف الائمه
- راجح قول
- غرض د امام نیموي

ضبط وترتیب وتخریج

حضرت مولانا حافظ

سمیع الحق حقانی

فاضل جامعه دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک



مکتبه رحمانیه

محله جنگی قصه خوانی پشاور

0302-6209815

0316-9400041

Maktaba Tul Ishaat.com

فهرست :

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۱.	غرض مرتب	۳۲	۲.	مقدمة العلم	۳۴
۳.	د علم حدیث یو څو اهم اصطلاحات	۳۴	۴.	په حدیث . خبر او اثر کې فرق	۳۴
۵.	د حدیث اقسام	۳۴	۶.	د خبر واحد اولنی تقسیم	۳۴
۷.	د خبر واحد دویم تقسیم	۳۴	۸.	د خبر واحد دریم تقسیم	۳۵
۹.	د حدیث مقبول اولنی تقسیم	۳۵	۱۰.	د حدیث مقبول دویم تقسیم	۳۵
۱۱.	د حدیث مردود اقسام	۳۶	۱۲.	حدیث متصل او حدیث مسند	۳۷
۱۳.	په راوي باندې د طعن لس اسباب	۳۷	۱۴.	په اعتبار د طعن في الراوي سره د حدیث غیر مقبول اقسام	۳۸
۱۵.	د بدعتي روایت	۳۹	۱۶.	شاهد او متابع	۳۹
۱۷.	د صحابي تعریف	۴۹	۱۸.	د تابعي تعریف	۴۹
۱۹.	د جرح او تعدیل مرتبې	۳۹	۲۰.	د تعدیل الفاظ	۴۰
۲۱.	د جرحي الفاظ	۴۰	۲۲.	د احادیثو د کتابونو اقسام	۴۰
۲۳.	د حدیثو شپږ صحیح کتابونه	۴۲	۲۴.	د طلب حدیث آداب	۴۲
۲۵.	د آثار السنن د مصنف مختصر حالات	۴۲	۲۶.	د امام نیموي رحمه الله تاریخ پیدائش	۴۳
۲۷.	د امام نیموي رحمه الله علمي لیاقت او مرتبه	۴۳	۲۸.	مشائخ او اساتذه کرام د امام نیموي رحمه الله	۴۳
۲۹.	د امام نیموي رحمه الله مشهور تألیفات	۴۳	۳۰.	نور مشهور تألیفات	۴۳
۳۱.	د امام نیموي رحمه الله تاریخ وفات	۴۳	۳۲.	آثار السنن او ددې منهج او طریقه	۴۴
۳۳.	المقدمة	۴۵	۳۴.	كِتَابُ الطَّهَارَةِ	۴۷
۳۵.	دپاکوالي بیان	۴۷	۳۶.	د کتاب او د باب اصطلاح	۴۷

Maktaba Tul Ishaat.com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۳۷.	دطهارت معنی او اقسام	۴۷	۳۸.	﴿بَابُ الْبِيَاهِ﴾	۴۸
۳۹.	د اوبو احکام	۴۸	۴۰.	ددې باب فقهي مسائل او د مذاهبو اختلاف	۵۳
۴۱.	أبواب النجاسات	۵۸	۴۲.	د پلیتیو بیان	۵۸
۴۳.	باب سؤر الهر	۵۸	۴۴.	د پیشو پس خورده او جوټه	۵۸
۴۵.	﴿بَابُ سُؤْرِ الْكَلْبِ﴾	۶۱	۴۶.	باب دی په بیان د پس خورده د سپي کې	۶۱
۴۷.	د سپي دساتلو حکم	۶۵	۴۸.	﴿بَابُ نَجَاسَةِ الْمَنِيِّ﴾	۶۵
۴۹.	دمني دناپاکوالي بیان	۶۵	۵۰.	د مني، مذي او ودي تعریف	۶۹
۵۱.	﴿بَابُ مَا يُعَارِضُهُ﴾	۷۲	۵۲.	داباب دهغه احادیثو په بیان کې دی چې د تیر شوو حدیثونو ضد او مقابل دي	۷۲
۵۳.	﴿بَابٌ فِي فَرْكِ الْمَنِيِّ﴾	۷۳	۵۴.	دا باب د منیٔ د ګرولو په بیان کې دی	۷۳
۵۵.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَنِيِّ﴾	۷۵	۵۶.	باب دي په هغه حدیثونو کې چې دمنیٔ په باره کې راغلي دي	۷۵
۵۷.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَوْلِ﴾	۷۸	۵۸.	باب دې په بیان دهغه حدیثونه کې چې د بولو په باره کې راغلي	۷۸
۵۹.	دمتیازو ځانګې او د قبر عذاب	۸۰	۶۰.	په ګناه او عذاب کې مماثلت	۸۰
۶۱.	په قبرونو ګلونه شیندل	۸۰	۶۲.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي بَوْلِ الصَّبِيِّ﴾	۸۱
۶۳.	باب دې په بیان دهغه احادیثو کې چې د ماشوم د بولو په باره کې راغلي دي	۸۱	۶۴.	دهلک او د جینیٔ د بولو (متیازو) حکم	۸۴
۶۵.	دماشوم او ماشومې د متیازو په حکم کې د فرق وجه	۸۵	۶۶.	﴿بَابٌ فِي بَوْلٍ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ﴾	۸۶
۶۷.	باب دی دهغه حیواناتو د بولو په باره کې چې غوښې یې خوړې شي	۸۶	۶۸.	﴿بَابُ فِي نَجَاسَةِ الرَّوْثِ﴾	۸۷

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
.۶۹	دا باب دي د خوشئ په پليتوالي کې	۸۷	.۷۰	د سوتي د استعمال نه د ممانعت وجه	۸۹
.۷۱	﴿بَابُ فِي اَنَّ مَا لَانَفْسَ لَه سَائِلَة لَا يُنَجِّسُ بِالْمَوتِ﴾	۸۹	.۷۲	دا باب دي په بيان دهغه څيز کې چې بهيدونکي وينه نه لري نو دهغه په مرګ څه شي نه پليتيږي	۸۹
.۷۳	﴿بَابُ بِمَاسَة دَمِ الْحَيضِ﴾	۹۰	.۷۴	دا باب د حيض د وينې د پليتوالي په بيان کې دی	۹۰
.۷۵	﴿بَابُ الْاَذَى يُصِيبُ النَّعلَ﴾	۹۲	.۷۶	باب دي په بيان دهغه پليتئ کې چې رسيدلې وي پنړي ته	۹۲
.۷۷	﴿بَابُ مَاجَاءَ فِي فَضْلِ طُهورِ الْمَرْاَةِ﴾	۹۳	.۷۸	داباب دي په بيان دهغه احاديثو کې چې د ښځې د اودس نه پاتې شوو اوبو په باره کې راغلي دي	۹۳
.۷۹	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي تَطهِيرِ الدَّبَّاغِ﴾	۹۶	.۸۰	داباب دی په بيان د هغه احاديثو کې چې په دباغت سره د څرمنو دپاکيدو په باره کې راغلي دي	۹۶
.۸۱	د دباغت طريقې او احکام	۹۷	.۸۲	﴿بَابُ آنِيَةِ الْكُفَّارِ﴾	۹۹
.۸۳	د کافرو د لوښو باب	۹۹	.۸۴	﴿بَابُ آدَابِ الْخَلَاءِ﴾	۱۰۰
.۸۵	د بيت الخلاء د آدابو باب	۱۰۰	.۸۶	﴿بَابُ مَاجَاءَ فِي الْبَولِ قَائِمًا﴾	۱۰۷
.۸۷	باب دي په بيان دهغه احاديثو کې چې په ولاړه د بولو کولو په باره کې راغلي دي	۱۰۷	.۸۸	په دواړو حديثونو کې دفع د تعارض	۱۰۸
.۸۹	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَولِ الْمُنْقَطِعِ﴾	۱۰۸	.۹۰	باب دي په بيان دهغه اوبو کې چې جمع کړې شوي وي	۱۰۸
.۹۱	﴿بَابُ مُوجِبَاتِ الْغُسلِ﴾	۱۰۹	.۹۲	د غسل د واجبونکو شيانو باب	۱۰۹
.۹۳	د ښځو احتلام او د غسل حکمونه	۱۱۲	.۹۴	ځلور فقهي مسائل	۱۱۳

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
.۹۵	﴿باب صِفَةِ الْغُسْلِ﴾	۱۱۵	.۹۶	باب دي په بيان د غسل د صفت په باره کې	۱۱۵
.۹۷	د غسل سره متعلق اته مسائل	۱۱۷	.۹۸	﴿بَابُ حُكمِ الْجُنُبِ﴾	۱۱۹
.۹۹	باب دي په بيان د حکم د جنبي کې	۱۱۹	.۱۰۰	د جنابت متعلق مسائل	۱۲۲
.۱۰۱	﴿بَابُ الحَيضِ﴾	۱۲۴	.۱۰۲	باب دي په بيان د حيض کې	۱۲۴
.۱۰۳	﴿بَابُ الاِستِحَاضَة﴾	۱۲۶	.۱۰۴	باب دي په بيان د استحاضې کې	۱۲۶
.۱۰۵	﴿اَبوَابُ الوُضُوء﴾	۱۲۹	.۱۰۶	د اودس بابونه	۱۲۹
.۱۰۷	﴿بَابُ السِّوَاكِ﴾	۱۲۹	.۱۰۸	باب دي په بيان د مسواک کې	۱۲۹
.۱۰۹	د سواک يا مسواک تشريح او حکم	۱۳۱	.۱۱۰	د مسواک حکم	۱۳۲
.۱۱۱	﴿بَابُ التَّسمِيَةِ عِندَ الوُضُوء﴾	۱۳۳	.۱۱۲	د اودس په وخت کې د بسم الله باب	۱۳۳
.۱۱۳	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الوُضُوء﴾	۱۳۴	.۱۱۴	د هغه حديثونو باب چې د اودس په صفت کې راغلي دي	۱۳۴
.۱۱۵	د اباب دی د مضمضې او استنشاق ترمينځ په جمع کولو کې	۱۳۴	.۱۱۶	بَابٌ فِي الفَصلِ بَينَ المَضمَضَةِ وَالإِستِنشَاقِ	۱۳۷
.۱۱۷	د مضمضې او استنشاق ترمينځ د جدائي باب	۱۳۷	.۱۱۸	بَابُ مَا يستَفَادُ مِنه الفَصلُ	۱۳۷
.۱۱۹	باب دي په بيان د هغه حديثو کې چې د هغې نه د فصل فائده کيدي شي	۱۳۷	.۱۲۰	﴿بَابُ تَخلِيلِ اللِّحيَة﴾	۱۳۹
.۱۲۱	باب دي په خلالولو د ږيرې کې	۱۳۹	.۱۲۲	بَابُ تَخلِيلِ الأَصَابِعِ	۱۴۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
.۱۲۳	باب دی په بیان د خلالولو د ګوتو کې	۱۴۰	.۱۲۴	﴿بَابُ فِي مَسْحِ الْأُذُنَيْنِ﴾	۱۴۲
.۱۲۵	باب دي په مسح دغوږونو کې	۱۴۲	.۱۲۶	﴿بَابُ التَّيَمُّنِ فِي الْوُضُوءِ﴾	۱۴۳
.۱۲۷	په اودس کې په ښي طرف د شروع کولو باب	۱۴۳	.۱۲۸	﴿بَابُ مَا يَقُولُ بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الْوُضُوءِ﴾	۱۴۴
.۱۲۹	باب دي په بیان د هغه شئ کې چې ویلي شي روسته د فارغیدو د اودس نه	۱۴۴	.۱۳۰	بَابُ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ	۱۴۴
.۱۳۱	په موزوباندې د مسحې باب	۱۴۴	.۱۳۲	په موزوباندې د مسح تفصیلي بحث	۱۴۷
.۱۳۳	د مسح علی الخفین مشروعیت او ثبوت	۱۴۷	.۱۳۴	د مسح علی الخفین د مدت په باره کې اقوال	۱۴۸
.۱۳۵	د مسح علی الخفین کیفیت	۱۵۰	.۱۳۶	أَبْوَابُ نَوَاقِضِ الْوُضُوءِ	۱۵۱
.۱۳۷	د اودس دماتوونکو شیانو بابونه	۱۵۱	.۱۳۸	بَابُ مَا جَاءَ فِي الْقَيْءِ	۱۵۳
.۱۳۹	باب دي په بیان د هغه څه کې چې د خوب په باره کې راغلي دي	۱۵۳	.۱۴۰	بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الدَّمِ	۱۵۵
.۱۴۱	د وینې د وجې نه د اودس کولو باب	۱۵۵	.۱۴۲	د جسم نه د وینې وتلو حکم	۱۵۶
.۱۴۳	بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الْقَيْءِ	۱۵۸	.۱۴۴	ګرځون او د قئ د وجې نه د اودس کولو باب	۱۵۸
.۱۴۵	د قئ حکم	۱۵۸	.۱۴۶	بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الضَّحِكِ	۱۵۸
.۱۴۷	د خندا د وجې نه د اودس کولو باب	۱۵۸	.۱۴۸	په قهقهې سره د خندا حکم	۱۵۹
.۱۴۹	بَابُ الْوُضُوءِ بِمَسِّ الذَّكَرِ	۱۶۰	.۱۵۰	د ذکر د مسه کولو د وجې نه د	۱۶۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
				اودس کولو باب	
۱۵۱.	ائمه ثلاثو رَحِمَهُمُ اللهُ ته جواب او په دوو حدیثونو کې تطبیق	۱۶۳	۱۵۲.	بَابُ الوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ	۱۶۳
۱۵۳.	په اور باندې د پوخ شوي شي نه د اودس کولو باب	۱۶۳	۱۵۴.	په اور باندې د پوخ کړې شوي شي نه د اودس حکم	۱۶۵
۱۵۵.	بَابُ الوُضُوءِ مِنْ مَسِّ المَرْأَةِ	۱۶۶	۱۵۶.	باب د اودس دي د ښځې د مس کولو نه	۱۶۶
۱۵۷.	د ښځې خکلولو نه اودس حکم	۱۶۸	۱۵۸.	بَابُ التَّيَمُّمِ	۱۶۹
۱۵۹.	باب دي په بیان د تیمم کې	۱۶۹	۱۶۰.	د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دامت خصوصیت	۱۷۳
۱۶۱.	څلور فقهي مسائل	۱۷۴	۱۶۲.	كِتَابُ الصَّلَاةِ	۱۷۶
۱۶۳.	د مانځه د بیانولو باب	۱۷۶	۱۶۴.	بَابُ المَوَاقِيتِ	۱۷۷
۱۶۵.	د مانځه دوختونو د بیانولو باب	۱۷۷	۱۶۶.	د کلماتو تحقیق	۱۸۲
۱۶۷.	بَابُ مَا جَاءَ فِي الظُّهرِ	۱۸۲	۱۶۸.	باب دي په بیان د هغه حدیثونو کې چې د ماسپښین په مانځه کې راغلي دي	۱۸۲
۱۶۹.	د ماسپخین د جواز وخت	۱۸۵	۱۷۰.	د ماسپخین مستحب وخت	۱۸۶
۱۷۱.	بَابُ مَا جَاءَ فِي العَصرِ	۱۸۷	۱۷۲.	د هغه حدیثونو باب چې د مازیګر د مانځه په باره کې راغلي دي	۱۸۷
۱۷۳.	بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ المَغرِبِ	۱۹۰	۱۷۴.	د هغه حدیثونو باب چې د مانښام د مانځه په باره کې راغلي دي	۱۹۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۱۷۵.	دمابنام دوخت دري مسئلي	۱۹۱	۱۷۶.	بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ الضُّحَاءِ	۱۹۲
۱۷۷.	باب دي په بيان د هغه احاديثو کې چې د ماسختن د مانځه په باره کې راغلي دي	۱۹۲	۱۷۸.	دماسخوتن اولني او آخرني وخت	۱۹۴
۱۷۹.	بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّغْلِيسِ	۱۹۵	۱۸۰.	باب دي په هغه احاديثو کې چې په تياره کې د مونځ کولو په باره کې راغلي دي	۱۹۵
۱۸۱.	دسحر مستحب وخت	۱۹۶	۱۸۲.	بَابُ مَا جَاءَ فِي الْأَسْفَارِ	۱۹۷
۱۸۳.	باب دي په هغه احاديثو کې چې په رنړا کې د مونځ کولو په باره کې راغلي دي	۱۹۷	۱۸۴.	دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په دلائلو باندې يوه کتنه	۲۰۱
۱۸۵.	أَبْوَابُ الْأَذَانِ	۲۰۳	۱۸۶.	د اذان بابونه	۲۰۳
۱۸۷.	بَابُ فِي بَدْءِ الْأَذَانِ	۲۰۳	۱۸۸.	د اذان د شروع باب	۲۰۳
۱۸۹.	د اذان واقعه او قصه	۲۰۵	۱۹۰.	له ټولو نه اول داذان کولو سعادت	۲۰۷
۱۹۱.	بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّرْجِيعِ	۲۰۷	۱۹۲.	باب دي په هغه احاديثو کې چې د ترجيع په باره کې راغلي دي	۲۰۷
۱۹۳.	بَابُ مَاجَاءَ فِي عَدَمِ التَّرْجِيعِ	۲۰۹	۱۹۴.	باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د ترجيع د نه کولو په حقله راغلي دي	۲۰۹
۱۹۵.	د اذان کلماتو تعداد	۲۱۱	۱۹۶.	بَابُ إِفْرَادِ الْإِقَامَةِ	۲۱۳
۱۹۷.	باب دي په بيان داقامت دالفاظو په يو ځل ويلو کې	۲۱۳	۱۹۸.	بَابُ فِي كَرَاهِيَةِ الْإِقَامَةِ	۲۱۵

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه
۱۹۹.	باب دي په بيان د اقامت په دوه دوه ځله ويلو کې	۲۱۵
۲۰۰.	بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةُ خَيْرٌ مِنَ النَّوْمِ	۲۲۰
۲۰۱.	باب دي په بيان د هغه روايا تو کې چې د الصلوة خير من النوم په باره کې راغلي دي	۲۲۰
۲۰۲.	بَابٌ فِي تَحْوِيلِ الْوَجْهِ يَمِينًا وَ شِمَالًا	۲۲۱
۲۰۳.	باب دي د مخ په ګرځولو کې ښي طرف ته او چپ طرف ته	۲۲۱
۲۰۴.	ددوو حديثونو په مينځ کې دفع د تعارض	۲۲۲
۲۰۵.	بَابُ مَا يَقُولُ عِنْدَ سَمَاعِ الْأَذَانِ	۲۲۲
۲۰۶.	باب دي بيان د هغه څه کې چې ويلې کيږي د اذان د اوريدو په وخت کې	۲۲۲
۲۰۷.	دوو حديثونو په مينځ کې تطبيق	۲۲۴
۲۰۸.	بَابُ مَا يَقُولُ بَعْدَ الْأَذَانِ	۲۲۴
۲۰۹.	داباب دي په بيان د هغه څه کې چې لوستل کيږي پس د آذان نه	۲۲۴
۲۱۰.	بَابُ مَا جَاءَ فِي أَذَانِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوعِهِ	۲۲۵
۲۱۱.	باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د سهر د ختو نه مخکې د اذان په باره کې راغلي دي	۲۲۵
۲۱۲.	بَابُ مَا جَاءَ فِي أَذَانِ الْمُسَافِرِ	۲۳۰
۲۱۳.	د هغه حديثونو باب چې د مسافر د اذان په باره کې راغلي دي	۲۳۰
۲۱۴.	بَابُ مَا جَاءَ فِي جَوَازِ تَرْكِ الْأَذَانِ لِمَنْ صَلَّى فِي بَيْتِهِ	۲۳۱
۲۱۵.	باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د اذان د ترک د جواز په باره کې راغلي دي د هغه چا د پاره چې په کور کې مونځ کوي	۲۳۱
۲۱۶.	بَابُ اسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ	۲۳۱

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۲۱۷.	باب قبلي طرف ته مخ کول	۲۳۱	۲۱۸.	بَابُ شِدَّةِ الْمُصَلِّي	۲۳۴
۲۱۹.	باب دي د سترې د مونځ کوونکي په بيان کې	۲۳۴	۲۲۰.	دسترې مباحث	۲۳۹
۲۲۱.	بَابُ الْمَسَاجِدِ	۲۴۱	۲۲۲.	د جماتونو (مسجدونو) باب	۲۴۱
۲۲۳.	بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ	۲۴۴	۲۲۴.	جماتونو ته د ښځو د وتلو باب	۲۴۴
۲۲۵.	د ښځو جومات ته تلل څنګه دي؟	۱۴۹	۲۲۶.	أَبْوَابُ صِفَةِ الصَّلَاةِ	۲۵۱
۲۲۷.	دا بابونه په صفت د مانځه کې دي	۲۵۰	۲۲۸.	دتکبير تحريمي الفاظ	۲۵۱
۲۲۹.	بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ وَبَيَانُ مَوَاضِعِهِ	۲۵۲	۲۳۰.	د تکبير تحريمي په وخت د لاسونو د پورته کولو او د تکبير د مواضعو د بيان باب	۲۵۲
۲۳۱.	دتکبير تحريمي مسائل	۲۵۴	۲۳۲.	داحاديثو په مينځ کې تطبيق	۲۵۵
۲۳۳.	بَابُ وَضْعِ الْيُمْنَى عَلَى الْيُسْرَى	۲۵۵	۲۳۴.	دا باب دی په بيان د کيخودلو د ښي لاس په کس لاس باندې	۲۵۵
۲۳۵.	بَابٌ فِي وَضْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الصَّدْرِ	۲۵۷	۲۳۶.	دا باب دی په بيان د کيخودلو د لاسونو په سينه باندې	۲۵۷
۲۳۷.	بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ فَوْقَ السُّرَّةِ	۲۵۸	۲۳۸.	په نامه د پاسه د لاسونو د اينبودلو باب	۲۵۸
۲۳۹.	بَابٌ فِي وَضْعِ الْيَدَيْنِ تَحْتَ السُّرَّةِ	۱۵۹	۲۴۰.	د نامه نه لاندې د لاسونو د اينبودلو باب	۱۵۹
۲۴۱.	په مسئلة الباب کې د فقهاؤ اقوال	۱۵۹	۲۴۲.	بَابُ مَا يُقْرَأُ بَعْدَ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ	۱۶۱

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۲۴۳.	باب دي په بيان دهغه څه کې چې ويل کيږي وروسته د تکبير تحريمې	۱۶۱	۲۴۴.	بَابُ التَّعَوُّذِ وَقِرَاءَةِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وَتَرْكِ الْجَهْرِ بِهِمَا	۱۶۴
۲۴۵.	د اعوذ بالله او بسم الله په جهر سره د پريښودلو باب	۱۶۴	۲۴۶.	بسم الله دي جهرا اولوستلې شي يا سرا ؟	۱۶۹
۲۴۷.	د بسم الله په جهر او سر کې د مذهبونو اختلاف	۱۶۹	۲۴۸.	د شوافعو د دليلونو نه د احنافو جواب	۱۷۰
۲۴۹.	بَابُ فِي قِرَاءَةِ الْفَاتِحَةِ	۱۷۳	۲۵۰.	دا باب دی د فاتحې په لوستلو کې	۱۷۳
۲۵۱.	بَابُ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ	۱۷۴	۲۵۲.	دا باب د امام پسې د قرات په باره کې دي	۱۷۴
۲۵۳.	امام پسې د قرأت حکم	۲۸۰	۲۵۴.	بَابُ فِي تَرْكِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ فِي الْجَهْرِيَةِ	۲۸۱
۲۵۵.	داباب دي په جهري مونځونو کې امام پسې د قرأت نه کولو په بيان کې	۲۸۱	۲۵۶.	بَابُ فِي تَرْكِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا	۲۸۳
۲۵۷.	په ټولو مونځونو کې د امام پسې د قرأة د پريښودلو باب	۲۸۳	۲۵۸.	د قرأت خلف الامام په مسئله کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په دلائلو باندې يو نظر	۲۸۶
۲۵۹.	بَابُ تَأْمِينِ الْإِمَامِ	۲۸۸	۲۶۰.	د امام د آمين ويلو باب	۲۸۸
۲۶۱.	بَابُ الْجَهْرِ بِالتَّأْمِينِ	۲۹۰	۲۶۲.	په جهر سره د امين ويلو باب دي	۲۹۰
۲۶۳.	آمين اوچت آواز سره ويل افضل دي او که ټيټ آواز سره؟	۲۹۲	۲۶۴.	بَابُ تَرْكِ الْجَهْرِ بِالتَّأْمِينِ	۲۹۲

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۲۶۵.	په جهر سره د امین د پرینبودلو باب	۲۹۲	۲۶۶.	آمین بالسر باندې د امام ابو حنیفه رحمة الله دلائل	۲۹۵
۲۶۷.	دائمه ثلاثه رحمهم الله په دلائلو باندې کلام	۲۹۵	۲۶۸.	بَابُ قِرَاءَةِ السُّورَةِ بَعْدَ الفَاتِحَةِ فِي الأُولَيَيْنِ	۲۹۷
۲۶۹.	د فاتحې د سورت نه روسته په اولو دوه وُ رکعتونو کې د سورت د لوستلو باب	۲۹۷	۲۷۰.	بَابُ رَفْعِ اليَدَيْنِ عِنْدَ الرُّكُوعِ وَعِنْدَ رَفْعِ الرَّأْسِ مِنَ الرُّكُوعِ	۲۹۹
۲۷۱.	د رکوع او د رکوع نه د سر د اوچتولو په وخت کې د لاسونو د اوچتولو باب دي	۲۹۹	۲۷۲.	مسئله در فع الیدین	۳۰۰
۲۷۳.	دامام شافعي او احمد رحمهما الله دلائل	۳۰۰	۲۷۴.	بَابُ مَا اسْتَدَلَّ بِهِ عَلَى أَنَّ رَفْعَ اليَدَيْنِ فِي الرُّكُوعِ وَاظَبَ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَادَامَ حَيًّا	۳۰۱
۲۷۵.	باب دي په بیان دهغه روایت کې چې په هغې سره یې د هغه روایت نه استدلال کړي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په رکوع کې د لاسونو په اوچتولو همیشه والي کړي دي تر خو پوري چې ژوندي وُ	۳۰۱	۲۷۶.	بَابُ رَفْعِ اليَدَيْنِ عِنْدَ القِيَامِ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ	۳۰۲
۲۷۷.	د دوه وُ رکعتونو نه د اوچتیدو په وخت کې د لاسونو د اوچتولو باب	۳۰۲	۲۷۸.	بَابُ رَفْعِ اليَدَيْنِ لِلسُّجُودِ	۳۰۲
۲۷۹.	د سجدې د پاره د لاسونو د اوچتولو باب	۳۰۲	۲۸۰.	بَابُ تَرْكِ رَفْعِ اليَدَيْنِ فِي غَيْرِ الإِفْتِتَاحِ	۳۰۵

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۲۸۱.	د تکبیر تحریمي نه په غیر د رفع الیدین نه کولو باب	۳۰۵	۲۸۲.	ترک رفع یدین په دلائلو باندې یو سرسري نظر	۳۰۷
۲۸۳.	د ترک رفع یدین یو څو د ترجیح وجې	۳۰۸	۲۸۴.	بَابُ التَّكْبِيرِ لِلرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ وَالرَّفْعِ	۳۰۹
۲۸۵.	د رکوع، سجدې او ددې نه د اوچتیدو د پاره د تکبیر باب	۳۰۹	۲۸۶.	بَابُ هَيْآتِ الرُّكُوعِ	۳۱۱
۲۸۷.	د رکوع د هیئت او شکل باب	۳۱۱	۲۸۸.	تطبیق في الرکوع مطلب او حکم	۳۱۲
۲۸۹.	بَابُ الْاِعْتِدَالِ وَالطَّمَانِيْنَةِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ	۳۱۲	۲۹۰.	په رکوع او سجده کې د اعتدال او ارام کولو باب	۳۱۲
۲۹۱.	د تعدیل ارکان حکم	۳۱۶	۲۹۲.	بَابُ مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ	۳۱۷
۲۹۳.	باب دې په بیان دهغه څه کې چې ویل کیږي په رکوع او سجده کې	۳۱۷	۲۹۴.	بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ	۳۱۸
۲۹۵.	باب دې په بیان دهغه څه کې چې ویل کیږي د رکوع نه د سر اوچتیدو په وخت کې	۳۱۸	۲۹۶.	په قومه کې د تسمیع حکم	۳۲۰
۲۹۷.	بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الرُّكْبَتَيْنِ عِنْدَ الْاِنْحِطَاطِ لِلسُّجُودِ	۳۲۱	۲۹۸.	د سجدې په وخت کې د ځنګنونو نه مخکې د لاسونو د ایخودلو باب	۳۲۱
۲۹۹.	بَابُ وَضْعِ الرُّكْبَتَيْنِ قَبْلَ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الْاِنْحِطَاطِ لِلسُّجُودِ	۳۲۲	۳۰۰.	سجدې ته د ښکته کیدو په وخت کې د لاسونو نه مخکې د زنګنونو د ایخودلو باب	۳۲۲

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۳۰۱.	په مسئلة الباب کې د جمهورو دليل	۳۲۳	۳۰۲.	بَابُ هَيْئَاتُ السُّجُودِ	۳۲۳
۳۰۳.	د سجدې د شکل او هيئت باب	۳۲۳	۳۰۴.	په سجده کې څو انداموته استعمالیږي؟	۳۲۵
۳۰۵.	بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْإِقْعَاءِ كَإِقْعَاءِ الْكَلْبِ	۳۲۶	۳۰۶.	دا د نهي باب دي د کيناستو نه په شان د کيناستو د سپي	۳۲۶
۳۰۷.	د ناستې دري مکروه حالتونه	۳۲۷	۳۰۸.	بَابُ الْجُلُوسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ	۳۲۸
۳۰۹.	د دوه ؤ سجدو ترمنځ په پوندو باندې د کيناستو باب	۳۲۸	۳۱۰.	د اقعاء په مسئله کې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل	۳۲۸
۳۱۱.	بَابُ افْتِرَاشِ الرِّجْلِ الْيُسْرَىٰ وَالْقُعُودِ عَلَيْهَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَتَرْكِ الْجُلُوسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ	۳۲۹	۳۱۲.	باب دي د دوه سجدو ترمنځ د چپې خپې دخوريدو او په هغې باندې د کيناستو او په پوندو د نه کيناستو	۳۲۹
۳۱۳.	بَابُ مَا يُقَالُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ	۳۳۰	۳۱۴.	باب د دوه ؤ سجدو ترمنځ به څه ويلې شي	۳۳۰
۳۱۵.	بَابُ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ بَعْدَ السَّجْدَتَيْنِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَىٰ وَالثَّالِثَةِ	۳۳۱	۳۱۶.	د دوه ؤ سجدو نه روسته په اول او دريم رکعت کې د استراحت د جلسې باب	۳۳۱
۳۱۷.	بَابٌ فِي تَرْكِ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ	۳۳۱	۳۱۸.	د استراحت د جلسې د پرېښودلو باب	۳۳۱
۳۱۹.	بَابُ افْتِتَاحِ الثَّانِيَةِ بِالْقِرَاءَةِ	۳۳۵	۳۲۰.	په دويم رکعت کې د قرات د شروع کولو باب	۳۳۵

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۳۲۱.	بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّوَرُّكِ	۳۳۶	۳۲۲.	باب دي په بيان د هغه احاديثو کې کوم چې د تورک په باره کې راغلي دي	۳۳۶
۳۲۳.	په تشهد کې دناستې طريقه او کيفيت	۳۳۶	۳۲۴.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي عَدَمِ التَّوَرُّكِ﴾	۳۳۷
۳۲۵.	دا باب د تورک د نه کولو په باره کې دي	۳۳۷	۳۲۶.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّشَهُّدِ﴾	۳۳۹
۳۲۷.	دا باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د تشهد په حقله راغلي دي	۳۳۹	۳۲۸.	د تشهد ځلورويشت طريقې	۳۴۰
۳۲۹.	د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تشهد يو څو وجوه د ترجيح	۳۴۱	۳۳۰.	بَابُ الإِشَارَةِ بِالسَّبَّابَةِ	۳۴۱
۳۳۱.	په سبابه ګوته باندې د اشارې کولو باب	۳۴۱	۳۳۲.	د سبابه وجه تسميه	۳۴۳
۳۳۳.	د اشاره بالسبابه سنتيت	۳۴۳	۳۳۴.	بَابُ فِي الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ	۳۴۴
۳۳۵.	په نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د درود باب	۳۴۴	۳۳۶.	په قعده کې د درود شريف حکم	۳۴۶
۳۳۷.	بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ	۳۴۶	۳۳۸.	باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د سلام په باره کې راغلي دي	۳۴۶
۳۳۹.	د سلام متعلق دري اهم مسائل	۳۴۷	۳۴۰.	بَابُ الإِلْحَرَافِ بَعْدَ السَّلَامِ	۳۴۹
۳۴۱.	د سلام نه پس مقتديانو طرف ته د راګرځيدو باب	۳۴۹	۳۴۲.	بَابُ فِي الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ	۳۵۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۳۴۳.	د مانځه نه وروسته د ذکر بیان	۳۵۰	۳۴۴.	بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ بَعْدَ الْمَكْتُوبَةِ	۳۵۳
۳۴۵.	د فرض مانځه نه روسته د دعاء باب	۳۵۳	۳۴۶.	بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الدُّعَاءِ	۳۵۳
۳۴۷.	په دعاء کې د لاسونو اوچتولو باب	۳۵۳	۳۴۸.	بَابٌ فِي صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ	۳۵۵
۳۴۹.	په جماعت سره د مونځ کولو باب	۳۵۵	۳۵۰.	په جماعت سره د مونځ حکم او تطبیق بین المذاهب	۳۵۸
۳۵۱.	بَابُ تَرْكِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ	۳۵۹	۳۵۲.	د عذر له امله د جماعت د پریښودو باب	۳۵۹
۳۵۳.	بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ	۳۶۱	۳۵۴.	د صفونو د برابرولو باب	۳۶۱
۳۵۵.	په مونځ کې د صف جوړولو اهمیت	۳۶۲	۳۵۶.	بَابُ إِتْمَامِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ	۳۶۵
۳۵۷.	د اول صف د پوره کولو باب	۳۶۵	۳۵۸.	بَابُ مَوْقِفِ الْإِمَامِ وَالْمَأْمُومِ	۳۶۶
۳۵۹.	د امام او مقتدي دا ؤ دریدو په ځای کې باب	۳۶۶	۳۶۰.	﴿بَابُ قِيَامِ الْإِمَامِ بَيْنَ الْأُسْطُوَانَتَيْنِ﴾	۳۶۸
۳۶۱.	د دوؤ کسانو ترمنځ د امام د ؤدریدو باب	۳۶۸	۳۶۲.	﴿بَابُ مَنْ أَحَقُّ بِالْإِمَامَةِ﴾	۳۶۹
۳۶۳.	باب دي په بیان ددي خبره کې چې د امامت زیات حقدار څوک دي	۳۶۹	۳۶۴.	﴿بَابُ إِمَامَةِ النِّسَاءِ﴾	۳۷۱
۳۶۵.	د بنځو د امامت باب	۳۷۱	۳۶۶.	د بنځو خانله (چې نارینه ورسره نه وي) په جماعت سره د مونځ کولو حکم	۳۷۲

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۳۶۷.	﴿بَابُ إِمَامَةِ الْأَعْمٰى﴾	۳۷۲	۳۶۸.	د رانده د امامت باب	۳۷۲
۳۶۹.	﴿بَابُ إِمَامَةِ الْعَبْدِ﴾	۳۷۴	۳۷۰.	د مړیٔ د امامت باب	۳۷۴
۳۷۱.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي إِمَامَةِ الْجَالِسِ﴾	۳۷۵	۳۷۲.	باب دي په بیان د هغه روایتونو کې کوم چې د ناست کس د امامت په برخه کې راغلي دي	۳۷۵
۳۷۳.	چې امام ناست وي نو مقتدي دې څه اوکړي؟	۳۷۸	۳۷۴.	بَابُ صَلَاةِ الْمُفْتَرِضِ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ	۳۷۹
۳۷۵.	باب دي د فرض مونځ کوونکي د نفل مونځ کوونکي پسې	۳۷۹	۳۷۶.	بَابُ صَلَاةِ الْمُتَوَضِّي خَلْفَ الْمُتَيَمِّمِ	۳۸۰
۳۷۷.	د تیمم وهونکي پسې د اودس لرونکي د مانځه باب	۳۸۰	۳۷۸.	بَابُ مَا اسْتَدَلَّ بِهِ عَلٰى كَرَاهَةِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِي مَسْجِدٍ	۳۸۱
۳۷۹.	په جومات کې په دویم ځل د جماعت په مکروه والي باندې د استدلال باب	۳۸۱	۳۸۰.	بَابُ مَا جَاءَ فِي جَوَازِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِي مَسْجِدٍ	۳۸۲
۳۸۱.	په مسجد کې د جماعت د تکرار د جواز باب	۳۸۲	۳۸۲.	بَابُ صَلَاةِ الْمُنْفَرِدِ خَلْفَ الصَّفِّ	۳۸۴
۳۸۳.	د صف نه روسته د یواځي مونځ کوونکي باب	۳۸۴	۳۸۴.	د صف نه روسته یواځي مونځ کول	۳۸۵
۳۸۵.	﴿أَبْوَابُ مَا يَجُوزُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُبَاحُ فِيهَا﴾	۳۸۶	۳۸۶.	په مانځه کې د نارو اود مباحو شیانو بابونه	۳۸۶
۳۸۷.	بَابُ النَّهْيِ عَنْ كَسْوَةِ الثِّيَابِ وَمَسْحِ الْحَصٰى فِي الصَّلَاةِ	۳۸۶	۳۸۸.	په مانځه کې د خاورې د برابرولو او د ګیټکیو د لرې کولو نه د نهي باب	۳۸۶

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۳۸۹.	بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ التَّخَصُّرِ	۳۸۷	۳۹۰.	په ملا او یا په تشې باندې د لاس د ایښودلو باب	۳۸۷
۳۹۱.	﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ الإِلْتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ﴾	۳۸۷	۳۹۲.	په مانځه کې د کتلو نه د منعې باب	۳۸۷
۳۹۳.	﴿بَابٌ فِي قَتْلِ الأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ﴾	۳۸۹	۳۹۴.	یعنې په مانځه کې د مار او د لړم د وژلو باب	۳۸۹
۳۹۵.	بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ السَّدْلِ	۳۹۰	۳۹۶.	په مانځه کې د سدل نه د منع باب	۳۹۰
۳۹۷.	﴿بَابُ مَنْ يُصَلِّي وَرَأْسُهُ مَعْقُوصٌ﴾	۳۹۱	۳۹۸.	﴿بَابُ التَّسْبِيحِ وَالتَّصْفِيقِ﴾	۳۹۲
۳۹۹.	په مانځه کې د تسبیح او د لاس پرقولو باب	۳۹۲	۴۰۰.	﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ الكَلَامِ فِي الصَّلَاةِ﴾	۳۹۴
۴۰۱.	په مانځه کې د خبرو نه د منع باب	۳۹۴	۴۰۲.	بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى جَوَازِ رَدِّ السَّلَامِ بِالإِشَارَةِ فِي الصَّلَاةِ	۴۰۱
۴۰۳.	باب دې په بیان دهغه روایتونو کې چې په هغې سره په مانځه کې په اشاره سره د جواب ورکولو په جواز دلیل نیولې شوې دي	۴۰۱	۴۰۴.	بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى نَسْخِ رَدِّ السَّلَامِ بِالإِشَارَةِ فِي الصَّلَاةِ	۴۰۴
۴۰۵.	باب دې په بیان د هغه احادیثو کې چې په هغې سره په مانځه کې په اشاره سره د سلام جواب ورکولو په نسخه دلیل نیولې شوې دي	۴۰۴	۴۰۶.	﴿بَابُ الفَتْحِ عَلَى الإِمَامِ﴾ امام ته د فتح ورکولو باب	۴۰۵
۴۰۷.	بَابٌ فِي الحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ	۴۰۶	۴۰۸.	په مانځه کې د بې اودسه کیدو باب	۴۰۶
۴۰۹.	﴿بَابٌ فِي الحَقْنِ﴾	۴۰۸	۴۱۰.	په مانځه کې د تش اودک اودس ماتې د تینګولو او بندولو باب	۴۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۴۱۱.	﴿بَابُ فِي الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ﴾	۴۰۹	۴۱۲.	د طعام د حاضريدو په وخت کې د مونځ کولو باب	۴۰۹
۴۱۳.	﴿بَابُ مَا عَلَى الْإِمَامِ﴾	۴۱۰	۴۱۴.	دا باب دي چې په امام باندي څه لازم دي	۴۱۰
۴۱۵.	﴿بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُومِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ﴾	۴۱۲	۴۱۶.	په مقتدي باندي د امام د تابعداريۍ باب	۴۱۲
۴۱۷.	﴿أَبْوَابُ صَلَاةِ الْوِتْرِ﴾	۴۱۵	۴۱۸.	د وتر و د مانځه بابونه	۴۱۵
۴۱۹.	﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى وُجُوبِ صَلَاةِ الْوِتْرِ﴾	۴۱۸	۴۲۰.	باب دي په بيان د هغه روايتونو کې چې د وتر و د مانځه په واجبيدو باندي پري استدلال شوي	۴۱۸
۴۲۱.	﴿بَابُ الْوِتْرِ بِخَمْسٍ أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ﴾	۴۱۸	۴۲۲.	دا باب په دي باره کې چې وتر پنځه رکعته دي اويا دپنځونه زيات دي	۴۱۸
۴۲۳.	﴿بَابُ الْوِتْرِ بِرَكْعَةٍ﴾	۴۲۵	۴۲۴.	د يو رکعت وتر و باب	۴۲۵
۴۲۵.	بَابُ الْوِتْرِ بِثَلَاثِ رَكَعَاتٍ	۴۳۱	۴۲۶.	په دريو رکعتونو سره د وتر و باب	۴۳۱
۴۲۷.	بَابُ مَنْ قَالَ إِنَّ الْوِتْرَ بِثَلَاثٍ إِنَّمَا يُصَلِّي بِتَشَهُّدٍ وَاحِدٍ	۴۳۸	۴۲۸.	دا باب دي په بيان د هغه چا په قول کې چې وتر دري دي خو په يو تشهد به کولې شي	۴۳۸
۴۲۹.	بَابُ الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ	۴۴۰	۴۳۰.	په وتر و کې د قنوت باب	۴۴۰
۴۳۱.	﴿بَابُ قُنُوتِ الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوعِ﴾	۴۴۱	۴۳۲.	د رکوع نه مخکې په وتر و کې د قنوت باب	۴۴۱
۴۳۳.	﴿بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ قُنُوتِ الْوِتْرِ﴾	۴۴۵	۴۳۴.	د وتر و د قنوت په وخت کې د لاسونو د اوچتولو باب	۴۴۵
۴۳۵.	بَابُ الْقُنُوتِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ	۴۴۶	۴۳۶.	د سهر په مانځه کې د قنوت باب	۴۴۶

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
.۴۳۷	﴿بَابُ تَرْكِ الْقُنُوتِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ﴾	۴۴۸	.۴۳۸	د سهر په مانځه کې د قنوت د پرېښودلو باب	۴۴۸
.۴۳۹	﴿بَابُ لَا وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ﴾	۴۵۵	.۴۴۰	باب په یوه شپه کې دوه ځله وتر نشته	۴۵۵
.۴۴۱	بَابُ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْوِتْرِ	۴۵۹	.۴۴۲	د وترو نه پس د دوه ؤ رکعتونو باب	۴۵۹
.۴۴۳	﴿بَابُ التَّطَوُّعِ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ﴾	۴۶۱	.۴۴۴	د پنځه وخته مونځونو د پاره د نفلو باب	۴۶۱
.۴۴۵	بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى الْفَصْلِ بِتَسْلِيمَةٍ بَيْنَ الْأَرْبَعِ مِنْ سُنَنِ النَّهَارِ	۴۶۷	.۴۴۶	باب دې په بیان د هغه روایتونو کې چې په کومو کې چې استدلال کړې شوې دي د ورځې د ځلورو رکعتونو د سنتر ترمنځ د یو سلام په جدا ئي سره	۴۶۷
.۴۴۷	بَابُ النَّافِلَةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ	۴۶۹	.۴۴۸	د مابنام نه مخکې د نفلو باب	۴۶۹
.۴۴۹	﴿بَابُ مَنْ أَنْكَرَ التَّنَفُّلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ﴾	۴۷۲	.۴۵۰	باب د هغه چا باره کې دي چې د مابنام نه مخکې ئې د نفلونه انکار کړې دي	۴۷۲
.۴۵۱	بَابُ التَّنَفُّلِ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ	۴۷۴	.۴۵۲	د مازیګر مونځ نه وروسته د نفلو باب	۴۷۴
.۴۵۳	بَابُ كَرَاهَةِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ وَصَلَاةِ الصُّبْحِ	۴۷۶	.۴۵۴	د مازیګر او د سهر د مانځه نه وروسته د نفلو د ادا کولو د مکروهوالي باب	۴۷۶
.۴۵۵	بَابُ كَرَاهَةِ التَّنَفُّلِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ سِوَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ	۴۷۹	.۴۵۶	د سهر د دوه رکعته سنتو نه په غیر د صباد ختو نه پس د نورو نفلي مونځونو د کراهت باب	۴۷۹
.۴۵۷	بَابُ فِي تَأْكِيدِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ	۴۸۲	.۴۵۸	د سهر د دوه رکعتونو د تاکید باب	۴۸۲
.۴۵۹	بَابُ فِي تَخْفِيفِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ	۴۸۲	.۴۶۰	د سهر په سنتو کې د تخفیف کولو باب	۴۸۲

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۴۶۱.	﴿بَابُ كَرَاهَةِ سُنَّةِ الْفَجْرِ إِذَا خَرَجَ فِي الْإِقَامَةِ﴾	۴۸۴	۴۶۲.	باب دي په کراهت د سنتو د سهر کې کله چې شروع وکړي شي په اقامت کې	۴۸۴
۴۶۳.	بَابُ مَنْ كَانَ يُصَلِّي سُنَّةَ الْفَجْرِ وَلَمْ يُصَلِّ الْإِمَامُ بِالْفَرِيضَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ أَوْ فِي نَاحِيَةٍ أَوْ خَلْفَ أُسْطُوَانَةٍ إِنْ أَيْقَنَ أَنْ يُدْرِكَ رَكْعَةً مِنَ الْفَرْضِ	۴۸۸	۴۶۴.	دهغه چا په باره کې باب دي چې ویلي ئي دي چې په فرضو کې د امام د اشتغال په وخت کې د سهر سنت د مسجد نه د باندې او د مسجد په یو ګوټ کې او یا د ستني نه روسته ادا کولي شي په دي شرط چې د فرضو د یو رکعت د ګیرولو امید ئي وي	۴۸۸
۴۶۵.	﴿بَابُ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ﴾	۴۹۳	۴۶۶.	د نمر د ختو نه مخکې د سهر د سنتو د قضاء باب	۴۹۳
۴۶۷.	بَابُ كَرَاهَةِ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ	۴۹۵	۴۶۸.	د نمر د ختو نه مخکې د سهر د سنتو د قضاء د کراهة باب	۴۹۵
۴۶۹.	﴿بَابُ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ مَعَ الْفَرِيضَةِ﴾	۴۹۸	۴۷۰.	د سهر د فرضو د دوه رکعتونو د قضائي سره د سهر د سنتو د قضائي باب	۴۹۸
۴۷۱.	﴿بَابُ إِبَاحَةِ الصَّلَاةِ فِي السَّاعَاتِ كُلِّهَا بِمَكَّةَ﴾	۵۰۰	۴۷۲.	هر وخت په مکه مکرمه کې د مانځه د جواز باب	۵۰۰
۴۷۳.	﴿بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْمَكْرُوهَةِ بِمَكَّةَ﴾	۵۰۳	۴۷۴.	په مکه مکرمه کې په اوقاتو مکروهه ؤ کې د مانځه د کراهت باب	۵۰۳
۴۷۵.	﴿بَابُ إِعَادَةِ الْفَرِيضَةِ لِأَجْلِ الْجَمَاعَةِ﴾	۵۰۳	۴۷۶.	د جماعت د وجهې نه د فرض مونځ د راګرځولو باب	۵۰۳
۴۷۷.	﴿بَابُ صَلَاةِ الطُّعْمِ﴾	۵۰۸	۴۷۸.	د ځابښت د مانځه باب	۵۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۴۷۹.	﴿بَابُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ﴾	۵۱۲	۴۸۰.	د تسبیح د مانځه باب	۵۱۲
۴۸۱.	أَبْوَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ	۵۱۵	۴۸۲.	د تراویحو بابونه	۵۱۵
۴۸۳.	بَابُ فَضْلِ قِيَامِ رَمَضَانَ	۵۱۵	۴۸۴.	د تراویحو د فضیلت باب	۵۱۵
۴۸۵.	بَابُ فِي جَمَاعَةِ التَّرَاوِيحِ	۵۱۶	۴۸۶.	په جماعت سره د تراویحو باب	۵۱۶
۴۸۷.	بَابُ التَّرَاوِيحِ بِثَمَانِ رَكَعَاتٍ	۵۲۱	۴۸۸.	د اته رکعته تراویحو باب	۵۲۱
۴۸۹.	﴿بَابُ فِي التَّرَاوِيحِ بِأَكْثَرَ مِنْ ثَمَانِ رَكَعَاتٍ﴾	۵۲۵	۴۹۰.	دا باب د اتو رکعتونو نه په زیاتو تراویحو کې دي	۵۲۵
۴۹۱.	بَابُ فِي التَّرَاوِيحِ بِعِشْرِينَ رَكَعَاتٍ	۵۲۵	۴۹۲.	د تراویحو د شلو رکعتونو باب	۵۲۵
۴۹۳.	﴿بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ﴾	۵۲۹	۴۹۴.	د فوت شوو مونځونو د قضا باب	۵۲۹
۴۹۵.	﴿أَبْوَابُ سُجُودِ السَّهْوِ﴾	۵۳۱	۴۹۶.	د سهوې د سجدو بابونه	۵۳۱
۴۹۷.	بَابُ سُجُودِ السَّهْوِ قَبْلَ السَّلَامِ	۵۳۱	۴۹۸.	د سلام نه مخکې د سهوې د سجدې باب	۵۳۱
۴۹۹.	بَابُ سُجُودِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ	۵۳۴	۵۰۰.	د سلام نه روسته د سهوې د سجدې باب	۵۳۴
۵۰۱.	﴿بَابُ مَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ ثُمَّ يُسَلِّمُ﴾	۵۳۷	۵۰۲.	باب دي په بیان د هغه احادیثو کې چې سلام به ګرځوي یا به د سهوې دوه سجدې کوي یا به سلام ګرځوي	۵۳۷
۵۰۳.	﴿بَابُ صَلَاةِ الْمَرِيضِ﴾	۵۳۹	۵۰۴.	د مریض د مانځه باب	۵۳۹
۵۰۵.	﴿بَابُ سُجُودِ الْقُرْآنِ﴾	۵۴۲	۵۰۶.	د قرآن کریم د تلاوت د سجدې باب	۵۴۲
۵۰۷.	﴿أَبْوَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ﴾	۵۴۸	۵۰۸.	د مسافر د مانځه بابونه	۵۴۸
۵۰۹.	﴿بَابُ الْقَصْرِ فِي الصَّلَاةِ﴾	۵۴۸	۵۱۰.	په سفر کې د قصر باب	۵۴۸

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۵۱۱.	﴿بَابُ مَن قَدَّرَ مُسَافَةَ القَصرِ بِأَربَعَةِ بُرُدٍ﴾	۵۵۳	۵۱۲.	په څلورو بردو باندې د قصر د مسافې د اندازه کولو باب	۵۵۳
۵۱۳.	﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى أَنَّ مَسَافَةَ القَصرِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ﴾	۵۵۵	۵۱۴.	باب دې په بیان د هغه روایتونو کې چې په هغه سره استدلال کولې شي په دې باندې چې د قصر مسافه درې ورځې ده	۵۵۵
۵۱۵.	﴿بَابُ القَصرِ إِذَا فَارَقَ البُيُوتَ﴾	۵۵۸	۵۱۶.	د کورونو نه د جدا کیدو په وخت کې د قصر باب	۵۵۸
۵۱۷.	بَابُ يَقْصُرُ مَن لَم يَنوِ الإِقَامَةَ وَإِن طَالَ مُكثُهُ وَالعَسكَرُ الَّذِي دَخَلَ أَرضَ الحَربِ وَإِن لَوَوُا الإِقَامَةَ	۵۵۹	۵۱۸.	دا باب دې چا چې د اقامت نیت نه وي کړي قصر به کوي اګر چې اوږده زمانه پرې تیره شي او هغه عسکر به هم قصر کوي کوم چې د کفر خاوري ته ننوتې وي اګر چې د اقامت نیت ئې کړي وي	۵۵۹
۵۱۹.	﴿بَابُ الرَّدِّ عَلَى مَن قَالَ إِنَّ المُسَافِرَ يَصِيرُ مُقِيماً بِنِيَّةِ إِقَامَةِ أَربَعَةِ أَيَّامٍ﴾	۵۶۱	۵۲۰.	په هغه چا باندې چې ویلي ئې دي چې مسافر د څلورو ورځو د اقامت په نیت باندې مقیم ګرځي رد باب	۵۶۱
۵۲۱.	﴿بَابُ مَن قَالَ إِنَّ المُسَافِرَ يَصِيرُ مُقِيماً بِنِيَّةِ إِقَامَةِ خَمسَةَ عَشَرَ يوماً﴾	۵۶۲	۵۲۲.	باب د هغه کس په باره کې دي چې ویلي ئې دي چې مسافر د پنځلسو ورځو د اقامت په نیت سره مقیم کیږي	۵۶۲
۵۲۳.	بَاب صَلَاةِ المُسَافِرِ بِالمُقِيمِ	۵۶۴	۵۲۴.	مقیم پسې د مسافر د مانځه باب	۵۶۴
۵۲۵.	بَاب صَلَاةِ المُقِيمِ بِالمُسَافِرِ	۵۶۴	۵۲۶.	د مسافر پسې د مقیم د مانځه باب	۵۶۴
۵۲۷.	﴿بَابُ جَمعِ التَّقدِيمِ بَينَ العَصرَينِ بِعَرَفَةَ﴾	۵۶۵	۵۲۸.	د ماسپښین او مازیګر ترمنځ د تقدیم د جمع باب	۵۶۵

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۵۲۹.	﴿بَابُ جَمْعِ التَّاخِيرِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ بِالْمُزْدَلِفَةِ﴾	۵۶۷	۵۳۰.	بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيمِ فِي السَّفَرِ	۵۶۸
۵۳۱.	په سفر کې د تقديم د جمع باب	۵۶۸	۵۳۲.	د سفر په عذر جمع بين الصلاتين	۵۷۰
۵۳۳.	بَابُ مَا يَدُلُّ عَلَى تَرْكِ جَمْعِ التَّقْدِيمِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ	۵۷۲	۵۳۴.	باب په هغه روايتونو کې دي چې په سفر کې د دوه ؤ مونځونو ترمنځ د جمع تقديم په ترک باندي دلالت کوي	۵۷۲
۵۳۵.	﴿بَابُ جَمْعِ التَّاخِيرِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ﴾	۵۷۳	۵۳۶.	په سفر کې د دوه مونځونو ترمنځ د جمع د تأخير باب	۵۷۳
۵۳۷.	﴿بَابُ مَا يَدُلُّ أَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ كَانَ جَمْعًا صُورِيًّا﴾	۵۷۵	۵۳۸.	باب دي په بيان د هغه روايتونو کې چې په سفر کې د دوه ؤ مونځونو ترمنځ په صوري جمع باندي دلالت کوي	۵۷۵
۵۳۹.	﴿بَابُ الْجَمْعِ فِي الْمَطَرِ﴾	۵۷۹	۵۴۰.	په حضر کې د دوه ؤ مونځونو د يو ځاي کولو باب	۵۷۹
۵۴۱.	بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجَمْعِ فِي الْحَضَرِ	۵۸۰	۵۴۲.	په حضر کې د دوه ؤ مونځونو د جمع کولو نه د نهي باب	۵۸۰
۵۴۳.	﴿أَبْوَابُ الْجُمُعَةِ﴾	۵۸۱	۵۴۴.	د جمعې بابونه	۵۸۱
۵۴۵.	﴿بَابُ فَضْلِ يَوْمِ الْجُمُعَةِ﴾	۵۸۱	۵۴۶.	د جمعې د ورځې د فضيلت باب	۵۸۱
۵۴۷.	﴿بَابُ التَّغْلِيظِ فِي تَرْكِهَا لِمَنْ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ﴾	۵۸۶	۵۴۸.	باب په سختئ د ترک د جمعې کې دي په چا باندي چې جمعه واجب وي	۵۸۶
۵۴۹.	بَابُ عَدَمِ وُجُوبِ الْجُمُعَةِ عَلَى الْعَبِيدِ وَالنِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ وَالْمَرِيضِ	۵۸۸	۵۵۰.	باب په عدم وجوب د جمعه کې چې په غلام، ښځو ماشومانو او مريض باندي د جمعې مونځ واجب نه دي	۵۸۸

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۵۵۱.	﴿بَابُ اَنَّ الْجُمُعَةَ غَيْرُ وَاجِبَةٍ عَلَى الْمُسَافِرِ﴾	۵۸۹	۵۵۲.	باب د جمعي مونځ په مسافر باندي واجب نه دي	۵۸۹
۵۵۳.	﴿بَابُ عَدَمِ وُجُوبِ الْجُمُعَةِ عَلَى مَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ﴾	۵۸۹	۵۵۴.	کوم کس چې د ښار نه بهر وي په هغه باندي د جمعي د مانځه د نه واجبيدو باب	۵۸۹
۵۵۵.	بَابُ اِقَامَةِ الْجُمُعَةِ فِي الْقُرٰى	۵۹۲	۵۵۶.	په کلو کي د جمعي د مانځه د قائمولو باب	۵۹۲
۵۵۷.	بَابُ لَا جُمُعَةَ اِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ	۵۹۹	۵۵۸.	فقط په لويو ښارونو کې د جمعي د مانځه باب	۵۹۹
۵۵۹.	﴿بَابُ الْغُسْلِ لِلْجُمُعَةِ﴾	۶۰۲	۵۶۰.	د جمعي د پاره د غسل باب	۶۰۲
۵۶۱.	﴿بَابُ السِّوَاكِ لِلْجُمُعَةِ﴾	۶۰۷	۵۶۲.	د جمعي د پاره د مسواک باب	۶۰۷
۵۶۳.	﴿بَابُ الطِّيبِ وَالتَّجَمُّلِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ﴾	۶۰۸	۵۶۴.	د جمعي په ورځ د زينت او د خوشبوي لګولو باب	۶۰۸
۵۶۵.	بَابُ فِي فَضْلِ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ	۶۱۰	۵۶۶.	د جمعي په ورځ په نبي عليه السلام د درود ويلو د فضيلت باب	۶۱۰
۵۶۷.	﴿بَابُ مَنْ اَجَازَ الْجُمُعَةَ قَبْلَ الزَّوَالِ﴾	۶۱۱	۵۶۸.	د زوال نه مخکې د جمعي د مانځه د اجازت باب	۶۱۱
۵۶۹.	﴿بَابُ فِي التَّجْمِيعِ بَعْدَ الزَّوَالِ﴾	۶۱۶	۵۷۰.	د زوال نه روسته د جمعي د مونځ کولو باب	۶۱۶
۵۷۱.	﴿بَابُ الْاَذَانَيْنِ لِلْجُمُعَةِ﴾	۶۱۹	۵۷۲.	د جمعي د پاره د دوه وګ آذانونو باب	۶۱۹
۵۷۳.	بَابُ التَّاذِينِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ عَلٰى بَابِ الْمَسْجِدِ	۶۲۱	۵۷۴.	د جمعي اذان په مسجد کې دننه صحيح دي	۶۲۱

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۵۷۵.	﴿بَابُ مَا يَدُلُّ عَلَى التَّأْذِينِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عِنْدَ الْإِمَامِ﴾	۶۲۲	۵۷۶.	دا باب دي په بيان د هغه حديث کې چې د جمعې په ورځ په اذان کولو باندې دلالت کوي د امام سره د خطبې په وخت کې	۶۲۲
۵۷۷.	﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ التَّفْرِيقِ وَالتَّخَطِّي﴾	۶۲۳	۵۷۸.	د خلکو ترمنځ د جدا ئي او د خلکو د پاسه د قدمونو اوچتولو نه د نهي باب	۶۲۳
۵۷۹.	﴿بَابُ السُّنَّةِ قَبْلَ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا﴾	۶۲۴	۵۸۰.	د جمعې د مانځه نه مخکې او وروسته د سنتو باب	۶۲۴
۵۸۱.	﴿بَابٌ فِي الْخُطْبَةِ﴾	۶۲۹	۵۸۲.	د خطبې په باره کې باب	۶۲۹
۵۸۳.	﴿بَابُ كَرَاهَةِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْمِنْبَرِ﴾	۶۳۳	۵۸۴.	په منبر باندې د لاسونو د اوچتولو د کراهت باب	۶۳۳
۵۸۵.	بَابُ التَّنَفُّلِ حِينَ يَخْطُبُ الْإِمَامُ	۶۳۴	۵۸۶.	د امام د خطبې په وخت کې د نفلو کولو باب	۶۳۴
۵۸۷.	﴿بَابٌ فِي الْمَنْعِ مِنَ الْكَلَامِ وَالصَّلَاةِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ﴾	۶۳۶	۵۸۸.	د جمعې د خطبې په وخت کې د مانځه او د خبرو کولو نه د منع باب	۶۳۶
۵۸۹.	﴿بَابُ مَا يُقْرَأُ بِهِ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ﴾	۶۳۸	۵۹۰.	باب دي په بيان د هغه څه کې چې د جمعې په مانځه کې به ئې لوستلې کيږي	۶۳۸
۵۹۱.	﴿أَبْوَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ﴾	۶۴۰	۵۹۲.	د دواړو اخترونو د مانځه باب ونه	۶۴۰
۵۹۳.	بَابُ التَّجَمُّلِ يَوْمَ الْعِيدِ	۶۴۰	۵۹۴.	د اختر په ورځ د خائښت د حاصلولو باب	۶۴۰
۵۹۵.	بَابُ اِسْتِحْبَابِ الْأَكْلِ قَبْلَ الْخُرُوجِ يَوْمَ الْفِطْرِ وَبَعْدَ الصَّلَاةِ يَوْمَ الْأَضْحَى	۶۴۱	۵۹۶.	د واړه اختر په ورځ عيدګاه ته د تلو نه مخکې او د لوئ اختر په ورځ د مانځه نه روسته د خوراک کولو د استحباب باب	۶۴۱

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۵۹۷.	﴿بَابُ الْخُرُوجِ إِلَى الْجَبَّانَةِ لِصَلَاةِ الْعِيدِ﴾	۶۴۴	۵۹۸.	دا څنګه مونځ دي په عیدګاه کې وکړي شي	۶۴۴
۵۹۹.	﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدِ فِي الْمَسْجِدِ لِعُذْرٍ﴾	۶۴۴	۶۰۰.	په مسجد کې د عذر د وجهې نه د اختر د مانځه کولو باب	۶۴۴
۶۰۱.	بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ فِي الْقُرَى	۶۴۵	۶۰۲.	په کلوکې د اختر ونو د مونځ باب	۶۴۵
۶۰۳.	بَابُ لَا صَلَاةَ الْعِيدِ فِي الْقُرَى	۶۴۷	۶۰۴.	باب نشته مونځ د اختر په کلوکې	۶۴۷
۶۰۵.	﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ بِغَيْرِ أَذَانٍ وَلَا نِدَاءٍ وَلَا إِقَامَةٍ﴾	۶۴۷	۶۰۶.	باب مونځ د دواړو اختر ونو په غیر د اذان، اواز او اقامت نه	۶۴۷
۶۰۷.	﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ قَبْلَ الْخُطْبَةِ﴾	۶۴۸	۶۰۸.	باب دي په مانځه د اختر ونو کې مخکې د خطبې نه	۶۴۸
۶۰۹.	بَابُ مَا يُقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ	۶۵۰	۶۱۰.	باب څه شي به ئې لوسته په مانځه د اختر ونو کې	۶۵۰
۶۱۱.	﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ بِثِنْتَيْ عَشْرَةَ تَكْبِيرَةً﴾	۶۵۲	۶۱۲.	باب، مونځ د دواړو اختر ونو د دولسو تکبیرونو سره	۶۵۲
۶۱۳.	﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ بِسِتِّ تَكْبِيرَاتٍ زَوَائِدَ﴾	۶۵۴	۶۱۴.	باب د مانځه د اختر ونو د شپږو تکبیرونو زوائدو سره	۶۵۴
۶۱۵.	﴿بَابُ تَرْكِ التَّنَفُّلِ قَبْلَ صَلَاةِ الْعِيدِ وَبَعْدَهَا﴾	۶۵۸	۶۱۶.	باب دي په پرېښودلو د نفلو کې مخکې د مانځه د اختر نه او روسته د مانځه د اختر نه	۶۵۸
۶۱۷.	بَابُ الذَّهَابِ إِلَى الْمُصَلَّى فِي طَرِيقٍ وَالرُّجُوعِ فِي طَرِيقٍ أُخْرَى	۶۶۰	۶۱۸.	باب د تللو دي عیدګاه ته په یوه لاره او د واپس راتلو دي په بله لاره	۶۶۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۰۶۱۹	بَابُ تَكْبِيرَاتِ التَّشْرِيقِ	۶۶۱	۰۶۲۰	باب دي د تکبيرونو د تشريق	۶۶۱
۰۶۲۱	﴿أَبْوَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوفِ﴾	۶۶۳	۰۶۲۲	دنمر دتندر نيولو مونځ	۶۶۳
۰۶۲۳	بَابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّلٰوةِ وَ الصَّدَقَةِ وَ الِاسْتِغْفَارِ فِي الْكُسُوفِ	۶۶۳	۰۶۲۴	باب دي په تيزولو کې په صلوة ، صدقه او استغفار باندي د نمر په تورېدو کې	۶۶۳
۰۶۲۵	بَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوفِ بِخَمْسِ رُكُوعَاتٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ	۶۶۵	۰۶۲۶	باب دمانځه دکسوف دي په پنځو رکوع ګانو سره په هر رکعت کې	۶۶۵
۰۶۲۷	﴿بَابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِأَرْبَعِ رُكُوعَاتٍ﴾	۶۶۹	۰۶۲۸	باب هر رکعت په څلورو رکوع ګانو سره	۶۶۹
۰۶۲۹	﴿بَابُ ثَلَاثِ رُكُوعَاتٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ﴾	۶۷۱	۰۶۳۰	باب دري رکوع ګاني په هر رکعت کې	۶۷۱
۰۶۳۱	بَابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوعَيْنِ	۶۷۲	۰۶۳۲	باب هر رکعت په دوه رکوع ګانو سره	۶۷۲
۰۶۳۳	بَابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوعٍ وَاحِدٍ	۶۷۴	۰۶۳۴	باب هر رکعت په يوي رکوع سره	۶۷۴
۰۶۳۵	﴿بَابُ الْقِرَاءَةِ بِالْجَهْرِ فِي صَلٰوةِ الْكُسُوفِ﴾	۶۷۸	۰۶۳۶	باب دي د قرأت په جهر سره په مانځه د کسوف کې	۶۷۸
۰۶۳۷	﴿بَابُ الْإِخْفَاءِ بِالْقِرَاءَةِ فِي صَلٰوةِ الْكُسُوفِ﴾	۶۷۹	۰۶۳۸	باب د پټ ويلو د قرأت په مانځه د کسوف کې	۶۷۹
۰۶۳۹	﴿بَابُ صَلٰوةِ الِاسْتِسْقَاءِ﴾	۶۸۰	۰۶۴۰	باب دي دمانځه دباران دغوښتو	۶۸۰
۰۶۴۱	﴿بَابُ صَلٰوةِ الْخَوْفِ﴾	۶۸۴	۰۶۴۲	باب د ويري مونځ	۶۸۴
۰۶۴۳	﴿أَبْوَابُ الْجَنَائِزِ﴾	۶۹۰	۰۶۴۴	دجنازي مسائل	۶۹۰

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
۶۴۵.	﴿بَابُ لِلْمُحْتَضَرِ﴾	۶۹۰	۶۴۶.	باب قريب الموت شخص ته د کلمې تلقين	۶۹۰
۶۴۷.	بَابُ تَوْجِيهِ الْمُحْتَضَرِ إِلَى الْقِبْلَةِ	۶۹۱	۶۴۸.	باب د مخ کولو د مړي دي قبلې طرف ته	۶۹۱
۶۴۹.	بَابُ قِرَاءَةِ يٰسٓ عِنْدَ الْمَيِّتِ	۶۹۲	۶۵۰.	مړي ته د سورت يس د لوستلو باب	۶۹۲
۶۵۱.	﴿بَابُ تَكْفِينِ الْمَيِّتِ﴾	۶۹۳	۶۵۲.	باب د مړي د سترګو پټول	۶۹۳
۶۵۳.	﴿بَابُ تَسْجِيَةِ الْمَيِّتِ﴾	۶۹۴	۶۵۴.	﴿بَابُ غُسْلِ الْمَيِّتِ﴾	۶۹۴
۶۵۵.	باب د غسل د مړي	۶۹۴	۶۵۶.	﴿بَابُ غُسْلِ الرَّجُلِ امْرَأَتَهُ﴾	۶۹۵
۶۵۷.	د سړي خپلې ښځې ته د غسل ورکولو باب	۶۹۵	۶۵۸.	﴿بَابُ غُسْلِ الْمَرْأَةِ زَوْجَهَا﴾	۶۹۸
۶۵۹.	باب د غسل د ښځې دي خپل خاوند ته	۶۹۸	۶۶۰.	﴿بَابُ التَّكْفِينِ فِي الثِّيَابِ الْبِيضِ﴾	۶۹۸
۶۶۱.	په سپينو جامو کې د کفن ورکولو باب	۶۹۸	۶۶۲.	﴿بَابُ التَّحْسِينِ فِي الْكَفَنِ﴾	۶۹۹
۶۶۳.	باب په مينه والي د کفن کې دي	۶۹۹	۶۶۴.	بَابُ تَكْفِينِ الرَّجُلِ فِي كَلَاثَةِ أَثْوَابٍ	۷۰۰
۶۶۵.	﴿بَابُ تَكْفِينِ الْمَرْأَةِ فِي خَمْسَةِ أَثْوَابٍ﴾	۷۰۱	۶۶۶.	باب د کفن ورکولو دي ښځې ته په پنځو جامو کې	۷۰۱
۶۶۷.	﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْمَيِّتِ﴾	۷۰۲	۶۶۸.	باب په باره د هغه روايتونو کې دي چې راغلي په باره د مانځه کې په مړي باندې	۷۰۲
۶۶۹.	بَابُ فِي تَرْكِ الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَاءِ	۷۰۸	۶۷۰.	باب دي په باره د پرېښودو د مانځه د جنازې کې په شهيدانو باندې	۷۰۸

Maktaba Tul Ishaat.com

شماره	عنوان	صفحه	شماره	عنوان	صفحه
٦٧١.	﴿بَابُ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَاءِ﴾	٧١٠	٦٧٢.	باب دي په باره د مانځه د جنازي کې به شهيدانو باندي	٧١٠
٦٧٣.	﴿بَابٌ فِي حَمْلِ الْجَنَازَةِ﴾	٧١٣	٦٧٤.	باب دي په ورلو د جنازي کې	٧١٣
٦٧٥.	﴿بَابٌ فِي أَفْضَلِيَةِ الْمَشْيِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ﴾	٧١٤	٦٧٦.	باب دي په بهترۍ د تللو کې روسته د جنازي نه	٧١٤
٦٧٧.	﴿بَابُ الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ﴾	٧١٦	٦٧٨.	باب د پاڅيدو دي د پاره د جنازي	٧١٦
٦٧٩.	بَابُ نَسْخِ الْقِيَامِ لِلْجَنَازَةِ	٧١٨	٦٨٠.	باب دي په نسخ د ودريدو کې د پاره د جنازي	٧١٨
٦٨١.	﴿بَابٌ فِي الدَّفْنِ وَبَعْضِ أَحْكَامِ الْقُبُورِ﴾	٧١٩	٦٨٢.	باب دي په ښخولو د مړي او په ځيني احکامو د قبرونو کې	٧١٩
٦٨٣.	﴿بَابُ قِرَاءَةِ الْقُرْآنِ لِلْمَيِّتِ﴾	٧٢٧	٦٨٤.	باب د قرآنکريم د تلاوت دي د پاره د مړي	٧٢٧
٦٨٥.	﴿بَابٌ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ﴾	٧٢٨	٦٨٦.	باب دي په زيارت د قبرونو کې	٧٢٨
٦٨٧.	﴿بَابٌ فِي زِيَارَةِ قَبْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ﴾	٧٣٠	٦٨٨.	باب دي په زيارت د قبر د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې	٧٣٠

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

غرض مرتب:

نحمده ونصلي على رسوله الكريم . أما بعد!

دالله تعالى بې شميره احسنات او دوالدينو او داستاذانو مخلصانه دعا او دتوجهاتو اثر دی چې ماته ئې دعلم حديث په موضوع باندې په اول ځل څه دلږ شان خدمت سعادت رانصيب کړ په دې باندې څه دالله تعالى په دربار کې ډير شکر گزاريم.

دا خو هر چاته معلومه ده چې اهل سنت والجماعت ځلور واړه فقهي مسلکونه په حق دي او د مسلکونو مقتدايان عندالله او عندالأنام دمقبوليت په کوم مقام باندې چې فائز دی او دامت يوه لويه طبقه کوم چې په دې اکابرينو باندې بطور تقليد اعتماد دی هغه اظهر من الشمس دی بيا خاص کر امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ کوم ته چې په ائمو اربعو کې واحد دتابعيت شرف هم حاصل دی ددوي فقاهت او په ټولو قرآني علومواو سنتو باندې مهارت او قابليت لره هميشه لپاره معتدل مزاج اصحاب علمو تعريف کړې دی او ټول محدثين ، فقهاء ، عابدين ، او دعقل خاوندان دامام صاحب مقلدين گرځيدلي دي ليکن بدقسمتۍ نه څه خلکو دشروع نه ددې سره حسد دی او هغوي باوجود دټولو حجت او دليلونونه دفقه حنفي اکثر مسائلو لره دنصوص شريعت نه متعارض گرځوي او فقهاء احناف لره دصراط مستقيم نه دمنحرف بنکاره کولو لپاره سرگردانه دي ترڅو چې دخلکو هم داحنافو سره حسد پيدا کړي .

يا هم چې کله دلامذهبه خلکو له طرفنه دعوام الناس دگمراه کيدو ويره شوه نو دنا قديمنو يو لوي جماعت مستقل دتصانيفو په ذريعه دفقه حنفي باني او ددستور اسلامي اولني باضابطه مدون امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او ددوي دشاگردانو سوانح حيات ، قرآن او سنت او ددين په علومو کې مهارت او خدماتو لره ئې واضحه کړل په کوم کې چې دفقهاؤ متبع مؤرخين مثلا علامه جلال الدين سيوطي شافعي رَحِمَهُ اللهُ (صاحب تبييض الصحيفه) ابن عبدالبر مالکي رَحِمَهُ اللهُ (صاحب الانتقاء) او سبط ابن الجوزي حنبلي رَحِمَهُ اللهُ (صاحب الانتصار) وغيره نومونه قابل ذکر دی. بل طرفته دفقه حنفي سره پيوست او وابسته محدثين او فقهاء حضراتو يوه طبقه دمسلک مسائل هغه مآخذ کوم چې په وخت داجتهاد دامام ابو حنيف رَحِمَهُ اللهُ او داصحابو دنظر لاندې وو ، مستقل تصنيف په ذريعې سره ئې بيان کړل . په دې تصانيفو کې (الجمع بين السنة والكتاب) لأبي محمد المنبجي رَحِمَهُ اللهُ متوفى ٦٨٦هجري (اعلاء السنن) مؤلفه حضرت مولانا ظفر احمد عثماني او هادي الأنام الى أحاديث الأحكام للشيخ مفيض الرحمن قابل ذکر دی . دغه شان دحديثو په شروحاتو کې هم متعدد کتابونه

Maktaba Tul Ishaat.com

دفقه حنفي په ترجماني کولو کې اوليکلې شوې مثلا عمدة القاري للبدر العيني ، نصب الرايه للامام الزيلعي رَحِمَهُ اللهُ او معارف السنن لمحدث العصر الامام محمد يوسف البنوري رَحِمَهُ اللهُ .

ليکن په فتنه غير مقلديت او تحريک لامذهبيت په ضد او دفقه حنفي په باب کې چې يو اندازه اوليت حاصل دی هغه زمونږ دا کتاب يعني آثار السنن دی. علامه ظهير احسن المعروف به شوق نيموي رحمه الله په لوی کوشش سره دکتاب وسنت نه دفقه حنفي دمسائلو په ثبوت باندې داسې يو ناقابل ترديد دلائل جمع کړي دي . خو کاش چې دا تصنيف ئې تکميل ته رسيدلی وی ليکن دا هم د الله تعالی دطرفنه يو لوی نعمت او دفقه حنفي لپاره قياس کن زگلستان من بهار مرا مصداق دی .

دير مدارس چې ددې کتاب قدر وقيمت اوددې اهميت نه خبر شو نو خپل تعليمي نصاب کې ئې شامل کړ مصنف په دې تاليف کې چې څنګه په باريکۍ سره احاديث ذکر کړي دي او دفريق مخالف په دلائلو باندې ئې چې څنګه مدلل انداز کې کلام کړې دی نو هم ددې مطابق دځه وخت نه ددې کتاب دشروحاتو سلسله جاري ده ، ليکن تر اوسه پوري په مطبوع(چاپ کړې شوې) شروحاتو کې غير ضروري طوالت يا اختصار مخل يا دناکافي وضاحت په بناء باندې داسې ديوې معتدلې شرحې ضرورت محسوس کيدو په کوم کې چې احاديثو باندې اعراب ، دعبارت آسانه او سليس ترجمه ، دکلماتو تحقيق اوتشريح ، او دمباحثو خلاصه ، او دمختلفو مکاتب فکر دبنيادي کتابونو نه ددوې فقهي مسلک نچوړ بيانول او دفريق مخالف ددلائلو وضاحت ، دفقه حنفي دترجيح وجې ، دمصنف غرض بالخصوص د قال النيموي وضاحت او په ظاهر کې دمتعارض حديثونو په مينځ کې تطبيق ، ددې امورو په کې خاص اهتمام شوې دې دغه شان دې سره سره اصول حديث تفصيل هم موجود دی .په ابتداء کې دمقدمة العلم دعنوان لاندې دطالبانو درهنمائي لپاره داصول حديث دفن يو څو ضروري اصطلاحات هم ذکر کړې شوی دی دمقدمة العلم مطالعه نه صرف دآثار السنن په کتاب کې نه بلکه دفقهي نور کتابونه مثلا حسامي کې به هم تاسو ته په کار راشي انشاءالله .

دفقهي مباحثو او دادلو په بيان کې دکوم بحث دلاندې چې ديو کتاب نه استفاده کړې شوې ده دهمغه کتاب حواله دصفحې په لاندې طرف کې ورکړلې شوې ده .

زه په دې موقع باندې دخپلو ټولو استاذانو او دوالدينو دزړه نه شکرګزار يم چې دوې بنده سره دکومک سره سره دعاګانو نه هم مستفيد کړکوم چې ديو څيز دمقبوليت لپاره خاص شئ دې دالله تعالی نه دعا ده چې دبنده دا محنت او کوشش دې قبول کړي او دعلماؤ او طالبانو لپاره دې بې حده نافع اوګرځوي او دټولو استاذانو ، او دوالدينو لپاره دې صدقه جاريه وګرځوي .آمين .

ستاسې ورور : حافظ سميع الحق حقاني

Maktaba Tul Ishaat.com

مقدمة العلم

دعلم حدیث یو څو اهم اصطلاحات:

په حدیث . خبر او اثر کې فرق :

دحدیث او دخبر متعلق یو قول دادی چې دواه مترادف دي او دویم قول دادی چې دحدیث اطلاق درسول الله ﷺ په اقوالو افعالو وغیره باندې کیږي او خبر عام دی په احادیث نبوي او دبادشاهانو ملکانو په خبرونو باندې ددې اطلاق کیږي.

حدیث او اثر کې فرق دادی چې دحدیث اطلاق عموما په اقوالو او افعالو دنبي علیه السلام باندې کیږي او اثر عموما دصحابه کرامو رضي الله عنهم په اقوالو او افعالو باندې ویلې کیږي.

دحدیث اقسام :

حدیث په دوه قسمه باندې دی : ۱- خبر متواتر. ۲- خبر واحد .

خبر متواتر : هغه حدیث دی دکوم چې روایت کونکي په هره زمانه کې دومره ډیر وي چې دهغوي په دروغ جوړولو باندې اتفاق لره عقل سلیم (کامل عقل) محال ګڼي.

خبرواحد : هغه حدیث دی دکوم چې روایت کونکي دومره ډیر نه وي.

دخبر واحد په مختلفو اعتباراتو سره تقسیم کیږي.

دخبرواحد اولنې تقسیم :

خبر واحد دخپل منتهی په اعتبار سره په دري قسمه دی : ۱- مرفوع. ۲- موقوف. ۳- مقطوع.

مرفوع : هغه حدیث دی په کوم کې چې درسول الله ﷺ قول یا فعل یا تقریر (یعني صحابه کرام رضي الله عنهم په یو کار لیدل او په هغې نکیر نه کول یعني بد ئې نه ګڼل) مذکور وي.

موقوف : هغه حدیث دی کوم کې چې دصحابي قول یا فعل یا تقریر ذکر وي.

مقطوع : هغه حدیث دی کوم کې چې دتابعي قول یا فعل یا دتقریر ذکر وي.

دخبرواحد دویم تقسیم :

خبرواحد دراویانو دتعداد په اعتبار سره هم په دري قسمه باندې دی.

۱- مشهور . ۲- عزیز. ۳- غریب.

مشهور : هغه حدیث دی دکوم چې راوي په هره مانه کې ددریو نه کم نه وي.

عزیز : هغه حدیث دی دکوم چې راوي په هره زمانه کې د دوو (۲) نه کم نه وي.

غریب : هغه حدیث دی دکوم چې راوي کم نه کم یو وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

د خبر واحد دریم تقسیم :

خبرواحد (که مشهور وي یا عزیز وي اویا غریب) دقوت او ضعف په اعتبار سره په دوه قسمه باندي دی ۱۰- مقبول ۲۰- مردود.

مقبول : هغه حدیث دي دکوم چې راوي ریښتوني کیدل غالب وي.

مردود : هغه حدیث دکوم چې دراوي ریښتوني کیدل غالب نه وي.

حکم : دحدیث مقبول نه استدلال کول او ددې مطابق عمل کول واجب دي او دحدیث مردود نه خو به استدلال کولې شي او نه په دې باندې عمل کول واجب دي تر څو چې دراویانو دحالاتو نه مکمل طور باندې بحث اونکړې شي.

د حدیث مقبول اولنې تقسیم

حدیث مقبول دخپل مراتب په اعتبار سره بنیادي طور باندې په دوه قسمه باندې دی ۱۰- صحیح ۲۰- حسن.

صحیح : هغه حدیث دی دکوم چې ټول راویان عادل (معتبر) او حدیث لره ضبط(یادول او محفوظ کول) کونکي وي او دده سند خپل قائل پوري متصل وي (مینځ کې کوم راوي حذف شوي نه وي) معلل او شاذ کیدو نه محفوظ وي.

حسن : هغه حدیث دی دکوم په راوي کې چې صرف ضبط ناقص وي باقي ټول شرائط دحدیث صحیح په دې کې موجود وي.

صحیح او حسن دوو قسمونو ته تقسیمیږي ۱۰- لذاته ۲۰- لغیره.

صحیح لذاته : هغه حدیث دی دکوم چې ټول راویان عادل(ثقه یعنې نهایت معتبر)وي او حدیث شریف دسند سره په خه طریقې سره محفوظ کونکي وي او سندئې هم متصل وي.

صحیح لغیره :هغه حدیث دی کوم چې په اصل کې حسن لذاته دی لیکن ددې سندونه دومره ډیر دي چې په دې سره دراوي په حفظ کې چې کومه کمي وه دهغې پوره والي اوکړې شو.

حسن لذاته : هغه حدیث دی دکوم چې راوي خفیف الضبط وي (یادداشت یې کمزوري وي).

حسن لغیره : هغه حدیث دی دکوم په راوي کې چې دثقاهت (داعتماد قابل کیدل) ټول صفات یا بعضي نه بعضي موندلې کیږي لیکن دسندونو ددیر والي دوجې نه ددې نقصان پوره والي شوي وي.

د حدیث مقبول دویم تقسیم

په آحادیثو کې په ظاهره تعارض واقع کیدو په اعتبار سره دحدیث مقبول اوه (۷) قسمونه دي کوم چې په لاندې ډول دي:

Maktaba Tul Ishaat.com

۱- محکم. ۲- مختلف الحدیث. ۳- ناسخ. ۴- منسوخ. ۵- راجح. ۶- مرجوح. ۷- متوقف فیه.

محکم: هغه حدیث دی چې دکوم مخالف یو حدیث هم نه وي.

مختلف الحدیث: هغه متعارض حدیثونه دي کوم چې په صحت کې برابر وي او دهغې جمع کول ممکن وي.

ناسخ او منسوخ: هغه متعارض حدیثونه دي کوم چې په صحت کې برابر وي او په هغې کې تطبیق هم ممکن نه وي لیکن دتاریخ نه یو مقدم او بل مؤخر ثابت شي نو مقدم ته منسوخ او مؤخر ته ناسخ ویلې شي.

راجح او مرجوح: هغه متعارض حدیثونه دي کوم چې په صحت کې برابر وي او په هغې کې نه تطبیق ممکن وي او نه کوم یو مخکې او نه کوم یو وروسته کیدل ثابت وي لیکن یو لره په بل باندې ترجیح ورکول ممکن وي نو کوم حدیث لره چې دعمل دپاره ترجیح ورکړې شي هغې ته راجح ویلې شي او هغه بل ته مرجوح ویلې شي.

متوقف فیه: هغه متعارض حدیثونه دي کوم چې په صحت کې برابر وي لیکن په هغې کې خو نه جمع ممکن وي او نه تقدم او تأخر ثابت وي او نه یو لره په بل باندې ترجیح ورکول ممکن وي نو تر څو پورې چې ددې حدیثونو نه په یو باندې دعمل کولو څه صورت ظاهر نه وي نو توقف به کولې شي.

ضعیف حدیث: ضعیف هغه حدیث دی دکوم په راوي کې چې دصحیح او دحسن حدیث شرائط اونه موندلې شي.

حکم: دحدیث ضعیف دضعف بیانولو نه بغیر روایت کول صحیح دي البته عقائد، فرض او واجب تري نه شي ثابتیدلې او داستحباب ثابتولو دپاره هم دري شرطونه دي:

۱- ضعف شدید نه وي. ۲- دکومې شرعي قاعدې خلاف نه وي. ۳- دعمل کولو په وخت مکمل طور باندې ددې دثبوت ګمان دې نه ساتي بلکې په دې باندې عمل کول دي احتیاط اوګڼي.

د حدیث مردود اقسام:

دحدیث غیر مقبول کیدو سبب یا خو په سند کې دننه دیو راوي سقوط کیدل وي او یا په راوي باندې جرح او طعن. که ددې سبب دراوي ساقطیدل وي نو ددې پنځه مشهور قسمونه دي:

۱- معلق. ۲- مرسل. ۳- معضل. ۴- منقطع. ۵- مدلس.

معلق: هغه حدیث دی دکوم سند چې اولنې حصه حذف کړې شوي وي.

مرسل: هغه حدیث دی دکوم چې د سند آخرنۍ حصه نه وي بیان کړې شوي که ثقه راوي حدیث

Maktaba Tul Ishaat.com

مرسل نقل کړي نو د جمهورو په نزد هغه حدیث مقبول دی او چې کوم غیر ثقه مرسل نقل کړي نو هغه عند الجمهور غیر مقبول دی.

معضل تعریف: هغه حدیث دی د کوم چې د سند د مینځ نه دوه یا زیات راویان مسلسل حذف شوي وي.

منقطع: هغه حدیث دی د کوم چې د سند د مینځ نه صرف یو راوي حذف شوي وي یا په شمار یو څو راویان حذف شوي وي لیکن مسلسل نه بلکې جدا جدا مقام باندې حذف شوي وي.

مدلس: هغه حدیث دی د کوم چې د راوي دا عادت وي چې هغه د خپل شیخ یا د شیخ شیخ نوم پټوي یعنې په سند کې یې نه ذکر کوي.

حدیث متصل او حدیث مسند

که د حدیث په سند کې یو راوي ساقط نه وي نو هغه حدیث ته حدیث متصل ویلې شي او چې کله د اسي یو حدیث وي چې دهغې نسبت د رسول الله ﷺ ذات مقدس طرف ته اوشي نو هغه حدیث ته مسند ویلې شي.

په راوي باندې د طعن لس اسباب

راوي باندې د طعن نه مراد په راوي کې یو د اسي خرابي او عیب کیدل دي کوم چې د قبول حدیث د پاره مانع وي د دې لس اسباب دي چې د دې د وجې نه د حدیث مقبول د رجې هم مختلفې دي. هغه لس اسباب دادي :۱- کذب .۲- تهمت کذب .۳- فسق.۴- جهالت.۵- بدعت .۶- فحش غلطي.۷- کثرت غفلت.۸- وهم.۹- مخالفت ثقات. ۱۰- سوء حفظ.

کذب في الحدیث: یعنې رسول الله ﷺ طرفته قصدا یو دروغجنه خبره منسوب کول د یر سخت عیب او د یره لویه ګناه ده.

تهمت کذب: یعنې د دروغو الزام او د دې مطلب دادي چې د راوي متعلق خو دا خبره ثابته نشي چې ده رسول الله ﷺ طرفته قصدا یو دروغه خبره منسوب کړي ده لیکن څه د اسي قرائن پیدا کیږي چې د کوم نه د کذب في حدیث الرسول بدګماني کیږي.

فسق: یعنې بې دینه کیدل دا طعن په هغه راوي باندې لګي کوم چې دیو قولي یا فعلي ګناه کبیره مرتکب وي مثلا زنا، غلا وغیره کوي.

جهالت: یعنې د راوي حال معلوم نه وي چې ثقه دی او که غیر ثقه.

بدعت: یعنې په دین کې د اسي یو نوي کار پیدا کول د کوم چې اصلیت په قرآن کریم کې یا حدیث شریف کې یا قرون مشهود لها بالخیر (زمانه صحابه و تابعین و تبع تابعین) کې نه موندلې کیږي.

فحش غلطي: دا طعن په هغه راوي باندې لګي د کوم چې غلط بیاني د صحت بیاني نه زیاته وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

کثرت غفلت: یعني ډیر زیات غفلت دا طعن په هغه راوي باندې لګي کوم چې د حدیث داتقان یعني ځان سره خه محفوظ کولو نه ئې اکثر غفلت زیات وي.

وهم: په هیره غلطي کول یعني په سند کې یا په متن کې تغیر وتبدیل راوستل مثلا حدیث مرسل یا منقطع لره متصل کول.

سوء حفظ: یعني د یاد داشت خرابي ، دا طعن په هغه راوي باندې لګي دکوم چې غلط بیاني د حافظې دکمزورتیا دوجې نه ، د صحت بیاني نه زیات یا برابر وي.

په اعتبار د طعن في الراوي سره د حدیث غیر مقبول اقسام

موضوع: یعني من ګړت (دخان نه جوړ کړې شوې) حدیث او دا هغه حدیث دی دکوم په راوي باندې چې په حدیث نبوي کې د دروغو ویلو طعن موجود وي.

متروک: یعني پریخودلې شوې ساقط الاعتبار حدیث او دا هغه حدیث دی دکوم چې راوي متهم بالکذب وي یا هغه روایت د قواعد معلومه في الدین مخالف وي.

منکر: هغه حدیث دی کوم چې دیو داسې راوي نه روایت کړې شوي وي کوم چې فحش غلطي یا کثرت غفلت یا فسق سره مطعون وي د غه شان هغه حدیث د کوم چې راوي باوجود د ضعیف کیدو نه د ثقاتو جماعت مخالف روایت اوکړي.

معروف: هغه حدیث دی کوم چې د منکر مقابل وي.

معلل: هغه حدیث کوم کې چې راوي دوهم دوجې نه تغیر او تبدیل کړې وي همدارنګې هغه حدیث کوم کې چې داسې یو پټ علت وي کوم چې په صحت حدیث کې نقصان ورکوي ، دې لره معلو مول د ماهر فن کار دی.

شاذ: هغه حدیث د کوم چې راوي پخپله ثقه وي لیکن دیو داسې کثیر جماعت خلاف روایت کوي کوم چې د ده نه زیات ثقه دي.

محفوظ: هغه حدیث کوم چې د شاذ مقابل وي.

مضطرب: هغه حدیث د کوم په سند کې یا په متن کې د تغیر او د بدلیدو دوجې نه د ثقه راوي سره اختلاف پیدا شوي وي او د دواړو روایتونو نه یو لره ترجیح ورکول یا د واړو تر مینځ تطبیق ممکن نه وي.

مصحف ومحرّف: هغه حدیث کوم کې چې سند او د متن صورت خو پخپل ځاي باقي وي لیکن دیو یا دیو ځو حروفو د بدلیدو دوجې نه د ثقه راوي مخالفت کړې شوي وي ، یا که د حرف بدلون صرف د نقطو په ذریعه سره وي (مثلا طاء لره ظاء یا صاد لره ضاد نقل کول) نو هغه مصحف دی او

Maktaba Tul Ishaat.com

که دیو حرف شکل دبل حرف سره بدل شوي وي (مثلا سین لره صاد یا ضاد لره ظاء نقل کول) نو هغه محرف دی.

مقلوب: هغه حدیث دکوم چې راویانو په نومونو کې یا دحدیث په متن کې روستووالي او مخکې والي شوي وي.

مدرج: هغه حدیث کوم کې چې یو راوي خپل کلام داخل کړي او فرق کول مشکل وي.

تنبیه: که صحیح حدیث یا دحسن راوي یو زائد مضمون بیان کړي او هغه زیاتوالي ددې نه زیات ثقه راوي دبیان خلاف وي نو دې مضمون لره به یا خو مستقل حدیث اوګرځولې شي یا به ورته دحدیث باقي مانده (پاتې کړې شوي) حصه اوویلې شي.

دبدعتي روایت

دبدعت دوه قسمونه دي: اول: مستلزم کفر یعني دکوم نه چې کفر لازمیږي لکه دختم نبوت نه انکار. دویم: مستلزم فسق: لکه عام عقائد او خیالات فاسده.

دبدعتي دروایت حکم: دمستلزم کفر حدیث دجمهورو په نزد مقبول نه دی او دمستلزم فسق حدیث هغه وخت قبول دی چې کله هغه حدیث دده دمنشا او دبدعت دترویج خلاف وي او په ده باندې دې حدیث لره دخپل مذموم مقاصدو دپوره کولو لپاره دروایت الزام هم نه وي.

شاهد او متابع

کچرته په یو درجه کې دخبرواحد ګډلو والا حدیث هم معنی یا هم لفظ حدیث موجود وي نو دې دویم حدیث ته شاهد ویلې شي او که دداسې خبرواحد سند دیو راوي په ځاي دوو یا ددوو نه زیات راویان نقل کړي نو اولنې حدیث متابَع او دویم حدیث ددې متابِع ویلې شي.

دصحابي تعریف: هغه کس کوم چې دسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په حالت دایمان ملاقات کړې وي او هم په اسلام باندې یې خاتمه شوي وي.

دتابعي تعریف: هغه کس کوم چې په حالت دایمان دیو صحابي سره ملاقات کړې وي او هم په اسلام باندې یې خاتمه شوي وي لکه دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ چې د انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره یې ملاقات ثابت دی.

دجرح او تعدیل مرتبې

محدثین چې کله دراوي توثیق اوتعدیل (قابل داعتبارګرځول) بیانوي یاپه راوي باندې جرح (تنقیدو تضعیف) کوي نو دې دپاره یو مخصوص الفاظ استعمالوي په دې الفاظو کې څه ډیر اعلی دي اوڅه درمیانه او څه ادنی. نو مونږ به دې تولو الفاظو لره داعلی نه ادنی پورې دمعتبر ترتیب

Maktaba Tul Ishaat.com

مطابق لیکو .

دتعدیل الفاظ : (۱) ثبت حجة (۲) ثبت حافظ (۳) أوثق یعني دتولو نه زیات معتبر (۴) ثقه متقن (۵) ثقه ثبت (۶) ثقة ثقة (۷) ثقة (۸) صدوق (۹) لا بأس به (۱۰) لیس به بأس (۱۱) محله الصدق (۱۲) جید الحدیث (۱۳) صالح الحدیث (۱۴) شیخ وسط (۱۵) شیخ حسن الحدیث (۱۶) صدوق ان شاء الله (۱۷) صَویلح او داسي نور .

د جرحي الفاظ :

(۱) أکذب الناس (۲) دجّال کذّاب (۳) وضاع یضع الحدیث (۴) متهم بالکذب (۵) متفق علی ترکه (۶) متروک (۷) لیس بثقة (۸) سکتو عنه (۹) ذاهب الحدیث (۱۰) فیه نظر (۱۱) هالک (۱۲) ساقط (۱۳) واه بمرة (۱۴) لیس بشئ (۱۵) ضعیف جداً (۱۶) ضعّفوه (۱۷) ضعیف واه (۱۸) یضعف (۱۹) فیه ضعف (۲۰) قد ضُعّف (۲۱) لیس بالقوي (۲۲) لیس بحجة (۲۳) لیس بذاک (۲۴) یعرف وینکر (۲۵) فیه مقال (۲۶) تکلم فیه (۲۷) لین (۲۸) سیئ الحفظ (۲۹) لا یحتج به (۳۰) اُختلفَ فیه (۳۱) صدوق لکنه مبتدع او داسي نور .

د احادیثو د کتابونو اقسام :

د احادیثو کتابونه دخپل خاص ترتیب او وضع په اعتبار سره دوه تقسیمونه مشهور دي :

اول تقسیم : د حدیثو کتابونه د مسئلو د ترتیب او د وضع په اعتبار سره په نه (۹) قسمه دي: (۱) جامع (۲) قسم سنن (۳) قسم مُسند (۴) قسم معجم (۵) قسم جزء (۶) قسم مفرد (۷) قسم غریب (۸) قسم مُستخرج (۹) قسم مستدرک .

(۱) **جامع** : هغه کتابونه دي چې په هغي کې د تفسیر ، عقائد ، اداب ، سیر ، مناقب احکام ، فتن او د قیامت د علامو او داسي نورټول مسائل ذکر شوي وي لکه بخاري او ترمذي .

(۲) **سنن** : هغه کتابونه دي چې په هغي کې د احکامو احادیث د فقهي بابونو سره موافق ذکر شوي وي لکه سنن نسائي . سنن ابوداود . سنن ابن ماجه .

(۳) **مسند** : هغه کتابونه دي چې په هغي کې د صحابه کرامو رضی الله تعالیٰ عنهم د رتبي او درجي او یا د حروف هجاء په ترتیب اویا د اسلام د وراندي والي او وروسته والي په وجه سره احادیث ذکر شوي وي لکه مسند د احمد رحمۃ اللہ او مسند د دارمي .

(۴) **معجم** : هغه کتاب ته ویلي شي چې په هغي د احادیثو ذکر کول د استاذانو د ترتیب په لحاظ سره وي لکه معجم د طبراني شو .

(۵) **جزء** : هغه کتاب ته ویلي شي چې په هغي کې فقط د یوي مسئلي حدیثونه راجمع شوي وي لکه

Maktaba Tul Ishaat.com

جزء القرأة او **جزء رفع اليدين** د بخاري رَحِمَهُ اللهُ شو او يا **جزء القرأة** د بيهقي رَحِمَهُ اللهُ شو .

(۶) مفرد يا أفراد: هغه کتاب ته ويلي شي چې په هغې کې فقط د يو کس ټول روايت شوي حديثونه ذکر شوي وي .

(۷) غريب: هغه کتاب ته ويلي شي چې په هغې کې د يو محدث متفردات ذکر شوي وي عام د دې نه چې د هر شيخ نه وي .

(۸) مستخرج: هغه کتاب ته ويلي شي چې په هغې کې د کوم بل کتاب د احاديثو د زاندو سندونو استخراج شوي وي لکه مستخرج د ابو عوانه .

(۹) مستدرک: هغه کتاب ته ويلي شي چې په هغې کې د بل کتاب د شرط موافق ددې پاتې حديثونه پوره شوي وي .

(۱۰) تجريد: هغه کتاب کوم کې چې ديو بل د حديثو کتاب احاديثو لره د سند او د مکرراتو نه بغير صرف د صحابي په واسطې سره نقل کړي شي لکه تجريد صحيح البخاري للزبيدي رحمه الله او تجريد د صحيح مسلم للقرطبي رحمه الله .

(۱۱) اربعين: يعني څلويښت حديث هغه کتاب کوم کې چې ديو يا د زياتو موضوعاتو سره متعلق کم او زيات څلويښت جمع کړي شي لکه د امام نووي رحمه الله **الاربعين** وغيره .

صحيح: هغه کتاب د کوم مصنف چې پخپل کتاب کې د صحيح احاديثو ذکر کولو التزام او کړي .

دوهم تقسيم: د حديثو کتابونه د مقبوليت او غير مقبوليت په اعتبار سره په پنځه قسمه دي .

اول قسم: هغه کتابونه چې په هغې کې ټول حديثونه صحيح وي لکه صحيح بخاري ، مؤطا امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ، صحيح مسلم ، صحيح حاکم ، صحيح ابن خزيمه ، صحيح ابن حبان ، صحيح ابن عوانه ، صحيح ابن سکن ، منتقى ابن جارود .

دوهم قسم: هغه کتابونه دي چې په هغې کې هر قسم صحيح ، حسن او ضعيف حديثونه وي خو ولې هغه ټول د احتجاج قابل دي او دا خکه چې په دې کې کوم ضعيف حديثونه دي هغه هم د حسن مرتبې ته نزدې دي لکه سنن ابوداود ، جامع ترمذي ، مسند احمد او سنن نسائي شو .

دريم قسم: هغه کتابونه دي چې په هغې کې حسن ، منکر او صالح هر قسم حديثونه وي لکه سنن ابن ماجه (۲) مسند طيالسي (۳) زيادات محمد ابن احمد بن حنبل (۴) مسند عبدالرزاق (۵) مسند سعيد بن منصور (۶) مصنف د ابي بکر ابن ابي شيبه (۷) مسند ابويعلي الموصلي (۸) مسند بزار (۹) مسند ابن جرير (۱۰) تفسير ابن جرير (۱۱) تهذيب ابن جرير (۱۲) تاريخ ابن مردويه (۱۳) تفسير ابن مردويه (۱۴) معجم کبير د طبراني (۱۵) معجم صغير (۱۶) معجم اوسط

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱۷) سنن دارقطني (۱۸) غرائب دار قطني (۱۹) حليه ابو نعيم (۲۰) سنن بيهقي (۲۱) شعب الايمان بيهقي شو.

ځلورم : هغه کتابونه دي چې په هغې کې ټول حديثونه ضعيف دي **الا ماشاء الله** لکه نوادر الاصول. حکيم ترمذي. تاريخ الخلفاء. تاريخ ابن نجار. مسند الفردوس الديلمي. کتاب العقيلي. کامل ابن عدي. تاريخ خطيب بغدادي. تاريخ ابن عساکر.

پنځم قسم : هغه کتابونه دي چې په هغې کې موضوعي حديثونه معلوم شوي وي لکه موضوعات ابن جوزي. موضوعات شيخ محمد طاهر نهرواني او داسې نور

د حديثو شپږ صحيح کتابونه :

د حديثو د شپږو صحيحو کتابونو نه مراد دغه شپږ کتابونه دي. (۱) صحيح بخاري (۲) صحيح مسلم (۳) ابوداود (۴) نسائي (۵) ترمذي (۶) ابن ماجه.

د طلب حديث آداب

د طلب حديث يو څو اهم آداب به بيانولې شي :

۱- طالب حديث له پکار دي چې نيت دې صرف او صرف دالله درضا د حصول لپاره اوګرځوي او د حديثو علم دې حاصل کړي.

۲- د خپل استاذ حديث دې دبل عالم دين نه زيات عزت او احترام اوکړي.

۳- په زده کړه کې هيڅ شرم اونکړي.

۴- د فرائضو او واجباتو او د سنتو اهتمام دې اوکړي.

۵- د ګناهونو نه دې د حد نه زيات پرهيز اوکړي.

۶- خاص کر غيبت. مذاق او ملګرو ته تکليف ورکولو نه دې ځان اوساتي.

۷- د کتاب او د درسګاه او نورآلات د علم دې پوره پوره احترام اوکړي.

۸- د شروع نه تر آخيره پوري دې په سبق کې حاضر اوسي.

د آثار السنن د مصنف مختصر حالات :

نوم او نسب : د حضرت رَحِمَهُ اللهُ صاحبزاده مولانا عبدالرشيد رَحِمَهُ اللهُ ليکي :

چې د آثار السنن د مؤلف يعني زماد والد محترم نوم مبارک حضرت العلامة مولانا الإمام محمد بن سبحان علي النيموي رَحِمَهُ اللهُ دي کنيت يې ابو الخير دي مشهور ؤ په ظهير احسن سره او تخلص يې شوق النيموي دي، امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ د عارف بالله حضرت شيخ سبحان علي صديقي فرزند دي، نيموي صاحب منسوب دي نيمې طرف ته او نيمې د يو کلي نوم دي او داد هندوستان د مشهور بنار

Maktaba Tul Ishaat.com

عظیم آباد نه تقریباً څلور فرسخه لرې شوق طرف ته واقع دي .

د امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ تاریخ پیدائش : امام نیموي رحمه الله په ۴ جمادي الاول ۱۲۷۸ھ کې د چهارشنبې په ورځ د خپلې خاله په کور کې پیدا شوي دي او ددې کور په صالح پور کې واقع ؤ او صالح پور د بهار صوبې یوه کلي والا علاقه ده .

د امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ علمي لیاقت او مرتبه : امام نیموي رحمه الله جید عالم دین ، کثیر العلم ، ډیر بردبار ، وسیع النظر ، محقق ومحدث ، عظیم الاطلاع ، وسیع المطالعه ، صدیقي النسب او امام العصر ؤ ، امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ته په علمِ عروض کې یوه لویه ملکه حاصله وه او د امام اعظم ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په زړه پورې متبع او مقلد ؤ .

مشائخ او اساتذه کرام د امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ : امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ د خپلې زمانې د لویو لویو علماء کرامو او مشائخو عظامو نه خپل علم حاصل کړې دي ، دهغوي په مشائخو کې لوي محدث حضرت مولانا عبدالله غازي پوري رَحِمَهُ اللّٰهُ ، محمد سعید عظیم آبادي رَحِمَهُ اللّٰهُ ، محقق العصر علامه عبدالحي لکهنوي رَحِمَهُ اللّٰهُ او قطب الزمان مولانا شاه فضل الرحمن مراد آبادي رَحِمَهُ اللّٰهُ ډیر زیات مشهور دي ، امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ د خپل شیخ حضرت مراد آبادي رَحِمَهُ اللّٰهُ په لاس بیعت کړې ؤ .

د امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ مشهور تالیفات : د امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ په مختلفو علومو او فنونو کې متعدد او ډیر مفید تألیفات دي کله چې امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ په ۱۳۱۴ھ کې د آثار السنن د تسوید نه فارغ شو نو هغوي ددې کتاب شروع په هم هغه طریقې سره وکړه چې د کومې طریقې تصریح هغوي رَحِمَهُ اللّٰهُ د کتاب په اولنۍ صفحه کې کړې ده خو یې ژوند ورسره وفا ونه کړې نو دا کتاب یې ترکتاب الصلوة پورې مکمل کړو او وفات شو . کم حسرات في بطون المقابر

نور مشهور تالیفات : (۱) الحبل المتین في الاخفاء بآمین (۲) جلاء العین في ترک رفع الیدین (۳) وسیلة العقبی في أحوال المرضی والموتی (۴) لامع الانوار (۵) اوضحة الجید في بیان التقلید ، (۶) الأحة الاغلاط وغیره دي .

د امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ تاریخ وفات : امام نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ په ۱۷ رمضان المبارک ۱۳۲۲ ھ کې د جمعې مبارکې په ورځ په عظیم آباد بنار کې وفات شوي دي او هملته په عظیم آباد بنار کې خاورو ته سپارل شوي دي .

کتبه : ابن النیموي سن ۱۳۴۳ هجري

ماخوذ از آخر کتاب آثار السنن

Maktaba Tul Ishaat.com

آثار السنن او ددې منهج او طريقه

محدث العصر مولانا محمد يوسف بنوري رحمه‌الله فرمايي:

دحديث شغل لرونكي بعضي علماء دفقيه الأمت امام اعظم امام ابو حنيفه رحمه‌الله دلائل لره مطعون كوي او وايي چې دا احاديث صحيحو مخالف دي. نو شيخ ظهير احسن مجبور شو او دكتاب العمدة للمقدسي رحمه‌الله، المنتقى لابن تيميه رحمه‌الله، بلوغ المرام للحافظ ابن حجر رحمه‌الله او داسې دنورو كتابونو په طرز باندې يو كتاب اوليكو چې په دې كې دامام اعظم ابو حنيفه رحمه‌الله دمذهب مطابق دصحيح رواياتو اهتمام اوكړې شو. او ددې نوم يې آثار السنن كيخودو.

ليكن هغه دا عظيم خدمت لره پوره نه كړې شو، بيا هم ده پخپله په دې باندې متين علمي او تنقيدي تعليقات اوكړل چې نوم يې ورله التعليق الحسن كيخود. مؤلف به چې كله هم خپل كتاب تاليف كولو نو اول به يې دمحدث كبير، امام العصر شيخ محمد انور شاه كاشميري رحمه‌الله په خدمت كې وراندې كولو، كوم چې دعلم سمندر، وقت نظر، معتدل ذوق سليم او د لوي بصيرت سره سره دفقهاء امت دمذاهبو په باره كې وسيع معلومات لرلو كې آية من آيات الله وو. دخپلې خوانۍ په شروع شروع كې دهندوستان په اطرافو كې مشهور شوې وو. ددې علمي عظمت، او دحديث سره تعلق، او ددې نه اخذ واستنباط شهرت يې په ټول عالم كې خور شوې وو.

حضرت كشميري رحمه‌الله دې كتاب سره متفق وو لكه څنګه چې هغه پخپل كتاب نيل الفرقدين كې ذكر كړې دي.

بې شكه حضرت شيخ ددې كتاب نه ډير خوشاله وو او ددې كتاب طرز او طريقه ورته ډيره خوښه وه چې كله ددې كتاب طباعت مكمل شو نو كتاب يې واخيست او خه په غور يې مطالعه كړو او په دې باندې يې دلائل، ابحاث، نكات او دګڼ شمير فائدو اضافه يې وكړه.(۱)

---

(۱) ماخوذ از توضيح السنن بطور قليل: ۱/۶۸، ۶۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

المقدمة

بسم الله الرحمن الرحيم

نَحْمَدُكَ يَا مَنْ جَعَلَ صُدُوْرَنَا مِشْكَاةً لِمَصَابِيحِ الْاَنْوَارِ. وَنَوَّرَ قُلُوْبَنَا بِنُوْرِ مَعْرِفَةِ مَعَانِي الْاٰثَارِ وَنُصَلِّي وَنُسَلِّمُ عَلٰى حَبِيْبِكَ الْمُجْتَبٰى الْمُخْتَارِ وَرَسُوْلِكَ الْمَبْعُوْثِ بِصِحَاحِ الْاَخْبَارِ وَعَلٰى اٰلِهِ الْاَخْيَارِ وَاَصْحَابِهِ الْكِبَارِ وَمُتَّبِعِيْهِمُ الَّذِيْنَ اخْتَارُوْا سُنَنَ الْهُدٰى وَاسْتَمْسَكُوْا بِاَحَادِيْثِ سَيِّدِ الْاَبْرَارِ.

اَمَّا بَعْدُ ! فَيَقُوْلُ الْخَادِمُ لِلْحَدِيْثِ النَّبَوِيِّ مُحَمَّدُ بْنُ عَلِيِّ نِ النِّيْمَوِيِّ اِنَّ هٰذِهٖ نُبْذَةٌ مِّنَ الْاَحَادِيْثِ وَالْاٰثَارِ وَجُمْلَةٌ مِّنَ الرِّوَايَاتِ وَالْاَخْبَارِ اِنْتَخَبْتُهَا مِنَ الصِّحَاحِ وَالسُّنَنِ وَالْمَعَاجِمِ وَالْمَسَانِيْدِ وَعَزَوْتُهَا اِلٰى مَنْ اَخْرَجَهَا وَاَعْرَضْتُ عَنِ الْاِطَالَةِ بِذِكْرِ الْاَسَانِيْدِ وَبَيَنْتُ اَحْوَالَ الرِّوَايَاتِ الَّتِيْ لَيْسَتْ فِي الصَّحِيْحَيْنِ بِالتَّرْيِيْحِ الْحَسَنِ وَسَمَّيْتُ هٰذَا الْكِتَابَ مُسْتَخِيْرًا بِاللّٰهِ تَعَالٰى بِاٰثَارِ السُّنَنِ اَسْاَلُهُ اَنْ يَّجْعَلَهُ خَالِصًا لِوَجْهِهِ الْكَرِيْمِ وَوَسِيْلَةً اِلٰى لِقَائِهٖ فِيْ جَنَّاتِ النَّعِيْمِ.

ترجمه : مونږ ستا حمد او ثنا وایو اي هغه ذاته چې ګرځولي يې دي سينې زمونږ طاقچې دپاره د روښانه چراغونو او روښانه کړي يې دي زړونه ځمونږ په رڼا د معرفت د معنی ګانو د احاديثو . او مونږ درود درحمت او سلام ليږو په محبوب ستا غوره کړي شوي بهتر کړي شوي او په رسول ستا هسې رسول چې ليږلي شوي دي د صحيحو اخبارو او حديثونو سره (او درود او سلام دي وي) د ده په نيک آل او د ده په لويو اصحابو او د دوي په هغه تابعدارانو چې غوره کړي يې دي لاري د هدايت او مضبوط يې نيولي دي دپاره د استدلال حديثونه د سيد الابرار.

دحمد او صلوة نه پس د نبوي ﷺ دحديثو خادم محمد بن علي نيموي وايي بيشکه دا د احاديثو او د آثارو يوه ټوټه او ټوکړه ده او د روايتو او اخبارو يوه جمله او مجموعه ده چې د صحاحو ، سننو ، معاجمو او مسانيدو څخه مي منتخب کړي ده او هغه چاته مي يې نسبت کړي چاچې هغه خارج کړي او د هغه اسانيدو او سندونو د ذکر نه مي اعراض کړي کوم چې د اوږد والي سبب کيږي او د هغه رواياتو احوال چې په دواړو صحيحو کتابونو کې نه وي په بڼه او حسني طريقې سره بيان کړي او دي کتاب ته مي نوم ايښي دي په داسي حال کې چې خير غوښتونکي يم الله تعالی ځيني په آثار السنن سره او د همدغه ذات څخه غواړم چې دغه کتاب خاص د خپلې رضا

Maktaba Tul Ishaat.com

او په نعمتونو د جنتونو کې يې د خپلې لقاء (ملاقات) د پاره وسيله وګرزوي.

تشريح:

قوله: وَعَزَوْتُهَا إِلَىٰ مَنْ أَخْرَجَهَا: امام نيموي رحمه الله په اکثرو ځايونو کې د ماخذ په ځاى په علاماتو اکتفاء کړي ده لکه څنګه چې مصنف په التعليق الحسن کې بيان کړې دى چنانچې د الشيخان نه مراد د شيخينو ځني مراد مسلم او بخاري دي او د ثلاثه وُ ځخه مراد ابوداود نسائي او ترمذي دي او د اربعه ځخه مراد دا درې او ورسره ابن ماجه دي او د خمسه وُ ځيني مراد دا ځلور او ورسره احمد دي او د ستة وُ ځخه مراد هغه ځلور او ورسره شيخين دي. او د الجماعة ځيني مراد صاحبان د شپږو کتابونو دي (امام بخاري، مسلم، ترمذي، ابوداوُد، نسائي وابن ماجه) او امام احمد دي.

چې کله امام نيموي رحمه الله يو حديث ذکر کړي او دهغې نسبت ديو نه زيات محدثينو طرفته ددوي دنومونو تصريح يا القابو سره کوي نو حديث الفاظ ددې نه دمخکيني روايت مطابق وي، دنورو حضراتو الفاظ ددې نه مختلف هم کيدې شي، دغه شان چې کله حديث لره صحيح ګرځوي نو صرف داولني محدث په نزد د حديث حکم بيانول مقصود وي قطع نظر دنورو نه. چې کله الجماعة الستة يا الشيخان وايي نو د حديث الفاظ به دبخاري يا دمسلم مطابق وي او که الدارمي وابن أبي شيبة وآخرون په شان الفاظ ووايي نو د حديث الفاظ به ددوينه ديو وي ليکن دصحت حکم به دټولو يا ديو روايت په بنياد باندې وي، او چې کله داسې يو روايت ته ضعيف اويلې شي نو هغه حديث دهر يو روايت په بنياد به ضعيف منلې شي.

قوله: وَلَيْسَتْ أَحَادِيثُ الرِّوَايَاتِ الَّتِي لَيْسَتْ فِي الصَّحِيحَيْنِ:

صحيحين يعني بخاري او دمسلم روايتونو باندې کلام نه کولو وجه داده چې ددې کتابونو روایاتو لره د علماء امت بالاتفاق قبول کړي دي ځکه چې هغه دصحت په اوچته مرتبه باندې دي لهذا دهغې احوالو ذکر کولو او دهغې په سندونو باندې بحث کولو ضرورت نه وو، او د نورو محدثينو په روايتو کې دصحت او دسقم ددواړو امکان موجود وو او علماء امت ددوي ټولو روایاتو لره صحيح نه دي ګرځولي نو ځکه هلته د کلام کولو ضرورت راغې.

Maktaba Tul Ishaat.com

كِتَابُ الطَّهَارَة

دپاکوالي بيان

دباب مقصد : چونکه ددې کتاب موضوع داحاديثو نه دفقهي مسائلو لره ثابتيدل دي او عام طور باندې دفقهي بابونو ابتداء دکتاب الطهارة نه کيږي نو لهذا امام شوق نيموي رحمه الله هم خپل کتاب لره دکتاب الطهارة نه شروع کړ .

اوس سوال دا کيږي چې فقهاء دکتاب الطهارة نه شروع ولې کوي ، نو ددې وجه داده چې انسان پيدائش دعبادت لپاره شوې دی کما هو المعلوم . او په عباداتو او په ارکان اسلام کې له تولو نه اهم مونځ دی او دمونځ لپاره څه شرائط دي چې په هغې کې له تولو نه اقوی شرط هغه طهارة يعني پاکوالي دی ، او دا ظاهره ده چې شرط هميشه لپاره مقدم وي په مشروط باندې ، نو ځکه فقهاء حضرات او اصحاب سنن خپل کتابونو کې کتاب الطهارة له تولو نه مخکې راوړي .

دکتاب او دباب اصطلاح

بعضې علماؤ فرمايلي دي که دمسائلو اعتبار بجنسها اوکړې شي يعني جنس مسائل پيانول نو دې لره په کتاب سره تعبير کولې شي ، ځکه چې دکتاب هم لغوي معنی ده جمع ، او که دمسائلو اعتبار بنوعها اوکړې شي يعني صرف ديو نوعې مسائل ذکر کول مقصود وي نو دې لره په باب سره تعبيرولې شي ، ځکه چې دباب لغوي معنی هم په يو لغت کې دنوع راځي ، او که بعضې جزئيات لره دماقبل نه ممتاز کول او بيانول مقصود وي نو دې لره په فصل سره تعبيرولې شي . ځکه چې هغه دماقبل نه مفصول او جدا دی .

دطهارت معنی او اقسام

طهارة مصدر دی دطهر يطهر دنصر کرم نه ، ددې لغوي معنی ده النظافة والتنزه من الاقذار والادناس ، يعني دپليتيو او خيرو نه پاکوالي ته ويلې شي ، او شرعا طهارة وايي ازاله دحدث يا دخبث لپاره دقاعده شرعيه مطابق احد المطهرين (اوبه يا خاوره) لره استعمالول .

نو دطهارة دوه قسمونه شو :۱- ازاله حدث (نجاست حکمي) .۲- ازاله خبث (نجاست حقيقي) . يا داول دوه قسمونه دي :۱- عن الحدث الاصغر کوم ته چې وضو (اودس) ويلې شي .۲- عن الحدث الاکبر کوم ته چې غسل ويلې شي . دلته مطلق او جنس طهارة مراد دی ځکه چې د مصنف

Maktaba Tul Ishaat.com

مقصود دواړو لره ذکر کول دي .(۱)
مصنف دکتاب الطهارة لاندې دري څلويښت (۴۳) بابونه ذکر کړي دي .

﴿بَابُ الْمِيَاهِ﴾
داوبو احکام

میاه: د ماء جمع ده ، لغوي معنی ده اوبه ، په ابتداء کې به داوبو احکام بیانیږي ، دپلیتو او دپاکو اوبو مسائل یعني اوبه کله پلیتیږي او کله نه ؟ څومره پلیتیږي او څومره نه ؟.

۱.....عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَبُوْلَنَّ اَحَدُكُمْ فِي الْمَاءِ الدَّائِمِ الَّذِي لَا يَجْرِي ثُمَّ يَغْتَسِلُ فِيْهِ. رَوَاهُ الْجَمَاعَةُ .(۲)

ترجمه :حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی، فرمایي : چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې هیڅکله دي یو د ستاسونه دي په هغه ولاړو اوبو کې چې روانې نه وي تش اودس ماتې دي نه کوي چې بیا پکې غسل کوي دا حدیث د محدثینو یو جماعت نقل کړي دي .

دکلماتو تحقیق او دحدیث مفهوم:

ماء دائم نه مراد داسې اوبه دي چې کمې وي او عادتا نه منقطع کیږي، مثلا یو لوي تالاو یا چینه چې دهغې نه چې څومره اوبه اویستلې شي نو دهغې په اندازه ورته نورې اوبه راشي او دهغې تللو اوبو ځای ډک کړي . او دماء جاري په معنې مراد کې دوه قوله دي : ۱) داسې روانې او تیزې اوبه چې یو ډکې دوه ډکو لره وړلې شي .۲) داسې ډیرې اوبه چې دهغې یو طرفته په پلیتې پریوتو سره دویم طرف متاثر نه شي.

په حدیث کې دالماء الذي لایجري نه مراد ماء راکد (ولاړې اوبه) دي کومې چې دباران نه پس په صحراګانو ، لوي لوي تالابونو کې جمع کیږي چې دهغې دبهیدلو او دوتلو هیڅ صورت نه کیږي چې آخر هغه دلمر په تپ (ګرموالي) او په زمکه کې دجذب کیدو دوجې نه وچې شي . په حدیث کې له دې خبرې نه منع کړې شوې ده چې اول په اوبو کې متیازې او کړي او بیا په دې کې غسل او کړي ، منفردا دهریو ممانعت نه دی نو لهذا دماء دائم نه په غسل کولو کې هیڅ حرج نشته دی.

---

(۱) الدر المنضود :۷۷،۷۶/۱.

(۲) بخاري: کتاب الطهارة ج۱ــ ۳۷ باب البول في الماء الدائم ، مسلم کتاب الطهارة ج ۱ ــ ۱۳۸ باب النهي في الماء الراکد ، ترمذي ابواب الطهارات ج ۱ــ ۲۱ باب کراهية البول في الماء الراکد .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲..... وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُبَالَ فِي الْمَاءِ الرَّاكِدِ. (رواه مسلم). (۱)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه بیان فرمایی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ولاړو اوبو کې د تشو منیازو کولو نه منع فرمانلي ده . دا حدیث مسلم نقل کړي دلکماتو تحقیق او د حدیث مفهوم

په دې دویم حدیث کې هم دماء راکد ذکر راغلې دی په دې حدیث کې مطلقا په ولاړو اوبو کې د منیازو کولو نه منع کړې شوې ده خکه چې عموما خلک ددې اوبو نه غسل او اودس کوي د منیازو کولو نه وجې نه به دا اوبه پلیتې شي

۳ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ : إِذَا شَرِبَ الْكَلْبُ فِي إِنَاءِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْسِلْهُ سَبْعًا. رَوَاهُ الشَّيْخَانِ. (۲)

ترجمه : د ابي هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې کله سپي په لوخي د یو ستاسو کې اوبه اوبکي نو اوه(۷) خله دي یې ووینځي . دا حدیث شیخین نقل دي.

۴..... وَعَنْهُ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّا نَرْكَبُ الْبَحْرَ وَنَحْمِلُ مَعَنَا الْقَلِيلَ مِنَ الْمَاءِ فَإِنْ تَوَضَّأْنَا بِهِ عَطِشْنَا أَفَنَتَوَضَّأُ مِنْ مَاءِ الْبَحْرِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هُوَ الطَّهُوْرُ مَاءُهُ وَالْحِلُّ مَيْتَتُهُ. (رَوَاهُ مَالِكٌ وَّالْأَرْبَعَةُ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ) (۳)

ترجمه : د حضرت ابي هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی هغه فرمایي چې یوسړي درسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضور کې حاضر شو نو وې ویل اې د الله رسوله بې شکه مونږ په کشتۍ کې سفر کوو او د خان سره لږې اوبه اوږو که په هغه اوبو اودس کوو تږي کیږو آیا د دریاب په اوبو اودس کولې شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل : د دي اوبه پاکې دي او د دي مرداره حلاله ده . دا حدیث امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او نورو محدثینو نقل کړي دي او د دي سند صحیح دي .

---

(۱) مسلم کتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۳۸ باب النهي عن البول في الماء الراكد .

(۲) بخاري کتاب الطهارة ج ۱ ص ۲۹ باب اذ شرب الكلب في الاناء ، مسلم کتاب الطهارة ج۱ ص ۱۳۷ باب حكم ولوغ الكلب .

(۳) مؤطا امام مالک کتاب الطهارة ص ۱۵ باب الطهور للوضوء،ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ ص ۱۱ باب الوضوء بماء البحر ، نسائي کتاب المياه ج ۱ ص ۶۳ باب الوضوء بماء البحر .

Maktaba Tul Ishaat.com

دکلماتو تحقیق او دحدیث مفهوم :

"جاء رجل" دیو قول مطابق ددې کس تعلق د قبیله بني مدلج سره وو . او دده نوم حمید بن صخره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو یا عبدالله وو .

قوله : تحمل معناً القليل من الماء : په اصل کې سائل ته د دریاب اوبو متعلق داودس د جواز او د عدم جواز وهم وو . ځکه چې په دریاب کې دننه بې شمیره ځناور پیدا کیږي او بیا په همغې کې مړه کیږي د دې نه علاوه دعامو اوبو په ذائقه کې او د دریابي اوبو په ذائقه کې هم ډیر لوی فرق دی . عموماً په سفر کې د مسافرو سره ضرورت په اندازه اوبه او داسې نور سامان وي نو سائل داپوښتنه کړل او غوښتل چې که مونږ سره د سفر په وخت کې دځکلو اوبو نه علاوه داودس د پاره اوبه نه وي نو آیا مونږ د دریاب داوبو نه اودس کولې شو او که نه ؟ نو په جواب کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سائل اصل مسئله حل نه کړه چې نعم یې ویلې وي بلکې یو څو فائدو باندې مشتمل جواب یې ورکړو ، مثلاً :

۱- د دریاب اوبه مطلقا پاکې دي د ډبنه اودس کول په هر حال کې صحیح دی برابره خبره ده که یو سړي سره موجودي اوبو په استعمال سره دده د تړې کیدو یره وي او یا نه .

۲- الحل میتة په اضافه کولو سره یې د سائل د نورو سوالونو منشا جوړیدو شبهې یې ختمه کړه یعنې په دریاب کې مړکیدونکې ځناوریاک دی د دې دوجې نه داوبو په پاکوالي کې شبهه نه دي کول پکار.

۳- که الحل د حلال په معنی کې دی نو ګویا په دریابي سفر کې غذاء مسئله یې هم حل او فرمایله چې میتة البحر حلال دی خوړلې یې شي.

۵..... وَعَنْ عَبْدِاللهِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَاءِ وَمَا يَنُوْبُهُ مِنَ الدَّوَابِّ وَالسِّبَاعِ فَقَالَ إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ رَوَاهُ الْخَمْسَةُ وَأَخْرُوْنَ وَهُوَ حَدِيْثٌ مَعْلُوْلٌ. (۱)

ترجمه :حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلې دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د اوبو او اوبو ته د بار بار راتلونکو ځناورو او خیرونکو ځناورو په باره کې پوښتنه وکړه نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل کله چې اوبه دوه قلې وي پلیتې یې نه ده اخیستې یعنې نه پلیتیږي . د دې حدیث روایت پنځه

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۹ باب ما ینجس الماء ، ترمذي ابواب الطهارات ج ۱ صـ ۲۱ باب ماجاء ان الماء لا ینجسه شیء .

Maktaba Tul Ishaat.com

کـو اوداسي نورو کړي دي او دا حديث معلول دي .

٦..... وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِذَا بَلَغَ الْمَاءُ أَرْبَعِينَ قُلَّةً لَمْ يَنْجُسْ رواه الدارقطني و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه نه روايت دي هغه ويلي دي چې کله اوبه ځلويښتو قلو نه ورسيږي نه پلټيږي . روايت يې دار قطني کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

٧. وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ امْرَأَةً مِنْ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اغْتَسَلَتْ مِنْ جَنَابَةٍ فَتَوَضَّأَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِفَضْلِهَا فَذَكَرَتْ لَهُ فَقَالَ إِنَّ الْمَاءَ لَا يُنَجِّسُهُ فَهِيَ رواه احمد وفي اسناده لين .(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه روايت دي چې د نبي کريم صلى الله عليه وسلم د بيبيانو نه يوې بي بي د جنابت نه غسل وکړ بيا نبي عليه السلام د هغې نه په پاتې شوي اوبو باندې اودس وکړو ام المؤمنين دا خبره نبي عليه السلام ته وکړه نو هغه وفرمائل اوبه په هيڅ شي نه پلټيږي . او د دې حديث روايت احمد کړي او د دې په اسناد کې لين دي يعني کمزوري دی .

٨..... وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَنَتَوَضَّأُ مِنْ بِئْرِ بُضَاعَةَ وَهِيَ بِئْرٌ يُطْرَحُ فِيهَا لُحُومُ الْكِلَابِ وَالْحِيَضِ وَالنَّتَنِ فَقَالَ الْمَاءُ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ فَهِيَ رَوَاهُ الثَّلَاثَةُ وَآخَرُونَ وَصَحَّحَهُ أَحْمَدُ وَحَسَّنَهُ التِّرْمِذِيُّ وَضَعَّفَهُ ابْنُ الْقَطَّانِ .(۳)

ترجمه : د حضرت ابي سعيد خدري رضي الله عنه نه روايت دي هغه ويلي دي چې د نبي عليه الصلاة والسلام نه پوښتنه وکړي شوه چې اي دالله رسوله ! ايا مونږ دبير بضاعة نه اودس کولې شو حال دا چې دا يو داسي کوهي دي چې په هغې کې د سپو غوښې، د حيض په وينولرلي جامې کېږي اونور بدبويه شيان غورځولي شي نورسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائل اوبه پاکې دي هيڅ شي يې نشي پليتولي . دا حديث دري کـو اوداسي نورو نقل کړي دي.امام احمد رحمه الله صحيح اوامام ترمذي حسن اوابن قطان ضعيف ګرځولي دي.

---

(۱) سنن دار قطني كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۲۷ باب حكم الماء اذا لاقته النجاسة .

(۲) مسند احمد ج۱ صـ ۲۰۸،۳۰۸،۲۸۴،۳۳۵، نسائي كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۴۲.

(۳) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۹ باب ماجاء في بئر بضاعة ، ترمذي ابواب الطهارة ج ۱ صـ ۲۱ باب ماجاءان الماء لا ينجسه شيء.

Maktaba Tul Ishaat.com

دکلماتو تحقیق:

يُضَاعه: د بأر په پیش او زیر سره دواړه جائز دي او په پیش سره (پیر مشهور دي دا د یو مشهور کوهي نوم دي چې په مدینه منوره کې د بني ساعده د قبیلې د بضاعه په محله کې واقع دي خرنګه چې په دغه محله کې واقع دي نو د همدې په نوم یاد شوي دي چې تر اوسه پورې دغه کوهي موجود دي چې د دې په اوبو خمکه اوبه کیږي او سبزیاني او ترکاریاني پرې کرل کیږي.

۹..... وَعَن عَطَاءٍ إِنَّ حَبَشِيًا وَقَعَ فِي زَمْزَمَ فَمَاتَ فَأَمَرَ ابنُ الزُّبَيرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَنُزِحَ مَاؤُهَا فَجَعَلَ المَاءُ لَا يَنقَطِعُ فَنَظَرَ فَإِذَا عَينٌ تَجرِي مِنْ قِبَلِ الحَجَرِ الأَسوَدِ فَقَالَ ابنُ الزُّبَيرِ حَسبُكُم رَوَاه الطَّحَاوِي وابنُ أَبِي شَيبَةَ وإِسنَادُه صَحِيح.(۱)

ترجمه: د حضرت عطاء رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دي چې یوحبشي د زمزم په کوهي کې وغورځیدنومړشونو ابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امر وکړو نو وویستل شوي اوبه د هغې کوهي نه خو اوبه نه ختمیدي ناڅاپه یې وکتل چې د حجراسودله خوانه یوه چینه راروانه وه نوابن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمائل چې بس دي تاسولره نور د اوبو ویستلو ضرورت نشته. دا حدیث امام طحاوي رَحِمَهُ اللهُ او ابن ابي شیبه روایت کړي. د دې سند صحیح دي.

۱۰..... وَعَن مُحَمَّدُ بنُ سِيرِينَ أَنَّ زَلَجِيا وَقَعَ فِي زَمْزَمَ يعني فَمَاتَ فَأَمَرَ بِه ابنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَأُخرِجَ وَ أَمَرَ بِها أَن تُنزَحَ قَالَ فَغَلَبَتهُم عَينٌ جَاءَ تهم مِنَ الرُّكنِ فَأَمَرَ بِها فَدُسَّت بِالقَبَاطِي وَالمَقَارِ حَتَّى لَزَحُوهَا فَلَمَّا لَزَحُوهَا انقَجَرَت عَلَيهِم رواه الدارقطني و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: د محمد بن سیرین رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دي چې یو حبشي په زمزم کې پریوت یعني مړ شو نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حبشي د ویستلو امر وکړو نو هغه وویستلي شو او د تولوا وبو د ویستلو امر یې وکړو نو د کوهي چینه په دوي غالبه شوه کومه چې دوي ته د حجر اسود لطرفه راغلي وه نو د هغې چینې د بندولو امر یې وکړو نو بنده کړي شوه په تاري او ریښمي کپړو باندي تردي چې تولي اوبه یې تري وویستلي نو په یو ځل اوبه په دوي باندي راخلاصي شوي، دار قطني د دي روایت کړي او د دې سند صحیح دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۹ باب الماء يقع فيه النجاسة، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الطهارات ج۱ صـ۱۴۲ باب في الفارة و الدجاجة واشباهها تقع في البئر.

(۲) سنن دار قطني كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۳۳ باب البئر اذا وقع فيها حيوانٌ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۱۱..... وَعَنْ مَيْسَرَةَ أَنَّ عَلِيًا رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ فِي بِئْرٍ وَقَعَتْ فِيهَا فَأْرَةٌ فَمَاتَتْ قَالَ يُنْزَحُ مَاؤُهَا رواه الطحاوي واسناده حسن .(۱)

ترجمه :د میسره رَحِمَهُ اللَّهُ نه روایت دي چې حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمانلي دي د هغه کوهي په باره کې چې په هغې کې مړه پریوتي او مړه شوي وه د هغې تولي اوبه به ویستلې شي . طحاوي رَحِمَهُ اللَّهُ د دي حدیث روایت کړي او دا حدیث حسن دي

قَالَ النِّيمَوِي وَفِي الْبَابِ آثَارٌ عن التَّابِعِينَ

ترجمه :نیموي ویلي چې په دي باب کې د تابعینو نه هم اثار منقول دي

ددې باب فقهي مسائل او دمذاهبو اختلاف

ددې باب لاندې یو څو مسائل اختلافي دي ، په ترتیب سره به دهر یو نه بحث کولې شي

اولنې مسئله : په اوبو کې دپلیتې لویدلو حکم ! په دې باب کې څلور مشهور مذاهب دادي

۱- داود ظاهري او د موجوده دور د بعض غیر مقلدینو مسلک دا دي چې اوبه لږې وي او که ډیرې وي چې پلیتي پکې وغورځیږي نو تر هغې نه پلیتیږي ترڅو چې دپلیتې اجزاء داوبو په اجزاء باندې غالب رانشي او تر څوپورې یې چې بهیدل اونرمیدل نه وي ختم شوي اوددې پلیتې د غورځیدو په وجه یې درې واړه اوصاف متغیرشوي هم وي او به د پاکوالي نه ،نه وخي نو له دې دوجې نه داود ظاهري په نزد که په دې غټ بول اوکړي شي یا غیر انسان پکې متیازي اوکړي یا انسان دي اوبو ته نزدې متیازي اوکړي چې هغه اوبهیږي او اوبو ته لازې شي نو هیڅ حرج نشته اوبه پخپل ځاي پاکې دي امام نووي فرمایي چې دا د جمود علی الظاهر بدترین مثال دی .

جمهور اهل سنت په دې خبره باندې متفق دي چې ماء کثیر دپلیتې په غورځیدو سره نه پلیتیږي برابره ده که هغه پلیتي لږه وي او که ډیره ، او ماء قلیل دپلیتې غورځیدو سره پلیتیږي که هغه پلیتي لږه وي او که ډیره ، البته دلږې او د زیاتې په تعیین کې جمهورو په خپل مابین کې اختلاف دی ، چنانچې :

۲- دمالکیو په نزد اوبه تر هغه وخت پورې نه پلیتیږي ترڅو چې داوصاف ثلاثه (رنګ ، بوي، خوند) نه یو وصف بدل شوي نه وي ګویا چې دا حضرات ماء متغیر لره قلیل او غیر متغیر لره کثیر ګرځوي .

---

(۱) معاني الآثار كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۹ باب الماء يقع فيه النجاسة

Maktaba Tul Ishaat.com

۳- دشافعيو او حنابلو په نزد کومې اوبه چې دقلتينو برابر يا ددېنه زياتې وي هغه ډيرې اوبه دي او کومې چې دقلتين نه کمې وي هغه ماء قليل دي.

۴- داحنافو په نزد کومې اوبه چې ماء جاري وي يا دماء جاري په حکم کې وي هغه ماء کثير دي او چې کومې داسې نه وي هغه ماء قليل دي ماء جاري خو واضحې دي يعنې کومې چې يو ډک لره يوسي. البته هغه ځومره اوبه دي کومې چې دماء جاري په حکم کې اچولې شي يعنې هغې ته ماء جاري ويلې شي نو دهغې دمعيار په باره کې دري قوله دي:

۱- **اعتبار تحريک**: يعنې چې يو تالاب دومره لوی وي چې که ددې يو طرف اوبو ته حرکت ورکړې شي چې دويم طرف يې فورا متحرک نشي يعنې دبل طرف په خوزولو سره بل طرف اونه خوزي. تحريک بالوضو وبالغسل دواړه ممکن دي.

۲- **اعتبار مساحت**: يعنې په دې کې دپيمائش اعتبار دی چې کوم تالاب عشر في عشر يعنې لس په لس وي هغه ماء کثير دي.

۳- **اعتبار ظن مبتلی به**: يعنې که مبتلی به (ضرورت مند کس) دغالب ګمان مطابق داوبو دبل طرف دپليتو الي اثر بل طرفته نشي رسيدلې نو هغه ماء کثير دي.

دلائل

۱- دظاهريو استدلال دباب حديث نمبر ۷ او حديث نمبر ۸ نه دی په اولنې حديث کې دا فرمايلې شوي دي چې **إِنَّ الْمَاءَ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ** او بل حديث يعنې بئر بضاعة واله حديث مطابق په کوهي کې دډيرې پليتې غورځيدو باوجود دډيرو اوبو ته پاکې ويلې شوي دي.

۲- داامام مالک رحمه الله استدلال هم دبئر بضاعه واله حديث دی ليکن هغه دارقطني روايت لره مدار ګرځوي کوم چې **اَلْمَاءُ طَهُورٌ لَا يُنَجِّسُهُ شَيْءٌ** نه پس دالا ما غلب على ريحه أو طعمه اضافه ده.

۳- امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله استدلال دپنځم (۵) نمبر حديث نه دی دکوم الفاظ چې دادي: **إِذَا كَانَ الْمَاءُ قُلَّتَيْنِ لَمْ يَحْمِلِ الْخَبَثَ** په دې کې صراحة دقلتينو اوبو کې دنجاست غير مؤثر کيدل خودلې شوي دي.

۴- داحنافو استدلال دڅو احاديثو نه دی مثلا:

الف: دباب اولنې حديث او دويم حديث دکوم مطابق چې مطلق ماء دائم او ماء راکد کې متيازو کولو نه منع کړې شوې ده چې متيازو کولو نه هغه اوبه پليتيږي که ماء دائم قلتين وي يا نه وي.

(ب) دباب دريم نمبر حديث دکوم مطابق چې حضور **صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ** دهغه لوبنې په باره کې کوم کې چې سپې خوله وهلې وي داوه ځله وينځلو حکم فرمايلې دی او دقلتينو تخصيص يې نه دی کړې.

Maktaba Tul Ishaat.com

(ج) دبخاري او دمسلم حديث : اذا استيقظ أحدكم من نومه فلا يغمسن يده في الاناء.... الحديث کچرته په لږو اوبو کې دپليټ غورځيدل دناپاکۍ سبب نه وي نو صرف دنجاست لګيدلو وهم سره به په لوښي کې دلاس لګيدلو نه ممانعت نه کيدو . غرض په دې حديثو کې دتغير أحد الأوصافو ذکر دی نه دقلتينو تخصيص ، دا هم معلومه شوه چې هر څنګه نجاست غورځيدل اوبو لره پليتوي .

(د) دباب حديث نمبر نهه او لسم دکوم مطابق دوو صحابو يعنې حضرت عبدالله بن زبير رضي الله عنه او حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه دهغه کوهي په باره کې چې يو انسان ورته پريوتي وو دټولو اوبو ويستلو حکم يې وفرمايلو ،حالانکه کوهي خو يقينا دقلتينو نه لوي او جور به وي ، همدرانګې تغير أحد الاوصاف ته هم ونه کتلې شو .دغه شان دباب حديث نمبر ۱۱ دکوم مطابق چې حضرت علي رضي الله عنه په کوهي کې دمړي دغورځيدو نه پس دمرکيدو دوجې نه دټولو اوبو ويستلو حکم ورکړاو د مذکوره قيوداتو هيڅ اعتبار يې اونکړو معلومه شوه چې په قليل او کثير کيدو کې دمبتلى به رائ باندې مدار دی.

دفريق مخالف ددلائلو جواب

۱- دظواهرو داولنې حديث جواب اولا دادې چې دې حديث لره ضعيف ګرځولې شوې دی لهذا دباب دصحيح احاديث سره ددې تعارض نشي کيدې دويمه داچې په دې حديث کې دالماء مصداق فضل ماء الجنابة دی يعنې دغسل جنابت نه پاتې شوې اوبه ترڅو پورې چې پليتې په کې اونه غورځې نه پليتيږې.

۲- دامام مالک رحمه الله او داهل ظواهرو دبئر بضاعه والا دحديث نه داستدلال څو جوابات ورکړې شوې دي :

الف- دا حديث ضعيف دی يحي بن سعيد القطان او داسې نورو ناقدينو دحديث ددې په سند باندې کلام کړې دی په وجه دیو راوي عبيدالله بن عبدالله .

ب- ددې په سند کې اضطراب دی ځکه چې دراوي نوم او نسب مختلف بيانولې شي .

۱....عن عبيدالله بن عبدالله بن رافع .۲.... عن عبيدالله بن عبدالرحمن بن رافع . ۳... عن عبدالله بن عبيدالله بن رافع .

ج- الماء طهور کې دالماء نه مراد خاص دبئر بضاعه اوبه دي او دبئر بضاعه اوبه دماء جاري په حکم کې وي . ځکه چې دډنبه به باغات سيراب کيدل ورنه داڅنګه ممکنه ده چې په يو کوهي کې دومره پليتي غورزيږي او بيا دي هم ددې اوبه جاري نه وي بلکې په يو ځاى کې اودريدلې وي بيا

Maktaba Tul Ishaat.com

هم ددي وصف متغير نه وي او ددي دپاکيدو حکم دي اولګولي شي ؟ لهذا دمالکيو او دظواهرو ددي حديث نه استدلال صحيح نه دی .

د- که بالفرض دالماء نه عام اوبه مراد شي نو بيا به ددي مطلب داشي چې اوبه هميشه دپاره نه ناپاک کيږي بلکې چې کله دې لره دپليتي دغورزيدلو نه پاکي کړي نو پاکي به شي .

هـ- په اصل کې دبئربضاعه والا کوهي په يو جَوَر ځاي کې وو او په سر يې يو ديوال هم نه وو تاو کړې شوې نو سيلاب او دتيز باران دوجې نه به هر قسمه پليتياني دمختلفو ځايونو نه راتلې او په دې کې به غورزيدلې . ليکن چې وروسته دکوهي صفائي اوکړلې شوه،او دحفاظت انتظام يې هم اوشو نو اوس صرف دپليتي دغورزيدو احتمال پاتې شو چې په دې باندې خلکو سوال اوکړو او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته تسلي بخش جواب ورکړو چې ترڅو دنجاست غورزيدو يقين نه وي راغلې صرف وهم او احتمال سره اوبه نه پليتيږي او که داسې خبره نه وي نو عام کافر هم اوبو کې ګنډ نه غورزوي بلکې ددې دحفاظت بندوبست کوي نو مسلمان به څنګه په يو پاکه معاشره کې په کوهي کې دګنډ غورزولو او دګنډ نه دې کيدو تصور اوکړي .

۳- دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ ددليل جواب دادي چې :

۱... حديث قلتين لره علي بن المديني رَحِمَهُ اللهُ ، اسماعيل القاضي رَحِمَهُ اللهُ ، ابن تيميه ، ابن عبدالبر او اکثرو محدثينو ضعيف ګرځولې دی .

۲..... دحديث په متن ، معنی او دمصداق په تعين کې هم سخت اضطراب دی ، تفصيل يې دادی :

(الف) سنداً اضطراب دا چې راوي وليد بن کثير کله روايت کوي دعن محمد بن جعفر بن زبير ، عن محمد بن عباد بن جعفر . بيا کله دعبيدالله بن عبدالله او کله عبدالله بن عبدالله وايي او په يو روايت کې دابن عمر نه موقوفا مروي دی او بل روايت کې مرفوعا .

(ب) متنا اضطراب دا چې دباب حديث نمبر ۵ کې قلتين يعني ددوو قلو ذکر دی او په حديث نمبر ۶ کې کوم لره چې دارقطني صحيح ويلې دی لفظ اربعين قلة يعني دڅلوينتو قلو ذکر دی ، همدارنګې ددارقطني وابن عدي په يو روايت کې قلتين او ثلاثا په تشکيک سره راغلې دی .

(ج) معنا اضطراب دادې چې دقلة په لغت کې څو معناګاني راځي مثلا : دغر څوکه، دانسان قد، او منګې .

(د) په مصداق کې اضطراب دادې چې که دقله مراد په حديث کې منګې دی لکه څنګه چې شوافع ددې تاويل کوي نو بيا داتعين کول به مشکل وي چې منګې به څومره غټ پکار وي .

نو بهر حال ددې اضطراباتو دوجې نه هم بعضي حضراتو حديث قلتين لره ضعيف ګرځولې دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳... حضرت علامه محمد انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې ددې حدیث نه هم مقصود دفع دوسوسي ده چې ترڅو پورې په خپلو سترګو باندې دې اوبو ته دځناورو راتلل نه وي کتلي هسې دې شبه نه کوي تردې چې یقین یې پیدا شي.

دویمه مسئله : کچرته یو سپی، په یو لوښي کې خوله اووهي نو ددې څه حکم دی ؟؛

نو ددې جواب به په راروان دریم باب باب سؤر الکلب، په ضمن کې راشي.

دریمه مسئله : دځلورم حدیث لاندې یو اهمه خبره داده چې دد ریاب کوم کوم یو ځناور حلال دی او کوم کوم یو حرام دی ؟ ددې په باره کې یو څو مذاهب دي :

۱- دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد سمک طافي (چې په خپل مرګ مړ شي او داوبو دپاسه راتلونکې ماهي) نه علاوه دماهیانو ټول قسمونه حلال دي او دماهي نه علاوه سمندر هر ځناور حرام دی .

۲- دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد دخنزیر نه علاوه هر سمندري ځناور حلال دی .

۳- دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دلته دراجع قول مطابق دپنځه شیانو نه علاوه باقي ټول حلال دي یعني مګرمچ، چینده خه، مار، چینجې، او شمشتئ.

۴- امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد ددري شیانونه علاوه باقي ټول حلال دي یعني مګرمچ ، شمشتئ . البته دهغه په نزد دماهي نه علاوه دهر ځناور ذبح کول ضروري دي .

دائمه ثلاثو دلائل :

۱- دآیت کریمه اُحِلَّ لَكُمْ صَيْدُ الْبَحْرِ په دې آیت کې صید عام دی لهذا هر یو ځناور حلال .

۲- په حدیث کې الحل میتة فرمایلې شوي کوم چې هر یو دمیتة البحر ځناور ته شامل دي .

داحنافو دلائل :

۱- آیت قرآني : وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ :مطابق خبائث یعني هغه شیانه کوم نه چې فطري طور باندې انساني طبیعت دهغې نه کرکه کوي حرام دي او دماهي نه علاوه سمندري ځناور نه کرکه ظاهریږي.

۲- آیت قرآني : حُرِّمَتْ عَلَيْكُمُ الْمَيْتَةُ: مطابق هر میتة یعني مرداره حرام ده بغیر دهغه مرداري نه دکومې چې تخصیص اوکړي شي، اوس حدیث (أحلت لكم ميتتان ودمان . فأما الميتتان فالحوت والجراد وأما الدمان فالكبد والطحال) (۱) کې ددوو مردارد و یعني دماهي او دمولخ

---

(۱) ابوداؤد ، ابن ماجه ، دار قطني ، بیهقي ، وغیره عن ابن عمر

Maktaba Tul Ishaat.com

تخصیص شوي دی لیکن ددي دوو نه علاوه دباقي ځناورو بیان نه کړي شو لهذا هغه دخپل اصل مطابق حرام دي.(۱)

۳- اهمه خبره داده چې دحضور ﷺ په پوره ژوند کې دحضور ﷺ نه او دحضور ﷺ نه پس دحضور ﷺ صحابه کرامو نه دماهي نه علاوه دسمندر نور ځناورو خوړل ثابت نه دي نو کم ازکم دبیان جواز لپاره خو به یې خوړلې وه واذلیس فلیس.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ ددلائل جواب:

۱- په آیت کې لفظ صید مصدر یعني اصطیاد (ښکار کول) په معنی کې دی نه اسم مفعول مصید (ښکار کړي شوي) په معنی کې ځکه چې داصطیاد معنی حقیقي اومصید معنی مجازي ده همدارنګې په آیت کې محرم لره په حالت داحرام سمندر کې دخکار کولو اجازت ورکول مقصود دي نه دښکار خوړلو حلالیدل.

۲- په حدیث الباب کې په **میتة** کې اضافت الی البحر ددریاب تولو ځناورو لپاره نه دي بلکې مراد هغه مخصوص میتة البحر دي دکوم حلت چې په دویم نص کې بیان شو لکه څنګه چې دحنافو د دلائلو په ضمن کې بیان شو، پخپله ائمه ثلاثه خنزیر، مګر مچ وغیره استثناء کوي معلومه شوه چې حدیث بالاتفاق په خپل عموم باندې نه دی.

أبواب النجاسات

دپلیتیوڼو بیان

باب سؤر الهر

دپیشو پس خورده او جوټه

په دې باب کې پوره پنځه حدیثونه دي.

(۱۲) عَنْ كَبْشَةَ بِنْتِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَتْ عِنْدَ ابْنِ أَبِي قَتَادَةَ أَنَّ أَبَا قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دَخَلَ عَلَيْهَا قَالَتْ فَسَكَبْتُ لَهُ وَضُوءً قَالَتْ فَجَاءَتْ هِرَّةٌ تَشْرَبُ فَأَصْغَى لَهَا الْإِنَاءَ حَتَّى شَرِبَتْ قَالَتْ كَبْشَةُ فَرَآنِي أَنْظُرُ إِلَيْهِ فَقَالَ أَتَعْجَبِينَ يَا ابْنَةَ أَخِي فَقُلْتُ نَعَمْ فَقَالَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّهَا

---

(۱) معارف السنن: ۲۵۷/۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّمَا هِيَ مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ أَوِ الطَّوَّافَاتِ رواه الخمسة وصححه الترمذي.(۱)

ترجمه :د حضرت کعب بن مالک رضی الله عنه د لور کښې رضی الله عنها نه روایت دي او دا د ابي قتادة رضی الله عنه د زوي په نکاح کې وه چې ښکه ابي قتاده رضی الله عنه د هغې کره تشریف راوړو کښه رضی الله عنه فرمایي چې ما هغه ته د اوداسه اوبه واچولې هغه فرمایي چې پیشو راغله اوبه یې سکلي ابوقتاده رضی الله عنه لوخي ورکړې کړ تر دي چې پیشو اوبه او سکلي کښه فرمایي چې ابو قتاده رضی الله عنه زه اولیدم چې ما هغه ته کنل نو وي ویل ایا ته تعجب کوي اي وزیري نو ما وویل چې هو ، نو هغه وویل چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي چې بیشکه پیشو نه ده پلیته خکه چې دا پیشو دهغه خناورو نه ده کومه چې دیره گرځیدونکي ده به تاسو رواه الخمسة وصححه الترمذي رحمه الله.

(۱۳)وَعَنْ دَاوُدَ بْنِ صَالِحِ بْنِ دِينَارٍ التَّمَّارِ عَنْ أُمِّهِ أَنَّ مَوْلَاتَهَا أَرْسَلَتْهَا بِهِرِيسَةٍ إِلَى عَائِشَةَ رضی الله عنها فَوَجَدَتْهَا تُصَلِّي فَأَشَارَتْ إِلَيَّ أَنْ ضَعِيهَا فَجَاءَتْ هِرَّةٌ فَأَكَلَتْ مِنْهَا فَلَمَّا انْصَرَفَتْ أَكَلَتْ مِنْ حَيْثُ أَكَلَتِ الْهِرَّةُ فَقَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ إِنَّمَا هِيَ مِنَ الطَّوَّافِينَ عَلَيْكُمْ وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَتَوَضَّأُ بِفَضْلِهَا. رواه ابو داود و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : د داود بن صالح بن دینار التمار د خپلې مور نه روایت کوي چې دا خپلې مولاګې (مالکې) ولیږله چې حضرت عائشې رضی الله عنها ته هریره (یو قسمه حلوه) وسي حضرت عائشه رضی الله عنها یې په مانځه ومونډله هغې ورته اشاره وکړه چې کې یې پرده نو پیشو راغله او د حلوا نه یې څه وخوړه کله چې حضرت عائشه رضی الله عنها د مانځه نه فارغه شوه نو د هغه خاي نه یې حلوا وخوړه د کوم خاي نه چې پیشو خوراک کړي ؤ نو وي ویل چې بي شکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي چې دا پیشو نده پلیته بي شکه دا په تاسو باندې دیره گرځیدونکي ده او په تحقیق ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده چې د پیشو نه په پاتې شوو اوبو یې اودس وکړ دي لره ابوداود روایت کړي او اسناد یې حسن دي.

۱۴...عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلی الله علیه وسلم أَنَّهُ قَالَ يَغْسِلُ الْإِنَاءَ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أُولَاهُنَّ أَوْ أُخْرَاهُنَّ بِالتُّرَابِ وَإِذَا وَلَغَتْ فِيهِ الْهِرَّةُ غَسَلَ مَرَّةً. رواه الترمذي وصححه.

ترجمه : حضرت ابوهریره رضی الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي فرمایي چې حضور صلی الله علیه وسلم او فرمایل : چې لوښي دې اووه ځله اوینځل شي چې کله په دې کې سپي خوله اووهي او

---

(۱) ترمذي ابواب الطهارة ج ۱ صـ ۲۷ باب ماجاء في سؤر الهرة ابوداؤد كتاب الطهارات ج ۱ صـ ۱۰ باب سؤر الهرة.

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۲۷ باب سؤر الهرة

Maktaba Tul Ishaat.com

ولني يا په اخيره يې په خاوره کې ککړ کړئ ، او چې کله په دې لوښي کې پيشو خوله اووهي نو يو خل دې اووينځلي شي (دې لره ترمذي روايت کړي دی او صحيح يې ګرځولې دی).

۱۵..... وعنه عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال طهور الاناء إذا ولغ فيه الهر أن يغسل مرة أو مرتين

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت کوي فرمايي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او فرمايل : چې دلوښي صفا کول چې په دې کې کله پيشو خوله اووهي دادي چې يو يا دوه خل دې دغه لوښي لره اووينځل شي ، طحاوي او نورو دې لره روايت کړي دی او دار قطني دې لره صحيح ګرځولې دی)

۱۶..... وعنه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال : اذا ولغ الهرة في الإناء فأهرقه واغسله مرة . رواه الدار قطني وإسناده صحيح . قال الذيموي : والموقوف أصح في الباب.

ترجمه : ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله پيشو په لوښي کې خوله اووهي نو دغه اوبو لره اوغرځوئ او دغه لوښي لره يو خل اووينځئ ، دې لره دار قطني روايت کړي دی او ددې سند صحيح دی ، ذيموي وايي چې په دې باب کې موقوف روايت صحيح دی

دکلماتو تحقيق:

ولوغ: دباب فتح نه مصدر دی د ولوغ معنی ده په يوهيدونکي شي کې دپيشو يا ديو سپي خوله وهل او ژبې له حرکت ورکول برابره خبره ده که اوبه اوځکي يا اونه ځکي ، او دخوړلو لپاره يې **لحس** لفظ او ديو خالي لوښي څټلو لپاره **لعق** الفاظ مستعمل دي. دلته دولوغ نه مراد مطلق خوله وهل دي په کوم کې چې لحس او لعق دواړه شامل دي

مسئلة الباب : په عام څيرونکي خناورو باندې دقياس تقاضا خو داوه چې سؤر هره دپيشو جوتا، هم دي ناپاکه وي ، ليکن ديو علت په بنا باندې ددې دپليت والي حکم اونه لګولې شو او هغه علت کثرت طواف دی چې په حديث کې بيان شوی دی يعنې پيشو چونکه په کورونو کې په کثرت سره داخليږي نو خکه ددې نه هر قسمه دلوښو حفاظت مشکل دی لهذا (وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ) داصول تر لاندې په دې حکم کې څه تخفيف او اسانتيا اوکړې شوه .

اوس ددې تخفيف په مقدار کې دائمه کرامو اختلاف دي کوم چې په لاندې دول ذکر کيږي :

۱. دائمه ثلاثو او دامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد دپيشو جوتې بغير دڅه کراهت نه پاکه ده .

۲. دطرفينو په نزد سره دکراهت نه پاکه ده او دراجح قول مطابق مکروه ده په کراهت تنزيهي سره يعنې که نوري اوبه پيدا نشي نو ددې استعمال بالکل صحيح دی .

Maktaba Tul Ishaat.com

د اول فریق دلائل:

۱ دباب اولني حديث يعني حديث د ابي قتاده رضي الله عنه چې إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ.

۲... د حضرت عائشه رضي الله عنها حديث چې دهغه ځاي نه يې خوراک او کر کوم ځاي چې پيشو جوته کړي وو او بياد حضور صلى الله عليه وسلم ارشاد إِنَّهَا لَيْسَتْ بِنَجَسٍ او دوي صلى الله عليه وسلم دعمل نه استدلال او کړي شو.

د دويم فريق دلائل:

۱- دباب دريم حديث يعني حديث د ابو هريره رضي الله عنه إِذَا وَلَغَتْ فِيهِ الْهِرَّةُ غُسِلَ مَرَّةً.

۲- دباب څلورم حديث کوم کې چې پيشو دجوتې دپاکولو حکم وکړي شو.

۳- قياس: يعني چې کله دپيشو غونبه پليته ده نو لعاب (لياړي) به يې هم پليتي وي نو لهذا جوتا يې هم پليته پکار ده ځکه چې لعاب خو دغونبې نه جوړيږي ليکن دطواف دعلت دوجې نه ددې په حکم کې تخفيف او کړي شو او حکم دعين نجاست نه کراهت طرفته منتقل شو.

ائمه ثلاثه و امام ابو يوسف رَحِمَهُ اللهُ ته جواب:

۱... کراهت تنزيهي هم دجواز يوه شعبه ده لهذا ستاسو مستدل روايتونه بيانِ جواز باندې محمول دي، دغه شان ظاهراً متعارض حديثونو په مينځ کې به تطبيق او کړي شي.

۲... دحديث ابي قتاده دوه راويان حميده او کبشه باندې کلام کړي شوي دی ليکن حقه خبره داده چې دبعضې قرائنو په رڼا کې کبشه صحابيه معلومېږي او دواړه ثقه دي.

۳. حديث عائشه رضي الله عنها ضعيف دی ځکه چې په دې کې امر داؤد په نوم يو راوي مجهول دی

﴿ بَابُ سُؤْرِ الْكَلْبِ ﴾

باب دی په بيان د پس خورده د سپي کې

۱۷.... وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طُهُورُ إِنَاءِ أَحَدِكُمْ إِذَا وَلَغَ فِيهِ الْكَلْبُ أَنْ يَغْسِلَهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ أُولَاهُنَّ بِالتُّرَابِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه: د حضرت ابي هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: ستاسو يو

---

(۱) كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۳۷ باب حكم ولوغ الكلب.

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه لوښی پاکوالی چې په هغې کې سپی خوله وهلې وي دا دي چې هغه دي اووه خلي ووینځي او اول خل دي يې په خاوره ووینځي د دې حدیث روایت مسلم رحمه الله کړي دي

۱۸... وَ عَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رضی الله عنه قَالَ اَمَرَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صلی الله علیه وسلم بِقَتْلِ الْكِلَابِ ثُمَّ قَالَ مَا بَالُهُمْ وَ بَالَ الْكِلَابِ ثُمَّ رَخَّصَ فِي كَلْبِ الصَّيْدِ وَ كَلْبِ الْغَنَمِ وَ قَالَ اِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْاِنَاءِ فَاغْسِلُوْهُ سَبْعَ مَرَّاتٍ وَاعْفِرُوْهُ الثَّامِنَةَ بِالتُّرَابِ رواه مسلم (۱)

ترجمه : د عبدالله بن مغفل رضی الله عنه نه روایت دي ده ویلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د سپو په وژلو حکم وفرمایلو بیا يې وفرمائل چې د خلکو د سپو سره څه تعلق دي بیا يې د بنکاري او د ګډو ییزو (ساتلو) په باره کې رخصت ورکړ او وې فرمائل چې کله سپي په لوخي کې خوله ووهي نو هغه اوه خلي ووینځئ او په اتم خلي يې په خاورو ککړ کړئ د دې حدیث روایت مسلم کړي دي

۱۹... وَ عَنْ عَطَاءٍ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه اَنَّهُ كَانَ اِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْاِنَاءِ اَهْرَاقَهُ وَ غَسَلَهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ . رواه الدار قطني و آخرون و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت عطاء رحمه الله د حضرت ابي هریره رضی الله عنه نه روایت کړي چې بې شکه ابي هریره رضی الله عنه چې کله به سپي په لوخي کې خوله ووهله نو هغه اوبه به يې توي کړئ او لوخي به يې دري خلي ووینځلو روایت يې دارقطني اونورو کړي دي او اسناد يې صحیح دي .

(۲۰) وَ عَنْهُ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ اِذَا وَلَغَ الْكَلْبُ فِي الْاِنَاءِ فَاهْرِقْهُ ثُمَّ اغْسِلْهُ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ رواه الدار قطني والطحاوي و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : عطاء رضی الله عنه د حضرت ابي هریره رضی الله عنه روایت کړي دي ده ویلي دي کله چې سپي په لوخي کې خوله ووهي نو هغه اوبه توي کړه او بیا يې دري خلي ووینځه . د دې حدیث روایت دار قطني او طحاوي کړي دي او اسناد يې صحیح دي .

۲۱... وَعَنِ ابْنِ اَبِيْ جُرَيْجٍ قَالَ : قَالَ لِيْ عَطَاءٌ يُغْسَلُ الْاِنَاءُ الَّذِيْ وَلَغَ الْكَلْبُ فِيْهِ قَالَ كُلُّ ذٰلِكَ سَبْعًا وَخَمْسًا وَثَلَاثَ مَرَّاتٍ ، رواه عبدالرزاق في مصنفه واسناده صحيح.

---

(۱) مسلم کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۳۷ باب حکم ولوغ الکلب .

(۲) سنن دار قطني کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۶۶ باب ولوغ الکلب في الاناء .

(۳) سنن دار قطني کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۶۶ باب ولوغ الکلب في الاناء شرح معاني الآثار کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۲۳ باب سؤر الکلب

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :ابن جريج رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي فرمايي چې ماته عطاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او فرمايل چې په کوم لوخې کې چې سپې خوله ووهي نو هغه دی وويندلي شي هغه وويل چې دا ټول صحيح دي يعني اوه خل يا پنځه خل اويا دري خله (عبدالرزاق په خپل مصنف کې دې لړه روايت کړې دی او ددې سند صحيح دی

تشريح :

اولنې مسئله :دسپې جوتا پس خورده، پاکه ده يا پليته؟ دې باره کې دوه اقوال دي

۱. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ، بخاري رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهرو په نزد دسپې غوښه پاکه ده لهذا ددې جوتا هم پاکه ده او په کوم لوښي کې چې سپې خوله اووهي هغه لوښي هم صفا دي ، باقي ددې وينځلو حکم تطهير او پاکوالي نه دی بلکې بطور تعبد او علاج دی.

۲. امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد دسپې جوتا ناپاکه ده او د وينځلو حکم يې تطهير لپاره دی. (۱)

دلريق اول دلائل :

۱....دقرآن مجيد آيت ﴿ وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ مُكَلِّبِينَ تُعَلِّمُونَهُنَّ مِمَّا عَلَّمَكُمُ اللهُ فَكُلُوا مِمَّا أَمْسَكْنَ عَلَيْكُمْ﴾ چې په دې کې دښکاري سپې ښکار کړې شوي ځناور خورلو اجازت ورکړې شوی دی او ددې دوينځلو حکم نه دي شوي حالانکه چې سپې کله ښکار پخپل خوله کې نيسي نو په هغه ښکار باندې خامخا ددې سپې دخولې لاړې لګي.

۲... په ابوداود شريف کې دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی: **كانت الكلاب تقبل وتدبر في مسجد النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولم يكونوا يرشون عليه ماء**، نو ددې حديث نه معلوميږي چې جمات ته به دسپې دداخليدو نه پس خلکو ددې جمات دپاکولو کوشش نه کول حالانکه دسپو دا عادت دی چې چرته لاړ شي نو ګندګي تري څاڅي او تيريږي.

دجمهورو دلائل :

۱....دقرآن آيت : ﴿وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَائِثَ﴾ چې ددې مطابق هر خبيث شي حرام دی او سپې اخبث الخبائث دی لهذا هغه هم حرام شو ، نو چې کله دده غوښه حرامه شوه نو لعاب هم حرام شو ځکه چې لعاب خو دغوښې نه جوړيږي.

---

(۱) رحمة الامة ص ۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲ دباب اولني حديث چې ابتدائي الفاظ يې دادي : **طهور إناء أحدكم .....الحديث** ، دلوبني پاکولو حکم کړې شوې دی معلومه شوه چې دسپي دخولې لګولو سره لوبني پليتيږي

فريق اول ته جواب :

۱ دقرآن آيت ﴿وَمَا عَلَّمْتُمْ مِّنَ الْجَوَارِحِ﴾ دآيت مقصد صرف داخودل دي چې دښکاري سپي کړې شوې ښکار بغير ددبح نه هم حلال دی خو بيا هغه ځنګه خوړل دي او نور داسې جزئي احکامات دي چې هغه به دنورو دلائلو نه معلوم شي بيا چې ځنګه به آيت کې دسپي دلاړې لګيدلو نه دپاکوالي حکم مذکور نه دی نو دښکار کړې شوې خاور ددم مسفوح دوينخلو حکم هم مذکور نه دی نو آيا ته به دم مسفوح نه پاک اوائي ؟ هيڅکله هم نه ، لهذا دآيت نه دسپي دلاړو په پاکوالي باندې استدلال صحيح نه دي

۲ دزمکې نه پاکوالي يو طريقه دپليتي لګيدلو نه پس دزمکې وچيدل هم دي لهذا حديث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې ممکنه ده چې په دي باندې عمل کړې شوې وي ، ددې لويه ښنه داده چې په يو روايت کې د سپو په جمات کې دمتيازو کول ذکر هم دی (يعني په ابتداء کې چې کله دجمات نه ګير چاپيره چاردېواري نه وه او دجمات صحن بالکل کولاړ وو ، حالانکه دسپي متيازي بالاتفاق نجسې دي

دويمه مسئله : سپي چې کله په يو لوبني کې خوله اووهي نو دپاکولو يې څه طريقه ده ؟

۱ ائمه ثلاثه بغير داحنافو نه لوبني لره داوه (۷) خله وينخلو قائله دي البته امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په اتم خل په خاوره کې دراخکلو هم قائله دی .

۲ احناف دنورو پليتو په شان ددې نه لوبني لره ددريو خله وينخل کافي ګرځوي البته اوه(۷) خل وينخل مستحب دي .

داحنافو دلائل :

۱ عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال : قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : **اذا ولغ الكلب في اناء أحدكم فليهرقه وليغسله ثلاث مرات**، په دي حديث کې صراحةً دري خله دوينخلو حکم موجود دی (۱)

۲ ....په باب کې مذکور دحضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سوا کلب لره دري خله وينخلو فتوی.

۳ ... دقياس مطابق هم دري خله وينخل کافي دي ځکه چې دسختو نه سخته پليتي مثلا متيازي،شراب، او پخيله دسپي متيازي هم دري خله وينخلو باندې پاکيږي .

ائمه ثلاثه ته جواب :

۱ .. د اوه ځله وينخلو حکم استحباب يا علاج باندې محمول دی : ځکه چې دسپو په لاړو کې يو خاص

---

(۱) معارف السنن ۱/۳۲۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

قسم جرائيم اميکروب وي کوم چې په اوه خله وينځلو سره پاکيږي ، او په اتم خل په خاوره کې دراخکلو حکم هم په اصل کې په همدې حکمت باندې مبني دی خکه چې دخاوري په اجزاء کې شامل نوشادر دسپي دخولې نه دوتونکو جراثيمو او درهرو خاتمه کوي

۲... داوه خله وينځلو حکم په ابتداء داسلام کې وو وروسته بيا منسوخ شو په اول اول کې خلک دسپو ساتلو عادي وو نو هغوی ته ددينه دنفرت پيدا کولو لپاره سخت حکم اوکړې شو بيا په دې کې په آرام آرام سره نرمي اوکړلې شوه بيا صرف دتورو سپو دوژلو حکم او دعامو سپو نه دلرې کيدو حکم اوشو . بيا څه وخت پس دحفاظتي سپو دساتلو اجازت اوکړې شو نو داوه خله وينځلو حکم ددغه ډاهليت درمانې سره متعلق وو اوس يې صرف استحباب پاتې دی راوي حديث دحضرت ابو هريرة رضي الله عنه دري خله وينځلو دا فتوی دنسخ دليل دی

دسپي دساتلو حکم :په غير دضرورت نه د سپي ساتل ناجائز او شرعًا ممنوع دي البته د ضرورت او بعضې حالاتو په بنا شريعت ددری قسمه سپو د ساتلو اجازت ورکړي د نبي عليه الصلاة ارشاد مبارک دي :

لايدخل الملائكة بيتاً فيه كلب ولا صورة . ليکن په حديث کې د دري قسمه سپو استثناء راغلې ده د حضرت ابوهريره رضي الله عنه او د حضرت عبدالله ابن مغفل رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي عليه الصلاة فرمانلي دي **من اتخذ كلباً الا كلب صيد او ماشية او زرع نقص من اجر كل يوم قيراطان**

په دي حديث شريف کې د دري قسمه سپو د ساتلو استثناء شوي ده (۱) د ښکار سپي (۲) د ګډو او چيلو د حفاظت سپي (۳) د فصل د نګرانۍ او ساتلو سپي شريعت کې د دي دري قسمه سپو نه علاوه د باقي هر قسمه سپي دساتلونه منع کړي شوي دي .

﴿ بَابُ نَجَاسَةِ الْمَنِيِّ ﴾

دمني دناپاکوالي بيان

(۴۲)عَنْ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رضي الله عنها عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ فَقَالَتْ كُنْتُ أَغْسِلُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَيَخْرُجُ إِلَى الصَّلَاةِ وَأَثَرُ الْغُسْلِ فِي ثَوْبِهِ بُقَعُ الْمَاءِ رواه الشيخان(۱)

ترجمه : د حضرت سليمان بن يسار نه روايت دي ده فرمايلي دي چې ما د حضرت عائشې رضي الله عنها نه د هغه منۍ په باره کې تپوس وکړ کومه چې جامو پوري ولګي نو هغې وفرمائل چې ما به د رسول الله صلى الله عليه وسلم د جامو نه هغه وينځله بيا به هغه مانځه ته تللو او په جامو کې به يې د اوبو

(۱) بخاري كتاب الغسل ج ۱ ص ۳۶ باب غسل المني و فركه . مسلم بحواله كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۴۰ باب حكم المني.

Maktaba Tul Ishaat.com

د وینځلو نبي او تاکي ؤ دا حدیث مسلم او بخاري روایت کړي دي .

(۲۳) وَ عَن مَيمُونَة رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَت اَدنَيتُ لِرَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ غُسلَهُ مِنَ الجَنَابَة فَغَسَلَ كَفَّيه مَرَّتَينِ اَو ثَلَاثًا ثُمَّ اَدخَلَ يَدَهُ فِي الإِنَاء ثُمَّ اَفرَغَ بِه عَلَى فَرجِه وَ غَسَلَهُ بِشِمَالِه ثُمَّ ضَرَبَ بِشِمَالِه الاَرضَ فَدَلَكَهَا دَلكًا شَدِيدًا ثُمَّ تَوَضَّأَ وُضُوئَهُ لِلصَّلَاة ثُمَّ اَفرَغَ عَلَى رَاسِه ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ مِلءَ كَفِّه ثُمَّ غَسَلَ سَائِرَ جَسَدِه ثُمَّ تَنَحَّى عَن مَقَامِه ذٰلِكَ فَغَسَلَ رِجلَيه اخرجه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت میمونې رضي الله عنها نه روایت دي دي ویلي دي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته مې د جنابت د غسل د پاره اوبه ورنږدې کړې نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم دوه یا دري ځلي خپل مبارک لاسونه وویښل بیا یې په لوښي کې خپل مبارک لاس دننه کړ بیا یې په خپل مخصوص اندام اوبه راواړولې او په خپل ګس لاس یې هغه وویښه بیا یې په خپل ګس مبارک لاس ځمکه ووهله او په ښه سختو مړلو یې ومړله بیا یې لکه د مانځه د اوداسه په شان اودس وکړ بیا یې دري ډکې لپې اوبه په خپل مبارک سر باندې راواړولې بیا یې ټول بدن وویښه بیا د دغه ځای نه اخوا شو نو بیا یې دواړه مبارکې خپې وویښلې ، دا حدیث شیخینو نقل کړي دي .

(۲۴) وَ عَن عَبدِ الله بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّهُ قَالَ ذَكَرَ عُمَرُ بنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ لِرَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ تُصِيبُه الجَنَابَة مِنَ اللَّيلِ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأ وَاغتَسِل ذَكَرَ ثُمَّ نَم . رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روایت دي ده فرمایلي دي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم ته حضرت عمر رضي الله عنه د دي خبري بیان وکړ چې ما ته د شپې جنابت ورسیږي (نو په داسې وخت کې زه سه وکړم) نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائل چې اودس وکړه او مخصوص اندام ووینځه بیا اوده شه . د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي .

(۲۵) وَ عَن اَبِي السَّائِبِ مَولَى هِشَامِ بنِ زُهرَةَ عَن اَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَا يَغتَسِلُ اَحَدُكُم فِي المَاءِ الدَّائِمِ وَهُوَ جُنُبٌ فَقَالَ كَيفَ يَفعَلُ يَا اَبَا هُرَيرَةَ قَالَ يَتَنَاوَلُ

---

(۱) بخاري في الغسل ج ۱ صـ ۴۰ باب التوضؤ قبل الغسل والوضوء ، مسلم كتاب الحيض ج ۱ صـ ۱۴۷ باب صفة غسل الجنابة .

(۲) بخاري في الغسل صـ ۴۳ باب الجنب يتوضأ ثم ينام ، مسلم كتاب الحيض ج۱صـ ۱۴۴ باب غسل الوجه واليدين...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

تناوُلاً . رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د ابي سائب مولى د هشام بن زهره نه روايت دي چې حضرت ابي هريره رضي الله عنه فرمايلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي : ستاسو نه دي يو کس هم په ولاړو اوبو کې غسل نه کوي چې د جنابت په حالت کې وي . راوي وويل اي ابو هريره هغه به څه کوي نو هغه وويل چې هغه دي ددې نه اوبه راواخلي او بيا دي غسل وکړي .

(۲۶)وَ عَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ اَبِي سُفْيَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ سَاَلَ اُخْتَهُ اُمَّ حَبِيْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فِي الثَّوْبِ الَّذِي يُجَامِعُهَا فِيهِ فَقَالَتْ نَعَمْ اِذَا لَمْ يَرَ فِيهِ اَذًى . رواه ابو داود و آخَرُونَ و اسنادُهُ صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت معاويه ابن ابي سفيان رضي الله عنه نه روايت دي چې ده د خپلې خور حضرت ام حبيبه رضي الله عنها نه چې د حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم مبارکه بي بي ده پوښتنه وکړه چې آيا په کومه جامه کې به چې رسول الله صلى الله عليه وسلم جماع وکړه نو په هغې کې به يې مونځ کاوه نو هغې وفرمائل چې هو چې کله به په هغې کې پليتي نه ليدل کيده، ددې حديث روايت ابوداؤد او نورو کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

(۲۷)وَ عَنْ يَحْيَى بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حَاطِبٍ اَنَّهُ اغْتَمَرَ مَعَ عُمَرَ ابْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي رَكْبٍ فِيهِمْ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ اَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ عَرَّسَ بِبَعْضِ الطَّرِيقِ فَرِيثًا مِنْ بَعْضِ الْمِيَاهِ فَاحْتَلَمَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ قَدْ كَادَ اَنْ يُصْبِحَ فَلَمْ يَجِدْ مَعَ الرَّكْبِ مَاءً فَرَكِبَ حَتّٰى اِذَا جَاءَ الْمَاءَ فَجَعَلَ يَغْسِلُ مَا رَاَى مِنْ ذٰلِكَ الْاِحْتِلَامِ حَقَّ اَسْفَرَ فَقَالَ لَهُ عَمْرُو بْنُ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَصَبْتَ وَ مَعْنَا ثِيَابٌ فَدَعْ ثَوْبَكَ يَغْسِلُ فَقَالَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَا عَجَبًا لَكَ يَا عَمْرُو بْنَ الْعَاصِ لَئِنْ كُنْتَ تَجِدُ ثِيَابًا اَفَكُلُّ النَّاسِ يَجِدُ ثِيَابًا وَاللّٰهِ لَوْ فَعَلْتُهَا لَكَانَتْ سُنَّةً بَلْ اَغْسِلُ مَا رَاَيْتُ وَ اَنْضَحُ مَا لَمْ اَرَ . رواه مالک و اسناده صحيح .(۳)

---

(۱) كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۳۸ باب النهي عن الاغتسال في الماء الراكد .

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۵۳ باب الصلوة في الثوب الذي يصيب اهله .

(۳) موطأ امام مالک كتاب الطهارة صـ ۳۶ باب اعادة الجنب الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د يحيي بن عبد الرحمن بن حاطب نه روايت دي چې د حضرت عمر رضي الله عنه سره يې په يوه داسي قافله کې عمره کوله چې په هغې کې حضرت عمرو بن عاص رضي الله عنه هم وُ حضرت عمر رضي الله عنه شپې په اخري حصه کې اوبو ته نزدې په يوې لارې کې ارام وکړو نو حضرت عمر رضي الله عنه محتلم شو نزدې وُ چې هغه په ځان سحر کړي وي او د قافلې والاوُ سره اوبه هم نه وي نو حضرت عمر رضي الله عنه سور شو کله چې اوبو ته ورغي نو په خپلو جامو يې د احتلام نشاني او نښې وليدې د هغې په وينځلو يې شروع وکړه تردې پورې چې رښتا شوه نو ده ته حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه وويل تاسو په ځان سحر کړي دي حال دا چې ماسره جامې موجود دي ته خپلې کپړې پريږده وبه وينځل شي نو حضرت عمر رضي الله عنه وويل تعجب دي تاته اې عمرو بن العاص رضي الله عنه که تاسره جامې شته نو تولو خلکو سره به جامې وي په الله مي دي قسم وي که چرې ما دا کار کړي وي نو دغه به يوه مسنونه طريقه گرځيدلي وي بلکه اوبه وينځم هغه چې زه يې وينم او اوبه به وارومه په هغې چې نه يې وينم . د دي حديث روايت مالک رحمه الله کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

(۲۸)وَ عن عَائِشَةَ رضي الله عنها اَنَّهَا قَالَتْ فِي الْمَنِيِّ اِذَا اَصَابَ الثَّوْبَ اِذَا رَاَيْتَهُ فَاغْسِلْه وَ اِنْ لَمْ تَرَهُ فَانْضَحْهُ . رواه الطحاوي و اسناده صحيح (۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دي دي د منيۍ په باره کې چې جامې ته ورسيږي فرمايلي دي کله چې دي وليده نو وي وينځه او که دي ونه ليده نو اوبه پرې واړوه . روايت يې طحاوي کړي او اسناد يې صحيح دي

(۲۹)وَ عن اَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ فِي الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ اِنْ رَاَيْتَهُ فَاغْسِلْه وَاِلَّا فَاغْسِلِ الثَّوْبَ كُلَّهُ رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی ده دهغه منيۍ باره کې چې جامې ته ورسيږي فرمايلي دي ، چې که ته دې لره اوگوري نو وي وينځه ورنه پوره جامې لره وو وينځه.

(۳۰)وَ عَنْ عَبْدِ الْمَلِكِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ سُئِلَ جَابِرُ بْنُ سَمُرَةَ رضي الله عنه وَاَنَا عِنْدَهُ عَنِ الرَّجُلِ يُصَلِّي فِي الثَّوْبِ الَّذِي يُجَامِعُ فِيهِ اَهْلَهُ قَالَ صَلِّ فِيهِ اِلَّا اَنْ تَرَى فِيهِ شَيْئًا فَتَغْسِلَهُ وَلَا تَنْضَحْهُ فَاِنَّ

---

(۱) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ ص ۴۳ باب حكم المني .

(۲) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ ص ۴۳ باب حكم المني .

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّضْحَ لَا يَزِيدُهُ إِلَّا عَرًا رواه الطحاوي واسناده حسن.(۱)

ترجمه : د عبدالملک بن عمير نه روايت دي ده وېلي دي چې د جابر بن سمره رضي الله عنه نه په داسي حال چې خه د هغه سره وم د يو داسي سړي په باره کې پوښتنه وکړې شوه چې هغه په هغه جامه کې مونځ کاوه چې په کومه جامه کې بې د خپل کور والا سره مجامعت کاوه جابر رضي الله عنه وفرمائل په هغې کې مونځ کوه مګر که وويني ته په هغې کې خه شئ نو وي وينځه او اوبه پرې مه تيروه خکه چې اوبه تيرول نه ړياتوي مګر شر د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد يې حسن دي

(۳۱) وَعَنْ عَبْدِ الْكَرِيمِ بْنِ رَشِيدٍ قَالَ سُئِلَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ رضي الله عنه عن قَطِيفَةٍ أَصَابَتْهَا جَنَابَةٌ لَا يَدْرِي أَيْنَ مَوْضِعُهَا قَالَ أَغْسِلُهَا، رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : عبدالکريم بن رشيد فرمايلي دي چې د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه پوښتنه وکړې شوه د يو خادر په باره کې چې جنابت ورته رسيدلي ؤ خو معلوم نه ؤ چې کوم خاي ته رسيدلي دي ده وويل چې وې وينځي. دا حديث طحاوي روايت کړي دي. تفصيل يې تير شوي دي.

د کلماتو تحقيق : مني ، مذي ، ودي د سړي د مخصوص اندام نه د تشو بولو نه علاوه دري نور ښيان هم راوخي چې ديته ، مني ، مذي او ودي ويلي شي:

د مني ، مذي او ودي تعريف :

مني : ماء ابيض ثخين يتولد منه الولد وهو يتدفق في خروجه ويخرج بشهوة من صلب الرجل وترائب المرأة ويستعقبه الفتور. يعني معنى دا چې مني تکې سپينې او سختې اوبه دي چې د هغې نه د ولد پيدائش کيږي او د سړي د شا او د ښځې د سينو نه په توپ او خوند سره خارجيږي او د بدن سستوب ورسره پيدا کيږي.

او فقهاؤ د منې داسي تعريف کړي دي:

«مني المرأة اصفر رقيق وقد يبيض لفضل قوتها» ، او د ښځې مني زيړه او نرمه وي او کله کله د قوت له وجې نه سپينيږي

مذي : هو ماء ابيض رقيق لزج يخرج عند الملاعبة او تذكير الجماع او اراد به من غير شهوة ولا دفق ولا يعقبه فتور ربما لا يحس بخروجه وهو اغلب في النساء من الرجال ابن حجر وابن

(۱) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ ص ۴۴ باب حكم المني.
(۲) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ ص ۴۴ باب حكم المني.

Maktaba Tul Ishaat.com

نجيم . مذي سپيني تري سليخناکي اوبه دي چې د ملاعبت او مستي په وجه او د جماع د يادولو او يا د جماع د ارادي په وخت کې خارجيږي په غير د شهوت او توپ نه او په غير د فتور او سستوب نه دا په ښځو کې د سړو نه غالب او ډير وي دا د ابن حجر او ابن نجيم قول دي

ودي :د طبعي عوارضو او امراضو په بناء په عام دول سړه د تشو بولو نه وروسته او يا مخکې خارجيږي او په شکل کې د منۍ په شان وي مګر د وتو په وخت کې يې احساس نه شي کيدي

مؤلف دلته د منۍ په باره کې د نجاست باب اينبي دي او په راتلونکې باب کې په ښکاره د منۍ پاکوالي معلوميږي راتلونکې باب هم د منۍ د احکامو سره تعلق لري . د دي نه روسته د مذيۍ باب راځي چې مذي پاکه ده که ناپاکه ده او د ودۍ حکم څه دي .

تشريح :

مسئلة الباب : مني شرعا پاکه ده او که پليته ؟ددې په باره کې دوه قوله دي :

۱- دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد مني شرعا پاکه ده (طبعي کر که هغه جداخبره ده)

۲ . امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ ومالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد مني شرعا پليته ده .

دفريق اول دلائل :دقرآن آيت (هُوَ الَّذِي خَلَقَ مِنَ الْمَاءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُ نَسَبًا وَّصِهْرًا) کې الله تعالى مني لره ماء وفرمايل او له دې نه يې دانسان پيدائش لره دنعمت په طور باندې ذکر اوفرمايلو . نو لهذا کوم شي چې په طور دنعمت ذکر شي نو هغه څنګه پليت کيدي شي

۲ . مني څنګه ناپاک کيدي شي چې دا دانبياء کرامو او دنيکانو او دبزرګانو په شان دپاک خلکو ماده د توليد ده يعني دپيدائش ذريعه يې ده ؟

۳- راروان باب دباب مايعارضه حديث : عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ تَحُتُّ الْمَنِيَّ مِنْ ثِيَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ نو که مني ناپاک وي نو په مونځ کې به دمړلو سوال نه پيدا کيدو.

۴- حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مني لره دلارو او دبلغمو سره تشبيه ورکړي ده .

ددويم فريق دلائل :

داحاديثو په پوره ذخيره کې يو روايت هم داسي نشته چې دهغې مطابق کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جامو کې بغير دوينځلو دمني نه مونځ کړې وي نو که مني پاکه وې نو بيان جواز له پاره به يو ځل نيم خامخا کړې وي و اذ ليس فليس.

۲- دباب هغه احاديث دکوم مطابق چې امهات المؤمنين رضي الله عنهن په مني لګيدلي شوي کپړو لره وينځلي دي او دځينې روايتونو مطابق خه يې په مړلو مړلو سره وينځلي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳-دباب دویم حدیث چې دهغې الفاظ دادي **فدلكها دلكا شديدا** يعني مني لره دصفا کولو نه پس حضور ﷺ خپل لاس مبارک په زمکه پوري اووهلو او خه سخت يې اومړلو .نو دصفايي او دپاکوالي دومره اهتمام مني دناپاک کيدو خبر ورکوي .

۴- دصحابه کرامو عمل او دهغوي اقوال بالخصوص دباب حديث نمبر ۷ چې دهغې مطابق حضرت عمر رضی الله عنه دسفر په حالت کې داتهائي مشقت باوجود دشپې دمحتلم کيدو په بناء باندې خپلو کپړو لره اوينځلي او په دې معامله کې يې معمولي نرمي هم اونکړه .

۵- قياس هم دمني دناپاک کيدو تقاضا کوي . ځکه چې وړې بولې (متيازي) . مذي او ودي بالاتفاق ناپاکي دي نو مني هم ناپاکه پکار ده . بيا امام احمد رحمه الله دانسان نه غير مني لره ناپاکه ګرځوي نو پکار دي چې دانسان مني دي هم ناپاکه اوګرځوي.

امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله ته جواب:

۱-دا توجيه ضعيفه ده او مني ته ماء ويلو سره ددې پاکوالي نه ثابتيږي ځکه چې الله تعالى دتولو ځناورو ماده تخليق هم مني ګرځولي ده **والله خلق كل دابة من ماء** ، بيا خو دهر حيوان مني پاکيدل پکار دي يو حيوان هم ناپاک نه دي پاتې کيدل پکار حالانکه ددې خبرې هيڅوک قائل نه دي .

۲-دحقيقت بدليدو سره ' حکامات هم بدليږي ، دمور په خيټه کې دماشوم غذا دحيض وينه وي نو دستاسو حضراتو دقياس مطابق دحيض وينه هم پاکيدل پکار ده حالانکه داسې نه ده ، بيا خو کمال په دې کې دی چې الله رب العزت ديو ناپاک شي نه يو پاک مخلوق چې انسان دې پيدا کړو دکوم ماده تخليق لره چې په يو آيت کې **ماء مهين** يعني يو حقيري اوبه وفرمايلي.

۳- تينګي او وچې مني لره په مړلو او ګرولوسره صفا کول دپاکولو په غرض سره وو نه ددې دپاکيدو په بناء باندې . ځکه چې دمني د پاکوالي دوه طريقې دي :۱- غسل يعني وينځل چې کله نرئ او لونده وي . ۲- ګرول او مړل چې کله مني وچې وي نو که څه معمولي ذرات کوم چې معفو عنه په مقدار کې وواو دمونځ په وخت کې به يې پرې نظر پريوت نو هغې لره به يې هم صفا کول . بهر حال ددې حديث نه دمنيو په پاکوالي کې اهتمام ثابتيږي نه تخفيف ، علاوه ددې نه چې د محارب بن دثار عن عائشه روايت منقطع دی .

۴- مني لره دلاړو يا دبلغمو سره تشبيه ورکول دادحضرت ابن عباس رضی الله عنهما ذاتي رايه ده کوم چې دصحيح او دمرفوع رواياتو مقابله نشي کولې ، امام نيموي رحمه الله فرمايي چې دا هم ممکنه ده چې حضرت ابن عباس رضی الله عنهما مني لره دلاړو سره تشبيه په پاکولو کې ورکړي وي يعني چې ددې دپاکولو طريقه څه ګرانه نه ده بلکې دلاړو او دبلغمو په شان لرګي سره هم لرې کيږي .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ مَا يُعَارِضُهُ﴾

دا باب د هغه احاديثو په بيان کې دی چې د تير شوو حديثونو ضد او مقابل دي

{۳۲} عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سُئِلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ قَالَ إِنَّمَا هُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُخَاطِ وَالْبُزَاقِ وَ إِنَّمَا يُكْفِيكَ أَنْ تَمْسَحَهُ بِخِرْقَةٍ أَوْ بِإِذْخِرَةٍ رواه الدارقطني و اسناده ضعيف ورَفْعُهُ وَهم.(۱)

ترجمه : ابن عباس رضي الله عنه فرمائيلي دي چې د نبي عليه السلام نه پوښتنه وکړي شوه د هغه مني په باره کې چې جامې ته رسيدلي وي نو نبي عليه السلام وفرمائيل چې دا د خرينګ (خراشکي) او د لاړو په شان دي او په توټه او يا په وښو سره يې ټاته لرېکول کافي دي د دی حديث روايت دار قطني کړي او اسناد يې ضعيف دي او په رفعه کې يې وهم دي

{۳۳} وَعَنْ مَحَارِبِ بْنِ دِثَارٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا كَانَتْ تَحُتُّ الْمَنِيَّ مِنْ ثِيَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ . رواه البيهقي وابن خزيمة و اسناده منقطع.(۲)

ترجمه : محارب بن دثار د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت کړي دي چې بي شکه هغې د رسول الله صلى الله عليه وسلم د جامو نه مني مړه حال دا چې نبي عليه السلام په مانځه کې ؤ د دي حديث روايت بيهقي او ابن خزيمه کړي دي او اسناد يې منقطع دي.

{۳۴} وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ فِي الْمَنِيِّ يُصِيبُ الثَّوْبَ قَالَ امْطُهُ عَنْكَ بِعُودٍ أَوْ إِذْخِرَةٍ فَإِنَّمَا هُوَ بِمَنْزِلَةِ الْمُخَاطِ أَوِ الْبُصَاقِ رواه البيهقي في المعرفة و صححه.(۳)

ترجمه : د ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي ده ويلي د منۍ په باره کې چې کله چې جامې ته ورسيږي په ډکي او يا ګياه سره يې لري کړه خکه بي شکه دا په شان د خرينګ (خراشکي) او يا د لاړو دي ، د دي حديث روايت په معرفت کې بيهقي کړي دي او صحيح يې ګرځولي دي.

---

(۱) سنن دار قطني كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۲۴ باب ما ورد في طهارة المني .....الخ .

(۲) صحيح ابن خزيمة جماع ابواب تطهير الثياب ح ۱ ص ۱۴۷ رقم الحديث ۲۹۰ معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج ۳ ص ۳۸۳ باب المني رقم الحديث ص ۵۰۱۲.

(۳) معرفة السنن والآثار للبيهقي كتاب الصلوة ج ۳ ص ۳۸۳ باب المني ، رقم الحديث ۵۰۱۲، وايضا سنن الكبرى كتاب الصلوة ج ۲ ص ۴۱۸ باب المني يصيب الثوب .

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ النَّيمَوِي هٰذَا أَقْوَىٰ الْآثَارِ لِمَنْ ذَهَبَ إِلَى طَهَارَةِ الْمَنِيِّ وَلٰكِنَّهُ لَا يُسَاوِي الْأَخْبَارَ الصَّحِيحَةَ الَّتِي اُسْتُدِلَّ بِهَا عَلَى النَّجَاسَةِ وَمَعَ ذٰلِكَ يُحْتَمِلُ أَنْ يَكُونَ التَّشْبِيهُ فِي الْإِزَالَةِ وَالتَّطْهِيرِ لَا فِي الطَّهَارَةِ .

ترجمه : نيموي ويلي دي چې دا د هغه چا لپاره قوي اثر دي څوک چې مني پاک ګڼي ليکن دا د هغه صحيحو اخبارو سره نه دي برابر يه کومو چې د مني په نجاست استدلال شوي. اودا هم احتمال لري چې دا تشبيه به په لري کولو او پاکولوکې وي نه په پاک کيدو کې

يادونه : ددې باب تشريح به تير شوي باب لاندې تيره شوې ده

﴿بَابٌ فِي فَرْكِ الْمَنِيِّ﴾

دا باب د منۍ د ګرولو په بيان کې دی

{۳۵} عَنْ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ أَنَّ رَجُلًا نَزَلَ بِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَأَصْبَحَ يَغْسِلُ ثَوْبَهُ فَقَالَتْ عَائِشَةُ إِنَّمَا كَانَ يُجْزِيكَ إِنْ رَأَيْتَهُ أَنْ تَغْسِلَ مَكَانَهُ فَإِنْ لَمْ تَرَهُ نَضَحْتَ حَوْلَهُ لَقَدْ رَأَيْتُنِي أَفْرُكُهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرْكًا فَيُصَلِّي فِيهِ . رواه مسلم

وفي رواية لَهُ لَقَدْ رَأَيْتُنِي وَإِنِّي لَأَحُكُّهُ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَابِسًا بِظُفُرِي .(۱)

ترجمه : د علقمه او اسود نه روايت دي چې بي شکه يو سړي د حضرت عائشې رضي الله عنها ميلمه شوي وُ نو سهار ده خپله جامه وينځله نو حضرت عائشې رضي الله عنها وويل چې بي شکه کافي وُ تا لره وينځل د هغه ځاي چې ليده تا هغه او که دي نه ليده نو اوبه به دي پري اچولي وي په چاپيره د هغې په تحقيق ليده ما خپل ځان چې ګرولە ماهغي (مني) لره د رسول الله صلى الله عليه وسلم د جامې نه په ګرولو سره نو مونږ وکړ رسول الله صلى الله عليه وسلم په هغه جامه کې . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

او د مسلم په يو روايت کې د حضرت عائشې رضي الله عنها د پاره دي چې (په تحقيق خامخا ليده ما خپل ځان په داسې حال کې چې ګرولە ما منې وچه د جامې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په خپلو نوکانو باندې .

{۳۶} وَعَنْهَا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ أَفْرُكُ الْمَنِيَّ مِنْ ثَوْبِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَابِسًا

(۱) مسلم كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۴۰ باب حكم المني .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاَغْسِلُه اِذَا كَانَ رَطْبًا رواه الدارقطني والطحاوي وَاَبُوعَوَانَة في صحيحه و اِسْنَاده صحيح .(۱)

ترجمه : او د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دي ويلي دي زه ژمې چې مړله به مي مني د جامې د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه کله به چې اوچه وه او وينخله به مي کله به چې لمده وه د دي حديث روايت دار قطني او طحاوي کړي او ابو عوانه کړي په خپل صحيح کې او اسناد يې صحيح دي

{۳۷} وَعَنْ هَمَّامِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ كَانَ ضَيْفٌ عِنْدَ عَائِشَةَ رضي الله عنها فَاجْتَنَبَ فَجَعَلَ يَغْسِلُ مَا اَصَابَه فَقَالَتْ عَائِشَة رضي الله عنها كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم يَأْمُرُنَا بِحُتِّه رواه ابن الجارُوْدِ فِي الْمُنْتَقٰى و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د همام بن الحارث نه روايت دي ده فرمايلي دي چې د حضرت عائشې رضي الله عنها يو ميلمه ؤ نو هغه جنب شوی ؤ نو هغه وينځلو هغه خاې خوم خاې ته چې مني رسيدلې وه نو حضرت عائشې رضي الله عنها و فرمايل چې ؤ رسول الله صلى الله عليه وسلم چې امر به يې کاوه مونږ ته په مړلو د مني سره ، د دي حديث روايت ابن الجارود په منتقي کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

دکلماتو تحقيق : فرک دضرب نه په معنى ديو شي لره دجامې نه په ګرولو يا په مړلو سره زائل کول.

حک دنصر نه په معنى مړلو سره ،حت دنصر نه په معنى دجامې سره کيچرا وغيره ملاوول او لرې کول

مسئلة الباب : دخارج من السبيلين کې دمني نه علاوه نور نجاستونه په هر صورت وينځل ضروري دي ، ګرول يا مړل په هيڅ صورت نه کافي کيږي ، ليکن دمني حکم دد ې نه لږ مختلف دی خکه چې دمني په مړلو سره پاکولو په باره کې دائمه کرامو اختلاف دی کوم چې په لاندې ډول دي :

۱- امام شافعي رحمه الله او امام احمد رحمه الله خو دمني دپاکوالي قائله دي په دې بنا ،باندې د دوي په نزد مني لږ په ګرولو سره پاکولو په باره کې هيڅ حرج او باک نشته بلکې مني لره په ګرولو سره د پاکولو متعلق وارد احاديث هم دمني دپاکوالي دليل دی دکوم جواب چې دتيرشوي باب تر لاندې تير شو .

۲- امام مالک رحمه الله مني لره په عامو پليتيو باندې قياس کوي او دغسل يعني دوينځلو حکم ورکوي برابره خبره ده که وچه وي او لمده .

---

(۱) دار قطني كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۲۵ باب ما ورد في طهارة المني ...الخ ، طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۴۱ باب حكم المني ، ابو عوانة ج ۱ صـ ۲۰۴ بيان تطهير الثوب .

(۲) منتقي ابن جارود صـ ۵۵ باب النجوة في الابدان والثياب ...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

۳. امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد که مني تینګه او وچه وي نو په ګرولو سره هغه پاکیږي ، او که نري یا لمده وي نو ددې وینځل لازمي دي .(په دې زمانه کې دخلکو صحتونه هغه شان نه دي پاتې او مني نري وي نو احتیاط ضروري دی .(کما في رد المختار :۳۱۳/۱).

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل : دادي چې دوي مني لره متیازو او وینه او نورو پلیتو باندې قیاس کوي چې وینځل یې ضروري دي .

داحنافو دلائل :دباب تول احادیث داحنافو دلیل دی ، او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ته جواب دادي چې د حدیث په مقابله کې قیاس لره حجت نشي جوړیدې همدارنګې داقیاس مع الفارق دی ځکه چې مني ذي جرم (جسم والا) او غلیظه ده او متیازي او وینه ددې په مقابله کې رقیق نرئ او غیر ذي جرم دي

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الْمَذْيِ﴾

باب دي په هغه حدیثونو کې چې د مذئ په باره کې راغلي دي :

{۳۸} عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ رَجُلًا مَذَّاءً فَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي ده ویلي دي چې زه یو داسې سړي وم چې ډیره مذي به راته تلله ما ته حیا راتله چې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړم ځکه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لور خما په نکاح کې وه نومامقداد ابن اسود ته امروکړنوهغه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه نونبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائل ذکر(مخصوص اندام) دي ووینځي او اودس دي وکړي . د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي

{۳۹} وَعَنْ سَهْلِ بْنِ حُنَيْفٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ أَلْقَى مِنَ الْمَذْيِ هِدَّةً وَكُنْتُ أَكْثِرُ الِاغْتِسَالَ فَسَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّمَا يُجْزِيكَ مِنْ ذٰلِكَ الْوُضُوءُ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ فَكَيْفَ بِمَا يُصِيبُ ثَوْبِي مِنْهُ قَالَ يَكْفِيكَ بِأَنْ تَأْخُذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَتَنْضَحَ بِهَا مِنْ ثَوْبِكَ حَيْثُ تَرَى أَنَّهُ أَصَابَهُ رواه الاربعة الا النسائي و اسناده حسن .(۲)

---

(۱) بخاري في الغسل ج ۱ صـ ۴۱ باب غسل المذي والوضوء منه ومسلم كتاب الحيض ج ۱صـ ۱۴۳ باب المذي .

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۲۸ باب في المذي ، ترمذي ابواب الطهارات ج ۱ صـ ۳۱ باب في المذي يصيب الثوب ، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۳۹ باب الوضوء من المذي .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت سهل بن حنیف رضی الله عنه روایت دي ده ویلي دي چې زه د مذي د وجي نه د سختئ سره مخ شوم او ډیر خلي مي د مذي د وجي نه غسل کوئ نو ما په دي باره کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه نو هغه صلی الله علیه وسلم وفرمائل چې بې شکه د مذي د وجي نه تا د پاره اودس کافي او بس دي ماوویل اي د الله رسوله د مذي نه چې زما جامې ته څه رسیدلي وي دهغې څه حال دي هغه صلی الله علیه وسلم وویل چې یو چوڼ او یو موټي اوبه تا د پاره بس دي چې د جامې په هغه حصه یې وروشیندي چې ته هغه ځاي وینې د دي حدیث روایت ځلورو محدثینو کړي مګر نسائي نه دي کړي او اسناد یې حسن دي

{۴۰} وعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ هُوَ الْمَنِيُّ وَالْمَذِيُّ وَالْوَدِيُّ فَأَمَّا الْمَذِيُّ وَالْوَدِيُّ فَإِنَّهُ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ وَأَمَّا الْمَنِيُّ فَفِيهِ الْغُسْلُ رواه الطحاوي واسناده حسن .(۱)

ترجمه : د عبدالله بن عباس رضی الله عنه نه روایت دي ده ویلي دي چې هغه مني ، مذي او ودي ده نو د مذي او ودي نه دي استنجاء او اودس کوي او مني چې ده په هغې کې غسل دي د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد یې حسن دي

د کلماتو تحقیق : مذي ، دا لفظ په دوه طریقو سره ویل کیږي ۱- مَذْيٌ ۲- مَذِيٌّ اولنې صورت فصیح دی

مذي تعریف : (هو ماء ابیض رقیق لزج یخرج عند الملاعبة او تذکیر الجماع او اراد به من غیر شهوة ولا دفق ولا یعقبه فتور بیّنا لا یحس بخروجه وهو اغلب فی النساء من الرجال ابن حجر وابن نجیم)

ترجمه : مذي سپینې نرۍ سلیخناکې اوبه دي چې د ملاعبت او مستي په وجه او د جماع د یادولو او یا د جماع د ارادي په وخت کې خارجیږي په غیرد شهوت او تپوپ نه او په غیر د فتور او ستوب نه دا په ښکاره کې د سړو نه غالب او ډیر وي دا د ابن حجر او ابن نجیم قول دي .

تشریح :

اولنې بحث : مذي پاکه ده یا ناپاکه ؟ ائمه اربعه او جمهور علماء سلفا وخلفا دټولو په نزد مذي نجسه ده . په خلاف د روافضو نه فرقه امامیه چې هغوي دي لره پاکه ګرځوي او لفظ "نضح" نه استدلال کوي لیکن مونږ دا وایو چې لفظ "نضح" خو د دم حیض او د بول صبي په بارکې هم راغلې دی حالانکه دم حیض بالاتفاق نجسه او ناپاکه ده لهذا د "نضح" یو معنی متعینه نه ده.

---

(۱) طحاوي کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۴۰ باب الرجل یخرج من ذکره المذي .

Maktaba Tul Ishaat.com

دويم بحث : دمذي دوتلو نه پس دنجاست خاي وينځل كافي كيږي او كه نا؟

۱- دامام مالک رحمه الله مذهب دادی چې پوره عضو تناسل اندام مخصوص لره دي اوينځي ۲- دامام احمد رحمه الله په نږد ذكر سره خصيتين وينځل هم ضروري دي ۳- حنفيه رحمهم الله او شافعيه رحمهم الله په نږد صرف خاي دنجاست وينځل ضروري دي

دامام مالک رحمه الله دليل : دبخاري شريف روايت إغْسِلْ ذَكَرَكَ (۱/٤) همدارنګې دباب اولسي او دريم حديث كوم چې "**يغسل ذكره**" دی

دامام احمد رحمه الله دليل : دابوداود شريف روايت **ليغسل ذكره وأنثييه** او درافع بن خديج رضي الله عنه حديث دكوم الفاظ چې دادي "**يغسل مذاكيره**" (ابوداود:۱/۲۸) "**مذاكير**" جمع ده لهذا دعضو تناسل سره خصيتين وينځل هم ضروري دي

دامام ابو حنيفه رحمه الله او دامام شافعي رحمه الله دليل : اول دحضرت علي كرم الله وجهه رضي الله عنه روايت **من المذي الوضوء** (معارف السنن ۱:۳۸۰) . همدارنګې چې كله خروج مذي دماتونكو داوداسه نه دی نو دعامو نجاساتو په شان خاي دنجاست وينځل كافي كيدل پكار دي.

امام مالک واحمد رحمهم الله ته جواب :

۱ دټول عضو تناسل او دخصيتينو وينځل دا استحبابي حكم دی نه وجوبي ، ترڅو چې كه قطري خوري شي نو هغه دي هم ورسره پاک شي.

۲ دا حكم بطور علاج دی خكه چې اوبه (بالخصوص يخي اوبه) مذي لره قطع كونكي دي يعني دقطري دبندیدو ذريعه ده اكثر روايات دمذاكير او داشيين دالفاظو نه خالي كيدل ددي دليل دی

دريم بحث : كومې كيږي باندې چې مذي اولګي نو دهغې وينځل ضروري دي يا داوبو چنې پري كول هم كافي دي ؟

۱- جمهور علماء او ائمه ثلاثه په نږد صرف وينځل ضروري دي البته دامام ابوحنيفه رحمه الله په نږد دلوتو استعمال هم جائز دی.

۲- دامام احمد رحمه الله په نږد راجح قول مطابق اوبه پري چاڼ كول هم كافي دي.

دامام احمد رحمه الله دليل :

دباب دويم حديث " **يُكْفِيكَ بِأَنْ تَأْخُذَ كَفًّا مِنْ مَاءٍ فَتَنْضَحَ بِهَا مِنْ ثَوْبِكَ حَيْثُ تَرَى أَنَّهُ أَصَابَهُ** " په دې حديث كې صراحة داوبو دچاڼ كولو ذكر دی.

دجمهورو دلائل : "**واغسل ذكرك**" يعني هغه روايات كوم كې چې دغسل يعني دوينځلو

Maktaba Tul Ishaat.com

حکم وارد دی (بیا امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد چې کله مذي، دورو بولو په شان شوه نو چې څنګه په متیازو کې دلوتو استعمال صحیح دی مذي کې هم صحیح دی).

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ **ته جواب** : "نضح" معنی صرف اوبه چاڼ کول نه دي بلکې مطلق غَسل او غَسل خفیف هم ددې په معنی دي. چنانچې باب نجاسة دم الحیض لاندې حدیث نمبر ۵۵ کې حیض دوینې له پاره " **ثم تنضحه** " ویلې شو حال دا چې بالاتفاق دحیض وینې لره وینځل ضروري دي همدارنګه چې کله مذي نجاست دی نو دعام نجاستونو په شان په دې کې هم وینځل ضروري دي نه اوبه چاڼ کول.

ځلورم بحث: دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **نه دمذي په باره کې دپوښتنې کولو والا نوم ووایي؟**

۱- ترمذي او دابوداود شریف دروایتونو مطابق حضرت علي کرم الله وجهه پخپله سائل وو.

۲- دنسائي دیو روایت مطابق حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دپوښتنې کولو ویلي وو

۳- د باب داولني روایت مطابق حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم کړي وو.

دري روایتونه په ظاهر کې مختلف دي لیکن په دې کې دتطبیق صورت دادی چې په یو مجلس کې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یوځای وو، چې کله دمذي متعلق خبره اوشوه نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل ځان لره په دې کې دابتلاء (اخته کیدو) ذکر اوکړو بیا ددې دوو حضراتو نه یو نه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ددې دحکم په باره کې دپوښتنې کولو حکم وکړ، لیکن چې کله ددې یو نه په پوښتنه کې لږ وروسته والې اوشو نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ددویم ته حکم وکړ بیا هغه دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه اوکړه دیو روایت مطابق اول حضرت مقداد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سوال وکړو وروسته بیا حضرت عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُم وپوښتل، ددې نه پس چې کله بیا مسئله عامه شوه او په عام مجلس کې ددې په باره کې بحث اوشو نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم سوال وکړو یا دا چې په آخر کې د اطمینان لپاره حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُم سوال وکړو.

بَابُ مَاجَاءَ فِي الْبَوْلِ

باب دې په بیان دهغه حدیثونه کې چې دبولو په باره کې راغلي دي :

{۴۱} عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَبْرَيْنِ فَقَالَ إِنَّهُمَا لَيُعَذَّبَانِ وَمَا يُعَذَّبَانِ فِي كَبِيرٍ أَمَّا أَحَدُهُمَا فَكَانَ لَا يَسْتَتِرُ مِنَ الْبَوْلِ وَأَمَّا الْآخَرُ فَكَانَ يَمْشِي بِالنَّمِيمَةِ ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً فَشَقَّهَا

Maktaba Tul Ishaat.com

نِصْفَيْنِ فَجَرَّدَ فِي كُلِّ قَبْرٍ وَاحِدَةً قَالُوا يَارَسُولَ اللهِ لِمَ فَعَلْتَ هٰذَا قَالَ : لَعَلَّهُ يُخَفَّفُ عَنْهُمَا مَالَمْ يَيْبَسَا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روايت دي ده ويلي دي چې نبي عليه السلام په دوه ؤ قبرونو باندي تيريدو نو وي فرمائل چې دا دواړه قبرونه په عذاب وهلي شي او نشي په عذاب وهلي دا دواړه په کومه لويه او سخته خبره او معامله کې پس وه يو د دوي نه چې د بولو نه به يې ځان نه ساته او دا بل ؤ چې چغلي به يې کوله بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم يوه شنه لخته راواخيسته نو دوه نيمه يې کړه او په هر يو قبر باندې يې ښخه او وتو مبله صحابه ؤ وويل اي دالله رسوله ولي دي دا کار وکړ نبي عليه السلام وفرمائل د دي د پاره چې په دوي باندې عذاب اسان کړي شي ځو پوري چې دا دوړه لخټي نه وي وچې شوي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۴۲} وَ عَنْ أَبِي صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم أَكْثَرُ عَذَابِ الْقَبْرِ مِنَ الْبَوْلِ رواه ابن ماجه و آخرون و صححه الدارقطني والحاكم

ترجمه : ابوصالح د ابوهريره رضي الله عنه نه روايت کړي ده ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي د قبر عذاب زيات د بولو نه د ځان نه بچ کولو په وجه دي د دي حديث روايت ابن ماجه او اخرونو کړيدي او دار قطني او حاکم صحيح ګرځولي دي .

{۴۳} وَ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رضي الله عنه قَالَ سَأَلْنَا رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم عَنِ الْبَوْلِ فَقَالَ : إِذَا مَسَّكُمْ فَيِهِ فَاغْسِلُوهُ فَإِنِّي أَظُنُّ أَنَّ مِنْهُ عَذَابَ الْقَبْرِ ، رواه البزار و قال في التلخيص (ج۱ص۱۰۶) اسناده حسن .(۲)

ترجمه : د حضرت عباده بن الصامت رضي الله عنه نه روايت دي ده ويلي دي چې مونږ د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه د بولو په باره کې نو هغه صلى الله عليه وسلم وفرمائل کله چې ورسيږي تاسي ته د بولو يو څه شئ نو هغه ووينځئ بې شکه زه ګمان کوم چې د قبر عذاب د بولو د وجې نه دي ، د دي حديث روايت بزار کړي او په تلخيص کې يې ويلي دي چې اسناد يې حسن دي .

---

(۱) بخاري في الوضوء ج ۱ صـ ۳۵ ، مسلم كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۴۱ باب الدليل على نجاسة البول .

(۲) ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۹ باب التشديد في البول ، سنن دار قطني كتاب الطهارت ج ۱ صـ ۱۲۸ باب نجاسة البول ....اع مستدرک حاكم كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۸۳ باب عامة عذاب القبر من البول .

Maktaba Tul Ishaat.com

دمتیازو ځایځکي او دقبر عذاب

په دي خبره کي دټولو اتفاق دی چي دانسان متبازي ناپاکي دي البته دانسان دبچي دمتیازو په باره کي اختلاف دی چي راروان باب لاندي به ذکر شي، او دحرام ځناورو متبازي هم بالاتفاق ناپاکي دي البته ماکول اللحم يعني دحلال ځناورو دمتیازو په باره کي لګ اختلاف دی چي ددينه به په " **باب في بول ما يؤكل لحمه** " کي به تفصيل سره بحث اوکړي شي انشاءالله

داحاديثو تشريح:

"مر بقبرين" دادوه قبرونه دچا وو ؟ دبعضي علماؤ داوينا ده چي دادکافرانو قبرونه وو ليکن جمهور علماء وايي چي دا قبرونه دمسلمانانو وو ددي دوه وجهي دي ۱. يو په صحيح روايت کي "بقبرين جديدين" راغلي دي ۲. او په يو روايت کي دمدينې منورې مقبره "بقيع الغرقد" ذکر هم راغلی دی همدارنګه خطاب هم مسلمانانو ته دی

قوله :وما يعذبان في كبير: په دي روايت کي خو په ظاهره ددي مذکوره ګناهونو دکبيره کيدو نفي ده ليکن په بخاري کي دکبيره دنفي کيدو سره "بلى وإنه لكبير" الفاظ هم موجود دي يعني ولي نه دواړه لوي ګناهونه دي نو دغه شان په دوو روايتو ترمينځ تعارض واقع شو ؟ علماؤ ددي دواړو تر مينځ تطبيق داسي کړي دی چي داولني روايت مطلب دبچ کيدو په اعتبار سره کبيره يعني ددروندوالي او دمشکل کيدو نفي ده او په دويم روايت کي دمعصيت او دعذاب په اعتبار سره دښه لويه ويلي کيږي.

قوله :لايستتر من البول: بعضي روايتونو کي ددي په خاي "**لايستنزه**" او "**لايستبرئ**" الفاظ راغلي دي. مفهوم دټولو الفاظو يو دی يعني مذکوره کس به دمتيازو ځايځکو نه خان نه بچ کولو.

په ګناه او عذاب کي مماثلت:

طهارت عن البول دعباداتو او دطاعاتو طرفته اولني قدم دی او قبر دعالم آخرت اولني منزل دی. بيا دقيامت په ورځ دټولو نه مخکې دمونځ حساب کتاب به کيږي او طهارت دمونځ نه مقدم دی. نو ځکه دآخرت دمنزلونونه اولني منزل په قبر کي دمقدم ترين عبادت لازمي شرط دطهارت په پريخودلو باندي مؤاخذه اوکړي شوه. والله تعالى اعلم (معارف السنن ۲۲۳/۱)

په قبرونو باندي ګلونه شيندل:

بعضي اهل بدعتو دحديث الفاظ " **ثُمَّ أَخَذَ جَرِيدَةً رَطْبَةً** " لره په قبرونو باندي دګلونو شيندلو د ثبوت لپاره مستدل ګرځوني دي ليکن دا استدلال بالکل غلط دی. ځکه چي په دي حديث کي د ګلونو شيندلو سه ذکر نشته دی. البته ديو شي ځانګې ثبوتولو متعلق دحضور ﷺ ديو عمل ذکر شته، په دي باره کي فيصله کونکي او حقه خبره داده چي دحديث نه ثابتيدونکي هر يو شي تر خپل حده پوري ساتل پکار دي تر کومه حده پوري چي هغه ثابت دی، په حديث کي يو يا دوه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځل څانګه ثابت ده نو له دې نه معلوميږي چې کله نا کله داسې کول پکار دي ليکن دايو ځاي کې هم نه دي ثابت چې ددې واقعي نه علاوه حضور ﷺ په يو بله موقع باندې هم قبر باندې يو څانګه ايښې وي ، دغه شان حضرت بريده رضي الله عنها (چاچې دا وصيت کړې وو چې زما په قبر دې څانګه کيښودلې شي) نه علاوه ديو بل صحابي نه دا منقول نه دي چې هغه څانګې ئې په قبر باندې ايښودل خپل معمول ګرځولې وي ، تردې پورې چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما چې ددې حديث راوي دی ، دهغه نه هم دا منقول نه دي چې هغوی دتخفيف عذاب له پاره دا طريقه اختيار کړې وي ، ددې نه داخبره واضحيږي چې دا عمل اګرچې جائز دی ليکن دسنت جاريه او دمستقل عادت ګرځولو والاشئ نه دی "فالحق أن يعمل كل فرد حقه ولا يتجاوز عن حده وهو الفقه في الدين" . والله أعلم بالصواب.(۱)

﴿بَابُ مَاجَآءَ فِي بَوْلِ الصَّبِيِّ﴾

باب دي په بيان د هغه احاديثو کې چې د ماشوم د بولو په باره کې راغلي دي

{۴۴} عَنْ اُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحْصَنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اَنَّهَا اَتَتْ بِاِبْنٍ لَّهَا صَغِيرٍ لَمْ يَاْكُلِ الطَّعَامَ اِلٰى رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَجْلَسَهُ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي حَجْرِهٖ فَبَالَ عَلٰى ثَوْبِهٖ فَدَعَا بِمَآءٍ فَنَضَحَهُ وَ لَمْ يَغْسِلْهُ رواه الجماعة (۲)

ترجمه : د قيس بنت محصن رضي الله عنها نه روايت دي چې دي خپل وړوکي زوي چې طعام يې لا ته نه خوړلي اخوراک يې لا نه وو شروع کړې ، رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راوست . نو هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله مبارکه غيږه کې کيناو نو هغه يې په مبارکو جامو باندې بولي وکړي نو اوبه يې راوغوښتې نو په مبارکه جامه يې وارولې او وې نه وينځلې ، د دې حديث روايت جماعت کړي دي

{۴۵} وَعَنْ عَائِشَةَ اُمِّ الْمُؤْمِنِيْنَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اَنَّهَا قَالَتْ اُتِيَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِصَبِيٍّ فَبَالَ عَلٰى ثَوْبِهٖ فَدَعَا بِمَآءٍ فَاَتْبَعَهُ اِيَّاهُ رواه البخاري (۳)

---

(۱) (درس ترمذي : ۲۸۶/۱ بتغير وتسهيل)

(۲) كشف الاستار عن زوائد البزار ج ۱ ص ۱۳۰ باب الاستجمار بالماء وتلخيص الجبير ج ۱ ص ۱۰۶.

(۳) بخاري في الوضوء ج ۱ ص ۳۵ باب بول الصبيان ، مسلم كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۳۹ باب حكم بول الطفل الرضيع... الخ ، ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ ص ۵۳ باب بول الصبي يصيب الثوب ، ترمذي ابواب الطهارة ج ۱ ص ۳۱ باب ماجاء في نضح بول الغلام

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو هلک راوړي شو نو هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکو جامو باندې بولي وکړي نو اوبه يې راوغوښتي او د بولو به خاي يې واچولې، وې نه وينځلي، د دي حديث روايت بخاري کړي دي

{۳۶} وَعَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُؤْتَى بِالصِّبْيَانِ فَيَدْعُو لَهُمْ فَأُتِيَ بِصَبِيٍّ مَرَّةً فَبَالَ عَلَيْهِ فَقَالَ صُبُّوا عَلَيْهِ الْمَاءَ صَبًّا رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : او د دي يعني د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي، دي ويلي دي چې وو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ چې واړه به ورته راوړلې شو نو ده به ورته دعا فرمائله يو خلي ورته يو وړوکي راوړې شو نو هغه په نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ باندې بولي وکړي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائل چې واړوئ په دي باندې اوبه په اړولو سره د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد يې صحيح دي

{۳۷} و عن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَوْلُ الْغُلَامِ يُنْضَحُ عَلَيْهِ وَبَوْلُ الْجَارِيَةِ يُغْسَلُ قَالَ قَتَادَةُ هٰذَا مَا لَمْ يَطْعَمَا فَإِذَا طَعِمَا غُسِلَ بَوْلُهُمَا رواه احمد و ابوداود و اخرون و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې د هلک په بولو باندې به اوبه بيولې شي او د جينۍ بولي به وينځلي شي قتاده رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې دا په دي شرط چې طعام يې لاته وي خوړلي او که طعام يې خوړلي وي نو د دواړو بولي به وينځلي شي، د دي حديث روايت احمد، ابوداود او اخرونو کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۳۸} و عن ابي السَّمحِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنتُ خادمَ النَّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَجِيءَ بِالْحسنِ أَوِ الْحُسَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَبَالَ عَلَى صَدْرِهِ فَأَرَادُوا أَنْ يَغْسِلُوهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَشِّهِ فَإِنَّهُ يُغْسَلُ بَوْلُ الْجَارِيَةِ وَيُرَشُّ مِنْ بَوْلِ الْغُلَامِ رواه ابن ماجه و ابوداود والنسائي و آخرون و صححه ابن خزيمة و حسنه البخاري.(۳)

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج ۱ ص ۳۵ باب بول الصبيان . طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ ص ۶۸ باب حكم بول الغلام .

(۲) ابوداود كتاب الطهارة ج ۱ ص ۵۴ باب بول الصبي يصيب الثوب ، مسند احمد ج ۱ ص ۷۶.

(۳) ابوداود كتاب الطهارة ج ۱ ص ۵۴ باب بول الصبي يصيب الثوب ، نسائي ابواب الطهارة ج ۱ ص ۵۷ باب بول الجارية ابن ماجة ابواب الطهارات ص ۴۰ باب ماجاء في بول الصبي ...الخ ابن خزيمة كتاب الوضوء ج ۱ ص ۱۴۳ رقم الحديث ۲۸۳، مستدرک حاكم كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۶۶ باب ينضح بول الغلام ....الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د ابي السمح رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې زه د نبي عليه السلام خادم وم چې حضرت حسن او يا حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راوستلي شو نو هغه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه سينه باندې بولي وكړي نو صحابه كرامو غوښتل چې وي يې وينځي نو نبي عليه السلام وفرمائل چې اوبه پرې واړوه چې بيشكه د جينې بولي وينځلې شي او دهلک په بولو اوبه اچولې شي . د دې حديث روايت ابن ماجه ، ابوداؤد ، نسائي او اخرو نه كړي دي او ابن خزيمه او حاكم صحيح ګنولي دي او بخاري دا حديث حسن ګنولي دي

{۴۹} وَعَنْ عَبدِ الرَّحمٰنِ بْنِ اَبِي لَيلٰى عَنْ اَبِيهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنتُ جَالِسًا عِندَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَلٰى بَطْنِهِ اَو عَلٰى صَدرِهِ حَسَن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَوْ حُسَين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَبَالَ عَلَيهِ حَتّٰى رَأَيتُ بَولَه اَسَارِيعَ فَقُمنَا اِلَيهِ فَقَالَ دَعُوه فَدَعَا بِمَاءٍ فَصَبَّه عَلَيهِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د عبدالرحمن بن ابي ليلى نه روايت دي هغه د خپل پلار نه روايت كړي دي ده ويلي دي چې زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ناست وم او په مبارکه خپته او يا په مبارکه سينه د دوي حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او يا حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وو نو په هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې بولي وكړي تردي چې ما د هغه د بولو لاري وليدلي نو مونږ هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورپاڅيدو نو هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا پريږدئ نو اوبه يې راوغوښتې او اوبه يې په هغه ځاي وروارولې ، د دې حديث روايت طحاوي كړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۵۰} وعن اُمِّ الْفَضْلِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ : لَمَّا وُلِدَ الْحُسَينُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قُلتُ يَارَسولَ اللهِ اَعطِنِيه اُمِّ اذقَفَه اِلَى فَلَا كِفْلَه اَوْ اَرْضِعْه بِلَبَنِي فَقَعَلَ فَاَكَيتُه بِه فَوَضَعَه عَلٰى صَدرِه فَبَالَ عَلَيه فَاَصَابَ اِزَارَه فَقُلتُ لَه يَارَسُولَ اللهِ اَعطِنِي اِزَارَك اَغسِلُه قَالَ اِنَّمَا يُصَبُّ عَلٰى بَولِ الْغُلَامِ وَيُغسَلُ بَولُ الْجَارِيَةِ رواه الطحاوي و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : دام الفضل رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي يې دي چې كله حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پيدا شو وزيږدلي شو نو ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل يا دالله رسوله ماته يې راكړه چې زه يې كفالت وكړم او ياتي وركړم په خپلو پښو (شيدو) سره نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغې ته وركړ ام الفضل وايي يو خلي مې هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته راور نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه په خپله مبارکه سينه باندې كيناوه هغه پرې بولي وكړي او پرتوګ ته يې ورسيدي نو

---

(۱) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۶۸ باب حكم بول الغلام .

(۲) طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۶۸ باب حكم بول الغلام .

Maktaba Tul Ishaat.com

ما ورته وویل اي دالله رسوله پرتوګ دي ماته راکړه چې زه يې ووينځم نبي عليه السلام وفرمائيل چې بيشکه د هلک نه بولو اوبه اړولې شي او د جينئ بولو وينځلې شي د دې حديث روايت ضحاوي کړي او اسناد يې صحيح دي

(۵۱) وَعَنِ الْحَسَنِ عَنْ اُمِّهِ اَنَّهَا اَبْصَرَتْ اُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا تَصُبُّ الْمَاءَ عَلٰى بَوْلِ الْغُلَامِ مَالَمْ يَطْعَمْ فَاِذَا طَعِمَ غَسَلَتْهُ وَكَانَتْ تَغْسِلُ بَوْلَ الْجَارِيَةِ رواه ابو داود و اسناده صحيح (۱)

ترجمه : د حسن رحمه الله نه روايت دي ده د مور نه روايت کړي چې دي ام سلمه اوليده چې د هلک په بولويې اوبه اړولې تر خو چې يې طعام نه وو خوړلې او که طعام به يې خوړلې نو هغه به يې وينځه او د جينئ بولې به يې وينځلې د دې روايت ابوداود کړي او اسناد يې حسن دي

قَالَ النِّيْمَوِي لِاَجْلِ اَمْثَالِ هٰذِهِ الرِّوَايَاتِ ذَهَبَ الطَّحَاوِي اِلٰى اَنَّ الْمُرَادَ بِالنَّضْحِ فِي بَوْلِ الْغُلَامِ صَبُّ الْمَاءِ عَلَيْهِ تَوْفِيقاً بَيْنَ الاخبارِ.

ترجمه : نيموي رحمه الله ويلي دي چې د دغه روايتونو د وجې نه طحاوي د هلک د بولو د نضح نه مراد صب الماء اخستي د پاره د دي چې تطبيق راشي د اخبارو ترمينځ

دهلک او د جينئ ديولو (متيازو) حکم

دومره خبره خو اتفاقي ده چې که هلک وي يا جينئ چې کله ديټو نه علاوه ورته نوره غذا شروع شي نو دلويو په شان ددې دمتيازو نه هم ځان ساتل ضروري دي او پاکول يې ضروري دي البته دمورد سينې پيئ خوړونکي ماشوم په باره کې اختلاف دی:

۱- امام شافعي رحمه الله او احمد رحمه الله په نزد دماشوم په متيازو باندې اوبه ورچانړ کول کافي دي. ليکن دماشومې متيازي وينځل ضروري دي.

۲- دامام ابوحنيفه او دامام مالک رحمه الله په نزد دجينئ په شان دهلک ماشوم متيازي هم وينځل ضروري دي. البته دماشوم په متيازو وينځلو کې ډيره مبالغه ضروري نه ده، بلکې لږ شان وينځل هم کافي کيږي.

دامام شافعي او دامام احمد رحمهما الله دليل: دا حضرات دباب دهغه حديثونو نه استدلال کوي کوم کې چې دجينئ دمتيازو لپاره "غسل" او دماشوم دمتيازو لپاره "نضح" او "رش" په

---

(۱) ابوداود کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۵۴ باب بول الصبي يصيب الثوب.

Maktaba Tul Ishaat.com

شان الفاظ راغلي دي مثلا : " بَوْلُ الْغُلَامِ يُنْضَحُ عَلَيه وَبَوْلُ الجَارِيَة يُغْسَلُ" په دې حديث کې دوارو په حکمونو کې فرق بالکل واضح دی .

دامام ابو حنيفه او دامام مالک دليل : ۱- حديث : " استنزهو من البول فان عامة عذاب القبر منه" په دې حديث کې عموم دی چې په دې کې دهر قسمه متيازو نه ډډ کيدو تاکيدي حکم راغلي دی . ۲- دباب دويم نمبر حديث : فدعا بماء فاتبعه اياه . ۳- دباب دريم نمبر حديث : صبوا عليه الماء صبا ديږي اوبه اړول دوينځلو په صورت کې کيږي .

امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... د " نضح" هم ډيرې معناګاني راځي مثلا : اوبه چاڼ کول ، اوبه بهول ، استنجاء کول ، معمولي وينځل ، او مطلق وينځل وغيره صرف اوبه ورچاڼ کولو نه ددې تعبير کافي نه دی . "رش" هم دوينځلو په معنی کې مستعمل دی ، همدارنګه امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دمذي په سلسله کې وارد لفظ "نضح" لره دغسل په معنی کې اخيستي دی او دمم حيض وينځل بالاتفاق ضروري دي ليکن هلته هم په حديث کې لفظ "نضح" راغلي دی دکوم نه چې مراد غسل دی .

۲... عامو پليټو باندې دقياس نه هم د "غَسل" والا معنې ته ترجيح ورکړې کيږي .

قوله : "فنضحه ولم يغسله" أي لم يغسله غسلا شديدا.

دماشوم او ماشومې د متيازو په حکم کې دفرق وجه :

۱.... په ماشوم کې ابتلاء زياته وي خلک يې عموما خپلو اوګو باندې کينوي او عامو مجلسونو ته يې له ځانه سره بوزي او په خپلو غيږو کې يې کينوي ، نوله دې دوجې دده د متيازو په پاکوالي کې نرمي وکړې شوه ، په خلاف دماشومې جينې چې هغه داسې نه ده ځکه چې ددې په معامله کې هماغه شدت برقرار ساتل شوی دی .

۲... دماشوم په متيازو کې حرارت زيات وي او بدبو او تعفن کم وي ، او دماشومې جينې په متيازو کې برودت او تعفن او بدبو زياته وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ فِي بَوْلِ مَا يُؤْكَلُ لَحْمُهُ﴾

دا باب د هغه حيواناتو د بولو په باره کې دي چې غوښې يې خوړلې شي :

{۵۲} عن البَرَاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا بَأْسَ بِبَوْلِ مَا أُكِلَ لَحْمُهُ رواه الدارقطني وضعّفه وفي الباب عن جابرٍ واسناده واه جدًا .(۱)

ترجمه : د حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی ده ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي د هغه خناورو د بولو څه باک نشته چې غوښې يې خوړې شي ، دا حديث دار قطني روايت کړي او په باب کې د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت شويدي او اسناد يې نهايت ضعيف دي

مسئلة الباب : ماکول اللحم خناورو متيازې پاکې دي يا ناپاکې ؟ په دې باره کې دوه قوله دي ۱. امام مالک او احمد او محمد رحمهم الله په نزد "بول ما يؤكل لحمه" پاکه ده ۲. امام ابوحنيفه . شافعي او ابويوسف رحمهم الله په نزد ناپاکه ده .

دطهارت قائلينو دلائل :

۱- حديث الباب " لابأس ببول ما أكل لحمه".۲- دباب حديث دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکوم حواله چې مصنف ورکړه .۳- حديث دعرنيينو "اشربوا من ألبانها وأبوالها".

دنجاست قائلينو استدلال : دا حضرات دهغه تولو احاديثو نه دليل پيش کوي کوم کې چې مطلقا متيازو ته نجس ويلې شوي دي او ددې نه بچ کيدو تاکيد پکې وارد شوي دی مثلا " استنزهو عن البول فان عامة عذاب القبر منه".

دطهارت قائلينو ته جواب : ۱- "لابأس" والا حديث ډير ضعيف دی ، ددې يو راوي سوار بن مصعب باندې امام بخاري . نسائي . ذهبي . ابوداود . او ابن حزم او نور داسې سخته جرح کړې ده . ۲- حديث دجابر هم ضعيف دی ، ددې په دوه راويانو عمرو بن الحصين او يحي بن العلاء باندې کلام موجود دی . عمرو بن حصين لره خو امام احمد رَحِمَهُ اللهُ پخپله هم واضع حديث ګرځوي .

۳- حديث دعرنيينو دوه مشهور جوابونه دي : يو دا چې په يو روايت کې وضاحت راغلې دی چې دي خلکو ته دپئ (شودو) څکلو او دمتيازو بوئي کولو حکم ورکړې شوې وو "اشربو من ألبانها

---

(۱) دار قطني كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۲۸ باب نجاسة البول .....ا ع .

Maktaba Tul Ishaat.com

واستنشقوا من أبوالها" لهذا ددې نه دماکول اللحم طهارت نه ثابتيږي او دويم جواب ددې دادي چې دا خلک په حقيقت کې کافران وو ، په ظاهره مسلمان شوي وو او حضور ﷺ ته په ذريعه دوحي ددوي دحالت خبر شوي وو ، نو ځکه دمريض دطبيعت موافق دوائي تجويز کړي شوه ، ددې نه مسلمانانو لپاره دماکول اللحم دمتيازو په طهارت باندې استدلال صحيح نه دی .

﴿بَابٌ فِي نِجَاسَةِ الرَّوْثِ﴾

دا باب دي د خوشئ په پليتوالي کې :

(۵۳) عن عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى النَّبِيَّ ﷺ الْغَائِطَ فَأَمَرَنِي أَنْ آتِيَهُ بِثَلَاثَةِ أَحْجَارٍ فَوَجَدْتُ حَجَرَيْنِ وَالْتَمَسْتُ الثَّالِثَ فَلَمْ أَجِدْ فَأَخَذْتُ رَوْثَةً فَأَتَيْتُهُ بِهَا فَأَخَذَ الْحَجَرَيْنِ وَأَلْقَى الرَّوْثَةَ وَقَالَ هٰذَا رِكْسٌ رواه البخاري .(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی ده ويلي دي چې رسول الله ﷺ قضاء حاجت نه تشريف وي وړ نو ماته يې حکم وکړ چې زه دوي ته دري کانړي راوړم نو دوه کانړي مې پيدا کړل او دريم مې ولتاوه خوپيدامې نه کړ نوخوشئ مې راواخيسته نوهغه مې ورته راوړه نوهغه ﷺ دواړه کانړي واخيستل او خوشئ يې وغورځولو او وې فرمائل چې دا پليتي ده .د دي حديث روايت بخاري کړي دي

دکلماتو تحقيق : "عن عبدالله" په صحابه کرامو کې مطلق عبدالله نه مراد حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي . "الروثة" سوتي ته او "جثاء" خراشنو ته او "روثة" دواړو ته ويلې کيږي .

مسئلة الباب : ددې باب نه خو اصل مقصود داستنجاء لپاره دخوشئ دناقابل استعمال کيدل بيانول دي . ليکن چې کوم حديث راولې شوي دی ددې نه ظاهره دوه مسئلې مستنبط کيږي :

اولنې مسئله : کانړي او لوتي په ذريعې سره استنجاء کول جائز دي داستنجاء ټول دري صورتونه جوړيږي :۲- استنجاء بالحجارة فقط .۲- استنجاء بالماء .۳- جمع بين الماء والحجر .

دادريم صورت له ټولو نه افضل دی ځکه چې الله تعالي داهل قباؤ په همدې عمل تعريف فرمايلې دی . په دې زمانه کې فقهاء دتغير غذا او دطبائعو دوجې نه جمع بين الماء والحجر يا استنجاء بالماء باندې زيات زور ورکوي .

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج ۱ صـ ۲۷ باب لا يستنجى بروث

Maktaba Tul Ishaat.com

دویمه مسئله: په کانړي (ډبره) سره د استنجا. مسائل.

۱- انقاء: موضع نجاست لره پاکول. دا بالاتفاق واجب دي. ۲- ایتار: په طاق عدد کې د کانړي استعمال. دا بالاتفاق مستحب دي. ۳- تثلیث: یعنې درې کانړي استعمالول. ددې په حکم کې اختلاف دی. د امام شافعي او د امام احمد رحمهما الله په نزد تثلیث واجب دی او امام ابو حنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله په نزد تثلیث واجب نه دی بلکې مستحب دی.

امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا اللهُ دلائل:

۱- دلیل: د حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه حدیث: (نهانا ان نستقبل القبلة بغائط او بول او ان نستنجي بأليمين او ان يستنجي احدنا باقل من ثلاثة احجار. ترمذي باب الاستنجاء بالحجارة).

ترجمه: منع کړي یو مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم قبلي طرف ته د مخ کولو نه د تشو بولو او د ډک او د سې مانې په وخت کې او منع کړي یې یو مونږ په ښي لاس سره د استنجاء کولو نه او د دي خبرې نه چې استنجاء وکړي یو زمونږ د درېو کانړو نه په کمو سره. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمائلي دي چې په حدیث شریف کې خاص عدد ذکر شوي دي نو د دي وجې نه تثلیث واجب دي ځکه چې په حدیث شریف کې د درېو نه د کمو کانړو استعمال نه منع راغلي ده نو د دي وجې نه خاص عدد واجب دي.

(۲) دلیل: د باب په حدیث (فأمرني ان آتيه بثلاثة احجار) په الفاظو هم شوافعو استدلال نیولي دي د کوم روایت په آخر کې چې "ائتني بحجر" او په یو روایت کې "ابغني بحجر" یعنې د خوشۍ په څای د درېو کانړي دلتولو حکم یې وکړو.

د امام ابو حنیفه او د امام مالک رَحِمَهُمَا اللهُ دلائل:

۱- د حدیث باب مذکوره روایت کوم کې چې د درېو کانړي دلتولو او د راوړلو حکم نشته.

۲- د امام ابو حنیفه رحمه الله او د ده د موافقینو دویم دلیل د رسول الله صلى الله عليه وسلم هغه صحیح حدیث دي چې ابو هریره رضي الله عنه روایت کړي دي. (من استجمر فليوتر من فعل فقد احسن ومن لا فلا حرج) (۱) الحدیث. په دې کې ایتار یعنې طاق عدد کې د کانړي استعمال لره وجوبي نه بلکې صراحةً استحبابي حکم ګرځولې شوې دی.

---

(۱) ابوداود ۱/۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳- داوبو په استعمال کې بالاتفاق تثلیث شرط نه دی ځکه چې اصل مقصود انقاء یعنې پاکي او صفائي ده نه عدد ، لهذا قیاسا دکانړي په استعمال کې هم تثلیث ضروري نه دي کیدل پکار .

امام شافعي او امام احمد رحمهما الله **ته جواب :**

۱- حدیث سلمان رضي الله عنه کې ددریو نه کم کانړو نه ممانعت یو حکمت عملي باندې مبني دی او هغه دا چې عموما ددریو نه په کمو کانړو باندې پاکوالي نه حاصلیږي او دریو لره دصفائي دحصول لپاره کافي ګڼرلي کیږي په یو حدیث کې ددې همدغه علت بیان کړې شوې دی **"فان دلک کافیه"** ددې دویم جواب دادی چې د حدیث **"ومن لا فلا حرج"** په رڼا کې به دامنلې شي چې په حدیث سلمان رضي الله عنه کې نهي ددریو دحرمت لپاره نه ده بلکې ددریو داهتمام لپاره ده.

۲- په حدیث کې **"فأمرني"** دوجوب لپاره نه دی ، ګڼي حضور صلى الله عليه وسلم به ددریم کانړي دلتولو لازمي حکم ورکولو او **"ائتني بحجر"** یا **"ابغني بحجر"** وغیره زیاتوالي دصحیح روایت نه ثابت نه دي

دحجر تعریف : فقهاؤ داستنجاء لپاره **"دحجر"** تعریف دا کړې دی **"کل طهور قالع للنجاسة"** یعنې هر هغه شئ چې پخپله پاک وي او نجاست لره لرې کونکی وي . په موجوده زمانه کې په بیت الخلاء ګانو کې دلوټو په استعمال کې دقت او تکلیف وي نو ځکه دمذکوره تعریف په رڼا کې ځینو علماؤ د ټائلټ پیپر (توش ناب کاغذ) داستعمالولو مشوره ورکړې ده .

دنوټي داستعمال نه دممانعت وجه :

۱- سوټه دجناټو یا ددوي دځناورو خوراک دی ، دهغوي لپاره سوټي لره خپل اصلي حالت ته اړونې شي او هغې نه غله او غذا جوړولې کیږي .(۱)

۲- سوټه پخپله پلیتې ده لکه څنګه چې حدیث الباب کې وو ، لهذا دا نجاست نشي لرې کولې .

﴿بَابُ فِي أَنَّ مَا لَا نَفْسَ لَهُ سَائِلَةً لَا يُنَجِّسُ بِالْمَوْتِ﴾

دا باب دې په بیان دهغه ځیز کې چې بهیدونکي وینه نه لري نو دهغه په مړ کېدو شي نه پلیتیږي

{۵۴} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا وَقَعَ الذُّبَابُ فِي شَرَابِ أَحَدِكُمْ فَلْيَغْمِسْهُ ثُمَّ لِيَنْزِعْهُ فَإِنَّ فِي أَحَدِ جَنَاحَيْهِ دَاءً وَفِي الْآخَرِ شِفَاءً رواه البخاري .(۲)

---

(۱) معارف السنن : ۱/۱۱۲-۱۲۹.

(۲) في بدء الخلق ج ۱ ص ۴۶۷ باب اذا وقع الذباب .....الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې کله ستاسي د څکلو په څيز کې مچ ولويږي نو ډوب يې کړئ بيا يې راوباسئ بې شکه چې په يو د وړو وزرونو کې يې بيماري ده او په بل کې يې شفاء ده . د دي حديث روايت بخاري کړي دی .

دباب قائمولو مقصد: په ظاهره مصنف دا ويل غواړي چې مچ يا دده په شان داسي ځناور کوم کې چې بهيدونکي وينه نه وي ، په اوبو کې دمرکيدلو په صورت کې اوبه نه پليتيږي دا مسئله متفق عليه ده . (رحمة الامة ، ص ۹)

﴿بَابُ نِجَاسَةِ دَمِ الْحَيْضِ﴾

دا باب د حيض دويني د پليتوالي په بيان کې دی :

{۵۵} عَنْ اَسْمَاءَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ جَاءَتْ اِمْرَاَةٌ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ اِحْدَانَا يُصِيبُ ثَوْبَهَا مِنْ دَمِ الْحَيْضَةِ كَيْفَ تَصْنَعُ بِهِ قَالَ تَحُتُّهُ ثُمَّ تَقْرُصُهُ ثُمَّ تَنْضَحُهُ ثُمَّ تُصَلِّي فِيهِ رواه الشيخان (۱)

ترجمه : د حضرت اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي چې يوه ښځه نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ته راغله نو وي ويل که زمونږ د يوې کسي جامې ته د حيض وينه ورسيږي د هغې سره به څه کوي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې په ګوتو دي وګروي ودي مړي بيادي يې په اوبو ووينځي بيادي پرې اوبه اوپاشي يا دي پکې مونځ وکړي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۵۶} وعن اُمِّ قَيْسٍ بِنْتِ مِحصَنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سَاَلْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ دَمِ الْحَيْضِ يَكُونُ فِي الثَّوْبِ قَالَ حُكِّيهِ بِضِلَعٍ وَاغْسِلِيهِ بِمَاءٍ وَسِدْرٍ رواه ابوداود والنسائي وابن ماجه وابن خزيمة وابن حبان واسناده صحيح (۲)

ترجمه : د ام قيس ابن محصن رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی دي ويلي چې ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پوښتنه وکړه د هغه حيض د ويني په باره کې چې په جامه لګيدلي وي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل د جامې په يو کونج هغه وموږئ او په اوبو او بيره يې ووينځئ . د دي حديث روايت ابوداؤد ، نسائي ابن ماجه ابن خزيمه او ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) بخاري في الوضوء ج ۱ صـ ۳۶ باب غسل الدم، مسلم كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۴۰ باب نجاسة الدم وكيفية غسله.

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۵۲ باب المرأة تغسل ولدها.....الخ ، نسائي كتاب المياه ج ۱ صـ ۶۹ باب دم الحيض يصيب الثوب ، ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۵۲ باب المرأة تغسل ولدها.....الخ ، نسائي كتاب المياه ج ۱ صـ ۶۹ باب دم الحيض يصيب الثوب ، صحيح ابن خزيمة ج ۱ صـ ۲۲ باب استحباب غسل دم ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۴۶ باب ماجاء في دم الحيض يصيب الثوب ، صحيح ابن حبان كتاب الطهارة ج ۳ صـ ۲۸۲ باب تطهير النجاسة . الحيض من الثوب بالماء والسدر رقم الحديث ۱۲۷۷ ، ابن حبان كتاب الطهارة ج ۳ صـ ۲۸۲ باب تطهير النجاسة .

Maktaba Tul Ishaat.com

دکلماتو تحقیق: "تحت" دباب نصر نه په معنی دکښې سره کیجرا وغیره ملاوول او صفا کول تقرص د باب نصر نه په معنی دگرول او وینځل اوبوسره. نطح دلته دنضح نه مراد بالاتفاق وینځل دي "حکي" صیغه دامر ده دنصر نه په معنی د مبل.

دحیض لغوي معنی ده بهیدل او په اصطلاح کې دحیض تعریف دادي: "هو دم ينظفه رحم امرأة بالغة من غير داء" حیض وینه ده چې د بالغې ښځې رحم یې غورزوي په غیر د څه مرض او بیمارئ نه. او استحاض هم د حیض نه د استفعال باب دي د استفعال په باب کې د مبالغي خاصیت دي او د استفعال په باب کې د ماهیت د انقلاب خاصیت هم شته لکه د حیض ماهیت بدل شي او استحاض وگرځي. د حیض متعلق حضور ﷺ ارشاد وفرمایل: "هذا شيء كتبه الله على بنات آدم" یعني دالله تعالی په حکم سره دا بیماري ښځو ته لاحقه ده.

مسئلة الباب: د باب دحدیثونو نه دحیض وینه پلیتیدل خو ظاهر شو او دا هم چې دعامو پلیتیو په شان ددې وینځل هم ضروري دي، البته په دم حیض کې مقدار دمعفو عنه (کوم سره چې مونځ روا کیږي) شته او که نه؟ ددې په باره کې اختلاف دی.

۱- دامام ابوحنیفه او دامام مالک او دامام احمد رحمهم الله په نزد دم قلیل معاف دی او ددم کثیر وینځل واجب دي، لیکن دمقدار معفو عنه په تعیین کې ددوي اختلاف دی:

۱..... دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد په اندازه دیو درهم معیار دی، که وینه دیو درهم برابره یا ددې نه زیاته وي نو وینځل یې واجب او په همدې حالت کې مونځ کول مکروه تحریمي دي او که مونځ یې په همدې حالت کې وکړو نو مونځ یې کیږي خو سره دکراهت نه.

۲..... دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ دراجع قول مطابق دمبتلی به رائې لره اعتبار دی. ۳... دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد د قلیل او دکثیر مقدار معلوم نه دی.

۲..... امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په قلیل او کثیر کې هیڅ فرق نشته، تر دې پورې چې یو څاڅکي دحیض دوینې هم ددوي په نزد نجس ده او په همدې حالت کې چې دحیض وینه یې په جامو وي مونځ یې نه کیږي.

قوله: "جاءت امرأة" دراجع قول مطابق سوال کونکي دحضرت اسماء رضي الله عنها نه علاوه بل څوک وه. چونکه په دم حیض کې دښځو ابتلاء عام ده او عموم بلوی سره په حکم کې تخفیف راځي لیکن په حیض کې هیڅ تخفیف رانغي پس همدا منشأ دسوال وه.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بابُ الْأَذٰى يصِيبُ النَّعلَ﴾

باب دې په بيان دهغه پليتئ کې چې رسيدلې وي پنړي ته :

{۵۷} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَذَا وَطِئَ الْاَذٰى بِخُفَّيهِ فَطَهُورُهُمَا التُّرَابُ

رواه ابوداود و اسناده حسن و عنده له شاهد بمعناه من حديث عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا (۱)

ترجمه : د ابي هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې د چا په موزو پليتي ولويږي نو د هغې پاکوالي خاوره ده ، د دي حديث روايت ابوداؤد کړې او د دي سند حسن دی او په ابوداؤد کې د دي حديث لپاره په همدې معنی شاهد موجود دی چې د حضرت عائشې صديقې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه يې روايت شوې دی .

د کلماتو تحقيق او د حديث مفهوم :

قوله : "له شاهد بمعناه" د شاهد معنی او مفهوم په مقدمة العلم کې اوګورې .

فقه الحديث: که موزې يا پنړې باندې دتللو په وخت په لاره کې څه پليتي اولګي او داکسې له څانه سره په پنړو يا موزو کې ويسي نو په پاکه زمکه راخلکو سره به ددې نه دغه پليتي پاکه شي په حديث کې د نعل (چپړا) او د خف (دچمړې موزه) ذکر دی ليکن فقهاؤ ددې دوو شيانو په حکم کې هر هغه شي ځان ډير هم شامل کړې دی کوم چې صيقل شده او پاک وي او په دې کې دننه څه سوري نه وي لکه آئينه ، توره ، وغيره .

مسئلة الباب :

" اذا وطئ أحدكم بنعله الأذى " په دې کې اختلاف دی چې د "اذى" نه څه مراد دی ؟ په دې کې درې اقوال دي :

۱ - د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد راجح قول مطابق او د امام شافعي د قول قديم کې د دې نه مطلق نجاست مراد دی وچ وي او که تر (لوند) ، په هر صورت کې دمړلو سره پاکيږي .

۲ - د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ قول جديد دادی چې د اذی نه مراد شئ مستقذر (يعنې هغه چې طبيعت ئې ناخوښه ګڼي) او نجاست يا بسه دی ، لونده پليتي وينځل ضروري دي .

---

(۱) ابوداود کتاب الطهارة ج۱ ص ۵۵ باب الأذي يصيب النعل .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳ - داحنافو په نزد د دښه مراد وچې پليتي او هغه لونده پليتي تري مراد ده کومه چې ذي جرم (جسم والا) وي يعني هغه نجاست مرئيه کومه چې د وچيدو نه پس هم په نظر راځي لکه غتي بولي . بيا امام صاحب په نزد داسي قسمه پليتي چې وچه شي نو په مړلو سره پاکيږي . دوچيدو نه بغير مړل کفي نه دي ، او دامام ابو يوسف رحمه الله په نزد جفاف يعني دوچيدو قيد نشته دی . بلکې دوچيدو نه مخکې مړلو سره هم پاکي حاصليږي . حديث الباب دامام ابو يوسف رحمه الله د قول مؤيد معلوميږي .

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي فَضْلِ طُهُورِ الْمَرْأَةِ﴾

دا باب دې په بيان د هغه حديثونو کې چې د بنځې د اودس نه پاتې شوو اوبو په باره کې راغلي دي

{۵۸} عن الحَكَمِ بنِ عَمْرٍو الْغِفَارِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى أَنْ يَتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طُهُورِ الْمَرْأَةِ رواه الخمسة و آخرون و حَسَّنَه الترمذي و صححه ابن حبان (۱)

ترجمه : د حکم بن عمرو غفاري رضي الله عنه نه روايت دی چې بې شکه نبي عليه السلام منع کړي ده د سړي د داودس کولو نه په پاتې شوؤ اوبو د اودس د بنځې سره د دي حديث روايت پنځو کسو او نورو کړي دي ترمذي دا حديث حسن او ابن حبان صحيح ګڼلي دي .

{۵۹} وَ عَنْ حُمَيدٍ الْحِمْيَرِي قَالَ لَقِيتُ رَجُلًا صَحِبَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَرْبَعَ سِنِينَ كَمَا صَحِبَه أَبُو هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ تَغْتَسِلَ الْمَرْأَةُ بِفَضْلِ الرَّجُلِ وَ يَغْتَسِلُ الرَّجُلُ بِفَضْلِ الْمَرْأَةِ وَلْيَغْتَرِفَا جَمِيعًا رواه ابو داود والنسائي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حميد حميري نه روايت دی ده ويلي دي چې زه يو داسي سړي سره ملاو شوم چې ځلور کاله يې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره صحبت کړي وُ لکه څنګه چې ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره صحبت کړي وُ ده ويلي دي چې نبي عليه السلام منع کړي ده د بنځې د غسل کولو نه په پاتې شوؤ اوبو د سړي او منع يې کړي ده د غسل کولو د سړي نه په پاتې شوؤ اوبود بنځي سره او

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۱ باب الوضوء بفضل المرأة ، ترمذي ابواب الطهارات ج ۱ ص ۱۹ باب کراهية فضل طهور المرأة ، نسائي کتاب المياه ج ۱ ص ۶۴ باب النهي عن فضل وضوء المرأة ، ابن ماجة کتاب الطهارة ص ۳۱ باب النهي عن ذلک ، صحيح ابن حبان کتاب الطهارة ج ۳ ص ۲۲۳ باب الوضوء بفضل وضوء المرأة .

(۲) ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۱ باب الوضوء بفضل المرأة ، نسائي کتاب الطهارة ج ۱ ص ۴۷ باب ذکر النهي عن الاغتسال بفضل الجنب

Maktaba Tul Ishaat.com

دواړه دي په لږو سره اوبه رااخلي . د دي حديث روايت ابوداؤد او نسائي کړيدي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۰} وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَغْتَسِلُ بِفَضْلِ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د حضرت ام المؤمنين ميموني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه په پاتې شوؤ اوبو غسل اوفرمايه . دا حديث مسلم روايت کړې دی .

{۲۱} وَعَنْه قَالَ اغْتَسَلَ بَعْضُ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جَفْنَةٍ فَجَاءَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيَتَوَضَّأَ مِنْهَا أَوْ يَغْتَسِلَ فَقَالَتْ لَه يَارَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي كُنْتُ جُنُبًا فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ الْمَاءَ لَا يَجْنُبُ رواه ابوداود و آخرون و صححه الترمذي وابن خزيمة .(۲)

ترجمه : او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دی ده ويلي دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام بعض بيبيانو په يو لونبي کې اوبه واچولي او غسل يې وکړو نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشريف راوړ چې په دغه اوبو اودس او يا غسل وکړي نو دوي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل چې اي دالله رسوله بې شکه زه جنبه ووم نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اوبه نه پليتې کيږي او نه جنبيږي . د دي حديث روايت ابوداؤد او اخرونو کړې دی او ترمذي او ابن خزيمه صحيح ګڼلې دی .

قَالَ النَّيْمَوِيُّ اخْتَلَفُوا فِي التَّوْفِيقِ بَيْنَ الْأَحَادِيثِ فَجَمَعَ بَعْضُهُمْ بِحَمْلِ النَّهْيِ عَلَى التَّنْزِيهِ وَبَعْضُهُمْ بِحَمْلِ أَحَادِيثِ النَّهْيِ عَلَى مَا تُسَاقِطَ مِنَ الْأَعْضَاءِ لِكَوْنِهِ صَارَ مُسْتَعْمَلاً وَالْجَوَازِ عَلَى مَا بَقِيَ مِنَ الْمَاءِ وَبِذٰلِكَ جَمَعَ الْخَطَّابِي .

ترجمه : نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې د دي حديثونو ترمنځ په تطبيق او توفيق کې علماو اختلاف کړي دی بعضي علماؤ ددي احاديثو تر منځ جمع او تطبيق کړيدي چې د نهي احاديث په تنزيهي نهي محمول دي او بعضي علماؤ د نهي احاديث محمول کړي دي په هغه اوبو سره چې د اعضاؤ نه څخيږي لدي وجې نه چې دا اوبه مستعملي شوي دي او د جواز احاديث محمول دي په باقي پاتې

---

(۱) كتاب الحيض ج ۱ صـ ۱۴۸ باب القدر المستحب من الماء .....ا ع .

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۰ باب الماء لا يجنب ، ترمذي ابواب الطهارت ج ۱ صـ ۱۹ باب الرخصة في ذلك، صحيح ابن خزيمة ج ۱ صـ ۵۸ باب اباحة الوضوء بفضل غسل المرأة .....ا ع رقم الحديث ۱۰۹ .

Maktaba Tul Ishaat

شوو اوبو باندې.

دباب قائمولو مقصد : عموما په بنځو کې دسړو په نسبت صفائي او پاکوالي اهتمام کم وي ددې نه به چاته وهم دا کیدو چې کیدې شي دبنځې نه پاتې شوي اوبه دسړي لپاره استعمال ناجائز وي ددې وهم ددفعه کولو دپاره دې باب لره قائم کړې شو .

مسئلة الباب : کومې اوبه چې بنځې داودس یا دغسل لپاره استعمال کړي وي ددې استعمال نه پس چې په لوښې کې کومې اوبه پاتې دي ددې نه دسړي لپاره اودس او غسل جائز دي یا نه ؟ دجواب نه مخکې په دې ځای پوهه کول ضروري دي چې مطلق فضل طهور (دطهارت نه پاتې شوي اوبه) دري صورتونه کثیر الوجود دي :

۱- سړي او بنځه دواړه په یو لوښې کې اوبه راواخلي او اودس یا غسل تري اوکړي . نو په دې کې به په دواړو دیو بل پاتې شوي اوبه استعمالول لازم راشي .

۲- زانله دسړي داستعمال نه پس پاتې شوي اوبه بنځه استعمال کړي

۳- ددې عکس . یعني دبنځې داستعمال نه پس سړي دا اوبه استعمال کړي .

حکم : اولني دوه صورتونه بالاتفاق جائز دي ، اختلاف صرف په دریم صورت کې دی . امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهرو په نزد ناجائز دی او دجمهورو علماؤ او دائمه ثلاثه په نزد جائز دی .

د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او داهل ظواهرو دلیل : دباب اولني حدیث نَهَى أَنْ يَتَوَضَّأَ الرَّجُلُ بِفَضْلِ طُهُورِ الْمَرْأَةِ.

دجمهورو دلیل :

۱- دباب دریم حدیث " كَانَ يَغْتَسِلُ بِفَضْلِ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ".

۲- دباب ځلورم حدیث دکوم په آخر کې چې دي " إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ " .

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهرو ته جواب :

۱... داولني حدیث په سند باندې امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ او بیهقي کلام کړې دی او جواز والا روایتونه صحیح هم دي او دیر هم دي .

۲.... په متعارض حدیثونو کې داسې تطبیق ممکن دی چې په اولني حدیث کې نهي لره کراهت تنزیهي باندې او جواز لره خلاف اولی باندې محمول کړې شي .

۳... یا دفضل طهور المرأة نه مراد دبنځې مستعملي اوبه دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۴... منع کونکي روایات اوس منسوخ شوي دي ، ځلورم روایت کې د حضرت میمونه رضي الله عنها د ویو مستعمل کیدو وجې نه شبه ظاهرول دلیل دی ددې خبرې چې دې سره څه حدیث وو لیکن چې کله حضور ﷺ "إِنَّ الْمَاءَ لَا يُجْنِبُ" اوفرمایل نو اوس به مخکینې حکم منسوخ ګڼلې شي .

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي تَطْهِيرِ الدِّبَاغِ﴾

دا باب دی په بیان د هغه احادیثو کې چې په دباغت سره د څرمنو دپاکیدو په باره کې راغلي دي

{۶۲} عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ تُصُدِّقَ عَلَى مَوْلَاةٍ لِمَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِشَاةٍ فَمَاتَتْ فَمَرَّ بِهَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ هَلَّا أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَدَبَغْتُمُوهُ فَانْتَفَعْتُمْ بِهِ فَقَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ إِنَّمَا حُرِّمَ أَكْلُهَا رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی ده ویلي دي چې د حضرت میموني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ازادي شوي وینځې ته په صدقه کې یو ګډ ورکړي شوي وُ نو هغه مړ شوي وُ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه ګډ تیر شو نو وي فرمایل چې ولي مو د دې پوستکي ونه ویست چې رنګ کړي مو وي او فائده مو تري اخیستې وي نو هغوي وویل چې بې شکه دا خو مردار ده نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې بې شکه خوراک یې حرام کړي شوي دی ، د دې حدیث روایت مسلم شریف کړي دی .

{۶۳} وَعَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی ده ویلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې فرمایل یې کاه چې رنګ کړي شي کوچې څرمن په تحقیق سره پاکیږي . د دې حدیث روایت مسلم کړي دي

{۶۴} وَعَنْ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِشَاةٍ يَجُرُّونَهَا فَقَالَ لَوْ أَخَذْتُمْ إِهَابَهَا فَقَالُوا إِنَّهَا مَيْتَةٌ قَالَ يُطَهِّرُهَا الْمَاءُ وَالْقَرَظُ رواه ابوداود والنسائي و آخَرُونَ وصححه ابْنُ السَّكَنِ وَ

---

(۱) مسلم کتاب الحیض ج۱ صـ ۱۵۸ باب طهارة جلود المیتة بالدباغ .

(۲) مسلم کتاب الحیض ج ۱ صـ ۱۵۹ باب طهارة جلود المیتة بالدباغ .

Maktaba Tul Ishaat.com

الحَاكِمُ .(۱)

ترجمه : د حضرت میمونې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دی دي ویلي دي چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په یو پسه او ګډه باندې تیر شو چې دوي رابښکوده نو وي فرمایل که د دي څرمن مو وبستلي وي هغو وویل چې دا مردار دي نو وي فرمایل چې اوبه او رنګ يې پاکوي . د دي حدیث روایت ابوداؤد او نسائي او اخرونو کړي دي او ابن السکن او حاکم صحیح ګڼلي دي .

{۶۵} وَعَنْ سَلَمَةَ بْنِ الْمُحَبَّقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعَا بِمَاءٍ مِنْ قِرْبَةٍ عِنْدَ امْرَأَةٍ فَقَالَتْ إِنَّهَا مَيْتَةٌ فَقَالَ أَلَيْسَ قَدْ دَبَغْتِهَا قَالَتْ بَلَى قَالَ دِبَاغُهَا ذَكَاتُهَا رواه احمد و آخرون و اسناده صحيح (۲)

ترجمه : د سلمه ابن محبق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي علیه السلام د یو مشک نه چې د ښځې سره وه اوبه يې راوغوښتې هغې وویل دا مردار دي نو هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل ایا هغه دي رنګ کړي نه دی هغې وویل چې ولې نه رنګ کړي مې دی نو هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې رنګول د دي پاکول د دي دي د دي حدیث روایت احمد رَحِمَهُ اللهُ او اخرونو کړي دی او اسناد يې صحیح دی .

{۶۶} وعن عَبدِ اللهِ بْنِ عُكَيمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَتَبَ إِلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَبْلَ وَفَاتِهِ بِشَهْرٍ أَنْ لَا تَنْتَفِعُوا بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ رواه الخمسة وهو معلولٌ بِالِانْقِطَاعِ والِاضْطِرَابِ .(۳)

ترجمه : حضرت عبد الله ابن عکیم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي لیکلي وُ مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل وفات نه یوه میاشت مخکې چې فائده به نه اخلئ د مرداري په څرمن سره او نه په پلو . د دي حدیث روایت پنځو محدثینو کړي دی او دا د انقطاع او د اضطراب دوجې نه معلول دی .

د دباغت طریقې او احکام

دباغت ویلې کیږي : " دیو شي په استعمال سره د چمړي رطوبت او لوندوالي ختمول " .

---

(۱) ابوداود کتاب اللباس ج ۱ ص ۲۱۳ باب في اهاب الميتة ،نسائي کتاب الفرع والعتيرة ج ۲ ص ۱۹۰ باب ما يدبغ به جلود الميتة .

(۲) مسند احمد ج ۵ ص ۷ نسائي کتاب الفرع والعتيرة ج ۲ ص ۱۹۰ باب جلود الميتة .

(۳) ابوداود کتاب اللباس ج ۲ ص ۲۱۴ باب في اهب الميتة ، ترمذي ابواب اللباس ج ۱ ص ۳۰۳ باب ماجاء في جلود الميتة اذا دبغت ، نسائي کتاب الفرع والعتيرة ج۲ ص ۱۹۱ باب ما يدبغ به جلود الميتة ، ابن ماجة کتاب اللباس ص ۲۶۶ باب من كان لا يتطع سن الميتة بالعصب ولا عصب ، مسند احمد ج ۴ ص ۳۱۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د دباغت دري طريقي دي : ۱- چمړي لره لمر ته ايخودل ۲- خاوره او مالګه پري اچول ۳- قَرَظ (دکيکر په شان يو ونه ده) وغيره جړي بوتي يا دوايانې او کيميکل استعمالول.

په دې کې اولنې او دويم صورت د دباغت حکمي دی او دريم صورت د دباغت حقيقي دی.

حکمه : که چمړي ته دباغت حقيقي ورکړې شوي وي نو داوبو په لګيدو سره که رطوبت واپس راشي نو په هغه صورت کې چمړا نه ناپاکه کيږي. ليکن د دباغت حکمي په صورت کې به ناپاکه ګرځي.

مسئلة الباب : کوم قسمه چمړي ته دباغت ورکول کيږي ؟

دباغت لپاره چمړه د دباغت کيدو قابله جوړيدل شرط دي پس د مړي او د مار چمړي ته دباغت نه ورکول کيږي. د دې نه علاوه د ځناورو د چمړي په باره کې اختلاف دی :

۱- امام مالک رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد صرف د مذبوحه ځناورو چمړي ته دباغت ورکول کيږي.

۲- د امام ابو حنيفه رحمه الله په نزد انسان او د خنزير نه علاوه د هر ځناور چمړي ته دباغت ورکول کيږي مذبوحه وي يا غير مذبوحه. د انسان استثناء دده دمکرم کيدو او د خنزير دده د نجس العين کيدو د وجې نه کړې شوي ده.

۳- د امام شافعي رحمه الله په نزد د سپي استثناء هم ده ځکه چې د خنزير په شان سپې هم دده په نزد نجس العين دی.

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دليل : حديث د عبدالله بن حکيم رضي الله عنه "لَا تَنْتَفِعُوا بِإِهَابٍ وَلَا عَصَبٍ".

د امام ابو حنيفه رحمه الله او د امام شافعي رحمه الله دلائل: دباب اولنې څلور حديثونه کوم کې چې حضور صلى الله عليه وسلم د مرداري ميږې چمړي لره د دباغت ورکولو باندې پاک ګرځولي دي، همدارنګې او فرمايل : "إِذَا دُبِغَ الْإِهَابُ فَقَدْ طَهُرَ".

امام مالک او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... د عبدالله بن عکيم رضي الله عنه والا حديث سند منقطع دی، د کوم تفصيل چې دا دی :

(الف) امام بخاري رحمه الله په خپل کتاب التاريخ کې د دې سند داسې ذکر کړې دی : عن عبدالله بن عُكيم قال حدثنا مشيخة لنا من جهينة ان النبي صلى الله عليه وسلم الخ د دې سند نه معلوميږي چې عبدالله بن عکيم په خپله د غه حديث د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه نه دي اوريدلي او نه يې په خپله د رسول

Maktaba Tul Ishaat.com

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیک لوستي دي ګویا که د ابن عکیم او د رسول الله صلی اللہ علیہ وسلم تر منځ د جهینه مشیخه واسطه واقع شویده

(ب) د عبدالله بن عکیم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روایت کونکي ابن ابي لیلی دی مګر دده د عبدالله بن عکیم نه د دي حدیث اوریدل محل د تردد دی . ځکه چې طبراني او دابن عدي سند خو دادی : شبیب عن سعید عن الحکم عن عبدالرحمٰن ابن ابي لیلیٰ عن عبدالله بن عکیم ولفظه جأنا کتاب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولحن بأرض جهینة اني کنت رخصت لکم في اهاب المیتة وعصبها . فلا تنفعوا باهاب ولا عصب لیکن دابوداود ردروایت مطابق ابن ابي لیلی پخپله دا حدیث نه دي اوریدلي بلکي دده ملګري دهغه نه دا حدیث بیان کړ ېدي

۲. سند په شان په متن کې هم اختلاف دی ۳. په مذکوره حدیث کې "اهاب" نه دانتفاع نه ممانعت دی او اهاب غیر مدبوغ چمړي ته ویل کیږي دکوم په عدم جواز کې چې هیڅ کلام نشته دی . نو ددې نه ممدبوغ ممانعت څنګه کیدي شي ؟

﴿بابُ آنِیة الکُفّارِ﴾

د کافرو د لوښو باب :

{٦٤} عَنْ أَبِي ثَعْلَبَةَ الخُشَنِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلتُ يَارَسُولَ الله اَنَا بِأَرْضِ قَوْمٍ اَهلِ الکِتَابِ أَفَنَأْکُلُ فِي آنِيَتِهِمْ فَقَالَ لَا تَاکُلُوا فِيهَا إِلَّا اَنْ لَا تَجِدُوا غَيْرَهَا فَاغْسِلُوهَا وَکُلُوا فِيهَا . رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت ابي ثعلبه الخشني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی ده ویلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل چې اي دالله رسوله بې شکه چې مونږ د اهل کتابو د قوم په ځمکه کې اوسیږو ایا د دوي په لوخو کې خوراک وکړو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې په دي لوخو کې خوراک مه کوئ مګر که د دي نه په غیر نور پیدا نه کړئ نو هغه ووینځئ او په هغې کې خوراک وکړئ، د دي حدیث روایت شیخینو یعني امام مسلم او امام بخاري کړي دي .

فقه الحدیث : وجمهور فقهاؤ په دي خبره باندي اتفاق دی که دکافرانو په لوښو کې پلیتي نه وي یا دغالب ګمان مطابق هغه پاک وي نو دوینځلو نه بغیر د دي استعمال صحیح دی ورنه نه دی صحیح .

---

(۱) بقاري کتاب الذبائح ج ۲ صـ ۸۲۴ باب آنیة المجوس والمیتة ومسلم کتاب الصید ج ۲ صـ ۱۴۴ باب الصید بالکلاب المعلمة .

Maktaba Tul Ishaat.com

په حدیث کې دکافرانو دداسې لونښو حکم بیان کړې شوې دی کوم کې چې هغو دخنزیر غوښې پخولې. شراب به یې یکې څښل وغیره وغیره همدارنګې احتیاط او دمسلمانو دغیرت تقاضا هم همدا ده چې دوې سره اختلاط او معامله کمه وي

﴿بابُ آدابِ الْخَلَاءِ﴾

د بیت الخلاء د آدابو باب :

{۶۸} عَنْ اَبِي اَيوبَ الْاَنصَارِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا اَتَيتُمُ الْغَائِطَ فَلَا تَستَقْبِلُوا الْقِبْلَةَ وَلَا تَستَدْبِرُوهَا بِبَولٍ وَلَا بِغَائِطٍ وَلٰكِن شَرِّقُوا اَو غَرِّبُوا رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : د حضرت ابو ایوب انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي کله چې لاړ شئ تاسي بیت الخلاء او ورو او غټو بولو ته نو قبلي طرفته مخ مه ګرځوئ او مه ورته شا کوئ نه په ورو بولو او نه په غټو بولو سره لکن لمرخاته طرف ته کیئ او یا لمر پریواته طرف ته ، د دي حدیث روایت الجماعة کړي دي .

{۶۹} وَ عَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَقَد نَهَانَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنْ نَستَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِغَائِطٍ اَوْ بَولٍ اَو اَنْ نَستَنْجِيَ بِاَقَلَّ مِن ثَلَاثَةِ اَحْجَارٍ اَو اَنْ نَستَنْجِيَ بِرَجِيعٍ اَو بِعَظْمٍ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : حضرت سلمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې مونږ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع کړي یو چې د غټو او ورو بولو په وخت کې قبلي ته مخ وارو او یا په ښي لاس استنجاء وکړو او یا د دریو کانړو نه په کمو کانړو استنجا موکړو او یا په خوشئ او یا په هډوکي استنجا موکړو . د دي حدیث روایت مسلم کړي دي

{۷۰} وَ عَنْ اَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عن رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا جَلَسَ اَحَدُكُم عَلَى حَاجَتِهِ فَلَا يَستَقْبِلَنَّ الْقِبْلَةَ وَلَا يَستَدْبِرْهَا رواه مسلم .(۳)

ترجمه : د ابي هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دی چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي کله چې یو د ستاسي نه په قضاء حاجت باندي کیني نو نه دي قبلي ته مخ اړوي او نه دي ورته شا اړوي د دي حدیث

---

(۱) بخاري کتاب الوضوء ج ۱ صـ ۲۶ باب لا تستقبل القبلة .....الخ ، مسلم کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۳۰ باب الاستطابة، ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۳ باب کراهية استقبال القبلة عند ...الخ

(۲) مسلم کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۳۰ باب الاستطابة .

(۳) کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۳۱ باب الاستطابة .

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت مسلم کړي دي

{۷۱} وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَقِيتُ يوماً عَلَى بَيتِ أُخْتِي حَفْصَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَرَأَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدًا لِحَاجَتِهِ مُسْتَقْبِلَ الشَّامِ مُسْتَدْبِرَ الْقِبْلَةِ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه يو ورځ د خپلي خور حضرت حفصي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په کوټه وختم نو ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولید چې حاجت ته ناست وُ په داسي حال کې چې شام طرف ته يې مخ او قبلي طرف ته يې شاوه. د دي حديث روايت الجماعة کړي دي.

{۷۲} عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى نَبِي اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نَسْتَقْبِلَ الْقِبْلَةَ بِبَوْلٍ فَرَأَيتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْبَضَ بِعَامٍ يَسْتَقْبِلُهَا رواه الخمسة الا النسائي و حسنه الترمذي و نَقَلَ عَنِ الْبُخَارِي تصحيحَه.(۲)

ترجمه : حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي دالله منع کړي د دي نه چې د بولو په وخت کې قبلي طرف ته مخ وارړو نو ليدلي دي ما نبي عَلَيْهِ السَّلَام د وفات نه يو کال مخکې چې مخ يې اړولي قبلي ته د دي حديث روايت خمسه وُ کړي مګر نسائي يې روايت نه دي کړي او ترمذي حسن ګڼلي دي او نقل يې کړي دي د بخاري نه د تصحصح د دي حديث.

قَالَ النَّيمَوِي اَلنَّهي لِلتَّنْزِيهِ وَ فِعْلُه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لِلإِبَاحَةِ أَو مخصُوصًا بِهِ جَمعًا بَينَ الأَحَادِيثِ.

ترجمه : نيموي ويلي دي چې نهي او منعه تنزيهي ده او فعل د نبي عَلَيْهِ السَّلَام د پاره د اباحت او د بيان جواز وُ او يا فعل خاص دي په نبي عَلَيْهِ السَّلَام پورې د پاره د جمع په مابين د احاديثو کې.

{۷۳} وَعَنْ مَرْوَانَ الأَصفَرِ قَالَ رَأَيتُ ابنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَاخَ رَاحِلَتَه مُستَقبِلَ القِبلَةِ ثُمَّ جَلَسَ يبُولُ إِلَيهَا فَقُلتُ يا أَبَا عَبدِ الرَّحمٰنِ أَلَيسَ قَد نُهِيَ عَن ذٰلِكَ قَالَ بَلٰى إِنَّمَا نُهِيَ عَن ذٰلِكَ فِي الفَضَاءِ فَإِذَا كَانَ بَينَكَ وَبَينَ القِبلَةِ شَيءٌ يَسْتُرُكَ فَلَا بَأسَ رواه ابو داود وَ آخَرُونَ وَإِسنَادُه حَسَنٌ.(۳)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ۳ باب الرخصة في ذلک، ترمذي ابواب الطهارات ج۱صـ ۹ باب ماجاء في الرخصة في ذلک، نسائي کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۰ باب الرخصة في ذلک في البيوت، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۸ باب الرخصة في ذلک في الكنيف، مسند احمد ج ۲ صـ ۱۲.

(۲) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۳ باب کراهية استقبال القبلة ....الخ، ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۸ باب ماجاء من الرخصة في ذلک، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۸ باب الرخصة في ذلک في الكنيف ...الخ، مسند احمد ج۳ صـ ۳۶۶.

(۳) ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ صـ ۳ باب کراهية استقبال القبلة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : مروان اصفر ویلي دي چې ما ابن عمر رضي الله عنه لیدلي دی چې اوښه یې چوکره قبلي طرف ته یا کیناست او قبلي طرف ته یې تشي بولي وکړي مروان وایي چې ما ورته وویل چې ای ابا عبدالرحمن ایا د دي نه منع نه ده کړي شوي هغه وویل چې ولي نه یې شکه د دي نه په فضاء کې منع کړي شوي ده کله چې ستا او د قبلي ترمنځ یو شي وي چې تا پټوي او پنا کوي نو باک یې نشته. د دي حدیث روایت ابوداؤد او اخرونو کړي دی او اسناد یې حسن دي.

قَالَ النَّيموي هٰذَا اِجتِهَادٌ مِن اِبنِ عُمَرَ رضي الله عنه وَلَم يَرَوا فِي البَابِ عَنِ النَّبِي صلى الله عليه وسلم شَيئًا.

ترجمه : نیموي رحمه الله ویلي دي چې د ابن عمر رضي الله عنه خپل اجتهاد دي او په باب کې د نبي علیه السلام نه په دي باره کې د هیڅ شي روایت نه دي شوي.

{۷۳} وَعَن اَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم اِذَا دَخَلَ الخَلَاءَ قَالَ اَللّٰهُمَّ اِنِّي اَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ رواه الجماعة. (۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دي ده ویلي دي چې وو رسول الله صلى الله عليه وسلم چې کله به داخلیدو (ننوتلو) بیت الخلاء ته نو ویل به یې چې ای الله بې شکه زه پناه نیسم په تا سره د تکلیف رسوونکو نارینه وُ او ښځینه وُ شیطانانو نه. د دي حدیث روایت الجماعة کړي دي.

{۷۵} وَعَن عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَت كَانَ النَّبِي صلى الله عليه وسلم اِذَا خَرَجَ مِنَ الخَلَاءِ قَالَ غُفرَانَكَ رواه الخمسة الا النسائي وصححه ابن خُزَيمَة وابن حِبَّان والحَاكِم وابو حاتم. (۲)

ترجمه : حضرت عائشې رضي الله عنها فرمایلي دي چې وو نبي علیه السلام چې کله به د بیت الخلاء نه واته فرمایل به یې یعني دا دعاء به یې فرمایله چې ای الله زه ستا نه بخښنه غواړم، دا حدیث خمسه وُ

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۲۶ باب ما يقول عند الخلاء، مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۶۳ باب ما يقول اذا اراد الدخول ...الخ، ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲ باب ما يقول رجل اذا دخل الخلاء ترمذي ابواب الطهارة ج۱ صـ ۷ باب ما يقول اذا دخل الخلاء، نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۹ باب القول عند دخول الخلاء، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۶ باب ما يقول اذا دخل الخلاء مسند احمد ج ۴ صـ ۳۶۹.

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۵ باب ما يقول اذا خرج من الخلاء، ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۷ باب ما يقول اذا خرج من الخلاء، ابن ماجة ابواب الطهارة ج۱ صـ ۲۶ باب ما يقول اذا خرج من الخلاء، ابن خزيمة ج۱ صـ ۴۸ رقم الحديث ۹۰، مسند احمد ج ۶ صـ ۲۲۴، مستدرک حاكم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵۸ باب ما يقول اذا خرج من الغائط، صحيح ابن حبان كتاب الطهارة ج ۳ صـ ۲۹۹ برقم ۱۴۴۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت کړي دي مګر نسائي يې روایت نه دي کړي او ابن خزیمه او ابن حبان او حاکم او ابو حاتم صحیح ګڼلي دي.

{۷۶} وَعَنْ اَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُمْسِكَنَّ اَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ بِيَمِيْنِهٖ وَهُوَ يَبُوْلُ وَلَا يَتَمَسَّحُ مِنَ الْخَلَاءِ بِيَمِيْنِهٖ وَلَا يَتَنَفَّسُ فِي الْاِنَاءِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: او د ابي قتاده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي ده ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي ستاسي یو کس دي هم د بولو کولو په وخت کې خپل مخصوص اندام په ښي لاس نه نیسي او نه دي په ښي لاس استنجاء کوي او نه دي د اوبو څکلو په وخت کې په لوڅي کې ساه وباسي د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

{۷۷} وَعَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: اِتَّقُوا اللَّعَّانَيْنِ قَالُوْا وَمَا اللَّعَّانَانِ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اَلَّذِي يَتَخَلَّى فِي طَرِيْقِ النَّاسِ اَوْ فِي ظِلِّهِمْ رواه مسلم.(۲)

ترجمه: د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بیان دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي د دوه وو لعنت ویونکو شیانو نه ځان وساتئ یعني د داسي دوه وو شیانو نه چې د دې لعنت سبب کیږي صحابه کرامو عرض وکړ چې اي د الله تعالی رسوله دوه د دې لعنت والا شیان څه شي دي هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل هغه سړي چې د خلکو د تګ راتګ په لاره کې او د خلکو د سورو په ځای کې غټي او یا وړي بولي کوي. د دي حدیث روایت مسلم کړي دي.

په دې دوو حدیثونو کې دیو څو آدابو بیان:

۱- په ښي لاس سره مخصوص اندام لره نه نیول ۲- ښي لاس سره استنجاء نه کول ۳- دخلکو د تګ راتګ لاره کې او دخلکو یو سوري ته دراجمع کیدو ځای کې استنجاء او بولي نه کول.

{۷۸} وَعَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ الْخَلَاءَ فَاَحْمِلُ اَنَا وَغُلَامٌ اِدَاوَةً مِنْ مَاءٍ وَعَنَزَةً يَسْتَنْجِي بِالْمَاءِ رواه الشيخان.(۳)

ترجمه: د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي ده ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

(۱) بخاري کتاب الوضوء ج۱ صـ ۲۷ باب لا یمسک ذکره بیمینه اذا بال، مسلم کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۳۹ باب الاستطابة.
(۲) مسلم کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۳۲.
(۳) بخاري کتاب الوضوء ج۱ صـ ۲۷ باب حمل العنزة .....الخ، مسلم کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۳۲ باب الاستطابة.

Maktaba Tul Ishaat.com

قضاء حاجت ته تشریف وړي ؤ نو ما او یو هلک د اوبو یوه لوټه او یوه وړه نیزه وروړه هغه په اوبو باندې استنجاء وکړه . د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي .

د کلماتو تحقیق : د "غلام" نه د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وروړ حضرت طلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مراد دی .

د کلماتو تشریح : "خلا یخلوا" دباب نصر په معنی دخان له کیدل دي . "هرقو أو غربو" دا حکم د اهل مدینې والا لپاره دی دکومو چې قبله جنوب په طرف ده . داهل مشرق لپاره حکم دادي "شملوا أو جنبوا" خکه چې اصل مقصود تعظیم دبیت الله دی نه دیو مخصوص جهت

أو نستقبل بر جیع أو عظم : ددې ممانعت په ظاهر کې دوه وجهې دي :

۱ - دبعضې روایاتو مطابق هډوکي دجناتو او خوشئ ددوي دخناورو خوراک دی او دیو روایت مطابق دجناتو هم غذا ده الله تعالی دوارہ خپل اصلي حالت ته اړوي .

۲ - خوشئ پخپله نجس دی او یو شي لره لري کونکي هم نه دی نو څنګه به نجاست زائله کړي . او هډوکي دهموار او مئین کیدو دوجې نه نجاست ختمونکي نه بلکې نور به یې هم زیات کړي او انسان زخمي کولې هم شي .

د "غفرانک" تحقیق : سوال دا کیږي چې په ظاهره په بیت الخلاء کې دننه هیڅ ګناه نه خکاري نو بیا استغفار دڅه لپاره کولې شي؟

جواب : ۱ - په بیت الخلاء کې ظاهري نجاست ته په کتلو سره باطني نجاست په خیال کې راځي کومه چې ګناه ده نو دې لپاره استغفار کیږي .

۲ - دومره وخت کې دڅې ذکر دوجې نه انسان محرومه وي نو په دې خلاف اولی کار باندې استغفار لوستلې کیږي .

۳ - د **غفرانک** معنی ده **هګرانک** یعنې دفراغت په نعمت باندې شکریه ادا کړي شوه عرب خلک دطواف په وخت "**غفرانک لا کفرانک** په معنی د **هګرانک** وائي .

دوه اهمي مسئلې

اولنې مسئله : په بیت الخلاء کې داستقبال او داستدبار حکم ! په دې باره کې څلور اقوال دي :

۱ - داهل ظواهرو په نزد ښار وي یا صحراء تولو خایونو کې استقبال او استدبار دواړه جائز دي .

۲ - امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد ښار وي یا صحراء استقبال جائز دی او استدبار مطلقا ناجائز دی .

۳ - امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد ښار (آبادي) کې استقبال او استدبار دواړه جائز او په کولاو فضا کې دواړه ناجائز .

۴ - جمهور بشمول احناف په نزد ښار وي یا صحراء هر ځاي استقبال او استدبار دواړه ناجائز دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

داهل ظواهرو دليل :- پنځم باب حديث دكوم مطابق حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ داستقبال قبلي نه منع فرمايلي وو ليكن دوفات نه يو كال مخكې ما حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لره دقضاى حاجت په وخت كې چې قبلي طرفته يې مخ وو اوليدو

دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ **دليل** : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لره دقضاى حاجت په وخت كې چې قبلي ته يې مخ وو اوليدو

دامام مالک او دامام شافعي رَحِمَهُمَا اللهُ **دليل** : دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه حديثونه ، په اولني كې مدينه منوره كې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واقعه مذكوره ده او دويم حديث پخپله دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل دى چې په صحرا كې يې اوښ قبلي طرفته كينولو او ددې په اړخ كې يې بولي اوكړي او وې فرمايل چې ممانعت په كولاو فضا كې دى .

دجمهور دلايل : ۱- دحضرت ابو ايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشهور حديث كوم كې چې به هغه فرمايل چې مونږ شام ته لاړو ، هلته بيت الخلا قبلي طرفته جوړې شوې وې ، مونږ دهغه قبلي طرف نه يو اړخ ته كيناستو او مكمل اهتمام نه كيدو باندې مو دالله تعالى نه بخښنه مم اوغوښته (ترمذي شريف) دا واقعه دښار ده .

۲- دباب هغه متعدد احاديث كوم كې چې مطلقا " لاتستقبلوا القبلة ولا تستدبروها بول ولا بغائط" ويلي شوي . په هغې كې دښار او دصحرا هيڅ فرق نه دى كړې شوې .

جوابات :

۱... داهل ظواهرو مستدل حديث دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داكثرو محدثينو په نزد ددوو ضعيف راوي محمد بن اسحاق او ثوبان بن صالح په وجه ضعيف دى ، نو دضعيف حديث سره دصحيح احاديث تقابل څنګه كيداى شي؟ همدارنګې په دې كې هغه احتمالات هم كيدې شي ، كوم چې به په وراندې حديث ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كې بيانيږي.

۲.. دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ ددليل جواب دادې چې دا يو جزئي واقعه ده چې په دې كې دير احتمالات موجود دي ، مثلا (الف) حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په بنه طريقې سره نه وې كتلي بلكې اتفاقي نظر به يې پرې غورځيدلې وې څكه چې په داسې اوقاتو كې يو چاته په غور سره كتل دا بنه نشي ګڼل كيدې خاص كر حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته كتل او بالكل كتونكې واقعې مكمل جائزه اخيستل مشكل دي .(ب) عين ممكنه ده چې استقبال قبله دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصيت وي ديو بل چاد پاره جائز نه وي : څكه چې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فضله پاكه وه او زمكې به راخكله يعنې تيروله به يې او

Maktaba Tul Ishaat.com

حال دا چې ممانعت د فضله ناپاک کیدو په بناء باندې دي .(ج) نهي د کراهت تنزیهي په بناء باندې محمول دي او د حضور ﷺ عمل بیان جواز لپاره وو .

۳... امام مالک او امام شافعي رحمهما الله د حضور اکرم ﷺ داستقبال قبله والا عمل نه استدلال کړې وو د دوی جواب چې اوس تیر شو . او د ابن عمر رضي الله عنه عمل لره یې هم پیش کړې وو . نو ددې جواب دادي :

(الف) ددې روایت په سند کې حسن بن ذکوان موجود دي چې دیر ضعیف راوي دي .

(ب) د مرفوع حدیث په مقابله کې موقوف روایتونه نه پیش کیږي ممکنه ده داد ابن عمر رضي الله عنه خپل اجتهاد وي همدا رنګه دي کې چې د جواز لپاره د وم علت بیان کړې شوې دی ، په کولاو فضا کې هم موندلې کیږي ځکه چې هر ځای غرونه او غټ غټ بوټي رکاوټ موجود وي ، حال دا چې تاسو په کولاو فضا کې د جواز قائله نه یې.

د جمهور و د مسلک جوه ترجیح :

۱- د جمهورو دلائل خصوصا حدیث د ابي ایوب رضي الله عنه اصح ما في الباب او کلي دي حال دا چې د فریق مخالف دلائل جزئي واقعاتو باندې مبني دي .

۲- د جمهور دلایل قولي احادیث او د مقابل دلائل فعلي احادیث دي ، تعارض په وخت قولي احادیث لره ترجیح حاصلیږي .

۳- جمهور دلایل حرمت باندې دلالت کوي او د فریق مخالف دلایل اباحت باندې دلالت کوي ، ترجیح حرمت لره حاصلیږي .

۴- داستقبال او داستدبار د ممانعت اصل وجه د کعبة الله بې حرمتي کیدل دي ، کوم چې په بنار او صحرا کولاو فضا هر ځای کې موجود وي لهذا دواړو کې فرق کول خلاف اصل شو .

د همدې وجوه ترجیح په بناء باندې قاضي ابوبکر د ابن العربي رحمه الله ، ابن القیم رحمه الله حنبلي او ابن حزم د ظاهري کیدو باوجود په دې مسئله کې د جمهور قول اختیار کړې دی .

دویمه مسئله : که بیت الخلاء ته د داخلیدو نه وړاندې دعا لوستل هیر شي نو دننه داخلیدو نه پس یې لوستلې شي او که نه ؟ اقوال په لاندې دول دي :

۱- اما مالک رحمه الله په نزد د شرمګاه بکاره کولو نه مخکې اول په ژبې سره ویل جائز دي .

۲- د جمهور علماء او دائمه ثلاثه په نزد ژبې سره ویل ممنوع دي البته په زړه کې نیت کولې شي.

د امام مالک رحمه الله دلیل : حدیث د انس رضي الله عنه ظاهري الفاظ " اذا دخل الخلاء " یعني لفظ دخول دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دجمهورو جواب : دلفظ دخول معنی اراده دخول ده نه دننه داخلیدل ځکه چې :

۱- دبخاري شریف دیو روایت الفاظ دادي "اذا اراد أن یدخل".

۲- فعل ویل او دفعل کولو اراده مراد اخیستل دعربو په کلام کې مستعمل دی : قال الله (اذا قمتم الی الصلوة) ای اردتم القیام للصلاة.

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَوْلِ قَائِمًا﴾

باب دي په بیان د هغه حدیثونو کې چې په ولاړه دیولو کولو په باره کې راغلي دي :

{۷۹} عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ مَنْ حَدَّثَكُمْ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَالَ قَائِمًا فَلَا تُصَدِّقُوهُ مَا كَانَ يَبُولُ إِلَّا جَالِسًا رواه الخمسة الا ابا داود و اسناده حسن (۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روایت دی دي ویلي دي چې که څوک تاسي ته حدیث بیان کړي چې نبي علیه السلام په ولاړه باندې بولي کړي دي د هغه تصدیق مه کوئ نبي علیه السلام بولي نه دي کړي مګر په ناسته یې کړي .ددي حدیث روایت خمسه وُ کړي دي مګر ابوداؤد نه دي کړي . او اسناد یې حسن دي.

{۸۰} وعن حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أَتَى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُبَاطَةَ قَوْمٍ فَبَالَ قَائِمًا ثُمَّ دَعَا بِمَاءٍ فَجِئْتُهُ بِمَاءٍ فَتَوَضَّأَ رواه الجماعة .(۲)

ترجمه : د حضرت حذیفه رضي الله عنه نه روایت دی ده ویلي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د یو قوم ډیران ته راغې په ولاړه یې بولي وکړي بیا یې اوبه وغوښتي ما ورته اوبه راوړي نو اودس یې وکړ. د دي حدیث روایت جماعت کړي دي .

{۸۱} وعن عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَا بُلْتُ قَائِمًا مُذْ أَسْلَمْتُ رواه البزار وقال الهيثمي رجاله ثقات .(۳)

ترجمه : د حضرت عمر رضي الله عنه نه روایت دی ده ویلي دي د کوم وخت نه چې مې اسلام راوړي په ولاړه مې بولي نه دي کړي د دي حدیث روایت البزار کړي او هیثمي ویلي دي چې ددي راویان ثقه دي .

---

(۱) ترمذي ابواب الطهارت ج۱ صـ ۹ باب النهي عن البول قائما ، نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۱ باب البول في البيت جالسا، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۵ باب في البول قاعدا ، مسند احمد ج۶ صـ ۱۹۲.

(۲) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۳۵ باب البول قائما وقاعدا.

(۳) كشف الاستار عن زوائد البزار ج۱ صـ ۱۳۰ رقم الحديث ۲۴۴ ، مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۰۶ باب البول قائما.

Maktaba Tul Ishaat.com

په دواړو حديثونو کې دفع دتعارض :

دباب حديث عائشه رضي الله عنها کې مطلقا په ولاړه دوړو بولو دکولو نفي ده حالانکه دحديث حذيفه کې په ولاړه دبولو کولو ثبوت دی ؟تطبيق به يې څه داسې وي چې حضرت عائشه رضي الله عنها دخپل علم مطابق دکور عام معمول بيانوي او عادتا په ولاړه دبولو کولو نفي کوي ، او حضرت حذيفه رضي الله عنه دبيو سفر جزئي واقعه بيانوي.

مسئلة الباب : په ولاړه دوړو بولو کولو حکم !

۱- حنابله او مالکيه په نزد په بيو قيد سره بول قائما بغير دځه کراهت نه جائز دی هغه دا چې دمتياز و ځاځکو درالوتلو او دکثف عورت ويره نه وي که ويره وي نو ددوي په نزد بول قائما جائز نه دي .بعضې حضراتو دامام احمد رحمه الله مذهب مطلقا جواز ليکلي دی هغه صحيح نه دی .

۲- حنفيه رحمه الله او شوافع رحمه الله او دجمهورو په نزد بول قائما مطلقا مکروه دي الا بعذر.

دحنابلو او دمالکيو دليل : حديث دحذيفه رضي الله عنه دی .

دجمهور جواب:

۱. دبول قائما جواز اول وو اوس منسوخ شوي دی .۲. نهي په کراهت تنزيهي او دحضور صلى الله عليه وسلم عمل بيان جواز باندې محمول دی .۳. دحضور صلى الله عليه وسلم عمل عذر باندې محمول دی مثلا (الف) دزنګون درد کولو دوجې نه په دغه ځاى کې کيناستل مشکل وو .(ب) ځاى دکيناستو قابل نه وو .

(ج) دمتيازو ځاځکي درالوتو ويره وه .(الدر المنضود باختصار :۱/۱۱۹)

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي الْبَوْلِ الْمُنْقَطِعِ﴾

باب دي په بيان دهغه اوبو کې چې جمع کړې شوي وي

{۸۲} عَنْ بَكْرِ بْنِ مَاعِزٍ قَالَ سَمِعْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ يَزِيدَ رضي الله عنه يُحَدِّثُ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَا يَنْقَعُ بَوْلٌ فِي طَسْتٍ فِي الْبَيْتِ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ لَا تَدْخُلُ بَيْتًا فِيهِ بَوْلٌ مُنْتَقَعٌ وَلَا تَبُولَنَّ فِي مُغْتَسَلِكَ

رواه الطبراني في الاوسط وَقَالَ الهيثمي اسناده حسن .(۱)

ترجمه : د بکر بن ماعز نه روايت دی ده ويلي دي چې ما د عبدالله بن يزيد نه اوريدلي چې د نبي عليه السلام نه يې حديث بيانولو چې نبي عليه السلام فرمائلي دي د کور په لوخي کې دي بولي جمع نه کړي شي

---

(۱) مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ ص ۲۰۲ باب ما جاء عن النهائي فيه نقلا عن الطبراني .

Maktaba Tul Ishaat.com

بې شکه چې هغه کور ته ملائکې نه ننوخي کوم کور کې چې جمع کړې شوې بولې وي او نه په خپله غسلخانه کې هم بولې مه کوه . د دې حدیث روایت په اوسط طبراني کې کړې دي او هیثمي ویلي دي اسناد یې حسن دي

{۸۳} و عن أُمَيْمَةَ بِنتِ رُقَيقَةَ عَن أُمِّهَا قَالَت كَانَ لِلنَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدَحٌ مِن عِيدَانَ (۱) تَحتَ سَرِيرِهِ كَانَ يَبُولُ فِيهِ بِاللَّيلِ رواه ابوداود والنسائي وابن حبان والحاكم واسناده ليس بالقوي .(۱)

ترجمه : د اُمیمه بنت رُقیقه نه روایت دي د خپلې مور نه روایت کړي دي ویلي دي چې د نبي علیه السلام د پاره د لرګي نه جوړ شوي لوخي ؤ او دکټ لاندې به ورته اینسي ؤ چې هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به پکې د شپې بولي کولې . دې حدیث روایت ابوداود ، نسائي ، ابن حبان او حاکم کړي دي او اسناد یې قوي نه دي

ترجمة الباب نه غرض : د مصنف غرض د دې باب نه بول في الاناء لره ثابتول دي ،ممکنه ده چې چاته به دا شبه وي چې په لوخي کې بولې کول صحیح نه دي ، لیکن د ضرورت او د عذر احکام جدا وي . لهذا ضرورةً شرعاً دي لره جائز او ګرځولې شو .

په دوو حدیثونو کې دفع دتعارض :په اولني حدیث کې هغه لوخي چې بولي په کې کړې شوي وي دنه ایخودلو حکم دې حال دا چې په دویم حدیث کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل د دې په اباحت او جواز باندې دلالت کوي نو د دې تعارض لرې کولو یو څو توجیهات کړې شوي دي :

۱. تر ډیر وخت پورې نجاست او ګندګي په کور کې د ساتلو ممانعت دي که شپې بولي او کړې او سحر دي لره او غورزوي نو دا په ممانعت کې داخل نه دي .

۲. د خاص عذر په وخت د دې اجازت دي په عام حالاتو کې ممنوع دي .

۳. د انبیاء کرام علیهم السلام فضلات پاک وي لهذا ممکنه ده چې داد حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصیت وي

﴿باب موجبات الغسل﴾

د غسل دواجبوونکو شیانو باب :

{۸۴} عن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنتُ رَجُلًا مَذَّاءً فَسَأَلتُ النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ فِي المَذْيِ الوُضُوءُ وَفِي المَنِيِّ الغُسلُ رواه احمد وابن ماجه والترمذي وصححه .(۲)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۵ باب في الرجل يبول ليلاً ، نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۴ باب البول في الاناء .

(۲) ترمذي ابواب الطهارت ج۱ ص ۲۱ باب ماجاء في المذي والمني،ابن ماجة ابواب الطهارة ص ۳۹ باب الوضوء من المذي،مسند احمد ج۱ ص ۸۷

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې زه يو سړي وم چې ډيره مذي به راته تللله نو ما د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پوښتنه وکړه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائيل چې په مذي کې اودس او په مني کې غسل دي د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ ، ابن ماجه او ترمذي کړي دي او ترمذي صحيح ګنړلي دي

{۸۵} عن ابي سعيد الخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّه قَالَ إِنَّمَا الْمَاء مِنَ الْمَاء رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي دي چې اوبه د اوبه نه دي يعني د مني نه غسل دي مقصد دا دي چې د مني په خروج سره غسل واجب دي د دي حديث روايت مسلم کړي دي

{۸۶} و عن عُتبَانَ بْنِ مَالِكِ الْأَنْصَارِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يا نبي الله إِنِّي كُنْتُ مَعَ أَهْلِي فَلَمَّا سَمِعْتُ صَوْتَكَ أَقْلَعْتُ فَاغْتَسَلْتُ فَقَالَ رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمَاء مِنَ الْمَاء رواه احمد و قال الهيثمي اسناده حسن .(۲)

ترجمه : د حضرت عتبان بن مالک الانصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته عرض وکړو چې اي دالله رسوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه د خپل اهل سره وم خو کله مې چې سنا سې اواز واورید نو جدا شوم تري او غسل مې وکړ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اوبه د اوبو نه دي ، يعني د منې د وجهې نه غسل واجب دي ، د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او هيثمي ويلي دي چې اسناد يې حسن دي .

{۸۷} و عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا جَلَسَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ جَهَدَهَا فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ رواه الشيخان و زاد مسلم و احمد وَإِنْ لَمْ يُنْزِلْ .(۳)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ فرمايلي دي چې کله يو سړي کينې د خلورو خانګو ترمينځ بيا خپل عمل په پوره کوشش سره سرته ورسوي يعني جماع وکړي نو غسل واجب شو د دي حديث روايت شيخينو کړي دي او مسلم رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ د وان لم ينزل لفظ زيات

---

(۱) مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۵ باب بيان ان الجماع .....الخ .

(۲) مسند الحارث ج۲ صـ ۳۴۲ ، مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۴۴ باب في قوله الماء من الماء .

(۳) بخاري كتاب الغسل ج۱ صـ ۴۳ باب اذا التقى الختانان ...الخ ، مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۶ باب بيان ان الجماع ...الخ ، مسند احمد ج۲ صـ ۳۴۷ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي دي

شعب اربع نه مراد دواړه خپي او دواړه لاسونه يادواړه خپي دواړه وربونه دي .

{۸۸} و عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ مَسَّ الْخِتَانُ الْخِتَانَ فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ رواه احمد و مسلم والترمذي و صححه .(۱)

ترجمه : او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي کله چې سړي د ښځي د څلورو ځانګونو ترمنځ کښې بيا شرمګاه د شرمګاه سره ملاو کړي نو غسل واجب شو د دي حديث روايت احمد رحمه الله . مسلم رحمه الله او ترمذي کړي دي او ترمذي صحيح ګرځولي دي

{۸۹} و عن عبدِ الرَّحْمٰنِ بنِ عَائِذٍ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ مُعَاذَ بنَ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَمَّا يوجِبُ الْغُسْلَ مِنَ الْجَمَاعِ وَ عَنِ الصَّلَاةِ فِي الثَّوبِ الْوَاحِدِ وَ عَن مَا يحِلُّ مِنَ الْحَائِضِ فَقَالَ مُعَاذٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سَأَلْتُ رَسولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ذٰلِكَ فَقَالَ إِذَا جَاوَزَ الْخِتَانُ الْخِتَانَ فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ وَ أَمَّا الصَّلَاةُ فِي الثَّوبِ الْوَاحِدِ فَتَوَشَّحْ بِهِ وَ أَمَّا مَا يحِلُّ مِنَ الْحَائِضِ فَإِنَّه يحِلُّ مِنْهَا مَا فَوقَ الْإِزَارِ وَاسْتِعْفَافُه عَنْ ذٰلِكَ أَفْضَلُ رواه الطبراني في الكبير و قال الهيثمي اسناده هذا حسن .(۲)

ترجمه : د عبدالرحمن بن عائذ نه روايت دي ده ويلي چې يو سړي د معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه چې په جماع کې د څه شي نه غسل واجبيږي او په يوه جامه کې يې د مانځه په باره کې پوښتنه او د حائضې ښځې نه څومره نفع اخيستل حلال دي نو حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې ما په دي باره کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه کړيده نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمايل چې کله شرمګاه خاي د شرمګاه نه تجاوز وکړي نو غسل واجبيږي او هر چې په يوه کپړه کې مونځ دي هغه په اوږو واچوه او خوره يې کړه او د حيض والا ښځې نه څه شي حلال دي يې شکه د دي نه مافوق الازار فائده اخيستل جائز دي او خان ساتل تري افضل دي . د دي حديث روايت په کبير کې طبراني کړي دي او هيثمي ويلي دي چې اسناد د دي حديث حسن دي

{۹۰} و عن أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ الْفُتْيَا الَّتِي كَانُوا يقُولُونَ الْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةٌ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ بِهَا فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ أَمَرَنَا بِالْاِغْتِسَالِ . رواه احمد و آخرون و صححه

---

(۱) مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۶ باب بيان الجماع ...الخ ، ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۳۰ باب ماجاء اذا التقى الختانان الخ ، مسند احمد ج ۶ صـ ۴۷ و ج ۶ صـ ۱۱۲ .

(۲) المعجم الكبير ج ۲۰ صـ ۱۰۰ رقم ۱۹۴ ، مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۴۷ باب في قوله الماء من الماء .

Maktaba Tul Ishaat.com

الترمذي .(۱)

ترجمه : د حضرت أبي بن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې شكه هغه فتوى كاتي چې خلكو ويل چې الماء من الماء رخصت و رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اسلام په شروع كې دي ته رخصت ورکړي و بيا يې موټر نه د غسل كولوحكم وكړو د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ او آخرونو كړي دي او ترمذي صحيح ګرځولي دي

د بنځو احتلام او د غسل حكمونه :

{۹۱} وعن أمِّ سَلَمَة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قالَتْ جَاءَتْ أُمُّ سُلَيمٍ امْرَأَة أَبِي طَلْحَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا إلى رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقالَت يا رَسُولَ الله إنَّ الله لا يَسْتَحْيِي مِنَ الحَقِّ هل عَلَى المَرْأَة مِنْ غُسْلٍ إذَا هي احْتَلَمَتْ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَمْ إذَا رَأَتِ المَاءَ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه :دحضرت ام سلمى رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي دي ويلي دي چې د ابو طلحه بنځه ام سُلَيم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغله نو وي ويل چې اي دالله رسوله بې شكه چې الله د حق نه حيا نه كوي كله چې د بنځې احتلام وشي آيا په دي غسل شته نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې هو كله چې اوبه، مني، وګوري د دي حديث روايت شيخينو كړي دي.

{۹۲} و عن خولة بِنْتِ حَكِيمٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أنَّهَا سَأَلَتِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ المَرْأَة تَرَى فِي مَنَامِهَا مَا يَرَى الرَّجُلُ فَقَالَ لَيْسَ عَلَيهَا غُسْلٌ . حَتَّى تُنْزِلَ كَمَا أنَّ الرَّجُلَ لَيْسَ عَلَيهِ غُسْلٌ حَتَّى يُنْزِلَ رواه احمد وابن ماجه والنسائي وابن ابي شيبة و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : د خوله بنت حكيم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي د يوې بنځې په باره كې پوښتنه وكړه چې بنځه په خوب كې هغه څه وګوري كوم څه چې سړي وينې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې څو پورې يې انزال نه وي شوي غسل پرې نشته لكه څنګه چې په سړي غسل نشته ترڅو پورې چې يې انزال نه وي شوي ، د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ ابن ماجه، نسائي او ابن ابي شيبه كړي دي او اسناد يې صحيح دي

---

(۱) ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۳۱ باب ماجاء ان الماء من الماء ، مسند احمد ج ۵ صـ ۱۱۵.

(۲) بخاري كتاب الغسل ج۱صـ ۷۳ باب اذا احتلمت المرأة ، مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۴۶ باب وجوب الغسل على المرأة .....الخ .

(۳) مسند احمد ج ۶صـ ۴۰۹ ،ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۴۵ باب في المرأة ترى في منامها...الخ ، نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۴۲ باب غسل المرأة ترى في منامها...الخ مصنف ابن ابي شيبة كتاب الطهارات ج۱ صـ ۸۰ باب في المرأة ترى في منامها.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۹۳} و عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ فَاطِمَةَ بِنْتَ اَبِي حُبَيْشٍ كَانَتْ تُسْتَحَاضُ فَسَاَلَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ذٰلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ فَاِذَا اَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَاِذَا اَدْبَرَتْ فَاغْتَسِلِي وَ صَلِّي رواه البخاري (۱)

ترجمه: او د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت دي چې په تحقیق فاطمه بنت ابي حبیش د استحاض په بیماري اخته وه هغې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې دا یو رګ دي او حیض نه دي کله چې حیض راشي نو مونځ پریږده او کله چې حیض تیر شي نو غسل وکړه او مونځ وکړه د دي حدیث روایت بخاري کړي دي

ځلور فقهي مسائل

اولنی مسئله: د احتلام د موجب غسل کیدو لپاره وتل د مني ضروري دي که سړي وي یا ښځه.

دویمه مسئله: انقطاع حیض باندې د ښځې ذمه غسل فرض دی دا د واړه مسئلې متفق علیه دي.

دریمه مسئله: په جماع کې د خروج مني (انزال) نه غسل فرض دی دا متفقه حکم دی لیکن اکسال (ادخال حشفه بغیر د انزال) نه غسل فرض دي یا نه؟ په دې مسئله کې دوه قولونه دي:

۱- د داود ظاهري په نزد اکسال سره غسل لازم نه دی. ۲- جمهور علماء سلفا وخلفا غسل لره لازم ګرځوي.

د داود ظاهري دلیل: حدیث د ابو سعید خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ "الماء من الماء" یعني د غسل وجوب د خروج مني نه دي.

د جمهور دلیل: مشهور حدیث "اذا جاوز الختان الختان فقد وجب الغسل" او د باب حدیث نمبر ۸۸، ۸۹.

د واقعي بیان او د داؤد ظاهري جواب:

په صحابه کرامو کې د انصارو یو جماعت د اکسال نه د عدم وجوب د غسل قائل وو، د هغو په نظر کې "الماء من الماء" والا حدیث وو، او د مهاجرینو د یو جماعت په نظر کې "اذا التقى الختانان.. الخ" او "اذا جاوز الختان الختان ..... الخ" وو حکه هغوي د وجوب غسل قائل وو یوه ورځ د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په مجلس کې بحث شروع وو او دي دواړو جماعتونو په دي باندې اختلاف

---

(۱) البخاري كتاب الوضوء ج۱ ص ۳۶ باب غسل الدم

Maktaba Tul Ishaat.com

کولو ، کوم باندې چې حضرت عمر رضي الله عنه داختلاف ختمیدلو دپاره په دې مسئله باندې امهات المومنین بالخصوص حضرت عائشه رضي الله عنها ته یو کس اولیږلو او دهغې نه یې دمسئلې تحقیق وغوښت حضرت عائشې رضي الله عنها وفرمایل " قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ بَيْنَ شُعَبِهَا الْأَرْبَعِ ثُمَّ مَسَّ الْخِتَانُ الْخِتَانَ فَقَدْ وَجَبَ الْغُسْلُ " چنانچې حضرت عمر رضي الله عنه دې حدیث لاندې اکسال سره دوجوب غسل فیصله صادره کړه دحضرت عمر رضي الله عنه دفیصلې نه پس اکسال سره دوجوب غسل باندې اجماع شوې وه بغیر دداود ظاهري او دده داختلاف هیڅ پرواه ونشته .

باقي دجمهور دطرف نه "الماء من الماء" بې شمیره جوابات ورکړل شوي دي ، مثلا :

۱.... دا حدیث اوس منسوخ دی دوجې دحدیث دابي بن کعب : " اَلْمَاءُ مِنَ الْمَاءِ رُخْصَةٌ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ بِهَا فِي أَوَّلِ الْإِسْلَامِ ثُمَّ أَمَرَنَا بِالْإِغْتِسَالِ " .

۲.... ابن عباس رضي الله عنه په وینا دا حکم صرف داحتلام لپاره دی او اوس هم باقي دی .

۳... مباشرت في مادون الفرج باندې محمول دی کوم کې چې بالاتفاق انزال شرط دی .

ځلورمه مسئله : په حالت دحیض کې دښځې نه داستمتاع حد څه دی ؟

ددې دري صورتونه دي ، دکوم حکم چې په لاندې دول دی :

۱. مباشرت فاحشه یعني جماع ، دا بالاتفاق حرام دي .

۲. دنوم نه بره او دګوندو نه لاندې بالاتفاق جائز دي .

۳. دنوم او ګوندو په منځ کې مختلف فیه ده امام احمد رحمه الله او محمد رحمه الله په نزد جائز دي او دائمه ثلاثه و ابو یوسف رحمه الله په نزد ناجائز .

امام احمد رحمه الله او دامام محمد رحمه الله دلیل : حدیث " اصنعوا کل شئ الا النکاح " .

دجمهورو دلیل : حدیث معاذ رضي الله عنه " یحل منها مافوق الازار " او دامام احمد رحمه الله او دامام محمد رحمه الله ددلیل جواب دادې چې په حدیث کې دجماع نه مراد دواعي دجماع ده لهذا جماع او دواعي دواړه حرام شو .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿باب صِفَةِ الْغُسْلِ﴾

باب دي په بيان د غسل د صفت په باره کې :

{۹۴} عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا اغْتَسَلَ مِنَ الْجَنَابَةِ يَبْدَأُ فَيَغْسِلُ يَدَيْهِ ثُمَّ يُفْرِغُ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ فَيَغْسِلُ فَرْجَهُ ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ يَأْخُذُ الْمَاءَ فَيُدْخِلُ أَصَابِعَهُ فِي أُصُولِ الشَّعْرِ حَتَّى إِذَا رَأَى أَنْ قَدِ اسْتَبْرَأَ حَفَنَ عَلَى رَأْسِهِ ثَلَاثَ حَفَنَاتٍ ثُمَّ أَفَاضَ عَلَى سَائِرِ جَسَدِهِ ثُمَّ غَسَلَ رِجْلَيْهِ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي دي ويلي دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنابت نه غسل کاوه نو د لاسونو د وينځلو نه به يې شروع کوله بيا به يې د خپل ښي لاس نه په چپ لاس اوبه اړولې استنجاء به يې کوله بيا به يې د لمانځه د اوداسه په شان اودس کاوه بيا به يې اوبه راواخيستې نو گوتې مبارکې به يې د ويښتو بيخونو کې ننويستې تردې پورې چې اوبه يې ليده او پوه به شو چې د ويښتو بيخونه لامده شو په سر مبارک به يې دري لپې اوبه واړه ولې بيا به يې په ټول مبارک بدن اوبه اويولې بيا به يې مبارکې خپې ووينځلې . دا حديث شيخينو روايت کړې دي .

{۹۵} وعن ميمونة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ وَضَعْتُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غُسْلًا فَسَتَرْتُهُ بِثَوْبٍ وَصَبَّ عَلَى يَدَيْهِ فَغَسَلَهُمَا ثُمَّ صَبَّ بِيَمِينِهِ عَلَى شِمَالِهِ فَغَسَلَ فَرْجَهُ فَضَرَبَ بِيَدِهِ الْأَرْضَ فَدَلَكَهَا ثُمَّ غَسَلَهَا فَتَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ وَغَسَلَ وَجْهَهُ وَذِرَاعَيْهِ ثُمَّ صَبَّ عَلَى رَأْسِهِ وَأَفَاضَ عَلَى جَسَدِهِ ثُمَّ تَنَحَّى فَغَسَلَ قَدَمَيْهِ فَنَاوَلْتُهُ ثَوْبًا فَلَمْ يَأْخُذْهُ فَانْطَلَقَ وَهُوَ يَنْفُضُ يَدَيْهِ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : د حضرت ميمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي دې ويلي دي چې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته د غسل د پاره اوبه کينودي او په يوه کپړه او جامه مې ورته پرده وکړه، او په دواړو لاسونه يې اوبه واړه ولې نو وې ووينځل بيا يې د ښي لاس نه چپ لاس باندې اوبه واړه ولې نو استنجايې وکړه نو بيا يې خمکه په لاس ووهله او په خمکه پورې يې ومړه بيا يې لاس ووينځه نو مضمضه يې وکړه يعنې خولې ته يې اوبه وا، جولې او پوزو ته يې اوبه واچولې او مبارک مخ او لاسونه يې ووينځل بيا يې په مبارک سر اوبه واړولې او په ټول مبارک بدن يې اوبيولې بيا يو طرفته شو او مبارک قدمونه يې ووينځل نو ماورته کپړه او څه جامه ورکړه نو

---

(۱) بخاري كتاب الغسل ج۱ص ۳۹ باب الوضوء قبل الغسل،مسلم كتاب الحيض ج۱ص ۱۴۷ باب صفة غسل الجنابة .

(۲) بخاري كتاب الغسل ج ۱ص ۴۱ باب نفض اليد عن غسل الجنابة ، مسلم كتاب الحيض ج۱ص ۱۴۷ باب صفة غسل الجنابة .

Maktaba Tul Ishaat.com

وايي نخسته نو روان شو په داسي حال کې چې د مبارکو لاسونو نه يې اوبه څاڅيدلې د دې حديث روايت شيخينو کړيدي

{۹۶} و عن اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ قُلْتُ يَارَسُوْلَ اللّٰهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أَشُدُّ ضَفْرَ رَأْسِي أَفَأَنْقُضُهُ لِغُسْلِ الْجَنَابَةِ فَقَالَ لَا إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَنْ تَحْثِي عَلٰى رَاْسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ ثُمَّ تُفِيضِينَ عَلَيْكِ الْمَاءَ فَتَطْهُرِينَ

رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت ام سلمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وويل چې اي دالله رسوله زه يو داسي ښځه يم چې د خپل سر ويښته مضبوطي سره کوځنې کوم آيا زه هغه وسپرم د جنابت د غسل لپاره نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې نه بې شکه کافي او بس ده تا لره چې واړوې او توي کړي په خپل سر باندې دري لپې اوبه او بيا وبيوې په خپل خان باندې اوبه نو پاکه به شې د دې حديث روايت مسلم کړي دي

{۹۷} و عن عائشة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَهَا وَ كَانَتْ حَائِضًا اُلْقُضِي شَعْرَكِ وَاغْتَسِلِي

رواه ابن ماجه و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دي چې ديته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په داسي حال کې چې دا حائضه وه خپل ويښته وسپره او غسل وکړه . د دې حديث روايت ابن ماجه کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۹۸} و عن عُبَيْدِ بْنِ عُمَيْرٍ قَالَ بَلَغَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَأْمُرُ النِّسَاءَ إِذَا اغْتَسَلْنَ أَنْ يَنْقُضْنَ رُؤُسَهُنَّ فَقَالَتْ يَا عَجَبًا لِابْنِ عُمَرَ هٰذَا يَأْمُرُ النِّسَاءَ اِذَا اغْتَسَلْنَ أَنْ يَنْقُضْنَ رُؤُسَهُنَّ أَفَلَا يَأْمُرُهُنَّ أَنْ يَحْلِقْنَ رُؤُسَهُنَّ لَقَدْ كُنْتُ أَغْتَسِلُ أَنَا وَرَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ إِنَاءٍ وَاحِدٍ وَمَا أَزِيدُ عَلٰى أَنْ أُفْرِغَ عَلٰى رَأْسِي ثَلَاثَ إِفْرَاغَاتٍ رواه مسلم .(۳)

ترجمه : د حضرت عُبيد بن عمير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي چې حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه خبر ورسيد چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ښځو ته امر کوي چې خپل سرونه د غسل په وخت کې وسپړي نو هغې وفرمايل چې آيا ښځو ته په دې امر نه کوي چې ښځې دې سرونه وخريږي بې شکه ما او رسول الله

(۱) مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۴۹ باب حكم ضفائر المغتسلة .

(۲) ابن ماجة ابواب الطهارة ج۱ صـ ۴۷ باب في الحائض كيف تغتسل .

(۳) مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵۰ باب حكم ضفائر المغتسلة .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يوه لوښي نه غسل کولو حال دا چې ما په سر باندې د دريو لپو اړولو نه زياتوالي نه دي کړي د دي حديث روايت مسلم کړي دي

{۹۹} وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَتَوَضَّأُ بَعْدَ الْغُسْلِ رواه الخمسة و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي دي ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د غسل نه روسته اودس نه دي کړي د دي حديث روايت الخمسه و کړي دي او اسناد يې صحيح دي

{۱۰۰} و عن أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَطُوفُ عَلَى نِسَائِهِ بِغُسْلٍ وَاحِدٍ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ به په خپلو بيبيانو باندې په يوه غسل سره طواف او چکر لګاوه يعني د دې چکر او طواف په اخر کې به يې يو غسل کاوه

{۱۰۱} وَعَنْ أَبِي رَافِعٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَوْلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طَافَ عَلَى نِسَائِهِ فِي لَيْلَةٍ فَاغْتَسَلَ عِنْدَ كُلِّ امْرَأَةٍ مِنْهُنَّ غُسْلًا فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ لَوِ اغْتَسَلْتَ غُسْلًا وَاحِدًا فَقَالَ هٰذَا أَطْهَرُ وَأَطْيَبُ رواه احمد و آخرون و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : د ابي رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ازاد کړي شوي غلام وو ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په يوه شپه کې په مطهرو ازواجو باندې ګردش او دوره کوله د بيبيانو د هري يوې بې سره به يې غسل کاوه نو ما ورته وويل چې اي دالله رسوله که يو غسل دې کړي وي نو وي فرمايل چې دا اطهر او اطيب دي. د دې حديث روايت ابن احمد او اخرون کړي دي او اسناد يې حسن دي.

دغسل سره متعلق اته مسائل

اولنی مسئله : دغسل فرائض څه دي ؟ په دې سلسله کې دري اقواله دي :

۱... د حنفيه په نزد دغسل فرائض دري دي : (۱) کلي کول .(۲) پوزه کې اوبه اچول .(۳) پوره بدن باندې اوبه بيول.

۲... دامام شافعي او د احمد رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد دوه دريو فرائضو نه علاوه نيت کول هم فرض دي.

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۳ باب الوضوء بعد الغسل ، ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۳۰ باب في الوضوء بعد الغسل ، نسائي کتاب الغسل والتيمم ج۱ صـ ۷۳ باب ترک الوضوء بعد الغسل ، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۴۳ باب في الوضوء بعد الغسل ، مسند احمد ج ۶ صـ ۴۸ .

(۲) مسلم کتاب الغسل ج۱ صـ ۱۴۴ باب جواز نوم الجنب .

(۳) مسند احمد ج ۶ صـ ۳۹۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳.. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد دمذکوره څلورو فرائضو نه علاوه دلک (مړل) هم فرض دي.

دویمه مسئله : دغسل په شروع کې داودس حکم :

دجمهورو په نزد دا اودس سنت او دداود ظاهري په نزد واجب دی.

دریمه مسئله : دغسل په شروع کې په اودس کې خپې کله وینځل پکار دي ؟

دفع تعارض : په دې سلسله کې په باب کې دوه حدیثونه وارد دي یو حدیث دعائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کوم کې چې " وضوئه للصلاة" دلفظ نه معلومیږي چې خپې هم دې سره سره وینځل پکار دي او دویم حدیث دمیمونه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کوم کې چې "ثم تنحى فغسل قدميه " دجملې نه معلومیږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وروسته بیا خپې اوینځلې ، اوس دتعارض ددفع کولو په سلسله کې دفقهاء اقوال او دلیلونه په لاندې ډول دي.

(۱) امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد داودس په وخت کې خپې وینځل پکار دي دا حضرات حدیث دعائشې رضي الله عنها " لم يتوضأ وضوئه للصلاة" لره ترجیح ورکوي.

(۲) داحنافو په نزد ددواړو حدیثونو مفهوم باندې بطور تطبیق عمل افضل دی هغه داسې که په دې ځاې باندې اوبه جمع کیږي نو پس دفراغت نه په یو اوچت ځاې باندې دې اودریږي او خپې دې اوینځي ورنه په وخت داودس کې دوینځي.

څلورمه مسئله : دغسل نه مخکې په اودس کې دسر دمسح حکم :

داکثر روایاتو پیش نظر ائمه اربعه او جمهور دسر دمسح قائل دي لیکن که چا په وخت داودس مسح اونکړه نو په غسل کې پوره بدن باندې اوبه ییول کافي دي.

پنځمه مسئله : داودس نه پس دتولیه(دست پاک) حکم او دفع دتعارض:

دباب حدیث میمونة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا" فناولته ثوبا فلم يأخذه " نه معلومیږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دتولیه په میلاویدو باندې هم دهغې استعمال اونکړو بلکې خپل مبارک لاسونه یې او څنډل او روان شو او حدیث دعائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کالت لرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خرقة ينشف بها بعد الوضوء. او حدیث دمعاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " كان لرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نشافة ينشف بها غسالة وجهه "مطابق د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس دغسل او داودس نه د اعضاء وچه ولو لپاره یوه تولیه مخصوص وه ، د جمهورو په نزد تطبیق دادي چې دتولیه استعمال جائز او مباح دي (كما في رحمة الأمة ص:۱۶) او په حدیث میمونه کې تولیه نه اخیستل بیان جواز باندې محمول دي یا د ډیرې والي دحاصلولو په غرض یې داسې وکړ.

Maktaba Tul Ishaat.com

شپږمه مسئله : په غسل کې د نبغې مضفور (ترلې شوې ویښتانو) حکم په دې سلسله کې اقوال په لاندې دول دي :

(۱) امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد حیض او نفاس کې په غسل ددې کولاوول ضروري دي او په غُسل جنابت کې ضروري نه دي .

(۲) دائمه ثلاثه په نزد فقط دویښتانو ویخونو ته اوبه رسول او په خه طریقې سره لامده کول کافي دي .

دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ دلیل : حدیث دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا (نمبر ۹۷) "**القضي شعرک واغتسلي**" .

دائمه ثلاثو دلیل :

حدیث دام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا " **إِنَّمَا يَكْفِيكِ أَن تَحْثِي عَلَى رَاسِكِ ثَلَاثَ حَثَيَاتٍ** " او حدیث دعائشه رضي الله عنها (نمبر ۹۸)

" **وَمَا أَزِيدُ عَلَى أَنْ أُفْرِغَ عَلَى رَاسِي ثَلَاثَ إِفْرَاغَاتٍ** " کوم کې چې هغوي دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې په دې مسئله کې نکیر هم کړې دی .

دفع دتعارض : دفریقینو دحدیث په مینځ کې دتطبیق صورت دادې چې دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ مستدل حدیث عائشه رضي الله عنها او استحباب باندې او نورو حدیثونو نړه بیان جواز باندې محمول کړې شي چونکه نبغې ته د کمځئ شوې سر په کولاوولو کې مشقت وي نو ځکه دهغوي په حق کې تخفیف او کړې شو .

اوومه مسئله : دغسل نه پس اودس بالاتفاق مستحب دي واجب نه دي .

اتمه مسئله : مابین الجماعین دغسل حکم

دفع دتعارض : یو ځل دجماع نه پس که دویم ځل قصد وي نو هغې لپاره غسل کول ضروري نه دي لکه څنګه چې دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (نمبر ۱۰۰) کې مذکور دي ، هو مستحب دي لکه څرنګه چې دابو رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث کې مذکور دي .

﴿بَابُ حُكمِ الْجُنُبِ﴾

باب دي په بیان دحکم د جنبي کې :

{۱۰۲} عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَهُوَ جُنُبٌ غَسَلَ فَرْجَهُ وَ

Maktaba Tul Ishaat.com

تَوَضَّأْ وُضُوءَهُ لِلصَّلَاةِ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دي چې ویلي دي چې کله به نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د جنابت په حالت کې د خوب اراده وفرمایله نو استنجاء به یې وکړه او د مانځه د اودس په شان به یې اودس وکړ. د دې حدیث روایت جماعت کړي دي .

{۱۰۳} وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ اَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ يَارَسُولَ اللهِ اَيَرْقُدُ اَحَدُنَا وَهُوَ جُنُبٌ قَالَ نَعَمْ اِذَا تَوَضَّأَ رواه الجماعة .(۲)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې آیا زمونږ کوم کس د جنابت په حالت کې خوب کولې شي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اوفرمایل چې هو کله چې اودس وکړي . د دې حدیث روایت جماعت کړي دي .

{۱۰۴} وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ يَاسِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَخَّصَ لِلْجُنُبِ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَاْكُلَ اَوْ يَشْرَبَ اَوْ يَنَامَ اَنْ يَتَوَضَّأَ وُضُوئَهُ لِلصَّلَاةِ رواه احمد والترمذي و صححه .(۳)

ترجمه : د حضرت عمار بن یاسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ هغه جنب ته چې د خوراک ځښاک او خوب اراده وکړي رخصت ورکړي چې د مانځه د اودس په شان اودس وکړي ، د دې حدیث روایت احمد رَحِمَهُ اللهُ او ترمذي کړي دي او صحیح یې ګڼلې دي .

{۱۰۵} وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَنَامَ وَهُوَ جُنُبٌ تَوَضَّأَ وَاِذَا اَرَادَ اَنْ يَاْكُلَ اَوْ يَشْرَبَ قَالَتْ غَسَلَ يَدَيْهِ ثُمَّ يَاْكُلُ اَوْ يَشْرَبُ رواه النسائي و اسناده صحيح .(٤)

ترجمه : د ام المؤمنین حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت دي چې ویلي دي کله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنابت په حالت کې د اوده کیدو اراده وفرمایله نو اودس به یې وکړ او کله به یې چې

---

(۱) بخاري کتاب الغسل ج۱ صـ ۴۳ باب الجنب يتوضاء ....الخ ، مسلم کتاب الحيض ج۱ صـ ۱۴۴ باب جواز نوم الجنب ، ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۷۹ باب الجنب يأكل ، ترمذي ابواب الطهارة ج۱ صـ ۳۳ .

(۲) بخاري کتاب الغسل ج۱ صـ ۴۳ باب الجنبي يتوضاء .....الخ ، مسلم کتاب الحيض ج۱صـ ۱۴۴ باب جواز نوم الجنب ، ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۹ باب الجنب يأكل ، ترمذي ابواب الطهارة ج۱ صـ ۳۲ باب في الوضوء للجنب اذا اراد ان ينام ، نسائي کتاب الطهارة ج۱ صـ ۵۰ باب وضوء الجنب اذا اراد ان ينام ، ابن ماجة ابواب الطهارات صـ ۷۴ باب من قال لا ينام الجنب حتى يتوضاء .....الخ ، مسند احمد ج۱ صـ ۱۷ .

(۳) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱صـ ۲۹ باب من قال الجنب يتوضاء ، مسند احمد ج ۴ صـ ۳۲۰ .

(٤) نسائي کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۰۵ باب اقتصار الجنب على غسل يديه .....الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د خوراک څښاک اراده وفرمایله نو ام المؤمنین فرمایلي دي چې مبارک لاسونه به يې وويڼځل او بيا به يې خوراک څښاک کاوه . د دي حديث روايت نسائي کړي او اسناد يې صحيح دي .

{۱۰۶} وَعَنهَا قَالَت أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا أَرَادَ أَن يَطعَمَ وَهُوَ جُنُبٌ غَسَلَ يَدَيهِ ثُمَّ يَطعَمُ

رواه ابن خزيمة و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی دي ويلي دي کله به چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام د جنابت په حالت کې د خوراک اراده وفرمايله نو لاسونه به يې ووينځل بيا به يې خوراک کاوه . د دي حديث روايت ابن خزيمه کړي او اسناد يې صحيح دي .

{۱۰۷} وَعَن عَلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَدخُلُ المَلَائِكَةُ بَيتًا فِيهِ صُورَةٌ وَلَا كَلبٌ وَلَا جُنُبٌ رواه ابوداود والنسائي و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی ده ويلي دي چې هغه کور ته ملائکې نه داخليږي په کوم کورکې چې تصويرونه او سپي او جنب سړي وي . د دي حديث روايت ابوداؤد او نسائي کړي او اسناد يې حسن دي .

{۱۰۸} وَعَنهُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقرِئُنَا القُرآنَ مَالَم يَكُن جُنُبًا . رواه الخمسة و حسنه الترمذي و صححه ابن حبان و آخرون .(۳)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته د قرآن کريم تعليم راکاوه ترڅو به چې جنب نه وُ .

دي حديث روايت الخمسه وُ کړي او ترمذي حسن ګڼلي او ابن حبان صحيح ګڼلي دي او نورو هم .

{۱۰۹} وَعَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَت قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَا أُحِلُّ المَسجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا

---

(۱) صحيح ابن خزيمة ج۱ص ۱۰۹ رقم الحديث ۲۱۸ .

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ ص ۳۰ باب في الجنب يؤخر الغسل ، نسائي كتاب الطهارة ج۱ص ۵۱ باب في الجنب اذا لم يتوضأ .

(۳) ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ ص ۳۰ باب في الجنب يقرأ القرآن ، ترمذي ابواب الطهارة ج۱ ص ۳۸ باب ماجاء في الرجل يقرأ القرآن ...الخ ، نسائي كتاب الطهارة ج۱ ص ۵۲ باب حجب الجنب من قرأة القرآن ، ابن ماجة ابواب الطهارة ص۴۴ باب ماجاء في قراءة القرآن على غير طهارة ، مسند احمد ج۱ص ۸۳، ابن حبان ج ۳ ص ۳۱ برقم ۷۹۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

لِجُنُبٍ رواه ابوداود و آخرون و صححه ابن خزيمة .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي هغې ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي زه مسجد ته داخليدل د حائضې د پاره حلال نه ګڼم او نه د جنب کس د پاره د دي حديث روايت ابوداود او آخرونو کړيدي او ابن خزيمه صحيح ګڼلي دي.

(۱۱۰) وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَقِيَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا جُنُبٌ فَأَخَذَ بِيَدِي فَمَشَيْتُ مَعَهُ حَتَّى قَعَدَ فَانْسَلَلْتُ فَأَتَيْتُ الرَّحْلَ فَاغْتَسَلْتُ ثُمَّ جِئْتُ وَهُوَ قَاعِدٌ فَقَالَ أَيْنَ كُنْتَ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ فَقُلْتُ لَهُ فَقَالَ سُبْحَانَ اللهِ إِنَّ الْمُؤْمِنَ لَا يَنْجُسُ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مخامخ شوم په داسي حال کې چې زه جنب وم نو زه يې د لاس نه ونيوم نو زه ورسره روان شوم تر دي چې هغه کيناست نو زه خلاص او ازاد شوم نو راغلم بارته پس غسل مې وکړ بيا ورغلم او هغه ناست وُ نو وې فرمايل چې اي ابا هريره چرته وې نو ما هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته حال بيان کړ نو وې ويل سبحان الله بې شکه مؤمن نه پلتيږي د دي حديث روايت شيخينو کړي دی.

د جنابت متعلق مسائل

اولنې مسئله:په غسل جنابت کې بلاوجه تاخير مناسب نه دي ، او جنبي حکما ناپاک دی نه حقيقةً دي سره ناسته پاسته ،خوراک ځښاک صحيح دي کما في حديث علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (نمبر ۱۰۷) او حديث ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (نمبر ۱۱۰).

دويمه مسئله : د جنبي لپاره داوده کيدو نه مخکې غسل بالاتفاق ضروري نه دي ، داودس په باره کې اختلاف دي :

(۱) داؤد ظاهري او ابن حبيب مالکي رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد اودس واجب دي .(۲) جمهور علماء او دائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مستحب دي ، واجب نه دی.

دفريق اول دليل :۱.... حديث بخاري رَحِمَهُ اللهُ : "تَوَضَّأْ وَاغْسِلْ ذَكَرَكَ ثُمَّ نَمْ".

---

(۱) ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۰ باب في الجنب يدخل المسجد ، صحيح ابن خزيمة جماع ابواب اعمال المسجد ج۲صـ ۲۸۴ باب الزجر عن جلوس الجنب والحائض ...الخ برقم ۱۳۲۷.

(۲) بخاري كتاب الغسل ج۱صـ۴۲ باب الجنب يخرج ويمشي ...الخ ، مسلم كتاب الحيض ج۱صـ ۱۶۲ باب الدليل على ان المسلم لا ينجس .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲..... دباب حدیث نمبر ۲: "نعم اذا توضأ" یعنې که اودس اوکړي نو اوده کیدل صحیح دي.

دجمهور دلیل: حدیث دابوداود "کان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ينعت ثم ينام ولايمس ماء".

دفریق اول جواب:

۱..... دبخاري په حدیث کې صیغه دامر په استحباب باندې محمول دي ترڅو په احادیثو کې تطبیق اوشي.

۲..... دویم حدیث صحیح ابن خزیمه کې "نعم اذا توضأ ان شاء" دي، ان شاء قید سره اختیار ملاو شو.

دریمه مسئله: دجنبي لپاره خوراک ځښاک نه مخکې اودس کول بالاتفاق مستحب دي، حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله دمونځ په شان مکمل او کله داودس لغوي یعنې کله دوو لاسونو په وینځلو باندې اکتفا کوله.

څلورمه مسئله: دجنبي لپاره دقرأت قرآن څه حکم دي؟ په دې باره کې دائمه اختلاف په لاندې دول دي:

(۱) دداود ظاهري رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا قرأت کولې شي، که پوره آیت وي یا نا مکمل.

(۲) جمهور علی الاطلاق اجازت نه ورکوي بلکې دهغوي په نزد تفصیل دي: الف: دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد فقط یو یا دوه آیتونو لوستلو اجازت دي. ب: دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دپوره آیت نه کم قرأتا او بطور دعا چې څومره آیتونه لوستلې شي لولي دي. ج: دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دامحمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا قرأت نه شي کولې.

دداود ظاهري دلیل: (کان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يذكر الله عزوجل على كل احيانه) یعنې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هروخت به دالله په ذکر کې مشغول وو، لهذا دجنابت په وخت کې به یې هم دا مشغولتیا وه.

دجمهورو دلیل، حدیث دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُقْرِئُنَا الْقُرْآنَ مَالَمْ يَكُنْ جُنُبًا".

داود ظاهري رَحِمَهُ اللهُ ته جواب: (۱) قرأت قرآن ددې عام حکم نه مستثنی دي لحدیث علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

(۲) "کل أحیانه" نه ددې ذکر مناسب وخت مراد دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځمه مسئله : جنبي او حيض او نفاس والا دښځي جمات ته داخليدل.

(۱) داهل ظواهر په نزد مطلقا ، دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد بشرط مرور او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ بشرط وضو دجنبي او دحائضه او دنفساء په جمات کي داخليدل صحيح دي.

(۲) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا ددغي خلکو په جمات کي داخليدل ممنوع دي.

داهل ظواهرو دليل : روايت دابن المنذر رَحِمَهُ اللهُ " **كان أصحاب رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يمشون في المسجد وهم جنب** ".

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل ، دقرآني آيت " (**لا تقربوا الصلوة وانتم سكارىٰ حتى تعلموا ما تقولون ولا جنباً الا عابري سبيل حتى تغتسلوا**) صلوة نه مراد موضع صلوة يعني جومات او دعابر سبيل نه مراد مرور يعني تيريدل دي.

دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل: حديث دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا " **لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا لِجُنُبٍ** ".

اهل ظواهرو ته جواب : دصحابو عمل ابتدائي دور باندي محمول دي وروسته بيا دجنبي دخول په جومات باندي ممنوع اوګرځيد.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته جواب : په آيت کي "صلوة" نه معنى حقيقي يعني مونځ مراد دي جومات يعني دمجاز مراد کيدو په صورت کي به لفظ "موضع" محذوف منل کيدل وي کوم چې خلاف اصل دی او "عابري سبيل" نه مراد مسافر خلک دي چې په حالت دسفر کې اوبه نه ميلاويدو په صورت کي دتيمم کولو په صورت کي مونځ کولې شي.

﴿بَابُ الحَيضِ﴾

باب دي په بيان دحيض کي

{۱۱۱} عَنْ مُعَاذَةَ قَالَتْ سَأَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقُلْتُ مَا بَالُ الحَائِضِ تَقْضِي الصَّوْمَ وَلَا تَقْضِي الصَّلَاةَ فَقَالَتْ أَحَرُورِيَةٌ أَنْتِ قُلْتُ لَسْتُ بِحَرُورِيَةٍ وَلٰكِنِّي أَسْأَلُ قَالَتْ يُصِيبُنَا ذٰلِكَ فَنُؤْمَرُ بِقَضَاءِ الصَّوْمِ وَلَا

Maktaba Tul Ishaat.com

لْمَرْءُ بِقَضَاءِ الصَّلَاةِ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : معاذ ویلي دي چې ما د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړه چې څه وجه ده چې حائضه ښځه د روژې قضايي راوړي او د مانځه قضايي نه راوړي نو هغې وفرمايل چې آيا نه حروريه يې ما وويل چې زه حروريه نه يم ليکن زه پوښتنه کوم هغې وفرمايل دا مونږ ته پيښيږي نو د روژې په قضايي مامور يو او د مانځه به قضايي مامور نه يو د دې حديث روايت جماعت کړې دي

{۱۱۲} وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حَدِيثٍ لَهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه:حضرت ابي سعيدخدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يوحديث کې ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې آياداسې نه ده چې کله ښځه حائضه شي نه مونځ کوي اونه روژه نيسي ددې حديث روايت شيخينوکړي دي.

{۱۱۳} وَ عَنْ عَلْقَمَةَ عَنْ أُمِّهِ مَوْلَاةِ عَائِشَةَ أُمِّ الْمُؤْمِنِينَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النِّسَاءُ يَبْعَثْنَ إِلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِالدِّرْجَةِ فِيهَا الْكُرْسُفُ فِيهِ الصُّفْرَةُ مِنْ دَمِ الْحَيْضِ يَسْأَلْنَهَا عَنِ الصَّلَاةِ فَتَقُولُ لَهُنَّ لَا تَعْجَلْنَ حَتَّى تَرَيْنَ الْقَصَّةَ الْبَيْضَاءَ تُرِيدُ بِذَلِكَ الطُّهْرَ مِنَ الْحَيْضَةِ رواه مالك و عبد الرزاق بأسناد صحيح والبخاري تعليقاً .(۳)

ترجمه : د حضرت علقمه نه روايت دي هغه د خپلې مور نه چې د حضرت عائشې ام المؤمنين رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ازاده کړي شوي وينځه وه هغې ويلي دي چې بنځو به حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه وړي وړي ټيلې ورليږلي چې په هغې کې به کرسف ؤ (يعني مالوچ) او به کرسف کې به د حيض د وينې زيروالي ؤ د هغې نه به يې د مانځه په باره کې پوښتنه کوله نو هغې به هغه بنځو ته ويل چې تلوار او تعجيل مه کوئ

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۵ باب في الحائض لا تقضي الصلوة ، ترمذي ابواب الطهارات ج۱صـ ۳۴ باب ماجاء في الحائض انها لا تقضي الصلوة ، بخاري کتاب الحيض ج۱ صـ ۴۴ باب لاتقضي الحائض الصلوة ، نسائي کتاب الصوم ج۱ صـ ۳۱۹ باب وضع الصيام عن الحائض ، مسلم کتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۳ باب وجوب قضاء الصوم على الحائض ...الخ، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۴۴ باب الحائض لا تقضي الصلوة ، مسند احمد ج ۶ صـ ۲۳۱.

(۲) بخاري کتاب الغسل ج۱ صـ ۴۴ باب ترک الحائض الصوم ، مسلم کتاب الايمان ج۱صـ ۶۰ باب بيان نقصان الايمان .

(۳) بخاري کتاب الحيض ج۱صـ ۴۶ باب اقبال المحيض وادباره ، مؤطا امام مالک کتاب الطهارة صـ ۴۳ باب طهر الحائض ، مصنف عبدالرزاق کتاب الحيض ج۱ صـ ۳۰۲ باب کيف الطهر برقم ۱۱۵۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

تر هغې پورې چې وګوري د چونې په شان سپينوالي د ام المؤمنين د هغې نه طهر او پاکوالي مراد دی د دې حديث روايت مالک او عبدالرزاق په صحيح اسناد سره کړي دي او بخاري معلق روايت کړي دي

دکلماتو تشريح :

لغوي او اصطلاحي معنی يې "باب نجاسة دم الحيض" تر لاندې تيره شوي دي .

حورية: حروراء طرفته نسبت دي کوم چې کوفې ته نزدې يو کلي دی د حضرت علي رضي الله عنه خلاف هلته يو اجماع شوي وه ، نو ځکه خوارج دغه کلي ته منسوب کوي" او حروري" ويلي کيږي.

مسئلة الباب :

(۱) داهلسنت په دې خبره باندې اتفاق دي چې د حيض په زمانه کې د مونځونو قضا واجب نه ده په خلاف دروژې چې د دې قضا واجبه ده ، دخوارجو په دې کې اختلاف دې هغوی د مونځونو قضا لره واجب ګرځوي جمهور دباب داحاديثو نه استدلال کوي ليکن خوارجو به د قرآن او سنت نصوصو کې دخپل عقل دمعيار مطابق بې ځايه وجې تلاش کولې .

(۲) دامام ابوحنيفه رحمه الله په نزد د حيض په مدت کې دخالص سپين رنګ نه علاوه چې کوم رنګ وينه هم راشي هغه حيض دې حديث دعائشه رضي الله عنها " حتى ترين القصة البيضاء" د دې مؤيد دي ائمه ثلاثه على الاختلاف يو څو رنګونو لره د حيض وينه ګرځوي او څه د دې نه خارج ګرځوي .

﴿بَابُ الِاسْتِحَاضَةِ﴾

باب دې په بيان د استحاضې کې :

{۱۱۴} عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ جَاءَتْ فَاطِمَةُ بِنْتُ أَبِي حُبَيْشٍ إِلَى النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنِّي امْرَأَةٌ أُسْتَحَاضُ فَلَا أَطْهُرُ أَفَأَدَعُ الصَّلَاةَ فَقَالَ لَا إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَتْ بِالْحَيْضَةِ فَإِذَا أَقْبَلَتِ الْحَيْضَةُ فَدَعِي الصَّلَاةَ وَإِذَا أَدْبَرَتْ فَاغْسِلِي عَنْكِ الدَّمَ وَصَلِّي رواه الشيخان و في رواية للبخاري وَلَكِنْ دَعِي الصَّلَاةَ قَدْرَ الْأَيَّامِ الَّتِي كُنْتِ تَحِيضِينَ فِيهَا ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي .(۱)

ترجمه: د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دي هغې ويلي دي چې فاطمه بنت ابي حبيش نبي عليه السلام ته راغله نو وي ويل چې اي دالله تعالى رسوله زه يوه مستحاضه ښځه يم خو پاکيږم نه آيا زه مونځ پريږدم نو نبي عليه السلام وفرمايل چې نه بې شکه دا يو رګ دي حيض نه دي کله چې حيض راشي نو

(۱) بخاري کتاب الغسل ج۱ صـ ۴۴ باب الاستحاضة ، مسلم کتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۱ باب المستحاضة

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ پريږده او کله چې حيض واپس شي نو د ځان نه وينه ووينځه او مونځ وکړه د دي حديث روايت شيخينو کړي دي او د بخاري په يو روايت کې دي چې د هغه ورځو په اندازه مونځ پريږده په کومو کې چې ته حائضه شوې يې بيا غسل وکړه او مونځ وکړه

{۱۱۵} وَ عَنها قَالَت إِنَّ فَاطِمَةَ بِنتَ أَبِي حُبَيشٍ أَتَتِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَت يا رَسُولَ اللهِ إِنِّي أُستَحَاضُ الشَّهرَ وَالشَّهرَينِ فَقَالَ لَيسَ هٰذَا بِحَيضٍ وَ لٰكِنَّه عِرقٌ فَإِذَا أَقبَلَ الحَيضُ فَدَعِي الصَّلَاةَ عَدَدَ أَيَامِكِ هٰذا اللَّتِي كُنتِ تَحِيضِينَ فَإِذَا أُدبَرَت فَاغتَسِلِي وَ تَوَضَّأِي لِكُلِّ صَلَاةٍ . رواه ابن حبان اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د ام المؤمنين حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا نه روايت دي هغې ويلي دي چې فاطمه بنت ابي جيش رَضِيَ اللهُ عَنهَا نبي عَلَيهِ السَّلَام ته راغله نو ورته وې ويل اې دالله تعالى رسوله زه يوه او دوه مياشتې مستحاضه کيږم نو نبي عَلَيهِ السَّلَام وفرمايل چې دا حيض نه دي ليکن هغه يو رګ دي کله چې حيض راشي نو مونځ پريږده خپل د حيض د ورځو د شمارې په اندازه او کله چې واپس شي حيض نو غسل وکړه او اودس وکړه د هر مانځه د پاره . د دي حديث روايت ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي

{۱۱۶} وَ عَنها قَالَت سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَنِ المُستَحَاضَةِ فَقَالَ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَامَ أَقرَائِهَا ثُمَّ لتَغتَسِلُ غُسلًا وَاحِدًا ثُمَّ تَتَوَضَّأُ عَدَدَ كُلِّ صَلَاةٍ رواه ابن حبان و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : او د ام المؤمنين حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا نه روايت دي هغې ويلي دي چې د مستحاضې په باره کې د نبي عَلَيهِ السَّلَام نه پوښتنه وکړي شوه نو نبي عَلَيهِ السَّلَام ورته وفرمايل چې د خپل حيض په ورځو کې دي مونځ پريږدي بيا دي يو غسل وکړي بيا دي د هر مانځه د وخت د پاره اودس وکړي . د دي حديث روايت ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

دکلمانو تشريح :

" **الاستحاضة** " دحيض نه دباب استفعال مصدر دي او په باب استفعال کې دراتللو نه پس په دي کې دمبالغې معنى پيدا شوه يعنې دحيض دمدت نه زياته وينه راتلل.

" **جاءت فاطمة بنت أبي حبيش** " په احاديثو دځلورو ښځو ذکر داستحاضې په باب کې په کثرت سره راغلې دي : (۱) فاطمه بنت أبي حبيش رَضِيَ اللهُ عَنهَا (۲) زينب بنت جحش رَضِيَ اللهُ عَنهَا (۳) حمنه بنت جحش

---

(۱) صحيح ابن حبان ج ۳ صـ ۲۶۵ برقم ۱۳۵۱ .

(۲) صحيح ابن حبان ج ۳ صـ ۲۶۶ برقم ۱۳۵۲ .

Maktaba Tul Ishaat.com

رَضِيَ اللهُ عَنْهَا (۴) ام حبيبه بنت جحش رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دي سره ديوولسو ښځو ته په دور نبوي کې داستحاضې شکايت وو

"استحاض" استحاضه دمصدر نه دمجهول صيغې په وزن باندې راځي

داستحاضې سبب څه شي دی: (۱) دباب په اولنې حديث کې ددم استحاضې سبب "عرق" يعنې خارج رحم رګ لره ګرځولې شوی دی.

(۲) په يو بل حديث کې استحاضې لره "رکضة من الشيطان" يعنې ددې سبب دشيطان ګندګي ګرځولې شوي دي مقصد دادی چې داستحاضې په ذريعې دشيطاني وسوسو دروازه کولاويږي، او ښځې لپاره دخپل مونځ او دطهارت مسائل پيژندل او په دې باندې عمل کول مشکل ګرځي

مسئلة الباب: ائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ په دې باندې خو اتفاق دي چې مستحاضه او شرعا معذور کس په ذمه باندې دمونځ او دروژې ادا کول شته دي

ليکن دمونځ په وخت کې دننه په يو اودس باندې چې څومره فرائض او نوافل کولې شي يا نه هر مونځ لپاره خانله اودس کول لازمې دي يا نه ؟ په دې باره کې دائمو اقوال په لاندې دول دي:

(۱) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نږد دم استحاضه، دم غير معتاده کيدو دوجې نه قياسا ناقض وضو نه دي ليکن امر تعبدي دوجې نه استحاضې سره اودس ماتيږي، اوس مستحاضه او داسې نور معذور هر مونځ لپاره خانله به اودس کوي که فرض وي يا نفل.

(۲) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نږد هر فرض مونځ لپاره دي اودس اوکړي او څومره چې ځواړي نوافل ادا کړي.

(۳) امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نږد دهر مونځ وخت لپاره دي اودس اوکړي او په وخت کې دننه په دې سره چې څومره فرض يا نفل ځواړي اودي کړي.

د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل: (۱) حديث دفاطمه بنت أبي حبيش رضي الله تعالى عنها "توضئ لكل صلاة".

(۲) حديث دعائشې رضي الله عنها "لتوضأ عند كل صلاة" دصلوة نه مراد فرض مونځ دی امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نفل لره دفرض تابع ګرځوي أي لكل صلاة مع توابعها.

دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ دليل: حديث "المستحاضة تتوضأ لوقت كل صلاة".

امام مالک او امام شافعي ته جواب: (۱) د فاطمة بنت أبي حبيش رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په يو روايت کې "توضأي لوقت كل صلاة" دوخت صراحت سره راغلې دي. (۲) دعربو په کلام کې دلام دوخت په معنى کې

Maktaba Tul Ishaat.com

استعمال په کثرت سره وي مثلا " آتيک لصلاة الظهر " أي لوقت صلاة الظهر " دالله تعالى ارشاد دى (أقم الصلاة لدلوک الشمس) أي لوقت دلوک الشمس (۳) دعائشې رضي الله عنها په حديث کې " عند " د وخت او دهر موضع دواړو خبرو احتمال لري

﴿أَبْوَابُ الْوُضُوءِ﴾

د اودس بابونه :

﴿بَابُ السِّوَاكِ﴾

باب دي په بيان د مسواک کې :

{۱۱۷} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ رواه الجماعة و في رواية لاحمد لأمرتهم بالسواک مع کل وضوء و للبخاري تعليقا لأمرتهم بالسواک عند کل وضوء .(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي هغه ويلي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي که چرته زما له خوا نه په خپل امت باندې د تکليف ايخودلو ويره نه وي نو ما به دوي ته د هر مانځه په وخت کې په مسواک کولو امر کړي وي ، د دي حديث روايت الجماعة کړي دي او د احمد رحمه الله په يو روايت کې داسې الفاظ نقل دي چې خامخا به ما دوي ته د هر اودس سره په مسواک امر کړي وي او د بخاري لپاره تعليقا داسې الفاظ نقل دي چې خامخا به مې دوي ته د اودس سره په مسواک امر کړي وي.

{۱۱۸} و عنه أنه قال لولا أن يشق على أمتي لأمرهم بالسواک مع کل وضوء رواه مالک و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت ابي هريره رضي الله عنه ويلي دي که چرته د هغه صلى الله عليه وسلم په امت باندې د مشقت خوف نه وي نو د هر اودس سره به يې امت ته د مسواک امر کړي وي . د دي حديث روايت مالک کړي دي

---

(۱) بخاري کتاب الجمعة ج ۱ ص ۱۲۲ باب السواک يوم الجمعة ، مسلم کتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۲۸ باب السواک ، ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ ص ۷ باب السواک ، ترمذي ابواب الطهارات ج ۱ ص ۱۲ باب ماجاء في السواک ، نسائي کتاب الطهارة ج ۱ ص ۶ باب الرخصة في السواک بالعشي للصائم ، ابن ماجة ابواب الطهارة ج ۱ ص ۲۵ باب السواک ، مسند احمد ج ۲ ص ۲۴۵ . بخاري کتاب الصوم ج ۱ ص ۲۵۹ باب السواک الرطب واليابس .

(۲) مؤطا امام مالک کتاب الطهارة ص ۵۱ باب ماجاء في السواک .

Maktaba Tul Ishaat.com

او اسناد يې صحيح دي

{۱۱۹} وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلسِّوَاكُ مِطْهَرَةٌ لِلْفَمِ مِرْضَاةٌ لِلرَّبِّ رواه احمد والنسائي باسناد صحيح والبخاري تعليقاً .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دي چې نبي عليه السلام فرمايلي دي چې مسواک د خولې د صفايي او دالله تعالى د خوشحالئ او د رضا سبب او آله ده احمد او نسائي يې به صحيح اسناد سره روايت کړي دي او بخاري يې معلق روايت کړي دي

{۱۲۰} وَعَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِيْ لَاَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ الْوُضُوْءِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ رواه ابن حبان في صحيحه واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي که چرته ماته په امت باندې د مشقت خوف نه وي نو د هر مانځه د اودس سره به مي ورته په مسواک امر کړي وي . د دې حديث روايت ابن حبان په خپل صحيح کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۱۲۱} وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا اَنْ اَشُقَّ عَلٰى اُمَّتِيْ لَاَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ مَعَ كُلِّ وُضُوْءٍ رواه الطبراني في الاوسط و قال الهيثمي اسناده حسن .(۳)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي که چرته ماته په امت باندې د مشقت او تکليف خوف نه وي خامخا به مي د هر اودس سره هغوته په مسواک امر کړي وي . د دې حديث روايت په اوسط کې طبراني کړي دي او هيثمي ويلي دي چې اسناد يې حسن دي .

{۱۲۲} وَعَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ قُلْتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بِاَيِّ شَيْءٍ كَانَ يَبْدَأُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا دَخَلَ بَيْتَهُ قَالَتْ بِالسِّوَاكِ رواه الجماعة الا البخاري و الترمذي .(٤)

---

(۱) بخاري كتاب الصوم ج۱ صـ ۲۵۹ باب السواک الرطب واليابس ...الخ ، مسند احمد ج ۶ صـ ۴۷ نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۵ باب الترغيب في السواک .

(۲) صحيح ابن حبان ج ۳ صـ ۱۴۸ برقم ۱۰۶۴ .

(۳) مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۲۱ باب في السواک فقط عن الطوان في الاوسط .

(٤) مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۲۸ باب السواک ، ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۸ باب السواک نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۹ باب السواک في كل حين ، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۵ باب السواک ، مسند احمد ج ۶ صـ ۴۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت مقداد بن شريح نه روايت دي چې خما پلار ويلي دي چې ما حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه وويل چې کله به نبي عليه السلام کورته تشريف راوړ نو به څه شي به يې شروع کوله هغې وويل چې به مسواک سره . د دې حديث روايت جماعت کړي دي مګر بخاري او ترمذي نه دي کړي

{۱۲۴} وَ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ يَشُوْصُ (۱) فَاهُ بِالسِّوَاكِ رواه الجماعة الا الترمذي .(۱)

ترجمه : حضرت حذيفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې پاڅيده نو به مسواک سره به يې مبارکه خوله صفا کوله ددې حديث روايت جماعت کړي دي مګر ترمذي نه دي کړي

{۱۲۴} وَ عَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيْعَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا لَا أُحْصِي يَتَسَوَّكُ وَهُوَ صَائِمٌ رواه احمد و ابو داود والترمذي و حسنه و في اسناده مقال و رواه البخاري تعليقًا .(۲)

ترجمه : حضرت عامر بن ربيعه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د روژې په حالت کې په مسواک وهلو ډومره کرته ليدلي دي چې زه يې شمارلي نه شم د دې حديث روايت احمد ، ابوداؤد او ترمذي کړي دي او ترمذي حسن ګڼلي دي او په اسناد کې يې مقال او خبري دي او بخاري دا حديث معلق روايت کړي دي .

قَالَ النِّيْمَوِي أَكْثَرُ أَحَادِيْثِ الْبَابِ تَدُلُّ عَلٰى اِسْتِحْبَابِ السِّوَاكِ لِلصَّائِمِ بَعْدَ الزَّوَالِ وَ لَمْ يَثْبُتْ فِي كَرَاهِيَتِهِ فَيْءٌ .

ترجمه : نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې د دي باب اکثر احاديث د زوال نه روسته د روژه دارو د پاره د مسواک وهلو په استحباب دلالت کوي او د مسواک په کراهت کې د هيڅ شي ثبوت نشته

د سواک يا مسواک تشريح او حکم :

"السواک" : بمعنى آله سواک يا مصدر بمعنى مسواک کول .

په مسواک کې دوه جدا خبرې مسنون دي : (۱) په يو د اسې شي سره خوله صفا کول چې هغه قابل

---

(۱) بخاري کتاب الوضوء ج۱ صـ ۳۸ باب السواک ، ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱صـ ۸ باب السواک لمن قام بالليل ، نسائي کتاب الطهارة ج۱صـ ۵ باب السواک اذا قام من الليل ، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۲۵ باب السواک ، مسند احمد ج۵ ص ۳۸۲ ، مسلم کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۲۸ باب السواک .

(۲) مسند احمد ج ۳ صـ ۴۴۵ ، ابوداؤد کتاب الصيام ج ۱صـ ۳۲۲ باب للصائم ، ترمذي ابواب الصوم ج۱صـ ۱۵۴ باب ماجاء في السواک للصائم ، بخاري کتاب الصوم ج۱صـ ۲۵۹ باب السواک الرطب واليابس .

Maktaba Tul Ishaat.com

دصفائي وي. (۲) يو مخصوص لرګي استعمالول مثلا کیکر وغیره.

د مسواک حکم : دائمه اربعو په نزد بالاتفاق مسواک کول مسنون دي. البته دمسواک په سنت صلاة یا سنت وضو کیدو کې مشهور اختلاف دی:

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد سنت صلاة دی. (۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد سنت وضو دی.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل : حدیث دابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "لَأَمَرْتُهم بِالسِّوَاكِ عِندَ كُلِّ صَلَاة".

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دليل : دباب هغه احادیث کوم کې چې "مع کل وضوء" وارد دي.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته جواب : "عند کل صلاة" نه بالکل دمونځ متصل مسواک کول نه لازمیږي حال دا چې "مع کل وضوء" کې اودس سره سره مسواک کول دا په فهم کې راځي اوس دتطبیق صورت دادي چې "عند کل صلاة" معنی "مع الوضوء عند کل صلاة" واخیستلې شي لکه څنګه چې دحضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په بل روایت کې ددې تصریح هم راغلې ده.

د احنافو په نزد اګر چې داودس په وخت کې دمسواک کولو زیات تاکید دي لیکن چې کله دوریو نه د ویني راوتلو ویره نه وي نو دمونځ دتیاري کولو په وخت مسواک کول هم مسنون دي دغه شان کورته دداخلیدو نه پس، یا یو مجلس دراتللو په وخت او چې کله دتلاوت کولو اراده وي نو هم مسواک کول مسنون دي.

دویمه مسئله : دروژې په حالت کې دمسواک کولو حکم:

(۱) امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ، مالک او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد روژه دار سحر یا ماښام چې کله کله هم اوغواړي مسواک کولې شي.

(۲) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد روژه دار لپاره دزوال نه پس مسواک کول مکروه دي، لیکن دمتاخرین شافعیه دمطلق جواز قایله دي. (رحمة الامة: ص ۹۸).

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل : "لخلوف فم الصائم أطيب الى الله من ريح المسك" او خلوف یعنې روژه دار دخولې نه بدبو کومه چې دزوال نه پس تري خیجي، مسواک کولو سره به زائله شي.

دائمه ثلاثو دليل : حدیث دعامر بن ربیعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رأيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مالا أحصي يتسوك وهو صائم".

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته جواب : دخلوف نه مراد دمعدې بدبوئي ده کومه چې دخیتي دخالي کیدو دوجې نه پیدا کیږي او مسواک سره دخولې بدبو زائله کیږي نه دمعدې بدبوئي.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ التَّسمِيَةِ عِندَ الوُضُوء﴾

داودس په وخت کې د بسم الله باب :

{۱۲۵} عَن أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَا أَبَا هُرَيرَةَ إِذَا تَوَضَّأتَ فَقُل بِسمِ اللهِ وَالحَمدُ لِلّٰهِ فَإِنَّ حَفَظَتَكَ لَا تَبرَحُ تَكتُبُ لَكَ الحَسَنَاتِ حَتّٰى تَحدُثَ مِن ذٰلِكَ الوُضُوءِ رواه الطبراني في الصغير و قال الهيثمي اسناده حسن .(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي اي ابوهريره کله چې اودس کوې نو بسم الله والحمد لله وايه بې شکه ستا حفاظت کوونکي فرشتي ستا دي اودس نه د بې اودسه کيدو پورې ستا دپاره نيکئ ليکي. د دې حديث روايت الطبراني په صغير کې کړي او هيثمي ويلي دي چې اسناد يې حسن دي.

مسئلة الباب : داودس په شروع کې د بسم الله ويلو حکم

(۱) امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد واجب او د داود ظاهري رَحِمَهُ اللهُ په نزد فرض دي.

(۲) دائمه ثلاثو په نزد سنت يا مستحب دی واجب نه دي.

د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او د داود ظاهري رَحِمَهُ اللهُ دليل : حديث "لا وضوء لمن لم يذكر اسم الله عليه".

دائمه ثلاثو دليل : حديث "ومن توضأ ولم يذكر الله اسم الله كان طهوراً لا عضاء وضوئه" يعني څوک چې بسم الله ويلو نه بغير اودس اوکړي نو دهغه صرف دهغه اعضاؤ نه چې اوينځلي شوګناهونه غورځيکي په حديث کې بغير د بسم الله نه د اودس هم اعتبار کړي شوي دی، البته د دې فضيلت کم خو دلې شوي دی.

امام احمد او داود ظاهري ته جواب : "لا وضوء" کې لا نفي د کمال لپاره ده نه نفي د حقيقت لپاره، لکه په يو حديث کې چې دي "لا صلاة لجار المسجد الا في المسجد".

---

(۱) مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۲۰ باب التسمية عند الوضوء، المعجم الصغير للطبراني ج۱ صـ ۷۳ قال حدثنا احمد بن مسعود الزهري ..الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي صِفَةِ الْوُضُوءِ﴾

د وضو حديثونو باب چې د اودس په صفت کې راغلي دي :

{۱۲۶} عَن حُمرَانَ مَولَى عُثمَانَ اَنَّه رَأَى عُثمَانَ بن عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ دَعَا بِإِنَاءٍ فَاَفرَغَ عَلَى كَفَّيه ثَلَاثَ مِرَارٍ فَغَسَلَهمَا ثُمَّ أَدخَلَ يَمِينَه فِي الإِنَاءِ فَمَضمَضَ وَاستَنثَرَ ثُمَّ غَسَلَ وَجهه ثَلَاثًا وَيَدَيه إِلَى المِرفَقَينِ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ مَسَحَ بِرَأسِه ثُمَّ غَسَلَ رِجلَيه ثَلَاثَ مِرَارٍ إِلَى الكَعبَينِ ثُمَّ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن تَوَضَّأَ نَحوَ وُضُوئِي هٰذَا ثُمَّ صَلَّى رَكعَتَينِ لَا يُحَدِّثُ فِيهِمَا نَفسَه غُفِرَ لَه مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِه رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ د ازاد کړي شوي مريي حمران نه روايت دي چې ما حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنهُ لمدلي دي چې يو لوښي يې راوغوښت نو هغه يې په دواړه لاسونو دري خلي واړه و نو دواړه يې وويندل بيايي بنې لاس په لوخي کې ننويست نوخوله اوپوزه يې ووينخله بيايي مبارک مخ دري خلي ووينخه اودواړه لاسونه يې ترځنګلوپوري دري خلي ووينخل بيايي په سرمبارک مسحه وکړه بيا يې دواړه خپې مبارکې تر ښنګرو پوري دري خلي ووينخلي بيا يې وويل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چا چې خما د دغه اودس په شان اودس وکړ بيا يې دوه رکعته داسي مونځ وکړ چې په دواړو رکعتونو کې يې په زړه کې خبرې ونه کړې او په خشوع او خضوع سره يې ادا کړ ده ته به د ده مخکينې ګ ډونه وبخلي شي د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

فقه الحديث : داحنافو په نزد داودس مسنونه طريقه هم هغه ده کومه چې په دي حديث کې بيان شوې ده .

بَابٌ فِي الجَمعِ بَينَ المَضمَضَةِ وَالإِستِنشَاقِ

دا باب دی د مضمضې او استنشاق ترمينځ په جمع کولو کې :

{۱۲۷} عَن عَبدِ اللهِ بنِ زَيدِ بنِ عَاصِمٍ الأَنصَارِي رَضِيَ اللهُ عَنهُ وَ كَانَت لَه صُحبَة قَالَ قِيلَ لَه تَوَضَّأ لَنَا وُضُوءَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِإِنَاءٍ فَأَكفَأَ مِنه عَلَى يَدَيه فَغَسَلَهمَا ثَلَاثًا ثُمَّ أَدخَلَ يَدَه فَاستَخرَجَهَا فَمَضمَضَ وَاستَنشَقَ مِن كَفٍّ وَاحِدَةٍ فَفَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثًا ثُمَّ أَدخَلَ يَدَه فَاستَخرَجَهَا فَغَسَلَ

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۲۷ باب الوضوء للأن ، مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۲۰ باب صفة الوضوء وكماله.

Maktaba Tul Ishaat.com

وَجهه ثَلَاثًا ثُمَّ اَدخَلَ يَدَه فَاستَخرَجَها فَغَسَلَ يَدَيه اِلَى المِرفَقَينِ مَرَّتَينِ مَرَّتَينِ ثُمَّ اَدخَلَ يَدَه فَاستَخرَجَها فَمَسَحَ رَاسَه فَاَقبَلَ بِيَدَيه وَاَدبَرَ ثُمَّ غَسَلَ رِجلَيه اِلَى الكَعبَينِ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا كَانَ وُضُوء رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د عبدالله بن زيد بن عاصم الانصاري رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه چې هغه صحابي ؤ روايت دي چې ده ته وويلي شو چې مونږ ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د اودس په شان اودس وکړه نو د اوبو لوخې يې راوغوښته نو هغه يې په دواړو لاسونو راواړو نو دواړه لاسونه يې دري ځلي ووينځل نو بيا يې لاس ورننويست نو راوئ ويسته او د يولاس د اوبو نه يې مضمضه او استنشاق وکړو او دغه کار يې دري ځلي وکړو بيا يې لاس ورننويست نو راوئ ويست نو خپل مخ يې پري دري ځله ووينځه بيا يې لاس ورننويست نو راوئ ويست نو په سر باندې يې په دواړو لاسونو وراندې روسته مسح وکړه بيا يې دواړه خپې تر ښنګرو او ګيټو پورې ووينځلې بيايې وويل چې دغسې ؤ اودس درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

{۱۳۸} وَ عَن اِبنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّاَ مَرَّةً مَرَّةً وَ جَمَعَ بَينَ المَضمَضَةِ وَالاِستِنشَاقِ رواه الدارمي وابن حبان والحاكم واسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې نبي عَلَيهِ السَّلَام يو خلي اودس وکړو او خوله او پوزه يې د اوبو په اچولو کې سره يو ځاي کړل د دي حديث روايت دارمي ابن حبان او حاکم کړي دي او اسناد يې حسن دي

مسئلة الباب : خوله او پوزه کې داوبو اچولو مسنونه طريقه :

دمضمضې او داستنشاق ښځه طريقې دي کومې چې توله په توله جائز دي :

(۱) **الوصل بثلاث غرفات** : يعنې په يو لپه کې اوبه راخيستل او دهغې په بعضې حصې سره مضمضه او بعضې سره استنشاق کول. بيا دغه شان دويم او دريم ځل دي او کړي شي.

(۲) **الوصل بغرفة واحدة** : يعنې په يو لپه اوبو راخيستلو سره اول مضمضه او يا همدې اوبو سره استنشاق. دغه شان پاتې شوې اوبو سره دويم او دريم ځل دي او کړي شي، ګويا چې دوصل دوه

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ۳۱ باب من مضمض واستنشق ...الخ، مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۲۳ باب آخر في صفة الوضوء.

(۲) سنن دارمي كتاب الصلوة صـ ۹۴ باب الوضوء مرّة مرة، ابن حبان ج ۳ صـ ۱۵۰ رقم الحديث ۱۰۷۳ مستدرك حاكم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵۰ باب الوضوء مرتين ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

طریقې شوي : بشلاث غرفات او بغرفة واحدة، بیا دفصل دري صورتونه دي :

(۱) **الفصل بغرفة واحدة** :چې ددې مطلب دادې چې په یو لپه کې اوبه راخیستل او اول دري ځله مسلسل مضمضه کول او بیا باقي اوبو سره دري ځله مسلسل استنشاق کول.

(۲) **الفصل بغرفتین**، یعني یو لپې اوبو سره دې اول دري ځله دې مضمضه او کړې شي ، بیا دویم لپې اوبو سره دې دري ځله استنشاق او کړې شي .

(۳) **الفصل بست غرفات** : یعني دري لپې اوبه دري پسیرې مضمضې لپاره ، اوبیا دري لپې اوبه دري پیره استنشاق لپاره .

په دې پنځه صورتونو کې افضل صورت کوم یو دی په دې باره کې دوه اقوال دي :

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد اولنې صورت یعني الوصل بثلاث غرفات افضل دی .

(۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد پنځم صورت یعني الوصل بست غرفات افضل دی.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ دلیل :۱..... حدیث دعبد الله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ **فَمَضْمَضَ وَاسْتَنْشَقَ مِن كَفٍّ وَاحِدَةٍ**

۲..... حدیث دابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ " **جَمَعَ بَيْنَ الْمَضْمَضَةِ وَالإِسْتِنْشَاقِ** " .

دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دلیل:داروان باب "**الفصل بین المضمضة والاستنشاق**" او د "**باب مایستفاد منه الفصل**" ځلور حدیثونه ،بالخصوص حدیث عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ " **أَفْرَدَ الْمَضْمَضَةَ مِنَ الإِسْتِنْشَاقِ** " کوم چې دفصل واضح دلیل دی.

۲ قیاس یعني چې کله خوله او پوزه دوه ځانله اندامونه دي نو نور اندامونو په شان ددې لپاره هم ځانله اوبه راخیستل پکار دي.

امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ته جواب : سرسري جواب خو دادې چې زمونږ دلیلونه په خپلې مدعی باندې واضح او غیر محتمل دي ، حال دا چې ستاسو دلیلونه محتمل دي ، مثلا په اولنې حدیث کې د" **من كف واحدة** " نه مراد دا هم کیدې شي چې په یو لپه اوبو راخیستلو نه مضمضه هم کول او بیا په پوزه کې اوبه هم اچول دویم حدیث کې ټول اندامونه داودس لره یو یو پیره دوینځلو ذکر دی کوم چې یقینا جواز دی نه افضل ، ځکه چې " **جمع بین المضمضة والاستنشاق** " هم دبیان جواز لپاره کیدې شي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابٌ فِي الفَصلِ بَينَ المَضمَضَة وَالإِستِنشَاقِ

دمضمضې او استنشاق ترمینځ د جدائي باب :

{۱۲۹} عَن اَبِي وَائِلٍ شَقِيقِ بنِ سَلَمَة قَالَ شَهِدتُ عَلِيَ بنَ اَبِي طَالِبٍ وَ عُثمَانَ بنَ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا تَوَضَّأَ ثَلَاثًا ثَلَاثًا وَ اَفرَدَ المَضمَضَة مِنَ الإِستِنشَاقِ ثُمَّ قَالَا هٰكَذَا رَاَينَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ رواه ابن السكن في صحاحه .(۱)

ترجمه : ابي وائل شقيق بن سلمه ويلي دي چې زه د حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنهُ او حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا سره حاضر وم چې دوي دواړو اودس وکړو دري دري ځلي او مضمضه يې د استنشاق نه بيله ار جدا کړه بيا دواړو ويلي دي چې دغسې مونږ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې اودس يې کړي . د دي حديث روايت په خپلو صحاحو کې ابن سکن کړي .

بَابُ مَا يستَفَادُ مِنه الفَصلُ

باب دې په بيان دهغه حديثو کې چې د هغې نه دفصل فائده کيدي شي :

{۱۳۰} عَن اَبِي حَيَة قَالَ رَاَيتُ عَلِيًا رَضِيَ اللهُ عَنهُ تَوَضَّأَ فَغَسَلَ كَفَّيهِ حَتّٰى اَنقَاهُمَا ثُمَّ مَضمَضَ ثَلَاثًا وَاستَنشَقَ ثَلَاثًا وَغَسَلَ وَجهَه ثَلَاثًا وَ ذِرَاعَيه ثَلَاثًا وَ مَسَحَ بِرَاْسِهِ مَرَّة ثُمَّ غَسَلَ قَدَمَيه اِلَى الكَعبَينِ ثُمَّ قَامَ فَاَخَذَ فَضلَ طُهُورِهِ فَشَرِبَه وَهُوَ قَائِمٌ ثُمَّ قَالَ اَحبَبتُ اَن اُرِيَكُم كَيفَ كَانَ طُهُورُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رواه الترمذي و صححه .(۲)

ترجمه : ابوحيه ويلي دي چې ما حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنهُ ليدلي دی چې اودس يې کاؤ نو دواړه لاسونه يې تر هغې پورې وومينځل چې ښه يې پاک کړل بيا يې دري ځلي مضمضه او دري ځلي استنشاق وکړه او دري ځلي يې مخ او دري ځلي يې لاسونه (ليچې) ووينځل او يو ځل يې په سر باندې مسح وکړه بيا يې تر ډمونه تر ښنګرو پورې ووينځل بيا پاڅيده او د اودس نه پاتې اوبه يې راواخيستلې او هغه يې د ولاړې په حالت کې وڅکلې . بيا يې وويل چې زه خوښوم دا خبره چې

---

(۱) تلخيص الحبير ج۱ صـ ۷۹ .

(۲) ترمذي ابواب الطهارت ج۱ صـ ۱۷ باب في وضوء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كيف كان .

Maktaba Tul Ishaat.com

تاسو ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس وخائم چې هغه څنګه اودس کولو. د دې حدیث روایت ترمذي کړي دي او صحیح یې ګڼلې دي.

{۱۳۱} وَ عَنِ ابنِ اَبِي مُلَيكَةَ قَالَ رَاَيتُ عُثمَانَ بنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سُئِلَ عَنِ الوُضُوءِ فَدَعَا بِمَاءٍ فَاَفرَغَ بِيَمِينِهِ فَاَصغَاهَا عَلَى يَدِهِ اليُسرٰى ثُمَّ اَدخَلَهَا فِي المَاءِ فَتَمَضمَضَ ثَلَاثًا وَاستَنثَرَ ثَلَاثًا وَ غَسَلَ وَجهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ يَدَهُ اليُمنٰى ثَلَاثًا وَ غَسَلَ يَدَهُ اليُسرٰى ثَلَاثًا ثُمَّ اَدخَلَ يَدَهُ فَاَخَذَ مَاءً فَمَسَحَ بِرَاسِهِ وَ اُذُنَيهِ فَغَسَلَ بُطُونَهُمَا وَ ظُهُورَهُمَا مَرَّةً وَاحِدَةً ثُمَّ غَسَلَ رِجلَيهِ ثُمَّ قَالَ اَينَ السَّائِلُونَ عَنِ الوُضُوءِ هٰكَذَا رَاَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَتَوَضَّاُ رواه ابو داود و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه: ابي مليکه ويلي دي چې ما حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وليدو چې د اودس په باره کې تري پوښتنه وکړې شوه هغه اوبه راوغوښتې نو يوه لوټه ورته راوړې شوه نو هغه يې په ښي لاس راواړوله بيا يې په اوبو کې لاس ننويست نو دري ځلي يې مضمضه وکړه او دري ځلي يې استنثار يعني استنشاق وکړ او دري ځله يې مخ ووينځه بيا يې دري ځلي ښي لاس ووينځه او دري ځله يې چپ لاس ووينځه نو بيا يې لاس ننويست اوبه يې راواخستې نو په سر او دواړو غوږونو يې مسح وکړه او د دواړو غوږونو دننه او بهر حصه يې يو ځل ووينځله بيا يې دواړه خپې ووينځلې بيا يې ويل د اودس په باره کې پوښتنې والا چرته دي دغه شان ليدلي دی ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې اودس يې کاوه. د دې حدیث روایت ابوداؤد کړي او اسناد يې صحيح دي.

{۱۳۲} وَ عَن رَاشِدِ بنِ نَجِيحٍ اَبِي مُحَمَّدٍ العَنَانِي قَالَ رَاَيتُ اَنَسَ بنَ مَالِكٍ بِالزَّاوِيَةِ فَقُلتُ لَهُ اَخبِرنِي عَن وُضُوءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيفَ كَانَ فَاِنَّهُ يَلطُفُ لِي اَنَّكَ كُنتَ تُوضِئُهُ قَالَ نَعَم فَدَعَا بِوُضُوءٍ فَاُتِيَ بِصَسَّتٍ وَ قَدَحٍ بَينَ يَدَيهِ فَاَكفَاَ عَلٰى يَدَيهِ مِنَ المَاءِ وَ اَعَمَّ غَسلَ يَدَيهِ ثُمَّ تَمَضمَضَ ثَلَاثًا وَاستَنشَقَ ثَلَاثًا وَ غَسَلَ وَجهَهُ ثَلَاثًا ثُمَّ اَخرَجَ يَدَهُ اليُمنٰى فَغَسَلَهَا ثَلَاثًا ثُمَّ غَسَلَ اليُسرٰى ثَلَاثًا ثُمَّ مَسَحَ بِرَاسِهِ مَرَّةً وَاحِدَةً غَيرَ اَنَّهُ اَمَرَّهُمَا عَلٰى اُذُنَيهِ فَمَسَحَ عَلَيهِمَا رواه الطبرني في الاوسط و قال الهيثمي اسناده حسن.(۲)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵ باب صفة وضوء النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

(۲) المعجم الاوسط ج ۳ صـ ۳۲۸ برقم ۲۹۲۶، مجمع الزوائد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۳۱ باب ماجاء في الوضوء نقلاً عن الطبراني في الاوسط

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : راشد بن نجيح ابي محمد الحماني ويلي دي چې ما په زاويه کې انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وليد نو ورته ډمي ويل چې ماته د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اودس خبر راکړه چې څنګه اودس يې کاوه يې شکه زه خبر شوي يم چې تا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اودس په شان اودس کاوْ هغه وويل چې هو نو د اودس اوبه يې راوغوښتې نو يو طشت او پياله ورته راوړې شول نو ده په خپله مخه کې کينبودل نو په لاسونو يې اوبه راواړولې او لاسونه يې ښه ووينځل بيا يې مضمضه دري ځلې وکړه او استنشاق يې دري ځله وکړ بيا يې دري ځله مخ ووينځه بيا يې ښيۍ لاس راوويست هغه يې دري ځلې ووينځه بيا يې چپ لاس دري ځلې ووينځه بيا يې يو ځل په سر باندې مسح وکړه البته هغه دواړه لاسونه په دواړو غوږونو رانبکل او په دواړو يې مسح وکړه . د دې حديث روايت طبراني په اوسط کې کړې او هيثمي ويلي دي چې اسناد يې حسن دي .

بَابُ تَخْلِيلِ اللِّحية

باب دي په خلالولو د ږيرې کې :

{۱۳۲} عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا تَوَضَّأَ خَلَّلَ لِحيتَه بِالْمَاءِ رواه احمد واسناده حسن .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس کاوه نو په اوبو سره به يې خپله مبارکه ږيره خلالوله . د دې حديث روايت احمد کړي دي او اسناد يې حسن دي .

تشريح : د لحې معنى : د انسان د مخ د کاسې او ځيري هغه هډوکي چې په هغې د ږيرې ويښته راشنه کيږي هغې ته لحيه او د دې دواړو خواو ته لحيين ويلي کيږي کوم چې د شخوند په وخت کې حرکت کوي او خوزيږي د لحې اطلاق د ږيرې په ويښتو باندې دا د قبيلې د تسمې د حال نه دي په اسم د محل باندې يعنې اطلاق د لحې په ويښتو د ږيرې باندې اطلاق مجازي دي او حقيقي اطلاق نه دي

مسئلة الباب : په دې باب کې په اودس کې د ږيرې سره متعلق دوه حکمونه بيان شوي دي .

اولنې مسئله : په اودس کې د ږيرې وظيفه ! غسل يا مسح؟

د ږيرې دوه قسمونه دي : **خفيفه** او **کثه** . خفيفه هغه ده کوم کې چې د مخ پوستکې په نظر راشي ، په

---

(۱) مسند احمد ج ۶ ص ۲۳۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دي کې ډېرې ویختان لوانده کول نه کافي کیږي ، بلکې دمغ پوستکي ته هم اوبه رسول ضروري دي . کشه: یعني دګنې ګیرې په باره کې زمونږ په نزد اته قولونه موندلي کیږي دصحیح قول مطابق "غَسْلُ جمیعِ اللحیة فرض" یعني دمغ په ځای ګیره وینځل فرض دي. لیکن ددې نه هغه ګیره مراد ده کومه چې دمغ پد حدودو کې وي . مسترسل یعني دزنې لاندې چې کوم ویختان رازوړند دي دهغې وینځل ضروري دي نه مسح .

دویمه مسئله: په اودس کې دګیرې دخلال حکم:

(۱) داهل ظواهرو په نزد واجب دي .(۲) دجمهورو په نزد سنت یا مستحب دي .

داهل ظواهرو دلیل: حدیث ابوداود "هکذا أمرني ربي" او امر لپاره دوجوب یا فرضیت دی .

دجمهور دلیل: قرآن کریم کې داودس دفرائضو په ضمن کې دګیرې دخلال ذکر نشته دی . دغه شان دصفت وضو په مشهور روایاتو کې هم دتخلیل حکم نشته ، لهذا دحدیث الباب نه به استحباب یا سنتیت ثابت شي .

اهل ظواهروته جواب: امر په هرځای کې دوجوب لپاره نه وي،لکه آیت "واذا حللتم فاصطادوا" کې اصطادوا یعني صیغه د امر لپاره دوجوب نه ده .

خلال دګیرې طریقه: د ډېرې د خلال د پاره دوه جائزې طریقې بنودل شوي دي (۱) چې د ډېرې په بره طرف کې ګوتې واچول شي او د بره طرف نه لاندې طرف خلال وکړي شي .

(۲) دویم دا چې په بنې لاس یو لپه اوبه راواخیستل شي او زنې ته یې لاندې طرف نه نزدې کړي او د ډېرې په لاندې طرف کې ګوتې داخلې کړي شي او بره طرف خلال کړي شي . (وکیفیته ان یدخل اصابعه فیها ویخلل من الجانب الاسفل الی فوق) وهو المنقول عن شمس الائمة الکردري .(۱)

بَابُ تَخْلِيلِ الْأَصَابِعِ

باب دی په بیان د خلالولو دګوتو کې:

{۱۳۴} عَنْ عَاصِمِ بْنِ لَقِيطِ بْنِ صَبِرَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قُلْتُ يَارَسُولَ اللهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الْوُضُوءِ قَالَ أَسْبِغِ الْوُضُوءَ وَخَلِّلِ الْأَصَابِعَ وَبَالِغْ فِي الْإِسْتِنْشَاقِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ صَائِمًا . رواه الاربعة و صححه الترمذي و

---

(۱) فتاوی عالمګیره ج۱ سنن الوضوء

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن خزيمة والبغوي، وابن القطان.[1]

ترجمه : د عاصم بن لقيط بن صبره نه روايت دي چې خما پلار ويلي دي چې ما عرض وکړ چې ای د الله رسوله ماته د اودس په باره کې څه خبره وکړه رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې پوره او مکمل اودس کوه او د ګوتو خلال کوه او په استنشاق کې مبالغه کوه مګر که ته روژه دار وي نو مبالغه مه کوه . د دي حديث روايت څلورو محدثينو کړې او ترمذي ، ابن خزيمه ، بغوي او ابن قطان دا صحيح ګڼلې دي .

{۱۳۵} وَعَنْ اِبْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا تَوَضَّأْتَ فَخَلِّلْ اَصَابِعَ يَدَيْكَ وَ رِجْلَيْكَ رواه احمد وابن ماجه والترمذي وحسنه.[2]

ترجمه : د حضرت ابن عباس رضی الله عنه نه روايت دی چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې کله ته اودس وکړي نو د لاسونو او د خپو ګوتي خلال کړه . د دي حديث روايت احمد ، ابن ماجه او ترمذي کړي دي او ترمذي دا حسن ګڼلې دي .

مسئلة الباب: په اودس کې ګوتو خلال حکم :

(۱) دبعضي اهل ظواهرو په نزد ګوتو خلال واجب دی .(۲) دائمه اربعو په نزد ګوتو خلال مسنون یا مستحب دی

داهل ظواهرو دليل: حديث الباب "خللوا الاصابع" صيغه دامر دوجوب لپاره ده .

دجمهور دليل: آيت وضو او په مشهور حديثو کې دتخليل اصابع ذکر نشته دی .

اهل ظواهرو ته جواب : امر په هر ځاي کې دوجوب لپاره نه وي آيت (واذا حللتم فاصطادوا) ګورئ

قوله "أسبغ الوضوء" داسباغ في الوضو دري درجې دي .

۱.فرض : دفرضو مقدار هر اندام لره وينځل او دسر مسح کول .۲. سنت : اعضاء مغسوله لره دري دري ځله وينځل .۳. استحباب : هر اندام لره دوينځلو نه پس په دي اوبه بهول .

---

(۱) ابوداؤد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۹ باب في الاستنثار، ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۱۶ باب في تخليل الاصابع سنائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۰ باب الامر بتخليل اللحية ، ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۳۵ باب تخليل الاصابع صحيح ابن خزيمة كتاب الطهارة ج۱ صـ ۷۸ رقم الحديث ۱۵۰.

(۲) ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ۱۶ باب في تخليل الاصابع،ابن ماجة،ابواب الطهارة صـ۳۵ ب تخليل الاصابع،مسند احمد ج۱ صـ ۲۸۷

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابٌ فِيْ مَسْحِ الْأُذُنَيْنِ

باب دي په مسح د غوږونو کې :

{۱۳۶} عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّأَ فَغَرَفَ غُرْفَةً فَغَسَلَ وَجهه ثُمَّ غَرَفَ غُرْفَةً فَغَسَلَ يَدَه اليمنٰى ثُمَّ غَرَفَ غُرْفَةً فَغَسَلَ يَدَه اليسرٰى ثُمَّ غَرَفَ غُرْفَةً فَمَسَحَ بِرَأْسِهٖ وَ أُذُنَيْه دَاخِلَهُمَا بِالسَّبَّابَتَيْنِ وَ خَالَفَ بِإِبْهَامَيْه إِلٰى ظَاهِرِ أُذُنَيْه فَمَسَحَ ظَاهِرَهُمَا وَبَاطِنَهُمَا ثُمَّ غَرَفَ غُرْفَةً فَغَسَلَ رِجلَه اليمنٰى ثُمَّ غَرَفَ غُرْفَةً فَغَسَلَ رِجلَه اليسرٰى رواه ابن حبان و آخرون و صححه ابن خزيمة و ابن مندة .(۱)

ترجمه دحضرت عباس رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم اودس اوکړو نو يو لپه اوبه يې راواخيستې او خپل مبارک مخ يې پرې ووينځلو بيا يې يو لپه اوبه راواخيستې او خپل ښي لاس يې پرې اوينځلو بيا يې يو لپه اوبه راواخيستې او خپل چپ لاس يې پرې اوينځلو بيا يې يو لپه اوبه راواخيستې او دخپل سر او دغوږونو مسح يې اوکړه ددواړو غوږونو دننه حصه دشهادت په ګوتې سره او په بهرنۍ حصه باندې يې ګوته راخلکه . او بيا يې يو لپه اوبه راواخيستې او خپله ښي خپه يې ووينځله بيا يې يو لپه اوبه راواخيستې او ګسه يې ووينځله .ابن حبان او نورو دې لره روايت کړې دی او ابن خزيمه او ابن منده دې لره صحيح ګرځولې دی .

دوه اختلافي مسئلې :

اولنۍ مسئله : په اودس کې دغوږونو وظيفه ! مسح يا غسل؟

(۱) ، داود ظاهري رحمه الله او دامام زهري رحمه الله په نزد دغوږونو وظيفه غسل(وينځل) دي .

(۲) ، دائمه اربعو رحمه الله په نزد دغوږونو وظيفه مسح ده .

دفريق اول دليل : دقرآن آيت (فاغسلوا وجوهكم) کې په لحاظ دلغوي معنى غوږ هم په مخ کې داخل دی لهذا ددې وينځل لازم دي

دائمه اربعو رحمه الله دليل : حديث (إنما الأذنان من الرأس) لهذا دسر په شان به دغوږونو مسح هم وي

---

(۱) صحيح ابن حبان كتاب الطهارة ج۳ ص ۱۵۲ رقم الحديث ۱۰۸۳ ، صحيح ابن خزيمة كتاب الطهارة ج۱ص۷۷ برقم ۱۴۸، تلخيص الحبير ج۱ ص ۹۰ باب سنن الوضوء .

Maktaba Tul Ishaat.com

دفريق اول جواب : حديث په مقابله كې لغوي معنى باندې د شرعي احكاماتو مدار نه وي

دويمه مسئله : دغوږونو دمسح لپاره دنوي اوبو راخيستلو حكم

۱، دامام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ په نږد دغوږونو دمسح لپاره نوي اوبه ضروري دي دسر نه پاتې شوني اوبه كافي نه دي

۲ دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ ، مالک واحمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نږد غوږ د سر تابع دى لهذا جدا اوبه ضروري نه دي

دامام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ دليل : حديث دابوداود " **وأخذ ماء جديدا لصماخيه" أي الأذنين.**

دائمه ثلاثو رَحِمَهُ اللَّهُ دليل :حديث " **الأذنان من الرأس**" رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې غوږونه سر سره دي يعني د سر تابع دي ، او په يو حديث كې " **واذا مسح رأسه خرجت الخطايا من أذنيه**" په دي كې دمسح نسبت سر طرفته اوكړې شو او دگناهونو دغورزيدو نسبه يې غوږونه اوگرځول.

امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ ته جواب : د تطبيق صورت دادي چې " **وأخذ ماء جديدا**" والا حديث لره دگوتې داوچدو په صورت باندې محمول كړي شي.

بَابُ التَّيَمُّنِ فِي الوُضُوء

په اودس كې په بني طرف د شروع كولو باب :

{۱۳۷} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا تَوَضَّأْتُمْ فَابْدَءُوا بِمَيَامِنِكُمْ

رواه الاربعة و صححه ابن خزيمة .(۱)

توجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې كله تاسو اودس كوئ نو په خپل بني طرف شروع كوئ د دي حديث روايت څلورو محدثينو كړي او ابن خزيمه صحيح ګڼي دي.

---

(۱) ابوداود كتاب اللباس ج ۲ صـ ۲۱۵ باب في الانتعال ، نسائي كتاب الوضوء ، ابن خزيمة كتاب الطهارة ج۱ صـ ۹۱ رقم الحديث ۱۷۸. صـ باب ابن ماجة ابواب الطهارة صـ ۳۳ باب التيمن

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا يَقُولُ بَعدَ الفَرَاغِ مِنَ الوُضُوء

باب دي په بيان د هغه شئ کې چې ويلي شي روسته د فارغيدو د اودس نه :

{۱۳۸} عَن عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مِنكُم مِن اَحَدٍ يَتَوَضَّأُ فَيُبلِغُ اَو فَيُسبِغُ الوُضُوءَ ثُمَّ يَقُولُ : اَشهَدُ اَن لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَ اَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبدُهُ وَرَسُولُهُ اِلَّا فُتِحَت لَهُ اَبوَابُ الجَنَّةِ الثَّمَانِيَةِ يَدخُلُ مِن اَيِّهَا شَاءَ رواه مسلم والترمذي وَزَادَ اَللّٰهُمَّ اجعَلنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجعَلنِي مِنَ المُتَطَهِّرِينَ .(۱)

ترجمه : د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې په تاسو کې يو سړي او يوکس اودس وکړي نو بنه طريقې سره اودس وکړي بيا دا دعا وواېي (اَشهَدُ اَن لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ وَ اَشهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبدُهُ وَرَسُولُهُ) يعني زه گواهي ورکوم چې الله يو ذات دي او دالله نه پرته غير بل هيڅ معبود نشته يک يو ذات دي هيڅوک ورسره شريک نشته او زه گواهي ورکوم چې په تحقيق محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله بنده او رسول دي . نو د ده د پاره به د جنت اته واړه دروازې پرانستې شي په دې کې يې چې د کومې دروازې نه خو بنه وي داخل به شي . د دې حديث روايت مسلم او ترمذي کړي دي او دا الفاظ يې زيات کړي دي چې (اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين) يعني اى الله ما د ډير توبه ويستونکو کسانو او د بنه پاکيزو خلکو نه وگرزوي .

مسئلة الباب : په يو روايت کې دشهادتين نه پس د " اَللّٰهُمَّ اجعَلنِي مِنَ التَّوَّابِينَ وَاجعَلنِي مِنَ المُتَطَهِّرِينَ " زياتوالي هم راغلي دى . لهذا مکمله دعا لوستل پکار دي .

بَابُ المَسحِ عَلَى الخُفَّينِ

په موزو باندې د مسحې باب :

{۱۳۹} عَنِ المُغِيرَةِ بنِ شُعبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَاَهوَيتُ لِاَنزِعَ

---

(۱) مسلم کتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۲۲ باب الذکر المستحب عقب الوضوء ، ترمذي ابواب الطهارة ج ۱ ص ۱۸ باب ما يقال بعد الوضوء

Maktaba Tul Ishaat.com

خُفَّيه فَقَالَ دَعهمَا فَإِنِّي أَدخَلتُهمَا طَاهِرَتَينِ عَلَيهِمَا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت مغيره ابن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو سفر کې وم ما اراده وکړه چې د ښي خپو نه موزي اوباسم نو هغه وفرمايل چې دا پريږده چې ما په تحقيق سره دا د طهارت په حالت کې په خپو کړي دي . نو په هغې يې مسح وکړه . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۱۷۰} وَعَن شُرَيحِ بنِ هانئ قَالَ أَتَيتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَسأَلُهَا عَنِ المَسحِ عَلَى الخُفَّينِ فَقَالَت : عَلَيكَ بِابنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَاسئَلهُ فَإِنَّه كَانَ يَسافِرُ مَعَ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلنَاه فَقَالَ جَعَلَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيامٍ وَلَيَالِيهِنَّ لِلمُسَافِرِ وَيَومًا وَلَيلَةً لِلمُقِيمِ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : شريح بن هانئ ويلي دي چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته ورغلم چې د موزو د مسح په باره کې تري پوښتنه وکړم نو هغې راته وويل چې د ابي طالب زوي ته ورشه، رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هغه نه پوښتنه وکړه ځکه چې هغه به د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره سفر کاوه نو مونږ د هغه نه پوښتنه وکړه هغه وفرمايل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د مسافر د پاره دري ورځې او شپې مقرري کړيدي او د مقيم د پاره يې يوه ورځ او شپه مقرره کړي ده . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

{۱۷۱} وَعَن أَبِي بَكرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ لِلمُقِيمِ يَومًا وَلَيلَةً وَلِلمُسَافِرِ ثَلَاثَةَ أَيامٍ وَلَيَالِيهِنَّ فِي المَسحِ عَلَى الخُفَّينِ رواه ابن الجارود و آخرون و صححه الشافعي والخطابي وابن خزيمة .(۳)

ترجمه : د حضرت ابي بکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې په تحقيق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ په موزو باندې په مسح کې د مقيم د پاره يوه ورځ او يو شپه او د مسافر د پاره دري ورځې او دري شپې متعين کړي دي د دې حديث، روايت ابن جارود او نورو محدثينو کړي دي او دا حديث امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ، خطابي او ابن خزيمه صحيح ګڼلي دي .

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۳۳ باب اذا ادخل رجليه وسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۳۴ باب المسح على الخفين .

(۲) مسلم كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۳۵ باب التوقيت في المسح على الخفين .

(۳) المنتقى لابن جارود صـ ۳۹ رقم الحديث ۸۷ ، تلخيص الحبير ج۱ صـ ۱۵۷ باب المسح على الخفين .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۴۲} وَ عَن صَفْوَانَ بنِ عَسَّالٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُنَا إِذَا كُنَّا سَفْرًا أَن لَا نَنْزِعَ خِفَافَنَا ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَ لَيَالِيهِنَّ إِلَّا مِن جَنَابَةٍ لَكِن مِن غَائِطٍ وَ بَوْلٍ وَنَوْمٍ رواه احمد والنسائي والترمذي و آخرون و صححه الترمذي والخطابي وابن خزيمة و حسنه البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت صفوان ابن عسال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته امر فرمائلي دي چې کله مونږ په سفر کې وُ چې تر دري وُ ورځو او شپو پوري موزي مه وباسئ په غير د جنابت نه ليکن د غټو او وړو بولو او د خوب د وجهې نه موزي مه وباسئ، دا حديث احمد رَحِمَهُ اللهُ نسائي رَحِمَهُ اللهُ . ترمذي او نورو محدثينو روايت کړي دي. ترمذي خطابي او ابن خزيمه صحيح ګنړلي دي او بخاري حسن ګنړلي دي.

{۱۴۳} وَ عَن عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَوكَانَ الدِّينُ بِالرَّأيِ لَكَانَ أَسْفَلَ الخُفِّ أَولَى بِالمَسحِ مِن أَعلَاهُ وَقَد رَأَيتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمسَحُ عَلَى ظَاهِرِ خُفَّيهِ. رواه ابوداود و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي که چرته دين په رايه وي نو د موزي لاندي طرف مسح به بهتره وه د موزي د بر: طرف نه او په تحقيق ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې د موزو په بښکاره او بر د طرف يې مسح کوله. د دي حديث روايت ابوداؤد کړي دي او اسناد يې حسن دي.

{۱۴۴} وَ عَن عَوفِ بنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي غَزوَةِ تَبُوكَ بِالمَسحِ عَلَى الخُفَّينِ قَالَ ثَلَاثٌ لِلمُسَافِرِ وَ يَومٌ وَ لَيلَةٌ لِلمُقِيمِ رواه احمد والطبراني في الاوسط و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۳)

ترجمه : حضرت عوف بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تبوک په غزا کې په موزو باندي د مسح امر وکړ هغه وفرمايل چې د مسافر د پاره دري او د مقيم يوه ورځ او

---

(۱) مسند احمد ج۴ صـ ۲۳۹، ۲۴۰ ، ترمذي ابواب الطهارات ج۱ صـ ۲۷ باب المسح على الخفين للمسافر والمقيم ، نسائي كتاب الطهارة ج۱ ص ۳۲ باب التوقيت في المسح على الخفين للمسافر ، صحيح ابن خزيمة كتاب الطهارة ج۱ صـ ۹۹ رقم الحديث ۱۹۴ ، تلخيص الحبير ج۱ صـ ۱۵۷ باب المسح على الخفين.

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۲ باب كيف المسح .

(۳) مسند احمد ج۴ صـ ۲۷ ، مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۵۹ باب التوقيت في المسح على الخفين نقلاً عن الطبراني الاوسط ، كشف الاستار عن زوائد البزار كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵۷ رقم الحديث ۳۰۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

یوه شپه . دا حدیث احمد او طبراني په اوسط کې بیان کړې دی هیثمي ویلې دي چې رجال یې د صحیح احادیثو رجال دي .

په موزو باندې دمسح تفصیلي بحث

په موزو باندې دمسح دوه شرطونه دی : (۱) چې په سهولت او اسانتیا سره پښې ته صاف پوښلې شي ، (۲) اوبه هم بدا نکړې شي

فقهي توجیه : حنفیانو دخفف نه دي . دکوم دوه چې په چې دخپو وظیفه دوه پښتو غسل نه مسح نه واسانتیا په توګه مسقل شوه

دمسح علی الخفین مشروعیت او ثبوت :

علماؤ لیکلی دي چې مسح علی الخفین ددې امت دخصوصیاتو نه دي . لکه څنګه چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ارشاد دی "صلوا في خفافكم فان اليهود لا يصلون في خفافهم ".

شیعه روافض او دخوارجو نه علاوه پوره امت په دې خبره باندې اتفاق دی چې مسح علی الخفین مطلق جائز دی که سفر وي یا حضر ، دیو ضرورت دوجې وي یا بلا ضرورت ، سړي او ښځي تولو لپاره همدا حکم دی .

دشیعه روافضو دلیل : حضرت علی رضی الله عنه مسح علی الخفین قائل نه وو

دخوارجو دلیل : په کتاب الله کې د غسلِ رجلین حکم راغلې دی ، مسح علی الخفین ددې مخالف حکم دی .

داهل سنت والجماعت دلائل :

۱.... داو دس آیت (وامسحوا برؤسكم وأرجلكم) یعني دارجلکم جر والا قرأت دکوم مطابق چې دخپو مسح کول پکار وو ، دا حکم دموزو اغوستو په وخت کې دی .

۲.... احادیث متواتره کوم چې دمسح علی الخفین دجواز په ثبوت باندې دلالت کوي ، قولي او فعلي :

(الف) حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه، عمر فاروق رضی الله عنه، عبدالله بن عمر رضی الله عنه، ابن عباس رضی الله عنه، ابن مسعود رضی الله عنه، ابن عمرو رضی الله عنه، عائشه رضي الله عنها، ابوهریره رضی الله عنه، او نور صحابه کرام رضي الله عنهم روایت کوي چې "إنه عليه السلام مسح على الخفين".

(ب) دحضور صلی الله علیه وسلم ارشاد دی "لمسح المقيم يوماً وليلة والمسافر ثلاثة أيام ولياليها".

۳.... تول صحابه کرام رضي الله عنهم دمسح علی الخفین په جواز باندې قائل پاتې شوي دي ، حسن بصري رحمه الله وایي چې زه دبدر اویا صحابو سره ملاو شوم ، هغه تول دمسح علی الخفین

Maktaba Tul Ishaat.com

دجواز قائله وو ، امام احمد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي "ليس في قلبي شئ من المسح على الخفين فيه اربعون حديثا عن صحابة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ موقوفا و مرفوعا" يعني فرمايي چې زما په زړه کې دمسح على الخفين متعلق هيڅ شبه نشته ، ځکه چې ددې په باره کې دڅلويښت صحابو نه مرفوع او موقوف روايتونه دي .امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ فرمايي " ما قلت بالمسح على الخفين حتى جاء في مثل ضوء النهار ، زه دمسح على الخفين قائل په هغه وخت کې اوګرخيدم چې کله ماته درنا ورڅې په شان ددې دلائل واضح شو او امام مسح على الخفين داهل سنت والجماعت يوه پيژندنه اوګرخوله .

ابن عبدالبر رَحِمَهُ اللهُ فرمايي " وهو (أي المسح على الخفين) مذهب سائر أهل بدر والحديبية وغيرهم من المهاجرين والانصار وسائر الصحابة والتابعين وفقهاء المسلمين"

شيعه ته جواب : بعضې صحابو ته تر هغه وخته پورې تردد وو ترڅو پورې چې ددوي په علم کې دا نه وو راغلي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نزول مائده يعني آيت داودس (کوم کې چې دمشهور قرأت مطابق د غسل رجلين حکم دی) نه پس هم مسح على الخفين ځه شي دی ، چې کله دوي ته ددې علم اوشو نو بيا تردد هم ختم شو ، چنانچې دباب حديث نمبر ۱۴۰ " جَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَ لَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ" او حديث نمبر ۴۳ "لَوْكَانَ الدِّينُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِن أَعْلَاهُ وَ قَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَاهِرِ خُفَّيْهِ" دواړه دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دي .

خوار جو ته جواب : (۱) ددې متعلق روايتونه حد دتواتر ته رسيدلي دي دکوم په ذريعې سره چې د کتاب الله ديو حکم دتقيد يا ددې په حکم کې اضافه ممکنه ده .(۲) دا ويل چې **مسح على الخفين** د اودس دآيت خلاف دی دا غلطه ده ځکه چې داودس په آيت کې د "أرجلكم" دوه قرائتونه مشهور دي ، يو بالنصب دکوم نه چې غسل ثابت دی او دا حالت په غير خف باندې محمول دی ، دويم بالجر دکوم نه چې دمسح ثبوت دی او دا حالت په خف باندې محمول دی همداسې دقرآن په آيت باندې مکمل طور باندې عمل کول دي .

د مسح على الخفين دمدت په باره کې اقوال :

(۱) دامام ابو حنيفه ، شافعي ، او احمد رحمهم الله په نزد دمقيم لپاره يو ورځ او يو شپه او مسافر لپاره دري ورځې او دري شپې دمسح مدت دی .(۲) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد چې ترڅو پورې

Maktaba Tul Ishaat.com

موزې او نه باسي يا ورته جنابت لاحق نه شي نو مسح دې پرې کوي مقيم وي او که مسافر . ګويا چې دا د عدم توقيت قائل دی او جمهور د توقيت قائل دي .

د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ دليل : د ابو داود دوه روايتونه ۱. د خزيمه بن ثابت رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث "ولو استزدناه لزادنا" يعني که مونږ د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ددريو ورځو نه زيات اجازت اخيستل غوختلي نو مونږته به يې د دريو ورځو نه زياتې مسح کولو اجازت هم راکړي وي.

۲.... حديث د اُبي بن أبي عماره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ: دوي د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ديوې ورځې د مسح اجازت وغوختلو حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورله اجازت وركړو ، ددوو ورځو يې تري او غوختلو نو وريې کړو ، مخکې يې ابی فرمايي " حتى بلغ سبعاً" يعني حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته داوه(۷) ورځو پورې د مسح کولو اجازت راکړو . په يو روايت کې دي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په آخر کې دا هم اوفرمايل "ماشئت" کوم وخت پورې چې غواړي مسح کولې شي.

د جمهورو دلائل : د باب ۱۴۰ نمبر حديث د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث دي (۲) د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **يمسح على ظاهر خفيه** . (۳) د ابي بکره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت چې د باب ۱۴۱ نمبر حديث دي په دي کې د مسح په توقيت باندې تصريح شويده (**جعل رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ للمقيم يوماً وليلة وللمسافر ثلاثة ايام ولياليهن في المسح على الخفين** . (المنتقي لابن جارود صـ ۳۹ . موارد الظمآن صـ ۷۳ .

حضرت صفوان بن عسال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ۱۴۲ نمبر حديث روايت کړي دي ويلي يې دي چې (**كان رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يامرنا اذا كنا سفراً** الخ) .

امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ ته جواب :

۱.... په اولني حديث کې دننه د (لو استزدناه لزادنا) الفاظو زيادت صحيح نه دي لکه چې علامه زيلعي رَحِمَهُ اللّٰهُ او علامه ابن دقيق العيد د دې ضعف بيان کړي دي . (معارف السنن ج ۱ صـ ۳۳۵).

او بعض حضراتو ويلي دي چې دا ابتدايي واقعه ده او دې نه پس وقت او موده مقرر شوه او بعض حضراتو دا جواب کړي دي چې دا د حضرت خزيمه رَحِمَهُ اللّٰهُ خپل ګمان دي او شرعًا حجت او دليل نه دي . او د دې تولونه بهتر جواب د ترمذي په شرح کې علامه ابن سيد الناس کړي دي **لوثبت لم**

Maktaba Tul Ishaat.com

تقبلها حجة لان الزيادة على التوقيت مظنونة بأنهم لو سئلوا زادهم وهذا صريح في انهم لم يسئلوا ولا زيدوا فكيف تثبت زيادة بخبر دل على عدم وقوعها كما في شرح المنتقى للشوكاني. يعنې معنى دا چې که چرته دا حديث ثابت هم شي نو په دې سره حجت او دليل نه شي قائم کيدې ځکه چې په يو وقت باندې دغه زيادت شکمن او مظنون دي په دې شان سره که دوي زياتوالي غوښتي وي هغې به دوي ته زياتوالي کړې وي او دا صريح دي په دې کې چې دوي زياتوالي نه دي غوښتي او نه دوي ته زياتوالي شوي دي نو په داسې خبره څنګه زيادت ثابت شي چې په عدم وقوع باندې دلالت کوي

(۲) **دليل** : د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دويم استدلال په ابوداؤد کې د حضرت ابي بن عماره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي. انه قال يارسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ المسح على الخفين ؟ قال نعم قال يوما ؟ قال ويومين ؟ قال ثلثة ؟ قال نعم وما شئت. او په يو روايت کې داسې دي عن ابي بن عمارة (قال فيه حتى بلغ سبعا قال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نعم ما بدالک) دغه روايت په عدم توقيت باندې صريح او بنکاره دي. ليکن د دې جواب دا دي چې دا د سند په اعتبار سره ضعيف دي لکه چې امام ابوداؤد رَحِمَهُ اللهُ فرمائلي دي وقد اختلف في اسناده وليس هو بالقوي او امام بيهقي په کتاب المعرفه کې فرمائلي: اسناده مجهول او امام دارقطني په خپل سنن کې ليکلي دي چې دغه اسناد ثابت نه دي او بخاري ويلي چې صحيح نه دي او امام نووي رَحِمَهُ اللهُ په شرح المهذب کې نقل کړي چې ايمه ؤ ددې په ضعف باندې اتفاق کړي دي او جوزجاني په موضوعاتو کې شمار کړي دي. او په دې کې عبد الرحمن بن رزين. محمد بن يزيد او ايوب بن قطن تول مجهول دي. (معارف السنن ج۱ ص۳۳۵).

دمسح على الخفين كيفيت : په موزو باندې مسح دپاسه طرف يا لاندې يا په دواړو طرفونو؟(۱) امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد اعلى او اسفل دواړو طرف، اعلى باندې واجب او اسفل باندې مستحب ده. (۲) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف پاسنۍ حصه باندې، په اسفل باندې نه واجب ده او نه مستحب.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل: دمغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث په سند دوليد بن مسلم " فمسح أعلى الخف وأسفله".

دامام ابوحنيفه او احمد رحمهم الله دليل: حديث دعلي رضي الله عنه " لَوْكَانَ الدِّينُ بِالرَّأْيِ لَكَانَ أَسْفَلُ الْخُفِّ أَوْلَى بِالْمَسْحِ مِنْ أَعْلَاهُ وَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ عَلَى ظَاهِرِ

Maktaba Tul Ishaat.com

خُفَّيه" همدارنګه دمغيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ احاديث (کوم چې دوليد بن مسلم په واسطه سره نه دی) دکوم چې الفاظ دادي: "فمسح على الخفين ظاهرهما".

فريق اول ته جواب: دوليد بن مسلم روايت لره اکثرو محدثينو ضعيف او معلول ګرځولي دي، ددويم روايت په رنا کې دا هم ممکنه ده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصلا اعلى الخف باندې مسح کړي وي ليکن اسفل نه دمنع کولو دپاره يې دلاس نه اونيولو، دي لره مسح سره تعبير او کړي شو.

اَبْوَابُ نَوَاقِضِ الْوُضُوء

د اودس د ماتوونکو شيانو بابونه:

بَاب الوضوء مِنَ الخَارِجِ مِنْ اَحَدِ السَّبِيلَيْنِ

د يو د دوو لارو نه د خارجيدو په وجه د اودس باب:

{۳۵} عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال: قال رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُقْبَلُ صَلَاةُ مَنْ أَحْدَثَ حَتّٰى يَتَوَضَّأَ قَالَ رَجُلٌ مِنْ حَضْرَمُوتَ مَا الْحَدَثُ يَا أَبَا هُرَيْرَةَ قَالَ فُسَاءٌ أَوْ ضُرَاطٌ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: د هغه چا مونځ نشي قبلېدي چې بې اودسه شي تر څو پورې چې اودس وکړي د حضرموت يوسړي وويل اي ابي هريره بې اودسه کيدل څه شي دي ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې پسکن او يا تيز. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

{۳۶} وَعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي بَطْنِهِ شَيْءً فَأَشْكَلَ عَلَيْهِ أَخَرَجَ مِنْهُ شَيْءٌ أَمْ لَا فَلَا يُخْرُجَنَّ مِنَ الْمَسْجِدِ حَتّٰى يَسْمَعَ صَوْتًا أَوْ يَجِدَ رِيحًا رواه مسلم.(۲)

ترجمه: او د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې ستاسي په خيټه کې يو څه پيدا شي يعنې ګړبړ پکې راشي او هغه په اشتباه کې شي چې ايا څه شي خارج شوي دي او که نه نو د مسجد نه دي نه وځي څو پورې چې اواز واوري او يا يې بوي معلوم نکړي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۲۵ باب في الوضوء، مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۱۸ باب وجوب الطهارة للصلوة.

(۲) مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۸ باب الدليل على ان من تيقن ....الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۲۷} وعن صَفْوَانَ بْنِ عَسَّالٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَرْفُوعًا فِي حَدِيثِ الْمَسْحِ لَكِنْ مِنْ غَائِطٍ وَّ بَوْلٍ وَنَوْمٍ رواه احمد و آخرون باسناد صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت صفوان بن عسال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د مسح په باره کې مرفوع روايت دي چې ....ليکن د ډکو او تشو بولو او د خوب په وجه اودس ماتيږي. د دي حديث روايت احمد او نورو محدثينو کړي او اسناد يې صحيح دي.

{۱۲۸} وعن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ رَجُلًا مُذَّاءً فَكُنْتُ أَسْتَحْيِي أَنْ أَسْأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِمَكَانِ ابْنَتِهِ فَأَمَرْتُ الْمِقْدَادَ بْنَ الْأَسْوَدِ فَسَأَلَهُ فَقَالَ يَغْسِلُ ذَكَرَهُ وَيَتَوَضَّأُ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه يو داسې سړي وم چې ډيره مذي به رانه تله ماته حيا راتله چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه پوښتنه وکړم ځکه چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ لور ځما په نکاح کې وه نو مقداد ابن اسود ته مې په دې باره کې امر وکړ هغه تري پوښتنه وکړه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمائل چې استنجادي وکړي او اودس دي وکړي.

{۱۲۹} وَعَنْ عَائِشٍ بْنِ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ عَلَى مِنْبَرِ الْكُوفَةِ يَقُولُ كُنْتُ أَجِدُ مِنَ الْمَذْيِ شِدَّةً فَأَرَدْتُ أَنْ أَسْئَلَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَتْ إِبْنَتُهُ عِنْدِي فَاسْتَحْيَيْتُ أَنْ أَسْأَلَ فَأَمَرْتُ عَمَّارًا فَسَأَلَهُ فَقَالَ إِنَّمَا يَكْفِي مِنْهُ الْوُضُوءُ رواه الحميدي في مسنده و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : حضرت عائش بن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې ما د کوفې په ممبر باندې د حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوريدلي دي چې ويل يې چې زه د مذي په وجه په ډيره سختۍ کې وم ما غوښتل چې بذات خود رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړم او د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لور زما په نکاح کې وه نو زه شرميدم چې پوښتنه تري وکړم نو عمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته مې حکم وکړ نو هغه تري پوښتنه وکړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د دي نه اودس کافي دي. د دي حديث روايت حميدي په خپل مسند کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

---

(۱) مسند احمد ج۴ ص ۲۳۹، ۲۴۰.

(۲) بخاري كتاب الغسل ج۱ صـ ۴۱ باب غسل المذي ، مسلم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۴۳ باب المذي .

(۳) مسند حميدي ج۱ صـ ۲۳ برقم ۴۹ وسنن نسائي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۶ باب ما ينقض الوضوء ومالاينقض من المذي .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۵۰} و عن عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سُئِلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْمُسْتَحَاضَةِ فَقَالَ تَدَعُ الصَّلَاةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا ثُمَّ تَغْتَسِلُ غُسْلًا وَاحِدًا ثُمَّ تَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ رواه ابن حبان و اسناده صحيح.[1]

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې د مستحاضي په باره کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه وکړي شوه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمايل چې د حيض په ورځو کې دي مونځ پريږدي بيا دي يو غسل وکړي بيا دي د هر مانځه د وخت د پاره اودس کوي. د دي حديث روايت ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

مسئلة الباب : په دې باب کې دري نواقض داودس بيان شوي دي.

اولنې ماتونکي داودس : خارج من السبيلين.

امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ، شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په دې خبره باندې اتفاق دی چې خارج من السبيلين ناقض داودس دی که معتاد وي يا غير معتاد وي. دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد خارج من السبيلين که معتاد وي نو ماتونکي دي اودس لره ورنه نه دي، مثلا مذي او دم استحاضه دا جمهورو په نزد د نصوصو د مطلق کيدو د وجې نه ناقض داودس دی او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ د دې نه اودس لره امر تعبدي گرځوي.

دويم ماتونکي داودس : خروج مذي، بالاتفاق اودس لره ماتونکي دی تفصيل يې په "باب ما جاء في المذي" کې تير شوی دی.

دريم ماتونکي اودس لره : دم استحاضه، ددې بيان هم مفصلا "باب الاستحاضه" کې تير شوي دی.

بَابُ مَا جَاءَ فِي النَّوْمِ

باب دي په بيان د هغه څه کې چې د خوب په باره کې راغلي دي :

وَقَدْ تَقَدَّمَ حَدِيثُ صَفْوَانِ بْنِ عَسَّالٍ فِيهِ.

په دې باره کې د صفوان بن عسال حديث مخکې تير شوي دي.

---

(۱) صحيح ابن حبان كتاب الطهارة ج۳ص۲۶۹ رقم الحديث ۱۳۵۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۵۱} و عن أنس ابن مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَهْدِهِ يَنْتَظِرُونَ الْعِشَاءَ حَتَّى تَخْفِقَ رُؤُسُهُمْ ثُمَّ يُصَلُّونَ وَلَا يَتَوَضَّؤُونَ رواه ابوداود و الترمذي بأسناد صحيح و اصله في مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام اصحابو به د ده په زمانه کې د ماسختن د مانځه انتظار کاوه تر دي پورې چې سرونه به يې د پرکالنۍ وُ يا به يې مونځ وکړ او اودس به يې نه کاوه . د دي حديث روايت ابوداوُد او ترمذي کړي دي په صحيح سند سره . او د دي اصل په مسلم کې دي.

{۱۵۲} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَيْسَ عَلَى الْمُحْتَبِي النَّائِمِ وَلَا عَلَى الْقَائِمِ النَّائِمِ وَلَا عَلَى السَّاجِدِ النَّائِمِ وُضُوء حَتَّى يَضْطَجِعَ فَإِذَا اضْطَجَعَ تَوَضَّأَ رواه البيهقي في المعرفة و قَالَ الحَافِظُ فِي التَّلْخِيصِ (ار۱۴۰) إِسْنَادُهُ جَيِّدٌ (۲)

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نشته په محتبي (شا کړو پې باندي) چې اوده وي او نه په ولاړ اوده او نه په سجده لرونکي او ده باندي اودس تر هغې پورې چې ارځ ولګوي نو کله يې چې ارځ ولګاوه اودس به کوي . د دي حديث روايت بيهقي په اوسط کې کړي دي او حافظ په تلخيص کې ويلي دي چې اسناد يې جيد دي.

مسئلة الباب : خوب لره دناقض وضو کيدو متعلق دري مشهور اقواله دادي :

(۱) اسحاق بن راهويه رَحِمَهُ اللهُ او حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا ناقض وضو دی .

(۲) حضرت ابوموسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، سعيد بن المسيب رَحِمَهُ اللهُ او امام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا ناقض نه دی .

(۳) ائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ استرخاء دمفاصلو (چې جوړونه يې سست شي) سره خوب لره ناقض داودس ګرځوي.

يا دائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد استرخاء مفاصل لپاره دمعيار په تعين کې لاندې تفصيل دی .

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۶ باب في الوضوء من النوم ، ترمذي ابواب الطهارة ج۱ صـ ۲۴ باب الوضوء من النوم، مسلم کتاب الحيض ج۱ صـ ۱۶۳ باب الدليل على ان نوم الجالس...الخ

(۲) معرفة السنن والآثار کتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۶۹ رقم الحديث ۹۴۱، تلخيص الحبير ج۱ صـ ۱۲۰

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد مونځ کې دننه یا دمونځ نه بهر ولاړه او ناسته رکوع او دسجدې په حالت کې کوم چې دسنت مطابق وي ، اوده کیدل ناقض داوضو نه دی ، په باقي حالاتو کې لکه ودې لګول په ودې سملاسټل او په یو شي ودې لګول اوده کیدل وغیره ناقض داوضو دي .

(۲) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په ناسته په داسې حالت کې اوده کیدل چې کوناټي یې په زمکه باندې لګیدلې وي اوضو لره ماتونکې نه دی ، او نور په ټولو حالاتو کې ناقض داوضو دی .

۳.... دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد داصح قول مطابق حالت قیام او قعود کې دنوم کثیر او ددې دوو حالتونو نه علاوه نوم مطلقا ناقض دی .

۴.... دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد نوم کثیر مطلقا ناقض دی او قلیل مطلقا ناقض نه دی .

دفریق اول دلیل: حدیث دصفوان بن عسال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "لکن من غائط وبول ونوم" په دې کې نوم لره یې مطلقا ناقض ګرځولې دی .

دفریق دوم دلیل: حدیث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "كَانَ أَصْحَابُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى عَهْدِهِ يَنْتَظِرُونَ الْعِشَاءَ حَتَّى تَخْفِقَ رُؤُسُهُمْ ثُمَّ يُصَلُّونَ وَلَا يَتَوَضَّؤُونَ" په دې کې دصحابه کرامو دمطلقا نوم نه داوضو نه کولو ذکر دی .

ددریم فریق دلیل: حدیث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " ان الوضوء لا یجب الا علی من مضطجعًا فانه اذا اضطجع استرخت مفاصله " په دې کې داسترخاء مفاصل اعتبار کړې شوې دی . بیا داحنافو پخپلې تشریح باندې دلیل حدیث دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "لَيْسَ عَلَى الْمُحْتَبِي النَّائِمِ وَلَا عَلَى الْقَائِمِ النَّائِمِ وَلَا عَلَى السَّاجِدِ النَّائِمِ وُضُوءٌ حَتَّى يَضْطَجِعَ فَإِذَا اضْطَجَعَ تَوَضَّأَ" دی .

فریق اول ته جواب: حدیث صفوان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې دقلیل او کثیر فرق نه دې کړې شوې لیکن دنورو احادیثو نه دې لره استرخاء مفاصل والا خوب سره به مقید کولې شي .

دویم فریق ته جواب: په مسند بزار کې حدیث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داسې مروي دي چې کومو صحابو ته خه دوب خوب ورغلي وو هغوی ته حکم ورکړې شو لهذا ددې حدیث نه دمطلق نوم غیر ناقض کیدو باندې استدلال صحیح نه دی .

بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الدَّمِ

دوینې دوجې نه داوضو کولو باب :

(۱۵۲) عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصَابَهُ قَيْءٌ أَوْ رُعَافٌ أَوْ قَلْسٌ أَوْ

Maktaba Tul Ishaat.com

مَذِي فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ لِيَبْنِ عَلَى صَلَاتِهِ وَهُوَ فِي ذٰلِكَ مَا لَا يَتَكَلَّمُ رواه ابن ماجه و في اسناده مَقَالٌ وتقدَّمَ حديثُ عائشة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا في باب الاستحاضة .(۱)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي څوک چې قي وکړي او يا يې د پوزو نه وينه لاړه شي او يا اولتي وکړي او يا تري مذي خارج شي نو سلام دي وګرزوي او اودس دي اوکړي او بيا دي په خپل دغه مونځ باندي بنا وکړي ولي چې څو پوري يې خبري نه وي کړي هغه په مانځه کې دي د دې حديث روايت ابن ماجه کړي او د دې په اسناد کې خبري شته او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث د استحاض په باب کې تيرشوي دي.

{۱۵۴} و عن ابن عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا رَعَفَ رَجَعَ فَتَوَضَّأَ وَلَمْ يَتَكَلَّمْ ثُمَّ رَجَعَ وَبَنَى عَلَى مَا قَدْ صَلَّى رواه البيهقي و آخرون و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي کله به چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د پوزو نه وينه وبهيده واپس به لاړ نو اودس به يې وکړ او خبري به يې نه وي کړي نو بيا به راواپس شو او بناء به يې په هغه مونځ باندي وکړه کوم يې چې کړي وُ يعني د سر نه به يې مونځ نه ګرځاوه ، د دې حديث روايت بيهقي او نورو کړي او اسناد يې صحيح دي.

{۱۵۵} و عنه قَالَ إِذَا رَعَفَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ أَوْ قَرَعَهُ الْقَيْءُ أَوْ وَجَدَ مَذْيًا فَإِنَّهُ يَنْصَرِفُ وَيَتَوَضَّأُ ثُمَّ يَرْجِعُ فَيَبْنِ مَا بَقِيَ عَلَى مَا مَضٰى مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ رواه عبد الرزاق في مصنَّفِه و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کله به چې په مانځه کې د يو سړي پوزه وينې شوه او يا به ورته قي پيدا شو او يا به يې مذي وموندله نو هغه به د مانځه نه وګرځيد او اودس به يې وکړ بيا به واپس راغې او پاتې مونځ به يې په تير شوي مونځ باندي پوره کړ تر څو پوري به يې چې خبري نه وي کړي . د دې حديث روايت عبد الرزاق په خپل مصنف کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

دجسم نه دوينې وتلو حکم

(۱) دامام مالک او دامام شافعي رحمهم الله په نزد ناقض داودس نه دی .

---

(۱) ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۸۷ باب ماجاء في البناء على الصلوة

(۲) سنن الكبرى كتاب الصلوة ص ۲۵۹ باب يبني من سبعة الحديث ...الخ .

(۳) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج ۲ ص ۳۳۹ باب الرجل يحدث ثم يرجع قبل أن يتكلم .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) دامام ابوحنیفه او دامام احمد رَحِمَهُ اللّٰه په نزد چې دخپل ځای نه اوبهیږي تجاوز کونکي وینه اودس لره ماتونکي ده.

امام مالک او دامام شافعي رحمهم الله دليل:

۱... دغزوه ذات الرقاع واقعه ده چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمعمول مطابق دوو صحابه کرامو لره دشپې په وخت دپيرې لپاره مقرر و فرمایيل دهغوي نه يو پخپل نمبر کې په مونځ کې مشغوله شو، په دې کې يو مشرک چې داول نه ورته چرته پټ وو، په ده باندې يې دتير گوزارونه شروع کړل، ليکن هغه صحابي په مونځ کې مشغول وو مونځ قطع کول يې نه غوښتل. دمونځ نه چې کله فارغ شو او خپل ملګري يې چې راويښ کړل نو دده په بدن باندې يې چې وينه وکتله نو ويږيد او وې ويل سبحان الله! تا زه په شروع کې ولې نه راويښولم، چې کله ده اولني تير په تا اويشتو؟ نو هغه صحابي ورته جواب ورکړو ما يو سورت شروع کړې وو دهغه سورت پوره کولو نه بغير ما لمونځ ختمول نه غوښتل. پس که وينه ناقض وضو وايي نو هغه به سمدستي مونځ ماتولو.

۲... مـعـر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي کومه شپه باندې چې په حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ باندې حمله وکړې شوه نو ما وکتل چې حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونځ کولو او دهغه دبدن نه وينې بهيدلې.

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ دلائل:

۱... د باب دري واړه حديثونه، دهغې نه داولني حديث په سند کې څه ناڅه کلام ضرور دی خو بيا هم داخريني حديثونو سند قوي او صحيح دی، دابن عمر صحابي قول غير مدرک بالقياس دې کوم چې دحديث مرفوع په درجه کې دی.

۲... د دم استحاضه والا حديثونه هم داحنافو مؤيد دي ځکه چې هلته علت داستحاضې نه بلکه وينې ويستل يې گرځولې دی "فانما هدم عرق".

امام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ته جواب:

۱. دغزوه ذات الرقاع والا حديث نه استدلال صحيح نه دي ځکه چې (الف) دا حديث صحيح نه دي. (ب) ديو صحابي دې کوم چې ممکن دي چې دهغه اجتهاد وي. (ج) صحابي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مناجات په حالت کې وو ځکه دخروج دم پته ورته نه لګيده. (د) که وينه ناقض وضو نه ده نو ناپاک خو ضرور ده نو بيا ددې صحابي ددې دومره وينې وتلو باوجود چې څنګه مونځ اوکړو او دهغه مونځ څنګه صحيح شو؟ فما هو جوابكم فهو جوابنا.

۲... دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مسلسل وينه بهيدله نو هغه دمعذور په حکم کې وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الْقَيْءِ

ګرځون او د قئ دوجې نه د اودس کولو باب :

{۱۵۶} عَنْ مَعْدَانِ بْنِ اَبِي طَلْحَةَ عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاءَ فَتَوَضَّأَ فَلَقِيتُ ثَوْبَانَ فِي مَسْجِدِ دِمَشْقَ فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لَهُ فَقَالَ صَدَقَ اَنَا صَبَبْتُ لَهُ وُضُوءَهُ رواه الثلاثة و اسناده صحيح وَقَدْ تَقَدَّمَ اَحَادِيثُ الْبَابِ فِي الْبَابِ السَّابِقِ.(۱)

ترجمه : د حضرت ابو درداء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې بیشکه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قئ وکړو نو اودس یې وکړو نو زه د دمشق په مسجد کې د ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره مخامخ شوم نو دا حدیث او خبره مې ورته یاده کړه نو وې ویل چې رښتیا یې ویلي دي ما ورته د اودس او به اچولې. دا حدیث دري ؤ محدثینو روایت کړي او اسناد یې صحیح دي. د باب احادیث په مخکې باب کې هم تیر شوي دي.

مسئلة الباب :

د قئ حکم

(۱) دامام مالک او دامام شافعي رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد قي مطلقا ناقض داودس دی.

(۲) دامام ابو حنیفه او احمد رحمهم الله په نزد په دې کې خوله قي ناقض داودس دی.

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او دامحمد رَحِمَهُ اللّٰهُ دلیل : د باب حدیث ابو الدرداء او د ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا، همدارنګې د تیر شوي باب حدیثونه هم مؤید دي حال دا چې مالکیه او شوافعو سره په دې مسئله کې څه صریح حدیث نشته.

بَابُ الْوُضُوءِ مِنَ الضَّحِكِ

د خندا دوجې نه د اودس کولو باب :

{۱۵۷} عَنْ اَبِي مُوسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ اِذْ دَخَلَ رَجُلٌ فَتَرَدّٰى فِي حُفْرَةٍ كَانَتْ فِي الْمَسْجِدِ وَكَانَ فِي بَصَرِهِ ضَرَرٌ فَضَحِكَ كَثِيرٌ مِنَ الْقَوْمِ وَهُمْ فِي الصَّلَاةِ فَاَمَرَ رَسُولُ

---

(۱) ترمذي ابواب الطهارت ج۱ ص ۲۵ باب الوضوء من القيء والرعاف ، ابوداؤد كتاب الصيام ج۱ ص ۳۲۴ باب الصائم يستقي عامدا.

Maktaba Tul Ishaat.com

الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ضَحِكَ أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَيُعِيدَ الصَّلَاةَ رواه الطبراني في الكبير ورجاله ثقات والارسال صحيح في الباب. (۱)

ترجمه : حضرت ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته مونځ کاوه چې يو سړي راغې او په جومات کې يوه کنده وه په هغې کې وروغورځيده او د ده په سترګو کې نقصان ؤ په مانځه کې ډيرو خلکو وخندل نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړ چې چا خندلي وي اودس دي راوګرزوي او مونځ دي هم راوګرزوي . د دې حديث روايت طبراني په کبير کې کړيدي او رجال يې ثقه دي او په دې باب کې ارسال صحيح دي .

{۱۵۸} و عن أَبِي الْعَالِيَةِ الرِّيَاحِيِّ أَنَّ أَعْمٰى تَرَدّٰى فِي بِئْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي بِأَصْحَابِهِ فَضَحِكَ بَعْضُ مَنْ كَانَ يُصَلِّي مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ ضَحِكَ مِنْهُمْ أَنْ يُعِيدَ الْوُضُوءَ وَيُعِيدَ الصَّلَاةَ رواه عبد الرزاق في مصنفه واسناده مُرْسَلٌ قَوِيٌّ. (۲)

ترجمه : ابو العاليه رياحي ويلي دي چې ييشکه يو روند سړي په کوهي کې ولويد او نبي عَلَيْهِ السَّلَام صحابه ؤ ته مونځ کاؤ نو بعضې هغه کسانو وخندل کومو کسانو چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام سره مونځ کاوه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام هغه چاته چې خندلي يې ؤ امر وکړ چې اودس دي هم بيا وکړي او مونځ دي هم راوګرزوي . د دې حديث روايت عبد الرزاق په خپل مصنف کې کړي او اسناد يې مرسل قوي دي .

مسئلة الباب : په قهقهې سره د خندا حکم :

په دې کې خو دتولو اتفاق دي چې داسې خندا کول چې قهقهه وي نو مونځ لره ماتوي ، ليکن آيا ناقض داودس لره هم دي يا نه ؟ په دې کې اختلاف دي .

(۱) دائمه ثلاثة رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مطلقا ناقض دمونځ نه دی . (۲) دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دعاقل بالغ کس درکوع او دسجدې والا مونځ کې په قهقهې سره خندا ناقض دمونځ ده .

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دليل :

۱... په دې باره کې دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه کوم صريح او صحيح حديث هم منقول نه دي .

۲.... قياس : يعنې چې کله قهقهه خارج صلاة ناقض نه ده نو داخل صلوة هم ناقض نه ده پکار .

---

(۱) مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۲۴۶ باب الوضوء من الضحك هذا عن الطبراني في الكبير .

(۲) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۲ صـ ۳۷۶ باب الضحك والتبسم في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل : دباب حدیث مرسل دکوم مطابق چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و صحابو نه دخندیدو نکو ته اعاده د صلاة حکم ورکړي وو .

ائمه ثلاثه ته جواب : (۱) دجمهورو په نزد حدیث مرسل چې کله صحیح سند سره مروي وي مقبول دی .(۲) دقیاس په مقابله کې حدیث ته ترجیح حاصله ده . ورنه ضحک او قهقهه د مفسد صلاة کیدو څه دلیل دی حال دا چې هغه هم خلاف قیاس دي .

بَابُ الْوُضُوءِ بِمَسِّ الذَّكَرِ

د ذکر د مسه کولو د وجې نه د اودس کولو باب :

{۱۵۹} عَنْ بُسْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا مَسَّ أَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ رواه مالك في الموطأ و آخرون و صححه احمد والترمذي والدار قطني والبيهقي و في الباب أحاديث أخر .(۱)

ترجمه : حضرت بُسرة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي کله چې یو ستاسي خپل مخصوص اندام مس کړي نو اودس دي وکړي د دي حدیث روایت په مؤطا امام مالک کې دي او نورو محدثینو کړي دي او احمد ، ترمذي ، الدار قطني او بیهقي صحیح ګنرلي دي او په باب کې نور احادیث هم شته .

{۱۶۰} و عن طلق بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَجُلٌ مَسَسْتُ ذَكَرِي أَوْ قَالَ رَجُلٌ يَمَسُّ ذَكَرَهُ فِي الصَّلَاةِ أَعَلَيْهِ وُضُوءٌ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا إِنَّمَا هُوَ بِضْعَةٌ مِنْكَ أَخْرَجَهُ (۵۹) الْخَمْسَةُ وَ صَحَّحَهُ ابْنُ حِبَّانَ والطبراني وابن خزيمة وَ قَالَ ابْنُ الْمَدِينِي هُوَ أَحْسَنُ مِنْ حَدِيثِ بُسْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا .(۲)

ترجمه : حضرت طلق بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي چې یو سړي وویل چې ما خپل ذکر مسح کړي او یا یو سړي وویل چې خپل ذکر یې مسح کړي و په مونځ کې ایا په ده باندې اودس شته؟ نوپیغمبر عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمایل چې نه بلکه دا ستادجسم یوه حصه ده دا حدیث پنځو محدثینو خارج کړي او ابن حبان ، طبراني اوابن خزیمه صحیح ګنرلي دي اوابن مدیني ویلي چې داحدیث دبسره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث نه احسن دي .

---

(۱) مؤطاامام مالک کتاب الطهارة ص۳۰ باب الوضوء من مس الفرج،المنتقى ابواب الطهارات ج۱ص۲۵باب الوضوء من مس الذكر،مسنداحمد ج۶ ص ۴۰۶،دارقطني كتاب الطهارة ج۱ص۱۳۷باب مايروي في نسخ القبل والدبر والذكر ،سنن الكبرى كتاب الطهارة ج۱ص۱۲۸باب الوضوء من مس الذكر

(۲) ابوداؤدكتاب الطهارة ج۱ص۲۴باب الرخصة في ذلك،المنتقى ابواب الطهارات ج۱ص۲۵ باب ترك الوضوء من مس الذكر، نسائي كتاب الطهارة ج۱ص۳۸باب ترك الوضوء من ذلك،ابن ماجة ابواب الطهارة ص۳۷باب الرخصة في ذلك رقم الحديث ۸۲۷۹ ، ۸۲۸۳،۸۲۸۴، صحيح ابن حبان كتاب الطهارة ج۳ ص ۱۶۹ علي ابن حزم كتاب الطهارة ج۱ ص ۱۹۲ باب مس الرجل ذكره نفسه خاصة ....ا ه .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۶۱} وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّه كَانَ لَا يَرٰى فِي مَسِّ الذَّكَرِ وُضُوءًا رواه الطحاوي و اِسْنَادُه صَحِيحٌ.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ذكر په مسح كولو سره اودس ضروري نه ګڼي د دي حديث روايت طحاوي كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۲۶۲} وَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَا اُبَالِي اَنِّي مَسَسْتُ اَوْ اُذُنِي اَوْ ذَكَرِي رواه الطحاوي وَفِي اِسْنَادِهٖ لِيْنٌ.(۲)

ترجمه : حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي هيڅ پروا نه كوم زه چې خپله پوزه مې مسه كړي او يا غوږ اويا خپل ذكري مسه كړي يعني د دي تولوشيانو په مسه كولو اودس نه ماتيږي دا حديث طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ نقل كړي دي او د دي په اسناد كې نرمي او ضعيف دي.

{۲۶۳} وَ عَنْ اَرْقَمَ بْنِ شُرَحْبِيلَ قَالَ قُلْتُ لِعَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِنِّي اَمَسُّ جَسَدِي وَ اَنَا فِي الصَّلَاةِ فَاَمَسُّ ذَكَرِي فَقَالَ اِنَّمَا هُوَ بِضْعَةٌ مِنْكَ رواه محمدٌ بْنُ الْحَسَنِ فِي الْمُوَطَّاِ و اسناده حسن.(۳)

ترجمه : ارقم بن شرحبيل ويلي دي چې ما عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وويل چې زه خپل بدن د مانځه په حالت كې ګروم نو خپل ذكر مسه كړم نو هغه وويل چې بې شكه دا ستا د بدن يوه حصه ده.

{۲۶۴} وَ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ قَيْسٍ قَالَ : قَالَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي مَسِّ الذَّكَرِ مِثْلُ اَلِفِكَ رواه محمد في الموطأ و اسناده حسن.(۴)

ترجمه : البراء بن قيس ويلي دي چې حذيفه بن يمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ذكر مس په بڼه كې ويلي دي چې ستا پوزې په شان دي. د دي حديث روايت محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په موطا كې كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۲۶۵} و عَنْ قَيْسِ بْنِ اَبِي حَازِمٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ اِلٰى سَعْدِ بْنِ اَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَرَجُلٌ لِي اَنْ اَمَسَّ ذَكَرِي وَاَنَا فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ اِنْ خَلَتْ اَنَّ مِنْكَ بَضْعَةً لَمَسَّتَهَا رواه احمد في الموطأ و اسناده حسن.(۵)

---

(۱) طحاوي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۵۹ باب الوضوء بمس الفرج.
(۲) طحاوي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۵۹ باب الوضوء بمس الفرج.
(۳) مؤطا امام محمد صـ ۵۵ باب الوضوء من مس الذكر.
(۴) مؤطا امام محمد صـ ۵۵ باب الوضوء من مس الذكر.
(۵) مؤطا امام محمد صـ ۵۸ باب الوضوء من مس الذكر.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : قیس بن ابي حازم ویلي دي چې سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته یو سړي راغې وې ویل ایا ماته د مانځه په حالت کې حلال دي چې خپل مخصوص اندام مس کړم نو هغه وویل که چرته ته پوهیږي چې ستا د بدن یوه توټه او توکره پلیته ده نو غوښه یې کړه . د دي حدیث روایت محمد په موطا کې کړي او اسناد یې حسن دي.

{۲۶۶} وَ عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ سُئِلَ عَنْ مَسِّ الذَّكَرِ فَقَالَ اِنَّمَا هُوَ بَضْعَةٌ مِنْكَ رواه احمد و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د حضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د ذکر د مس کولو په باره کې پوښتنه وکړې شوه نو هغه وویل چې بې شکه دا ستا د بدن یوه توکره او توټه ده . د دي حدیث روایت محمد کړي او اسناد یې حسن دي.

{۲۶۷} وَ عَنِ الْحَسَنِ عَنْ خَمْسَةٍ مِنْ اَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ عَلِيُّ بْنُ اَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ حُذَيْفَةُ بْنُ الْيَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَرَجُلٌ آخَرُ اَنَّهُمْ كَانُوْا لَا يَرَوْنَ فِي مَسِّ الذَّكَرِ وُضُوْءًا رواه الطحاوي ورجاله ثقات.(۲)

ترجمه : د حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پنځو صحابه کرامو چې یو حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حذیفه بن یمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمران بن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او بل یو سړي د دوي څخه نه یې ګڼره اودس د مس د ذکر نه . د دي حدیث روایت طحاوي کړي او رجال یې ثقه دي.

مسئلة الباب : د ذکر د مس کولو نه د اودس حکم

(۱) دائمه ثلاثه په نږدې مس ذکر (یو څو شرائطو باندې) ناقض اودس دي .(۲) دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نږدې مطلقا ناقض اودس دي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دلیل : حدیث دبسره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مرفوعا "إِذَا مَسَّ اَحَدُكُمْ ذَكَرَهُ فَلْيَتَوَضَّأْ".

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل :

۱... حدیث د طلق بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوعا "إِنَّمَا هُوَ بَضْعَةٌ مِنْكَ".

۲. جلیل القدر صحابه کرام رضي الله عنهم مس ذکر لره په شان دپوزې او دنورو اعضاؤ په شان یې

---

(۱) مؤطا امام محمد صـ ۵۸ باب الوضوء من مس الذكر .

(۲) طحاوي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۵۹ باب الوضوء من الخارج .

Maktaba Tul Ishaat.com

++ګڼلې دي او غير ناقض يې ګرځولې.

۲... قياس : ذکر دنورو اندامونو په شان يو اندام دي لهذا دنورو اعضاو په شان دخروج نجاست نه بغير دي سره هم اودس نه ـ ي ماتيدل پکار.

ائمه ثلاثو رَحِمَهُمُ اللهُ ته جواب او په دوو حديثونو کې تطبيق :

۱... حديث دبسره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ضعيف دی.

۲... حديث دبسره رضي الله عنها په مقابله کې حديث دطلق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ترجيح حاصله ده ، ځکه چې دې مسئلې تعلق دسړو سره دي او حضرت بسره رضي الله عنها ښځه ده ، همدارنګې دحديث طلق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سند کې هيڅ اضطراب هم نشته په خلاف دحديث دبسره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا. دصحابه کرامو رضي الله عنهم يو لوي جماعت هم دنه ناقض کيدو قائله وو.

۳... دتطبيق يو څو صورتونه ممکن دي چې : حديث بسره رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کې (الف) دنقض وضو حکم استحبابي وي .(ب) دوضو نه معنی لغوي يعنې دواړه لاسونه وينځل مراد وي .(ج) مس ذکر دمباشرت فاحشه نه کنايه وي.

بَابُ الوُضُوءِ مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ

په اور باندې د پوخ شوي شي نه د اودس کولو باب :

{۴۸۸} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمائل يې :اودس کوئ په اور باندې د پوخ شوي څيز نه . د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

{۴۸۹} وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ رواه مسلم (۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې په اور باندې د پوخ شوي شي نه اودس کوئ. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

---

(۱) مسلم کتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۷ باب الوضوء مما مست النار.

(۲) مسلم کتاب الحيض ج: صـ ۱۵۷ باب الوضوء مما مست النار.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۴۰} وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ كَتِفَ شَاةٍ ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د ګډ او د پسه د لاس غوښه وخوړه بيا يې مونځ وکړ او اودس يې ونه کړو د دي حديث روايت مسلم او بخاري کړي دي.

{۱۴۱} وَعَنْ مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَكَلَ عِنْدَهَا كَتِفًا ثُمَّ صَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : حضرت ميمونې رضي الله عنها ويلي دي چې نبي عليه السلام د دي سره د ګډ او پسه د لاس غوښه وخوړه بيا يې مونځ وکړ او اودس يې ونه کړ د دي حديث روايت مسلم او بخاري کړي دي.

{۱۴۲} وَعَنْ عَمْرِو بْنِ أُمَيَّةَ الضَّمْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْتَزُّ مِنْ كَتِفِ شَاةٍ فَأَكَلَ مِنْهَا فَدُعِيَ إِلَى الصَّلَاةِ فَقَامَ وَطَرَحَ السِّكِّينَ وَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ اخرجه الشيخان.(۳)

ترجمه : حضرت عمرو بن ضمري رضي الله عنه ويلي دي چې ما رسول الله صلى الله عليه وسلم وليد چې د ګډ د لاس نه يې غوښه کښ او راپرې کړه او هغه يې وخوړه نو مانځه ته وبللي شو نو پاڅيده او چاره يې کيښوده او مونځ يې وکړ او اودس يې ونه کړ. دا حديث شيخينو خارج کړي دي.

{۱۴۳} وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ جَلَسَ عَلَى الْبَابِ الثَّانِي مِنْ مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَدَعَا بِكَتِفٍ فَتَعَرَّقَهَا ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى وَلَمْ يَتَوَضَّأْ ثُمَّ قَالَ جَلَسْتُ مَجْلِسَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَكَلْتُ مَا أَكَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَنَعْتُ مَا صَنَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه احمد وابو يعلى والبزار وقال الهيثمي رجال احمد ثقات.(۴)

ترجمه : د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه روايت دي چې بې شکه هغه د نبي عليه السلام د مسجد په دويم دروازه کې ناست وُ نو د ګډ يو لاس يې راوغوښت نو د هغې غوښه يې وخوړه بيا ودريده او

---

(۱) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۳۴ باب من لم يتوضأ من لحم الشاة.

(۲) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ۳۴ باب من مضمض من السويق ولم يتوضأ، مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ۱۵۷ باب الوضوء مما مست النار.

(۳) بخاري كتاب الوضوء ج۱ صـ ۳۴ باب من لم يتوضأ من لحم الشاة، مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۵۷ باب الوضوء مما مست النار.

(۴) مسند احمد ج۱ صـ ۶۲، كشف الاستار عن زوائد البزار، كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵۲ باب ترك الوضوء مما مست النار رقم الحديث ۲۹۵، مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۵۱ باب ترك الوضوء مما مست النار.

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ يې وکړ او اودس يې ونه کړ. بيا يې وويل چې زه د رسول الله ﷺ په خاي کښاستم بيا ما هغه څه وخوړه چې رسول الله ﷺ خوړلي وُ او هغه څه مې وکړ چې نبي عليه السلام کړي وُ. د دې حديث روايت احمد رحمه الله، ابو يعلى او بزار کړي او هيثمي ويلي دي چې د احمد رحمه الله رجال ثقه دي.

{۱۷۶} وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يَأْكُلُ اللَّحْمَ ثُمَّ يَقُومُ إِلَى الصَّلَاةِ وَلَا يَمَسُّ مَاءً. رواه احمد و ابو يعلى و قال الهيثمي رجاله موثقون.(۱)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه روايت دي چې يې شکه نبي عليه السلام وُ چې غوښه به يې خوړه بيا به مانځه ته پاڅيده او اوبو ته يې لاس کړي هم نه دي. د دې حديث روايت احمد رحمه الله او ابو يعلى کړي دي او هيثمي ويلي دي چې رجال يې موثق دي.

{۱۷۷} وَعَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَمُرُّ بِالْقِدْرِ فَيَأْخُذُ الْعَرْقَ فَيَصِيبُ مِنْهُ ثُمَّ يُصَلِّي وَلَمْ يَتَوَضَّأْ وَلَمْ يَمَسَّ مَاءً رواه احمد و ابو يعلى والبزار و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۲)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې وه رسول الله ﷺ چې د يوې کتوئ سره تيريده نو د هغې نه يې غوښه راواخسته او وي خوړه بيا يې مونځ وکړ او اودس يې ونه کړ او نه يې اوبو ته لاس ورورو. د دې حديث روايت احمد رحمه الله، ابو يعلى رحمه الله او بزار رحمه الله کړي دي او هيثمي ويلي دي چې رجال د دې حديث رجال د صحيح دي.

په اور باندې دپوخ کړې شوې شي نه داودس حکم

په دې مسئله کې په ابتداء کې د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د تابعينو اختلاف وو:

(۱) بعضې صحابه، مثلاً حضرت ابوهريره، زيد بن ثابت او عبدالله بن عمر رضي الله عنهم او بعضې تابعين مثلاً عمر بن عبدالعزيز، ابن شهاب زهري او حسن بصري رحمه الله وغيره د مامست النار نه داودس قائل وو.

---

(۱) مسند احمد ج۱ صـ ۴۰۰، مسند ابويعلى ج ۹ رقم الحديث ۵۲۷۴، مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱صـ ۲۵۱ باب ترك الوضوء مما مست النار ومما لا يعلى فيما يمس لفطرة ماء.

(۲) مسند احمد ج۶صـ ۱۶۱، مسند ابي يعلى ج۷صـ ۴۲۷ رقم الحديث ۴۴۳۹، كشف الاستار عن زوائد البزار كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۵۲ باب ترك الوضوء مما مست النار رقم الحديث ۲۹۸ مجمع الزوائد كتاب الطهارة ج۱ صـ ۲۵۳ باب ترك الوضوء مما مست النار.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) بعضي صحابه كرام مثلا خلفاء راشدين ، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغيره دهغه داوس كولو قائل نه وو .

دفريق اول دليل : حديث "تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ" .

ددوهم فريق دليل : هغه ټول حديثونه كوم كي چې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اور كې پوخ شوي شي دخوړلو نه پس بغير دتجديد داوس كولو دمونځ ذكر دي.

جواب او تطبيق : دصحابه او دتابعينونه وروسته دمامست النار نه داوس نه ماتيدو باندې اتفاق وشو.

اوس "تَوَضَّئُوا مِمَّا مَسَّتِ النَّارُ" كې لاندې يو څو تاويلونه كيداى شي:

۱... هغه حديث منسوخ شو ، دليل : حديث دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " قال كان اخر الامرين من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترك الوضوء مما مست النار " (ابوداود شريف).

۲... دوضو نه مراد وضو لغوي ده يعني لاسونه ترکلايانوپوري وينځل.

دليل : حديث دعكراش رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اور باندې پوخ كړې شوې شي اوخوړو بيا خپل دواړه لاسونه مبارک يې اوينځل او بيا يې پخپل مبارک مخ باندې راخكله او وې فرمايل " هكذا الوضوء مما غيرت النار". (ترمذي شريف). ۳... داوس حكم استحبابي دى.

بَابُ الْوُضُوءِ مِنْ مَسِّ الْمَرْأَةِ

باب داوس دي د ښځې د مس كولو نه :

{۱۷۶} عَنْ أَبِي عُبَيْدَةَ وَطَارِقِ بْنِ شِهَابٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى (أَوْلَامَسْتُمُ النِّسَاءَ) قَالَ مَعْنَاهُ مَادُونَ الْجِمَاعِ رواه البيهقي في المعرفة وَقَالَ هٰذَا إِسْنَادٌ مَوْصُولٌ صَحِيحٌ .(۱)

ترجمه : د ابي عبيده او طارق بن شهاب نه روايت دي چې عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د الله تعالى د دي قول په متعلق ويلي دي چې د (اولا مستم النساء) معنى مادون د جماع ته ويلي شي . د دي حديث روايت په معرفت كې بيهقي كړي دي او ويلي يې دي چې دا اسناد موصول صحيح دي .

---

(۱) معرفة السنن والآثار كتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۷۳ رقم الحديث ۹۵۵ ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الطهارة ج۱ صـ۱۲۴ باب الوضوء من الملامسة .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۷۷} وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّهٗ كَانَ يَقُوْلُ قُبْلَةُ الرَّجُلِ اِمْرَاَتَهٗ اَوْ جَسُّهَا بِيَدِهٖ مِنَ الْمُلَامَسَةِ فَمَنْ قَبَّلَ اِمْرَاَتَهٗ اَوْ جَسَّهَا بِيَدِهٖ فَعَلَيْهِ الْوُضُوْءُ رواه مالک في الموطأ واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وبل چې د سړي د پاره د خپلې ښځې ښکلول او د هغې سره خپل لاس لګول د ملامست څخه دي نو څوک چې د خپلې ښځې نه بوسه واخلي او مچ يې کړي او يا د هغې سره خپل لاس ولګوي نو په هغه باندې اودس واجب دي. د دي حديث روايت مالک رحمه الله په موطا کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۱۷۸} وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كُنْتُ اَنَامُ بَيْنَ يَدَيْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ رِجْلَايَ فِي قِبْلَتِهٖ فَاِذَا سَجَدَ غَمَزَنِيْ فَقَبَضْتُ رِجْلَيَّ فَاِذَا قَامَ بَسَطْتُهُمَا وَالْبُيُوْتُ يَوْمَئِذٍ لَيْسَ فِيْهَا مَصَابِيْحُ. رواه الشيخان(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رضي الله عنها وايي دي چې زه به د رسول الله صلى الله عليه وسلم مخې ته اوده کيدم او زما دواړه خپې به ده ته مخامخ وي نو کله به چې نبي عليه السلام سجده کوله زه به يې وتومبلم نو ما به خپلې دواړه خپې راغوندي کړې او کله به چې پاڅيده نو دواړه خپې به مې خوري کړې په دغه وخت په کوټو کې ډيوې نه وې. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

{۱۷۹} وَ عَنْ اَبِيْ هُرَيْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ فَقَدْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ مِنَ الْفِرَاشِ فَالْتَمَسْتُهٗ فَوَقَعَتْ يَدِيْ عَلٰى بَطْنِ قَدَمَيْهِ وَهُوَ فِي الْمَسْجِدِ وَهُمَا مَنْصُوْبَتَانِ وَهُوَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَعُوْذُ بِرِضَاكَ مِنْ سَخَطِكَ وَ بِمُعَافَاتِكَ مِنْ عُقُوْبَتِكَ وَ اَعُوْذُ بِكَ مِنْكَ لَا اُحْصِيْ ثَنَاءً عَلَيْكَ اَنْتَ كَمَا اَثْنَيْتَ عَلٰى نَفْسِكَ رواه مسلم.(۳)

ترجمه : حضرت ابوهريره رضي الله عنه د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت کړي هغې ويلي دي چې يوه شپه مې رسول الله صلى الله عليه وسلم د خپلې بستري او فرش نه ورک کړو نو هغه مې ولټولو نو ما خپل لاس د هغه د قدمونو په باطن طرف باندې وروغورځولو په داسې حال کې چې هغه په مسجد کې وُ او دواړه قدمونه يې ولاړ وُ او ده ويل اې الله زه پناه نيسم ستا په رضې د غضب ستا نه او ستا په

---

(۱) موطا امام مالک کتاب الطهارة ص ۳۱ باب الوضوء من قبلة الرجل امرأته.

(۲) بخاري کتاب الصلوة ج۱ ص ۷۳ باب التطوع خلف المرأة، مسلم کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۹۸ باب سترة المصلي...الخ.

(۳) مسلم کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۹۲ باب ما يقول في الركوع والسجود.

Maktaba Tul Ishaat.com

عفوي د عذاب ستا نه او پناه نیسم په تا سره د ستانه زه ستا ثنا داسي نه شم کولي لکه چې ته خپله ثنا په خپل ځان باندي فرمایي . د دي حدیث روایت مسلم کړي دي .

{۱۸۰} وَعَنِ الْقَاسِمِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ اَنْ كَانَ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيُصَلِّي وَاِنِّي لَمُعْتَرِضَةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ اِعْتِرَاضَ الْجَنَازَةِ حَتّٰى اِذَا اَرَادَ اَنْ يُوْتِرَ مَسَّنِي بِرِجْلِهِ . رَوَاهُ النسائي وَاِسْنَادُهُ صَحِيحٌ . (۱)

ترجمه: قاسم د حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روایت کړي هغي ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کاوه او زه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکې د جنازي په شان پرته وم تر دي پورې چې کله نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ اراده د وتر و کړه نو خپلي مبارکي خپې به یې ماسره لګولي . د دي حدیث روایت نسائي کړي او اسناد یې صحیح دي .

{۱۸۱} وَعَنْ عَطَاءٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُقَبِّلُ بَعْضَ نِسَائِهِ ثُمَّ يُصَلِّي وَلَا يَتَوَضَّأُ رواه البزار و اسناده صحيح . (۲)

ترجمه : یعني حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ویلي دي چې وو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د بعض ازواجو تقبیل به یې وکړو بیا به یې مونځ وکړ او اودس به یې نه کاوه . (بزار دې لره رویت کړې دی او ددې سند صحیح دی) .

دښځې خکلو نه اودس حکم

(۱) ائمه ثلاثه رحمهم الله په یو ځو شرائطو سره مس امراة لره ناقض داودس ګرځوي .

(۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مطلقا ناقض داودس نه دي مګر دا چې مباشرت فاحشه نه وي .

دائمه ثلاثو دلیل: دقرآن آیت (اَوْلَامَسْتُمُ النِّسَاءَ) دلته لمس بالید یعني لاسونو سره خکلول مراد دي دکوم نه چې داودس ماتیدو او دابو نه ملاویدو په صورت کې دتیمم حکم دي ، په دې باندې دوه دلیلونه دي ، اول : حمزه رَحِمَهُ اللّٰهُ او دکسائي رَحِمَهُ اللّٰهُ قرأت (اَوْلَمَسْتُمُ النِّسَاءَ) او دویم : دحضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او دابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دلامستم تشریح لمس بالید سره کول او ددې نه داودس کولو حکم ورکول .

---

(۱) نسائي کتاب الطهارة ج۱ صـ ۳۸ باب ترک الوضوء من مس الرجل امرأته ....الخ

(۲) نصب الرایة ج۱ صـ ۷۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ **دلیل**: دباب نور احادیث بالخصوص حدیث دعائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا مرفوعا "كَانَ يُقَبِّلُ بَعْضَ نِسَائِهِ ثُمَّ يُصَلِّي وَلَا يَتَوَضَّأُ".

ائمه ثلاثه رحمهم الله ته جواب:

۱... داوس په آیت کې (أولامستم) دجماع نه کنایه ده ، ځکه چې اصل مقصود حدث اصغر او وحدث اکبر نه دتیمم جواز بیانول دي خو (جاء احد منكم من الغائط) نه دحدیث اصغر بیان اوشو ، اوس (اولامستم) نه حدث اکبر یعني جماع مراد اخیستل قرین قیاس دی ورنه تکرار به لازم راشي کوم چې خلاف اصل دي ، همدارنګه (لامستم) ملامسه بروزن مفاعله دي ، کوم چې دجانبین نه دفعل تقاضا کوي او دا مشارکت جماع یا مباشرت فاحشه کې کیدې شي.

۲... داحادیث صریحه صحیحه په مقابله کې اثر دصحابي نه استدلال صحیح نه دي ، ممکنه ده دا ددوي خپل اجتهاد وي ، همدارنګه ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ آیت طلاق (من قبل أن تمسوهن) کې دمس نه جماع مراد اخیستي وي ، حال دا چې ددې لغوي معنی ده لاسونه سره مس کول.

۳... پوره داحادیثو په ذخیره کې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چا هم په یو موقع باندې دمس امرأة نه اوس نه دي ثابت کړې.

بَابُ التَّيَمُّمِ

باب دي په بیان د تیمم کې:

{۱۸۲} عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي بَعْضِ أَسْفَارِهِ حَتّٰى إِذَا كُنَّا بِالْبَيْدَاءِ أَوْ بِذَاتِ الْجَيْشِ إِنْقَطَعَ عِقْدٌ لِي فَأَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْتِمَاسِهِ وَأَقَامَ النَّاسُ مَعَهُ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ فَأَتَى النَّاسُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالُوا أَلَا تَرَى مَا صَنَعَتْ عَائِشَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا أَقَامَتْ بِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَجَاءَ أَبُو بَكْرٍ وَرَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعٌ رَأْسَهُ عَلَى فَخِذِي قَدْ نَامَ فَقَالَ حَبَسْتِ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسَ وَلَيْسُوا عَلَى مَاءٍ وَلَيْسَ مَعَهُمْ مَاءٌ فَقَالَتْ عَائِشَةُ فَعَاتَبَنِي أَبُو بَكْرٍ وَقَالَ مَا شَاءَ اللّٰهُ أَنْ يَقُولَ وَجَعَلَ يَطْعُنُنِي بِيَدِهِ فِي خَاصِرَتِي فَلَا يَمْنَعُنِي مِنَ التَّحَرُّكِ إِلَّا مَكَانُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى فَخِذِي فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ أَصْبَحَ عَلَى غَيْرِ مَاءٍ فَأَنْزَلَ اللّٰهُ عَزَّ وَجَلَّ آيَةَ التَّيَمُّمِ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَكَيَمَّمُوا فَقَالَ أُسَيدُ بنُ الحُضَيرُ مَاهِيَ بِأَوَّلِ بَرَكَتِكُم يا آلَ أَبِي بَكرٍ قَالَتْ فَبَعَثْنَا البَعِيرَ الَّذِي كُنتُ عَلَيه فَاَصَبنَا العِقدَ تَحتَه رواه الشيخان (۱).

ترجمه :دتیمم باب ام المؤمنین حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په یو سفر کې وتلي ؤ تر دي پورې چې په بیدا او یا په ذات الجیش کې ؤ چې خما هار ؤشکیده نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې په طلب او لټولوکې شروع وکړه او خلک هم د ده - سره د هغې په لټه کې شو او هغو د اوبو سره هم نه ؤ او خلک ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغله نو وي ویل ایا ته نه ګورې چې حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا څه وکړه چې خلک او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یې ودرولي دي ولي چې نه دوي د اوبو سره دي او نه د دوي سره اوبه شته ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې په داسې حال کې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خما په وړون او پتون باندې مبارک سر ایښې ؤ او ده ؤ نو وي ویل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او خلک دي بند کړي نه دوي د اوبو سره دي او نه د دوي سره اوبه شته نو حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې زه ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وزورلم او ملامته یې کړم او هغه څه یې وویل چې د ده د وینا په برخه کې دالله څه رضا وه او پدې خپل لاس یې زه په تشو او اړخونو کې تومبلم د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وجه چې زما په وړون باندې یې مبارک سر ایښې ؤ خوخیدي نه شوم نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم په غیر اوبو سهار راپاڅیده نوالله د تیمم ایت نازل کړ نو خلکو تیمم وواهه . نو اُسید بن الحُضیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل اې د ابوبکر اولاده دا ستاسې اول برکت نه دي حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل هغه اوښ چې زه ورباندې سوره وم مونږ اوچت کړ نو هار مو د هغې لاندې ومونده . د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي .

{۱۸۳} وَ عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا فِي سَفَرٍ مَعَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ فَلَمَّا إنفَتَلَ مِن صَلَاتِهِ إِذَا هوَ بِرَجُلٍ مُعتَزِلٍ لَم يصَلِّ مَعَ القَومِ فَقَالَ مَا مَنَعَكَ يا فُلَانُ أَن تُصَلِّيَ مَعَ القَومِ قَالَ أَصَابَتنِي جَنَابَةٌ وَلَا مَاء قَالَ عَلَيكَ بِالصَّعِيدِ فَإِنَّه يكفِيكَ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : حضرت عمران بن حصین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په یو سفر کې ؤ نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام خلکو ته مونځ وکړ کله چې د مانځه نه راوګرځیده نو وي لیده چې یو سړي یواځې ناست دي د قوم سره یې مونځ نه دي کړي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائل چې د قوم سره د مانځه نه څه شي منع کړي یې هغه وویل چې جنابت راته رسیدلي او اوبه نشته نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائل تا د پاره خاوره ده او

---

(۱) بخاري كتاب التيمم ج۱ صـ ۱۴۸ ، مسلم كتاب الحيض ج۱ صـ ۱۶۰ باب التيمم .

(۲) بخاري كتاب التيمم ج۱ صـ ۴۹ باب الصعيد الطيب وضوء المسلم ....الخ ، مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۴۰ باب قضاء الصلوة الفائة ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه ستاد پاره کافي ده . د دي حديث روايت بخاري او مسلم کړي دي يعني شيخينو .

{۱۸۴} وَ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فُضِّلْنَا عَلَى النَّاسِ بِثَلَاثٍ جُعِلَتْ صُفُوفُنَا كَصُفُوفِ الْمَلَائِكَةِ وَ جُعِلَتِ الْأَرْضُ كُلُّهَا مَسْجِدًا وَ جُعِلَتْ تُرْبَتُهَا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وليلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې مونږ ته په نورو امتونو باندي په دريو شيانو فضيلت راکړي شوي دي زمونږ صفونه د ملائکو د صفونو په شان ګرځولي شوي دي تولې ځمکه زمونږ د پاره مسجد ګرځولي شويده يعنې مونږ په هر ځاي کې مونځ ادا کولي شو او د نورو امتونو د پاره عبادتخاني خاص کړي شوي وي ولي زمونږ د پاره د اوبو د نه موندلو په وخت کې د ځمکې خاوره پاکوونکي ګرځولي شويده . دا حديث مسلم روايت کړي دي .

{۱۸۵} وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اِحْتَلَمْتُ لَيْلَةً بَارِدَةً فِي غَزْوَةِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ فَأَشْفَقْتُ أَنِ اغْتَسَلْتُ فَأَهْلِكَ فَتَيَمَّمْتُ ثُمَّ صَلَّيْتُ بِأَصْحَابِي الصُّبْحَ فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا عَمْرُو صَلَّيْتَ بِأَصْحَابِكَ وَ أَنْتَ جُنُبٌ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي مَنَعَنِي مِنَ الِاغْتِسَالِ وَ قُلْتُ إِنِّي سَمِعْتُ اللهَ يَقُولُ (وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا) فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا رواه ابوداود و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وليلي دي چې يوه يخه شپه کې راته د ذات السلاسل په غزوه کې احتلام ؤشو نو زه ؤويريدم چې که غسل وکړم هلاک به شم نو تيمم مي وکړ او صحابه و ته مي د سهار مونځ وکړو نو دوي دا خبره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وريادې کړه نو وي نرمائل چې اي عمرو صحابو ته دي په داسي حال کې مونځ کړي چې ته جنب وي نو ما په هغه څه خبر کړه چې زه يې د غسل نه منع کړي ؤم او ما وويل چې ما دالله نه اوريدلي دي چې فرمائلي يې دي (او مه وژنئ خپل ځانونه) بيشکه الله جل جلاله دي په تاسو رحم والا ، نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وخندل او هيڅ يې ونه ويل . د دي حديث روايت ابوداود کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج: ۱ ص ۱۹۹.

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج:۱ ص [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۸۶} وَ عَن عَمَّارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنتُ فِي القَومِ حِينَ نَزَلَتِ الرُّخصَةُ فِي المَسحِ بِالتُّرَابِ إِذَا لَم نَجِدِ المَاءَ فَأَمَرَنَا فَضَرَبنَا وَاحِدَةً لِلوَجهِ ثُمَّ ضَربَةً أُخرٰى لِلیَدَینِ إِلَى المِرفَقَینِ رواه البزار وَ قَالَ الحَافِظُ فِي الدِّرَايَةِ بِإِسنَادٍ حَسَنٍ.(۱)

ترجمه : حضرت عمار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې د اوبو نه موجوديت په صورت کې کله چې په خاوره د تيمم رخصت نازل شو زه هم په قوم کې موجود وم نو حکم يې راته وکړو نو مونږ يو ځلي لاسونه په زمکه د مخ د پاره ووهل بيا مو دويم ځلي تر څنګلو پوري د دواړو لاسونو د پاره . دا حديث بزار روايت کړي او حافظ په دراية کې ويلي دي چې اسناد يې صحيح دي .

{۱۸۷} وَ عَن جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلتَّيَمُّمُ ضَربَةٌ لِلوَجهِ وَ ضَربَةٌ لِلذِّرَاعَینِ إِلَى المِرفَقَینِ رواه الدارقطني والحاكم و صححه.(۲)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې تيمم د مخ د پاره په ځمکه باندي يو ځل د لاسونو وهل دي او بل ځل په ځمکه باندي د لاسونو وهل دي د لاسونو د پاره تر څنګلو پوري . دا حديث دارقطني او حاکم روايت کړي دي او صحيح يې ګڼلي دي .

{۱۸۸} وَ عَنه قَالَ جَاءَ رَجُلٌ فَقَالَ أَصَابَتنِي جَنَابَةٌ وَ إِنِّي تَمَعَّكتُ فِي التُّرَابِ فَقَالَ إِضرِب هٰكَذَا وَ ضَرَبَ بِيَدَيهِ الأَرضَ فَمَسَحَ وَجهَه ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدَيه فَمَسَحَ إِلَى المِرفَقَینِ . رواه الحاكم والدارقطني و الطحاوي واسناده صحيح.(۳)

ترجمه : اود حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې يو سړي راغې نو وې ويل چې ماته جنابت رسيدلي او ما په خاورو کې ځان ليت پيت او ککړ پکړ کړنو هغه ورته وويل دغسې ووهه او يو ځلي يې په ځمکه دواړه لاسونه ووهل مخ يې پرې مسح کړ بيا يې دواړه لاسونه په ځمکه ووهل او په دې دواړو يې تر څنګلو پورې لاسونه مسح کړل . د دې حديث روايت حاکم دارقطني او طحاوي کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) الدراية كتاب الطهارة ج۱ صـ ۶۸ باب التيمم .

(۲) دارقطني كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۸۱ باب التيمم؛ مستدرک حاكم كتاب الطهارة ج۱صـ ۱۸۰ باب احكام التيمم.

(۳) دار قطني كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۸۲ باب التيمم ؛ مستدرک حاكم كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۸۰ باب احكام التيمم، طحاوي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۸۱ باب صفة التيمم كيف هي .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۸۹} وَعَنْ نَافِعٍ قَالَ سَأَلْتُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ التَّيَمُّمِ فَضَرَبَ بِيَدَيْهِ إِلَى الْأَرْضِ وَمَسَحَ بِهِمَا يَدَيْهِ وَوَجْهَهُ وَضَرَبَ ضَرْبَةً أُخْرَى فَمَسَحَ بِهِمَا ذِرَاعَيْهِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : نافع ويلي دي چې ما د حضرت بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د تيمم په باره کې پوښتنه وکړه نو دواړه لاسونه يې په خمکه ووهل په دي يې لاسونه او مخ مسحه کړ او په بل ضرب يې خمکه ووهله نو په هغې دواړه څنګلي مسح کړي. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۱۹۰} وَعَنْهُ أَقْبَلَ هُوَ وَعَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ مِنَ الْجُرُفِ حَتَّى إِذَا كَانَ بِالْمِرْبَدِ نَزَلَ عَبْدُ اللهِ فَتَيَمَّمَ صَعِيدًا طَيِّبًا فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ رواه مالک في الموطأ و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : نافع وايي چې زه او عبدالله بن عمر د جرف د مقام نه واپس راتلو تردي پورې چې کله هغه د مربد په مقام ډ نو په هغه پاکه خمکه يې تيمم وکړو خپل مخ او لاسونه يې تر څنګلو پورې مسح کړل. ددي حديث روايت مالک په موطا کې کړي دي. او اسناد يې صحيح دي.

{۱۹۱} وَعَنْ سَالِمٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ كَانَ إِذَا تَيَمَّمَ ضَرَبَ بِيَدَيْهِ ضَرْبَةً فَمَسَحَ بِهِمَا وَجْهَهُ ثُمَّ ضَرَبَ بِيَدَيْهِ ضَرْبَةً أُخْرَى ثُمَّ مَسَحَ بِهِمَا يَدَيْهِ إِلَى الْمِرْفَقَيْنِ وَلَا يَنْفُضُ يَدَيْهِ مِنَ التُّرَابِ رواه الدارقطني و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د سالم نه روايت دي چې کله به حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تيمم کاؤ نو دواړه لاسونه به يې په خمکه ووهل نو په هغې به يې مخ مسح کړو بيا به يې بل ځل دواړه لاسونه په خمکه ووهل بيا به يې په هغې دواړه لاسونه ترڅنګلو پورې مسح کړل او لاسونه به يې د خاورو نه نه څټول. د دي حديث روايت دار قطني دي او اسناد يې صحيح دي.

دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دامت خصوصيت :

تيمم دهغه امت دخصوصياتو نه دي کوم چې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په واسطې سره هغوي ته ملاو شوي دي. چې خاوري لره چې په حقيقت کې ملوث ده پاکونکي يې او ګرځوله دالله تعالى ډير لوي احسان دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الطهارة ج۱ صـ ۸۱ باب صفة التيمم كيف هي.

(۲) مؤطا امام مالک كتاب الطهارة ص ۴۱ باب العمل في التيمم.

(۳) دار قطني كتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۸۲ باب التيمم.

Maktaba Tul Ishaat.com

دمشروعیت سبب: غزوه بني مصطلق کې د حضرت عائشه رضي الله عنها دغاړې هار ورکیدل او دخلکو داوبه نه ملاویدو دوجې نه په مشقت کې پریوتل کوم باندې چې الله تعالی دتیمم آیت نازل او فرمایلو.

ځلور فقهي مسائل

اولنې مسئله: تیمم دزمکې دکوم شي نه اوکړې شي؟

(۱) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ، احمد رَحِمَهُ اللهُ، وابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف په خالصه خاوره تیمم سره تیمم کیږي.

(۲) دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ ومالک رَحِمَهُ اللهُ په نزدچې دزمکې دجنس نه وي په هریو شي سره تیمم کیږي.

دفریق اول دلیل: دحذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث "وَجُعِلَتْ تُرْبَتُهَا طَهُورًا إِذَا لَمْ نَجِدِ الْمَاءَ"، دتربت نه مراد خالصه خاوره ده.

دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او دمالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل:

۱... دتیمم آیت "فتیمموا صعیدًا طیبًا الآیة" ځکه چې صعید مطلق خاوره او دزمکې بهرنې حصې ته وایي.

۲... دحذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث دکوم چې مشهور الفاظ دادي "جُعلت الي الارض مسجداً وطهوراً" په دې کې تولې زمکې لره طهور یعني قابل د تیمم ګرځولې شوې دی.

فریق اول ته جواب:

۱... دحذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث په مشهور روایت کې ،، په ځای مطلق ارض یعني دزمکې ذکر راغلې دی.

۲... په حدیث کې صرف دیو شي ذکر راغلې دی او په نورو ه لایلو سره ورسره په حکم کې نور شیئنه هم شامل شو نهذا هیڅ منافات نشته.

دویمه مسئله: تیمم طهارة مطلقه یا طهارة ضروریه؟

(۱) دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد تیمم طهارة مطلقه (کامله) دې ځکه چې زمونږ په نزد تیمم دمونږ وخت دداخلیدو نه مخکې کولې شي بیا چې تر څو پورې څه داودس ماتونکې شي یا اوبو باندې قادروالې متحقق نشي نو تیمم به باقي وي او په یو تیمم سره چې څومره مونځونه که فرض وي یا نفل کولې شي.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) دائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد تیمم طهارة ضروریه دي ځکه چې د دخول وخت نه وړاندې تیمم صحیح نه دي او د وخت وتلو سره سم به تیمم ماتیږي.

بیا دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په وخت کې دننه فرض او نفل ټول ادا کولې شي او دامام مالک او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد هر فرض لپاره جدا جدا تیمم ضروري دي، البته نوافل د دې دواړو په نزد فرضو تابع دي، د شوافعو رَحِمَهُ اللهُ په نزد نوافل قبلیه وبعدیه دواړه او د مالکیو رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف بعدیه. (الدر المنضود)

دریمه مسئله: دتیمم ضربونه څو دي؟

(۱) دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد تیمم فقط یو ضرب دي دمخ او تر کلاټي پورې دواړو لاسونو لپاره.

(۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ، مالک او شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دوه ضربونه دي: یو مخ لپاره او بل د څنګلو لپاره، البته دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد تر کلایانو پورې فرض او څنګلو پورې مستحب دي.

دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ دلیل: حدیث دعمار بن یاسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " انما یکفیک أن تضرب بیدیک الارض. ثم تمسح بهما وجهک وکفیک". او په یو روایت کې داسې دي " أَمَرَهُ بالتیمم ضربة للوجه والکفین".

دائمه ثلاثه رحمهم الله دلائل:

۱... دباب دیر حدیثونه کوم کې چې صراحة دضربتینو ذکر راغلې دی بالخصوص دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث: " التیمم ضربة للوجه وضربة للذراعین الی المرفقین".

۲... قیاس: تیمم داودس نائب او خلیفه دي، په اودس کې دمخ او د دلاسونو لپاره جدا اوبه راخیستلې شي نو په نائب کې هم دوه ضربونه پکار دي.

دامام احمد رحمه الله ددلیل جواب: حدیث دعمار رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مضطرب دي دده په یو روایت کې دوو ضربونو ذکر راغلې دی " ضربنا واحدة للوجه ثم ضربة اخری للیدین الی المرفقین".

ځلورمه مسئله: دباب حدیث نمبر ۱۹۱ مطابق ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ضرباتو کې دلاسونو نه دخاوري څنډولو قائله نه دي لیکن جمهور علماء دا وینا ده چې په ضرباتو کې دې دلاسونو نه خاوره اوځنډل شي تر څو دمثلې بشکل اونه ګرځي.

Maktaba Tul Ishaat.com

كِتَابُ الصَّلَاة

د مانځه د بیانولو باب :

اولنی بحث : دصلاة لغوي معنی ده دعا او اصطلاحي معنی یې ده په مخصوص وختونو کې مخصوص ارکان ادا کول.

دویم بحث: دمونځ مشروعیت کله وشو؟

په دې باندې خو دټولو اتفاق دې چې دپنځه وخته مونځ ابتداء لیلة الاسراء یعنې دمعراج په شپه اوشوه ، البته دشب معراج کال او دمیاشتې دتاریخ په تعین کې ډیر سخت اختلاف دی ، داکثرو وینا ده چې دهجرت نه دري کاله مخکې اوشو .

دریم بحث : کوم یو مونځ چا اول ادا کړو ؟

په ورځ کې پنځه مونځونه خو بلاشبه دمحمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخصوصیاتو نه دي ، پاتې دماسخوتن مونځ نه علاوه نور مونځونه خو په نورو امتونو کې هم مشروع وو.

دطحاوي شریف دیو روایت مطابق دحضرت آدم علیه السلام توبه چې کله دصبح صادق په وخت کې قبوله شوه نو هغه بیا دوه رکعته اولوستل په دې باندې دسحر مونځ مشروع شو ، او دحضرت اسماعیل علیه السلام فدیه دماسپخین په وخت کې راغلې وه ، کوم باندې چې هغه ځلور رکعته په طور دشکراني ادا کړل دهغه وخت نه دماسپخین مونځ مشروع شو ، او حضرت عزیر علیه السلام لره داوږد خوب نه دمازیګر په وخت کې راویښ کړې شو په هغې باندې هغه ځلور رکعته ادا کړل په دې باندې دمازیګر مونځ مشروع شو ، او دحضرت داود علیه السلام لغزش دمابنام په وخت کې معاف شو نو هغه دځلور رکعته لوستلو په نیت سره اودریدو لیکن دسخت غم او دسترپا دوجې نه دریم رکعت یې اونه لوستلې شو او په دریم رکعت کیناست دهغه وخت نه دمابنام دري رکعته مشروع شو ، او دماسخوتن مونځ له ټولو نه اول ځمونږ خوږ نبي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دده امت ولوستلو.

څلورم بحث : دمونځ فرضیت او اهمیت:

دمونځ فرضیت دکتاب ،سنت او اجماع نه ثابت دي . قال تعالیٰ:" وما امروا إلا ليعبدوا الله مخلصين له الدين حنفاء ويقيموا الصلوة..... الاية " دغه شان په حدیث شریف کې دي "بني الاسلام على خمس شهادة أن لااله الاالله وان محمدا رسول الله واقام الصلوة وايتاء الزكوة ..." الحديث (متفق عليه) ددې نه علاوه بې شمیره آیتونه او حدیثونه دي کوم کس چې دمونځ دفرضیت

Maktaba Tul Ishaat.com

نه منکر وي نو دده په کفر باندې د علماؤ اتفاق دې او کوم چې د فرضیت دقائل کیدو سره سره صرف عملا دې لره پریدي نو جمهور علماء کوم کې چې امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ ، امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دي مسلک یې دادې چې هغه کس فاسق دې او دهغه سزا وژل (قتل) دي خو حدا نه کفرا ، دامام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ یو روایت دې چې هغه دې دارتداد په بناء باندې به قتل کولې شي ، او دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دده سزا تعزیر او حبس دائم دې تردې پورې چې توبه ګار شي او توبه اوباسي. (الدر المنضود : ۴۰۲/۲)

بَابُ الْمَوَاقِيتِ

د مانځه دوختونو د بیانولو باب

{۱۹۲} عَنْ اَبِي مُوسىٰ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ اَتَاهُ سَائِلٌ يَسْئَلُهُ عَنْ مَوَاقِيتِ الصَّلَاةِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ شَيْئًا قَالَ فَاَمَرَ بِلَالًا فَاَقَامَ الْفَجْرَ حِينَ انْشَقَّ الْفَجْرُ وَالنَّاسُ لَا يَكَادُ يَعْرِفُ بَعْضُهُمْ بَعْضًا ثُمَّ اَمَرَهُ فَاَقَامَ بِالظُّهْرِ حِينَ زَالَتِ الشَّمْسُ وَالْقَائِلُ يَقُولُ قَدِ انْتَصَفَ النَّهَارُ وَهُوَ اَعْلَمُ مِنْهُمْ ثُمَّ اَمَرَهُ فَاَقَامَ بِالْعَصْرِ وَالشَّمْسُ مُرْتَفِعَةٌ ثُمَّ اَمَرَهُ فَاَقَامَ الْمَغْرِبَ حِينَ وَقَعَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ اَمَرَهُ فَاَقَامَ الْعِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ اَخَّرَ الْفَجْرَ مِنَ الْغَدِ حَتّٰى انْصَرَفَ مِنْهَا وَالْقَائِلُ يَقُولُ قَدْ طَلَعَتِ الشَّمْسُ اَوْ كَادَتْ ثُمَّ اَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى كَانَ قَرِيبًا مِنْ وَقْتِ الْعَصْرِ بِالْاَمْسِ ثُمَّ اَخَّرَ الْعَصْرَ حَتّٰى انْصَرَفَ مِنْهَا وَالْقَائِلُ يَقُولُ قَدِ احْمَرَّتِ الشَّمْسُ ثُمَّ اَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى كَانَ عِنْدَ سُقُوطِ الشَّفَقِ ثُمَّ اَخَّرَ الْعِشَاءَ حَتّٰى كَانَ ثُلُثُ اللَّيْلِ الْاَوَّلُ ثُمَّ اَصْبَحَ فَدَعَا السَّائِلَ فَقَالَ اَلْوَقْتُ بَيْنَ هٰذَيْنِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د ابوموسی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته یو پوښتنه کوونکي سړي راغې د مانځه د وختونو پرښتنه یې ورنه وکړه نبي عَلَيْهِ السَّلَام هیڅ جواب ورنه کړ حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ یې امر وکړو نو په داسي وخت کې یې د فجر د مانځه اقامت وکړو چې محض سبا ختلې ؤ او قریبه نه وه چې بعضي خلکو د تیرې په وجه بعضو لره پیژندلې وي بیا یې حضرت بلال ته د اقامت امر وکړو نو هغه د ماسپښین د مانځه د پاره په داسي وخت کې اقامت وکړو چې نمر اوښتي او زوال شوي ؤ او ویونکي به ویل چې ورځ نیمه شوه حال دا چې هغه د دوي نه ښه پوه ؤ بیا یې حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ امر وکړو نو په

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۲۳ باب اوقات الصلوة الخمس .

Maktaba Tul Ishaat.com

داسي وخت کي يې د مازيګر تکبير وکړو چې نمر اوچت او بيا يې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ امر وکړو نو هغه په داسي وخت کي د مانښام تکبير وکړو چې نمر پريوتي او بيا يې ورته امر وکړو نو د ماسخټن د مانځه د پاره يې په داسي وخت کي تکبير وکړو چې شفق پريوتي او ډوب شوي او بيا يې دويمه ورځ د سحر مونځ روسته کر تر دي پوري چې کله د مانځه نه فارغ شو نو ويونکي به ويل چې په تحقيق نمر ختلي او يا نږدي دي چې اوخيژي بيا يې د ماسپښين مونځ روسته کر تر دي پوري چې د پرونۍ ورځې د مازيګر وخت ته بالکل نږدي او بيا يې د مازيګر روسته کر تر دي پوري چې کله خلک د مانځه نه فارغ شو نو ويونکي به ويل چې نور سور شو بيا يې د مانښام مونځ روسته کر تر دي پوري چې د شفق د پريوتو وخت بالکل نږدي او بيا يې د ماسختن مونځ روسته کر تر دي پوري چې د شپې د اولي حصي دريمه برخه تيره شوي وه بيا يې سحر پوښتنه کوونکي راوغوښت نو وي فرمائل چې د دې دواړو وختونو تر منځ د مانځه وخت دي . د دې حديث روايت مسلم کړي .

{۱۹۳} وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَقْتُ الظُّهْرِ اِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُوْلِهٖ مَا لَمْ تَحْضُرِ الْعَصْرُ وَوَقْتُ الْعَصْرِ مَا لَمْ تَصْفَرَّ الشَّمْسُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ مَا لَمْ يَغِبِ الشَّفَقُ وَوَقْتُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ اِلٰى نِصْفِ اللَّيْلِ الْاَوْسَطِ وَوَقْتُ صَلَاةِ الصُّبْحِ مِنْ طُلُوْعِ الْفَجْرِ مَا لَمْ تَطْلُعِ الشَّمْسُ فَاِذَا طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَاَمْسِكْ عَنِ الصَّلَاةِ فَاِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي د ماسپښين د مانځه وخت هغه دي کله چې د نمر زوال وشي او د سړي سوري د ده د اوږد والئ هومره شي تر څو پوري چې مازيګر نه وي داخل شوي او د مازيګر د مانځه وخت تر هغې پوري دي تر څو پوري چې نمر نه وي زيړ شوي او د مانښام د مانځه وخت تر هغې پوري دي تر څو پوري چې شفق نه وي غائب او ډوب شوي او د ماسختن د مانځه وخت د منځنئ حصي د نيمې شپې پوري دي او د سحر د مانځه وخت د سبا د ختو نه دي تر څو پوري چې نمر نه وي ختلي نو کله چې نمر وخيژي نو د مونځ نه بند شه پس بې شکه نمر چې دي د شيطان د دوه ؤ ښکرونو ترمنځ راحيژي . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۲۳ باب اوقات الصلوة الخمس .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۱۹۲} وَعَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَمَّنِي جِبرِيلُ عِندَ البَيتِ مَرَّتَينِ فَصَلَّى الظُّهرَ فِي الاُولٰى مِنهُمَا حِينَ كَانَ الفَيءُ مِثلَ الشِّرَاكِ ثُمَّ صَلَّى العَصرَ حِينَ كَانَ كُلُّ شَيءٍ مِثلَ ظِلِّهٖ ثُمَّ صَلَّى المَغرِبَ حِينَ وَجَبَتِ الشَّمسُ وَ اَفطَرَ الصَّائِمُ ثُمَّ صَلَّى العِشَاءَ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ ثُمَّ صَلَّى الفَجرَ حِينَ بَرَقَ الفَجرُ وَ حَرُمَ الطَّعَامُ عَلَى الصَّائِمِ وَ صَلَّى المَرَّةَ الثَّانِيَةَ الظُّهرَ حِينَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ شَيءٍ مِثلَهٗ لِوَقتِ العَصرِ بِالاَمسِ ثُمَّ صَلَّى العَصرَ حِينَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ شَيءٍ مِثلَيهِ ثُمَّ صَلَّى المَغرِبَ لِوَقتِهِ الاَوَّلِ ثُمَّ صَلَّى العِشَاءَ الآخِرَةَ حِينَ ذَهَبَ ثُلُثُ اللَّيلِ ثُمَّ صَلَّى الصُّبحَ حِينَ اِسفَرَتِ الاَرضُ ثُمَّ اِلتَفَتَ اِلَيَّ جِبرِيلُ فَقَالَ يَا مُحَمَّدُ هٰذَا وَقتُ الاَنبِيَاءِ مِن قَبلِكَ وَالوَقتُ فِيمَا بَينَ هٰذَينِ الوَقتَينِ رواه الترمذي و ابوداود و احمد وابن خزيمة والدارقطني والحاكم و اسناده حسن قال الذيموي المراد بالوقت وقت الفضل جمعاً بين الاحاديث.[1]

ترجمه: او د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې ماته جبرائيل صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبيت الله سره دوه ځلي امامت کړيدي په اول ځل کې يې د دي نه د ماسپښين مونځ وکړ په هغه وخت کې چې ړ ځيږ او اصلي سوري په مثل د شراک او د ځپليږ د وندني ماسوا د سوري د زوال نه بيا يې د مازيګر مونځ په هغه وخت کې وکړ چې ړ هر يو شي په مثل د سوري خپل په غير د اصلي سوري نه بيا يې د مابنام مونځ په داسې وخت کې وکړ چې نمر پريوتي ړ او روژه دار روژه ماتوله بيا يې د ماسختن مونځ په داسې وخت کې وکړ چې شفق ډوب شوي او غائب شوي ړ بيا يې د سحر مونځ په داسې وخت کې وکړ چې سحر روښانه شو او په روژه دار خوراک کول حرام شو او په دويم ځل يې د ماسپښين مونځ په هغه وخت کې وکړ چې سوري د هر شي خپل مثل ته ورسيد په غير د اصلي سوري نه د پرونۍ ورځې د مازيګر په وخت بيا يې د مازيګر مونځ په هغه وخت کې وکړ چې د هر شي سوره د هغه دوه چنده شو. بيا يې د مابنام مونځ د اول ځل په وخت کې وکړ بيا يې د آخر ماسختن مونځ په هغه وخت کې وکړ چې د شپې دريمه حصه تيره شوي وه بيا يې د سحر مونځ په هغه وخت وکړ کله چې زمکه رنړا او روښانه شوه بيا ماته جبرئيل وکتل نو

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۱۳۹ باب ماجاء في مواقيت الصلوة ...الخ . ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۵۶ بـاب المواقيت.مستخرج ج۱ صـ ۳۳۳. صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۶۸ باب ذكر الدليل على ان فرض الصلوة ... الخ . دار قطني كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۸ باب امامة جبرئيل ، مستدرک حاکم کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۹۳ اوقات الصلوات الخمس .

Maktaba Tul Ishaat.com

وي ويل چې اي محمد ﷺ دا د انبياؤ مخكښيو وخت دي او وخت د دي دوارو وختونو تر منځ دي . د دي حديث روايت ترمذي ابوداؤد ، احمد ، ابن خزيمه ، الدار قطني او حاكم كړي دي او اسناد يې حسن دي . او نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د دي د پاره چې د احاديثو تر منځ تطبيق راشي مراد د وقت نه افضل وخت دي .

{۱۹۵} وَ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ الله رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَن وَقتِ الصَّلَاةِ فَلَمَّا دَلَكَتِ الشَّمسُ أَذَّنَ بِلَالٌ لِلظُّهرِ فَأَمَرَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَ صَلَّى ثُمَّ أَذَّنَ لِلعَصرِ حِينَ ظَنَّنَا أَنَّ ظِلَّ الرَّجُلِ أَطوَلُ مِنه فَأَمَرَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَ صَلَّى ثُمَّ أَذَّنَ لِلمَغرِبِ حِينَ غَابَتِ الشَّمسُ فَأَمَرَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَ صَلَّى ثُمَّ أَذَّنَ لِلعِشَاءِ حِينَ ذَهَبَ بَيَاضُ النَّهَارِ وَ هُوَ الشَّفَقُ ثُمَّ أَمَرَه فَأَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلَّى ثُمَّ أَذَّنَ لِلفَجرِ حِينَ طَلَعَ الفَجرُ فَأَمَرَه فَأَقَامَ الصَّلٰوة فَصَلّٰى ثُمَّ أَذَّنَ بِلَالٌ الغَدَ لِلظُّهرِ حِينَ دَلَكَتِ الشَّمسُ فَأَخَّرَها رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيءٍ مِثلَه فَأَمَرَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ وَ صَلّٰى ثُمَّ أَذَّنَ لِلعَصرِ فَأَخَّرَها رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى صَارَ ظِلُّ كُلِّ شَيءٍ مِثلَيه فَأَمَرَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ وَ صَلّٰى ثُمَّ أَذَّنَ لِلمَغرِبِ حِينَ غَرَبَتِ الشَّمسُ فَأَخَّرَها رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى كَادَ يغيبُ بَيَاضُ النَّهَارِ وَهُوَ الشَّفَقُ فِيمَا يَرٰى ثُمَّ أَمَرَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَ صَلّٰى ثُمَّ أَذَّنَ لِلعِشَاءِ حِينَ غَابَ الشَّفَقُ فَقُمنَا ثُمَّ قُمنَا مِرَارًا ثُمَّ خَرَجَ إِلَينَا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا أَحَدٌ مِنَ النَّاسِ يَنتَظِرُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ غَيرُكُم فَإِنَّكُم فِي صَلَاةٍ مَا انتَظَرتُمُوها وَلَولَا أَن أَشُقَّ عَلٰى أُمَّتِي لَأَمَرتُ بِتَأخِيرِ هٰذِهِ الصَّلَاةِ إِلَى نِصفِ اللَّيلِ أَو أَقرَبَ مِن نِصفِ اللَّيلِ ثُمَّ أَذَّنَ لِلفَجرِ فَأَخَّرَها حَتّٰى كَادَتِ الشَّمسُ أَن تَطلُعَ فَأَمَرَه فَأَقَامَ الصَّلَاةَ فَصَلّٰى ثُمَّ قَالَ أَينَ السَّائِلُ عَنِ الوَقتِ بَينَ هٰذَينِ رواه الطبراني في الاوسط وقال الهيثمي اسناده حسن.[1]

قال النيموي هذا الحديث يدل على ان الشفق هو البياض كما ذهب اليه ابو حنيفة رَحِمَهُ اللهُ.

ترجمه : د حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې يو سړي د رسول الله

---

(۱) مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۱ ص ۳۰۴ باب بيان الوقت نقلًا عن الطبراني في الاوسط .

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ نه د مانځه د وخت په باره کې پوښتنه وکړه نو کله چې د نمر زوال وشو حضرت بلال رضي الله عنه ماسپښين د پاره اذان وکړ نو رسول الله ﷺ ورته امر وکړ نو د مانځه اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ بيا يې د مازيګر د پاره اذان وکړ په هغه وخت کې چې مونږ ګمان کاوه چې د سړي سوري د سړي د قد نه اوړد دي نو رسول الله ﷺ هغه ته امر وکړ نږ د مانځه اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ ، بيا يې د ماښام د پاره په هغه وخت کې اذان وکړ چې نمر پريوتي وُ نو رسول الله ﷺ هغه ته امر وکړ نو د مانځه اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ بيا يې د ماسختن د پاره په هغه وخت کې اذان وکړ چې د ورځې سپينوالي تلي وُ چې هغه شفق دي بيا يې هغه ته امر وکړ نو د مانځه د پاره يې اقامت وکړ پس مونځ يې وکړ بيا يې د سحر د پاره په هغه وخت کې اذان وکړ چې سحر وخاته نو هغه ته يې امر وکړ نو اقامت وکړ پس مونځ يې وکړ سبا ته بيا بلال د ماسپخين د پاره به هغه وخت کې اذان وکړ چې نمر اوښتي وُ او زوال شوي وُ نو رسول الله ﷺ د دي وخت مونځ تر هغې پوري روسته کړ چې د هر شي سوري خپل مثل ته ورسيده نو هغه ته رسول الله ﷺ امر وکړ نو اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ بيا يې د مازيګر د پاره اذان وکړ نو رسول الله ﷺ د مازيګر مونځ تر هغې پوري روسته کړ چې د هر شي سوري دوه چند شو نو رسول الله ﷺ هغه ته امر وکړ نو اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ بيا يې د ماښام د ياره په هغه وخت کې اذان وکړ چې نمر پريوت نو هغه رسول الله ﷺ تر هغه وخته پوري روسته کړ چې نږدي وُ چې د ورځې سپينوالي چې هغه شفق دي غائب او ډوب شوي وي بيا رسول الله ﷺ هغه ته امر وکړ نو اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ بيا يې د ماسختن د پاره په هغه وخت کې اذان وکړ چې شفق غائب او ډوب شو نو مونږ پاڅيدو بيا مونږ څو ځله پاڅيدو بيا مونږ ته رسول الله ﷺ راووت نو وي فرمائل د خلکو نه هيڅ يو داسي کس نشته چې د دغه مانځه انتظار کوي په غير ستاسي نه بې شکه تاسي په مانځه کې يې تر څو پوري چې تاسي د مانځه انتظار کوئ،که چرته ما په خپل امت باندې ګرانه او سخته نه ګنړلې نو ما به د نيمې شپې پورې او يا نيمې شپې ته نږدې برخې پورې د دي مونځ په تاخير باندې امر کړې وي بيا يې د سحر د مانځه د پاره اذان وکړ نو دا مونځ يې تر هغه وخته پورې روسته کړې چې نږدې وُ چې نمر ختلې وي نو هغه ته يې امر وکړ پس د مانځه اقامت يې وکړ او مونځ يې وکړ بيا يې وويل چې د مانځه وخت د دې دواړو تر منځ دي . د دي حديث روايت په اوسط کې طبراني کړې دي او هيثمي ويلې دي چې اسناد يې حسن دي .

او نيموي رحمه الله ويلې دي چې دا حديث په دي خبره باندې دلالت کوي چې شفق همدغه بياض او سپينوالي دي لکه چې امام ابو حنيفه رحمه الله دي خبرې ته ذهاب کړې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دکلماتو تحقیق:

قوله: "امني جبريل": دامامت جبريل واقعه دليلة الاسراء په سحر دماسپښين په وخت کې راغله او نزول دجبريل دزوال نه پس اوشو. دفرضيت صلاة نه پس له تيلو نه مخکې همدغه مونځ ادا کړې شو نو ځکه دې ته "الصلاة الاولى" ويلې کيږي.

دترجمة الباب مقصد: دمصنف غرض ددې باب دقائمولو نه غالبا اجمالا دهر مونځ پوره وخت بيانول وي ځکه دوخت مستحب ديبان لپاره مستقل بابونه قايموو، مونږ به ان شاءالله دهغه بابونو لاندې تفصيلي بحث کوو او دشفق بيان هم وراندې راروان دي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي الظُّهرِ

باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د ماسپښين په مانځه کې راغلي دي:

{۱۹۶} عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّه قَالَ اِذَا اشْتَدَّ الحَرُّ فَاَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ فَاِنَّ شِدَّةَ الحَرِّ مِن فَيحِ جَهَنَّمَ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه: د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمائلي چې کله گرمي سخته او زياته شي نو يخ کړئ مانځه لره په تحقيق سره د گرمئ سختي د جهنم د جوش په وجه ده. دغه حديث د محدثينو جماعت نقل کړي دي.

{۱۹۷} وَعَنْ اَبِي ذَرٍّ الغِفَارِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي سَفَرٍ فَاَرَادَ المُؤَذِّنُ اَن يُؤَذِّنَ لِلظُّهرِ فَقَالَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَبرِدْ ثُمَّ اَرَادَ اَن يُؤَذِّنَ فَقَالَ لَه اَبرِدْ حَتّٰى رَاَينَا فَيءَ التُّلُولِ فَقَالَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ شِدَّةَ الحَرِّ مِن فَيحِ جَهَنَّمَ فَاِذَا اشْتَدَّ الحَرُّ فَاَبرِدُوا بِالصَّلَاةِ رواه الشيخان.(۲)

---

(۱) بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ صـ ۷۶ باب الابراد بالظهر .الخ .مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۲۴ باب استحباب الابراد بالظهر.الخ .ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۵۸ باب وقت صلوة الظهر ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۴۰ باب ماجاء في تاخير الظهر ..الخ ، نسائي كتاب المواقيت ج۱ صـ ۸۷ باب الابراد بالظهر .الخ . ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۴۹ باب الابراد بالظهر .الخ.مسند احمد ج۲ صـ ۲۵۶.

(۲) بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ صـ ۷۷ باب الابراد بالظهر في السفر . مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۲۴ باب استحباب الابراد بالظهر ....الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابي ذر غفاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې مونږ د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره په يوه سفر کې وُ نو مؤذن غوښتل چې د ماسپښين اذان وکړي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمائل چې يخوالي وکړه بيا يې غوښتل چې اذان وکړي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ورته وفرمائل ښې يخوالي وکړه ان تردي پوري چې مونږ د وړو ډيرې کښ وُ سوري وليد نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائل چې په تحقيق سره د ګرمئ سختوالي د جهنم د جوش په وجه دي نو کله چې ګرمي سخته شي نو يخه ويې مانځه لره د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

{۱۹۸} وَ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّمَا أَجَلُكُم فِي أَجَلِ مَن خَلَا مِنَ الأُمَمِ مَا بَينَ صَلَاةِ العَصرِ إِلَى مَغرِبِ الشَّمسِ وَ إِنَّمَا مَثَلُكُم وَ مَثَلُ اليَهودِ وَالنَّصَارٰى كَرَجُلٍ إِستَعمَلَ عُمَّالًا فَقَالَ مَن يَعمَلُ لِي إِلَى نِصفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ اليَهودُ إِلَى نِصفِ النَّهَارِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَن يَعمَلُ لِي مِن نِصفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ العَصرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ فَعَمِلَتِ النَّصَارٰى مِن نِصفِ النَّهَارِ إِلَى صَلَاةِ العَصرِ عَلَى قِيرَاطٍ قِيرَاطٍ ثُمَّ قَالَ مَن يَعمَلُ لِي مِن صَلَاةِ العَصرِ إِلَى مَغرِبِ الشَّمسِ عَلَى قِيرَاطَينِ قِيرَاطَينِ إِلَّا فَأَنتُمُ الَّذِينَ يَعمَلُونَ مِن صَلَاةِ العَصرِ إِلَى مَغرِبِ الشَّمسِ أَلَا لَكُمُ الأَجرُ مَرَّتَينِ فَغَضِبَ اليَهودُ وَ النَّصَارٰى فَقَالُوا نَحنُ أَكثَرُ عَمَلًا وَ أَقَلُّ عَطَاءً قَالَ اللهُ تَعَالَى فَهَل ظَلَمتُكُم مِن حَقِّكُم قَالُوا لَا قَالَ اللهُ تَعَالَى فَإِنَّهُ فَضلِي أُعطِيهِ مَن شِئتُ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : د حضرت بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې بې شکه خبره همدا ده چې ستاسي د ژوند نيټه په نسبت سره د تيرو شو امتونو وخت ته دومره ده لکه د مازيګر نه تر نمر پريوتو پوري او بې شکه خبره همدا ده چې ستاسي مثال د يهودو او نصارىٰ و د مثال په نسبت د هغه شخص او سړي په شان دي چې د مزدورىٰ د پاره يو مزدور نيسي نو وايي چې څوک به ماته په يو يو قيراط باندي د غرمي پوري مزدوري وکړي نو يهودو په يو يو قيراط باندي تر غرمي پوري مزدوري وکړه بيا هغه سړي وويل چې څوک ماته په يو يو قيراط باندي د غرمي نه تر مازيګره پوري مزدوري وکړي. نو نصارىٰ و د غرمي نه تر مازيګر پوري په يو يو قيراط باندي مزدوري وکړه. بيا هغه سړي وويل چې څوک به ماته د مازيګر نه تر مانښام پوري په دوه دوه قيراطه مزدوري وکړي نو تاسي هغه خلک ياستئ چې د مازيګر نه تر مانښام پوري مو مزدوري کړي ده خبردار شئ ستاسي د پاره دوه چنده اجر او مزدوري

(۱) بخاري كتاب الانبياء ج۱ صـ ۴۹۱ باب ما ذكر عن بني اسرائيل.

Maktaba Tul Ishaat.com

ده نو يهود او نصاری په غصه شو نو وي ويل چې زمونږ کار ډير دي او مزدوري مو لږه ده نو الله تعالی وفرمائل چې ايا ستاسي د حق نه مي څه کم کړي دي هغو وويل چې نه الله تعالی وفرمائل چې دا خما فضل دي چاته مي چې خوښه شي ورکوم يې . د دي حديث روايت بخاري کړي دي .

{۱۹۹} وَ عَنْ عَبدِ اللهِ بنِ رَافِعٍ مَولی أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زَوجِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّه سَأَلَ اَبَاهُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ وَقتِ الصَّلَاةِ فَقَالَ اَبُوهرَيرَةَ اَنَا اُخبِرُكَ صَلِّ الظُّهرَ اِذَا كَانَ ظِلُّكَ مِثلَكَ وَالعَصرَ اِذَا كَانَ ظِلُّكَ مِثلَيكَ عَنْ وَقتِ الصَّلَاةِ وَالمَغرِبَ اِذَا غَرَبَتِ الشَّمسُ وَالعِشَاءَ مَا بَينَكَ وَمَا بَينَ ثُلُثِ اللَّيلِ وَ صَلِّ الصُّبحَ بِغَبَشٍ يعني بِغَلَسٍ رَوَاه مَالِكٌ فِي المُوَطَّا وَاسنَادُه صَحِيحٌ قَالَ النيموي اِستَدَلَّ الحَنَفِيَة بِهٰذِهِ الاَحَادِيثِ عَلٰى اَنَّ وَقتَ الظُّهرِ لَا ينقَضِي بَعدَ المِثل بَل يبقى بَعدَه وَ وَقتُه اَزيدُ مِن وَقتِ العَصرِ وَ فِي الاِستِدلَالِ بِهَا اَبحَاثٌ وَ اِنِّي لَم اَجِد حَدِيثًا صَرِيحًا صَحِيحًا اَو ضَعِيفًا يدُلُّ عَلٰى اَنَّ وَقتَ الظُّهرِ اِلٰى اَن يصِيرَ الظِّلُّ مِثلَيه وَ عَنِ الاِمَامِ اَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِيه قَولَانِ .(۱)

ترجمه : د عبدالله بن رافع نه چې د نبي عليه السلام د بي بي حضرت ام سلمي رضي الله عنها ازاد شوي غلام نه روايت دي چې ده د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه د مانځه د وخت په باره کې پوښتنه وکړه نو حضرت ابو هريره رضي الله عنه ووويل چې زه تاته خبر درکوم چې د ماسپخين مونځ کوه کله چې ستا سوري ستا په مثل شي او د مازيګر مونځ کوه کله چې ستا سوري ستا دوچند شي او د ماښام مونځ کوه کله چې نمر پريوزي او د ماسختن مونځ کوه د شپې د دريمي حصي په منځ کې او د سحر مونځ په تياره کې کوه . د دي حديث روايت امام مالک رحمه الله په موطا کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي امام نيموي رحمه الله ويلي دي چې احنافو په دغه احاديثو باندي استدلال کړي دي چې د ماسپخين وخت د يو مثل او يو چند يې نه روسته نه تيريږي بلکه د يو چندۍ او يو مثل نه روسته باقي پاتي کيږي او د ماسپخين وخت د مازيګر د وخت نه ډير زيات دي او په دي احاديثو باندي په استدلال نيولو کې ډير بحثونه دي نو مانه کوم داسي صريح صحيح حديث موندلي او نه مي کوم ضعيف حديث موندلي دي چې په دي خبره چې دلالت وکړي چې د ماسپخين وخت تر هغې پورې دي چې سوري دوه چنده وګرځي او د امام ابوحنيفه رحمه الله نه په دي کې دوه قوله راغلي دي .

---

(۱) مؤطا امام مالک کتاب وقوت الصلوة صـ ۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

د ماسپښين د جواز وخت

د ماسپښين د وخت ابتداء په اجماع دقفها و سره د زوال نه پس کيږي او په اخر وخت کې اختلاف دي.
(۱) د جمهور علماء او د صاحبينو په نزد هر يو شي سوري اصلي (بغير دفيء الزوال) ديو مثل کيدو پوري د ماسپښين وخت وي دغه يو روايت د امام صاحب نه هم دي.
(۲) د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ مشهور قول او ظاهر الروايه هم دا دي چې د ماسپښين وخت مثلين پوري وي.

يادونه : امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او بعضي علماو په نزد ديو مثل نه پس د څلورو رکعتو په اندازه وخت مشترک دي په دې کې ماسپښين او مازيګر دواړه ادا ء لوستلې کيږي.

د جمهور علماو دلايل :

۱... د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث او د اسي نور: " وَ صَلَّى الْعَزَّةَ الثَّانِيَةَ الظُّهرَ حِينَ كَانَ ظِلُّ كُلِّ شَيءٍ مِثْلَه " ، په دويمه ورځ په يو مثل باندې د ماسپښين مونځ کول د دې د اخريني وخت کيدو دليل دي.
۲... د موطأ امام مالک رَحِمَهُ اللهُ روايت "كتب عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الى عماله أن صلوا الظهر الى أن يكون ظل أحدكم مثله ".

د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دلائل :

۱... حديث د ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: " إِذَا اشْتَدَّ الْحَرُّ فَأَبْرِدُوا بِالصَّلَاةِ " ، ځکه چې د حجاز په شان په ملک کې په ګرميانو کې په يو مثل کې "ابراد" يعني يخوالي نه وي.
۲... د باب دويم حديث مطابق حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ګرمي په موسم کې په داسې يخ والي کې يې د ماسپښين مونځ ادا کړو چې د ډيرو سوري به د خپل سوري نه بهر ته ووتل او ظاهره خبره ده چې د وسيع اجامو سوري په يو مثل کې د ننه بهر ته نشي وتلې بلکې په دوو مثلينو کې د ننه به بهر ته اوزې خاص کر د عربو په ښار کې چې د زمکې په وسط باندې د واقع کيدو د وجې نه سوري ناوخته غځيږي.
۳... د باب دريم حديث د کوم مطابق چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د امت محمديه ژوند لږه د مازيګر نه تر مانښامه وخت په شان او ګرځولو او د يهودو او د نصاری د ژوند نه يې نهايت کم او ښودلو کوم باندې چې يهوديان صرف د دې وجې نه معترض شو چې زمونږ د عمل وخت د دوي د عمل وخت نه په څو چنده زيات دي ليکن بيا هم د دوي اجرت زمونږ نه دوچند دي ؟ اوس د مازيګر نه تر مانښام وخت د يهو د يانو (صبح صادق نه تر زوال) نه خو په ګرمئ او يخنئ په هر موسم کې کم دي ليکن د نصاری

Maktaba Tul Ishaat.com

دوخت (ماسپخین نه تر مازیګر) نه به پوره کال کې په هغه صورت کې کم وي چې کله د ظهر انتها په مثل ثاني باندې اومنلې شي ورنه د کال څو ورځو کې به د زوال نه تر مثل اول رخت به هغومره وي څومره چې مثل اول نه تر غروب آفتاب پورې وي او دنصاری به په مونږ باندې اعتراض عقلا په یو شانه هم صحیح نه وي دوخت دبرابرید و دوجې نه او مثال به هم غلط ثابت وي.

۴. ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث مو قوفا "صَلِّ الظُّهرَ إِذَا كَانَ ظِلُّكَ مِثلَكَ وَالعَصرَ إِذَا كَانَ ظِلُّكَ مِثلَيكَ".

قوله: "قال النيموي: ولم اجد حديثا صريحا.... الخ احناف هم د دې خبرې اعتراف کوي چې د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ دمشهور قول یعني دمثلینو څه صریح مرفوع حدیث نشته البته داسې حدیث مرفوعه ضرور ملاویږي دکوم مطابق چې دا منل لازمیږي چې دمثل اول نه پس هم دماسپخین وخت دې دارنګه دا هم چې دمثل اول والا حدیثونود ابتداء دي او دمثلین والا حدیثونه دبعد والا دي لهذا په هغې باندې به عمل متعین وي او په حدیث جبریل کې نسخ کیږي مثلا په هغې کې دعصر انتهائي وخت مثلین لره ګرزولې شوې دې حالانکه بالاتفاق دعصر وخت تر غروب آفتابه پورې دې.

دماسپخین مستحب وخت

په ژمي کې بالاتفاق تعجیل یعني زر لوستل بهتر او غوره دي او په اوړي کې دمستحب وخت په باره کې اختلاف دې:

اولنې قول: دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په عام حالاتو کې په ماسپخین کې تعجیل اولی دی، البته یو څو شرایطو سره ګرمي په موسم کې تاخیر مستحب دې، هغه شرطونه دادي: (۱) سخته ګرمي وي چې دخلکو وتل مشکل وي. (۲) جومات دخلکو نه ډیر لري وي. (۳) دجمې مونځ وي منفرد لپاره تاخیر بهتر نه دې. په دې شرطونو کې که یو شرط هم اونه موندل شو نو بیا به هغه تعجیل افضل او بهتر وي.

دویم قول: جمهور په شمول د احنافو سره په ګرمي کې د تاخیر في الظهر قائل دي.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دلیل:

۱. حدیث: "الصلاة أول وقتها رضوان الله". (ترمذي شریف)

۲. حدیث عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: "ما رأيت أحدا أشد تعجيلا للظهر من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" (ترمذي).

جمهور دلیل: د باب په "ابراد" بیان باندې مشتمل صریح وصحیح احادیث "إِذَا اشْتَدَّ الحَرُّ فَأَبرِدُوا بِالصَّلَاةِ فَإِنَّ شِدَّةَ الحَرِّ مِن فَيحِ جَهَنَّمَ".

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... په اولني حديث کې "أول وقتها" نه مراد اول وخت مستحب دي تطبيقا بين الاحاديث.

۲... دعائشې رضي الله عنها په حديث کې دزيات وروسته والي نفي مقصود ده دمطلق تاخير نه ورنه تعارض به لازم راشي.

۳... دمطلق تعجيل دظهر والا حديثونه منسوخ شو کما في حديث مغيرة بن شعبة رضي الله عنهما" كان آخر الأمرين من رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الابراد بالظهر ". (درس مشكوة: ۱۶۸/۲، بحواله التلخيص الحبير)

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْعَصْرِ

دهغه حديثونو باب چې دمازيګر دمانځه په باره کې راغلي دي :

{۲۰۰} عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا كَانَ يَوْمُ الأَحْزَابِ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَلأَ اللهُ قُبُورَهُمْ وَ بُيُوتَهُمْ نَارًا كَمَا حَبَسُونَا وَشَغَلُونَا عَنِ الصَّلاَةِ الْوُسْطَى حَتَّى غَابَتِ الشَّمْسُ رواه الشيخان و لمسلم في رواية شغلونا عن الصلاة الوسطى صلاة العصر.(۱)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې کله د احزاب ورځ شوه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې الله تعالى دي د دوي قبرونه او کورونه د اور نه ډک کړي لکه چې دوي مونږ د اوسطي او د منځني مونځ نه بند او مشغوله کړو تر دي پورې چې نمر پريوت. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي. او په يو روايت کې د مسلم د پاره چې : شغلونا عن الصلوٰة الوسطىٰ صلوٰة العصر. يعني چې دوي مونږ د منځني مونځ نه چې د مازيګر مونځ دي مشغوله کړو.

{۲۰۱} وَعَنْ شَقِيقِ بْنِ عُقْبَةَ عَنِ الْبَرَّاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَزِلَتْ هٰذِهِ الآيَةُ (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاَةِ الْعَصْرِ) فَقَرَأْنَاهَا مَاشَاءَ اللهُ ثُمَّ نَسَخَهَا اللهُ فَنَزَلَتْ (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلاَةِ الْوُسْطَى) فَقَالَ رَجُلٌ كَانَ جَالِسًا عِنْدَ شَقِيقٍ لَهُ هِيَ إِذًا صَلاَةُ الْعَصْرِ فَقَالَ الْبَرَّاءُ قَدْ أَخْبَرْتُكَ كَيْفَ لَزِلَتْ وَكَيْفَ

---

(۱) بخاري كتاب المغازي ج۲ صـ ۵۹۰ باب غزوة الخندق وهي الاحزاب، مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۲۷ باب الدليل لمن قال الصلوة الوسطى ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

نَسَخَها الله والله اعلم رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د شقيق بن عقبه نه روايت دي چې براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نازل کړي شو دا ايت (حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَصَلٰوةِ الْعَصْرِ) نو مونږ دغه ايت لوستلي دي تر هغې چې دالله تعالى اراده وه بيا هغه الله تعالى منسوخ کړ نو نازل کړي شو (حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى) نو يوسړي چې د شقيق سره ناست وُ هغه ته وويل چې صلوٰة الوسطىٰ اوس د مازيګر مونځ دي نو حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل په تحقيق ماخو ته خبر کړي چې هغه څنګه نازل شوي دي او څنګه الله تعالى هغه نسخ کړي دي. او الله ښه عالم ذات دي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي. د آيت کريمه ترجمه: د تولو مونځونو حفاظت کوئ خاص کړ د منځني مونځ، دويم روايت اول روايت: خاص کړ د مازيګر مونځ.

{۲۰۲} وَعَنِ ابنِ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الْوُسطٰى صَلَاةُ العَصرِ رواه الترمذي وصححه.(۲)

ترجمه : د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي هغه ويلي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې منځني مونځ د مازيګر مونځ دي د دي حديث روايت ترمذي کړي او صحيح يې ګڼلي دي.

{۲۰۳} وَ عَن أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقُولُ تِلكَ صَلَاةُ الْمُنَافِقِ يجلِسُ يرقُبُ الشَّمسَ حَتّٰى إِذَا كَانَت بَينَ قَرنَيِ الشَّيطَانِ قَامَ فَنَقَرَها أَربَعًا لَا يذكُرُ الله فِيهَا إِلَّا قَلِيلًا رواه مسلم.(۳)

ترجمه : او حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمائل يې: دا د منافق مونځ دي چې کيني او د نمر انتظار کوي تر دي پورې چې کله نمر د شيطان د دوه وُ ښکرونو تر منځ راشي ودريږي او څلور ټونګي ووهي دا نه يادوي الله لره مګر ډير لږ. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۲۷ باب الدليل لمن قال الصلوة الوسطى ... الخ.

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۴۵ باب ماجاء في الصلوة الوسطى انها العصر.

(۳) مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۲۵ باب استحباب التكبير بالعصر.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۰۲} وَعَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ تَعْجِيلًا لِلظُّهْرِ مِنْكُمْ وَأَنْتُمْ أَشَدُّ تَعْجِيلًا لِلْعَصْرِ مِنْهُ رواه احمد والترمذي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : حضرت ام سلمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وايي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د ماسپخين مونځ ستاسي نه زيات په جلتۍ سره کاوه او تاسو د مازيګر مونځ د هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه زيات په جلتۍ سره کوئ. د دي حديث روايت احمد او ترمذي کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

دکلماتو تحقيق :

قوله : "تلك صلاة المنافق" : د دې نه مراد د اصفرار شمس پورې مونځ لره مؤخر کول دي.

اولني بحث : صلاة وسطى (د کوم فضيلت چې وارد شوي دي) کوم يو مونځ دي؟

(۱) د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ يو قول دادي چې د سحر مونځ دي.

(۲) د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ يو قول دا هم دي چې د ماسپخين مونځ دي.

(۳) د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ مشهور قول دادي چې د مازيګر مونځ دي وهو قول احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ ورواية عن مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ وابنشافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ داکثر صحابو او د تابعينو همدغه مذهب دي او دباب په اولني حديثونو کې دهمدې ثبوت دي.

دويم بحث : د مازيګر د جواز وخت

د مازيګر په ابتدائي وخت کې همغه اختلاف دي کوم چې د ماسپخين په انتهائي وخت کې دي يعني جمهور علماء او صاحبين رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد د دې ابتداء مثل اول نه کيږي او د امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د مثل ثاني نه پس، د دې مسئلې دلائل تير شوي دي او انتهائي وخت بالاتفاق غروب آفتاب دي.

دريم بحث : د مازيګر مستحب وخت :

(۱) د ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په نزد په عصر کې تعجيل اولى دي.

(۲) د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د اصفرار شمس کيدو نه مخکې پورې تاخير مستحب دي.

دائمه ثلاثه رحمهم الله دليل :

۱... حديث : "الصلاة أول وقتها رضوان الله". (ترمذي شريف)

۲... حديث عائشه رضي الله عنها : "كان يصلي العصر والشمس في حجرتها لم يظهر الفيء من د امام

---

(۱) مسند احمد ج۶ صـ ۲۸۹ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۴۲ باب ماجاء في تاخير صلوة العصر.

Maktaba Tul Ishaat.com

حجرتها "يعني دلمر ربنا دحضرت عائشي رضي الله عنها دحجري په فرش باندې وو او په ديوال باندې نه وو ختلې په هغه وخت کې ئې دمازيګر مونځ اولوستو نو معلومه شوه چې لمر ډير اوچت وو ، ددې نه تعجيل ثابت شو .

د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱... حديث دام سلمه رضي الله عنها : " كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَشَدَّ تَعجِيلًا لِلظُّهرِ مِنكُم وَ أَنتُم أَشَدُّ تَعجِيلًا لِلعَصرِ مِنه" .

۲..." حافظوا على العصرين : صلاة قبل طلوع الشمس وصلاة قبل غروبها " "قبل" نه مراد په عرف کې قبليت قريبه (يعني څه وخت مخکې) مراد وي .

ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ ته جواب :

۱... "اول وقت" نه مراد اول وخت مستحب دي کامل وخت ، پخپله امام مالک او احمد رَحِمَهُمَا اللهُ په ظهر کې ددې حديث باوجود تاخير في الصيف لره افضل ګرځوي .

۲... دحضرت عائشي رضي الله عنها دحجرې ديوال وړوکي وو نو ځکه دغروب آفتاب نه لږ مخکې به دلمر ربنا وه ، ددې دليل دادي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعضي وخت به په حجرې کې دننه پاتې وو او امامت به يې کولو او صحابه کرام به دبهر نه اقتدا کوله او دا هله کيږي چې کله ديوال وړوکي وي . ترڅو مقتدي دامام حالت لره او وينې ، لهذا په دې ظهر تعجيل باندې استدلال صحيح نه دي .

بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ المَغرِبِ

د هغه حديثونو باب چې د مابنام دمانځه په باره کې راغلي دي :

{۲۰۵} عَن سَلَمَةَ بنِ الاَكوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي المَغرِبَ إِذَا غَرَبَتِ الشَّمسُ وَتَوَارَتْ بِالحِجَابِ رواه الجماعة الا النسائي .(۱)

ترجمه : د حضرت سلمه بن اکوع رَضِيَ اللهُ عَنهُ روايت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مابنام مونځ هغه وخت کې کاوه چې کله به نمر پريوتاه او په پرده کې به پټ شو . د دې حديث

---

(۱) بخاري باب مواقيت الصلوة ج۱ صـ ۷۹ باب وقت المغرب ، مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۲۸ باب بيان ان اول وقت المغرب ... الخ . ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۶۰ باب وقت المغرب ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۵۰ باب وقت صلوة المغرب ، ترمذي ابـواب الصلوة ج۱ صـ ۴۲ باب ماجاء في وقت المغرب . مسند احمد ج۴ صـ ۵۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت الجماعة کړي دي په غیر د نسائي نه.

{۲۰۶} وَعَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تَزَالُ أُمَّتِي بِخَيْرٍ أَوْ عَلَى الْفِطْرَةِ مَا لَمْ يُؤَخِّرُوا الْمَغْرِبَ حَتّٰى تَشْتَبِكَ النُّجُومُ رواه احمد و ابوداود واسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام فرمایلي دي چې ځما امت همیشه په خیر باندي دي او یا یې فرمایلي دي چې په فطرت باندي دي ځو پورې چې د ستورو تر ګنډ والي پورې د مابنام مونځ نه روستي کوي. د دي حدیث روایت احمد او ابوداؤد کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

د مابنام دوخت دري مسئلې

اولنې مسئله : د مابنام ابتدائي او انتهائي وخت!

د مغرب وخت ابتداء خو بالاتفاق د غروب نه کیږي، البته په انتهاء کې یې اختلاف دي.

(۱) د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د غروب آفتاب نه پس دپنځو رکعتو لوستلو په مقدار د مغرب وخت دي، همدغه یو روایت د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ نه دي.

(۲) د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد ترشفق ډوبیدو پورې مغرب دي وهو روایة عن الامام الشافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ.

د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ دلیل : جبرائیل علیه السلام په دواړه ورځ د مابنام مونځ په یو وخت کې ادا کړو، نو که په وخت کې ګنجائش وي نو هغه به ضرور په اول او اخیر وخت کې فرق کولې.

د امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او د احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ دلیل : د باب المواقیت دیر احادیث بالخصوص حدیث د ابو موسی رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ "ثُمَّ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى كَانَ عِنْدَ سُقُوطِ الشَّفَقِ" او د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا حدیث "ووقت صلاة المغرب مالم یغب الشفق".

امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ ته جواب : د جبریل علیه السلام حدیث منسوخ دي یا په دې کې د مابنام مستحب وخت مراد دي.

دویمه مسئله : په مابنام کې بالاتفاق تعجیل اولی دی.

دریمه مسئله : د شفق نه څه مراد دي؟

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج ۱ صـ ۶۰ باب وقت المغرب، مسند احمد ج۴ صـ ۱۴۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دصاحبينو په نزد هغه سوروالي کوم چې دغروب نه لږ ساعت پس ظاهريږي.

(۲) دامام ابوحنيفه او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد هغه سپينوالي کوم چې دسوروالي نه پس بنکاره شي او دهغې نه پس تياره راشي داحنافو مفتى به قول همد غه دي. (رحمة الأمة : ص: ۲۹)

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دصاحبينو دليل:

۱... دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول: "الشفق هو الحمرة" دصحابه کرامو نه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، شداد بن اوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عباده بن صامت رضي الله عنه، او دتابعينو نه دمکحول رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دطاوس رَضِيَ اللهُ عَنْهُم دغه قول دي.

۲... امام داهل لغت خليل بن أحمد رَحِمَهُ اللهُ دشفق نه تفسير په سوروالي سره کړې دي.

دامام ابوحنيفه او داحمد رَحِمَهُ اللهُ دليل:

۱... دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث (باب المواقيت): "ثُمَّ أَذَّنَ لِلعِشَاءِ حِينَ ذَهَبَ بَيَاضُ النَّهَارِ وَهُوَ الشَّفَقُ" په دې کې صراحة بياض النهار يعني دورځې رڼائي ته "شفق" ويلې شوې دي.

۲... دجليل القدر صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم دشفق نه مراد بياض اخلي مثلاً حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عائشه رضي الله عنها، معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، او عبدالله بن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، او په ورستنيو فقهاو کې عمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ، زفر رَحِمَهُ اللهُ، ابو ثور رَحِمَهُ اللهُ وغيره ددې قائلو وو. دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ هم يو قول ددې موافق دي.

۳... دلغتو امامانو کې مبرد، ثعلب، فراء او ابوعمرو دشفق تفسير په سپينوالي سره کړې دي.

بهرحال دواړه اقوال دلائلو باندې مبني دي او دامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ نه هم دوه قوله مروي دي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي صَلَاةِ العِشَاءِ

باب دي په بيان دهغه احاديثو کې چې دماسختن دمانځه په باره کې راغلي دي:

{۲۰۷} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ أَنْ يُؤَخِّرُوا العِشَاءَ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ أَوْ نِصْفِهِ رواه احمد وابن ماجه وا۳ رمذي و صححه.(۱)

---

(۱) مسند احمد ج۲، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۴۲ باب ماجاء في تاخير العشاء الأخرة. ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ ص ۵۰ باب وقت العشاء.

Maktaba Tul Ishaat

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي هغه ويلي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمانلي دي چې که چرته ماته په امت باندې د تکليف ويره نه وي نو ما به دوي ته د شپې د دريمي حصې او يا د نيمې شپې پورې د مانځه د روسته کيدو حکم ورکړي و د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ . ابن ماجه رَحِمَهُ اللهُ او ترمذي کړي دي او ده صحيح ګڼلي دي

{۲۰۸} وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ انْتَظَرْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْلَةً لِصَلَاةِ الْعِشَاءِ حَتَّى ذَهَبَ نَحْوٌ مِنْ شَطْرِ اللَّيْلِ قَالَ فَجَاءَ فَصَلَّى بِنَا ثُمَّ قَالَ خُذُوا مَقَاعِدَكُمْ فَإِنَّ النَّاسَ قَدْ أَخَذُوا مَضَاجِعَهُمْ وَإِنَّكُمْ لَمْ تَزَالُوا فِي صَلَاةٍ مُنْذُ انْتَظَرْتُمُوهَا وَلَوْلَا ضُعْفُ الضَّعِيفِ وَسُقْمُ السَّقِيمِ وَحَاجَةُ ذِي الْحَاجَةِ لَأَخَّرْتُ هٰذِهِ الصَّلَاةَ إِلَى شَطْرِ اللَّيْلِ رواه الخمسة الا الترمذي وابن خزيمة واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت ابي سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي هغه ويلي دي چې مونږ د ماسختن د مانځه په غرض يوه شپه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انتظار کولو تر دي پورې چې د شپې نږدې نيمايي برخه تيره شوه ابوسعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي نو هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغې مونږ ته يې مونځ وکړ بيا يې وفرمانل چې په خپل خپل ځاي باندې کښئ بې شکه خلک په خپلو بسترو پراته دي او تاسې د مانځه د انتظار د وخت نه په مانځه کې هستئ که چرې د ضعيف ضعف او د بيمار بيماري او د حاجتمند حاجت نه وي نو ما به دغه مونځ د نيمې شپې پورې روسته کړي وي . د دي حديث روايت د ابن ماجه او ترمذي نه په غير پنځو محدثينو روايت کړي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۰۹} وَعَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ كَتَبَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِلَى أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَصَلِّ أَيَّ اللَّيْلِ شِئْتَ وَلَا تُغْفُلْهَا رواه الطحاوي ورجاله ثقات.(۲)

ترجمه : حضرت نافع بن جبير ويلي دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت ابوموسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته خط وليږه او د شپې په هر برخه کې چې غواړې د ماسختن مونځ وکړه او د دي نه غفلت مه کوه . د دي حديث روايت طحاوي رَحِمَهُ اللهُ کړي او رجال يې ثقه دي .

---

(۱) نسائي كتاب المواقيت ج۱ صـ ۱۹۳ باب ما يستحب من تاخير العشاء . ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۵۰ باب وقت صلوة العشاء ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۶۱ باب وقت صلوة العشاء الأخرة . مسند احمد ج۳ صـ ۵ ، ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۷۷ باب استحباب تاخير صلوة العشاء رقم الحديث ۳۴۵.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۱۰ باب مواقيت الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۱۰} وَعَنْ عُبَيْدَةَ بْنِ جُرَيْجٍ أَنَّهُ قَالَ لِأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَا إِفْرَاطُ صَلَاةِ الْعِشَاءِ قَالَ طُلُوعُ الْفَجْرِ رواه الطحاوي و اسنادہ صحیح قَالَ النَّيْمَوِيُّ دَلَّ الْحَدِيثَانِ عَلَى أَنَّ وَقْتَ الْعِشَاءِ يَبْقَى بَعْدَ مَضِيِّ نِصْفِ اللَّيْلِ إِلَى طُلُوعِ الْفَجْرِ وَلَا يَخْرُجُ بِخُرُوجِهِ فَبِالْجَمْعِ بَيْنَ الْأَحَادِيثِ كُلِّهَا يَثْبُتُ أَنَّ وَقْتَ الْعِشَاءِ مِنْ حِينِ دُخُولِهِ إِلَى نِصْفِ اللَّيْلِ أَفْضَلُ وَبَعْضُهُ أَوْلَى مِنْ بَعْضٍ وَأَمَّا بَعْدَ نِصْفِ اللَّيْلِ فَلَا يَخْلُو مِنَ الْكَرَاهَةِ(۱)

ترجمه : د حضرت عبيده بن جريج نه روايت دي ده حضرت ابي هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه وويل چې د ماسختن په مانځه کې څه نقصان او کوناهي ده هغه وويل سحر راختل ، د دې حديث روايت طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ کړې او اسناد يې صحيح دي. نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې دا دواړه حديثونه په دې خبره باندې دلالت کوي چې د ماسختن وخت د نصف الليل د تيريدو نه روسته تر سحره پورې باقي دي او د نصف الليل په تيريدو او تلو سره د ماسختن وخت نه تيريږي او نه وخي. په ټولو احاديثو کې پدې شان سره جمع او تطبيق کيږي چې د ماسختن د وخت د داخليدو نه روسته تر نيمي شپې پورې افضل دي او په دې کې هم بعض حصه د بعض حصې نه اولى او بهتره ده خو لې د نيمي شپې نه روسته د کراهت نه خالي نه دي.

د ماسختن اولنی او آخرنی وخت

د ماسختن ابتداء بالاتفاق د غروب شفق نه کيږي او په انتهاء کې يې اختلاف دي .(۱) د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د ماسختن وخت انتهاء نصف الليل يعنې نيمه شپه ده .(۲) د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او د احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد صبح صادق تر طلوع پورې د ماسختن وخت دي.

د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ دليل: د عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث باب المواقيت: "ووقت العشاء الى نصف الليل الاوسط".

د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او د احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ دليل:

د حنفيه و من معهم دليل کې هيڅ يو حديث نشي وړاندې کيدلې ،د دې پر ځاي د احنافو قول په دې مسئله کې مجموعه روايا تو باندې مبني دي ، ځکه چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثلث ليل او د نصف ليل نه پس هم مونځ لوستل ثابت دي ، چنانچې :

۱... د عائشې رضي الله عنها په حديث کې دي : "(اعتم النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذات ليلة حتى ذهب عامة الليل وحتى نام اهل المسجد ثم خرج فصلى) يعنې معنى دا چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام تورہ تياره کړي

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۱۰ باب مواقيت الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

وه يوه شپه تر دي چې د شپې عام وخت تير شوی وه او تر دي چې خلق په مسجد کې اوده شوه وو ويا نبي عليه السلام راووته نو مونځ يې وکړه او وي فرمايل چې بې شکه همدغه د دي مونځ وخت دي که چرته مې په امت باندې د تکليف احساس نه کولې.

۲... دباب دعمر رضي الله عنه حديث چې خپلو عاملانو ته يې دا وليکل "وصل العشاء أي الليل شئت" حضرت عمر رضي الله عنه سنت مستمره تر لاندې په دې پوهيدلو چې پوره شپه دماسخوتن وخت دي.

۳... په باب کې مذکوره قول دابوهريره رضي الله عنه: "طلوع الفجر" يعنې دماسخوتن اخرينې وخت طلوع فجر دي. اوس احنافو په ټولو احاديثو کې دتطبيق کولو نه وروسته دا رائې اختيار کړه چې تر ثلث ليل پورې دماسخوتن وخت مستحب دي، تر نيمې شپې پورې وخت دجواز دي او د دې نه پس تر دطلوع صبح صادق پورې مکروه تنزيهي وخت دي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّغْلِيسِ

باب دي په هغه احاديثو کې چې په تياره کې د مونځ کولو په باره کې راغلي دي:

{۲۱۱} عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَتْ كُنَّ نِسَاءُ الْمُؤْمِنَاتِ يَشْهَدْنَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم صَلَاةَ الْفَجْرِ مُتَلَفِّعَاتٍ بِمُرُوطِهِنَّ ثُمَّ يَنْقَلِبْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ حِينَ يَقْضِينَ الصَّلَاةَ لَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الْغَلَسِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې مؤمني ښځي به د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د سحر مانځه ته حاضريدې په داسې حال کې چې په خپلو پرونو او څپتو کې به پټې وې بيا به د مانځه د ادا کولو نه روسته خپلو کورونو ته واپس تلې او چا به د تيرې د وجهې نه نه پيژندې. د دې حديث روايت بخاري او مسلم کړې دي.

{۲۱۲} وَعَنْ جَابِرٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يُصَلِّي الظُّهْرَ بِالْهَاجِرَةِ وَالْعَصْرَ وَالشَّمْسُ حَيَّةٌ وَالْمَغْرِبَ إِذَا وَجَبَتْ وَالْعِشَاءَ إِذَا كَثُرَ النَّاسُ عَجَّلَ وَإِذَا قَلُّوا أَخَّرَ وَالصُّبْحَ بِغَلَسٍ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: حضرت جابر رضي الله عنه ويلي دي چې نبي عليه السلام د ماسپخين مونځ په اول وخت او د مازيګر مونځ چې نمر به ښه روښانه وُ او د مابنام مونځ کله به چې نمر پريوت او د ماسختن کله به

(۱) بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص۸۲ باب وقت الفجر، مسلم کتاب المساجد ج۱ص۲۳۰ باب استحباب التكبير بالصبح ...الخ.
(۲) بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص۸۰ باب وقت العشاء اذا اجتمع الناس... مسلم کتاب المساجد ج۱ص۲۳۰ باب استحباب التكبير بالصبح

Maktaba Tul Ishaat.com

چې خلک ډيروڼ جلتي به يې کوله او کله به چې خلک لږ ډوڼ تاخير به يې کاوه او د سحر مونځ به يې په تياره کې کاوه . د دې حديث روايت بخاري او مسلم کړي دي .

{۲۱۳} وَ عَنْ اَبِي مَسعُودِ الاَنصارِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ نَزَلَ جِبرِيلُ فَاَخبَرَنِي بِوَقتِ الصَّلَاةِ فَصَلَّيتُ مَعَه ثُمَّ صَلَّيتُ مَعَه ثُمَّ صَلَّيتُ مَعَه ثُمَّ صَلَّيتُ مَعَه ثُمَّ صَلَّيتُ مَعَه ثُمَّ صَلَّيتُ مَعَه يحسِبُ بِاَصَابِعِهٖ خَمسَ صَلَوَاتٍ فَرَاَيتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهرَ حِينَ تَزُولُ الشَّمسُ وَرُبَّمَا اَخَّرَهَا حِينَ يشتَدُّ الحَرُّ وَرَاَيتُه يصَلِّي العَصرَ وَالشَّمسُ مُرتَفِعَة بَيضَاء قَبلَ اَن تَدخُلَهَا الصُّفرَة فَينصَرِفُ الرَّجُلُ مِنَ الصَّلَاةِ فَيَاْتِي ذَا الحُلَيفَةِ قَبلَ غُرُوبِ الشَّمسِ وَ يصَلِّي المَغرِبَ حِينَ تَسقُطُ الشَّمسُ وَيصَلِّي العِشَاءَ حِينَ يسوَدُّ الاُفُقُ وَرُبَّمَا اَخَّرَهَا حَتّٰى يجتَمِعَ النَّاسُ وَ صَلّٰى الصُّبحَ مَرَّة بِغَلَسٍ ثُمَّ صَلّٰى مَرَّة اُخرٰى فَاَسفَرَ بِهَا ثُمَّ كَانَت صَلَاتُه بَعدَ ذٰلِكَ التَّغلِيسَ حَتّٰى مَاتَ لَم يعُد اِلَى اَن يسفِرَ رواه ابوداود وابن حبان وفي اسناده مقال والزيادة غير محفوظة .(۱)

ترجمه : د ابي مسعود انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي ويلي يې دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمائل يې جبرئيل عَلَيْهِ السَّلَام نازل شو نو زه يې د مانځه په وخت خبر کړم نو ما د ده سره مونځ وکړ يا مې د ده سره مونځ وکړ يا مې د ده سره مونځ وکړ يا مې د ده سره مونځ وکړ يا مې د ده سره مونځ وکړ په ګوتو سره يې پنځه مونځونه حساب کړل نو ما رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولېد چې کله زوال وشو د ماسپخين مونځ يې وکړ او کله به يې د سختي ګرمئ په وخت کې دغه مونځ روسته کاوه او ماهغه ولېد چې د مازيګر مونځ يې په داسې حال کې وکړ چې نمر اوچت روښانه ؤ مخکې د دينه چې نمر زيړ شي نو يو سړي به د مانځه نه راوګرځيده نو ذوالحليفي ته به د نمر د پريوتو نه مخکې لاړه او کله چې نمر پريوت د ماښام مونځ يې وکړ . او د ماسختن مونځ يې وکړ کله چې د اسمان غاړې توريږي شوي او کله به يې تر هغې پورې مؤخر او روسته کړ چې خلک به راجمع شو او د سحر مونځ يې يو ځلي په تياره کې وکړ او بل ځل يې په اسفار او رنړا کې وکړ يا د ده مونځ د دې نه روسته په تغليس کې ؤ تر څو چې وفات شو اسفار ته نه دي واپس شوي. روايت يې ابوداؤد او ابن حبان کړي او په اسناد کې يې مقال دي او زياده غير محفوظ دي .

دسحر مستحب وخت : بالاتفاق دسحر د جواز وخت د صبح صادق نه واخله تر د طلوع افتاب

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ــ ۵۷ باب المواقيت ، صحيح ابن حبان کتاب الصلوة ج۴ ــ ۲۵ رقم الحديث ۱۴۹۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

پوري دي . البته د فجر د وخت مستحب په باره کې اختلاف دي :

(۱) ائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد په فجر کې تغلیس یعني په تیاره کې لوستل افضل دي .

(۲) د امام ابو حنیفه رحمه الله او ده ملګري او د سفیان ثوري رحمه الله په نزد اسفار یعني په رڼا کې لوستل افضل دي داحنافو نه امام محمد بن حسن رحمه الله فرمایي چې په غلس کې دي شروع کړي او په اسفار کې دي ختم کړي . امام طحاوي رحمه الله همدا قول غوره کړي دي .

دائمه ثلاثه رحمهم الله دلیل : ددي باب دري واړه حدیثونه دائمه ثلاثه دلیل دي :

۱. حدیث د عائشې رضي الله عنها حدیث : لَمْ يَنقَلِبْنَ إِلَى بُيُوتِهِنَّ حِينَ يَقْضِينَ الصَّلَاةَ لَا يَعْرِفُهُنَّ أَحَدٌ مِنَ الْغَلَسِ.

۲... د جابر رضي الله عنه حدیث : " والصبح بغلس ".

۳... د ابو مسعود رضي الله عنه حدیث : " وَ صَلَّى الصُّبحَ مَرَّةً بِغَلَسٍ ثُمَّ صَلَّى مَرَّةً أُخرَى فَأَسفَرَ بِهَا ثُمَّ كَانَت صَلَاتُهُ بَعدَ ذٰلِكَ التَّغلِيسَ حَتّٰى مَاتَ لَم يَعُد إِلَى أَن يُسفِرَ ".

(داحنافو دلائل او دائمه ثلاثه رحمهم الله دلائلو جواب د راروان باب لاندې وګورئ .

بَابُ مَا جَاءَ فِي الْاِسْفَارِ

باب دي په هغه احادیثو کې چې په رڼا کې د مونځ کولو په باره کې راغلي دي:

{۲۱۴} عَن عَبدِ اللهِ رضي الله عنه قَالَ مَا رَأَيتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم صَلّٰى صَلَاةً لِغَيرِ مِيقَاتِهَا إِلَّا صَلَاتَينِ جَمَعَ بَينَ المَغرِبِ وَالعِشَاءِ وَ صَلَّى الفَجرَ قَبلَ مِيقَاتِهَا رواه الشيخان وَلِمُسلِمٍ قَبلَ وَقتِهَا بِغَلَسٍ.(۱)

ترجمه : د عبد الله رضي الله عنه نه روایت دي چې ما نبي علیه السلام د دوه وو مونځونو نه سوي کله هم بې وخته په مانځه نه دي لیدلي هغه صلی الله علیه وسلم دوه مونځونه مابنام او ماسختن سره جمع کړي او د سحر مونځ یې د وخت نه مخکې کړي . دا حدیث شیخینو نقل کړي او د مسلم په روایت کې دا الفاظ دي: د سحر مونځ یې د وخت نه مخکې په تیاره کې کړي.

{۲۱۵} وَ عَن عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ يَزِيدَ رضي الله عنه قَالَ خَرَجتُ مَعَ عَبدِ اللهِ رضي الله عنه إِلَى مَكَّةَ ثُمَّ قَدِمنَا جَمعًا فَصَلَّى الصَّلَاتَينِ كُلَّ صَلَاةٍ وَحدَهَا بِأَذَانٍ وَ إِقَامَةٍ وَالعِشَاءَ بَينَهُمَا ثُمَّ صَلَّى الفَجرَ حِينَ طَلَعَ الفَجرُ وَقَائِلٌ يَقُولُ طَلَعَ الفَجرُ وَ قَائِلٌ لَم يَطلُعِ الفَجرُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِنَّ

---

(۱) بخاري كتاب الحج صـ ۲۲۸ باب متى يصلي الفجر بجمع مسلم كتاب الحج ج ۱ صـ ۴۱۷ باب استحباب زيادة التغليس .. ا ع .

Maktaba Tul Ishaat.com

هاتَيْنِ الصَّلَاتَيْنِ خُوِّلْتَا عَن وَقْتِهِمَا فِي هٰذَا الْمَكَانِ الْمَغْرِبُ وَالْعِشَاء فَلَا يَقْدُمُ النَّاسُ جَمْعًا حَتّٰى يعتُمُوْا وَ صَلَاةُ الْفَجْرِ هٰذِهِ السَّاعَةَ رواه البخاري و في رواية له فَلَمَّا طَلَعَ الْفَجْرُ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يُصَلِّي هٰذِهِ السَّاعَةَ إِلَّا هٰذِهِ الصَّلَاةَ فِي هٰذَا الْمَكَانِ مِن هٰذَا الْيَوْمِ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ هٰذَا صَلَاتَانِ تُحُوِّلَانِ عَن وَقْتِهِمَا صَلَاةُ الْمَغْرِبِ بَعْدَ مَا يَأْتِي النَّاسُ الْمُزْدَلِفَةَ وَالْفَجْرِ حِينَ يَنْزَغُ الْفَجْرُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يفعله .(۱)

ترجمه :عبدالرحمن بن يزيد ويلي دي چې زه د عبدالله رضي الله عنه سره مکې طرف ته ووتم نو بيا مونږ مزدلفې ته لاړو نو دوي دوه مونځونه وکړل هر يو د بيل بيل اذان او اقامت سره اود دواړو مونځونو تر منځ يې د شپې ډوډۍ وخوړه بيا چې کله سبا وخاته د سحر مونځ يې وکړ يو ويونکي به ويل چې سحر ختلي او بل ويرنکي به ويل چې سحر نه دي ختلي بيا يې وويل چې نبي عليه السلام فرمائلي چې دغه دوه مونځونه د خپل وخت نه اړولي شوي دي په دې ځاي کې ماښام او ماسختن نو مزدلفې ته تر هغه پورې خلک نه راځي څو پورې چې تياره شوي نه وي او د سحر مونځ يې په دغه وخت کې وکړ د دې حديث روايت بخاري کړي دي . او د بخاري په يو روايت کې دي : نو کله چې سبا وخوت ابن عمر رضي الله عنه ويل چې نبي عليه السلام په دغه وخت کې هيڅ مونځ نه ؤ کړي مګر دغه مونځ په دغه ځاي کې په دغه ورځ باندې عبدالله بن عمر رضي الله عنه ووېل دغه دوه مونځونه د خپل وخت نه اړولي شوي دي ماښام بعد د هغې نه چې خلک مزدلفې ته راشي او سحر چې کله سبا وخيژي حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه ويل چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم ما ليدلي چې داسې يې کول .

{۲۱۶} وَ عَن رَافِعِ بن خَدِيجٍ رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَسْفِرُوْا بِصَلَاةِ الْفَجْرِ فَإِنَّ ذٰلِكَ أَعْظَمُ لِلْأَجْرِ أَو قَالَ لِأُجُورِكُم رواه الحميدي و اصحاب السنن واسناده صحيح .(۱)

ترجمه : حضرت رافع بن خديج رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي : د سحر مونځ په رڼا کې وکړئ بې شکه دا د ثواب د پاره ډير بهتر دي او يا يې داسې فرمائلي دي چې د ستاسو ثواب د پاره ډير بهتر دي. دا حديث الحميدي او اصحاب السنن روايت کړي دي او اسنادي

---

(۱) بخاري كتاب الحج ج۱ ص۲۲۸ باب متى يصلي الفجر بجمع وروايه اخرى بخاري كتاب الحج ج۱ ص۲۲۷ باب من اذن واقام لكل واحدة منهما

(۱) مسند حميدي ج۲ ص ۱۹۹ برقم ۴۰۹ . ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۶۱ باب وقت الصبح ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۴۰ باب ماجاء في الاسفار بالفجر . دارمي كتاب الصلوة ص ۱۶۳ باب الاسفار بالفجر ، ابن ماجة ابواب مواقيت الصلوة ص ۴۹ باب وقت صلوة الفجر . نسائي كتاب المواقيت ج۱ ص ۹۲ باب الاسفار . نصب الراية ج۱ ص ۲۳۸

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح دي.

{۲۱۷} وَ عَن مَحمُودِ بنِ لَبِيدٍ عَن رِجَالٍ مِن قَومِهِ الأَنصَارِ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا اَسفَرتُم بِالفَجرِ فَاِنَّهُ اَعظَمُ لِلاَجرِ رواه النسائي و قال الحافظ الزيلعي بسند صحيح.(۱)

ترجمه : د محمود بن لبيد نه روايت دي هغه د انصارو د قوم درجالونه روايت کړي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلي دي تر څو پورې چې تاسي د سحر مونځ نه رنړا کې کوئ نو د دې ثواب د تیاري په نسبت ډير لوي دي دا حديث نسائي روايت کړي او حافظ زيلعي رحمه الله ويلي دي چې دا حديث په صحيح سند سره راغلي دي

{۲۱۸} وَ عَن هَرِيرِ بنِ عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ رَافِعِ بنِ خَدِيجٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ سَمِعتُ جَدِّي رَافِعَ بنَ خَدِيجٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يَقُولُ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِبِلاَلٍ نَوِّرْ بِصَلاَةِ الصُّبحِ حَتّٰى يُبصِرَ القَومُ مَوَاقِعَ نَبلِهِم مِنَ الإِسفَارِ رواه ابن ابي حاتم وابن عدي والطيالسي و اسحاق و ابن ابي شيبة والطبراني و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : هرير بن عبد الرحمن بن رافع بن خديج رضي الله عنه ويلي دي چې ما د خپل نيکه رافع بن خديج رضي الله عنه اوريدلي دي چې ويل يې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بلال رضي الله عنه نه وفرمائل چې د سحر په مانځه کې رڼائي کړه، تر دي پورې چې خلک د رنړا په وجه د خپلو غشو د وليدو خايونه ووينې. د دې حديث روايت ابن ابي حاتم، ابن عدي، طيالیسي، اسحاق، ابن ابي شيبة او طبراني کړي دي او اسناد يې حسن دي

{۲۱۹} وَ عَن بَيَانَ قَالَ قُلتُ لِاَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ حَدِّثنِي بِوَقتِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلاَةِ قَالَ كَانَ يُصَلِّي الظُّهرَ عِندَ دُلُوكِ الشَّمسِ وَ يُصَلِّي العَصرَ بَينَ صَلاَتِكُمُ الأُولٰى وَ العَصرِ وَ كَانَ يُصَلِّي المَغرِبَ عِندَ غُرُوبِ الشَّمسِ وَ يُصَلِّي العِشَاءَ عِندَ غُرُوبِ الشَّفَقِ وَ يُصَلِّي الغَدَاةَ عِندَ طُلُوعِ الفَجرِ حِينَ يَفتَحُ البَصَرُ كُلُّ مَا بَينَ ذٰلِكَ وَقتٌ اَو قَالَ صَلاَةٌ رواه ابو يعلى و قال الهيثمي اسناده حسن.(۳)

---

(۱) نسائي كتاب المواقيت ج۱ صـ ۱۹۴ باب الاسفار

(۲) مسند ابي داؤد طيالسي صـ ۱۲۹ رقم الحديث ۹۶۱، المعجم الكبير للطبراني صـ ۲۷۸ رقم الحديث ۴۴۱۴ كتاب العلل، احاديث في الصلوة ج۱ صـ ۱۴۳ رقم ۴۰۰.

(۳) مسند ابي يعلى ج ۷ صـ ۷۴ رقم الحديث ۴۰۰۴، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۳۰۴ باب بيان الوقت.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :بيان ويلي دي چې ما حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل چې ماته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه وخت وښايه حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل د ماسپخين مونځ به يې د نمر د کږيدو په وخت کې کاوه او د مازيګر مونځ به يې ستاسي د اولني مونځ او د مازيګر په مانځني وخت کې کاوه او د مابنام مونځ به يې د نمر د پريوتو په وخت کې کاوه او د ماسخټن مونځ به يې د شفق د پريوتو او غائيبدو په وخت کې کاوه او د سحر مونځ به يې د سحر په هغه وخت کې کاوه چې سترګي به ښه کلاؤ شوي يعني هر شي به صفا په نظر راته د دې تولوووختونو تر منځ د مانځه وخت دي او يايې فرمانلي دي چې مونځ دي د دي حديث روايت ابو يعلى کړي دي او هيثمي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې اسناد يې حسن دي

{۲۲۰} وَ عَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ قَالَ صَلَّى بِنَا مُعَاوِيَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الصُّبْحَ بِغَلَسٍ فَقَالَ اَبُو الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَسْفِرُوا بِهٰذِهِ الصَّلَاةِ فَإِنَّهُ اَفْقَهُ لَكُمْ اِنَّمَا تُرِيدُونَ اَنْ تَحْلُوا بِحَوَائِجِكُمْ رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت جبير بن نفير ويلي چې مونږ ته حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سهار کې د سحر مونځ وکړو نو ابو درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې دغه مونځ په رڼا کې کوئ يې شکه دا ستاسي د پاره د ډير فکر او سوچ خبره ده يې شکه تاسي غواړئ چې خپلو ضرورياتو ته د رفارغ شئ د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد يې حسن دي.

{۲۲۱} وَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ قَالَ سَمِعْتُ عَلِيًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَقُولُ لِمُؤَذِّنِهِ أَسْفِرْ أَسْفِرْ رواه عبد الرزاق و ابو بكر بن ابي شيبة والطحاوي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : علي بن ربيعه ويلي دي چې ما د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوريدلي چې خپل مؤذن ته يې ويل چې د سحر مونځ روښانه کړه. د دي حديث روايت عبدالرزاق ، ابوبكر بن ابي شيبة او طحاوي کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۲۲۲} وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ كُنَّا نُصَلِّي مَعَ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَكَانَ يُسْفِرُ بِصَلَاةِ الصُّبْحِ رواه الطحاوي و عبد الرزاق و ابو بكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۳)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۲۶ باب وقت الفجر.

(۲) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۱صـ ۵۶۹ باب وقت الصبح ، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۱صـ ۳۲۱ باب من كان يسفر...الخ . طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۲۳ باب وقت الفجر.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۲۵ باب وقت الفجر ، مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۱صـ ۵۶۸ باب وقت الصبح ، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۱صـ ۳۲۱ باب من كان يسفر وسيأتي ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :عبدالرحمن بن يزيد ويلي دي چې مونږ د عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه د سحر مونځ کاوه نو هغه د سحر مونځ روښانه کړ د دي حديث روايت عبدالرزاق طحاوي او ابوبکر بن ابي شيبة کړي او اسناد يې صحيح دي

دامام ابوحنيفه رحمه الله په دلائلو باندې يوه کتنه :

په دې باب کې نهه حديثونه دي کوم چې اسفار بالفجر په مسئله کې دامام ابوحنيفه رحمه الله دليلونه دي ، دري اهم دليلونه دادي :

۱... حديث د رافع رضي الله عنه مرفوعا : " اسفروا بالفجر فان ذلک اعظم للاجر اعظم ".

۲... حديث د انس رضي الله عنه مرفوعا : " ويصلي الغداة عند طلوع الفجر حين ينفتح البصر ".

۳... حديث د ابن مسعود رضي الله عنه موقوفا او مرفوعا ، او حديث د ابوبکر رضي الله عنه او د عمر رضي الله عنه او د ابوالدرداء رضي الله عنه موقوفا وغيره ذلک .

دائمه ثلاثه رحمهم الله د دلائلو جواب

۱... د عائشي رضي الله عنها د حديث جواب : د حضرت عائشي رضي الله عنها حديث "لايعرفهن أحد" باندې ختم دي او منشا يې داده چې چونکه ښځو به انتهائي پرده کړې شوې وې هغوي به چا نه پيژندلې ، نو اوس راوي دا فهم کړي چې دنه پيژندلو وجه په تياره کې مونځ کول وو ځکه يې د غلس اضافه او کړه د دي دليل د ابن ماجه روايت دي کوم کې چې راوي داسې ويلي دي : "تعني من الغلس" يعني د حضرت عائشي رضي الله عنها مراد دتياري دوجې نه دي غرض دا چې دا جمله مدرج من الراوي ده دي سره د صحيح او د صريح احاديثو تقابل او مقابله صحيح نه ده .

کېږته دا هم ثابت کړي شي چې "من الغلس" د حضرت عائشي رضي الله عنها خپل قول دي نو بيا دي غلس نه دهغې مراد پيژندلو ضرورت دي ترڅو چې دا احاديثو په مينځ کې او د صحابه کرامو رضي الله عنهم په بيان کې تضاد پاتې نشي ، اصل کې په هغه زمانه کې د مسجد نبوي د ديوالونه واړه وو ، چت يې لاندې وو ، او کرکۍ هم پکې نه وې ، دجومات مخه هم مشرق طرفته نه وه نو د اسفار نه پس به هم هلته تياره وه ، د کوم دوجې نه به چې ښځې نه پيژندل کيدلې نه دا چې مونځ به په تياره کې لوستلې کيدو .

۲... دجابر رضي الله عنه حديث "والصبح بغلس" جواب دادي چې ديو بل صحابي د حضرت ابوبرزه اسلمي رضي الله عنه بيان د دي په خلاف د اسفار دي هغه فرمايي " وكان ينفتل من صلاة الغداة حين

Maktaba Tul Ishaat.com

يعرف الرجل جليسه " دمسجد نبوي ديوالونه واړه وو او چت لاندي وو نو لهذا په دې کې دننه بد ديو بل پيژندنه هغه وخت ممکنه وه چې کله به بهر اسفار شوي وو .همدارنګه په باب ماجاء في الاسفار کې دحضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بيان موجود دي چې حضرور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بغير دمزدلفي نه په يو ځاي کې هم دفجر مونځ په غلس کې نه دي لوستلي اوس چونکه په فعلي احاديثو کې دصحابه کرامو اختلاف دي نو دقاعدې مطابق قولي احاديثو ته به رجوع کولې شي او په قولي احاديثو کې صراحة په اسفار کې دفجر مونځ لوستلو حکم راغلي دي همدارنګه ابراهيم نخعي رحمه الله فرمايي "ما اجتمع اصحاب محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على شئ ما اجتمعوا على التنوير" يعني دصحابه کرامو اجماع چې څنګه دفجر په رڼايي باندې شوي ده بل ځاي چرته داسي اتفاق نه دې شوي ددوي دقول مطابق غلس والا حديث به منسوخ ګڼلې شي.همدارنګه حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پشان دجليل القدر صحابه کرام رضي الله عنهم اسفار بالفجر کول هم دنسخ کافي دليل دي. (اللباب في الجمع بين السنة والكتاب : ۲۰۶/۱)

۳... حديث دابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: " وصل الصبح مرة بغلس ثم صلى مرة اخرى فأسفر بها ثم كانت صلواته بعد ذلك التغليس حتى مات لم يعد الى ان يسفر" دوه جوابه دي (الف) ددې حديث دوه حصې دي . يوه حصه "سمعت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقول :لزل جبرئيل .... الى قوله خمس صلوات " ده کوم چې دجبريل عليه السلام دامامت ذکر دي او دويمه حصه "فرأيت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ....الى قوله لم يعد الى أن يسفر" ده کوم کې چې دمونځ دوختو تفصيلي ذکر دي. امام ابوداود رَحِمَهُ اللهُ دې حديث لره دنقل کولو نه پس دې لره معلول ګرزولي دی وجه يې داده چې دحديث دسند مدار امام زهري رَحِمَهُ اللهُ باندې دي زهري رَحِمَهُ اللهُ شاګردانو کې اسامه بن زيد ليثي نه علاوه معمر رَحِمَهُ اللهُ . مالک رَحِمَهُ اللهُ او سفيان بن عيينه رَحِمَهُ اللهُ وغيره شاګردان دحديث صرف اولنې حصه نقل کوي ، په دې شاګردانو کې داوقاتو والا حصه صرف اسامه نقل کړې ده کوم لره چې امام احمد رَحِمَهُ اللهُ ضعيف ګرزولي ده لهذا په دې حديث کې ذکر داوقاتو والا حصه (بشمول تغليس) سند اضعيف ده .(ب) ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ پخپله دحديث په دويمه حصه باندې عمل نه کوي ځکه چې په دې کې په اوږې کې دماسپښين دمونځ په تاخير سره دکولو ذکر دي حالانکه امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دتعجيل قائله دي او په دې حصه کې په افق باندې دخه تيارې راتلو نه پس دماسخوتن مونځ کولو ذکر دي ګويا چې شفق دسرخي نه وراندې سپين والي دی حال دا چې امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او شافعي رَحِمَهُ اللهُ دشفق نه سور والي مراد اخلي .

Maktaba Tul Ishaat.com

اَبوَابُ الاَذَانِ

د اذان بابونه :

اولنی بحث: د اذان لغوي معنی ده اعلان او خبرداري ورکول دي او شرعاً اذان ویلي کیږي په مخصوص وخت کې په مخصوص الفاظو سره خبرداري ورکول اطلاع ورکول .

دویم بحث: حضور ﷺ په مکه مکرمه کې داذان او داقامت نه بغیر مونځ به یې ادا کولو تردي پورې چې کله حضور ﷺ مدیني منورې ته هجرت اوفرمایلو نو اولا حضور ﷺ په (۱) هجري کې دمسجد نبوي بنیاد کیخوست ددې نه پس داذان به سلله کې مشوره اوشوه ، بیا دیو قول مطابق په اوله هجري کې او دبل قول مطابق دویمه (۲) هجري کې اذان مشروع شو . (المرقاة المصور ۲/۸۵)

دریم بحث: دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ ، مالک او شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دپنځه وخته مونځونو او دجمعې مونځ لپاره اذان سنت مؤکده قریب من الوجوب دي او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد دښار والا باندې فرض کفایه دي ، اذان گویا چې فرض عین نه دي لیکن داسلام دشعائرو نه دي لهذا که یو کلي والا ددې په پریخودلو باندې اتفاق وکړي نو امام به دهغوي سره جنګ کوي . (رحمة الامة ص: ۲۷)

بَابُ فِي بَدْءِ الْاَذَانِ

د اذان د شروع باب :

{۲۲۴} عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ الْمُسْلِمُونَ حِينَ قَدِمُوا الْمَدِينَةَ يَجْتَمِعُونَ فَيَتَحَيَّنُونَ الصَّلَاةَ لَيْسَ يُنَادِي لَهَا فَتَكَلَّمُوا يَوْمًا فِي ذٰلِكَ فَقَالَ بَعْضُهُمْ اتَّخِذُوا نَاقُوسًا مِثْلَ نَاقُوسِ النَّصَارٰى وَ قَالَ بَعْضُهُمْ بُوقًا مِثْلَ قَرْنِ الْيَهُودِ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَوَلَا تَبْعَثُونَ رَجُلًا يُنَادِي بِالصَّلَاةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ يَا بِلَالُ قُمْ فَنَادِ بِالصَّلَاةِ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي چې مسلمانان چې کله مدیني منورې ته راغلل نو دوي راجمع شو د مانځه د پاره یې وخت مقرراوه د مانځه د پاره هیڅ اواز نه ؤ نو دوي یوه ورځ په دې باره کې مشوره وکړه نو بعضو وویل چې د نصاري ؤ په شان یو ناقوس جوړ کړئ او بعضو وویل چې د

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج ۱ ص ۸۵ ، مسلم كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۸۸ ، ابوداؤد باب بدء الاذان .

Maktaba Tul Ishaat.com

یهود و په شان د بنکر شپیلئ جوړه کړئ نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې او یو کس سړي نه لیږئ چې د مانځه د پاره اواز وکړي نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ بلال ته وفرمایل چې بلاله پاڅه او د مانځه د پاره اواز وکړه. د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي.

{۲۲۴} وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ذَكَرُوا النَّارَ وَالنَّاقُوسَ فَذَكَرُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارٰى فَأُمِرَ بِلَالٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنْ يَشْفَعَ الْأَذَانَ وَأَنْ يُوتِرَ الْإِقَامَةَ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې د صحابه کرامو په مشوره کې داور او د ناقوس د یادولو سره د یهودو او د نصاري ؤ ذکر وشو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمائل چې اذان دوه دوه کلمه وکړه او اقامت یو یو وکړه. د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي.

{۲۲۵} وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدِ بْنِ عَبْدِ رَبِّهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا أَمَرَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّاقُوسِ يُعْمَلُ لِيُضْرَبَ بِهِ لِلنَّاسِ لِجَمْعِ الصَّلَاةِ طَافَ بِي وَأَنَا نَائِمٌ رَجُلٌ يَحْمِلُ نَاقُوسًا فِي يَدِهِ فَقُلْتُ لَهُ يَا عَبْدَ اللهِ أَتَبِيعُ النَّاقُوسَ فَقَالَ وَمَا تَصْنَعُ بِهِ فَقُلْتُ نَدْعُوا بِهِ إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ أَفَلَا أَدُلُّكَ عَلَى مَا هُوَ خَيْرٌ مِنْ ذٰلِكَ فَقُلْتُ لَهُ بَلٰى قَالَ تَقُولُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ فَذَكَرَ الْأَذَانَ وَالْإِقَامَةَ قَالَ فَلَمَّا أَصْبَحْتُ أَتَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخْبَرْتُهُ بِمَا رَأَيْتُ فَقَالَ إِنَّهَا لَرُؤْيَا حَقٌّ إِنْ شَاءَ اللهُ فَقُمْ مَعَ بِلَالٍ فَأَلْقِ عَلَيْهِ مَا رَأَيْتَ فَلْيُؤَذِّنْ بِهِ قَالَ فَسَمِعَ ذٰلِكَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُوَ فِي بَيْتِهِ فَخَرَجَ يَجُرُّ رِدَاءَهُ يَقُولُ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ يَا رَسُولَ اللهِ لَقَدْ رَأَيْتُ مِثْلَ مَا أُرِيَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلِلّٰهِ الْحَمْدُ رواه ابو داود و احمد و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : او عبدالله بن زید بن عبدربه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ناقوس د جوړولو حکم وکړ چې مانځه ته د خلکو د راجمع کولو د پاره وغږول شي ماته یو سړي راغي او څه اوده وم د هغه سره ناقوس په لاس کې ؤ ما هغه ته وویل چې اي دالله بنده دا ناقوس ته خرڅوي نو هغه وویل ته پرې څه کوي نو ماورته وویل چې مونږ پرې مانځه ته خلک رابلو هغه وویل ایا د دې نه بل شي تاته نه بښم نو ما هغه ته وویل چې ولي نه راته ووښایه عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې نو

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۸۵ باب بدء الاذان. مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۴ باب بدء الاذان.

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۱ باب كيف الاذان. مسند احمد ج۴ص ۴۳

Maktaba Tul Ishaat.com

هغه وويل چې ته داسې وايه الله اکبر الله اکبر نو هغه پوره د اذان او د پوره اقامت دواړو ذکر وکړو الله تعالى د هر څه نه ډير لوي دي الله د هر څه نه ډير لوي دي . نو عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويل کله چې صبا شو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلم نو چې څه مي ليدلي ؤ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مي په هغې خبر کړو . نو رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې بې شکه خامخا دا حق خوبونه دي که دالله تعالى اراده وي نو پاڅه د بلال سره ودريږه نو ما به دغه کلمات بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته بنودل او هغه به اذان کاوه حضرت عبد الله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې دا اذان واوريده خو ويې هغه په خپل کور کې ؤ نو هغه راووته پداسې حال کې چې څادر يې خاڼ پسې رانبکوده ويل يې خما دي په هغه ذات قسم وي چې ته يې په حقه راليږلې يې اي دالله رسوله يې شکه ماهم د شپې داسې خوب ليدلي دي لکه څنګه اوس يې ګورم نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې هر يو صفت الله لره دي . د دې حديث روايت ابو داؤد او احمد کړي دي او اسناد يې حسن دي .

دکلماتو تحقيق :ناقوس : دايو خاص قسم لرګي دي يو وړوکي وي اويو غټ ، غټ ته ناقوس او وړوکي ته وييل ويلي کيږي ، يو په بل باندي وهلو نه يو آواز پيدا کيږي .

يوې: دښکر په شان يو شئ وي دکوم په ذريعې سره چې آواز اوچتيږي حضرت شيخ الحديث رَحِمَهُ اللهُ فرمايي : ديهوديانو په باجو کې يوه باجه ده دهغې صورت داسې وي لکه څنګه چې سندري ويونکي په ودونو کې يوه اوګده باجه استعمالوي کوم ته چې "نرسنګها" ويلي کيږي .

د اذان واقعه او قصه :کله چې مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جوړ شو نو مانځه ته د خلکو د رابللو فکر پيدا شونو په ابتداء کې به دمونځ لپاره يو وخت مقرر کيدو په هغې باندې به خلک دخپل اندازې سره جمع کيدل بياچې مسلمانان زيات شونو حضرت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابه کرامو سره مشوره وکړه په دې باره کې بعضو وويل چې د نصارى ؤ د ناقوس په شان ناقوس جوړ کړئ او ناقوس نري اوږد لرګي ته ويلي شي کوم چې په وړوکي لرګي سره غږيږي او اواز کوي او دي ته وييل ويلي شي او بعضو دا تجويز وراندې کړ چې د مجوسيانو په شان اور بلول پکار دي چې خلک اور وويني نو راځي به او بعضو د يهودو په شان د بوق او قرن يعنې د ښکر مشوره ورکړه چې هغې ته په اصطلاح تورم ويلي شي . مګر په دې يو باندې هم اتفاق رانغې ولې که چرته په يو د دغه شيانو کې مختار شوي وي نو د غير مسلمو طائفو سره مشابهت راته نو د دي وجهې نه دا ټول پريښودل شو لکه چې د دي باب د دويم روايت (فذكروا اليهود والنصارىٰ) د الفاظو همدغه معنى ده نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويل (اولا تبعثون رجلاً ينادي بالصلوٰة) .د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه

Maktaba Tul Ishaat.com

تجویز په وجه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مقرر کړو چې هغه په کوڅو کې وګرځي او د الصلوٰة جامعة اعلان وکړي ، چې د دې باب د اول روایت فنادی بالصلوٰة نه همدغه مراد دي. لکه چې د حضرت نافع بن جبیر یو روایت هم دا خبره ثابته کړي ده . چې په هغې کې دغه الفاظ روایت شوي فصیح بأصحابه الصلوٰة جامعة (۱)

په دې دوران کې حضرت عبدالله بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب ولید په دې خوب کې ورته یو سړي راغې چې په حقیقت کې ملائکه او فرشته وه د هغې سره ناقوس وُ عبدالله بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وویل چې دا ماته راکړه مونږ په دې باندې مانځه ته خلک راجمع کوُ هغه ورته بیا د اذان طریقه اود اذان کلمات وښودل چې د هغې تفصیل د باب په اخري روایت کې راغلي دي هغه ابوداوٗد په کتاب الصلوٰة ج۱ص ۹۱ په باب کیفَ الاذان کې نقل کړي دي . دغسې خوب حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُم لیدلي وُ او د رسول کریم صلی الله علیه وسلم په حضور کې حاضر شو او وې ویل : (والذي بعثک بالحق یارسول الله لقد رأیت مثل ما اُرِيَ فقال رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلله الحمد.

د یو اعتراض جواب : فلما سمع ذلک عمر بن الخطاب . دحضرت عبدالله بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کلماتو او الفاظو نه معلومیږي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته د اذان د الفاظو د جواز او مشروعیت علم او پته هغه وخت ولګیده چې کله حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اذان وکړ لیکن د بعضو نورو روایتونو نه معلومیږي چې کله عبدالله بن زید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب لیدلي وُ حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حاضر موجود وُ (۲) بلکه د ابوداوٗد په یو بل روایت خو دغه الفاظو منقول دي چې : قال وکان عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قد راٰه قبل ذلک فکتمه عشرین یومًا قال ثم اخبر النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقال ما منعک ان تخبرني فقال سبقني عبدالله بن زید فاستحییت .(۳)

او د دغې روایتونو اختلاف د وجهې نه په بنکاره شکل کې یو قسم تعارض پیدا کیږي د دې تعارض د لرې کولو د پاره د حدیث شارحینو ویلي دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا خوب د حضرت

---

(۱) ترمذي ج۱ص ۴۵۰-۴۵۱ فتح الباري ج۲ ص ۲.

(۲) ابوداوٗد ج۱ص ۷۴.

(۳) ابوداوٗد ج۱ص ۷۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

عبد الله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب نه شل ورځې مخکې ليدلي وُ خو ولي د ده نه هير شوي وُ خو کله چې عبد الله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوب او وروه نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راياد شو ليکن د حيا د وجهې نه چې شو ځکه چې عبد الله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخکې شوي وُ او د متقدم د پاره د فضيلت حق ثابت دي او کيدي شي چې حضرت عمر کورته تلي وُ د دي نه وروسته چې کله حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اذان وکړ په دي وخت کې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په حضور کې حاضر شو او دا عرض يې وکړ (والذي بعثک بالحق الخ) اي د الله تعالى پيغمبره ځما دي په هغه ذات قسم وي چې ته يې په حقه سره راليږلي يې بې شکه ما هم دغسې خوب ليدلي دي لکه څنګه چې اوس يې ګورم . بعض حضراتو ويلي دي چې د اذان خوب حضرت ابوبکر الصديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُم ليدلي وُ او امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې لسو صحابو کرامو ته په خوب کې د اذان د کلماتو تعليم ورکړي شوي وُ . (۱)

له ټولو نه اول داذان ګولو سعادت :

دمشروعيت اذان تاج که د عبد الله بن زيد رَحِمَهُ اللهُ په سر باندې دي نو له ټولو نه مخکې داذان ورکولو سعادت دحضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حصه کې راغلې دی ځکه چې ددې نه وراندې په مکه مکرمه کې داسلام راوړلو په سزا کې په ګرمه شګه باندې ډډ پرې او دکانړو لاندې کيدو سره سره د "أحد أحد" آواز اوچت کړي دي . (الدر المنضود او نور ملخصا)

بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّرْجِيعِ :

باب دي په هغه احاديثو کې چې د ترجيع په باره کې راغلي دي :

{۲۲۶} عَنْ أَبِي مَحْذُورَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ عَلَّمَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْأَذَانَ فَقَالَ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ اَللهُ أَكْبَرُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ ثُمَّ يَعُودُ فَيَقُولُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ اَللهُ أَكْبَرُ اللهُ أَكْبَرُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ رواه النسائي و ابوداود وابن ماجه و اسناده صحيح و اخرجه

---

(۱) دوس ترمذي ج۱ص ۴۵۲ـ۴۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسلم بتثنية التكبير .(۱)

ترجمه : حضرت ابي محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ماته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذان ښودلي دي نو فرمائل يې الله اكبرالله اكبر ،الله د ټولونه لوي دي الله اكبر الله اكبر ،الله د ټولونه لوي دي الله د ټولونه لوي دي الله . اشهدان لا اله الاالله . زه ګواهي ورکوم چې دالله نه پ غير بل هيڅوک د عبادت مستحق نشته . اشهدان لا اله الاالله . زه ګواهي ورکوم چې دالله نه پ غير بل هيڅوک د عبادت مستحق نشته . اشهدان محمد الرسول الله . زه ګواه ورکوم چې بي شک محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله تعالى رسول دي .اشهدان محمد الرسول الله زه ګواهي ورکوم چې بي شک محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالله رسول دي.بيا مؤذن راوګرځيده نو وي ويل : اشهد ان لا اله الاالله . زه ګواهي ورکوم چې دالله نه پ غير بل هيڅوک د عبادت مستحق نشته .اشهد ان لا اله الاالله . زه ګواهي ورکوم چې دالله نه پ غير بل هيڅوک د عبادت مستحق نشته .اشهدان محمد الرسول الله . زه ګواه ورکوم چې بي شکه محمد دالله تعالى رسول دي .اشهدان محمد الرسول الله . زه ګواه ورکوم چې بي شکه محمد – د الله تعالى رسول دي . حي على الصلوة : راځئ مانځه ته . حي على الصلوة : راځئ مانځه ته . حي على الفلاح ، راځئ کاميابئ ته ، حي على الفلاح ، راځئ کاميابئ ته ،الله اكبرالله اكبر ،الله تعالى د ټولونه لوي دي الله د ټولونه لوي دي .لا اله الاالله : دالله تعالى نه پ غير بل هيڅوک د عبادت مستحق نشته. دا حديث ابوداؤد، نسائي او ابن ماجه نقل کړي دي او اسناد يې صحيح دي . او دا حديث مسلم هم خارج کړي دي د تکبير په دوه ځله ويلو سره .

{۲۲۷} وَعَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الأَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً وَالإِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً رواه الترمذي و آخرون و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : او د حضرت ابي محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې ده ته نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ د اذان نولس (۱۹)

---

(۱) نسائي كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۰۳ باب كيف الاذان ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۷۳ باب كيف الاذان ، ابن ماجه كتاب الصلوة صـ ۵۲ باب الترجيع الاذان ، مسلم كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۶۴ باب الامر بشفع الاذان .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱صـ ۴۸ باب ماجاء في الترجيع في الاذان ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۷۳ باب كيف الاذان.

Maktaba Tul Ishaat.com

کلمي او د اقامت اولس (۱۷) کلمي ورزده کړي دي . د دي حديث روايت ترمذي او آخرونو کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

دکلماتو تشريح: "الترجيع" اول دوه پيړۍ شهادتين لره په تيټ اواز سره ويل بيا دوه ځل په زوره ويل . "التربيع" الله اکبر لره داذان په شروع کې څلور پيړه ويل .

مسئلة الباب : په اروان باب کې به راشي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي عَدَمِ التَّرْجِيعِ

باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د ترجيع د نه کولو په حقله راغلي دي :

{۲۲۸} عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ اَللّٰهُ اکبر الله اکبر فَقَالَ اَحَدُكُمْ اَللّٰهُ اکبر اللّٰهُ اکبر ثم قال اشهد ان لا اله الا الله قال اشهد ان لا اله الا الله ثم قال اشهد ان محمدا رسول الله قال اشهد ان محمدا رسول الله ثم قال حي على الصلاة قال لا حول ولا قوة الا بالله ثم قال حي على الفلاح قال لا حول ولا قوة الا بالله ثم قال الله اکبر الله اکبر قال الله اکبر الله اکبر ثم قال لا اله الا الله قال لا اله الا الله مِن قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ رواه مسلم .[1]

ترجمه : حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کله چې مؤذن ووايي الله اکبرالله اکبر نو يو کس ستاسي دي ووايي الله اکبرالله اکبر بيا مؤذن ووايي اشهد ان لا اله الاالله يو کس ستاسي دي ووايي اشهد ان لا اله الاالله . بيا مؤذن ووايي اشهد ان محمداً رسول الله يو کس ستاسي دي ووايي اشهد ان محمداً رسول الله بيا مؤذن ووايي حي على الصلوة يو کس ستاسي دي ووايي لا حول ولا قوة الا بالله بيا مؤذن ووايي حي على الفلاح يو کس ستاسي دي ووايي لا حول ولا قوة الا بالله بيا مؤذن ووايي الله اکبرالله اکبر يو کس ستاسي دي ووايي الله اکبرالله اکبر بيا مؤذن ووايي لا اله الاالله يو کس ستاسي دي ووايي لا اله الاالله داخل به شي جنت ته . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

---

(۱) مسلم ، کتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۷ باب استحباب القول مثل قول المؤذن ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۴۲۹} وَ عَنِ عَبدِ اللهِ بنِ زَيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَد هَمَّ بِالبُوقِ وَ اَمَرَ بِالنَّاقُوسِ فَنُحِتَ فَأُرِيَ عَبدُ اللهِ بنُ زَيدٍ فِي المَنَامِ قَالَ رَأَيتُ رَجُلاً عَلَيهِ ثَوبَانِ اَخضَرَانِ يحمِلُ نَاقُوسًا فَقُلتُ لَه يَا عَبدَ اللهِ تَبِيعُ النَّاقُوسَ قَالَ وَمَا تَصنَعُ بِه قُلتُ أَنَادِي بِه إِلَى الصَّلَاةِ قَالَ اَفَلَا اَدُلُّكَ عَلَى خَيرٍ مِن ذٰلِكَ قُلتُ وَمَا هُوَ قَالَ تَقُولُ اللهُ اكبر اللهُ اكبر اللهُ اكبر اللهُ اكبر اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول الله حي على الصلاة حي على الصلاة حي على الفلاح حي على الفلاح الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله قَالَ فَخَرَجَ عَبدُ اللهِ بنُ زَيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ حَتّٰى اَتَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَاَخبَرَه بِمَا رَاَى فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ رَاَيتُ رَجُلاً عَلَيهِ ثَوبَانِ اَخضَرَانِ يحمِلُ نَاقُوسًا فَقَصَّ عَلَيهِ الخَبَرَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِنَّ صَاحِبَكُم قَد رَاَى رُؤيَا فَاخرُجْ مَعَ بِلَالٍ إِلَى المَسجِدِ فَاَلقِهَا عَلَيه وَلينَادِ بِلَالٌ فَاِنَّه اَندَى صَوتًا مِنكَ قَالَ فَخَرَجتُ مَعَ بِلَالٍ إِلَى المَسجِدِ فَجَعَلتُ اُلقِيهَا عَلَيه وَهُوَ يُنَادِي بِهَا قَالَ فَسَمِعَ عُمَرُ بنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ بِالصَّوتِ فَخَرَجَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَقَد رَاَيتُ مِثلَ الَّذِي رَاٰى رواه ابن ماجه و ابوداود و احمد و صححه الترمذي وابن خزيمة والبخاري فيما حكاه عنه الترمذي في العلل.(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د بوق (بنكر) اراده فرمائلي وه او د ناقوس د جوړولو حكم يې وركړي وُ نو هغه يې جوړ كړنو عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنهُ په خوب كې وښودل. شو عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنهُ ووېل چې يو سړي مي وليد چې دوه شنې څادري يې اغوستې وي ناقوس ورسره وُ ماورته ووېل اي دالله بنده ناقوس خرڅې هغه ووېل او په ناقوس څه كوي ماورته ووېل په دي سره زه مانځه ته اواز كوم هغه سړي ووېل زه تاته د دي نه بهتر شي ونه بنائم ماووېل هغه څه شئ دي هغه ووېل ته دا اووايه :الله اكبر الله اكبر الله اكبر الله اكبر اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان محمدا رسول الله اشهد ان محمدا رسول الله حي على

---

(۱) ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ص ۵۱ باب بدء الاذان ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۱ باب كيف الاذان ، مسند احمد ج۴ ص ۴۳، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۴۸ باب ماجاء في بدء الاذان ، صحيح ابن خزيمة ، جماع ابواب الاذان ج۱ص ۱۹۱ باب ذكر الخبر المصر اخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

الصلوٰة ي حي الصلوٰة ي حي الفلاح ي حي الفلاح الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله . راوي وايي چې عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کور ته راووته تر دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورغي کوم خوب يې چې ليدلي ؤ په هغې يې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبر کړ عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل اي د الله رسوله ما يو سړي چې دوه شنه ځادرونه يې اغوستي ؤ ناقوس ورسره ؤ ييا يې توله قصه ورته بيان کړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل بې شکه ستاسي ملګري يو خوب ليدلي دي . ته د بلال سره مسجد ته لاړ شه ته بلال ته دغه کلمې ووايه او بلال دي اواز وکړي بې شکه ستا نه د بلال اواز اوچت دي حضرت عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې زه د بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مسجد ته لاړم نو ما دغه کلمې بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ويلې او هغه اواز کاوه عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وايي چې حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه اواز واوريده نو د کوره راووته نو ويې ويل اي د الله رسوله بې شکه قسم مې دي په الله وي چې دغسې خوب ما هم ليدلي لکه هغه چې ليدلي دي . د دي حديث روايت ابن ماجه رَحِمَهُ اللهُ، ابو داؤد رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او ترمذي ، ابن خزيمه او بخاري صحيح ګرځلي دي په هغې کې چې د ده نه ترمذي په کتاب العلل کې حکايت کړي دي .

مسئلة البابين : د اذان کلماتو تعداد :

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد نونس(۱۹) کلمات دي او (۲) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد اوولس(۱۷) کلمات دي (۳) دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد پنځلس کلمات دي .

تفصيل: (۱) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دترجيع مع ترجيع قائله دي .(۲) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دترجيع بلا ترجيع قائله دي .(۳) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ دترجيع بلا ترجيع قائله دي .

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل: دتير شوي باب حديثونه دکوم مطابق چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابو محذوره ته نونس (۱۹) کلمات او بنودل يعني دترجيع مع ترجيع، ييا ابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ همدي مطابق اذان ورکولو .

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل:

۱... دعدم ترجيع دليل حديث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " أمر بلال أن يشفع الأذان " يعني حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته دشفع اذان حکم وکړي شو ، دشفع معنى ده هريو کلمه دوه دوه پيرې ويل.

۲... دترجيع دثبوت دليل حديث دابو محذوره دي کوم چې پاس تير شو .

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامحمد رَحِمَهُ اللهُ دلائل:

۱... عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم حديثونه په دي باب کې اصل الاصول حيثيت لري ، په دي حديثونو

Maktaba Tul Ishaat.com

کې اذان ترجیع بلا ترجیع وارد دي " ذکر الأذان بترجیع التکبیر بغیر ترجیع "

۲... په اسلام کې اولنې مؤذن او امیر المؤمنین د سیدنا حضرت بلال رضی الله عنه اذان کې پنځلس کلمات وو "کان یثنی الأذان".

۳... دحضور اکرم صلی الله علیه وسلم په زمانه کې څلور مؤذنین وو: (۱) ابومحذوره رضی الله عنه مکه کې (۲) ابن ام مکتوم رضی الله عنه مدینه منوره کې .(۳)بلال رضی الله عنه مدینه منوره کې .(۴) سعد القرظي رضی الله عنه قباء کې . دحضرت ابومحذوره رضی الله عنه علاوه باقي ټولو حضراتو به پنځلس کلمات وئیل.

۴... داذان عام احادیث ۱۵ کلماتو باندې مشتمل دي.

امام شافعي رحمه الله **ته جواب** :۱. دفتح مکې په موقع باندې ابومحذوره رضی الله عنه عمر نه کم وو او ملګرو سره به په کوخو کې ګرځیدو نو چې کله به یې دبلال رضی الله عنه اذان او اوریدو نو بطور طرز به یې داذان کلمات ځان سره په بنګ بنګ ویل یعنې سم به یې نه ویل ، نو حضور صلی الله علیه وسلم دا ځان ته نیزدې راوو ځوښت او په سر یې ورله دشفقت لاس راخکود او خپل وراندې یې پرې داذان کلمات اویل .ابومحذوره رضی الله عنه کلمات اویل لیکن چونکه تردې وخته پورې یې ایمان نه وو راوړې ځکه یې شهادتین په مزه او تیټ آواز سره اویل ، نو حضور صلی الله علیه وسلم دده په زړه کې ایمان لره دراسخ کولو لپاره شهادتین دوه پیرې اویل ، حاصل دا چې شهادتین دوه پیرې وئیل دتعلیم په غرض سره وو نه مستقل حکم وو .

۲. عین ممکن دي چې ترجیع دمحذوره رضی الله عنه خصوصیت وو ددې دوه وجوهات دي (۱) نورو مؤذنینو ترجیع نه کوله .(۲) دفتح مکې په موقع باندې حضور صلی الله علیه وسلم دده په سر لاس راخکلو او هغه په ټول ژوند کې دسر ویختان کټ نه کړل په وجې دتبرک نو هغه دده خصوصیت وو .

امام مالک رحمه الله **ته جواب** :۱. حضرت بلال رضی الله عنه، ابن ام مکتوم رضی الله عنه او سعد قرظي رضی الله عنه اذان چونکه څلور ځله په الله اکبر باندې مشتمل وو ، ځکه د " **شفع اذان** " معنی دشهادتین شفع به وي .

۲. دشفع نه مراد لغوي معنی "ملاوول" او مطلب دادي چې دوه پیرې الله اکبر لره ملاوول او ویل. بهرحال دلائل دواړه طرفه قائم دي لهذا دمذکوره طریقو نه دیو چا طریقې ته هم غلط نشي ویلې البته اتمو دنور قرائنو په رنا کې یو خاص طریقې لره غوره ګرځولې ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ إِفْرَادِ الإِقَامَة

باب دې په بيان دا اقامت دالفاظو په يو ځل ويلو کې

{۲۳۰} عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أُمِرَ بِلَالٌ أَنْ يَشْفَعَ الأَذَانَ وَيُوتِرَ الإِقَامَةَ رواه الجماعة و زاد بعضهم الا الاقامة .(۱)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړي شو چې اذان دوه دوه ځله او اقامت يو يو ځل وکړه . د دې حديث روايت جمله جماعت کړي دي او ځينو دا الفاظ زيات کړي دي (الا الاقامة) يعني معنى دا چې اقامت به دوه دوه ځله نکوي .

{۲۳۱} وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّمَا كَانَ الأَذَانُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ وَالإِقَامَةَ مَرَّةً مَرَّةً غَيْرَ أَنَّهُ يَقُولُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ رواه احمد ، ابوداود والنسائي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي په تحقيق خبره همداده چې درسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه زمانه کې اذان دوه دوه ځلي او اقامت يو يو ځلي وُ چې د قد قامت الصلوة قد قامت الصلوة د ويلو نه په غير . د دې حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ ، ابوداوُد رَحِمَهُ اللهُ او نسائي رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۳۲} وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ طَافَ بِي وَأَنَا نَائِمٌ فَقَالَ تَقُولُ أَللهُ أَكْبَرُ فَذَكَرَ الأَذَانَ بِتَرْبِيعِ التَّكْبِيرِ بِغَيْرِ تَرْجِيعٍ وَالإِقَامَةَ فُرَادَى إِلَّا قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ اخرجه احمد و ابوداود و اسناده حسن .(۳)

ترجمه : حضرت عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي زه وده وم چې يو سړي ماته راغي نو وي ويل

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۸۵ باب الاذان مثنى مثنى ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۳ باب الامران يشفع الاذان ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۴۸ باب ماجاء في افراد الاقامة ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۵ باب في الاقامة ، نسائي كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۴ باب تثنية الاذان ، ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ص ۵۳ باب افراد الاقامة ، مسند احمد ج۳ ص ۱۰۳ .

(۲) مسند احمد ج۲ص ۸۵ ، ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۷۶ باب في الاقامة ، نسائي كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۳ باب تثنية الاذان .

(۳) مسند احمد ج۴ ص ۴۳ ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۱ باب كيف الاذان .

Maktaba Tul Ishaat.com

چې ته داسې ووايه الله اكبر نو هغه د اذان ذكر وكړ د ترجيع نه په غير په څلورو تكبيرونو او اقامت يو يو ځل مګر **قد قامت الصلوة** يو ځل . دا حديث احمد رَحِمَهُ اللهُ او ابوداؤد رَحِمَهُ اللهُ روايت كړي او اسناد يې حسن دي .

داقامت كلمې : "الاقامة" دفقهاؤ په اصطلاح كې هغه مخصوصو الفاظو نوم دي كوم چې د حاضرينو لپاره ويلې كيږي .

مسئلة البابين : داقامت كلمې څو دي ؟

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد يوولس كلمې دي ، په شروع او په آخر په دواړه خاې كې الله اكبر صرف دوه پيرې ، دغه شان لفظ "**قد قامت الصلاة**" هم دوه پيرې او باقي كلمات دې يو پيره وويلې شي . (۲) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد لس كلمات دي دده په نزد لفظ "**قد قامت الصلاة**" هم يو پيره ويل پكار دي . (۳) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد اووولس (۱۷) كلمې دي ، پنځلس كلمې د اذان والا او لفظ "**قد قامت الصلاة**" دوه پيرې .

تفصيل : (۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ دافراد داقامت قائله دي ، بغير د "**قد قامت الصلاة**" .

(۲) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دټولو كلماتو دافراد ويلو قائله دي .

(۳) امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ داذان پشان اقامت كې هم دتثنيه ويلو قائله دي .

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او داحمد رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱... دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : "**أمر بلال ان يشفع الاذان ويوتر الاقامة إلا الاقامة**" دشفع اذان مطلب داذان كلمات دوه ، دوه پيرې ويل دي ، دإلا الإقامة نه قد قامت الصلاة استثناء او كړې شوه .

۲... حديث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "**الإقامة مرة مرة غير أنه يقول : قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة**" حديث په دعوى باندې په پوره طريقې سره صادق راځي .

۳... حديث دعبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "**والإقامة فرادى إلا قد قامت الصلاة**" .

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل : حديث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ المذكور ، البته دوي "**إلا الإقامة**" لره مدرج من الراوي ګرځوي او ناقابل استدلال يې ګڼي .(دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ دلائل او دائمه ثلاثه رحمهم الله ددلائلو جواب دراروان باب په آخر كې دي) .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابٌ فِي تَثْنِيَةِ الإِقَامَة

باب دي په بيان د اقامت په دوه دوه ځله ويلو کې :

{۲۳۲} عَن عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ أَبِي لَيلٰى قَالَ حَدَّثَنَا أَصحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِنَّ عَبدَ اللّٰهِ بنَ زَيدٍ الأَنصَارِيَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ جَاءَ إِلَى النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ رَأَيتُ فِي المَنَامِ كَأَنَّ رَجُلًا قَامَ وَعَلَيهِ بُردَانِ أَخضَرَانِ فَقَامَ عَلٰى حَائِطٍ فَأَذَّنَ مَثنٰى مَثنٰى وَأَقَامَ مَثنٰى مَثنٰى رواه ابن ابي هبة واسناده صحيح[1]

ترجمه : عبدالرحمن بن ابي ليلى ويلي دي چې د محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اصحابو حديث بيان کړي دي چې بې شکه عبدالله بن زيد انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ نبي عَلَيهِ السَّلَام ته راغې نو ورته وې ويل چې اې د الله تعالى رسوله ما په خوب کې يو سړي وليدو گويا کې چې ولاړ دي او په ده باندې دوه شينې شادرونه پراته دي نو په ديوال باندې ودريده نو دوه دوه ځله يې اذان وکړ او دوه دوه ځله يې اقامت وکړو . د دې حديث روايت ابن ابي شيبة کړي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۳۳} وَ عَنه قَالَ أَخبَرَنِي أَصحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَنَّ عَبدَ اللّٰهِ بنَ زَيدٍ الأَنصَارِيَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ رَأٰى فِي المَنَامِ الأَذَانَ قَالَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَخبَرَه فَقَالَ عَلِّمه بِلَالًا فَأَذَّنَ مَثنٰى مَثنٰى وَ أَقَامَ مَثنٰى مَثنٰى وَ قَعَدَ قَعدَةً رواه الطحاوي واسناده صحيح .[2]

ترجمه : عبدالرحمن بن ابي ليلى ويلي دي مونږ ته د محمد اصحابو رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُم بيان کړي چې عبدالله بن زيد انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ په خوب کې د اذان واقعه ليدلي ده نو د نبي عَلَيهِ السَّلَام حضور ته ورغې هغه ته يې ويل نو نبي عَلَيهِ السَّلَام ورته وفرمائل چې حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ته يې وهايه نو حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ اذان مثنى مثنى وکړ او اقامت يې هم دوه دوه ځله وکړو او په دې منځ کې لږ وخت کيناست. دا حديث طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ نقل کړي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۳۴} وَ عَن أَبِي العُمَيسِ قَالَ سَمِعتُ عَبدَ اللّٰهِ بنَ مُحَمَّدِ بنِ عَبدِ اللّٰهِ بنِ زَيدٍ الأَنصَارِيَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ يُحَدِّثُ عَن أَبِيهِ عَن جَدِّهِ أَنَّه أُرِيَ الأَذَانَ مَثنٰى مَثنٰى وَالإِقَامَةَ مَثنٰى مَثنٰى قَالَ فَأَتَيتُ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأَخبَرتُه فَقَالَ عَلِّمهُنَّ بِلَالًا قَالَ فَتَقَدَّمتُ فَأَمَرَنِي أَن أُقِيمَ رواه البيهقي في الخلافيات

---

[1] مصنف ابن أبي شيبة كتاب الأذان والإقامة صـ ۲۰۳ باب ماجاء في الأذان والإقامة كيف هو.

[2] طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ صـ ۹۳ باب الإقامة

Maktaba Tul Ishaat.com

و قال الحافظ في الدراية (۱/۱۲۵) اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د ابي عُميش نه روايت دي هغه ويلي دي چې ما د عبدالله بن محمد بن عبدالله بن زيد الانصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ريدلي دي او هغه د خپل پلار نه او نيکه نه روايت کړي چې هغه ته اذان دوه دوه ځله ښودل شوي او اقامت ورته دوه دوه ځله هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغلم نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مې د اذان په واقعه خبر کړ نو وي فرمائل چې د اذان کلمې بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وښايه هغه وويل چې زه مخکې لاړم بيا يې ماته وفرمائل چې اقامت وکړه . دا حديث بيهقي په خلافيات کې راوړې او حافظ په درايه کې ويلي دي چې اسناد يې صحيح دي .

{۲۲۶} وَ عَنِ الشَّعْبِي عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَيْدٍ الْاَنْصَارِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ اَذَانَ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ اَذَانُهُ وَاِقَامَتُهُ مَثْنٰى مَثْنٰى رواه ابو عوانة في صحيحه وهو مرسل قوي .(۲)

ترجمه : عبدالله بن زيد انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذان او اقامت اوريدلي دي نو اذان او اقامت يې دواړه دوه دوه ځله وُ. د دي حديث روايت ابو عوانه په خپل صحيح کې کړي دي او دا حديث مرسل قوي دي .

{۲۲۷} وَ عَنْ اَبِي مَحْذُوْرَةَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَّمَهُ الْاَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً وَالْاِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً رواه الترمذي والنسائي والدارمي واسناده صحيح .(۳)

ترجمه : د حضرت ابي محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ده ته د اذان نولس کلمې او د اقامت اولس کلمې ورونبودي . د دي حديث روايت ترمذي ، نسائي او دارمي کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۲۸} وَ عَنْهُ قَالَ عَلَّمَنِي رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْاَذَانَ تِسْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً وَالْاِقَامَةَ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً الْاَذَانُ اللهُ اكبر اللهُ اكبر فَذَكَرَهُ بِالتَّرْجِيعِ مُفَسَّرًا قَالَ وَالْاِقَامَةُ سَبْعَ عَشْرَةَ كَلِمَةً اللهُ اكبر اللهُ اكبر اللهُ اكبر اللهُ اكبر اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان محمدا رسول الله

---

(۱) الدراية باب الاذان ج۱ صـ ۱۱۵ نقلاً عن البيهقي في الخلافيات .

(۲) المسند الصحيح لابي عوانة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۳۳۱ باب فاذين النبي عَلَيْهِ السَّلَامُ .

(۳) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۴۸ باب ماجاء في الترجيع في الاذان ، نسائي كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۰۳ ، دارمي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۴۱ باب الترجيع في الاذان .

Maktaba Tul Ishaat.com

اشهد ان محمدا رسول الله ي حي على الصلاة ي حي على الصلاة ي حي على الفلاح ي حي على الفلاح قد قامت الصلاة قد قامت الصلاة الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله رواه ابن ماجه و ابوداود و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : حضرت ابو محذوره رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته د اذان ۱۹ كلمي او د اقامت اوس كلمي بنودلي وي اذان الله اكبر الله اكبر الله اكبر الله اكبر د ترجيع سره يې د اذان مفسر ذكر وكړ ويلي يې دي او د اقامت اوس كلمي دى الله اكبر الله اكبر الله اكبر الله اكبر اشهد ان لا اله الا الله اشهد ان لا اله الا الله اشهدان محمدا رسول الله اشهدان محمدا رسول الله ي حي على الصلوة ي حي على الصلوة ي حي على الفلاح ي حي على الفلاح قد قامت الصلوة قد قامت الصلوة الله اكبر الله اكبر لا اله الا الله . . دي حديث روايت ابن ماجه او ابوداؤد كړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۳۹} وَ عَنِ عَبدِ العَزِيزِ بنِ رُفَيعٍ قَالَ سَمِعتُ اَبَا مَحذُورَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يُؤَذِّنُ مَثنٰي مَثنٰي وَ يُقِيمُ مَثنٰي مَثنٰي رواه الطحاوي و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : عبد العزيز بن رُفيع ويلي چې ما د ابي محذوره رضي الله عنه نه اوريدلي دي چې دوه دوه ځله يې اذان كاوه او دوه دوه ځله يې اقامت كاوه . دا حديث طحاوي روايت كړي دي او اسناد يې حسن دي .

{۲۴۰} وَ عَنِ الاَسوَدِ بنِ يَزِيدَ اَنَّ بِلَالًا رَضِيَ اللهُ عَنهُ كَانَ يَثنِي الاَذَانَ وَ يَثنِي الإِقَامَةَ وَ كَانَ يَبدَأُ بِالتَّكبِيرِ وَ يَختِمُ بِالتَّكبِيرِ رواه عبد الرزاق والطحاوي والدارقطني و اسناده صحيح (۳)

ترجمه : د اسود بن يزيد نه روايت دي چې حضرت بلال رضي الله عنه دوه دوه ځله اذان او دوه دوه ځله اقامت كاوه او په تكبير به يې شروع كوله او په تكبير به يې ختمولو . د دي حديث عبد الرزاق ، طحاوي او دار قطني روايت كړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۵۲ باب الترجيع في الاذان ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۷۳ باب كيف الاذان .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۹۵ باب الاقامة كيف هي .

(۳) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۱ ص ۴۶۲ باب بدء الاذان ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۹۴ باب الاقامة ، دارقطني كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۴۲ باب ذكر الاقامة واختلاف الروايات فيها .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۴۱} وَعَنْ سُوَيْدِ بنِ غَفَلَةَ قَالَ سَمِعتُ بِلَالًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يُؤَذِّنُ مَثْنٰى وَيُقِيمُ مَثْنٰى رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه: سويد بن غفله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې ما د حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دوه ځله اذان او دوه ځله اقامت اوريدلي دي. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد يې حسن دي.

{۲۴۲} وَعَنْ عَوْنِ بنِ أَبِي جُحَيْفَةَ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ بِلَالًا رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يُؤَذِّنُ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَثْنٰى مَثْنٰى وَيُقِيمُ مَثْنٰى مَثْنٰى رواه الدارقطني والطبراني وفي اسناده لين.(۲)

ترجمه: عون بن جحيفه د خپل پلار نه روايت کړي دي چې بې شکه حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته دوه دوه ځله اذان کاوه او دوه دوه ځله به يې اقامت کاوه دا حديث دارقطني او طبراني روايت کړي دي او په اسناد کې يې لين دي

{۲۴۳} وَعَنْ يَزِيدِ بنِ أَبِي عُبَيْدٍ عَنْ سَلَمَةَ بنِ الْاَكْوَعِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا لَمْ يُدْرِكِ الصَّلَاةَ مَعَ الْقَوْمِ أَذَّنَ وَأَقَامَ وَيُثَنِّي الْإِقَامَةَ رواه الدارقطني واسناده صحيح.(۳)

ترجمه: يزيد بن ابي عبيد د حضرت سلمه بن الاکوع نه روايت کړي چې بې شکه سلمه بن الاکوع رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې کله د قوم سره د جمع مونځ ونه نيوئ نو اذان به يې وکړ او اقامت به يې وکړ او اقامت به يې دوه ځله وايه د دي حديث روايت الدار قطني کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۲۴۴} وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ كَانَ ثَوْبَانُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يُؤَذِّنُ مَثْنٰى وَيُقِيمُ مَثْنٰى رواه الطحاوي وهو مرسل.(۴)

ترجمه: ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دوه ځله اذان کاوه او دوه ځله به يې اقامت کاوه. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او دا مرسل دي.

{۲۴۵} وَعَنْ فَطْرِ بنِ خَلِيفَةَ عَنْ مُجَاهِدٍ ذَكَرَ لَهُ الْاِقَامَةَ مَرَّةً مَرَّةً فَقَالَ هٰذَا فِي رِسْلِهِ اِسْتَخَفَّهُ الْأُمَرَاءُ

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۹۴ باب الاقامة.

(۲) دارقطني كتاب الصلوة ج۱ص ۲۴۲ باب ذكر الاقامة ...الخ معجم الكبير للطبراني ج۲۲ ص ۱۰۱ برقم ۲۴۴، مجمع الزوائد ج۱ص ۳۳۰ باب كيف الاذان وقال رجاله ثقات.

(۳) دارقطني كتاب الصلوة ج۱ص ۲۴۱ باب ذكر الاقامة ...الخ.

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۹۵ باب الاقامة.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلإِقَامَةُ مَرَّتَيْنِ مَرَّتَيْنِ رواه عبد الرزاق و ابو بكر بن ابي شيبة والطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : فطر بن خليفه د مجاهد رَحِمَهُ اللهُ نه روايت كړي دي چې مجاهد رَحِمَهُ اللهُ ته د يو يو ځل اقامت ذكر وكړي شو نو مجاهد رَحِمَهُ اللهُ وويل دا يو داسې شئ دي چې امراؤ هغه اسان كړي دي اقامت دوه دوه ځله دي. د دي حديث روايت عبدالرزاق، ابوبكر ابن ابي شيبه او طحاوي كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دقول دليل:

۱... حديث دابو محذوره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: په اذان كې ترجيع دهغه خصوصيت وو ليكن داقامت كلمې دهغه نه هم بغير دترجيع او ولس (۱۷) منقول دي.

۲... دعبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث "رأيت في المنام ..... فأذن مثنى مثنى وأقام مثنى مثنى".

۳... دبلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث: "أذن مثنى مثنى وأقام مثنى مثنى".

ائمه ثلاثه رحمهم الله ته جواب:

۱... دافراد اقامت حكم منسوخ شوي وو، ځكه چې حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوفات نه پس هم "مثنى مثنى" اقامت ويل.

۲... دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پښه حديث كې "ايتار اقامت" نه او دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پښه حديث كې د "الاقامة مرة مرة" نه مراد ايتار الصوت دي يعني دواړه كلمې يو ځاي كول او په يو ساه كې ادا كول او دي لره حدرا ويل په خلاف داذان چې په دې كې ترسيل دي يعني په آرام آرام هر يوه كامه جدا جدا په يو يو ساه كې ويل.

۳... دعبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داقامت والا احاديثو كې دايتار نه علاوه تثنيه والا روايات مضبوط دي. دترجيع په وخت دهغې مطابق به عمل كيږي. بهرحال اقامت په دواړو طريقو سره ثابت دي ديو طريقې انكار هم صحيح نه دي. البته ددلائلو او دترجيحاتو په رڼا كې داحنافو مسلك راجح ګرځولې شوي دي.

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج ۱ صـ ۴۶۳ ، باب بدء الاذان ، طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ صـ ۹۵ باب بدء الاذان

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا جَاءَ فِي الصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ

باب دي په بيان د هغه روايانو کې چې د الصلوة خير من النوم په باره کې راغلي دي

{۲۲۶} عَنِ انَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ اِذَا قَالَ المُؤَذِّنُ فِي اَذَانِ الفَجرِ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ قَالَ اَلصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ رواه ابن خزيمة والدار قطني والبيهقي و قال اسناده صحيح.(۱)

ترجمه: حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې د سحر په اذان کې د حَيَّ عَلَى الصلوٰة او حَيَّ عَلَى الفلاح نه روسته د مؤذن د الصلوة خير من النوم ويل سنت دي. د دي حديث روايت ابن خزيمه رَحِمَهُ اللّٰهُ دارقطني او بيهقي کړي دي او ويلي يې دي چې اسناد يې صحيح دي.

{۲۲۷} وعنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ الاَذَانُ الاَوَّلُ بَعدَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ اَلصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ مَرَّتَينِ اخرجه السراج والطبراني والبيهقي و قال في التلخيص (لر۲۰۱) و سنده حسن.(۲)

ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې د اول د (سحر) د اذان د حَيَّ عَلَى الصلوة حَيَّ عَلَى الفلاح نه روسته دوه خله الصلوة خير من النوم وه

{۲۲۸} وعن عثمانَ بْنِ السَّائِبِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَخْبَرَنِي اَبِي وَ اُمُّ عَبْدِ المَلِكِ بْنِ اَبِي مَحْذُورَةَ عَنْ اَبِي محذورَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا خَرَجَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ حُنَينٍ فَذَكَرَ الحَدِيثَ وَ فِيهِ حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ اَلصَّلَاةُ خَيرٌ مِنَ النَّومِ الصلاة خير من النوم رواه النسائي و ابوداود مختصرا و صححه ابن خزيمة.(۳)

ترجمه: عثمان بن السائب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ماته خپل پلار او عبد الملک بن ابي محذوره حديث بيان کړي چې ابومحذوره ويلي دي چې کله رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حنين نه راووتله او د راتلونکي حديث ذکر يې وکړ چې په هغې کې حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ الصلوٰة خير من النوم

---

(۱) صحيح ابن خزيمة ج۱ص ۲۰۲ رقم الحديث ۳۸۶، دارقطني كتاب الصلوة ج۱ص ۲۴۳ باب ذكر الاقامة ... الخ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۱ص ۴۲۳ باب التثويب في الاذان الصبح.

(۲) سنن الكبرى للبيهقي ج۱ص ۴۲۳ باب التثويب في اذان الصبح، تلخيص الحبير ج۱ص ۲۰۱ نقلاً عن الطبراني والسراج والبيهقي

(۳) نسائي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۴ باب الاذان في السفر، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۲ باب كيف الاذان، صحيح ابن خزيمة ج۱ص ۲۰۱ باب التثويب في اذان الصبح.

Maktaba Tul Ishaat.com

الصلوٰة خير من النوم ژ د دي حديث روايت نسائي او ابوداؤد مختصر بيان كړي دي او ابن خزيمه صحيح ګرځولي دي

مسئلة الباب : دسحر په اذان كې "حي على الفلاح" نه پس دوه پيرې "الصلاة خير من النوم" ويل بالاتفاق مستحب دي .

بَابٌ فِي تَحْوِيلِ الْوَجْهِ يَمِينًا وَشِمَالًا

باب دي د مخ په ګرځولو كې بني طرف ته او چپ طرف ته :

{۲۴۹} عَنْ أَبِي جُحَيْفَةَ أَنَّهُ رَأَى بِلَالًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُؤَذِّنُ فَجَعَلْتُ أَتَتَبَّعُ فَاهُ هٰهُنَا وَهٰهُنَا بِالْأَذَانِ اخرجه الشيخان .(۱)

ترجمه : د ابي جحيفه نه روايت دي چې هغه حضرت بلال رضي الله عنه ليدلي دي چې اذان يې كاوه نو ما په اذان كې د هغه د خولې په طرف كتل دي طرف ته او هغې طرفته يعنې بني طرفته او چپ طرفته.

{۲۵۰} وعنه قَالَ رَأَيْتُ بِلَالًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خَرَجَ إِلَى الْأَبْطَحِ فَأَذَّنَ فَلَمَّا بَلَغَ حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ لَوَى عُنُقَهُ يَمِينًا وَشِمَالًا وَلَمْ يَسْتَدِرْ رواه ابو داود واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : جحيفه ويلي دي چې ما حضرت بلال رضي الله عنه ليدلي دي چې حضرت بلال رضي الله عنه ابطح نومي مقام ته راووته نو اذان يې وكړ نو كله چې حي على الصلوٰة حي على الفلاح ته ورسيده نو خپل څټ يې بني طرف او چپ طرف ته واړاوه او په خپله نه دي اوختي راوختي . د دي حديث روايت ابوداؤد كړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۵۱} وَعَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ بِلَالًا يُؤَذِّنُ وَيَدُورُ وَيَتَتَبَّعُ فَاهُ هٰهُنَا وَهٰهُنَا وَإِصْبَعَاهُ فِي أُذُنَيْهِ رواه الترمذي و احمد وابو عوانة و قال الترمذي حديث حسن صحيح .(۳)

ترجمه : ابو جحيفه ويلي دي چې ما حضرت بلال رضي الله عنه ليدلي دي چې اذان يې كاوه او په خپله

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۸۸ باب هل يتبع المؤذن فاه ...الخ ، مسلم كتاب الصلوٰة ج۱ صـ ۱۹۶ باب سترة المصلي ...الخ .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوٰة ج۱ صـ ۷۷ باب المؤذن يستدير في اذانه .

(۳) ترمذي ابواب الصلوٰة ج۱ صـ ۲۹ باب ماجاء في ادخال الاصبع الأذن عند الاذان ، مسند احمد ج۴ صـ ۳۰۸ ، ابوعوانة كتاب الصلوٰة ج۱ صـ ۳۲۹ باب بيان اذان بلال وقدمه .

Maktaba Tul Ishaat.com

گرځيده او دي خوا او اخوا يې خوله گرځوله او د دوه ؤ گوتو سره نه يې په دواړو غوږونو کې ايښي ؤ. د دي حديث روايت ترمذي . احمد او ابوعوانه کړي او ترمذي ويلي دي چې دا حديث حسن صحيح دي .

مسئلة الباب : په اذان کې "حي علی الصلاة" باندې بنې طرف ته او په "حي علی الفلاح" باندې گس طرف ته مخ اړول سنت دي .

ددوو حديثونو په مينځ کې دفع دتعارض

استداره په مؤذن خانه کې آواز لره لري پوري درسولو په غرض سره بنې او گس طرفته دتلو راتلو او په کرکيو کې سر بهر ته وتلو ته ويلي کيږي .

دحضرت ابو جحيفه رضي الله عنه حديث نمبر ۲۵۰ کې "ولم يستدر" په ويلو سره داستداره نفي کړې شوې ده . او هم دده نه په بل حديث کې "ويدور" ويل داستداره اثبات کړي شوې دی . دتطبيق دوه صورتونه دي :۱.داثبات روايت تحويلِ رأس باندې محمول دې او نفي په پوره بدن سره دتاويدو راتاويدو باندې .۲. داثبات روايت دې محمول وي عند الضرورة تاويدو باندې او نفي دې محمول وي عند عدم الحاجة باندې .

بَابُ مَا يَقُولُ عِنْدَ سِمَاعِ الْأَذَانِ

باب دې بيان دهغه څه کې چې ويلې کيږي د اذان د اوريدو په وخت کې

{۲۵۲} عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا سَمِعْتُمُ النِّدَاءَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ الْمُؤَذِّنُ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه :د حضرت ابوسعيد خدري رضي الله عنه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمانلي دي چې کله تاسي اذان واورئ نوووايي تاسي هغه څه چې مؤذن يې وايي . د دي حديث روايت جماعت کړي دي .

{۲۵۳} وَعَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الْمُؤَذِّنُ اللهُ اكبرُ

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۸۶ باب ما يقول اذا سمع المنادي ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۶ باب استحباب القول مثل قول المؤذن ...الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۱ باب ما يقول اذا سمع اذان المؤذن ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۷ باب ما يقول اذا اذن المؤذن ، ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۵۳ باب ما يقال اذا اذن المؤذن ، نسائي كتاب الاذان ج۱ص۱۰۹ باب القول مثل ما يقول المؤذن ، مسند احمد ج۳ ص ۹۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

الله اکبر فَقَالَ اَحَدُكُمُ الله اکبر الله اکبر ثُمَّ قَالَ اَشْهَدُ اَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا الله قَالَ اَشْهد ان لا اله الا الله ثُمَّ قَالَ اشهد ان محمدًا رسولُ الله قال اشهد ان محمدا رسول الله قال اشهد ان محمدا رسول الله ثم قال حي على الصلاة قال لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِالله ثُمَّ قَالَ حي على الفلاح قال، لا حول ولا قوة الا بالله ثم قال الله اکبر الله اکبر قال الله اکبر الله اکبر ثم قال لا اله الا الله قال لا اله الا الله مِنْ قَلْبِهِ دَخَلَ الْجَنَّةَ رواه مسلم و ابوداود.(۱)

ترجمه: حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کله چې مؤذن الله اکبر الله اکبر ووايي نو يو ستاسي نه هم الله اکبر الله اکبر ووايي بيا چې مؤذن اشهد ان لا اله الا الله ووايي او يو ستاسي هم اشهد ان لا اله الا الله ووايي بياچې مؤذن اشهد ان محمدا رسول الله ووايي او يو ستاسي دي هم اشهد ان محمداً رسول الله ووايي بيا چې مؤذن حي على الصلوٰة ووايي او يو ستاسي لا حول ولا قوة الا بالله ووايي بيا چې مؤذن حي على الفلاح ووايي او يو ستاسي لا حول ولا قوة الا بالله ووايي بيا چې مؤذن الله اکبر الله اکبر ووايي او يو ستاسي هم الله اکبر الله اکبر ووايي بيا چې مؤذن لا اله الا الله ووايي او يو ستاسي هم لا اله الا الله ووايي به تصديق د زړه نو جنت ته به داخل شي.

{۲۵۴} وَعَنْ عَبدِ الله بْنِ عَمرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه سَمِعَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا سَمِعْتُمُ الْمُؤَذِّنَ فَقُولُوا مِثْلَ مَا يَقُولُ ثُمَّ صَلُّوا عَلَيَّ فَإِنَّه مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ صَلَاةً صَلَّى الله عَلَيه بِهَا عَشْرًا ثُمَّ سَلُوا الله لِي الْوَسِيلَةَ فَإِنَّهَا مَنْزِلَةٌ فِي الْجَنَّةِ لَا تَنْبَغِي إِلَّا لِعَبْدٍ مِنْ عِبَادِ الله وَ اَرْجُو اَنْ اَكُونَ اَنَا هُوَ فَمَنْ سَاَلَ الله لِي الْوَسِيلَةَ حَلَّتْ عَلَيه الشَّفَاعَةُ رواه مسلم.(۲)

ترجمه: دحضرت عبدالله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل يې کله چې تاسو د مؤذن اذان واورئ نو تاسي هم ووايي د هغې په شان چې مؤذن يې وايي بيا په ما باندي درود وليږئ بې شکه چې څوک په ما باندي يو ځل درود وليږي

---

(۱) مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۷ باب استحباب القول مثل قول المؤذن ...الخ ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۷۸ باب ما يقول اذا اذن المؤذن.

(۲) مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۶ باب استحباب القول مثل قول المؤذن

Maktaba Tul Ishaat.com

الله په هغه باندې لس رحمتونه لیږي بیا ما د پاره د الله تعالی نه د وسیلې غوښتنه وکړئ بې شکه دا وسیله یو مقام دي په جنت چې د الله تعالی د بندګانو نه د یو بنده د پاره دي زه امید کوم چې هغه زه یم نو چا چې ما د پاره د الله تعالی نه وسیله وغوښته دده په باره کې به زما شفاعت منظور شي. دا حدیث مسلم روایت کړي دي.

مسئلة الباب : داجابت اذان دوه قسمونه دي: (۱) اجابت بالقول. (۲) اجابت بالأقدام. اجابت یعني داذان اواز په اوریدو سره په ژبه جواب ورکول، دعا لوستل مستحب دي او اجابت بالأقدام یعني دجمې په مونځ کې حاضریدل واجب دي.

دوو حدیثونو په مینځ کې تطبیق:

۱... دباب اولني او په دریم حدیث کې "مثل مایقول المؤذن" دالفاظو نه هم دا ظاهریږي چې دمؤذن په شان سامع هم "حي على الصلاة" او "حي على الفلاح" باندې همدغه کلمات به وایي لیکن په بل حدیث کې واضح طور باندې "حیعلتین" باندې لاحول ولا قوة الا بالله دلوستلو ذکر دي. دتطبیق یو صورت دادي چې "مثل مایقول" نه "حیعلتین" حکم مستثنی؛ وګرځولي شي او په دي باندې "حوقله" اویلي شي دجمهور همدغه اختیار دي. دبعضي مشایخو په نزد دواړو جمع کول بهتر دي او سامع په "حي على الصلاة" باندې دخپل ځان دمتوجه کولو نیت او کړي.

بَابُ مَا يَقُولُ بَعْدَ الْأَذَانِ

دا باب دي په بیان د هغه څه کې چې لوستل کیږي پس د آذان نه

{۲۵۵} عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَالَ حِينَ يَسْمَعُ النِّدَاءَ: اَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ حَلَّتْ لَهُ شَفَاعَتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت جابر بن عبد الله رضي الله عنهما روایلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي څوک چې د اذان د اوریدو په وخت کې دا دعاء ووایي اي الله! د دي کامل دعوت (اذان) او د قائم کیدلو والا مونځ رب او پروردګاره! محمد - ته وسیله او فضیلت ورعطا کړه او په مقام محمود

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۸۶ باب الدعاء عند النداء.

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې يې کامياب او فائز کړه هغه چې تا يې وعده هغه سره کړيده . نو د قيامت په ورځ مونږ ته شفاعت د ده د پاره جائز او منظور دي .(بخاري دي لړه روايت کړي دی)

بَابُ مَا جَاءَ فِي أَذَانِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوعِهِ

باب دې په بيان د هغه حديثونو کې چې د سهر د ختو نه مخکې د اذان په باره کې راغلي دي

{۲۵۶} عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ بِلَالًا يُنَادِي بِلَيْلٍ فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يُنَادِيَ ابْنُ اُمِّ مَكْتُومٍ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي يې شکه حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په شپه کې اذان کوي نو تاسي خورئ او څکئ تر هغې پورې چې ابن ام مکتوم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اذان وکړي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۲۵۷} وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمْنَعَنَّ اَحَدَكُمْ اَذَانُ بِلَالٍ مِنْ سُحُورِهِ فَاِنَّهُ يُؤَذِّنُ اَوْ يُنَادِي بِلَيْلٍ لِيَرْجِعَ قَائِمُكُمْ وَلِيُنَبِّهَ نَائِمَكُمْ اخرجه الشيخان .(۲)

ترجمه :د حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي د بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اذان دي ستاسي يو کس هم د پيش نمي نه منع نه کړي يې شکه چې بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ شپې په وخت کې اذان کوي د دي د پاره چې په تاسو کې تهجد کوونکي راواپس شي (طعام) ته او وده ستاسي رابيدار کړي د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۲۵۸} وَ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا يَغُرَّنَّ اَحَدَكُمْ نِدَاءُ بِلَالٍ مِنَ السُّحُورِ وَلَا هٰذَا الْبَيَاضُ حَتّٰى يَسْتَطِيرَ رواه مسلم .(۳)

ترجمه : حضرت سمره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وايي چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمائلي

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۸۷ باب الاذان بعد الفجر ، مسلم کتاب الصيام ج۱ص ۳۴۹ باب بيان ان الدخول في الصوم يحصل بطلوع الفجر ...الخ .

(۲) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۸۷ باب الاذان قبل الفجر ، مسلم کتاب الصيام ج۱ص ۳۵۰ باب بيان ان الدخول في الصوم يحصل بطلوع الفجر

(۳) مسلم کتاب الصيام ج۱ص ۳۵۰ باب بيان ان الدخول في الصوم ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

يې دي : د بلال اذان دي ستاسي يو کس لږه هم د ډوډئ د خوراک نه په دوکه کې. وانه چوي او نه دي دغه سپينوالي تاسي په دوکه کې واچوي تر هغې پورې چې دا سپين والي خور شي دا حديث مسلم روايت کړې دي.

{۲۵۹} و عن انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَغُرَّنَّكُمْ أَذَانُ بِلَالٍ فَإِنَّ فِي بَصَرِهِ شَيْئًا رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وليلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي د بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اذان دي تاسي په دوکه کې وانه چوي بې شکه د ده په نظر کې لږ څه کمزوري ده . د دي حديث روايت طحاوي کړې او اسناد يې صحيح دي.

{۲۶۰} وَعَنْ شَيْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ تَسَحَّرْتُ ثُمَّ أَتَيْتُ الْمَسْجِدَ فَاسْتَنَدْتُ إِلَى حُجْرَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَأَيْتُهُ يَتَسَحَّرُ فَقَالَ، أَبُو يَحْيَى ؟ قُلْتُ نَعَمْ قَالَ هَلُمَّ إِلَى الْغَدَاءِ قُلْتُ إِنِّي أُرِيدُ الصِّيَامَ قَالَ وَ أَنَا أُرِيدُ الصِّيَامَ وَلٰكِنِ مُؤَذِّنُنَا هٰذَا فِي بَصَرِهِ سُوءٌ أَوْ قَالَ فِيهِ وَإِنَّهُ أَذَّنَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ فَحَرُمَ الطَّعَامُ وَكَانَ لَا يُؤَذِّنُ حَتّٰى يُصْبِحَ رواه الطبراني و قال الحافظ في الدراية اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت شيبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دي هغه ويلي دي چې پيشمني مي وکړو بيا مسجد ته راغلم د نبي کريم صلى الله عليه وسلم حجرې ته مي تکيه ووهله نو ما رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليد چې پيشمني کاوه نو دې فرمايل ابويحيى صورته وويل هو رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل راشه د سحر ډوډئ وخوره ما ويل د روژې نيولو ارادې مي ده هغه وفرمائل زما هم د روژې اراده ده ليکن زمونږ د دي مؤذن په نظر کې څه فرق دي او يا يې وفرمائل چې دمؤذن په نظر کې څه شئ دي او ده د سبا د ختو نه مخکې اذان کړي دي بيا يې مسجد ته تشريف وبوړ او خوراک حرام شوي ؤ او هغه اذان نه ؤ کړي تر څو پورې چې صبا صادق راوخته د دي حديث روايت طبراني کړي او حافظ به درايه کې ويلي دي چې اسناد يې صحيح دي

{۲۶۱} وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ أَبِي رَوَّادٍ عَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّ بِلَالًا أَذَّنَ قَبْلَ الْفَجْرِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا حَمَلَكَ عَلٰى ذٰلِكَ فَقَالَ اسْتَيْقَظْتُ وَ أَنَا وَسْنَانٌ فَظَنَنْتُ أَنَّ الْفَجْرَ طَلَعَ فَأَمَرَهُ

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۹۷ باب التاديب للفجر اي وقت الخ

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج۷ صـ ۳۱۲ رقم الحديث ۷۲۲۸ ومجمع الزوائد ج۳ صـ ۱۵۳ نقلاً عن الطبراني في الكبير والاوسط دراية ج۱ صـ ۱۲۰

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَن يُنَادِيَ بِالْمَدِينَةِ ثَلَاثًا أَنَّ الْعَبْدَ قَدْ نَامَ ثُمَّ اقْعُدْ إِلَى جَنْبِهِ حَتّٰى طَلَعَ الْفَجْرُ رواه البيهقي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه: د عبدالعزیز بن رواد نه روایت شوی دی هغه د نافع نه روایت کړي او هغه د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت کړي دي چې حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سحر د څو نه مخکې اذان وکړ هغه ته نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل ته دي خبرې ته څه شي تیار او اماده کړي نو بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وویل چې زه د خوب نه ویښ شوه خوزه پرکاله وم نو ماګمان وکړ چې صباخلي نو حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې په مدینه کې دري خلي اواز وکړه او اعلان وکړه چې مؤذن بنده وده شوي دي په رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د خپلې خوا سره کیناؤ تر هغې پورې چې صبار اوځوت. د دي حدیث روایت بیهقي کړي دي او اسناد یې حسن دي.

{۲۶۲} وَ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ هِلَالٍ أَنَّ بِلَالًا أَذَّنَ لَيْلَةً بِسَوَادٍ فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَن يَرْجِعَ إِلٰى مَقَامِهِ فَيُنَادِيَ أَنَّ الْعَبْدَ نَامَ فَرَجَعَ رواه الدارقطني و قال في الامام هو مرسل جيد ليس في رجاله مطعون فيه.(۲)

ترجمه: د حُمید بن هلال نه روایت دي چې حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ شپه په تیاره کې اذان وکړ. نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته حکم وکړ چې خپل د اذان ځاي ته واپس لاړ شي بیا اواز او اعلان وکړي چې بنده اوده شوي ؤ نو هغه واپس لاړ. دا حدیث دارقطني روایت کړي او په امام کې یې ویلي دي چې دا حدیث جید مرسل دي او د دي په رجالو کې څه طعن نشته.

{۲۶۳} وَ عَنِ امْرَأَةٍ مِن بَنِي النَّجَّارِ قَالَتْ كَانَ بَيْتِي مِن أَطْوَلِ بَيْتٍ حَوْلَ الْمَسْجِدِ فَكَانَ بِلَالٌ يَأْتِي بِسَحَرٍ فَيَجْلِسُ عَلَيْهِ يَنْظُرُ إِلَى الْفَجْرِ فَإِذَا رَآهُ أَذَّنَ رواه ابوداود و قال الحافظ في الدراية (ص۱۲۰) اسناده حسن.(۳)

ترجمه: د بني نجار د قبیلې یوې ښځې ویلي دي چې زما کور د مسجد د چار چاپیره تولوکورونو نه وړ ؤ حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به سحر کې راته نو په هغې به کیناسته سحر ته به یې کتل بیا به یې کله

---

(۱) سنن الکبری کتاب الصلوة ج۱ ص۳۸۳ باب روایة من روی النهی عن الاذان قبل الوقت

(۲) دارقطني، کتاب الصلوة ج۱ ص۲۴۴ باب ذکر الاقامة ...الخ.

(۳) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص۷۷ باب الاذان قبل المنارة، الدرایة ج۱ ص۱۲۰

Maktaba Tul Ishaat.com

چې سحر ولیده نو اذان به یې وکړ دا حدیث ابوداود نقل کړي دي او حافظ په درایه کې ویلي دي چې اسناد یې حسن دي

{۲۶۴} وَعَن حَفصَةَ بِنتِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اَذَّنَ المُؤَذِّنُ بِالفَجرِ قَامَ فَصَلّٰى رَكعَتَي الفَجرِ ثُمَّ خَرَجَ اِلَى المَسجِدِ وَ حَرَّمَ الطَّعَامَ وَ كَانَ لَا يُؤَذِّنُ حَتّٰى يُصبِحَ رواه الطحاوي والبيهقي و اسنادي جيد.(۱)

ترجمه :د حضرت حفصه بنت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ روایت چې کله به مؤذن د سحر اذان وکړ نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به پاڅیده د سحر دوه رکعته مونځ به یې وکړ بیا به مسجد ته راوُوتله او طعام به یې بند کړ او تر څو چې سحر شوی نه وُ اذان به یې نه کاوه . د دې حدیث روایت طحاوي کړي دي او بیهقي کړي دي او اسناد یې جید دي .

{۲۶۵} وَعَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَت مَا كَانُوا يؤَذِّنُونَ حَتّٰى يَنفَجِرَ الفَجرُ اخرجه ابوبكر بن ابي شيبة في مصنفه و ابو الشيخ في كتاب الاذان و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا ویلي دي صحابه کرامو به تر هغه وخته پورې اذان نه کاوُ تر څو پورې به چې صبا وخاته دا حدیث ابوبکر ابن ابي شیبه په خپل مصنف کې راوړي دي او ابو الشیخ په کتاب الاذان کې او اسناد یې صحیح دي .

{۲۶۶} وَعَن نَافِعٍ عَن مُؤَذِّنٍ لِعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يُقَالُ لَه مَسرُوحٌ اَذَّنَ قَبلَ الصُّبحِ فَاَمَرَه عُمَرُ اَن يرجِعَ فَيُنَادِي رواه ابوداود والدارقطني ق اسناده حسن قال الديمي ثَبَتَ بِهٰذِهِ الاَخبَارِ اَنَّ صَلَاةَ الفَجرِ لَا يؤذَنُ لَهَا اِلَّا بَعدَ دُخُولِ وَقتِهَا وَ اَمَّا اَذَانُ بِلَالٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَبلَ طُلُوعِهِ فَاِنَّمَا كَانَ فِي رَمَضَانَ لِيُنَبِّهَ النَّائِمَ وَيُرِيحَ القَائِمَ لَا لِلصَّلَاةِ وَ اَمَّا فِي غَيرِ رَمَضَانَ فَكَانَ ذٰلِكَ خَطَأً مِنه لِقِلَّتِهِ اَنَّ الفَجرَ قَد طَلَعَ واللهُ اعلم بالصواب.(۳)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۹۷ باب التاذين للفجر اي وقت ....الخ ، الجوهر النقي مع السنن الكبرى كتاب الصلوة ج۱ص ۳۸۴ باب رواية من روي النهي عن الاذان قبل الوقت نقلاً عن البيهقي .

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الاذان ج۱ص ۲۱۴ باب من كره ان يؤذن المؤذن قبل الفجر ، الدراية كتاب الصلوة ج۱ص ۱۲۰ باب الاذان نقلاً عن ابي الشيخ .

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۷۹ باب في الاذان قبل دخول الوقت ، دارقطني كتاب الصلوة ج۱ص ۳۴۴ باب ذكر الاقامة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : نافع د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مؤذن نه روایت کړي چې مسروح یې نوم دي ده د سحر د ختو نه مخکې اذان وکړنو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته دا عادي او بیایې ورته د اعلان حکم وکړ . د دي حدیث روایت ابوداؤد او دار قطني کړي دي او اسناد یې حسن دي . نیمیوي ویلي دي چې په دي اخبارو او احادیثو باندې دا ثابته شویده چې د سحر د مانځه پاره به اذان نشو کیدي مګر د وخت د داخلیدو نه روسته او د سحر د ختو نه مخکې د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اذان د رمضان په میاشت کې او په غیر د رمضان نه د سحر د ختو نه مخکې د ده اذان د ده د خطا په وجه؛ او په دي ګمان چې صبا ختلي دي .

مسئلة الباب : اذان چونکه دمونځ وخت اطلاع او دخبرداري ورکولو نوم دي نو ظاهره ده چې دخول وخت نه مخکې اذان جائز نه دي او مسئله هم همدغه ده چنانچې دعلماؤ په دي باندې اتفاق دي چې د سحر نه علاوه باقي ځلور مونځونو کې اذان قبل الوقت جائز نه دي . البته د سحر په مونځ کې اختلاف دي :

(۱) ائمه ثلاثه رحمهم الله او دامام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد د سحر اذان د طلوع فجر نه مخکې د شپې په شپږمه حصه کې کول جائز دي یعني که اذان یې اوکړو نو دهغې اعتبار به کولې کیږي او دهغې ځای ضروري نه ده .

(۲) دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ درائ مطابق په سحر کې هم قبل از وقت اذان جائز نه دي . نو که یې اوکړو نو اعاده به کوي .

دائمه ثلاثه رحمهم الله دليل : دباب اولني حدیث (مروي عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) " اَنَّ بِلَالًا يُنَادِي بِلَيْلٍ فَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتّٰى يُنَادِيَ اِبْنُ اُمِّ مَكْتُوْمٍ " په دي صحیح حدیث کې پخپله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شپې اذان ویلو .

دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱. دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث چې یوورځ د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د طلوع د صبح صادق نه مخکې اذان وکړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته دمدیني منورې په کوڅو کې ددې ویلو نه ویل چې " ان العبد قد نام " یعني دغلطي اظهار یې وکړو نو که دوخت نه مخکې اذان صحیح دي نو اعلان یې بیا ولې اوکړو ؟

۲... مرفوع حدیث " لا تؤذن حتى يستبين لك الفجر هٰكذا ومَدّ يَدَيْهِ عَرْضًا " . (ابوداؤد)

۳... حدیث نمبر ۲۱۶ مطابق یو پیره د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مؤذن قبل الطلوع اذان اوکړو نو عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته داذان د دوباره کولو نه اویل چې اذان بیا اوکړه .

Maktaba Tul Ishaat.com

ائمه ثلاثه رحمهم الله ته جواب :

۱. د حضرت بلال رضي الله عنه د صبح صادق نه مخکې اذان د سحر مونځ لپاره نه وو بلکې د پیشمني او د تهجد لپاره وو ، حدیث د ابن مسعود رضي الله عنه کې د " **ليرجع قائمكم وينبه نائمكم** " تصریح ده یعنې اولنې اذان د لپاره وو چې کوم خلک له مخکې نه ویخ دي او تهجد کوي هغه د لږ آرام او کړي او څوک چې تراوسه پورې اوده وو هغه د ویخ شي او یو څو رکعته تهجد د اوکړي . بیا دا ویل څنګه صحیح دي چې سحر اذان قبل الوقت جائز د ځکه چې دا خبره د نورو صحیح احادیثو خلاف دي او دوي د مستدل حدیث کې هم د سحر تصریح نشته .

۲. که بالفرض د بلال رضي الله عنه قبل از صبح صادق د سحر مونځ لپاره وي نو په پوره ذخیره د حدیثو کې یو پیره هم په دې قبل از وقت اذان باندې د اکتفا ذکر نشته بلکې چې کله د اسې واقعه اوشوه نو د اذان اعاده او کړې شوه .

بَابُ مَا جَاءَ فِي أَذَانِ الْمُسَافِرِ

د هغه حدیثونو باب چې د مسافر د اذان په باره کې راغلي دي :

{۲۶۷} عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رضي الله عنه قَالَ أَتَى رَجُلَانِ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم يُرِيدَانِ السَّفَرَ فَقَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم إِذَا أَنْتُمَا خَرَجْتُمَا فَأَذِّنَا ثُمَّ أَقِيمَا ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمَا أَكْبَرُكُمَا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت مالک بن الحویرث رضي الله عنه وایي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم ته دوه سړي چې د سفر اراده یې وه راغله نو نبي کریم صلى الله عليه وسلم وفرمائل کله چې تاسي دواړه لاړ شئ نو اذان وکړئ بیا اقامت وکړئ بیا دې ستاسي نه مشر تاسي ته امامت وکړي . دا حدیث شیخینو روایت کړي .

مسئلة الباب : په سفر کې چې کوم ځاي کې دنورو خلکو په جمع کې د شاملیدو توقع نه وي نو د امام شافعي رحمه الله او د امام احمد رحمه الله په نزد هلته هم اذان او اقامت دواړه مسنون دي . امام ابو حنیفه رحمه الله او امام مالک رحمه الله نه مروي دي چې په داسې صورت کې صرف اقامت باندې اکتفا بلا کراهته جائز دي . او اذان مسنون نه دي . حدیث باب د شافعیه او د حنابله د مسلک تائید کوي . د امام ابو حنیفه رحمه الله نه هم یو روایت د همدې مطابق مروي دی ، چنانچې عام مشائخ حنفیو هم همدې ته ترجیح ورکړې ده چې په حالت د سفر اذا او اقامت دواړه ویل پکار دي . (رد المحتار ۱/۳۹۴)

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج ۱ صـ ۸۷ باب الاذان للمسافر ... الخ ، مسلم كتاب المساجد ج ۱ صـ ۲۳۶ باب من احق بالامامة

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا جَاءَ فِي جَوَازِ تَرْكِ الْاَذَانِ لِمَنْ صَلّٰى فِي بَيْتِهٖ

باب دي په بيان د هغه حديثونو کې چې د اذان د ترک د جواز په باره کې راغلي دي د هغه چا د پاره چې په کور کې مونځ کوي

[۲۶۸] عَنِ الْاَسْوَدِ وَ عَلْقَمَةَ قَالَا اَتَيْنَا عَبْدَ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي دَارِهٖ فَقَالَ اَصَلّٰى هٰؤُلَاءِ خَلْفَكُمْ قُلْنَا لَا قَالَ قُوْمُوْا فَصَلُّوْا وَلَمْ يَأْمُرْ بِاَذَانٍ وَلَا اِقَامَةٍ رواه ابن ابي شيبة و مسلم و آخرون.[1]

ترجمه : اسود او علقمه دواړو ويلي دي چې مونږ د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ کورته راغلو ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل چې ته هغه ويل چې پاڅون درپرې نو مونځ يې او د اذان او اقامت حکم يې ونه کړو د دې حديث روايت ابن ابي شيبه او مسلم او نورو کړي دي.

مسئلة الباب : په ښار کې دننه کېږته په کور کې دننه جمع کيږي نو اذان او اقامت دواړه ويل مستحب دي. ليکن دکوڅې په اذان باندې اکتفا کولو په صورت کې بغير د اذان او اقامت نه په کور کې جمع بغير د کراهت نه صحيح ده. د حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا قول مشهور دی چې په هغه سې موقع باندې يې دا قول فرمايلی وو: "اذان العی یکفینا".

بَابُ اِسْتِقْبَالِ الْقِبْلَةِ

باب قبلي طرف ته مخ کول

[۲۶۹] عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيْ وَهُوَ بِمَكَّةَ نَحْوَ بَيْتِ الْمُقَدَّسِ وَالْكَعْبَةُ بَيْنَ يَدَيْهِ رواه احمد و ابوداود و اسناده صحيح.[2]

ترجمه : حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مکه مکرمه کې بيت المقدس طرف ته به يې مخ کاوه مونځ به يې کاوه او کعبه مبارکه به د ده په مخکې وه دا حديث ابوداود او احمد رحمه الله نقل کړي او اسناد يې صحيح دي

[۲۷۰] وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا النَّاسُ بِقُبَاءَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ اِذْ جَاءَهُمْ آتٍ فَقَالَ اِنَّ

---

[1] مصنف ابن ابي شيبة كتاب الاذان ج ۱ ص ۲۲۰ باب من كان يقول ليجزيه ان يصلي ... الخ

[2] مسند احمد ج ۱ ص ۳۲۵ ، ابوداود كتاب الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com

رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ أُنْزِلَ عَلَيْهِ اللَّيْلَةَ قُرْآنٌ وَقَدْ أُمِرَ أَنْ يَسْتَقْبِلَ الْكَعْبَةَ فَاسْتَقْبِلُوهَا وَكَانَتْ وُجُوهُهُمْ إِلَى الشَّامِ فَاسْتَدَارُوا إِلَى الْكَعْبَةِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ويلي دي چې خلکو د قبا په مسجد کې د سحر مونځ کاوه چې يوسړي راغې نو ويې ويل چې په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د شپې قرآن کريم نازل شوي او هغه ته حکم نازل شوي دي چې کعبې شريفې ته مخ واړوه او د هغوي مخ شام طرف ته ؤ نو کعبې طرف ته راوګرځيدل د دې حديث روايت شيخينو کړي دي

{۲۷۱} وَعَنِ الْبَرَّاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَوَّلُ مَا قَدِمَ الْمَدِينَةَ نَزَلَ عَلَى أَجْدَادِهِ أَوْ قَالَ أَخْوَالِهِ مِنَ الْأَنْصَارِ وَأَنَّهُ صَلَّى قِبَلَ بَيْتِ الْمُقَدَّسِ سِتَّةَ عَشَرَ شَهْرًا أَوْ سَبْعَةَ عَشَرَ شَهْرًا وَكَانَ يُعْجِبُهُ أَنْ تَكُونَ قِبْلَتُهُ قِبَلَ الْبَيْتِ وَأَنَّهُ صَلَّى أَوَّلَ صَلَاةٍ صَلَّاهَا صَلَاةَ الْعَصْرِ وَصَلَّى مَعَهُ قَوْمٌ فَخَرَجَ رَجُلٌ مِمَّنْ صَلَّى مَعَهُ فَمَرَّ عَلَى أَهْلِ مَسْجِدٍ وَهُمْ رَاكِعُونَ فَقَالَ أَشْهَدُ بِاللهِ لَقَدْ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ مَكَّةَ فَدَارُوا كَمَا هُمْ قِبَلَ الْبَيْتِ رواه البخاري.(۲)

ترجمه: د حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې کله نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ابتدا کې مدينې منورې ته تشريف ويوړ نو په انصارو کې دخپلو نيکونو او يا د خپلو ماماګانو کره ښکته شو او ده بيت المقدس طرف ته شپاړس مياشتې او يا اولس مياشتې مونځ وکړ او د ده دا خبره ډيره خوښه وه چې د ده قبله بيت الله طرف ته شي او د ده اولنۍ مونځ چې بيت الله طرف ته يې کړي د مازيګر مونځ ؤ يوسړي چې هغه د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سره يو ځاي مونځ کړي ؤ راوؤته او د يو مسجد په اهل باندې تير شو کله چې دوي رکوع کوله دي سړي وويل چې ځمادي په الله قسم وي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مکي طرف ته مونځ وکړ نو هغه په دغه حالت کې ؤ چې بيت الله طرف ته راوګرځيدل. د دې حديث روايت بخاري کړي دي.

{۲۷۲} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَا بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ قِبْلَةٌ رواه الترمذي وصححه وقواه البخاري.(۳)

---

(۱) بخاري كتاب الصلوة ج۱ص ۵۸ باب ماجاء في القبلة.. ،مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۰۰ باب تحويل القبلة من القدس الى الكعبة.

(۲) بخاري كتاب الايمان ج۱ص ۱۰ باب الصلوة من الايمان.

(۳) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۷۹ باب ماجاء ان بين المشرق والمغرب قبلة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابي هريره رضي الله عنه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي چې د مشرق او مغرب تر منځ قبله ده . د دي حديث ترمذي روايت کړي او صحيح يې ګڼلې دي او بخاري توي ګڼلې دي . د دي د ظاهر نه معلوميږي چې دا د اهل مدينه وُ د پاره دي .

{۲۷۴} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَإِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَأَسْبِغِ الْوُضُوءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کله چې ته مانځه ته ودريږي يعني د مانځه اراده وکړي نو پوره او مکمل اودس وکړه بياقبلي ته مخ کړه نو تکبير ووايه . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

{۲۷۴} وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا سُئِلَ عَنِ صَلَاةِ الْخَوْفِ وَصَفَهَا ثُمَّ قَالَ فَإِنْ كَانَ خَوْفٌ هُوَ أَشَدُّ مِنْ ذٰلِكَ صَلَّوْا رِجَالًا قِيَامًا عَلَى أَقْدَامِهِمْ وَرُكْبَانًا مُسْتَقْبِلِي الْقِبْلَةِ أَوْ غَيْرَ مُسْتَقْبِلِيهَا قَالَ نَافِعٌ وَلَا أَرَى إِبْنَ عُمَرَ ذَكَرَ ذٰلِكَ إِلَّا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري .(۲)

ترجمه : نافع د حضرت بن عمر رضي الله عنه روايت کړي دي چې کله د ده نه د خوف او ويري د مانځه په باره کې پوښتنه وکړي شوه د هغې بيان يې وکړ او بيا يې وويل که چرته ويره زياته وي نو پياده په خپو ودريږه مونځ وکړه او سور شه او قبلي طرف ته مخ کړه او يا د قبلي نه غير بل طرف ته نافع ويلي دي ځما په خيال ابن عمر رضي الله عنه دا د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نه بيان کړي دي . د دي حديث روايت بخاري کړي دي .

{۲۷۵} وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَبِّحُ عَلَى الرَّاحِلَةِ قِبَلَ أَيِّ وَجْهٍ تَوَجَّهَ وَيُوتِرُ عَلَيْهَا غَيْرَ أَنَّهُ لَا يُصَلِّي عَلَيْهَا الْمَكْتُوبَةَ رواه الشيخان .(۳)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ويلي دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم په سورلئ باندې نفلي مونځ کاوه کوم طرف ته به يې چې توجه او مخ وُ او وتر به يې هم په سورلئ کول خو مګر فرض

---

(۱) مسلم کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۷۰ باب وجوب القراءة في كل ركعة، بخاري كتاب الاستيذان ج۲ صـ ۹۲۴ باب من رد فقال عليك السلام.

(۲) بخاري كتاب التفسير ج۱ صـ ۶۵۱ باب قوله عزوجل وَإِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا ...الخ .

(۳) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ صـ ۱۴۸ باب يزل للمكتوبة ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ صـ ۲۴۴ باب جواز صلوة النافلة على الدابة الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ به يې په سورلئ باندې نه کول. دا حديث شيخينو روايت کړي.

{۲۷۶} وَعَنْ عَامِرِ بْنِ رَبِيعَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الرَّاحِلَةِ يُسَبِّحُ يُومِي بِرَأْسِهِ قِبَلَ أَيِّ وَجْهٍ تَوَجَّهَ وَلَمْ يَكُنْ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ ذٰلِكَ فِي الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ اخرجه الشيخان.(۱)

ترجمه: د حضرت عامر بن ربيعه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي چې ما نبي عَلَيْهِ السَّلَام په سورلئ باندې په مانځه کولو ليدلي دي او په خپل مبارک سر سره به يې اشاره کوله په هر طرف به يې چې توجه او مخ ؤ او فرض مونځ به يې دغسې نه کاؤه. دا حديث شيخينو روايت کړي دي.

مسئلة الباب: ۱. په مونځ کې مخ قبلې ته کول بالاتفاق شرط دي.

۲. دسورلي په حالت کې بالاتفاق په ناسته نفل لوستلې شي او فرض بالاتفاق نشي ويلې البته دوترو په باره کې اختلاف دي.

(۱) ائمه ثلاثه رحمهم الله او دصاحبينو په نزد لوستلې شي ځکه چې وتر ددوي په نزد سنت دي او حديث د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ "ويوتر عليها" أي على الراحلة نه ددې تائيد کيږي.

(۲) دامام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد وتر دسوريدو په حالت کې نشي لوستلې ځکه چې وتر ددوي په نزد واجب دي او د ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دوتر مونځ دواجب کيدو نه وراندې زماني سره متعلق دي.

۳... که دجنګ په حالت کې ويره زياته شي نو دسورلي. دپاسه هم مونځ لوستلې شي که قبلې ته يې مخ وي او که نه. البته دامام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دسورلئ په حالت کې په جمې سره مونځ جائز نه دي او ائمه ثلاثه رحمهم الله ددې اجازت ورکوي.

بَابُ سُتْرَةِ الْمُصَلِّي

باب دي د ستري د مونځ کوونکي په بيان کې

{۲۷۷} عَنْ أَبِي جُهَيْمِ بْنِ الْحَارِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَوْ يَعْلَمُ الْمَارُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي مَاذَا عَلَيْهِ مِنَ الْإِثْمِ لَكَانَ أَنْ يَقِفَ أَرْبَعِينَ خَيْرًا لَّهُ مِنْ أَنْ يَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ رواه الشيخان.(۲)

---

(۱) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ص ۱۴۸ باب يؤمئ للمكتوبة، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۴ باب جواز صلوة النافلة على الدابة الخ

(۲) بخاري كتاب الصلوة ج۱ص ۷۳ باب اثم المارين بين المصلي. مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۷ باب سترة المصلي... الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابي جهيم بن الحارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې مونځ کوونکي په مخکې تيريدونکې ته که چرته دا معلومه وي چې په ده باندې څومره ګناه واقع کيږي نو ځلوښت کاله او دريدل به ده ته د دې نه چې د مونځ کوونکي په مخکې تير شي ډير بهتر وي . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۲۷۸} وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ عَنْ سُتْرَةِ الْمُصَلِّي فَقَالَ كَمُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي يې دي چې د تبوک په غزا کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د مونځ کوونکي د سترې په باره کې پوښتنه وشوه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې د کجاوي د روستنۍ برخې په اندازه يو شئ دي دغه حديث مسلم روايت کړي دي

{۲۷۹} وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الصَّامِتِ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ أَحَدُكُمْ يُصَلِّي فَإِنَّهُ يَسْتُرُهُ إِذَا كَانَ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلُ آخِرَةِ الرَّحْلِ فَإِذَا لَمْ يَكُنْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلُ آخِرَةِ الرَّحْلِ فَإِنَّهُ يَقْطَعُ صَلَاتَهُ الْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ وَالْكَلْبُ الْأَسْوَدُ قُلْتُ يَا أَبَاذَرٍّ مَا بَالُ الْكَلْبِ الْأَسْوَدِ مِنَ الْكَلْبِ الْأَحْمَرِ مِنَ الْكَلْبِ الْأَصْفَرِ قَالَ يَا ابْنَ أَخِي سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا سَأَلْتَنِي فَقَالَ الْكَلْبُ الْأَسْوَدُ شَيْطَانٌ رواه الجماعة الا البخاري .(۲)

ترجمه : د عبد الله بن الصامت نه روايت دي چې حضرت ابي ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي کله چې يو ستاسي اوډريږي مونځ کوي نو هغه دي سترې جوړه کړي کله چې د هغه په مخ کې د کجاوي د روستنۍ برخې (لرګي) په برابرۍ کوم يو شئ ري او کله چې د هغه يعني د مونځ کوونکي په مخ کې د کجاوي د روستنې برخې په برابرۍ يو څه شي نه وي او د هغه په مخ کې د مانځه په وخت کې ښځه او يا تور سپي تير شي نو د هغه مونځ ماتيږي ماويل اي حضرت ابوذره! څه حال او فرق دي د تور سپي او د سور او زيړ سپي ترمنځ هغه ويل اي وراره ما درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه کړي ده لکه تا چې زما نه پوښتنه وکړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۵ باب سترة المصلي ...الخ .

(۲) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۷ باب سترة المصلي ...الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۷۹ باب ماجاء انه لا يقطع الصلوة الا الكلب ...الخ ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۲ باب مايقطع الصلوة ، نسائي كتاب القبلة ج۱ص ۱۲۲ باب ذكر ما يقطع الصلوة وما لا يقطع ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۶۸ باب ما يقطع الصلوة ، مسند احمد ج۵ ص ۱۵۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

تور سپي شيطان دي . د دي حديث روايت د بخاري نه په غير جماعت کړي .

{۲۸۰} وَعَنْ طَلْحَةَ بْنِ عُبَيْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وَضَعَ أَحَدُكُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ مِثْلَ مُؤْخِرَةِ الرَّحْلِ فَلْيُصَلِّ وَلَا يُبَالِ مَنْ مَرَّ وَرَاءَ ذٰلِكَ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت طلحه بن عبيد الله رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کله چې يو کس د ستاسي په خپله مخه کې د کجاوي د روستي لرګي په شان يو لرګي کيدي نو مونځ دي وکړي او د هغه چا پروا دي نه کوي کوم کس چې د دي لرګي نه اخوا تيريږي . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

{۲۸۱} وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ رواه البزار و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت انس رضي الله عنه ويلي دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي چې سپي ، خر او ښځه مونځ ماتوي . د دي حديث روايت البزار کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۲۸۲} وعن الفضْلِ بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أَتَانَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَنَحْنُ فِي بَادِيَةٍ لَنَا وَمَعَهُ عَبَّاسٌ فَصَلّٰى فِي صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ وَحِمَارَةٌ لَنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا بَالٰى بِذٰلِكَ رواه ابوداود والنسائي نحوه و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : حضرت فضل بن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم په داسي حال کې راغي چې مونږ په خپله يوه بانده کې وُ او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره حضرت عباس رضي الله عنه ملګري وُ او په صحراء کې يې مونځ وکړو او په مخکې يې ستره نه وه او خر او سپي د هغو په مخکې لوبې کولې نو هغه د هغه هيڅ پرواه نه کوله . د دي حديث روايت ابوداوُد او نسائي او د دې په شان نورو کسانو کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) مسلم کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۹۵ باب سترة المصلي ...الخ .

(۲) کشف الأستار عن زوائد البزار کتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۸۱ برقم ۵۸۲ باب ما يقطع الصلوة .

(۳) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۰۴ باب من قال الكلب لا يقطع الصلوة ، نسائي کتاب القبلة ج۱ صـ ۱۲۳ باب ذكر ما يقطع الصلوة وما لايقطع ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۸۳} وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ جِئْتُ أَنَا وَغُلَامٌ مِنْ بَنِي هَاشِمٍ عَلَى حِمَارٍ فَمَرَرْنَا بَيْنَ يَدَيِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي فَنَزَلْنَا عَنْهُ وَتَرَكْنَا الْحِمَارَ يَأْكُلُ مِنْ بَقْلِ الْأَرْضِ أَوْ قَالَ نَبَاتِ الْأَرْضِ فَدَخَلْنَا مَعَهُ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ رَجُلٌ أَكَانَ بَيْنَ يَدَيْهِ عَنَزَةٌ قَالَ لَا رواه ابويعلى و رجاله رجال الصحيح.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه او د بني هاشم د قبيلي يو غلام په خر باندې راغلو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ کاوه مونږ هغې په مخکې تير شو نو مونږ خر نه کوز شو او خر مو پرېښود زمکې وابنه او ګياه يې خوړله نو مونږ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په مانځه کې داخل شو نو يو سړي وويل چې د نبي عَلَيْهِ السَّلَام په مخه کې نيزه او ستره وه هغوي وويل چې نه. د دې حديث روايت ابو يعلى کړي او رجال يې رجال د صحيح.

{۲۸۴} وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِالنَّاسِ فَمَرَّ بَيْنَ أَيْدِيهِمْ حِمَارٌ فَقَالَ عَيَّاشُ بْنُ رَبِيعَةَ سُبْحَانَ اللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ سُبْحَانَ اللّٰهِ فَلَمَّا سَلَّمَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ الْمُسَبِّحُ آنِفًا سُبْحَانَ اللّٰهِ قَالَ أَنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي سَمِعْتُ أَنَّ الْحِمَارَ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ قَالَ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ فَيْءٌ رواه الدارقطني و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خلکو ته مونځ کاوه نو د دوي په مخکې خر تير شو نو حضرت عياش بن ربيعه وويل چې سبحان الله سبحان الله سبحان الله رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې سلام واړاوه نو وي فرمائل چې اوس تسبيح ويونکي څوک وُ حضرت عياش وويل چې زه وُم اى د الله رسوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بې شکه ما اوريدلي وُ چې خر مونځ قطع کوي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وو فرمايل چې هيڅ يو شي مونځ نه شي قطع کولې. د دې حديث روايت دار قطني کړي دي او اسناد يې حسن دي.

{۲۸۵} وعن سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَقُولُ لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ فَيْءٌ مِمَّا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي رواه مالك و اسناده صحيح.(۳)

---

(۱) مسند ابويعلى ج ۴ ـــ ۳۱۱ برقم ۹۶ . (۲۴۲۳) .

(۲) دار قطني كتاب الصلوة ج ۱ ـــ ۳۶۷ باب صفة السهو في الصلوة واحكامه ...الخ .

(۳) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ـــ ۱۴۰ باب الرخصة في المرور بين يدي المصلي .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د سالم بن عبدالله نه روایت دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ویل چې د مونځ کوونکي په مخکې هیڅ یو تیریدونکي شئ مونځ نه ماتوي . د دي حدیث روایت مالک رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

{۲۸۶} و عنه قال قِيلَ لِابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ عَبدَ اللهِ بْنَ عَيَاشِ بنِ اَبِي رَبِيعَةَ يَقُولُ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْكَلْبُ وَالحِمَارُ فَقَالَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا يَقْطَعُ صَلَاةَ الْمُسْلِمِ فَيِيء رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : سالم ابن عبدالله، ویلي دي چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ووېلي شو چې عبد الله بن عیاش بن ابي ربیعه وایي چې سپي او خر مونځ ماتوي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې د مسلمان ،مونځ هیڅ شئ نه شي ماتولې . د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

{۲۸۷} و عن سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيبِ اَنَّ عَلِيا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَا لَا يَقْطَعُ صَلَاةَ الْمُسْلِمِ فَيِيء وَادْرَءُوا عَنْهَا مَا اسْتَطَعْتُمْ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د سعید بن المسیب نه روایت دي چې حضرت علي او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ویلي دي چې د مسلمان مونځ هیڅ شئ نه شي ماتولې او لري شئ د دي نه ځومره چې لري کیدي شئ. د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

{۲۸۸} وَ عَنْ اَبِي هرَيرَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا صَلَّى اَحَدُكُمْ فَلْيجْعَلْ تِلقَاء وَجْهه شَيئا فَاِنْ لَمْ يجِدْ فَلْينْصِبْ عَصَا فَاِنْ لَمْ يكُنْ مَعَه عَصَا فَلْيخْطُطْ خَطًّا ثُمَّ لَا يضُرُّهُ مَا مَرَّ اَمَامَه رواه ابوداود وابن ماجه و احمد واسناده ضعيف.(۳)

ترجمه : د حضرت ابي هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي کوم یو کس چې سټاسي نه مونځ کوي نو په خپله مخه کې دي یو شئ ودروي او که څه شئ پیدا نه کړي نو اسا دي ودروي نو که اسا ورسره نه وي نو یو خط دي راکاږي بیا د مونځ کوونکي په مخه کې د تیریدو والا شي هیڅ ضرر نه رسوي .ددي حدیث روایت ابوداؤد ابن ماجه او احمد کړي دي او اسناد یې ضعیف دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۳۱۲ باب المرور بين يدي المصلي ...الخ .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۳۱۲ باب المرور بين يدي المصلي ...الخ .

(۳) ابوداؤدكتاب الصلوةج۱ص ۱۰۰باب الخط اذا لم يجد عصا،ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۶۸ باب مايستر المصلي،مسندأحمد ج۲ص۲۴۹

Maktaba Tul Ishaat.com

دستري مباحث

اولنې بحث: "سترة "أي مايستر به" هغه شئ کوم لرد چې پرده اوګرخولې شي په شريعت کې سره هغه شي ته ويلې کيږي کوم چې دمونځ کونکي پر وړاندې کيخودلې شي تر څو چې دده ځاي دسجدې ممتاز شي او تيريدونکي دده دسجدې ځاي کې دننه تير نشي ، برابره خبره ده که هغه يو لرګي وي يا ديوال وي يا انسان يا پرده وغيره.

دويم بحث : (۱) داهل ظواهرو په نزد مونځ کونکي باندې واجب دي چې خپل وړاندې ستره کيږدي .(۲) دجمهورو او دائمه اربعو رحمهم الله په نزد سنت ده .

داهل ظواهرو دليل: حديث دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "إِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَجْعَلْ تِلقَاءَ وَجْهِهِ شَيْئاً" په دې کې امر دې او امر دوجوب لپاره دې .

دجمهورو دليل: دفضل بن عباس او دعبدالله بن عباس رضي الله عنهم حديث "صَلَّى فِي صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ" چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کولاو صحرا کې بغير دستري ايخودلو مونځ اوکړو . که امر والا حديث لره په استحباب يا په سنتيت باندې محمول کړې شي نو احاديث ترمينځ به تطبيق اوشي .

دريم بحث : په اوږدوالي کې دستري مقدار کم ازکم يو ګز دې دعائشې رضي الله عنها په مرفوع حديث کې دي : "کموخرة الرحل" او دپلن والي په متعلق راجع قول دادې چې کم ازکم ديو ګوتې دپلن والي په اندازه وي .

څلورم بحث : که دستري لپاره يو شئ ملاو نه شي نو بيا دې څه وکړي ؟

دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد مبارک دې " فَلْيَخْطُطْ خَطّاً " يعنې خپل مخې ته يې په زمکه باندې يوه کرخه راکاږله ، ددې حديث په بناء باندې امام احمد رَحِمَهُ اللهُ ، ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ في رواية ستره بالخط قائله دي ، ابن الهمام حنفي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې پلن والي او اوږدوالي محرابي شکل کې جوړ کړئ او دا حديث ګويا چې ضعيف دې ليکن داعمالو په فضائلو کې ضعيف حديث باندې هم عمل کولې کيږي لهذا اصل مقصود يعنې دمونځ کونکي دځانله والي لپاره دهمده مطابق عمل اولى کيدل پکار دي ، امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دخط اعتبار نه کوي ځکه چې هغه دلري نه نه خکاري او دستري چې کومه فائده ده يعنې دسجدې ځاي نه ممتاز کيدل هغه ددې نه نه حاصليږي ، او کوم حديث چې پيش کړې شو په هغې کې يو راوي مجهول دي .(الدر المنضود ورد المختار)

Maktaba Tul Ishaat.com

پنځم بحث : دمونځ کونکي وړاندې دتیرېدو ونکي لره دلاس په اشارې سره منع کول یا سبحان الله ویل دائمه ثلاثو په نزد مستحب دي او دائمه احناف رَحِمَهُ اللهُ په نزد دمنع کولو دادواړه طریقې جائز دي لیکن پخپل مونځ کې مشغولیدل بهتر دي. (البحر الرائق: ۲/۱۸)

شپږم بحث : دمونځ کونکي وړاندې تیرېدل آیا قاطع صلاة دي یا نه؟

(۱) داهل ظواهرو په نزد نښځه، خر، او سپي دمونځ کونکي مخې ته تیرېدل قاطع صلاة دي.

(۲) دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف دسپي دمونځ کونکي مخې ته تیرېدل قاطع صلاة دي کوم یو بل ځناور تیرېدل قاطع نه دي، البته فرمایي: "وفي قلبي من الحمار والمرأة شئ".

(۳) دجمهورو علماء او دائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد دیوچا دمونځ کونکي په وړاندې تیرېدل قاطع صلاة نه دي.

داهل ظواهرو دلیل : حدیث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "يَقْطَعُ الصَّلَاةَ الْكَلْبُ وَالْحِمَارُ وَالْمَرْأَةُ".

دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ دلیل : دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث البته "باب الوضوء بمس المرأة" کې دعائشه رضي الله عنها مذکور حدیث "كَانَ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيُصَلِّي وَإِنِّي لَمُعْتَرِضَةٌ بَيْنَ يَدَيْهِ اِعْتِرَاضَ الْجَنَازَةِ" نه دنښځې، او دباب حدیث فضل ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "صَلَّى فِي صَحْرَاءَ لَيْسَ بَيْنَ يَدَيْهِ سُتْرَةٌ وَحِمَارَةٌ لَنَا وَكَلْبَةٌ تَعْبَثَانِ بَيْنَ يَدَيْهِ فَمَا بَالَى بِذٰلِكَ" نه دخر استثناء کیږي.

دجمهور ائمه ثلاثه دلیل : څو حدیثونه مثلا "لَا يَقْطَعُ الصَّلَاةَ شَيْءٌ مِمَّا يَمُرُّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّي" دا حدیث مرفوعا او موقوفا په دواړو طرقو سره مروي دي.

اهل ظواهرو او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... دمذکوره شئینرنه دمونځ دماتیدو حکم منسوخ شوي کوم باندې چې دلیل هغه حدیثونه دي کوم کې چې دغه شي نه دمونځ نه ماتیدو حکم دي و دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پس جلیل القدر صحابه کرامو رضي الله عنهم هم ددې خبرې فتوی ورکړه، پخپله امام احمد رَحِمَهُ اللهُ هم دنښځې او دخر استثناء کوي او سابقه حدیث لره ددې دواړو په حق کې منسوخ ګرځوي.

۲... یا د "قطع" نه خشوع او خضوع او داطمینان قطع مراد واخیستې شي، دغه شان ددواړو قسمه په حدیثونو کې تطبیق کیږي.

اووم بحث : دباب داحادیثو نه ثابته شوه چې دمونځ کونکي په وړاندې تیرېدل دکوم دوجې نه چې دده په مونځ کې خلل او بې اطمیناني راشي یا په خشوع او خضوع کې فرق راشي دیره لویه ګناه

Maktaba Tul Ishaat.com

او مکروه تحریمي دي خو بیا هم داسي نه ده چې دتیریدو یو صورت دي جائز نه وي ، بلکې چې کله اصل علت یعنې قطع خشوع نه وي نو تیریدل به جائز وي دفقهاؤ نه په دې سلسله کې دري اقواله منقول دي :

(۱) خشوع او خضوع والا مونځ کې په حالت دولاړې ترکوم ځاي پورې چې دمونځ کونکي نظر رسیږي دهغې نه وړاندې تیریدل جائز دي .

(۲) ددري صفه په پریښودو کې تیریدل جائز دي .(۳) ځاي دسجدې نه یو طرفته تیریدل جائز دي . داتفصیل یو لوي جومات سره متعلق دي ، که جومات شپیته یا څلویښت یا ددښه په کمه رقبه باندې وي نو پوره جمات دمکان واحد په حکم کې دي ، او دمونځ کونکي په وړاندې تیریدل مطلقا جائز نه دي .(رد المحتار ، والدر المنضود).

بَابُ الْمَسَاجِدِ

د جماتونو (مسجدونو) باب

{۴۸۹} عَنْ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ بَنَى مَسْجِدًا لِلّٰهِ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتًا فِي الْجَنَّةِ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې فرمائل یې څوک چې دالله د رضا د پاره مسجد او جمات جوړ کړي الله به د ده د پاره په جنت کې کور جوړ کړي . د دې حدیث روایت شیخینو (بخاري او مسلم) کړي دي .

{۴۹۰} وعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةُ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ تُضَعَّفُ عَلَى صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَفِي سُوقِهِ خَمْسًا وَعِشْرِينَ ضِعْفًا وَذٰلِكَ أَنَّهُ إِذَا تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُخْرِجُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ لَمْ يَخْطُ خُطْوَةً إِلَّا رُفِعَتْ لَهُ بِهَا دَرَجَةٌ وَحُطَّ بِهَا خَطِيئَةٌ فَإِذَا صَلَّى لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَيْهِ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيْهِ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ وَلَا يَزَالُ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاةٍ مَا انْتَظَرَ الصَّلَاةَ رواه الشيخان .(۲)

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۰۱ باب فضل بناء المساجد .... الخ ، بخاري کتاب الصلوة ج۱ص ۶۴ باب من بنى مسجداً .

(۲) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۸۹ باب فضل صلوة الجماعة ، مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۳۲ باب فضل الصلوة المكتوبة جماعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي په جمع سره د سړي مونځ کول په هغه مانځه باندې چې په کور او يا بازار کې يې وکړي پرتله ويشت درجې زيات ثواب لري او دا په هغه وخت کې کيدي شي چې هغه په ښه طريقې سره ښه اودس وکړي بيا مسجد ته راوځي د مانځه نه په غير دا کوم بل يو شي نه وي راويستلي هغه يو قدم نه اخلي مګر په هغې سره د ده د پاره يوه درجه اوچتيږي او يو يې ګناه معاف کيږي نو کله چې مونځ وکړي نو ملائکې د ده د پاره : رحمت دعاګاني کوي څو پوري چې هغه د مانځه په ځاي کې وي، فرشتې او ملائکې وايي اې الله ده ته ده باند رحمت وليږې او په ده باندې رحم وکړې مسلسل به يو ستاسي په مانځه کې وي تر څو پوري چې د مانځه په انتظار کې وي. د دې حديث روايت شيخينو کړې دي.

{۲۹۱} وَ عَنه قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَحَبُّ الْبِلَادِ اِلَى الله مَسَاجِدُهَا وَ اَبْغَضُ الْبِلَادِ اَسْوَاقُهَا. رواه مسلم.(۱)

ترجمه : او د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي چې د ټولو نه بهتر ځايونه د الله په نزد مسجدونه او جماتونه دي. او د ټولونه ناکاره ځايونه بازارونه دي. د دې حديث روايت مسلم کړې دي.

{۲۹۲} وَ عَنه قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَاةٌ فِي مَسْجِدِي هٰذَا خَيْرٌ مِن اَلْفِ صَلَاةٍ فِيمَا سِوَاه اِلَّا الْمَسْجِدَ الْحَرَامِ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي : ځما په دې مسجد کې يو مونځ زر چنده د نورو مسجدونو نه بهتر دي په غير د مسجد حرم نه. د دې حديث روايت شيخينو کړې دي.

{۲۹۳} و عن اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ اُجُورُ اُمَّتِي حتى الْقَذَاة يخرجها الرَّجُلُ مِنَ الْمَسْجِدِ رواه ابوداود و آخرون و صححه ابن خزيمة.(۳)

ترجمه : حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې ماته ځما د امت

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۶ باب فضل الجلوس في مصلاه ...الخ.

(۲) مسلم كتاب الحج ج۱ص ۴۴۷ باب فضل الصلوة بمسجدي مكة والمدينة ، بخاري كتاب التهجد والمطرح ج۱ص۱۵۹ باب فضل الصلوة في مسجد مكة ...الخ.

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۶۶ باب كس المسجد.

Maktaba Tul Ishaat.com

ثوابونه پیش کولي شي تر دي پورې چې يو کس د مسجد نه وځي او خلاص کې لږي کړي . د دي حديث روايت ابوداود او اخرينو کړي دي او ابن خزيمه دا صحيح ګڼلې دي .

{۲۹۴} وعنه قَالَ قَالَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا رواه الشيخان(۱)

ترجمه : او د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي په مسجد کې لاړي توکل ګناه ده او د ګناه کفاره د هغې توکانې بښخول دي . د دي روايت شيخينو يعني امام بخاري او امام مسلم کړي دي .

{۲۹۵} وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى مِنْهُ الْإِنْسُ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي څوک چې د دغې بدبويه وني نه خوراک وکړي نو زمونږ مسجد او جوماتونه دي نه رانږدې کيږي بې شکه ملائکې د هغه څه نه تکليف اوچتوي د کوم شئ نه چې انسان تکليف اوچتوي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۲۹۶} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ فَقُولُوا لَا أَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ رواه النسائي والترمذي وحسنه . (۳)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې تاسي وګورئ چې يو سړي په مسجد کې اخستل او خرڅول کوي نو ورته ووايي چې الله دي تاته په تجارت کې ګټه نه درکوي . د دي حديث روايت نسائي او ترمذي کړي او حسن يې ګڼلې دي .

{۲۹۷} عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُجُوهُ بُيُوتِ أَصْحَابِهِ شَارِعَةٌ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ وَجِّهُوا هٰذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ دَخَلَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُصَلِّ الْقَوْمُ هَيْبَةً رِجَاءَ أَنْ يَنْزِلَ فِيهِمْ رُخْصَةً فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ وَجِّهُوا هٰذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا لِجُنُبٍ رواه ابوداود و اسناده حسن .(۴)

---

(۱) بخاري کتاب الصلوة ج ۱ ص ۵۹ باب کفارة البزاق في المسجد، مسلم کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۰۷ باب النهي عن البصاق في المسجد .

(۲) مسلم کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۰۹ باب نهي من اکل ثوما وبصلاً ....، بخاري کتاب المساجد ج ۱ ص ۱۱۸ باب ماجاء في الثوم والنئ...

(۳) ترمذي کتاب البيوع ج ۱ ص ۲۴۷ باب النهي عن البيع في المسجد ، دارمي کتاب الصلوة ص ۱۷۰ باب النهي عن استنشاد الضالة في المسجد ...الخ عمل اليوم والليلة للنسائي مع ترجمه لنوي ليل واطراف ص ۱۲۸ برقم ۱۷۶.

(۴) ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ ص ۳۰ باب في الجنب يدخل المسجد .

Maktaba Tul-Ishaat.com

ترابونه پیش کولې شي تر دې پورې چې یو کس د مسجد نه وکې او خلخکي لرې کړي . د دې حدیث روایت ابوداود او اخرونو کړې دي او ابن خزیمه دا صحیح ګنرلې دي .

{۲۹۳} وعنه قَالَ قَالَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْبُزَاقُ فِي الْمَسْجِدِ خَطِيئَةٌ وَكَفَّارَتُهَا دَفْنُهَا رواه الشيخان(۱)

ترجمه : او د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي هغه ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي په مسجد کې لاړي توکل ګناه ده او د ګناه کفاره د هغې توکانې ښخول دي . د دې روایت شیخینو یعنې امام بخاري او امام مسلم کړي دي .

{۲۹۵} وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَكَلَ مِنْ هٰذِهِ الشَّجَرَةِ الْمُنْتِنَةِ فَلَا يَقْرَبَنَّ مَسْجِدَنَا فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَتَأَذّٰى مِمَّا يَتَأَذّٰى مِنْهُ الْإِنْسُ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي څوک چې د دغې بدبویه ونې نه خوراک وکړي نو زمونږ مسجد او جومات ته دې نه رانږدې کیږي بې شکه ملائکې د هغه څه نه تکلیف اوچتوي د کوم شئ نه چې انسان تکلیف اوچتوي . د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي .

{۲۹۶} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمْ مَنْ يَبِيعُ أَوْ يَبْتَاعُ فِي الْمَسْجِدِ فَقُولُوا لَا أَرْبَحَ اللّٰهُ تِجَارَتَكَ رواه النسائي والترمذي وحسنه . (۳)

ترجمه : د حضرت ابي هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي کله چې تاسي وګورئ چې یو سړي په مسجد کې اخستل او خرڅول کوي نو ورته ووایي چې الله دي تانه په تجارت کې ګټه نه درکوي . د دې حدیث روایت نسائي او ترمذي کړي او حسن یې ګنرلې دي .

{۲۹۷} عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ جَاءَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَوُجُوهُ بُيُوتِ أَصْحَابِهِ شَارِعَةٌ فِي الْمَسْجِدِ فَقَالَ وَجِّهُوا هٰذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ دَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يُصَلِّ الْقَوْمُ فَسِينَا رِجَاءَ أَنْ يَنْزِلَ فِيهِمْ رُخْصَةٌ فَخَرَجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ وَجِّهُوا هٰذِهِ الْبُيُوتَ عَنِ الْمَسْجِدِ فَإِنِّي لَا أُحِلُّ الْمَسْجِدَ لِحَائِضٍ وَلَا لِجُنُبٍ رواه ابوداود و اسناده حسن .(۴)

---

(۱) بخاري کتاب الصلوة ج ۱ ص ۵۹ باب کفارة البزاق في المسجد، مسلم کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۰۷ باب النهي عن البصاق في المسجد .

(۲) مسلم کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۰۹ باب نهي من اکل ثوما وبصلاً ...، بخاري کتاب المساجد ج ۱ ص ۱۱۸ باب ماجاء في الثوم والني...

(۳) ترمذي کتاب البيوع ج ۱ ص ۲۴۷ باب النهي عن البيع في المسجد ، دارمي کتاب الصلوة ص ۱۷۰ باب النهي عن انشاد الضالة في المسجد ...الخ عمل اليوم والليلة للنسائي مع ترجمته نوري ليل وفار ص ۱۲۸ برقم ۱۷۴.

(۴) ابوداؤد کتاب الطهارة ج ۱ ص ۳۰ باب في الجنب يدخل المسجد .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم تشريف راوړو او د صحابه کرامو د کورونو دروازي مسجد طرف ته پرانستي وي نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمائل چې د دې کورونو دروازي د مسجد نه واړوئ بيا نبي کريم صلى الله عليه وسلم رانتوانه او خلکو تراوسه پوري هيڅ نه ؤ کړي په دي اميد باندي چې په دي باره کې به څه رخصت نازل شي نبي کريم صلى الله عليه وسلم د دوي طرف ته راوواته نو وي فرمائل چې د دي کورونو دروازي د مسجد نه واړوئ بې شکه چې زه د حائضې ښځې او د جنب د پاره مسجد حلال نه ګڼرم . د دي حديث روايت ابوداؤد کړي دي او اسناد يې حسن دي .

{۲۹۸} وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ رضي الله عنه أَوْ أَبِي أُسَيْدٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ وَ إِذَا خَرَجَ فَلْيَقُلْ اَللّٰهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د ابي حُميد رضي الله عنه او يا د ابي اُسيد رضي الله عنه نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي : کله چې يو ستاسي مسجد ته داخل شي نو اللهم افتح لي ابواب رحمتك، دعا دې ووايي او کله چې د جمات نه وځي نو (اللهم اني اسئلك من فضلك) دعا دي ووايي . د دي حديث روايت مسلم کړي دي يعني اي الله ستا د رحمت دروازي ماته کلاؤ او پرانيزه . اي الله بې شکه زه ستا نه ستا فضل غواړم .

{۲۹۹} وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ السُّلَمِي رضي الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِذَا دَخَلَ أَحَدُكُمُ الْمَسْجِدَ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : حضرت ابوقتاده السلمي رضي الله عنه ويلي دي چې په تحقيق رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کله چې يو ستاسي مسجد ته ننوځي نو دوه رکعته مونځ دي وکړي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ...الخ ج۱ص ۲۴۸ باب ما يقول اذا دخل المسجد .

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۸ باب استحباب تحية المسجد ...الخ بخاري كتاب الصلوة ج۱ص ۶۳ باب اذا دخل احدكم المسجد ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۰۰} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَجُلٌ بَعْدَ مَا أَذَّنَ الْمُؤَذِّنُ فَقَالَ أَمَّا هٰذَا فَقَدْ عَصٰى أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَالَ أَمَرَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ فَلَا يَخْرُجْ أَحَدُكُمْ حَتّٰى يُصَلِّيَ رواه احمد و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې يو سړي د مسجد نه د مؤذن د اذان نه روسته وواته نو ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې دي سړي د ابوالقاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نافرماني وکړه بيا يې وويل چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم کړي چې کله تاسي په مسجد کې ياست او د مانځه اذان وشي تر هغې پورې دي د مسجد نه يوستاسي نه وځي چې تر څو پورې يې مونځ نه وي کړي. د دې حديث روايت احمد کړي او هيثمي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د دې رجال د صحيح رجال دي.

مسئلة الباب: جومات د شعائرالله نه دي د دې دخه احتراکم کولو حکم کړې شوې دي، دباب په حديثونو کې د جومات د يو څو آدابو بيان دي.

قوله "إِذَا كُنْتُمْ فِي الْمَسْجِدِ فَنُودِيَ بِالصَّلَاةِ" دابن ماجه په يو روايت کې داذان نه پس د جومات نه وتونکي ته "منافق" ويلي شوې دی مګر په همدې روايت کې دا تصريح هم ده چې "چې داسي کس دخه ضرورت نه بغير وتلي وي او په جومات کې دواپس راتللو اراده هم نه وي" بيا خو به هغه دوعيد مستحق نه وي ورنه وي به، په دې خبره باندې دټولو اتفاق دي چې بغير د جومات نه پس داذان نه بهر ته وتل مکروه دي البته دعذر په تفصيل کې څه اختلاف دي، داحنافو په نزد که يو کس په بل جومات کې دامامت يا داذان يا دنظم جمات ذمه دار وي يا خپل مونځ يې له مخکې کړې وي، يا څه ضروري کار وي ته راپيښ شوې وي او په يو بل ځاي کې د جومات ملاويد و اميد يې وي نو ده لپاره خروج بعد الاذان جائز دي.

(۱) مسند احمد ج۲ص ۲۳۷، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ص ۵ باب فيمن خرج من المسجد بعد الاذان.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ خُرُوجِ النِّسَاءِ إِلَى الْمَسَاجِدِ

جماتونو ته د ښځو د تلو باب :

{۳۰۱} عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا اسْتَأْذَنَكُمْ نِسَائُكُمْ بِاللَّيْلِ إِلَى الْمَسَاجِدِ فَأْذَنُوا لَهُنَّ رواه الجماعة الا ابن ماجه . (۱)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي كله چې ستاسي نه ستاسي ښځي د شپې مسجد ته د مانځه د پاره د تلو اجازت وغواړي نو هغوته اجازت ورکړئ. دا حديث جماعت روايت کړي دي مګر خو ابن ماجه يې روايت نه دي کړي .

{۳۰۲} وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لاَ تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ وَلْيَخْرُجْنَ تَفِلَاتٌ رواه احمد و ابوداود وابن خزيمة و اسناده حسن . (۲)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې د الله تعالى بندګانې د الله تعالى د مسجدونو نه مه منع کوئ هغوي دي د زينت او سينګار نه په غير وځي. د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ ابوداؤد او ابن خزيمه کړي دي او اسناد يې حسن دي .

{۳۰۳} وَ عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ الْمَسَاجِدَ وَلْيَخْرُجْنَ تَفِلَاتٍ رواه احمد والبزار والطبراني و قال الهيثمي اسناده حسن . (۳)

ترجمه : د زيد بن خالد جهني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ويلي يې دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي د الله بنده ګانې ښځي د الله تعالى د مسجدونو نه مه منع کوئ دوي دي په غير د زينت او سينګار وخي ددې حديث روايت احمد ،بزار ،طبراني کړي دي اوهيثمي ويلي دي چې اسناديې حسن دي .

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۱۹ باب خروج النساء الى المساجد ...الخ ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۸۳ باب خروج النساء الى المساجد اذا لم يترتب عليه فتنة...الخ ، نسائي كتاب المساجد ج۱ صـ ۱۱۵ باب النهي عن منع النساء...الخ . ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۸۴ باب ماجاء في خروج النساء الى المسجد ، ترمذي ابواب السفر ج۱ صـ ۱۲۷ باب في خروج النساء الى المساجد ، مسند احمد ج۲ صـ ۱۴۳ .

(۲) مسند احمد ج۲ صـ ۴۳۸، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۸۴ باب ماجاء في خروج النساء الى المسجد، ابن خزيمة جماع ابواب صلوة النساء في الجماعة ج۳ صـ ۹۰ رقم الحديث ۱۶۷۹.

(۳) مسند احمد ج ۵ صـ ۱۹۲، كشف الاستار كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۲۲، رقم ۴۴۵ ، المعجم الكبير للطبراني ج ۵ صـ ۲۴۸ رقم ۵۲۳۹ ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج ۲ صـ ۳۲ باب خروج النساء الى المساجد ...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۰۴} وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَوْ أَدْرَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا أَحْدَثَ النِّسَاءُ لَمَنَعَهُنَّ الْمَسْجِدَ كَمَا مُنِعَتْ نِسَاءُ بَنِي إِسْرَائِيلَ اخرجه الشيخان .(۱)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې که چرته نبي عليه السلام دښځوا و سني حالت ليدلي او موندلي وي چې اوس ښځې مسجد ونو ته په ځومره زينت راځي نو خامخا به يې د مسجدنه منع کړي وي لکه څنګه چې د بني اسرائيلو ښځې منع کړي شوي دي . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۳۰۵} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بُخُورًا فَلَا تَشْهَدْ مَعَنَا الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ رواه مسلم و ابوداود والنسائي .(۲)

ترجمه: دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کومې يوې ښځې چې خوشبويي لګولي وي هغه ښځې دي د ماسختن مانځه ته زمونږ سره نه حاضريږي . د دې حديث روايت مسلم ، ابوداؤد او نسائي کړي دي .

{۳۰۶} وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سُوَيْدٍ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ عَمَّتِهِ أُمِّ حُمَيْدٍ امْرَأَةِ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا أَنَّهَا جَاءَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي أُحِبُّ الصَّلَاةَ مَعَكَ قَالَ قَدْ عَلِمْتُ أَنَّكِ تُحِبِّينَ الصَّلَاةَ مَعِي وَ صَلَاتُكِ فِي بَيْتِكِ خَيْرٌ لَّكِ مِن صَلَاتِكِ فِي حُجْرَتِكِ وَ صَلَاتُكِ فِي حُجْرَتِكِ خَيْرٌ لَّكِ مِن صَلَاتِكِ فِي دَارِكِ وَ صَلَاتُكِ فِي دَارِكِ خَيْرٌ لَّكِ مِن صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ وَ صَلَاتُكِ فِي مَسْجِدِ قَوْمِكِ خَيْرٌ لَّكِ مِن صَلَاتِكِ فِي مَسْجِدِي قَالَ فَأَمَرَتْ فَبُنِيَ لَهَا مَسْجِدٌ فِي أَقْصَى شَيْءٍ مِن بَيْتِهَا وَ أَظْلَمِهِ فَكَانَتْ تُصَلِّي فِيهِ حَتَّى لَقِيَتِ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلَّ رواه احمد و اسناده حسن .(۳)

ترجمه: دعبدالله بن سويد الانصاري رضي الله عنه نه روايت دي هغه د خپلي تروره د عمي حضرت ام حميد رضي الله عنها چې دحضرت ابوحميد الساعدي ښځه ده روايت کړي چې دا نبي کريم صلى الله عليه وسلم ته راغله نو وي ويل چې اي دالله رسوله زما تاسره مونځ کول خوښ دي رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱صـ ۱۱۹ باب خروج النساء الى المساجد ...الخ ، مسلم كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۸۳ باب خروج النساء الى المساجد ...الخ .

(۲) مسلم كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۸۳ باب خروج النساء الى المساجد ...الخ ، ابوداؤد كتاب الترجل ج۲صـ ۲۱۹ باب في طيب المرأة لخروج ، نسائي كتاب الزينة ج۲صـ ۲۸۲ باب النهي للمرأة ان تشهد الصلوة ...الخ .

(۳) مسند احمد ج ۶ صـ ۳۷۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

و فرمائل بي شکه زه پوه يم چې ستا ماسره مونځ کول خوښ دي او ستا مونځ ستا د پاره ستا په کور کې بهتر دي د مانځه ستا نه په حجره او بيتک ستا کې او مونځ ستا په حجره ستا کې بهتر دي د مانځه ستا نه په کور ستا کې او مونځ په کور ستا کې بهتر دي د مانځه ستا نه زما په مسجد کې عبدالله بن سويد الانصاري ويلي دي چې هغې حکم وکړو نو د دي د پاره د خپلې کوتې په اخري تياره برخه کې مسجد جوړ کړي شو نو هغې به په دغه مسجد کې تر هغې پورې مونځ کاوه تر څو پورې چې دالله سره ملاقي شوه د دي حديث روايت احمد کړي او اسناد يې حسن دي.

{۳۰۷} وَ عَنِ ابنِ مَسعُودٍ رضي الله عنه قَالَ مَا صَلَّتِ امْرَأَةٌ خَيرٌ لَّهَا مِن قَعرِ بَيتِهَا إِلَّا اَن يَكُونَ المَسجِدُ الحَرَامُ اَو مَسجِدُ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِلَّا امرَأَةٌ تَخرُجُ فِي مَنقَلِيهَا يعني خُفَّيهَا رواه الطبراني في الكبير و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۱)

ترجمه: حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې هيڅ يوې ښځې مونځ نه دي کړي چې د هغې د پاره د کور په پټ خاي کې د مونځ کولو نه بهتر وي مګر چې په مسجد حرم کې وي او يا په نبوي مسجد کې وي مګر هغه ښځه چې د ځرمني په موزو کې راوخي ددې حديث روايت طبراني په کبير کې کړي او هيثمي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د دي رجال د صحيح رجال دي.

{۳۰۸} وَ عَنه قَالَ كَانَ الرِّجَالُ وَالنِّسَاء مِن بَنِي إِسرَائِيلَ يُصَلُّونَ فَكَانَتِ المَرأَةُ إِذَا كَانَ لَهَا خَلِيلٌ تَلبَسُ القَالِبَينِ تَطولُ بِهِمَا لِخَلِيلِهَا فَأَلقَى اللهُ عَزَّ وَ جَلَّ عَلَيهِنَّ الحَيضَ فَكَانَ ابنُ مَسعُودٍ يَقُولُ اَخرِجُوهُنَّ مِن حَيثُ اَخرَجَهُنَّ اللهُ قُلتَا مَا القَالِبَتَينِ قَالَ رَقِيضَتَينِ مِن خَشَبٍ رواه الطبراني في الكبير و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۲)

ترجمه: او د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې د بني اسرائيلو ښځو او سړو به يو ځاي په جمع مونځ کاوه د کومې ښځې به چې کوم دوست وُ نو هغې ښځې به قالبين په خپو کول چې په دي وجه خپل دوست ته په اوږدوالي ورسيږي نو الله تعالى په هغو باندې د حيض وينه جاري کړه نو ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ويل چې دا ښځې وباسئ د کوم ځاي نه چې الله هغه ويستلي دي مونږ ووېل چې قالبين څه شي دي هغه وويل چې قالبين د لرګي نه جوړې شوي پتې دي. د دي حديث

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ صـ ۳۳۹ رقم ۹۴۷۲، مجمع الزوائد ج۲ صـ ۳۴ باب خروج النساء الى المساجد...الخ.

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ صـ ۳۴۲ رقم ۹۴۸۴، مجمع الزوائد ج۲ صـ ۳۵ باب خروج النساء الى المساجد...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت طبراني په کبیر کې کړي دي او هیثمي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې رجال یې د صحیح رجال دي.

{۳۰۹} وَعَنْ أَبِي عَمْرٍو الشَّيْبَانِيِّ أَنَّهُ رَأَى عَبْدَ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَخْرُجُ النِّسَاءَ مِنَ الْمَسْجِدِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَ يَقُولُ اُخْرُجْنَ إِلَى بُيُوتِكُنَّ خَيْرٌ لَكُنَّ رواه الطبراني في الكبير و قال الهيثمي رجاله موثقون .(۱)

ترجمه : او د عمرو بن شیبان رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دي چې هغه عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لیدلي دي چې د جمعې په ورځ به یې د مسجد نه بښځې ویستلې او ویل به یې چې ځئ خپلو کورونو ته ځئ هغه ستاسي د پاره بهتر دي. د دي حدیث روایت په کبیر کې طبراني کړي او هیثمي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې رجال یې ثقه دي.

دښځو جومات ته تلل څنګه دي ؟

حضرت عائشه رضي الله عنها فرمایي که چرته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دښځو موجوده حالت ته کتلې نو دوي لره به یې د جومات ته تللو نه منع فرمایلې داد خیر القرون په زمانه کې د حضرت عائشه رضي الله عنها تأثر دي، لیکن نن سبا چې کوم حال دي دهغې اندازه هر ذي شعور کس کولې شي، حضور اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بښځو لره د جومات ته تللو لپاره اجازت ورکړې وو لیکن دي سره یې داخبرداري هم ورکړې وو چې " ولیخرجن تفلات" یعني جومات ته په داسي حال کې لاړ شئ چې خیرنې یئ پاکې مه ځئ یعني دپاک والي په حالت کې مه ځئ او دا یې هم اوفرمایل چې " وبیوتهن خیرلهن " چې ستاسو لپاره هم کور بهتر او غوره دي، په وروستو کې چې کله حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داهل زماني حالت یکدم بدل اولیدل او دښځو د جومات ته دراتللو نه دسختې فتنې خوریدو ویره پیدا شوه نو مطلقا بښځې د جومات ته د تللو نه منع اوګرځیدلې، او په صحابه کرامو کې دهیڅا نکیر هم په دې باندې ثابت نه دي لیکن چې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مذکوره فیصله دلوي حکمتونو او د دفع مضرت باندې مبني وه بالکل خروج نساء الی المساجد د عدم جواز باندې نه، نو د دي وجې فقهاء خروج نساء الی المساجد لپاره څلور لازمي شرطونه د حدیثو په رڼا کې ذکر کړي دي او هغه دادي؛ (۱) د سړي او د بښځې اختلاط دې نه وي.(۲) زینت دې اختیار نه کړي. (۳) خوشبو دې نه لګوي .(۴) دهیڅ قسمه د فتنې ویره دې نه وي.

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ ص ۳۴۰ رقم ۹۴۷۵ ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج ۱ ص ۴۵ باب خروج النساء الى المساجد .

Maktaba Tul-Ishaat.com

اَبوَابُ صِفَةِ الصَّلَاة

دا بابونه په صفت د مانځه کې دي

بَابُ اِفتِتَاحِ الصَّلَاة بِالتَّكبِيرِ

(باب دي په شروع کولو د مانځه کې په تکبیر سره)

{۳۱۰} عَن اَبِي هُرَيرَة رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ : قَالَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا قُمتَ اِلَى الصَّلَاة فَاَسبِغِ الوُضُوء ثُمَّ استَقبِلِ القِبلَة فَكَبِّر رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي کله چې د مانځه اراده وکړي نو په ښه شان سره مکمل اودس وکړه بيا قبلي طرف ته مخ کړه او تکبير وکړه. دغه حديث شيخينو روايت کړي.

{۳۱۱} وَ عَن عَلِي بنِ اَبِي طَالِب رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَنَّه قَالَ مِفتَاحُ الصَّلَاة اَلطُّهُورُ وَ تَحرِيمُهَا التَّكبِيرُ وَتَحلِيلُهَا التَّسلِيمُ رواه الخمسة الا النسائي و في اسناده لين.(۲)

ترجمه : د حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنهُ روايت دي چې بې شکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې د مانځه کونجي او چابي اودس دي او حراموالي يې تکبير دي او حلالوالي يې سلام دي. د دي حديث روايت د نسائي نه په غير پنځو محدثينو کړي دي او د دي په اسناد کې کمزوري دي.

{۳۱۲} وَ عَن اَبِي حُمَيدِ نِ السَّاعِدِي رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا قَامَ اِلَى الصَّلَاة اِستَقبَلَ القِبلَة وَرَفَعَ يَدَيه وَقَالَ اَللهُ اَكبَر رواه ابن ماجه واسناده حسن.(۳)

ترجمه : ابي حُميد الساعدي رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مانځه ته ودريده

---

(۱) بخاري كتاب الاستيذان ج ۲ص ۹۲۴ باب من رد فقال عليك السلام ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۰ ، باب وجوب القراءة الفاتحة في كل ركعة ....الخ .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج ۱ص ۵۵ باب ماجاء في تحريم الصلوة وتحليلها ، ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ص ۹ باب فرض الوضوء ، ابن ماجة كتاب الطهارة ص ۲۴ باب مفتاح الصلوة الطهور ، مسند احمد ج۱ص ۱۲۳

(۳) ابن ماجة كتاب الصلوة ج ۱ص ۵۸ باب افتتاح الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

قبلي طرف ته به يې مخ کړ او لاسونه به يې اوچت کړل او الله اکبر به يې ووايه . د دي حديث روايت ابن ماجه کړي دي او اسناد يې حسن دي .

{۲۱۳} وَ عَن عَبدِ الله رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ مِفتَاحُ الصَّلَاةِ اَلتَّكبِيرُ وَ اِنقِضَائُهَا اَلتَّسلِيمُ رواه ابونعيم في كتاب الصلاة و قال الحافظ في التلخيص و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنهُ روايت دي هغه ويلي دي چې د مانخه کونجي تکبير دي او د مانخه پوره والي په سلام ګرځولو سره کيږي . ابو نُعيم په کتاب الصلوٰة کې د دي حديث روايت کړي دي او حافظ په تلخيص کې ويلي دي چې اسناد يې صحيح دي .

دتکبير تحريمي الفاظ : دمونځ په شروع کې تکبير تحريمه بالاتفاق فرض دي البته دتکبير تحريمي په الفاظو کې دائمو اختلاف دي :

(۱) ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ او امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ دتکبير صيغې لره فرض ګرځوي ، ددوي په نزد يو بله صيغه چې په تعظيم باندې دلالت کوي " دتکبير قائمقام نه دي يا دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد خاص " الله اکبر " ويل ضروري دي ، دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د " الله الاکبر " ګنجائش هم شته او دامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد " الله الکبير " هم جائز دي .

(۲) دامام ابوحنيفه او دامام محمد رحمهم الله په نزد درب په تعظيم باندې دلالت کولو والا يو لفظ هم کافي دي مثلا : الله أجل، الله أعظم . البته خاص " الله اکبر " ويل واجب دي ددې په پريښودلو سره اعاده دصلاة لازميږي .

ائمه ثلاثه او دامام ابويوسف رحمهم الله دليل :

۱. د حضرت علي رضي الله عنه حديث : " تحريمها التكبير " په لفظ تکبير کې حصر دي

۲. دحضرت عبدالله رضي الله عنه حديث " مفتاح الصلاة التكبير " په لفظ تکبير کې حصر دي .

دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ دليل :

آيت قرآني " وذکر اسم ربه فصلى " په دي کې عموم دي مطلق اسم درب نه دمونځ شروع کيدلو ذکر دي دتکبير دصيغې خصوصيت نشته .

---

(۱) التلخيص الحبير ج۱ ص ۲۱۶ باب صفة الصلوة نقلاً عن ابي نعيم في كتاب الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ او امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

په حدیث کې چې د تکبیر د صیغې کوم تخصیص کړې شوې دی هغه د خبر واحد کیدو په بناء باندې قطعي الثبوت نه دي ، لهذا د دې نه خو به فرضیت ثابت نه وي ، البته د وجوب تر ې ضرور ثابتیږي .

فائده : د صفة الصلاة په ضمن کر داخبره یاد ساتل پکار دي چې د ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د فرض او سنت په مینځ کې د ماموراتو هیڅ درجه " واجب " وغیره نه ده ، چنانچې هغه حضرات د خبر واحد نه هم فرضیت ثابتوي او د احنافو په نزد دلته د فرض دوه قسمونه دي :

(۱) فرض اعتقادي د کوم ثبوت چې نص قطعي ته محتاج دي .

فرض عملي د کوم ثبوت چې نص ظني او د خبر واحد نه هم کیږي او د همدې فرض عملي دویم نوم د ددوي په نزد " واجب " دي .

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ وَبَيَانُ مَوَاضِعِهِ

د تکبیر تحریمې په وخت د لاسونو د پورته کولو او د تکبیر د مواضعو د بیان باب :

{۳۱۴} عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روایت دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ شروع کاوه د واړه لاسونه به یې د اوږو په برابرې اوچتول . د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي .

{۳۱۵} وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ كَبَّرَ وَرَفَعَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ رواه الخمسة و صححه احمد والترمذي .(۲)

ترجمه : د حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرض مانځه ته ودریده تکبیر به یې وایه او د واړه لاسونه به یې د اوږو په برابرې اوچتول ، د حدیث تر اخره پورې . د دې حدیث روایت پنځو محدثینو کړې دي او احمد رَحِمَهُ اللهُ او ترمذي رَحِمَهُ اللهُ صحیح

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص۱۰۲ باب رفع اليدين في التكبيرة الافتتاح ،مسلم كتاب الصلوة ج۱ص۱۶۸ باب، استحباب رفع اليدين ...

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۱۰ باب ما يستفتح به الصلوة ، ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۶۲ باب رفع اليدين اذا رفع رأسه من الركوع ، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۴۰ باب رفع اليدين حذوا لمنكبين ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۹ باب رفع اليدين عند الركوع ، مسند احمد ج۱ص ۹۳ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کنړلي دي.

{۳۱۶} وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَحَاذِيَ بِهِمَا مَنْكِبَيْهِ الحديث اخرجه الخمسة الا النسائي و صححه الترمذي.(۱)

ترجمه: حضرت ابي حُميد الساعدي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي کله به چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانځه ته اوچتيده دواړه لاسونه به يې د اوږو په برابرئ اوچتول. د حديث تر اخره پوري. د دي حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي خو ولي نسائي نه دي کړي او ترمذي صحيح ګنړلي دي.

{۳۱۷} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ مَدًّا رواه الخمسة الا ابن ماجه و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانځه ته اوچتيده دواړه لاسونه به يې پورته اوچتول، د دي حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي خو ولي ابن ماجه نه دي کړي او اسناد يې صحيح دي.

{۳۱۸} وَعَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَحَاذِيَ بِهِمَا أُذُنَيْهِ و في رواية حَتّٰى يَحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ رواه مسلم.(۳)

ترجمه: د حضرت مالک بن حويرث نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله تکبير وکړو دواړه لاسونه به يې اوچت کړل تر دي پورې چې دواړه لاسونه به يې د غوږونو سره برابر کړل او په يو بل روايت کې راغلي دي چې دواړه لاسونه به يې د غوږونو د پورتنيو برخې نه اوچت کړل. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

{۳۱۹} وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حَجَرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ حِينَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَصَفَ هَمَّامٌ حِيَالَ أُذُنَيْهِ رواه مسلم.(۴)

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۶ باب افتتاح الصلوة، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۹ باب رفع اليدين عند الركوع، ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ص ۶۲ باب رفع اليدين اذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع، مسند احمد ج۵ ص ۴۲۴.

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۶ باب في نشر الاصابع، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۰ باب من لم يذكر الرفع عند الركوع، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۴۱ باب رفع اليدين مدًّا، مسند احمد ج۲ ص ۳۷۵.

(۳) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۸ باب استحباب الرفع اليدين حذو المنكبين ...الخ.

(۴) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت وائل ابن حُجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي هغه ويلي دي چې ده نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ ليدلي دي چې کله به هغه په مانځه کې داخل شو نو دواړه لاسونه به يې اوچت کړل تکبير به يې ووايه. همداسې بيان کړي دي چې د دواړو غوږونو په برابر.

{۴۲۰} وَعَنه قَالَ رَأَيتُ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ رَفَعَ يَدَيه حِيَالَ أُذُنَيه قَالَ ثُمَّ أَتَيتُهم فَرَأَيتُهم يرفَعُونَ أَيدِيهم إِلَى صُدُورِهم فِي افْتِتَاحِ الصَّلَاةِ وَ عَلَيهم بَرَانِسُ وَ أَكسِيَة رواه ابوداود و آخرون و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : دحضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې کله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ شروع کړ ما هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليد چې دواړه لاسونه يې د غوږونو په برابر اوچت کړل هغه ويلي دي چې زه بيا هغو ته راغلم نو ما وليدل چې هغو د مانځه په شروع کې دواړه لاسونه تر سينو پورې په داسې حال کې اوچت کړل چې په هغو باندې اوبدې توپې خولې او څادرونه وُ . د دې حديث روايت ابو داوُد رَحِمَهُ اللهُ او نورو (آخرون) کړي دي او اسناد يې حسن دي.

دتکبير تحريمې مسائل

اولنی مسئله : دتکبير تحريمې په وخت دلاس اوچتولو حکم څه دي ؟

دائمه اربعو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد سنت او دابن حزم ظاهري رَحِمَهُ اللهُ او دامام اوزاعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد فرض دي.

دويمه مسئله : دتکبير تحريمې لپاره به لاس کله اوچتولې شي ؟

دائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد دتکبير سره سره لاس هم اوچتيدل پکار دي ليکن داحنافو په نزد دري روايته دي : (۱) صاحب دبدائع او محيط مقارنت (دې سره سره اوچتول) لره غوره کړې دي .(۲) په هدايه کې اول لاسونه اوچتول مذکور دي.(۳) دبعضو په نزد اول دې تکبير اووايي بيا دې لاس اوچت کړي دهدايه والا قول ډير بهتر دي .((رد المحتار: ۴۸۲/۱)

دريمه مسئله : لاس تر کوم ځاي اوچتول پکار دي ؟

(۱) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد تر اوږو پورې .(۲) دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دغوږونو تر بوځکو (نرمې) پورې .(۳) دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ نه دري روايته دي مشهور دادي چې مونږ کونکي ته اختيار دې خونښه يې ده که تر اوږو يې اوچتوي او که تر غوږونو پورې .

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۵ باب رفع اليدين باب وضع هذه اليمنىٰ على اليسرىٰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دا حادیثو په مینځ کې تطبیق :

۱. په بعضي حدیثونو کې " خلو منکبیه " یعنې تر اوږو پورې دلاس اوچتولو ذکر دې .

۲. او په بعضي حدیثونو کې " حتی یحاذي بهما أذلیه " تر غوږونو پورې دلاس اوچتولو ذکر دې .

۳. او په بعضي حدیثونو کې " ... فروع أذلیه " دغوږونو نه برې پورې دلاس اوچتولو ذکر دې .

۴. په بعضي حدیثونو کې " یرفعون أیدیهم إلی صدورهم " سینې پورې دلاس اوچتولو ذکر دې .

دتطبیق صورت دادې چې په عام حالت کې لاسونو لره دې داسې اوچت کړې چې ورغوي یې تر اوږو پورې او غټه ګوته یې دغوږونو تر بوځکو (نرمې) پورې او ګوتې یې دغوږونو تر برې اورسې او چې کله څه مجبوري وي نو تر سینې پورې هم لاس اوچتولې شي .(رد المحتار: ۱/۴۸۳)

بَابُ وَضعِ الیمنٰی عَلَی الُیسرٰی

دا باب دی په بیان د کیښودلو د ښي لاس په ګس لاس باندې

{۳۲۱} عَن سَهلِ بنِ سَعدٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ کَانَ النَّاسُ یؤمَرُونَ اَن یضَعَ الرَّجُلُ یدَهُ الیمنٰی عَلٰی ذِرَاعِهِ الیسرٰی فِي الصَّلَاةِ قَالَ اَبُو حَازِمٍ لَا اَعلَمُهُ اِلَّا ینمِي ذٰلِکَ اِلَی النَّبِي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري .(۱)

ترجمه : دا باب دي په باره د ابینودو د ښي لاس کې په چپ لاس باندې . د سهل بن سعید رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُ روایت دي ده ویلي دي چې خلکو ته به ویلي شو او امر به ورته کوای شو چې سړي دي خپل ښي لاس په چپ لیچې باندې ږدي ابو حازم رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې حضرت سهل رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُ دغه خبره تر نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ پورې مرفوع کړې د دي حدیث روایت بخاري کړې دي .

{۳۲۲} وَ عَن وَائِلِ بنِ حُجرٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُ اَنَّه رَأَی النَّبِي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ یدَیهِ حِینَ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ وَکَبَّرَ ثُمَّ التَحَفَ بِثَوبِهِ ثُمَّ وَضَعَ الیمنٰی عَلَی الیسرٰی رواه احمد و مسلم .(۲)

ترجمه : د حضرت وائل بن حجر رَضِیَ اللّٰهُ عَنهُ روایت دي چې بې شکه ده نبي علیه السلام لیدلي دي چې لاسونه یې هغه وخت کې اوچت کړل چې کله په مانځه کې داخل شو او تکبیر یې ووایه بیا یې ځان

---

(۱) بخاري کتاب الأذان ج ۱ صـ ۱۰۲ باب وضع الیمنٰی علی الیسرٰی في الصلوة .

(۲) مسلم کتاب الصلوة ج ۱ صـ ۱۷۳ باب وضع یده الیمنٰی علی الیسرٰی ...الخ ، مسند احمد ج ۴ صـ ۳۱۶ .

Maktaba Tul Ishaat.com

په جامه کې تاؤ کړ بیا یې ښي لاس په چپ لاس باندې کیښود . د دې حدیث روایت احمد او مسلم کړې دی.

{۲۲۳} وَ عَنه قَالَ ثُمَّ وَضَعَ يَدَه الْيمنى عَلَى ظَهرِ كَفِّه اليسرى وَالرُّسغِ وَالسَّاعِدِ رواه احمد والنسائي وابوداود واسنادُه صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روایت دې ده ویلي چې بیا یې ښي لاس د چپ ورغوې په شا باندې کیښود او په مړوند او لیچې باندې . د دې حدیث روایت احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ ، نسائي رَحِمَهُ اللّٰهُ او ابوداؤد نقل کړې دی او اسناد یې صحیح دی .

{۲۲۴} وَ عَنِ ابنِ مَسعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّه كَانَ يُصَلِّي فَوَضَعَ يَدَه الْيسرى عَلَى اليمنى فَرَاٰه النَّبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَه اليمنى عَلَى اليسرى رواه الاربعة الا الترمذي واسنادُه حسن.(۲)

ترجمه : عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونځ وکړو خپل چپ لاس یې په ښي لاس باندې کیښود نو هغه نبي عَلَيْهِ السَّلَام ولیدو نو د هغه ښي لاس یې په چپ لاس باندې کیښود . د دې حدیث روایت څلورو محدثینو کړې دی خو ولې ترمذي نه دی کړې او اسناد یې حسن دی .

مسئلة الباب : په مونځ کې په حالت د قیام د ښي لاس ورغوې له د چپ لاس په شا باندې ایخودل د جمهور علماء او د ائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد مسنون دي او د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ نه په دې سلسله کې دري روایتونه دي :

(۱) د مشهور روایت مطابق مطلقا لاسونو له سیده پریخودل پکار دي .

(۲) په فرائضو کې ارسال بهتر دي او په نوافلو کې وضع الیمنی علی الیسری جائز دي .

(۳) مطلقا وضع الیمنی علی الیسری سنت دي . (بداية المجتهد ، الدر المنضود)

د باب د احادیثو نه د جمهورو د قول تائید کیږي چې مطلقا وضع الیمنی سنت دي .

---

(۱) مسند احمد ج۴ ص ۳۱۸ ، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ ص ۱۴۱ باب موضع اليمين من الشمال في الصلوة ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۰۵ باب رفع اليدين .

(۲) نسائي كتاب الافتتاح ج۱ ص ۱۴۱ باب في الامام اذا رأى الرجل ... الخ ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۱۰ باب وضع اليمنى على اليسرى ، ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ ص ۵۹ باب وضع اليمين على الشمال في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَاب فِي وَضعِ اليدَينِ عَلَى الصَّدرِ

دا باب دی په بیان د کیخودلو د لاسونو په سینه باندې

{۳۲۵} عَن وَائِلِ بنِ حُجرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ صَلَّيتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعَ يَدَهُ اليمنى عَلَى يَدِهِ اليسرى عَلَى صَدرِهِ رواه ابن خزيمة في صحيحه و في اسناده نظر و زيادة على صدره غير محفوظة .(۱)

ترجمه : په سینه باندې د لاسونو د ایخودلو باب: حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنهُ ویلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره مونځ وکړ نو هغه خپل ښي لاس په خپل چپ لاس په سینه باندې د پاسه کیخوده دا حدیث ابن خزیمه په خپل صحیح کې راوړې دي اوددې په اسناد کې خبرې دي او د على صدره زیاتوالي په حدیث کې محفوظ نه دي .

{۳۲۶} وَ عَن قَبِيصَةَ بنِ هلبٍ عَن أَبِيهِ رضي الله عنه قَالَ رَأَيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ينصَرِفُ عَن يَمِينِهِ وَ عَن يَسَارِهِ وَرَأَيتُهُ يَضَعُ هٰذِهِ عَلَى صَدرِهِ وَ وَصَفَ يَحيَى اليمنى عَلَى اليسرى فَوقَ المَفصَلِ رواه احمد و اسناده حسن لكن قوله على صَدرِهِ غَيرُ مَحفُوظٍ .(۲)

ترجمه : او د قبیصه بن هلب نه روایت دي هغه د خپل پلار نه روایت کړي ده ویلي دي چې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لیدلي دي چې هغه خپل ښي طرف ته راګرځیده او چې طرف ته به هم راګرځیده او ما هغه صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لیدلي چې دا به یې په سینه باندې اینبوده او دایښودو طریقه یې بیان کړیده چې نبي لاس به یې په چپ باندې د بند د پاسه وُ . د دې حدیث روایت احمد کړي او اسناد یې حسن دي لیکن دا قول چې على صدره دي غیر محفوظ دي .

{۳۲۷} وَ عَن طَاوُسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَدَهُ اليمنى عَلَى يَدِهِ اليسرى ثُمَّ يَشُدُّ بِهِمَا عَلَى صَدرِهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ رواه ابوداود في المراسيل و اسناده ضعيف .(۳)

ترجمه : طاؤس رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې نبي عَلَيهِ السَّلَام به نبي لاس په چپ لاس باندې ایخوده بیا به یې دا دواړه په سینه باندې ترل او هغه به په مانځه کې وُ . د دې حدیث روایت په مراسیلو کې ابوداوُد

---

(۱) صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۴۳ رقم الحديث ۴۷۹.

(۲) مسند احمد ج ۵ ص ۲۲۶.

(۳) مراسيل ملحقة سنن ابي داؤد كتاب الصلوة صـ ۶ باب ماجاء في الاستفتاح .

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي دي.

قَالَ التِّرْمِذِيُّ وَفِي الْبَابِ أَحَادِيثُ أَخَرُ كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ .

ترجمه : او نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې په باب کې نور احاديث هم شته خو ټول ضعيف دي.

مسئلة الباب : دباب احاديث په حالت دقيام په سينه باندې دلاس دپاسه ايخودلو باندې دلالت کوي تصيلي بحث مخکې راروان دي.

بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ فَوْقَ السُّرَّةِ

په نامه د پاسه د لاسونو د ايښودلو باب :

{۳۲۸} عَنْ جَرِيرٍ الضَّبِّيِّ قَالَ رَأَيْتُ عَلِيًا يَمْسِكُ شِمَالَهُ بِيَمِينِهِ عَلَى الرُّسْغِ فَوْقَ السُّرَّةِ رواه ابوداود وزِيَادَةُ فَوْقَ السُّرَّةِ غَيْرُ مَحْفُوظَةٍ .(۱)

ترجمه : حضرت جرير الضّبي ويلي دي چې ما حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ليدلي وُ چې په نامه د پاسه يې د چپ لاس مروند په ښي لاس باندې نيولي وُ . د دي حديث روايت ابوداوُد کړي دي او د فوق السرة زيادة محفوظ نه دي.

{۳۲۹} وَعَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ قَالَ أَمَرَنِي عَطَاءٌ أَنْ أَسْأَلَ سَعِيدًا أَيْنَ تَكُونُ الْيَدَانِ فِي الصَّلَاةِ فَوْقَ السُّرَّةِ أَوْ أَسْفَلَ مِنَ السُّرَّةِ فَسَأَلْتُهُ فَقَالَ سَعِيدٌ فَوْقَ السُّرَّةِ رواه البيهقي و اسناده ليس بالقوي.(۲)

ترجمه : د ابوالزبير نه روايت دي ده ويلي چې ماته عطاء امر کړي وُ چې د سعيد ابن جبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړم چې په مانځه کې لاسونه په کوم ځاي کې ايخودل شوي د نامه د پاسه او که د نامه نه لاندې نو ما د هغه نه پوښتنه وکړه نو سعيد بن جبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې د نامه د پاسه . د دي حديث روايت بيهقي کړي او اسناد يې قوي نه دي.

مسئلة الباب : دباب حديثونو په حالت دقيام کې دنوم نه بره لاس ترلو باندې دلالت کوي تفصيلي بحث مخکې راروان دي.

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۸۰ برقم ۷۵۶ باب وضع اليمنىٰ على اليسرىٰ في الصلوة هذا الحديث موجود في بعض نسخ ابي داؤد دون بعض نقلناه من مطوّحة المصر وايضاً موجود في حواشي طبع مكتبه امداديه ملتان ، پاكستان .

(۲) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۲صـ ۳۱ باب وضع اليدين على الصدر ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابٌ فِي وَضْعِ الْيَدَيْنِ تَحْتَ السُّرَّةِ

د نامه نه لاندې د لاسونو د ایښودلو باب :

{۳۳۰} عن عَلْقَمَةَ بْنِ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ عَنْ أَبِيهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَضَعُ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ رواه ابن ابي شيبة و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د علقمه بن وائل بن حجر نه روایت دي هغه د خپل پلار نه روایت کړي دي ویلي یې دي چې ما نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیدلي دۍ چې ایخي یې دۍ خپل ښي لاس په چپ لاس باندې په مانځه کې لاندې د نامه نه . روایت یې ابن ابي شیبه کړي او اسناد یې صحیح دي .

{۳۳۱} وَعَنِ الْحَجَّاجِ بْنِ حَسَّانٍ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا مِجْلَزٍ أَوْ سَأَلْتُهُ قَالَ قُلْتُ كَيْفَ أَضَعُ قَالَ يَضَعُ بَاطِنَ كَفِّ يَمِينِهِ عَلَى ظَاهِرِ كَفِّ شِمَالِهِ وَيَجْعَلُهُمَا أَسْفَلَ مِنَ السُّرَّةِ رواه ابوبكر بن هيبة و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حجاج بن حسان ویلي دي چې ما د ابي مجلز نه اوریدلي دي او یا یې ویلي دي چې ما د ابي مجلز نه پوښتنه کړي ده چې مونږ لاسونه څنګه کیږدو هغه وویل چې هغه د ښي لاس د ورغوي باطن طرف د چپ لاس د ورغوي په ښکاره طرف باندې کیږدو او دواړه لاسونه یې د نامه نه لاندې کړل . د دي حدیث روایت ابوبکر بن ابي شیبه کړي او اسناد یې صحیح دي .

{۳۳۲} وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ يَضَعُ يَمِينَهُ عَلَى شِمَالِهِ فِي الصَّلَاةِ تَحْتَ السُّرَّةِ رواه ابن ابي شيبة واسناده حسن(۳)

ترجمه : ابراهیم نخعي رَحِمَهُ اللَّهُ ویلي دي چې ده به په مانځه کې ښي لاس په چپ باندې د نامه نه لاندې ایښوده . د دي حدیث روایت ابن ابي شیبه کړي دي او د دي حدیث اسناد صحیح دي .

مسئلة الباب : دباب حدیثونه په حالت دقیام د نامه نه لاندې لاس ترلو باندې دلالت کوي .

په مسئلة الباب کې د فقهاؤ اقوال

(۱) امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ (د وضع یدین والا روایت مطابق) په نزد د نامه نه بره او د سینې نه لاندې لاس ترل پکار دي .

(۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد د نامه نه لاندې لاس ترل پکار دي (رحمة الأمة ص ۳۲)

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج ۱ ص ۳۹۰ باب وضع اليمين على الشمال .

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج ۱ ص ۳۹۱ باب وضع اليمين على الشمال .

(۳) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج ۱ ص ۳۹۰ باب وضع اليمين على الشمال .

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱. دوائل بن حجر رَحِمَهُ اللهُ حديث : " وَضَعَ يَدَهُ اليمنٰى عَلَى يدِهِ اليسرٰى عَلٰى صَدرِهِ ".

۲. حديث دقبيصه بن هلب عن أبيه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " رأيته يضع هذه على صدره ".

۳. حديث دطاوس رَحِمَهُ اللهُ مرسلا : " ثم يشد بهما على صدره ".

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱. حديث دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " يَضَعُ يَمِينَه عَلٰى شِمَالِه فِي الصَّلَاةِ تَحتَ السُّرَّةِ " ليکن دا حديث د سند صحيح نه باوجود متنا مضطرب دی.

۲. د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول : " ان من السنة وضع الكف على الكف في الصلوٰة تحت السرة " يعنې معنی دا چې په مانځه کې د سنت طريقې ځينې ايخودل د ورغوي دي په ورځوي باندې د نامحرم لاندې.

۳.. دابي مجلز رَحِمَهُ اللهُ قول : " يجعلهما أسفل من السرة ".

۴... دابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ قول : " يضع يمينه على شماله في الصلاة تحت السرة ".

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ ددليل جواب :

۱... دوائل رضي الله عنه په حديث کې " على صدره " اضافه غير محفوظ ده ، ددې په سند کې مؤمل بن اسماعيل دي کوم چې انتهائي ضعيف دي ، په جزددې چا هم " على صدره " نه دي نقل کړې.

۲... دقبيصه په حديث کې او داسې نور قوي روايات و په رنا کې دا ويلې شي چې په دې روايت کې تصحيف شوې دی ، اصل روايت " يضع هذه على هذه " دي چا ديوې غلطې نه دي لره " يضع هذه على صدره " ويلې دی.

۳... حديث دطاوس مرسل ضعيف دي لهذا قابل داستدلال نشي کيدې.

دبحث خلاصه : صحيح خبره داده چې په دې سلسله کې دفريقينو په دلائلو باندې کلام دي، چا سره صحيح او صريح حديث مرفوع نشته چاته چې واجب العمل اويلې شي کما قال ابن الهمام، البته دفقهاؤ په ترجيح کې اختلاف دي ، حنفيه تحت السرة لره او شافعيه تحت الصدر لره ترجيح ورکوي ، زمونږ له طرف نه ويل شوي دي چې مونږ مَظهر دتعظيم دي او په قيام تعظيمي کې معهود وضع تحت السره دي ، هو داظهار عشق په صورت کې وضع على الصدر کيږي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا يَقْرَأُ بَعْدَ تَكْبِيرَةِ الإِحْرَامِ

باب دي په بيان دهغه څه کې چې ويل کيږي وروسته د تکبير تحريمي :

{۳۲۲} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْكُتُ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ إِسْكَاتَةً قَالَ أَحْسِبُهُ قَالَ هَنِيَّةً فَقُلْتُ بِأَبِي وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِسْكَاتُكَ بَيْنَ التَّكْبِيرِ وَبَيْنَ الْقِرَاءَةِ مَا تَقُولُ قَالَ أَقُولُ : اَللّٰهُمَّ بَاعِدْ بَيْنِي وَبَيْنَ خَطَايَايَ كَمَا بَاعَدْتَ بَيْنَ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ اَللّٰهُمَّ نَقِّنِي مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ اَللّٰهُمَّ اغْسِلْ خَطَايَايَ بِالْمَاءِ وَالثَّلْجِ وَالْبَرَدِ رواه الجماعة الا الترمذي. (۱)

ترجمه : د احرام د تکبير نه وروسته څه ولوستل شي : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تکبير او د قرات تر منځ چپوالي کاوه راوي ويلي دي چې ما داسي خيال کاوه چې هغو ويلي دي چې لږ وخت به يې خاموشي فرمائله ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما عرض وکړ چې اي دالله رسوله ځما مور پلار ستانه قربان شه تاسو د قرات او د تکبير تر منځ د خاموشئ په دوران کې څه وايي نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل زه وايم. اى الله ځما او ځما د ګناهونو ترمنځ دومره لري واتي وکړي لکه څنګه چې تا د مشرق او مغرب ترمنځ لريوالي راوستي دي اى الله مادګناهونو نه داسي پاک کړي لکه څنګه چې سپينه جامه ذخيري نه پاکولي شي اى الله ځما ګناهونه په اوبو ، واوره او يخ باندي وه ويني. د دي حديث روايت د ترمذي نه په غير جماعت کړي دي.

{۳۲۳} وعَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلاَةِ قَالَ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالأَرْضَ حَنِيفًا وَمَا أَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلاَتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الْمَلِكُ لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ. أَنْتَ رَبِّي وَأَنَا عَبْدُكَ ظَلَمْتُ نَفْسِي وَاعْتَرَفْتُ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي ذُنُوبِي جَمِيعًا إِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ وَاهْدِنِي لِأَحْسَنِ الأَخْلاَقِ لاَ يَهْدِي لِأَحْسَنِهَا إِلاَّ أَنْتَ وَاصْرِفْ عَنِّي سَيِّئَهَا لاَ يَصْرِفُ عَنِّي سَيِّئَهَا إِلاَّ

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۳ باب ما يقرأ بعد التكبير ، مسلم كتابُ المساجد ج۱ص ۲۱۹ باب ما يقال بين تكبيرة الاحرام والقراء ة،نسائي كتاب الافتاح ج۱ص ۱۴۲ باب الدعاء بين التكبير والقراء ة ، ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۳ باب السكتة عند الافتتاح ، ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۵۹ باب افتتاح الصلوة ، مسند احمد ج۲ ص ۲۳۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

اَلْخَيْرُ كُلُّهُ فِي يَدَيْكَ وَالشَّرُّ لَيْسَ إِلَيْكَ اَنَا بِكَ وَإِلَيْكَ تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ اَسْتَغْفِرُكَ وَاَتُوبُ إِلَيْكَ وَإِذَا رَكَعَ قَالَ إِلَى آخِرِ الْحَدِيثِ رواه مسلم فِي صَلَاةِ اللَّيْلِ.(۱)

ترجمه: د حضرت علي ابن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانځه ته ودريده نو ويل به يې: ما خپل مخ د هغه ذات په طرف اړولي دي کوم ذات چې اسمانونه او ځمکه پيدا کړي ده په داسې حال کې چې ګرځيدونکې يم د باطل نه حق ته او نه يم زه د شرک کوونکو نه بې شکه زما مونځ ځما قرباني زما ژوند او زما مرګ خاص الله تعالى لره دي چې د ټولو عالمو پروردګار دي هيڅ شريک ولره نشته او ماته په دې امر شوي دي او زه د حکم منونکو څخه يم، ته بادشاه يې ستا نه په غير بل معبود نشته ته ځما رب يې او زه ستا بنده يم ما په خپل ځان ظلم کړې او په خپله ګناه مې اقرار کړې نو ماته ځما ټول ګناهونه معاف کړه ځکه چې ستا نه په غير بل هيڅوک ګناهونه معاف کولې نشي د بنو اخلاقو په طرف ماته رهنمايي وکړه ستانه په غير بنو اخلاقو طرف بل څوک لارښود نه شي کولې او ستا نه په غير ما د بدو اخلاقو نه بل څوک نشي اړولې زه ستا په خدمت کې هميشه حاضر يم او ټول خيرونه ستا په قبضه کې دي بدي او شر ستا په طرف نشي کيدې زه په تا سره او ستا په طرف پناه نيسم ته اوچت او برکت والا ذات زه ستا نه بخښنه غواړم او ستا طرف ته رجوع کوم او کله به يې چې رکوع کوله ويل به يې د حديث تر اخره پورې. د دې حديث روايت مسلم د شپې په مانځه کې کړې دي.

{۲۳۵} وَعَنْ مُحَمَّدِ بْنِ مَسْلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا قَامَ يُصَلِّي تَطَوُّعًا قَالَ اَللّٰهُ اَكْبَرُ وَجَّهْتُ وَجْهِيَ لِلَّذِي فَطَرَ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضَ حَنِيفًا مُسْلِمًا وَمَا اَنَا مِنَ الْمُشْرِكِينَ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذٰلِكَ أُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ اَللّٰهُمَّ اَنْتَ الْمَلِكُ لَا إِلٰهَ إِلَّا اَنْتَ سُبْحَانَكَ وَبِحَمْدِكَ ثُمَّ يَقْرَأُ رواه النسائي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه: محمد بن مسلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې بې شکه کله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نفلي مانځه لپاره ودريده الله اکبر به يې ووايه او توجيه به يې وويله يعني وجهت وجهي للذي فطر السموات والارض حنيفاً مسلماً وما انا من المشركين ان صلاتي ونسكي ومحياي ومماتي لله رب

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين وقصرها ج۱ صـ ۲۶۳ باب صلوة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ودعائه بالليل.

(۲) نسائي كتاب الافتتاح صـ ۱۴۳ باب الدعاء بين التكبير والقراءة.

Maktaba Tul Ishaat.com

العالمین لا شریک له وبذلک امرتُ وانا اول المسلمین اللهم انت الملکُ لا اله الا انت سبحانک وبحمدک لم یقرأ ، بیا به یې قرات لوسته . او ترجمه یې په (۳۳۴) نمبر حدیث کې تیره شوې ده .

{۳۳۶} و عن حُمَیدِ الطَّوِیلِ عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ کَانَ رَسُولُ اللّٰه صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ اِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ قَالَ سُبْحَانَکَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَ تَعَالٰی جَدُّکَ وَلَا اِلٰه غَیْرُکَ رواه الطبراني في کتابه المفرد في الدعاء و اسناده جید .(۱)

ترجمه : حُمید طویل د انس بن مالک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت کړي ویلي یې دي چې رسول الله صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ به چې کله مونځ شروع کاوه ویل به یې : چې پاکي تالره اي الله د ټولو عیبونو تغیر او زوال نه سره د حمد او ثنا ستا او برکت والا دي نوم ستا او لوي دي شان ستا او نشته مستحق د عبادت غیر ستا نه بل هیڅوک . د دي حدیث روایت الطبراني په خپل کتاب المفرد کې في الدعاء کې کړي دي .

{۳۳۷} وَ عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عُمَرَ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّه کَانَ اِذَا اسْتَفْتَحَ الصَّلَاةَ قَالَ سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالٰی جَدُّکَ وَلَا اِلٰه غَیْرُکَ رواه الدارقطني والطحاوي واسناده صحیح .(۲)

ترجمه : اسود د حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت کړي چې بې شکه حضرت عمر رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ به چې مونځ شروع کاوه نو دا دعاء به یې ویله سبحانک اللهم وبحمدک وتبارک اسمک وتعالیٰ جدک ولا اله غیرک . د دي حدیث روایت دار قطني او طحاوي کړي دي او اسناد یې صحیح دي .

{۳۳۸} عن اَبِي وَائِلٍ قَالَ کَانَ عُثْمَانُ رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ اِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ یَقُولُ سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالٰی جَدُّکَ وَلَا اِلٰه غَیْرُکَ یَسْمَعُنَا ذٰلِکَ رواه الدارقطني و اسناده حسن .(۳)

ترجمه : ابو وائل ویلي دي چې کله به حضرت عثمان رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ مونځ شروع کاوه نو دا دعاء به یې ویله سبحانک اللهم وبحمدک وتبارک اسمک وتعالیٰ جدک ولا اله غیرک او دا به یې مونږ ته را

---

(۱) الدرایة في تخریج احادیث الهدایة ، کتاب الصلوة ج۱ص ۱۲۹ باب صفة الصلوة نقلاً عن الطبراني في الدعاء.

(۲) دار قطني کتاب الصلوة ج۱ص ۳۰۰ باب دعاء الاستفتاح بعد التکبیر ، طحاوي کتاب الصلوة ج۱ص ۱۳۶ باب ما یقال بعد تکبیرة الافتتاح .

(۳) دارقطني کتاب الصلوة ج۱ص ۳۰۲ باب دعاء الاستفتاح بعد التکبیر .

Maktaba Tul Ishaat.com

اوروله . د دې حدیث روایت الدار قطني کړې دي او اسناد يې حسن دي .

دثناء حکم :دتکبیر تحریمې نه پس او دقرأت نه مخکې څه دعاء دې اویلې شي یا نه ؟

۱... دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ مشهور قول دادې چې که ثناء وي یا توجیه (اني وجهت وجهي للذي....الخ) نوره کومه دعادې اونه لوستلې شي فورا دې قرأت اولوستلې شي.

۲... جمهور علماء او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ داستفتاح ددعاء قائله دي ، په دې سلسله کې په احادیثو کې په کثرت سره دعاګاني واردې شوي دي ، خو لیکن زیات ثواب په کومې دعا لوستلو کې دې؟ په دې کې اقوال دي :

۱... امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او احمد او محمد رَحِمَهُ اللهُ "سبحانک اللهم .... الخ" یعنې ثناء لوستلو لره غوره بولي .

۲... امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دعاء توجیه (اني وجهت وجهي للذي....الخ) لره غوره ګڼي .

۳... امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ ثناء او دعاء توجیه لره دجمع کولو قائله دي ، داحنافو په نزد مفتی به قول دادې چې فرائضو کې خو دې صرف ثناء اووائي ، باقي په نوافلو کې که دې سره کومه دعا غواړي او دې وائي.

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل : د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث : "كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ".

دجمهورو دلیل: دباب ټول مرفوع او موقوف حدیثونه کوم چې دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، علی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، محمد بن سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، انس بن مالک ، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه منقول دي او په دې کې دتکبیر او دقرأت په مینځ کې دڅه لوستلو ذکر شته .

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ته جواب : دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث مذکوره کې دجهري قرأت ابتداء مراد ده ، ددعاګانو سري قرأت ددې منافي دی . دغه شان په احادیثو کې تطبیق هم کیږي .

بَابُ التَّعَوُّذِ وَقِرَاءَةِ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ وَتَرْكِ الْجَهْرِ بِهِمَا

دا عوذ بالله او بسم الله په جهر سره د پریښودلو باب :

قَالَ تعالیٰ (فَإِذَا قَرَأْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْ بِاللهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ)

{۳۲۹} عَنِ الْأَسْوَدِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حِينَ افْتَتَحَ الصَّلَاةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ وَلَا إِلٰهَ غَيْرُكَ ثُمَّ يَتَعَوَّذُ رواه الدارقطني

Maktaba Tul Ishaat.com

واسناده صحيح.(۱)

الله تعالى په قران مجيد كې فرمايلي دي (فاذا قرأت القرآن فاستعذ بالله من الشيطان الرجيم) معنى دا چې كله ته قران لولې نو په الله سره پناه ونيسه د شيطان رټلي شوي نه.

ترجمه : اسود بن يزيد ويلي دي چې ما حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څخه وخت كې وليده چې مونږ يې شروع كاوه نو تكبيرونه يې وكړل يا يې سبحانك اللهم وبحمدك تبارك اسمك وتعالى جدك ولا اله غيرك ولوست يا يې اعوذ بالله وويله د دې حديث روايت الدار قطني كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۳۴۰} و عن أبي وائل قال كانوا يستروْنَ التَّعَوُّذَ وَالْبَسْمَلَةَ فِي الصَّلَاةِ سَعِيدِ بْنِ مَنْصُورٍ فِي سُنَنِهِ و اسناده صحيحٌ.(۲)

ترجمه : ابي وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې صحابه وُ به اعوذ بالله او بسم الله الرحمن الرحيم پټه په مانځه كې لوستله، د دې حديث روايت سعيد بن منصور په خپل سنن كې كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۳۴۱} وَ عَنْ لَعِيمٍ الْمُجْمِرِ قَالَ صَلَّيتُ وَرَاءَ أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَرأَ بِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ ثُمَّ قَرأَ بِأُمِّ القُرْآنِ حَتّٰى إِذَا بَلَغَ غَيرِ المَغْضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّآلِّينَ فَقَالَ آمِينَ فَقَالَ النَّاسُ آمِينَ وَ يَقُولُ كُلَّمَا سَجَدَ اللهُ أَكبَرُ وَإِذَا قَامَ مِنَ الجُلُوسِ فِي الِاثْنَتَينِ قَالَ اللهُ أَكبَرُ وَإِذَا سَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيدِهِ إِنِّي لَأَشْبَهُكُمْ صَلَاةً بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رواه النسائي والطحاوي وابن خزيمة وابن الجارود وابن حبان والحاكم والبيهقي واسناده صحيح.(۳)

ترجمه : نُعيم المجمر ويلي دي چې د ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې يې مونږ وكړنو هغه بسم الله

---

(۱) دارقطني كتاب الصلوة ج۱ صـ ۳۰۰ باب دعاء الاستفتاح بعد التكبير.

(۲) الدراية كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۳۵ باب صفة الصلوة نقلاً عن سعيد بن منصور.

(۳) نسائي كتاب الافتتاح ج۱صـ ۱۴۴ باب قراءة بسم الله الرحمٰن الرحيم، طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۳۷ باب قراءة بسم الله الرحمٰن الرحيم، صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۵۱ رقم الحديث ۴۹۹، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج ۴ صـ ۱۴۵ رقم الحديث ۱۷۹۸، مستدرك حاكم كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۳۲ باب ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قرأ في الصلوة بسم الله الرحمٰن الرحيم ...الخ بمعنى ابن جارود صـ ۷۲ برقم ۱۸۴ باب صفة الصلوة ورسول الله سنن الكبرىٰ للبيهقي ج۲صـ ۴۴ كتاب الصلوة باب افتتاح القراءة.

Maktaba Tul Ishaat.com

الرحمٰن الرحیم وویله یبا یې اُمُّ القرآن (فاتحه) ولوستله تر دې پورې چې کله یې غیر المغضوب علیهم ولا الضالین ولوسته نو هغه امین وویایه او خلکو هم امین وویایه او کله یې چې سجده کوله نو الله اکبر یې وویاه او کله چې د دوه و رکعتونو د جلسې نه پورته کیده الله اکبر یې وویایه او کله یې چې سلام وکړخاوه ویې فرمائل ځما په هغه ذات قسم دې چې ځما روح د هغه په قبضه کې دې چې زه ستاسې تولونه په مانځه کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره زیات مشابه یم د دې حدیث روایت النسائي، طحاوي، او ابن خزیمه رَحِمَهُ اللهُ او ابن جارود رَحِمَهُ اللهُ او ابن حبان او حاکم او بیهقي کړې دې. او اسناد یې صحیح دې.

{۳۴۲} وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبَا بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ بِاَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ رواه الشيخان وزاد مسلمٌ لَا يَذْكُرُونَ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ فِي اَوَّلِ قِرَاءَةٍ وَلَا فِي آخِرِهَا.(۱)

ترجمه : د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې بې شکه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مانځه شروع په الحمدلله رب العالمین سره کوله. د دې حدیث روایت شیخین کړې او مسلم دغه الفاظ زیات کړې چې هغو به د قرات په شروع او اخري کې د بسم الله الرحمٰن الرحیم ذکر نه کاوه.

{۳۴۳} وعنه قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَعُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَلَمْ اَسْمَعْ اَحَدًا مِنْهُمْ يَقْرَأُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : او د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي هغه ویلي دي چې د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې مې مونځ کړې د دې یو نه هم ما بسم الله الرحمٰن الرحیم نه ده اوریدلې د دې حدیث روایت مسلم کړې دې.

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۱۰۳ باب ما یقرأ بعد التکبیر، مسلم کتاب الصلوة ص ۱۷۲ باب حجة من قال لا یجهر بالبسملة.
(۲) مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۲ باب حجة من قال لا یجهر بالبسملة.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۲۴} وعنه قَالَ صَلَّيتُ خَلفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَأَبِي بَكرٍ وَعُمَرَ وَعُثمَانَ رضي الله عنهم فَلَم أَسمَع أَحَدًا مِنهُم يَجهَرُ بِبِسمِ اللهِ الرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ رواه النسائي و آخرون و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : او دحضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي هغه ويلي دي چې ماد رسول الله صلى الله عليه وسلم او ابي بكر رضي الله عنه او د عمر رضي الله عنه او د عثمان رضي الله عنه پسې روسته مونځ كړې دي د دي يو نه هم مانه دي اوريدلي چې په جهر سره يې بسم الله الرحمن الرحيم ويلي وي . د دي حديث روايت نسائي او اخرونو كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۳۲۵} وعن ابن عبد الله بن مُغَفَّلٍ رضي الله عنه قَالَ سَمِعَنِي أَبِي وَأَنَا فِي الصَّلَاةِ أَقُولُ بِسمِ اللهِ الرحمن الرحيمِ فَقَالَ لِي أَي بُنَيَّ مُحدَثٌ إِيَّاكَ وَالحَدَثَ قَالَ وَلَم أَرَ أَحَدًا مِنَ أَصحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ أَبغَضَ إِلَيهِ الحَدَثَ فِي الإِسلَامِ يعني مِنهُ و قَالَ قَد صَلَّيتُ مَعَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ أَبِي بَكرٍ رضي الله عنه وَمَعَ عُمَرَ رضي الله عنه وَمَعَ عُثمَانَ رضي الله عنه فَلَم أَسمَع أَحَدًا مِنهُم يَقُولُهَا فَلَا تَقُلهَا إِذَا أَنتَ صَلَّيتَ فَقُلِ الحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ رواه الترمذي و حسنه.(۲)

ترجمه : او عبد الله بن مُغَفَّل ويلي دي چې ځما نه ځما پلار په داسي حال كې واوريده چې زه په مانځه كې وم او ما بسم الله الرحمن الرحيم ويلو نو ماته يې وويل چې اي بچويه دا په دين كې نوي خبره ده په دين كې د نوي خبري نه ځان وساته وي ويل ما د اصحابو د رسول الله صلى الله عليه وسلم ديو كس نه هم نه دي ليدلي چې دير مبغوض وي ده ته د نوي خبري نه په اسلام او دين كې يعني د دينه اووي ويل چې په تحقيق ماد نبي عليه السلام ابوبكر رضي الله عنه عمر رضي الله عنه او د عثمان رضي الله عنه سره مونځونه كړي دي خو نه مي دي اوريدلي د دوي ديو كس نه چې بسم الله الرحمن الرحيم يې ويلي وي نو ته بسم الله الرحمن الرحيم مه وايه كله چې ته مونځ كوي نو الحمد لله رب العالمين وايه . د دي حديث روايت ترمذي كړي او حسن يې ګڼلي دي.

---

(۱) نسائي كتاب الافتتاح ج۱ ص ۱۴۵ باب ترك الجهر ببسم الله الرحمن الرحيم .

(۲) الرمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۵۷ باب ماجاء في ترك الجهر ببسم الله الرحمن الرحيم .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۴۶} و عن عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْجَهْرِ بِبِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ قَالَ ذٰلِكَ فِعْلُ الْأَعْرَابِ رواه الطحاوي و اسناده حسن. (۱)

ترجمه : په جهر سره د بسم الله الرحمن الرحيم په باره کې عکرمه د ابن عباس رضي الله عنه روايت کړي دي چې ابن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې دا فعل بانده چيانو شروع کړي دي. د دې حديث روايت طحاوي کړې دي او اسناد يې حسن دي.

مسئلة الباب : ددې باب لاندې دوه مختلف فيه مسائل دي :

اولنی مسئله : دقرأت نه مخکې دتعوذ او دتسميه حکم.

(۱) امام مالک رحمه الله تکبير تحريمه او دقرأت په مينځ کې ديو دعا يا دتعوذ او دتسميه قائله نه دي. (۲) جمهور علماء تعوذ او تسميه لره مسنون ګرځوي.

دامام مالک رحمه الله دليل :

۱... دانس رضي الله عنه حديث : " أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم وَ أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه وَ عُمَرَ رضي الله عنه كَانُوا يَفْتَتِحُونَ الصَّلَاةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ" دسورت نه دابتدا ذکر دي.

۲... حديث دعبدالله بن مغفل رضي الله عنه : " أَيْ بُنَيَّ! مُحْدَثٌ" بسم الله لوستلو ته ئې "بدعت" اويل او وي ويل چې زه په حضور صلى الله عليه وسلم حضرت ابوبکر رضي الله عنه ، عمر رضي الله عنه او عثمان رضي الله عنه به بسم الله نه لوستله.

دجمهور دليل : ۱. دابووائل حديث : "كَانُوا يُسِرُّونَ التَّعَوُّذَ وَالْبَسْمَلَةَ فِي الصَّلَاةِ".

۲. حديث دعمر رضي الله عنه موقوفا : "ثم يتعوذ".

۳. حضرت ابوهريره رضي الله عنه دقرأت نه مخکې بسم الله اولوستله او دمونځ دفراغت نه پس يې او فرمايل چې زه په ستاسو کې دټولو نه زيات دحضور صلى الله عليه وسلم په انداز سره مونځ کونکي يم.

امام مالک رحمه الله ته جواب : ۱. دانس رضي الله عنه په حديث کې مطلق أعوذ بالله ، بسم الله د لوستلو نه نفي نه کيږي بلکې جهراً تعوذ او دتسميه نفي کيږي ځکه چې همدغه روايت په نسائي کې په صحيح سند سره داسې راغلي دي : " فَلَمْ أَسْمَعْ أَحَدًا مِنْهُمْ يَقْرَأُ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ ".

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۴۰ باب قراءة بسم الله في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... د عبدالله بن مغفل په حدیث کې چونکه دده خوي په دومره اوچت آواز سره بسم الله اویله چې حضور ﷺ واوریده ، دده دلیل دا قول دي : " سَمِعَنِي أَبِي وَ أَنَا فِي الصَّلَاةِ أَقُولُ بِسْمِ اللهِ الرحمن الرحيمِ " لهذا ذ بدعت اطلاق په همدې جهرا بسم الله باندې کیږي د دې نه مطلق بسم الله لوستلو نفي نه کیږي . " فلا تقلها " معنی " فلا تجهربها " ده .

دویمه مسئله : بسم الله دې جهرا اولوستلې شي یا سرا ؟

د بسم الله په جهر او سر کې د مذهبونو اختلاف

: په دې باره کې دري مذهبونه دي (۱) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي په پته باندې بسم الله ویل هم مشروع نه دي : لا يقرأ ذلك احد لا سراً ولا علانية لا امام ولا غير امام .

(۲) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې د بسم الله لوستل سنت دي او ویلي یې دي چې بسم الله په جهري مونځونو کې په جهر سره سنت ده او په خفیه مونځونو کې په پته ویل سنت دي .

(۳) احناف رَحِمَهُمُ اللهُ وایي چې بسم الله ویل سنت دي په هر حال کې یې په پته سره ویل افضل دي برابره خبره ده چې جهري مونځونه وي او که خفیه وي د بعض شوافعو هم دغه مسلک دي امام ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ او ابن قیم رَحِمَهُ اللهُ هم په دې مسئله کې د احنافو سره ملګري دي .

د دري واړو مذهبونو دلیلونه : د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیلونه :

(۱) دلیل د دې (۳۴۵) حدیث کوم چې د عبدالله بن مغفل نه روایت شوي او امام ترمذي په خپل سنن کې ذکر کړي ابن مغفل ویلي دي چې زما پلار ځما نه په مانځه کې په جهر سره بسم الله واوریده نو هغه دا بدعت وګانړه او وي ویل چې ما د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او په خپله د نبي کریم ﷺ سره مونځونه کړي دي د یوه نه مي هم نه دي اوریدلي نو ته بسم الله مه وایه کله چې ته مونځ کوي نو الحمدلله رب العالمين وایه .

(۲) دلیل په دې باب کې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دري روایتونه راغلي دي (۳۴۲ - ۳۴۴) پوري د تولو مضمون او معنی یو شان اویو قسم ده لکه (كانوا يفتتحون بالحمدلله رب العالمين)

احناف د دي روایتونو په جواب کې وایي چې په دي روایتونو باندې استدلال کافي نه دي ځکه چې صحیحو او صریحو روایتونو کې راغلي دي چې رسول الله ﷺ او خلفاء راشدینو بسم الله لوستي ده لکه چې په همدې باب کې ذکر دي نو دغه روایتونه یې ولې پریخي دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳)د جهر روایتونه منسوخ دي امام ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ او علامه حازمي ویلي (روي الطبراني بأسناد صحيح عن ابن عباس ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يجهر بها اذا كان بمكة وانه لما هاجر الى المدينة ترك الجهر بها حتى مات.(۱)

ددي روایت نه معلومه شوه چې د جهر روایتونه منسوخ دي د دي وجهې نه د مالکیانو په مستدلو روایتونو کې مطلق ویل نفي شوي نه ده بلکه په جهر سره بسم الله ویل نفي شوي ده لکه چې د ابن مغفل د روایت الفاظو نه چې سمعني اي دي معلومه شوه چې بسم الله یې په جهر سره لوستي وه نو هغه په جهري بسم الله باندي بد وګڼل. او په حدیث کې د فلا تقلها معنی فلا تجهرها ده لکه چې د دي روایت په خپلې طریقو کې د فلا تقلها په ځای باندي فلا تجهرها الفاظ راغلي دي. او دغسې په اعلاء السنن کې د ابن عباس رضی الله عنهما نه روایت شوي دي چې هغه هم په دي باندي دلالت کوي چې د تسمیې د جهر مونځونه منسوخ دي وعن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اذا قرأ بسم الله الرحمن الرحيم هزأ منه المشركون وقالوا محمد يذكر اله اليمامه الخ (۲) یعنې معنی دا چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د بسم الله قرأت کولو مشرکانو به ور پورې خندل او ویل به یې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د یمامه د اله نوم یاد وي او مسیله خان ته رحمن او رحیم نومونه اینبودي وو نو کله چې دا آیت نازل شو چې لاتجهر نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ امر وکړو چې بسم الله په جهر سره مه وایي (۳) که چرته په اعتراض کې وویلي شي چې دا آیت خو په دعا کې نازل شوي دي او دا دواړه روایتونه په بخاري کې د بني اسرائیل په سورة کې راغلي دي نو په جواب کې به ویلي شي چې ددي آیت نزول په بسم الله الرحمن الرحیم کې خه منافي نه دي ولي خکه چې په یو آیت کې په تعدد د اسناد د نزول کې خه باک نشته.

د شوافعو د دلیلونو نه د احنافو جواب:

د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د ټولونه قوي او محکم دلیل د دي باب (۳۴۱) روایت دي چې نسائي او طحاوي دا روایت کړي دي نُعیم مجمر ویلي دي چې ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بسم الله قرات وکړو او بیا

(۱) كتاب الاعتبار للحازمي صـ ۸۰.

(۲) اعلاء السنن ج۲صـ۲۱۲ـ۲۱۳.

(۳) جمع الزوائد باب في بسم الله ج۱صـ۱۸۵ من المقدمه او ج۲صـ۱۰۸ من الصوم.

Maktaba Tul Ishaat.com

يې فاتحه لوستي ده او په اخر د حديث کې يې ويلي چې زه د مانځه په اعتبار سره د ستاسي نه زيات مشابه يم د رسول الله ﷺ سره .

زيلعي په نصب الرايه کې د دې جواب کړي ويلي يې دي چې (۱) دا روايت شاذ او معلول دي ځکه چې د حضرت ابو هريره رضي الله عنه (۸۰۰) شاګردان وُ د دوي نه څو کسانو دغه واقعه بيان کړي ليکن د نُعيم مجمر نه په غير يوه هم د بسم الله د قرات دغه جمله نه ده نقل کړي . دا د دي خبري دليل دي چې دغه روايت شاذ دي (ب) او که چرته بالفرض دي ته هم اعتبار ورکړي شي يا هم دغه روايت د شوافعو په مسلک باندي صريح نه دي ځکه چې د قرات د لفظ نه د نفس بسم الله قرءت ثابتيږي جهر تري نه ثابتيږي د دي وجهي نه د قرات په لفظ کې د بسم الله د سري قرات احتمال هم شته نو د دي روايت نه د شوافعو استدلال پوره او مکمل نه دي .(۱)

(۲) دليل : برسيره په دي چې نعيم محمر ذکر شوي روايت د شوافعو حافظ زيلعي د لطيفي په شکل کې يو کلام ذکر کړي دي . قوي مستدل دي خو ولي خطيب بغدادي رحمه الله او امام دار قطني د شوافعو په تائيد کې زيات روايتونه جمع کړي او ليکلي دي او خو ولي امام زيلعي رحمه الله په نصب الرايه کې د هغې تولونه جوابونه کړي دي او هغه ضعيف ګڼلي دي . لکه چې حافظ زيلعي رحمه الله په نصب الرايه کې د لطيفي په شکل کې يو کلام پيش کړي دي ويلي يې دي : چې امام دار قطني د بسم الله په جهر کې ډير روايتونه جمع کړي او يوه رساله يې جوړه کړي ده نو مالکيان هغه ته راغله او قسم يې ورکړ چې په دي کې صحيح روايت هم شته او که نه .

نوامام دار قطني په جواب کې وويل : په مانځه کې د بسم الله د جهر په باره کې چې د رسول الله ﷺ نه هر څه روايت شوي وي صحيح نه دي او د صحابه کرامو نه چې څه روايت شوي دي هغه ځيني صحيح او ځيني ضعيف دي . د امام دار قطني د اعتراف له مخې معلومه شوه چې د شوافعو استدلالات کمزوري دي .(۲)

د احنافو دلائل :

(۱) د دي باب (۳۴۳ ـ او ۳۴۴) شماره روايتونه چې د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت او نقل شوي دي چې اول حديث مسلم او دويم حديث نسائي روايت کړي د دواړو مضمون او مفهوم يو دي چې ما د

---

(۱) درس ترمذي ج۱ ص ۵۵۰ـ۵۰۱.

(۲) معارف السنن ج۲ ص ۳۶۶ بتغير.

Maktaba Tul Ishaat.com

حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې مونځ کړي د يوه نه مې هم نه دي اوريدلی چې بسم الله يې لوستلې ده او د نسائي په روايت کې د يقرا په ځای يجهر راغلي دي د دې نه معلومه شوه چې د مسلم په روايت کې د قرات د نفي نه د جهر نفي مراد ده .

په دې باب کې د عبدالله بن مغفل (۳۴۱) روايت هم د احنافو مستدل دي په دې روايت کې لا تقلها د لا تجهر بها په معنی سره دي . د نسائي په جلد اول کې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يو بل روايت دي تائيد شوي دي (صلى بنا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فلم يسمعنا قرأة بسم الله الرحمن الرحيم وصلى بنا ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فلم نسمعها منهما) يعنې معنی دا چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړو او بسم الله الرحمن الرحيم يې مونږ ته وانه وراوله او ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونږ ته مونځ وکړخو مونږ د دوی نه بسم الله وانه وريده . د دې نه معلومه شوه چې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث مقصد په جهر سره د بسم الله الرحمن الرحيم نفي ده نه د بسم الله د نفي قرات . شوافعو رَحِمَهُ اللهُ د عبدالله بن مغفل روايت مجهول ګڼرلي دي چې په دي وجه د دې روايت اعتبار ساقط. شوي خو ولې د حديث پوهانو د دې جواب کړي دي چې د ده نوم يزيد دي او د ده نه دري راويانو روايت کړي دي . دغه يزيد ابن عبدالله بن مغفل نه دا حديث قيس بن عبايه روايت کړي ، عبدالله بريده روايت کړي (۳۰) ابوسفيان طريف بن شهاب روايت کړي . (۱)

او د محدثينو قانون دا دي چې د دغسې راوي نه چې دوه راويان روايت وکړي نو جهالت يې ختميږي او دلته خو د ده نه روايت کوونکي د دوه ؤ نه زيات دي د همدي وجې نه امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ د عبدالله بن مغفل د حديث په روايت باندې د حسن حديث حکم کړي دي .

(۳) دليل : د حضرت عکرمه د حضرت بن عباس نه (۳۴۶) روايت دي چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جهري بسم الله الرحمن الرحيم لوستل د باندې چيانو عمل ګڼرلي دي .

(۴) دليل : عن ابي وائل قال كان علي وعبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا لا يجهران ببسم الله الرحمن الرحيم ولا بالتعوذ ولا بالتأمين . واحال اعلاء السنن بالطبراني في الكبير .

---

(۱) اعلاء السنن ج ۲ صـ ۲۱۶ ـ ۲۱۷ .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۵) دليل : ددي باب (۳۴۰) حديث هم د حضرت ابو وائل نه روايت شوي چې په دي کې د جمهورو صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فعل نقل شوي دي چې هغو بسم الله او اعوذبالله په رو لوستله

(۶) دليل :د ابووائل نه دي ، قال كان عمرو علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا لا يجهران ببسم الله الرحمٰن الرحيم ولا بالتعوذ ولا بالتأمين . (۱)

بابٌ فِي قِرَائَةِ الْفَاتِحَة

دا باب دی د فاتحې په لوستلو کې :

{۳۴۷} عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ رواه الجماعة .(۲)

ترجمه : حضرت عُباده ابن الصامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې نشته مونځ دهغه چاچې دکتاب فاتحه يې نه وي لوستلي .ددي حديث روايت جماعت کړي دي.

{۳۴۸} و عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَن صَلَّى صَلاَةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِي خِدَاجٌ يَقُولُهَا ثَلاَثًا رواه مسلم .(۳)

ترجمه : ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې هر څوک مونځ وکړي او په مانځه کې د کتاب فاتحه ونه لولي نو مونځ يې ناقص دي دا کلمه يې دري ځلي تکرار کړه . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

{۳۴۹} وعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ صَلَّى صَلاَةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَهِي خِدَاجٌ رواه احمد وابن ماجه والطحاوي واسناده حسن .(۴)

---

(۱) شرح معاني الآثار ج ۱ .

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۰۲ باب وجوب القراءة للامام والمأموم ..... مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۶۹ باب وجوب القراءة الفاتحة في كل ركعة.....ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۱۹ باب من ترك القراءة في صلوته ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۵۷ باب ماجاء انه لاصلوة الابفاتحة الكتاب، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ ص۱۳۵ باب ايجاب القراءة فاتحة الكتاب .....ابن ماجة ابواب الصلوة صـ ۶۰ باب القراءة خلف الامام، مسند احمد ج۵ صـ ۳۱۴.

(۳) مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۷۰ باب وجوب القراءة الفاتحة في كل ركعة .

(۴) مسند احمد ج۶ صـ ۱۴۲ ، ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۶۱ باب القراءة خلف الامام . طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۴۸ باب القراءة خلف الامام .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمائل يې چې څوک مونځ وکړي او ام القران يعني سورت فاتحه پکې ونه لولي نو دا مونځ نيمګړي اوناقص دي. داحديث احمد رَحِمَهُ اللهُ ابن ماجه او طحاوي روايت کړي او اسنادیې حسن دي.

{۳۵۰} وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أُمِرْنَا أَنْ نَقْرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَمَا تَيَسَّرَ رواه ابوداود و احمد و ابويعلى وابن حبان و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : او د ابوسعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې مونږ ته امر کړي شوي دي چې مونږ فاتحه او د قران کريم نه هغه څه ولولو چې مونږ ته اسان وي . د دي حديث روايت ابوداؤد رَحِمَهُ اللهُ ، احمد رَحِمَهُ اللهُ ، ابو يعلى او ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۳۵۱} وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ الزُّرَقِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكَانَ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ فَصَلَّى قَرِيبًا مِنْهُ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ لَهُ أَعِدْ صَلَاتَكَ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ عَلِّمْنِي كَيْفَ أَصْنَعُ قَالَ إِذَا اسْتَقْبَلْتَ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا شِئْتَ فَإِذَا رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ وَمَكِّنْ لِرُكُوعِكَ فَإِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ فَأَقِمْ صُلْبَكَ حَتَّى تَرْجِعَ الْعِظَامُ إِلَى مَفَاصِلِهَا فَإِذَا سَجَدْتَ فَمَكِّنْ لِسُجُودِكَ فَإِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ فَاجْلِسْ عَلَى فَخِذِكَ الْيُسْرَى ثُمَّ اصْنَعْ ذَلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ رواه احمد واسناده حسن .(۲)

ترجمه : او د حضرت رفاعه بن رافع الزرقي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابو څخې وُو ويلي يې دي چې يو سړي راغې او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جمات (مسجد) کې تشريف فرما وُو نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته يې نزدې مونځ وکړو بيا نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته واپس راغې نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمائل چې خپل مونځ راوګرځوده بې شکه تا مونځ نه دي کړي نو هغه سړي نبي عَلَيْهِ السَّلَام ته وويلي چې اي دالله تعالى رسوله ماته وښايه څنګه يې وکړم نبي عَلَيْهِ السَّلَام ورته وفرمائل چې کله ته قبلې ته مخامخ شي نو تکبير وکړه بيا ام القران يعني سورت فاتحه ولوله بيا دي چې څه خوښه يې هغه ولوله نو کله

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج ۱ صـ ۱۱۸ باب من ترک القراءة في صلاته ، مسند احمد ج ۳ صـ ۳۰ ، صحيح ابن حبان کتاب الصلوة ج ۳ صـ ۱۴۰ رقم ۱۷۸۷ ، مسند ابي يعلى ج ۲ صـ ۴۱۷ رقم الحديث ۱۲۳۶. (۱۲۱۰).

(۲) مسند احمد ج ۴ صـ ۳۴۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

چې ته رکوع کوي نو ورغوي خپلو په زنګنونو باندې کیده او شا خوره او هوار، کړه او په اطمنان او ارام سره رکوع وکړه نو ګله چې ته سر راپورته کړي نو شا او ملا نیغه کړه تر څو پورې چې هډوکي خپلو بندونو ته ورسیږي او کله چې ته سجده کوي نو په اطمنان او ارام سره سجده وکړه نو کله چې ته سر راپورته کړي نو په ګس او چپ پتون باندې کینه ییا په هر رکعت کې دغه کار کوه ...د دې حدیث روایت احمد رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد یې حسن دي.

مسئلة الباب : په مونځ کې خو مطلق قرأت فرض دی لیکن خاص دسورہ فاتحې په فرضیت کې اختلاف دې:

(۱) دائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ په نزد سورہ فاتحه فرض ده.

(۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد سورہ فاتحه او ضم دسورت یو حکم دې یعنې دواړه واجب دي که مطلق قرأت یې او کړو نو مونځ یې کیږي البته دیو په پریخودلو سره پرې سجده سهوه لازمیږي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ مضبوط دلیل :

۱... حدیث دعباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ " .

۲... حدیث دابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : " مَنْ صَلَّى صَلَاةً لَمْ يَقْرَأْ فِيهَا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَهِيَ خِدَاجٌ " .

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل:

۱... حدیث دابوسعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " أُمِرْنَا أَنْ نَقْرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَمَا تَيَسَّرَ " په دې کې سورہ فاتحه او "ماتیسر" یعنې ضم دسورت ددواړو ویل په یو درجه کې لازم ګرځولې شوي دي.

۲... درفاعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث یعنې حدیث مسیئ الصلاة : " ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا شِئْتَ " په دې کې هم دمونځ طریقه دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ډبه ذا بنودل شوي ده چې دسورہ فاتحې نه پس هم څه ویل واجب دي فان الامر للوجوب لهذا په دواړو کې فرق کول صحیح نه دي.

ائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱.دعباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث الفاظ په مختلف روایتونو کې مختلف وارد شوي دي، مثلا : " بفاتحة الكتاب فصاعدا " ، بفاتحة الكتاب وسورة" ، "بفاتحة الكتاب وهينا" وغیره ، حاصل دټولو همدغه دي چې سورہ فاتحه اودې سره یوڅو آیتونو نه لوستلو والا مونځ نه کیږي ، دفساد صلاة مدار صرف دسورہ فاتحې په نه لوستلو باندې نه دي بلکې دفاتحې او سورت دراړو باندې دی.

Maktaba Tul Ishaat

۲. حدیث دابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کې "خداج" په معنی دناقص دی ، او په کوم مونځ کې چې واجب پاتې شي هغه یقینا ناقص او واجب الاعاده دي ددې نه دسوره فاتحې فرضیت نه ثابتیږي.

بَابٌ فِي الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْإِمَامِ

دا باب دامام پسې د قرات په باره کې دي

{۳۵۲} عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ رواه الشيخان و قَدْ تَقَدَّمَ حديثُ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَ النِّيمَوِي وَفِي الْإِسْتِدْلَالِ بِهٰذِهِ الْأَحَادِيثِ نَظَرٌ .(۱)

ترجمه : دا باب دامام پسې د قرات په باره کې دي :او د عباده ابن الصامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي هغه ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې د هغه چا مونځ نشته چې هغه د فاتحې سورت نوي لوستلي . د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي او د حضرت ابي هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حدیث تیر شوي دي . نیموي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې په دي احادیثو باندې د استدلال په باره کې نظر او اعتراض دي .

{۳۵۳} و عنه قَالَ كُنَّا خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ فَقَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَثَقُلَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ لَعَلَّكُمْ تَقْرَءُونَ وَنَ خَلْفَ إِمَامِكُمْ قُلْنَا نَعَمْ هٰذًا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ لَا تَفْعَلُوا إِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَمْ يَقْرَأْ بِهَا رواه ابوداود والترمذي والبخاري في جزء القِرَاءة وآخرون قال النِّيمَوِي فِيهِ مَكْحُولٌ وَهُوَ يُدَلِّسُ رواه مُعَنْعَنًا وَقَدِ اضْطَرَبَ فِي إِسْنَادِهِ وَمَعَ ذٰلِكَ قَدْ تَفَرَّدَ بِذِكْرِ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ عَنْ عُبَادَةَ فِي طَرِيقِ مَكْحُولٍ مُحَمَّدُ بْنُ إِسْحَاقَ وَهُوَ لَا يَحْتَجُّ بِمَا انْفَرَدَ بِهِ فَالْحَدِيثُ مَعْلُولٌ بِقَلَاقَةِ وُجُوهٍ .(۲)

ترجمه : حضرت عباده بن صامت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې مونږ د سحر په مانځه کې د رسول الله

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۴ باب وجوب القراءة الامام والمأموم ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۹ باب وجوب القراءة الفاتحة في كل ركعة ...الخ .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۱۹ باب من ترك القراءة في صلوته ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۷ باب ماجاء انه لا صلوة الا بفاتحة الكتاب ، جزء القراءة للبخاري ص ۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسي وُ نو په رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي قرأت درون شو نو کله چې د مانځه نه فارغ شو وي فرمائل چې ښايي چې تاسي د خپل امام پسي قرات وايي مونږ وويل : چې هو اي دالله رسوله هغه وفرمائل چې د قرات فعل مه کوئ خو ولي د فاتحي قرات کوئ ځکه چې شان د خبري دا دي نشته مونځ د هغه چا د پاره چې د فاتحي قرات يې نه وي کړي . د دي حديث روايت ابوداؤد او ترمذي کړي او د قرات په جزء کې بخاري کړي او اخرونو کړي .

نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې د دي روايت په سند کې مکحول دي او هغه به تدليس کاوه او د ده نه دغه روايت معنعن نقل شوي او هغه د ده په اسناد کې مضطرب هم دي او د دې سره سره د مکحول په سند کې دا حديث د حضرت عباده نه په نقل کولو کې د محمود بن ربيع ذکر فقط واځي محمد بن اسحاق کړي دي او په دي سند کې محمد بن اسحاقيواځي دي په دي حديث سره استدلال نشي کيدي نو دا حديث په دريو طريقو او وجوهو سره معلول دي .

{۳۵۲} وَعَنْ نَافِعِ بْنِ مَحْمُوْدِ بْنِ رَبِيْعٍ الْاَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَبْطَأَ عُبَادَةُ عَنْ صَلَاةِ الصُّبْحِ فَاَقَامَ اَبُوْنُعَيْمَةَ الْمُؤَذِّنُ الصَّلَاةَ فَيَصَلِّي اَبُوْلُبَيْدٍ بِالنَّاسِ وَاَقْبَلَ عُبَادَةُ وَاَنَا مَعَهُ حَتّٰى صَفَفْنَا خَلْفَ اَبِيْ لُبَيْدٍ وَ اَبُوْلُبَيْدٍ يَجْهَرُ بِالْقِرَاءَةِ فَجَعَلَ عُبَادَةُ يَقْرَأُ بِاُمِّ الْقُرْاٰنِ فَلَمَّا انْصَرَفَ قُلْتُ لِعُبَادَةَ سَمِعْتُكَ تَقْرَأُ بِاُمِّ الْقُرْاٰنِ وَ اَبُوْلُبَيْدٍ يَجْهَرُ يَجْهَرُ قَالَ اَجَلْ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضَ الصَّلَوَاتِ الَّتِيْ يَجْهَرُ فِيْهَا الْقِرَاءَةَ قَالَ فَالْتُبِسَتْ عَلَيْهِ الْقِرَاءَةُ فَلَمَّا انْصَرَفَ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ فَقَالَ هَلْ تَقْرَئُوْنَ وَاِذَا جَهَرْتُ بِالْقِرَاءَةِ فَقَالَ بَعْضُنَا اِنَّا لَنَصْنَعُ ذٰلِكَ قَالَ لَا تَفْعَلُوْا وَاَنَا اَقُوْلُ مَالِيْ يُنَازَعُنِّي الْقُرْاٰنُ فَلَا تَقْرَءُوْا بِشَيْءٍ مِّنَ الْقُرْاٰنِ اِذَا جَهَرْتُ اِلَّا بِاُمِّ الْقُرْاٰنِ رواه ابوداود والنسائي والبخاري في جزء القراءة و خلق افعال العباد و آخرون و فيه مستور. (۱)

ترجمه: نافع بن محمود بن ربيع الانصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې حضرت عُباده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دسحر د مانځه نه روسته شو . نو ابونعيم مؤذن مانځه ته ودريده ابو نعيم خلکو ته مونځ کاوه او عباده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ راغلي او زه ورسره وم تر دي پوري چې مونږ د ابو نعيم پسي صفونه جوړ کړل او ابونعيم په جهر سره قرات کاوه نو عباده د فاتحي په لوستلو شروع وکړه نو کله چې د مانځه نه فارغ شو ما

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۹ باب من ترک القراءة في صلوته، نسائي کتاب الافتتاح ج۱ص ۱۴۶ باب قراءة ام القرآن خلف الامام فيما جهر به الامام ، جزء القراءة للبخاري ص ۲۲ برقم ۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

عباده ته وويل چې ستا نه ما په داسي حال کې د فاتحې قرات واوريده چې ابو نعيم په جهر سره قرات لوسته عباده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ووېل چې هو مونږ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې ځينې داسي مونځونه ادا کړي دي چې په هغې کې په زوره قرات لوستلي شو نو په هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې قرات کړو ي شو کله چې د مانځه نه فارغ شو نو مونږ ته يې مخ مبارک راوګرځاوه نو وي ويل ايا کله چې زه په جهر سره قرات کوم تاسي ته تاسو هم قرءت کوئ نو زمونږ بعض کسانو ووېل چې بې شکه مونږ دا کار کوو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائل چې داسي مه کوئ. زه وايم چې څه دي مالره چې ما سره په قران کې جګړه کوي د قران مجيد ځيني يو شي هم مه لوئ کله چې زه په جهر سره قرات کوم مګر خو سورت فاتحه لوئ. د دې حديث روايت ابوداؤد او نسائي کړي او بخاري د قرات په جزء او په خلق افعال العباد کې روايت کړي.

قَالَ النيموي إِنَّ حَدِيثَ عُبَادَةَ بنِ الصَّامِتِ فِي الْقِرَاءَةِ قَدْ رُوِيَ بِوُجُوهٍ كُلُّهَا ضَعِيفَةٌ .

ترجمه : امام نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې د حضرت عباده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث د قرأت د التباس په باره کې په ډيرو لارو سره روايت شوي دي او ټولې لاري ضعيفې دي .

{۳۵۵} وَعَنْ أَبِي قِلَابَةَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِأَصْحَابِهِ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ أَقْبَلَ عَلَيْهِمْ بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَتَقْرَءُونَ فِي صَلَاتِكُمْ خَلْفَ الْإِمَامِ وَالْإِمَامُ يَقْرَأُ فَسَكَتُوا فَقَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَالَ قَائِلٌ أَوْ قَائِلُونَ إِنَّا لَنَفْعَلُ قَالَ فَلَا تَفْعَلُوا وَلْيَقْرَأْ أَحَدُكُمْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ فِي نَفْسِهِ رواه البخاري في جزء القراءة و آخرون و اعله البيهقي بأن هذه الطريق غير محفوظة .(۱)

ترجمه : ابي قلابه رَحِمَهُ اللّٰهُ د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کړي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو اصحابو ته مونځ وکړ چې کله يې مونځ ادا کړو نو صحابه وُ کرامو ته يې مبارک مخ راوګرزاوه نو وي فرمائل چې ايا تاسي د امام پسې په خپل مانځه کې قرات لوئ نو دوي چپ شول نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام دري ځله دغه وينا وکړه نو يو اويا ډيرو کسانو ووېل چې خامخا مونږ دغه کار کوو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائل چې داسي مه کوئ ودي لولي يو ستاسي د فاتحې سورت په خپل زړه کې . د دې حديث روايت د قرات په جزء کې بخاري کړي دي او اخرونو کړي او بيهقي دغه روايت معلول ګڼلې دي په دې وجه چې دغه طريقه غير محفوظ ده .

---

(۱) جزء القراءة للبخاري صـ ۲۳ برقم ۳۵ ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج ۲صـ ۱۶۴ باب من قال لا يقرأ خلف الامام علمي الاطلاق .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۵۶} وَ عَنه عَن مُحَمَّدِ بنِ أَبِي عَائِشَة عَن رَجُلٍ مِّن أَصحَابِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ : قَالَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَعَلَّكُم تَقرَءُونَ وَالإِمَامُ يَقرَأُ مَرَّتَينِ أَو ثَلَاثًا قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّا لَنَفعَلُ قَالَ لَا تَفعَلُوا إِلَّا أَن يَقرَأَ أَحَدُكُم بِفَاتِحَة الكِتَاب رواه احمد و آخرون و اسناده ضعيف .(۱)

ترجمه : او ابي قلابي د محمد بن ابي عائشه نه او هغه د نبي عليه السلام د اصحابو د يو سړي نه روايت کړي دي ويلي يې دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي کيدي شي چې امام قرأت لولي تاسي هم قرأت لولئ دغه خبره يې دوه ځلي يا دري ځلي و فرمائله هغوي وويل چې اي الله رسوله مونږ خامخا په تحقيق سره دغه کار کوؤ نبي عليه السلام و فرمائل چې تاسي دا کار مه کوئ مګر چې يو کس ستاسي نه د فاتحي سورت لولي . دغه حديث احمد او نورو محدثينو روايت کړي او اسناد يې ضعيف دي .

{۲۵۷} عَن أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن صَلَّى صَلَاةً لَم يَقرَأ فِيهَا بِأُمِّ القُرآنِ فَهِي خِدَاجٌ ثَلَاثًا غَيرُ تَمَامٍ فَقِيلَ لِأَبِي هُرَيرَةَ إِنَّا نَكُونُ وَرَاءَ الإِمَامِ فَقَالَ اقرَأ بِهَا فِي نَفسِكَ فَإِنِّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَالَ اللهُ تَعَالَى قَسَمتُ الصَّلَاةَ بَينِي وَبَينَ عَبدِي نِصفَينِ وَ لِعَبدِي مَا سَأَلَ فَإِذَا قَالَ العَبدُ اَلحَمدُ لِلّٰهِ رَبِّ العَالَمِينَ قَالَ اللهُ تَعَالَى حَمِدَنِي عَبدِي وَ إِذَا قَالَ اَلرَّحمٰنِ الرَّحِيمِ قَالَ أَثنَى عَلَيَّ عَبدِي وَإِذَا قَالَ مَالِكِ يَومِ الدِّينِ قَالَ مَجَّدَنِي عَبدِي وَإِذَا قَالَ إِيَّاكَ نَعبُدُ وَإِيَّاكَ نَستَعِينُ قَالَ هٰذَا بَينِي وَبَينَ عَبدِي وَلِعَبدِي مَا سَأَلَ وَإِذَا قَالَ اِهدِنَا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِم غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِم وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ هٰذَا لِعَبدِي وَلِعَبدِي مَا سَأَلَ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : د حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي چې څوک مونځ وکړي او په دې کې د فاتحي سورت ونه وايي نو دغه مونځ ناقص دي دري ځله يې وفرمائل چې دغه مونځ ناقص دي ابو هريره رضي الله عنه ته چا وويل چې مونږ د امام نه روسته يو نو هغه ورته وويل چې په خپل زړه کې يې لوله ځکه چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې

---

(۱) مسند احمد ج ۵ ص ۶۰.

(۲) مسلم كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۶۹ باب وجوب القراءة في كل ركعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

فرمائل يې چې سورت صلاة يعني سورت فاتحه ځما او ځما د بنده تر مينځ تقسيم کړي شوي نيمه شوي ده او ځما د بنده د پاره هغه څه دي چې غوښتي يې دي نو کله چې بنده ووايي چې الحمدلله رب العالمين نو الله تعالى وفرمايي چې ځما بنده ځما ثناء ووايله او کله چې بنده الرحمٰن الرحيم ووايي نو الله وفرمايي چې ځما بنده ځما صفت وکړ او کله چې بنده مالک يوم الدين ووايي نو الله تعالى وفرمايي چې ځما بنده ځما لويي بيان کړه او کله چې بنده ايا ک نعبد وايا ک نستعين ووايي نو الله تعالى وفرمايي چې دا ځما او ځما د بنده تر منځ ده او کله چې بنده اهدنا الصراط المستقيم صراط الذين انعمت عليهم غير المغضوب عليهم ولا الضالين .الله تعالى وفرمايي چې دا ځما د بنده د پاره دي او ځما د بنده د پاره هغه څه دي چې هغه يې سوال کړي دي.

{۳۵۸} وَ عَنه قَالَ إِذَا قَرَأَ الإِمَامُ بِأُمِّ القُرآنِ فَاقْرَأْ بِهَا وَاسبِقْه فَإِنَّه إِذَا قَالَ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَتِ المَلَائِكَةُ آمِينَ مَن وَافَقَ قَولُه قَولَ المَلَائِكَةِ غُفِرَ لَه مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنبِه رواه البخاري في جزء القراءة واسناده حسن.(۱)

ترجمه : او د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې کله امام ام القرآن يعني سورت فاتحه لولي نو ته يې هم ولوله او د هغه نه وړاندي او مخکې شه بې شکه شان دا دي چې کله هغه ولا الضالين ووايي ملائکې امين وايي د چا امين چې د ملائکو د امين سره موافق شي وړاو لاټه ده چې د هغو دعا قبوله شي . د قرات په جزء کې بخاري د دې حديث روايت کړي دي او اسناد يې حسن دي.

قال النيموي وفي الباب آثار أخر عن الصحابة رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ.

ترجمه : نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې په باب کې د صحابه و�ؤ نه نور اثار هم شته.

مسئلة الباب :

امام پسې د قرأت حکم

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دراجح قول په بناء باندې قرأت د فاتحې خلف الامام پسې فرض ده که جهري مونځ وي او که سري.

---

(۱) جزء القراءة للبخاري صـ ۷۳ برقم ۱۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) باقي ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دقرأت خلف الامام فرض کيدو باندې خو متفق نه دي ، البته ددوي په نزد په دې کې څه لږ شان تفصيل دي :

۱.دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په جهري مونځ کې قرأت مکروه دي او په سري کې ددوارو نه صرف جائز يا جائز مع الاستحباب مروي دي .

۲.دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد قرأت خلف الامام مطلقا جائز نه دي ، بلکې دراجح قول مطابق جهري او سري هر قسمه مونځ کې قرأت خلف الامام مکروه تحريمي دي .

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل :

د باب ټول احاديث د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دليلونه دي ، دکوم چې اجمالي بيان دادي :

۱.دعباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : " لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَّمْ يَقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ " په دې کې "صلاة" عام دې جهريه وي او که سريه ، فرض وي يا نفل او د "من" نه عموم مصلى طرفته اشاره ده ، که منفرد وي يا امام ،يا مقتدي يعني دچا هم هيڅ يو مونځ بغير دسوره فاتحې نه بغير صحيح نه دي ، لهذا خلف الامام فرضيت ثابت شو .

۲.دعباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث کوم کې چې دسحر په مونځ کې اختلاط قرأت على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذکر دې او ددې په آخر کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا صريح ارشاد دي : " لَا تَفْعَلُوْا اِلَّا بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ " په جهري مونځ کې هم دمقتدي لپاره دسوره فاتحې استثناء کړې شوې ده .

۳...دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث موقوفا : " اِذَا قَرَأَ الْاِمَامُ بِأُمِّ الْقُرْآنِ فَاقْرَأُ بِهَا وَاسْبِقْهُ " .

۴...دعمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، او دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل .

بَابُ فِي تَرْكِ الْقِرَاءَةِ خَلْفَ الْاِمَامِ فِي الْجَهْرِيَّةِ

دباب دې په جهري مونځونو کې امام پسې دقرأت نه کولو په بيان کې

قَالَ اللهُ تَعَالٰى وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوْا لَهٗ وَاَنْصِتُوْا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُوْنَ .

ترجمه :او چې کله قرآن اولوستلې شي نو هغه په غور سره واورئ او چپ اوسئ ، کيداى شي چې پرتاسو رحم اوکړې شي :

{۳۵۹} عَنْ اَبِيْ مُوْسٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ عَلَّمَنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا قُمْتُمْ اِلَى الصَّلَاةِ

Maktaba Tul Ishaat.com

فَلَيْؤُمَّكُم اَحَدُكُم وَاِذَا قَرَأَ الْاِمَامُ فَانْصِتُوا رواه احمد ومسلم وهو حديث صحيح .(۱)

ترجمه : په جهري مانځه کې د امام پسې د قرات د پريخودلو باب :الله تعالى فرمايلي او کله چې قرآن کريم لوستلي شي نو غوږ ورته کيږدئ او چپ شئ دي د پاره چې په تاسو باندې رحم وکړي شي. ابو موسي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تعليم راکاوه فرمائلي يې دي چې کله تاسو مانځه ته اراده وکړئ نو امامت دي وکړي تاسو ته يو ستاسي او کله چې امام قرات کوي نو چپ اوسئ. د دي حديث روايت احمد او مسلم کړي دي او دغه حديث صحيح دي .

{۳۶۰} عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَلَا تَكْبَرُوا وَاِذَا قَرَأَ فَانْصِتُوا رواه الخمسة الا الترمذي وهذا حديث صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې بې شکه امام د دي د پاره مقرر کړي شوي دي چې اقتداء ورپسي وشي نو کله چې امام نکبير وکړي نو تاسو هم تکبير ووايي او کله چې امام قرات کوي نو تاسو چپ شي . د دي حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي خو ولي ترمذي نه دي روايت کړي او دا حديث صحيح دي .

{۳۶۱} وَعَنْ سُفْيَانَ بْنِ عُيَيْنَةَ عَنِ الزُّهْرِيِّ عَنِ ابْنِ اُكَيْمَةَ قَالَ سَمِعْتُ اَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُوْلُ صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِاَصْحَابِهِ صَلَاةً نَظُنُّ اَنَّهَا الصُّبْحُ فَقَالَ هل قَرَأَ مِنكُم اَحَدٌ قَالَ رَجُلٌ اَنَا قَالَ اِنِّي اَقُوْلُ مَالِي اُنَازَعُ الْقُرْآنَ رواه ابن ماجه واسناده صحيح .(۳)

ترجمه : د سفيان بن عيينه نه روايت دي هغه د زهري نه روايت کړي او هغه د ابن اُکيمه نه روايت کړي هغه ويلي دي چې ما د ابي هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه اوريدلي دي چې ويل به يې چې نبي عَلَيْهِ السَّلَام اصحابو ته مونځ وکړ مونږ ګمان کوو چې دغه مونځ د سحر مونځ وُ نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام وفرمائل چې ايا يو کس د ستاسي نه قرات لوستلي دي يو سړي وويل چې قرات ما لوستي دي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې زه وايم چې څه دي ما لره چې ما سره په قران کريم جګړه کولي شي . د دي حديث روايت ابن ماجه کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) مسند احمد ج۴ صـ ۴۱۴ ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۷۴ باب التشهد في الصلوة .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۸۹ باب الامام يصلي من قعود ، نسائي كتاب الافتتاح ج ۱ صـ ۱۴۶ باب تاويل قوله اذا قرئ القرآن ، ابن ماجة ابواب الصلوة صـ ۶۱ باب اذا قرأ الامام فانصتوا ، مسند احمد ج۲ صـ ۳۷۶ .

(۳) ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۶۱ باب اذا قرأ الامام فانصتوا .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئلة الباب : ددې باب دحديثونو نه ددې خبرې ثبوت ملاويږي چې په جهري مونځونو کې قرأت خلف الامام نه دي کول پکار او همدا قول دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ او دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ دي .

دلائلو باندې يو نظر : امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دباب په احاديثو کې دقرأت امام تشريح په قرأت جهريه سره کوي ، ځکه داتول حديثونه ددوي هم دليل جوړيږي کماهي للامام أبي حنيفه رَحِمَهُ اللهُ.

بَابٌ فِي تَرْكِ القِرَاءَةِ خَلْفَ الإِمَامِ فِي الصَّلَوَاتِ كُلِّهَا

په ټولو مونځونو کې دامام پسې د قرأة د پريښودلو باب :

{۳۶۲} عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الظُّهْرَ فَجَعَلَ رَجُلٌ يَقْرَأُ خَلْفَهُ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ أَيُّكُمْ قَرَأَ أَوْ أَيُّكُمُ الْقَارِي قَالَ رَجُلٌ أَنَا فَقَالَ قَدْ ظَنَنْتُ أَنَّ بَعْضَكُمْ خَالَجَنِيهَا رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپخين مونځ کاوه نو يو سړي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې د سبح اسم ربک الاعلى د سورت قرأت شروع کړ نو کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلام وګرځاوه وې فرمائل ستاسي کوم کس قرأت کاوه او يا کوم کس ستاسي قرأت کوونکي وُ يو سړي وويل چې ما نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې په تحقيق ما ګمان کاوه چې ستاسي نه کوم څوک ما سره جګړه کوي . دغه حديث مسلم روايت کړي دي .

{۳۶۳} وَعَنْ أَبِي الأَحْوَصِ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانُوا يَقْرَؤُونَ خَلْفَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اخْلِطُوا عَلَيْهِ الْقِرَاءَةَ رواه الطحاوي والطبراني واسناده حسن .(۲)

ترجمه : د ابي الاحوص رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دي چې عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې خلکو به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې قرأت کاوه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې تاسو په مابانديقرأت

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۷۲ باب في المأموم عن جهره بالقرأة خلف امامه .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۴۹ باب القراءة خلف الامام ، مسند احمد ج۱ ص ۴۵۱ ، كشف الاستار عن زوائد البزار ج۱ ص ۲۴۹ باب القراءة خلف الامام برقم ۴۸۸ ، مسند ابي يعلى ج ۸ ص ۴۲۳ رقم ۵۰۰۴ ، مجمع الزوائد ج۱ ص ۱۱۰ وقال الهيثمي رجال احمد رجال الصحيح ، مجمع الزوائد ج۲ ص ۱۱۱ فتش واجعل للمعجم الكبير

Maktaba Tul Ishaat.com

کډوډ کړ. دا حدیث طحاوي او طبراني روایت کړي دي.

{۳۶۴} وَعَن جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَن كَانَ لَهُ إِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الإِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ رواه الحافظ احمد بن منيع في مسنده و محمد بن الحسن في الموطأ و الطحاوي والدار قطني و اسناده صحيح. (۱)

ترجمه: د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي هغه ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې دچاامام وي نو دامام قرات دهغه قرات دي. دا حدیث احمدبن منیع په مسند کې روایت کړي او محمد بن الحسن په موطأ کې روایت کړي او طحاوي او دار قطني روایت کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

{۳۶۵} عَن نَافِعٍ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِذَا صَلَّى أَحَدُكُم خَلفَ الإِمَامِ فَحَسبُهُ قِرَاءَةُ الإِمَامِ وَإِذَا صَلَّى وَحدَهُ فَليقرَأ قَالَ وَكَانَ عَبدُ اللهِ لَا يقرَأُ خَلفَ الإِمَامِ رواه مالک في الموطأ و اسناده صحيح. (۲)

ترجمه: نافع د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کړي هغه ویلي دي کله چې یو ستاسي نه د امام پسې مونځ کوي نو قرات د امام کافي او بس دي هغه لره او کله چې ځوم کسیواحې مونځ کوي نو قرات دي کوي. نافع ویلي دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د امام پسې قرات نه کاوه. د دي حدیث روایت په موطا کې مالک رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

{۳۶۶} وَعَن وَهبِ بنِ كيسَانَ أَنَّه سَمِعَ جَابِرَ بنَ عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يقُولُ مَن صَلَّى رَكعَةً لَم يقرَأ فِيهَا بِأُمِّ القُرآنِ فَلَم يصَلِّ إِلَّا وَرَاءَ الإِمَامِ رواه مالک و اسناده صحيح. (۳)

ترجمه: د وهب بن کیسان نه روایت دي چې هغه د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوریدلي دي چې ویل به یې کوم کس چې یو رکعت مونځ وکړي او فاتحه پکې ونه لولي هغه مونځ هم نه دي کړي مګر خو هغه چې امام پسې وي د دي حدیث روایت مالک رَحِمَهُ اللهُ کړي او اسناد یې صحیح دي.

---

(۱) مؤطا امام محمد صـ ۹۶ باب القراءة في الصلوة خلف الامام، طحاوي كتاب الطهارة ج ۱ صـ ۱۴۹ باب القراءة خلف الامام، دار قطني كتاب الصلوة ج۱ صـ ۳۲۳باب ذكرقوله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من كان له امام ...الخ بقية الا تعي لي تخريج الزيلعي حاشية نصب الراية ج۲ صـ ۷ نقلاً عن مسند احمد بن منيع.

(۲) مؤطا امام مالک، كتاب الصلوة صـ ۶۸ باب ترک القراءة خلف الامام فيما جهر به.

(۳) مؤطا امام مالک كتاب الصلوة صـ ۶۶ باب ماجاء في ام القرآن، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۷۱ باب ماجاء في ترک القراءة خلف الامام اذا جهر بالقراءة، طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ صـ ۱۴۹باب القراءة خلف الامام.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳٦۷} وَعَن عَطَاء بنِ يسَارٍ أَنَّه سَأَلَ زَيدَ بنَ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَنِ القِرَاءَةِ مَعَ الإِمَامِ فَقَالَ لَا قِرَاءَةَ مَعَ الإِمَامِ فِي شَيءٍ رواه مسلم في باب سجود التلاوة .(۱)

ترجمه :عطاء بن يسار رَضِيَ اللهُ عَنهُ د امام سره د قرات په باره کې د زيد بن ثابت نه پوښتنه وکړه نو هغه ورته وويل چې د امام پسې په هيڅ شئ کې قرات نشته . د دې حديث روايت د تلاوت د سجدې باب کې مسلم کړي دي .

{۳٦۸} وَعَن عُبَيدِ اللهِ بنِ مِقسَمٍ أَنَّه سَأَلَ عَبدَ اللهِ بنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ وَزَيدَ بنَ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ وَجَابِرَ بنَ عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فَقَالُوا لَا يقرَأُ خَلفَ الإِمَامِ فِي شَيءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ رواه الطحاوي واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : عبدالله بن مقسم د عبدالله بن عمر ، زيد بن ثابت او د جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنهُم نه پوښتنه وکړه نو هغو ورته وويل چې په هيڅ يو مانځه کې د امام پسې قرات نشي کولې . طحاوي د دې حديث روايت کړي او اسناد يې صحيح دي .

{۳٦۹} وَعَن أَبِي وَائِلٍ عَنِ ابنِ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ أُنصِتُ لِلقِرَاءَةِ فَإِنَّ فِي الصَّلَاةِ شُغلًا وَسَيكفِيكَ ذَلِكَ الإِمَامُ رواه الطحاوي واسناده صحيح .(۳)

ترجمه : د ابووائل نه روايت دي چې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې د قرات د پاره چپ شه په تحقيق په مانځه کې مشغوليت دي او په دې کې ستاسي د پاره امام کافي دي . طحاوي رَحِمَهُ اللهُ د دې حديث روايت کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۳۷۰} وَعَن عَلقَمَةَ عَنِ ابنِ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ لَيتَ الَّذِي يقرَأُ خَلفَ الإِمَامِ مُلِئَ فُوه تُرَابًا رواه الطحاوي و اسناده حسن .(٤)

ترجمه :د علقمه نه روايت دي چې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې، کاش چې د هغه چا خوله د خاورو ډکه شوې وي چې څوک د امام پسې قرات کوي. طحاوي د دې حديث روايت کړي دي او اسناد يې حسن دي .

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۱۱۵ باب سجود التلاوة .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۱ باب القراءة خلف الامام .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۰ باب القراءة خلف الامام ، المعجم الكبير للطبراني ج ۹ صـ ۳۰۳ رقم ۹۳۱۱.

(٤) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۰ باب القراءة خلف الامام .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۷۱} وَعَنْ اَبِي جَمْرَةَ قَالَ قُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَقْرَأُ وَالْاِمَامُ بَيْنَ يَدَيَّ فَقَالَ لَا رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه :ابي جمره ويلي دي چې ما ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وويل په داسي حال کې چې امام مُحمامپه مخ کې وي زه قرات ولولم نو هغه جواب ورکړ چې نه ، طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ د دي حديث روايت کړي دي او اسناد يې حسن دي.

{۳۷۲} وَعَنْ كَثِيرِ بْنِ مُرَّةَ عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَامَ رَجُلٌ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَفِي كُلِّ صَلَاةٍ قُرْآنٌ قَالَ نَعَمْ فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ وَجَبَ هٰذَا فَقَالَ اَبُو الدَّرْدَاءِ يَا كَثِيرُ وَ اَنَا اِلٰى جَنْبِهٖ لَا اَرَى الْاِمَامَ اِذَا اَمَّ الْقَوْمَ اِلَّا قَدْ كَفَاهُمْ رواه الدار قطني والطحاوي و احمد و اسناده حسن و في الباب آثار التابعين رضوان الله عليهم اجمعين.(۲)

ترجمه : کثير بن مره د ابي الدرداء رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کړي چې يو سړي پاڅيده نو وي ويل چې اي دالله رسوله ايا په هر مانځه کې قرات دي نو وې فرمائل چې هو نو د قوم د جملي نه يو کس وويل چې دا واجب دي نو ابوداؤد رَحِمَهُ اللّٰهُ وويل چې زه د هغه په خوا کې وم اي کثيره د امام د پاره زه داسي فکر کوم چې کله يې امام قوم ته جمع ورکوي او امامت يې کوي امام : دوي د پاره بس او کافي دي د دي حديث روايت الدار قطني ، طحاوي او احمد کړي او اسناد يې حسن دي او په باب کې د تابعينو اثارهم شته.

د قرأت خلف الامام په مسئله کې دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په دلائلو باندې يو نظر :

د احنافو دليلونه : (۱) د احنافو اولني او قوي دليل دالله دا قول دي (واذا قرأ القرآن فاستمعوا له وانصتوا لعلكم تُرحمون) د قرآن کريم دغه مبارک ايت د قرآن کريم د تلاوت په وخت کې د اوريدو او دچپ والي په وجوب باندې صريح نص دي لهذا چې کله هم امام قرأت کوي نو دوجوب استماع حکم به متوجه وي او قرأت خلف الامام به ممنوع او گرځولې شي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۰ باب القراءة خلف الامام.

(۲) دار قطني كتاب الصلوة ج۱ صـ ۳۳۲ باب ذكر قوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من كان له امام ... الخ ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۴۸ باب القراءة خلف الامام ، مسند احمد ج۶ صـ ۴۴۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

ابن جرير طبري ويلي دي چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونځ وکړو نو د څو کسانو نه يې د امام سره قرأت واوريده نو کله چې فارغ شو نو وي ويل چې ايا ستاسي د پوهيدو وخت نه دي راغلي او يا ستاسي د پاره د سوچ او فکر کولو وخت نه دي راغلي چې په دي ايت کې فکر وکړئ(اذا قرأ القرآن فاستمعوا له وانصتوا) کما امرکم الله . لکه چې څنګه تاسي ته الله امر کړي دي .

۲... حديث دابو موسى اشهري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوعا : " وَإِذَا قَرَأَ الإِمَامُ فَانصِتُوا " .

۳... دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : " مَن كَانَ لَه إِمَامٌ فَقِرَاءَةُ الإِمَامِ لَه قِرَاءَةٌ " په دې کې قاعده کليه بيان کړې شوه چې مقتدي دامام پسې ولې چپ وي ځکه چې دامام قرأت دمقتدي قرأت دي ځکه مقتدي ته دقرأت ضرورت نشته .

۴... دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث موقوفا : " مَن صَلَّى رَكعَةً لَم يقرَأْ فِيهَا بِأُمِّ القُرآنِ فَلَم يصَلِّ إِلَّا وَرَاءَ الإِمَامِ " په دې کې صراحة دقرأت خلف الامام نه ممانعت دي .

۵.حديث دعمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، زيد بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، ابوالدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ،وابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موقوفا . دي حضراتو به دقرأت خلف الامام نه منع کوله .

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ددلائلو جواب :

۱... دعباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث " لاَ صَلاَةَ لِمَنْ لَّمْ يقْرَأْ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ " نه څو جوابانو کړې شوي دي :

(الف) کلمه د " من " په ټولو ځايونو کې عام نه وي ، په قرآن کريم کې دي (ويستغفرون لمن في الارض) دلته بالاتفاق "من في الارض" نه اهل ايمان مراد دي ځکه چې کافرانو لپاره فرشتې دمغفرت دعاګانې نه غواړي که چرته "من" عام هم اومنلې شي نو دقرآن کريم آيت او دنورو احاديثو دوجې نه به قرأت دفاتحې حکم لره دامام او منفرد سره مخصوص منوځکه چې دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث " من كان له امام فقراءة الامام له قراءة " نه دامام قرأت کول دمقتدي قرات کول دي ددي دوجې نه امام احمد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي " هذا اذا كان وحده ".

(ب) دعباده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث مذکور دامام بخاري او دامام مسلم رَحِمَهُ اللهُ روايت کړده دي او دمسلم په يو روايت کې بفاتحة الكتاب نه پس ورسره "فصاعدا" اضافه دي يعني دسورة نه علاوه يو بل سورت هم پکار دي ، ددواړو حکم يو کيدل پکار دي ځکه چې کله شوافع رَحِمَهُ اللهُ سورت ملاوولو

Maktaba Tul Ishaat.com

لره دمقتدي لپاره لازم نه ګڼي نو سوره فاتحې لره هم همداسې ګڼل پکار دي.

(د) که یو کس امام لره درکوع په حالت کې بیامومي او بغیر له قرات نه صرف قیام او رکوع اوکړي نو دټولو په نزد دده دغه رکعت اوشو حالانکه ده خو سورت فاتحه نه ده لوستلې، معلومه شوه چې دامام اقتداء دقرات په سقوط کې څه اثر ضرور دي.

۲... دعباده رضی الله عنه حدیث "لاَ تَفعَلُوا اِلاَّ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ" ددریو وجوهاتو په بناء باندې معلول دي:

(۱) دده یو راوي مکحول دي کوم چې مدلس دي، هغه دي حدیث لره "عن عن" سره نقل کړي. حال دا چې قاعده ده چې دمدلس عن عن والا روایت غیر مقبول دي تر څو چې دخپل شیخ نه پخپله دحدیث اوریدو وضاحت اونکړي. (نزهة النظر، ص: ۸۲)

(۲) ددي حدیث په سند کې اضطراب دي: ۱- مکحول عن عبادة بن الصامت رضی الله عنه. ۲- مکحول عن نافع بن محمود عن عبادة رضی الله عنه. ۳- مکحول عن محمود عن عبادة رضی الله عنه. ۴- مکحول عن ابي نعیم أنه سمع عبادة رضی الله عنه.

داضطراب في السند نه حدیث ضعیف کیږي.

(۳) دمکحول په شاګردانو کې دعن عبادة سند سره محمد بن اسحاق متفرد دي او دمحمد بن اسحاق منفرد سند سره استدلال نه کیږي.

۳... دشوافع په نورو دلائلو باندې دمصنف رحمه الله کلام پخپله واضح دي.

بهر حال دعبادة رضی الله عنه حدیث مذکور په دي قرات خلف الامام په مسئله کې د شوافعو رحمهم الله (ومن تبعهم من غیر المقلدین) یو مهم دلیل بلکې اصل الاصول دي لیکن ددي حال تاسو اوکتو چې دعلتونو دوجې نه دحسن درجې ته هم اونه رسیدو، لیکن ددي په مقابله کې احناف رحمهم الله ومن معهم من الجمهور دلائل دومره واضح او صریح دي چې په دي باندې نور کلام نشي کیدای.

بَابُ تَأمِينِ الإِمَامِ

دامام دآمین ویلو باب:

{۳۷۳} عَن أَبِي هُرَيرَةَ رضی الله عنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلی الله علیه وسلم قَالَ إِذَا أَمَّنَ الإِمَامُ فَأَمِّنُوا فَإِنَّهُ مَن

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاِذَا قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ فَقُولُوا آمِينَ يُجِبْكُمُ اللّٰهُ رواه مسلم .(۳)

ترجمه : په يواوږد حديث کې ابوموسى اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې، مونږ ته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه ولوستله او مونږ ته يې زمونږ سنت بيان کړه او مونږ ته يې زمونږ د مانځه باره کې بنودنه وکړه نو وي ويل کله چې تاسو مونځ کوئ نو خپل صفونه برابر کړئ بيا دي تاسي ته ستاسي يو کس امامت وکړي کله چې هغه تکبير ووايي نو تاسو هم تکبير ووايي او کله چې هغه غير

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۰۸ باب جهر الامام بالتامين ، مسلم كتاب الصلوة صـ ۱۷۴ باب التسميع والتحميد والتامين ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱صـ ۵۸ باب ماجاء في فضل التامين ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۳۵ باب التامين وراء الامام ، نسائي كتاب الافتتاح ج۱صـ ۱۴۷ باب جهر الامام بتامين ، ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۶۱ باب الجهر بتامين ، مسند احمد ج۲صـ ۴۵۹.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۰۸ باب جهر الامام بالتامين ، مسلم كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۴ باب التسميع والتحميد والتامين .

(۳) مسلم كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۴ باب التشهد في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

المغضوب عليهم ولا الضالين وايي نو تاسو آمين ووايئ الله به تاسي سره محبت وفرمايئ. ۵ دي حديث روايت مسلم کړي دي.

{۳۷۶} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ الإِمَامُ غَيْرِ المغضوب عليهم ولا الضالين فَقُولُوا آمِين وَ اَنَّ المَلَائِكَة تَقُولُ آمِين وَاَنَّ الإِمَامَ يَقُولُ آمين فَمَن وَافَقَ تَأمِينُه تَأمِينَ المَلَائِكَة غُفِرَ لَه مَاتَقَدَّمَ مِن ذَنبِهِ رواه احمد والنسائي والدارمي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه: او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې کله امام غير المغضوب عليهم ولا الضالين ووايي نو تاسي امين ووايي او په تحقيق سره ملائکې امين ووايي او بې شکه امام امين ووايي نو چې د چا امين د ملائکو د امين سره برابر او موافق شي ده ته به مخکني ګناهونه وبخل شي. د دي حديث روايت احمد، نسائي او الدارمي کړي او اسناد يې صحيح دي.

د کلماتو تحقيق:

"آمين" اسم فعل په، معنى داستجب (قبليدلو سره).

مسئلة الباب: آمين ويل د جمهورو په نزد مستحب يا سنت دي، البته امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ شافعي او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد امام، منفرد او مقتدي ټولو لپاره سنت دي، ليکن امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد غير امام لپاره سنت دي. وباب ذا احاديثو نه دائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ دقول تائيد کيږي.

بَابُ الْجَهرِ بِالتَّامِينِ

په جهر سره د امين ويلو باب دي:

{۳۷۷} عَن وَائِلِ بنِ حُجرٍ رضي الله تعالى عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَرَأَ وَلا الضَّالِّين قَالَ آمِين رَفَعَ بِهَا صَوتَه رواه ابوداود والترمذي وآخرون وهو حديث مضطرب.(۲)

---

(۱) مسند احمد ج ۲ ص ۲۳۳، نسائي كتاب الافتتاح ج ۱ ص ۱۴۷ باب جهر الامام بالتامين. جامع ترمذي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۴۷ باب في فضل التامين.

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۳۵ باب التامين وراء الامام، ترمذي ابواب الصلوة ج ۱ ص ۵۷ باب ماجاء في التامين.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت وائل ابن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي كله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولا الضالين ولوسته آمين به يې وفرمايه اوچت به يې كړ په هغې سره اواز خپل د دې حديث روايت ابوداؤد ، ترمذي او آخرونو كړي دي او دا حديث مضطرب دي .

{۲۷۸} وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ أُمِّ الْقُرْآنِ رَفَعَ صَوْتَهُ وَقَالَ آمِينَ رواه الدارقطني والحاكم وفي اسناده لين .(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي اوه نبي عليه السلام چې كله به د ام القرآن (فاتحي) د فاتحي د سورت د لوستلو نه فارغ شو خپل اواز به يې اوچت كړ او آمين به يې وفرمايه . د دې حديث روايت الدار قطني او حاكم كړي او د دې په اسناد كې ضعف او كمزوري ده .

{۲۷۹} وَعَنْ أَبِي عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمِّ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ تَرَكَ النَّاسُ التَّأْمِينَ وَكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَالَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلا الضَّالِّينَ قَالَ آمِينَ حَتَّى يَسْمَعَ أَهْلُ الصَّفِّ الأَوَّلِ فَيُرَتَّجُ بِهَا الْمَسْجِدُ رواه ابن ماجه واسناده ضعيف .(۲)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د تره زوي أبي عبدالله نه روايت دي چې حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې خلكو امين ويل پريخوده او كله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غير المغضوب عليهم ولا الضالين وويايه امين به يې فرمايه تر دې چې د اول صف والا خلكو به اوريده چې د دې په وجه به په مسجد كې اواز اونګازه پورته شوه . د دې حديث روايت ابن ماجه رَحِمَهُ اللهُ كړي او اسناد يې ضعيف دي .

{۲۸۰} وعن أُمِّ الْحُصَيْنِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّهَا صَلَّتْ خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَالَ وَلا الضَّالِّينَ قَالَ آمِينَ فَسَمِعْتُهُ وَهِيَ فِي صَفِّ النِّسَاءِ رواه ابن راهويه في مسنده والطبراني في الكبير وفيه اسماعيل بن مسلم المكي وهو ضعيف قال النيموي لم يجهر بالتأمين عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ولا عن الخلفاء الأربعة رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وما جاء في الباب فهو لا يخلو من فهي .(۱)

---

(۱) مستدرک حاکم کتاب الصلوة ج۱ص ۲۲۳ باب کان اذا فرغ من ام القرآن ...الخ ، دار قطني کتاب الصلوة ج۱ص ۳۳۵ باب التامين في الصلوة ...الخ .

(۲) ابن ماجة کتاب الصلوة ص ۶۲ باب الجهر بامين

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: د ام حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی چې هغې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې مونځ وکړو نو چې کله يې ولا الضالين وې نو فرمايه نو امين يې ووايه نو هغې واوريد او هغه د ښځو په صف کې وه. د دی حديث روايت راهويه په خپل مسند کې کړي دی او طبراني په کبير کې د دي روايت کړي دي او په دي کې اسمعيل بن مسلم مکي دي او هغه ضعيف دي. امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې په جهر سره امين ويل د نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ نه نه دي ثابت شوي او نه د څلورو خليفه ګانو. نه ثابت شوي او په دي باب کې چې څه راغلي دي هغه د يو څه شئ (ضعف) نه خالي نه دي.

آمين اوچت آواز سره ويل افضل دي او که تيټ آواز سره؟

(۱) دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد جهرا افضل دي، البته دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه يې روايت دمقتدي په حق کې سرا او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد يو روايت دامام په حق کې سرا افضل کيدو هم دي په سري مونځ کې دده په نزد سرا افضل دي.

(۲) دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد آمين دامام او دمقتدي دواړو لره په تيټ آواز سره ويل افضل دي.

دائمه ثلاثو رَحِمَهُمُ اللهُ دليل: دباب څلورواړه حديثونه دجهرو دليلونه دي.

۱... حديث دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بسند سفيان ثوري رَحِمَهُ اللهُ: **قال "آمين رفع بها صوته".**

۲... حديث دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: **"رفع صوته وقال: آمين".**

۳... حديث دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ايضا: **"آمين حتى يسمع أهل الصف الصف الاول".**

۴... حديث دام الحصين رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: **قال: آمين فسمعته وهي في صف النساء".**

(دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دلائل په بله صفحه باندې اوګورئ)

بَابُ ذِكْرِ الْجَهْرِ بِالتَّامِينِ:

په جهر سره د امين د ويلو دباب:

قَالَ عَطَاءٌ آمِينَ دُعَاءٌ وَقَدْ قَالَ اللهُ تعالى أُدْعُوا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَخُفْيَةً.

عطاء فرمايي چې آمين يو دعا ده او په تحقيق سره الله تعالى فرمايي: تاسو خپل رب لره په عاجزئ او په خاموشئ سره راوبلئ.

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج ۲۵ ص ۱۵۸ رقم ۳۸۳، الدراية كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۳۹ باب صفة الصلوة نقلاً ابن راهويه.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳۸۱) عن أبي هريرة رضي الله عنه قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يعلمنا يقول لا تبادروا الإمام إذا كبر فكبروا وإذا قال ولا الضالين فقولوا آمين وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد رواه مسلم قال الزيعوي يستفاد منه أن الإمام لا يجهر بآمين.(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رضي الله عنه ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صلى الله عليه وسلم تعليم راكاوه فرمائل يې د امام نه جلتي او مخكې والي مه كوئ كله چې تكبير ووايي نو تاسو هم تكبير ووايي او چې كله ولا الضالين ووايي نو تاسو آمين ووايي او چې كله ركوع كوي نو تاسو هم ركوع كوئ او چې كله سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسو ربنا ولك الحمد ووايي . د دې حديث روايت مسلم كړې دي . نيموي رحمه الله ويلي دي چې د دې حديث نه دا خبره اخستلې شي چې امام دې په جهر سره امين نه ووايي .

(۳۸۲) وعن الحسن أن سمرة بن جندب رضي الله عنه وعمران بن حصين رضي الله عنه تذاكرا فحدث سمرة بن جندب رضي الله عنه أنه حفظ عن رسول الله صلى الله عليه وسلم سكتتين سكتة إذا كبر وسكتة إذا فرغ من قراءة غير المغضوب عليهم ولا الضالين فحفظ ذلك سمرة وأنكر عليه عمران بن حصين فكتبا في ذلك أبي بن كعب رضي الله عنه فكان في كتابه إليهما أو في رده عليهما أن سمرة قد حفظ رواه ابوداود وآخرون واسناده صالح.(۲)

ترجمه : د حسن رحمه الله نه روايت دي چې بې شكه سمره ابن جندب او عمران بن حصين رضي الله عنه په خپل منځ كې مذاكره كوله نو حضرت سمره بن جندب رضي الله عنه حديث بيان كړ چې ده د حضرت رسول اكرم صلى الله عليه وسلم نه دوه سكتې يادې ساتلي دي يو سكته هغه وخت وه چې كله يې تكبير وفرمايې او دويمه هغه وخت وه چې كله رسول الله صلى الله عليه وسلم د غير المغضوب عليهم ولا الضالين ويلو نه فارغ شو نو هغه سمره رضي الله عنه په خپل حفظ كې ساتلي وي او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه د دې نه منكر وُو نو دواړو په دې باره كې حضرت ابي بن كعب رضي الله عنه ته خط وليكه نو ابي بن كعب رضي الله عنه په خط كې دي دواړو ته او يا په واپس كيدو د خط د ده كې په دواړو

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۷۷ باب التعمام للمامر بالامام .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۱۳ باب السكتة عند الافتتاح .

Maktaba Tul Ishaat.com

باندي داسي وُو چې حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحيح ياد ساتلي دي . دا حديث ابوداوُد او نورو محدثينو روايت کړي او اسناد يې صالح دي .

{۳۸۳} و عنه عَنْ سَمُرَةَ بنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّه كَانَ إِذَا صَلّٰى بِهِمْ سَكَتَ سَكْتَتَيْنِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ وَ إِذَا قَالَ وَلَا الضَّالِّينَ سَكَتَ أَيْضًا هُنَيَّةً فَأَنْكَرُوا ذٰلِكَ عَلَيْهِ فَكَتَبَ إِلَى أُبَيِّ بنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لِيُخْبِرَهُمْ أَنَّ الْأَمْرَ كَمَا صَنَعَ سَمُرَةُ رواه احمد والدارقطني و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : او د حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه د حضرت سمره بن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړي چې ده به کله خلکو ته مونځ کاوه نو دوه سکتي به يې په مانځه کې کولې کله به يې چې مونځ شروع کاوه او کله به يې چې ولا الضالين ووايه نو لږه شان سکته به يې کوله نو خلکو په دي خبره ده باندې انکار وکړو نو اُبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ده خط وليکه نو حضرت اُبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جواب ورکړو چې کار همدغسې دي کوم چې سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کړي دي . د دي حديث روايت احمد او دار قطني کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

{۳۸۴} وَ عَنْ وَائِلِ بنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَرَأَ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ قَالَ آمِينَ وَ أَخْفٰى بِهَا صَوْتَه وَوَضَعَ يَدَه الْيُمْنٰى عَلَى يَدِهِ الْيُسْرٰى وَ سَلَّمَ عَنْ يَمِينِهِ وَ عَنْ يَسَارِهِ رواه احمد والترمذي و ابوداود الطيالسي و الدارقطني والحاكم و آخرون و اسناده صحيح و فِي مَتْنِهِ اِضْطِرَابٌ .(۲)

ترجمه : حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړو نو کله يې چې غير المغضوب عليهم ولا الضالين ولوسته امين يې ووايه او په هغه سره يې خپل آواز ټيټ کړو او بني لاس يې په چپ لاس باندې کيښود او بني او کس طرف ته يې سلام واړوه . د دي حديث روايت احمد ، ابوداود طيالسي او دار قطني او حاکم او نورو کړي دي اسناد يې صحيح دي او په متن کې يې اضطراب دي .

---

(۱) مسند احمد ج ۵ ص ۲۳ ، سنن دارقطني كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۳۶ باب موضع سكتات ...الخ .

(۲) مسند احمد ج ۴ ص ۳۱۶ ، ترمذي ابواب الصلوة ج ۱ ص ۵۸ باب ماجاء في التامين ، ابوداؤد الطيالسي ص ۱۳۹ برقم ۱۰۲۲ ، دارقطني كتاب الصلوة ج ۱ ص ۳۳۴ باب التامين في الصلوة ، مستدرك حاكم كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۳۲ باب تامين المقتدي المجهور .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۸۵} وَ عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ قَالَ كَانَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَا يَجْهَرَانِ بِبِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَلَا بِالتَّعَوُّذِ وَلَا بِآمِيْن رواه الطحاوي وابن جرير وَإِسْنَادُهُ ضَعِيفٌ.(۱)

ترجمه : حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې حضرت عمر او حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا به بسم الله الرحمٰن الرحيم او اعوذ بالله او آمين په جهر سره نه ويږ . د دي حديث روايت طحاوي او ابن جرير کړي او اسناد يې ضعيف دي.

{۳۸۶} وَ عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ خَمْسٌ يُخْفِيهِنَّ الْإِمَامُ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَ بِحَمْدِكَ وَالتَّعَوُّذُ وَ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ وَ آمِيْنَ وَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ رواه عبد الرزاق في مصنفه واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : ابراهيم رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې پنځه شيان دي چې امام به يې په پته وايي : (۱) سبحانك اللّٰهم وبحمدك (۲) اعوذ بالله من الشيطان الرجيم (۳) بسم الله الرحمٰن الرحيم . (۴) امين (۵) اللهم ربنا ولك الحمد . د دي حديث روايت عبدالرزاق په خپل مصنف کې کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

آمين بالسر باندې دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دلائل :

دباب تول احاديث داخفاء بآمين په مسئله باندې دامام صاحب دليلونه دي يو څو اهم دادي :

۱... آمين يوه دعا ده او ددعا متعلق دالله ارشاد دي (اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً) يعني په سوال او زاري سره او په تيټ آواز سره خپل رب لره راوبلئ کما قال عطاء.

۲... حديث دسمره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : " وَ سَكْتَةٌ إِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ " دا سکته او خاموشي به امين لوستلو لپاره وه ، معلومه شوه چې امين بالسر وو ورنه آواز به اوريدل کيدو .

۳... دوائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په سند دشعبة بن الحجاج : " قال : آمين وأخفى بها صوته "

۴... دعمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فعل او دابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللّٰهُ قول.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په دلائلو باندې کلام :

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۰ باب قراءة بسم الله في الصلوة .

(۲) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۲ص ۸۷ باب ما يخفي الامام .

Maktaba Tul Ishaat.com

۱... حدیث د وائل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سند ا د صحیح کیدو د باوجود متنا مضطرب دي ، ځکه چې ددي سند مدار په دوو مستند راویانو باندې دي ، (۱) سفیان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ . (۲) شعبه بن حجاج رَحِمَهُ اللَّهُ دواړه دخپل وخت محدثین وو او ددوي په ثقاهت کې هیڅ قسمه کلام نشته ؟سفیان ثوري رَحِمَهُ اللَّهُ "رفع یها صورته" نقل کوي دکوم نه چې ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللَّهُ استدلال کوي او ددوي معاصر امام شعبه رَحِمَهُ اللَّهُ "خفض یها صورته" یا "أخفی یها صوته" نقل کوي دکوم نه چې احناف استدلال کوي .

علامه نیموي رَحِمَهُ اللَّهُ فرمایي چې دبعضي اقوالو نه دسفیان او بعضي اقوالو نه دشعبه روایت لره ترجیح حاصلیږي لیکن زما په ذهن کې روایت دشعبه یوه لویه وجه دترجیح ده هغه دا چې سفیان ثوري اګر چې ثقه او حجة دپ لیکن کله نا کله هغه تدلیس کوي او هغه دې روایت لره عن سره روایت کوي او دشعبه عادت مطلقا تدلیس نه وو او ددې نه باوجود هغه لفظ "أخبرنا" سره روایت کوي همدارنګه سفیان ثوري مسلک دخپل روایت برعکس دشعبه روایت مطابق آمین بالسر دي .

۲... حدیث دابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ "رفع صورته" جواب دادي چې ددې یو راوي اسحاق بن ابراهیم لره بعضو ډیر ضعیف او عوف طائي کذاب ویلې دي .

۳... دابوهریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حدیث "قال : آمین حتی یسمع أهل الصف الاول" هم ضعیف دي ددې یو راوي بشربن رافع لره ابن حبان موضوع روایت نقل کولو والا ښودلې دي .

۴... حدیث دام الحصین رَحِمَهَا اللَّهُ هم ضعیف دي په وجه دیو راوي محمد بن اسماعیل .

حاصل دکلام او داحادیثو په مینځ کې تطبیق :

امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللَّهُ په دې باب کې آیت قرآني (اُدْعُوْا رَبَّكُمْ تَضَرُّعًا وَّخُفْيَةً) لره اصل ګرځوي او په مختلف حدیثونو کې تطبیق کوي په دې طور باندې چې (۱) درفع صوت نه مراد رفع یسیر (معمولي شان جهر) او اخفاء نه مراد اخفاء غیر شدید یعني یو اندازه تیټ آواز دي .(۲) دجهر والا روایتونه وقتا فوقتا تعلیم ورکولو باندې محمول دي . والله اعلم بالصواب

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ قِرَاءَةِ السُّورَةِ بَعْدَ الْفَاتِحَةِ فِي الْأُولَيَيْنِ

د فاتحې د سورت نه روسته په اولو دوه ؤ رکعتونو کې د سورت د لوستلو باب :

{۳۸۷} عَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَ سُورَتَيْنِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَالَا يُطِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهٰكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهٰكَذَا فِي الصُّبْحِ رواه الشيخان. (۱)

ترجمه : ابوقتاده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د ماسپخين په اولو دوه رکعتونو کې فاتحه او دوه سورتونه ويل او په روستو دوه ؤ رکعتونو کې به يې د فاتحې سورت او ايت به يې مونږته را اوروه او اول رکعت به يې د دويم رکعت نه اوږد اوه دغسې به يې د مازيګر په مانځه کې او دغسې به يې د سحر په مانځه کې کول. د دې حديث روايت شيخينو کړي.

{۳۸۸} وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْمَغْرِبِ بِالطُّورِ رواه الجماعة الا الترمذي. (۲)

ترجمه : او حضرت جبير بن مطعم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې د مانښام په مانځه کې يې د طور سورت لوسته. د دې حديث روايت د ترمذي نه په غير جماعت کړي.

{۳۸۹} وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ فِي صَلَاةِ الْمَغْرِبِ بِسُورَةِ الْأَعْرَافِ لَرَّقَهَا فِي الرَّكْعَتَيْنِ رواه النسائي واسناده صحيح. (۳)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مانښام په مانځه کې د اعراف سورت لوستو او په دواړو رکعتونو به يې تقسيماوه. د دې حديث روايت نسائي کړي

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۷ باب يقرأ في الاخريين بفاتحة الكتاب، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۶ باب القراءة في الظهر والعصر.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۵ باب الجهر في المغرب، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۷ باب القرأة في الصبح.

(۳) نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۵۴ باب القراءة في المغرب بالاعراف.

ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۸ باب قدر القراءة في المغرب نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۵۴ باب القراءة في المغرب بالطور، ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۶۰ باب القراءة في صلوة المغرب، مسند احمد ج۴ ص ۸۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي او اسناد يې صحيح دي.

{۲۹۰} وَعَنِ الْبَرَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي سَفَرٍ فَقَرَأَ فِي الْعِشَاءِ فِي اِحْدَى الرَّكْعَتَيْنِ بِالتِّيْنِ وَالزَّيْتُوْنِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې په سفر کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسختن د دوو رکعتونو نه په يو رکعت کې د والتين والزيتون سورت قرات کړي وُ. د دي حديث روايت شيخين کړي دي.

{۲۹۱} و عن جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ عُمَرُ لِسَعْدٍ لَقَدْ شَكَوْكَ فِي كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى الصَّلَاةِ قَالَ اَمَّا اَنَا فَاَمُدُّ فِي الْاُوْلَيَيْنِ وَ اَحْذِفُ فِي الْاُخْرَيَيْنِ وَلَا آلُو مَا اقْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ صَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَدَقْتَ ذَاكَ الظَّنُّ بِكَ اَوْ فَلَنِّي بِكَ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل چې خلک ستا نه په هر يو شئ کې شکايت کوي تردي چې په مانځه کې هم شکايت کوي حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې زه خو په اولو دوه وُ رکعتونو کې قرات اوږدوم او په اخرو دوو رکعتونو کې قرات لنډوم او ما په دي کې کمي نه دي کړي کوم چې ما د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه کې اقتداء کړي حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل ته ريښتيا وايي ستا په باره کې ځما هم دا خيال وُ. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

{۲۹۲} و عن اَبِي سَوِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اُمِرْنَا اَنْ نَقْرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَمَا تَيَسَّرَ رواه ابوداود و احمد و ابويعلى وابن حبان و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: د حضرت ابوسعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې مونږ ته امر شوي دي چې مونږ د فاتحې سورت او د قرآن مجيد نه خه اسان وي ولولو. د دي حديث روايت ابوداوُد، احمد، ابويعلى او ابن

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۵ باب الجهر في العشاء، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۷ باب القراءة في العشاء.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۶ باب يطوّل في الاولين ...الخ، مسلم كتاب الصلوة، ج۱ص ۱۸۴ باب القراءة في الظهر والعصر.

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۸ باب من ترك القراءة في صلوته باستذكار، احمد ج۳ص ۳، مسند ابي يعلى ج۲ص ۴۱۷ رقم الحديث ۲۳۶، صحيح ابن حبان ج ۳ ص ۴۳۰ رقم ۱۷۸۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

حیان کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

مسئلة الباب: په اولني دوو رکعتونو کې د سورة الفاتحې سره یو سورت ملاوول واجب دي یا سنت؟

(۱) ائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد اولني دوو رکعتونو کې ضم د سورت مستحب دي.

(۲) حنفیه او بعض مالکیو په نزد واجب دي.

دائمه ثلاثه دلیل: د دې حضراتو سره په دې مسئله کې هیڅ صریح حدیث نشته.

د حنفیه او بعض مالکیه دلیل:

د ضم د سورت دلائل دا دي:

۱... حدیث د ابو سعید رضي الله عنه: "أُمِرْنَا أَنْ نَقْرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَمَا تَيَسَّرَ".

۲... حدیث د ابو قتاده رضي الله عنه: "كَانَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهَكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهَكَذَا فِي الصُّبْحِ".

۳... دقرات خلف الامام مسئلې لاندې تیر شوي هغه حدیثونه کوم کې چې "فاتحة الكتاب" سره "فصاعدا" یا "وما زاد" یا "وهيئا" راغلي دي

او دا اولني دوو رکعتونو تعیین للقراءة دلایل دادي:

۱... دابو قتاده رضي الله عنه حدیث: كَانَ يَقْرَأُ فِي الظُّهْرِ فِي الْأُولَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَسُورَتَيْنِ وَفِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِأُمِّ الْكِتَابِ وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ وَيُطَوِّلُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى مَا لَا يُطِيلُ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ وَهَكَذَا فِي الْعَصْرِ وَهَكَذَا فِي الصُّبْحِ.

۲... حدیث د سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه: "أَمَّا أَنَا فَأَمُدُّ فِي الْأُولَيَيْنِ وَأَحْذِفُ فِي الْأُخْرَيَيْنِ وَلَا آلُو مَا اقْتَدَيْتُ بِهِ مِنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم" په آخري دوو رکعتونو کې د تخفیف قرات لزوم یې سنت اوګرځو او حضرت عمر رضي الله عنه د حضور صلى الله عليه وسلم تصویب اوکړ.

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الرُّكُوعِ وَعِنْدَ رَفْعِ الرَّأْسِ مِنَ الرُّكُوعِ

د رکوع او د رکوع نه د سر د اوچتولو په وخت کې د لاسونو د اوچتولو باب دي

(۳۹۳) عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنهما أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا

Maktaba Tul Ishaat.com

افْتَتَحَ الصَّلَاةَ وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذٰلِكَ أَيْضًا وَقَالَ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وَكَانَ لَا يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُودِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله به رسول الله په مانځه کې شروع کوله نو دواړه لاسونه به يې د اوږو په برابرۍ اوچتول او کله به يې چې د رکوع تکبير کاوه او د رکوع نه به يې چې کله سر مبارک اوچتاوه دغسې به يې هم دواړه لاسونه اوچتول او سمع الله لمن حمده ربنا ولک الحمد به يې وايه او په سجده کې به يې داسې نه کول. د دې حديث روايت شيخينو (بخاري او مسلم) کړې دي.

قَالَ النِّيمَوِي وَفِي الْبَابِ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَمَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَوَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَعَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَغَيْرِهِمْ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

ترجمه: نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي: او په باب کې د ابي حميد الساعدي او مالک بن الحويرث او وائل بن حجر او د علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه او د دوي نه په غير د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نورو اصحابو هم روايتونه موجود دي.

مسئله د رفع اليدين

دتکبير تحريمي په وخت رفع يدين بالاتفاق سنت دي، دغه شان سجدې ته دتللو په وخت او دسجدې نه دراوچتيدو په وخت بالاتفاق رفع يدين متروک دي، البته رکوع ته دتللو په وخت او درکوع نه دسر اوچتولو په وخت په رفع يدينو کې اختلاف دي:

(۱) امام شافعي او امام احمد رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد په دې دواړو مواقعو کې رفع يدين افضل دي.

(۲) دامام ابوحنيفه او مالک رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد ترک د رفع يدين افضل دي.

مصنف د رفع يدينو په مسئله باندې پنځه بابونه قائم کړي دي او په دې کې يې پنځلس حديثونه ذکر کړي دي.

دامام شافعي او احمد رَحِمَهُمَا اللّٰهُ دلائل:

۱... دابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث: "كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاةَ وَإِذَا كَبَّرَ لِلرُّكُوعِ وَ

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۲ باب رفع اليدين في التكبيرة الاولىٰ ...الخ، مسلم كتاب الصلاة ج۱ص ۱۶۹ باب استحباب رفع اليدين حذو المنكبين ...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

إِذَا رَفَعَ رَأْسَه مِنَ الرُّكُوعِ رَفَعَهُمَا كَذٰلِكَ اَيضًا" داحديث بغير دځه شبهې نه اصح مافي الباب او ددې سند دقوت په اعتبار سره سلسلة الذهب دي.

دامام بخاري رَحِمَهُ اللهُ شيخ علي بن المديني رَحِمَهُ اللهُ ددې حديث متعلق فرمايي: "وحديث ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حجة الله على الخلق في رفع اليدين". (درس مشكوة بحير)

۲... حديث دمالک بن الحويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "رَأَى النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيهِ، فِي صَلَاتِهِ إِذَا رَكَعَ وَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَه مِنَ الرُّكُوعِ وَإِذَا سَجَدَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَه مِنَ السُّجُودِ حَتّٰى يحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ اُذُنَيه".

۳... دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث: "رَأَيتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يرْفَعُ يدَيه فِي الصَّلَاةِ حَذْوَ مَنْكِبَيه حِينَ يفْتَتِحُ الصَّلَاةَ وَ حِينَ يركَعُ وَ حِينَ يسْجُدُ".

(دامام ابوحنيفه او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليلونه "باب ترک رفع اليدين في غير الافتتاح" تر بحث لاندې اوګورئ).

بَابُ مَا اسْتَدَلَّ بِه عَلَى اَنَّ رَفْعَ اليدَينِ فِي الرُّكُوعِ وَاظَبَ عَلَيه النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَادَامَ حَيا

باب دي په بيان دهغه روايت کې چې په هغې سره يې دهغه روايت نه استدلال کړي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رکوع کې د لاسونو په اوچتولو هميشه والي کړي دي تر ځو پورې چې ژوندي وُ

{۳۹۲} عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا افْتَتَحَ الصَّلَاتَ رَفَعَ يَدَيه وَإِذَا رَكَعَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَه مِنَ الرُّكُوعِ وَكَانَ لَا يفْعَلُ ذٰلِكَ فِي السُّجُودِ فَمَا زَالَتْ تِلْكَ صَلَاتُه حَتّٰى لَقِيَ الله تَعَالٰى رواه البيهقي و هو حديثٌ ضعيفٌ بل موضوعٌ.(۱)

ترجمه: د حضرت بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه شروع کوله نو خپل دواړه لاسونه به يې اوچتول او کله به يې چې رکوع کوله او کله به يې چې د رکوع نه سر اوچتاو او په سجده کې يې داسې نه وُ کړي او د هغه مونځ همدغسې وُ ځو پوري چې يې دالله سره ملاقات وشو. دا حديث بيهقي روايت کړي او دا حديث ضعيف دي بلکه موضوعي دي.

---

(۱) نصب الرأية كتاب الصلوة ج۱ص ۳۰۹، والدراية ج۱ص ۱۵۳، والتلخيص الحبير ج۱ص ۲۱۸، نقلًا عن البيهقي.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الْقِيَامِ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ

د دوه وړ رعتونو نه د اوچتيدو په وخت کې د لاسونو د اوچتولو باب :

{۳۹۵} عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ كَبَّرَ وَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ إِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ إِذَا قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ رَفَعَ يَدَيْهِ وَ رَفَعَ ذٰلِكَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : د حضرت نافع رحمه الله نه روايت دي چې کله به حضرت عبد الله عمر رضي الله عنه په مانځه کې داخليده تکبير به يې وايه او دواړه لاسونه به يې اوچتول او کله به يې چې رکوع کوله دواړه لاسونه به يې اوچتول او کله به يې چې سمع الله لمن حمده ويله دواړه لاسونه به يې اوچتول او کله به چې د دويم رکعت نه پورته کيدو دواړه لاسونه به يې اوچتول او ابن عمر رضي الله عنه دا حديث نبي عليه السلام ته رسولي دي.

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ لِلسُّجُودِ

د سجدې د پاره د لاسونو د اوچتولو باب :

{۳۹۶} عَنْ مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَأَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَفَعَ يَدَيْهِ فِي صَلَاتِهِ إِذَا رَكَعَ وَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ وَإِذَا سَجَدَ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ حَتّٰى يُحَاذِيَ بِهِمَا فُرُوعَ أُذُنَيْهِ رواه النسائي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت مالک بن الحويرث رضي الله عنه نه روايت دي چې هغه رسول الله صلى الله عليه وسلم ليدلي دي چې کله رسول الله صلى الله عليه وسلم رکوع کوله او کله يې چې د رکوع نه سر مبارک راپورته کاوه او کله يې چې سجده کوله او کله يې چې د سجدې نه سر مبارک راپورته کاوه نو دواړه لاسونه به يې اوچتول تردې پورې چې د خپلو مبارکو غوږونو د پڑيو برخې په برابر به يې اوچت کړل. د دې حديث روايت نسائي کړي دي او اسناد يې صحيح دي

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج ۱ ص ۱۰۲ باب رفع اليدين اذا قام من الركعتين

(۲) نسائي كتاب الافتتاح ج ۱ ص ۱۶۱ باب رفع اليدين حذو المنكبين

Maktaba Tul Ishaat

{۲۹۷} وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ رواه ابو يعلى واسناده صحيح.(۱)

ترجمه: د حضرت انس رضي الله عنه نه روايت دي چې بې شكه نبي عليه السلام په ركوع او سجده كې دواړه لاسونه اوچتول، د دې حديث روايت ابو يعلى كړي او اسناد يې صحيح دي.

د دې حديث د مرفوعيت دعوى صحيح او سمه نه ده بلكه صحيح خبره دا ده چې دا حديث مرفوع نه دي او د حضرت ابن عمر رضي الله عنه پورې موقوف دي لكه چې امام ابوداؤد رحمه الله ويلي دي چې صحيح خبره دا ده چې د ابن عمر رضي الله عنه قول مرفوع نه دي. (۲)

په خپله امام بخاري رحمه الله هم د خپرې ته اشاره كړې ده چې د ابن عمر رضي الله عنه روايت موقوف دي(۳).

د سجدې په وخت كې هم رفع اليدين په اتفاق سره متروك دي. د دې باب اول روايت (۳۹۶) نمبر حديث د مالك بن الحويرث نه روايت شوې دي د دې د جواب تفصيل په باب د رفع اليدين عند الركوع كې دي په (۳۹۳) حديث كې تير شوي دي.

دا خبره د يادولو وړ ده چې احناف حضرات د رفع اليدين د ثبوت نه منكر نه دي خو ولې كومو حضراتو چې دا خبره كړې ده چې ترك د رفع اليدين د احاديثو نه نه دي ثابت شوي احناف په دلائلو سره د دې خبرې تردید كوي. هو احناف دا خبره كوي چې ترك د رفع اليدين هم په احاديثو سره ثابت دي او دا يې افضل او راجح ګڼلې دي. او ده دې دلائل او د ترجيح وجوه په راتلونكي باب كې ذكر كيږي.

{۲۹۸} وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَرْفَعُ عِنْدَ تَكْبِيرِ الرُّكُوعِ وَعِنْدَ التَّكْبِيرِ حِينَ يَهْوِي سَاجِدًا رواه الطبراني في الاوسط وقال الهيثمي اسناده صحيح.(۴)

---

(۱) مسند ابي يعلى ج۶ صـ ۳۹۹ برقم، ۹۹۷ (۳۷۵۲)، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۳۵ باب من كان يرفع يديه اذا افتتح الصلوة، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ صـ ۱۰۱ باب رفع اليدين في الصلوة.

(۲) ابوداؤد ج۱ صـ ۱۰۸.

(۳) ج۲ صـ ۱۰۲.

(۴) المعجم الاوسط ج۱ صـ ۳۹ برقم ۱۶، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ صـ ۱۰۲ باب رفع اليدين في الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د رکوع د تکبير په وخت او د هغه تکبير په وخت کې چې سجدي ته به خکته کيده لاسونه اوچتول. د دې حديث روايت په اوسط کې طبراني کړي او هيثمي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې اسناد يې صحيح دي.

{۳۹۹} وَ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي الصَّلَاةِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ حِيْنَ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ وَ حِيْنَ يَرْكَعُ وَ حِيْنَ يَسْجُدُ رواه ابن ماجه رواته كلهم ثقات الا اسماعيلُ بنُ عَيَاشٍ وَ هُوَ صَدُوْقٌ وفي روايته عَنْ غَيْرِ الشَّامِيِّيْنَ كلامٌ.(۱)

ترجمه: حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې په مانځه د مانځه د شروع کولو او د رکوع او سجدي په وخت کې لاسونه اوچت کړي د دې حديث روايت ابن ماجه کړي او راويان يې ټول ثقه دي مګر اسماعيل بن عياش او هغه صدوق دي خو ولې د شامينو نه په غير د نورو محدثينو نه ده په روايت کې کلام او خبري شته.

{۴۰۰} وَ عَنْ حُصَيْنِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ قَالَ دَخَلْنَا عَلٰى اِبْرَاهِيْمَ فَحَدَّثَهُ عَمْرُو بْنُ مُرَّةَ قَالَ صَلَّيْنَا فِيْ مَسْجِدِ الْحَضْرَمِيِّيْنَ فَحَدَّثَنِيْ عَلْقَمَةُ بْنُ وَائِلٍ عَنْ اَبِيْهِ اَنَّهُ رَأٰى رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ حِيْنَ يَفْتَتِحُ الصَّلَاةَ وَ اِذَا رَكَعَ وَ اِذَا سَجَدَ فَقَالَ اِبْرَاهِيْمُ مَا اَرٰى اَبَاكَ رَأٰى رَسُوْلَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَّا ذٰلِكَ الْيَوْمَ الْوَاحِدَ فَحَفِظَ ذٰلِكَ وَ عَبْدُ الله لَمْ يَحْفَظْ ذٰلِكَ مِنْهُ ثُمَّ قَالَ اِبْرَاهِيْمُ اِنَّمَا رَفْعُ الْيَدَيْنِ عِنْدَ اِفْتِتَاحِ الصَّلَاةِ رواه الدارقطني واسناده صحيح.(۲)

ترجمه: حصين بن عبدالرحمن ويلي دي مونږ ابراهيم ته ورغلو نو عمرو بن مره ويلي دي چې مونږ د حضرمينو په مسجد کې مونځ وکړو نو علقمه بن وائل د خپل پلار نه حديث بيان کړي چې هغه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې د مانځه د شروع او د رکوع او د سجدي په وخت کې يې لاسونه اوچتول نو ابراهيم وويل چې زما دا خيال دي چې ستا پلار رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دي ليدلي مګر په همدغه يوه ورځ کې نو د هغه نه يې دا خبره ياده کړې ده او عبدالله نه ده ياده کړې يا ابراهيم وويل چې رفع اليدين فقط په شروع د مانځه کې دي. د دې حديث روايت الدار قطني کړې او اسناد يې صحيح دي.

---

(۱) ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۶۲ باب رفع اليدين اذا ركع واذا رفع رأسه من الركوع.

(۲) سنن دارقطني كتاب الصلوة ج ۱ صـ ۲۹۱ باب ذكر التكبير ورفع اليدين عند الافتتاح.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۴۰۱} و عن يحيى بن أبي إسحاق قال رأيت أنس بن مالك رضي الله عنه يرفع يديه حين السجدتين رواه البخاري في جزء رفع اليدين و اسناده صحيح قال اليمني لم يصب من جزم بأنه لا يثبت فيه في رفع اليدين للسجود و من ذهب إلى نسخه فليس له دليل على ذلك إلا مثل دليل من قال لا يرفع يديه في غير تكبيرة الإفتتاح.(۱)

ترجمه : يحي ابن ابي اسحاق ويلي دي چې ما حضرت انس ابن مالک رضي الله عنه وليده چې د دوارو سجدو ترمنځ يې لاسونه اوچت کړل . بخاري د رفع اليدين په جزء کې د دې حديث روايت کړي دي او اسناد يې صحيح دي . نيموي رحمه الله ويلي دي چې دا خبره هيڅ صحت نه لري چې د سجدې په وخت کې د رفع اليدين څه شي نه دي ثابت شوي او چا منسوخ ګڼلې دي د هغوئ د پاره په دې باندې څه دليل نشته مګر په مثل د دليل د هغه چا چې ويلي يې دي د افتتاح د تکبير نه په غير دي لاسونه نه اوچتوي .

بَابُ تَرْكِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي غَيْرِ الْإِفْتِتَاحِ

د تکبير تحريمي نه په غير د رفع اليدين نه کولو باب :

{۴۰۲} عَنْ عَلْقَمَةَ قَالَ : قَالَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رضي الله عنه أَلَا أُصَلِّي بِكُمْ. صَلَّى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَصَلَّى لَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ رواه الثلاثة وهو حديث صحيح.(۲)

ترجمه : علقمه رحمه الله ويلي دي چې عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې ايا زه تاسي ته د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مانځه په شان مونځ ونه کړم نو مونځ يې وکړو او لاسونه يې د اول ځل نه په غير اوچت نه کړل . د دې حديث روايت درېۍ کسانو کړي دي او دا صحيح حديث دی .

{۴۰۳} وَعَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ رَأَيْتُ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ تَكْبِيرَةٍ رواه الطحاوي و ابوبكر بن ابي شيبة وهو اثر صحيح.(۳)

---

(۱) جزء رفع اليدين للبخاري مترجم صـ ۴۸.

(۲) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱صـ ۱۰۹ باب من لم يذكر الرفع عند الركوع ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱صـ ۵۹ باب رفع اليدين عند الركوع ، نسائي کتاب الصلوة ج۱صـ ۱۶۱ باب رفع اليدين والرخصة في ترک ذلک .

(۳) طحاوي کتاب الصلوة ج۱صـ ۱۵۴ باب التکبيرات ، مصنف ابن ابي شيبة ، کتاب الصلوة ج۱صـ ۲۳۷ باب من کان يرفع يديه في اول تکبيرة ثم لا يعود .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : اسود رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې ما حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لیدلي دي چې هغه په اولني تکبیر کې خپل دواړه لاسونه اوچتول . د دي حدیث روایت طحاوي رَحِمَهُ اللهُ او ابوبکر ابن ابي شیبه کړي دي او دا صحیح اثر دي .

{۲۰۴} وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ كُلَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عَلِيًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي أَوَّلِ تَكْبِيرَةٍ مِنَ الصَّلَاةِ ثُمَّ لَا يَرْفَعُ بَعْدَهُ رواه الطحاوي و ابوبكر بن ابي شيبة والبيهقي و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : او عاصم ابن کُلیب د خپل پلار نه روایت کړي دي چې بې شکه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مانځه په اولني تکبیر کې دواړه لاسونه اوچتول او بیا به یې روسته نه اوچتول د دي حدیث روایت طحاوي او ابوبکر بن ابي شیبه او بیهقي کړي دي او اسناد یې صحیح دي .

{۲۰۵} و عن مُجَاهِدٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَلَمْ يَكُنْ يَرْفَعُ يَدَيْهِ إِلَّا فِي التَّكْبِيرَةِ الْأُولَى مِنَ الصَّلَاةِ رواه الطحاوي و ابوبكر بن ابي شيبة والبيهقي في المعرفة و سنده صحيح .(۲)

ترجمه : او مجاهد رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې ما د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې مونځ وکړ نو هغه لاسونه نه دي اوچت کړي مګر د مانځه په اولني تکبیر کې . د دي حدیث روایت طحاوي ، ابوبکر ابن ابي شیبه او بیهقي په معرفت کې کړي دي او سند یې صحیح دي .

{۲۰۶} و عَنْ إِبْرَاهِيمَ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَاةِ إِلَّا فِي الْافْتِتَاحِ رواه الطحاوي وابن ابي شيبة و اسناده مرسل جيد .(۳)

ترجمه : ابراهیم رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مانځه په یوه شئ کې هم لاسونه نه وُ اوچت کړي په غیر د شروع د مانځه نه . د دی حدیث روایت طحاوي او ابن ابي شیبه کړي دي او اسناد یې مرسل جید دي .

{۲۰۷} وَعَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ كَانَ أَصْحَابُ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَصْحَابُ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا يَرْفَعُونَ أَيْدِيَهُمْ

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۴ باب التكبيرات ، مصنف ابن ابي شيبة ، كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۶ باب من كان يرفع يديه ...الخ ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۲ص ۸۰ من لم يذكر الرفع الا عند الافتتاح .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۵ باب التكبيرات ، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۷ باب من كان يرفع يديه ...الخ ، معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج۲ص ۴۲۹ رقم الحديث ۲۳۰۸ .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۶ باب التكبيرات،مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۶ باب من كان يرفع يديه ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَّا فِي إِفْتِتَاحِ الصَّلَاةِ قَالَ وَكِيعٌ ثُمَّ لَا يَعُودُونَ رواه أَبُوبَكْر بن ابي شيبة و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : ابي اسحاق رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ملګرو خپل لاسونه يقيناً د مانځه د شروع کې اوچت کړي وُ . وکيع رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې بيا يې نه وُ اوچت کړي . دا حديث ابوبکر بن ابي شيبه روايت کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

قَالَ النِّيمَوِي الصَّحَابَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ وَ مَنْ بَعْدَهُمْ مُخْتَلِفُونَ فِي هٰذَا الْبَابِ وَ أَمَّا الْخُلَفَاءُ الْأَرْبَعَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فَلَمْ يَثْبُتْ عَنْهُمْ رَفْعُ الْأَيْدِي فِي غَيْرِ تَكْبِيرَةِ الْإِحْرَامِ وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ .

ترجمه : امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او تابعين رَحِمَهُمُ اللهُ په دې باره کې مختلف دي . خلور خلفاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې د دې د هغوئ نه د تحريمي تکبير نه په غير رفع اليدين نه دي ثابت شوي .

ترک رفع يدين په دلائلو باندې يو سرسري نظر :

۱... دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : " أَلَا أُصَلِّي بِكُمْ صَلَاةَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى لَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ إِلَّا فِي أَوَّلِ مَرَّةٍ " دا حديث سندا او متنا صحيح کيدو سره سره مسلک احناف عدم رفع باندې صريح هم دي .

۲... دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث مرفوعا وموقوفا : " ترفع الأيدي في سبع مواطن : اذا قام الى الصلاة . واذا رأى البيت . وعلى الصفاء والمروة . وفي جمع . وفي عرفات . وعند الجمار " حديث سندا قوي دي ، په مذکوره اوه ځايونو کې عند الرکوع وعند الرفع ذکر نشته .

۳... امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې خلفاء راشدين رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ، عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او نور ډير صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او دهغوي شاګردان درفع يدين قائل نه وو .

درفع يدين دد لائلو جواب :

۱... په دې باب کې درفع قائلينو دتولو نه مضبوط دليل حديث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره ګرځولې دي ، داحنافو دطرفنه ددې دوه مشهور جوابونه دي :

(الف) دا حديث منسوخ شوي دی ، ځکه چې پخپله راوي دحديث عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درفع يدين قائله نه وو دا خبره دده نه دده يو تکړه شاګرد مجاهد رَحِمَهُ اللهُ نقل کړي ده او ددې ثبوت په صحيح سند سره دي لهذا دراوي عمل به خپل مروي حديث په خلاف ددې دنسخ دليل ګڼلې کيږي .

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۶ باب من كان يرفع يديه ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

(ب) دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درفع يدين والا روايتونه دومره متعارض دي چې دډېنه يو لره ترجيح ورکول مشکل دي ، صحاح سته ، مؤطا مالک رَحِمَهُ اللهُ او جزء رفع اليدين للبخاري او په نورو کتابونو کې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوه ځايه درفع يدين ثبوت دي :

(۱) تکبير دافتتاح په وخت .(۲) عند الرکوع . (۳) عندالرفع من الرکوع :(۴) دريم رکعت ته داودريدو په وخت .(۵) سجدې ته دتللو په وخت .(٦) ددوو سجدو په مينځ کې .(۷) دسرخکتول او اوچتولو په وخت :

يو سوال: چې کله تاسو دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دروايت مطابق رفع يدين کول غواړي نو په باقي ځلور ځايونو کې ولې رفع يدين نه کوي ؟ **فما هو جوابكم عنها فهو جوابنا!**

۲... حديث دمالک بن الحويرث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې دسجدې په وخت هم درفع يدين ذکر موجود دي دکوم مطابق چې پخپله دشوافعو او حنابلو عمل نشته .

دترک رفع يدين يو ځو دترجيح وجې :

(۱) دترک رفع يدين والا روايتونه اوفق بالقرآن دي : ځکه چې دالله تعالى جل شانه ارشاد دي : (**وقوموا لله قانتين**) په مونځ کې خشوع او خضوع او داطمينان حکم دي او په ترک درفع کې دکم نه کم حرکت په وجه دآيت په مقتضى باندې زيات عمل دي .

(۲) دحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايات په ترک رفع کې هيڅ اختلاف يا اضطراب نشته نه دده عمل ددې په خلاف منقول دي بلکې دده نه صرف ترک رفع ثابت ده حال دا چې دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايتونو کې اختلاف هم دي او پخپله دده نه ترک رفع هم ثابته ده لکه څنګه چې پاس ددې وضاحت اوشو .

(۳) داحاديثو په مينځ کې دتعارض په وخت تعامل دصحابو او تعامل امت لره لوي اهميت حاصل دي . چنانچې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پخپله دلويو صحابو نه دي او په سفر او په حضر کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " صاحب النعلين والسواک والوسادة" کيدو شرف هم ورته حاصل دي دا دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل ترک درفع نقل کوي او ددېنه غير لوي صحابه مثلا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عشره مبشره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل هم دده دروايتونو مؤيد دي همدارنګه اهل مدينه او اهل کوفه يعني دعلوم نبوت ددوو اهم مرکزونو خلکو تعامل هم دترک رفع پاتې شوي دي ليکن په نورو بنارونو کې رافعين او تارکين دواړه موجود وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه دروايت ټول روات فقهاء دي او پخپله حضرت ابن مسعود رضي الله عنه درفع يدين دټولو راويانو په مقابله کې افقه دي او حديث مسلسل بالفقهاء دنورو روايانو په مقابله کې راجح وي.

بَابُ التَّكْبِيرِ لِلرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ وَالرَّفْعِ

د رکوع، سجدي او ددې نه د اوچتيدو دپاره د تکبير باب:

{۴۰۸} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْعَةِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَهْوِي ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَسْجُدُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْفَعُ رَأْسَهُ ثُمَّ يَفْعَلُ ذٰلِكَ فِي الصَّلَاةِ كُلِّهَا حَتّٰى يَقْضِيَهَا وَيُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ مِنَ الثِّنْتَيْنِ بَعْدَ الْجُلُوسِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت ابي هريره رضي الله عنه ويلي دي چې کله به رسول الله صلى الله عليه وسلم مانځه ته پاڅيده د ودريدو په وخت کې به يې تکبير کاوه بيا به يې د رکوع په وخت کې تکبير کاوه بيا به يې سمع الله لمن حمده په هغه وخت کې ويله چې د رکوع نه به يې شا اوچته کړه بيا به يې ربنا ولک الحمد په هغه وخت وايه چې هغه به ولاړ وي بيا به يې په هغه وخت کې تکبير کاو چې ښکته کيده به بيا به يې په هغه وخت کې تکبير کاوه چې کله به يې سر اوچتاوه بيا به يې تکبير کاوه چې کله به يې سجده کوله بيا به يې تکبير وايه چې کله به يې سر اوچتاوه بيا به يې په ټول مانځه کې همدغه شان کول تر څو پورې به يې چې مونځ ادا کړو او په هغه وخت کې به يې تکبير وايه چې د کيناستو نه روسته به د دوه رکعتونو نه اوچتيده. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

{۴۰۹} وعن أَبِي سَلَمَةَ رضي الله عنه عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه كَانَ يُصَلِّي بِهِمْ فَيُكَبِّرُ كُلَّمَا خَفَضَ وَرَفَعَ فَإِذَا انْصَرَفَ قَالَ إِنِّي لَأُشْبِهُكُمْ صَلَاةً بِرَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم رواه البخاري.(۲)

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۹ باب التكبير اذا قام من السجود. مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۹ باب اثبات التكبير في كل خفض ...الخ.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۹ باب اتمام التكبير في الركوع.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابي سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغو ته مونځ کړي ؤ نو کله به چې په مانځه کې بښته کيده او پورته کيده نو تکبير به يې وايه او کله يې چې سلام واړه ؤ نو وي ويل چې ما تاسو ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه سره مشابه مونځ ادا کړ. د دي حديث روايت بخاري کړي.

{۴۱۰} وَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْحَارِثِ قَالَ صَلَّى لَنَا أَبُو سَعِيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَجَهَرَ بِالتَّكْبِيرِ حِينَ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السُّجُودِ وَ حِينَ سَجَدَ وَ حِينَ رَفَعَ وَ حِينَ قَامَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَ قَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : د سعيد بن الحارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې مونږ ته ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونځ وکړو نو په جهر سره يې تکبير ووايه کله يې چې د سجدي نه سر پورته کړ او کله يې چې سجده کوله او کله يې چې د سجدي نه سر پورته کاوه او کله چې د دوه ؤ رکعتونو نه اوچتيده او وي ويل چې ما همدغسې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

{۴۱۱} وَ عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ رَفْعٍ وَ خَفْضٍ وَ قِيَامٍ وَ قُعُودٍ رواه احمد والنسائي والترمذي وصححه.(۲)

ترجمه : حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هر يو د پورته کيدو بښته کيدو او ودريدو او د کيناستو په وخت کې چې تکبير به يې کاوه ليدلي دي.

{۴۱۲} وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ ثَلَاثٌ كَانَ يَفْعَلُهُنَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تَرَكَهُنَّ النَّاسُ كَانَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ رَفَعَ يَدَيْهِ مَدًّا وَ كَانَ يَقِفُ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ هَنِيَّةً وَ كَانَ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ خَفْضٍ وَ رَفْعٍ رواه النسائي و اسناده حسن.(۳)

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې دري شيان داسې دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کول او خلکو هغه پريښودل کله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانځه ته اودريده نو لاسونه به يې

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۱۴ باب يكبر وهو ينهض من السجدتين.

(۲) مسند احمد ج۱ص ۳۸۶، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۴۴ باب التكبير للسجود، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۹ باب ماجاء في التكبير عند الركوع والسجود.

(۳) نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۴۱ باب رفع اليدين مدًّا.

Maktaba Tul Ishaat.com

پورته اوچتول او د قرات نه به لږ مخکې چپ کیده او د هر بنکته کیدو او پورته کیدو په وخت کې به يې تکبير وايه . د دي حديث روايت نسائي کړي او اسناد يې حسن دي .

مسئلة الباب : ائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ او جمهور علماء په دي باندې اتفاق دي چې رکوع او سجدې او نور مواقعو باندې ديو رکن نه بل رکن طرفته د منتقل کيدو په وخت تکبير الله اکبر ويل سنت دي .

بَابُ هَيْآتِ الرُّكُوعِ

د رکوع د هيئت او شکل بَاب :

{۲۱۳} عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ قَالَ صَلَّيْتُ إِلَى جَنْبِ أَبِي فَطَبَّقْتُ بَيْنَ كَفَّيَّ ثُمَّ وَضَعْتُهُمَا بَيْنَ فَخِذَيَّ فَنَهَانِي أَبِي وَقَالَ كُنَّا نَفْعَلُهُ فَنُهِينَا عَنْهُ أُمِرْنَا أَنْ نَضَعَ أَيْدِينَا عَلَى الرُّكَبِ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : مُصعب ابن سعد رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د خپل والد پلار په خوا کې مې مونځ کاوه نو ما دواړه ورغوي يو ځاي کړل ښيا مې د دواړو ورنونو تر منځ کيخودل نو زه خپل پلار منع کړم او وې ويل چې مونږ دا کار کاوه نو مونږ د دي نه منع کړي شو نو مونږ ته امر وکړي شو چې مونږ دواړه لاسونه په زنګنونو او ګوڼدو باندې کيدو . د دي حديث روايت د محدثينو جماعت کړي دي .

{۲۱۴} وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ عُقْبَةَ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ رَكَعَ فَجَافَى يَدَيْهِ وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ وَفَرَّجَ بَيْنَ أَصَابِعِهِ مِنْ وَرَاءِ رُكْبَتَيْهِ وَقَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي رواه احمد و ابوداود و النسائي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د ابي مسعود عقبه ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې هغه رکوع وکړه نو خپل لاسونه يې د ارخونو نه لرې وساتل او خپل دواړه لاسونه يې په زنګنونو باندې کيخوندل او د ګوتو تر منځ يې پراخوالي اوکړ او د ګوڼدو په مخامخ برخه يې ګوتې پراخه او کولاؤ کړې او وې ويل چې

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ صـ ۱۰۹ باب وضع الاکف علی الرکب في الرکوع ، مسلم کتاب المساجد ج۱ صـ ۲۰۲ باب الندب الی وضع الایدي ...الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۵۹ باب ماجاء في وضع الیدین علی الرکبتین في الرکوع ، نسائي کتاب الافتتاح ج۱ صـ ۱۵۹ باب التطبیق ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۲۴ باب تفریع ابواب الرکوع والسجود ...الخ ابن ماجة کتاب الصلوة صـ ۶۳ باب وضع الیدین علی الرکبتین ، مسند احمد صـ .

(۲) مسند احمد ج۴ صـ ۱۳۰ ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۲۴ باب صلوة من لا یقیم صلبه في الرکوع والسجود ، نسائي کتاب الافتتاح ج۱ صـ ۱۵۹ باب مواضع اصابع الیدین في الرکوع .

Maktaba Tul Ishaat.com

دغسې مې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې مونځ يې کاوه د دې حديث روايت احمد ، ابوداؤد او نسائي کړې او اسناد يې صحيح دي .

{۴۱۵} و عن أبي برزة الأسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إذا ركع لو صُبَّ على ظهره ماء لاستقرّ رواه الطبراني في الكبير والاوسط و قال الهيثمي رجاله ثقات . (۱)

ترجمه : حضرت ابي برزه الاسلمي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله رکوع کول که چرته د ده په مبارکه شا او به اړولي شوي وي خامخا به په خپل ځاي ولاړي وني . دا حديث طبراني په کبير او اوسط کې نقل کړې دي او هيثمي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې رجال يې ثقه دي .

تطبيق في الركوع مطلب او حكم

"هيئات الركوع" په رکوع کې دجسم مختلف حصو دحالتونو په اعتبار سره يې "هيئات" جمع راوړه .

قوله " فطبقت بين كفي" تطبيق ديته وايي چې ددواړو لاسونو ورغوړه يوځاي کړي او ديو لاس گوتې په بل کې وردا خلې کړي لکه څنګه چې په " تشبيک" کې کيږي ، او بيا دواړو لاسونو ته دزنګنو نو په مينځ کې زور کړي شي .

دباب اولنې حديث دحضرت سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دزوي مصعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دې هغه فرمايي چې ما په رکوع کې دننه تطبيق اوکړو نو والد محترم حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دداسې کولو نه منع او فرمايله او وې فرمايل چې دتطبيق حکم په ابتداء کې وو بيا روسته منسوخ شو .

بَابُ الْاِعْتِدَالِ وَالطَّمَانِينَةِ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

په رکوع او سجده کې د اعتدال او ارام کولو باب :

{۴۱۶} عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ عَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَصَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ثَلَاثًا فَقَالَ وَالَّذِي بَعَثَكَ

---

(۱) المعجم الاوسط ج ۶ ص ۳۱۶ برقم ۵۶۷۲ مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ص ۱۲۳ باب صفة الركوع نقلاً عن الطبراني في الكبير والبزار بعلى .

Maktaba Tul Ishaat.com

يَا بُنَيَّ مَا أَحْسَنَ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِي فَقَالَ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنَ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ افْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسجد ته تشريف ويوړو نو يو سړي مسجد ته راغي نو مونځ يې وكړ بيا راغي په نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې سلام واچوه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَام پرې سلام رد كړو وې فرمائل چې واپس لاړ شه مونځ وكړه بې شكه تا مونځ نه دي كړي نو مونځ يې وكړ بيا راغي په نبي عَلَيْهِ السَّلَام باندې يې سلام واچوه نو ورته وې فرمائل چې واپس لاړ شه مونځ وكړه بې شكه تا مونځ نه دي كړي دري ځله يې داسې ورته وفرمائل نو هغه عرض وكړو وې ويل په هغه ذات قسم دي چې ته يې په حقه رالېږلي يې چې زه د دې نه پهښه شان سره مونځ نشم كولې نو ماته مونځ وښايه نو نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې كله ته اراده د مانځه وكړې نو تكبير ووايه بيا چې تا سره د قرآن كريم نه اسان څه شي وي لوله بيا ركوع وكړه تر هغې پورې چې ته ښه ارام شي د ركوع په حالت كې بيا اوچت شه تر هغې پورې چې د ولاړې په حالت كې ښه برابر شي بيا سجده وكړه تر هغې پورې چې د سجدې په حالت كې ښه ارام شي بيا پاڅه تر هغې پورې چې د كيناستو په حالت كې ښه په ارام شي بيا سجده وكړه تر هغې پورې چې د سجدې په حالت كې ښه په ارام شي بيا دغسې فعل او عمل په خپلو ټولو مونځونو كې كوه د دې حديث روايت شيخينو كړې دي.

{۴۱۴} وَعَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رُكُوعُ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ سُجُودُهُ وَ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ مَا خَلَا الْقِيَامَ وَالْقُعُودَ قَرِيبًا مِنَ السَّوَاءِ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : حضرت براء ابن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ركوع او سجده او د دوۀ سجدو تر منځ وقفه او كله به يې چې سر مبارک د ركوع نه اوچتاوه په غير د قيام (ودريدو) او د قعود (د تشهد د پاره كيناستل) سره تقريبًا برابرو.

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۹ باب امر النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الذي لا يتم ركوعه بالاعادة ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۰ باب وجوب قراءة الفاتحة في كل ركعة ...الخ .

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۹ باب حد اتمام الركوع ...الخ ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۹ باب اعتدال اركان الصلوة وتخففها في تمام .

Maktaba Tul Ishaat.com

{۴۱۸} وَعَنْ رِفَاعَةَ بْنِ رَافِعٍ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ وَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ فِي الْمَسْجِدِ فَصَلَّى قَرِيبًا مِنْهُ ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعِدْ صَلَاتَكَ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ فَصَلَّى كَنَحْوِ مَا صَلَّى ثُمَّ انْصَرَفَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَلَّمَ عَلَيْهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَعِدْ صَلَاتَكَ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ عَلِّمْنِي فَقَالَ إِذَا اسْتَقْبَلْتَ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ بِأُمِّ الْقُرْآنِ ثُمَّ اقْرَأْ بِمَا شِئْتَ فَإِذَا رَكَعْتَ فَاجْعَلْ رَاحَتَيْكَ عَلَى رُكْبَتَيْكَ وَامْدُدْ ظَهْرَكَ وَ مَكِّنْ رُكُوعَكَ فَإِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ فَأَقِمْ صُلْبَكَ حَتَّى تَرْجِعَ الْعِظَامُ إِلَى مَفَاصِلِهَا فَإِذَا سَجَدْتَ فَمَكِّنْ لِسُجُودِكَ فَإِذَا رَفَعْتَ رَأْسَكَ فَاجْلِسْ عَلَى فَخِذِكَ الْيُسْرَى ثُمَّ اصْنَعْ ذٰلِكَ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ وَ سَجْدَةٍ رواه احمد و اسناده حسن.(۱)

ترجمه: حضرت رفاعه بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي چې يوسړي په داسي حال کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغي چې هغه په مسجد کې ناست وُ نو هغه سړي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره نزدې مونځ وکړو بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته راغي نوسلام يې په هغه باندې واچاوه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وفرمائل چې. مونځ راوګرځوه بې شکه تا مونځ نه دي کړي نو سړي واپس شو او د مخکې مونځ په شان يې بيا مونځ وکړو بيا راغي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرف ته نو سلام يې واچو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې مونځ دي راوګرځوه تا مونځ نه دي کړي نو سړي وويل چې اي د الله تعالى رسوله ماته يې وهايه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې کله قبلې ته مخامخ شې نو تکبير وويايه بيا سورت فاتحه ولوله بيا د قران کريم نه دي چې څه خوښه وي هغه ولوله کله چې رکوع کوي نو دواړه لاسونه په ګټو او زنګنونو باندې کيده او شا خوره کړه او په ارام سره رکوع وکړه نو کله چې ته سر را اوچت کړي نو ملا نيغه کړه تر هغې پورې چې تول هډوکي خپلو بندونو ته واپس ورشي او کله چې ته سجده کوي نو په ارام سره سجده وکړه او کله چې ته د سجدې نه سر را اوچت کړي نو په چپ اوګس وروڼ باندې کينه بيا په هره رکوع او سجده کې دا کار وکړه. د دې حديث روايت احمد کړي او اسناد يې حسن دي.

{۴۱۹} وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَسْوَأُ النَّاسِ سَرِقَةً الَّذِي يَسْرِقُ

---

(۱) مسند احمد ج ۴ صـ ۳۴۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

مِنْ صَلَاتِهِ قَالُوا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ كَيْفَ يَسْرِقُ مِنْ صَلَاتِهِ قَالَ لَا يُتِمُّ رُكُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا وَلَا يُقِيْمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَلَا فِي السُّجُوْدِ رواه احمد والطبراني و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۱)

ترجمه: او د حضرت قتاده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي په خلکو کې بدترين غل هغه څوک وي چې د خپل مانځه نه غلا کوي صحابه کرامو وويل اي دالله تعالى رسوله هغه به څنګه د خپل مانځه نه غلا وکړي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې په مانځه کې رکوع او سجده پوره او مکمله نه کوي او په رکوع او سجده کې ملا نه نيغوي. د دي حديث روايت احمد او طبراني کړي دي او هيثمي ويلي دي چې د دي حديث راويان د صحيح راويان دي.

۴۲۰) {وَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ كَانَ مِنَ الْوَفْدِ قَالَ خَرَجْنَا حَتّٰى قَدِمْنَا عَلٰى رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبَايَعْنَاهُ وَ صَلَّيْنَا خَلْفَهُ فَلَمَّحَ بِمُؤَخَّرِ عَيْنِهِ رَجُلًا لَا يُقِيْمُ صَلَاتَهُ يَعْنِي صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ فَلَمَّا قَضَى النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ قَالَ يَا مَعْشَرَ الْمُسْلِمِيْنَ لَا صَلَاةَ لِمَنْ لَا يُقِيْمُ صُلْبَهُ فِي الرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ رواه ابن ماجه و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: او د حضرت علي بن شيبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي او هغه د وفد د جملي نه وُ ويلي يې دي چې مونږ راوُوتلو تر دي پورې چې د حضرت رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضور کې حاضر شو نو مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره بيعت وکړو او د ده پسې مو مونځ وکړو نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مبارکو سترګو په کونجونو کې يو سړي وليد چې نه به يې نيغه وله شا خپله په رکوع او سجده کې نو کله چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه نه فارغ شو وي فرمائل چې اي د مسلمانانو ډلې د هغه چا مونځ نشته چې په رکوع او سجده کې خپله شانه نيغه وي. د دي حديث روايت ابن ماجه کړي او اسناد يې صحيح دي.

---

(۱) مسند احمد ج ۵ صـ ۳۱۰، المعجم الكبير للطبراني ج۳ صـ ۲۴۲ رقم ۳۲۸۳، مستدرک حاکم کتاب الصلوة ج۱صـ ۲۲۹ باب في رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من اقرء العرائب، مجمع الزوائد ج۲صـ ۱۲۰ باب ماجاء في الركوع والسجود.

(۲) ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۶۳ باب الركوع في الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

{۲۲۱} وعن ابن عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سَجْدَةٌ مِنْ سُجُودِ هٰؤُلَاءِ أَطْوَلُ مِنْ ثَلَاثِ سَجَدَاتِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه احمد والطبراني و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عُمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې د هغه خلکو د سجدو نه د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه سجده د درېو سجدو نه زياته اوږده وه. د دي حديث روايت په طبراني کې احمد کړي دي او اسناد يې حسن دي.

{۲۲۲} وَعَنْ عَدِيِّ بْنِ حَاتِمٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَنْ أَمَّنَا فَلْيَتِمِّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ فَإِنَّ فِينَا الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَعَابِرَ سَبِيلٍ وَذَا الْحَاجَةِ هٰكَذَا كُنَّا نُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. رواه احمد و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : حضرت عدي بن حاتم رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې کوم کس چې مونږ ته امامت کوي نو رکوع او سجده دي پوره کړي ښکه په مونږ کې کمزوري، بوډا، مسافر او حاجتمند خلک موجود دي همدغسې به مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ کاوه. دا حديث احمد روايت کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

دتعديل ارکان حکم

دتعديل ارکان حقيقت دادي چې دمونځ هر رکن دي دومره اطمينان سره ادا کړې شي چې ټول اندامونه پخپل پخپل مقام باندې مستقر شي.

(۱) ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ او امام ابويوسف رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد فرض دي ددې نه بغير رکوع او سجدې صحيح نه دي او مونځ باطل دي.

(۲) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دمشهول قول په بناء باندې واجب دي، ددې په ترک کولو سره خو به فرض ادا شي ليکن مونځ به واجب الاعاده وي.

منشاء د اختلاف : دا اختلاف په دې اصولي اختلاف باندې مبني دي چې امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دخبرواحد نه دفرضيت دثبوت قائله نه دي بلکې امام صاحب په نزد دخبرواحد نه واجب ثابتيږي کوم چې دفرض او دسنت په مينځ کې يوه درجه ده، ليکن دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ په نزد فرض او واجب کې هيڅ فرق نشته.

---

(۱) مسند احمد ج۴ صـ ۱۰۹.

(۲) مسند احمد ج۴ صـ ۲۵۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

دائمه ثلاثه دليل:

۱... ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث چې يو کس دتعديل دارکانو نه بغير مونځ اوکړو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته اوفرمايل " اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَصَلِّ ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اِرْجِعْ فَصَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ " نو دتعديل ارکان په نه کولو سره دمونځ نه نفي اوکړې شوه او په دويم ځل دکولو حکم ورته اوکړې شو.

۲... درفاعه بن رافع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث: " اَعِدْ صَلَاتَكَ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ " دمخکيني په شان.

دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام محمد رَحِمَهُ اللهُ دليل: دغه دواړه حديثونه خاص کر درفاعه حديث چې "حديث مسيء الصلاة" په نوم باندې مشهور دي، استدلال په دې طور باندې دي چې دروايت په آخر کې (په روايت دامام ترمذي) دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې کس نه دا ارشاد موجود دي " فاذا فعلت ذلک فقد تمت صلاتک وان انتقصت منه شيئا انتقصت من صلاتک ". تعديل ارکان په نه کولو باندې چې کله ابتداءً "لم تصل" اويلې شوه نو صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ لږ پريشان شو ليکن چې کله په آخر کې يې دا واوريدل چې تعديل ارکان سره مونځ بالکل نه کالعدم کيږي بلکې په دې کې نقص او کمي راځي کوم باندې چې په ترک دواجب دوجې نه دمونځ اعاده واجب اوګرځولې شوه نو دريته دا خبره د مخکې خبرې نه داسې پيکه اولګيده.

بَابُ مَا يُقَالُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

باب دې په بيان دهغه څه کې چې ويل کيږي په رکوع او سجده کې

{۲۲۲} {عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَكَعَ فَقَالَ فِي رُكُوعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ وَفِي سُجُودِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى} رواه النسائي و آخرون و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه: حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونځ وکړو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله رکوع کې سبحان ربي العظيم او په خپله سجده کې يې سبحان ربي الاعلى وويله، معنى دا چې زما د عظمت والا رب پاک دي. او زما رب ډير اوچت او علي دي. دا حديث نسائي او نورو محدثينو روايت کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

---

(۱) نسائي كتاب الافتتاح ج ۱ ص ۱۶۰ باب الذكر في الركوع.

Maktaba Tul Ishaat.com

} ۴۲۴ {وَعن عُقْبَة بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا نَزَلَتْ فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِيمِ قَالَ لَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجْعَلُوهَا فِي رُكُوعِكُمْ فَلَمَّا نَزَلَتْ سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى قَالَ اجْعَلُوهَا فِي سُجُودِكُمْ رواه احمد و ابوداود بإبن ماجه والحاكم وابن حبان و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : او حضرت عقبه بن عامر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویلي دي چې کله فسبح باسم ربک العظیم ایت نازل شو رسول کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته وفرمائل چې دا په خپله رکوع کې وګرځوئ او کله چې سبح اسم ربک الاعلیٰ ایت کریمه نازل شو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې دا په خپله سجده کې وګرځوئ. د دي حدیث روایت احمد ، ابوداؤد ، ابن ماجه ، حاکم او ابن حبان کړي دي او اسناد یې حسن دي.

} ۴۲۵ {وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُسَبِّحُ فِي رُكُوعِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ ثَلَاثًا وَفِي سُجُودِهِ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى ثَلَاثًا رواه البزار والطبراني و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : د حضرت ابي بکره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپله رکوع کې دري ځله سبحان ربي العظیم او په خپله سجده کې یې دري ځله سبحان ربي الاعلیٰ فرمائلي دي. د دي حدیث روایت بزار او طبراني کړي دي او اسناد یې حسن دي.

مسئلة الباب : په رکوع او په سجده کې د تسبیح حکم

په رکوع او په سجده کې کم ازکم یو پیره سبحان الله ویل دامام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد فرض دي ، لیکن د جمهورو په نزد تسبیح ویل سنت دي : دري پیره ویل دسنت ادنی درجه ده او پنځه پیره اوسط او اوه (۷) پیره اکمل. د دریو نه کم مکروه تنزیهي دي .(رد المحتار : ۴۹۴/۱)

بَابُ مَا يَقُولُ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ

(۱) مسند احمد ج ۴ ص ۱۵۵ ، ابن ماجة كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۲۴ باب ما يقول الرجل في ركوعه وسجوده، ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۶۴ باب التسبيح في الركوع والسجود ، مستدرک حاکم كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۲۵ باب ان الذي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان اذا ركع فرج بين اصابعه ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج ۳ ص ۱۸۵ رقم الحديث ۱۸۹۵ .

(۲) كشف الاستار عن زوائد البزار ج ۱ ص ۲۴۲ رقم ۵۳۸ ، مجمع الزوائد ج ۲ ص ۱۲۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

باب دي په بيان دهغه څه کې چې ويل کيږي د رکوع نه د سر د اوچتيدو په وخت کې:

}۴۲۶{ (عن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ يُكَبِّرُ حِينَ يَقُومُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِينَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَهُ مِنَ الرَّكْوعِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې. کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مانځه ته اراده وکړه تکبير به يې وکړ کوم وخت کې به چې ودريده بيا به يې تکبير وکړو کله به يې چې رکوع کوله بيا به يې سمع الله لمن حمده وويل کله به يې چې د رکوع نه شا مبارکه اوچتوله بيا به يې ربنا ولک الحمد په داسې حال کې وايه چې وبه دريده . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

}۴۲۷{ (وعنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قَالَ الْإِمَامُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ فَإِنَّهُ مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې امام سمع الله لمن حمده ووايي نو تاسي اللهم ربنا لک الحمد ووايي ولي ځکه چې د چا قول د ملائکو د قول سره موافق او برابر شي نو د هغه پخواني ګناهونه به معاف کړي شي. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

}۴۲۸{ (وَعَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَقَطَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ فَرَسٍ فَجَحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ فَدَخَلْنَا عَلَيْهِ نَعُودُهُ فَحَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى بِنَا قَاعِدًا فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا فَلَمَّا قَضَى الصَّلَاةَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا كَبَّرَ فَكَبِّرُوا وَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۹ باب التكبير اذا قام من السجود ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۹ باب اثبات التكبير في كل خفض ورفع.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۹ باب فضل اللهم ربنا ولک الحمد ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۴ باب التسميع والتحميد والتامين.

Maktaba Tul Ishaat.com

الله لِمَنْ حَمِدَه فَقُولُوا رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ وَاِذَا سَجَدَ فَاسْجُدُوا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اس نه وليدلي ؤ نو بني ارخ يې کړيدلي ؤ نو مونږ يې پوښتنې ته ورغلو نو د سانځه وخت شو نو په ناسته يې مونږ ته مونځ وکړ نو مونږ هم ورپسې په ناسته مونځ وکړ نو کله چې د مانځه نه فارغ شو وې فرمائل چې په تحقيق خبره همدا ده چې امام د دې د پاره مقرر کړې شوې چې اقتداء ورپسې وکړې شي نو امام چې کله تکبير وايي تاسي به هم تکبير وايي او کله چې رکوع کوي نو تاسي به هم رکوع کوئ او کله چې اوچتيږي نو تاسي به هم اوچتيږئ او کله چې سمع الله لمن حمده وايي نو تاسي به ربنا لک الحمد وايي او کله چې امام سجده کوي نو تاسي به سجده کوئ. د دې حديث روايت شيخينو کړې دي.

په قومه کې دتسميع حکم

دمنفرد په باره کې اتفاق دي چې هغه به تسميع او تحميد دواړه وايي ، همدارنګه مقتدي په باره کې هم اتفاق دي چې هغه به صرف تحميد وايي ، البته دامام په باره کې اختلاف دي :

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد امام به دمنفرد په شان دواړه وايي.(۲) امام ابو حنيفه ، امام مالک او امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد امام به صرف تسميع وايي.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل : حديث ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " ثُمَّ يَقُولُ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه حِينَ يَرْفَعُ صُلْبَه مِنَ الرَّكْعِ ثُمَّ يَقُولُ وَهُوَ قَائِمٌ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ" حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به امام وو خو يا به يې هم تسميع او تحميد دواړه ويلي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دليل : دويم او دريم حديث کوم کې چې تقسيم دي چې کله امام سمع الله لمن حمده وايي نو تاسو ربنا لک الحمد وايي.

تطبيق : دحضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اولني او دويم حديث کې تطبيق په دې طور باندې دي چې په اولني حديث کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انفرادي مونځ مراد وي او په بل حديث کې دجمع والا دمونځ حکم بيان وي.

په دريم حديث کې مذکوره مسئله اقتداء القائم بالقاعد وراندې به دمستقل باب لاندې بيان شي.

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۱۰۱ باب ايجاب التکبير وافتتاح الصلوة ، مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۶ باب ايتمام المأموم بالامام

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ وَضْعِ الْيَدَيْنِ قَبْلَ الرُّكْبَتَيْنِ عِنْدَ الْإِنْحِطَاطِ لِلسُّجُودِ

د سجدي په وخت کې د ځنګنونو نه مخکې د لاسونو د ایښودلو باب :

۴۲۹) {عن أبي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ أَحَدُكُمْ فَلَا يَبْرُكْ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ ثُمَّ رُكْبَتَيْهِ رواه احمد والثلاثة وهو حديث معلولٌ .(۱)

ترجمه : حضرت ابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي : چې که یو د ستاسي سجده وکړي نو داسي دي نه کیني لکه اوښ چې کیني معنی دا چې اوښ مخکې ځنګنونه ګډي خو هغه ته پکار داسي ده چې اول دي لاسونه کیږدي او بیا دي ځنګنونه کیږدي . د دي حدیث روایت احمد او د حدیث دریو کتابونو کړي او دا حدیث معلول دي .

۴۳۰) {وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَجَدَ يَضَعُ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ رواه الدارقطني والطحاوي والحاكم وابن خزيمة وصححه وهو معلول .(۲)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله سجده کوله نو لاسونه به یې د ځنګنونه مخکې ایښودل . د دي حدیث روایت دار قطني ، طحاوي ، حاکم او ابن خزیمه کړي او ابن خزیمه هغه صحیح ګنرلي دي او دا حدیث معلول دي .

مسئلة الباب : سجدې نه دتللو طریقه

(۱) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې اول لاسونه او بیا ځنګنونه په زمکه باندې کښودل پکار دي .

(۲) دامام ابوحنیفه ، شافعي او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد اول ځنګنونه په زمکه باندې کیده بیا لاسونه . دجمهورو په نزد اصول دادي چې کوم اندام زمکې ته نزدې دي سجدې ته دتللو په وخت اول هغه په زمکه کیږدو او بیا دا رچتیدلو په وخت دد ي برعکس .

---

(۱) مسند احمد ج۲ص ۳۸۱ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۶۱ باب ماجاء في وضع اليدين قبل الركبتين في السجود باب اخر منه ، سنن نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۶۵ باب اول ما يصل الى الارض من الانسان في سجوده . ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۱۲۲ باب كيف يضع ركبتيه قبل يديه .

(۲) دار قطني كتاب الصلوة ج۱ص ۳۴۶ باب ذكر الركوع والسجود ...الخ ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۴ باب ما يبدأ به وضعه في السجود ...الخ صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱ص ۳۱۹ رقم ۶۲۷ ، مستدرك حاكم كتاب الصلوة ج۱ص ۲۲۶ باب الصلوات في الفرائض الخمس .

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل:

۱... قولي حديث دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "لَا يَبْرُكُ كَمَا يَبْرُكُ الْبَعِيرُ وَلْيَضَعْ يَدَيْهِ ثُمَّ رُكْبَتَيْهِ" په دې کې په زمکه باندې اول ځنګون لره دايخود دلو نه منع کړې شوې ده.

۲... فعلي حديث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "كان إذا سجد يضع يديه قبل ركبتيه". حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اول خپل لاس مبارک او بيا به يې ځنګون په زمکه باندې ايخود دلو.

دجمهورو دلايل دراروان باب لاندې اوګورئ.

بَابُ وَضْعِ الرُّكْبَتَيْنِ قَبْلَ الْيَدَيْنِ عِنْدَ الْإِنْحِطَاطِ لِلسُّجُودِ

سجدې ته د ښکته کيدو په وخت کې د لاسونو نه مخکې د زنګنونو دايخودلو باب

{۳۲۱} {عَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ وَإِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ رواه الاربعة وابن خزيمة وابن حبان وابن السكن وحسنه الترمذي.(۱)

ترجمه: حضرت وائل ابن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې کله يې سجده کوله د خپلو لاسونو نه يې مخکې خپل زنګنونه ايخودل او کله به چې د سجدې نه اوچتيده نو خپل لاسونه به يې د زنګنونه مخکې اوچتول. د دي حديث روايت ځلورو صاحبانو او ابن خزيمه، ابن حبّان او ابن سکن کړې دي او ترمذي حسن ګنرلې دي.

{۳۲۲} {وَعَنْ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ قَالَا حَفِظْنَا عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي صَلَاتِهِ أَنَّهُ خَرَّ بَعْدَ رُكُوعِهِ عَلَى رُكْبَتَيْهِ كَمَا يَخِرُّ الْبَعِيرُ وَوَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه: حضرت علقمه رَحِمَهُ اللهُ او حضرت اسود رَحِمَهُ اللهُ دواړو ويلي دي چې مونږ د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د ده په مانځه کې دا خبره ياده کړې ده چې هغه د رکوع نه روسته په خپلو ځنګونو

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۴۱ باب ماجاء في وضع اليدين قبل الركبتين. ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۲۲ باب كيف يضع ركبتيه قبل يديه. نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۶۵ باب اول ما يصل الى الارض من الانسان في سجوده...الخ. ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۶۳ باب السجود، صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱ص ۳۱۹ رقم الحديث ۶۲۹. صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج۳ ص ۱۹۱ رقم الحديث ۱۹۰۹.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۴ باب ما يبدأ به منهما في السجود ....الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

پریوانه لکه څنګه چې اوښ پریوزي او کینبودل هغه خپل دواړه څنګونه مخکې د لاسونو نه . د دې حدیث روایت طحاوي کړې او اسناد یې صحیح دي .

په مسئلة الباب کې د جمهورو دلیل :

۱... حدیث د وائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْهِ " د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا عمل وو چې په سجده کې به یې اول څنګونه او بیا به یې لاس په زمکه ایخودلو .

۲... د علقمه رَحِمَهُ اللهُ او داسود رَحِمَهُ اللهُ حدیث چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم اول څنګونه او وروسته به یې لاسونه په زمکه باندې ایخودلو .

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ **ته جواب** :۱. دابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث سندا ضعیف کیدو سره سره په دې کې یو سخت علت دې هغه دا چې ددې اولني او دویمه تکړا دیو بل متضاد دي ؛ ځکه چې په اولني تکړه کې داوښ په ښان دناستې نه ممانعت دې او داوښ عادت دې چې اول خپل لاسونه په زمکه باندې ګدي لهذا ددې تکړې مقصد داشو چې اول څنګونه په زمکه کیږده ترڅو چې داوښ مخالفت اوشي لیکن په دویمه تکړه کې اول لاسونو لره په زمکه باندې ایخودلو حکم دې کوم چې بعینه داوښ په شان کیناستل دي په اصل کې د حدیثو الفاظ دا وو : "ولیضع رکبتیه قبل یدیه" دیو راوي نه غلطي شوې .

۲.حدیث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا هم معلول دې هغه داسې چې ددې عمل نسبت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرفته د عبیدالله په څوشاګردانو کې صرف عبدالعزیز بن محمد کولو او عبدالعزیز باندې محدثینو جرح کړې

بَابُ هَيْئَاتُ السُّجُودِ

د سجدې د شکل او هیئت باب :

۴۲۴ { عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِعْتَدِلُوا فِي السُّجُودِ وَلَا يَبْسُطُ أَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ اِنْبِسَاطَ الْكَلْبِ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي ارام او اطمنان کوئ په سجده کې او نه دي خوروي لیچي یو ستاسي نه په شان د خورولو د سپي د

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۱۱۳ باب لا یفترش ذراعیه في السجود ، مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۳ باب الاعتدال في السجود ...الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۶۳ باب ماجاء في الاعتدال في السجود ، ابوداؤد ج۱ص ۱۳۰ باب صفة السجود ، نسائي کتاب الافتتاح ج۱ص ۱۴۷ باب الاعتدال في السجود ، ابن ماجة کتاب الصلوٰة ص ۶۴ باب الاعتدال في السجود ، مسند احمد ج۴ص ۱۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com

دي حديث روايت يو جماعت کړي دي .

}۴۲۴{ و عن ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الْجَبْهَةِ وَ أَشَارَ بِيَدِهِ إِلَى أَنْفِهِ وَالْيَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ وَ أَطْرَافِ الْقَدَمَيْنِ وَلَا نَكْفُتُ الثِّيَابَ وَالشَّعْرَ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې ماته امر شوي دي چې په اوړ اندامونو باندي سجده وکړم په مخ باندي او په مبارک لاس يې پوزې ته اشاره وفرمائله او په دواړو لاسونو او په دواړو ځنګڼونو او د قدمونو په اطرافو باندي او مونږ ته امر شوي دي چې خپلي جامي او ويښته په مانځه کې راټول نکړو د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

}۴۲۵{ وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مَالِكِ بْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا صَلَّى فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَبْدُوَ بَيَاضُ إِبْطَيْهِ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن مالک بن بحينه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې کله به نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کاوه پراخه به يې نيول دواړه لاسونه تر دي چې خکاره کيده به سپينوالي د دواړو اړخونو مبارکو د ده . د دي حديث روايت شيخينو د مسلم او بخاري کړي دي .

}۴۲۶{ وَ عَنْ أَبِي حُمَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا سَجَدَ أَمْكَنَ أَنْفَهُ وَ جَبْهَتَهُ مِنَ الْأَرْضِ وَ نَحّٰى يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ وَوَضَعَ كَفَّيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ رواه ابوداود و الترمذي و صححه وابن خزيمة في صحيحه .(۳)

ترجمه : د ابي حُميد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې حضرت نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله سجده کوله نو خپله پوزه او مبارک تندي به يې په ځمکه باندي اينبوده او دواړه لاسونه به يې د اړخونو نه لري ساتل او دواړه ورغوي به يې د اوږو په برابرۍ ايخودل . د دي حديث روايت ابوداؤد او ترمذي

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۱۲ باب السجود على الانف . مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۳ باب اعضاء السجود...الخ .

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص۱۱۲باب يبدي ضبعيه ويجافي في السجود . مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۴ باب الاعتدال في السجود .

(۳) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۶۱ باب ماجاء في السجود على الجبهة والانف . ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۷ باب افتتاح الصلوة . صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۱ص ۳۲۳ رقم الحديث ۶۴۶

Maktaba Tul Ishaat.com

کړي او په خپله ابن خزيمه کړي او ترمذي صحيح ګڼلي دي.

(۲۳) {وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مَرْفُوعًا فَلَمَّا سَجَدَ سَجَدَ بَيْنَ كَفَّيْهِ رواه مسلم (۱)

ترجمه: د حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه مرفوع روايت شوي دي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله سجده کوله نو د دواړو ورغوتر منځ به يې سجده کوله. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

(۲۴) {وَعَنْهُ قَالَ رَمَقْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ أُذُنَيْهِ رواه اسحاق بن راهويه وعبدالرزاق والنسائي والطحاوي واسناده صحيح (۲)

ترجمه: او د حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي ويلي يې دي چې ما نبه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې کله يې سجده کوله نو دواړه لاسونه به يې د دواړو غوږونو په برابرئ ايښودل. د دې حديث روايت اسحاق بن راهويه، عبدالرزاق، نسائي او طحاوي کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

په سجده کې څو اندامونه استعمالیږي؟

په دې خبره باندې ديوبنو اتفاق دي چې سجده په اوه (۷) اندامونو سره کيږي. لاسونه، څنګنونه، قدمونه، مخ. البته په دې کې کومږو اندامونه په زمکه باندې ايخودل فرض دي او د کومو ايخودل فرض نه دي؟ په دې باره کې دفقهاؤ اختلاف دي:

(۱) امام احمد رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد اوه (۷) واړه اندامونه په زمکه باندې ايخودل فرض دي ورنه سجده به يې نه کيږي.

(۲) امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ (مشهور قول مطابق) او دصاحبينو په نزد تندي ټول ضروري دي. اقتصار علی الأنف جائز نه دي.

(۳) امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد هيئت تعظيمي سره تندي او ډوزې نه په يو باندې اکتفا کولو سره يې سجده کيږي ليکن بغير د عذر نه په يو باندې اکتفاء کول مکروه دي باقي قدمونو لره په سجده کې په اوچت نيولو سره تري داستهزاء بوي رازي ځکه سجده نه کيږي نه دا چې قدمونو لره ايخودل فرض دي. (معارف السنن: ۳۳/۳)

---

(۱) مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳ باب وضع يده اليمنى على اليسرى ... الخ.

(۲) مصنف عبدالرزاق کتاب الصلوة ج۲ص ۱۷۵ باب موضع اليدين رقم الحديث ۲۹۲۸، طحاوي کتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۶ باب وضع اليدين للسجود ... الخ. نسائي کتاب الافتتاح ج۱ص ۱۶۶ باب مكان اليدين من السجود. الدراية كتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۴ هم صفة الصلوة نقلا عن اسحق بن راهويه.

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ **دليل**: حديث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ " په اوه اندامونو باندې د سجدې کولو حکم دې کوم چې په وجوب باندې دلالت کوي.

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ، شافعي، او دصاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ دليل: حديث دابو حميد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " كان اذا سجد امكن انفه وجبهته من الارض " دتندي او دپوزي ددواړو ذکر دي.

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ **دليل**: په قرآن کريم کې يې شمارہ خايونو کې د سجدې دوجوب لپاره (اسجدوا) سره خطاب شوې دی او د سجدې حقيقت فقط " وضع بعض الجبهة على الارض بما لاسخرية فيه " دې صرف دپوزې او تندي لره په زمکه ايخودلو سره دا مفهوم ادا کيږي البته دحديث شريف دنظر نه تندي او پوزه ددواړو ايخودل واجب شو لهذا بغير دعذر نه په يو باندې اکتفا به مکروه تحريمي وي.

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ **ته جواب**: امر دټولو اعضاء دوجوب لپاره نه دي بلکې دائر بين الوجوب والسنة دي چې ددې اوه (۷) نه دځه کول واجب په معنى دفرض او دځه کول مامور بطريق السنة دي ځکه چې په يو حديث کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سجدې په حالت کې ددعاغوښتلو په وخت د سجدې کولو نسبت ئې صرف "وجه" طرف ته اوکړو او دالله په دربار کې يې سوال اوکړو " سجد وجهي للذي خلقه.....الخ لهذا "وجه" يعنې تندي يا پوزه (لکه څنګه چې دامام صاحب قول دي يا دواړه "لکه څنګه چې دنورو ائمو قول دي) سره به سجده متحقق کيږي.

دا حاديثو په مينځ کې تطبيق:

دابو حميد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث کې "وضع كفيه حذو منكبيه اود وائل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يو روايت کې " فلما سجد سجد بين كفيه " او په بل روايت کې " وضع يديه حذاء اذنيه " وارد شوې دی که چرته داسې سجده اوکړي چې ددواړو لاسونو غټه ګوته دغوږونو تر پوڅکو پورې برابر شي او ګوتې مخکې تري وتې وي نو دا ريو واړو حديثونو باندې به عمل راشي.

بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْإِقْعَاءِ كَإِقْعَاءِ الْكَلْبِ

دا د نهي باب دي د کيناستو نه په شان د کيناستو د سپي

}۳۳۹{ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَانِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ ثَلَاثٍ عَنْ نُقْرَةٍ كَنُقْرَةِ الدِّيكِ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَالْقِعَاءِ كَاقْعَاءِ الْكَلْبِ وَالْتِفَاتٍ كَالْتِفَاتِ الثَّعْلَبِ رواه احمد و في اسناده لِينٌ .(۱)

ترجمه : دحضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې مونږ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه کې د ږيرې شيانو نه منع کړي يو (۱) د چرګ د ټونګي په شان يې د ټينګي نه منع کړي يو (۲) او د سپي د کيناستو په شان يې د کيناستو نه منع کړي يو (۳) او د ګيدړ د کتلو په شان يې د کتلو نه منع کړي يو . د دي حديث روايت احمد کړي دي او د دي په اسناد کې ضعف دي .

۴۲۰) وَعَنْ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الْإِقْعَاءِ فِي الصَّلَاةِ رواه الحاكم و قال حديث صحيح على شرط البخاري وَلَمْ يخرجاه .(۲)

ترجمه : حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه کې د سپي په شان د کيناستو نه منع کړي ده . د دي حديث روايت حاکم کړي دي او ده ويلي چې دا حديث د بخاري په شرط باندې صحيح دي خو ولي شيخينو نه دي روايت کړي .

دناستې دري مکروه حالتونه : دمونځ په وخت کې ددري قسمه حالت اختيارولو نه منع کړې شوې ده :

(۱) **لقرة كنقرة الديك** : يعني د چرګ په شان د ټونګي وهلو په شان د رکوع او د سجدې او د سنن او مستحباتو د اهتمام نه بغير زر زر کولو نه منع کړې شوې ده .

(۲) **القعاء كاقعاء الكلب**: داقعاء دوه تفسيرونه کړې شوي دي :

(الف) يو دا چې يو کس په کونااتو باندې کينې او خپلې خپې داسې اودروي چې څنګون د چوختو په مقابل کې راشي او خپل دواړه لاسونه په زمکه باندې اولګوي ددې تفسير مطابق بالاتفاق مکروه تحريمي دي .

(ب) دويم تفسير د دې چې دواړه خپې په پنجو اودروي او په پوندو باندې کينې دې تفسير په لحاظ سره داقعاء په حکم کې اختلاف دې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دې لره د دوو سجدو په مينځ کې سنت ګرځوي يعني د جلسه بين السجدتين دوه طريقې دي ، افتراش او اقعاء . باقي دائمو په نزد دا مکروه تنزيهي يعني خلاف اولى دي . (ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دلائل او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ د دلائلو جواب به په راروان باب کې راشي) .

---

(۱) مسند احمد ج ۲ ص ۳۱۱ .

(۲) مستدرک حاکم کتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۷۲ باب النهي عن الاقعاء في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) التفات الثعلب: "دګيدړي په شان التفات کول" په مونځ کې دالتفات دري صورتونه دي (۱) مخ واړول شي فقط، دا مکروه دي. (۲) سينه واړول شي، دا مفسد دمونځ دي داستقبال قبله دفوت کيدو دوجې نه. (۳) دسترګو په کونجونو کې کتل، دا خلاف اولى دي منافي دخشوع کيدو دوجې نه، البته مباح عند الضرورة دي.

بَابُ الْجُلُوسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

د دوه ؤ سجدو تر منځ په پوندو باندې د کيناستو باب:

۴۴۱ {عَنْ طَاوُسٍ قَالَ قُلْنَا لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْإِقْعَاءِ عَلَى الْقَدَمَيْنِ فَقَالَ هِيَ السُّنَّةُ فَقُلْنَا لَهُ إِنَّا لَنَرَاهُ جَفَاءً بِالرَّجُلِ فَقَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَلْ هِيَ سُنَّةُ نَبِيِّكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ} رواه مسلم.(۱)

ترجمه: د طاؤس رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې ما په قدمونو باندې د کيناستو په باره کې د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه هغه وويل چې دا سنت طريقه ده نو مونږ هغه ته وويل چې بې شکه مونږ خامخا مونږ د خپې سره دا کار ظلم ګڼرو نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې دا ستاسي نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ سنت دي. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

۴۴۲ {وَعَنِ ابْنِ طَاوُسٍ، عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ رَأَى ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَابْنَ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُقْعُونَ رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: د ابن طاؤس نه روايت دي هغه د خپل پلار نه روايت کړي دي چې ده بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ابن الزبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ليدلي دي چې په مانځه کې په پوندو باندې کيناستل. د دې حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

داقعاء په مسئله کې دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل:

۱... حديث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم کې چې مختلف فيه اقعاء لره سنت ويلې شوي ده.

۲... ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابن زبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عملاً اقعاء مذکور کول.

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ ص ۲۰۲ باب جواز الاقعاء على العقبين.

(۲) مصنف عبدالرزاق کتاب الصلوة ج۲ ص ۱۹۱ باب الاقعاء في الصلوة رقم ۳۰۲۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ افْتِرَاشِ الرِّجْلِ الْيُسْرٰى وَالْقُعُودِ عَلَيْهَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَتَرْكِ الْجُلُوسِ عَلَى الْعَقِبَيْنِ

باب دي د دوه سجدو ترمنځ د چپي خپي دخور يدو او په هغي باندي د کيناستو او يه پوندو د نه کيناستو

{۴۲۴} {عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى وَكَانَ يَنْهٰى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ اخرجه مسلم وهو مختصر.(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دي ويلي يې دي چې رسول کريم صلى الله عليه وسلم به چپه خپه خوروله او ښي خپه به يې اودروله او د شيطان د کيناستو نه به يې منع فرمائله دا حديث مسلم خارج کړي او دا مختصر دي.

{۴۲۴} {وَعَنْ أَبِي حُمَيْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَرْفُوعًا ثُمَّ يهوي إِلَى الْأَرْضِ فَيُجَافِي يَدَيْهِ عَنْ جَنْبَيْهِ ثُمَّ يَرْفَعُ رَأْسَهُ وَيَثْنِي رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَقْعُدُ عَلَيْهَا وَيَفْتَحُ أَصَابِعَ رِجْلَيْهِ إِذَا سَجَدَ ثُمَّ يَسْجُدُ ثُمَّ يَقُولُ اللّٰهُ أَكْبَرُ الْحَدِيثَ رواه ابوداود والترمذي وابن حبان واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت ابو حُميد ساعدي رضي الله عنه نه مرفوع روايت دي چې بيا به رسول کريم صلى الله عليه وسلم څمکې ته ښکته شو نو دواړه لاسونه به يې د دواړو اړخونو نه لرې ساتل بيا به يې سر مبارک اوچت کړ او چپه خپه به يې خوره کړه او په هغي باندي به کيناست او د سجدي په وخت کې به يې د دواړو خپو ګوتي پرانستي بيا به يې سجده وکړه بيا به يې الله اکبر وايه الحديث . د دي حديث روايت ابوداؤد ، ترمذي او ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

{۴۲۵} {وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ حَكِيمٍ أَنَّهُ رَأٰى عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَرْجِعُ فِي سَجْدَتَيْنِ فِي الصَّلَاةِ عَلٰى صُدُورِ قَدَمَيْهِ فَلَمَّا انْصَرَفَ ذَكَرْتُ لَهُ ذٰلِكَ فَقَالَ إِنَّهَا لَيْسَتْ بِسُنَّةِ الصَّلَاةِ وَإِنَّمَا فَعَلَ هٰذَا مِنْ أَجْلِ أَنَّهُ اشْتَكٰى رواه مالك في الموطأ واسناده صحيح.(۳)

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۵ باب ما يجمع صفة الصلوة .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۶ باب افتتاح الصلوة ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۶۷ باب ماجاء في وصف الصلوة ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج۳ص ۱۷۳ رقم الحديث ۱۸۹۷.

(۳) مؤطا امام مالك كتاب الصلوة ج۱ص ۷۱ باب العمل في الجلوس في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د مغیره بن حکیم نه روایت دي ده ویلي دي چې ما حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه لیدلي دي چې دا د مانځه د دوه ؤ سجدو تر منځ د قدمونو په سرونو یعني د ګوتو په څوکو او چتیده نو کله چې د مانځه نه فارغ شو نو ده ته دا خبره یاده کړي شوه نو وي ویل چې دا د مانځه سنت نه دي بې شکه چې ما دا کار کاوه د دي وجهې نه چې زه بیماروم . د دي حدیث روایت مالک رحمه الله په مؤطا کې کړي دي او اسناد یې صحیح دي .

دا قعاء په مسئله کې دائمه ثلاثه رحمهم الله دلائل :

۱. د عائشې رضي الله عنها حدیث چې حضور صلى الله عليه وسلم به جلسه بین السجدتین کې افتراش کولو او ډپوند و په سر کینا ستلو نه به ئې منع کوله .

۲. د ابو حمید الساعدي رضي الله عنه حدیث ؛ په دي کې هم د حضور صلى الله عليه وسلم افتراشا ناسته مذکوره ده .

۳. د ابن عمر رضي الله عنه حدیث چې دوي په پوندو باندې ناسته خپله مجبوري بنودلې وه او د دي دسنت کیدو نه یې نفي کوله .

د امام شافعي رحمه الله د دلیل رد :

۱. د ابن عباس رضي الله عنه حدیث ضعیف دي همدارنګه د سنت نه مراد سنت دائمي نه دي بلکې سنت په وخت د عذر دي .

۲. د بعضې صحابه کرامو رضي الله عنهم جلوس علی العقبین په حالت د عذر باندې محمول دي لکه څنګه چې ابن عمر رضي الله عنه د دي په باره کې خپل عذر بیان کړ .

بَابُ مَا يُقَالُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

باب د دوه ؤ سجدو تر منځ به څه ویلي شي

۴۴۶) {عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَقُولُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِي وَارْحَمْنِي وَاجْبُرْنِي وَاهْدِنِي وَارْزُقْنِي رواه الترمذي و آخَرُونَ وهو حديث ضعيف .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رضي الله عنه نه روایت دي چې بې شکه نبي کریم صلى الله عليه وسلم به د دوه ؤ سجدو تر منځ دا دعا ویله (اللهم اغفرلي وارحمني واجبرني واهدني وارزقني) . یعني معنی دا چې اي الله ماته بخښنه وکړي او په ما رحم وکړي او ځما نقصان پوره کړي او ځما لارښوونه وکړي

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص۶۲ باب ما يقول بين السجدتين حديث

او ماته رزق را عطا کړي. دا حديث ترمذي او نورو محدثينو روايت کړي او دا حديث ضعيف دي.

مسئلة الباب: په فرائضو کې په شرط ددې چې امام نه وي او په نوافلو کې مطلقا ددوو سجدو په مينځ کې ماثور دعا ګاني ويل پکار دي.

بَابُ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ بَعْدَ السَّجْدَتَيْنِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولٰى وَالثَّالِثَةِ

د دوهو سجدو نه روستو، په اول او دريم رکعت کې د استراحت د جلسې باب

۴۲۷ {عن مَالِكِ بْنِ الْحُوَيْرِثِ اللَّيْثِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ رَاٰى النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي فَاِذَا كَانَ فِي وِتْرٍ مِنْ صَلَاتِهِ لَمْ يَنْهَضْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا رواه البخاري.(۱)

ترجمه: د حضرت مالک بن حويرث اليثي رضي الله عنه نه روايت دي چه ده نبي کريم صلى الله عليه وسلم د مانځه په حالت کې ليدلي چه کله به هغه د وتر په مانځه کې ؤ نو نه به او چتيده تر هغې پورې چه برابر به کيناست. دا حديث بخاري روايت کړي دي.

مسئلة الباب: په اولنيو او دريم رکعت کې ددويمې سجدې نه د فارغيدو نه پس جلسه استراحت (لږ څه وخت لپاره د راحت او ارام حاصلولو په غرض ناسته) په باره کې اختلاف دي:

(۱) د امام شافعي رحمه الله په نزد جلسه د استراحت مسنون ده.

(۲) باقي دري واړه ائمه او جمهور دي لږه مسنون نه ګرځوي ددوي په نزد: ناسته پر ځاي نيغ اودريدل افضل دي. البته د احنافو او د حنابلو په نزد جلسه د استراحت جائزه مفسد نه ده.

دامام شافعي رحمه الله دليل: د باب حديث مالک بن الحويرث رضي الله عنه "لَمْ يَنْهَضْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَاعِدًا".

بَابُ فِي تَرْكِ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ

د استراحت د جلسې د پريښودلو باب

۴۲۸ {عَنْ عِكْرِمَةَ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ شَيْخٍ بِمَكَّةَ كَبَّرَ ثِنْتَيْنِ وَعِشْرِيْنَ تَكْبِيرَةً فَقُلْتُ لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَحْمَقُ فَقَالَ ثَكِلَتْكَ اُمُّكَ سُنَّةُ اَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري(۲)

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۱۳ باب من استوى قاعدا في وتر من صلاته ثم نهض.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۸ باب التكبير اذا قام من السجود.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ الْهَيْمِيُّ يُسْتَفَادُ مِنْهُ تَرْكُ جَلْسَةِ الْاِسْتِرَاحَةِ وَاِلَّا لَكَانَتِ التَّكْبِيرَاتُ اَرْبَعًا وَعِشْرِينَ مَرَّةً لِاَنَّهُ قَدْ ثَبَتَ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ خَفْضٍ وَرَفْعٍ وَقِيَامٍ وَقُعُودٍ.

ترجمه : د حضرت عکرمه نه روایت دي ده ویلي دي ما د مکي د یو شیخ پسي مونځ وکړو نو هغه دوه ویشت تکبیرونه وویل نو ما ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته وویل چې یقیناً دا بې وقوف دي نو ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ووېل چې ورک دي کړي تا لره مور ستا (مور دي بوره شه) د ابو القاسم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت دي. د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

نیموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې د دي حدیث نه د استراحت د جلسې پریښودل فهمیږي او که داسې نه وي نو تکبیرونه به ځلیرویشت وي ځکه چې دا خبره ثابته ده چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هر بڼکه کیدو پورته کیدو. اودریدو او کیناستو کې تکبیر ویلي دي. خو ولي سره د دي هم دوه ویشت تکبیرونه ویل شوي نود، ددې بڼکارد دلیل دي چې د استراحت جلسه دمانځه داعمالو نه ده.

}۴۲۹{ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ اَوْ عَيَّاشِ بْنِ سَهْلٍ السَّاعِدِيِّ اَنَّهُ كَانَ فِي مَجْلِسٍ فِيهِ اَبُوهُ وَكَانَ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ فِي الْمَجْلِسِ اَبُوهُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ اَبُوحُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ اَبُواُسَيْدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَذَكَرَ الْحَدِيثَ وَفِيهِ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ فَقَامَ وَلَمْ يَتَوَرَّكْ رواه ابوداود واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د عباس او یا عیاش بن سهل الساعدي نه روایت دي چې دا په یو مجلس کې وه چې په هغې کې دهغه پلار هم موجود ؤ او هغه د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابي ؤ او په هغه مجلس کې ابوهریره، ابو حمید الساعدي او ابو اُسید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ هم ؤ هغوي یو حدیث بیان کړي چې په هغه کې ؤ بیا یې تکبیر وکړ نو سجده یې وکړه بیا یې تکبیر وکړ نو اودریده او کینه ناست. د دي حدیث روایت ابوداؤد کړي او اسناد یې صحیح دي.

}۴۵۰{ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ غُنْمٍ اَنَّ اَبَا مَالِكٍ الْاَشْعَرِيَّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ جَمَعَ قَوْمَهُ فَقَالَ يَامَعْشَرَ الْاَشْعَرِيِّينَ اجْتَمِعُوا وَاجْمَعُوا نِسَاءَكُمْ وَاَبْنَاءَكُمْ اُعَلِّمْكُمْ صَلٰوةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَنَا بِالْمَدِينَةِ فَاجْتَمَعُوا وَ اَجْمَعُوا نِسَاءَهُمْ وَ اَبْنَاءَهُمْ فَتَوَضَّاَ وَاَرَاهُمْ كَيْفَ يَتَوَضَّاُ فَاَحْصَى الْوُضُوءَ اِلٰى اٰمَاكِنِهِ حَتّٰى لَنَا اَنْ قَامَ الْفَيْءُ وَالْكَسَرَ الظِّلُّ قَامَ فَاَذَّنَ فَصَفَّ الرِّجَالُ فِي اَذْنَى الصَّفِّ وَ صَفَّ الْوِلْدَانُ خَلْفَهُمْ وَ صَفَّ

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۰۷ باب افتتاح الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

النِّسَاءِ خَلْفَ الرِّجَالِ ثُمَّ اَقَامَ الصَّلَاةَ فَتَقَدَّمَ فَرَفَعَ يَدَيْهِ فَكَبَّرَ فَقَرَأَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَ سُوْرَةٍ يَجْهَرُ بِهَا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ فَقَالَ سُبْحَانَ اللهِ وَ بِحَمْدِهٖ ثَلَاثَ مِرَارٍ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ وَاسْتَوٰى قَائِمًا ثُمَّ كَبَّرَ وَ خَرَّ سَاجِدًا ثُمَّ كَبَّرَ فَرَفَعَ رَأْسَهٗ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ فَالْتَهَضَ قَائِمًا فَكَانَ تَكْبِيْرُهٗ فِيْ اَوَّلِ رَكْعَةٍ سِتَّ تَكْبِيْرَاتٍ وَ كَبَّرَ حِيْنَ قَامَ اِلَى الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ فَلَمَّا قَضٰى صَلَاتَهٗ اَقْبَلَ اِلٰى قَوْمِهٖ بِوَجْهِهٖ فَقَالَ اِحْفَظُوْا تَكْبِيْرِيْ وَ تَعَلَّمُوْا رُكُوْعِيْ وَ سُجُوْدِيْ فَاِنَّهَا صَلَاةُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الَّتِيْ كَانَ يُصَلِّيْ لَنَا كَذَا السَّاعَةَ مِنَ النَّهَارِ رواه احمد و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : د عبد الرحمن بن غنم نه روايت دي چې ابو مالک اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خپل قوم راجمع کړ نو وي ويل چې د اشعريانو دلي په خپله هم راجمع شئ بنځي او ځامن هم راجمع کړئ ځه تاسو ته د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه مونځ بنايم کوم چې مونږ ته نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدينه منوره کې کړي دي نو پخپله هم د قبيلي خلک راجمع شو بنځي او ځامن يې هم راجمع کړ نو اودس يې وکړ او ورته وي ښودل چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څنګه اودس کاوه او د اودس اند امونه يې پوره پوره راګير کړ او په ښه ډاڼ سره يې اودس وکړ تر دي چې کله زوال وشو او سورې رامات شو اودريد اذان يې وکړ نو مخکې يې د سړو اول صف جوړ کړيا يې وريسې روسته د هلکانو صف جوړ يا يې د هلکانو نه روسته بنځو صف کړيا يې د مانځه د پاره اقامت وکړ نو مخکې شو دواړه لاسونه يې اوچت کړ نو تکبير يې وکړ او په پته يې فاتحه او ورسره يې بل سورت ولوسته بيا يې تکبير وکړ نو رکوع يې وکړه او دري ځله يې سبحان الله وبحمده وويله بيا يې سمع الله لمن حمده وويله او نيغ اودريده بيا يې تکبير اوکه او په سجده پريوته بيا يې تکبير اويله نو سر يې اوچت کړيا يې تکبير اويل نو سجده يې وکړه بيا يې تکبير ووايه نو نيغ پاڅيده نو په اول رکعت کې يې شپږ تکبيرونه وُ او کله چې دويم رکعت ته پاڅيده نو تکبير يې وکړ نو کله يې چې مونځ ادا کړ (قوم ته يې مخ راواړاوه نو وي ويل ځما تکبيرونه ياد کړئ او ځما سجده او رکوع زده کړئ په تحقيق دا د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه مونځ دي کوم چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورځې په دغه وقت کې کړي وُ . دا حديث احمد نقل کړي او اسناد يې حسن دي .

---

(۱) مسند احمد ج ۵ صـ ۳۴۳

Maktaba Tul Ishaat.com

}۴۵۱{ وَعَنِ النُّعْمَانِ بنِ اَبِي عَيَّاشٍ قَالَ اَدْرَكْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَكَانَ اِذَا رَفَعَ رَاْسَه مِنَ السَّجْدَةِ فِي اَوَّلِ رَكْعَة وَالثَّانِيَة قَامَ كَمَا هُوَ وَلَمْ يَجْلِسْ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : نعمان بن عياش ويلي دي چې ما د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دير صحابه كرام ليدلي دي چې كله به يې د اول او دريم ركعت د سجدي نه سر پورته كړو نو نيغ به اوچتيده او نه به كيناسته . د دي حديث روايت ابوبكر ابن ابي شيبه كړي او اسناد يې حسن دي .

}۴۵۲{ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ يَزِيدَ قَالَ رَمَقْتُ عَبْدَ اللّٰه بْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِي الصَّلَاةِ فَرَاَيْتُه يَنْهَضُ وَلَا يَجْلِسُ قَالَ يَنْهَضُ عَلٰى صُدُورِ قَدَمَيه فِي الرَّكْعَة الْاُولٰى وَالثَّالِثَة رواه الطبراني في الكبير والبيهقي في السنن الكبري و صححه .(۲)

ترجمه : د عبدالرحمن بن يزيد نه روايت دي ويلي يې دي چې ما په مانځه كې عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته ښه ليدل نو ما هغه وليد چې پاڅيده او كينه ناست . راوي وايي چې هغه په اول او دريم ركعت كې د خپلو قدمونو په پنجو باندې پاڅيده . دا حديث طبراني په كبير او بيهقي په سنن كبري كې روايت كړي او بيهقي صحيح ګڼلي دي .

}۴۵۳{ وَعَنْ وَهبِ بْنِ كَيسَانَ قَالَ رَاَيْتُ ابْنَ الزُّبَيرِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اِذَا سَجَدَ السَّجْدَةَ الثَّالِيَة قَامَ كَمَا هُوَ عَلٰى صُدُورِ قَدَمَيه رواه ابن ابي شيبة و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : وهب بن كيسان ويلي دي چې ما حضرت زبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ليدلي دي چې كله هغه د دويم ركعت سجده وكړه نو د خپلو خپو په څوكو چې ځنګه وُ پاڅيده . د دي حديث روايت ابن ابي شيبه كړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوة ج۱ص ۳۹۵ باب من كان يقول اذا رفعت رأسك من السجدة الثانية ....الخ .

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ ص ۳۰۶ رقم الحديث ۹۳۲۷ ، السنن الكبرى كتاب الصلوة ج۲ ص ۱۲۵ باب من قال يرجع على صدور قدميه ، مجمع الزوائد ج۲ص ۱۳۶ وقال رجاله رجال الصحيح .

(۱) مصنف ابن ابي شيبة ج۱ص ۳۹۴ باب من كان ينهض على صدور قدميه .

Maktaba Tul Ishaat.com

په مسئلة الباب کې د جمهورو په دلايلو باندې يو نظر :

۱... دباب اولنې حديث کوم کې چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دجلسه استراحت نه بغير مونځ کول سنت طريقه ګرځولې ده .

۲... حضرت سهل ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، ابوحميد ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابوسعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دجلسه استراحت نه بغير دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طريقه دمونځ بيانول .

۳... ابو مالک اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل قوم لره راجمع کول او دجلسه استراحت نه بغير مونځ کول او بيا دې طريقې لره دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسنت موافق ګرځول .

۴... نعمان بن عياش رَحِمَهُ اللهُ دمتعدد صحابه کرامو نه جلسه داستراحت نه بغير دمونځ طريقې لره روايت کول .

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ددليل رد : جلسه استراحت والا حديث بيان جواز يا حالت عذر باندې محمول دي په آخري عمر کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسم مبارک دروند شوې وو نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جلسه داستراحت اوکړه ورنه که دا مستقل سنت صلاة وې نو دصحابه کرامو يو جم غفير به دا ضرور نقل کولو .

﴿باب افتتاح الثانية بالقراءة﴾

په دويم رکعت کې د قرات د شروع کولو باب

۷۵۴ {عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ إِذَا نَهَضَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اِسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَلَمْ يَسْكُتْ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دويم رکعت ته پاڅيده نو د الحمدلله رب العٰلمين نه به يې قرات شروع کاوه او سکوت به يې نه کاوه . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

دکلماتو تحقيق :

قوله "ولم يسكت" يعني په دويم رکعت کې ثناء او تعوذ به يې نه ويلو .

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ ص ۲۱۹ باب ما يقال بين تكبيرة الاحرام والقراءة

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّوَرُّكِ

باب دې په بيان د هغه احاديثو کې چې کوم چې د تورک په باره کې راغلي دي

۴۵۵ {عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ عَمْرِو بْنِ عَطَاءٍ أَنَّهُ كَانَ جَالِسًا فِي نَفَرٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرْنَا صَلَاةَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَبُو حُمَيْدٍ السَّاعِدِيُّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَا كُنْتُ أَحْفَظَكُمْ لِصَلَاةِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَيْتُهُ إِذَا كَبَّرَ جَعَلَ يَدَيْهِ حَذْوَ مَنْكِبَيْهِ وَإِذَا رَكَعَ أَمْكَنَ يَدَيْهِ مِنْ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ عَصَرَ ظَهْرَهُ فَإِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ اِسْتَوَى حَتَّى يَعُودَ كُلُّ فِقَارٍ مَكَانَهُ فَإِذَا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْهِ غَيْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَا قَابِضِهِمَا وَاسْتَقْبَلَ بِأَطْرَافِ أَصَابِعِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرَى وَنَصَبَ الْأُخْرَى وَقَعَدَ عَلَى مَقْعَدَتِهِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه: محمد بن عمرو بن عطاء نه روايت دي چې يقيناً هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اصحابو په يوه ډله کې ناست وُ نو مونږ ته يې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه ذکر وکړو نو ابو حميد الساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې زه ستاسو نه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه په حقله ډير ښه ياد ساتونکي يم ما هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې کله يې تکبير کاوه نو دواړه لاسونه به يې د اوږو په برابرئ اوچت کړل او کله يې چې رکوع کوله نو دواړه لاسونه يې په زنګنونو باندې کيخودل بيا به يې خپله شا مبارکه هواروله او کله به يې چې سر مبارک پورته کاوه نو ډيغ به اودريده تر دې پورې چې د ملا هر هډوکی به خپل خپل ځای ته راوګرځيده او کله به يې چې سجده کوله لاسونه به يې پداسې شان سره کيخودل چې نه به يې په ځمکه ښوروول او نه به يې راغونډول او د خپو ګوتې به يې د قبلې په طرف ګرځولې او کله به چې په دوه وُ رکعتونو کيناسته نو په چپه خپه به کيناسته او ښۍ خپه به يې اودروله او کله به چې په اخري رکعت کيناسته نو چپه خپه به يې رامخکې کړه او بله خپه به يې اودروله او د مبارک جسم يوه برخه به يې په ځمکه کيښوده. د دې حديث روايت بخاري کړي دي.

په تشهد کې دناستې طريقه او کيفيت

(۱) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد اولنې او اخرينې دواړو قعدو کې تورک افضل دي.

(۲) دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دواړو کې افتراش افضل دي.

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۱۴ باب سنة الجلوس في التشهد.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ قعده اولى او اخيره كې فرق كوي يعني امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ قعده اخيره كې دتورک او په قعده اولى كې دافتراش دافضل كيدو قائله دي ، ليكن امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دي او ځلور ركعتي مونځ كې په قعده اولى كې افتراش او په اخيره كې تورک لره او په دوه ركعتي مونځ كې افتراش ګړه افضل وايي.

دتورک دوه طريقې دي: (۱) بښئ خپه دي خوره كړي او هغه دي چپ طرفته اوباسي او چپه خپه دي اودرولي شي .(۲) دښئ خپې په پوندو كيناستل او دواړه خپې چپ، طرفته ويستل لكه څنګه چې حنفي بښځې كيني.

دافتراش طريقه: بښئ خپه خورول او په هغې كيناستل او چپه خپه اودرول.

دتورک دقائلينو دليل:

دباب حديث ابوحميد ساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " فَإِذَا جَلَسَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ جَلَسَ عَلَى رِجْلِهِ الْيُسْرَىٰ وَنَصَبَ الْأُخْرَىٰ وَقَعَدَ عَلَى مَقْعَدَتِهِ".

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي عَدَمِ التَّوَرُّكِ﴾

دا باب د تورک د نه کولو په باره کې دي

(۴۵۱) (عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْتَفْتِحُ الصَّلَاةَ بِالتَّكْبِيرِ وَالْقِرَاءَةِ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ وَكَانَ إِذَا رَكَعَ لَمْ يُشْخِصْ رَأْسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبْهُ وَلَكِنْ بَيْنَ ذٰلِكَ وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ قَائِمًا وَكَانَ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ لَمْ يَسْجُدْ حَتّٰى يَسْتَوِيَ جَالِسًا وَكَانَ يَقُولُ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّاتُ وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرَىٰ وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنَىٰ وَكَانَ يَنْهَى عَنْ عُقْبَةِ الشَّيْطَانِ وَيَنْهَى أَنْ يَفْتَرِشَ الرَّجُلُ ذِرَاعَيْهِ افْتِرَاشَ السَّبُعِ وَكَانَ يَخْتِمُ الصَّلَاةَ بِالتَّسْلِيمِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه: حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونځ په تكبير سره شروع كاوه او قرات به يې د الحمدلله رب العالمين نه شروع كاوه او كله به يې چې ركوع كوله مبارک سر به يې نه اوچتاوه او نه به يې ښكته كاوه خو ولي مبارک سر به يې د اوچتوالي او د

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۹۲ باب ما يجمع صفة الصلوة ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

ټيټوالي تر منځ لاره او کله به يې چې د رکوع نه سر مبارک اوچتاوه نو سجدي ته به نه ته تر څو پورې به چې برابر اودريده او کله به يې چې د سجدي نه سر مبارک اوچتاوه نو سجدي ته به نه ته تر څو پورې به چې برابر جيرابو کيناسته او په هرو دوه وُ رکعتونو کې به يې التحيات لوستله او چپه خپه به يې ښورولە او ښۍ خپه به يې اودرولە او د شيطان په شان د کيناستو نه به يې منع فرمائله او د دې نه به يې هم منع فرمائله چې سړي دواړه لاسونه په ځمکه داسې خواره کړي لکه څنګه يې چې درنده ګان خوروي او مونځ به يې په سلام سره ختماوه . د دې حديث روايت مسلم کړې دي .

}۴۵۷{ وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا قَعَدَ وَتَشَهَّدَ فَرَّشَ قَدَمَهُ الْيُسْرٰى عَلَى الْاَرْضِ وَجَلَسَ عَلَيْهَا رَوَاهُ سَعِيْدِ بْنِ مَنْصُوْرٍ وَالطَّحَاوِيُّ وَاِسْنَادُهُ صَحِيْحٌ.(۱)

ترجمه : حضرت وائل بن حُجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې مونځ وکړ نو کله چې کيناست او تشهد (يعني) التحيات يې لوستله نو کس قدم يې په ځمکه خور کړ او په هغې کيناست . د دې حديث روايت سعيد بن منصور او طحاوي کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

}۴۵۸{ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مِنْ سُنَّةِ الصَّلَاةِ اَنْ تَنْصِبَ الْقَدَمَ الْيُمْنٰى وَاسْتِقْبَالُهُ بِاَصَابِعِهَا الْقِبْلَةَ وَالْجُلُوْسُ عَلَى الْيُسْرٰى رواه النسائي واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې د ښۍ خپې او چت اودرول او د هغې د ګوتو قبلي طرف ته مخکول او په چپ قدم باندې کيناستل د مانځه د مسنوني طريقې ځينې دي . د دې حديث روايت نسائي کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

د افتراش دقائلينو دلائل:

۱... د عائشې رضي الله عنها حديث : " وَكَانَ يَفْرِشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى " .

۲... حديث د وائل رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ : " فَلَمَّا قَعَدَ وَتَشَهَّدَ فَرَّشَ قَدَمَهُ الْيُسْرٰى عَلَى الْاَرْضِ وَجَلَسَ عَلَيْهَا " په دواړو حديثونو کې د حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل مطلقا افتراش منقول دي من غير فرق.

۳... عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مطلقا افتراش لره سنت صلاة اوګرځولو .

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۸ باب صفة الجلوس .

(۲) نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۷۳ باب الاستقبال باطراف اصابع القدم ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دتورک قائلینو ته جواب : حدیث دابو حمید رضی الله عنه یعنی تورک والا حدیث حالت دعذر باندې محمول دي لهذا حضرت ابن عمر رضی الله عنه قعده اولی او اخیره په دواړو کې تورک کولو او فرمایل به یې : " ان رجلای لاتحملانی " زما خپې اوس زما دجسم بوج نشي اوچتولې . (طحاوي شریف)

﴿بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّشَهُّدِ﴾

دا باب دې په بیان دهغه حدیثونو کې چې د تشهد په حقله راغلي دي

۴۵۹ (عن عَبْدِ الله رضی الله عنه قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ الله صلی الله علیه وسلم قُلْنَا اَلسَّلَامُ عَلَى جِبْرِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَالسَّلَامُ عَلَى فُلَانٍ وَفُلَانٍ فَالْتَفَتَ إِلَيْنَا رَسُولُ الله صلی الله علیه وسلم فَقَالَ إِنَّ الله هُوَ السَّلَامُ فَإِذَا صَلَّى أَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ الله وَبَرَكَاتُهُ اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ الله الصَّالِحِينَ فَإِنَّكُمْ إِذَا قُلْتُمُوهَا أَصَابَتْ كُلَّ عَبْدٍ لله صَالِحٍ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا الله وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ رواه الشیخان . (۱)

ترجمه : د عبد الله رضی الله عنه نه روایت دي هغه ویلي دي چې کله به مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې مونځ کاوه مونږ به ویل السلام علی جبرائیل ومیکائیل السلام علی فلان وفلان نو مونږ ته به رسول الله صلی الله علیه وسلم وکتل او متوجه به شو نو وبه یې ویل چې بې شکه الله تعالی سلام دي نو کله چې یو ستاسي مونځ کوي نو داسي دي ووایي چې [التحیات لله والصلوات والطیبات السلام علیک ایها النبي ورحمة الله وبرکاته السلام علینا وعلی عباد الله الصالحین . اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمداً عبده ورسوله] یعنې معنی دا چې د ټولو قولي ، بدني او مالي عبادتونو تحفې خاص الله تعالی لره دي او په تا دي سلامتیا وي اې الله تعالی نبي او د الله تعالی رحمت هم وي او برکتونه دې وي او سلامتیا دي وي په مونږ باندې او د الله جل مجده په نیکانو بنده ګانو باندې نو کله چې تاسي داړوایئ نو بې شکه ستاسي سلام به د الله تعالی نه هر یو نیک بنده ته چې په اسمان کې وي او که ځمکه کې وي ورسیږي . او زه ګواهي ورکوم چې د الله جل عظمته نه په غیر بل هیڅوک د عبادت مستحق نشته او زه ګواهي ورکوم چې بې شکه محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی بنده او رسول دي .

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ ص ۱۱۵ باب التشهد في الآخرة ، مسلم کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۷۳ باب التشهد في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

}۴۶۰{ وَ عَنْه قَالَ اِنَّ مُحَمَّدًا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَ اِذَا قَعَدْتُمْ فِي كُلِّ رَكْعَتَيْنِ فَقُولُوا اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ اَلسَّلَامُ عَلَيْكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُه اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَ عَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَ اَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُولُه ثُمَّ لِيَتَخَيَّرْ اَحَدُكُمْ مِنَ الدُّعَاءِ اَعْجَبَه اِلَيه فَلْيَدْعُ بِه رَبَّه عَزَّ وَجَلَّ رواه احمد والنسائي و اسناده صحيح .

قَالَ الترمذي حديثُ ابْنُ مَسْعُودٍ قَدْ رُوِيَ عَنْه مِنْ غَيرِ وَجْه وَهُوَ اَصَحُّ حَدِيثٍ عَنِ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي التَّشَهُّدِ وَالْعَمَلُ عَلَيه عِنْدَ اَكْثَرِ اَهْلِ الْعِلْمِ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ التَّابِعِينَ .(۱)

ترجمه:د حضرت عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي او كله چې تاسي په هر دوه ؤ ركعتونو كې كينئ نو ووايي چې التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك ايها النبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين اشهد ان لا اله الا الله واشهد ان محمدا عبده ورسوله . او ترجمه يې د دي باب په اولني حديث كې تيره شوې ده .

}۴۶۱{ وَ عَنْه قَالَ مِنَ السُّنَّةِ اَنْ يُخْفِيَ التَّشَهُّدَ رواه ابوداود والترمذي و حسنه و الحاكم و صححه .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې په پته سره تشهد ويل د سنت طريقې څخه دي. دا حديث ابوداؤد او ترمذي روايت كړي او ترمذي حسن ګنرلي او حاكم روايت كړي او صحيح يې ګنرلي دي .

دتشهد څلورويشت طريقې: دتشهد څلورويشت طريقې دصحابه كرامو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه مروي دي او ددوي په الفاظو كې لږ دير فرق دي ، په دي باندې دټولو اتفاق دي چې ددې نه هر يو طريقه جائزه ده ، البته په افضليت كې اختلاف دي ؛

(۱) امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ تشهد ابن مسعود لره ترجيح وركوي دكوم الفاظ چې معروف دي .

---

(۱) مسند احمد ج۱ ص ۴۱۳ ، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ ص ۱۷۴ كيف التشهد.

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۴۵ باب ماجاء في التشهد .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ تشهد د عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره ترجيح ورکوي ، د کوم الفاظ چې دادي : التحيات لله الزاكيات الله الطيبات الصلوات الله السلام عليك ....الخ والباقي كتشهد ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ

(۳) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ تشهد دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره ترجيح ورکوي دکوم الفاظ چې په يو روايت کې داسي دي : "التحيات المباركات ، الصلوات الطيبات لله ، السلام عليك أيها النبي ... الخ (والباقي كتشهد ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ) وفي رواية : "..... سلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته ، سلام علينا.... الى قوله .... وأشهد أن محمدا رسول الله".

دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دتشهد يو څو وجوه دترجيح :

(۱) دټولو محدثينو په نزد دتشهد په باب کې تشهد دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دصحيح روايت نه ثابت دي.

(۲) تشهد دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صحاح سته و سره سره په نورو ډيرو کتابونو دحديثو کې دي ليکن کمال دادي چې ددې په الفاظو کې هيڅ اختلاف نشته ، حال دا چې په نورو ټولو تشهداتو په الفاظو کې اختلاف موجود دي.

(۳) حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډير په لوي اهتمام سره حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له لاسه اونيولو او دتشهد تعليم يې ورته ورکړ ، او حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم په داسي اهتمام سره خپلو شاګردانو نه تشهد اونيولو.

(۴) دشلو صحابه کرامو نه منقول دي او اکثر تابعين هم ددې قائله وو.

(۵) ددې ثبوت په صيغې دامر سره شوې دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې دزده کولو او بل ته دورزده کولو حکم فرمايلي دي وغيره ذلک. (معارف السنن :۸۲/۳-۸۵)

بَابُ الْإِشَارَةِ بِالسَّبَّابَةِ

په سبابه ګوته باندې د اشاري کولو باب

۴۶۲ (عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا قَعَدَ يَدْعُو وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُمْنَى وَيَدَهُ الْيُسْرَى عَلَى فَخِذِهِ الْيُسْرَى وَأَشَارَ بِإِصْبَعِهِ السَّبَّابَةِ وَوَضَعَ إِبْهَامَهُ عَلَى

Maktaba Tul Ishaat.com

اِصْبَعِهِ الْوُسْطٰى وَيُلْقِمُ كَفَّهُ الْيُسْرٰى رُكْبَتَهُ رواه مسلم .(۱)

ترجمه :حضرت عبدالله بن الزبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې كله به رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كيناست دعا به يې فرمائله شي مبارک لاس به يې په نبي مبارک ورون باندي او ګس لاس به يې په ګس مبارک ورون باندي کيښود او په سبابه مبارکه ګوته به يې اشاره وکړه او کټه ګوته به يې په منځنۍ ګوته باندي کيښود، او چپ ورغوي به يې په زنګون د لقمي او مړئ په شان جوړ کړ . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

۴۶۳ { وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا قَعَدَ فِي التَّشَهُّدِ وَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى رُكْبَتِهِ الْيُمْنٰى وَ عَقَدَ ثَلَاثًا وَ خَمْسِيْنَ وَ اَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ رواه مسلم .(۲)

ترجمه :د حضرت بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې كله به رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تشهد کې کيناست او چپ مبارک لاس يې په چپ زنګون باندي کيښود او نبي مبارک لاس به يې په نبي زنګون باندي کيښود او د دري پنځوس د عدد په شان به يې غوټه جوړه کړه او په سبابه مبارکه ګوته به يې اشاره وکړه . د دي حديث روايت مسلم شريف کړي دي .

۴۶۴ {وَعَنْ وَائِلِ بْنِ حُجْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَاَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ حَلَّقَ الْاِبْهَامَ وَالْوُسْطٰى وَرَفَعَ الَّتِي تَلِيهِمَا يَدْعُو بِهَا فِي التَّشَهُّدِ رواه الخمسة الا الترمذي و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : حضرت وائل بن حجر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دي چې کټه او منځنۍ ګوته يې حلقه کړي او هغه ګوته يې اوچته کړه کومه چې دي دواړو ته نزدي وه او په هغې سره يې په تشهد کې اشاره وکړه . د دي حديث روايت د ترمذي نه په غير پنځو محدثينو کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج ۱ ص ۲۱۶ باب صفة الجلوس في الصلوة ...الخ .

(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۶ باب صفة الجلوس في الصلوة ...الخ .

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۳۸ باب كيف الجلوس في التشهد ، نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۸۴ باب موضع اللواتين ، ابن ماجة كتاب الصلوة ص ۶۶ باب الاشارة في التشهد ، مسند احمد ج۴ ص ۳۱۸

Maktaba Tul Ishaat.com

{۳۶۵} {وَ عَنْ مَالِكِ بْنِ نُمَيرٍ الْخُزَاعِيِّ عَنْ اَبِيهِ قَالَ رَأَيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاضِعًا يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى هٰذِهِ الْيُمْنٰى فِي الصَّلَاةِ وَيُشِيرُ بِاِصْبَعِهِ} رواه ابن ماجه و ابوداود والنسائي و اسناده صحيح. (۱)

قَالَ الْيَعْمَرِي اِنَّ الْاِشَارَةَ بِالسَّبَابَةِ فِي التَّشَهُّدِ ذَهَبَ اِلَيهَا جَمَاعَةٌ مِنْ اَهْلِ الْعِلْمِ وَهُوَ قَوْلُ الْاِمَامِ اَبِي حَنِيفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تعالٰى عَلٰى مَا قَالَ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِي مُوَطَّاهُ.

ترجمه: مالک ابن نُمیر الخزاعي د خپل پلار نه روایت کړي دي ویلي یې دي چې ما رسول کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه په داسي حالت کې لیدلي دي چې د ښي لاس په ښي وروڼ باندي اینبودونکي وُ او په مبارکه ګوته یې اشاره وکړه د دي حدیث روایت ابن ماجه، ابوداوُد او نسائي کړي دي او اسناد یې صحیح دي.

یعمري وایي چې بې شکه په تشهد کې دشهادت په ګوتي سره اشاره کولو ځرفته داهل علمو یو جماعت تګ کړي دي، او همدغه قول دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دي لکه څنګه چې امام محمد بن حسن رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل مؤطا کې ویلي دي.

دسبابه وجه تسمیه:

دشهادت والا ګوتي په عربیُ کې دوه نومونه دي یو سبابه دکوم په ذریعې چې کلمه توحید طرفته اشاره کیږي او شیطان ته بدي ردي ویلي کیږي دویم نوم مسبحه یعنې تسبیح کولو والا.

داشاره بالسبابه سنتیت

په تشهد کې اشاره بالسبابه مسنون کیدو باندي ائمه اربعه متفق دي، او ددي په سنیت باندي په کثرت سره روایات شاهد دي. البته چونکه دحنفیو په متون معتبرو کې داشاره بالسبابه نه په اثبات کې ذکر ملاویږي او نه په نفي کې، بیا په بعضي علاقوکې اشاره بالسبابه دروافضو اشعار هم ګرځیدلي وو نو بعضي متاخرینو دهغوي په تردید کې اشاره بالسبابه لره غیر مسنون اوګرځوله حالانکه روایات دحدیث پیش نظر ددي په مسنون کیدو کې لږ شک هم نه کوي او امام محمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په "مؤطا" کې ددي تصریح کړي ده چې مونږ داشاره بالسبابه په باره کې دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمل لره اخلو او همدغه قول دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ هم دي.

داشاره بالسبابه طریقه: دباب په حدیثونو کې داشاره بالسبابه دري طریقې موجودي دي.

---

(۱) ابن ماجة کتاب الصلوة ص ۶۶ باب الاشارة في التشهد، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۲ باب الاشارة في التشهد، نسائي کتاب السهو ج۱ص ۱۸۷ باب الاشارة بالاصابع في التشهد. مؤطا امام محمد ج۱ص ۱۰۶ باب العبث بالحصى في الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۱) دعبدالله بن زبیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث مطابق دري واړه ګوتې به بندي کړي شي او دشهادت ګوتې لره به په وسطی یعنې مینځنې ګوتې باندې دپاسه کیخودلې شي او اشاره به او کړې شي.

(۲) دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث مطابق حنصر، بنصر، او وسطی لره به بنده کړی شي، او دګوتې سر به دسبابه په ویخ کې کیخودلې شي او سبابه سره دې اشاره وکړي.

(۳) دوائل بن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث مطابق خنصر، بنصر لره به بنده کړې شي او ابهام او وسطی نه به حلقه جوړه کړي شي او سبابه سره دې اشاره او کړي زمونږ په نزد ترجیح هم دې آخري سورت لره حاصله ده او باقي دوه صورتونه هم جائز دي.

دشافعیه په نزد داده چې دتشهد په ابتداء کې دې حلقه جوړه کړې شي او "أشهد" په وخت دې ګوته اوچته کړي او "لااله" په وخت دې لاندې کړي زمونږ په نزد دې اول کولار کړي او د "لااله" په وخت دې دشهادت ګوته اوچته کړي او "لااله" باندې دې لاندې کړي.

بَابٌ فِي الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

په نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې د درود باب

}۴۶۶{ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ أَبِي لَيْلٰى قَالَ لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ أَلَا أُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ قَدْ عَلِمْنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فَكَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ. اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: عبدالرحمن ابن ابي ليلى ويلي دي چې زما سره حضرت كعب بن عجره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مخامخ شو نو هغه وويل چې ايا زه تاته يوه خاص قسم تحفه درنكړم په تحقيق نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته تشريف راوړو نو مونږ عرض وكړو امو ويل چې اي دالله تعالى رسوله مونږ ته معلومه ده او پوه يو چې په تا خنګه سلام وويو خو ولې په تا خنګه درود ووايو رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و فرمائل چې داسي ووايي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.

---

(۱) بخاري كتاب الدعوات ج۲ ص۹۳۷ باب الصلاة على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعد التشهد رقم ۶۳۵۷ و كتاب احاديث الانبياء ص۴۷۰ باب الصلاة على النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رقم ۳۳۷۰

Maktaba Tul Ishaat.com

اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ . اى الله په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او په آل دده رحمت نازل کړي لکه چې تا رحمت نازل کړي دي په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام باندي بې شکه چې ته ستائلي شوي او د لويي والا ذات يې اي الله تعالى برکت نازل کړي په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي او په آل د محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي لکه چې تا برکت نازل کړي دي په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام بې شکه ته ستائلي شوي لويي والا ذات يې . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

۴۶۷ {وَ عَنْهُ قَالَ لَقِيَنِي كَعْبُ بْنُ عُجْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَقَالَ اَلَا اُهْدِي لَكَ هَدِيَّةً سَمِعْتُهَا مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ بَلٰى فَاهْدِهَا لِي فَقَالَ سَأَلْنَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ الصَّلَاةُ عَلَيْكُمْ اَهْلَ الْبَيْتِ فَاِنَّ اللّٰهَ قَدْ عَلَّمَنَا كَيْفَ نُسَلِّمُ عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيمَ وَ عَلٰى اٰلِ اِبْرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ . اَللّٰهُمَّ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى اِبْرَاهِيمَ وَ عَلٰى اِبْرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ رواه البخاري .(۱)

ترجمه : عبدالرحمن بن ابي ليلى ويلي دي چې ځما سره کعب بن عجره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مخامخ شو نو وي ويل چې ايا زه تاته يوه خاص قسم تحفه درنکړم چې هغه مي د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دەنو ماوويل چې ولي نه هغه ماته راکړه نو کعب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل چې مونږ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه پوښتنه وکړه نو مونږ ويل چې اي دالله تعالى رسوله په تاسو اهل بيت باندي څنګه درود وويايو او بې شکه الله جل شانه په تحقيق بنودنه کړي مونږ ته چې څنګه سلام وويايو مونږ په تا باندي نو وي فرمائيل چې ووائي : اي الله په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په آل باندي درود نازل کړي لکه څنګه چې تا په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په آل باندي درود نازل کړي دي بې شکه ته ستائلي شوي لويي والا ذات يې . اي الله په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په آل باندي برکت نازل کړي لکه چې تا په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په آل باندي برکت نازل کړي دي بې شکه ته ستائلي شوي لويي والا ذات يې . د دې حديث روايت بخاري کړي دي .

۴۶۸ {وَعَنْ نُعَيْمٍ الْمُجْمِرِ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللّٰهِ كَيْفَ نُصَلِّي عَلَيْكَ قَالَ قُولُوا : اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَ عَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ وَ بَارِكْ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ وَ بَارَكْتَ عَلٰى

---

(۱) بخاري كتاب الانبياء ج ۱ ص ۴۷۷ باب وقول الله ان الله وملائكته

Maktaba Tul-Ishaat.com

اِبْرَاهِيمَ وَعَلٰى آلِ اِبْرَاهِيمَ اِنَّكَ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ رواه ابو العباس السراج و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه: نُعيم مجمر د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت كړي دي چې صحابه كرامو عرض وكړ چې اي دالله تعالى رسوله په تا باندې څنګه درود ووايو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې ووايي اي الله په محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودمحمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په آل باندې درود نازل كړي اوپه محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اود محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ال باندې بركت نازل كړ لكه چې تا په ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام او د ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَام په آل بركت نازل كړي دي بې شكه ته ستائلي شوي لويې والا ذات يې. د دې حديث روايت ابو العباس السراج كړي دي او اسناد يې صحيح دي.

په قعده كې د درود شريف حكم

(۱) دامام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد فرض دي. (۲) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ، امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ، امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او دجمهورو په نزد سنت دي.

عام حكم: په ټول عمر كې يو پيره لوستل بالاتفاق فرض دي او دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارک نوم ذكر چې كوم ځاي كې هم راشي نو يو پيره خو واجب دي چې درود اوايي او كه په يو مجلس كې بار بار دمبارک نوم ذكر اوشي نوبيا په دې كې اقوال دي:

۱... امام طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې ځومره پيره چې نوم اخيستلې كيږي درود ويل واجب دي روايا تو نه دې تائيد كيږي قال عليه الصلاة والسلام: رغم انف رجل ذكرت عنده فلم يصل علي

۲... شمس الأئمه كرخي رَحِمَهُ اللّٰهُ فرمايي چې يو پيره ويل واجب دي او ددې نه زيات سنت او مستحب دي په دين كې دحرج نه كيدو او دعام دلائلو نه يې تائيد كيږي.

په عام حالاتو كې درود او سلام په كثرت سره وِرد كول مستحب دي، د درود او سلام مختلفې صيغې واردې شوي دي، داكثرو علماؤ خيال دې چې په دې ټولو كې درود ابراهيمي والا صيغې دټولو نه افضل دي.

بَابُ مَا جَاءَ فِي التَّسْلِيمِ

باب دې په بيان د هغه حديثونو كې چې د سلام په باره كې راغلي دي:

{۴۶۹} {عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ عَنْ اَبِيهِ قَالَ كُنْتُ اَرٰى رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِينِهِ وَعَنْ

---

(۱) عمل اليوم والليلة للامام والنسائي مع تحفة الباري (۱) ۲۰۰ (۲) ۲۰۰

يَسَارِهِ حَتّٰى أَرٰى بَيَاضَ خَدِّهِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه: د عامر بن سعد نه روايت دي چې ځما پلار ويل چې ما رسول الله ﷺ ليدلي دي چې ښي طرف او کس طرف ته يې سلام ګرځاوه تر دې پورې چې ما د رسول الله ﷺ د مبارک مخ سپينوالي ليده . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

۴۰۱ {وَعَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهِ وَعَنْ يَسَارِهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ حَتّٰى أَرٰى بَيَاضَ خَدِّهِ رواه الخمسة و صححه الترمذي .(۲)

ترجمه: د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم ﷺ خپل ښي او چپ طرف ته سلام ګرځاوه السلام عليکم ورحمة الله . السلام عليکم ورحمة الله تر دې پورې چې ما د رسول کريم ﷺ د مبارک مخ سپينوالي ليده . د دې حديث روايت پنځو محدثينو کړي او ترمذي صحيح ګنرلي دي .

دسلام متعلق دري اهم مسائل

اولني مسئله : خروج من الصلاة لپاره لفظ "السلام" ويلو حکم .

(۱) دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد لفظ "السلام عليکم" ويل او دمونځ نه وتل فرض دي ورنه مونځ يې نه کيږي .

(۲) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دصاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد لفظ "السلام" واجب دي ، که يو بل داسې منافي دصلاة عمل سره ووځي نو دې سره خو به فرض ادا شي ليکن مونځ به واجب الاعاده وي .

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دليل: حديث چې څو پيره تير شو " وتحليلها التسليم" دمونځ نه دوتلو طريقه يې سلام ښودلي ده .

داحنافو دليل:

۱... دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : " إِذَا جَلَسَ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ ثُمَّ اَحْدَثَ فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُهُ " .

۲... دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : "اذا قلت هذا أو فعلت هذا فقد تمت صلاتك" .

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۱۶ باب السلام للتحليل من الصلوة .....الخ .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۶۵ باب ماجاء في التسليم في الصلوة ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۳ باب في السلام ، نسائي کتاب السهو ج۱ص ۱۶۴ باب کيف السلام على اليمين ، ابن ماجة کتاب الصلوة ص ۶۶ باب التسليم ، مسند احمد ج۱ص ۳۹۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ ته جواب : (۱) په حدیث مذکور کې دمونځ نه دوتلو مختلفې طریقو نه کامل او اکمل طریقه بیان کړې شوې ده .(۲) دفرضیت ثبوت کتاب الله باندې زیاتوالې دې کوم چې خبرواحد سره نشي کیدې لهذا ددې نه وجوب ثابتول مناسب دي .

دویمه مسئله : دسلام اړولو کیفیت

(۱) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد امام او منفرد صرف یو پیره خپلې مخې ته سر اوښت کړي او سلام دې وکړي او دهغې نه پس دې لږ چپ طرفته اوګوري.

(۲) امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد هر مونځ کونکي باندې ښي او چپ طرفته یعني دوه پیرې سلام ویل لازم دي .

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل : دعائشې رضي الله عنها حدیث : "ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كان يسلّم في الصلوة تسليمة واحدة تلقاء وجهه ثم يميل الى شق الايمن شيئاً" . (ابوداؤد شریف)

دجمهورو دلیل : دباب دواړه حدیثونه دکوم الفاظ چې تقریبا یو شان دي یعني : "كان يسلم عن يمينه وعن يساره" په حدیث کې ښي او چپ طرفته دسلام اړولو ذکر دې .

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... تسلیمتین والا حدیث تقریبا دشل صحابه کرامو نه مروي دی او دعائشې رضي الله عنها حدیث مذکور سند کمزور دي .

۲... حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به اولنې سلام په نسبت ددویم سلام په اوچت آواز سره ویلو دې لره نقل کول مقصود دي .

۳... تسلیمة واحدة صلاة اللیل باندې محمول دي او تسلیمتین والا احادیث فرائض باندې محمول دي کوم چې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ټولو سره ادا فرمایلو .

دریمه مسئله : دسلام په وخت دچا نیت اوکړي؟

که امام وي نو ښي او چپ طرفته سلام اړولو په وخت دفرښتو، او هغې طرفته دمقتدیانو او دنیک عمله پیریانو دسلام نیت دې اوکړي او که مقتدي دې نو که امام مخې طرفته وي نو ښي او چپ دواړو طرفته ورنه چې کوم طرفته هغه وي هغه طرفته دې دفرښتو ، مقتدي او دنیک عمله پیریانو نیت دې اوکړي .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ الْإِنْحِرَافِ بَعْدَ السَّلَامِ

د سلام نه پس مقتديانو طرف ته د راګرځيدو باب:

}۴۷۱{ عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدَبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه: حضرت سمره ابن جُندُب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله مونځ وکړ نو مونږ طرف ته به يې مخ مبارک متوجه کړ. د دې حديث روايت بخاري کړي دي.

}۴۷۲{ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا إِذَا صَلَّيْنَا خَلْفَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْبَبْنَا أَنْ نَكُونَ عَنْ يَمِينِهِ فَيُقْبِلُ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ رواه مسلم و ابوداود.(۲)

ترجمه: د حضرت براء ابن عازب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې کله به مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې مونځ کاوه نو مونږ به دا خبره خوښه وله چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي طرف ته وُدريږو چې مونږ طرف ته د مانځه نه روسته مخ مبارک متوجه کړي. د دې حديث روايت مسلم او ابوداوُد کړي دي.

}۴۷۳{ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَنْصَرِفُ عَنْ يَمِينِهِ رواه مسلم.(۳)

ترجمه: حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ډير ځله ما رسول کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نبي طرف ته په راګرځيدو ليدلي دي. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

دوو حديثونو په مينځ کې تطبيق:

اولني حديث په رښا کې علماوُ فجر او عصر نه پس امام مقتديانو طرفته اوړيدل او ناستي لره يې مستحب ليکلي دي (حاشيه مراقي الفلاح، ص: ۳۱۴) حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دمونځ نه پس اکثر چپ طرفته تشريف وړلو کما في حديث انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، لهذا دا بهتره ده او کله به يې نبي طرفته هم تشريف وړلو کما في حديث ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، نو ځکه ديو طرفنه اوچتيدو باندې اصرار او بل طرفنه اوچتيدو لره غلط ګڼل پخپله غلط دي.

---

(۱) البخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۱۷ باب يستقبل الامام الناس اذا سلم.

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۷ باب استحباب اليمين، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۹۰ باب الامام ينحرف بعد التسليم.

(۳) مسلم كتاب المسافرين ج۱ص ۲۴۷ باب جواز الانصراف من الصلوة عن اليمين والشمال.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ فِي الذِّكْرِ بَعْدَ الصَّلَاةِ

د مانځه نه وروسته د ذکر بیان :

{۴۷۴} {عَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ فِي دُبُرِ صَلَاتِهِ إِذَا سَلَّمَ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ اَللّٰهُمَّ لَا مَانِعَ لِمَا أَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت مُغیره ابن شعبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې بې شکه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د خپل مانځه د سلام پسې دغه دعاء ویله : لا اله الا الله وحده لا شریک له له الملک وله الحمد وهو علی کل شئ قدیر اللهم لا مانع لما اعطیت ولا معطي لما منعت ولا ینفع ذا الجد منک الجد. یعنې معنی دا چې د الله جل شانه نه پرته بل هیڅوک د عبادت مستحق نشته الله جل شانه ایکی یو دي د ده سره څوک شریک نشته همد غه الله جل شانه په هر شي باندي قدرت والادي چې اراده یې وفرمایي اي الله نشته هیڅوک منع کوونکي د هغه شي چې ته یې ورعطاء کوي او نشته څوک ورکوونکي د یو شي چې ته یې منع کوي او هیڅ بختوالا ته د ده بخت نفع نه شي رسولي . د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي .

{۴۷۵} {وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلَاتِهِ اِسْتَغْفَرَ ثَلَاثًا وَقَالَ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ رواه الجماعة الا البخاري .(۲)

ترجمه : د حضرت ثوبان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي هغه ویلي دي چې کله به رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل مانځه نه سلام ګرځاوه دري ځلي به یې استغفار وایه او اللهم انت السلام ومنک السلام تبارکت ذا الجلال والاکرام به یې وایه . معنی دا چې اي الله ته سلامتیا والا یې او سلامتیا هم ستا نه ده . د برکت ، لویې او عزت والا ذات یې اي ریه !.

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ص ۱۱۷ باب الذکر بعد الصلوة ، مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۱۸ باب الذکر بعد الصلوة وبیان صفته .

(۲) مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۱۸ باب استحباب الذکر بعد الصلوة وبیان صفته ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۶۶ باب ما یقول اذا سلم، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۲۱۲ باب ما یقول الرجل اذا سلم ، نسائي کتاب السهو ج۱ص ۱۹۶ باب الاستغفار بعد التسلیم ، ابن ماجة کتاب الصلوة ص ۶۷ باب ما یقال بعد التسلیم ، مسند احمد ج ۵ ص ۲۷۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

۴۷۶} {وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يَقْعُدْ إِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُولُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائلي دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د سلام كړخولو نه روسته د اللهم انت السلام ومنك السلام تباركت ذا الجلال والاكرام د ويلو په اندازه كيناسته . دا حديث مسلم روايت كړي دي .

۴۷۷} {وَعَنْ كَعْبِ بْنِ عُجْرَةَ رضي الله تعالى عنه عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مُعَقِّبَاتٌ لَا يَخِيبُ قَائِلُهُنَّ أَوْ فَاعِلُهُنَّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَسْبِيحَةً وَثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ تَحْمِيدَةً وَأَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ تَكْبِيرَةً رواه مسلم .(۲)

ترجمه : د حضرت كعب بن عجره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې د مانځه نه روسته يو څو كلمي دي چې د هر فرض مانځه نه پس د هغي ويونكي او يا د هغي كرونكي د راوي شك وي نه ناكاميږي (۳۳) ځله سبحان الله (۳۳) ځله الحمدلله او (۳۴) ځله الله اكبر د دي حديث روايت مسلم كړي دي .

۴۷۸} {وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَبَّحَ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَحَمِدَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَكَبَّرَ اللهَ ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ فَتِلْكَ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ وَقَالَ تَمَامَ الْمِائَةِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ غُفِرَتْ خَطَايَاهُ وَإِنْ كَانَتْ مِثْلَ زَبَدِ الْبَحْرِ رواه مسلم .(۳)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې څوك د هر مانځه نه پس د دري ديرش ځله سبحان الله او دري ديرش ځله الحمدلله او دري ديرش ځله الله اكبر وويايي چې دا يو كم سل ځله شو او په سلم ځل باندې لا اله الا الله وحده لا شريك له

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۸ باب استحباب الذكر بعد الصلوة وبيان صفته .

(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۹ باب استحباب الذكر بعد الصلوة وبيان صفته .

(۳) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۹ باب استحباب الذكر بعد الصلوة وبيان صفته .

Maktaba Tul Ishaat.com

له الملک وله الحمد وهو علي کل شئ قدير ولولي وبه بخښلي شي ټول ګناهونه د ده اګر چې وي ګناهونه د ده په شان د زړ ګ د درياب . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

{۴۷۹} {وَعَنْهُ قَالَ قُلْتُ لِإِبْنِ سَمِيطٍ هَلْ حَفِظْتَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئاً يَقُولُهُ بَعْدَ مَا سَلَّمَ قَالَ نَعَمْ كَانَ يَقُولُ : سُبْحَانَ رَبِّكَ رَبِّ الْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ وَ سَلَامٌ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ رواه ابو يعلي و قال الهيثمي رجاله ثقات .[1]

ترجمه : او د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې ما ابي سعيد ته وويل چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دي څه ياد کړي دي چې هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سلام ګرځولو نه روسته وويل ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې هو رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وه چې ويل به يې سبحان ربک رب العزة عما يصفون وسلام على المرسلين والحمدلله رب العالمين . د دي حديث روايت ابو يعلي کړي او الهيثمي ويلي دي چې رجال يې ثقه دي .

{۴۸۰} {وَعَنِ الْحَسَنِ بْنِ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ فِي دُبُرِ الصَّلَاةِ الْمَكْتُوبَةِ كَانَ فِي ذِمَّةِ اللهِ إِلَى الصَّلَاةِ الْأُخْرَى رواه الطبراني في الكبير و قال الهيثمي اسناده حسن .[2]

ترجمه : او حضرت حسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائيلي دي چا چې د فرض مانځه نه روسته ايت الکرسي ولوستله دغه کس تر بل مانځه پورې د الله جل شانه په ذمه واړئ کې شو . د دي حديث روايت په کبير کې طبراني کړي او الهيثمي ويلي دي چې اسناد يې حسن دي .

{۴۸۱} {وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَرَأَ آيَةَ الْكُرْسِيِّ دُبُرَ كُلِّ صَلَاةٍ مَكْتُوبَةٍ لَمْ يَمْنَعْهُ مِنْ دُخُولِ الْجَنَّةِ إِلَّا الْمَوْتُ رواه النسائي و صححه ابن حبان .[3]

ترجمه : حضرت ابي امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې څوک

---

(۱) مجمع الزوائد ج۲ص ۱۴۸ نقلا عن ابي يعلى .

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج۳ ص ۸۴ رقم ۲۷۳۳ ، مجمع الزوائد ج۲ص ۱۲۸ .

(۳) عمل اليوم والليلة للنسائي مع ترجمه لنوي ليل ولمذر ص ۷۸ برقم ۱۰۰ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د هر فرض مانځه نه روسته ایت الکرسي ولولي منع به نه کړي ده لره هیڅ یو شي د جنت د داخلیدو نه په غیر د مرګ نه . د دي حدیث روایت نسائي کړي دي او ابن حبان صحیح ګنرلي دي .

بَابُ مَا جَاءَ فِي الدُّعَاءِ بَعْدَ الْمَكْتُوبَةِ

د فرض مانځه نه روسته د دعاء باب

}۴۸۲{ عن أَبِي أُمَامَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قِيلَ يَا رَسُولَ اللهِ أَيُّ الدُّعَاءِ أَسْمَعُ قَالَ جَوْفَ اللَّيْلِ الْآخِرَ وَ دُبُرَ الصَّلَوَاتِ الْمَكْتُوبَاتِ رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن .(۱)

ترجمه :حضرت ابو امامه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل شو چې اي د الله جل شانه رسوله کومه یوه دعاء ډیره د قبلیدو وړ ده رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې د اخري شپې په نیمایي برخه کې او د فرض مانځه نه روسته . د دي حدیث روایت ترمذي کړي، دي او ویلي یې دي چې دا حدیث حسن دي .

بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ فِي الدُّعَاءِ

په دعاء کې د لاسونو اوچتولو باب

}۴۸۳{ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ إِنَّهَا رَأَتِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو رَافِعًا يَدَيْهِ يَقُولُ اَللّٰهُمَّ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ فَلَا تُعَاقِبْنِي أَيُّمَا رَجُلٍ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ آذَيْتُهُ أَوْ شَتَمْتُهُ فَلَا تُعَاقِبْنِي فِيهِ رواه البخاري في الادب المفرد و قال الحافظ في الفتح هو صحيح الاسناد .(۲)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې هغې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسي حال کې لیدلي دي چې لاسونه یې اوچت کړي او دعا یې کوله فرمائل یې چې ای الله بې شکه چې زه بشریم نو ما او مه نیسي . د مؤمنانو کوم یو سړي ته چې ما ضرر رسولي دي او یا مې ورته کنځل کړي دي نو ما اوه نه نیسي په هغې کې . د دي حدیث روایت په ادب المفرد کې بخاري نقل کړي او حافظ ابن حجر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په فتح الباري کې ویلي دي چې د دي حدیث اسناد صحیح دي .

---

(۱) ترمذي ابواب الدعوات ج۲ص ۱۸۷ باب

(۲) ادب المفرد للبخاري ص ۸۹ باب رفع الايدي في الدعاء ، فتح الباري كتاب الدعوات ج۱۱ص ۱۴۲ باب رفع الايدي في الدعاء .

Maktaba Tul Ishaat.com

} ۴۸۴ {و عَنْهَا قَالَتْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَافِعًا يَدَيْهِ حَتَّى بَدَا ضَبْعُهُ يَدْعُو رواه البخاري في جزء رفع اليدين و صححه ابن حجر .(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسي حال کې ليدلي دي چې اوچتوونکي وُ لاسونو خپلو لره تر دي پورې چې د هغه مبارک څنګل څرګند کيده. د دي حديث روايت بخاري د رفع اليدين په جز کې کړي دي او ابن حجر صحيح ګڼلي دي:

} ۴۸۵ {وَ عَنْ سَلْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ رَبَّكُمْ حَيِيٌّ كَرِيمٌ يَسْتَحْيِي مِنْ عَبْدِهِ إِذَا رَفَعَ يَدَيْهِ أَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا رواه ابو داود وابن ماجه والترمذي و حسنه و قال الحافظ في الفتح (۱۱/۱۲۱) سنده جيد .(۲)

ترجمه :حضرت سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې بې شکه ستاسي پروردګار حيا کولو والا او معافي کولو والا ذات دي الله جل شانه ته د خپل بنده نه حيا ورځې چې کله بنده خپل دواړه لاسونه اوچت کړي او خالي يې راواپس کړي ، د دي حديث روايت ابوداؤد ابن ماجه او ترمذي کړي دي او حسن يې ګڼلي دي او حافظ په فتح الباري کې ويلي دي چې سند يې جيد دي .

مسئلة الباب : ددعا لپاره لاس اوچتول مستحب دي ځکه چې په دې کې دعا جزئ اظهار دي او رفع يدين ددعا د آدابو نه دي دلته دوه جدا جدا خبرې دي :

(۱) دفرض مونځونو نه پس ددعا ثبوت .(۲) نفس دعا غوښتلو آداب.

دتير شوي باب دحديثو نه ثابته شوه چې دفرض مونځونو نه پس دعا قبليږي نو اوس چې کله بنده دعا کوي نو ډير په آدابو سره به دعا غواړي يعني لاس په اوچتولو سره ، په اجتماعي شکل ددعا دقبليد و زيات اميد دي ليکن دي لره دي ضروري اونه ګڼي .

---

(۱) جز رفع يدين للبخاري مترجم صـ ۶۲ ، فتح الباري كتاب الدعوات ج۱۱صـ ۱۴۲ باب رفع الايدي .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۰۹ باب الدعاء ، ابن ماجة ابواب الدعاء صـ ۲۸۴ باب رفع اليدين في الدعاء ، ترمذي ابواب الدعوات ج۲صـ ۱۹۴ باب فتح الباري ج۱۱ صـ ۱۲۱ في الدعاء .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابٌ فِي صَلَاةِ الْجَمَاعَةِ

په جماعت سره د مونځ کولو باب

{۴۸۶} {عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ الْمُؤَذِّنَ فَيُؤَذِّنَ ثُمَّ آمُرَ رَجُلًا فَيَصَلِّيَ بِالنَّاسِ ثُمَّ انْطَلِقَ بِرِجَالٍ مَعَهُمْ حُزَمٌ الْحَطَبِ إِلَى قَوْمٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الصَّلَاةِ فَأُحَرِّقَ عَلَيْهِمْ بُيُوتَهُمْ بِالنَّارِ} رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي : چې ما اراده کړې ده چې مؤذن ته امر وکړم چې اذان وکړي بيا يو کس ته امر وکړم چې خلکو ته مونځ وکړي بيا د ځان سره داسي کسان چې د هغو سره د لرګو ګيډي وي يو قوم ته بوځم چې د جماعت د مانځه نه مخالفت کوي نو اوه سيزم کورونه د هغوي په اور باندي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

{۴۸۷} {وَعَنْهُ قَالَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلٌ أَعْمَى فَقَالَ يَا رَسُولَ اللهِ لَيْسَ لِي قَائِدٌ يَقُودُنِي إِلَى الْمَسْجِدِ فَسَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُرَخِّصَ لَهُ فَيُصَلِّيَ فِي بَيْتِهِ فَرَخَّصَ لَهُ فَلَمَّا وَلَّى دَعَاهُ فَقَالَ هَلْ تَسْمَعُ النِّدَاءَ بِالصَّلَاةِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَأَجِبْ} رواه مسلم .(۲)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو روند سړي راغي نو وي ويل چې اي د الله جل شانه رسوله ما د پاره ځوک راوستونکي نشته چې مسجد ته مي راولي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يې وغوښتل چې ده ته رخصت ورکړي چې په خپل کور کې مونځ کوي نو ده ته يې رخصت ورکر کله چې يې واپسي وکړه نو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ واپس راوغوښته نو ورته وي ويل چې ايا ته د مانځه اذان اوري هغه وويل هو نبي عَلَيْهِ السَّلَامُ وفرمائل چې ته اذان قبول کړه . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

{۴۸۸} {وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَلْقَى اللهَ غَدًا مُسْلِمًا فَلْيُحَافِظْ عَلَى هَؤُلَاءِ الصَّلَوَاتِ حَيْثُ يُنَادَى بِهِنَّ فَإِنَّ اللهَ شَرَعَ لِنَبِيِّكُمْ سُنَنَ الْهُدَى وَإِنَّهُنَّ مِنْ سُنَنِ الْهُدَى وَلَوْ أَنَّكُمْ

---

(۱) بخاري كتاب الأذان ج۱ص ۸۹ باب وجوب صلوة الجماعة ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۲ باب فضل صلوة الجماعة ...الخ .
(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۲ باب فضل صلوة الجماعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّيْتُمْ فِي بُيُوتِكُمْ كَمَا يُصَلِّي هٰذَا الْمُتَخَلِّفُ فِي بَيْتِهِ لَتَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ وَ لَوْ تَرَكْتُمْ سُنَّةَ نَبِيِّكُمْ لَضَلَلْتُمْ وَمَا مِنْ رَجُلٍ يَتَطَهَّرُ فَيُحْسِنُ الطُّهُورَ ثُمَّ يَعْمِدُ إِلَى مَسْجِدٍ مِنْ هٰذِهِ الْمَسَاجِدِ إِلَّا كَتَبَ اللهُ لَهُ بِكُلِّ خُطْوَةٍ يَخْطُوهَا حَسَنَةً وَيَرْفَعُهُ بِهَا دَرَجَةً وَيَحُطُّ عَنْهُ بِهَا سَيِّئَةً وَلَقَدْ رَأَيْتُنَا وَمَا يَتَخَلَّفُ عَنْهَا إِلَّا مُنَافِقٌ مَعْلُومُ النِّفَاقِ وَلَقَدْ كَانَ الرَّجُلُ يُؤْتَى بِهِ يُهَادٰى بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ حَتّٰى يُقَامَ فِي الصَّفِّ رواه مسلم(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ځوک چې په دې باندې خوشحالېږي چې الله جل شانه سره د مسلمانانو په حالت کې ملاقي شي نو د دغې مونځونو پابندي دي کوي کله چې د هغې د پاره اواز او اذان کولې شي ځکه چې الله جل شانه ستاسي د نبي د پاره د هدايت لارې بنکاره کړي دي او يقيناً دغه مونځونه د هدايت د لارو نه دي او که چرته تاسو په خپلو کورونو کې مونځونه کوئ لکه چې دا مخالفت کوونکي په خپل کور کې مونځ کوي نو تاسي به د خپل نبي طريقه پرېښي وي او که چرته تاسو د خپل نبي طريقه پرېږدئ نو خامخا گمراه به شئ او هيڅ يو کس نشته چې په ښه طريقې سره ځان پاک کړي بيا د دغه مسجدونو نه يو مسجد نه اراده وکړي مگر وبه ليکي الله جل شانه په هر يو قدم باندې ده لره يوه نيکي او اوچته به کړي ده لره په هغې باندې يوه درجه او لري به کړي ده لره په هغې باندې يوه گناه په تحقيق سره ما يو جماعت د خپلو صحابه کرامو لره ليدلي دي چې د دغه جماعت نه روسته کيږي هغه څوک چې معلوم وي نفاق د هغه او په تحقيق سره ډيو سړي چې راوستي شو هغه په منځ د دوه کسانو کې تر دې چې هغه په صف کې اودرولي شو . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

۴۸۹ {وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ تَفْضُلُ صَلَاةَ الْفَذِّ بِسَبْعٍ وَّعِشْرِينَ دَرَجَةً رواه الشيخان .(۲)

ترجمه :د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي د جماعت مونځ په يوا ځي مانځه اوه ويشت درجې فضيلت لري. ددې حديث روايت شيخينو کړي دي.

۴۹۰ {وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الرَّجُلِ مَعَ الرَّجُلِ أَزْكٰى مِنْ صَلَاتِهِ فِي بَيْتِهِ وَحْدَهُ وَصَلَاتُهُ مَعَ الرَّجُلَيْنِ أَزْكٰى مِنْ صَلَاتِهِ مَعَ الرَّجُلِ وَمَا كَثُرَ فَهُوَ أَحَبُّ إِلَى اللهِ رواه

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۲ باب فضل صلوة الجماعة .

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۸۹ باب فضل صلوة الجماعة،مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۱ باب فضل صلوة الجماعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوداود و اسناده صحیح.(۱)

ترجمه: د حضرت أبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې د یو کس مونځ د بل کس سره یعنې د دوه ډ کسانو مونځ په جماعت سره د یو کس د مانځه نه افضل دي او د یو کس مونځ د دوه ډ کسانو د مانځه سره بهتر دي د یو کس د مانځه نه د یو کس سره او څومره چې زیاتیږي نو هغه الله جل شانه ته ډیر محبوب دي. د دي حدیث روایت ابوداوډ کړي او اسناد یې صحیح دي.

۴۹۱ {و عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَضْلُ صَلَاةِ الرَّجُلِ فِي الْجَمَاعَةِ عَلَى صَلَاتِهِ وَحْدَهُ بِبِضْعٍ وَعِشْرُونَ دَرَجَةً رواه احمد و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې په جماعت سره د یو سړي مونځ کول د یو کس په یواځې مونځ کولو باندې څه د پاسه شل درجې فضیلت لري. د دي حدیث روایت احمد کړي او اسناد یې صحیح دي.

۴۹۲ {وَ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَفْضُلُ صَلَاةُ الْجَمَاعَةِ عَلَى صَلَاةِ الْفَذِّ وَ صَلَاةُ الرَّجُلِ وَحْدَهُ خَمْسًا وَعِشْرِينَ صَلَاةً رواه البزار و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي یواځې مانځه نه په جماعت سره مونځ او د سړي دیواځې مونځ کولو نه پنځه ویشت درجې بهتر دي اویا په جماعت سره مونځ په یواځې مانځه باندې او د یو سړي په یواځې مانځه باندې د پنځه ویشتو مونځونو نه بهتر دي. د دي حدیث روایت بزار کړي او اسناد یې صحیح دي.

۴۹۳ {و عن عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَ تَعَالَى لَيُعْجِبُ مِنَ الْمَلَاةِ فِي الْجَمْعِ رواه احمد و اسناده حسن.(۴)

ترجمه: او حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما د رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي چې فرمائل یې بې شکه الله تبارک وتعالی خامخا په جماعت سره مونځ خوښوي. د دي

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۸۲ باب في فضل صلوة الجماعة.

(۲) مسند احمد ج۱ص ۳۸۶.

(۳) کشف الاستار عن زوائد البزار کتاب الصلوة ج۱ص ۲۲۷ رقم ۴۵۹.

(۴) مسند احمد ج۲ص ۵۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث روایت احمد کړي او اسناد یې حسن دي .

۴۹۴ { وعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ لَيَعْصِمُ مِنَ الضَّلَالَةِ فِي الْجَمْعِ رواه الطبراني و اسناده حسن .(۱)

ترجمه :او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې فرمائل به یې بې شکه الله عزوجل په جماعت سره مونځ خامخا خوښوي . د دي حدیث روایت طبراني کړي دي او اسناد یې حسن دي .

په جماعت سره دمونځ حکم او تطبیق بین المذاهب

(۱) داهل ظواهرو په نزد دمونځ صحیح کیدو لپاره شرط دي ، وهو روایة عن الامام أحمد .

(۲) امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد فرض عین دي .(۳) دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد فرض عین دي او دیر قول مطابق سنت دي .(۴) امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد سنت مؤکده قریب من الواجب دي .

حضرت علامه محمد انور شاه کشمیري رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې اختلاف په حقیقت کې دتعبیر اختلاف دي . دمآل په اعتبار سره دیر فرق نشته ، ځکه چې په روایاتو کې دجماعت دیر زیات تاکید او دجماعت پریخودلو والا لپاره وعید راغلي دی لکه دحضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث کې دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جماعت کې دنه حاضر کیدو والا دکورونو سوزولو اراده اوفرمایله ، همدارنګه دیو حدیث مطابق داذان په اوریدلو سره ښځو کس ته هم جومات ته دراتلو حکم ورکړ، او دویم طرفته دمعمولي عذر په بناء باندې دترک جماعت اجازت معلومیږي، لکه څنګه چې (په راتلونکي باب کې) دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث مطابق د دودئ په موجودتیا کې (چې کله د دودئ دخوږلوتقاضا هم وي) اول یې دد ودئ دخوږلو اجازت ورکړ، دغه شان چې کله به باران وو ، تیزه هوا به چلیده نو فرمایل به یې چې په کور کې مونځ کوئ .

نو کوم حضراتو چې سخت تاکید والا حدیثونو ته اوکتل هغوي جماعت لره شرط یا فرض عین ، وکفایه او ګرزولو او چاچې فقط سهولتونو والا حدیثونو ته اوکتل نو هغوي سنت اوګرزوو ، او چاچې دد واړه قسمو حدیثو لحاظ اوکړو نو هغوي واجب یا سنت مؤکده اوګرزوو .

---

(۱) مجمع الزوائد کتاب الصلوة ج۲ ص ۴۸ باب فضل الجماعة ، رقم الحدیث ۲۷۰۰ ، مکتبة القدسي

Maktaba Tul Ishaat.com

تطبیق بین الاحادیث:

دجماعت دفضیلت مطابق حدیثونه مختلف دي په بعضو کې دجماعت مونځ دانفرادي مونځ نه اوه ویشت (۲۷) درجه فضل ښودلې شوې او په بعضو کې پنځه ویشت (۲۵) درجه او په بعضو کې شل (۲۰) نه بره درجې ښودلې شوي دي. تطبیق یې داسې دی چې دثواب قلت او کثرت مدار نیت، خضوع او خضوع او تعدادِ جماعت باندې دي.

بَابُ تَرْكِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ

د عذر له امله د جماعت د پریښودو باب

۶۱۹ {عن نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَذَّنَ بِالصَّلَاةِ فِي لَيْلَةٍ ذَاتِ بَرْدٍ وَ رِيحٍ ثُمَّ قَالَ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْمُرُ الْمُؤَذِّنَ إِذَا كَانَتْ لَيْلَةٌ ذَاتُ بَرْدٍ وَ مَطَرٍ يَقُولُ أَلَا صَلُّوا فِي الرِّحَالِ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه: د نافع رَحِمَهُ اللهُ نه روایت دي چې حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د یوې سختې یخې او تیز باد والا شپه کې د مانځه د پاره اذان وکړ بیا یې وویل خبردار په خپلو خپلو ځایونو کې مونځ ادا کړئ بیا یې وویل چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د سختې یخنۍ او د باران په شپه مؤذن ته فرمائل چې داسې ووایي چې : خبردار په خپلو خپلو ځایونو کې مونځ ادا کړئ. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

۶۲۰ {وَ عَنْهُ قَالَ. قَالَ رَسُولُ اللهِ إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ أَحَدِكُمْ وَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَأُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهُ وَ كَانَ ابْنُ عُمَرَ يُوضَعُ لَهُ الطَّعَامُ وَ تُقَامُ الصَّلَاةُ فَلَا يَأْتِيهَا حَتَّى يَفْرُغَ وَ أَنَّهُ لَيَسْمَعُ قِرَاءَةَ الْإِمَامِ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه: حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُما ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې کله یو سړي نه دوډئ کینبودل شي او مونځ وُ درول شي نو مخکې په دوډئ شروع وکړئ جلتي مه

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۲ باب الرخصة في المطر والعلة ...الخ ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۳ باب الصلوة في الرحال في المطر .

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۲ باب اذا حضر الطعام والقيمت الصلوة ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۰۸ باب كراهة الصلوة بحضرة الطعام ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کوئ تر څو چې د وډوئ نه فارغ شئ او حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته به روتهئ کيښودي شوه او مونځ به ئ ورولي شو نو مانځه ته به نه تلو تر څو به د روتهئ نه فارغ شوي نه وُ او هغه به د امام قرات اوريده . د دي حديث شيخينو کړي دي .

۴۹۷ {وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا وَهُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رضي الله عنها ويلي دي چې ما د رسول کريم صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمائل يې د طعام په موجودتيا کې چې وُلږه ډيره وي مونځ نه کيږي او نه د تش او د ک اودس ماتي د غلبي په وخت کې مونځ کيږي .

۴۹۸ {وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَذْهَبَ إِلَى الْخَلَاءِ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ رواه الاربعة و صححه الترمذي .(۲)

ترجمه : حضرت عبدالله بن ارقم رضي الله عنه ويلي دي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه اوريدلي دي چې فرمائل يې کله چې يو ستاسي بيت الخلاء ته د ورتلو اراده وکړي او مونځ اودرول شوي وي نو اول دي ځان د بيت الخلاء نه فارغ کړي . د دي حديث روايت ځلورو محدثينو کړي دي او ترمذي صحيح ګڼلي دي .

۴۹۹ {وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ سَمِعَ النِّدَاءَ فَلَمْ يَأْتِهِ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا مِنْ عُذْرٍ رواه ابن ماجه و ابن حبان و الدار قطني و الحاكم و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه روايت دي چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي چې څوک اذان واوري او جماعت ته حاضر نشي نو مونځ يې نه قبليږي مګر د عذر د وجهي نه . د دي حديث روايت ابن ماجه ، ابن حبان ، دار قطني او حاکم کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ صـ ۲۰۸ باب کراهة الصلوة بحضرة الطعام ...الخ .

(۲) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ صـ ۱۲ باب ايصلي الرجل وهو حاقن ، نسائي کتاب الامامة والجماعة ج۱ صـ ۱۳۷ باب الصلوة لي ترک الجماعة، ترمذي ابواب الطهارة ج۱ صـ ۳۶ باب ما جاء اذا اقيمت الصلوة ووجد احدکم الخلاء ...الخ ،ابن ماجة کتاب الطهارة صـ ۴۸ باب ما جاء لي النهي للحاقن ان يصلي .

(۳) ابن ماجة کتاب الصلوة صـ ۵۸ باب التغليظ لي التخلف عن الجماعة ، صحيح ابن حبان کتاب الصلوة ج۴ صـ ۲۵۳ رقم ۲۰۶۱ ، مستدرک حاکم کتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۴۵ باب من سمع النداء فلم يجب ...الخ ، دار قطني کتاب الصلوة ج۱ صـ ۴۲۰ باب الحث لجار المسجد علي الصلوة فيه ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د کلماتو تشریح :

"مدافعة الأخبثين" : (۱) که د مونځ نه مخکې سخت حاجت (وړې بولې او غټې بولې) راپیښ شي نو اول دې دهغې نه فراغت حاصل کړي ، نو که ددې دبرداشت په حالت کې مونځ اوکړي نو مونځ به پپ مکروه وي .(۲) که په وخت د مونځ حاجت ورته پیښ شو نو که په سکون سره مونځ پوره کولې شي نو صحیح ده ورنه مونځ دې مات کړي او اول دې د حاجت نه فارغه شي ، بیا دې مونځ دسر نه اوکړي .

بَابُ تَسْوِيَةِ الصُّفُوفِ

د صفونو د برابرولو باب :

۵۰۰ { عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَأَقْبَلَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِوَجْهِهِ فَقَالَ أَقِيمُوا صُفُوفَكُمْ وَتَرَاصُّوا فَإِنِّي أَرَاكُمْ مِنْ وَرَاءِ ظَهْرِي رواه البخاري وَفِي رِوَايَةٍ لَهُ وَكَانَ أَحَدُنَا يُلْزِقُ مَنْكِبَهُ بِمَنْكِبِ صَاحِبِهِ وَقَدَمَهُ بِقَدَمِهِ .(۱)

ترجمه :حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې د مانځه د پاره اقامت وشو نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ طرف ته خپل مبارک مخ متوجه کړ نو وي فرمائل چې خپل صفونه نیغ کړئ او یو بل ته سره نزدې شئ بې شکه چې زه تاسي د خپلې شانه روسته وینم . د دې حدیث روایت بخاري کړي دي او د بخاري په یو بل روایت کې دي چې یو زمونږ نه به خپله اوږه د ملګري د اوږې سره او قدم به یې د ملګري د قدم سره پیوسته کاوه .

۵۰۱ { وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَمْسَحُ مَنَاكِبَنَا فِي الصَّلَاةِ يَقُولُ اِسْتَوُوا وَلَا تَخْتَلِفُوا فَتَخْتَلِفَ قُلُوبُكُمْ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهَى ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ قَالَ أَبُو مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَأَنْتُمُ الْيَوْمَ أَشَدُّ اِخْتِلَافًا رواه مسلم .(۲)

ترجمه :او حضرت ابو مسعود انصاري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه کې ځمونږ اوږې مسح کولې او فرمائل به یې چې برابرشئ اختلاف مه کوئ او که نه نو زړونه به مو مختلف شي او ماته دي د ستاسو نه هغه خلک نزدې وي چې پوه ، عاقل او هوښیار وي بیا دي هغه وي چې

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۰ باب الميال الامام على الناس عند تسوية الصفوف .

(۲) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۱ باب تسوية الصفوف واقامتها ... الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

هغوي ته نزدي وي او بيا دي هغه وي چې هغوي ته نزدي وي حضرت ابو مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې تاسي نن ورځې د اختلاف له حيثيته ډير سخت ياستي . د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

{۵۰۲} {وَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه عَنْ رَسُوْلِ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ سَوُّوْا صُفُوْفَكُمْ وَ قَارِبُوْا بَيْنَهَا وَ حَاذُوْا بِالْاَعْنَاقِ فَوَ الَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهٖ اِنِّيْ لَاَرَى الشَّيْطَانَ يَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ كَاَنَّهَا الْحَذَفُ

رواه ابوداود و صححه ابن حبان .(۱)

ترجمه: د انس بن مالک رضي الله عنه روايت دي چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي خپل صفونه سره پيوسته اوملاؤ کړي او نزدي يې کړئ او څټونه سره برابر کړئ پس قسم دي په هغه ذات چې ځماروح د هغه په يد بلا کيف کې دي چې بې شکه زه شيطان وينم چې د صف په منځ کې ننوځي گويا کې دا گډي وړوکي بچي دي. د دي حديث روايت ابوداؤد کړي او ابن حبان صحيح ګڼلي دي.

{۵۰۳} {وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رضي الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم قَالَ اَقِيْمُوا الصُّفُوْفَ وَ حَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَ سُدُّوا الْخَلَلَ لِيْنُوْا بِاَيْدِيْ اِخْوَانِكُمْ وَ لَا تَذَرُوْا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطَانِ وَ مَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللّٰهُ وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللّٰهُ رواه ابوداود و صححه ابن خزيمة والحاكم .(۲)

ترجمه: د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمائلي دي صفونه نيغ کړئ او اوږې برابرې کړئ او خالي ځايونه بند کړئ د خپلو وروڼو د لاسونو سره نرمي وکړئ او د شيطان د پاره خالي ځايونه مه پريږدئ او څوک چې صف پيوسته کړي الله جل شانه به هغه لره پيوسته کړي او څوک چې صف کټ او پرې کړي الله جل شانه به هغو لره کټ او پرې کړي. د دي حديث روايت ابوداؤد کړي او ابن خزيمه او حاکم صحيح ګڼلي دي.

په مونځ کې د صف جوړولو اهميت

ځرنګه چې مونځ د نورو ټولو عبادتونو په نسبت د انسان د انتهايي خشوع او عاجزئ او د الله جل شانه د پوره او يو مکمل تعظيم والا عبادت دي نو د داسي يو عظيم الشان عبادت د اداء کولو د پاره يو خاص نظم او بهتر ترتيب پکار وُ چې هغه حضرت رسول اکرم صلى الله عليه وسلم امت ته په يو داسي حسين او بهتر شکل سره تعليم ورکړ چې د هغې نه بل داسي بهتر صورت نشي کيدي او د دي

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۹۷ باب تسوية الصفوف ، صحيح ابن حبان ج۱ص ۲۹۹ برقم ۲۱۶۳.

(۲) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۹۷ باب تسوية الصفوف ، صحيح ابن خزيمة ج۳ ص ۲۳ رقم ۱۵۴۹ ، مستدرک حاکم کتاب الصلوة ج۱ص ۲۱۲ من وصل صفا ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

صورت د تکمیل او تعمیل د پاره حضرت رسول اکرم ﷺ تاکید وفرمایه چې صف نیغ کړي د صف په منځ کې فرجې بندي کړي اول مخکې صف پوره کړئ یو بل ته سره نزدې شي او څټونه سره برابر کړئ دا ټولې خبرې رسول اکرم ﷺ دي د پاره وفرمایلې چې د جماعت د مانځه تکمیل پرې وشي.

د صفونو په برابرولو کې مذهبي اختلاف :د صفونو په برابرولو کې د ځلورو مذاهبو ترمنځ اختلاف دي:

(۱) **مذهب د جمهورو** :جمهور علماء وایي چې د صفونو برابرول سنت مؤکد او یا واجب دي د دوي په مذهب باندې که صفونه نیغ او برابر نشي هم مونځ کیږي ځکه چې د صفونو برابرول د مانځه په اقامت او حقیقت کې داخل نه دي.

(۲) مذهب د علامه ابن حزم ظاهري دي :د ده په نزد د صف برابرول فرض دي که څوک صف برابر نه کړي د ده مونځ فاسد او بلکه باطل دي.

(۳) مذهب :د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دي :د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د صف برابرول واجب دي.

(۴) مذهب :د دریو ائمه وُ دي :امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ ، امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وایي چې د صفونو برابرول سنت دي.

جمهورو علماؤ د صف د برابرولو دوُجوب په برخه کې ویلي دي چې رسول الله ﷺ اګر چې د صف د برابرولو په برخه کې زیات تاکید فرمایلي لکه چې د دي باب د ټولو احادیثو همدغه مطلب او مرام دي خو ولي هیڅ یو داسې روایت نه دي ثابت شوي چې د صف د نه برابرولو په وجه د مانځه د باطلیدو او یا د مانځه د اعادې حکم پکې شوي وي.

د صف د برابرولو د فرضیت دلیل :ابن حزم ظاهري د صف د برابرولو په فرضیت باندې د نعمان بن بشیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت باندې استدلال کړي (عن النعمان بن بشیر قال کان رسول الله ﷺ یسوّي صفوفنا فخرج یومًا فرأی رجلا خارجًا صدره عن القوم فقال لتسوُّن صفوفکم او لیخالفنّ الله بین وجوهکم)(۱) معنی دا چې د حضرت نعمان بن بشیر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي ویلي یې دي چې رسول الله ﷺ به ځمونږ صفونه برابرول نو یوه ورځ راوواته یو سړي یې ولیده چې سینه یې د قوم یعني د نورو خلکو نه بهر وُتې وه نو رسول الله ﷺ وفرمایل چې

(۱) ترمذي ج۱ص ۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

خامخا به تاسي خپل صفونه برابروئ او يا به مخالف او متغير کړي الله جل شانه. مخونه ستاسي.

او امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ دا هم ليکلي دي چې (وقد رُوي عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال من تمام الصلوٰة اقامة الصف) (۱) معنى دا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روايت شوي دي چې هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي دي چې د مانځه د پوره کولو او د تکميلولو د جملي نه د صف برابرول دي. جمهورو علماؤ د دي نه جواب کړي دي چې د دغه روايتونو نه د صف د برابرولو فرضيت نه ثابتيږي پاتي شو د صف د برابرولو اهتمام د صف برابرول خو زمونږ په نزد باندي هم مسلمه او مهتم بالشان دي. د حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روايت کې د ليخالفن الله بين وجوهكم په الفاظو کې توجيه او معنى د دي دوه معنى ګاني کيدي شي:

(۱) دا چې د دي نه مراد په زړونو کې په کثرت سره د بغض او حسد پيدا کيدل دي.

(۲) دويم دا چې ستاسي شکلونه به بدل کړي شي يعني مسخ به شئ. په دي باره کې يو اعتراض شوي دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په امت کې مسخ نشته نو دلته به د مسخ معنى څه وي د حديث شارحينو جواب کړي دي چې مسخ په دوه قسمه ده يو کلي مسخه ده او بله جزئي مسخ ده د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په امت کې کلي مسخ نشته حُکمه چې د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دعاء سره معاف شوي ده او جزء ي مسخ شته او ثابته ده لکه چې د امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ يو روايت دي (عن عمران بن حصين ان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال في هذه الامة خسف ومسخ وقذف فقال رجل من المسلمين يا رسول الله ومتى ذلك قال اذا ظهر القيان والمعازف الخ). (۲)

معنى دا چې د حضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې په دي امت کې په زمکه ډوبيدل، د شکلونو بدليدل يعني مسخ او د کانړو وريدل شته يو سړي د مسلمانانو نه وويل چې اي دالله جل شانه رسوله دا به کله وي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمائل چې کله ډماني ښځې او د سرود الات خکاره شي.

د صف برابرول د امام ذمه واري ده: صاحب د عرف الشذي د اقامة الصفوف د باب لاندي ليکلي دي چې تسوية الصفوف واجبة على الامام كما في در المختار وتركها مكروه تحريما. يعني د

---

(۱) ترمذي ج۱ ص ۵۳.

(۲) ترمذي ج۲ ص ۴۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

صفونو برابرول په امام باندي واجب او د صفونو د برابرولو پريښودل مکروه تحريمي دي . او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د صف د برابرولو د پاره ذمه واري اخستي وه او ويل به يې چې برابر شئ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (كان يوكل رجلا بإقامة الصفوف ولا يكبر حتى يخبر ان الصفوف قد استوت . وكان علي يقول تقدم يا فلان تأخر يا فلان .) (۱)

يعني: حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د صفونو په برابرولو باندي سړي مقرراوه او تر هغې پورې به يې تکبير نه کاوه تر څو پورې به چې ورته خبر نه وُ کړي شوي چې صفونه برابر شوي دي .

او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ويل چې اي فلانيه مخکې شه او اي فلانيه روسته شه اود (۵۰۲) روايت چې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت شوي په هغې کې د (وقاربوا بينها) الفاظ راغلي دي د هغې مطلب دا دي چې د دوه وُ صفونو تر منځ دومره فاصله نه وي چې بل صف پکې اودريدي شي او د (حاذوا بالاعناق) نه مطلب دا دي چې په لوړه او جوړه ځمکه مه اودريږئ بلکه په هواره ځمکه اودريږئ چې څټونه مو سره برابر شي . (۲)

بَابُ إِتْمَامِ الصَّفِّ الْأَوَّلِ

د اول صف د پوره کولو باب

۵۰۲ {عن أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ ائْتُوا الصَّفَّ الْمُقَدَّمَ ثُمَّ الَّذِي يَلِيهِ فَمَا كَانَ مِنْ نَقْصٍ فَلْيَكُنْ فِي الصَّفِّ الْمُؤَخَّرِ رواه ابوداود و اسناده حسن .(۳)

ترجمه :د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې مخکني صف پوره کړي بيا هغه صف پوره کړئ چې اول صف ته نزدي وي نو څه نقصان چې وي نو په اخرني صف کې دي وي . د دي حديث روايت ابوداوُد کړي او اسناد يې حسن دي .

---

(۱) ترمذي ج۱ ص ۵۳

(۲) عرف الشذي د اقامة الصفوف باب .

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۹۸ باب تسوية الصفوف.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَوْقِفِ الْإِمَامِ وَالْمَأْمُومِ

د امام او مقتدي دا ؤ دريدو په ځاى کې باب

{۵۰۵} {عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ جَدَّتَهُ مُلَيْكَةَ دَعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِطَعَامٍ صَنَعَتْهُ لَهُ فَأَكَلَ مِنْهُ ثُمَّ قَالَ قُومُوا فَلِأُصَلِّ لَكُمْ قَالَ أَنَسٌ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقُمْتُ إِلَى حَصِيرٍ لَنَا قَدِ اسْوَدَّ مِنْ طُولِ مَا لُبِسَ فَنَضَحْتُهُ بِالْمَاءِ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَفَفْتُ أَنَا وَالْيَتِيمُ وَرَاءَهُ وَالْعَجُوزُ مِنْ وَرَائِنَا فَصَلَّى لَنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ} رواه الجماعة الا ابن ماجه .(۱)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي چې ځما نيا مليکه چې کوم طعام د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خوراک د پاره تيار کړي وُ هغه ته يې دعوت ورکړ نو هغه يې وُخوړ بيا يې وفرمائيل چې پاڅئ چې زه تاسي ته مونځ وکړم حضرت انس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه د ډيو پوزکي راوړلو ته ورپاڅيدم چې هغه د زيات استعمال په وجه تور شوي وُ نو ما هغه په اوبو اوه مينځه نو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُدريده او ما اويو يتيم د هغه نه روسته صف جوړ کړ او بوډئ ښځو ځمونږه روسته نو مونږته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه رکعته مونځ وکړ بيا هغه تشريف وبوړ . د دي حديث روايت د ابن ماجه نه په غير د محدثينو يو جماعت کړي .

{۵۰۶} {وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ قَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَ بِيَدِي فَأَدَارَنِي حَتَّى أَقَامَنِي عَنْ يَمِينِهِ ثُمَّ جَاءَ جَبَّارُ بْنُ صَخْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فَقَامَ عَنْ يَسَارِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَخَذَ بِأَيْدِينَا جَمِيعًا فَدَفَعَنَا حَتَّى أَقَامَ مَا خَلْفَهُ} رواه مسلم .(۲)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي چې رسول اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاڅيده نو زه يې چپ طرف ته وُدريدم نو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زه د لاس نه ونيوم نو زه يې پوزه راوړلم تر دې چې نبي طرف ته يې وُدرولم بيا حضرت جبار بن صخر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ راغې او د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چپ طرف ته وُدريده

---

(۱) بخاري ، باب الاذان ج۱ص۱۱۹ باب وضوء الصبيان بيرق كتاب علوهم الغسل ..... مسلم كتاب المساجد ج۱ص۲۳۴ ، باب جواز الجماعة في النافلة ، نسائي كتاب المساجد ج۱ص۱۰۹ باب جواز الجماعة في النافلة، نسائي كتاب المساجد ج۱ص۱۲۹ باب اذا كانوا ثلاثة وامرأة، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۵ باب ماجاء في الرجل يصلي وحده ورجال ونساء ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص۹۰ باب اذا كانوا ثلاثة كيف يقومون ، مسند احمد ج۳ص ۱۴۴.

(۲) مسلم في صفات المنافقين ج۲ص ۲۱۷ باب حديث جابر الطويل وقصة ابي اليسر .

Maktaba Tul Ishaat.com

نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ دواړه د لاسونو نه ونيولو راوي گرځولو تر دي پورې چې د خپل ځان نه يې روسته وُدرولو . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

۵۰۷ {عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِيَلِنِي مِنْكُمْ أُولُو الْأَحْلَامِ وَالنُّهٰى ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ ثُمَّ الَّذِيْنَ يَلُوْنَهُمْ وَلَا تَخْتَلِفُوْا فَتَخْتَلِفَ قُلُوْبُكُمْ وَ إِيَّاكُمْ وَ هِيشَاتِ الْأَسْوَاقِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائلي دي چې هغه خلک دي ماته نزدې وُدريږي چې په تاسو کې د عقل او پوهې والا وي بيا دي ورپسې هغه خلک وُدريږي چې هغوته نزدې وي بيا دي د دوي پسې هغه خلک وُدريږي چې دوي ته نزدې وي او تاسو اختلاف مه کوئ که نه نو ستاسو زړونه به مختلف شي او د بازار د شوروشغب نه ځانونه اوساتئ . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

۵۰۸ {وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ بِتُّ عِنْدَ خَالَتِيْ مَيْمُوْنَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ اللَّيْلِ فَأَطْلَقَ الْقِرْبَةَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ أَوْكَأَ الْقِرْبَةَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الصَّلَاةِ فَقُمْتُ فَتَوَضَّأْتُ كَمَا تَوَضَّأَ ثُمَّ جِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَأَخَذَنِيْ بِيَمِيْنِهِ فَأَدَارَنِيْ مِنْ وَرَائِهِ فَأَقَامَنِيْ عَنْ يَمِيْنِهِ فَصَلَّيْتُ مَعَهُ رواه الجماعة .(۲)

ترجمه : حضرت عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي ما د خپلې تروره د حضرت ميموني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کره شپه وکړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې پاڅيده د اوبو مشک يې پرانسته نو اودس يې وکړ يا يې په تسمه باندې مشک وُتاړه بيا مانځه ته اوُدريده نو زه پاڅيدم اودس مې وکړ څنګه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودس کړي وُ نو بيا راغلم د هغه چپ طرف ته وُدريدم نو هغه زه په خپل مبارک ښي لاس ونيوم او روسته طرف ته يې راواړولم او په ښي طرف کې يې وُدرولم نو د هغه سره مې مونځ وکړ . د دې حديث روايت جماعت کړي دي .

---

(۱) مسلم کتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۱ باب تسوية الصفوف واقامتها...الخ .

(۲) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۹۰ باب الرجلين يؤم احدهما صاحبه ...مسلم کتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۶۱ باب صلوة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ودعائه باللیل،نسائي کتاب الاذان ج۱ص ۹۷ باب المأموم يدير الامام الى يؤم...الرمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۵۵ باب ماجاء في الرجل يصلي وحده ورجل،نسائي کتاب الامامة والجماعة ج۱ص ۱۳۵ باب الجماعة اذا كانوا اثنين،ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات والسنة فيها ص ۹۸ باب ماجاء في كم يصلي ، الليل،مسند احمد ج۱ص ۲۱۵ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ قِيَامِ الْإِمَامِ بَيْنَ الْإِثْنَيْنِ﴾

د دوؤ کسانو ترمنځ د امام دؤدریدو باب

﴿۵۰۹﴾ عَنْ عَلْقَمَةَ الْأَسْوَدِ أَنَّهُمَا دَخَلَا عَلَى عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ أَصَلَّى مَنْ خَلْفَكُمْ قَالَا لَعَمْ فَقَامَ بَيْنَهُمَا وَ جَعَلَ أَحَدَهُمَا عَنْ يَمِينِهِ وَ الْآخَرَ عَنْ شِمَالِهِ ثُمَّ رَكَعْنَا فَوَضَعْنَا أَيْدِينَا عَلَى رُكَبِنَا فَضَرَبَ أَيْدِينَا ثُمَّ طَبَّقَ بَيْنَ يَدَيْهِ ثُمَّ جَعَلَهُمَا بَيْنَ فَخِذَيْهِ فَلَمَّا صَلَّى قَالَ هٰكَذَا فَعَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه مسلم . (۱)

ترجمه : د علقمه او اسود نه روایت دي چې دوي دواړه حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کره ورغلل نو عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې آیا ستاسي نه روسته خلکو مونځ کړي هغوي ووېل چې هو نو عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دوي دواړو تر منځ ؤدریده یوئي خپل ښي طرف ته او بل ئي خپل چپ طرف ته ؤدرول بیا مونږ رکوع وکړه او لاسونه مو په زنګنونو کېښودل نو هغه زمونږ لاسونه ووهل بیا ئي دواړه لاسونه سره یو ځای کړل او د دواړو ورنونو تر منځ کېښودل نو کله ئي چې مونځ وکړوي ویل چې همدغسي رسول الله کړي وُ . د دي حدیث روایت مسلم کړي دي .

﴿۵۱۰﴾ وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ الْأَسْوَدِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ اسْتَأْذَنَ عَلْقَمَةُ وَالْأَسْوَدُ عَلَى عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ قَدْ كُنَّا أَطْلَنَا الْقُعُودَ عَلَى بَابِهِ فَخَرَجَتِ الْجَارِيَةُ فَاسْتَأْذَنَتْ لَهُمَا فَأَذِنَ ثُمَّ قَامَ فَصَلَّى بَيْنِي وَ بَيْنَهُ ثُمَّ قَالَ هٰكَذَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ رواه ابوداود و اسناده حسن . (۲)

ترجمه : د عبدالرحمن بن الاسود نه روایت دي هغه د خپل پلار نه روایت کړي هغه ویلي دي چې علقمه او اسود دواړو د عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اجازت وغوښته او بې شکه چې د هغه په دروازه اوږده کیناستو نو یوه وینځه راؤوتله هغي دواړو ته د اجازي خبر ورکړ نو اذان ئي وکړ بیا ؤدرید نو ځما او د هغه تر منځ ئي سونځ وکړ بیا ئي ووېل همدغسي ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیدلي چې دغسي کار ئي کاوه . د دي حدیث روایت ابوداؤد کړي او اسناد ئي حسن دي .

مسئلة الباب : مقتدي که یو وي نو د امام ښي طرفته دي اودریږي ، او که دوه یا ددېنه زیات وي نو د امام نه وروسته دي صف بندي او کړي لکه څنګه چې د مخکې باب په حدیثونو کې بیان شو .

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج ۱ ص ۲۰۲ باب الندب الی وضع الایدی علی الرکب فی الرکوع . . . الخ .

(۲) ابوداؤد کتاب الصلوة ج ۱ ص ۹۰ باب اذا کانوا ثلاثة کیف یقومون .

Maktaba Tul Ishaat.com

تطبیق بین الأحادیث : دترشوي دباب دحدیثونونه دا معلومیږي چې دوه یا ۱ دېنه زیات مقتدیان وي هغه دې دامام نه شاته صف بندي اوکړي لیکن دباب دابن مسعود رضی الله عنه حدیث مطابق دوه مقتدیان هم دامام سره په یو صف کې اودریدلې شي نو په احادیثو کې تعارض لازم راغې .
ددې حل دادي چې دعموم په درجه کې ددوو مقتدیانو دامام سره اودریدل منسوخ شوي حدیث دابن مسعود رضی الله عنه خو په حالت دعذر او په تنګئ باندې محمول دي چې کله ځای تنګ وي .

﴿ بَابُ مَنْ اَحَقُّ بِالْاِمَامَةِ ﴾

باب دې په بیان ددي خبره کې چې دامامت زیات حقدار څوک دي

﴿۵۱۱﴾ عَنْ اَبِي مَسْعُوْدٍ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَؤُمُّ الْقَوْمَ اَقْرَأُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ تَعَالٰى فَاِنْ كَانُوْا فِي الْقِرَاءَةِ سَوَاءً فَاَعْلَمُهُمْ بِالسُّنَّةِ فَاِنْ كَانُوْا فِي السُّنَّةِ سَوَاءً فَاَقْدَمُهُمْ هِجْرَةً فَاِنْ كَانُوْا فِي الْهِجْرَةِ سَوَاءً فَاَقْدَمُهُمْ سِنًّا وَلَا يَؤُمَّنَّ الرَّجُلُ فِي سُلْطَانِهٖ وَلَا يَقْعُدُ فِي بَيْتِهٖ عَلٰى تَكْرِمَتِهٖ اِلَّا بِاِذْنِهٖ

رواه مسلم (۱) .

ترجمه : حضرت ابو مسعود رضی الله عنه ویلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي د الله جل شانه د کتاب ښه قاري دي قوم ته امامت وکړي که په قرأت کې سره برابر وي نو بیا په دوي کې چې په سنتو ښه پوه وي که دوي د سنتو په علم کې سره برابر وي نو بیا چې څوک په هجرت کې مقدم وي او که په هجرت کې سره برابر وي نو بیا مشر د امامت حق دار دي او سړي دي د چا په سلطنت (په ځای او محل کې امامت نه کوي او د ده په کور کې دي د ده د عزت په ځای باندې نه کیني مګر د ده په اذن سره د دي حدیث روایت مسلم کړي دي .

﴿۵۱۲﴾ وَ عَنْ اَبِي سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رضی الله عنه قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صلی الله علیه وسلم اِذَا كَانُوْا ثَلَاثَةً فَلْيَؤُمَّهُمْ اَحَدُهُمْ وَاَحَقُّهُمْ بِالْاِمَامَةِ اَقْرَأُهُمْ رواه احمد و مسلم والنسائي . (۲)

ترجمه : حضرت ابو سعید رضی الله عنه ویلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي کله چې دوي دري کسان وي نو یوڅو هغونه دي دوي ته امامت وکړي او په امامت سره ښه حق دار د دوي ښه قاري

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ ص ۲۳۶ باب من احق بالامامة .
(۲) مسلم کتاب المساجد ج۱ ص ۲۳۶ باب من احق بالامامة ، نسائي کتاب الامامة والجماعة ج۱ ص ۱۲۶ باب اجتماع القوم في موضع هم فيه ، مسند احمد ج۳ ص ۲۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د دوي دي . د دي حديث روايت احمد ، مسلم او نسائي کړي دي .

دمسئلې تشريح :

که په يو جومات کې امام متعين وي يا دچا په يو ځاي کې جماعت کيږي نو دټولو اتفاق دي چې هغه متعين امام يا کور والا (خو په شرط ددي چې دامامت اهل وي) دامامت کولو حقدار دي ، او که په يو جومات کې يو متعين امام موجود نه وي او په حاضرينو کې ډير خلک دامامت قابله وي نو په دي کې بيا اختلاف دي چې کوم يو زيات حقدار دي ؟

(۱) امام احمد رَحِمَهُ اللهُ، شافعي رَحِمَهُ اللهُ (دراجح قول مطابق) او دامام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد اقرأ (ډير ښه قرآن لوستونکي) زيات حقدار دي .(۲) جمهور علماء ، امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ ، مالک رَحِمَهُ اللهُ و محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد اعلم بالسنة زيات حقدار دي .

دامام احمد و شافعي و ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱... حديث دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " يَؤُمُّ الْقَوْمَ أَقْرَأُهُمْ لِكِتَابِ اللهِ..... " الخ .

۲... حديث دابوسعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ " اَحَقُّهُمْ بِالْإِمَامَةِ أَقْرَأُهُمْ " .

د جمهورو دليل : دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپل مرض وفات کې حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لره امام مقرروي حالانکه هغه وخت په خلکو کې اُبي بن کعب هم موجود وو دکوم متعلق چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد فرمايلو : " أقرأهم أُبي بن كعب " ليکن دصديق اکبر انتخاب يې ځکه او فرمايلو چې هغه أعلم وأفقه وو .

فريق اول ته جواب : ۱. د "اقرأ" امامت لره په ابتدا کې ترجيح ورکړې شوې وه ترڅو چې خلک زيات تر زيات قرآن مجيد ياد کړي او ځان پرې پوهه کړي بيا چې کله مقصود حاصل شو نو اوس دترجيح والا خبره نشته لهذا په مرض وفات کې دآخري عمل په طور باندې أعلم وأفقه لره يې مخکې کړو .۲. په حديث کې " أقرأ" نه هم أعلم مراد دي ځکه چې په هغه وخت کې أقرأ دټولو نه زيات علم درلودلو .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ اِمَامَةِ النِّسَاءِ﴾

د ښځو د امامت باب

﴿۵۱۳﴾ عَنْ اُمِّ وَرَقَةَ الْاَنْصَارِيَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُوْلُ اِنْطَلِقُوْا بِنَا اِلَى الشَّهِيْدَةِ نَزُوْرُهَا وَ اَمَرَ اَنْ يُؤَذِّنَ لَهَا وَ يُقَامَ وَ تَؤُمَّ اَهْلَ دَارِهَا فِي الْفَرَائِضِ رواه الحاكم و اسناده حسن و اخرجه ابوداود ولم يذكر في الفرائض.(۱)

ترجمه: د حضرت ام ورقة الانصاريه رضي الله عنها نه روايت دي چې بې شکه رسول الله صلى الله عليه وسلم به فرمايل چې مونږ شهيدي ته بوځئ چې مونږ د هغې ملاقات وکړو او رسول الله صلى الله عليه وسلم هغې ته د اذان او اقامت اجازت ورکړي وُ او هغې خپل خاندان ته په فرائضو کې امامت کاوه . د دي حديث روايت حاکم کړي دي او اسناد ئې حسن دي او دا حديث ابوداوُد خارج کړي دي او د في الفرائض الفاظ ئې نه دي ذکر کړي .

﴿۵۱۴﴾ وَعَنْ رَبْطَةَ الْحَنَفِيَةِ اَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَمَّتْهُنَّ وَ قَامَتْ بَيْنَهُنَّ فِي صَلَاةٍ مَكْتُوْبَةٍ رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: د ربطه حنفيه نه روايت دي چې عائشې رضي الله عنها ښځو ته مونځ وکړ او په فرض مانځه کې د ښځو په منځ کې وُدريده له . د دي حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۵۱۵﴾ وَعَنْ حُجَيْرَةَ بِنْتِ حُصَيْنٍ قَالَتْ اَمَّتْنَا اُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فِي صَلَاةِ الْعَصْرِ فَقَامَتْ بَيْنَنَا رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: او حُجَيره بنت حصين ويلي دي چې مونږ ته ام سلمى رضي الله عنها د مازيګر په مانځه کې امامت وکړ نو زمونږ په منځ کې وُدريده . د دي حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

د خالصو ښځو په جماعت سره په مونځ کولو کې چې نارينه ورسره نه وي اختلاف دي.

---

(۱) مستدرك حاكم كتاب الصلوة ج۱ص۲۰۳ باب امامة المرأة النساء في الفرائض ؛ ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ـــ ۸۷ باب امامة النساء .

(۲) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۳ ـــ ۱۴۱ باب المرأة تؤم النساء برقم ۵۰۸۶.

(۳) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۱ ـــ ۱۴۰ باب المرأة تؤم النساء رقم ۵۰۸۲ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دښځو ځانله (چې نارینه ورسره نه وي) په جماعت سره دمونځ کولو حکم

(۱) د خالصو ښځو مونځ په جماعت برابره خبره ده چې فرض وي او که نفل وي، د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او د ځینو احنافو په نزد مکروه تحریمي دي لکه درمختار او د احنافو د نورو متونو صاحبانو په تحریمي کراهت تصریح کړي.

(۲) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندي محض د ښځو مونځ په جماعت سره مستحب دي.

(۳) محقق ابن الهمام رَحِمَهُ اللهُ د عیني صاحب محض د ښځو مونځ په جماعت سره مکروه تنزیهي او خلاف اولی ګڼلي دي.

حنفیه رَحِمَهُ اللهُ او د مالکیو رَحِمَهُ اللهُ استدلال:

دښځو ځانله په جماعت کې دا کراهت لازمیږي که ددوي امام مخې ته ولاړ وي نو دکشف مراة زیاتوالی به لازم راشي او که دصف په مینځ کې ولاړ وي نو دامام دوړاندې نه اودریدلو کراهت به لازم راشي.

دباب داحادیثو تاویل:

۱... دښځو دجماعت والا حدیثونه منسوخ دي او ناسخ هغه مشهور حدیث دي دکوم الفاظ چې دادي: "صلاة المرأة في بیتها أفضل من صلاتها في حجرتها، وصلاتها في مخدعها أفضل من صلاتها في بیتها" ظاهره خبره ده چې مخدع دیر مختصر ځای وي او جماعت لپاره پراخه ځای پکار دي. (الدر المنضود: ۱۴۷/۲)

۲... که ښځې دکور نه بهر ته ووځي او جماعت اوکړي بیا خو مکروه دي او که په کور کې دته جماعت جائز لیکن خلاف اولی دي.

﴿بَابُ إِمَامَةِ الْأَعْمٰى﴾

دړانده دامامت باب

﴿۵۱۶﴾ عَنْ مَحْمُودِ بْنِ الرَّبِيعِ أَنَّ عِتْبَانَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَؤُمُّ قَوْمَهُ وَهُوَ أَعْمٰى وَإِنَّهُ قَالَ يَارَسُولَ اللهِ إِنَّهَا تَكُونُ الظُّلْمَةُ وَالسَّيْلُ وَإِنَّا رَجُلٌ ضَرِيرُ الْبَصَرِ فَصَلِّ يَارَسُولَ اللهِ فِي بَيْتِي مَكَانًا أَتَّخِذُهُ مُصَلًّى فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ فَأَشَارَ إِلٰى مَكَانٍ فِي الْبَيْتِ فَصَلّٰى فِيهِ

Maktaba Tul Ishaat.com

رَسُولُ اللهِ رواه البخاري . (۱)

ترجمه : د محمود ابن ربيع نه روايت دي چې عتبان ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپل قوم خلکو ته امامت کاوه او حال دا چې هغه ړوند وُ حضرت عتبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ووېل چې اي د الله جل شانه رسوله تياره وه او په لاره کې اوبه وي او زه ړوند يم نو اي د الله جل شانه رسوله ځما د کور په ډيوه ځاي کې مونځ وکړه چې هغه زه د خپل مانځه د پاره مقرر کړم نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راغي پس وي ويل چې کوم ځاي دي خوه دي چې مونځ پکې وکړم نو په کور کې ئې يو ځاي ته اشاره وکړه نو په هغه ځاي کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړ . د دې حديث روايت بخاري کړي دي .

﴿۵۱۷﴾ وَعَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَخْلَفَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ يَؤُمُّ النَّاسَ وَهُوَ أَعْمَى رواه ابوداود و اسناده حسن . (۲)

ترجمه : د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابن ام مکتوم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلکو د مانځه د پاره قائم مقام او خليفه مقرر کړ او حال دا چې هغه ړوند وُ . د دې حديث روايت ابوداوُد کړي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۵۱۸﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِسْتَخْلَفَ ابْنَ أُمِّ مَكْتُومٍ على المدينة يصلي بالناس رواه البيهقي في المعرفة و اسناده حسن (۳) .

ترجمه : او د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابن ام مکتوم په مدينه منوره کې د خلکو د مانځه د پاره نائب مقرر کړ . د دې حديث روايت په معرفت کې بيهقي کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

مسئلة الباب : نابينا که دنجاست نه پرهيز کوي او زان تري ساتي او اودس په طهارت کامله طريقې سره کوي او د مونځ واجباتو او دنورو مسائلو پوره خيال ساتي نو دده امامت بغير د شبهې نه جائز دي بلکې امام غزالي رَحِمَهُ اللهُ داعمى (ړوند) امامت افضل گرزولې دي ځکه چې په ړوند کې خشوع او خضوع زياته وي .

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۹۲ باب الرخصة في المطر والعلة ان يصلي في رحله .

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۸۸ باب امامة الاعمى .

(۳) معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج۴ صـ ۱۶۲ رقم الحديث ۵۷۶۸ ، صحيح ابن حبان ج۴ صـ ۲۸۷ رقم ۲۱۳۱ وابعثا سنن كبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ صـ ۸۸ باب امامة الاعمى عن أنس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ إِمَامَةِ الْعَبْدِ﴾
د مړئ د امامت باب

﴿۵۱۹﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا قَدِمَ الْمُهَاجِرُونَ الْأَوَّلُونَ الْعَصَبَةَ مَوْضِعًا بِقُبَاءٍ قَبْلَ مَقْدَمِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَؤُمُّهُمْ سَالِمٌ مَوْلَى أَبِي حُذَيْفَةَ وَكَانَ أَكْثَرَهُمْ قُرْآنًا رواه البخاري.

تخریج : بخاري کتاب الاذان ج۱ص۹۶ باب امامة العبد والمولی.

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي کله چې اولني مهاجرین د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هجرت نه مخکې عصبه نومي ځای ته چې د قباء سره د ځای نوم دي راغله دوي ته سالم د ابي حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مولی امامت کاوه او سالم په هغو کې قرآن زیات ویلي وُ د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

﴿۵۲۰﴾ وَ عَنْ أَبِي مُلَيْكَةَ أَنَّهُمْ كَانُوا يَأْتُونَ عَائِشَةَ أُمَّ الْمُؤْمِنِينَ بِأَعْلَى الْوَادِي هُوَ وَ عُبَيْدُ بْنُ عُمَيْرٍ وَالْمِسْوَرُ بْنُ مَخْرَمَةَ وَنَاسٌ كَثِيرٌ فَيَؤُمُّهُمْ أَبُو عَمْرٍو مَوْلَى عَائِشَةَ وَأَبُو عَمْرٍو غُلَامُهَا حِينَئِذٍ لَمْ يُعْتَقْ قَالَ وَ كَانَ إِمَامَ تِلْكَ مُحَمَّدِ بْنِ أَبِي بَكْرٍ وَ عُرْوَةَ رواه الشافعي في مسنده والبيهقي في معرفة السنن والآثار واسناده حسن.

تخریج : مسند شافعي باب السبع في الجماعة واحكام الامامة ج۱ص۱۰۶ رقم ۳۱۴، معرفة السنن والآثار کتاب الصلوٰة ج۴ ص۱۶۳ رقم الحدیث ۵۷۶۹-۵۷۷۰، سنن الکبریٰ للبیهقي کتاب الصلوٰة ج۳ ص۸۸ باب امامة العبید.

ترجمه : او د ابن ابي مليکه نه روایت دي چې هغو د ام المؤمنین حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا په خدمت کې د کلي په برنډ برخه کې حاضر شو او هغه او عبید بن عمیر او مسعود بن مخرمه او نور ډیر کسانو ته د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مولی او ازاد کرده شده شو ابوعمرو امامت کاو چې ابوعمرو په دغه وخت کې د حضرت عائشي غلام وُ او په دغه وخت کې نه ر ازاد شوي ابن ابي مليکه ویلي دي چې هغه د محمد بن ابي بکر او عروه امام وُ. د دي حدیث روایت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په خپل مسند کې کړي دي او بیهقي په معرفة السنن والاثار کې کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

مسئلة الباب : د عبد او مرئي د امامت په باره کې امام نیموي رَحِمَهُ اللهُ په خپل کتاب اثار السنن کې دوه روایتونه ذکر کړي دي چې د دي باب اول (۵۱۹) حدیث د حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت شوي دي چې په دي حدیث کې د ابي حذیفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مولی سالم رَحِمَهُ اللهُ د امامت واقعه

Maktaba Tul Ishaat.com

بيان شوي ده چې په دغه وخت کې دا غلام او مرئي ؤ او دغسي . د دي باب دويم (۵۲۰) حديث دي چې هغه د ابن مليکه نه روايت شوي دي چې په دي حديث کې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د مولي او ازاد شده ابوعمرو د امامت واقعه بيان شوي چې ابوعمرو د خپلې غلامۍ په حالت کې عبيد بن عمر . المسود ابن مخرمه او نورو ډيرو کسانو ته امامت کړي دي . او فقهاؤ د غلام او مرئي اګر چې ازاد شوي هم وي د دي وجهې نه مکروه تنزيهي ګڼلې دي چې غلامان اکثره د خپل مولى په خدمت کې مشغول وي او دوي ته د مانځه په احکامو د علم حاصلولو فرصت نه وي او د جاهلانو مرئيونو مثال د باندچيانو او اعرابيانو په شان دي چې د دوي پسې د جهالت د وجهې نه مونځ کول مکروه دي .

﴿ بَابُ مَا جَاءَ فِي إِمَامَةِ الْجَالِسِ ﴾

باب دي په بيان د هغه روايتونو کې کوم چې د ناست کس د امامت په برخه کې راغلي دي

﴿۵۲۱﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكِبَ فَرَسًا فَصُرِعَ عَنْهُ فَجُحِشَ شِقُّهُ الْأَيْمَنُ فَصَلَّى صَلَاةً مِنَ الصَّلَوَاتِ وَهُوَ قَاعِدٌ فَصَلَّيْنَا وَرَاءَهُ قُعُودًا فَلَمَّا انْصَرَفَ قَالَ إِنَّمَا جُعِلَ الْإِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَإِذَا صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا فَإِذَا رَكَعَ فَارْكَعُوا وَإِذَا رَفَعَ فَارْفَعُوا وَإِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُولُوا رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وَ إِذَا صَلَّى قَائِمًا فَصَلُّوا قِيَامًا وَ إِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا أَجْمَعُونَ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اس باندې سور شوي ؤ نو تري راپريوت پس ښي طرف ئې زخمي شو نو يو مونځ ئې په ناسته وکړ نو مونږ هم ورپسې په ناسته مونځ وکړ نو کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه نه فارغ شو وې فرمايل بې شکه امام د دې د پاره تاکل شوي دي چې اقتداء ورپسې وکړي شي نو کله چې امام په ولاړه مونځ کوي نو تاسي هم په ولاړه مونځ کوئ او کله چې امام سمع الله لمن حمده وائي نو تاسو ربنا ولك الحمد ووائي او کله چې امام په ولاړه مونځ کوي نو تاسي هم په ولاړه مونځ کوئ او کله چې امام په ناسته مونځ کوي نو تاسو هم ټول په ناسته مونځ کوئ . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۹۶ باب انما جعل الامام ليؤتم به ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۸۶ باب النهي المأموم بالامام .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۵۲۲﴾ وَ عَن عَائِشَةَ اُمِّ المُؤمِنِينَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا اِنَّهَا قَالَت صَلَّى رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَ هُوَ شَاكٍ فَصَلَّى جَالِسًا وَ صَلَّى وَرَاءَهُ قَومٌ قِيَامًا فَأَشَارَ اِلَيهِم اَن اجلِسُوا فَلَمَّا انصَرَفَ قَالَ اِنَّمَا جُعِلَ الاِمَامُ لِيُؤتَمَّ بِهِ فَاِذَا رَكَعَ فَارکَعُوا وَ اِذَا رَفَعَ فَارفَعُوا وَ اِذَا قَالَ سَمِعَ اللّٰه لِمَن حَمِدَه فَقُولُوا رَبَّنَا وَلَكَ الحَمدُ وَ اِذَا صَلَّى جَالِسًا فَصَلُّوا جُلُوسًا رواه الشيخان . (۱)

ترجمه : او ام المؤمنين حضرت عائشي رضي الله عنها ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د بيمارئ او مريضتيا په حالت کې مونځ کاوه نو په ناسته ئې مونځ وکړ او قوم ورپسې په ولاړه مونځ وکړ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم هغوته اشاره وکړه چې کينئ نو کله چې د مانځه نه فارغ شو وي فرمايل چې بې شکه امام د دې د پاره تاکلي شوي دي چې د ده پسې اقتداء وکړي شي نو کله چې امام رکوع کوي نو تاسو هم رکوع کوئ او کله چې د رکوع نه سر اوچتوي نو تاسو هم د رکوع نه سر اوچت کړئ او کله چې امام سمع الله لمن حمده وائي نو تاسو ربنا ولك الحمد ووائي او کله چې امام په ناسته مونځ کوي نو تاسو هم په ناسته مونځ کوئ . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

﴿۵۲۳﴾ وَ عَن عُبَيدِ اللّٰه بنِ عَبدِ اللّٰه بنِ عُتبَةَ قَالَ دَخَلتُ عَلَى عَائِشَةَ فَقُلتُ اَلَا تُحَدِّثِينِي عَن مَرَضِ رَسُولِ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت بَلَى ثَقُلَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَصَلَّى النَّاسُ فَقُلنَا لَا يَا رَسُولَ اللّٰه وَهم يَنتَظِرُونَكَ قَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي المِخضَبِ قَالَت فَفَعَلنَا فَاغتَسَلَ فَذَهَبَ لِينُوءَ فَأُغمِيَ عَلَيهِ ثُمَّ اَفَاقَ فَقَالَ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَصَلَّى النَّاسُ فُلنَا لَا هم يَنتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰه قَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي المِخضَبِ قَالَت فَقَعَدَ فَاغتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِينُوءَ فَأُغمِيَ عَلَيهِ ثُمَّ اَفَاقَ فَقَالَ اَصَلَّى النَّاسُ قُلنَا لَا هم يَنتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰه فَقَالَ ضَعُوا لِي مَاءً فِي المِخضَبِ فَقَعَدَ فَاغتَسَلَ ثُمَّ ذَهَبَ لِينُوءَ فَأُغمِيَ عَلَيهِ ثُمَّ اَفَاقَ فَقَالَ اَصَلَّى النَّاسُ فَقُلنَا لَا هم يَنتَظِرُونَكَ يَا رَسُولَ اللّٰه وَالنَّاسُ عُكُوفٌ فِي المَسجِدِ يَنتَظِرُونَ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لِصَلَاةِ العِشَاءِ الآخِرَةِ فَاَرسَلَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِلَى اَبِي بَكرٍ بِاَن يُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَاَتَاهُ الرَّسُولُ فَقَالَ اِنَّ رَسُولَ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَأمُرُكَ اَن تُصَلِّيَ بِالنَّاسِ فَقَالَ اَبُو بَكرٍ وَ كَانَ رَجُلًا رَقِيقًا يَا عُمَرُ صَلِّ بِالنَّاسِ فَقَالَ عُمَرُ اَنتَ اَحَقُّ بِذَلِكَ فَصَلَّى اَبُو بَكرٍ تِلكَ الاَيَّامَ ثُمَّ اَنَّ النَّبِي

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ ص ۹۵ باب انما جعل الامام ليؤتم به ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۷۷ باب ائتمام المأموم بالامام .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَجَدَ مِنْ نَفْسِهِ خِفَّةً فَخَرَجَ بَيْنَ رَجُلَيْنِ أَحَدُهُمَا الْعَبَّاسُ لِصَلَاةِ الظُّهْرِ وَ أَبُوْ بَكْرٍ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فَلَمَّا رَآهُ أَبُوْ بَكْرٍ ذَهَبَ لِيَتَأَخَّرَ فَأَوْمَأَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَنْ لَا يَتَأَخَّرَ قَالَ أَجْلَسَانِي إِلَى جَنْبِهِ فَأَجْلَسَاهُ إِلَى جَنْبِ أَبِي بَكْرٍ قَالَ فَجَعَلَ أَبُوْ بَكْرٍ يُصَلِّي وَ هُوَ قَائِمٌ بِصَلَاةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ بِصَلَاةِ أَبِي بَكْرٍ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَاعِدٌ قَالَ عُبَيْدُ اللّٰهِ فَدَخَلْتُ عَلَى عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبَّاسٍ فَقُلْتُ لَهُ أَلَا أَعْرِضُ عَلَيْكَ مَا حَدَّثَتْنِي عَائِشَةُ عَنْ مَرَضِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ هَاتِ فَعَرَضْتُ عَلَيْهِ حَدِيْثَهَا فَمَا أَنْكَرَ مِنْهُ شَيْئًا غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ أَسَمَّتْ لَكَ الرَّجُلَ الَّذِي كَانَ مَعَ الْعَبَّاسِ قُلْتُ لَا قَالَ هُوَ عَلِيٌّ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : او د عبيد الله بن عبدالله بن عتبه ويلي دي چې زه د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا په خدمت کې حاضر شوم نو عرض وکړم چې آيا ته ماته د حضرت رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مرض فوت په باره کې څه بيان نه کوي حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وفرمايل چې هو ولي نه د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بيماري سخته شوه وي فرمايل آيا خلکو مونځ کړي مونږ وويل چې نه اي د الله جل شانه رسوله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او هغو ستا انتظار کوي وي فرمايل چې ماته په لوټه کې اوبه واچوئ حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وفرمايل چې مونږ ورته په لوټه کې اوبه واچولي نو هغه غسل وکړ غوښتل ئې چې په سختئ سره پاڅيږي چې بې هوشي پرې راغله بيا رابيدار شو نو وي فرمايل چې آيا خلکو مونځ کړي مونږ وويل چې نه ستاسو انتظار کوي اي د الله جل شانه رسوله وي فرمايل چې ماته په کوزه کې اوبه واچوئ حضرت عائشې فرمايلي دي نو کيناست غسل ئې وکړ بيا په سختئ سره پاڅيده نو بې هوشي پرې راغله بيا رابيدار شو نو وي فرمايل چې ماته په لوټه کې اوبه واچوئ نو کيناست او غسل ئې وکړ غوښتل ئې چې پاڅيږي نو بې هوشي پرې راغله بيا بيدار شو نو وُې فرمايل چې آيا خلکو مونځ کړي مونږ وويل چې نه خلک ستاسو انتظار کوي اي د الله جل جلاله رسوله خلک په مسجد کې ناست وُ ، ماسختن د مانځه د پاره ئې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انتظار کاوه . بيا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ته پيغام وليږه چې خلکو ته مونځ وکړي ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قاصد ورغي او ورته وي ويل چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاته امر کړي دي چې خلکو ته مونځ وکړه نو ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل او هغه نرم دله سړي وُ چې

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۹۵ باب انما جعل الامام ليؤتم به ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۷۷ باب استخلاف الامام اذا عرض له عذر ... الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

اي عمره خلکو ته مونځ وکړه نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته وويل چې ته د دي زيات حقدار ئې ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلکو ته په دغه ورځو کې مونځ وکړ يا نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل مبارک نفس او ځان کې لږ شه صحت او روغتيا ؤمندله نو د دوه ؤ کسانو تر منځ ئې د ماسپښين مانځه تشريف راوړ او يو په دوي کې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤ او ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلکو ته مونځ کاوه ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليده نو روسته شو نو هغه ته نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره وکړه چې مه روسته کيږه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ما د هغه : خوا سره کينوئ نو رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ئې د ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوا ته کيناوه راوي ويلي دي چې ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اقتداء کې مونځ شروع کړ په داسې حال کې چې ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ولاړ ؤ او خلکو د ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اقتداء کې مونځ شروع کړ خو ولي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناست ؤ عبيدالله وائي چې عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورغلم نو ما هغه ته وويل چې آيا پيش نه کړم هغه حديث چې ماته حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بيمارئ په باره کې بيان کړي دي هغه ووېل چې راوړه نو ماهغه ته د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث پيش کړ نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د هيڅ يو شي نه انکار نه دي کړي غير د دي خبرې نه چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې آيا ام المؤمنين تاته : هغه کس نوم واخست کوم چې د ابن عباس سره ؤ عبيدالله وائي چې ما ورته ووېل چې نه عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې هغه حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤ . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

چې امام ناست وي نو مقتدي دې څه اوکړي ؟

(۱) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد په ناسته مونځ کول بالکل صحيح نه دي که قائما مونځ کونکي ملاو نه شي نو غير معذور دي خپل خپل مونځ دې اوکړي .

(۲) د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد که دابتدا نه په ناسته مونځ اوکړي نو مقتدي دې هم کيني او که په منځ دمونځ کې امام کيني نو مقتدي باندې ناسته لازم نه ده .

(۳) دجمهورو په نزد امام که په حالت دعذر کيني او مونځ اوکړي نو مقتدي دي په ولاړه مونځ اوکړي .

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل : حديث " لا يؤمن رجل بعدي جالسًا " . (دار قطني)

امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دليل : دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دعائشي رضي الله عنها حديث " واذا صلي جالسًا فصلوا جلوسًا " .

Maktaba Tul Ishaat.com

دجمهورو دليل: مرض الوفات واقعه كوم كې چې حضور ﷺ په ناسته مونځ كولو او خلك د حضور ﷺ په اقتداء كې په ولاړه مونځ ادا كړو . " **فجعل ابو بكر يصلي وهو قائم بصلوٰة النبي ﷺ والناس بصلوٰة ابي بكر والنبي ﷺ قاعد** " ددې واقعې نه دوه خبرې معلومې شوې : (۱) دولاړ اقتدا دناست پسې صحيح ده كما زعم الامام مالك رَحِمَهُ اللهُ. (۲) مقتدي به بغير د عذر نه ناسته كيږي .

دامام مالك رَحِمَهُ اللهُ ددليل جواب : ۱. دمرض الوفات واقعه دآخري زمانې ده څكه به هغه حجت وي .

۲. ددار قطني والا حديث په سند كې جابر جعفي دي كوم ته چې كذاب او وضاع ويلې شوې دي .

دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ ددليل جواب : " **واذا صلى جالسا فصلوا جلوسا** " والا واقعه د پنځم هجري ده لهذا دمرض الوفات والا واقعه به ددې لپاره ناسخه وي .

بَابُ صَلَاةِ الْمُفْتَرِضِ خَلْفَ الْمُتَنَفِّلِ

باب دي د فرض مونځ كووونكي د نفل مونځ كووونكي پسې

﴿۵۲۲﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ مُعَاذَ بْنَ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ ﷺ الْعِشَاءَ الْآخِرَةَ ثُمَّ يَرْجِعُ إِلَى قَومِه فَيُصَلِّي بِهِمْ تِلْكَ الصَّلَاةَ رواه الشَّيخَانِ وَزَادَ عبد الرزاق والشافعي والطحاوي والدار قطني والبيهقي في رواية هي لَه تَطَوُّعٌ وَلَهُمْ فَرِيضَةٌ وَفِي هٰذِهِ الزِّيَادَةِ كَلَامٌ.(۱)

ترجمه : د حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول اكرم ﷺ سره د ماسختن مونځ اداء كړيا وأپس خپل قوم ته راغې او همغه مونځ ئې خپل قوم ته هم وكړو . د دې حديث روايت شيخينو كړي دي او عبدالرزاق ، شافعي رَحِمَهُ اللهُ ، طحاوي رَحِمَهُ اللهُ ، دار

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج: صـ ۱۸۷ باب القراءة في العشاء ، بخاري كتاب الاذان ج۱صـ ۹۷ باب اذا طوّل الامام ...الخ ، مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۲صـ ۸ باب لا تكون صلوة واحدة لشتى رقم صـ ۲۲۶۵ ، مسند شافعي كتاب الصلوة ج۱ص. ۱۰۳ باب السابع في الجماعة واحكام الامامة رقم ۳۰۳ ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۷۹ باب الرجل يصلي الفريضة خلف من يصلي تطوعا ، دار قطني كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۷۴ باب ذكر صلوة المفترض خلف المتنفل ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصّلوة ج۳ صـ ۸۵ باب الفريضة خلف من يصلي النافلة .

Maktaba Tul Ishaat.com

قطني او بيهقي رحمهم الله تعالى په يو روايت کې دا زياتوالي کړي دي چې دغه مونځ د ده د پاره نفل ؤ او د قوم فرضي مونځ ؤ او په دي زيادت کې خبري دي.

مسئلة الباب : د فرض مونځ کونکي د نفل کونکي پسې اقتدا کول

(۱) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او د اهل ظواهرو په نزد "صلاة المفترض خلف المتنفل" جائز دي.

(۲) د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ مالک او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد (د مشهور قول مطابق) دا جائز نه دي.

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او اهل ظواهرو دليل : حديث د معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دکوم په آخر کې چې "هي له تطوع ولهم فريضة" يعني د دې اضافه هم ده چې حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به نفل کول او د ده قوم به د ده شاته فرض کول.

د جمهور د طرف نه جواب :

۱... "هي له تطوع" د راوي خپل ګمان دې لهذا ممکنه ده چې حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شاته نفل کول او خپل قوم ته يې فرض کول "اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال".

۲... بالفرض که دا کلام که د حضرت معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وي نو دا په ابتدا کې د دوي (رايه وه چې شايد چې په داسې کولو سره مونځ کيږي ليکن حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ده د خيال تردید او فرمايلو او حکم يې وکړ "يا معاذ اما أن تصلي معي واما أن تخفف عن قومک" يعني يا خو ماسره مونځ کوه يا دويم صورت دا چې خپل قوم ته مونځ کوه، ليکن خفيف او مختصر، په دې حديث کې ګويا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوارو ځايونو کې د مونځ کولو نه منع او فرمايلو فکيف الاستدلال؟. (الدر المنضود، باختصار)

بَابُ صَلَاةِ الْمُتَوَضِّي خَلْفَ الْمُتَيَمِّمِ

د تيمم وهونکي پسې د اودس لرونکي د مانځه باب

﴿۵۲۵﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ احْتَلَمْتُ فِي لَيْلَةٍ بَارِدَةٍ فِي غَزْوَةِ ذَاتِ السَّلَاسِلِ فَأَشْفَقْتُ أَنْ أَغْتَسِلَ فَأَهْلِكَ فَتَيَمَّمْتُ ثُمَّ صَلَّيْتُ بِأَصْحَابِي الصُّبْحَ فَذَكَرُوا ذٰلِكَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا عَمْرُو صَلَّيْتَ بِأَصْحَابِكَ وَأَنْتَ جُنُبٌ فَأَخْبَرْتُهُ بِالَّذِي مَنَعَنِي مِنَ الِاغْتِسَالِ وَقُلْتُ إِنِّي سَمِعْتُ اللهَ يَقُولُ وَلَا تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا فَضَحِكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَمْ يَقُلْ شَيْئًا رواه

Maktaba Tul Ishaat.com

ابوداود والبخاري تعليقاً و آخرون و صححه الحاكم.(۱)

ترجمه : حضرت عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د ذات السلاسل په غزا کې په يوه سخته يخه شپه کې ماته احتلام وشو نو زه ډيريدم که چرته غسل وکړم هلاک به شم نو ما تيمم وکړاهه او بيا مي خپلو ملګرو ته د سهر مونځ وکړو نو هغه خلکو دا خبره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه يادوه کړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عمروبن العاص ته وفرمايل چې اي عُمره ته جنب وې او ملګرو ته دي مونځ وکړو نو ما رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه څه خبر کړ چې زه ئې د غسل نه منع کړې وُم او ما وويل چې ما اوريدلي دي چې الله فرمايلي دي چې خپل ځانونه مه وژنئ بې شکه چې الله جل شانه په تاسو باندې رحم کولو والا دي نو رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُخندل او څه ئې ونه وفرمايل . د دي حديث روايت ابوداوُد او بخاري تعليقا او نورو محدثينو هم نقل کړي او حاکم صحيح ګڼرلي دي.

مسئلة الباب : داودس لرونکي کس تيمم والا پسې اقتدا کولې شي يا نه ؟

جواب : په اتفاق دائمه اربعه رحمهم الله سره اقتدا کولې شي.

بَابُ مَا اسْتَدَلَّ بِهِ عَلَى كَرَاهَةِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِي مَسْجِدٍ

په جومات کې په دويم ځل د جماعت په مکروه والي باندې د استدلال باب

﴿۵۲۶﴾ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقْبَلَ مِنْ نَوَاحِي الْمَدِينَةِ يُرِيدُ الصَّلَاةَ فَوَجَدَ النَّاسَ قَدْ صَلُّوا فَمَالَ إِلَى مَنْزِلِهِ فَجَمَعَ أَهْلَهُ فَصَلَّى بِهِمْ رواه الطبراني في الكبير والاوسط و قال الهيثمي رجاله ثقات.(۲)

ترجمه : د حضرت ابي بکرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مدينې منوري د اطراف نه تشريف راوړ غوښتل ئې چې مونځ اداء کړي. نو خلک ئې په داسې حالت کې وُمندل چې مونځ ئې کړي وُ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل کور ته تشريف ويوړ او هلته ئې خپل اهل راجمع کړ او مونځ ئې ورته کړو . د دي حديث روايت طبراني په کبير او اوسط کې کړي دي او هيثمي ويلي دي چې رجال ئې ثقه دي.

مسئلة الباب : دراروان باب ترلاندې يې اوګورئ.

---

(۱) ابوداود کتاب الطهارة ج۱ص ۴۸ باب اذا خاف الجنب البرد ايتيمّم ، بخاري کتاب التيمم ج۱ص ۴۹ اذا خاف الجنب على نفسه المرض ....الخ ، مستدرك حاكم كتاب الطهارة ج۱ص ۱۷۷ باب عدم الغسل للجنابة في شدة البرد.

(۲) مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ص ۴۵ باب فيمن جاء الى المسجد فوجد الناس قد صلّوا نقلا عن الطبراني .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ مَا جَاءَ فِي جَوَازِ تَكْرَارِ الْجَمَاعَةِ فِي مَسْجِدٍ

په مسجد کې د جماعت د تکرار د جواز باب

﴿۵۲۷﴾ عَنْ اَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلاً قَدْ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَ قَدْ صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصْحَابِهِ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَتَصَدَّقُ عَلٰى هٰذَا فَيُصَلِّيَ مَعَهُ فَقَامَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَصَلّٰى مَعَهُ رواه احمد و ابوداود والترمذي و حسنه والحاكم و قال صحيح على شرط مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت ابوسعید رضي الله عنه نه روایت چې یو سړي مسجد ته راننوته په داسي حال کې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو اصحابو رضي الله عنهم ته مونځ کړي وُ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې څوک به په ده باندي صدقه وکړي چې د ده سره مونځ وکړي نو د خلکو نه یو کس پاڅیده او د هغه سره ئي مونځ وکړ. د دي حدیث روایت ابوداؤد، احمد، او ترمذي کړي دي او حسن ئي ګنړلي دي او حاکم د دي حدیث روایت کړي دي او ویلي ئي دي چې د مسلم په شرط باندي صحیح دي.

﴿۵۲۸﴾ وَعَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلاً جَاءَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ يُصَلِّي وَحْدَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَتَّجِرُ عَلٰى هٰذَا فَيُصَلِّي مَعَهُ اخرجه الدارقطني و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : او د حضرت انس رضي الله عنه نه روایت دي چې یو سړي راغي او رسول الله صلى الله عليه وسلم مونځ اداکړي وُ نو سړي پاڅیده او یواځي مونځ ئي کاوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې څوک د ده سره د ګټې والا تجارت کوي چې د ده سره مونځ وکړي. دا حدیث دارقطني خارج کړي او اسناد ئي صحیح دي.

دویم جماعت حکم

که په یو جومات کې امام متعین نه وي یا دلاري جومات وي نو په دې کې د جماعت تکرار جائز دي دغه شان دنیا په جومات کې هم د جماعت تکرار جائز دي، دغه شان که د محلي جومات د کوم چې اما او مؤذن معین وي لیکن هلته غیر د کوڅې والا و مونځ کړي وي نو د کوڅې والا و لپاره دویمه جمه جائز ده، البته که د کوڅې جومات دي کوم کې چې امام او مؤذن متعین دي او کوڅې والا و یو

---

(۱) مسند احمد ج۳ ص ۳۵، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص ۸۵ باب في الجمع في المسجد مرتين، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۵۳ باب ما جاء في الجماعة في مسجد قد صلي فيه مرة، مستدرك حاكم كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۰۹ باب اقامة الجماعة في المساجد مرتين.

(۲) دار قطني كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۷۶ باب اعادة الصلاة في جماعة

Maktaba Tul Ishaat.com

پیره جماعت او کړو نو اوس آیا دنورو لپاره دویم جماعت جائز دي یا نه ؟ په دې کې اختلاف دي :

(۱) **مذهب** : امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ ، امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ ، امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او جمهور علماء وائي چې د کوم مسجد د پاره مؤذن او امام منتخب او مقرر شوي وي او په هغه مسجد کې یو ځل د محلي خلکو په جماعت سره مونځ اداء کړي وي نو په هغه مسجد کې دوهم ځل په جماعت مونځ کول مکروه تحریمي دي .

(۲) **مذهب** : اهل ظواهر او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ وائي چې په مسجد کې د جماعت تکرار جائز دي .

دمجوزینو دلیل : په دي باب کې د (۵۲۷ ـ ۵۲۸) حدیث پوري د اهل ظواهرو او د حنابله ؤ مذهب د جماعت د تکرار د جواز دلیلونو بیان دي :

(۱) **دلیل** : د دي باب نه لاندي دوه روایتونه ذکر شوي دي او دا دواړه روایتونه د حنابله ؤ او د اهل ظواهرو د پاره مستدل دي چې د دي باب رومبني حدیث د حضرت ابوسعید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت شوي او دویم روایت د حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت شوي او په دي دواړو حدیثونو کې د دوهمي جمعې فتوی ورکړې شوي ده .

د کراهت دلیلونه : (۱) دلیل : ۵۲۶ حدیث چې حضرت ابي بکره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ئې روایت کړي دي د دریواړو امامانو او د جمهورو مستدل دي او ویلي ئې دي چې که چرته دوهم ځل جماعت جائز وي نو نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد نبوي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې بالکل دوهم ځل جماعت نه وي ترک کړي په کور کې د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل اهل ته په جماعت سره مونځ کول او په مسجد کې دوهم ځل جماعت سره مونځ پریښودل د دي خبري پوخ دلیل دي چې په مسجد کې د جماعت تکرار تحریمي مکروه دي .

(۲) صلاة الخوف د دې نظیر دي ، هلته دومره دسختې ویرې دوجې نه هم دوه جماعتونه نه دي مشروع ، معلومه شوه چې څه ضرر لازمیږي .

۳... دجماعت دتکرار دوجې نه په جومات کې دجماعت هغه اصل مقصد فوت کیږي چې خپل ماپین کې داجتماعیت ، اتفاق او دیک جهتې مظاهره ده .او دجماعت ثانیه دوجې نه تقلیل جماعت هم لازمیږي .

دمجوزینو ددلیل جواب : په اولني حدیث کې په دویم ځل دمونځ لپاره ، اوچتیدونکي کس حضرت سیدنا ابوبکر صدیق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وو نو دهغه مونځ نفل وو او دبل فرض ، دغه شان جماعت بالاتفاق جائز دي دخرابئ صورت دادي چې دواړه فرض کوي او په دویم حدیث کې دیو روایت مطابق دمسجد بني ثعلبه واقعه ده کوم چې دلاري جومات وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ صَلَاةِ الْمُنْفَرِدِ خَلْفَ الصَّفِّ

د صف نه روسته د یواځي مونځ کوونکي باب

﴿۵۲۹﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ أَنَا وَيَتِيمٌ فِي بَيْتِنَا خَلْفَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأُمِّي أُمُّ سُلَيْمٍ خَلْفَنَا رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویلي دي چې ځمونږ په کور کې ما او یو یتیم د نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې مونځ وکړو او ځما مور ام سُلیم زمونږ پسې یواځي وه. د دي حدیث روایت شیخین کړي دي.

﴿۵۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّهُ انْتَهَى إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ رَاكِعٌ فَرَكَعَ قَبْلَ أَنْ يَصِلَ إِلَى الصَّفِّ فَذَكَرَ ذٰلِكَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ زَادَكَ حِرْصًا وَلَا تَعُدْ رواه البخاري.(۲)

ترجمه : او د حضرت ابي بکرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې هغه نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په داسي حال کې وروړسیده چې هغه په رکوع کې وُ نو صف ته د رسیدو نه مخکې ئې رکوع وکړه وروسته د هغه په باره کې زیات کړي بیا داسي ونه کړي. د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

﴿۵۳۱﴾ وَعَنْ وَابِصَةَ بْنِ مَعْبَدٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَى رَجُلًا يُصَلِّي خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهُ فَأَمَرَهُ أَنْ يُعِيدَ الصَّلَاةَ رواه الخمسة وحسنه الترمذي وصححه ابن حبان.(۳)

ترجمه : د حضرت وابصه بن معبد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو سړي ولیده چې د صف نه روسته ئې یواځي مونځ کاوه نو نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته د مانځه په اعاده باندې امر وکړ. د دي حدیث روایت د نسائي نه پرته غیر پنځو محدثینو کړي دي او ترمذي حسن ګنړلي دي او ابن صحیح رَحِمَهُ اللَّهُ ګنړلي دي.

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ صـ۱۰۱ باب المرأة وحدها تكون صفًا، مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۳۴ باب جواز الجماعة النافلة ...الخ.
(۲) بخاري كتاب الاذان صـ ۱۰۸ باب اذا ركع دون الصف.
(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۹۹ باب الرجل يصلي وحده خلف الصف، ترمذي ابواب الصلوة صـ ۵۴ باب ماجاء في الصلوة خلف الصف وحده، ابن ماجة كتاب الصلوة صـ ۷۲ باب صلوة الرّجل خلف الصف وحده، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج۴ صـ ۳۱۱ رقم الحديث ۲۱۹۷، مسند احمد ج۴ صـ ۲۲۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۵۳۲﴾ وَ عَنْ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأٰى رَجُلًا يُصَلِّي خَلْفَ الصَّفِّ وَحْدَهٗ فَانْصَرَفَ الرَّجُلُ فَقَالَ لَهٗ اِسْتَقْبِلْ صَلَاتَكَ فَلَا صَلَاةَ لِمُنْفَرِدٍ خَلْفَ الصَّفِّ رواه احمد وابن ماجه واسناده حسن.(۱)

ترجمه: او د حضرت علي بن شيبان رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم يو كس وليده چې د صف نه روسته ئې مونځ كاوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته تر هغې پورې وډريده چې هغه كس د مانځه نه فارغ شو نو نبي كريم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې مونځ دوباره پيا وكړه د صف نه روسته د يواځې مونځكوونكي مونځ نه شته. د دې حديث روايت احمد رحمه الله او ابن ماجه كړي دي او اسناد ئې حسن دي.

د صف نه وروسته يواځې مونځ كول

(۱) دامام احمد رحمه الله په نزد مونځ نه كيږي. (۲) امام ابوحنيفه رحمه الله، مالک رحمه الله، او شافعي رحمه الله په نزد مونځ يې صحيح كيږي البته د كراهت سره.

دامام احمد رحمه الله دليل:

۱... حديث د وابصه بن معبد رضي الله عنه: "فأمر أن يعيد الصلاة".

۲... حديث د علي بن شيبان رضي الله عنه "اِسْتَقْبِلْ صَلَاتَكَ فَلَا صَلَاةَ لِمُنْفَرِدٍ خَلْفَ الصَّفِّ" د دوارو حديثونو مطابق حضور صلى الله عليه وسلم د خلف الصف يواځې مونځ كونكي لره د اعادې حكم وركړ.

د جمهورو دليل:

۱... حديث د انس رضي الله عنه د كوم مطابق چې ده د والده د حضور صلى الله عليه وسلم پسې شاته په صف كې ځانله ولاړ وه.

۲... د ابوبكره رضي الله عنه حديث چې حضور صلى الله عليه وسلم ده ته د خلف الصف يواځې مونځ كولو د وجې نه د مونځ د اعادې حكم نه بلكې د كراهت نه دې كيدو لپاره يې آئنده داسې ونه كونو او فرمايل.

دامام احمد رحمه الله د دليل جواب:

۱... د ستاسو مستدل د دوارو حديثونو سند مجروح دي.

۲... متعارض حديثونو كې تطبيق داسې كيدې شي چې د اعادې حكم استحبابا وي نه دا چې د فساد په بنا باندې.

---

(۱) مسند احمد ۴/۲۳ ... ابن ماجه ... الطبراني ... الدارقطني ... البيهقي ... المنتقى ... نيل الاوطار ...

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿اَبوَابُ مَا يَجُوزُ فِي الصَّلَاةِ وَمَا يُبَاحُ فِيهَا﴾

﴿بَابُ النَّهيِ عَن تَسوِيَةِ التُّرَابِ وَمَسحِ الحَصٰى فِي الصَّلَاةِ﴾

په مانځه کې د خاورې برابرولو او د کیټکیوڅو د لرې کولو نه د نهي باب دي

يعني په مانځه کې د خاوري د برابرولو او د کيټکيوڅو د لري کولو نه د نهي باب دي

﴿۵۳۳﴾ عَن مُعَيقِيبٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي الرَّجُلِ يسوِي التُّرَابَ حَيثُ يسجُدُ قَالَ اِن كنتَ فَاعِلًا فَوَاحِدَةً رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : د حضرت معيقيب رضي الله عنه نه روايت دي چې په تحقيق رسول الله صلى الله عليه وسلم د يو کس په باره کې فرمايلي دي چې هغه د سجدي د ځاي خاوره برابروله نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې که ته ضرور دغه کار کوي نو يو ځل ئې وکړه. د دي حديث روايت جماعت کړي دي.

﴿۵۳۴﴾ وَ عَن اَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِذَا قَامَ اَحَدُكُم فِي الصَّلَاةِ فَلَا يمسَحُ الحصَا فَاِنَّ الرَّحمَةَ تُوَاجِهُه رواه الاربعة و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت ابي ذر رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي کله چې يو کس د لمانځه په مانځه وُدريږي نو حصى يعني ګيټکي دي نه لري کوي ځکه چې د الله جل شانه رحمت هغه طرف ته متوجه دي. د دي حديث روايت څلورو محدثينو کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۵۳۵﴾ وَ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ سَاَلتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَن مَسحِ الحصَا فَقَالَ وَاحِدَةً وَلِاَن تَمسَك عَنهَا خَيرٌ لَّك مِن مِائَةِ نَاقَةٍ كُلُّهَا سُودُ الحَدَقِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۳ صـ ۱۶۱ باب مسح الحصي في الصلوة ، مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۰۶ باب كراهة مسح الحصى ....الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۸۷ باب ماجاء في كراهية مسح الحصي في الصلوة ، نسائي كتاب السهو ج۱ صـ ۱۷۷ باب النهي عن مسح الحصي في الصلوة ، ابوداود كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۳۶ باب مسح الحصي في الصلوة ، ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۷۳ باب المسح الحصي في الصلوة ، مسند احمد ج۳ صـ ۴۲۶ .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۸۷ باب ماجاء في كراهية مسح الحصي في الصلوة ، نسائي كتاب السهو ج۱ صـ ۱۷۷ باب النهي عن مسح الحصي في الصلوة ، ابوداود كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۳۶ باب مسح الحصي في الصلوة ، ابن ماجة كتاب الصلوة ج۱ صـ ۷۳ باب المسح الحصي في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح.(۱)

ترجمه : د حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي ویلي ئي دي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د ګیتمکیوٌ د لري کولو په باره کې پوښتنه وکړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمایل چې یو ځل او که د یو ځل نه بند شي نو دا ستا د پاره د سلو تورو سترګو اوښانو نه بهتر دي. د دي حدیث روایت ابي ابن ابي شیبة کړي دي او اسناد ئي صحیح دي.

﴿بَابٌ فِي النَّهي عَنِ التَّخَصُّرِ﴾

په ملا او یا په تشي باندي د لاس د ایښودلو باب

﴿۵۲۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ يُصَلِّيَ الرَّجُلُ مُخْتَصِرًا رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي ویلي ئي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ منع فرمایلي ده چې سړي مونځ کوي او لاس ئي په تشي او یا په ملا باندي ایښي وي. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

داختصار في الصلاة مطلب : دمنع کړې شوي اختصار في الصلاة دري تفسیرونه کړي شوي دي:

(۱) په تشي (چوختو) باندي لاس ایخودل، په دې کې ابلیس لعین او دیهودو سره مشابهت دي او په مونځ کې عاجزي پکار ده او داسي اودریدل د متکبرینو ننبنه ده. (۲) بغیر د عذر نه په همسا تکیه لګول او اودریدل. (۳) په رکوع او سجده کې اختصار کول او داطمینان نه بغیر مونځ کول.

﴿بَابُ النَّهي عَنِ الالتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ﴾

په مانځه کې د کتلو نه د منعي باب

﴿۵۲۷﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الالتِفَاتِ فِي الصَّلَاةِ فَقَالَ هُوَ

---

(۱) مصنف ابن ابي شیبة کتاب الصلوٰة ج ۲ ص ۴۱۲ باب صنع الحصي وتسویته في الصلوٰة من رخص في ذلك.

(۲) بخاري کتاب التهجد ج ۱ ص ۱۶۳ باب الخشوع في الصلوٰة وکتاب الصلوٰة ج ۱ ص ۷۴ باب کراهیة الاختصار في الصلوٰة.

Maktaba Tul Ishaat.com

إختِلَاسٌ يختلسه الشيطان من صلاة العبد رواه البخاري.(۱)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په مانځه کې د اخوا ديخوا کتلو په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وفرمايل چې دا په جلتئ سره تهتول دي شيطان د بنده د مانځه نه په جلتئ سره تهتونه کوي. د دې حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۵۳۸﴾ وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم آيَاكَ وَالِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ فَإِنَّ الِالْتِفَاتَ فِي الصَّلَاةِ هَلَكَةٌ فَإِنْ كَانَ لَا بُدَّ فَفِي التَّطَوُّعِ لَا فِي الْفَرِيضَةِ رواه الترمذي و صححه.(۲)

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې په مانځه کې د اخوا ديخوا کتو نه ځان وساته بې شکه په مانځه کې يو خوا او بل خوا کتل مرګ دي نو که چرته يو خوا بل خوا کتل ضروري وي نو په نفلو کې دي په فرضو کې نه. د دې حديث روايت ترمذي کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۵۳۹﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم يلحظ فِي الصَّلَاةِ يَمِينًا وَشِمَالًا وَلَا يلوي عُنُقَهُ خلف ظهره رواه الترمذي و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه ويلي چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم به په مانځه کې د سترګو په کونجونو کې نبي طرف ته او چې طرف ته کتل او خپل څټ مبارک به ئې خپلي شا طرف ته نه اړاوه. د دې حديث روايت ترمذي کړي دي. او اسناد ئې صحيح دي.

دګلمانو تشريح:

"هو اختلاس يختلسه الشيطان" يعني کوم کس چې په مونځ کې يو بل شي طرفته التفات کوي نو ګويا داسې اوګڼه چې شيطان د دې کس د مونځ خشوع ختمه کړه.

په مونځ کې دالتفات دري صورتونه دي:

مخ دې واړولي شي فقط، دا مکروه دي. (۲) سينه دې واړولي شي، دا مفسد: صلاة دي داستقبال قبله دفوت کيدو دوجې نه. (۳) ګوشه چشم يعني دسترګو په کونجونو کې کتل، دا صرف خلاف اولى دي، دخشوع منافي کيدو دوجې نه البته عند الضرورة مباح دي د حضور صلى الله عليه وسلم التفات

---

(۱) بخاري کتاب الاذان ج۱ ص ۱۰۴ باب الالتفات في الصلوة.

(۲) ترمذي ابواب ما يتعلق بالصلوة ج۱ ص ۱۳۰ باب ما ذكر في الالتفات في الصلوة.

(۳) ترمذي ابواب ما يتعلق بالصلوة ج۱ ص ۱۳۰ باب ما ذكر في الالتفات في الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

به داسي قسمه وو . .

﴿ بَابٌ فِي قَتْلِ الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ ﴾
يعني په مانځه کې د مار او د لړم د وژلو باب

﴿۵۲۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اُقْتُلُوا الْأَسْوَدَيْنِ فِي الصَّلَاةِ اَلْحَيَّةَ وَالْعَقْرَبَ رواه الخمسة و صححه الترمذي.(۱)

ترجمه : حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې اسوه ډين يعني مار او لړم په مانځه کې ووژنئ . د دې حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي او ترمذي صحيح ګرځولي دي.

مسئلة الباب: په مانځه کې د مار او د لړم وژل هيڅ باک نلري لکه چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې مار او لړم په مانځه ووژنئ . او دا ځکه چې په دې کې ازاله د شغل د قلب ده د حضور د قلب نه نو دا؛ داسي ده لکه د مونځ کوونکي په مخ کې چې تيريد ونکي د تيريد و نه بند کړي شي . او بله دا چې دا حديث مطلق دي په دې کې د يو ځل ضرب او د ډيرو ضرباتو ترمنځ ئې هيڅ فرق نه دي کړي او د شمس الائمة السرخسي رَحِمَهُ اللهُ په نزد همدا خبره مختاره ده او ځينو ويلي دي چې که په يو ضرب باندي ئې قتل ممکن وُ نو دي وژلي شي او که په ډيرو ضرباتو باندي ئې وژلي وي نو مونځ دي د سرنه راوګرځوي ځکه چې دا کثير عمل دي او په کثير عمل باندي مونځ فاسديږي خو ولې د دې په جواب کې ويلي شوي چې په دې باره کې ئې مونځ کوونکي ته رخصت ورکړي دي او د دې عمل مثال داسي دي لکه د بې اودسۍ نه روسته مونځ کوونکي د اوداسه د پاره مشي او تګ کوي او يا د اوداسه د پاره د کوهي نه اوبه راوُباسي . او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ هم دا خبره کړې ده چې مار دي وُوژل شي چې په يو ضرب وي او که په ډيرو ضرباتو سره وي ويره او خوف ورئه وي او که خوف او ويره ورنه وي او دا ځکه چې د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مرفوع حديث نقل شوي دي چې (اقتلوا الحية والعقربَ ان كنتم في صلوتكم) او وجه ئې دا ده چې په دي سره زړه د مشغوليت نه فارغيږي.

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۸۹ باب ماجاء في قتل الاسودين في الصلوة ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۳۳ باب العمل في الصلوة ، نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۷۸ باب قتل الحية والعقرب في الصلوة ، ابن ماجة ابواب الاقامة الصلوات ص۸۹ باب ماجاء في قتل الحية والعقرب في الصلوة ، مسند احمد ج ۲ص ۲۳۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابٌ فِي النَّهْيِ عَنِ السَّدْلِ﴾
په مانځه کې د سدل نه د منع باب

﴿۵۲۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ السَّدْلِ فِي الصَّلَاةِ وَأَنْ يُغَطِّيَ الرَّجُلُ فَاهُ رواه ابوداود وابن حبان و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مانځه کې د سدل نه او په مانځه کې د خولې پټولو نه منع فرمايلې ده . د دې حديث روايت ابوداؤد او ابن حبان کړې دي او اسناد يې حسن دي .

دسدل تعريف : د سدل مختلف تعريفونه شوي دي (۱) تعريف : امام خطابي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې (هو ارسال الثوب حتى يصيب الارض) يعني سدل د جامې زوړندول دي تر څو پورې چې ځمکې ته ورسيږي .

(۲) تعريف : په نهايه کې ئې ويلي دي : هو ان يلتحف ثوبه ويدخل يديه من داخل فيركع ويسجد وهو كذلك) يعني : سدل ديته ويلي شي چې په جامه کې ځان تاو کړي او لاسونه پکې ورننه کړي او په همدغه حال کې پکې رکوع او سجده کوي او يهودو به دغسې عمل کاوه نو د دې نه منع کړې شو او داعمل په کميس کې کيدې شي او په نورو شيانو کې هم .

دسدل حکم :

امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ سدل په مانځه او غير مانځه دواړو حالتونو کې مکروه ګڼلې دي . او امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ فقط د مانځه په حالت کې مکروه ګڼلې دي . جابر بن عبدالله رَحِمَهُ اللّٰهُ ، محمد بن سيرين رَحِمَهُ اللّٰهُ او عطاء ابن ابي رباح د سدل په باره کې پروا نکوي . او امام ابوداؤد د ابن جريج دلاري د حضرت عطاء د عمل روايت کړې دي چې عطاء رَحِمَهُ اللّٰهُ به اکثر د سدل په حالت کې مونځ کاوه . امام بيهقي رَحِمَهُ اللّٰهُ د دې په باره دا توجيه کړې چې امکان لري چې حضرت عطاء رَحِمَهُ اللّٰهُ د سدل د منع والا حديث کړې وي .

" أن يغطي الرجل فاه " د مونځ په حالت کې تغطيه فم مکروه دي يعني خوله پټول ، ددې حديث په بناء باندې او بله دا چې هغه د قرأت او د اذکار نه مانع دي همدارنګه په دې کې تشبه بالمجوس هم

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص ۹۴ باب السدل في الصلوة ، صحيح ابن حبان ج۵ ص ۲۵ رقم ۲۲۸۶.

Maktaba Tul-Ishaat.com

دي ،الدر المنضود).

﴿ بَابُ مَن يصَلِّي وَ رَأسُه مَعقُوصٌ ﴾

﴿۵۲۲﴾ عَن ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُمِرتُ أَن أَسجُدَ عَلَى سَبعَةِ أعظُمٍ وَلَا أكُفَّ شَعرًا وَلَا ثَوبًا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي ماته امر شوي دي چې په اُوو هډو كو باندې سجده وكړم او خپل ويښته او جامې راغونډې نه كړم . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

﴿۵۲۳﴾ وَ عَن كُرَيبٍ عَن عَبدِ اللهِ بنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّه رَأى عَبدَ اللهِ بنَ الحَارِثِ يصَلِّي وَ رَأسُه مَعقُوصٌ مِن وَرَائِهِ فَقَامَ فَجَعَلَ يحُلُّه فَلَمَّا انصَرَفَ أقبَلَ إلى ابنِ عَبَّاسٍ فَقَالَ مَالَك وَلِرَأسِي فَقَالَ إنِّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقُولُ إنَّمَا مَثَلُ هٰذَا مَثَلُ الَّذِي يصَلِّي وَهُوَ مَكتُوفٌ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : د كريب نه روايت دي هغه د حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كړي دي چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عبدالله بن الحارث رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ليدلي وُ چې مونځ ئې كاوه او د ، سر ويخته ئې روسته غوټه كړي وُ نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پاځيده او د هغه ويښتو په سپرلو ئې شروع وكړه كله چې هغه مانځه نه فارغ شو نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئې مخ راواړوه چې ستا څما د سر سره څه كار دي ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وويل چې ما د رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئې چې بې شكه د ده مثال د هغه چا په شان دي چې مونځ كوي اود ده په اوږو باندې څه شئ وي رواه مسلم .

عقص في الصلاة

دعقص في الصلاة مطلب دادي چې يو كس په ځاي ددي چې ويختان پخپل حالت پريږدي بلكې دسر شاته يې غوټه كړي لكه څنګه چې بنځې غوټه كوي داد جمهورو علماؤ او دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مكروه دي او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد كراهت په هغه صورت كې دي چې عقص دمونځ نه مخكې دمونځ كولو په نيت سره او كړي او كه دمخكې نه وي نو بيا څه حرج نشته ليكن دا كراهت

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۱۳ باب لا يكف شعراً ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۴ باب اعضاء السجود والنهي عن كف الشعر ....الخ .

(۲) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۴ باب اعضاء السجود والنهي عن كف الشعر ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

بالاتفاق د سړو په حق کې دي د ښځو په حق کې نه دي .

﴿بَابُ التَّسبِيحِ وَالتَّصفِيقِ﴾

په مانځه کې د تسبیح او د لاس پر ګولو باب :

﴿۵۴۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ التَّسْبِيحُ لِلرِّجَالِ وَالتَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ رواه الجماعة وزاد مسلم وآخرون في الصلاة .(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې تسبیح د سړو د پاره دي او لاس پر ګولو د ښځو د پاره دي . د دي حدیث روایت جماعت کړي دي او مسلم رَحِمَهُ اللهُ او نورو د فې الصلوة لفظ زیات کړي دي .

﴿۵۴۵﴾ وَعَنْ سَهْلِ بْنِ سَعْدٍ السَّاعِدِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَهَبَ إِلَى بَنِي عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ لِيُصْلِحَ بَيْنَهُمْ فَحَانَتِ الصَّلَاةُ فَجَاءَ الْمُؤَذِّنُ إِلَى أَبِي بَكْرٍ فَقَالَ أَتُصَلِّي لِلنَّاسِ فَأُقِيمَ قَالَ نَعَمْ فَصَلَّى أَبُو بَكْرٍ فَجَاءَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالنَّاسُ فِي الصَّلَاةِ فَتَخَلَّصَ حَتَّى وَقَفَ فِي الصَّفِّ فَصَفَّقَ النَّاسُ وَكَانَ أَبُو بَكْرٍ لَا يَلْتَفِتُ فِي الصَّلَاةِ فَلَمَّا أَكْثَرَ النَّاسُ الْتَفَتَ فَرَأَى رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَشَارَ إِلَيْهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنِ امْكُثْ مَكَانَكَ فَرَفَعَ أَبُو بَكْرٍ يَدَيْهِ فَحَمِدَ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى مَا أَمَرَهُ بِهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ ذَلِكَ ثُمَّ اسْتَأْخَرَ أَبُو بَكْرٍ حَتَّى اسْتَوَى فِي الصَّفِّ وَتَقَدَّمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى ثُمَّ انْصَرَفَ فَقَالَ يَا أَبَا بَكْرٍ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَثْبُتَ إِذْ أَمَرْتُكَ قَالَ أَبُو بَكْرٍ مَا كَانَ لِابْنِ أَبِي قُحَافَةَ أَنْ يُصَلِّيَ بَيْنَ يَدَيْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَالِي رَأَيْتُكُمْ أَكْثَرْتُمُ التَّصْفِيقَ مَنْ نَابَهُ شَيْءٌ فِي صَلَاتِهِ فَلْيُسَبِّحْ فَإِنَّهُ إِذَا سَبَّحَ الْتُفِتَ إِلَيْهِ وَإِنَّمَا التَّصْفِيقُ

---

(۱) مسلم کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۸۰ باب تسبیح الرجل وتصفیق المرأة ...الخ ، بخاري کتاب التهجد ج۱ ص ۱۶۰ باب التصفیق للنساء ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۸۵ باب ماجاء ان التسبیح للرجال والتصفیق للنساء ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۳۵ باب التصفیق في الصلوة ، نسائي کتاب السهو ج۱ ص ۱۸۸ باب التسبیح في الصلوة ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ج۱ ص ۷۳ باب التسبیح للرجال في الصلوة ...الخ ، مسند احمد ج۲ ص ۲۹۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

لِلنِّسَاءِ رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : او دسهل بن سعد نِ الساعدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بني عمرو ابن عوف ته د دوي تر منځ د صلحي د پاره تشريف ويوړو نو د مانځه وخت نزدي شو نو ابي بكر ته مؤذن راغي نو ورته وي ويل چې آيا ته خلكو ته مونځ كوي چې زه اقامت وكړم هغه وويل چې هو نو ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مونځ شروع كړو او خلك هم په مانځه كې وُ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشريف راوړ نو وي چول صفونه تر دي پوري چې د صفونو په چاودونو كې اول صف ته اورسيده او په اول صف كې اودريده نو خلكو لاسونه وُټقول او ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بل هيڅ طرف ته توجه او نظر نه كاوه او په خشوع سره ئي خپل مونځ ادا كاوه نو كله چې خلكو د لاسونو پرقول زيات كړل نو ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نظر واچاوه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ئي وليده نو ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اشاره وفرمايله چې په خپل ځاي اوسه نو ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه لاسونه اوچت كړل او د الله جل شانه حمد او شكريه ئي په هغه څه باندي اداء كړه په كوم شئ چې ده ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر كړي وُ د دي وجهي نه بيا ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راروسته شو تر دي پوري چې په صف كې برابر وُدريده او نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخكې شو نو مونځ ئي وفرمايه بيا چې د مانځه نه فارغ شو نو وي فرمايل چې اي ابابكره په خپل ځاي باندي د پاتي كيدو نه څه شي منع كړي كله چې درته ما امر وكړو ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې د ابي قحافه د ځوي ذ پاره څه مناسب دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخكې مونځ وكړي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل څه وجه ده چې ما تاسي ډير په لاسونو پرقوونكي وليدئ د چا په مانځه كې چې څه پيدا شي نو هغه دي تسبيح ووائي بې شكه چې هغه تسبيح ووائي نو امام هغه طرف ته متوجه شي او په تحقيق تصفيق او لاس پرقول د بنځو د پاره دي . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

دكلماتو تشريح :

"التفيق والتصفيح" په مونځ كې دلاس پرقولو دوه طريقي دي :

(۱) دښي لاس دوه ګوتي د چپ لاس په ورغوي باندي ووهلي شي .

ديو لاس دورغوي شا دبل لاس دورغوي په دننه حصه باندي ووهلي شي .

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۴ باب من دخل ليؤم الناس فجآء الامام الاول ، مسلم كتاب الصلوٰة ج۱ص ۱۷۹ باب تقديم الجماعة من يصلي بهم اذا تاخر الامام ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

تصفیق مذموم : دادي چې دیو لاس دورغوي دننه حصه دبل لاس دورغوي دننه حصه باندې ووهلې شي چې ددې دوجې نه آواز په زور سره پیدا کیږي . دادلهو لعب قبیلې نه دي او اولنې تصفیق دتنبیه لپاره دي .

په مونځ کې چې کله خبره راشي نو مقتدي دې څه اوکړي ؟

(۱) دجمهورو په نزد که امام ته په مونځ کې څه سهوه راشي نو که دده نه وروسته سړي وي نو هغه دې سبحان الله په ذریعې سره امام لره متوجه کړي او که مقتدي ښځه ده نو هغه دې دلاس په پرتولو سره متوجه کړي .

(۲) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي که لقمه ورکونکې سړي وي یا ښځه دواړه به تسبیح وایي .

دجمهورو دلیل :حدیث " التسبیح للرجال والتصفیق للنساء " .

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ تاویل : دجمهورو خلاف دحدیث مطلب دادي چې دمونځ نه بهر تسبیح مردانه فعل دې او تصفیق زنانه فعل دي .

جواب : دباب دویم حدیث " مَن نَابَه شَيءٌ فِي صَلَاتِهِ فَلْيُسَبِّحْ فَإِنَّه إِذَا سَبَّحَ الْتَفَتَ إِلَيه وَ إِنَّمَا التَّصْفِيقُ لِلنِّسَاءِ " نه دجمهورو والا دمطلب تائید کیږي ځکه چې په دې کې صراحة په مونځ کې دننه سړو لره تسبیح او ښځو لره تصفیق (لاس پرتول) حکم دي . (الدر المنضود)

﴿بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْكَلَامِ فِي الصَّلَاةِ﴾

په مانځه کې د خبرو نه د منع باب :

﴿۵۴۶﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَتَكَلَّمُ فِي الصَّلَاةِ يُكَلِّمُ الرَّجُلُ صَاحِبَه وَ هُوَ إِلَى جَنْبِهِ فِي الصَّلَاةِ حَتّٰى نَزَلَت وَ قُومُوا لِلّٰهِ قَانِتِينَ فَأُمِرْنَا بِالسُّكُوتِ رواه الجماعة الا ابن، ماجه و زاد مسلم وابوداود و نهينا عن الكلام .(۱)

ترجمه : حضرت زید ابن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې مونږ به په مانځه کې خبري کولې یو سړي به په مانځه کې د خپل ملګري سره په داسې حال خبري کولې چې د ده په خوا کې به په مانځه کې ؤ دا

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۶۰ باب ما يجوز من الكلام في الصلوة ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۰۴ باب تحريم الكلام في الصلوة ...الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۲ باب في نسخ الكلام في الصلوة ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۳۷ باب النهي عن الكلام في الصلوة ، نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۸۱ باب الكلام في الصلوة ، مسند احمد ج۴ ص ۳۶۸ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کار تر هغې پورې ؤ تر څو چې د (وقوموا لله قانتين) ايت نازل شو نو مونږ ته په سکوت او چپ کيدو باندې امر وکړي شو . د دې حديث روايت يو جماعت کړي دي خو ولي ابن ماجه نه دي روايت کړي او مسلم او ابوداؤد دا الفاظ زيات کړي دي چې (ونهينا عن الكلام) يعني او منع کړي شو مونږ د خبرو نه .

﴿۵۲۷﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا مِنْ عِنْدِ النَّجَاشِيِّ سَلَّمْنَا عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيْكَ فِي الصَّلَاةِ فَتَرُدُّ عَلَيْنَا فَقَالَ إِنَّ فِي الصَّلَاةِ شُغْلًا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ به په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې په داسې حال کې سلام اچاوه چې هغه به په مانځه کې ؤ نو هغه به مونږ ته د سلام جواب راکړ نو کله چې مونږ د نجاشي نه راواپس شو نو مونږ به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې سلام واچاوه نو مونږ ته ئې د سلام جواب رانکړ نو مونږ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل چې اي د الله جل شانه رسوله مونږ به په تاسو باندې سلام اچاوه او تاسو به مونږ ته د سلام جواب راکاوه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بې شکه په مانځه کې مشغوليت دي . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

﴿۵۲۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الصَّلَاةِ قَبْلَ أَنْ نَأْتِيَ أَرْضَ حَبَشَةَ فَيَرُدُّ عَلَيْنَا فَلَمَّا رَجَعْنَا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ وَهُوَ يُصَلِّي فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ فَأَخَذَنِي مَا قَرُبَ وَمَا بَعُدَ، فَجَلَسْتُ حَتَّى قَضَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ فَقُلْتُ لَهُ يَارَسُولَ اللهِ قَدْ سَلَّمْتُ عَلَيْكَ وَ أَنْتَ تُصَلِّي فَلَمْ تَرُدَّ عَلَيَّ السَّلَامَ فَقَالَ إِنَّ اللهَ قَدْ يُحْدِثُ مِنْ أَمْرِهِ مَا يَشَاءُ وَإِنَّ مِمَّا أَحْدَثَ لَا تَكَلَّمُوا فِي الصَّلَاةِ رواه الحميدي في مسنده و ابوداود والنسائي و آخرون و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : او دحضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي ويلي ئې دي چې مونږ به په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې په مانځه کې حبشې ته زمونږ د تلو نه مخکې سلام اچاوه او رسول اکرم

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۶۰ باب ما ينهى من الكلام في الصلوة ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۰۴ باب تحريم الكلام في الصلوة ....الخ .

(۲) مسند حميدي ج۱ص۵۲ رقم الحديث ۹۴ ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۳۳ باب رد السلام في الصلوة ، نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۸۱ باب الكلام في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونږ ته د سلام جواب راکاوه نو کله چې مونږ د حبشي نه راواپس شو نو ما په رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې په داسې حال کې سلام واچاوه چې هغه په مانځه کې ؤ نو ماته ئې د سلام جواب رانه کړ نو د لرې او نزدې فکرونو راګیر کړم چې په کومه یوه خبره باندې هغه زمانه ناراضه شوې دي نو زه کیناستم چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه نه فارغ شو نو ما ورته وویل چې اې د الله جل شانه رسوله په تحقیق ما په تاسو باندې سلام واچاوه تاسو مونږ کاوه نو تاسو ماته د سلام جواب رانکړ نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې په تحقیق خامخا الله جل شانه چې څه وغواړي نوي نوي حکمونه نازلوي او د هغه نوي حکمونو نه ئې چې کوم نوي حکم نازل فرمایلي دي هغه دا دي چې په مانځه کې خبرې مه کوئ. د دې حدیث روایت حمیدي په خپل مسند کې او ابوداؤد او نسائي او نورو محدثینو کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۵۳۹﴾ وَعَنْ مُعَاوِيَةَ بْنِ الْحَكَمِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَا أَنَا أُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذْ عَطَسَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ فَقُلْتُ يَرْحَمُكَ اللّٰهُ فَرَمَانِي الْقَوْمُ بِأَبْصَارِهِمْ فَقُلْتُ وَاثُكْلَ أُمِّيَاهْ مَا شَأْنُكُمْ تَنْظُرُونَ إِلَيَّ فَجَعَلُوا يَضْرِبُونَ بِأَيْدِيهِمْ عَلَى أَفْخَاذِهِمْ فَلَمَّا رَأَيْتُهُمْ يُصَمِّتُونَنِي لَكِنِّي سَكَتُّ فَلَمَّا صَلَّى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَبِأَبِي هُوَ وَأُمِّي مَا رَأَيْتُ مُعَلِّمًا قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ أَحْسَنَ تَعْلِيمًا مِنْهُ فَوَاللّٰهِ مَا كَهَرَنِي وَلَا ضَرَبَنِي وَلَا شَتَمَنِي قَالَ إِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصْلُحُ فِيهَا شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ النَّاسِ إِنَّمَا هِيَ التَّسْبِيحُ وَالتَّكْبِيرُ وَقِرَاءَةُ الْقُرْآنِ أَوْ كَمَا قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ إِنِّي حَدِيثُ عَهْدٍ بِجَاهِلِيَّةٍ وَقَدْ جَاءَ اللّٰهُ بِالْإِسْلَامِ وَإِنَّ مِنَّا رِجَالًا يَأْتُونَ الْكُهَّانَ قَالَ فَلَا تَأْتِهِمْ قَالَ وَمِنَّا رِجَالٌ يَتَطَيَّرُونَ قَالَ ذَاكَ شَيْءٌ يَجِدُونَهُ فِي صُدُورِهِمْ فَلَا يَصُدَّنَّهُمْ قَالَ قُلْتُ وَمِنَّا رِجَالٌ يَخُطُّونَ قَالَ كَانَ نَبِيٌّ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ يَخُطُّ فَمَنْ وَافَقَ خَطَّهُ فَذَاكَ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت معاویه ابن حکم سلمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي هغه ویلي دي چې ما د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مونږ کاوه چې د قوم د خلکو نه یو سړي انتروشي او انګشي وکړ نو ما په جواب کې ورته ویلي چې الله جل شانه دي په تا باندې رحم وکړي نو قوم زه په خپلو سترګو وویشتم نو ماوویل چې میاندې دي ئې شي څه وجه ده چې ماته ګورئ دوي شروع وکړه او خپل پتنونه او ورنونه ئې په دواړو لاسونو باندې وهل کله چې ما وکتل چې دوي ما چپکوي خو ولي زه چپ شوم

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ ص ۲۰۳ باب تحريم الكلام في الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو کله چې رسول الله ﷺ مونځ وکړ زما مور او پلار د هغه نه قربان شه مانه د ده نه مخکې او نه د ده نه روسته څوک داسې استاذ او معلم لیدلی دی چې د ده په تعلیم او تربیه کې ښه او بهتر وي قسم مي دي په الله جل شانه وي چې نه ئې زه رټلی یم او نه ئې زه وهلی یم او نه ئې ماته کنځل کړي دي رسول الله ﷺ وفرمایل چې بې شکه دا مونځ د هیڅ یو شئ مصلاحیت نه لري چې په دې کې د خلکو سره خبرې وشي په تحقیق په دې مانځه کې تسبیح دي. تکبیر دي او د قرآن کریم قرأت دي یا لکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي ما وویل چې اي د الله جل شانه رسوله ځما وخت او زمانه د جاهلیت د زمانې سره نزدې او نوي ده یعني زما لږ وخت کیږي چې مسلمان شوي یم په مونږ کې څه داسې خلک دي چې کاهنانو ته ورځي یعني د غیبونه خبرو کولو والا ته ورځي هغه وفرمایل چې ته هغو ته مه ورځه حضرت معاویه رضی الله عنه ویلي دي چې په مونږ کې څه داسې خلک دي چې بد فالي نیسي رسول الله ﷺ وفرمایل چې ذا یو داسې شئ دي چې په خپلو سینو او زړونو کې ئې مدرک کوي دغه وسوسه هغو ته هیڅ ضرر نشي رسولي حضرت معاویه رضی الله عنه ویلي دي ما وویل پنې په مونږ کې داسې خلک شته چې خطونه او کرهي راکالأي نو نبي کریم ﷺ وفرمایل چې د انبیاؤ نه یو نبي داسې وُ چې خطونه به ئې راهکل چې د چا د خط سره به موافق او برابر شو نو هغه به صحیح وُ. دا حدیث مسلم روایت کړي دي.

په مونځ کې دخبرې اتري کولو حکم

په دې باندې خو تول ائمه متفق دي چې ابتداء هر قسم کلام په مونځ کې دننه جائز وو، البته وروسته بیا منسوخ شو، لیکن دد ې "منسوخ کلام" په تفصیل کې اختلاف دي:

(۱) امام ابو حنیفه رحمه الله او امام احمد رحمه الله په نزد کلام في الصلاة مطلقا لږ وي او که ډیر عمدا وي او که نسیانا تول منسوخ دي، او اوس ناجائز او مفسد صلاة دي.

(۲) امام شافعي رحمه الله فرمایي که کلام نسیانا وي نو دد ې ګنجائش شته دې او هغه جائز دي.

(۳) امام مالک رحمه الله فرمایي که کلام قلیل قصدا دمونځ داصلاح لپاره وي نو جائز دې او که همداسې نسیانا وي نو جائز نه دي.

دامام ابو حنیفه رحمه الله او داحمد رحمه الله دلیل:

ددواړو حضراتو په حق کې ډیر زیات دلیلونه دي، اجمالا دباب دلائل ملاحظه کړئ:

۱... دزید بن ارقم رضی الله عنه حدیث: "نزلت (وقوموا لله قانتین) فأمرنا بالسکوت ونهینا عن الکلام" مطلقا په مونځ کې دخبرو نه منع کړي شوي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث ؛ (۱) "فَلَمَّا رَجَعْنَا مِن عِندِ النَّجَاشِي سَلَّمْنَا عَلَيه فَلَم يَرُدَّ عَلَينَا فَقُلنَا يَا رَسُولَ الله كُنَّا نُسَلِّمُ عَلَيكَ فِي الصَّلَاةِ فَتَرُدُّ عَلَينَا فَقَالَ إِنَّ فِي الصَّلَاةِ شُغلًا ".

(۲) " إِنَّ الله قَد يُحدِثُ مِن أَمرِهِ مَا يَشَاءُ وَإِنَّ مِمَّا أَحدَثَ لَا تَكَلَّمُوا فِي الصَّلَاةِ " مطلقا دكلام نه دممانعت والا دا واقعه دحبشي دهجرت نه په واپسئ باندي په مدينه منوره كې مخې ته راغلي وه.

۳.... دمعاويه بن حكم حديث ؛ " إِنَّ هٰذِهِ الصَّلَاةَ لَا يَصلُحُ فِيهَا شَيءٌ مِن كَلَامِ النَّاسِ " دحديث الفاظ ډير په وضاحت سره وايي چې اوس دهيڅ قسمه كلام گنجائش نشته . (امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ومالک رَحِمَهُ اللهُ دليل او دجمهورو طرفنه ددې جواب دراروان باب ترلاندې اوگورئ)

﴿بَابُ مَا اسْتَدَلَّ بِهِ عَلَى أَنَّ كَلَامَ السَّاهِي وَكَلَامَ مَن ظَنَّ التَّمَامَ لَا يُبطِلُ الصَّلَاةَ﴾

دا باب دې په بيان دهغه احاديثو كې چې په هغې باندې دليل نيولې شوې دي چې د سهوه كوونكي خبرې او كلام او د هغه چا خبرې چې د هغې په خپل مانځه باندې د پوره والي يقين وي مو نځ نه باطلوي

﴿۵۵۰﴾ عَن أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّى بِنَا رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِحدَى صَلَاتَيِ العَشِيِّ قَالَ ابنِ سِيرِينَ قَد سَمَّاهَا أَبُو هُرَيرَةَ وَلٰكِن نَسِيتُ أَنَا صَلَّى بِنَا رَكعَتَينِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ إِلَى خَشَبَةٍ مَعرُوضَةٍ فِي المَسجِدِ فَاتَّكَأَ عَلَيهَا كَأَنَّه غَضبَانُ وَوَضَعَ يَدَه اليمنى على اليسرى وَشَبَّك بَينَ أَصَابِعِه وَوَضَعَ خَدَّه الأَيمَنَ عَلَى ظَهرِ كَفِّه اليسرى وَخَرَجَتِ السُّرعَانُ مِن أَبوَابِ المَسجِدِ فَقَالُوا قُصِرَتِ الصَّلَاةُ وَفِي القَومِ أَبُو بَكرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَهَابَا أَن يُكَلِّمَاه وَفِي القَومِ رَجُلٌ فِي يَدَيهِ طُولٌ يُقَالُ لَه ذُو اليَدَينِ قَالَ يَا رَسُولَ الله أَنَسِيتَ أَم قُصِرَتِ الصَّلَاةُ قَالَ لَم أَنسَ وَلَم تُقصَر فَقَالَ أَكَمَا يَقُولُ ذُو اليَدَينِ فَقَالُوا لَعَم فَتَقَدَّمَ فَصَلَّى مَا تَرَكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثلَ سُجُودِهِ أَو أَطوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأسَه وَكَبَّرَ ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مِثلَ سُجُودِهِ أَو أَطوَلَ ثُمَّ رَفَعَ رَأسَه وَكَبَّرَ فَرُبَّمَا سَأَلُوه ثُمَّ سَلَّمَ فَيَقُولُ نُبِّئتُ أَنَّ عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ قَالَ ثُمَّ سَلَّمَ رواه الشيخان.(۱)

قال النيموي إِنَّ هٰذِهِ الرِّوَايَة وَإِن كَانَت فِي الصَّحِيحَينِ لٰكِنَّهَا مُضطَرِبَة بِوُجُوه وَفِي البَابِ أَحَادِيثُ أُخرَى كُلُّهَا لَا تَخلُو عَن نَكَارَة.

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۳ فصل من صلى خمسا او نحوه للمسجد سجدتين ...الخ ، بخاري كتاب الصلوة ج۱ص ۶۹ باب تشبيك الاصابع في المسجد وغيره .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې د يو د دوه ؤ مونځونو نه يو مونځ وکړ ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې ماته حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دغه وخت د مانځه نوم ښودلی ؤ خو ولي ځما نه هير شوي دي مونږ ته ئې دوه رکعته وکړل بيا ئې سلام ؤکړځاوه بيا په مسجد کې يو پروت لرګي ته ؤدريده هغې ته ئې تکيه وکړه ګويا کې هغه په غصه ؤ او هې مبارک لاس ئې په چپ لاس باندي ايښې ؤ او د يو لاس مبارک ګوتي ئې د بل لاس په ګوتو کې ورکړي وي او د مبارک مخ خې طرف ئې د چپ لاس په شا باندي ايخي ؤ او د مسجد د دروازو نه په جلتۍ سره ؤوات نو صحابه کرامو وويل چې مونځ لنډ شو او په خلکو کې حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موجود ؤ او دا دواړه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د خبرو کولو نه وه يريدل او په خلکو کې يو سړي چې د هغه په لاسونو کې څه قدر اوږدوالي ؤ چې هغه ته ذواليدين ويلي شو وويل چې يا رسول الله آيا ستاسي نه هير شوي او که مونځ لنډ شوي دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې نه ځما نه هير شوي دي او نه مونځ لنډ شوي دي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نورو خلکو ته وفرمايل چې خبره همداسي ده لکه چې ذواليدين ئې وائي نو خلکو وويل چې هو نو مخکې شو پاتي مونځ ئې ادا کړو بيا ئې سلام وګرځاوه بيا ئې تکبير ووايه بيا ئې د خپلو نورو سجدو په شان سجده وکړه او يا ئې د هغې نه اوږده سجده وکړه بيا ئې سر مبارک را اوچت کړ او تکبير ئې ووايه بيا ئې تکبير ووايه او د خپلو نورو سجدو په شان ئې سجده وکړه او يا ئې د هغې نه اوږده سجده وکړه بيا ئې سر مبارک را اوچت کړ او تکبير ئې ووايه په زياتره وختونو کې به خلکو د ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ پوښتنه کوله بيا ئې سلام وګرځاوه نو ابن سيرين رَحِمَهُ اللهُ وائي چې ماته خبر راکړي شوي چې عمران بن حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې بيا ئې سلام وګرځاوه . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې دغه روايت اګر چې صحيحينو روايت کړي دي خو ولي دا په ډيرو وجوهو سره مضطرب دي او په باب کې نور احاديث هم شته خو ولي هغه ټول د نظر او کلام نه خالي نه دي.

په مسئلة الباب کې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل:

۱... حديث ذواليدين په کوم کې چې ډير کلام موندلی شوي دي ليکن حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مونځ اعاده نه ده کړي بلکې په همدي مونځ يې بناء کړي او باقي مونځ يې پوره کړي معلومه شوه چې نسيانا کلام مفسد د صلاة نه دي.

۲... قياس: ځنګه چې روژه خوراک څښاک سره نه فاسديږي مونځ هم نه دي فاسديدل پکار.

Maktaba Tul Ishaat.com

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل: نفس حدیث ذوالیدین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، البته هغه دې لره کلام قلیل او اصلاح باندې محمولوي.

حدیث ذوالیدین توجیه عندالحنابله:

حدیث ذوالیدین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ظاهره حنفیه او حنابله ددواړو خلاف دې لیکن حنابلو د کلام في الصلاة دیو خاص شکل استثناء کړې ده لهذا هغه داشکال نه بچ شو، هغه شکل دادې که یو کس که هغه امام وي یا مقتدي په مونځ کې دې خبري اوکړي په داسې حال کې چې دا مونځ کونکي دا اوګڼي چې زما لمونځ پوره شوې دی که هغه په واقع کې پوره شوې هم نه وي نو دا صورت جائزدې او دلته په دې قصه کې همداسې شوي ده. ځکه چې دا خو ظاهره ده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همدا ګمان کولو چې ما مونځ پوره کړو ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایل: "لم انس ولم تقصر" لیکن ذوالیدین هم دا ګمان کولو چې مونځ پوره شو او په همدې ګمان یې دا وویل.

په اصل کې هغه دا ګمان کولو چې روزانه دنزول وحي په احکاماتو کې کمي او زیاتي کیږي نو په ظاهره په مونځ کې قصر شوې دی او ځلور رکعتیز دوه شو خو بیا هم احتیاطا دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه یې پوښتنه اوکړه چې تاسو ته خو به نسیان نه دې شوې.

اوس پاتې احناف، نو دهغه په نزد کلام في الصلاة هیڅ صورت مستثنی نشته.

دحنفیه توجیه او تقریر:

هغه دې جواب ورکړې چې دا واقعه د کلام في الصلاة دنسخ نه مخکې وه، د کلام في الصلاة نسخ دې واقعې نه پس مدینه منوره کې شوې وه دنسخ څو قرائن دادي:

۱... حضرت ذوالیدین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په غزوه بدر کې شهید شوې وو لهذا دا واقعه به له دې نه مخکې وي.

۲... په دې کې مذکور دي چې "ثم قام الى خشبة في مقدم المسجد فوضع يده عليها." دې خشبې نه مراد استوانه حنانه دې کوم چې په دویمه هجري کې دمنبر نبوي دجوړولو نه پس په غزوه بدر نه مخکې دفن کړې شوې وو.

۳... په دې واقعه کې دیر داسې امور صادر شوي کوم چې دشوافعو په نزد هم مفسد صلاة دي لکه دمصلی نه لري کیدل او منبر باندې ختل او کوزیدل کوم چې عمل کثیر دې، همدارنګه دجهت دقبلې نه اوړیدل او په بعضې روایتونو کې دي چې په حجره مبارکه کې تشریف وړې وو لهذا معلومه شوه چې دا واقعه دهغه زمانې وه کوم وخت کې چې په مونځ کې دیر کنجائش وو او عمل کثیر او کلام وغیره تول جائز وو.

Maktaba Tul Ishaat.com

الزامي جواب : دا حديث دچا هم موافق نه دي نه دشافعيو او نه دمالكيو ، ځكه چې شافعيه نسيانا دكلام دجواز قائله دي دا كلام نسيانا چرته وو دا خو عمده وو كما هو ظاهر ، او دمالكيو هم خلاف دي ځكه چې دذواليدين كلام گويا چې داصلاح لمونځ په اراده سره وو ليكن " سرعان الناس " كلام " قصرت الصلاة " خو په دي غرض سره نه وو .

﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى جَوَازِ رَدِّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ فِي الصَّلَاةِ﴾

دا باب دي په بيان د هغه روايتونو كې چې په هغې سره په مانځه كې په اشاره سره د جواب وركولو په جواز باندې دليل نيولي شوي دي

﴿۵۵۱﴾ عَنْ أَبِي الزُّبَيْرِ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَرْسَلَنِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ مُنْطَلِقٌ إِلَى بَنِي الْمُصْطَلِقِ فَأَتَيْتُهُ وَهُوَ يُصَلِّي عَلَى بَعِيرِهِ فَكَلَّمْتُهُ فَقَالَ لِي بِيَدِهِ هٰكَذَا وَأَوْمَأَ زُهَيْرٌ بِيَدِهِ ثُمَّ كَلَّمْتُهُ فَقَالَ لِي هٰكَذَا وَأَوْمَأَ زُهَيْرٌ أَيْضًا بِيَدِهِ نَحْوَ الْأَرْضِ وَأَنَا أَسْمَعُهُ يَقْرَأُ يُومِي بِرَأْسِهِ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ مَا فَعَلْتَ فِي الَّذِي أَرْسَلْتُكَ لَهُ فَإِنَّهُ لَمْ يَمْنَعْنِي أَنْ أُكَلِّمَكَ إِلَّا أَنِّي كُنْتُ أُصَلِّي رواه مسلم .(۱)

ترجمه : دابوالزبير نه روايت دي چې حضرت جابر بن عبدالله رضي الله عنه ويلي دي چې ماته رسول الله صلى الله عليه وسلم پيغام راوليلأه په داسي حال چې هغه بني مصطلق ته روان وُ نو زه ورغلم هغه په اوه باندي مونځ كاوه نو ما د هغه سره خبري وكړې نو ماته هغه د لاس په اشاره داسي وويل او زبير په خپل لاس باندي اشاره وكړه بيا مي ورسره خبري وكړې او ماته ئي داسي وويل او زبير بيا هم په لاس سره ځمكې طرف ته اشاره وكړه او هغه چې قرأت كاوه ما اوريده او هغه په خپل سر مبارک باندي اشاره فرمايله نو كله چې د مانځه نه فارغ شو وي فرمايل د كوم كار د پاره چې ما ليږلي وي څه دي وكړل نو بې شكه شان د خبري دا دي نه أوم منع كړي زه چې تاسي سره خبري وكړم مګر دي خبري چې زه په مانځه كې أوم . د دي حديث روايت مسلم كړې دي .

﴿۵۵۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ لِبِلَالٍ كَيْفَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرُدُّ عَلَيْهِمْ حِينَ كَانُوا يُسَلِّمُونَ عَلَيْهِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ كَانَ يُشِيرُ بِيَدِهِ رواه الترمذي و ابوداود و اسناده صحيح .(۲)

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۰۴ باب تحريم الكلام في الصلوة ...الخ .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۸۵ باب ماجاء في الاشارة في الصلوة ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۱۳۳ باب رد السلام في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابن عمر ويلي دي چې ما حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مانځه كې مسلمانانو ته څنګه د سلام جواب وركاوه چې كله به مسلمانانو په ده باندې سلام واچاوه حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې په مبارک لاس به ئې اشاره كوله د دې حديث روايت ترمذي او ابوداؤد كړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۵۵۳﴾ وَ عَنْه عَنْ صُهيبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَرَرْتُ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يُصَلِّي فَسَلَّمْتُ عَلَيه فَرَدَّ عَلَيَّ اِشَارَةً وَ قَالَ لَا اَعْلَمُ اِلَّا اَنَّه قَالَ اِشَارَةً بِاِصْبَعِه رواه الثلاثة و حسنه الترمذي.(۱)

ترجمه : او د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې حضرت صهيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې تير شوم او هغه مونځ كاوه نو ما په هغه سلام واچوه نو هغه ماته په اشاره سره د سلام جواب راكړ حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي چې زه په هم دي پوه يم چې هغه په مبارکي ګوتي سره اشاره وفرمايله.

﴿۵۵۴﴾ وَ عَنْه قَالَ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَسْجِدَ بَنِي عَمرِو بْنِ عَوفٍ وَهُوَ مَسْجِدُ قُبَا لِيُصَلِّيَ فِيه فَدَخَلَ مَعَه رِجَالٌ مِنَ الْاَنْصَارِ يُسَلِّمُونَ عَلَيه وَ دَخَلَ مَعَهُمْ صُهيبٌ فَسَاَلْتُه كَيفَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ اِذَا سَلَّمَ عَلَيهِمْ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ قَالَ كَانَ يُشِيرُ بِيَدِه .اخرجه الحاكم في المستدرك و قال على شرطهما.(۲)

ترجمه : او حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بني عمرو بن عوف مسجد يعني مسجد قبا ته د مانځه د پاره داخل شو نو د هغه سره د انصارو كسان هم ننوتل هغه ته ئې سلام واچوه او د هغو سره حضرت صهيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم ننوتي وُ ما د صهيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وكړه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې كله په مانځه كې وُ او چا به پرې سلام واچاوه څه به ئې كول حضرت صهيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې په مبارک لاس به ئې اشاره فرمايله. دا حديث حاكم په مستدرک كې خارج كړي دي او ويلي ئې دي چې دا حديث د مسلم او بخاري په شرط باندې دي.

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص۱۳۳ باب رد السلام في الصلوة ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۸۵ باب ماجاء في الاشارة في الصلوة ، نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۷۷ باب رد السلام بالاشارة في الصلوة .

(۲) مستدرك حاكم كتاب الهجرة ج۳ص۱۲ باب استقبال الانصار لرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ واصحابه ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۵۵۵﴾ وَ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِك اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُهَيِّرُ فِي الصَّلَاةِ رواه الجماعة ابوداود و آخرون و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په مانځه کې اشاره کوله. د دې حديث روايت ابوداؤد او نورو محدثينو کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

مسئلة الباب : په اشاره سره په مانځه کې د سلام د جواب ورکولو په باره کې پنځه احاديث ذکر شوي دي او په دې باره کې د ټولو علماؤ اتفاق دي چې په اشاره سره د سلام په جواب باندې مونځ نه فاسديږي خو ولې په کراهت او عدم کراهت کې اختلاف دي.

مذهبي اختلاف : د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او امام احمد بن حنبل رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد په يو روايت کې په اشاره د سلام جواب په غير کراهته جائز دي او د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد مستحب دي.

(۲) مذهب : د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد په مانځه کې به اشاره سره د سلام جواب مکروه دي او په يو روايت کې امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او په يو روايت امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ هم د دې کراهت قائل دي او مراقي الفلاح په اشاره سلام د مانځه په مکروهاتو کې شمار کړي دي او په لسان سره د سلام جواب ورکول په مانځه کې منع دي ځکه چې په لسان سره نطق کول داد کلام الناس نه دي او په کلام الناس سره مونځ فاسديږي.

د جواز ور کوونکو دليلونه : د دې باب (۵۵۱ نه تر ۵۵۵) شماري پوري پنځه واړه روايتونه د جواز ورکوونکو د پاره مستدل دي. د دې باب اولني ۵۵۱ روايت چې ابوزبير د حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کړي په هغې کې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه په حالت کې په اشاري سره د سلام جواب ورکول ذکر کړي شوي دي. او په (۵۵۲) حديث کې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د حضرت بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه په اشاره سره د سلام د جواب په باره کې فتوى وغوښته په جواب کې ئې ورته وويل چې : (کان يشير بيده) يعني نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سلام جواب په اشاره سره ورکاوه. (دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ دليل او دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ جواب راروان باب ترلاندې يې اوګورئ)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۳۶ باب الاشارة في الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى نَسْخِ رَدِّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ فِي الصَّلَاةِ﴾

باب دي په بيان د هغه احاديثو کې چې په هغې سره په مانځه کې په اشاره سره د سلام د جواب دور کولو په نسخه باندې دليل نيولي شوي دي :

﴿۵۵۶﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ أُسَلِّمُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَيَرُدُّ عَلَيَّ فَلَمَّا رَجَعْنَا سَلَّمْتُ عَلَيْهِ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيَّ وَقَالَ إِنَّ فِي الصَّلَاةِ شُغْلًا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما به نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې سلام واچاوه په داسې حال کې چې هغه په مانځه وُ نو ماته به ئې د سلام جواب راکړ خو کله چې مونږ د حبشې نه واپس راغلو ما په هغه باندې سلام واچاوه خو جواب ئې رانه کړ او وې فرمايل چې بې شکه په مانځه کې مشغوليت او مصروفيت دي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

﴿۵۵۷﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَالِي أَرَاكُمْ رَافِعِي أَيْدِيكُمْ كَأَنَّهَا أَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ اُسْكُنُوا فِي الصَّلَاةِ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : حضرت جابر بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته تشريف راوړ نو وي فرمايل چې څه وجه ده چې زه تاسي په داسې حال کې ګورم چې لکه د سرکشه اسونو د لکيو په شان مو لاسونه اوچت کړي دي په مانځه کې ارام اوسئ . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

مسئلة الباب کې د امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ دليل :

د دي باب اولني حديث چې حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کړي دي هغه ويلي دي چې ما به کله په مانځه کې په رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې سلام واچاوه نو هغه به ماته جواب راکاوه خو ولي د حبشې د هجرت نه روسته ئې ماته د سلام جواب نه دي راکړي او فرمايلي ئې دي چې بې شکه په مانځه کې مشغوليت او مصروفيت دي نو دا حديث د دي خبرې پوخ دليل دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سلام جواب په هغه وخت کې ورکاوه چې په مانځه خبرې اترې ممنوع شوې نه وي نو کله چې په مانځه کې خبرې کول ممنوع شوي نو سلام او د سلام جواب په لسان او په اشاره سره هم ممنوع شو .

---

(۱) بخاري کتاب التهجد والنوافل ج۱ص۱۶۲باب لايرد السلام في الصلوة ،مسلم کتاب المساجد ج۱صـ۲۰۳باب تحريم الكلام في الصلوة .
(۲) مسلم کتاب الصلوة ج۱صـ ۱۸۱ باب الامر بالسكون في الصلوة .

Maktaba Tul Ishaat.com

دليل :د حضرت جابر بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ (۵۵۷) حديث هم د احنافو حضراتو مستدل دي په دي حديث شريف کې د اشاري نه ممانعت راغلي او د بدن د اطرافو په سکون او ارام سره پرې حکم شوي دي او دغسې په حديث مبارک کې د خيل شمس الفاظ ذکر شوي چې د دي معني هغه اس ته ويلي شي چې د نا ارامئ په وجه بې واره سا اوباسي او که چرته سړي د اشاري په وجه د کثير عمل مرتکب شي نو د احنافو په دي باندې فتوي کړي ده چې مونځ ئې فاسديږي .

ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ د دليل رد:

۱... داسلام په ابتداء کې هر قسمه سلام او دهغې جواب په مونځ کې جائز وو ليکن روسته بيا منسوخ شو کما في حديث ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

۲... حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او صهيب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وغير لره اشاري سره د سلام جواب ورکول هم دهغې زماني سره متعلق وو .

۳... د جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث کې دلاس اشاره کلام او سلام نه د ممانعت لپاره وه نه د سلام جواب .

﴿بَابُ الْفَتْحِ عَلَى الْإِمَامِ﴾

امام ته د فتح ورکولو باب

﴿۵۵۸﴾ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى صَلَاةً فَقَرَأَ فِيهَا فَلَبِسَ عَلَيْهِ لَمَّا انْصَرَفَ قَالَ لِاُبَيٍّ اَصَلَّيْتَ مَعَنَا قَالَ نَعَمْ قَالَ فَمَا مَنَعَكَ رواه ابوداود والطبراني وَزَادَ اَنْ تَفْتَحَ عَلَيَّ واسناده حسن .(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ اداء کړ نو په هغې کې ئې قرأت وکړ نو په نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قرأت گډوډ شو نو کله چې د مانځه نه فارغ شو نو حضرت اُبي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئې وفرمايل آيا تا مونږ سره مونځ وکړ هغه وويل چې هو هغه وفرمايل چې ته څه شي منع کړي .رواه ابوداؤد والطبراني وزاد ان تفتح علي واسناده صحيح د دي حديث روايت ابوداؤد او طبراني کړي او دا خبره ئې زياته کړي ده ته څه شي منع کړي وي چې ماته دي فتح راکړي وي .

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۳۱ باب الفتح على الامام ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ صـ ۷۰ باب تلقين الامام للصلاة حسن الطبراني في الكبير .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابٌ فِي الْحَدَثِ فِي الصَّلَاةِ﴾

په مانځه کې د بې اودسه کیدو باب

﴿۵۵۹﴾ عَنْ عَلِيِّ ابْنِ طَلْقٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا فَسَا أَحَدُكُمْ فِي الصَّلَاةِ فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ وَلْيُعِدْ صَلَاتَهُ رواه الثلاثة و حسنه الترمذي و ضعفه ابن القطان.(۱)

ترجمه : حضرت علي ابن طلق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې یو ستاسي نه په مانځه کې بې اوازه هوا خارج شي نو د مانځه نه دي وګرځي اودس دي وکړي او مونځ دي راوګرځوي د دي حدیث روایت دریو محدثینو کړي دي او ترمذي حسن ګنړلي دي او ابن قطان ضعیف ګنړلي دي.

﴿۵۶۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ أَصَابَهُ قَيْءٌ أَوْ رُعَافٌ أَوْ قَلْسٌ أَوْ مَذْيٌ فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ لِيَبْنِ عَلَى صَلَاتِهِ وَهُوَ فِي ذٰلِكَ لَا يَتَكَلَّمُ رواه ابن ماجه و صححه الزيلعي وفي اسناده مقال.(۲)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې څوک قې وکړي او یا ئې د پوزو نه وینه لاړه شي او یا اولټې وکړي او یا تري مذي لاړه شي نو راوګدي ګرځي اودس دي وکړي او په هغه مانځه باندي دي بنا وکړي چې هغه په دي کې خبري نه وي کړي. د دي حدیث روایت ابن ماجه کړي او زیلعي صحیح ګنړلي دي او د دي په اسناد کې مقال دي.

﴿۵۶۱﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ إِذَا رَعَفَ انْصَرَفَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ رَجَعَ فَبَنٰى وَلَمْ يَتَكَلَّمْ رواه مالك و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې کله به د ده پوزو نه وینه لاړه نو وُبه ګرځیده او اودس به ئې وکړ بیا به واپس راغي او بنا به ئې وکړه او خبري به ئې نه وي کړي. د دي حدیث روایت مالک رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۴۴ باب اذا احدث في صلوته، ترمذي ابواب الوضاع ج۱ صـ ۲۲۰ باب ماجاء في كراهية البناء في ادبارهن، دارقطني، كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۳ باب الوضوء من الخارج من البدن ...الخ.

(۲) ابن ماجة ابواب الامة الصلوة والسنة فيها صـ ۸۷ باب ماجاء في البناء على الصلوة، نصب الراية ج۱ صـ ۳۸.

(۳) مؤطا امام مالك كتاب الطهارة صـ ۲۷ باب ماجاء في الرعاف والقيء.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۵۶۲﴾ وَ عَنْهُ قَالَ إِذَا رَعُفَ الرَّجُلُ فِي الصَّلَاةِ أَوْ ذَرَعَهُ الْقَيْءُ أَوْ وَجَدَ مَذْيًا فَإِنَّهُ يَنْصَرِفُ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ يَرْجِعُ فَلْيَبْنِ عَلَى مَا بَقِيَ عَلَى مَا مَضَى مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ رواه عبدالرزاق و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي چې کله په مانځه کې د سړي د پوزو نه وينه لاړه شي او يا التي وکړي او يا مذي پيدا کړي نو هغه دي وګرځي او اودس دي وکړي بيا دي راشي نو پاتي مونځ دي په تير شوي مونځ باندي پوره کړي تر څو پوري ئې چې خبري نه وي کړي . د دي حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۵۶۳﴾ وَ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِذَا وَجَدَ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فِي بَطْنِهِ ذَرْأً أَوْ قَيْئًا أَوْ رُعَافًا فَلْيَنْصَرِفْ فَلْيَتَوَضَّأْ ثُمَّ لِيَبْنِ عَلَى صَلَاتِهِ مَا لَمْ يَتَكَلَّمْ رواه الدارقطني و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کله چې پيدا کړي يو ستاسي په خپل مانځه کې په خپله خيټه کې څه شئ محسوس کړي يا قي او يا د پوزو وينه نو وُدي ګرځي او اودس دي وکړي او په تير شوي مونځ باندي دي خپل مونځ بنا کړي تر څو پوري ئې چې خبري نه وي کړي . د دي حديث روايت الدارقطني کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۵۶۴﴾ وَ عَنْهُ قَالَ إِذَا جَلَسَ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ ثُمَّ احْدَثَ فَقَدْ تَمَّ صَلَاتُهُ رواه البيهقي في السنن واسناده حسن .(۳)

ترجمه : او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله يو سړي د تشهد په اندازه کيني بيا بې اودسه شي نو په تحقيق سره پوره شوي دي مونځ د ده . د دي حديث روايت په سنن کې بيهقي کړي او اسناد ئې حسن دي .

دبناء علی الصلاة حکم :بناء علی الصلاة يعني که مونځ کونکي ته په وخت د مونځ کې حدث لاحق شو او اودس کولو نه پس تر کوم ځاي پورې چې يې مونځ کړي دي دهغې اعتبار کولو سره باقي مونځ اوکړي نو ددې په باره کې اختلاف دي .

(۱) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا بناء جائز نه ده ، ليکن دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف دپوزې ماتيدو په صورت کې جائز ده ددښه علاوه ده په نزد هم جائز نه ده .(بداية المجتهد)

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۲ص ۳۳۹ باب الرجل يحدث ثم يرجع قبل ان يتكلم .

(۲) دار قطني كتاب الطهارة ج۱ص ۱۵۶ باب الوضوء من الخارج من البدن ...الخ .

(۳) السنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳ باب تحليل الصلاة بالتسليم .

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد بناء علی الصلاة جائز ده لیکن دسر نه مونځ کول افضل دي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ دلیل : ۱. حدیث دطلق بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "ولیعد صلاته" دمونځ راګرزولو حکم دي. ۲. قیاس : بناء علی الصلاة کې دمونځ په وخت کې تلل راتلل، دقبلې نه انحراف او عمل کثیر لازمیږي کوم چې مفسد صلاة دي، خلاف قیاس کوم صحیح حدیث هم مروي نه دي.

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل :

۱. حدیث دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا مرفوعا "ثُمَّ لِيَبْنِ عَلَى صَلَاتِهِ وَهُوَ فِي ذٰلِكَ لَا يَتَكَلَّمُ" ددې حدیث په سند کې کلام دي. ۲. اثر دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کوم چې صحیح سند سره قولا او عملا مروي دي، په دې باندې دصحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه نکیر هم ثابت دي او خلاف قیاس قول دصحابي دمرفوع حدیث په درجه کې دي.

ائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... حدیث دطلق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې د "ولیعد صلاته" زیاتوالي دمحدثینو په نزد قابل قبول نه دي.

۲... خلاف قیاس قول صحابي لره قیاس باندې په هر صورت کې ترجیح حاصله ده.

﴿بَابٌ فِي الْحَقْنِ﴾

په مانځه کې د تش او ډک اودس ماتي د ټینګولو او بندولو باب :

﴿۵۶۵﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ إِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا صَلَاةَ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ وَلَا هُوَ يُدَافِعُهُ الْأَخْبَثَانِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې ما د حضرت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې فرمایل ئې د طعام د حاضریدو او د تش او د ډک اودس ماتي د بندولو په حال کې مونځ نشته.

﴿۵۶۶﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَرْقَمَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَنْ يَذْهَبَ إِلَى الْخَلَاءِ وَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلْيَبْدَأْ بِالْخَلَاءِ رواه الاربعة و صححه الترمذي.(۲)

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۰۸ باب کراهة الصلوٰة بحضرة الطعام ....الخ.

(۲) ترمذي ابواب الطهارة ج۱ص۳۶ باب ماجاء اذا اقيمت الصلوٰة ووجد احدكم الخلاء ....، ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ص ۱۲ باب يبدأ الرجل وهو حاقن، نسائي کتاب الامامة والجماعة ج۱ص ۱۳۲ باب الحدث اذا حضر الطعام، ابن ماجه ابواب الطهارة ص ۳۸ باب النهي للحاقن ان يصلي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت عبدالله بن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئي کله چې يو ستاسي وغواړي چې بيت الخلاء ته په داسي حال کې لاړ شي چې د مانځه د پاره اقامت وکړي شي نو په بيت الخلاء دي شروع وکړي يعني د قضاء حاجت نه دي ځان فارغ کړي. د دي حديث روايت ځلورو محدثينو کړي دي او ترمذي صحيح ګڼلي دي.

﴿۵۶۷﴾ وَعَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثٌ لَا يَحِلُّ لِاَحَدٍ اَنْ يَفْعَلَهُنَّ لَا يَؤُمُّ رَجُلٌ قَوْمًا فَيَخُصُّ نَفْسَهُ بِالدُّعَاءِ دُونَهُمْ فَاِنْ فَعَلَ فَقَدْ خَانَهُمْ وَلَا يَنْظُرُ فِي قَعْرِ بَيْتٍ قَبْلَ اَنْ يَسْتَاْذِنَ فَاِنْ فَعَلَ فَقَدْ دَخَلَ وَلَا يُصَلِّي وَهُوَ حَقِنٌ حَتّٰى يَتَخَفَّفَ رواه ابوداود و آخرون و قال الترمذي حديث حسن.[1]

ترجمه : حضرت ثوبان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي دري شيان دي چې هيڅ اته ئي کول روا نه دي قوم ته دي داسي يو سړي امامت نه کوي چې خاص خپل ځان ته دعاء کوي او قوم ته دعاء نه کوي او که داسي وکړي نو قوم سره ئي خيانت وکړ او د اجازت نه مخکې دي د کور د انګړدننه نه ګوري او که داسي ئي وکړل نو ګويا کې ورننوتي دي او مونځ دي نه کوي په داسي حال کې چې هغه تش او يا ډک اود س ماتي بندوي تر څو پورې چې سپک او خالي شي. د دي حديث روايت ابوداؤد او نورو محدثينو کړي دي او ترمذي ويلي دي چې حديث حسن دي.

مسئلة الباب : ددې بحث "باب ترک الجماعة لعذر" لاندې تيرشوی دی.

قوله "لاصلاة بحضرة الطعام" يعني بهتره نه ده ځکه چې ددښه په مونځ کې دتنه يواځې والې او خشوع او خضوع نه پاتې کيږي مطلقا د مونځ نفي نه ده مراد.

﴿بَابٌ فِي الصَّلَاةِ بِحَضْرَةِ الطَّعَامِ﴾

د طعام د حاضريدو په وخت کې د مونځ کولو باب

﴿۵۶۸﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا وُضِعَ عَشَاءُ اَحَدِكُمْ وَاُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَاُوا بِالْعَشَاءِ وَلَا يَعْجَلْ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْهُ رواه الشيخان.[2]

---

(۱) ابوداؤد کتاب الطهارة ج۱ ص۱۲ باب ايصلي الرجل وهو حاقن، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص۸۲ باب ماجاء في كراهية ان يخص الامام نفسه

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ ص ۹۲ باب اذا حضر الطعام واقيمت الصلوة ....الخ ، مسلم كتاب المساجد ج۱ ص ۲۰۸ باب كراهة الصلوة بحضرة الطعام ... الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې يو ستاسي ته د شپې طعام کېښودي شي او د مانځه اقامت وکړي شي نو اول طعام وخوړئ جلتي مه کوئ تر هغې پورې چې د طعام نه فارغ شي. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۵۶۹﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّه قَالَ اِذَا وُضِعَ الْعَشَاءُ وَ اُقِيْمَتِ الصَّلَاةُ فَابْدَءُ وا بِالْعَشَاءِ اخرجه الشيخان.(۱)

ترجمه : د ام المؤمنين حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي: چې کله طعام کېښودي شي او د مانځه اقامت وکړي شي نو مخکې ډوډئ وخوړئ دا حديث شيخينو خارج کړي دي.

مسئلة الباب: ددې بحث "باب ترک الجماعة لعذر" لاندې تيرشوې دی.

﴿بَابٌ مَا عَلَى الْاِمَامِ﴾

دا باب دي چې په امام باندې څه لازم دي

﴿۵۷۰﴾ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِذَا صَلَّى اَحَدُكُمْ لِلنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَاِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالسَّقِيمَ وَالْكَبِيرَ وَاِذَا صَلَّى اَحَدُكُمْ لِنَفْسِهِ فَلْيُطَوِّلْ مَا شَاءَ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې يو ستاسي خلکو ته مونځ کوي نو په مانځه کې دي تخفيف کوئ ځکه چې په دې کې کمزوري خلک وي په دې کې به بيماران وي او په دې کې بوډاګان وي او کله چې يو ستاسي نه يواځې مونځ کوي نو اوږد دي ئې کړي چې څومره ئې خوښه وي. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۵۷۱﴾ وَ عَنْ اَبِي مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلاً قَالَ وَاللهِ يَارَسُوْلَ اللهِ اِنِّي لَاُتَاَخِّرُ عَنْ صَلَاةِ الْغَدَاةِ مِنْ اَجْلِ فُلَانٍ مِمَّا يُطِيلُ بِنَا فَمَا رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَوْعِظَةٍ اَشَدَّ غَضَبًا مِنْه يَوْمَئِذٍ ثُمَّ قَالَ اِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِينَ فَاَيُّكُمْ مَا صَلَّى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَاِنَّ فِيهِمُ الضَّعِيفَ وَالْكَبِيرَ وَذَا الْحَاجَةِ رواه

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۲ باب اذا حضر الطعام واقيمت الصلوة، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۰۸ باب كراهة الصلوة بحضرة الطعام ...الخ.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۷ باب تخفيف الامام في القيام ...الخ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۸ باب امر الائمة بتخفيف الصلوة في تمام.

Maktaba Tul Ishaat.com

الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت ابي مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شكه يو سړي ويلي دي په الله جل شانه مي دي قسم وي اي د الله جل شانه رسوله چې زه د فلاني په وجه د سهر د مانځه نه روسته كيږم ځكه چې هغه مونږ نه اوږد مونځ كوي نو نه وُ ليدلي ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هيڅ يوه موعظه كې چې ډير زيات په غصه وي د ده نه په دغه ورځ بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې په تحقيق ځيني ستاسي نه داسي دي چې خلک په نفرت كې اچوي كوم يو كس چې ستاسي نه خلكو ته مونځ كوي نو اسان مونځ دي كوي بې شكه په دوي كې كمزوري شته بود اګان شته حاجت مند خلک شته. دا حديث شيخينو روايت كړي دي.

﴿۵۷۲﴾ وَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَا صَلَّيْتُ وَرَاءَ إِمَامٍ قَطُّ أَخَفَّ وَلاَ أَتَمَّ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَإِنْ كَانَ لَيَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَيُخَفِّفُ مَخَافَةَ أَنْ تُفْتَنَ أُمُّهُ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي ما د نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اسان او مكمل مونځ هيڅ كله په هيڅ يو امام پسې نه دي كړي او كله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د معصوم جړا واوريده نو اسان او زر زر به ئې مونځ كاوه د دي ويرې نه چې مور به ئې په ازمائش او تكليف كې پريوزي. د دي حديث روايت شيخينو كړي دي.

﴿۵۷۳﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنِّي لَأَقُومُ فِي الصَّلاَةِ أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ فِي صَلاَتِي كَرَاهِيَةَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمِّهِ رواه البخاري.(۳)

ترجمه : د حضرت ابي قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې په تحقيق زه په مانځه وُدريږم غواړم چې په مانځه كې اوږد قرأت وُ لولم نو چې زه د معصوم اواز واورم نو تيريلاُم په مانځه كې يعني مختصر مونځ كوم دا مي نه ده خوښه چې مور ئې په تكليف كې كړم. د دي حديث روايت بخاري كړي دي.

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۹۷ باب تخليف الامام في القيام ...الخ ، مسلم كتاب الاذان ج۱ صـ ۱۸۸ باب امر الائمة بتخليف الصلوة في تمام.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۹۸ باب من احف الصلوة عند بكاء الصبي ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۸۸ باب امر الائمة بتخليف الصلوة في تمام.

(۳) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۹۸ باب من خفف الصلوة عند بكاء الصبي

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۵۷۴﴾ وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ آخِرُ مَا عَهِدَ إِلَيَّ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَمَمْتُ قَوْمًا فَأَخِفَّ بِهِمُ الصَّلَاةَ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت عثمان ابن ابي العاص رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې اخرني عهد او وعده چې کومه ما سره رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کړي ده دا ده چې کله زه کوم قوم ته مونځ کوم نو هغو ته به اسان مختصر مونځ کوم دا حديث مسلم روايت کړي دي.

﴿۵۷۵﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِالتَّخْفِيفِ وَيَؤُمُّنَا بِالصَّافَّاتِ رواه النسائي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مونږ د اسان او مختصر مونځ حکم کاوه او په خپله به ئې مونږ ته د صافات په سورت مونځ کاوه. د دي حديث روايت نسائي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

حديث د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د دوو جملو په مينځ کې تطبيق:

حديث د ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په اولني جمله "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَأْمُرُ بِالتَّخْفِيفِ" کې امام ته دمختصر قرأت کولو حکم کړې شوې دی او په آخري جمله کې "ويؤمنا بالصافات" کې پخپله حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سورة صافات په شان داوږد سورت لوستلو ذکر دې نو علماؤ په دې طور باندې تطبيق بيان کړو چې په اصل کې دا د حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خصوصيت وو چې په کم وخت کې نهايت اطمينان سره دير آيتونه په دې طور باندې لوستل چې چاته به ستړي والې او بوج نه محسوسيدو لهذا د تخفيف اصل يا هم حاصليدو.

﴿بَابُ مَا عَلَى الْمَأْمُومِ مِنَ الْمُتَابَعَةِ﴾

په مقتدي باندې د امام د تابعدارئ باب

﴿۵۷۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَمَا يَخْشَى أَحَدُكُمْ إِذَا رَفَعَ رَأْسَهُ قَبْلَ

---

(۱) مسلم كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۸۸ باب امر الائمة بتخفيف الصلوة في تمام.

(۲) نسائي كتاب الامامة والجماعة باب القراءة في الصبح بالصافات.

Maktaba-Tul-Ishaat.com

الإمَامِ اَنْ يَجْعَلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ اَوْ يَجْعَلَ اللهُ صُوْرَتَهُ صُوْرَةَ حِمَارٍ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې آيا نه ويريږي يو ستاسي چې كله د امام نه مخكې سر پورته كوي د دي خبرې نه چې وګرځوي الله جل شانه سر د ده په شان د سر د خر او يا وګرځوي الله جل شانه شكل د ده په شان د شكل د خر . د دي حديث روايت جماعت كړي دي .

﴿۵۷۷﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ يَزِيْدَ قَالَ حَدَّثَنِي الْبَرَاءُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ هُوَ غَيْرُ كَذُوْبٍ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ لَمْ يَحْنُ اَحَدٌ مِنَّا ظَهْرَهُ حَتّٰى يَقَعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَاجِدًا ثُمَّ نَقَعُ سُجُوْدًا بَعْدَهُ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : د عبدالله بن يزيد نه روايت هغه ويلي دي چې ماته حضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث بيان كړي دي او هغه ريښتني دي ويلي ئې دي چې كله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سمع الله لمن حمده وويله زمونږ يو كس به هم خپله شانه كږوله تر څو پورې به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجدي ته نه وُ تلي بيا به د دي نه روسته مونږ په سجده پريوتو . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

﴿۵۷۸﴾ وَ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَوْمٍ فَنَسَّا قَضَى الصَّلَاةَ اَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهٖ فَقَالَ اَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ اِمَامُكُمْ فَلَا تَسْبِقُوْنِيْ بِالرُّكُوْعِ وَ لَا بِالسُّجُوْدِ وَ لَا بِالْقِيَامِ وَلَا بِالْاِنْصِرَافِ فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ اَمَامِيْ وَمِنْ خَلْفِيْ رواه مسلم .(۳)

ترجمه : حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ته يوه ورځ مونځ وكړ كله ئې چې مونځ وكړ مونږ طرف ته متوجه شو نو وي فرمايل اي خلكو زه ستاسي امام يم زمانه مخكې ركوع ته سجدي ته سلام او قيام ته مه ځئ بې شكه زه تاسي د خپل ځانه مخكې او روسته وينم . د دي حديث روايت مسلم كړي دي .

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۶ باب اثم من رفع رأسه قبل الامام ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۱ باب تحريم سبق الامام بركوع ...الخ ، نسائي كتاب الامامة والجماعة ج۱ص ۱۳۲ باب مبادرة الامام ، ترمذي ابواب ما يتعلق بالصلوة ج۱ص ۱۲۹ باب ماجاء في التشديد في الذي يرفع رأسه قبل الامام ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۹۱ باب التشديد في من يرفع قبل الامام ...الخ ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات والسنة فيها ص ۶۹ باب النهي ان يسبق الامام بالركوع والسجود ، مسند احمد ج۲ص ۴۶۹ .

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۶ باب متى يسجد من خلف الامام ، مسلم كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۹ باب متابعة الامام والعمل بعده .

(۳) مسلم كتاب الصلوة ج۱ص باب تحريم سبق الامام بركوع ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

دمونځ په ارکانو کې دامام دمتابعت تفسیر

دباب په اولني حدیث او آخري روایت کې دتقدم علی الامام ممانعت دي او په دویم روایت کې تأخر عن الامام ثبوت دي.

" تقدم علی الامام " یعنې په یو رکن کې دامام نه مخکې کیدل ، په تکبیر تحریمه کې په اتفاق دائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ سره مفسد صلاة دي ، او په سلام کې تقدم علی الامام صرف دائمه ثلاثو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مفسد دي دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد مفسد نه دي بلکې مکروه دي ، او په باقي ارکانو کې تقدم علی الامام دائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مفسد نه دي بلکې مکروه تحریمي دي . دویمه مسئله یعنې تأخر عن الامام کې اختلاف دي :

(۱) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې دامام اتباع په ارکانو کې علی وجه المعاقبة کیدل پکار دي یعنې اول امام او وروسته بیا مقتدي دي دغه رکن ادا کړي.

(۲) امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې په ټولو ارکانو کې اتباع علی وجه المقارنة وي.

(۳) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد تحریمه وتسلیمه کې خو تأخر عن الامام منعین دي او په باقي ارکانو کې دده دوه قوله دي افضلیت مقارنه او افضلیت تأخر.

بهرحال ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ تأخر ته په عموم باندې ترجیح ورکوي لیکن احناف مقارنه ته.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دلیل : حدیث دبراء رَحِمَهُ اللهُ کوم کې چې دي چې تر څو پورې چې به حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجدې ته نه وو رسیدلې مونږ نه به څوک هم درکوع نه نه اوچتیدو یعنې حد درجه به یې تأخر عن الامام کولو.

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل : حدیث مشهور " اذا رکع فارکعوا واذا سجد فاسجدوا " دي فاء دتعقیب بلا مهلت لپاره دي او دامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ مراد هم دمقارنت نه همدغه دي چې امام شروع کولو پسې متصل مقتدي دې هم فورا شروع کړي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ ددلیل جواب :

۱... حدیث "اذا رکع فارکعوا " قولي حدیث دي لهذا دصحابه کرامو فعلي حدیث باندې به ورته ترجیح حاصله وي.

۲... دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دعمل توجیه داده چې په اصل کې حکم خو هم دمقارنت وو لیکن په اخیره زمانه کې چې کله دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حرکت وانتقال من رکن الی آخر کې بطوء (اودریدل) راغلل ، هغه سرعت پاتې نشو کوم چې مخکې وو او بعضې ځوانان صحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ خپل تیزي دوجې نه دقومي نه سجده کې به دامام نه مخکې تلل (یا درسیدلو خطره پیدا شوه) نو په دې باندې

Maktaba Tul Ishaat.com

حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبرداري اوفرمايلو ، ددې تنبيه نه پس دا خلک ويريدل او ډير زيات احتياط يې شروع کړو او ترڅو پورې چې به امام سجدې ته نه وو رسيدلي تر هغې پورې به په قومه کې وو ، داده دمعاقبه وجه ، باقي دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دطرفنه دا حکم نه وو .(الدر المنضود)

﴿اَبْوَابُ صَلَاةِ الْوِتْرِ﴾

﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهٖ عَلٰى وُجُوْبِ صَلَاةِ الْوِتْرِ﴾

دوترو د مانځه بابونه

باب دې په بيان د هغه روايتونو کې چې دوترو د مانځه په واجبيدو باندې پرې استدلال شوي

﴿۵۷۹﴾ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اجْعَلُوْا آخِرَ صَلَاتِكُمْ بِاللَّيْلِ وِتْرًا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي د خپلې شپې اخري مونځ وتر وګرځوئ . د دې حديث روايت شيخينو کړې دي .

﴿۵۸۰﴾ وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ بَادِرُوا الصُّبْحَ بِالْوِتْرِ رواه مسلم .(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د صبا د ختو نه مخکې په جلۍ سره وتر مونځ وکړئ . د دې حديث روايت مسلم کړې دي .

﴿۵۸۱﴾ وَعَنْ اَبِيْ سَعِيْدِ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَوْتِرُوْا قَبْلَ اَنْ تُصْبِحُوا رواه الجماعة الا البخاري .(۳)

ترجمه : د حضرت ابي سعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د صباح کيدو نه مخکې وتر وکړئ . د دې حديث روايت جماعت کړې دي مګر بخاري نې

---

(۱) بخاري ابواب الوتر ج۱ــ ۱۳۶ باب ليجعل اخر صلوته وتراً ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ــ ۲۵۷ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ــ ۲۵۷ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

(۳) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ــ ۲۵۷ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ترمذي ابواب الصلوة الوتر ج۱ــ ۱۰۷ باب ما جاء في مبادرة الصبح بالوتر ، نسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار ج۱ــ ۲۴۷ باب الامر بالوتر قبل الصبح ، ابن ماجة ابواب الوتر ص ۸۴ باب من نام عن وتر او نسيها ، مسند احمد ج۳ــ ۱۳ ، مستدرك حاكم كتاب الوتر ج۱ــ ۱۰۳ .

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت نه دي کړي.

﴿۵۸۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ خَافَ أَنْ لَا يَقُومَ مِنْ آخِرِ اللَّيْلِ فَلْيُوتِرْ أَوَّلَهُ وَمَنْ طَمِعَ أَنْ يَقُومَ آخِرَهُ فَلْيُوتِرْ آخِرَ اللَّيْلِ فَإِنَّ صَلَاةَ آخِرِ اللَّيْلِ مَشْهُودَةٌ وَذَلِكَ أَفْضَلُ

رواه مسلم.(۱)

ترجمه: حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې څوک ویریږي چې په اخره شپه کې نشي پاڅیدي نو د شپې په اوله برخه کې دي وتر مونځ وکړي او څوک چې د اخري شپې د پاڅیدو طمع لري نو د شپې په اخره حصه کې دي د وترو مونځ وکړي ځکه چې د شپې د اخري برخي مونځ د ملائکو د حاضریدو وخت دي او دا بهتر دي. د دي حدیث روایت مسلم کړي دي.

﴿۵۸۴﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا الْوِتْرُ حَقٌّ فَمَنْ لَمْ يُوتِرْ فَلَيْسَ مِنَّا رواه ابوداود واسناده حسن.(۲)

ترجمه: حضرت بریده رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي دي چې فرمایل به ئې چې وتر حق واجب دي څوک چې وتر نه کوي هغه زمونږ نه نه دي. وتر واجب دي څوک وتر نه کوي هغه زمونږ نه نه دي. وتر واجب دي څوک چې وتر نه کوي هغه زمونږ نه نه دي. د دي حدیث روایت ابوداؤد کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۵۸۵﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ اللهَ تَعَالَى زَادَكُمْ صَلَاةً وَهِيَ الْوِتْرُ رواه الطبراني في مسند الشاميين وقال الحافظ في الدراية بأسناد حسن.(۳)

ترجمه: حضرت ابي سعید خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې بې شکه الله جل شانه په تاسي باندي یو مونځ زیات کړي دي او هغه وتر دي. د دي حدیث روایت د شامیانو په مسند کې طبراني کړي دي او حافظ په درایه کې ویلي دي چې اسناد ئې حسن دي. یا په حسن اسناد سره نقل شوي دي.

---

(۱) مسلم کتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۸ باب صلوة الليل وعدد ...الخ.

(۲) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۲۰۱ باب في من لم يوتر.

(۳) الدراية كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۹ باب صلوة الوتر نقلا عن المسند الشامين للطبراني

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۵۸۵﴾ وَ عَنْ اَبِي تَمِيمٍ الْجَيْشَانِي اَنَّ عَمْرَو بْنَ الْعَاصِ خَطَبَ النَّاسَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ اِنَّ اَبَا بَصْرَةَ حَدَّثَنِي اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ اللّٰهَ زَادَكُمْ صَلَاةً وَهِيَ الْوِتْرُ فَصَلُّوهَا فِيمَا بَيْنَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ اِلَى صَلَاةِ الْفَجْرِ قَالَ اَبُوتَمِيمٍ فَاَخَذَ بِيَدِي اَبُوذَرٍ فَسَارَ فِي الْمَسْجِدِ اِلَى اَبِي بَصْرَةَ فَقَالَ لَهُ اَنْتَ سَمِعْتَهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا قَالَ عَمْرٌو قَالَ اَبُوبَصْرَةَ اَنَا سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

رواه احمد والحاكم والطبراني واسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د ابي تميم جيشاني نه روايت دي چې په تحقيق عمرو بن العاص د جمعې په ورځ خلکو ته خطبه وويله نو وي ويل چې بې شكه ابو بصره ماته حديث بيان كړي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې الله جل شانه په تاسو باندې يو مونځ زيات كړي دي او هغه وتر دي نو دا مونځ د ماسختن او د سهر تر مونځ كوئ ابو تميم ويلي دي چې ابوذر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ زه د لاسه ونيوم نو په مسجد كې ابو بصره ته ورغي نو ورته وي ويل چې تا دا حديث د رسول اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايلي ئې هغه څه چې عمرو ويې دي ابو بصره وويل چې ما دا حديث د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي. د دې حديث روايت احمد ، حاكم او طبراني كړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۵۸۶﴾ وَ عَنْ اَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ نَامَ عَنْ وِتْرِهِ اَوْ نَسِيَهُ فَلْيُصَلِّهِ اِذَا اَصْبَحَ اَوْ ذَكَرَهُ رواه الدارقطني و آخرون واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت ابوسعيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوك چې د خپل وتر مانځه نه وُده شي او يائي هيرشي او ادائي نه كړي نو اداء دي ئې كړي كله چې صبا شي او يا ورياد شي. دا حديث دار قطني او نورو روايت كړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

دوتر دمونځ حكم : (۱) دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ او دصاحبينو رَحِمَهُمَا اللّٰهُ په نزد صرف سنت دي . (۲) دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد واجب دي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ او دصاحبينو دليل :۱. دعلي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ حديث : "الوتر ليس بحتم كهيئة الصلاة المكتوبة ولكن سنة سنها رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. (ترمذي)

---

(۱) مسند احمد ج۴ صـ ۷ ، مستدرك حاكم ج۳صـ ۵۹۳ ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲صـ ۲۳۹ باب ماجاء في الوتر نقلا عن الطبراني في الكبير .

(۲) دار قطني كتاب الوتر ج۲صـ ۲۲ باب من نام عن وترهِ او نسيه .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲. داذان او اقامت نه مشروع کیدل هم په سنیت باندې دال دي.

دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل : دباب ټول حدیثونه ، مثلا : ۱... حدیث بریده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا".

۲. حدیث دابوسعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "أوتروا قبل أن تصبحوا" امر لپاره دوجوب دي.

۳. حدیث دابوسعید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ایضا : "من نام عن وتره أو نسیه فلیصله اذا أصبح أو ذکره" دوتر دقضاء حکم دي حال دا چې قضاء صرف دواجباتو وي.

۴. حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وتر و باندې مواظبت فرمایل کوم چې دټولو په نزد مسلم دي.

۵. تارک وتر باندې نکیر کول "الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منا".

۶. دصحابه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دتابعینو په سفر او حضر کې ددې اهتمام کول.

ائمه ثلاثه او دصاحبینو ددلیل جواب :

۱. دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث مذکور کې دفرضیت نفي کیږي نه دوجوب "کهیئة الصلاة المکتوبة" نه همدا مطلب دي او "سنة سنها رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ" نه ددې ماخذ یعنې ددلیل بیان دي.

۲. اذان او اقامت دفرض اعتقادي لپاره وي او وتر فرض عمل (واجب) دي.

﴿بَابُ الْوِتْرِ بِخَمْسٍ أَوْ أَكْثَرَ مِن ذٰلِك﴾

دا باب په دې باره کې دي چې وتر پنځه رکعته دي او یا د پنځو نه زیات دي

﴿۵۸۷﴾ عن سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ ثُمَّ جَاءَ فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ نَامَ ثُمَّ قَامَ فَجِئْتُ فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ فَصَلَّى خَمْسَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ نَامَ حَتّٰى سَمِعْتُ غَطِيطَهُ أَوْ قَالَ خَطِيطَهُ ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلَاةِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : د سعید بن جبیر نه روایت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې زما د خپلې ترور حضرت میموني رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کره شپه وه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسختن مونځ وفرمایه بیا راغې نو څلور رکعته مونځ ئې وفرمایه بیا وُده شو بیا مانځه ته پاڅیده نو زه راغلم د نبي کریم

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ ص۹۷ باب ما يذكر في صفة الليل...

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې طرف ته زُدريدم نو زه ئې خپل نبي طرف ته راواړولم نو پنځه رکعته مونځ ئې وکړ يا ئې دوه رکعته مونځ وکړ بيا وُدَه شو تر دي پوري چې مانې خرار واوريده غطيط او خطيط په يوه معنى باندې دي. بيا ئې مانځه ته تشريف راوړ. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۵۸۸﴾ وَ عَنْه عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى صَلّٰى ثَمَانَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ اَوْتَرَ بِخَمْسٍ وَلَمْ يَجْلِسْ بَيْنَهُنَّ رواه ابوداود و في اسناده لين. (۱)

ترجمه: د سعيد بن جبير نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي نو هغه دوه دوه رکعته مونځ وکړ تر دي پوري چې اته رکعته ئې وکړه بيا ئې پنځه رکعته وتر وکړه او د دي تر منځ کينه ناست. د دي حديث روايت ابوداؤد کړي او په اسناد کې ئې ضعف دي.

﴿۵۸۹﴾ وَ عَنْ هِشَامٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي مِنَ اللَّيْلِ ثَلَاثَ عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوْتِرُ مِنْ ذٰلِكَ بِخَمْسٍ لَا يَجْلِسُ فِي شَيْءٍ اِلَّا فِي آخِرِهَا رواه مسلم. (۲)

ترجمه: د هشام نه روايت دي ده د خپل پلار نه روايت کړي دي چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د شپې ديارلس رکعته مونځ وکړه د دي نه ئې پنځه رکعته وتر وکړل او د دي پنځو رکعتونو په يو شي کې هم کينه ناست مګر خو په اخر رکعت کې ناست. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۵۹۰﴾ وَ عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ قَالَ اِنْطَلَقْتُ اِلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا فَقُلْتُ يَا اُمَّ الْمُؤْمِنِيْنَ اَلْبِئِنِي عَنْ وِتْرِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ كُنَّا نُعِدُّ لَه سِوَاكَه وَ طُهُوْرَه فَيَبْعَثُه اللهُ مَا شَاءَ اَنْ يَبْعَثَه مِنَ اللَّيْلِ فَيَسْتَاكُ وَ يَتَوَضَّأُ وَ يُصَلِّي تِسْعَ رَكَعَاتٍ لَا يَجْلِسُ فِيهَا اِلَّا فِي الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللهَ وَ يَحْمَدُه وَ يَدْعُوه ثُمَّ يَنْهَضُ وَلَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُوْمُ فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللهَ وَ يَحْمَدُه وَ يَدْعُوه ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيْمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ وَ هُوَ قَاعِدٌ فَتِلْكَ اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً يَا بُنَيَّ فَلَمَّا اَسَنَّ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَخَذَ اللَّحْمَ اَوْتَرَ بِسَبْعٍ وَ صَنَعَ فِي الرَّكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَنِيْعِه الْاَوَّلِ فَتِلْكَ تِسْعٌ يَا بُنَيَّ وَ كَانَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا صَلّٰى صَلَاةً اَحَبَّ اَنْ يُدَاوِمَ عَلَيْهَا وَ كَانَ اِذَا غَلَبَه نَوْمٌ اَوْ وَجَعٌ عَنْ قِيَامٍ

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة باب في صلوة الليل.

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج ۱ صـ ۲۵۴ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

Maktaba Tul Ishaat.com

اللَّيل صَلّى مِنَ النَّهارِ ثِلثَي عَشرَة وَلا اَعلَمُ نَبِي الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَرَأَ القُرآنَ كُلَّه فِي لَيلة وَلا صَلّى لَيلة إِلَى الصُّبحِ وَلا صَامَ شَهرًا كامِلاً غَيرَ رَمَضَانَ رواه مسلم و احمد و ابوداود والنسائي.(۱)

ترجمه : سعد بن هشام ويلي دي چې زه حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنهَا ته ورغلم نو ورته ؤمي ويل چې اي د مؤمنانو موري ماته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د وترو په باره کې خبر راکړه نو هغې وويل چې مونږ به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د پاره د ده مسواک او د ده د پاره د اوداسه اوبه برابرولي نو الله جل شانه به دي د شپې راپاڅاوه کله به چې الله جل شانه د ده د راپاڅولو اراده وفرمايله نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به مسواک استعمال کړ او اودس به ئې وکړ او نه رکعته مونځ به ئې وکړ په دي کې به نه کيناسته مګر په اتم رکعت به کيناسته د الله جل شانه ذکر به ئې وکړ او د هغه حمد او ثنا به ئې وويله او د الله جل شانه نه به ئې دعاء وغوښته بيا به پاڅيده سلام به ئې نه ګرځاوه بيا به ؤدريده نهم رکعت به ئې وکړ بيا به کيناسته د الله جل شانه ذکر به ئې وکړ او د الله جل شانه ثناء او حمد به ئې ووايه او د الله جل شانه نه به ئې دعاء وغوښته بيا به ئې سلام واړاوه مونږ ته به ئې سلام راواوړاوه د سلام نه روسته به ئې بيا دوه رکعته مونځ په داسي حال کې وکړ چې هغه به ناست ؤ اي بچويه دا يوولس رکعته دي نو کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د ډير عمر والا شو بدن مبارک ئې غوهن شو نو اوه رکعته وتر به ئې کول په دوه ؤ رکعتونو کې به ئې هغه څه کول کوم څه به ئې چې په اول کې کول نو دا نه (۹) رکعته شو اي بچويه کله به چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مونځ کاوه نو دا به ئې خوخه وه چې هميش والي پري وکړي او کله به چې په ده باندي د تهجد د مونځ کولو نه خوب غالب شو او يا به بيماري ورپېښه شوه نو د ورځې به ئې دولس رکعته مونځ کاوه ماته علم نشته چې د الله جل شانه نبي به ټول قرآن کريم په يوه شپه کې لوستله او نه به ئې ټوله شپه ترصبا پوري مونځ کاوه او نه به ئې د رمضان نه په غير پوره مياشت روژه نيوله. د دي حديث روايت مسلم احمد، ابوداؤد او نسائي کړي دي.

﴿۵۹۱﴾ و عن أَبِي سَلَمَةَ وَ عَبدِالرَّحمٰنِ الأَعرَجِ عَن أَبِي هرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَن رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُوتِرُوا بِثَلَاثٍ أَوتِرُوا بِخَمسٍ أَو بِسَبعٍ وَلَا تُشَبِّهُوا بِصَلَاةِ المَغرِبِ رواه الدارقطني والحاكم

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۶ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ، مسند احمد ج۶ ص ۵۲، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۰ باب في صلوة الليل، نسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار ج۱ص ۲۵۰ باب كيف الوتر بسبع.

Maktaba Tul Ishaat.com

والبيهقي و قال الحافظ اسناده علي شرط الشيخين .(۱)

ترجمه : ابي سلمه او عبدالرحمن اعرج د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كړي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې دري ركعته وتر مه كوئ پنځه ركعته وتر كوئ اويا اوه ركعته وتر كوئ او د مانښام د مانځه سره ئې مشابه او يو شان كوئ مه . د دي حديث روايت الدار قطني ، اوالحاكم او بيهقي كړي دي او حافظ ويلي دي چې اسناد ئې د شيخينو په شرط باندي دي .

﴿۵۹۲﴾ وَ عَنْ عِرَاكِ بْنِ مَالِكٍ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُوْتِرُوْا بِثَلَاثٍ تُشَبِّهُوْا بِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ وَلٰكِنْ اَوْتِرُوْا بِخَمْسٍ اَوْ بِسَبْعٍ اَوْ بِتِسْعٍ اَوْ بِاِحْدٰى عَشْرَةَ اَوْ اَكْثَرَ مِنْ ذٰلِكَ رواه محمد بن نصر المروزي وابن حبان والحاكم و قال العراقي اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د عراك ابن مالك نه روايت دي چې حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي دري ركعته وتر مه كوئ چې د مانښام د مانځه سره ئې مشابه كوئ لكن پنځه ركعته وتر كوئ يا اوه ركعته وتر كوي او يا نه ركعته وتر كوئ او يا يوولس ركعته وتر كوئ اويا د دي نه زيات كوئ . د دي حديث روايت محمد بن نصر مروزي ابن حبان حاكم كړي دي او عراقي ويلي دي چې اسناد ئې صحيح دي .

﴿۵۹۳﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اَلْوِتْرُ سَبْعٌ اَوْ خَمْسٌ وَلَا اُحِبُّ ثَلَاثًا بُتَيْرَاءَ رواه محمد بن نصر والطحاوي و قال العراقي اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې وتر اوه دي او يا پنځه دي او زه دري ناقص نه خوهوم . د دي حديث روايت محمد بن نصر ، او طحاوي كړي دي او عراقي ويلي دي چې اسناد ئې صحيح دي .

﴿۵۹۴﴾ وَ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ اَلْوِتْرُ سَبْعٌ اَوْ خَمْسٌ وَاِنِّيْ لَاَكْرَهُ اَنْ يَكُوْنَ ثَلَاثًا بُتَيْرَاءَ رواه محمد بن نصر والطحاوي و قال العراقي اسناده صحيح . قَالَ الْهَيْثَمِيُّ اَنَّ الْوِتْرَ بِثَلَاثٍ قَدْ ثَبَتَ عَنِ النَّبِيِّ

---

(۱) دار قطني كتاب الوتر ج۲صـ ۲۴ باب تشبهوا الوتر بصلوة المغرب ، مستدرك حاكم كتاب الوتر ج۱صـ ۳۰۴ باب الوتر حق ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳صـ ۳۱ باب من اوتر بثلاث موصولات ...الخ . الدراية ، كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۹۰ باب صلوة الوتر .

(۲) قيام الليل كتاب الوتر صـ ۲۱۵ باب الوتر بثلاث عن الصحابة والتابعين ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج ۵صـ ۶۸ رقم الحديث ۲۴۲۰ ، مستدرك حاكم كتاب الوتر صـ ۳۰۴ باب الوتر حق .

(۳) قيام الليل كتاب الوتر صـ ۲۱۵ باب الوتر بثلاث عن الصحابة ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۹۹ باب الوتر .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ جَمَاعَةٌ مِنَ الصَّحَابَةِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ فَالنَّهْيُ فِي هٰذِهِ الْاَحَادِيثِ مَحْمُولٌ عَلٰى اَنْ يُصَلِّيَ الْوِتْرَ بِثَلَاثِ رَكَعَاتٍ وَلَمْ يَتَقَدَّمْهُ تَطَوُّعٌ اِمَّا اَرْبَعُ رَكَعَاتٍ وَاِمَّا اَرْبَعُ رَكَعَاتٍ اَوْ اَكْثَرُ مِنْ ذٰلِكَ.(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ويلي دي چې وتر اوه او يا پنځه رکعته دي او زه دري ناقص رکعتونه نه خوهوم. د دي حديث روايت محمد بن نصر او طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي. نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې دري رکعته وتر د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د اصحابو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ د يوې ډلې نه ثابت دي او په دغه احاديثو کې نهي په دي باندي محموله ده چې صرف دري رکعته وتر وکړي او د دينه وړاندې دوه. څلور او يا د دينه زيات نفل مونځ ونه کړي.

دوتر متعلق دوه مختلف فيه مسئلې

دحديث نمبر ۵۸۷ نه واخله تر حديث نمبر ۶۲۶ پورې په څلورو ابوابو کې دوتر متعلق دوه مختلف فيه مسئلې بيان کړې شوي دي:

۱... دوتر څو رکعته دي؟ ۲... وتر يو سلام سره دي يا دوو سلامونو سره؟

دفقهاؤ اقوال :

(۱) امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د راجح قول مطابق کم از کم دري رکعته دوو سلامونه سره.

(۲) دامام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ او احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد وتر ديو نه واخله تر يوولس (۱۱) رکعته پورې (وفي رواية يو نه واخله تر اووه (۷) پورې) صحيح دي، البته ددې دلوستلو دوه طريقې دي:

۱- موصولا يعني يو تشهد سره دري رکعته اولولي. ۲- مفصولا يعني دوه رکعته جدا او يو رکعت جدا اولولي.

(۳) دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد دري رکعته يو سلام سره (وهو رواية عن الامام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ).

دلائل: مصنف رَحِمَهُ اللّٰهُ "باب الوتر بخمس او أكثر" لاندې د دري رکعتو نه زيات دقائلين وتر ددليل جوړيدو والا روايات ذکر کړي دي، اهم دلائلو خلاصه مع جواب وتاويل په لاندې ډول دي:

۱... حديث دابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ (نمبر ۵۸۸) "ثُمَّ اَوْتَرَ بِخَمْسٍ وَلَمْ يَجْلِسْ بَيْنَهُنَّ".

۲... دعائشه رضي الله عنها حديث: "وَيُصَلِّي تِسْعَ رَكَعَاتٍ لَا يَجْلِسُ فِيهَا اِلَّا فِي الثَّامِنَةِ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَ يَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يَنْهَضُ وَلَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَقُومُ فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللّٰهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ

---

(۱) قيام الليل كتاب الوتر صـ ۲۱۵ باب الوتر بثلاث عن الصحابة، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۹۷ باب الوتر.

Maktaba Tul Ishaat.com

لَمْ يُسَلِّمْ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ".

۳... دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : " لَا تُوتِرُوا بِثَلَاثٍ تُشَبِّهُوا بِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ وَلَكِنْ أَوْتِرُوا بِخَمْسٍ أَوْ بِسَبْعٍ أَوْ بِتِسْعٍ أَوْ بِإِحْدَى عَشْرَةَ أَوْ أَكْثَرَ مِنْ ذَلِكَ" صراحة پنځه ، اوه ، نهه ، يوولس او ددې زيات دوتر و حکم دي .

دا حنافو دطرف نه جوابات :

الزامي جواب او تطبيق : په روایاتو کې " ایتار بر رکعة" نه واخله " ایتار بثلاث عشرة " بلکې " ایتار بسبع " يعني تر اوولس رکعتو پورې وتر وارد دي لهذا په کومو روایتونو کې چې ديوولسو نه زيات " ایتار" وتر لوستلو ذکر دي هلته ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دې تاويل کولو باندې مجبور دي چې دلته دایتار نه مراد صلاة الليل دې کوم کې چې دري رکعته وتر دي او اته رکعته تهجد دي ، او کله ددې نه مخکې دوه رکعته خفيف او دوه رکعته نفل پس دوتر و نه او دوه رکعته سنت فجر شامل دي . مونږ دا وایو چې کومه توجیه چې ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په دیارلس ، اوولي رکعتونو والا احادیثو کې کړې ده همغه توجیه مونږ پنځه ، اوه ، نهه او یوولس رکعتونو والا حدیثو کې کړو یعني اته رکعته تهجد سره دري رکعته وتر نو پوره یوولس رکعتونه شو ، چا پوره دې لره نقل کړي ، بعضي صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دشروع دوه رکعته خفیفتین لره او دوتر نه پس نفلو لره ساقط کړي نو " ثلاث عشرة رکعة " شو او بعضي صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دشروع دوه رکعته خفیفتین لره او دوتر نه پس نفلو لره ساقطولو سره سره دفجر سنتو لره هم خارج کړي نو هغوي "احدى عشرة رکعة" ویلي . بیا په اخیر عمر کې چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جسم مبارک دروند شو نو بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کله کله دتهجد دوخت شپږ رکعته کول نو دوتر و دري رکعه چې ملاو شي نو پوره نهه رکعته شو بعضي حضراتو دهغه زماني عمل لره روایت کړې دی او ویلي یې دي چې "أوتر بتسع" یا بعضي وخت حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نوره کمي هم کړي او دتهجد یې صرف څلور رکعته کړي ، دهغې زماني عمل "أوتر بسبع" الفاظو سره بیان کړي شو .

غرض دا چې په روایاتو کې "أوتر" يعني ایتار صرف صلاة الوتر لپاره هم ویلي شوي دي او پوره صلاة الليل لپاره هم دکوم په آخر کې چې دطاق عدد والا مونځ يعني وتر باندې مشتمل وي .

دحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحدیث وضاحت : دبخاري شریف روایت "ثم أوتر بخمس

Maktaba Tul Ishaat.com

ولم يجلس بينهن " مجمل دي په دې کې دا وضاحت نشته چې پنځه رکعته دوتر وو يا دري دوتر دوه دنفل ورسره ملاو دي پنځه رکعته مراد دي خو بيا هم دغه روايت دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واقعه مذکور سره په مسلم شريف کې پدې الفاظو سره وارد شوې دی : "ثم أوتر بثلاث" همدارنګه آثار السنن حديث نمبر ۶۰۹ کې په سند دسعيد بن جبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن ابن عباس دري رکعته وتر منقول دي لهذا دې مجمل روايت لره مفصل روايت باندې حمل کول اولی دي .

او " ولم يجلس بينهن " نه دجلسه طويله نفي مقصود ده کومه چې دعاء او ذکر لپاره وي نفس قعده نفي نشته ، چنانچې معمول هم دغه دي چې دعاء دوتر نه پس کيږي بلکې دنفلو نه پس کيږي

دعائشي رضي الله عنها توجيه : "فَيُصَلِّي التَّاسِعَةَ ثُمَّ يَقْعُدُ فَيَذْكُرُ اللهَ وَيَحْمَدُهُ وَيَدْعُوهُ ثُمَّ يُسَلِّمُ تَسْلِيمًا يُسْمِعُنَا ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ " دې حديث توجيه دا بيان کړې شوې ده په اصل کې په دې يوولس رکعتو کې شپږ تهجد ، دري دوتر ، او دوه رکعته به دوتر نه پس دنفل وو ، او " لايجلس فيها الا في الثامنة " مطلق دجلسې نفي مقصود نه ده بلکې دداسې جلسې نفي ده دکوم نه پس چې سلام نه وي او مطلب دادې چې داته (۸) رکعتو نه مخکې به دوي په هره جلسه باندې سلام اړولو ليکن په اتم رکعت باندې به يې جلسه کوله نو دسلام نه بغير په نهم رکعت اودريدو کوم چې دوتر دريم رکعت شو او بيا چې به دوتر نه فارغ شو نو دوه رکعته دنفل به يې نور کول ، په دې صورت کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دصلاة الليل نفي هم لازم راځي ځکه چې ټول رکعتونه دنفل شو .

حديث دابن عباس او حديث دعائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا دې توجيه نه بغير هيڅ چاره نشته ، ځکه چې دواړو حضراتو نه داسې روايتونه په کثرت سره راغلي دي کوم کې چې صراحةً يو سلام سره دري رکعته وتر ذکر دي او هيڅ تاويل هم نشي کيداي . والله أعلم بالصواب

دابوهريره د حديث توجيه :

په بعضي احاديثو کې دمانبام مونځ لره " وتر النهار " او وتر مونځ لره " وتر الليل " ويلې شوي دي ، كما في حديث أبي العالية " فهذا وتر الليل وهذا وتر النهار " (آثار السنن : ۶۲۱)

لهذا دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث " صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا تُوتِرُوا بِثَلَاثٍ تُشَبِّهُوا بِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ " مقصد دادې چې " وتر الليل " کې دمانبام مونځ په شان صرف په دري رکعتو اکتفی مه کوئ بلکې دديارلس تهجد هم کوئ دا تاويل ضروري دی ورنه ددريو رکعتو وتر و الا صحيح او دصريح احاديثو

Maktaba Tul Ishaat.com

مخالفت به لازم راشي.

﴿بَابُ الْوِتْرِ بِرَكْعَةٍ﴾

دیو رکعت وترو باب

﴿۵۹۵﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ صَلاَةِ اللَّيْلِ فَقَالَ صَلاَةُ اللَّيْلِ مَثْنَى مَثْنَى فَإِذَا خَشِيَ أَحَدُكُمُ الصُّبْحَ صَلَّى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ لَهُ مَا قَدْ صَلَّى رواه الجماعة.(۱)

ترجمه: د حضرت ابن عمر رضي الله عنه روايت دي چې يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د تهجد و په باره کې پوښتنه وکړه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې د شپې مونځ دوه دوه رکعته دي کله چې يو ستاسي د سهر د ختو نه وويريږي نو يو رکعت دي وکړي د دې دپاره چې شوي مونځ پرې وتر کړي.

﴿۵۹۶﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بِاللَّيْلِ إِحْدَى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُوتِرُ مِنْهَا بِوَاحِدَةٍ فَإِذَا فَرَغَ مِنْهَا اضْطَجَعَ عَلَى شِقِّهِ الأَيْمَنِ حَتَّى يَأْتِيَهُ الْمُؤَذِّنُ فَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ خَفِيفَتَيْنِ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دي چې بې شکه رسول الله صلى الله عليه وسلم د شپې يوولس رکعته مونځ کړي وُ د دې د پاره چې د شوي مونځ ځينې په يو سره وتر کړي کله چې د دې نه فارغ شو په هغې اړخ باندې ئې ډه وولهله تر دې پورې چې مؤذن ورته راغې نو دوه رکعته خفيف مونځ ئې وکړ. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۵۹۷﴾ وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْتَرَ بِرَكْعَةٍ رواه الدارقطني واسناده صحيح.(۳)

---

(۱) بخاري ابواب الوتر ج۱ص ۱۳۵ باب ماجاء في الوتر، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۷ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صلى الله عليه وسلم، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۸ باب ماجاء ان صلوة الليل مثنى مثنى، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۷ باب صلوة الليل مثنى مثنى، نسائي كتاب قيام الليل ...الخ ج۱ص ۲۴۶ باب كيف صلوة الليل، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة ...الخ ص ۹۴ باب ماجاء في صلوة الليل ركعتين ...الخ، مسند احمد ج۲ص ۱۰۲.

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۳ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صلى الله عليه وسلم واخرجه البخاري في ج۱ص ۸۷، ج۱ص ۱۳۵، ج۱ص ۱۵۱، ج۱ص ۱۵۵، ج۱ص ۱۵۶ ج۲ص ۹۳۳ ولكن لم اجد فيه "يوتر منها بواحدة".

(۳) دار قطني كتاب الوتر ج۲ص ۲۳ باب ما يقرأ في ركعات الوتر والقنوت.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : قاسم بن محمد د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت کړي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د يو رکعت سره وتر اداء کړي دي . د دي حديث روايت الدار قطني کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۵۹۸﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْصِلُ بَيْنَ الْوِتْرِ وَالشَّفْعِ بِتَسْلِيمَةٍ وَيُسْمِعُنَاهَا رواه احمد بإسناد قوي .[1]

ترجمه : حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د وترو او د دوه ؤ رکعتونو تر منځ په سلام سره فاصله کړي وه او مونږ ته ئې سلام را اوراوه . د دي حديث احمد په قوي اسناد سره کړي دي .

﴿۵۹۹﴾ وَ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوِتْرُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُوتِرَ بِخَمْسٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُوتِرَ بِثَلَاثٍ فَلْيَفْعَلْ وَمَنْ اَحَبَّ اَنْ يُوتِرَ بِوَاحِدَةٍ فَلْيَفْعَلْ رواه الاربعة و آخرون الا الترمذي والصواب وقفه .[2]

ترجمه : حضرت ابو ايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې وتر په هر مسلمان باندي حق دي (ضروري دي) واجب دي نو څوک چې خوخوي چې پنځه رکعته وتر وکړي نو ودي ئې کړي او څوک چې خوخوي چې دري رکعته وتر وکړي نو هغه دي وکړي او څوک چې خوخوي چې يو رکعت وتر وکړي نو هغه دي وکړي . د دي حديث روايت څلور محدثينو او نورو کړي دي خو ولي ترمذي نه دي کړي او برابره خبره دا ده چې دا حديث موقوف دي .

﴿۶۰۰﴾ وَ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه كَانَ يَفْصِلُ بَيْنَ شَفْعِه وَ وِتْرِه بِتَسْلِيمَةٍ وَ اَخْبَرَ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَفْعَلُ ذٰلِك رواه الطحاوي وفي اسناده مقال . [3]

ترجمه : د سالم بن عبد الله بن عمر نه روايت دي چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خپلو دوه ؤ رکعتونو او وترو په منځ کې په سلام سره جدا ي وکړه او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خبر ورکړي چې بې شکه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دغه فعل کاوه . د دي حديث روايت طحاوي کړي او په اسناد کې ئې خبري دي .

---

(۱) مسند احمد ج۲ص ۷۶.

(۲) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۲۰۱ باب کم الوتر ، نسائي کتاب قيام الليل ...الخ ج۱ص ۲۴۹ باب کيف الوتر بثلاث، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة ص ۸۵ باب ماجاء في الوتر بثلاث ...الخ ، مستدرك حاكم كتاب الوتر ج۱ص ۳۰۳ باب الوترحق.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۹۲ باب الوتر .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۶۰۱﴾ وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يُسَلِّمُ بَيْنَ الرَّكْعَةِ وَالرَّكْعَتَيْنِ فِي الْوِتْرِ حَتّٰى يَأْمُرَ بِبَعْضِ حَاجَتِهِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه: د نافع نه روایت دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د وتروپه یو او دوه رکعتونو کې سلام کړاوه تر دي چې امر به یې کاوه د خپل ځینې حاجت په باره کې. د دي حدیث روایت بخاري کړي.

﴿۶۰۲﴾ وَعَنْ بَكْرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ الْمُزَنِيِّ قَالَ صَلَّى ابْنُ عُمَرَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ يَا غُلَامُ ارْحَلْ لَنَا ثُمَّ قَامَ وَأَوْتَرَ بِرَكْعَةٍ رَوَاهُ سَعِيدُ بْنُ مَنْصُورٍ وَقَالَ الحافظ في الفتح بإسناد صحيح.(۲)

ترجمه: بکر بن عبدالله المزني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه رکعته ادا کړه بیا ئې وویل چې اي هلکه ځما په سورلئ کجاوه کیده بیا پاځیده او په یو رکعت ئې وتر کړه. د دي حدیث روایت سعید بن منصور کړي دي او حافظ په فتح کې ویلي دي په صحیح سند سره.

﴿۶۰۳﴾ وَعَنِ ابْنِ أَبِي مُلَيكة قَالَ أَوْتَرَ مُعَاوِيَةُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بَعْدَ الْعِشَاءِ بِرَكْعَةٍ وَعِنْدَهُ مَوْلًى لِابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَأَتَى ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَأَخْبَرَهُ فَقَالَ دَعْهُ فَإِنَّهُ قَدْ صَحِبَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه البخاري.(۳)

ترجمه: ابن ابي مليکه ویلي دي چې معاویه د ماسختن نه روسته یو رکعت وتر وکړه او د ده سره د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مولی موجود وُ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورغي او خبر ئې کړ ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل دا پریږده په تحقیق د ده د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره صحبت شوي دي. د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

﴿۶۰۴﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ التَّيْمِيِّ قَالَ قُلْتُ لَأُغَلِّبَنِّي اللَّيْلَةَ عَلَى الْمَقَامِ أَحَدٌ فَقُمْتُ أُصَلِّي فَوَجَدْتُ حِسَّ رَجُلٍ مِنْ خَلْفِ ظَهْرِي فَإِذَا عُثْمَانُ بْنُ عَفَّانَ فَتَنَحَّيْتُ لَهُ فَتَقَدَّمَ فَاسْتَفْتَحَ الْقُرْآنَ حَتّٰى خَتَمَ ثُمَّ رَكَعَ وَسَجَدَ فَقُلْتُ أَوَهَمَ الشَّيْخُ فَلَمَّا قُلْتُ يَا أَمِيرَ الْمُؤْمِنِينَ إِنَّمَا صَلَّيْتَ رَكْعَةً وَاحِدَةً فَقَالَ أَجَلْ هِيَ وِتْرِي رواه الطحاوي والدارقطني واسناده حسن.(۴)

---

(۱) بخاري ابواب الوتر ج۱ ص ۱۳۵ باب ماجآء في الوتر.

(۲) فتح الباري ابواب الوتر ج۳ ص ۱۳۴ نقلًا عن سعيد بن المنصور، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۹۲ باب الوتر.

(۳) بخاري كتاب المناقب ج۱ ص ۵۳۱ باب ذكر معاوية رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۰۲ باب الوتر، دار قطني كتاب الوتر ج۲ ص ۲۲ باب جامع ما روي في ركعات الوتر...الخ.

Maktaba Ful Ishaat.com

ترجمه : د عبدالرحمن التيمي ويلي دي چې ما په خپل زړه کې ويلي وُ چې زمانه به نن شپه تهجد و ته څوک هم مخکې پانه ځيږي نو زه پاځيدم مونځ مې کاوه چې د خپلې شانه روسته مې د يو سړي کښاري واوريده نو هغه حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وُ نو زه د هغه د وجهې نه يو طرز ته شوم نو هغه وراندې شو نو قرآن شريف ئې شروع کړ تر دې پورې چې ختم ئې کړ بيا ئې رکوع او سجده وکړه نو ما وويل چې بودا وهم کړي نو کله چې هغه مونځ وکړ ما وويل اې امير المؤمنين تا يو رکعت مونځ وکړ نو هغه وويل چې هو دا ځما وتر دي . د دې حديث روايت طحاوي الدار قطني کړې دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۲۰۵﴾ عن عَبْدِ اللهِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ اَمَّنَا سَعْدُ بْنُ اَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي صَلَاةِ الْعِشَاءِ الْآخِرَةِ فَلَمَّا انْصَرَفَ تَنَحّٰى فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ فَصَلّٰى رَكْعَةً فَاَتَيْتُهُ فَاَخَذْتُ بِيَدِهٖ فَقُلْتُ يَا اَبَا اِسْحَاقَ مَا هٰذِهِ الرَّكْعَةُ فَقَالَ وِتْرٌ اَتْمَرُ عَلَيْهِ قَالَ عَمْرٌو فَذَكَرْتُ ذٰلِكَ لِمُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ فَقَالَ كَانَ يُوتِرُ بِرَكْعَةٍ يَعْنِي سَعْدًا رواه الطحاوي و اسناده حسن .[1]

ترجمه : عبدالله بن سلمه ويلي دي چې مونږ ته سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ماسختن په مانځه کې امامت وکړ نو کله ئې چې سلام واړاوه نو د مسجد يو کونج ته شو نو يو رکعت مونځ ئې وکړ نو زه هم د ده پسې شوم مائې لاس ونيو ورته ومې ويل چې اي ابا اسحق دا رکعت څه شي دي نو هغه وويل چې وتر دي زه په دې باندې اوده کيږم عمر وويلي دي چې ما مصعب بن سعد ته دا خبره وکړه نو هغه وويل هغه به يو رکعت وتر کاوه يعني سعد . د دې حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۲۰۶﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ ثَعْلَبَةَ بْنِ صَغِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ مَسَحَ وَجْهَهُ زَمَنَ الْفَتْحِ اَنَّهُ رَاٰى سَعْدَ بْنَ اَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ كَانَ سَعْدًا قَدْ شَهِدَ بَدْرًا مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ بَعْدَ صَلَاةِ الْعِشَاءِ لَا يَزِيدُ عَلَيْهَا حَتّٰى يَقُومَ مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ رواه البيهقي في المعرفة و اسناده صحيح .[2]

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۰۳ باب الوتر .

(۲) معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج۴ صـ ۵۹ رقم الحديث ۵۳۵۹ ، بخاري كتاب الدعوات ج۲ صـ ۹۴۰ باب الدعاء للمصاب بالوكذ .

Maktaba Tul Ishaat.com

قال النيموي وفي الباب آثارٌ أخرى جملها لا تخلو عن مقالٍ والأمر واسعٌ لكن الأفضل أن يصلي تطوعًا ثم يصلي الوتر بثلاث ركعات موصولة.

ترجمه : د حضرت عبدالله بن ثعلبه بن صغير رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي اكرم صلى الله عليه وسلم د مكي د فتحي په موقع د ده مخ په خپل مبارك لاس باندې مسح كړې وُ هغه سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه په داسې حال كې ليدلي وُ چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره بدر ته حاضر شوي وُ چې هغه به د ماسختن د مانځه نه روسته يو ركعت وتر كول او په دې يو ركعت باندې به ئې زيات والي نه كاوه تهجد و ته تر د نيمي شپې د پاڅيدو پورې. د دې حديث روايت بيهقي كړې دي په المعرفه كې او اسناد ئې صحيح دي.

نيموي رحمه الله ويلي دي چې په باب كې نور اثار هم شته چې زياتر ئې د تنقيد نه خالي نه دي د وترو د اداء كولو كار پراخه دي خو ولي افضله دا ده چې نفل مونځ وكړي بيا په وصل سره دري ركعته وتر په يو سلام سره اداء كړي.

په يو ركعت وتر باندې دشافعيه او حنابلو دلائل:

دباب ټول حديثونه په ظاهر كې ددې خواتو دليلونه دي، ددلائلو خلاصه په لاندې ډول ده:

۱... حديث د عائشې رضي الله عنها "أن النبي صلى الله عليه وسلم أوتر بركعة".

۲... حضرت ابن عمر رضي الله عنه به دوترو په دوو ركعتونو باندې سلام اړولو بيا يو ركعت به يې ځانله كولو او فرمائل به يې: چې حضور صلى الله عليه وسلم به هم داسې كول.

۳... حديث د ابن ابي مليكه رحمه الله چې حضرت معاويه به يو ركعت وتر ادا كول.

۴... حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه به هم ديو ركعت په وتر ادا كولو باندې اكتفا كوله.

۵... حضرت عثمان رضي الله عنه نه مروي په يو واقعه كې هغه فقط يو ركعت وتر كړې وو.

داحنافو رحمهم الله دطرف نه جوابات:

۱... دعائشې رضي الله عنها وغيره كې "ايتار بركعة" محتمل او غير واضح كلمات دي، حضور صلى الله عليه وسلم نه مروي يو سلام سره دري ركعت والا دصريح روايتونو په رڼا كې ددې جملي مطلب دادي چې دتهجد دشفعې سره دي يو ركعت اضافه كړې شي او دې لره دي دري ركعته وتر اوگرزولې شي نه دا چې صرف يو ركعت دي اوكړې شي كه دا مطلب وانه خيستلې شي نو "ايتار بواحدة" به دهغه روايتونو هم مخالف وي كوم كې چې حضور صلى الله عليه وسلم د "بتيراء" يعنې صرف ديو ركعت والا مونځ نه منع فرمايلې ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په روایت کې دوه خبرې دي : (۱) دده خپل عمل چې دوه رکعته به يې ځانله او يو رکعت به يې ځانله ادا کولو .(۲) ددې عمل نسبت يې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرفته او کړ. ددې څو جوابونه ورکړل شوي دي :

۱- ممکنه ده " يفصل بين شفعه ووتره بتسليمة " کې د تسليمه نه تشهد والاسلام يعني " السلام عليك أيها النبي ... الخ مراد وي او دا هم چې دمونځ نه دوتلو لپاره يې سلام ويلي وي .

۲- علامه محمد انور شاه کشميري رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ددې عمل حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طرفته په ټولو خبرو کې ضروري نه دي بلکې عين ممکن دي چې نسبت صرف په دريو رکعتو وتر کيدو کې وي .

۳- ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تشهد اول کې " السلام عليك أيها النبي ... الخ " لره فسخ صلاة ګڼلو ، لهذا کيداې شي چې هغوي چې کله حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لره په تشهد اول کې "السلام عليك " په ويلو اوليدو نو هغه دا اوګڼل چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوو رکعتونو باندې نيت ختم کړو او بل رکعت يې مستقل نيت سره ادا کړو ، نو ددې نسبت بنياد حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل اجتهاد وو نه دا چې في الحقيقت قطع د صلوة شوي وه .

الغرض حديث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کې مذکوره احتمالات موجوديدو کې دده نه ايتار برکعة باندې استدلال صحيح نه دی.

۳...دحضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل : دروايت سياق او سباق دا بنائي چې دا د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اجتهاد وو نه حديث مرفوع ، چنانچې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چې کله ددوي ددې عمل خبر ورکړې شو نو هغه د تصديق په ځاي دا اويل چې هغه د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابو نه دي ممکنه ده چې دخپل فقاهت نه يې داسي کړي وي ، دبخاري شريف ديو بل روايت په الفاظو کې ددې صراحت هم دي : دعه ، فانه فقيه همدارنګه الفاظ " أوتر بعد العشاء برکعة " نه دا هم ممکنه ده چې حضرت معاويه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو رکعت يې ورسره ملاو کړې وي او فقط دري رکعت يې ادا کړي وي نور نوافل يې نه وي ادا کړي نو ابن عباس هم دده عظيم سعادت يعني حصول صحبت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ذکر باندې اکتفی او کړه.

۴... دحضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل : "ايتار بواحدة " په مسئله باندې نورو صحابو ددوي موافقت اونکړ بلکې د طحاوي شريف دروايت مطابق ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ده باندې تنقيد کړې وو همدارنګې دا هم ممکنه ده چې ايتار بواحدة نه مراد دلته هم دوو رکعتونو سره دي يو رکعت ملاويدل او دري رکعته وتر لوستلې وي ،علامه نيموي همدې معنې لره اختيار کړې ده .

Maktaba Tul Ishaat.com

۵... دحضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مذکوره واقعه هم داحتمال نه خالي نه ده ، ځکه چې عین ممکنه ده چې دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په شان هغه هم دوو رکعتو نه پس دسلام اړولو قائله وي دریم رکعت یې ځانله اداکړي وي. بهرحال په دې باب کې شافعیه او حنابله سره هیڅ صریح حدیث موجود نشته دي.

﴿بَابُ الْوِتْرِ بِثَلَاثِ رَكَعَاتٍ﴾
په دریو رکعتونو سره دوترو باب

﴿۶۰۷﴾ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّه سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كيفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَا كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيرِه عَلٰى اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكعَةً يصَلِّي اَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يصَلِّي اَرْبَعًا فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُولِهِنَّ ثُمَّ يصَلِّي ثَلَاثًا قَالَتْ عَائِشَةُ فَقُلْتُ يارَسُولَ الله اَتَنَامُ قَبْلَ اَنْ تُوتِرَ فَقَالَ يا عَائِشَةُ اِنَّ عَينَي تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي رواه البخاري .(۱)

ترجمه : د ابي سلمه ابن عبد الرحمن نه روایت دي چې هغه د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه وکړه چې د رمضان په میاشت کې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ څنګه وُ نو هغې وویل چې نه زیاته وُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رمضان کې او نه په غیر د رمضان کې په یوولسو رکعتونو باندې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څلور رکعته مونځ ادا کړ نو د هغې د ښه والي او اوږدوالي پوښتنه مه کوه بیا ئي څلور رکعته مونځ اداء کړ نو د هغې د ښه والي او اوږدوالي پوښتنه مه کوه بیا ئي دري رکعته مونځ اداء کړ حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وویل چې اي د الله جل شانه رسوله آیا ته د وترو نه مخکې وُده کیږي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې اي عائشي زما سترګي وُدي کیږي او زړه مي نه وُده کیږي. د دې حدیث روایت بخاري کړي دي .

﴿۶۰۸﴾ وَ عَنْ عَلِي بْنِ عَبْدِ الله بْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه عِنْدَ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاسْتَيقَظَ فَتَسَوَّكَ وَتَوَضَّأَ وَهُوَ يقُولُ ـ اِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِاُولِي الْاَلْبَابِ فَقَرَأَ هٰؤُلَاءِ الْاٰيَاتِ حَتّٰى خَتَمَ السُّورَةَ ثُمَّ قَامَ فَصَلّٰى رَكعَتَينِ فَاَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ وَالرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ ثُمَّ انْصَرَفَ فَنَامَ حَتّٰى نَفَخَ ثُمَّ فَعَلَ ذٰلِكَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ سِتَّ رَكعَاتٍ كُلَّ ذٰلِكَ يسْتَاكُ وَيتَوَضَّأُ وَ

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج ۱ ص ۱۵۴ باب قيام النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بالليل في رمضان وغيره .

Maktaba Tul Ishaat.com

يقْرَأُ هٰؤُلَاءِ الْآيَاتِ ثُمَّ اَوتَرَ بِثَلَاثٍ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : علي ابن عبد الله بن عباس د حضرت عبد الله عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كړي دي چې هغه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وُوده شوي وُ نو رابيدار شو نو مسواک ئې استعمال كړو او ودس ئې وكړو او د دي ايتونو تلاوت ئې كاوه :

اِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْاَرْضِ وَاخْتِلَافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَاٰيَاتٍ لِاُولِي الْاَلْبَابِ يعني په تحقيق په پيدائش د اسمانونو او د ځمكې كې او په اختلاف د شپې او د ورځې كې خامخا نښانې دي دپاره د صاحبانو د خالصو عقلونو دا ايتونه ئې ولوستل تر دي پوره چې سورت ئې ختم كړيا پاځيده نو دوه ركعته مونځ ئې وكړو اوږده ئې كړل په دغه دواړو كې قيام . ركوع او سجده بيا ئې سلام واړاوُ نو اوده شو تر دي پوري چې خرار ئې وكړيا ئې دري ځله دا كار وكړو او شپږ ركعتونه ئې اداء كړل په دي هر يو ځل به ئې مسواک وانبه اودس به ئې كاوه او دغه آياتونه به ئې تلاوت كول بيا ئې دري ركعته وتر وكړل . د دي حديث روايت مسلم كړي دي .

﴿۶۰۹﴾ و عن سَعِيدِ بْنِ جُبَيرٍ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يوتِرُ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَقُلْ يٰاَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ رواه الخمسة الا ابا داود و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : سعيد بن جبير د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت كړي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په سبح اسم ربك الاعلىٰ قل يا ايها الكافرون او په قل هو الله احد سره وتر ادا فرمايل . د دي حديث روايت د ابو داوُد نه په غير پنځو محدثينو كړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۶۱۰﴾ و عن اُبَيِّ بْنِ كَعبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوتِرُ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَقُلْ يٰاَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَقل هو الله احد رواه الخمسة الا الترمذي و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : حضرت ابي ابن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په سبح اسم ربك

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين وقصرها ج ص ۲۶۱ باب صلوة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وعدده بالليل .

(۲) نسائي كتاب قيام الليل ...الخ ج۱ص ۲۳۹ باب كيف الوتر بثلاث ، ترمذي ابواب الوتر ج۱ص ۱۰۶ باب ماجاء ما يقرأ في الوتر ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة ص ۸۳ باب ماجاء فيما يقرأ في الوتر ، مسند احمد ج۱ص ۳۰۵ .

(۳) نسائي كتاب قيام الليل ج۱ص ۲۳۸ باب كيف الوتر بثلاث ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۲۱۰ باب ما يقرأ في الوتر، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة ص ۸۳ باب ماجاء فيما يقرأ في الوتر ، مسند احمد ج۵ ص ۱۱۴

Maktaba Tul Ishaat.com

الاعلیٰ . قل یاایها الکافرون او قل هوالله احد سره وتر اداء فرمایل . د دي حدیث روایت د ترمذي نه په غیر پنځو محدثینو کړي دي او اسناد ئي صحیح دي .

﴿۶۱۱﴾ و عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْرَأُ فِي الْوِتْرِ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ بِقُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَ فِي الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ وَلَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِي آخِرِهِنَّ وَ يَقُولُ يَعْنِي بَعْدَ التَّسْلِيمِ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ ثَلَاثًا رواه النسائي و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : او حضرت اُبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وترو کې سبح اسم ربک الاعلی او په دویم رکعت کې قل یاایها الکافرون او په دریم رکعت کې قل هوالله احد لوسته او سلام به ئې نه ګرځاوه مګر د دې په اخر رکعت کې او د سلام نه پس به ئې دري ځلي دا دعاء فرمایله سبحان الملک القدوس . د دي حدیث روایت نسائي کړي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۶۱۲﴾ وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبْزٰى اَنَّهُ صَلّٰى مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْوِتْرَ فَقَرَأَ فِي الْاُولٰى بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰى وَ فِي الثَّانِيَةِ قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَ فِي الثَّالِثَةِ قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ فَلَمَّا فَرَغَ قَالَ سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ ثَلَاثًا يَمُدُّ صَوْتَهُ بِالثَّالِثَةِ رواه الطحاوي و احمد و عبد بن حمید والنسائي و اسناده صحیح .(۲)

ترجمه : د حضرت عبد الرحمن بن ابزي نه روایت دي چې ده د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره وتر مونځ کاوه نو په اول رکعت کې ئې سبح اسم ربک الاعلیٰ او په دویم رکعت کې ئې قل یاایها الکافرون او په دریم رکعت کې به ئې قل هوالله احد لوسته نو کله به چې د مانځه نه فارغ شو نو دري ځله به ئې دا دعاء لوسته : سبحان الملک القدوس او په دریم ځل به ئې پرې خپل مبارک اواز اوچتاوه . د دي حدیث روایت طحاوي ، احمد ، عبد بن حُمید او نسائي کړي او اسناد ئې صحیح دي .

﴿۶۱۳﴾ وَ عَنْ زُرَارَةَ بْنِ اَوْفٰى عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ اَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حَدَّثَتْهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يُسَلِّمُ فِي رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ رواه النسائي و آخرون و اسناده صحیح .(۳)

ترجمه : زراره ابن اوفي د سعد بن هشام نه روایت کړي دي چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه ته

---

(۱) نسائي کتاب قیام اللیل ....اخ ج۱ص ۲۵۱ باب القراءة في الوتر .

(۲) نسائي کتاب قیام اللیل ....اخ ج۱ص ۲۵۱ باب القراءة في الوتر ، طحاوي کتاب الصلوة ج۱ص ۲۰۱ باب الوتر واللفظ له ، مسند احمد ج۳ ص ۴۰۶ وقد ساقه النسائي في عمل اليوم والليلة بروايات مختلفة فاختار مع ترجمه ذوي ليل ولفظ ص۳۳۳ برقم ۷۲۹ الی ۷۳۴ .

(۳) نسائي کتاب قیام اللیل ج۱ص ۲۳۸ باب کیف الوتر بثلاث .

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث بیان کړي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د وترو په دوه ؤ رکعتونو سلام نه ګرځاوه د دي حدیث روایت نسائي او نورو کړي او اسناد صحیح دي.

﴿۶۱۴﴾ و عَنِ الْحَسَنِ عَنْ سَعْدِ بْنِ هِشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا صَلَّى الْعِشَاءَ دَخَلَ الْمَنْزِلَ ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى بَعْدَهُمَا رَكْعَتَيْنِ اَطْوَلَ مِنْهُمَا ثُمَّ اَوْتَرَ بِثَلَاثٍ لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ رواه احمد باسنادٍ يُعْتَبَرُ بِهِ (۱)

ترجمه: حسن د سعد بن هشام په واسطه د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روایت کړي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د ماسختن مونځ وکړو نو کور ته به ئي تشریف ویوړ بیا به ئي دوه رکعته مونځ وکړ بیا به ئي د دي نه روسته نور دوه رکعته مونځ وکړ چې هغه به د مخکې دواړو رکعتونو نه اوږده ؤ بیا به ئي دري رکعته وتر وکړل او د دي تر مینځ به ئي فاصله نه فرمایله. د دي حدیث روایت احمد په معتبر سند سره کړي دي.

﴿۶۱۵﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اَبِي قَيْسٍ قَالَ سَاَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا بِكَمْ كَانَ رَسُولُ اللهِ يُوتِرُ قَالَتْ بِاَرْبَعٍ وَ ثَلَاثٍ وَ سِتٍّ وَ ثَلَاثٍ وَ ثَمَانٍ وَ ثَلَاثٍ وَ عَشَرَةٍ وَ ثَلَاثٍ وَ لَمْ يَكُنْ يُوتِرُ بِاَكْثَرَ مِنْ ثَلَاثَ عَشَرَةَ وَلَا اَلْقَصَ مِنْ سَبْعٍ رواه احمد و ابوداود والطحاوي و اسناده حسن. (۲)

ترجمه: عبدالله بن ابي قیس ویلي چې ما د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه کړي ده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به څو رکعته وتر کول حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وویل چې څلور او دري. شپږ او دري. اته او دري لس او دري او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دیارلس رکعتونو نه زیات او د اوؤ رکعتونه کم وتر نه ؤ ادا کړي. د دي حدیث روایت احمد، ابوداؤد او طحاوي کړي دي او اسناد ئي حسن دي.

﴿۶۱۶﴾ و عَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ جُرَيْجٍ قَالَ سَاَلْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اَمَّ الْمُؤْمِنِينَ بِاَيِّ شَيْءٍ كَانَ يُوتِرُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ يَقْرَاُ فِي الْاُولٰى بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلَى وَفِي الثَّانِيَةِ بِقُلْ يَاَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَفِي الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ وَالْمُعَوِّذَتَيْنِ رواه احمد والاربعة الا النسائي و اسناده حسن. (۳)

---

(۱) مسند احمد ج ۶ صـ ۱۵۵.

(۲) مسند احمد ج۶ص۱۴۹، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱صـ ۱۹۳ باب في صلوة الليل، طحاوي کتاب الصلوة ج۱صـ ۱۹۶ باب الوتر.

(۳) مسند احمد ج۶ صـ ۲۲۷، ترمذي ابواب صلوة الوتر ج۱صـ ۱۰۴ باب ماجاء ما يقرأ في الوتر، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱صـ ۲۰۱ باب ما يقرأ في الوتر، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۸۳ باب ماجاء فيما يقرأ في الوتر

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :عبدالعزيز بن جريج ويلي دي چې ما د حضرت عائشي رضي الله عنها ام المؤمنين نه پوښتنه کړي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په څه شي باندي وتر کړي دي هغې وويل چې په اول رکعت کې ئي په سبح اسم ربك الاعلى او په دويم رکعت کې ئي قل يا ايها الكافرون او په دريم رکعت کې ئي قل هو الله احد او معوذتين يعني سورت فلق او سورت ناس تلاوت کول . د دي حديث روايت احمد او نسائي نه په غير څلورو محدثينو کړي دي او اسناد ئي حسن دي .

﴿۶۱۷﴾ و عَنْ عَمْرَةَ عَنْ عَائِشَةَ رضي الله عنها أَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ يَقْرَأُ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولَى بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلَى وَ فِي الثَّانِيَةِ قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَ فِي الثَّالِثَةِ قَالَ هُوَ اللهُ أَحَدٌ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ وَ قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ رواه الدارقطني والطحاوي و صححه .(۱)

ترجمه : عمره د حضرت عائشي رضي الله عنها نه روايت کړي چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم به دري رکعته وتر فرمايل په اول رکعت کې به ئي سبح اسم ربک الاعلى او په دويم رکعت کې به ئي قل يا ايها الكافرون او په دريم رکعت کې به ئي قل هو الله احد قل اعوذ برب الفلق او قل اعوذ برب الناس تلاوت فرمايه . دا حديث دار قطني او طحاوي کړي دي او طحاوي صحيح ګڼلي دي .

﴿۶۱۸﴾ و عَنِ الْمِسْوَرِ بْنِ مَخْرَمَةَ قَالَ دَفَنَّا أَبَا بَكْرٍ رضي الله عنه لَيْلاً فَقَالَ عُمَرُ رضي الله عنه إِنِّي لَمْ أُوتِرْ فَقَامَ وَ صَفَفْنَا وَرَاءَهُ فَصَلَّى ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ لَمْ يُسَلِّمْ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ اخرجه الطحاوي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : مسور بن مخرمه ويلي دي چې مونږ حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه د شپې هغ کړ نو حضرت عمر رضي الله عنه وويل چې ما وتر نه دي کړي نو ودريد او مونږ ورپسې صف جوړ کړ نو مونږ ته ئي دري رکعته وتر وکړل او سلام ئي فقط په اخري رکعت کې وګرځاوه . د دي حديث اخراج طحاوي کړي دي او اسناد ئي صحيح دي .

﴿۶۱۹﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ اَلْوِتْرُ ثَلَاثُ كَوِتْرِ النَّهَارِ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۳)

ترجمه : حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې وتر دري رکعته دي لکه چې د ورځې

---

(۱) دار قطني كتاب الوتر ج۲ــ ۳۵ باب ما يقرأ في ركعات الوتر ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ــ ۱۹۶ باب الوتر.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ــ ۲۰۲ باب الوتر .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ــ ۲۰۲ باب الوتر .

Maktaba Tul Ishaat.com

وتر د مابنام مونځ دي. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۲۰﴾ وَعَنْ ثَابِتٍ قَالَ صَلَّى بِيَ أَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ الْوِتْرَ وَأَنَا عَنْ يَمِينِهِ وَأُمُّ وَلَدِهِ خَلْفَنَا ثَلَاثَ رَكَعَاتٍ لَمْ يُسَلِّمْ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ فَكَأَنَّهُ يُرِيدُ أَنْ يُعَلِّمَنِي رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : ثابت ويلي دي چې ماته حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دري رکعته وتر مونځ وکړ چې زه ئې نبي خوا ته وړم او د هغه ام ولده زمونږ نه روسته وه او سلام ئې فقط د دي رکعتونو په اخر کې واړاوه زما غالب ګمان داؤ چې هغه ماته د وترو طريقه ښودله. د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۲۱﴾ وَعَنْ أَبِي خَالِدَةَ قَالَ سَأَلْتُ أَبَا الْعَالِيَةِ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ عَلَّمَنَا أَصْحَابُ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ عَلَّمُونَا أَنَّ الْوِتْرَ مِثْلُ صَلَاةِ الْمَغْرِبِ غَيْرَ أَنَّا نَقْرَأُ فِي الثَّالِثَةِ فَهٰذَا وِتْرُ اللَّيْلِ وَهٰذَا وِتْرُ النَّهَارِ رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : ابو خالد ويلي دي چې ما د وترو په باره کې د ابو العاليه نه پوښتنه کړې نو هغه وويل چې مونږ ته د محمد صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو د وترو تعليم کاوه او يائي ويلي دي چې هغو مونږ ته تعليم راکاوه چې وتر د مابنام د مانځه په شان دي خو ولې دومره ده چې مونږ به د وترو په دريم رکعت کې قرأت کاوه دا د شپې وتر دي او هغه د ورځې وتر دي. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۲۲﴾ وَعَنِ الْقَاسِمِ قَالَ وَرَأَيْنَا أُنَاسًا مُنْذُ أَدْرَكْنَا يُوتِرُونَ بِثَلَاثٍ وَإِنْ كُلًّا لَوَاسِعٌ وَأَرْجُو أَنْ لَا يَكُونَ بِشَيْءٍ مِنْهُ بَأْسٌ رواه البخاري.(۳)

ترجمه : قاسم ويلي دي مونږ خلک ليدلي دي د کوم وخت نه چې مونږ بلوغ ته رسيدلي يو هغو به دري رکعته وتر کول او بې شکه د وترو هره يوه طريقه واسع ده او په يوه شئ کې به هم باک او حرج نه وي. روايت د دي حديث بخاري کړي دي.

﴿۶۲۳﴾ وَعَنْ أَبِي الزِّنَادِ عَنِ السَّبْعَةِ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيَّبِ وَعُرْوَةَ بْنِ الزُّبَيْرِ وَالْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ وَأَبِي

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۰۲ باب الوتر.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۰۲ باب الوتر.

(۳) بخاري ابواب الوتر ج۱ ص ۱۳۵ باب ماجاء في الوتر.

Maktaba Tul Ishaat.com

بَكْرِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ وَ خَارِجَةَ بْنِ زَيْدٍ وَ عُبَيْدِ اللهِ بْنِ عَبْدِ اللهِ وَ سُلَيْمَانَ بْنِ يَسَارٍ فِي مَشِيخَةٍ سِوَاهُمْ أَهْلُ فِقْهٍ وَصَلَاحٍ وَ فَضْلٍ وَ رُبَّمَا اخْتَلَفُوا فِي الشَّيْءِ فَأَخَذَ بِقَوْلِ أَكْثَرِهِمْ وَ أَفْضَلِهِمْ وَ رَأَيْنَا فَكَانَ مِمَّا وَعَيْتُ عَنْهُمْ عَلٰى هٰذِهِ الصِّفَةِ أَنَّ الْوِتْرَ ثَلَاثٌ لَا يُسَلِّمُ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه: ابي الزناد د اوُو کسانو تابعینو، سعید بن المسیب، عروه ابن الزبیر، قاسم بن محمد، ابي بکر ابن عبدالرحمن، خارجه ابن زید، عبیدالله ابن عبدالله، سلیمان ابن یسار د دوي نه په غیر یو فقیه د صلاح او د فضل خاوندانو په موجودګئ کې روایت کړي دي او کله به چې هغوي په یو شئ کې اختلاف وکړو نو د داسي کس په وړل به ئې عمل کاوه چې د زیاتي ښې رأي او فضیلت والا به ؤ کومه خبره چې ما د دوي نه په دغه صفت سره یاده کړي ده هغه دا ده چې وتر دري رکعته دي او سلام به ئې فقط د دي رکعتونو په اخر کې اړاوه. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۲۴﴾ وَ عَنْهُ قَالَ أَثْبَتَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ الْوِتْرَ بِالْمَدِينَةِ بِقَوْلِ الْفُقَهَاءِ ثَلَاثًا لَا يُسَلِّمُ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه: او ابي الزناد ویلي دي چې حضرت عمر ابن عبدالعزیز په مدینه منوره کې د فقهاؤ کرامو د قول موافق دري رکعته وتر مقرر کړي دي چې سلام فقط د دي دري رکعتونو په اخر کې دي. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

په یو رکعت سره دري رکعته وتر باندې داحنافو دلائل:

دباب تول په توله مرفوع او موقوف حدیثونه په مسئلة الباب کې دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ واضح دلیلونه دي، په بعضو کې وتر دري رکعتو کیدو او په بعضو کې سو سلام سره د دري رکعت په کیدو کې صراحت موجود دي اهم دلیلونه اجمالا په لاندې ډول دي:

۱. حدیث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ "ثم أوتر بثلاث" وعنه ايضاً "كَانَ يُوتِرُ بِسَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى وَ قُلْ يٰأَيُّهَا الْكَافِرُونَ وَ قُلْ هُوَ اللهُ أَحَدٌ" همدغه روایت دابي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عبدالرحمن بن أبزي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عائشه رضي الله عنها نه هم مروي دی ددې مطابق د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دائمي

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۰۴ باب الوتر.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۰۳ باب الوتر.

Maktaba Tul Ishaat.com

معمول دي ركعته دوترو كول وو .

۲. حديث دعائشه رضي الله عنها : "كَانَ لَا يُسَلِّمُ فِي رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ" .

۳. حديث دعبدالله بن أبي قيس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن عائشه رضي الله عنها : "بِأَرْبَعٍ وَ ثَلَاثٍ وَسِتٍّ وَ ثَلَاثٍ وَ ثَمَانٍ وَ ثَلَاثٍ وَ عَشَرَةَ وَ ثَلَاثٍ" ددې حديث نه په ټولو حديثونو كې تطبيق پيدا كيږي ځكه چې صفا صفا بنودلې شوي دي چې كوم ځاي كې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوه ركعته كړي نو هلته به ځلور نفل او دري وتره وو ، او كوم ځاي كې يې چې ځلور كړي هلته اته نفل او دري وتر به وو او كوم ځاي كې چې يې ديارلس ركعته كړي نو هلته به لس دوترو نه علاوه دري نور وتر وو ، بهرحال وتر هميشه دري ركعته كيږي .

۴.... حديث دمسور عن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "فصلى بنا ثلاث ركعات لم يسلم الا في آخرهن" .

۵... حديث دابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موقوفا : "اَلْوِتْرُ ثَلَاثٌ كَوِتْرِ النَّهَارِ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ" .

۶... حديث دثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عن انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ موقوفا : "اَلْوِتْرُ ثَلَاثٌ لَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِي آخِرِهِنَّ" .

۷... ابوالعاليه رَحِمَهُ اللهُ فرمايي " مونږ ته دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابو د دريو ركعتو وتر تعليم راكړو" .

۸... ابوالزناد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې دمدينې منورې فقهاء سبعه يو سلام سره د دريو ركعتو وترو قائله وو او حضرت عمربن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ د همدې فتوى موافق دري ركعته وتر حكم يې جاري كړو .

﴿ بَابُ مَنْ قَالَ اِنَّ الْوِتْرَ بِثَلَاثٍ اِنَّمَا يُصَلِّي بِتَشَهُّدٍ وَاحِدٍ ﴾

دا باب دې په بيان د هغه چا په قول كې چې وتر دري دي خو په يو تشهد به كولي شي

﴿۶۲۵﴾ عن اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا تُوتِرُوا بِثَلَاثٍ اَوْتِرُوا بِخَمْسٍ اَوْ بِسَبْعٍ وَلَا تَشَبَّهُوا بِصَلَاةِ الْمَغْرِبِ رواه محمد بن نصر المروزي والدارقطني والحاكم والبيهقي واسناده صحيح قَالَ النِّيمَوِي اَلْاِسْتِدْلَالُ بِهٰذَا الْخَبَرِ غَيْرُ صَحِيحٍ .(۱)

---

(۱) قيام الليل كتاب الوتر ص ۲۱۵ باب الوتر بثلاث عن الصحابة ...الخ ، دار قطني كتاب الوتر ج۲ ص ۲۴ لا تشبهوا الوتر بصلاة المغرب ، مستدرك حاكم كتاب الوتر ج۱ ص ۳۰۴ باب الوتر حق ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ ص ۳۱ باب من اوتر بخمس موصولات...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې دري رکعته وتر مه کوئ په پنځو او يا په اوو رکعتونو سره وتر کوي او د مانښام د مانځه سره ئې مه يو شان کوئ . د دي حديث روايت محمد بن نصر مروزي کړي دي او دار قطني او حاکم او بيهقي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي . او نيموي ويلي دي چې په دي حديث باندي استدلال نيول صحيح نه دي .

﴿۶۳۶﴾ وَعَنْ سَوِيدِ بْنِ هُشَامٍ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِثَلَاثٍ لَا يَقْعُدُ إِلَّا فِي آخِرِهِنَّ وَ هٰذَا وِتْرُ أَمِيرِ الْمُؤْمِنِينَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ وَعَنْهُ أَخَذَهُ أَهْلُ الْمَدِينَةِ رواه الحاكم فِي الْمُسْتَدْرَكِ وَهُوَ غَيْرُ مَحْفُوظٍ .(۱)

قَالَ النِّيمَوِي إِنَّ كَثِيرًا مِنَ الْأَحَادِيثِ الَّتِي أَوْرَدْنَاهَا فِيمَا مَضٰى تَدُلُّ بِظَاهِرِهَا عَلٰى تَشَهُّدِ الْوِتْرِ .

ترجمه : د سعيد بن هشام نه روايت دي چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دري رکعته وتر کول فقط د دي وترو په اخر رکعت کې به کيناسته او دا وتر د امير المؤمنين حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دي او د ده نه اهل مدينه وُ اخستي دي . د دي حديث روايت په مستدرک کې حاکم کړي او دا حديث غير محفوظ دي .

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې ډير هغه احاديث چې مونږ هغه په تيرو بابونو کې راوړي دي ظاهراً د وترو په دوه وُ تشهدونو باندي دلالت کوي .

ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې کلام : شافعيه رَحِمَهُمُ اللهُ او حنابله رَحِمَهُمُ اللهُ " ولا تشبهوا بصلاة المغرب " دا مطلب اخلي چې په صلاة المغرب کې دري رکعته دوه تشهدو سره وي نو ددې مشابهت نه کولو مطلب دا شو چې وتر دري رکعته يو تشهد سره ادا کړئ .

امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې ددوي دا استدلال صحيح نه دي ، په اصل کې بعضي احاديثو کې دمانښام مونځ ته " وتر النهار " او وتر مونځ ته " وتر الليل " ويلي شوي دي ، كما في حديث أبي العالية " فهذا وتر الليل وهذا وتر النهار " (آثار السنن :۲۶۱) لهذا دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث مذکور مقصد دادي چې "وتر الليل" کې دمانښام مونځ په شان صرف په دريو رکعتونو باندې اکتفی مه کوئ بلکې ددې نه مخکې تهجد هم کوئ ، دا تاويل ضروري دی ورنه ددريو رکعتونو والا صحيح او

---

(۱) مستدرك حاكم ، كتاب الوتر ج۱ صـ ۳۰۴ باب الوتر حق

Maktaba Tul Ishaat.com

دصریح احدیثو مخالفت به لازم راشي دحدیث داسبا قو نه هم ددې تائید کیږي.

دعائشه رضي الله عنها په حدیث باندې کلام:

مصنف رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې دا حدیث غیر محفوظ دې، وضاحت ددې دادې چې مذکوره حدیث ابان بن یزید العطار خو "لایقعد الا في آخرهن" سره نقل کوي د سعید بن أبي عروبه رَحِمَهُ اللهُ روایت زیات قوي کیدو دوجې نه راجح کیدل پکار دي غرض دا چې دا حدیث هم ددې مستدل نشي کیدای والله اعلم بالصواب.

بَابُ الْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ

په وترو کې د قنوت باب

﴿۶۲۷﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ اَبِي لَيْلٰى اَنَّهُ سُئِلَ عَنِ الْقُنُوتِ فَقَالَ حَدَّثَنَا الْبَرَاءُ بْنُ عَازِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سُنَّةٌ مَاضِيَةٌ اخرجه السراج واسناده حسن وسيأتي روآيات اخري في الباب الآتي ان شاء الله تعالى.

ترجمه: د عبدالرحمن بن ابي ليلي نه روایت دي چې د هغه نه د قنوت په باره کې پوښتنه وشوه نو هغه وویل چې مونږ ته حضرت براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث بیان کړي هغه ویلي دي چې د اجازي سنت طریقه ده. دا حدیث سراج خارج کړي او اسناد ئې حسن دي او زرده چې په راتلونکي باب کې به نور روایتونه هم راشي انشاء الله تعالى.

تشریح: د قنوت لغوي معنی: قنوت په مختلف معنې ګانو استعمال شوي (۱) سکوت (۲) دعاء (۳) خشوع (عاجزي) (۴) طول د قیام (۵) طاعت.

او ابن عربي ویلي دي چې قنوت په لسو معنې ګانو سره راغلي دي (۱) قیام (۲) صلوة (۳) سکوت (۴) طاعت (۵) عبادت (۶) خشوع (۷) طول د قیام (۸) ارام په طاعت (۹) په عبودیت باندې اقرار (۱۰) اقامت.

آیا قنوت في الوتر پوره کال مشروع دې یا صرف مخصوص ورځو کې؟

۱... حنفیه او حنابله دپوره کال د قنوت في الوتر قائله دي.

۲... شافعیه مطلقا او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ في المشهور قنوت في الوتر صرف درمضان په نصف اخیر کې قائله دي. (بداية المجتهد، ۲:۱۶۴)

داحنافو او دحنابلو دلائل:

(۱) دباب اولني حدیث دبراء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: "سنة ماضية".

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) حدیث دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " كان يقول في اخر الوتر اللهم اني اعوذ برضاك من سخطك واعوذ بمعافاتك من عقوبتك واعوذ بك منك لا احصي ثناء عليك انت كما اثنيت على نفسك ".

حدیث دحسن بن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: " كلمات اقولهن في قنوت الوتر " (ابوداود :۲۰۲/۱).په مذکوره روایتونو کې رمضان او دغیر رمضان قید نشته.

(۳) دراروان باب حدیث نمبر ۶۳۳ "كَانَ يَقْنُتُ السُّنَّةَ كُلَّهَا فِي الْوِتْرِ ".

دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نه حضرات عمر ، علي ، ابوموسی اشعري ، براء ، ابن عباس او ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ هم پوره کال دقنوت قائله دي همدارنګه که دلائل قویه ته اوګورو دشافعیو نه ابو عبدالله زبیر رَحِمَهُ اللهُ ، ابووليد نیشاپوري رَحِمَهُ اللهُ، ابوفضل بن عبدان رَحِمَهُ اللهُ، او ابومنصور بن مهران رَحِمَهُ اللهُ هم پوره کال دقنوت في الوتر قائل دي.

دشافعیه او دمالکیه دلائل:

(۱) " عن الحسن ان عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جمع الناس على أُبي بن كعب فكان يصلي لهم عشرين ليلة (وفي بعض النسخ : عشرين ركعة) ولا يقنت بهم الا في النصف الباقي ". (الدرالمنضود :۵۹۳/۲)

(۲) حدیث دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقنت في النصف من رمضان (الكامل لابن عدي)

(۳) اثر دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "كان لا يقنت الا في النصف الاخير من رمضان ". (الرملي شريف)

جوابات :

۱.... داولني حدیث سند منقطع دي ځکه چې دحسن بصري رَحِمَهُ اللهُ سماع دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ثابت نه دی.

۲... امام بیهقي رَحِمَهُ اللهُ شافعي دحدیث انس مذکور سند لره غیر صحیح ویلي دی.

۳... اثر دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مذکور دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اجتهاد وو یا بیا دقنوت نه مراد طول قیام دي.

﴿بَابُ قُنُوتِ الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوعِ﴾

درکوع نه مخکې په وتر وکې د قنوت باب

﴿۶۲۸﴾ عن عَاصِمٍ قَالَ سَأَلْتُ أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوتِ فَقَالَ كَانَ الْقُنُوتُ قُلْتُ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَهُ قَالَ قَبْلَهُ قَالَ فَإِنَّ فُلَانًا أَخْبَرَنِي عَنْكَ أَنَّكَ قُلْتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَقَالَ كَذَبَ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْدَ الرُّكُوعِ شَهْرًا أُرَاهُ كَانَ بَعَثَ قَوْمًا يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ زُهَاءَ سَبْعِينَ رَجُلاً

Maktaba Tul Ishaat.com

إِلَى قَوْمٍ مُشْرِكِينَ دُونَ أُولَئِكَ وَكَانَ بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَهْدٌ فَقَنَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا يَدْعُو عَلَيْهِمْ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : عاصم ويلي دي چې ما د قنوت په باره کې د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه وکړه نو هغه وويل چې په تحقيق قنوت وُ ما وويل چې د رکوع نه مخکې وُ او که د رکوع نه روسته وُ هغه وويل چې د رکوع نه مخکې وُ هغه وويل چې فلاني ماته د ستا د خوا نه خبر راکړي چې تا ويلي دي چې د رکوع نه روسته وُ هغه يعني حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې هغه دروغ ويلي دي. بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فقط يوه مياشت د رکوع نه روسته قونت ويلي دي زه ګمان کوم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تقريبا اويا کسان چې قراء ورته ويلي شو مشرکينو ته ليږلي وُ دا مشرکان د هغوي نه غير وُ او د مشرکانو او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر منځ معاهده وه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تريوي مياشتي پوري د قنوت دعا ويلي ده او هغو ته ئې بدعاء کړي ده د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۶۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ أَنَسًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوتِ بَعْدَ الرُّكُوعِ أَوْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِنَ الْقِرَاءَةِ قَالَ بَلْ عِنْدَ فَرَاغٍ مِنَ الْقِرَاءَةِ رواه البخاري في المغازي.(۲)

ترجمه: عبدالعزيز ويلي دي چې يو سړي دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د قنوت د دعاء په باره کې پوښتنه وکړه چې قنوت د رکوع نه روسته دي او که د قرأت نه د فراغت په وخت کې دي انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې بلکه د قرأت نه د فراغت په وخت کې دي. د دي حديث روايت په مغازي کې بخاري کړي.

﴿۶۳۰﴾ وَعَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوتِرُ فَيَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوعِ رواه ابن ماجه والنسائي واسناده صحيح.(۳)

ترجمه : حضرت اُبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وتر وکړل نو د قنوت دعا ئي د رکوع نه مخکې وويله. د دي حديث روايت ابن ماجه او نسائي کړي دي او اسناد ئي

---

(۱) بخاري ابواب الوتر ج۱ صـ ۱۳۶ باب القنوت قبل الركوع وبعده ، مسلم كتاب صلوٰة المسافرين ج۱ صـ ۲۳۷ باب استحباب القنوت في جميع الصلوات .

(۲) بخاري كتاب المغازي ج۲ صـ ۵۸۶ باب غزوة الرجيع ورعل وذكوان وبئر معونة .

(۳) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۸۴ باب ماجاء في القنوت قبل الركوع وبعده ، نسائي كتاب قيام الليل ...الخ ج۱ صـ ۲۴۸ باب كيف الوتر بثلاث .

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح دي.

﴿۶۳۱﴾ وَ عَنْ عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ الْاَسْوَدِ عَنْ اَبِيه قَالَ كَانَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لَا يَقْنُتُ فِي شَيءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ اِلَّا الْوِتْرَ فَاِنَّه كَانَ يَقْنُتُ قَبْلَ الرَّكْعَةِ رواه الطحاوي والطبراني واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د عبدالرحمن بن اسود نه روايت دي چې د ده پلار ويلي دي چې حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د وترو نه په غير په بل هيڅ يو مونځ کې د قنوت دعا نه ده کړي او هغه به د رکوع نه مخکې د قنوت دعاء کوله. د دي حديث روايت طحاوي او طبراني کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۳۲﴾ وَ عَنْ عَلْقَمَةَ اَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ اَصْحَابَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا يَقْنُتُونَ فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرَّكُوعِ رواه ابن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د علقمه نه روايت دي چې حضرت بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصحابو به د رکوع نه مخکې په وترو کې د قنوت دعاء ويله د دي حديث روايت ابي شيبه کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۳۳﴾ وَ عَنْ اِبْرَاهِيمَ اَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ يَقْنُتُ السَّنَةَ كُلَّهَا فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرَّكُوعِ رواه محمد بن الحسن في اكتاب الآثار و اسناده مرسل جيد.(۳)

ترجمه : د ابراهيم نه روايت دي چې ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په ټول کال کې په وترو کې د رکوع نه مخکې د قنوت دعا ويلي وه. د دي حديث روايت محمد ابن الحسن په کتاب الآثار کې کړي دي او اسناد ئې مرسل جيد دي.

﴿۶۳۴﴾ وَ عَنْ حَمَّادٍ عَنْ اِبْرَاهِيمَ النَّخْعِي اَنَّ الْقُنُوتَ وَاجِبٌ فِي الْوِتْرِ فِي رَمَضَانَ وَ غَيرِه قَبْلَ الرَّكُوعِ وَ اِذَا اَرَدْتَ اَنْ تَقْنُتَ فَكَبِّرْ وَ اِذَا اَرَدْتَ اَنْ تَرْكَعَ فَكَبِّرْ اَيضًا رواه محمد بن الحسن في كتاب الحُجَجِ والآثار و اسناده صحيح.(۴)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۷۳ باب القنوت في الفجر وغيره ، المعجم الكبير ج ۹ صـ ۳۲۷ برقم ۹۴۲۵.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ صـ ۳۰۲ باب في القنوت قبل الركوع او بعده .

(۳) كتاب الآثار باب القنوت في الصلوة صـ ۴۳ رقم ۲۱۱ .

(۴) كتاب الحجة ج۱ صـ ۲۰۰ باب عدد الوتر ، كتاب الآثار باب القنوت في الصلوة صـ ۴۳ برقم ۲۱۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حماد د ابراهيم نخعي نه روايت کړي چې په وتر کې په رمضان او غير رمضان د رکوع نه مخکې د قنوت دعاء واجب ده او کله چې ته قنوت ويل غواړې نو تکبير ووايه او کله چې ته رکوع کول وغواړې نو تکبير هم ووايه . د دي حديث روايت محمد بن الحسن په کتاب الحج او کتاب الآثار کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

په دي احاديثو کې د وتر په اخري رکعت کې د قنوت مختلف فيه مسئله بيانيږي چې آيا د قنوت دعاء د وتر په اخري رکعت کې قبل الرکوع ويلي شي او که بعد الرکوع ويلي شي په دي باره کې دري مذهبونه منقول (۱) احناف (۲) شوافع (۳) او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ .

(۱) احناف : د احنافو په نزد په وتر کې قنوت د رکوع نه مخکې مسنون دي او قنوت نازله بعد الرکوع همدغه مذهب د عبدالله بن المبارک او اسحاق براء بن عازب او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هم دي .

(۲) امام مالک رَحِمَهُ اللهُ : د قنوت في الوتر خو قائله نه دي البته په فجر کې قبل الرکوع قنوت ته سنت وايي . (المدورنه ، ص : ۲۶)

(۳) شافعيه او حنابله : په نزد قنوت قبل الرکوع او قنوت بعد الرکوع دواړه جائز دي که نازله وي او في الوتر .

دحنفيو دلائل : دباب ټول حديثونه دحنفيو دليلونه دي خاص کر حديث دابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۶۳۰ " اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يوتِرُ فَيَقْنُتُ قَبْلَ الرُّكُوعِ " او حديث نمبر ۶۳۲ اَنَّ ابْنَ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَاَصْحَابَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانُوا يَقْنُتُوْنَ فِي الْوِتْرِ قَبْلَ الرُّكُوعِ " الخ .

دشافعيو او دحنابلو دليل : دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مشهور اثر : " كان يقنت بعد الركوع " .

جوابونه : (۱) دا دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اجتهاد وو دکوم منشا چې دا وه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يې په قنوت نازله بعد الرکوع باندې ليدلي وو نو قنوت وتريي په همدې باندې قياس کړ .

(۲) ابن المنذر رَحِمَهُ اللهُ دډيرو صحابو او تابعينو او تبع تابعينو نه قنوت وتر قبل الرکوع نقل کړې دی مثلا حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، ابوموسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، براء بن عازب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ، او انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ..... عمر بن عبدالعزيز رَحِمَهُ اللهُ ، عبيدة السلماني رَحِمَهُ اللهُ ، حميد الطويل ، ابن ليلى رَحِمَهُ اللهُ ، دحضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه هم يو روايت قبل الرکوع مروي دی .

(۳) دباب په اولني حديثو کې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صراحت فرمايلې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قنوت نازله بعد الرکوع اوکړو او قنوت وتر قبل الرکوع مسنون دي . والله اعلم

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عِنْدَ قُنُوتِ الْوِتْرِ﴾

دوترو د قنوت په وخت کې د لاسونو د اوچتولو باب

﴿۶۳۵﴾ عَنِ الْاَسْوَدِ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يَقْرَأُ فِي آخِرِ رَكْعَةٍ مِنَ الْوِتْرِ قُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ ثُمَّ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فَيَقْنُتُ قَبْلَ الرَّكْعَةِ رواه البخاري في جُزءِ رَفْعِ اليَدَيْنِ وَ اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د اسود نه روايت دي چې عبدالله رضي الله عنه د وترو په اخري رکعت کې قل هو الله احد تلاوت کاوه بيا به ئې خپل دواړه لاسونه اوچتول نو د رکوع نه مخکې به ئې د قنوت دعاء ويله . د دي حديث روايت د رفع اليدين په جزء کې بخاري کړي دي .

﴿۶۳۶﴾ وَ عَنْ اِبْرَاهِيمَ النَّخْعِي قَالَ تُرْفَعُ الْاَيْدِي فِي سَبْعِ مَوَاطِنَ فِي اِفْتِتَاحِ الصَّلَاةِ وَفِي التَّكْبِيرِ لِلْقُنُوتِ فِي الْوِتْرِ وَ فِي الْعِيدَيْنِ وَ عِنْدَ اِسْتِلَامِ الْحَجَرِ وَ عَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ وَ بِجَمْعٍ وَ عَرَفَاتٍ وَ عِنْدَ الْمَقَامَيْنِ عِنْدَ الْجَمْرَتَيْنِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : ابراهيم نخعي رحمه الله ويلي دي چې په اوو ځايونو کې به لاسونه اوچتولي شي (۱) د مانځه په شروع کې (۲) په وتر کې د قنوت د پاره د تکبير په ويلو کې (۳) د اخترونو په تکبيراتو کې (۴) د حجر اسود د بنکلولو په وخت کې (۵) د صفا او مروه په طواف کې (۶) په مزدلفه او عرفات باندې د ودريدو په وخت کې (۷) اوپه دوه ؤ مقامونو د جمرو ويشتلو ته د ودريدو په وخت کې . د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

دترجمة الباب نه غرض : علامه نيموي رحمه الله دنوم اخيستلو نه بغير دبعضي اهل علمو ددې خيال تردید کول غواړي چې دقنوت وتر لپاره د يدين په ثبوت صحيح حديث، خو پريده چې اثرد صحابي رضي الله عنه يا اثر دتابعي رحمه الله هم موجود نشته . چنانچې دباب په دواړو حديثونو کې قنوت وتر کې مستقلا رفع يدين ذکر موجود دي . (اوګورئ التعليق الحسن)

علامه بنوري رحمه الله فرمايي چې دعلامه نيموي رحمه الله مراد دبعضي اهل علمو نه شاه محمد اسحاق دهلوي رحمه الله شاګرد شيخ نذير حسين دهلوي مرحوم دي . (معارف السنن : ۲۳۴/۴)

---

(۱) جزء رفع يدين للبخاري مترجم صـ ۶۳ .

(۲) طحاوي كتاب المناسك الحج ج ۱ صـ ۴۵۵ باب رفع اليدين عند رؤية البيت

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ الْقُنُوتِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ﴾

د سهر په مانځه کې د قنوت باب

﴿۶۳۷﴾ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مَازَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْنُتُ فِي الْفَجْرِ حَتّٰى فَارَقَ الدُّنْيَا رواه عبد الرزاق و احمد و الدار قطني و الطحاوي و البيهقي في المعرفة و في اسنادہ مقال.(۱)

ترجمه : حضرت انس ابن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلی دي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر په مانځه کې همیشه د قنوت دعاء لوستله تر څو پورې چې د دنیا نه جدا شو. د دي حدیث روایت عبدالرزاق، احمد الدار قطني، الطحاوي او بیهقي په معرفت کې کړي او په اسناد کې ئې مقال او خبري دي.

﴿۶۳۸﴾ و عن طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ صَلَاةَ الصُّبْحِ فَلَمَّا فَرَغَ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ كَبَّرَ ثُمَّ قَنَتَ ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رواه الطحاوي و اسنادہ صحيح.(۲)

ترجمه : طارق ابن شهاب ویلي دي چې ما د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پسې د سهر مونځ وکړو نو کله چې په دویم رکعت کې هغه د قرأت نه فارغ شو تکبیر ووایه بیا ئې د قنوت دعاء وویله بیا ئې تکبیر ووایه نو رکوع ئې وکړه. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۳۹﴾ و عن اَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يَقْنُتُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ قَبْلَ الرُّكُوعِ رواه الطحاوي و اسنادہ حسن.(۳)

ترجمه : د ابو عبدالرحمن نه روایت دي چې حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د سهر په مانځه کې د رکوع نه مخکې د قنوت دعاء وویله. د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۴۰﴾ و عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ قَالَ كَانَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ اَبُو مُوسٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقْنُتَانِ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ رواه الطحاوي و اسنادہ صحيح.(۴)

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۳ صـ ۱۱۰ باب القنوت، مسند احمد صـ ۱۶۲ ج۳، دار قطني كتاب الوتر ج۲صـ۳۹ بـاب صفة القنوت ...الخ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۶۸ باب القنوت في الفجر وغيره، معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج۳صـ ۱۲۱ رقم الحديث ۳۹۵۶، سنن الكبرىٰ للبيهقي كتاب الصلوة ج۲صـ ۲۰۱.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۱ باب القنوت في الفجر وغيره.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۲ باب القنوت في الفجر وغيره.

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۲ باب القنوت في الفجر وغيره.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او عبدالرحمن بن مغفل ویلي دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوارو د سهر په مانځه کې به د قنوت دعاء ویلې ده د دې حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۲۱﴾ وَ عَنْ أَبِي رَجَاءَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيْتُ مَعَهُ الْفَجْرَ فَقَنَتَ قَبْلَ الرَّكْعَةِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : ابو رجاء د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کړي ابو رجاء ویلي دي چې ما د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د سهر مونځ وکړو نو هغه په کې د قنوت دعاء وویله . د دې حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

دفجر په مونځ کې قنوت مستقلا مشروع دي یا نه ؟

قنوت دري حیثیت لري اول نفس قنوت یا مطلق قنوت دویم د وترو قنوت ، دریم د فجر قنوت. اول په نفس قنوت کې د هیڅا هم اختلاف نشته ټول په دې مقرر دي چې نفس قنوت ثابت دي او په دې کې هم څه شک نشته چې د سهر د مانځه نه په غیر په باقي ځلور مونځونو کې په غیر د څه سبب نه د شوافعو په نزد هم قنوت نشته.

دویم د وترو قنوت د وترو په قنوت کې اختلاف دي چې د وترو قنوت مستقل دي او که د فجر قنوت مستقل دي د احنافو او حنابله وُ په نزد باندې د وترو قنوت مستقل دي او د شوافعو او مالکیه وُ په نزد باندې د فجر قنوت مستقل دي . دریم قنوت فجر د فجر په قنوت کې اختلاف دي هغه دا چې په فجر کې په غیر د څه سبب نه قنوت شته او که نشته په دې باره کې دوه مذهبه دي:

(۱) امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ امام محمد رَحِمَهُ اللهُ او د اکثرو اهل علمو په نزد باندې په فجر کې په غیر د څه سبب نه قنوت نشته.

(۲) مذهب : د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې د سهر په مانځه کې همیشه او په دائمي ډول باندې قنوت مسنون دي او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد مستحب دي .....

دمالکیو او دشوافعو دلیل:

۱... دباب اولني حدیث دکوم مطابق چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوره ژوند کې قنوت لوستل.

۲... حضرت عمر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په فجر کې به یې قنوت لوستل كما في روايات الباب.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ صـ ۱۷۳ باب القنوت في الفجر وغيره .

Maktaba Tul Ishaat.com

د حنفيه او اكثر اهل علمو دليلونه :

دراروان باب ټول حديثونه بالخصوص حديث دابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۶۴۹: " كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْنُتُ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ إِلَّا أَنْ يَدْعُوَ لِقَوْمٍ أَوْ عَلَى قَوْمٍ " او حديث دابي مالک اشجعي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۶۵۰ کوم کي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دحضراتو خلفاء راشدينو نه دقنوت فجر عدم ثبوت نه بلکي هغوي دېته بدعت ويلي دی.

مالکيه او شوافعو ته جواب :

(۱) بخاري او مسلم او نورو کتابونو دحديثو کې دحضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا فيصله کونکي قول منقول دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دفجر په مونځ کې چې کوم قنوت ويلي دی هغه قنوت نازله دي دمخصوصو قومونو په خلاف يو څو ورځې يې اويلو بيا يې پريخودو .

(۲) په ترمذي شريف کې په سند دحسن صحيح دحضرت براء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دی " يقنت في صلاة الفجر والمغرب " ددېنه دفجر نه علاوه په مونځ کې هم دقنوت ثبوت ملاو شو لهذا فما هو جوابكم عن القنوت في غير الفجر فهو جوابنا عن القنوت في الفجر .

(۳) دمختلفو احاديثو په مينځ کې دتطبيق صورت همدغه دي چې دقنوت فجر نه دي قنوت نازله مراد واخيستي شي ابن رشد مالکي رَحِمَهُ اللهُ ميلان هم همدغې طرفته دي .(بداية المجتهد،ص:۱۰۹)

﴿بَابُ تَرْكِ الْقُنُوتِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ﴾

د سهر په مانځه کې د قنوت د پريښودلو باب

﴿۶۴۲﴾ عَنْ مُحَمَّدٍ قَالَ قُلْتُ لِأَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هَلْ قَنَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ قَالَ نَعَمْ بَعْدَ الرُّكُوعِ يَسِيرًا رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : محمد ويلي دي چې ما حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل چې آيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر په مانځه کې د قنوت دعاء ويله ده هغه وويل چې هو د رکوع نه خو لږ وخت پس . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

---

(۱) بخاري ابواب الوتر ج۱ص ۱۳۶ باب القنوت قبل الركوع وبعده ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۷ باب استحباب القنوت في جميع الصلوات ...الخ واللفظ له.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۶۴۴﴾ و عن أبي مجلز عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَنَتَ رَسُولُ اللهِ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ فِي صَلَاةِ الصُّبْحِ يَدْعُو عَلَى رِعْلٍ وَذَكْوَانَ وَيَقُولُ عَصِيَةُ عَصَتِ اللهَ وَرَسُولَه رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: ابي مجلز د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت کړي دي هغه ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر په مانځه کې د رکوع نه پس يوه مياشت د قنوت دعاء ويلي ده چې په رعل او ذکوان قبيلو باندې ئې بدعائي کوله او فرمايل ئې چې عصيه قبيلې د الله جل شانه او د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حکم نه نافرماني کړي ده. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۶۴۴﴾ وَعَنْ عَاصِمٍ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلْتُهُ عَنِ الْقُنُوتِ قَبْلَ الرُّكُوعِ أَوْ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَقَالَ قَبْلَ الرُّكُوعِ قَالَ قُلْتُ فَإِنَّ أُنَاسًا يَزْعُمُونَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ بَعْدَ الرُّكُوعِ فَقَالَ إِنَّمَا قَنَتَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهْرًا يَدْعُو عَلَى أُنَاسٍ قَتَلُوا أُنَاسًا مِنْ أَصْحَابِهِ يُقَالُ لَهُمُ الْقُرَّاءُ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: عاصم ويلي دي چې ما د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د رکوع نه مخکې او يا د رکوع نه روسته د قنوت د دعاء په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وويل چې د رکوع نه مخکې عاصم ويلي دي چې ما وويل چې خلک ګمان کوي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رکوع نه پس د قنوت دعاء ويلي ده نو حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه مياشت د قنوت دعا ويلي ده چې هغه خلکو ته ئې بدعائي کوله کومو خلکو چې د صحابه کرامو يوه ډله چې قراء ورته ويلي شي قتل کړي وه. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۶۴۵﴾ و عن أَنَسِ بْنِ سِيرِينَ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا بَعْدَ الرُّكُوعِ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ يَدْعُو عَلَى بَنِي عَصِيَةَ رواه مسلم.(۳)

---

(۱) بخاري كتاب المغازي ج۲ص ۵۸۷ باب غزوة الرجيع ورعل وذكوان ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۷ باب استحباب القنوت في جميع الصلوات .

(۲) بخاري ابواب الوتر ج۱ص ۱۳۶ باب القنوت قبل الركوع وبعده ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۷ باب استحباب القنوت في جميع الصلوات ...الخ والفظ له .

(۳) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۷ باب استحباب القنوت في جميع الصلوات ...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :انس بن سيرين د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر په مانځه کې د رکوع نه روسته يوه مياشت د قنوت دعاء ويلي وه چې بني عصيه قبيلي خلاف ئې بدعائي کوله. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۶۴۶﴾ وَ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَنَتَ شَهْرًا يَدْعُو عَلٰى اَحْيَاءِ الْعَرَبِ ثُمَّ تَرَكَه رواه مسلم.(۱)

ترجمه : قتاده د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه مياشت د قنوت دعاء ويلي وه چې د عربو د قبيلو نه ئې په بعضو قبيلو باندې ئې بددعائي کوله بيا ئې پريښې وه. د دي حديث روايت مسلم کړي.

﴿۶۴۷﴾ وَ عَنْه عَنْ اَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَقْنُتُ اِلَّا اِذَا دَعَا لِقَوْمٍ اَوْ دَعَا عَلٰى قَوْمٍ رواه ابن خزيمة و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : او قتاده د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د قنوت دعا نه ده کړي مګر کله به ئې چې يو قوم ته دعاء کوله او يا به ئې د کوم خلاف بدعائي کوله. د دي حديث روايت ابن خزيمه کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۴۸﴾ و عن اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا اَرَادَ اَنْ يَدْعُوَ عَلٰى اَحَدٍ اَوْ يَدْعُوَ لِاَحَدٍ قَنَتَ بَعْدَ الرَّكُوْعِ فَرُبَّمَا قَالَ اِذَا قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ اَللّٰهُمَّ الْعَنِ الْوَلِيْدَ بْنَ الْوَلِيْدِ وَ سَلَمَةَ بْنَ هِشَامٍ وَ عَيَّاشَ بْنَ رَبِيْعَةَ اَللّٰهُمَّ اشْدُدْ وَطْاَتَكَ عَلٰى مُضَرَ وَاجْعَلْهَا سِنِيْنَ كَسِنِيْ يُوْسُفَ يَجْهَرُ بِذٰلِكَ وَ كَانَ يَقُوْلُ فِيْ بَعْضِ صَلَاتِهٖ فِي الْفَجْرِ اَللّٰهُمَّ الْعَنْ فُلَانًا فُلَانًا لِاَحْيَاءٍ مِنَ الْعَرَبِ حَتّٰى اَنْزَلَ اللهُ لَيْسَ لَكَ مِنَ الْاَمْرِ شَيْءٌ رواه البخاري.(۳)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې په تحقيق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د يو قوم خلاف بد دعائي کوله او يا به ئې د کوم چا په حق کې دعاء کوله نو د رکوع نه روسته به ئې د

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۷ باب استحباب القنوت في جميع الصلوات ...الخ.

(۲) وقال في التلخيص الحبير كتاب الصلوة ج۱ص ۲۴۵ باب صفة الصلوة وذكر ابن خزيمة في صحيحه من طريق سعيد عن قتادة عن انس ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لم يكن يقنت .... وفي صحيح ابن خزيمة جماع ابواب ذكر الوتر ج۱ص۱۵۲رقم ۱۰۹۷ عن ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مثله.

(۳) بخاري كتاب التفسير ج۲ص ۷۵۵ باب قوله ليس لك من الامر شيء

قنوت دعاء ویلے او کله کله به ئي فرمایل چې سمع الله لمن حمده اللهم ربنا لك الحمد وویل اي الله ولید ابن ولید سلمه بن هشام او عیاش ابن ربیعه ته نجات ورکړي اي الله په مضر قبیله باندې سزا سخته کړي او په دوي باندې قحط نازل کړي لکه چې د یوسف عَلَيْهِ السَّلَام په وخت کې دي قحط کړي ؤ دا دعاء به ئي په اوچت آواز باندې فرمایله او د سهر په بعض مونځونو کې به ئي فرمایل چې اي الله د عربو د قبیلو نه په فلانئ او فلانئ قبیله باندې لعنت وفرمائي تر دي چې الله جل شانه دا ایت شریف نازل وفرمایه چې (لیس لك من الامر شئ) د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

﴿۶۴۹﴾ وَ عَنْه قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ يَقْنُتُ فِي صَلاَةِ الصُّبْحِ إِلاَّ أَنْ يَدْعُو لِقَوْمٍ أَوْ عَلَى قَوْمٍ رواه ابن حبان في صحيحه و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : او حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر په مانځه کې د قنوت دعاء نه ویله مګر په هغه وخت کې چې کله به ئي کوم قوم ته دعاء کوله او یا به ئي کوم قوم ته بد دعائي کوله. د دي حدیث روایت ابن حبان په خپل صحیح کې کړي دي او اسناد ئي صحیح دي.

﴿۶۵۰﴾ و عَنْ أَبِي مَالِك قَالَ قُلْتُ لِأَبِي يَا أَبَتِ إِنَّك قَدْ صَلَّيْتَ خَلْفَ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ و أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عَلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِالْكُوفَةِ نَحْوًا مِنْ خَمْسِ سِنِينَ أَكَانُوا يَقْنُتُونَ فِي الْفَجْرِ قَالَ أَيْ بُنَيَّ مُحْدَثٌ رواه الخمسة الا ابا داود و صححه الترمذي و قال الحافظ في التلخيص اسناده حسن.(۲)

ترجمه : ابي مالک رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې ما خپل پلار ته وویل چې اي زما پلاره په تحقیق تا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسې د ابوبکر - پسې د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې او د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې په کوفه کې نزدې پنځه کاله مونځ کړي دي آیا دوي د سهر په مانځه کې د قنوت دعا ویلي ده هغه وویل اي خویه دا بدعت دي. د دي حدیث روایت د ابوداؤد نه په غیر پنځو صاحبانو نقل کړي دي او ترمذي صحیح ګنرلي دي. او حافظ په تلخیص الحبیر کې ویلي دي چې اسناد ئي حسن دي.

---

(۱) التلخيص الحبير كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۴۶ باب صفة الصلوة نقلاً عن ابن حبان.

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۹۱ باب في ترك القنوت، نسائي كتاب الافتتاح ج۱ ص ۱۶۴ باب ترك القنوت، ابن ماجة، ابواب اقامة الصلوات ...الخ ص ۸۹ باب ماجاء في القنوت في صلوة الفجر، مسند احمد ج۳ ص ۴۷۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۶۵۱﴾ و عن الأسود أن عمر رضي الله عنه كان لا يقنت في صلاة الصبح رواه الطحاوي و اسناده صحيح.

طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۷۲ باب القنوت في الفجر وغيره.

ترجمه : د اسود نه روايت دي چې حضرت عمر رضي الله عنه د سهر په مانځه کې د قنوت دعاء نه وه لوستلې د دې حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۵۲﴾ و عنه أنه صحب عمر بن الخطاب رضي الله عنه سنين في السفر والحضر فلم يره قانتا في الفجر حتى فارقه رواه محمد بن الحسن في كتاب الآثار و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د اسود نه روايت دي چې زه څو کاله د حضرت عمر رضي الله عنه سره په سفر او په حضر کې ملګري وم ما هغه د جدائي تر وخته پوري د سهر په مانځه د قنوت دعاء په حالت کې نه وُليدلي. د دې حديث روايت په کتاب الاثار کې محمد بن حسن کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۵۳﴾ و عنه قال كان عمر رضي الله عنه إذا حارب قنت و إذا لم يحارب لم يقنت رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : اسود ويلي دي چې حضرت عمر رضي الله عنه به چې کله د دشمن سره جګړه کوله نو قنوت به ئې وايه او کله به ئې چې د دهمنانو سره جنګ نه کاوه قنوت به ئې نه وايه. د دې حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۵۴﴾ و عن علقمة والأسود و مسروق أنهم قالوا كنا نصلي خلف عمر رضي الله عنه الفجر فلم يقنت رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۳)

ترجمه : علقمه اسود او مسروق ويلي دي چې مونږ د حضرت عمر رضي الله عنه پسې د سهر مونځ کاوه نو هغه د قنوت دعاء نه ده ويلي. د دې حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۵۵﴾ و عن علقمة قال كان عبد الله رضي الله عنه لا يقنت في صلاة الصبح رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۴)

---

(۱) كتاب الآثار ص ۶۴ باب القنوت في العشاء رقم ۲۱۶ ولي نسخة عندي من كتاب الآثار ستين مكان سنين.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۷۲ باب القنوت في الفجر وغيره

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۷۲ باب القنوت في الفجر وغيره

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۱۷۲ باب القنوت في الفجر وغيره

Maktaba Tul Isbaat

ترجمه : علقمه ویلي دي چې حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د صبا په مانځه کې د قنوت دعاء نه ویله. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۵۶﴾ وَعَنِ الْأَسْوَدِ قَالَ كَانَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَا يَقْنُتُ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَوَاتِ إِلَّا الْوِتْرَ فَإِنَّهُ كَانَ يَقْنُتُ قَبْلَ الرَّكْعَةِ رواه الطحاوي و الطبراني و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : اسود ویلي دي چې حضرت عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به د وترو نه په غیر په هیڅ یو مونځ کې د قنوت دعاء نه ویله او هغه به د رکوع نه مخکې د قنوت دعاء لوسته. د دي حدیث روایت طحاوي او طبراني کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۵۷﴾ و عن أَبِي الشَّعْثَاءِ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوتِ فَقَالَ مَا شَهِدْتُ وَمَا رَأَيْتُ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : ابي الشعثاء ویلي دي چې ما د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د قنوت په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وویل چې نه خو زه په دغه وخت حاضروم او نه مي لیدلي دي. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۵۸﴾ وَعَنْهُ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْقُنُوتِ فَقَالَ مَا الْقُنُوتُ فَقُلْنَا إِذَا فَرَغَ الْإِمَامُ مِنَ الْقِرَاءَةِ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ قَالَ يَدْعُو قَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا يَفْعَلُهُ وَإِنِّي لَأَفْتَكُمْ مَعَاشِرَ أَهْلِ الْعِرَاقِ لَفُعَلُوْنَهُ رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۳)

ترجمه : او ابو الشعثاء ویلي دي چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د قنوت په باره کې پوښتنه وشوه نو هغه وویل قنوت څه شي دي سائل وویل چې کله امام په اخر رکعت کې د قرأت نه فارغ شي زه ورته دعاء کوي هغه وویل چې ما هیڅوک نه دي لیدلي چې دغه کار کوي او بې شکه زه په تاسو باندې اي د عراق اهله ګمان کوم چې داسې عمل کوئ. د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۵۹﴾ وَعَنْ أَبِي مَجْلَزٍ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ الصُّبْحَ فَلَمْ يَقْنُتْ فَقُلْتُ الْكِبَرُ يَمْنَعُهُ

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳ باب القنوت في الفجر وهوه ، المعجم الكبير للطبراني ج ۹ص ۳۲۸ برقم ۹۴۳۰ بلفظ بنحوه مجمع الزوائد ج۲ص ۱۳۷ نقلاً عن الطبراني في الكبير .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۹ باب القنوت في الفجر وهوه .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۹ باب القنوت في الفجر وهوه .

Maktaba Tul Ishaat.com

لَقَالَ مَا أَحْفَظُهُ عَنْ أَحَدٍ مِنْ أَصْحَابِي رواه الطحاوي والطبراني و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : ابي مجلز ويلي دي چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسې مي د صباح مونځ کړي وُ نو هغه د قنوت دعاء ونه وينه نو ماوويل چې بودا توب دي د قنوت د دعا نه منع کوي نو هغه وويل د خپلو ملګرو د يو کس نه مي هم دا نه ده ياده کړي. د دي حديث روايت طحاوي او طبراني کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۶۰﴾ وَعَنْ نَافِعٍ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ لَا يَقْنُتُ فِي شَيْءٍ مِنَ الصَّلَاةِ رواه مالك و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د نافع نه روايت دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د مانځه په يو شئ کې هم د قنوت دعا نه ويله. د دي حديث روايت مالک کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۶۱﴾ و عَنْ عِمْرَانَ بْنَ الْحَارِثِ السُّلَمِيِّ قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا الصُّبْحَ فَلَمْ يَقْنُتْ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : عمران ابن الحارث السلمي ويلي دي چې ما د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا پسې د سهر مونځ وکړو نو هغه د قنوت دعاء ونه ويله. د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۶۲﴾ و عن غَالِبِ بْنِ فَرْقَدٍ الطَّحَّانِ قَالَ كُنْتُ عِنْدَ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شَهْرَيْنِ فَلَمْ يَقْنُتْ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ رواه الطبراني و اسناده حسن.(۴)

ترجمه : غالب بن فرقد الطحان ويلي دي چې زه د حضرت انس ابن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره دوه مياشتي وم هغه د سهر په مانځه کې د قنوت دعاء نه ده ويلي. د دي حديث روايت طبراني کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۶۳﴾ و عن عَمْرِو بْنِ دِينَارٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ بْنُ الزُّبَيْرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُصَلِّي بِنَا الصُّبْحَ بِمَكَّةَ فَلَا يَقْنُتُ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۹ باب القنوت في الفجر وغيره ، مجمع الزوائد ج۱ص۱۳۷ نقلاً عن الطبراني في الكبير.

(۲) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ص ۱۴۳ باب القنوت في الصبح .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳ باب القنوت في الفجر وغيره .

(۴) المعجم الكبير للطبراني ج۱ص ۲۳۵ رقم الحديث ۶۹۳

Maktaba Tul Ishaat.com

قال الزيعوي تَدُلُّ الْاَخْبَارُ عَلٰى اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَصْحَابَهٗ لَمْ يَقْنُتُوْا اِلَّا فِي النَّوَازِلِ.(۱)

ترجمه : عمرو بن دينار ويلي دي چې عبدالله بن الزبير رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونږ ته په مکه مکرمه کې د سهر مونځ کړي ؤ خو هغه د قنوت دعا نه وه ويلي . د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

زيعوي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي چې اخبار په دي خبره باندې دلالت کوي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د ده صحابه کرامو د سهر په مانځه کې د نوازلو (هنګامي حالاتو نه) په غير د قنوت دعاء نه ده ويلي .

مسئلة الباب : دباب ټول حديثونه په فجر کې مستقل قنوت دنه مشروع کيدو او عندالنازله په مختلفو مونځونو کې د قنوت په جواز باندې دحنفيو او دحنابلو مستدل دي .مسئلة الباب ددې نه وراندې باب کې تير شو .

﴿ بَابُ لَا وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ ﴾

باب په يوه شپه کې دوه ځله وتر نشته

﴿۲۶۴﴾ عَنْ قَيْسِ بْنِ طَلْقٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُوْلُ لَا وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ رواه الخمسة الا ابن ماجه و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د قيس ابن طلق نه روايت دي چې د هغه پلار ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئې چې په يوه شپه کې دوه ځله وتر نشته . د دي حديث روايت د ابن ماجه نه په غير پنځو محدثينو کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۲۶۵﴾ وَ عَنِ ابْنِ الْمُسَيَّبِ اَنَّ اَبَابَكْرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ذَكَرَا الْوِتْرَ عِنْدَ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَبُوْبَكْرٍ اَمَّا اَنَا فَاُصَلِّيْ ثُمَّ اَنَامُ عَلٰى وِتْرٍ فَاِذَا اسْتَيْقَظْتُ صَلَّيْتُ شَفْعًا حَتّٰى الصَّبَاحِ فَقَالَ عُمَرُ لٰكِنِّيْ اَنَامُ عَلٰى شَفْعٍ ثُمَّ اُوْتِرُ مِنْ آخِرِ السَّحَرِ فَقَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِاَبِيْ بَكْرٍ حَذَرَ هٰذَا وَ قَالَ لِعُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَوِّ هٰذَا رواه الطحاوي والخطابي و بقي بن مخلد و اسناده حسن .(۳)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳ باب القنوت في الفجر وغيره .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة الوتر ج۱ص ۱۰۷ باب ماجاء لا وتران في ليلة ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۲۰۳ باب في نقض الوتر ، نسائي كتاب قيام الليل ...الخ ج۱ص ۲۴۷ باب نهي النبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عن الوترين في ليلة ، مسند احمد ج۴ص ۲۳ .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۷ باب التطوع بعد الوتر ، تلخيص الحبير ج۲ص ۱۷ باب صلوة التطوع نفلا عن بقي ابن مخلد .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د ابن مسيب رَحِمَهُ اللهُ نه روايت دي چې حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د وترو په باره کې مذاکره کوله حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې زه مونځ وکړم په وترو باندې بيا وُده شم نو کله چې راويدار شم نو تر سهره پورې دوه دوه رکعته وکړم. او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي ليکن زه دوه رکعته مونځ وکړم بيا د سهر په اخر کې وتر وکړم نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وفرمايل چې دا پرېږي احتياط کوي او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئې وويل د ده کار مضبوط دي په خپل بيداريدو ئې باور دي . د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او خطابي او بقي ابن مخلد کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي .

﴿۶۶۶﴾ وَعَنْ اَبِي جَمْرَةَ قَالَ سَأَلْتُ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ اِذَا اَوْتَرْتَ اَوَّلَ اللَّيْلِ فَلَا تُوْتِرْ آخِرَهُ وَاِذَا اَوْتَرْتَ آخِرَهُ فَلَا تُوْتِرْ اَوَّلَهُ قَالَ وَسَأَلْتُ عَائِذَ بْنَ عَمْرٍو فَقَالَ مِثْلَهُ رواه الطحاوي و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : ابي حمزه ويلي دي چې ما د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د وترو په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وويل چې کله د شپې اوله برخه کې وتر وکړي نو د شپې په اخره برخه کې وتر مه کوه او که د شپې په اخره برخه کې وتر کوي نو د شپې په اوله برخه کې وتر مه کوه ابو حمزه ويلي دي چې ما د عائذ ابن عمرو نه پوښتنه وکړه هغه هم په جواب کې دغه شان وويل . د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۶۶۷﴾ وَعَنْ خَلَّاسٍ قَالَ سَمِعْتُ عَمَّارَ بْنَ يَاسِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَسَأَلَهُ رَجُلٌ عَنِ الْوِتْرِ فَقَالَ اَمَّا اَنَا فَاُوْتِرُ ثُمَّ اَنَامُ فَاِنْ قُمْتُ صَلَّيْتُ رَكْعَتَيْنِ رواه الطحاوي و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : خلاص ويلي دي چې ما د حضرت عمار بن ياسر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه اوريدلي دي کله چې د هغه نه يو سړي د وترو په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه ورته ووېل هر چې زه يم نو وتر وکړم بيا وُده شم نو که چيرته راويدار شم نو دوه دوه رکعته مونځ وکړم . د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۶۶۸﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ جُبَيْرٍ قَالَ ذُكِرَ عِنْدَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نَقْضُ الْوِتْرِ فَقَالَتْ لَا وِتْرَانِ فِي لَيْلَةٍ

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۷ باب التطوع بعد الوتر .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۷ باب التطوع بعد الوتر .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَاحِدًا رواه الطحاوي و اسناده مرسل قوي. (۱)

ترجمه : سعيد بن جبير رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته د وتر و د ماتولو يادا شت وشو نو حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وويل چې په يوه شپه کې دوه ځله وتر نشته. د دي حديث روايت طحاوي کړې او اسناد ئې مرسل قوي دي.

مسئلة الباب : ددې باب تر لاندې د "نقض وتر" مسئله مذکور ده دأيوه مشهوره او اختلافي مسئله ده، په ائمه اربعه کې خو هيڅ اختلاف نشته دې البته په قرن اول کې اختلاف پاتې شوې دې. بعضې صحابه حضرت علي، عثمان، ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د نقض وتر قائله وو دغه شان ابن عمر بلکې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خو به په دې باندې عمل هم کولو کما في مسند احمد او دائمه حديث نه اسحاق بن راهويه هم ددې قائله دي.

مسئله د "نقض وتر" توضيح

دوترو د نقض معنی او تعريف : نقض: د شپې نه د اولی برخي وتر د شپې د اخري برخي د تهجدو نه مخکې په يو رکعت سره ماتولو ته ويلي شي او د تهجدو نه روسته به وتر دوباره وکړي شي لکه مثلا چې يو کس د تهجدو د پاره د پاڅيدو نه روسته يو رکعت مونځ د نفل په نيت سره وکړي او دغه رکعت د ماسختن د وتر سره يوځاي کړي او د هغه وتر و نه شفعه جوړه کړي داسې شوه لکه د شپې په اول کې د وتر و شوي مونځ ئې نقض او مات کړ نو دغه کس د تهجدو د مانځه د ادا کولو نه پس په اخر کې دوباره وتر وکړي ديته د وتر و نقض ويلي شي يعني دا ولي حصې د شپې وترئي د تهجدو نه مخکې په يو رکعت سره نقض کړل يعني جفت ئي کړل او د تهجدو نه روسته ئې دويم ځل بيا وتر وکړل. د دي مسئلې په باره کې دوه مذهبه منقول دي.

(۱) **مذهب** : جمهور اهل السنت او ځلور واړه امامان په دي متفق دي چې د وترو اعاده لازمي نه ده او په غير د وترو نه تهجد کول صحيح او درست دي.

(۲) **مذهب**: د اسحاق ابن راهويه دي اسحاق ابن راهويه د وترو د نقض او د دويم ځل د وترو د ادا کولو قائل دي او د اثار السنن مؤلف امام نيموي د لا وتران في ليلة په باب سره د اسحاق بن راهويه د مسلک تردید کړي دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۷ باب التطوع بعد الوتر.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اسحاق رَحِمَهُ اللّٰهُ دليل : د وترو د نقض په باره کې امام اسحاق رَحِمَهُ اللّٰهُ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دي مبارک حديث باندي استدلال کړي دي چې (اجعلوا اخر صلوتكم باللیل وتراً) (۲) او بله دا چې اسحاق بن راهويه د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پسې اقتداء او تابعداري کړي ده او ويلي ئي دي چې هغه هم د وترو د نقض قائل وُ او د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ د سند په روايت ئي عمل کړي دي (عن ابن عمر انه كان اذا سئل عن الوتر قال فلواوترت قبل ان انام ثم اردت ان اصلي باللیل شفعة بواحدة مما مضي من وتري ثم صليت مثلى مثنى فاذا قضيت صلاتي اوترت بواحدة) يعني د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ روايت دي چې کله به د ده نه د وترو په باره کې پوښتنه وشوه ويل به ئي که زه چرته د خوب نه مخکې وترو کړم او بيا د شپې د مونځ اراده کړم نو په يو رکعت خپل تير شوي وتر مونځ جفت کړم يا دوه دوه رکعته مونځ وکړم کله چې د تهجد مانځه نه فارغ شم په يو رکعت سره وتر کړم.

دجمهور اود ائمه ؤ اربعه ؤ دليلونه : د نومورې باب ټول پنځه واړه روايتونه د ائمه وُ اربعه وُ د پاره مستدل دي د دې باب اول (۶۶۴) روايت چې قيس ابن طلق ابن علي د خپل پلار نه روايت کړي دي په دي کې د (لا وتران في ليلة) په الفاظو سره په صراحت سره حکم شوي چې په يوه شپه دوه ځله وتر نشته.

د دې باب دويم (۶۶۵) حديث کې د حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په يوه شپه کې د يو ځل وترو معمول ذکر شوي چې يوه ته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (حاذر هذا) او بل ته ئي د (قوي هذا) خطاب کړي دي.

د دې باب په دريم (۶۶۶) حديث کې چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د حضرت عائذ بن عمرو رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فتوى مذکوره ده چې په يوه شپه کې يو ځل وتر کولې شي.

او د دې باب ځلورم (۶۶۷) روايت کې د حضرت عمار بن ياسر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ همدغه معمول ذکر دي.

او د دې باب په پنځم (۶۶۸) حديث کې د حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا حديث دي چې (لا وتران في ليلة) په يوه شپه کې دوه ځله وتر نشته.

د اسحاق رَحِمَهُ اللّٰهُ د استدلال نه د ځلورو امامانو جواب : ځلورو امامانو د امام اسحاق رَحِمَهُ اللّٰهُ د استدلال نه په جواب کې ويلي دي چې د وترو نقض غير صحيح دي او ويلي ئي دي چې په اجعلوا صلواتكم باللیل وترا کې چې کوم امر دي هغه د پاره د استحباب دي او دا ځکه چې پخپله د حضرت رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د وترو نه پس دوه رکعت مونځ کول ثابت، دي لکه د حضرت

Maktaba Tul Ishaat.com

عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي ويلي ئي دي چې (كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوتر بواحدة ثم يركع ركعتين يقرأ فيهما وهو جالس الخ) يعني حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخكي شو مونځ ئي يو ركعت سره وتر كاوه بيا به ئي دوه ركعته مونځ كاوه په دواړو كې به ئي قرأت كاوه په داسي حال كې چې ناست به وُ الخ.

او هر چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل دي يو خو دا چې عمل ئي د قول نه مخالف دي بله دا چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ځما سره د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه څه روايت نشته او دا مسئله ځما د رأي نه مستنبط ده.

عن مسروق قال قال ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هو افعله برأي لا رواية.(۱)

او ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باره كې ويلي دي چې ان ابن عمر يوتر في الليلة ثلاث مرات.(۲) يعني ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په يوه شپه كې دري ځله وتر كول. سره د دي چې د دي باب د احاديثو موافق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دوه ځله وترو نه هم منع كړي ده.(۳)

﴿بَابُ الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْوِتْرِ﴾
دوترو نه پس د دوه ژ ركعتونو باب

﴿۶۶۲﴾ عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوتِرُ بِوَاحِدَةٍ ثُمَّ يَرْكَعُ رَكْعَتَيْنِ يَقْرَأُ فِيهِمَا وَهُوَ جَالِسٌ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَرْكَعَ قَامَ فَرَكَعَ. رواه ابن ماجه واسناده صحيح.(۴)

ترجمه: حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به مخكي ادا شوي مونځ په يو ركعت سره وتر كاوه بيا به ئي دوه ركعته مونځ كاوه په دواړو ركعتونو كې به ئي قرأت لوسته حال دا چې هغه به ناست وُ او كله به ئي چې ركوع كوله وبه دريده نو ركوع به ئي وكړه. د دي حديث روايت ابن ماجه كړي او اسناد ئي صحيح دي.

---

(۱) معارف السنن.

(۲) مصنف عبدالرزاق.

(۳) درس ترمذي ج ۲ ص ۲۳۹-۲۴۱.

(۴) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۵ باب ماجاء في الركعتين بعد الوتر جالساً.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۶۷۰﴾ وَ عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ هٰذَا السَّهَرَ جُهْدٌ وَ ثِقْلٌ فَاِذَا اَوْتَرَ اَحَدُكُمْ فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ فَاِنْ قَامَ مِنَ اللَّيْلِ وَ اِلَّا كَانَتَا لَه رواه الدارمي والطحاوي والدارقطني واسناده حسن.(۱)

ترجمه : د حضرت ثوبان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې بې شكه دغه شب ګيري مشقت او سختي ده كله چې يو ستاسي وتر كوي نو دوه ركعته دي وكړي او كه چرته د شپې پاڅيده نو تهجد دي وكړي او كه نه نو دا دواړه ركعتونه ده لپاره د تهجد دي. د دي حديث روايت دارمي طحاوي او دار قطني كړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۷۱﴾ و عن اَبِي اُمَامَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّيهِمَا بَعْدَ الْوِتْرِ وَهُوَ جَالِسٌ يَقْرَأُ فِيهِمَا اِذَا زُلْزِلَتْ وَ قُلْ يَا اَيُّهَا الْكَافِرُونَ رواه احمد والطحاوي واسناده حسن.(۲)

ترجمه : د حضرت ابو امامه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا دوه ركعتونه د وتر نه روسته كړي په داسي حال كې چې هغه ناست وُ په دي دواړو ركعتونو كې ئې اذا زلزلت او قل يا ايها الكافرون سورتونه لوستل. د دي حديث روايت احمد او طحاوي كړي او اسناد ئې حسن دي.

دوتر نه پس ددوو ركعتو كولو څه حكم دي؟

(۱) امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ خو ددې نه مطلق انكار كوي.

(۲) امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ نه صرف يو پيره كول ثابت دي.

(۳) امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ او شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ نه په دې باره كې هيڅ صراحت منقول نه دي. ... لېكن په حقيقت كې ددې دوو ركعتونو په ثبوت كې متعدد احاديث دي، دباب درواياتونو نه هم ذمؤلف غرض ركعتين بعد الوتر و اثبات دي.

تطبيق بين الاحاديث:

مشهور حديث "اجعلوا آخر صلاتكم وترا" نه ركعتين بعد الوتر نه هم په ظاهره نهي ده حال دا چې دباب روايات مثلا "كان يصليهما بعد الوتر وهو جالس" نه ددې ثبوت فراهم دي اوس په دې

---

(۱) سنن دارمي كتاب الصلوة ص ۱۹۸ باب في الركعتين بعد الوتر، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۳۶ باب التطوع بعد الوتر، دار قطني كتاب الوتر ج۲ ص ۳۹ باب في الركعتين بعد الوتر وفي الطحاوي والدار قطني انّ هذا السفر مكان. ان هذا السّهر.

(۲) مسند احمد ج۵ ص ۲۶۰، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۳۷ باب التطوع بعد الوتر.

Maktaba Tul Ishaat.com

احادیثو کې تطبیق په لاندې دول دي :

۱... "اجعلو آخر صلاتکم وترا" امر استحباب باندې محمول دي نه وجوب باندې .

۲... "آخر صلاتکم" نه په حالت د قیام آخري مونځ مراد دي ځکه چې حضور ﷺ نه دا دوه رکعته په ناسته ثابت دي او همدغه په دې کې مسنون هم دي .(معارف السنن :۴/۲۵۹)

۳... "آخر صلاتکم" د حکم نه رکعتین مستثنی دي کما یفهم من صنیع الامام الترمذي (۱۰۷/۱)

یادونه : حدیث نمبر ۶۷۰ کې لفظ "السهر" دي لیکن په اکثرو روایتونو کې "السفر" وارد دي. کما في معارف السنن تحت البحث .

﴿بَابُ التَّطَوُّعِ لِلصَّلَوَاتِ الْخَمْسِ﴾

د پنځه وخته مونځونو د پاره د نفلو باب

﴿۶۷۲﴾ عنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ حَفِظْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَشْرَ رَكَعَاتٍ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الظُّهْرِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ فِي بَيْتِهِ وَرَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ فِي بَيْتِهِ وَرَكْعَتَيْنِ قَبْلَ صَلَاةِ الصُّبْحِ رواه الشیخان .(۱)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما د نبي کریم ﷺ نه لس رکعتونه حفظ کړي دي دوه رکعته د ماسپښین د مانځه نه مخکې او دوه رکعته د ماسپښین د مانځه نه روسته او دوه رکعته د مانښام نه روسته په خپل کور کې او دوه رکعته د ماسختن نه روسته په خپل کور کې او دوه رکعته د سهر د مانځه د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي .

﴿۶۷۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى شَيْءٍ مِنَ النَّوَافِلِ أَشَدَّ تَعَاهُدًا مِنْهُ عَلَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ رواه البخاري .(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ویلي دي څومره به چې نبي کریم ﷺ د سهر سنتو اهتمام کاوه دومره ئې د نورو سنتو اهتمام نه کاوه . د دي حدیث شیخینو کړي دي .

---

(۱) بخاري کتاب التهجد ج۱ص ۱۵۷ باب الركعتين قبل الظهر ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۲ فضل سنن الراتبة ....الخ .

(۲) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۵۶ باب تعاهد ركعتي الفجر ...الخ ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۱ باب استحباب ركعتي سنة الفجر ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۶۷۴﴾ وَ عَنها اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَدَعُ اَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهرِ وَ رَكعَتَينِ قَبْلَ الغَدَاةِ رواه البخاري (۱)

ترجمه : د حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپښين نه مخكې څلور ركعته او د سهر نه مخكې دوه ركعته نه ؤ پريښي د دي حديث روايت بخاري كړي دي .

﴿۶۷۵﴾ وَ عَنْها عَنِ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ رَكعَتَا الفَجرِ خَيرٌ مِنَ الدُّنيا وَ مَا فِيها رواه مسلم .(۲)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ويلي دي چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د سهر دوه ركعته سنت د دنيا او په دنيا كې د ټولو موجوده شيانو نه بهتر دي . د دي حديث روايت مسلم كړي دي .

﴿۶۷۶﴾ وَ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ بِتُّ فِي بَيتِ خَالَتِي مَيمُونَة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا بِنتِ الحَارِثِ زَوجُ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَكَانَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِندَها فِي لَيلَتِها فَصَلَّى النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ العِشَاءَ ثُمَّ جَاءَ إِلى مَنزِلِه فَصَلّٰى اَربَعَ رَكعَاتٍ رواه البخاري .(۳)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د خپل ترور حضرت ميموني بنت الحارث د نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د بي بي په كور كې شپه تيره كړې او نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د شپې په نوبت كې د هغې سره ؤ نو نبي اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسختن مونځ وكړ بيا ئي خپل كور ته تشريف راوړ نو څلور ركعته ئي وكړل د دي حديث روايت بخاري كړي دي .

﴿۶۷۷﴾ وَ عَنْ عَبدِ اللّٰهِ بنِ شَقِيقٍ قَالَ سَأَلتُ عَائِشَة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا عَنْ صَلَاةِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ تَطَوُّعِه فَقَالَتْ كَانَ يُصَلِّي فِي بَيتِي قَبلَ الظُّهرِ اَربَعًا ثُمَّ يَخرُجُ فَيُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ يَدخُلُ فَيُصَلِّي رَكعَتَينِ وَكَانَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ المَغرِبَ ثُمَّ يَدخُلُ فَيُصَلِّي رَكعَتَينِ وَ يُصَلِّي بِالنَّاسِ العِشَاءَ وَ يَدخُلُ بَيتِي فَيُصَلِّي رَكعَتَينِ رواه مسلم .(۴)

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۵۷ باب الركعتين قبل الظهر .

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۱ باب استحباب ركعتي سنة الفجر ...الخ .

(۳) بخاري كتاب العلم ج۱ص ۲۲ باب السمر بالعلم .

(۴) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۲ باب جواز النافلة قائما وقاعداً ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : عبد الله بن شقيق ويلي دي چې ما د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نفل مانځه په باره کې پوښتنه وکړه نو هغې وويل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به ځما په کوټه کې د ماسپښين د مانځه نه مخکې څلور رکعته کول بيا به ډوته نو خلکو ته به ئې مونځ وکړ بيا به راانواته نو دوه رکعته مونځ به ئې وکړ او خلکو ته به ئې د ماښام مونځ وکړ بيا به راانواته نو دوه رکعته مونځ به ئې وکړ او خلکو ته به ئې ماسختن مونځ وکړ بيا به ځما کوټې ته راغې نو دوه رکعته مونځ به ئې وکړ . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۶۷۸﴾ وَ عَنْ أُمِّ حَبِيبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَا مِنْ عَبْدٍ مُسْلِمٍ يُصَلِّي لِلّٰهِ كُلَّ يَوْمٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً تَطَوُّعاً غَيْرَ فَرِيضَةٍ إِلاَّ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ رواه مسلم وآخرون .[1]

ترجمه : او د ام حبيبة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بي بي مبارکه ده روايت شوي دي چې هغې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئې کوم مسلمان بنده چې د الله جل شانه د رضا د پاره د فرض نه په غير هره ورځ دولس رکعته نفل مونځ ادا کړي الله جل شانه به ده ته په جنت کې کور جوړ کړي . د دې حديث روايت مسلم او اخرونو کړي دي .

﴿۶۷۹﴾ وعنها قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رُكْعَةً بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهْرِ وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ صَلاَةَ الْغَدَاةِ رواه الترمذي و آخرون و اسناده صحيح .[2]

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوک چې په يو شپه او ورځ کې دولس رکعته مونځ ادا کړي د ده د پاره په جنت کې کور جوړ کړي شي . څلور رکعته د ماسپښين نه مخکې او دوه رکعته د ماسپښين د مانځه نه روسته دوه رکعته د ماښام نه روسته او دوه رکعته د ماسختن نه روسته او دوه رکعته د سهر د مانځه نه مخکې . د دې حديث روايت ترمذي او نورو کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۸۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ ثَابَرَ عَلَى ثِنْتَيْ عَشْرَةَ رَكْعَةً مِنَ

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج ۱ ص ۲۵۱ باب فضل السنن الراتبة قبل الفرائض وبعدها

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج ۱ ص ۹۶ باب ما جاء في من صلى في اليوم والليلة ثنتي عشرة ركعة

Maktaba Tul Ishaat.com

السُّنَّةَ بَنَى اللهُ لَهُ بَيْتاً فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ قَبْلَ الظُّهرِ وَرَكعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَ رَكعَتَيْنِ بَعْدَ الْمَغْرِبِ وَ رَكعَتَيْنِ بَعْدَ الْعِشَاءِ وَرَكعَتَيْنِ قَبْلَ الْفَجْرِ رواه الاربعة الا ابا داود و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوک چې د سنتو په دولسو رکعتونو باندې پابندي وکړي نو الله جل شانه به ده ته په جنت کې يو کور جوړ کړي څلور رکعته د ماسپښين د مانځه نه مخکې او دوه رکعته د ماسپښين د مانځه روسته او دوه رکعته د مانبام د مانځه نه روسته او دوه رکعته د ماسختن د مانځه نه روسته او دوه رکعته د سهر د مانځه نه مخکې. د دې حديث روايت د ابو داؤد نه په غير څلورو صاحبانو کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۸۱﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَحِمَ اللهُ امْرَأً صَلَّى قَبْلَ الْعَصْرِ أَرْبَعاً رواه ابوداود و آخرون و حسنه الترمذي و صححه ابن خزيمة و ابن حبان.(۲)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي الله جل شانه دي په هغه چا رحم وکړي چې د مازيګر د مانځه نه مخکې څلور رکعته نفل مونځ اداء کوي. د دې حديث روايت ابو داؤد او نورو کړي او ترمذي حسن ګنړلي او خُزيمه او ابن حبان صحيح ګنړلي دي.

﴿۶۸۲﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ مَا صَلَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْعِشَاءَ قَطُّ فَدَخَلَ عَلَيَّ إِلاَّ صَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ أَوْ سِتَّ رَكَعَاتٍ رواه احمد و ابوداود و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله هم د ماسختن مونځ اداء فرمايلي ما کره ئې تشريف راوړي نو څلور او يا شپږ رکعته مونځ ئې کړي. د دې حديث روايت احمد او ابوداؤد کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۶۸۳﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي عَلَى أَثَرِ كُلِّ صَلاَةٍ رَكْعَتَيْنِ إِلاَّ الْفَجْرَ وَالْعَصْرَ رواه اسحاق بن راهويه في مسنده و اسناده حسن.(۴)

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۲ باب ماجاء في من صلى في يوم وليلة اثني عشرة ركعة ...ا ع ، نسائي كتاب قيام الليل ...ا ع ج۱ص ۲۵۴ باب ثواب من صلى في اليوم والليلة اثني عشرة ركعة ....، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوت ص ۸۱ باب ماجاء في اثني عشرة ركعة ....

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۰ باب الصلوة قبل العصر ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۸ باب ما جاء في الاربع قبل العصر ، صحيح ابن خزيمة ج۲ص ۲۰۶ رقم ۱۱۹۳ ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج۴ ص۷۷ رقم ۲۴۴۴.

(۳) مسند احمد ص ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۵ باب الصلوة بعد العشاء .

(۴) نصب الراية كتاب الصلوة ج۱ص ۲۵۰ فصل في الاوقات المكروهة هذا عن اسحٰق بن راهويه في مسنده ، صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۲ص ۲۰۷ رقم ۱۱۹۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هر مانځه نه روسته دوه رکعته اداء فرمايلي ذي په غير د سهر او د مازيګر نه . د دي حديث روايت اسحاق بن راهويه په خپل مسند کې کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۸۴﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا لَمْ يُصَلِّ اَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهرِ صَلاَّهُنَّ بَعْدَهَا رواه الترمذي و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي کله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپښين د مانځه نه مخکې څلور رکعته نه وُاداء فرمايلي نو د ماسپښين د مانځه نه روسته به ئې ادا فرمايل . د دي حديث روايت ترمذي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۶۸۵﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلاَئِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَمَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُؤْمِنِينَ رواه الترمذي و آخرون و اسناده حسن .(۲)

ترجمه : حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د مازيګر د مانځه نه مخکې څلور رکعته مونځ ادا فرمايه اود رکعتونو په مونځ کې به ئې په مقربو ملائکو او د دوي په تابعدارو مؤمنانو او مسلمانانو باندې په سلام سره جدائي کوله . د دي حديث روايت ترمذي او نورو محدثينو کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۶۸۶﴾ وَعَنْ اِبْرَاهِيمَ النَّخْعِيِّ قَالَ كَانُوا لاَ يَفْصِلُونَ بَيْنَ اَرْبَعٍ قَبْلَ الظُّهرِ بِتَسْلِيمٍ اِلاَّ بِالتَّشَهُّدِ وَلاَ اَرْبَعٍ قَبْلَ الْجُمُعَةِ وَلاَ اَرْبَعٍ بَعْدَهَا رواه محمد بن الحسن في الحجج و اسناده جيد .(۳)

ترجمه : ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې صحابه کرامو به د جمعې د مانځه نه مخکې د څلورو رکعتونو په مونځ کې او د جمعې د مانځه نه روسته د څلورو رکعتونو په مونځ کې فصل او جدائي نه کوله . د دي حديث روايت په حجج کې محمد بن حسن کړي دي او اسناد ئې جيد دي .

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۷ باب ماجاء في الركعتين بعد الظهر باب آخر .

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۸ باب ماجاء في الاربع قبل العصر ، صحيح ابن خزيمة كتاب الصلوة ج۲ص۲۱۸ تعليقا تحت باب رقم ۵۲۵.

(۳) كتاب الحجة ج۱ص ۲۷۶ باب صلاة النافلة .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۶۸۷﴾ وَعَنْهُ قَالُوا مَا كَانُوا يُسَلِّمُونَ فِي الْأَرْبَعِ قَبْلَ الظُّهْرِ رواه الطحاوي و اسناده جيد.(۱)

ترجمه : او ابراهيم نخعي رَحِمَهُ اللَّهُ ويلي دي چې صحابه کرامو به د ماسپښين د مانځه نه مخکې په ځلورو رکعتونو کې سلام نه ګرځاوه. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې جيد دي.

سنن رواتب : عام نوافل خو چې انسان ځومره او غواړي کولې يې شي دهغې څه خاص تعداد نه دي معلوم ليکن د فرضو مونځ سره مرتب نوافل کوم ته چې سنن رواتب يا سنن مؤکده ويلې کيږي، دهغې په تعداد کې اختلاف دي:

(۱) دبعضي حضراتو مطابق امام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په نزد صرف د فجر نه مخکې دوه رکعته سنن رواتب دي او باقي ټول عام نوافل. (الدر المنضود:۲/۵۱۲)

علامه ابن رشد مالکي هم همدې طرفته مائل ښکاري (بداية المجتهد :ص ۱۶۵-۱۶۷) ليکن حضرت بنوري رَحِمَهُ اللَّهُ دامام مالک رَحِمَهُ اللَّهُ په حوالې سره يو څو سنن رواتب قول نقل کړي دی مثلا د ظهر نه مخکې څلور رکعته. (معارف السنن :۴/۱۰۹،۱۰۵).

(۲) شافعيه او حنابلو په نزد سنن رواتب لس دي: د فجر نه مخکې دوه رکعته، ماسپخين نه مخکې او وروسته دوه رکعته، ييا دمابنام او دماسخوتن نه پس هم دوه دوه.

(۳) دحنفيو په نزد ټول دولس رکعات رواتب دي يعني دماسپخين نه مخکې څلور رکعته.

دشافعيو او دحنابلو دليل: دباب اولني حديث کوم چې دحضرت ابن عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه مروي دي او په هغې کې په واضح طور باندې دلس رکعاتو ثبوت دي.

حنفيه او دنورو دلائلو: ددې حضراتو استدلال دباب قوي او فعلي احاديثو نه دي، مثلا:؛

(الف) حديث دام حبيبه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا نمبر ۶۸۰: **مَنْ صَلَّى فِي يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ بُنِيَ لَهُ بَيْتٌ فِي الْجَنَّةِ أَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهْرِ.**

(ب) حديث دعائشه رضي الله عنها نمبر ۶۷۵: **" أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يَدَعُ أَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهْرِ ".**

دحنفيو وجوه ترجيح او په احاديثو کې تطبيق:

۱... دحضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سنن معمول په کور کې ادا کول وو لهذا ازواج مطهرات ددې صحيح

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۲ باب التطوع بالليل والنهار كيف هو .

Maktaba Tul Ishaat.com

تعدادو نه واقف کيږي شي : " فان صاحب البيت ادرى بما فيه " او هغوي د حضور ﷺ قول وفعل دماسپښين نه مخکې څلور رکعته نقل کړي دي ، او ابن عمر رضي الله عنه څخيل حفظ مطابق ذکر کړي دي کوم چې ممکن دي د سفر واقعه وي يا کله کله عمل .

۲... دابن عمر رضي الله عنه روايت فعلي دي ليکن نور قولي او فعلي هر قسمه روايات دي او عند التعارض قول لره فعل باندې به ترجيح حاصله وي .

دمازيګر نه مخکې څلور رکعتو فضيلت :

دباب حديث ابن عمر رضي الله عنه نمبر ۶۸۲ کې ارشاد دي : رَحِمَ اللهُ امْرَأً صَلّٰى قَبْلَ الْعَصْرِ اَرْبَعاً.

(۱) حضرت حکيم الامت فرمايي چې د دې څلور رکعتو څه معين فضيلت بيانولو په ځاي د مطلق رحمت ذکر د دې خبري دليل دي چې د دوي ثواب دومره زيات دي چې د بيان په قيد کې نشي راتلاي (درس ترمذي : ۹۴/۲).

(۲) دا جمله خبريه هم کيدې شي او دعائيه هم ، يعني يا خو حضور ﷺ خبر ورکوي چې داسي ده او يا دعا کوي چې الله تعالى دي رحم اوکړي داسي کس باندې ، خلک دبزرګانو نه د دعا غوښتنه کوي ، د حضور ﷺ د دعاء نه زياته اوچته دعاء دچا کيدې شي د دې دوصولولو کوشش کولو پکار دي . والله الموافق

البته د دې څلورو رکعتونو د غير مؤکد کيدو کې دچا اختلاف هم نشته دي .

﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى الْفَصْلِ بِتَسْلِيمَةٍ بَيْنَ الْاَرْبَعِ مِنْ سُنَنِ النَّهَارِ﴾

دا باب دي په بيان د هغه روايتونو کې په کومو کې چې استدلال کړي شوي دي د ورځې د څلورو رکعتونو د سنتو تر منځ د يو سلام په جدائي سره

﴿۶۸۸﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ صَلَاةُ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ مَثْنٰى مَثْنٰى رواه الخمسة قَالَ النِّيمَوِي ذِكْرُ النَّهَارِ لَيْسَ بِمَحْفُوظٍ وَ يُعَارِضُه بَعْضُ الْاَخْبَارِ الْمُتَقَدِّمَةِ مِنَّا ذَكَرْنَاه فِي الْبَابِ السَّابِقِ.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عمر رضي الله عنه ويلي دي چې نبي اکرم ﷺ فرمايلي دي چې د شپې او د ورځې مونځ دوه دوه رکعته دي . د دې حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي .

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص۱۸۳ باب صلوة النهار، نسائي کتاب قيام الليل ج۱ص ۲۴۶ باب کيف صلوة النهار ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۴ باب ماجاء في صلوة الليل والنهار مثنى مثنى ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص۹۸ باب ماجاء في الاربع قبل العصر ، مسند احمد ج۲ص ۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

نیمونی رَحِمَهُ اللهُ ویلی چې دنهار د لفظ ذکر غیر محفوظ دی او د تیر باب ځینو احادیثو سره معارض دی.

سنن ونوافل : دوه ، دوه رکعته یا څلور ، څلور ؟

دورځې او شپې په سنتو او نوافلو کې آیا دوه ، دوه رکعته کول افضل دي یعني هر دویم رکعت باندې د سلام او راولې شي یا څلور ، څلور رکعت ؟ په دې کې اختلاف دی لیکن دا اختلاف په افضلیت کې دی جواز او عدم جواز کې نه دی ؛

۱... دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد ورځ وي او که شپه څلور ، څلور رکعته کول افضل دي.

۲... دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد په یونیت سره هم دوه رکعته کول افضل دي.

۳... دصاحبینو په نزد فرق دي ، چنانچې په ورځ کې څلور ، څلور رکعته او په شپه کې دوه ، دوه رکعته کول افضل دي.

۴... دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد که ورځ او که شپه نفل دوه دوه رکعته کول افضل دي .(معارف السنن :۱۱۷/٤، الدر المنضود :۵۳۵/۲)

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ دلیل :

۱... حدیث دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوعا : " صلاة الليل والنهار مثنى مثنى ".(ابوداود :۱۸۳/۱)

۲... حديث المطلب عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : الصلاة مثنى مثنى ان تشهد في كل ركعتين ... " الحديث .(ابوداود :۱۸۳/۱).

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیل : همغه دي کوم چې پاس تیر شو او هغه "مثنى" لفظ په وجوب باندې محمولوي.

دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ دلیل :

۱... په ورځ کې څلور رکعته کولو دافضلیت دلیل خو دابوایوب حدیث دي مرفوعا یعني " اربع قبل الظهر ليس فيهن تسليم " (ابوداود :۱۸۳/۱)

۲... په شپه کې څلور رکعته کولو دافضلیت دلیل دصحیح حدیث عائشه رضي الله عنها دي یعني " كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لا يزيد في رمضان ولا في غيره على احدى عشرة ركعة يصلي اربعا ... " الحديث.

۳... قیاس هم دا غواړي ځکه چې په څلور رکعتو کې داوبدي تحریمې دوجې نه مشقت زیات وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دصاحبينو دليل :

۱... دباب دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : " صلاة الليل مثنى مثنى ".

۲... په ورځ کې دځلور رکعته کولو دافضليت وجه دامام صاحب په دليل کې موجود ده.

ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ ته جواب :

۱... " مثنى مثنى " دا مطلب نه دي چې په هر دويم رکعت دي سلام واړولي شي بلکې ددې نه مراد شفعا شفعا دي يعني نفل مونځ شفعا کول پکار دي نه وترا.

۲... حديث دمطلب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زمونږ په خلاف نه دي بلکې زمونږ مؤيد دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمايل " دشپې مونځ دوه دوه رکعته دي هغه دا چې ته په هر دوو رکعتو باندې تشهد اووايي او عاجزي او مسکنت ظاهرکړي .... الحديث " معلومه شوه چې د "مثنى" نه غرض دوو رکعتو باندې تشهد ويل دي . والله اعلم

خبردارې: په بعضې شروحو کې مسئله مبحوث عنها کې دصاحبينو په قول باندې فتوې نقل کړې شوې ده ليکن دتتبع او تلاش نه بعد معلوميږي چې د متون مشهوره نه صرف الدر المختار کې دې قول لره غوره کړې شوې دې حال دا چې په رد المختار شامي (۱۶/۲) ، البحر الرائق (۵۴/۲) ، او حلبي کبيري (ص:۳۳۶) کې دامام صاحب قول لره راجح ګرځولې شوې دي . والله اعلم

﴿بَابُ النَّافِلَةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ﴾

دمانښام نه مخکې د نفلو باب :

﴿۶۸۹﴾ عَنْ اَنَسِ بْنِ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ الْمُؤَذِّنُ اِذَا اَذَّنَ قَامَ نَاسٌ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يبتَدِرُونَ السَّوَارِي حَتّٰى يخرُجَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهم كذٰلِك يصَلُّونَ الرَّكعَتَينِ قَبلَ المَغرِبِ رواه الشيخان و زاد مسلم حَتّٰى اَنَّ الرَّجُلَ الغَرِيبَ لَيدخُلُ المَسجِدَ فَيحسِبُ اَنَّ الصَّلَاةَ قَد صُلِّيتْ مِن كثرَةِ مَن يصَلِّيهمَا .(۱)

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ صـ ۸۷ باب كم بين الاذان والاقامة ، مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ صـ ۲۷۸ باب استحباب ركعتين قبل صلوة المغرب .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کله به چې مؤذن اذان وکړ نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د صحابه کرامو نه به ځيني خلکو ديوالونو طرف ته جلتي کوله تر دي پورې چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تشريف راوړ دغسي به دوي د ماښام نه مخکې دوه رکعته مونځ کړي وُ د دي حديث روايت شيخينو کړي او مسلم دغه الفاظ زيات کړي دي ، تر دي پورې چې يو مسافر سړي به مسجد ته داخل شو نو دوه وُ رکعتونود مونځ کوونکو د زياتوالي په وجه به ئې داسې ګمان کاوه چې ګنې جمع شوي ده .

﴿۶۹۰﴾ عَنْ مُخْتَارِ بنِ فلفلٍ قَالَ سَئَلتُ عن انس بن مالك عَنِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ الْعَصْرِ فَقَالَ كَانَ عُمَرُ يضْرِبُ الْأَيْدِي عَلَىٰ صَلٰوةٍ بَعْدَ الْعَصْرِ وَكُنَّا نُصَلِّي عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ غُرُوبِ الشَّمْسِ قَبلَ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ فَقُلْتُ لَه اكَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّاهُمَا قَالَ كَانَ يرَانَا فَلَمْ يامُرْنَا وَلَمْ ينْهَنَا رواه مسلم .(۱)

ترجمه : مختار بن فضل ويلي دي چې ما پوښتنه وکړه د انس بن مالک نه د نفل مونځ په باره کې پس د مازيګر نه نو هغه وويل چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به وهل خلک په لاسونو باندې په مانځه باندې د مازيګر د مانځه نه روسته او حال دا چې وُ مونږ چې مونځ به مو کاوه په زمانه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې دوه رکعته روسته د نورد پريوتو نه مخکې د ماښام د مانځه نه نو مختار بن فلفل وائي چې ما حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل چې آيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغه دوه رکعته مونځ کړي وُ حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ ليدو نو نه ئې راته امر کړي وُ او نه ئې منع کړي وُ . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۶۹۱﴾ وَعَن مَرْثَدِ بنِ عَبدِ الله اليزَنِي قَالَ اَتَيتُ عُقبَةَ بنِ عَامِرٍ الجُهنِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقُلتُ اَلَا اُعَجِّبُك مِن اَبِي تَمِيمٍ يركَعُ رَكعَتَينِ قَبلَ صَلَاةِ المَغرِبِ فَقَالَ عُقبَةُ اِنَّا كُنَّا نَفعَلُه عَلٰى عَهدِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلتُ فَمَا يمنَعُك الآنَ قَالَ الشُّغلُ رواه البخاري .(۲)

ترجمه : حضرت مرثد بن عبدالله اليزني رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې زه حضرت عقبه بن عامر الجهني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته راغلم ورته ومي ويل چې زه تاته د ابو تميم په باره کې عجيبه خبره ونه کړم چې د ماښام نه مخکې ئې دوه رکعته مونځ کاوه نو حضرت عقبه بن عامر وويل چې مونږ هم د نبي اکرم

(۱) مسلم کتاب فضائل القرآن ج۱ ص ۲۷۸ باب استحباب رکعتين قبل صلوة المغرب.

(۲) بخاري کتاب التهجد ج۱ ص ۱۵۶ باب الصلوة قبل المغرب

Maktaba Tul Ishaat.com

ﷺ په زمانه کې دغسې کول ما ورته وویل چې اوس تا څه شي منع کوي هغه وویل چې
څخه او مصروفیت. د دې حدیث روایت مسلم کړي دي.

﴿۶۹۳﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ مُغَفَّلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلَاةٌ بَيْنَ كُلِّ اَذَانَيْنِ صَلَاةٌ ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه: حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه ویلي دي چې نبي اکرم ﷺ فرمایلي دي چې د هر دوه ؤ اذانونو (اذان او اقامت) تر منځ مونځ دي د هر دوه ؤ اذانونو تر منځ مونځ دي بیا ئي په دریم ځل وفرمایل چې د چا خوښه وي معنی دا چې ضروري نه دي. د دې حدیث روایت د محدثینو بو جماعت کړي دي.

﴿۶۹۴﴾ وَعَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ ثُمَّ قَالَ فِي الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ كَرَاهِيَةَ اَنْ يَتَّخِذَهَا النَّاسُ سُنَّةً رواه البخاري ولابي داود صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ.(۲)

ترجمه: حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه ویلي دي چې نبي اکرم ﷺ فرمایلي دي د مانښام نه مخکې مونځ وکړئ د مانښام نه مخکې مونځ وکړئ بیا ئي په دریم ځل وفرمایل چې څوک ئي کول غواړي دا ئي خوښه نه وه چې خلک ئي مؤکد سنت وګڼري. د دې حدیث روایت بخاري کړي دي او د ابوداؤد الفاظ داسې دي چې د مانښام نه مخکې دوه رکعته مونځ وکړئ.

﴿۶۹۴﴾ وَعَنْهُ اَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ رواه ابن حبان في صحيحه ومحمد بن نصر المروزي في قيام الليل و زاد ثُمَّ قَالَ صَلُّوا قَبْلَ الْمَغْرِبِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ قَالَ عِنْدَ الثَّالِثَةِ لِمَنْ شَاءَ خَافَ اَنْ يَحْسِبَهَا النَّاسُ سُنَّةً و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: حضرت عبدالله بن مغفل رضي الله عنه نه روایت دي چې رسول الله ﷺ د مانښام نه مخکې دوه رکعته مونځ وکړي دي. د دې حدیث روایت ابن حبان په خپل صحیح کې کړي دي او

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۸۷ باب بين كل اذانين صلوة لمن شاء، مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۸ باب استحباب ركعتين قبل صلوة المغرب، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۴۵ باب ماجاء في الصلوة قبل المغرب، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۲ باب الصلوة قبل المغرب، نسائي كتاب الاذان ا ص۱۱۱ باب الصلوة بين الاذان والاقامة، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ج۱ص ۸۲ باب ماجاء في الركعتين قبل المغرب، مسند احمد ج۴ ص ۸۶.

(۲) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۵۸ باب الصلوة قبل المغرب، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۲ باب الصلوة قبل المغرب.

(۳) قصر قيام الليل ص ۵۰ باب الركعتين قبل المغرب، تلخيص الحبير ج۱ص ۱۳ نقلا عن ابن حبان في صحيحه.

Maktaba Tul Ishaat.com

محمد بن نصر المروزي په، قيام الليل کې کړي دي. او مروزي دغه الفاظ زيات کړي دي چې بيا ئې په دريم ځل فرمايلي دي چې ځوک ئې د کولو اراده لري د دې يرې نه چې خلک به ئې سنت وګڼي او اسناد ئې صحيح دي.

دلمر ډوبيدو نه پس دنوافلو بحث

مسئلة البابين : دغروب آفتاب نه پس دفرض لمونځ نه مخکې دوه رکعته نفل کول څنګه دي؟

۱... دائمه اربعه نه ځوک هم ددې داستحباب قائله نه دي بلکې رد المختار (۳۷۶/۱) کې حنفيه او مالکيه او شوافع (في رواية) په نزد دې لره مکروه ليکلي دي.

۲... امام شافعي او احمد رَحِمَهُمَا اللهُ نه يو روايت رکعتين قبل المغرب استحباب منقول دي. (الدر المنضود: ۵۲۸/۲، حلبي کبيري، ص: ۲۱۰)

داستحباب دقائلينو دجواز دليل:

ددې باب ټول حديثونه استحباب او جواز باندې دلالت کوي کوم نه چې ۱... حديث انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۶۸۹ کې داصحاب نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بعهد نبوي رکعتين قبل المغرب کول او دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې باندې نکير نه کول مذکور دي.

۲... حديث دعبدالله بن مغفل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوعا نمبر ۶۹۳ کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رکعتين قبل المغرب اجازت ورکول مذکور دي.

۳... حديث دعبدالله بن مغفل نمبر ۶۹۴ کې پخپله دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رکعتين قبل المغرب کول مذکور دي. نو ګويا چې قولي او فعلي احاديثو نه نافله قبل المغرب ثبوت فراهم دي. (رکعتين قبل المغرب عدم جواز باندې دليل او تطبيق بين الاحاديث دراروان باب ترلاندې اوګورئ)

﴿بَابُ مَنْ أَنْكَرَ التَّنَفُّلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ﴾

باب دهغه چا باره کې دي چې دمابشام نه مخکې ئي دنفلونه انکار کړي دي

﴿۶۹۵﴾ عَنْ طَاؤُسٍ قَالَ سُئِلَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ فَقَالَ مَا رَأَيْتُ أَحَدًا يُصَلِّيهِمَا عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه عبد بن حميد الكشي في مسنده و ابوداود و اسناده صحيح.(۱)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۲ باب الصلوة قبل المغرب، سنن الکبرٰی کتاب الصلوة ج۲ص ۴۷۶ باب من جعل قبل صلوة المغرب رکعتين.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : طاؤس ویلي دي چې د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د مابنام نه مخکې د دوه ؤ رکعتونو په باره کې پوښتنه وشوه نو هغه وویل چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې هیڅ یو کس نه دي لیدلي چې دغه دوه رکعته ئې کړي وي. د دي حدیث روایت عبدابن حُمید الکشي په خپل مسند کې کړي دي او ابوداؤد کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۶۱۶﴾ وَعَنْ حَنَّادِ بْنِ اَبِي سُلَيْمَانَ اَنَّه سَأَلَ اِبْرَاهِيمَ النَّخَعِي عَنِ الصَّلَاةِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ قَالَ فَنَهَاه عَنْهَا وَقَالَ اِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبَابَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَعُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَمْ يكونُوا يصَلُّونَهَا رواه محمد بن الحسين في الآثار و اسناده منقطع و رجاله ثقات.(۱)

ترجمه : د حماد ابن ابي سليمان نه روایت دي چې هغه د ابراهیم نخعي رَحِمَهُ اللهُ نه د مابنام د مانځه نه مخکې د دوه ؤ رکعتونو په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه ئې دغه د مانځه نه منع کړ او وې ویل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه مونځ نه ؤ کړي. د دي حدیث روایت په اثار کې محمد بن الحسن کړي دي او اسناد ئې منقطع دي او رجال ئې ثقه او باور دي.

دترجمة الباب نه غرض

ددې باب نه غرض نافله قبل المغرب په عدم جواز باندې دلیلونه بیانول مقصود دي:

۱... حدیث نمبر ۶۹۵ کې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ واضحه فرمایلي چې ما د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې چاله هم په دې دوو رکعتونو کولو باندې نه دي کتلي.

۲... حدیث نمبر ۶۹۶ کې ابراهیم نخعي رَحِمَهُ اللهُ (جلیل القدر تابعي) درکعتین قبل المغرب نه منع کړي او فرمایي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او شیخینو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دا دوه رکعته نه دي کړي.

داستحباب او د جواز قائلینو ته جواب او د احادیثو په مینځ کې تطبیق:

۱... "صلوا قبل المغرب" تعلق دنهي عن الصلوة بعد العصر سره ده یعني د عصر نه پس د تطوع چې کومه نهي ده هغه په غروب باندې منتهي (ختمیږي) کیږي، البته د غروب نه پس څوک چې نفل غواړي نو کولې یې شي یعني خپل شوق پوره کولې شي چې خلاف ولیدې. (الدر المنضود: ۵۲۸/۲)

۲... "لمن شاء" نه معلومه شوه چې امر لپاره د استحباب نه دي.

---

(۱) كتاب الآثار ص ۲۹ باب ما يعاد من الصلوة وما يكره منها رقم الحديث ۱۳۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

۳... مضبوطه خبره داده چې ددې په باره کې دحضراتو صحابه کرامو په دې کې څه لږ ډیر اختلاف پاتې شوې دی او دهغې نه پس دیو قابل ذکر فقیه یا تابعي نه په سند صحیح نافله قبل المغرب ثبوت نشته مرفوع حدیث باندې ترک عمل ددې ضعف نښه ده.

۴... "رکعتین قبل المغرب" سره متعلق ټول احادیث دتعجیل بالمغرب دحکم راتللو نه مخکې وارد دي او اوس دا رکعتین منسوخ دي. (رد المحتار شامي: ۳۷۶/۱)

﴿بَابُ التَّنَفُّلِ بَعدَ صَلَاةِ العَصرِ﴾

د مازیګر مونځ نه وروسته د نفلو باب

﴿۶۹۷﴾ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَت مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رَكعَتَينِ بَعدَ العَصرِ قَطُّ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ویلي دي چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د مازیګر نه روسته دوه رکعته هیڅکله نه دي پریښي. د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۶۹۸﴾ وَعَنهَا قَالَت رَكعَتَانِ لَم يَكُن رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَدَعُهُمَا سِرًّا وَلَا عَلَانِيَةً رَكعَتَانِ قَبلَ الصُّبحِ وَرَكعَتَانِ بَعدَ العَصرِ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ویلي دي چې دوه داسې رکعتونه دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم نه په پټه پریښي دي او نه ئې په ښکاره پریښي دي دوه رکعته د سهر د مانځه نه مخکې او دوه رکعته د مازیګر د مانځه روسته. د دې روایت شیخینو کړي دي.

﴿۶۹۹﴾ وَعَن أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا عَنِ السَّجدَتَينِ اللَّتَينِ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّيهِمَا بَعدَ العَصرِ فَقَالَت كَانَ يُصَلِّيهِمَا قَبلَ العَصرِ ثُمَّ أَنَّهُ شَغَلَ عَنهُمَا أَو نَسِيَهُمَا فَصَلَّاهُمَا بَعدَ العَصرِ ثُمَّ أَثبَتَهُمَا وَكَانَ إِذَا صَلَّى صَلَاةً أَثبَتَهَا رواه مسلم.(۳)

---

(۱) بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۳ باب ما يصلّى بعد العصر من الفوائت، مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۷ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها.

(۲) بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۳ باب ما يصلّى بعد العصر من الفوائت، مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۷ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها.

(۳) مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۷ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : ابي سلمه نه روايت دي چې هغه د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه د هغه دوه ؤ رکعتونو په باره کې پوښتنه وکړه کوم چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر د مانځه نه روسته اداء کول نو حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وويل دا دوه رکعتونه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر د مانځه نه مخکې ادا کول بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د هغې د اداء کولو نه په ځه مشغول شو او يا ئې هيرشو نو دا دوه رکعتونه ئې د مازيګر د مانځه نه روسته وکړل بيا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دي دوه ؤ رکعتنو باندي دوام ؤفرمايه او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله يو مونځ ادا کاوه نو په هغې باندي به ئې دوام فرمايه. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

دمازيګر مونځ نه پس نفل کول جائز دي يا نه ؟

۱... دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دا مکروه وي.

۲... امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ معمولي اختلاف سره دي لره جائز ګرځوي. (بداية المجتهد، ص: ۸۸)

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او دشافعي رَحِمَهُ اللهُ دلائل : دي باب تول حديثونه دي حضراتو مستدل دي خاص کر اولني حديث " مَا تَرَكَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ قَطُّ " خو دادي ملحوظ نظر وي چې دجواز تول حديثونو مدار حضرت سيده عائشه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا باندي دي.

د راروان باب " باب كراهية التطوع بعد صلاة العصر .... " تول روايات دامام صاحب مستدل دي کوم چې داطلاق او دعموم په سبب هر قسمه نفل لره شامل دي خاص کر حديث دابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۷۰۲: " أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ ".

داحاديثو په مينځ کې تعارض :

په دي باب کې دام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حديث نمبر ۷۰۴ نه معلوميږي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا دوه رکعتونه صرف يو پيره کړي دي هغه هم په ديو مجبوري په بناء باندي، هغه دا وه چې دوي بعد الظهر دوه رکعتونه سنت نه وو کړي نو دعصر نه پس يې هغې لره ادا کړو ليکن بل طرفته حديث دعائشه رضي الله عنها مطابق دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دائمي معمول وو دعصر نه پس دوه رکعته کول، او دا دواړه حديثونه بخاري او مسلم کې دي.

دمتعارضه احاديثو کې تطبيق او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... يو اعتبار سره خو دام سلمه رضي الله عنها حديث لره دعائشي رضي الله عنها باندي په دې طور ترجيح حاصله ده چې په بعضي رواياتو کې حضرت عائشه دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همېش والې پخپله بيانوي او بعضي رواياتو کې سائل لره دحضرت ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا حواله ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... یا یې دا چې رکعتین لره د حضور ﷺ په خصوصیت باندې محمول کړي شي ځکه چې د طحاوي د روایت مطابق دام سلمه رضي الله عنها په پوښتنې باندې حضور ﷺ هغې ته ددې دکولو اجازت ورنکړو پخپله حضرت عمر رضي الله عنه بعد العصر دروه رکعته کولو والا بدیي وهل او دا به دټولو صحابو په وړاندې وو چا هم نکیر اونه فرمایل.

۳... دنهي عن الصلاة بعد العصر روایات قوي او متواتر دي او ددوي په مقابله کې فعلي جزئي واقعه ده، لهذا عمومي استدلال ددې نه نشي کیدې.

﴿بَابُ كَرَاهَةِ التَّطَوُّعِ بَعْدَ صَلَاةِ الْعَصْرِ وَ صَلَاةِ الصُّبْحِ﴾

د مازیګر او د سهر د مانځه نه روسته د نفلو د ادا کولو د مکروهوالي باب

﴿۷۰۰﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِّنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ ﷺ مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ كَانَ أَحَبَّهُمْ إِلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت ابن عباس رضي الله عنه ویلي دي چې ما د رسول الله ﷺ د ډیرو صحابه کرامو نه چې بعض د هغې نه حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه دي چې هغه ماته د ټولو نه زیات محبوب ؤ چې بې شکه رسول الله ﷺ د سهر نه روسته د نمر تر ختو پورې او د مازیګر نه روسته تر د نمر د پریوتو پورې د مانځه نه منع کړې. د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي.

﴿۷۰۱﴾ وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ ﷺ لَا صَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: حضرت ابو سعید خدري رضي الله عنه ویلي دي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي چې د مازیګر د مانځه نه روسته د نمر تر پریوتو مونځ نشته او د سهر د مانځه نه روسته تر د نمر د ختو پورې مونځ نشته. د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي.

---

(۱) مسلم کتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها، بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۲ باب الصلوة بعد الفجر حتى ترتفع الشمس.

(۲) مسلم کتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها، بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص۸۲ باب لا يتحرى الصلوة قبل غروب الشمس

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۰۲﴾ وَ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَ عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر د مانځه نه روسته د نمر تر پريوتو پورې د مانځه نه منع کړي او د سهر د مانځه نه روسته ئې د نمر تر ختو پورې د مانځه نه منع فرمايلې دي. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۷۰۳﴾ وَ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ السُّلَمِيِّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللّٰهِ أَخْبِرْنِي عَمَّا عَلَّمَكَ اللّٰهُ وَ أَجْهَلُهُ أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ قَالَ صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ حَتّٰى تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ حِينَ تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيِ الشَّيْطَانِ وَ حِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتّٰى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ أَقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّ حِينَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ ثُمَّ اقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ فَإِنَّهَا تَغْرُبُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَ حِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ رواه مسلم و احمد.(۲)

ترجمه : حضرت عمرو بن سُلمي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما وويل اي د الله جل شانه نبي ماته د هغه څه نه خبر راکړه چې تاته الله جل شانه ښودلی دي او زه د هغي نه ناخبر يم د مانځه په باره کې ما خبر کړه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د سهر مونځ وکړه بيا د مانځه نه بند شه تر دي پورې چې نمر وخيژي او چت شي ځکه چې نمر کله راخيژي د شيطان د دوه وُ ښکرونو تر منځ راخيژي او په دغه وخت کې کافران نمر ته سجده کوي بيا مونځ وکړه ځکه مانځه ته فرشتې د ګواښنۍ د پاره حاضريږي تر دي پورې چې سوري د يوي نيزې نه کم شي بيا د مانځه نه بند شه ځکه چې په دغه وخت کې جهنم ګرمېږي کله چې سوري راوګرځي نو مونځ وکړه ځکه چې په مانځه کې ملائکې د شهادت د پاره حاضريږي تر دي پورې چې د مازيګر مونځ وکړي بيا د مانځه نه بند شه تر دي پورې چې نمر پريوزي ځکه چې نمر د شيطان د دوه وُ ښکرونو تر منځ پريوځي او په دغه وخت کې کافران نمر ته سجده کوي. د دې حديث روايت مسلم او احمد رَحِمَهُمَا اللّٰهُ کړي دي.

---

(۱) مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ، بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ص۸۳ باب لا تتحرى الصلوة قروب الشمس .

(۲) مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۴ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ، مسند احمد ج۴ص۱۱۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۰۴﴾ وَ عَن كُرَيبٍ اَنَّ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ وَالمِسوَرَ بنَ مَخرَمَةَ وَ عَبدَ الرَّحمٰنِ بنِ اَزهَرَ اَرسَلُوهُ اِلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا فَقَالُوا اِقرَأ عَلَيهَا السَّلَامَ مِنَّا جَمِيعًا وَ سَلهَا عَنِ الرَّكعَتَينِ بَعدَ صَلَاةِ العَصرِ وَ قُل لَهَا اَنَّا اُخبِرنَا اِنَّكِ تُصَلِّينَهُمَا وَ قَد بَلَغَنَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نَهٰى عَنهُمَا وَ قَالَ ابنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ كُنتُ اَضرِبُ النَّاسَ مَعَ عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ عَنهُمَا قَالَ كُرَيبٌ فَدَخَلتُ عَلٰى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا فَبَلَّغتُهَا مَا اَرسَلُونِي بِهٖ فَقَالَت سَل اُمَّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا فَخَرَجتُ اِلَيهِم فَاَخبَرتُهُم بِقَولِهَا فَرَدُّونِي اِلٰى اُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا فَقَالَت اُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا سَمِعتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَنهٰى عَنهُمَا ثُمَّ رَاَيتُهُ يُصَلِّيهِمَا حِينَ صَلَّى العَصرَ ثُمَّ دَخَلَ عَلٰى وَعِندِي نِسوَةٌ مِّن بَنِي حَرَامٍ مِنَ الاَنصَارِ فَاَرسَلتُ اِلَيهِ الجَارِيَةَ فَقُلتُ قُومِي بِجَنبِهٖ قُولِي لَهٗ تَقُولُ لَكَ اُمُّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ سَمِعتُكَ تَنهٰى عَن هَاتَينِ وَ اَرَاكَ تُصَلِّيهِمَا فَاِن اَشَارَ بِيَدِهٖ فَاستَاخِرِي عَنهُ فَفَعَلَتِ الجَارِيَةُ فَاَشَارَ بِيَدِهٖ فَاستَاخَرَت عَنهُ فَلَمَّا انصَرَفَ قَالَ يَا بِنتَ اَبِي اُمَيَّةَ سَاَلتِ عَنِ الرَّكعَتَينِ بَعدَ العَصرِ وَ اِنَّهٗ اَتَانِي نَاسٌ مِن عَبدِ القَيسِ فَشَغَلُونِي عَنِ الرَّكعَتَينِ اللَّتَينِ بَعدَ الظُّهرِ فَهُمَا هَاتَانِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د کریب نه روایت دي چې ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ المسور بن مخرمه او عبدالرحمٰن ابن ازهر کریب حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا ته ولیږه نو ورته وي ویل چې زمونږ د ټولو د خوا نه ورته سلام ووایه او د مازیګر د مانځه نه روسته د دوه رکعته مونځ پوښتنه تري وکړه او ورته ووایه چې بې شکه مونږ ته خبر راکړي شوي دي چې ته هغه دوه رکعته کوي او مونږ ته خبر رسیدلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د دي دوه ۋ رکعتونو نه منع فرمایلي ده او ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ویلي دي چې ما د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ سره خلک د دغه دوه رکعتونو په وجه وهلي دي کریب ویلي دي چې زه حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا ته ورغلم کوم پیغام چې ماته هغو راکړي ۋ هغه مي ورته ۋرساوه نو حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا وویل چې د حضرت ام سلمی رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا نه پوښتنه وکړه نو کریب وائي چې زه راۋوتم دوي ته راغلم د حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا په خبره مي هغو خبر کړل نو زه ام سلمی رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا نه په هغو څه ولیږلم په کومه ئي چې حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا ته لیږلي ۋم نو ام سلمی رَضِيَ اللّٰهُ عَنهَا وویل چې ما د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نه اوریدلي ۋ چې د دي دوه ۋ رکعتونو نه ئي منع فرمایلي وه خو کله ئي چې د مازیګر

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۶۴ باب اذا كلم وهو يصلي فاشار بيده...الخ ، مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۸۴ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها .

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ وکړ نو ما ولیده چې دا دوه رکعته ئې وفرمایل بیا ما کره راغې په داسې حال کې چې ځما سره د انصارو د بني حرام د قبیلې ښځې وې نو ما ورته یوه جینۍ وروا ستوله او ورته ومې ویل چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوا ته اودریږه او ورته وویله چې تاته ام سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وائي چې اي د الله جل شانه رسوله ماستانه اوریدلی وُ چې د دې دوه وُ رکعتونو نه دې منع کوله او زه دې ګورم چې تاسي ئې کوئ نو که چرته په مبارک لاس ئې اشاره وکړه نو ګړي راروسته شه نو هغې دا کار وکړ او نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته په مبارک لاس اشاره وکړه نو هغه تري راروسته شوه نو کله چې د مانځه نه فارغ شو وې فرمایل چې اي د ابي امیه لوري تا د مازیګر د مانځه نه روسته د دوه وُ رکعتونو په باره کې پوښتنه کړې ده ماته د عبد قیس د قبیلې څه خلک راغلي وُ زه ئې د هغه دوه وُ رکعتونو نه مشغول کړي وُم کوم چې د ماسپښین د مانځه نه روسته دي نو دا هغه دوه رکعتونه دي د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي.

﴿۷۰۵﴾ وَ عَنْ مُعَاوِيَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّكُم لَتُصَلُّونَ صَلَاةً لَقَدْ صَحِبْنَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَمَا رَأَيْنَاهُ يُصَلِّيهَا وَلَقَدْ نَهَى عَنْهَا يَعْنِي الرَّكْعَتَيْنِ بَعْدَ الْعَصْرِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې به شکه تاسي یو داسي مونځ کوئ چې په تحقیق مونږه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په صحبت کې وُ نو مونږ هغه نه دي لیدلي چې دا دوه رکعته ئې کړي وي او خامخا په تحقیق د دي نه ئې منع فرمایلي ده یعني د مازیګر نه روسته د دي دوه رکعتونه. د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

﴿بَابُ كَرَاهَةِ التَّنَفُّلِ بَعْدَ طُلُوعِ الْفَجْرِ سِوَى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ﴾

د سهر د دوه رکعته سنتو نه په غیر د صبا د ختو نه پس د نورو نفلي مونځو د کراهت باب

﴿۷۰۶﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لَا يَمْنَعَنَّ أَحَدَكُم أَوْ أَحَدًا مِنكُم أَذَانُ بِلَالٍ مِن سُحُورِهِ فَإِنَّهُ يُؤَذِّنُ أَوْ يُنَادِي بِلَيْلٍ لِيَرْجِعَ قَائِمَكُم وَلِيَنْتَبِهَ نَائِمَكُم رواه السنة الا الترمذي (۲)

---

(۱) بخاري کتاب مواقیت الصلوة ج۱ صـ ۸۳ باب لا تتحري الصلوة قبل غروب الشمس .

(۲) بخاري کتاب الاذان ج۱ صـ ۸۷ باب الاذان قبل الفجر ، مسلم کتاب الصیام ج۱ صـ ۳۵۰ باب بیان ان الدخول في الصوم یحصل بطلوع الفجر .....الخ ، ابوداؤد کتاب الصیام ج۱ صـ ۳۲۰ باب وقت السحور ، نسائي کتاب الصیام ج۱ صـ ۳۰۵ باب کیف الفجر ، ابن ماجة ابواب ما جاء في الصیام صـ ۱۲۳ باب ماجاء في تاخیر السحور .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : منع دي نكړي يو كس د ستاسي د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اذان د پيشمني نه ځكه چې دا په شپه كې اذان كوي د دې د پاره چې ستاسي د نفلو مونځ كوونكي واپس راشي او ستاسي اوده خلك را بيدار كړي. د دې حديث روايت شپږو محدثينو كړي دي مګر ترمذي نه دي روايت كړي.

﴿۴۰۷﴾ وَعَنْ حَفْصَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا طَلَعَ الْفَجْرُ لَا يُصَلِّيْ اِلَّا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ رواه مسلم.[1]

ترجمه : حضرت حفصې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي كله به چې صبا او خاته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د سهر د سنتو نه په غير بل مونځ نه كاوه. د دې حديث روايت مسلم كړي دي.

دصبح صادق كيدو نه پس دوه ركعته دسنت فجر نه علاوه نفل جائز دي يا نه ؟

۱... امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې دچا تهجد پاتي شي نو هغه خپل معتاد تهجد كولې شي.

۲... امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دري قوله دي : ۱- مطلقا مكروه ۲- سنت فجر نه مخكې جائز او ورسته كې بيا مكروه ۳- د فجر نه مخكې مطلقا جائز. همدغه صحيح دي.

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دليل : پو پيره د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه يو څو ركعتونه د تهجد پاتي شوي وو نو دوي بيا د صبح صادق نه پس اوكړل.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل :

۱... حديث د عمرو بن عبسه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې كله ده پوښتنه اوكړه يارسول الله ! د شپې په كومه حصه كې دعاګاني زياتې قبليږي ؟ نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمايل چې په وروستنۍ حصه كې، بيا چې ته څومره غواړې نفل اوكړه .... تر دې پورې چې ته مونځ اوكړي .... الحديث

۲... حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پخپله صرف د فجر دوه ركعته سنت اوكړل ليكن د دې نه علاوه نفل كولو لره يې منع اونه فرمايله..

دامام ابو حنيفه او احمد رَحِمَهُمَا اللهُ دليلونه :

۱... دباب اولنې حديث دكوم مطابق چې د حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اذان د فجر صرف د دې لپاره وو "تر څو چې تهجد ګزار اوس بس كړي"، كه د دې نه بعد هم نفل جائز وې نو د دې وجې نبودلو په ظاهر كې هيڅ مقصد نشته.

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ ص ۲۵۰ باب استحباب ركعتي سنة الفجر ....الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... دویم حدیث د حضرت حفصه رضي الله عنها نه مروي دي د کوم مطابق چې حضور ﷺ د صبح صادق د طلوع نه پس فقط دوه رکعته سنت فجر کول حضور ﷺ دنوافلو او د تهجد څومره حریص وو هغه خو ظاهره ده لیکن د دې باوجود د دینه منع کیدل کم ازکم دکراهت دلیل دي.

۳... په نهي کیدو د بیان جواز لپاره یو یا دوه پیره خو به یې خامخا کړې وي لیکن په روایاتو کې کله هم کول موجود نه دي.

د امام مالک رحمه الله د دلیل جواب:

د منع احادیث قوي او د څپل مطلب باندې واضح تر دي لهذا دیو صحابي په مقابله کې احادیث مرفوعه باندې به عمل اولی وي همدارنګه داد حضرت عمر رضي الله عنه اجتهاد وو، څکه خو دبل صحابي نه د دې مثل ثابت نه دي، پخپله حضرت عمر رضي الله عنه نه د یو پیره نه علاوه داسي کول منقول نه دي.

امام شافعي رحمه الله ته جواب: د اولني دلیل جوابات:

۱... حدیث د عمرو بن عبسه رضي الله عنه جواز تنفل باندې صریح نه دي.

۲... عمرو بن عبسه قدیم الاسلام دي او د دوي رضي الله عنه په حدیث کې د نسخ قوي احتمال موجود دي څکه چې په دې حدیث کې صلاة اللیل لره مکتوبه یعني فرض ویلې شوې دي حالانکه د دې فرضیت بالاتفاق منسوخ دي.

۳... په یو روایت کې د عمرو بن عبسه رضي الله عنه د حدیث الفاظ دادي: " **حتى يطلع الفجر . فإذا طلع الفجر فلا صلاة الا الركعتين حتى تصلي الفجر ....** " **الحديث** . اوس خو خبره بالکل واضحه شوه.

دویم دلیل جواب دادي چې اول خو په ټولو احادیثو کې " **فلا صلاة الا الركعتين حتى تصلي الفجر** " د غه شان " **الصلاة مقبولة حتى يطلع الصبح** " . " **ثم لا صلاة حتى تطلع الشمس** " وارد دي لهذا نهي عن غير الركعتين ثابت دي. (معارف السنن: ۶۴/۴-۶۸)

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابٌ فِي تَاكِيدِ رَكعَتَيِ الفَجرِ﴾
د سهر د دوه ؤ رکعتونو د تاکید باب

﴿۷۰۸﴾ عَن أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَا تَدَعُوا رَكعَتَيِ الفَجرِ وَ لَو طَرَدَتكُمُ الخَيل رواه احمد و ابوداود و اسنادہ صحیح و قد تقدم احادیث الباب في باب التطوع للصلوات الخمس .(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د سهر دوه رکعته مه پريږدي اګر که چې ريائمال کړي وي تاسي لره اسونو . د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ او ابوداؤد کړي دي او اسناد ئې صحيح دي . او په تحقيق د دي باب حديثونه د پنځو مونځونو د پاره د نفلو په باب کې تير شوي دي .

مسئلة الباب : د فجر دوه رکعته سنت بالاتفاق مؤکده دي ، مالکيه هم ورته اهم النوافل وايي .(رحمة الامة ، ص :۴۵)

داحاديث الباب نه ددې يو اهميت معلوم دي .

﴿بَابٌ فِي تَخفِيفِ رَكعَتَيِ الفَجرِ﴾
د سهر په سنتو کې د تخفيف کولو باب

﴿۷۰۹﴾ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا قَالَت كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يُخَفِّفُ الرَّكعَتَينِ اللَّتَينِ قَبلَ صَلَاةِ الصُّبحِ حَتَّى إِنِّي لَأَقُولُ هل قَرَأَ بِأُمِّ الكِتَابِ رواه الشيخان .(۲)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنهَا ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به په هغه دوه ؤ رکعتونو کې چې د سهر د مانځه نه مخکې دي تخفيف کاوه تر دي پورې چې ما به ويل چې آيا ام الکتاب يعني فاتحه ئې پکې لوستلې ؟ د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

---

(۱) مسند احمد ج۲ص ۴۰۵ ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۹ باب في تخفيفهما وركعتي الفجر .

(۲) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۵۶ باب ما يقرأ في ركعتي الفجر ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۰ باب استحباب ركعتي سنة الفجر .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۱۰﴾ وَ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ رَمَقتُ الَّذِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَهرًا فَكَانَ يَقرَأُ فِي الرَّكعَتَينِ قَبلَ الفَجرِ قُل يا أَيُّهَا الكَافِرُونَ وَ قُل هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ رواه الخمسة الا النسائي و حسنه الترمذي.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه مياشت په ژور نظر سره ليدلي دي چې د سهر د مانځه نه مخكې ئې په دوه ؤ ركعتونو كې قل يا ايها الكافرون او قل هو الله احد لوستله . د دي حديث روايت د نسائي نه په غير پنځو محدثينو كړي دي او ترمذي حسن ګرځولي دي.

دتخفيف وضاحت او تشريح :

دسحر په سنتو كې تخفيف قرأت دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت دي داختصار قرأت په مقدار كې اختلاف په لاندې ډول دي :

۱... امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او بعض ظاهريه په نزد د فجر په سنتو كې صرف سوره فاتحه مستحب ده .

۲... دجمهور په نزد سوره فاتحې سره يو بل وړوكي سورت دي هم ورسره اولوستلې شي . (معارف السنن : ۵۹/۴)

دامام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ دليل :

دباب دعائشې رضي الله عنها حديث " حتى اني لاقول : هل قرأ بأم الكتاب " چې دومره مختصر قرأت چې ماته دسوره فاتحې په ويلو كې هم تردد وو .

دجمهور دليل : دجمهور استدلال دباب دويم حديث (حديث دابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ) سره سره دهغه ټولو احاديثو نه دي كوم چې دحضرت ابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ، انس ، ابوهريره ، ابن عباس ، حفصه ، او پخپله حضرت عائشه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه هم مروي دي ددې مطابق حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دفجر په سنتو كې سورة الكافرون او سورة الاخلاص په شان واړه واړه سورتونه كول .

امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ او ظاهريه ته جواب :چې كله دمتعدد و احاديثو نه ضم سورت ثابت دي نو ددې انكار صحيح نه دي همدارنګې هغه صريح هم دي حال دا چې ستاسو مستدل دعائشې رضي الله عنها حديث كې دا احتمال دي چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دتهجد ركعتونه دومره اوږده وو چې ددې په مقابله كې په سنتو كې دمختصر قرأت دوجې نه نفس سوره فاتحه لوستلو هم يقين نه وو ليكن

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱صـــ ۹۵ باب ما جاء في تخفيف ركعتي الفجر ...الخ ،ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـــ۱۷۸باب في تخفيفهما عن ابي هريرة رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ج۱صـــ ۸۱ باب ماجاء في الركعتين قبل الفجر ، مسند احمد ج۲صـــ ۹۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ددې باوجود دوې به په دې کې قرأت کولو او ضم دسورت به يې هم کولو کما هو مصرح في الروايات الاخرى... واذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال.

﴿بَابُ كَرَاهَةِ سُنَّةِ الْفَجْرِ إِذَا شَرَعَ فِي الْإِقَامَةِ﴾

باب دي په کراهت د سنتو د سهر کې کله چې شروع وکړي شي په اقامت کې

﴿۷۱۱﴾ عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّهُ قَالَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ رواه الجماعة الا البخاري.(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې د مانځه د پاره اقامت وشي د فرضو نه په غير بل هيڅ مونځ نشته. د دې حديث روايت د بخاري نه پرته غير جماعت کړي دي.

﴿۷۱۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَالِكٍ ابْنِ بُحَيْنَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِرَجُلٍ وَقَدْ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فَلَمَّا انْصَرَفَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَاثَ بِهِ النَّاسُ فَقَالَ لَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَلصُّبْحَ أَرْبَعاً أَلصُّبْحَ أَرْبَعاً رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : عبد الله ابن مالک بن بُحينه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په يو سړي باندې په داسې حالت کې تيرشو چې جمع ولاړه وه هغه د سهر دوه رکعته سنت کول نو کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلام وګرځاوه خلک د هغه نه چار چاپيره راجمع شوي ؤ نو هغه ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د سهر فرض مونځ څلور رکعته دي، د سهر فرض مونځ څلور رکعته دي. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۷ باب كراهة الشروع في نافلة بعد شروع المؤذن ...الخ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۴ باب ما جاء اذا اقيمت الصلوة فلا صلوة الا المكتوبة، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۰ باب اذا ادرك الامام ولم يصل ركعتي الفجر، نسائي كتاب الامامة والجماعة ج۱ص ۱۳۹ باب ما يكره من الصلوة عند الاقامة، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات والسنة فيها ص ۸۱ باب ماجاء في اذا اقيمت الصلوة فلا صلوة الا المكتوبة، مسند احمد ج۲ص ۴۵۵.

(۲) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۹۱ باب اذا اقيمت الصلوة فلا صلوة الا المكتوبة، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۷ باب كراهة الشروع في نافلة بعد ....الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۱۴﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ سَرْجِسَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ بِالْمَسْجِدِ وَرَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ فِي جَانِبِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَمَّا سَلَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَا فُلَانُ بِأَيِّ الصَّلَاتَيْنِ اِعْتَدَدْتَ بِصَلَاتِكَ وَحْدَكَ اَمْ بِصَلَاتِكَ مَعَنَا رواه مسلم والاربعة الا الترمذي.(۱)

ترجمه: حضرت عبدالله بن سرجس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي یو سړي په داسي حال کې مسجد ته راننوت چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر په مانځه کې وُ نو د مسجد یو اړخ ته ئې دوه رکعته مونځ وکړ بیا د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په مانځه کې داخل شو نو کله چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سلام واړاوه وې فرمایل اي فلاني کوم یو د دوه وُ مونځونو ته دي اعتبار ورکړي دي خپل یوا ځي مونځ ته او که خپل هغه مونځ ته چې مونږ سره دي وکړ. د دي حدیث روایت د ترمذي په غیر مسلم او ځلورو محدثینو کړي دي.

﴿۷۱۴﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ أُقِيمَتْ صَلَاةُ الصُّبْحِ فَقَامَ رَجُلٌ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فَجَذَبَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِثَوْبِهِ وَقَالَ اَتُصَلِّي اَرْبَعاً رواه احمد و اسناده جيد.(۲)

ترجمه: حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي د سهرد مانځه اقامت وکړي شو نو یو سړي پاځیده د سهر دوه رکعته مونځ ئې کاوه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د جاي نه وُ نیوُ رائي هکوره او وې فرمایل آیا د سهر څلور رکعته مونځ کوي. د دي حدیث روایت احمد کړي او اسناد ئې جید دي.

﴿۷۱۵﴾ وَ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ اُصَلِّي وَ اَحَدُ الْمُؤَذِّنِ فِي الْاِقَامَةِ فَجَذَبَنِي النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ اَتُصَلِّي الصُّبْحَ اَرْبَعاً رواه ابوداود الطيالسي في مسنده و ابن خزيمة و ابن حبان و آخرون و قال الحاكم في المستدرك هذا حديث صحيح على شرط مسلم وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ.(۳)

---

(۱) مسلم کتاب صلوة المسافرین ج۱ صـ ۲۴۷ باب کراهة الشروع في نافلة بعد ...الخ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۸۰ باب اذا الترك الامام ولم یصل رکعتي الفجر، نسائي کتاب الامامة والجماعة ج۱ صـ ۱۳۹ فیمن یصلي رکعتي الفجر والامام في الصلوة، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات والسنة فیها صـ ۸۲ باب ماجاء في اذا اقیمت الصلوة فلا صلوة الا المکتوبة.

(۲) مسند احمد ج۱ صـ ۲۳۸.

(۳) مسند ابي داؤد طیالسي صـ ۳۵۸ رقم الحدیث ۲۷۳۶ ابن ابي ملیکه عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، صحیح ابن خزیمة، جماع ابواب الرکعتین قبل الفجر ج۲ صـ ۱۶۹ رقم الحدیث ۱۱۲۴ باب النهي عن ان یصلي رکعتي الفجر ...الخ، صحیح ابن حبان کتاب الصلوة ج ۵ صـ ۸۲ رقم الحدیث ۲۴۶۰ باب الزاد [illegible] صـ [illegible] باب [illegible] رکعتي سنة الفجر.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما مونځ کاوه او مؤذن په اقامت کې شروع کړي وه نو زه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جامي نه راکش کړم نو وي فرمايل آيا د سهر مونځ ځلور رکعته کوي . د دي حديث روايت داؤد طيالسي په خپل مسند کې کړي دي او ابن خزيمه او ابن حبان او نورو کړي دي او حاکم په مستدرک کې ويلي دي چې داحديث صحيح دي د مسلم په شرط باندي اودوي نه دي خارج کړي.

﴿۷۱۶﴾ وَ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ رَأَى رَجُلاً صَلَّى رَكْعَتَيِ الْغَدَاةِ حِينَ أَخَذَ الْمُؤَذِّنُ يُقِيمُ فَقَعَدَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْكِبَيْهِ وَ قَالَ أَلَا كَانَ هٰذَا قَبْلَ ذَا رواه الطبراني في الصغير والكبير و اسناده جيد.(۱)

ترجمه : د حضرت ابو موسي اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو سړي د سهر په دوه ؤ رکعتونو سنتو باندي وليده کله چې مؤذن په اقامت شروع کوله نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه د اوږو نه ؤنيو او وي فرمايل آيا هغه مونځ د دينه مخکې نه دي . د دي حديث روايت په صغير او کبير کې طبراني کړي دي او اسناد ئې جيد دي .

﴿۷۱۷﴾ و عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ قِيلَ يَارَسُولَ اللهِ وَلَا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَالَ وَلَا رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ رواه ابن عدي والبيهقي و قال الحافظ في الفتح اسناده حسن وَفِيمَا قَالَهُ نَظَرٌ وهذه الزيادة لا اصل لها.(۲)

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې جمع اوُدريږي نو د فرض مونځ نه په غير بل هيڅ يو مونځ نشته چا پوښتنه وکړه چې اي د الله جل شانه رسوله د سهر دوه رکعته سنت هم نشته هغه وفرمايل چې نه د سهر دوه رکعته سنت هم نشته . د دي حديث روايت ابن عدي او بيهقي کړي دي او حافظ په فتح الباري کې ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي او په دي کې نظر او اعتراض او د دغه زيادت د پاره هيڅ اصل نشته .

---

(۱) المعجم الصغير للطبراني ج۱ صـ ۵۵ قال حدثنا احمد بن حماد ...الخ ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲ صـ۷۵ باب اذا اقيمت الصلوة هل يصلي غيرها نفلًا عن الطبراني في الكبير والاوسط .

(۲) كامل ابن عدي ج ۷ صـ ۲۷۰۲ ترجمة يحيى بن نصر بن حاجب ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۲ صـ ۴۸۳ باب كراهية الاشتغال بما ...الخ ، فتح الباري كتاب الاذان ج۲ صـ ۲۸۸ باب اذا اقيمت الصلاة ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

د اقامت نه پس دسحر دسنتو حکم

که دسحر مونځ اودریږي او چا تر اوسه پورې سنت نه وي کړي نو هغه ته څه کول پکار دي آیا سنت دي اوکړي او که نه پریږدي او جمع کې شریک شي؟

۱... دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دي وخت کې سنت کول مطلقا مکروه دي نه دي کول پکار.

۲... امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي، دوو شرطونو سره سنت کولې شي، اول دا چې بهر دجومات نه به وي، دویم دا چې دفرض دواړه رکعتونه دده جماعت سره ملاویږي،، که یو رکعت هم فوت کیږي نو بیا دي نه کوي.

۳... دحنفیو په نزد هم دوه شرطونه دي، یو خارج دجومات یا کم ازکم دجماعت سره اختلاط نه وي بلکې په مینځ کې یو شئ حائل وي دویم دا چې ددواړو رکعتونو فوت کیدو ویره نه وي که صرف یو رکعت فوت کیږي نو بیا هم کولې شي.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ دلیل: دا حضرات دباب دټولو احادیثو نه استدلال کوي دکوم په الفاظ کې چې یو طرفته خو عموم دي مثلا: "إِذَا أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَلَا صَلَاةَ إِلَّا الْمَكْتُوبَةَ" او بل طرفته یو چا دجماعت داویدو نه پس دفجر سنت اوکړل نو په همغه وخت کې پرې نکیر اوکړې شو مثلا دا وینا چې "أتصلي الصبح اربعا".

دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دلیلونه:

۱... په دیرو احادیثو کې دفجر په سنتو باندې خاص تاکید کړې شوې دي مثلا "لاتدعوهما ولو طردتکم الخیل" په اسونو باندې روند اچولو باندې هم دسحر دسنتو نه پریخودو حکم دي.

۲... حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سفر او حضر کې همیشه سنت فجر لره ادا کړي او کله یې هم دې لره نه دي پریښي.

۳... ابوعثمان نهدي رَحِمَهُ اللهُ فرمایي: "كُنَّا نَأْتِي عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَبْلَ أَنْ نُصَلِّيَ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَنُصَلِّي فِي آخِرِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ نَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِي صَلَاتِهِمْ".

۴... حضرت ابن عمر، ابن مسعود، ابن عباس، ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ او نور فقهاء صحابو نه مروي دي چې هغوي به دسحر سنت دجماعت داودریدو نه پس هم ادا کول، ددې نه معلومیږي چې دحضراتو صحابو عمل دا وو چې هغوي به دسحر سنت دجماعت داودریدو نه پس هم کول.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

۱... "فلا صلاة الا المكتوبة" والا حديث عموم باندې خو دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ هم عمل نشته ځکه چې دجماعت داودريدو نه پس دسحر سنت په کور کې کول دده په نزد جائز دي ، دغه شان "الا المكتوبة" تر لاندې دفوت شده فرض مونځونو قضا جائز کيدل پکار دي حالانکه هغه هم دده په نزد جائز نه دي، چې کله حديث مذکور بالاتفاق عام مخصوص منه البعض شو نو تاکيد سنت فجر والا احاديثو او دفقهاؤ او دصحابو د تعامل په بناء باندې په دې کې دسنت فجر تخصيص هم پکار دي.

۲... دصحابو آثار دپه رښا کې د" أتصلي الصبح اربعاً ؟ " نکير په داخل دجومات کې متصل بالصفوف سنت کولو لپاره دي. (معارف السنن : ۷۱/۴)

دمؤلف دقول " وهذه الزيادة لا اصل لها " مطلب :

بعضي شوافع په استدلال کې دباب حديث نمبر ۷۱۷ لره وړاندې کوي کوم کې چې دا مذکور دي چې " قِيل يارَسُولَ اللهِ وَلاَ رَكعَتَي الفَجرِ قَالَ وَلَا رَكعَتَي الفَجرِ" نو علامه نيموي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ دې اضافې سره حديث لره حسن ګرځولې او ددې نه يې استدلال صحيح ويلې دي ليکن دا خبره ده چې دا اضافه محفوظه نه ده ځکه چې بيهقي رَحِمَهُ اللهُ فرمايلې چې " لا اصل لها " . (التعليق الحسن)

﴿بَابُ مَنْ قَالَ يُصَلِّي سُنَّةَ الْفَجْرِ عِنْدَ اشْتِغَالِ الْإِمَامِ بِالْفَرِيضَةِ خَارِجَ الْمَسْجِدِ اَوْ فِي نَاحِيَةٍ اَوْ خَلْفَ اُسْطُوَانَةٍ اِنْ رَجَا اَنْ يُدْرِكَ رَكْعَةً مِنَ الْفَرْضِ﴾

دهغه چا په باره کې باب دي چې ويلي ئې دي چې په فرضو کې دامام د اشتغال په وخت کې د سهر سنت د مسجد نه د باندې او د مسجد په يو کوټ کې او يا د ستني نه روسته ادا کولې شي په دې شرط چې د فرضو د يو رکعت دګيرولو اميد ئې وي

﴿۷۱۸﴾ عَنْ مَالِكِ بْنِ مِغْوَلٍ قَالَ سَمِعْتُ نَافِعاً يَقُولُ اَيَقِظْتُ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لِصَلَاةِ الْفَجْرِ وَ قَدْ اُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَقَامَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : مالک بن مغول ویلي دي چې ما د نافع نه اوریدلي دي چې ویل ئي ما حضرت ابن عمر رضی الله عنه د سهر د مانځه د پاره د خوب نه رابیدار کړه داسي حال کې چې جماعت وُدرول شوي وُ نو هغه پاځیده دوه رکعته مونځ ئي وکړ. د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي او اسناد ئي صحیح دي.

﴿۷۱۹﴾ عَنْ مُحَمَّدِ بْنِ كَعْبٍ قَالَ خَرَجَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رضی الله عنه مِنْ بَيْتِهِ فَأُقِيمَتْ صَلَاةُ الصُّبْحِ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ قَبْلَ أَنْ يَدْخُلَ الْمَسْجِدَ وَهُوَ فِي الطَّرِيقِ ثُمَّ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَصَلَّى الصُّبْحَ مَعَ النَّاسِ رواه الطحاوي.(۱)

ترجمه : محمد بن کعب ویلي دي چې عبدالله بن عمر رضی الله عنه د خپل کور نه راوُوتو د سهر مونځ (جماعت) ولاړ وُ مسجد د ننوتو نه مخکې ئي دوه رکعته مونځ وکړ چې هغه په لاره وُ بیا مسجد ته ننوتو نو د خلکو سره ئي د سهر مونځ وکړو. د دي حدیث طحاوي کړي دي.

﴿۷۲۰﴾ وَ عَنْ زَيْدِ بْنِ أَسْلَمَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رضی الله عنه أَنَّهُ جَاءَ وَالْإِمَامُ يُصَلِّي الصُّبْحَ وَلَمْ يَكُنْ صَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الصُّبْحِ فَصَلَّاهُمَا فِي حُجْرَةِ حَفْصَةَ رضی الله عنها ثُمَّ أَنَّهُ صَلَّى مَعَ الْإِمَامِ رواه الطحاوي ورجاله ثقات الا يحيي بن ابي كثير يدلس.(۲)

ترجمه : زید ابن اسلم د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت کړي دي چې هغه راغي او امام د سهر مونځ کاوه او ده د سهر د مانځه نه مخکې دوه رکعته مونځ نه وُ کړي نو دوه رکعته ئي د حضرت حفصې رضی الله عنها په حجره کې ادا کړل بیا ئي د امام سره مونځ اداء کړ. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او رجال ئي ثقه دي په غیر د یحي ابن کثیر نه چې هغه تدلیس کوي.

﴿۷۲۱﴾ و عن أَبِي الدَّرْدَاءِ رضی الله عنه أَنَّهُ كَانَ يَدْخُلُ الْمَسْجِدَ وَالنَّاسُ صُفُوفٌ فِي صَلَاةِ الْفَجْرِ فَيُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِي الصَّلَاةِ رواه الطحاوي واسناده حسن.(۳)

ترجمه : د حضرت ابو الدرداء رضی الله عنه نه روایت دي چې هغه مسجد ته داخل شوي وُ او خلک د سهر د مانځه په صفونو کې ولاړ وُ نو د مسجد په یو کنج کې ئي دوه رکعته مونځ وکړ بیا د قوم سره په مانځه کې داخل شو. د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي او اسناد ئي حسن دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۲۳﴾ عن حَارِثَةَ بْنِ مُضَرِّبٍ أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ أَبَا مُوسٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ سَعِيدِ بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَرَكَعَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ الْقَوْمِ فِي الصَّلَاةِ وَ أَمَّا أَبُو مُوسٰى فَدَخَلَ فِي الصَّفِّ رواه ابوبكر بن ابي شيبة في مصنفه و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حارثه ابن مُضَرِّب نه روايت دي چې حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابو موسى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د حضرت سعيد بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه دواړه راوُوتل نو د مانځه اقامت وكړي شو ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دوه ركعته مونځ وكړ بيا د قوم سره په مانځه كې داخل شو خو ولي ابو موسىٰ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په صف كې داخل شو . د دي حديث روايت ابوبكر ابن ابي شيبه په خپل مصنف كې كړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۲۴﴾ و عن عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُوسٰى عَنْ أَبِيهِ حِينَ دَعَاهُمْ سَعِيدُ بْنِ الْعَاصِ دَعَا أَبَا مُوسٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَبْلَ أَنْ يُصَلِّيَ الْغَدَاةَ ثُمَّ خَرَجُوا مِنْ عِنْدِهِ وَ قَدْ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَجَلَسَ عَبْدُ اللهِ إِلَى أُسْطُوَانَةٍ مِنَ الْمَسْجِدِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ فِي الصَّلَاةِ رواه الطحاوي والطبراني و في اسناده لين.(۲)

ترجمه : عبدالله ابن ابي موسى د خپل پلار نه روايت كړي كله چې سعيد بن العاص دوي رابلل. ابو موسى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې د سهر د مانځه نه مخكې ئې راوُبلل بيا دوي د هغه د ځاي نه راوُتل او د مانځه اقامت شوي وُ نو حضرت عبدالله د مسجد يوې ستن ته ودريده او دوه ركعته مونځ ئې وكړ بيا په مانځه كې داخل شو . د دي حديث روايت طحاوي او طبراني كړي دي. او په اسناد كې ئې ضعف دي.

﴿۷۲۴﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ أَبِي مُوسٰى عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ دَخَلَ الْمَسْجِدَ وَ الْإِمَامُ فِي الصَّلَاةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ رواه الطحاوي والطبراني و اسناده حسن.(۳)

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۲۵۱ في الرجل يدخل المسجد في الفجر .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۵۷ باب اداء سنة الفجر .

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۵۷ باب اداء سنة الفجر ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲صـ ۷۵ باب اذا اقيمت الصلوة هل يصلي غيرها نقلاً عن الطواني في الكبير .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : عبدالله ابن ابي موسى د عبدالله رضي الله عنه نه روايت كړي دي چې هغه په داسي وخت كې مسجد ته ننوت چې امام په مانځه كې وُ نو هغه د سهر دوه ركعته سنت وكړل. د دي حديث روايت طحاوي او طبراني كړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۷۲۵﴾ وَ عَنْ اَبِي مِجْلَزٍ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ مَعَ ابنِ عُمَرَ رضي الله عنهما وَابنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما وَالإِمَامُ يُصَلِّي فَاَمَّا ابنُ عُمَرَ رضي الله عنه فَدَخَلَ فِي الصَّفِّ وَ اَمَّا ابنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنه فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ الإِمَامِ فَلَمَّا سَلَّمَ الإِمَامُ قَعَدَ ابنُ عُمَرَ رضي الله عنه مَكَانَهُ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : ابي مجلز ويلي دي چې زه د ابن عمر او د ابن عباس رضي الله عنهما سره د سهر په مانځه كې مسجد ته ننوتم كله چې امام مونځ كاوه نو ابن عمر رضي الله عنه په صف كې داخل شو او ابن عباس رضي الله عنه دوه ركعته مونځ وكړ بيا د امام سره په مانځه كې داخل شو. كله چې امام سلام وگرځاوه نو ابن عمر رضي الله عنه په خپل ځاي تر هغه وخته پوري كيناست چې نمر راوځاته نو پاڅيده دوه ركعته ئې وكړل. د دي حديث روايت طحاوي كړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۲۶﴾ وَ عَنْ اَبِي عُثْمَانَ الاَنْصَارِيِّ رضي الله عنه قَالَ جَاءَ عَبدُ اللهِ بنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما وَالإِمَامُ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ وَلَمْ يَكُنْ صَلَّى الرَّكْعَتَيْنِ فَصَلَّى عَبدُ اللهِ بنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنهما الرَّكْعَتَيْنِ خَلْفَ الإِمَامِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَهُم رواه الطحاوي و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : ابي عثمان انصاري رضي الله عنه ويلي دي چې عبدالله ابن عباس رضي الله عنه راغي او امام د سهر په مانځه كې وُ او هغه د سهر دوه ركعته سنت نه وُ كړي نو عبدالله بن عباس رضي الله عنه د امام نه روسته دوه ركعته وكړل بيا د هغوي سره داخل شو. د دي حديث روايت طحاوي كړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۲۷﴾ عَنْ اَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ قَالَ كُنَّا نَاْتِي عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ رضي الله عنه قَبلَ اَن نُصَلِّيَ الرَّكْعَتَيْنِ قَبلَ الصُّبحِ وَهُوَ فِي الصَّلَاةِ فَنُصَلِّي فِي آخِرِ المَسجِدِ ثُمَّ نَدخُلُ مَعَ القَومِ فِي صَلَاتِهِم رواه الطحاوي واسناده

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۷ باب اداء سنة الفجر .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر

Maktaba Tul Ishaat.com

حسن.(۱)

ترجمه : ابي عثمان النهدي ويلي دي مونږ حضرت عمر بن الخطاب ته د سهر د مانځه د دوه ؤ رکعتونو نه مخکې راغلو او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مانځه کې نو مونږ د مسجد په اخره برخه کې مونځ وکړ بیادقوم سره د دوي په مانځه کې داخل شو. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۷۲۸﴾ وَعَنِ الشَّعْبِيِّ قَالَ كَانَ مَسْرُوقٌ يَجِيءُ إِلَى الْقَوْمِ وَهُمْ فِي الصَّلَاةِ وَلَمْ يَكُنْ رَكَعَ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَيُصَلِّي الرَّكْعَتَيْنِ فِي الْمَسْجِدِ ثُمَّ يَدْخُلُ مَعَ الْقَوْمِ فِي صَلَاتِهِمْ رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : شعبي ويلي دي چې کله به مسروق قوم ته راغلي او قوم به په مانځه کې ؤ او ده به د سهر دوه رکعته نه ؤ کړي نو په مسجد کې به ئې دوه رکعته وکړل بیا به د قوم سره د دوي په مانځه کې داخل شو. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۷۲۹﴾ وَعَنْهُ عَنْ مَسْرُوقٍ أَنَّهُ فَعَلَ ذٰلِكَ غَيْرَ أَنَّهُ قَالَ فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : شعبي د مسروق نه روایت کړي دي چې هغه داسي کړي دي خو ولي هغه دا ویلي دي چې دوه رکعته ئې د مسجد په یو ګوټ کې کړي دي. یعني (انه قال في ناحية المسجد). د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۷۳۰﴾ عَنْ يَزِيدَ بْنِ إِبْرَاهِيمَ عَنِ الْحَسَنِ أَنَّهُ كَانَ يَقُولُ إِذَا دَخَلْتَ الْمَسْجِدَ وَلَمْ تُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَصَلِّهِمَا وَإِنْ كَانَ الْإِمَامُ يُصَلِّي ثُمَّ ادْخُلْ مَعَ الْإِمَامِ رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۴)

ترجمه : د یزید ابن ابراهیم نه روایت دي چې حسن رَحِمَهُ اللهُ ویلي ؤ چې کله ته مسجد ته داخل شي او د سهر دوه رکعته دي نه دي کړي نو هغه دوه رکعته وکړه اګر چې اما مونځ کوي بیا د امام سره شریک شه. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۲۱﴾ وَ عَن يونسَ قَالَ كَانَ الحَسَنُ يقُولُ يصَلِّيهِمَا فِي نَاحِيةِ المَسجِدِ ثُمَّ يدخُلُ مَعَ القَومِ فِي صَلَاتِهِم رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : يونس ويلي دي چې حسن رَحِمَهُ اللهُ به ويل چې د هغه مسجد په ګوټ کې دوه رکعته وکړي بيا د قوم سره د دوي په مونځ کې داخل شي. د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې صحيح دي.

دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ تائيد:

دباب ټول آثار صحابه او تابعين رَحِمَهُ اللهُ نه دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دقول تائيد کيږي چې دجماعت داودريدو نه پس هم دسحر سنت کولې شي، البته دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد صرف په کور کې دې ادا کړې شي او ددوارو بابونو درواياتو نه دامام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ ددې قول تائيد کيږي چې که يو رکعت هم دامام سره دملاويدو توقع وي نومونځ کونکي ته پکار دي چې دسحر سنت دې او کړي بيا دسحر سنت کولو دري صورتونه دي: (۱) په کور کې، دا له ټولو نه بهتر دي. (۲) دجومات په يو کونج کې. (۳) ديو سټني شاته. دا دري واړه صورتونه جائز دي.

﴿بَابُ قَضَاءِ رَكعَتَيِ الفَجرِ قَبلَ طُلُوعِ الشَّمسِ﴾

د نمر د ختو نه مخکې د سهر د سنتو د قضاء باب

﴿۷۲۲﴾ عَن قَيسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَأُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّيتُ مَعَه الصُّبحَ ثُمَّ انصَرَفَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَوَجَدَنِي أُصَلِّي فَقَالَ مَهلًا يا قَيسُ أَصَلَاتَانِ مَعًا قُلتُ يارَسُولَ اللهِ إِنِّي لَم أَكُن رَكعتُ رَكعَتَيِ الفَجرِ قَالَ فَلَا إِذَن رواه الاربعة الا النسائي و احمد و ابوبكر بن ابي شيبة والدارقطني والحاكم والبيهقي قال النيموي اسناده ضعيف.(۲)

ترجمه : حضرت قيس رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ تشريف راوړ نو د مانځه اقامت وکړي شو نو ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره د سهر مونځ وکړ بيا نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ واپس

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۵۸ باب اداء سنة الفجر.

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۶ باب ماجاء في اعادتهما بعد طلوع الشمس، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۰ باب من فاتته متى يقضيها، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات والسنة فيها ص۸۲ باب ماجاء فيمن فاتته الركعتان قبل صلوة الفجر ...، مسند احمد ج۵ ص ۴۴۷، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۲۵۴ باب في ركعتي الفجر اذا فاتته، دار قطني كتاب مستدرك حاكم كتاب الصلوة ج۱ص ۲۷۵ باب قضاء سنة الفجر بعد الفرض، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۲ص ۴۸۳ باب من اجاز قضاء هما بعد الفراغ من الفريضة

Maktaba Tul Ishaat.com

کیده نو زه ئي په مانځه ؤ مندلم نو وي فرمایل چې پریږده اي قیسه آیا دوه مونځونه یو ځای ما وویل یا د الله جل شانه رسوله ما د سهر دوه رکعته نه ؤ کړي هغه وفرمایل چې په دي وخت ئي مه کوه. د دي حدیث روایت د نسائي نه په غیر څلورو محدثینو احمد ، ابوبکر بن ابي شیبه. دار قطني او حاتم او بیهقي کړي دي. او نیموي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې اسناد ئي ضعیف دي.

﴿۷۳۳﴾ وَ عَن عَطَاءِ بنِ اَبِي رَبَاحٍ عَن رَجُلٍ مِنَ الاَنصَارِ قَالَ رَاَى رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا يُصَلِّي بَعدَ الغَدَاة قَالَ يَارَسُولَ الله لَم اَكن صَلَّيتُ رَكعَتَي الفَجرِ فَصَلَّيتُهمَا اَلاَنَ فَلَم يَقُل لَه شَيئًا

اخرجه ابن حزم في المحلي و قال العراقي اسناده حسن. قال الليموي و فيما قاله نظر.(۱)

ترجمه : د عطاء ابن ابي رباح نه روایت دي چې د انصارو نه یو کس ویلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو کس ولیده چې د سهر د مانځه نه روسته ئي مونځ کاوه نو هغه کس وویل چې اي د الله جل شانه رسوله ما د سهر دوه رکعته سنت نه ؤ کړي اوس مي اکړل نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ته څه ونه فرمایل دا حدیث ابن حزم په محلّی کې خارج کړي او عراقي ویلي دي چې اسناد ئي حسن دي او نیموي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې عراقي څه ویلي دي په هغې اعتراض دي.

دسحر دسنتو قضا

که یو کس د فجر سنت د فرضو نه مخکې اونکړل شو نو هغه دې څه اوکړي؟

۱. عطاء رَحِمَهُ اللهُ، طاؤس رَحِمَهُ اللهُ او دائمو نه دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد د طلوع نه مخکې کولې شي.

۲. ائمه ثلاثه حنفیه رَحِمَهُمُ اللهُ، حنابله او د مالکیو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد د طلوع شمس نه مخکې کول مکروه دي.

دفریق اول استدلال :

د باب دواړه حدیثونه د مجوزینو دلیل دي ، په اولني حدیث کې خو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه کس ته اوفرمایل " فلا اذن " چې اوس نه یعني که چرې دا خبره وه چې (سنت) دي نه وو کړي نو بیا به ما منع کولې. دویم حدیث کې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسي موقع کې سکوت اختیار ول تقریر دي لهذا د دي جواز ثابت شو. (دمانعینو حضرات تو دلیلونه په راروان باب کې دي)

داولني حدیث متعلق جوابونه :

۱... دا حدیث سندا منقطع دي ، امام ترمذي رَحِمَهُ اللهُ اوفرمایل چې د محمد ابراهیم سماع قیس بن عمرو نه ثابت نه ده.

---

(۱) محلی لابن حزم کتاب الصلوة ج۲ص ۸۲ باب من صح القضاء صلاة الفرض فلا یشتغل لغیرها.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... "فلا اذان" دوه مطلبونه کیدې شي، یو هغه کوم چې پاس بیان کړې شو دویم دا چې بیا هم نه دي کول پکار.

۱... امام نووي رَحِمَهُ اللهُ او امام ذهبي رَحِمَهُ اللهُ (چې دواړه شافعي دي) ددې حدیث د سند پوره تحقیق نه پس فرمایي چې دحدیث په سند اَضعیف کیدو باندې دټولو اتفاق دي.

دویم حدیث سره متعلق جوابونه:

۱... علامه عراقي رَحِمَهُ اللهُ ددې سند لره حسن ګرځولې دي بیا هم په دې کې ارسال دي، همدارنګه راوي حسن بن ذکوان مدلس دي. (التعلیق الحسن)

۲... چې کله په دې وخت کې د تطوع نهي دنورو احادیثو صحیحو نه ثابت ده نو په داسي صورت کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سکوت به په تقریر باندې دلالت نه کوي.

۳... کیداي شي دا واقعه دمنع نه مخکې وي. (الدر المنضود: ۲/۵۲۱)

﴿بَابُ كَرَاهَةِ قَضَاءِ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ قَبْلَ طُلُوعِ الشَّمْسِ﴾

د نمر د ختو نه مخکې د سهر د سنتو د قضاء د کراهة باب

﴿۷۲۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ وَعَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ رواه الشیخان.(۱)

ترجمه: د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازیګر نه روسته تر نمر پریوتو پورې د مانځه نه منع فرمایلې ده او د سهر د مانځه نه روسته ئې د نمر تر ختو پورې د مانځه نه منع فرمایلې ده. د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي.

﴿۷۲۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ سَمِعْتُ غَيْرَ وَاحِدٍ مِنْ أَصْحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْهُمْ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكَانَ أَحَبَّهُمْ إِلَيَّ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَهَى عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الْفَجْرِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَبَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ رواه البخاري.(۲)

---

(۱) مسلم کتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها، بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۲ باب الصلوة بعد الفجر حتى ترتفع الشمس.

(۲) مسلم کتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها، بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۲ باب الصلوة بعد الفجر حتى ترتفع الشمس.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ډيرو صحابه کرامو نه اوريدلي چې يو د هغې نه حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وُ او ماته حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دوي کې ډير محبوب وُ چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر نه روسته د نمر تر پريوتو پوري د مانځه نه منع فرمايلي وه او د سهر د مانځه نه روسته ئې د مانځه نه منع فرمايلي تر څو پوري نور وخيژي. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۷۳۶﴾ وَ عَنْ اَبِي سَعِيدِ الْخُدرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاَ صَلاَةَ بَعدَ صَلاَةِ الْعَصرِ حَتّٰى تَغرُبَ الشَّمسُ وَلاَ صَلاَةَ بَعدَ صَلاَةِ الفَجرِ حَتّٰى تَطلُعَ الشَّمسُ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابي سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د مازيګر د مانځه نه روسته د نمر پريوتو پوري مونځ نشته او د سهر د مانځه نه روسته د نمر تر ختو پوري مونځ نشته. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۷۳۷﴾ وَ عَنْ عَمرِو بنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلتُ يَا نَبِيَّ الله اَخبِرنِي عَنِ الصَّلاَةِ قَالَ صَلِّ صَلاَةَ الصُّبحِ ثُمَّ اقصُر عَنِ الصَّلاَةِ حَتّٰى تَطلُعَ الشَّمسُ وَ تَرتَفِعَ فَاِنَّهَا تَطلُعُ بَينَ قَرنَيْ شَيطَانٍ وَ حِينَئِذٍ يسجُدُ لَهَا الكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَاِنَّ الصَّلاَةَ مَشهودَةٌ مَحضُورَةٌ حَتّٰى يستَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمحِ ثُمَّ اقصُر عَنِ الصَّلاَةِ فَاِنَّ حِينَئِذٍ تُسجَرُ جَهَنَّمُ فَاِذَا اَقبَلَ الفَيءُ فَصَلِّ فَاِنَّ الصَّلاَةَ مَشهودَةٌ مَحضُورَةٌ حَتّٰى تُصَلِّيَ العَصرَ ثُمَّ اقصُر عَنِ الصَّلاَةِ حَتّٰى تَغرُبَ فَاِنَّهَا تَغرُبُ بَينَ قَرنَيْ شَيطَانٍ وَ حِينَئِذٍ يسجُدُ لَهَا الكُفَّارُ رواه احمد و مسلم و آخرون.(۲)

ترجمه : حضرت عمرو بن عبسه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما عرض وکړ چې اي د الله جل شانه نبي ماته د مانځه په باره کې خبر راکړه وي فرمايل د سهر مونځ وکړه بيا د مانځه نه بند شه تر څو پوري چې نمر راوخيژي او اوچت شي ځکه چې نمر د شيطان دوه وُ بنکرونو ترمنځ راخيژي او نمر ته په دي وخت کې کافران سجده کوي بيا مونځ وکړه ځکه چې مانځه ته ملائکي د شهادة د پاره حاضريږي تر دي پوري چې سوري د نيزې په اندازه کم شي بيا د مانځه نه بند شه ځکه چې په دغه وخت کې جهنم ګرمولي شي نو کله چې سوري راوګرځي نو مونځ کوه ځکه چې مانځه ته فرهتي د

---

(۱) مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ، بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ص۸۲ باب لا تتحرى الصلوة قبل غروب الشمس .

(۲) مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۵ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها ، ابوداؤد ج۲ص۱۱۱.

Maktaba Tul-Ishaat.com

گوانبئ د پاره حاضريږي تر دي پوري چې د مازيګر مونځ وکړي بيا د مانځه نه بند شه تر دي پوري چې نمر پريوزي ځکه چې دا نمر د شيطان د دوه څ ښکرونو ترمنځ پريوزي نو په دغه وخت کې کافران نمر ته سجده کوي. د دي حديث روايت احمد، مسلم او نورو کړي دي.

﴿۷۲۸﴾ وَ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يُصَلِّ رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ فَلْيُصَلِّهِمَا بَعْدَ مَا تَطْلُعُ الشَّمْسُ رواه الترمذي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چا چې د سهر دوه رکعته نه وي کړي نو د نمر ختو نه روسته دي ئي وکړي. د دي حديث روايت ترمذي کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۷۲۹﴾ وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ صَلَّى رَكْعَتَيِ الْفَجْرِ بَعْدَ مَا اَضْحٰى رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : نافع د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت کړي چې هغه د سهر دوه رکعته مونځ د څاخت نه روسته وکړ. د دي حديث روايت ابوبکر ابن ابي شيبه کړي او اسناد ئي حسن دي.

﴿۷۳۰﴾ وَ عَنْ اَبِي مِجْلَزٍ قَالَ دَخَلْتُ الْمَسْجِدَ فِي صَلَاةِ الْغَدَاةِ مَعَ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وَابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا وَالْاِمَامُ يُصَلِّي فَاَمَّا ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمْ يَدْخُلْ فِي الصَّفِّ وَ اَمَّا ابْنُ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ دَخَلَ مَعَ الْاِمَامِ فَلَمَّا سَلَّمَ الْاِمَامُ قَعَدَ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مَكَانَهُ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ فَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : ابو مجلز ويلي دي چې زه د عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او عبدالله بن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره د سهر په مانځه کې مسجد ته ننوتم او امام مونځ کاوه حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په صف کې داخل شو او ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دوه رکعته مونځ وکړ بيا د امام سره داخل شو کله چې امام سلام وګرځاوه نو ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په خپل ځاي تر هغه وخته پوري کيناست چې نمر وخاته نو پاڅيده او دوه رکعته مونځ ئي وکړ. د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئي صحيح دي.

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ ص ۹۶ باب ماجاء في اعادتها بعد طلوع الشمس.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ ص ۲۵۲ باب في ركعتي الفجر انا قاته.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۵۷ باب اداء سنة الفجر.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۲۱﴾ وَعَن يحيي بنِ سَعيدٍ قَالَ سَمِعتُ القَاسِمَ يَقُولُ إِذَا لَم أُصَلِّهِمَا حَتّٰى أُصَلِّيَ الفَجرَ صَلَّيتُهُمَا بَعدَ طُلُوعِ الشَّمسِ رواه ابن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : او يحيي ابن سعيد ويلي دي چې ما د قاسم نه اوريدلي دي چې ويل ئي كله چې زه د سهر دوه ركعته ونكړم تر دي چې د سهر مونځ وكړم نو هغه مي د نمر د ختو نه روسته كړي. د دي حديث روايت ابن ابي شيبه كړي او اسناد ئي صحيح دي.

دجمهورو تائيد: ددې باب حديثونه او آثار دخپل صحت سند او دمفهوم واضح كيدو په اعتبار سره ائمه حنفيه ، حنابله او دمالكيو دليل دي ددينه دابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث نمبر ۷۳۸ كې خو صراحتا دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد دې : " مَن لَم يصَلِّ رَكعَتَيِ الفَجرِ فَليصَلِّهِمَا بَعدَ مَا تَطلُعُ الشَّمسُ " او ددې حديث سند صحيح هم دې.

﴿بَابُ قَضَاءِ رَكعَتَيِ الفَجرِ مَعَ الفَرِيضَةِ﴾

د سهر د فرضو د دوه ډ ركعتونو د قضائي سره د سهر د سنتو د قضائي باب

﴿۷۲۲﴾ عَن أَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ عَرَّسنَا مَعَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلَم نَستَيقِظ حَتّٰى طَلَعَتِ الشَّمسُ فَقَالَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِيأخُذ كُلُّ رَجُلٍ بِرَأسِ رَاحِلَتِهِ فَإِنَّ هٰذَا مَنزِلٌ حَضَرَنَا فِيهِ الشَّيطَانُ قَالَ فَفَعَلنَا ثُمَّ دَعَا بِالمَاءِ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ أُقِيمَتِ الصَّلَاةُ فَصَلَّى الغَدَاةَ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د شپې په اخره برخه كې قافله واړوله نو مونږ رابيدار نشو تر څو چې نمر راوخوت نو نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې هر سړي دي خپل اوښ د مهار نه ونيسي بې شكه په دې ځاى كې زمونږ سره شيطان حاضر شوى دي ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نو مونږ هم داسي وكړل بيا ئي اوبه راوغوښتي نو اودس ئي وكړ بيا ئي دوه ركعته مونځ وكړ بيا د مانځه د پاره اقامت وُكړي شونو د سهر مونځ ئي وكړ. د دې حديث روايت مسلم كړي دي.

﴿۷۲۳﴾ وَعَن أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَطَبَنَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَفِيهِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ــ ۲۵۵ في ركعتي الفجر اذا فاتته .

(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ــ ۲۳۸ باب قضاء الصلوة الفائتة ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الظِّرِّ فِي فَوَضَعَ رَأْسَهُ ثُمَّ قَالَ احْفَظُوا عَلَيْنَا صَلَاتَنَا فَكَانَ أَوَّلُ مَنِ اسْتَيْقَظَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالشَّمْسُ فِي ظَهْرِهِ قَالَ فَقُمْنَا فَزِعِينَ ثُمَّ قَالَ ارْكَبُوا فَرَكِبْنَا فَسِرْنَا حَتّٰى إِذَا ارْتَفَعَتِ الشَّمْسُ نَزَلَ ثُمَّ دَعَا بِوَضُوْءٍ كَانَتْ مَعِي فِيهَا قَبِيءٌ مِنْ مَاءٍ قَالَ فَتَوَضَّأَ مِنْهَا وُضُوءًا دُونَ وُضُوءٍ قَالَ وَبَقِيَ فِيهَا قَبِيءٌ مِنْ مَاءٍ ثُمَّ قَالَ لِأَبِي قَتَادَةَ احْفَظْ عَلَيْنَا مِيضَأَتَكَ فَسَيَكُونُ لَهَا نَبَأٌ ثُمَّ اذَّنَ بِلَالٌ بِالصَّلَاةِ فَصَلّٰى رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ صَلَّى الْغَدَاةَ فَصَنَعَ كَمَا يَصْنَعُ كُلَّ يَوْمٍ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت ابي قتاده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه وويله او هغه هم په دي کې وُ نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لاري نه واوُخوت نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل سر مبارک کښوږ بيا ئې وفرمايل په مونږ باندې زمونږ د مانځه نګراني وکړئ نو اول چې راويدار شوي وُ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُ او نمر د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه شاه باندې وُ ابوقتاده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې نو مونږ د ويرې په حالت کې راپاڅيدو ، بيا رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُفرمايل چې سواره شئ نو مونږ سواره شو نو روان شو تر دي پورې چې کله نمر راوُچت شو نو راکوز شو بيا ئې لوټه وغوښتله کومه چې ما سره وه پکې لږ ي شان اوبه وي نو په هغې باندې ئې خفيف شان اودس وکړ قتاده رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې په دي کې څه لږي شان اوبه پاتې شوي بيا ئې ابي قتاده ته وفرمايل چې ماته دي دا خپله لوټه وُساته زړه چې د دي لوټې دپاره به څه خاص خبره اوو' قعه وي بيابلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دمانځه دپاره اذان وکړنو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه رکعته مونځ وکړ بيا ئې د سهر مونځ وکړ نو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همغسې عمل وکړ لکه څنګه به ئې چې هره ورځ عمل کاوه . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۷۴۴﴾ وَعَنْ نَافِعِ بْنِ جُبَيْرٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فِي سَفَرٍ لَهُ مَنْ يَكْلَؤُنَا اللَّيْلَةَ لَا يَرْقُدُ عَنِ الصَّلَاةِ عَنْ صَلَاةِ الصبح قَالَ بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَا فَاسْتَقْبَلَ مَطْلَعَ الشمس و ضرب علي آذانهم حتي ايقظهم حر الشمس فقاموا فقال توضؤا ثم اذن بلال رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فصلي ركعتين و صلوا ركعتي الفجر ثم صلاة الفجر رواه النسائي و احمد والطبراني والبيهقي في المعرفة و اسناده حسن.(۲)

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۸ باب قضاء الصلوة الفائتة ...الخ .

(۲) نسائي كتاب المواقيت ج۱ص ۱۰۲ باب كيف يقضي الفائت من الصلوة ، مسند احمد ج۴ص ۸۱ ، المعجم الكبير للطبراني ج۲ص ۱۳۴ رقم الحديث ۱۵۶۵ . معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج۳ص ۴۲۰ رقم الحديث ۵۱۵۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : نافع بن جبير د خپل پلار نه روايت كړي دي چې رسول الله ﷺ په خپل يو سفر كې فرمايلي دي چې نن شپه به زمونږ څوک څوکيداري وكړي چې د سهر د مانځه نه اُوده نشي. حضرت بلال رضي الله عنه ووېل چې زه نو نمرخاته طرف ته ئې مخ واړاوه اوڈه شو تر دي پورې چې د نمر حرارت رابيدار كړل نو راپاڅيدل نو وي فرمايل چې اودس وكړي بيا حضرت بلال رضي الله عنه اذان وكړ نو دوه ركعته مونځ ئې وكړ او صحابه كرامو هم دوه ركعته د سهر سنت وكړل او بيا ئې د سهر مونځ وكړ. د دي حديث روايت نسائي رحمه الله احمد رحمه الله طبراني او بيهقي په معرفت كې كړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿بَابُ إِبَاحَةِ الصَّلَاةِ فِي السَّاعَاتِ كُلِّهَا بِمَكَّةَ﴾

هر وخت په مكه مكرمه كې د مانځه د جواز باب

﴿۷۳۵﴾ عَنْ جُبَيْرِ بْنِ مُطْعِمٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ وَ صَلّٰى أَيَّةَ سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ رواه الخمسة و آخرون و صححه الترمذي والحاكم و غيرهما وفي اسناده مقال.(۱)

ترجمه : د حضرت جبير بن مطعم رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول اكرم ﷺ فرمايلي دي چې اي بني عبد مناف هيڅوک د دي بيت د طواف نه مه منع كوئ او د شپې او ورځې په هره گړئ كې چې دوي غواړي مونځ دي كوي. دا حديث پنځو محدثينو او نورو روايت كړي دي او ترمذي او حاكم او د دوي نه په غير نورو صحيح گنړلي دي او د دي په اسناد كې مقال او خبره ده.

﴿۷۳۶﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه أَنَّ النَّبِيَّ ﷺ قَالَ يَا بَنِي عَبْدِ الْمُطَّلِبِ أَوْ يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا يَطُوفُ وَيُصَلِّي فَإِنَّهُ لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتّٰى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا صَلَاةَ بَعْدَ الْعَصْرِ حَتّٰى تَغْرُبَ الشَّمْسُ إِلَّا بِمَكَّةَ عِنْدَ هٰذَا الْبَيْتِ يَطُوفُونَ وَيُصَلُّونَ رواه الدارقطني و اسناده ضعيف.(۲)

---

(۱) ترمذي ابواب الحج ج۱ص ۱۷۵ باب ماجاء في الصلوة بعد العصر وبعد الصبح ...الخ، ابوداؤد كتاب المناسك ج۱ص ۲۶۰ باب الطواف بعد العصر، نسائي كتاب المواقيت ج۱ص ۹۸ باب اباحة الصلوة في الساعات كلها بمكة، ابن ماجة اقامة الصلوات ص ۹۰ باب ماجاء في الرخصة في الصلوة بمكة في كل وقت، مسند احمد ج ۴ ص ۸۰ مستدرك حاكم كتاب المناسك ج۱ص ۴۴۸ باب لا يمنع احد عن الطواف بالبيت ...الخ.

(۲) دار قطني كتاب الصلوة ج۱ص ۴۲۶ باب جواز النافلة حد البيت في جميع الازمان.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې اي بني عبد المطلب او اي بني عبد مناف تاسو يو كس هم د بيت نه د طواف كولو او د مانځه كولو نه مه منع كوئ بې شكه د سهر نه روسته تر نمر ختو پورې مونځ نشته او د مازيگر نه روسته تر نمر پريوتو پورې مونځ نشته په غير د مكي نه د دي بيت سره نزدي طواف كوئ او مونځ كوئ . د دي حديث روايت دار قطني كړي دي او اسناد ئې ضعيف دي .

(۴۷۴) وَ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ وَ قَدْ صَعِدَ عَلَى دَرَجَةِ الْكَعْبَةِ مَنْ عَرَفَنِي فَقَدْ عَرَفَنِي وَ مَنْ لَمْ يَعْرِفْنِي فَأَنَا جُنْدُبٌ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ لَا صَلَاةَ بَعْدَ الصُّبْحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَلَا بَعْدَ الْعَصْرِ حَتَّى تَغْرُبَ الشَّمْسُ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ إِلَّا بِمَكَّةَ رواه احمد والدار قطني و اسناده ضعيف جدا.(۱)

ترجمه : حضرت ابي درداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي او هغه د كعبې په پوړي وُ باندې ختلي وُ ځوک چې ما پيژني هغه ما پيژني او ځوک چې مانه پيژني نو زه جندب يم ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي چې فرمايل ئې د سهر د مانځه نه روسته تر نمر پريوتو پورې مونځ نشته او د مازيگر د مانځه نه روسته تر نمر پريوتو پورې مونځ نشته مگر په مكه مكرمه كې د دې حديث روايت احمد او دار قطني كړي دي او اسناد ئې ډير ضعيف دي .

مسئلة الباب : په مكه مكرمه او نورو ځايونو كې په مكروه وختونو كې هيڅ فرق نشته .

(۱) امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد مكه مكرمه كې او خانه كعبې سره په مكروه وختونو كې نفل كول هم جائز دي .

(۲) جمهورو په نزد په هيڅ يو ځاى كې په مكروه وختونو كې نفل كول جائز نه دي . ... ليكن بعض علماؤ د امام مالک قول هم د امام شافعي په شان نقل كړې دي . [وګورې رحمة الامة، ص: ۴۶]

دامام شافعي دليل :

۱.... حديث د باب جبير بن مطعم : يَا بَنِي عَبْدِ مَنَافٍ لَا تَمْنَعُوا أَحَدًا طَافَ بِهٰذَا الْبَيْتِ وَ صَلّٰى أَيَّةَ سَاعَةٍ مِنْ لَيْلٍ أَوْ نَهَارٍ . په هيڅ يو وخت كې يې هم د طواف او مونځ كولو نه منع نه ده فرمايلي .

---

(۱) مسند احمد ج ۵ صـ ۱۹۵ ، دار قطني كتاب الصلاة ج ۱ صـ ۴۲۳ باب لا صلاة الا بالليل عند البيت في جميع الازمان.

Maktaba Tul Ishaat.com

۲...دباب دویم او دریم حدیث ابن عباس او ابوذر کښ هم په مکروهه وختونو کې د مونځ کولو نه منع فرمایلي ده لیکن (الابمکة) ویلو سره یې ددې حکم نه مستثنی فرمایلي ده.

دجمهورو دلائل :

۱....حدیث ابي سعید حدری نمبر ۷۳۶ ، لاَ صَلَاةَ بَعدَ صَلَاةِ العَصرِ حَتّٰی تَغرُبَ الشَّمسُ وَلَا صَلَاةَ بَعدَ صَلَاةِ الفَجرِ حَتّٰی تَطلُعَ الشَّمسُ رواه الشیخان . .دغه شان په مکروه وختونو کې د مونځ دنه کولو والادیر حدیث چې مطلق دي .

۲....په وراندي باب کې د معاذ بن عفراء اثر ذکر دي چې معاذ رض دنبی علیه السلام د منعې نه استدلال کړې چې په مکه مکرمه کې په مکروه وختونو کې مونځ نه دي لوستلې .پس معلومه شوه چې صحابه کرامو دي منعې لره مطلق ګڼلي وه .

دامام شافعي ددلیلونو جوابونه:

(۱)داولني حدیث په سند کې اختلاف واقع شوي دي .

دغه شان د(ایةساعة) تشریح دویم مطلق او د صریح احادیث دوجې نه د مکروهه وختونو نه علاوه سره کولې کیږي یعني (ایة ساعة اذا لم یکن وقتاً مکروهاً) دغه شان به د احادیثو په مابین کې تطبیق هم اوشي .دغه شان حکم بنی عبدمناف او د کعبه خادمانو لپاره دي چې دزمانې جاهلیت په طریقه که دخپل من مطابق معززو لره اجازت او غیر معززو لره مه منع کوي بلکه خانه کعبه د ټولو دپاره ده چې د چاهم زړه غواړي طواف دي کوي او په حرم کې دي مونځ کوي .د نورو د لوستلو والو دپاره عموم د وخت بیان کول مقصود نه دي هغه د نورو نصوص و سره د وختونو ضابطه اوپیژني ، غرض حدیث د وختونو د جواز او عدم جواز سره متعلق نه دي .

(۲)د دویم حدیث په سند کې رجاء بن حارث ضعیف دي دغه شان هغه ټول احتمالات هم په دي حدیث کې دي کوم چې ددې نه په مخکني حدیث کې وو لهذا د صحیح اود غیر محتمل احادیثو په مقابله کې حجت نه جوړیږي .

(۳) دریم حدیث معلول،ضعیف او مضطرب دي .د مجاهد سماع د ابوذر نه نده او یو راوي حمید مولی عفراء حد درجه ضعیف دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ بَابُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْمَكْرُوهَةِ بِمَكَّةَ ﴾

په مکه مکرمه کې په اوقاتو مکروهه ؤ کې د مانځه د کراهت باب

﴿۷۴۸﴾ عن مُعَاذِ بنِ عَفْرَاءَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّه طَافَ بَعْدَ العَصرِ أَو بَعْدَ الصُّبحِ وَلَم يُصَلِّ فَسُئِلَ لِمَ فَقَالَ نَهَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ الصَّلَاةِ بَعْدَ الصُّبحِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَ بعدَ العَصرِ حَتَّى تَغْرُبَ رواه اسحاق بن راهويه في مسنده و اسناده حسن.

قَالَ الزَّيْلَعِي و قد تَقَدَّمَ أَحَادِيثُ كَرَاهَةِ الصَّلَاةِ فِي الْأَوْقَاتِ الْخَمْسَة.

ترجمه : د حضرت ابن عفراء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې ده د مازیګر او یا د سهر نه روسته طواف وکړ او مونځ ئې ونه کړ نو د دې تري پوښتنه وکړې شوه نو هغه وویل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر د مانځه نه روسته د نمر تر ختو پورې د مانځه نه منع کړې او د مازیګر نه پس ئې تر نمر پریوتو پورې د مانځه نه منع کړې ده. د دې حدیث روایت ابو اسحاق ابن راهویه کړې دي او اسناد ئې حسن دي.

نیموي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې په پنځو وختونو کې د مانځه د کراهت حدیثونه مخکې ذکر شوي دي.

﴿ بَابُ إِعَادَةِ الْفَرِيضَةِ لِأَجْلِ الْجَمَاعَةِ ﴾

د جماعت د وجهې نه د فرض مونځ د راګرځولو باب

﴿۷۴۹﴾ عن أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَيفَ أَنتَ إِذَا كَانَت عَلَيكَ أُمَرَاءُ يُؤَخِّرُونَ الصَّلَاةَ عَن وَقتِهَا أَو يُمِيتُونَ الصَّلَاةَ عَن وَقتِهَا قَالَ قُلتُ فَمَا تَأمُرُنِي قَالَ صَلِّ الصَّلَاةَ لِوَقتِهَا فَإِن أَدرَكتَهَا مَعَهُم فَصَلِّ فَإِنَّهَا لَكَ نَافِلَة رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ماته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې په هغه وخت کې به ستا څه حال وي کله چې په تا باندې داسې حکمران مقرر شي چې هغوي د خپل وخت نه مونځونه روسته کوي حضرت ابو ذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما عرض وکړ چې ته ماته چې حکم کوي وي فرمایل چې په خپل وخت کې مونځ کوه که چرته ته د هغه سره دا مونځ ؤمومي نو وي کړه دا به ستا د پاره نفل شي. د دې حدیث روایت مسلم کړي دي.

---

(۱) مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۳۰ باب كراهة تاخير الصلوة عن وقتها ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۵۰﴾ و عَن مِحْجَنٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه كَانَ فِي مَجْلِسٍ مَعَ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَذَّنَ بِالصَّلاةِ فَقَامَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى ثُمَّ رَجَعَ وَ مِحْجَنٌ جَالِسٌ فِي مَجْلِسِه فَقَالَ لَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا مَنَعَكَ اَن تُصَلِّيَ مَعَ النَّاسِ اَلَسْتَ بِرَجُلٍ مُسْلِمٍ فَقَالَ بَلٰى يَا رَسُولَ الله وَ لٰكِنِّي قَد صَلَّيتُ فِي اَهْلِي فَقَالَ لَه رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا جِئتَ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَاِن كُنتَ قَد صَلَّيتَ رواه مالك و آخرون و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت محجن رضي الله عنه نه روايت دي چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره په يو مجلس کې ناست وُ نو د مانځه د پاره اذان وکړي شو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پاځيده نو مونځ ئې وکړيا واپس راغې او محجن په خپل ځاي باندې ناست وُ نو هغه ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې ته څه شي منع کړي ئې چې د خلکو سره مونځ وکړي آيا ته مسلمان سړي نه ئې محجن وويل ولې نه اي د الله جل شانه رسوله خو ما په خپل کور کې مونځ کړي وُ نو ده ته رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل کله چې ته راشي نو د خلکو سره مونځ کوه اګر چې تا کړي وي. د دې حديث روايت مالک او نورو کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۵۱﴾ و عن جَابِرِ بنِ يَزِيدَ بنِ الاَسْوَدِ عَن اَبِيه قَالَ شَهِدتُ مَعَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَه فَصَلَّيتُ مَعَه صَلاةَ الصُّبحِ فِي مَسجِدِ الخِيفِ فَلَمَّا قَضٰى صَلاتَه اِنحَرَفَ فَاِذَا هُوَ بِرَجُلَينِ فِي اُخرَى القَومِ لَم يُصَلِّيَا مَعَه فَقَالَ عَلَيَّ بِهِمَا فَجِيءَ بِهِمَا تُرعَدُ فَرَائِصُهُمَا فَقَالَ مَا مَنَعَكُمَا اَن تُصَلِّيَا مَعَنَا فَقَالَ يَا رَسُولَ الله اِنَّا كُنَّا قَد صَلَّينَا فِي رِحَالِنَا قَالَ فَلَا تَفعَلُوا اِذَا صَلَّيتُمَا فِي رِحَالِكُمَا ثُمَّ اَتَيتُمَا مَسجِدَ جَمَاعَةٍ فَصَلِّيَا مَعَهُم فَاِنَّهَا لَكُمَا نَافِلَة رواه الخمسة الا ابن ماجه و صححه الترمذي و ابن السكن و ابن حبان.(۲)

ترجمه : حضرت جابر بن يزيد ابن الاسود نه روايت دي چې زما پلار ويلي دي چې زه د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم سره د هغه په حج کې وُم ما د هغه سره په مسجد خيف کې د سهر مونځ وکړ کله چې هغه خپل مونځ پوره کړ راوګرځيده نو دوه سړي د خلکو په اخر کې وُ چې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب صلوة الجماعة صـ ۱۱۵ باب اعادة الصلوة مع الامام.

(۲) ترمذي ابواب الصلوة ج ۱ صـ ۵۲ باب ما جاء في الرجل يصلي وحده ثم يدرك الجماعة ؛ ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ۸۵ باب في من صلى في منزله ثم ادرك الجماعة ، نسائي كتاب الامامة والجماعة ج۱صـ ۱۳۷ باب اعادة الفجر مع الجماعة لمن صلى وحده ، مسند احمد ج۴ صـ ۱۶۰ ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج۵ صـ ۵۷ رقم ۲۳۸۸ باب اعادة الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ئې مونځ نه وُ کړي نو وي فرمايل چې دا دواړه ماته راوله نو دواړه ورته راوستي شو په داسي حال کې د هغو د اوږو غوښې رپيدې تاسو مونږ سره د مانځه نه څه شئ منع کړي وئ نو يو کس د هغو نه عرض وکړ چې اي د الله جل شانه رسوله مونږ په خپلو ځايونو کې مونځ کړي وُ سبې کريم ﷺ وفرمايل داسي مه کوئ کله چې تاسو په خپلو ځايونو کې مونځ کړي وي بيا تاسو د جماعت مسجد ته راشئ نو د دوي سره مونځ کوئ ځکه چې دا به ستاسي د پاره نفل شي د دې حديث د ابن ماجه نه په غير پنځو محدثينو کړي دي او ترمذي ، ابن سکن او ابن حبان صحيح ګڼلي دي .

﴿۷۵۲﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ رَجُلاً سَأَلَ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ إِنِّي أُصَلِّي فِي بَيْتِي ثُمَّ أُدْرِكُ الصَّلاَةَ مَعَ الإِمَامِ أَفَأُصَلِّي فَقَالَ لَهُ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نَعَمْ فَقَالَ الرَّجُلُ أَيَّتُهُمَا أَجْعَلُ صَلاَتِي فَقَالَ لَهُ ابْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَوَ ذٰلِكَ إِلَيْكَ إِنَّمَا ذٰلِكَ إِلَى اللهِ أَيَّتُهُمَا هَاءَ رواه مالك و آخرون و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د نافع نه روايت دي چې يو کس د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې بې شکه زه په کور کې مونځ وکړم بيا د امام سره مونځ وُمومم آيا د دي امام سره مونځ وکړم نو دوته عبدالله ابن عمر رضي الله عنه وويل چې هو نو دي کس وويل چې د دي دوه وُ مونځونو کوم يو خپل فرض مونځ وګرځوم نو عبدالله بن عمر رضي الله عنه ورته وويل چې دا خبره الله جل شانه تاته سپارلي ده او دا خبره الله جل شانه ته سپارل شوي ده چې په دي دواړو کې الله جل شانه کوم يو غواړي . د دي حديث روايت مالک او نورو محدثينو کړي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۷۵۳﴾ و عَنِ ابْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِنَّهُ سَيَكُونُ عَلَيْكُمْ أُمَرَاءُ يُؤَخِّرُونَ الصَّلاَةَ عَنْ مِيقَاتِهَا وَ يَخْنُقُونَهَا إِلَى هَرَقِ الْمَوْتَى فَإِذَا رَأَيْتُمُوهُمْ قَدْ فَعَلُوا ذٰلِكَ فَصَلُّوا الصَّلاَةَ لِمِيقَاتِهَا وَ اجْعَلُوا صَلاَتَكُمْ مَعَهُمْ سُبْحَةً رواه مسلم .(۲)

ترجمه : او ابن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې بې شکه زر ده چې مسلط به شي په تاسي باندې داسي حکمرانان چې روسته کوي به دوي مونځونه د خپل وخت نه او تنګه وي به دوي وخت د مانځه لره تر وخت د غرغري پوري نو کله چې تاسو دوي وُګورئ چې داسي عمل کوي نو کوي تاسي مونځ خپل په اول وخت کې اوُ ګرځوئ تاسي د دوي سره خپل مونځ نفل . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

---

(۱) موطا امام مالك كتاب صلوة الجماعة صـ ۱۱۶ باب اعادة الصلوة مع الامام .

(۲) مسلم كتاب المساجد ج ۱ صـ ۲۰۲ باب الندب الى وضع الايدي على الركب ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۵۲﴾ و عَن نَافِعٍ أَنَّ عَبدَ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ كَانَ يَقُولُ مَن صَلَّى المَغرِبَ أَوِ الصُّبحَ ثُمَّ أَدرَكَهُمَا مَعَ الإِمَامِ فَلَا يُعِد رواه مالك و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د نافع نه روايت دي چې حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ به ويل څوک چې د مابنام او يا سهر مونځ وکړي بيا دواړه مونځونه دا د امام سره ونيسي نو دويم ځل دي ئې نه کوي. د دي حديث روايت مالک کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

دمونځ داعادي (دوباره کولو) سره متعلق دري بحثونه

اولنی بحث : دمونځ داعادي يو قسم دادي که چرته امام دمستحب وخت دوتلو نه پس تاخير سره يو مونځ اولوستلو نو سړي لره پکار دي چې خپل مونځ په خانله مستحب وخت کې ولولي ،دابهتره ده،او ددي نه پس که چرته په مسجد باندي تيريدل وي نو دامام دمخالفت نه دبچ کيدلو دپاره دي په مسجد کې دي په جمې سره هم مونځ ولولي،دادويم مونځ به نفل شي .دباب اولني حديث نمبر ۷۴۹ او پنځم حديث نمبر ۷۵۳ کې ددي قسم بيان دي.

دويم قسم دادي که يوکس دا اوګنل چې په مسجد کې جماعت شوي دي او په خپل کور کې يې خانله مونځ اولوستلو ،ليکن بيا روستو په مسجد تيريدلو او معلومه شوه چې مونځ اوسه پوري نه دي شوي .په باقي احاديثو کې ددي بيان دي.

دويم بحث :اعاده به دتولو مونځونو کولې شي او که دبعضې؟مسئله مختلف فيه ده.

(۱) دامام شافعي او احمد په نزدبه دتولو مونځونو اعاده کوي البته دامام احمد په نزد به دمابنام په مونځ کې ديو رکعت اضافه کولې کيږي.

(۲)دامام ملک په نزد دمابنام نه علاوه به دځلورو مونځونو اعاده کوي.

(۳)داحنافو په نزد اعاده صرف ددووموونځونو ده ماسپښين او ماسخوتن.

دامام شافعي او احمد دلائل:

۱... حديث نمبر ۷۵۱ (إِذَا جِئْتَ فَصَلِّ مَعَ النَّاسِ وَإِن كُنتَ قَد صَلَّيتَ) دعموم تقاضه ده چې دتولو مونځونو اعاده دې اوکړي شي.

۲....حديث جابر بن يزيد عن ابيه قَالَ شَهِدتُ مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَجَّتَهُ فَصَلَّيتُ مَعَهُ صَلَاةَ الصُّبحِ فِي مَسجِدِ....الحديث .دلته دسحر دمونځ واقعه ده چې په هغې کې نبي عليه السلام

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب صلوة الجماعة صـ ۱۱۶ باب اعادة الصلوة مع الامام.

Maktaba Tul Ishaat.com

د اعادې حکم کړې دې.

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ استدلال :

ددوې استدلال دقیاس شبهي نه دې یعني که چرته دمانښام دمونځ اعاده کوي نو هغه به هم درې رکعته شي دغه شان به تول شپږ رکعته جمع کړې شي ،بیا ورته ځانله ځانله درې رکعته هم نه شي ویلې نو داشپږ رکعته به ملاوشي او دنفلو مشابه به شي لهذا دفرضو جنس به دنفلو جنس سره بدل کړې شي . [بداية المجتهد،ص:۱۱۸]

دامام مالک نه یو روایت دادې که چرته په هیره باندې دمانښام په مونځ کې داخل شو نو په اخیر کې دې دیو رکعت اضافه اوکړې ددې دپاره چې اولنې مونځ فرض او دویم نفل شي . [المدونه ،ص:۵۰۷]

دامام ابو حنیفه استدلال :

(۱)دسحراو مازیګراعاده ځکه ګرانه ده چې دا دویم مونځ به نفل شي او دصحیح احادیثو دوجې نه نفل مونځ دسحر او مازیګردمونځ نه پس مکروهه دي.دمانښام دمونځ اعاده ځکه نشته چې نفل مونځ ثلاثي(درې رکعاتووالا) نه وي بلکه ثنائي(دوه رکعاتووالا) یا رباعي (څلورورکعاتووالا)وي ،او دیو رکعت اضافه کوي نومخالفت دامام لازم راځي .ابن راشد مالکي فرمایلي دي (وهذا قیاس جید)[بدایة المجتهد ،ص:۱۱۸]

(۲)حضرت ابن عمر فرمایلي دي چې مَن صَلَّى الْمَغرِبَ أَوِ الصُّبحَ ثُمَّ أَدرَكهمَا مَعَ الإِمَامِ فَلاَ يعيدلهماپه بعضو روایاتو کې دا حدیث مرفوع دي.[درس مشکوة]

دامام شافعي او احمدپه دلائلوباندې کلام او داحنافو وجوه ترجیح :

دشوافعواوحنابلومستدل احادیث دنهي عن التنفل بعدالفجر والعصر والاروایاتو معارض دي ،اوس به دریو وجوهاتو سره نهي ته ترجیح حاصله شوي .

۱...دنهي روایات سندا قوي او متنا داضطراب نه خالي دي حال دا چې دحواز حدیث جابر بن یزید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دیر مضطرب دي .

۲....دنهي روایات مانع او دجواز روایات مبیح او عندالتعارض منع مقدم وي .

۳....دنسخ امکان به هم ردنه کړې شي چې کله دا تطبیق اوکړې شي.

کوم ځاي پوري چې دمالکیو دقیاس شبهي تعلق دي نو ددې په باره کې پخپله مالکي علامه ابن رشد فرمایلي دي ." وهذا القیاس فیه ضعف .....والتمسک بالعموم أقوی من الاستثناء بهذا النوع من القیاس " (بداية المجتهد)

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ صَلَاةِ الضُّحٰى﴾

د ځاښت د مانځه باب

﴿۷۵۵﴾ عن عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ اَبِي لَيلٰى قَالَ مَا اَخبَرَنِي اَحَدٌ اَنَّه رَاَى النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحٰى اِلَّا اُمُّ هَانِئٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَاِنَّهَا حَدَّثَتْ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ بَيتَهَا يَومَ فَتحِ مَكَّةَ فَصَلّٰى ثَمَانَ رَكَعَاتٍ مَا رَاَيتُه صَلّٰى صَلَاةً قَطُّ اَخَفَّ مِنهَا غَيرَ اَنَّه كَانَ يُتِمُّ الرُّكُوعَ وَالسُّجُودَ رواه الشيخان.

ترجمه : عبدالرحمن ابن ابي ليلى ويلي دي چې ماته د ام هاني رضي الله عنها په غير هيڅوا هم دا نه دي ويلي چې ما نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ځاښت د مانځه په اداء كولو ليدلي دي ام هاني رضي الله عنها حديث بيان كړي دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د مكي د فتح په ورځ ماكره تشريف راوړ نو اته ركعته مونځ ئي وكړ ما كله هم رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دي ليدلي چې د دينه زيات خفيف او اسان مونځ ئي كړي وي مګر دا چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به ركوع او سجده پوره كوله. د دي حديث روايت شيخينو كړي دي.

﴿۷۵۶﴾ و عن اَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَوصَانِي خَلِيلِي بِثَلَاثٍ لَا اَدَعُهُنَّ حَتّٰى اَمُوتَ صَومُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ مِن كُلِّ شَهرٍ وَصَلَاةُ الضُّحٰى وَنَومٌ عَلٰى وِترٍ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابي هريره رضي الله عنه ويلي دي چې ماته زما دوست د دريو خبرو وصيت كړي وُ چې زه هغه تر مرګه پوري نه پريږدم د هري مياشتي نه دري ورځي روژه د ځاښت مونځ او د وتر نه روسته وُده كيدل. د دي حديث روايت شيخينو كړي دي.

﴿۷۵۷﴾ و عن عَبدِ اللّٰهِ بنِ شَقِيقٍ قَالَ قُلتُ لِعَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَكَانَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الضُّحٰى فَقَالَت لَا اِلَّا اَن يَجِيءَ مِن مَغِيبِهِ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : عبدالله ابن شفيق ويلي دي چې ما حضرت عائشې رضي الله عنها ته عرض كړي وُ چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم د ځاښت مونځ كاوه نو هغې وويل چې نه مګر چې د سفر نه به ئي واپس تشريف راوړ. دا حديث مسلم روايت كړي دي.

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج:۱ ص ۱۵۷ باب صلوة الضحى في الحضر، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ ص ۲۵۰ باب استحباب صلوة الضحى وان اقلها ركعتان ....الخ.

(۲) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ ص ۲۴۸ باب استحباب صلوة الضحى وان اقلها ركعتان ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۵۸﴾ و عَن زَيدِ بنِ أَرقَمَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ أَنَّه رَأَى قَومًا يصَلُّونَ مِنَ الضُّحَى فَقَالَ أَمَا لَقَد عَلِمُوا أَنَّ الصَّلَاةَ فِي غَيرِ هٰذِهِ السَّاعَةِ أَفضَلُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ حِينَ تَرمَضُ الْفِصَالُ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت زيد بن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي چې هغه يوه ډله د ځانبنت د مانځه په ادا کولو لیدلي وه نو هغه ويلي وُ چې دغه خلکو ته دا معلومه نه وه چې د دي وخت نه په غيرمونځ زيات افضل دي په تحقيق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي وُ د اوابينو مونځ هغه وخت دي چې کله د اوه د بچي خپې په شګه کې ګرمي شي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۷۵۹﴾ و عنه قَالَ خَرَجَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَهلِ قُبَاءٍ وَهُم يصَلُّونَ الضُّحَى فَقَالَ صَلَاةُ الْأَوَّابِينَ إِذَا رَمَضَتِ الْفِصَالُ مِنَ الضُّحَى رواه احمد واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : حضرت زيد ابن ارقم رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د قباء خلکو ته تشريف راوړ او هغوي د ځانبنت مونځ کاوه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې د اوابينو د مونځ هغه وخت دي کله چې د اوښ د بچي خپې په شګه کې د ځانبنت د ګرمئ په وجه ګرمي شي. د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد يې صحيح دي.

﴿۷۶۰﴾ وَ عَن أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَنَّه قَالَ يصبِحُ الرَّجُلُ على كُلِّ سُلَامَى مِن أَحَدِكم صَدَقَةٌ فَكُلُّ تَسبِيحَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَحمِيدَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَهلِيلَةٍ صَدَقَةٌ وَكُلُّ تَكبِيرَةٍ صَدَقَةٌ وَ أَمرٌ بِالْمَعرُوفِ وَنَهيٌ عَنِ الْمُنكَرِ صَدَقَةٌ وَيجزِئُ مِن ذٰلِك رَكعَتَانِ يركعهما مِنَ الضُّحَى رواه مسلم و احمد و ابوداود.(۳)

ترجمه : د حضرت ابي ذر رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي د ستاسي نه د هر کس په بند باندي د سهر په وخت کې يو صدقه ده هره يوه (سبحان الله) صدقه ده او هره يوه (الحمد لله) صدقه ده او هره يوه (لا اله الا الله) صدقه ده او هر يو (الله اکبر) صدقه ده او په نيکئ

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۷ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ.

(۲) مسند احمد ج ۴ ص ۳۶۶.

(۳) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۵۰ باب استحباب صلوة الضحى ...الخ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۲ باب صلوة الضحى، مسند احمد ج۵ ص ۱۴۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

باندې امر کول صدقه ده او د بدئ نه منع کول صدقه ده او په هر بند باندې د صدقې نه د څابنت دوه رکعته مونځ کافي کيږي. د دې حديث روايت مسلم رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ او ابو داؤد کړې دي.

﴿۷۶۱﴾ و عن مُعَاذَةَ أَنَّهَا سَأَلَتْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا كَمْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي صَلَاةَ الضُّحٰى قَالَتْ أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ وَيَزِيدُ مَا شَاءَ رواه مسلم.(۱)

ترجمه: د معاذه نه روايت دي چې هغې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه پوښتنه کړې وه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د څابنت څو رکعته مونځ اداء فرمايلي وُ حضرت عايشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي وُ چې څلور رکعته او څومره ئې چې غوښتل زياتوُل به ئې. د دې حديث روايت مسلم کړې دي.

﴿۷۶۲﴾ وَعَنْ عَاصِمِ بْنِ ضَمْرَةَ السَّلُولِيِّ قَالَ سَأَلْنَا عَلِيًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنْ تَطَوُّعِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالنَّهَارِ فَقَالَ إِنَّكُمْ لَا تُطِيقُونَهُ فَقُلْنَا أَخْبِرْنَا نَأْخُذْ مِنْهُ مَا اسْتَطَعْنَا قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا صَلَّى الْفَجْرَ يمهلُ حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هٰهُنَا يعني مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ بِمِقْدَارِهَا مِنْ صَلَاةِ الْعَصْرِ مِنْ هٰهُنَا يعني مِنْ قِبَلِ الْمَغْرِبِ قَامَ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يمهلُ حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ مِنْ هٰهُنَا يعني مِنْ قِبَلِ الْمَشْرِقِ بِمِقْدَارِهَا مِنْ صَلَاةِ الظُّهْرِ مِنْ هٰهُنَا قَامَ فَصَلّٰى أَرْبَعاً وَ أَرْبَعاً قَبْلَ الظُّهْرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ وَ رَكْعَتَيْنِ بَعْدَهَا وَ أَرْبَعاً قَبْلَ الْعَصْرِ يفْصِلُ بَيْنَ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ بِالتَّسْلِيمِ عَلَى الْمَلَائِكَةِ الْمُقَرَّبِينَ وَالنَّبِيِّينَ وَ مَنْ تَبِعَهُمْ مِنَ الْمُسْلِمِينَ وَ الْمُؤْمِنِينَ رواه ابن ماجه و آخرون واسناده حسن.(۲)

ترجمه: عاصم بن ضمره السلولي ويلي دي چې مونږ د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ورځې د نفلو په باره کې پوښتنه وکړه نو هغه وفرمايل چې تاسي د هغې طاقت نه لرئ نو مونږ وويل چې ته پرې مونږ خبر کړه چې زمونږ څومره طاقت وي نو همغومره عمل به پرې وکړو حضرت علي کرم الله وجهه وفرمايل چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله د سهر مونځ اداء کړ تر هغه وخته پورې به ئې مهلت کاوه چې کله به نمر د دې خوا نه يعني شرق د خوا نه په اندازه د مانځه د مازيګر شو د دې خوا نه يعني د مغرب د خوا نه بيابه پاڅيده نو دوه رکعته مونځ به ئې وکړ بيا به ئې تر هغې پورې مهلت کاوه چې کله به نمر د دې خوا نه يعني د مشرق له خوا نه په اندازه د مانځه د ماسپښين شو د دې خوا نه پابه ځيده نو د ماسپښين نه مخکې به ئې چې کله به زوال وشو څلور

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ص ۲۴۹ باب استحباب صلوة الضحى.

(۲) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۲ باب ماجاء فيما يستحب من التطوع بالنهار.

Maktaba Tul Ishaat.com

رکعته مونځ وکړ او د ماسپښین د مانځه نه روسته به ئې دوه رکعته مونځ وکړ او څلور رکعته به ئې د مازیګر د مانځه نه مخکې وکړل او جدائي به ئې کوله د هر دوه ؤ رکعتونو تر مونځ په سلام سره په مقرب ملائکو او په انبیاؤ او د دوي په تابعدارانو د مسلمانانو او مؤمنانو ځینې . د دي حدیث روایت ابن ماجه کړي او نورو کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

د ځاښت مونځ او د دې شرعي حیثیت

صلاة الضحی یعني د ځاښت مونځ هغه نوافل دي چې د نمر د راختلو نه پس طلوع یو نیزه او چتیدلو نه پس او د زوال نه مخکې په یو وخت کې ولوستلې شي .البته د تهجد و په شان د دې هم هیڅ حد مقرر نه دي ،د دوو ؤ نه واخله تر دولسو رکعتو پورې چې څومره غواړي نو لوستلې شي .

عام فقهاء اشراق او ضحی (ځاښت)لره یو ګرځوي فرق صرف دومره دې که چرته د نمر د راختلو نه پس متصلا ولولي نو اشراق او که تاخیر سره یې ولولي نو ضحی(ځاښت) به وي.

علامه دارمی ،سیوطی او علی متقی دواړو لره جدا مونځونه ویلي دي.حضرات تو صوفیائي کرامو هم دوه مستقل مونځونه شمیر کړي دي .

مسئلة الباب: د صلاة ضحی (د ځاښت د مونځ) شرعي حیثیت څه دي ؟ د دي په باره کې کافي اختلاف راغلي دي .

۱...د جمهورو ،مالکیو او حنابلو په نزد د صحیح قول مطابق مستحب دي .

۲...د اکثرو شافعو په نزد سنت دي بعضې شافعو خو ورته سنت مؤکده هم ویلي دي .

۳...حضرت ابن عمر رضی اللہ عنہ ،انس رضی اللہ عنہ او ابوبکره رضی اللہ عنہ دي لره بدعت ویلي دي.

د صلاة ضحی دلیلونه :

(۱) نبي علیه السلام د فتح مکې په ورځ دام هانی په کور کې اتهٔ (۸) رکعاتهٔ لوستل .

(۲) حضرت ابو هریره د تول عمر لوستلو وصیت فرمایل .

(۳) سفر نه په واپسي باندي په خپله لوستل.

(۴) حدیث " رکعتان یرکعهما من الضحی ".

(۵) حدیث علی رضی اللہ عنہ " فصل رکعتین ".

(۶) بقول علامه عینی د پنځه ویشت صحابو نه صلاة الضحی لره نقل فرمایل .

نبي علیه السلام په صلاة ضحی باندي همیشه والي نه دي فرمایلی چې چرته دامت په ذمه باندي فرض اونګرځي لیکن کله کله به یې لوستل.د ابن عمر او نورو صحابو دي لره بدعت ویل مداومت او همیشه والي باندي محمول دي یا په داسې وخت کې د صلاة ضحی مونځ لوستل بدعت دي کوم

Maktaba Tul Ishaat.com

چې به ددې دمسنون وخت نه مخکې بعضې خلکو لوستل. دحضرت زید ابن ارقم رضي الله عنه حدیث ددې په باره کې واضح دې.

دحضرت عائشه رضي الله عنها په متعارض و احادیثو کې تطبیق:

نبی علیه السلام به دې مونځ لره دحضرت عائشې په وړاندې نه لوستلو ځکه چې دځانښت په وخت کې به نبی علیه السلام ددې سره نه وو بلکه عموما به يې په مسجد کې لوستل یا به يې دسفر په حالت کې لوستل لکه څنګه چې دحدیث علی نمبر ۷۶۲ نه واضح دي. چونکه حضرت عائشې ته دنورو نه ددې مونځ علم شوې وو ځکه نفي دخپل درؤیت په اعتباره سره دي او اثبات نفس الامر او دحقیقت په اعتبار سره دي یا نه کول دمداومت دي او اثبات احیانا لوستلو لره دي. والله اعلم

دصلاة الاوابین وجه تسمیه: ابن العربی دي لره دانبیاؤ او سابقینو علیهم السلام مونځ ګرځولې او په استدلال کې يې دآیات پیش کړې دي. الاسخرنا الجبال معه یسبحن بالعشي والاشراق..[ص ۱۹۱۸]داشراق او اواب نه مشتق شو نو ددې مونځ نوم يې صلاة الاشراق او صلاة الاوابین وویلو. دغه شان په بعضې روایاتو کې داسې راغلي دي چې "لایحافظ علی صلاة الضحی إلا کل اواب قال: وهي صلاة الاوابین" معارف السنن ۴/۲۶۶-۲۷۲].

﴿بَابُ صَلَاةِ التَّسْبِيحِ﴾

دتسبیح دمانځه باب

﴿۷۶۳﴾ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِلعَبَّاسِ بنِ عَبدِ المُطَّلِبِ يَا عَبَّاسُ يَا عَنَّاهُ أَلَا أُعطِيكَ أَلَا أَمنَحُكَ أَلَا أَحبُوكَ أَلَا أَفعَلُ بِكَ عَشرَ خِصَالٍ إِذَا أَنتَ فَعَلتَ ذٰلِكَ غَفَرَ اللهُ لَكَ ذَنبَكَ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ قَدِيمَهُ وَحَدِيثَهُ خَطَأَهُ وَعَمدَهُ صَغِيرَهُ وَكَبِيرَهُ سِرَّهُ وَعَلَانِيَتَهُ عَشرَ خِصَالٍ أَن تُصَلِّيَ أَربَعَ رَكَعَاتٍ تَقرَأُ فِي كُلِّ رَكعَةٍ فَاتِحَةَ الكِتَابِ وَسُورَةً فَإِذَا فَرَغتَ مِنَ القِرَاءَةِ فِي أَوَّلِ رَكعَةٍ وَأَنتَ قَائِمٌ قُلتَ سُبحَانَ اللهِ وَالحَمدُ للهِ وَلَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَاللهُ أَكبَرُ خَمسَ عَشرَةَ مَرَّةً ثُمَّ تَركَعُ فَتَقُولُهَا وَأَنتَ رَاكِعٌ عَشرًا ثُمَّ تَرفَعُ رَأسَكَ مِنَ الرُّكُوعِ فَتَقُولُهَا عَشرًا ثُمَّ تَهوِي سَاجِدًا فَتَقُولُهَا عَشرًا وَأَنتَ سَاجِدٌ عَشرًا ثُمَّ تَرفَعُ رَأسَكَ مِنَ السُّجُودِ فَتَقُولُهَا عَشرًا ثُمَّ تَسجُدُ فَتَقُولُهَا عَشرًا ثُمَّ تَرفَعُ رَأسَكَ فَتَقُولُهَا عَشرًا فَذٰلِكَ خَمسٌ وَسَبعُونَ فِي كُلِّ رَكعَةٍ تَفعَلُ ذٰلِكَ فِي أَربَعِ رَكَعَاتٍ إِنِ استَطَعتَ أَن تُصَلِّيَهَا فِي كُلِّ

Maktaba Tul Ishaat.com

يوم مَرَّةً فَإِن لَم تَفعَل فَفِي كُلِّ جُمُعَة مَرَّةً فَإِن لَم تَفعَل فَفِي كُلِّ شَهرٍ مَرَّةً فَإِن لَم تَفعَل فِي كُلِّ سَنَة مَرَّةً فَإِن لَم تَفعَل فَفِي عُمرِكَ مَرَّةً رواه ابوداود و آخرون و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عباس ابن عبدالمطلب ته وفرمايل اي عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ! اي تره زه تاته څه درنكړم او زه تاته كوم قيمتي شئ مفت درنكړم زه تاته لس خبري ونكړم كله چې ته دا وكړي نو الله جل شانه به ستا وړاندينې او روستنې پخوانې او نوسنې د خطا والا او د قصد والا واړه او لوئې پټ او بنكاره ټول ګناهونه معاف كړي. او لس خبري دا دي چې ته څلور ركعته مونځ وكړه او په هر ركعت كې د فاتحې سورت او بل سورت ولوله نو كله چې د اول ركعت نه فارغ شوي او ته لاولاړ ئې په ولاړه ولاړه پنځلس كرته دغه كلمات وُلوله سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اكبر . يعني پاك دي الله جل شانه د ټولو عيبونو نقصانونو تغير او زوال نه . او د هغه ناوړو صفتونو نه كوم چې كافران مشركان دهريان او يهود او نصارى ئې وړپوري وائي او هر يو حمد او ثنا خاص الله جل شانه لره ده او نشته مستحق د عبادت په غير د الله جل شانه نه بل هيڅ شئ د ټولو نه لوئې دي . بيا ركوع وكړه او د ركوع په حالت كې دغه كلمات لس څله اووايه بيا د ركوع نه سر اوچت كړه او دغه كلمات لس څله ووايه بيا سجدي ته لاړ شه او د سجدي په حالت كې دغه كلمات لس څله ووايه بيا د سجدي نه سر اوچت كړه نو دغه كلمات لس څله ووايه بيا بله سجده وكړه نو دغه كلمات لس څله ووايه بيا د سجدي نه سر اوچت كړه نو دغه كلمات څلي ووايه دا په هر ركعت كې پنځه اويا څله شو په څلورو واړو ركعتونو كې دغه فعل وكړه كه وس او طاقت دي وُ نو هره ورځ دغه مونځ كوه او كه په هره ورځ دي ونكړ نو په هره جمعه كې ئې يو ځلي كوه او كه په هره جمعه كې دي يو ځل ونه كړ نو په هره مياشت كې ئې يو ځل كوه او كه په هره مياشت كې دي ونكړ نو په هر كال كې ئې يو ځل كوه او كه په هر كال كې دي ونكړ نو په عمر كې ئې يو ځل كوه . د دې حديث روايت ابوداؤد او نورو كړي دي او اسناد ئې حسن دي .

دصلاة التسبيح مسائل :

دلسو نه زيات احاديث دصلاة التسبيح په باره كې راغلي دي . حضرت ابن عباس ، فضل بن عباس ، حضرت عباس ، ابورافع ، انس ، ابن عمر ، علي ، جعفر ، ام سلمه ، او جابر بن عبدالله صلاة التسبيح بيان كړي دي . په دې ټولو كې دابن عباس حديث چې په دې باب كې ذكرشوي دي سند امشهور او

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۳ باب صلوة التسبيح .

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح دي .بعضي علماؤ په دې کې کلام کړې دې لګ ضعیف يې ګرځولې دي بلکه ابن جوزی دې لره موضوع ویلې دي او هغوي ددې په یو راوي موسی بن عبدالعزیز باندې سخته جرح نقل کړې ده لیکن دویم طرفته ابن منده دې لره صحیح ګرځولې دي .فیصله کونکې قول دادې چې دصلاة التسبیح طرق اګرچې ضعیف دي لیکن دکثرت دوجې نه ورته دحسن درجه .حاصله شوي ده دغه شان دامت دپاره والي دوجې نه هم ددي تائید کیږي لهذا دې لره بدعت یا خلاف سنت ویل درست نه دي .

دصلاة التسبیح درجه :فقهاؤ دي لره مستحب ګرځولې دي.حضرت عبدالله بن مبارک به دې لره لوستلو ،ځیني تابعینو به ددي معمول ساتلو .عبدالعزیزبن داؤد فرمایلی دي چې کوم کس دجنت طلب ګار وي نو هغه دي صلاة التسبیح لولي او ابو عثمان الزاهد ویلي دي چې دسختو او غمونو ددفع کولو دپاره دصلاة التسبیح په شان هیڅ یو عمل نه موندلې کیږي.

دصلاة التسبیح دوه طریقې دي :

(۱)دابن عباس دحدیث مطابق ددي طریقه دا ده چې ځلور رکعاتهٔ نفل مونځ دي ولولي او بیا په قیام کې دقرأت نه دفارغ کیدو نه پس پینځلس ځله او ددي نه پس سجدې پورې په هر نقل او حرکت کې لس ،لس ځله داتسبیح ولوستلي شي :سبحان الله والحمدلله ولا اله الا الله والله اکبر .او ددویمې سجدې نه پس دې سجده استراحت اوکړي او په دې کې هم دغه تسبیح لس ځله ولولي.داحنافو په نزد اګرچې بلاعذر جلسه استراحت مستحب نه ده لیکن په صلاة التسبیح کې داجلسه بغیر دکراهت نه جائزده .

(۲)دعبدالله ابن مبارک مطابق دصلاة التسبیح په سجدو کې دکیناستلوضرورت نشته بلکه په قیام کې دې پینځویشت ځله ولولي یعني پینځلس ځله دي دقرأت دشروع کولو نه مخکې او لس ځله دقرأت نه پس درکوع نه مخکې ولولي .

غرض دري سوه (۳۰۰) تسبیحات کول دي په هر رکعت کې پینځه اویا(۷۵)ځله .لا فرط فیهاولا شطط.[معارف السنن :۲۸۲\۴-۳۸۹]

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿أَبْوَابُ قِيَامِ شَهْرِ رَمَضَانَ﴾

﴿بَابُ فَضْلِ قِيَامِ رَمَضَانَ﴾

د تراويحو بابونه

د تراويحو د فضيلت باب

﴿٧٦٤﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَ إِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ رواه الجماعة.(١)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي كوم كس چې د ايمان په حالت په رمضان المبارک کې وُدريږي يعني تراويح وكړي او د ثواب په اميد ئې وكړي د ده به وراندينې ګناهونه معاف كړي شي. د دې حديث روايت د محدثينو جماعت روايت كړي دي.

﴿٧٦٥﴾ وَ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَرْغَبُ فِي قِيَامِ رَمَضَانَ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَأْمُرَهُمْ فِيهِ بِعَزِيمَةٍ فَيَقُولُ مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَ إِحْتِسَابًا غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ ثُمَّ كَانَ الْأَمْرُ عَلَى ذٰلِكَ فِي خِلَافَةِ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ صَدْرًا مِنْ خِلَافَةِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى ذٰلِكَ رواه مسلم.(٢)

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په تراويحو کې ترغيب وركاوه خو ولي خلكو ته به ئې پوخ امر نه كاوه نو فرمايل به ئې چې څوک په تراويحو کې په رمضان المبارک کې وُدريږي او په الله جل شانه باندې د ايمان د لرلو او د ثواب په اميد د تراويحو مونځ ادا كړي نو ده ته به مخكيني ګناهونه معاف كړي شي نو وفات كړي شو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د تراويحو مونځ په همدغه حال وُ بيا د حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په خلافت کې هم د تراويحو

---

(١) بخاري كتاب الايمان ج١ص ١٠ باب تطوع قيام رمضان من الايمان ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج١ص ٢٥٩ باب الترغيب في قيام رمضان وهو التراويح ، ترمذي ابواب الصوم ج١ص ١٤٧ باب ماجاء في فضل شهر رمضان ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج١ص ١٩٢ باب في قيام شهر رمضان ، نسائي كتاب قيام الليل وتطوع النهار ج١ص ٢٣٨ باب ثواب من قام رمضان ايمانا...الخ ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ٩٥ باب ماجاء في قيام شهر رمضان ، مسند احمد ج٢ص ٢٨١.

(٢) مسلم كتاب صلوة المسافرين ج١ص ٢٥٩ باب الترغيب في قيام رمضان...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

عمل همدغسي جاري وُ او د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلانت په اول وخت کې هم تراويح په دي شکل سره کيدي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

مسئلة الباب : د قيام الليل اطلاق تهجد په مونځ باندې او د قيام رمضان اطلاق په تراويح باندې کيږي لکه څنګه چې په حديث کې دي: "من قام رمضان ايماناً واحتساباً غفرله ...." الحديث. (الدر المنضود : ۵۵۷/۲)

﴿بَابُ فِي جَمَاعَةِ التَّرَاوِيحِ﴾
په جماعت سره د تراويحو باب

﴿۷۶۶﴾ عَنْ عُرْوَةَ أَنَّ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَخْبَرَتْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ لَيْلَةً مِنْ جَوْفِ اللَّيْلِ فَصَلَّى فِي الْمَسْجِدِ وَصَلَّى رِجَالٌ بِصَلَاتِهِ فَأَصْبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوا فَاجْتَمَعَ أَكْثَرُ مِنْهُمْ فَصَلَّى فَصَلُّوا مَعَهُ فَأَصْبَحَ النَّاسُ فَتَحَدَّثُوا فَكَثُرَ أَهْلُ الْمَسْجِدِ مِنَ اللَّيْلَةِ الثَّالِثَةِ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى فَصَلُّوا بِصَلَاتِهِ فَلَمَّا كَانَتِ اللَّيْلَةُ الرَّابِعَةُ عَجَزَ الْمَسْجِدُ عَنْ أَهْلِهِ حَتَّى خَرَجَ لِصَلَاةِ الصُّبْحِ فَلَمَّا قَضَى الْفَجْرَ أَقْبَلَ عَلَى النَّاسِ فَتَشَهَّدَ ثُمَّ قَالَ أَمَّا بَعْدُ فَإِنَّهُ لَمْ يَخْفَ عَلَيَّ مَكَانُكُمْ وَلَكِنِّي خَشِيتُ أَنْ تُفْرَضَ عَلَيْكُمْ فَتَعْجِزُوا عَنْهَا فَتُوُفِّيَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالْأَمْرُ عَلَى ذَلِكَ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د عروه نه روايت دي چې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا هغه ته (عروه) ويلي وُ چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يو ځل د نيمې شپې په وخت د کور نه راوُت او مسجد ته ئې تشريف ويوړ نو په مسجد کې ئې مونځ وکړ او ځينو خلکو هم د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اقتداء مونځ وکړ نو صبا د سهر په وخت کې خلکو دا واقعه بيان کړه نو د اولې شپې په نسبت سره خلک ډير راجمع شوي وُ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړ نو خلکو هم د ده سره مونځ وکړ بيا صبا سهر خلکو بله واقعه بيان کړه نو په دريمه شپه د مسجد خلک نور هم زيات شو نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مسجد. ته تشريف راوړ نو مونځ ئې وکړ او خلکو هم د ده پسې مونځ وکړ نو کله چې څلورمه شپه شوه نو مسجد د خلکو د زياتوالي د وجهې نه تنګ شو يعني دومره زيات خلک راغله چې په مسجد کې نه ځائيدل تر دي پورې چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سهر مانځه ته تشريف راوړ نو کله ئې چې د سهر مونځ پوره کړ

---

(۱) بخاري كتاب الصوم ج۱ص ۲۶۹ باب فضل من قام رمضان ، مسلم كتاب صلوٰة المسافرين ج۱ص ۵۹؛ باب الترغيب في قيام رمضان ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

خلکو طرف ته متوجه شو نو تشهد ئې ووایه بیا ئې وفرمایل چې د حمد او صلوة نه روسته دا خبره ده چې دي ځای ته ستاسي راتلل زمانه څه پټ نه وُ خو ولي زه ویریدم چې په تاسو به فرض شي نو عاجز به شئ تاسو د هغې نه نو وفات شو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د تراویحو خبره همداسي وه. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۷۶۷﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اتَّخَذَ حُجْرَةً فِي الْمَسْجِدِ مِنْ حَصِيرٍ فَصَلَّى فِيهِ لَيَالِيَ حَتّٰى اجْتَمَعَ عَلَيْهِ نَاسٌ ثُمَّ فَقَدُوا صَوْتَهُ لَيْلَةً وَظَنُّوا أَنَّهُ قَدْ نَامَ فَجَعَلَ بَعْضُهُمْ يَتَنَحْنَحُ لِيَخْرُجَ إِلَيْهِمْ فَقَالَ مَازَالَ بِكُمُ الَّذِي رَأَيْتُ مِنْ صَنِيعِكُمْ حَتّٰى خَشِيتُ أَنْ تُكْتَبَ عَلَيْكُمْ وَلَوْ كُتِبَ عَلَيْكُمْ مَا قُمْتُمْ بِهِ فَصَلُّوا أَيُّهَا النَّاسُ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ أَفْضَلَ صَلَاةِ الْمَرْءِ فِي بَيْتِهِ إِلَّا الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ رواه الشيخان.[1]

ترجمه: د حضرت زید بن ثابت رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد کې د پوزکو نه یوه حجره جوړه کړي وه نو څو شپې ئې په هغې کې مونځ وفرمایه تر دي چې پرده باندي ډیر خلک راجمع شوي وُ بیا هغوي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوازونه وُرېده دوي ګومان کړي وُ چې هغه به وُده شوي وي نو بعضو صحابه کرامو په غاړه تازه کولو شروع وکړه د دي د پاره چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوي ته تشریف راوړي ستاسي په کثرت سره راتلل اوضع او معامله ما لیدلي وه تر دي چې زه ویریدم چې په تاسو به فرض شي او که چرته په تاسو باندي فرض شوي وي نو کولي به مونه شوي اي خلکو دغه مونځ په خپلو کورونو کې کوئ بې شکه چې د فرض مونځ نه په غیر د سړي مونځ په کور کې افضل او بهتر دي. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۷۶۸﴾ وَعَنْ جُبَيْرِ بْنِ نُفَيْرٍ عَنْ أَبِي ذَرٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صُمْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَمَضَانَ فَلَمْ يَقُمْ بِنَا فَلَمَّا كَانَتِ الْخَامِسَةُ قَامَ بِنَا حَتّٰى ذَهَبَ ظَوْرُ اللَّيْلِ فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ لَوْ نَفَلْتَنَا قِيَامَ هٰذِهِ اللَّيْلَةِ قَالَ فَقَالَ أَنَّ الرَّجُلَ إِذَا صَلّٰى مَعَ الْإِمَامِ حَتّٰى يَنْصَرِفَ حُسِبَ لَهُ قِيَامُ لَيْلَةٍ قَالَ فَلَمَّا كَانَتِ الرَّابِعَةُ لَمْ يَقُمْ فَلَمَّا كَانَتِ الثَّالِثَةُ جَمَعَ أَهْلَهُ وَنِسَاءَهُ وَالنَّاسَ فَقَامَ بِنَا حَتّٰى خَشِينَا أَنْ يَفُوتَنَا الْفَلَاحُ

---

(۱) بخاري كتاب الاذان ج۱ص ۱۰۱ ومسلم كتاب صلوة المسافرين باب استحباب صلوة النافلة في بيته.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ قُلْتُ مَا الْفَلَاحُ قَالَ السُّحُورُ ثُمَّ لَمْ يَقُمْ بِنَا بَقِيَّةَ الشَّهْرِ رواه الخمسة و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د جبير بن نفير نه روايت دي چې حضرت ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره روژه ونيوله نو مونږ ته ئې تراويح ونه کړي بيا چې کله پنځمه شپه وه نو مونږ سره ودريده تر دي پورې چې نيمه شپه وُوته نو ما عرض وکړ چې اي د الله جل شانه رسوله که تاسو مونږ ته په دغه پاتي شپه کې نفل مونځ کړي وي حضرت ابوذر ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بې شکه چې يو کس د امام سره مونځ وکړي تر دي پورې چې کله هغه د مانځه نه فارغ شي نو د ده د پاره د ټولې شپې د قيام ثواب حسابولي شي ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله څلورمه شپه شوه نو مونږ سره مانځه ته ونه دريده نو کله چې دريمه شپه شوه نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل اهل و عيال او ببيانې او نور خلک راجمع کړل نو مونږ ته ئې مونځ وکړ تر دې چې پورې چې مونږ وُبريدو چې پيش نمي به رانه فوت شي جبير ويلي دي چې ما وويل چې فلاح څه شي دي ابوذر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې فلاح پيش نمي دي بيا ئې مونږ ته پاتي مياشت تراويح ونه کړي. د دي حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۶۹﴾ وَ عَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ أَبِي مَالِكٍ الْقُرَظِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ فِي رَمَضَانَ فَرَأَى نَاسًا فِي نَاحِيَةِ الْمَسْجِدِ يُصَلُّونَ فَقَالَ مَا يَصْنَعُ هَؤُلَاءِ قَالَ قَائِلٌ يَا رَسُولَ اللهِ هَؤُلَاءِ نَاسٌ لَيْسَ مَعَهُمُ الْقُرْآنُ وَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ يَقْرَأُ وَ هُمْ مَعَهُ يُصَلُّونَ بِصَلَاتِهِ قَالَ قَدْ أَحْسَنُوا وَ قَدْ أَصَابُوا وَ لَمْ يَكْرَهْ ذٰلِكَ لَهُمْ رواه البيهقي في المعرفة و اسناده جيد و له شاهد دون حسن عند ابي داود من حديث ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.(۲)

ترجمه : او حضرت ثعلبه بن ابي مالک القرضي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رمضان المبارک په مياشت کې يوه شپه راوُوت نو د مسجد په يو ګوټ کې ئې خلک ولېدل چې مونځ ئې کاوه نو ژي فرمايل چې دا خلک څه کوي يو ويونکي وُويل چې اي د الله جل شانه رسوله

---

(۱) ترمذي ابواب الصوم ج۱ صـ ۱۶۴ باب ماجاء في قيام شهر رمضان ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۹۵ باب في قيام شهر رمضان واللفظ له ، نسائي کتاب قيام الليل وتطوع النهار ج۱ صـ ۲۳۸ باب قيام شهر رمضان ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۹۵ باب ماجاء في قيام شهر رمضان ، مسند احمد ج۵ صـ ۱۵۹.

(۲) معرفة السنن والآثار کتاب الصلوة ج ۴ صـ ۳۹ رقم الحديث ۵۴۰۰ سنن الکبرى للبيهقي کتاب الصلوة صـ ۴۹۵ باب من زعم انها بالجماعة افضل ...الخ ، ابوداود کتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۹۵ باب في قيام شهر رمضان.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دي خلکو قرآن کريم نه دي زده او ابي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قرأت لولي قرآن کريم وائي دي او دا د هغه په اقتداء کې مونځ کوي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل په تحقيق بنه کوي او حق ته رسيدلي او د دوي دا کار ئي بد ونه ګانړه. د دي حديث روايت په معرفت کې بيهقي کړي دي او اسناد ئي جيد دي او د ده د پاره په. ابوداؤد کې د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث شاهد دي کوم چې د حسن د درجې نه کم نه دي.

﴿۷۷۰﴾ وَ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ ابْنِ عَبْدِنِ الْقَارِيِّ اَنَّه قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لَيْلَةً فِي رَمَضَانَ اِلَى الْمَسْجِدِ فَاِذَا النَّاسُ اَوْزَاعٌ مُتَفَرِّقُوْنَ يُصَلِّي الرَّجُلُ لِنَفْسِه وَ يُصَلِّي الرَّجُلُ فَيُصَلِّي بِصَلَاتِه الرَّهْطُ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اِنِّي لَو جَمَعْتُ هٰؤُلَاءِ عَلٰى قَارِئٍ وَاحِدٍ لَكَانَ اَمْثَلَ ثُمَّ عَزَمَ فَجَمَعَهم عَلٰى اُبَيِّ بن كعبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ثُمَّ خَرَجْتُ مَعَه لَيْلَةً اُخْرٰى وَالنَّاسُ يُصَلُّوْنَ بِصَلَاةِ قَارِئِهِمْ قَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِه وَالَّتِي يَنَامُوْنَ عَنْهَا اَفْضَلُ مِنَ الَّتِي يَقُوْمُوْنَ يُرِيْدُ آخِرَ اللَّيْلِ وَكَانَ النَّاسُ يَقُوْمُوْنَ اَوَّلَه رواه البخاري.[1]

ترجمه : عبدالرحمن بن عبدنِ القاري ويلي دي چې زه د حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د رمضان المبارک په يوه شپه کې مسجد ته اوتم نو خلک په مختلفو ډلو کې تقسيم شوي وُ يو کس به خاته مونځ کاوه يو کس به مونځ کاوه او قوم به د دي پسي اقتدا کړي وه نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل ځما داسي خيال دي چې که چرته زه دا خلک په يو قاري پسي راجمع کړم دا به ډيره بنه وي بيا ئي قصد وکړ نو په اُبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پسي ئي خلک راجمع کړل يو شپه بيا زه د هغه سره ووتم او خلکو د خپل قاري په اقتداء کې مونځ کاوه نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرمايل چې دا بنه بدعت دي او هغه کسان چې وده شوي دي د دي نه بهتر دي د هغه کسانو نه چې ولاړ دي اراده لري د اخري شپې او خلک ولاړ دي په اول د دي کې د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۷۷۱﴾ وَ عَنْ نَوْفَلِ بْنِ اِيَاسٍ الْهُذَلِيِّ قَالَ كُنَّا نَقُوْمُ فِي عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي الْمَسْجِدِ فَيَتَفَرَّقُ هٰهُنَا فِرْقَةٌ وَهٰهُنَا فِرْقَةٌ وَكَانَ النَّاسُ يَمِيلُوْنَ اِلٰى اَحْسَنِهِمْ صَوْتاً فَقَالَ عُمَرُ اُرَاهُمْ قَدِ اتَّخَذُوا الْقُرْآنَ اَغَانِيَ اَمَا وَاللهِ لَئِنِ اسْتَطَعْتُ لَاُغَيِّرَنَّ فَلَمْ يَمْكُثْ اِلَّا ثَلَاثَ لَيَالٍ حَتّٰى اَمَرَ اُبَيّاً فَصَلّٰى بِهِمْ رواه

---

(۱) بخاري كتاب الصوم ج۱ص ۲۶۹ باب فضل من قام رمضان.

Maktaba Tul Ishaat.com

البخاري في خلق افعال العباد وابن سعد وجعفر الفريابي و اسناده صحيح.[1]

ترجمه : نوفل بن آياس الهذلي ويلي دي چې مونږ به د حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه په مسجد کې قيام کاوه نو خلک به ډله ډله ډله ډله وُ يوه ډله به هلته وه بله ډله به دلته وه او خلکو د هغه چا اقتداء کې مونځ کاوه چې اواز به ئې ښه وُ نو حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې ځما د دوي په باره کې دا رأيه ده چې دوي قرآن مجيد په تغني سره نيولي او جور کړي دي قسم مي دي په الله جل شانه وي که چرې زما وسعه او طاقت وشو نو خامخا به زه دا بدل کړم نو د دريوُ ورځو نه زيات وخت نه وُ تير شوي چې حضرت أبي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ئې امر کړي وُ چې هغې خلکو ته مونځ وکړي د دي حديث روايت بخاري په خلق افعال العباد کې او ابن سعد او جعفر الفاريابي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

دتروايح تحقيق :

لفظ "تراويح" اصطلاح ګويا که چې وروسته کې مقرر شوي ده ليکن تراويح د عهد نبوي د جماعت نه مشروع شوي دي حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درمضان المبارک په يو ځو شپو کې دتراويح مونځ اوکړو ليکن دفرضيت دويرې او دامت دسست والي دوجې نه يې مواظبت پرې اونکړ البته حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په موجودتيا کې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ به په جماعت سره مونځونه کول او حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په دې باندې دعلم درلودلو باوجود نکير اونه فرمايل بلکې هغې لره ئې ښه اوګرځول لکه څنګه چې دابې ثعلبه د حديث الفاظ دي : "قد احسنوا وقد اصابوا".

په جماعت سره دتراويح حکم :

جمهور علماء امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ، او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او ديو روايت مطابق امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد دتراويح جماعت افضل دي ، په همدې باندې دعهد صحابه نه دمسلمانانو تعامل جاري دي او په جماعت سره تراويح دډين دشعائرو نه ګڼلې کيږي . امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې که انفرادي قرأت اوکړي او تراويح په کور کې اوکړي نو دا ډيره بهتره ده .

بيا داحنافو په نزد تراويح په جماعت سنت مؤکده علی الکفايه دي . (معارف السنن ملخصا : ٤/٥٥٥- ٥٥٦)

دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دقول تشريح :

کله چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلکو لره په مختلفو ټولګوکې ديو ، يو امام شاته دتراويح کولو په وخت اوليدل نو وي فرمايل : "نعم البدعة هذه" ددې عمل نه يې تعبير په بدعت سره ځکه اوکړو

---

(١) بخاري كتاب الصوم ج١ ص٢٦٩ باب فضل من قام رمضان

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دلغت په اعتبار سره هرنوي کار ته بدعت ويل کيږي ، اول به په جومات کې ديو امام قيد نه وو بلکې چې دچا مرضي وه هغه به ديو امام شاته يو رکعت اوکړ باقي به يې ددويم او ددريم امام شاته کول او اوس خو ديوړه جومات يو امام مقرر وي .

﴿بَابُ التَّرَاوِيحِ بِشَمَانِ رَكَعَاتٍ﴾
د اته رکعته تراويحو باب

﴿۷۷۲﴾ عَنْ اَبِي سَلَمَةَ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ اَنَّه سَأَلَ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا كَيْفَ كَانَتْ صَلَاةُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي رَمَضَانَ فَقَالَتْ مَا كَانَ يَزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيْرِه عَلٰى اِحْدٰى عَشْرَةَ رَكْعَةً يُصَلِّي اَرْبَعاً فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَ طُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي اَرْبَعاً فَلَا تَسْأَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَ طُولِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّي ثَلَاثاً فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ اَتَنَامُ قَبْلَ اَنْ تُوتِرَ قَالَ يَا عَائِشَةُ اِنَّ عَيْنَيَّ تَنَامَانِ وَلَا يَنَامُ قَلْبِي رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : د ابي سلمه بن عبدالرحمن نه روايت دي چې ده د حضرت عائشې رضي الله عنها نه پوښتنه کړي وه چې په رمضان المبارک کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مونځ څنګه وُ نو هغې وفرمايل چې په رمضان او غير رمضان کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوولسو رکعتونو باندې زياتوالي نه کاوه هغه به څلور رکعته وکړل او د دې د هوالي او اوږدوالي پوښتنه مه کوه بيا به ئې څلور رکعته وفرمايل نو د دې د هوالي او اوږدوالي پوښتنه مه کوه بيا به ئې دري رکعته وفرمايل نو ماوويل چې اي د الله جل شانه رسوله آيا ته د وتر نه مخکې وُده کيږې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې اي عائشې بې شکه ځما سترګې اُودې کيږي او زړه مې نه اُوده کيږي . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

﴿۷۷۳﴾ و عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى بِنَا رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ ثَمَانَ رَكَعَاتٍ وَاَوْتَرَ فَلَمَّا كَانَتِ الْقَابِلَةُ اجْتَمَعْنَا فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا اَنْ يَخْرُجَ فَلَمْ يَخْرُجْ فَلَمْ نَزَلْ فِيه حَتّٰى اَصْبَحْنَا ثُمَّ دَخَلْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللّٰهِ اِجْتَمَعْنَا الْبَارِحَةَ فِي الْمَسْجِدِ وَرَجَوْنَا اَنْ تُصَلِّيَ بِنَا فَقَالَ اِنِّي خَشِيتُ اَنْ يُكْتَبَ عَلَيْكُمْ رواه الطبراني في الصغير و محمد بن نصر المروزي في قيام الليل وابن

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ ص ۲۶۹ باب فضل من قام رمضان ، مسلم كتاب صلوة المسافرين ج۱ ص ۲۵۴ باب صلوة الليل وعدد ركعات النبي صلى الله عليه وسلم .

Maktaba Tul Ishaat.com

خزيمة وابن حبان في صحيحهما وفي اسناده لين.[1]

ترجمه : حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د رمضان المبارک په میاشت کې اته رکعته مونځ وکړو او وترئي وفرمایل یې چې کله راتلونکي شپه کې مونږ په مسجد کې جمع شوو زمونږ طمعه وه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تشریف راوړي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشریف رانه وړ او مونږ هم په مسجد کې وُ تر دي چې مونږ صبا کړ یې مونږ حاضر او داخل شو نو مونږ وویل چې اي د الله رسوله مونږ بیګاه په مسجد کې راجمع شوي وُ او زمونږ طمعه وه چې تاسو به مونږ ته په مسجد کې جمع وکړي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې زه ویریدم چې چرته په تاسو باندې فرض نشي. د دې حدیث روایت الطبراني کړې په صغیر کې او محمد بن نصر المروزي په قیام لیل کې او ابن خزیمه او ابن حبان په خپلو خپلو صحیحو کتابونو کې او د دې په اسناد کې ضعف او کمزورې ده.

﴿۷۷۴﴾ وَعَنه قَالَ جَاءَ أُبَيّ بنِ كعبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِلَى رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ الله إِنَّه كَانَ مِنِّي اللَّيلة قَيءٌ يعني فِي رَمَضَانَ قَالَ وَمَا ذَاك يَا أُبَيّ قَالَ نِسوَة فِي دَارِي قُلْنَ آنَا لاَ نَقْرَأُ القُرآنَ فَنُصَلِّي بِصَلاَتِك قَالَ فَصَلَّيتُ بِهِنَّ ثَمَانَ رَكعَاتٍ وَأَوتَرتُ فَكَانَتْ سُنَّة الرِّضَا وَلَم يقُلْ شَيئًا رواه ابو يعلي و قال الهيثمي اسناده حسن.[2]

ترجمه : او حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې حضرت أبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راغې نو وي ویل چې اي د الله جل شانه رسوله په نن مبارکه شپه ماته یو خبره پیښه شوه په رمضان المبارک کې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې اي أبَي هغه څه خبره وه أبي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې زمونږ کور کې ښځې وي ویلي وُ چې مونږ قرآن کریم نشو لوستلي مونږ تا پسې په جمع مونځ کوو ابي وویل چې ما هغو ته اته رکعته مونځ وکړ. او وتر مې ورته وکړل نو هغه د رضا سنت وُ او هیڅ ئې ونه ویل. د دې حدیث روایت ابو یعلي کړې دی او هیثمي ویلي دي چې اسناد ئې حسن دي.

---

(۱) المعجم الصغير للطبراني صـ ۱۹۰ من اسمه عثمان ، قيام الليل كتاب قيام رمضان صـ ۱۵۵ باب صلوة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جماعة ليلا ...الخ . صحيح ابن خزيمة جماع ابواب ذكر الوتر ج۲صـ ۱۳۸ باب ذكر دليل بان الوتر ليس بفرض رقم الحديث ۱۰۷۰ ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج ۵ صـ ۶۲ باب الوتر ، رقم الحديث ۲۴۰۱.

(۲) مسند ابي يعلى ج۳صـ ۳۳۶ رقم الحديث ۱۸۰۱، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲صـ ۷۴ باب في الرجل يؤم النساء.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۷۵﴾ و عن مُحَمَّدِ بنِ يوسُفَ عَنِ السَّائِبِ بنَ يزيدَ أنَّه قَالَ أمَرَ عُمَرُ بنُ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أُبَيَّ بنِ كعبٍ وَتَمِيمًا الدَّارِيَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أن يقُومَا لِلنَّاسِ بِأحْدٰى عَشرَةَ رَكعَةً وَكَانَ القَارِئُ يقْرَأُ بِالمِئِينِ حَتّٰى كُنَّا نَعتَمِدُ عَلَى العَصٰى مِن طُولِ القِيامِ وَمَا كُنَّا نَنصَرِفُ إلَّا فِي فُرُوعِ الفَجرِ رواه مالك و سعيد بن منصور و ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه: او د محمد بن یوسف نه روایت دي چې سائب بن یزید ویلي دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أبي بن کعب او تمیم داري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته حکم وکړ چې د دوي دواړه خلکو ته یوولس رکعته مونځ وکړي او امام به مئین سورتونه لوستل تر دي چې مونږ به د قیام د اوږدوالي د وجهي نه په خپلو امساګانو باندي تکیه کوله او مونږ به نه فارغیدو مګر د سهر نه لږ مخکې. د دي حدیث روایت مالک او سعید بن منصور او ابوبکر بن ابي شیبه کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

تراویح څو رکعته مسنون دي؟

د تراویح په تعداد رکعاتو کې اختلاف دې:

۱... دائمه اربعو او دجمهور په دې باندې اتفاق دې چې د تراویحو کم ازکم شل رکعته دي البته دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ نه په یو روایت کې شپږدیرش (۳۶) رکعتونه مروي دي لیکن دمالکیو کبارو مثلا ابن عبدالبر و دسوقي وغیره هم شل رکعته اختیار کړي دي.

۲... غیر مقلدین دجمهور امت سره اختلاف کوي او داتو (۸) رکعتونو قائله دي.

اته رکعاتو باندې دلائل:

د دې باب ټول روایتونه په اته رکعاتو د تراویح باندې دلالت کوي، مثلا:

۱... دعائشې رضي الله عنها حدیث: "مَاكَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يزِيدُ فِي رَمَضَانَ وَلَا فِي غَيرِهٖ عَلٰى إحْدٰى عَشرَةَ رَكعَةً .....الخ" الحدیث. معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رمضان کې هم دوترو نه علاوه داته رکعاتو نه زیاتې تراویح نه کولې همدارنګه تراویح او د تهجد مونځ یو دې ځکه چې دا ثابته نه ده چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په رمضان کې دوه قسمه مونځ جدا جدا کړې وي لهذا همدا اته رکعته تراویح دي.

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب الصلوة في رمضان صـ ۹۸ ماجاء في قيام رمضان، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۳۹۱ باب في صلوة رمضان

Maktaba Tul Ishaat.com

۲... حضور ﷺ هم اته رکعته تراویح کړي کما في حدیث جابر بن عبد الله : "صلی بنا رسول الله ﷺ في شهر رمضان ثمان رکعات واوتر.... الخ" الحدیث.

۳... حضرت ابي اته رکعاته تراویح کړي دي نو په هغې باندې حضور ﷺ رضامندي ښکاره کړي "فصلیت بهن ثمان رکعات واوترت فکانت سنة الرضا ولم یقل هیئا".

۴... حضرت عمر رضی اللہ عنہ هم داته رکعاته دتراویح کولو حکم ورکړ کما في حدیث سائب بن یزید رضی اللہ عنہ.

جوابونه:

۱... دعائشې رضي الله عنها حدیث دتراویح په باره کې نه دي بلکې دتهجد په باره کې دي ځکه چې تراویح دحضور ﷺ په زمانه کې هم او دحضرت عمر رضی اللہ عنہ په زمانه کې هم همیشه دشپې په اوله حصه کې لوستلې شوي دي لهذا دا دوه مستقل مونځونه دي.

۲... دجابر رضی اللہ عنہ :حدیث سند مدار په عیسی بن جاریه باندې دي لکه څنګه چې نسائي او ابوداود "منکر الحدیث" ورته ویلې لهذا دحضور ﷺ نه داته رکعاتو ثبوت نشته، او دا په وجه دکمزور کیدو نه دصحیح روایتونو مقابل نشي کیدې.

۳... حدیث دابي زر رضی اللہ عنہ، اګر چې دعلامه هیثمي رحمہ اللہ په نزد دحسن په درجه کې دي لیکن ددې حدیث په سند کې عیسی بن جاریه دي دکوم متعلق چې پاس تیر شو همدارنګه اته رکعاته تراویح عهد فاروقي کې شل رکعاته تراویح باندې عمل داستقرار نه مخکې اختیار کړې شوي وو.

۴... حدیث دسائب بن یزید رضی اللہ عنہ او داسې نور بعض روایتونو کې چې دحضرت عمر رضی اللہ عنہ نه یوولس، دیارلس، او یوویشت رکعتونه ثابت دي نو دا ابتدا واقعه ده حال دا چې دصحابه کرامو رضی اللہ عنہم په مشوري سره په شل رکعتو باندې دعمل استقرار او اجماع نه وه شوې، چنانچې چې دکله نه شل رکعته شروع شول دهغې نه پس دټولو صحابه کرامو او دتابعینو تعامل په همدې باندې جاري شو او ائمه اربعه هم په دې باندې متفق شول لهذا داستقرار نه مخکې دروایاتونه استدلال کول داصولو خلاف دي همدارنګه استقرار دعمل نه مخکې باندې محمولولو نه به تطبیق حاصل شي. (معارف السنن : ۵۴۱/۴-۵۵۱)

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابٌ فِي التَّرَاوِيحِ بِأَكْثَرَ مِن ثَمَانِ رَكَعَاتٍ﴾
۱۵ باب د اتو رکعتونو نه په زیاتو تراویحو کې دي

﴿۷۷۶﴾ عن دَاوُدَ بْنِ الْحُصَيْنِ أَنَّه سَمِعَ الْأَعْرَجَ يَقُولُ مَا أَدْرَكْتُ النَّاسَ إِلَّا وَهُمْ يَلْعَنُونَ الْكَفَرَةَ فِي رَمَضَانَ قَالَ وَكَانَ الْقَارِئُ يَقْرَأُ سُورَةَ الْبَقَرَةِ فِي ثَمَانِ رَكَعَاتٍ فَإِذَا قَامَ بِهَا فِي ثُمَنِ عَشَرَةَ رَكْعَةً رَأَى النَّاسَ أَنَّه قَدْ خَفَّفَ رواه مالك و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د داؤد بن حصين نه روايت دي چې هغه د اعرج نه اوريدلي دي چې ويل ئي ما په رمضان المبارک کې خلک موندلي وُ چې په کفارو به ئي لعنت وايه او قاري به په اتو رکعتونو کې د بقري سورت لوسته او کله به چې قاري د بقري سورت په دولسو رکعتونو کې وُلوسته نو خلکو به ګڼړل چې ده اسان او خفيف مونځ کړي دي. د دي حديث روايت مالک کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

د ترجمة الباب نه غرض :

دا ويل غلط دي چې تراويح اته رکعته دي او بس، بلکې ددي په تعداد او رکعاتو کې بتدريج اضافه کيدله، چنانچې ابتداء اته رکعتو کې به کافي قرأت کولې کيدو بيا چې کله قرأت دروند شو داتو پر ځاي دولس رکعتو کې هغومره به قرأت کيدلو څومره چې به په اتو رکعتو کې کيدلو نو دا امر دمصلينو دآسانتيا لپاره اوشو بيا نور تخفيف هم اوکړي شو ټول شل رکعته اولوستلې شو او په همدي باندې اجماع شوه نو امت همدې لره قبول کړ او دهمدې مطابق عمل شروع شو. (مترجم)

﴿بَابٌ فِي التَّرَاوِيحِ بِعِشْرِينَ رَكْعَاتٍ﴾
د تراويحو د شلو رکعتونو باب

﴿۷۷۷﴾ عن يَزِيدَ بْنِ خُصَيْفَةَ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانُوا يَقُومُونَ عَلَى عَهْدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فِي شَهْرِ رَمَضَانَ بِعِشْرِينَ رَكْعَةً قَالَ وَكَانُوا يَقْرَءُونَ بِالْمِئِينِ وَكَانُوا يَتَوَكَّئُونَ عَلَى عُصِيِّهِمْ فِي عَهْدِ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مِنْ شِدَّةِ الْقِيَامِ رواه البيهقي و اسناده صحيح.(۲)

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب الصلوة في رمضان ص ۹۸ باب ماجاء في قيام رمضان.

(۲) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج ۲ ص ۴۹۶ باب ما روي في عدد ركعات القيام في شهر رمضان.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: د يزيد بن خصيفه نه روايت دي چې حضرت سائب بن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې خلکو د رمضان په مياشت کې شل رکعته کول راوي ويلي دي چې خلکو به مئين (د سلو ايتونو والا سورتونه) تلاوت کول او د حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې به خلکو د اوږد قيام د وجهې نه په خپلو همساګانو باندې تکيه کوله. د دې حديث روايت البيهقي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۷۸﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ رُومَانَ أَنَّهُ قَالَ كَانَ النَّاسُ يَقُومُونَ فِي زَمَانِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ فِي رَمَضَانَ بِثَلَاثٍ وَعِشْرِينَ رَكْعَةً رواه مالك و اسناده مرسل قوي.(۱)

ترجمه: يزيد بن رومان ويلي دي چې د حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په زمانه کې به خلکو په رمضان المبارک کې درويشت رکعته اداء کول. د دې حديث روايت مالک کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي.

﴿۷۷۹﴾ وَعَنْ يَحْيَى بْنِ سَعِيدٍ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَمَرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِهِمْ عِشْرِينَ رَكْعَةً رواه ابوبكر بن ابي شيبة في مصنفه و اسناده مرسل قوي.(۲)

ترجمه: د يحيى ابن سعيد نه روايت دي چې حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو کس ته امر وکړ چې خلکو ته شل رکعته وکړي. د دې حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه په خپل مصنف کې کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي.

﴿۷۸۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ رُفَيْعٍ قَالَ كَانَ أُبَيُّ بْنُ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُصَلِّي بِالنَّاسِ فِي رَمَضَانَ بِالْمَدِينَةِ عِشْرِينَ رَكْعَةً وَيُوتِرُ بِثَلَاثٍ اخرجه ابوبكر بن ابي شيبة في مصنفه و اسناده مرسل قوي(۳)

ترجمه: عبدالعزيز بن رُفيع ويلي دي چې اُبي ابن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به خلکو ته په مدينه منوره کې په رمضان المبارک کې شل رکعته تراويح او دري وتر کول ابوبکر ابن ابي شيبه دا حديث په خپل مصنف کې خارج کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي.

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب الصلوة في رمضان صـ ۹۸ باب ماجاء في قيام رمضان.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۳۹۳ باب كم يصلي في رمضان من ركعة.

(۳) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۳۹۳ باب كم يصلي في رمضان من ركعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۸۱﴾ وَعَنْ عَطَاءٍ قَالَ اَدْرَكْتُ النَّاسَ وَهُمْ يُصَلُّوْنَ ثَلَاثًا وَعِشْرِيْنَ رَكْعَةً بِالْوِتْرِ رواه ابن ابي شيبة و اسناده حسن.(۱)

ترجمه: او عطاء ويلي دي چې ما خلک موندلي وُ چې د وترو سره به ئي درويشت رکعته کول د دي حديث روايت ابن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئي حسن دي.

﴿۷۸۲﴾ وَعَنْ اَبِي الْخَصِيْبِ قَالَ كَانَ يَؤُمُّنَا سُوَيْدُ بْنُ غَفَلَةَ فِيْ رَمَضَانَ فَيُصَلِّيْ خَمْسَ تَرْوِيْحَاتٍ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً رواه البيهقي و اسناده حسن.(۲)

ترجمه: او ابي الخصيب ويلي دي چې مونږ ته سويد بن غفله په رمضان المبارک کې امامت کاوه نو هغه پنځه ترويحي يعني شل رکعته مونځ کاوه. د دي حديث روايت ابوبکر ابن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۷۸۳﴾ وَعَنْ نَافِعٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ ابْنُ اَبِيْ مُلَيْكَةَ يُصَلِّيْ بِنَا فِيْ رَمَضَانَ عِشْرِيْنَ رَكْعَةً رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: د نافع نه روايت دي چې حضرت ابن عمر رضي الله عنه ويلي دي چې مونږ ته ابن ابي مليکه په رمضان المبارک کې شل رکعته مونځ کاوه. د دي حديث روايت ابوبکر ابن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۷۸۴﴾ وَعَنْ سَعِيْدِ بْنِ عُبَيْدٍ اَنَّ عَلِيَّ بْنَ رَبِيْعَةَ كَانَ يُصَلِّيْ بِهِمْ فِيْ رَمَضَانَ خَمْسَ تَرْوِيْحَاتٍ وَيُوْتِرُ بِثَلَاثٍ اخرجه ابوبكر بن ابي شيبة في مصنفه و اسناده صحيح.(۴)

قَالَ النِّيْمَوِيُّ وَفِي الْبَابِ رَوَآيَاتٌ اُخْرٰى اَكْثَرُهَا لَا تَخْلُوْ عَنْ وَهْنٍ وَلٰكِنَّ بَعْضَهَا يُقَوِّيْ بَعْضاً.

ترجمه: د سعيد بن عبيد نه روايت دي چې علي ابن ابي ربيعه په رمضان المبارک کې خلکو ته پنځه ترويحي او دري رکعته وتر کول. دا حديث ابوبکر ابن ابي شيبه په خپل مصنف کې خارج کړي دي او اسناد ئي صحيح دي. امام نيموي رحمه الله ويلي دي چې په باب کې نور روايتونه شته چې

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۳۹۳ باب كم يصلي في رمضان من ركعة.

(۲) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۲ص ۴۹۶ باب ما روي في عدد ركعات القيام في شهر رمضان.

(۳) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۳۹۳ باب كم يصلي في رمضان من ركعة.

(۴) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۳۹۳ باب كم يصلي في رمضان من ركعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

اکثر ئي د ضعف نه خالي نه دي. خو ولي يو بل ته قوت ورکوي.

دشل رکعتو دتراويح ثبوت

دا ټول اته حديثونو دي دکوم نه چې بعض صحيح، بعض مرسل قوي او بعض جيد احسن دي کوم چې دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور کې شل رکعتو باندې اجماع دمنعقد کيدو او ددې نه پس په همدې باندې دعمل کيدو باندې دلالت کوي دا احاديث دشل رکعتو تراويحو په ثبوت باندې دجمهورو مستدل دي.

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ دقول وضاحت:

دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد داهل مدينې والا دعمل ډير لوي اهميت دې ځکه دوي داهل مدينې والا په شپږديرش (۳۶) رکعته کولو باندې او موندل نو همدا قول يې اختيار کړو دذې شپږديرش (۳۶) رکعتونو اصل هم دادي چې داهل مکه ؤ دشل رکعتو تراويح کولو معمول وو ليکن هغوي به دهر تراويح نه پس يو طواف کولو، اهل مدينې والا چونکه طواف نه شو کولې، نو ځکه هغوي په خپل مونځ کې ديو طواف، په ځاي څلور رکعته زيات کړل، دغه شان ددوي په تراويح کې داهل مکو په مقابله کې شپاړس (۱۶) رکعتونه زيات شول ددې نه معلومه شوه چې اصلا دهغوي په نزد هم رکعاتِ تراويح شل وو. (درس ترمذي: ۶۵۲/۲-۶۵۳)

اهل مدينه هر څلور رکعتونه پس په ترويحه کې منفردا منفردا څلور څلور رکعتونه کول. (الدر المنضود: ۵۶۲/۲)

چنانچې ابن الهادي فرمايي: "رأيت عامر بن عبدالله بن الزبير وأبا بكر بن حزم ويحي بن سعيد يصلون بين الاشفاع". (المدونه، ص: ۱۳۲) دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ خاص شاګرد ابن وهب رَحِمَهُ اللهُ دشپږديرش رکعاتو والا روايت نقل کوي "عن عبدالله بن عمر بن حفص قال: اخبرني غير واحد: ان عمر بن عبدالعزيز أمر القراء أن يقوموا بذلك ويقرءوا في كل ركعة عشر آيات" (المدونه، ص: ۱۳۱) ددې روايت نه هډوکوره توجيه لره تقويت ملاويږي خو بيا هم دصحابه کرامو تعامل زيات لائق دي چې دهمدې کامله اتباع اوکړي شي. (معارف السنن: ۵۴۶/۴)

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ قَضَاءِ الْفَوَائِتِ﴾

د فوت شوو مونځونو د قضاء باب

﴿۷۸۵﴾ عن أَنَسِ بنِ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن نَسِيَ صَلاَةً فَلْيُصَلِّ إِذَا ذَكَرَهَا لاَ كَفَّارَةَ لَهَا إِلَّا ذٰلِك وَ أَقِمِ الصَّلاَةَ لِذِكْرِي رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې د چا نه مونځ هیر شي چې کله ورپاد شي نو وُدي ئې کړي د دي بلکه کفاره د دي نه په غیر نشته او ځما د یاد په وخت کې مونځ وکړئ. د دي حدیث روایت د محدثینو جماعت کړي دي.

﴿۷۸۶﴾ و عن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جَاءَ يومَ الْخَنْدَقِ بَعدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ فَجَعَلَ يسُبُّ كُفَّارَ قُرَيشٍ قَالَ يا رَسُولَ اللهِ مَا كِدْتُّ أُصَلِّي الْعَصرَ حَتّٰى كَادَتِ الشَّمْسُ تَغرُبُ قَالَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا صَلَّيتُهَا فَقُمْنَا إِلٰى بُطْحَانَ فَتَوَضَّأَ لِلصَّلاَةِ وَ تَوَضَّأْنَا لَهَا فَصَلَّى الْعَصرَ بَعدَ مَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ صَلّٰى بَعدَهَا الْمَغرِبَ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : د حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خندق په ورځ د نمر پریوتو نه روسته راغلي وُ نو د قریشو کفارو ته ئې بدي ردي ویلي هغه وویل چې اي د الله جل شانه رسوله د مازیګر مونځ مي نه وُ کړي تر دي چې نمر ډوبیدو ته نزدي شوي وُ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې ما هم د مازیګر مونځ نه دي کړي نو مونږ په بطحان نومي ځاي کې وُدیدو نو مانځه ته ئې اودس وکړ او مونږهم د مانځه د پاره اودس وکړ نو هغه د مازیګر مونځ د نمر د پریوتو نه روسته وکړ بیا ئې د دینه روسته د ماښام مونځ وکړ. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

---

(۱) بخاري کتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۴ باب من نسي صلوة فليصل اذا ذكرها ...الخ ، مسلم كتاب المساجد ج۱ ص ۲۳۸ باب قضاء الصلوة الفائتة ...الخ ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۴۳ باب ما جاء في النوم عن الصلوة ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۶۳ باب في من نام عن صلوة او نسيها ، نسائي كتاب المواقيت ج۱ص ۱۰۰ باب فيمن نام عن صلوة ، ابن ماجة ابواب مواقيت الصلوة ص ۵۰ باب من نام عن الصلوة او نسيها ، مسند احمد ج۳ ص ۲۸۲ .

(۲) بخاري كتاب مواقيت الصلوة ج۱ص ۸۳ باب من صلّى بالناس جماعة بعد ذهاب الوقت ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۲۷ باب الدليل من قال الصلوة الوسطى هي صلوة العصر

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۷۸۷﴾ و عن عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يَقُولُ مَن نَسِيَ صَلاَةً فَلَمْ يذْكرها إلاَّ وَهوَ مَعَ الإمَامِ فَإذَا سَلَّمَ الإمَامُ فَليصَلِّ الصَّلاَةَ الَّتِي نَسِيَ ثُمَّ ليصَلِّ بَعدَهَا أُخْرٰى رواه مالك و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې هغه به ويل د چانه چې مونځ هير شي او بيا د امام سره په بل مانځه کې شامل شي نو کله چې امام سلام وګرځوي نو هغه دي هير شوي مونځ وکړي بيا دي د دي نه روسته هغه بل مونځ وکړي د دي حديث روايت مالک کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

په اوقات منهيو کې دمونځ قضا :

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد په اوقات منهيو کې دقضا مونځ صحيح دې او دحنفيو په نزد په دې کې تفصيل دې هغه دا چې اقات منهيه په دوه قسمه دي : يو هغه کوم کې چې مطلقا مونځ کول جائز نه دي نه قضاءً او نه نفل هغه درې دي : طلوع ، غروب ، وقت الاستواء او دوه وختونه داسې دي کوم کې چې نوافل ممنوع او قضاء مونځ جائز دې يعني بعد العصر و الفجر.

ترتيب بين الفوائت :

دوقتي او فوت شده مونځونو کې دترتيب قائمولو حکم څه دي؟

۱... دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دظاهريه په نزد ترتيب واجب نه دي.

۲... دجمهورو علماؤ په نزد ترتيب واجب دي.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دليل : حديث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: " ان النبس صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : اذا نسي احدكم صلاة فذكرها وهو في صلاة مكتوبة فليتم التي هو فيها، فاذا فرغ منها قضى التي نسي " په حديث کې موجوده مونځ لره دمکمل کولو نه پس دقضا کولو دمونځ حکم دي ليکن دموجوده مونځ راګرځولو يې نه دي ويلي معلومه شوه چې ترتيب ضروري نه دي. (بداية المجتهد ، ص : ۱۴۹)

دجمهورو استدلال :

۱... دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغزوه خندق په ورځ دلمر ډوبيدو نه پس دمازيګر مونځ نه مخکې اوکړو ، بيا مابنام اوکړو حالانکه دمابنام وخت ډير کم وو ليکن بيا يې هم دترتيب لحاظ اوساتلو.

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ص ۱۹۵ الرجل اذا ذكر صلوة

۲... دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول کوم چې صحیح الاسناد دي او دغیر مدرک بالقیاس کیدو دوجې نه د مرفوع حدیث درجه لري.

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ داستدلال جواب :

دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په سند کې دوه علتونه دي یو دا چې په دې کې عمر بن ابي عمر راوي مجهول دي لهذا ضعیف سند دي دویم دا چې دمکحول سماع دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ثابته نه ده لهذا دصحیح روایت په مقابله کې داسې روایت نه استدلال صحیح نه دي. (تحقیق عبدالرزاق المهدي، بداية المجتهد، ص: ۱۴۹)

﴿اَبوَابُ سُجُودِ السَّهوِ﴾

د سهوي د سجدو بابونه

دسجده سهوي متعلق یو څو مسئلې :

۱... دسهوي سجده دسهوي په وخت داحنافو په نزد مطلقا واجب ده او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد سنت ده لیکن دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد که دیو چا دنقصان په بنا باندې وي نو واجب ده او که دزیادت دوجې نه وي نو بیا مستحب ده.

۲... دسجده سهوي لپاره دتکبیر افتتاح ضرورت شته یا نه ؟ دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد ضرورت شته خو په شرط ددې چې سجده سهوه دسلام نه پس وي او که قبل السلام وي نو بیا ددې لپاره دتکبیر تحریمي حاجت نشته.

۳... دسجده سهوي نه پس په دویم ځل تشهد وئیل ضروري دي یا نه ؟ نو دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد که سجده سهوه یې دسلام نه پس کړي وي نو بیا خو به په دویم ځل تشهد وایي ورنه نه به وای، او دحنفیو په نزد په هر صورت کې به یې وایي. (الدرالمنضود: ۳۷۹/۲، بداية المجتهد، ص: ۱۵۴-۱۵۷)

﴿بَابُ سُجُودِ السَّهوِ قَبلَ السلام﴾

د سلام نه مخکې د سهوي د سجدې باب

﴿۷۸۸﴾ عَن عَبدِ الله بنِ بُحَينَةَ الاَسَدِي حَلِيفِ بَنِي عَبدِ المُطَّلِبِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَامَ فِي صَلَاةِ الظُّهرِ وَعَلَيهِ جُلُوسٌ فَلَمَّا اَكَمَّ صَلَاتَه سَجَدَ سَجدَتَينِ يُكَبِّرُ فِي كُلِّ سَجدَةٍ

Maktaba Tul Ishaat.com

وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ أَن يَسْلِمَ وَسَجَدَهُمَا النَّاسُ مَعَهُ مَكَانَ مَا نَسِيَ مِنَ الْجُلُوسِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د بني عبدالمطلب د قبيلي حليف حضرت عبدالله بن بُحينه الاسدي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپښين په مانځه کې پاڅيده په داسي حال کې د ده په ذمه باندې قاعده يعني کيناستل وُ نو کله ئې چې مونځ پوره کړ نو دوه سجدې ئې وکړې په هره سجده کې ئې الله اکبر وويايه او هغه ناست وُ د سلام ګرځولو نه مخکې او خلکو هم د ده سره د هير شوي تشهد په ځاي دوه سجدې وکړې د دې حديث روايت شيخينو کړې دي.

﴿۷۸۹﴾ وَعَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ كَمْ صَلَّى ثَلَاثًا أَمْ أَرْبَعًا فَلْيَطْرَحِ الشَّكَّ وَلْيَبْنِ عَلَى مَا اسْتَيْقَنَ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ قَبْلَ أَن يَسْلِمَ فَإِن كَانَ قَدْ صَلَّى خَمْسًا شَفَّعْنَ لَهُ صَلَاتَهُ وَإِن كَانَ صَلَّى إِتْمَامًا لِأَرْبَعٍ كَانَتَا تَرْغِيمًا لِلشَّيْطَانِ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : حضرت ابي سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې د ستاسو د يو کس په خپل مانځه شک شي نو نه پوهيږي چې څو رکعته ئې کړي دي درې ئې کړي او که څلور ئې کړي نو دا دي شک ختم کړي او په يقين دي بنا وکړي بيا دي د سلام نه مخکې دوه سجدې وکړي او که چرته پنځه رکعته ئې کړي وُ نو دا پنځه رکعته دي په دوه وُ سجدو باندې دغه مونځ جفت کړي او که چرته د څلورو رکعتونو د پوره کولو د پاره ئې دا يو رکعت کړي وي نو دا د شيطان د ذليل کولو د پاره دي. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۷۹۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ عَوْفٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا شَكَّ أَحَدُكُمْ فِي صَلَاتِهِ فَلَمْ يَدْرِ وَاحِدَةً صَلَّى أَمِ ثِنْتَيْنِ فَلْيَجْعَلْهَا وَاحِدَةً وَإِذَا لَمْ يَدْرِ ثِنْتَيْنِ صَلَّى أَمْ ثَلَاثًا فَلْيَجْعَلْهَا ثِنْتَيْنِ وَإِذَا لَمْ يَدْرِ ثَلَاثًا صَلَّى أَمْ أَرْبَعًا فَلْيَجْعَلْهَا ثَلَاثًا ثُمَّ يَسْجُدُ إِذَا فَرَغَ مِن صَلَاتِهِ وَهُوَ جَالِسٌ قَبْلَ أَن يَسْلِمَ سَجْدَتَيْنِ رواه احمد وابن ماجه والترمذي وصححه وهو معلول.(۳)

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۶۴ باب يكبر في سجدتي السهو ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۱ باب اذا شك في الجلوس في الركعتين ...الخ .

(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۱ باب اذا شك في الجلوس في الركعتين ...الخ .

(۳) مسند احمد ج۱ص ۱۹۰ ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۶ باب ماجاء فيمن قام من اثنتين ساهيا ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۹۰ باب فيمن يشك في الزيادة والنقصان

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: حضرت عبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئې كله چې ستاسي د يو كس په خپل مانځه كې شک شي نه پوهيږي چې يو ركعت ئې كړي او كه دوه ركعته ئې كړي دي نو هغه دي يو ركعت وشميري او چې كنه ورته معلوم نه وي چې دوه ركعته ئې او كه دري ركعته ئې كړي دي نو هغه دي دوه وګڼي او كله چې ورته معلوم نه وي چې دري ركعته ئې كړي دي او كه څلور ركعته ئې كړي دي نو هغه دي دري ركعته وګڼي كله چې د مانځه نه فارغ شي نو د سلام نه مخكې دي دوه سجدي په ناسته وكړي د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ ابن ماجه او ترمذي كړي دي او ترمذي صحيح ګنرلي دي او هغه معلول دي.

سجده سهوه دسلام نه مخكې ده يا سلام نه پس ؟

دسجده سهوې محل بالاتفاق اختتام صلاة دې او خوخه يې ده چې دسلام سره سجده سهوه او كړي يا دسلام نه پس دواړه صورتونه جائز دي خو ليكن افضل كوم يو دي ؟ په دې كې اختلاف دي:

۱. حنفيو په نزد مطلقا بغد السلام ده ۲. دشافعيه رَحِمَهُ اللهُ په نزد مطلقا قبل السلام ده.

۳. دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد تفصيل دې هغه دا چې كه سهوه چې دكوم دوچې نه سجده كوي هغه دنقصان دقبيلې نه وي نو بيا خو به سجده سهوه قبل السلام كوي او كه هغه سهوه دزيادت دقبيل نه وي نو سجده سهوه به بعد السلام وي، او چې كله نقصان او زيادت دواړه جمع شي نو نقصان له به غلبه وركولې شي سجده سهوه به قبل السلام وي.

۴. امام احمد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې هر يو حديث لره ددې په موقع باندې استعمال كړې شي يعنې په كومه سهوه كې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده قبل السلام كړې ده مونږ به هم په دې سهوه كې سجده قبل السلام كوو او كومه سهوه كې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سجده بعد السلام كړې ده په هغې كې به مونږ هم سجده بعد السلام كوو او كوم صورت چې په حديث كې نه وي وارد په هغه صورت كې به يې قبل السلام كوو.

حاصل دا راووت چې ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دسجده سهو قبل السلام دافضليت قائله دي او حنفيه دبعد السلام دافضليت قائله دي.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ استدلال: دباب دري واړه حديثونه (حديث دعبدالله بن بحينه، حديث دابو سعيد خدري. حديث دعبدالرحمن بن عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ) دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ مستدل دي ځكه چې په دري واړو روايتونو كې "قبل ان يسلم" الفاظ موجود دي.

دحنفيو استدلال او دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ داستدلال جواب دراروان باب ترلاندې وګورئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئلة الشك في الصلاة : كه يو كس ته دمونځ په حالت كې دركعتونو په عدد كې شك او شبه وي نو هغه ته څه كول پكار دي ؟

۱... دحنفيو په نزد دا مسئله مثلث ده ددې دري صورتونه دي چنانچې كوم كس ته چې په مونځ كې داسې شك او شبه په كثرت سره نه راځي بلكې اتفاقا كله راځي نو دده لپاره استيناف دي يعني دسرنه دي مونځ راوګرځوي ، او كوم كس ته چې شك او شبه په كثرت سره راځي نو هغه لپاره تحري ده يعني سوچ دې اوكړي ، دتحري نه پس چې كوم طرفته رجحان زيات وي هغه دې اختيار كړي او كه دسوچ نه باوجود كه يو طرفته غلبه نه وي نو بيا بنا على الاقل المتيقن دي.

۲... امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ مطلقا دبناء على الاقل قائله دي او په روايتو كې دتحري چې كوم ذكر راځي دهغې په باره كې هغه فرمايي چې دتحري معنى ده قصد كول يعني چې كومه خبره صواب او صحيح ده هغې لره اختيارول ، هغه فرمايي چې صواب او صحيح شئ اقل متيقن وي .

دامام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ مسلم دادې كه مونځ كونكي مستنكح وي يعني كوم ته چې شك او شبه په كثرت سره راځي دهغه لپاره حكم دتحري دي خپله تحري باندې دي عمل اوكړي او كه غير مستنكح دي نو هغه نه پكار دي چې بناء على اليقين دي اوكړي .

۴... دامام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ مشهور قول دادې چې په دې مسئله كې دامام او منفرد تر مينځ فرق دي امام لپاره تحري او ظن غالب باندې عمل كول دي او منفرد لپاره بناء على الاقل .

دمذكوره تفصيل نه هم معلومه شوه چې دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ نه څوک هم داستيناف قائله نه دي بلكې تحري يا بناء على الاقل ، هغه دا وايي چې داستيناف روايت ضعيف دي . حنفيه په دې سلسله كې داحاديثو تر مينځ دتطبيق صورت اختياروي .

﴿ بَابُ سُجُودِ السَّهوِ بَعدَ السَّلَامِ ﴾

د سلام نه روسته د سهوې د سجدې باب

﴿۷۹۱﴾ عَن اَبِي هرَيرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ اَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِنصَرَفَ مِن اِثنَتَينِ فَقَالَ لَه ذُو اليَدَينِ اَقُصِرَتِ الصَّلَاةُ اَم نَسِيتَ يا رَسُولَ الله قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اَصَدَقَ ذُو اليَدَينِ فَقَالَ النَّاسُ نَعَم فَقَامَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَصَلّٰى اِثنَتَينِ اُخرَيَينِ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ كَبَّرَ فَسَجَدَ مِثلَ سُجُودِهِ اَو

Maktaba Tul Ishaat.com

أطول ثم رفع. رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په دوه ډ ركعتونو باندې سلام ډګرځاوه نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ذوالیدین وویل چې آیا مونځ کم شوی دي او که ستا نه هیر شوي دي اي د الله جل شانه رسوله صلى الله عليه وسلم نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل چې آیا ذوالیدین ریښتا ویلي دي نو خلکو وویل چې هو نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پاځیده نور دوه رکعته مونځ ئې وکړه بیا ئې سلام وارواوه بیا ئې تکبیر وویه نو سجده ئې وکه په مثال د سجدي خپلې او د هغه نه اوږده بیا ئې سر مبارک اوچت کړ. د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي.

﴿۷۹۲﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ جَعْفَرٍ رضي الله عنه اَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم قَالَ مَنْ شَكَّ فِي صَلَاتِهِ فَلْيَسْجُدْ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا سَلَّمَ رواه احمد و ابوداود والنسائي والبيهقي و قال اسناده لا بأس به.(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن جعفر رضي الله عنه نه روایت دي چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي د چا چې په خپل مانځه کې شک شي نو د سلام نه روسته دي د سهوي دوه سجدي وکړي. د دې حدیث روایت احمد او ابوداؤد او نسائي او بیهقي کړي دي چې د دې اسناد لا بأس دي.

﴿۷۹۳﴾ وَ عَنْ عَلْقَمَةَ اَنَّ اِبْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه سَجَدَ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَ ذَكَرَ اَنَّ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَعَلَ ذٰلِكَ رواه ابن ماجه و آخرون و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د علقمه نه روایت دي چې ابن مسعود رضي الله عنه د سلام نه روسته د سهوي دوه سجدي وکړې او دا خبره ئې یاده کړه چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم همدغسې کول. د دې حدیث روایت ابن ماجه او نورو کړې دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۷۹۴﴾ وَ عَنْ قَتَادَةَ عن اَنَسٍ رضي الله عنه اَنَّهُ قَالَ فِي الرَّجُلِ يَهِمُّ فِي صَلَاتِهِ لَا يَدْرِي اَزَادَ اَمْ نَقَصَ قَالَ يَسْجُدُ سَجْدَتَيْنِ بَعْدَ مَا يُسَلِّمُ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۴)

---

(۱) بخاري كتاب التهجد ج۱ص ۱۶۴ باب من لم يتشهد في سجدتي السهو ....الخ مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۳ باب من تكلم او تحرك ...الخ.

(۲) مسند احمد ج۱ص ۲۰۵، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۸ باب من قال بعد التسليم. نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۸۵ باب التحري، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۲ص ۳۳۶ باب من قال يسجد فيما بعد التسليم ...الخ.

(۳) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۶ باب ماجاء فيمن سجدهما بعد السلام.

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۹۹ باب سجود السهو.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د قتاده نه روايت دي چې حضرت انس رضي الله عنه د يو کس په باره کې ويلي وُ چې هغه ته په خپل مانځه کې وهم راځي او نه پوهيږي چې زيات ئې وُکړل او که کم ئې وُکړل انس رضي الله عنه ويل وُ چې د سلام نه روسته دي دوه سجدي وکړي. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۷۹۵﴾ و عن ضَمُرَةَ بنِ سَعِيدٍ أَنَّه صَلّٰى وَرَاءَ أَنَسِ بنِ مَالِك رضي الله عنه فَأَوهَمَ فَسَجَدَ سَجدَتَينِ بَعدَ السَّلَامِ رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د ضُمره بن سعيد څخه روايت دي چې دوي د حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روسته مونځ کړي وُ نو هغه په شک کې پريوتي وُ نو د سلام نه روسته ئې دوه سجدي وکړي. د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۷۹۶﴾ و عَن عَمرِو بنِ دِينَارٍ عَن عَبدِ اللهِ بنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ سَجدَتَا السَّهوِ بَعدَ السَّلَامِ رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : د عمرو بن دينار نه روايت دي چې عبدالله بن عباس رضي الله عنه ويلي دي چې د سهوي دوه سجدي د سلام نه روسته دي. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

دسجده سهوي دبعدالسلام دلائل:

د دې باب ټول حديثونه د سجده سهوي بعد السلام کيدو کې د حنفيو مستدل دي د دې په سلسله کې يو مضبوط دليل د ابوداود شريف حديث ثوبان رضي الله عنه دي دکوم الفاظ چې دادي " عن النبي صلى الله عليه وسلم قال : لكل سهو سجدتان بعد...(ابوداود : ۱۴۹/۱) دا حديث قولي دې نه فعلي او په دې کې يوه قاعده کليه بيان کړي شوي ده او هر قسمه سهو (چې که کموالي وي او زياتوالي) لپاره د سجده بعد السلام حکم دي د باب دا احاديثو اهم نکات دادي:

۱... اولني حديث عام طور سره " **حديث ذي اليدين** " په نوم سره مشهور دي، د دې نه استدلال په دې طور باندې دي چې حضور صلى الله عليه وسلم دماسپښين يا دمازديگر مونځ دوه رکعت اوکړل او بيا د حضرت ذواليدين توجه راوستلو باندې حضور صلى الله عليه وسلم باقي مونځ پوره کړ او په آخر کې يې

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص ۲۹۹ باب سجود السهو.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج ۱ ص ۲۹۹ باب سجود السهو.

Maktaba Tul Ishaat.com

بعد السلام سجده سهوه او کړه.

۲... دویم حدیث مسئلة الشک سره متعلق دي او په هغې کې هم "بعد ماسلم" الفاظ دي.

۳... څلورم او پنځم حدیث کې د حضرت انس رضي الله عنه په فتوی باندې عمل دي کوم کې چې که کمي وي او که زیاتوالي په دواړو صورتونو کې د بعد السلام حکم دي.

۴... شپږم حدیث کې د ابن عباس رضي الله عنه فتوی ده چې سجده سهوه بعد السلام ده.

دائمه ثلاثه رحمهم الله د استدلال جوابونه:

۱... "قبل ان یسلم" والا روایات بیان جواز باندې محمول دي.

۲... دا هم کیدې شي چې په دې کې "قبل ان یسلم" نه مراد هغه سلام وي کوم چې د سجده سهوې او د تشهد لوستلو نه پس په آخر کې کیږي.

۳... حدیث د عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه سندا معلول دي.

د حنفیو وجوه ترجیح:

۱... د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه روایت "ثم یسلم ثم لیسجد سجدتین" په صحیحینو کې مروي دي د دې نه علاوه په دې سلسله کې څه قولي حدیث متفق علیه نه دي بلکې هغه د امام مسلم رحمه الله د متفرد اتو نه دي.

۲... بعد السلام په سجده کولو کې سلام او د تشهد زیاتوالي دې لهذا د مشقت زیاتیدو د وجې نه ثواب به هم په هغې کې زیات وي.

۳... حضرت عمر، ابن مسعود، ابن عباس، انس رضي الله عنهم او نور فقهاء صحابه رضي الله عنهم د همدغه قول دي. (معارف السنن: ۴/۴۸۷- ۴۸۹)

﴿بَابُ مَا يُسَلِّمُ ثُمَّ يَسْجُدُ سَجْدَتَيِ السَّهْوِ ثُمَّ يُسَلِّمُ﴾

باب دې په بیان د هغه احادیثو کې چې سلام به کړي وي بیا به د سهوې دوه سجدې کوي بیا به سلام کړي وي

﴿۷۱۴﴾ عن عَلْقَمَةَ قَالَ: قَالَ عَبْدُ الله رضي الله عنه صَلَّى النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِبْرَاهِيمُ لَا أَدْرِي زَادَ أَوْ نَقَصَ فَلَمَّا سَلَّمَ قِيلَ لَهُ يَا رَسُولَ الله أَحَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ قَالَ وَمَا ذَاكَ قَالُوا صَلَّيْتَ كَذَا وَكَذَا فَثَنَى رِجْلَهُ وَاسْتَقْبَلَ وَسَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ فَلَمَّا أَقْبَلَ عَلَيْنَا بِوَجْهِهِ قَالَ إِنَّهُ لَوْ حَدَثَ فِي الصَّلَاةِ شَيْءٌ

Maktaba Tul Ishaat.com

لَنَبَّأْتُكُمْ وَ لٰكِن اِنَّمَا اَنَا بَشَرٌ اَنْسٰى كَمَا تَنْسَوْنَ فَاِذَا نَسِيتُ فَذَكِّرُونِي رواه البخاري و آخرون.(۱)

ترجمه : علقمه ويلي دي چې حضرت عبدالله رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وكړ ابراهيم ويلي دي چې زه پوه نه يم چې نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خپل مانځه كې زياتوالي كړي او كه كم والي ئې كړي وُ نو كله ئې چې سلام واړاوه نو ورته وويلي شو چې اي د الله جل شانه رسوله آيا په مانځه كې څه نوي حكم راغلي دي نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې هغه څه شئ دي خلكو وويل چې دومره دومره مونځ مو وكړ نو خپله خپه ئې خوره كړه او قبلي طرف ته ئې خپل مخ مبارک واړاوه او دوه سجدي ئې وكړې بيا ئې سلام واړاوه نو كله چې مونږ طرف ته متوجه شو وي فرمايل كه چرته په مانځه كې نوي حكم راشي نوزه خامخا تاسي خبروم خو ولي بې شكه زه بشر يم زمانه هم خبره هيرېږي لكه څنګه چې ستاسي نه هيرېږي نو كله چې ځما نه خبره هيره شي نو ماته ئې رآيادوئ كله چې يو ستاسي ته په مانځه كې شک پيدا شي نو صحيح فكر او سوچ دي وكړي او خپل مونځ دي په هغې باندې پوره كړي بيا دي سلام وګرځوي بيادي دوه سجدي وكړي. د دي حديث روايت بخاري او نورو محدثينو كړې دي.

﴿۷۹۸﴾ وَ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى الْعَصْرَ فَسَلَّمَ فِي ثَلَاثِ رَكَعَاتٍ ثُمَّ دَخَلَ مَنْزِلَه فَقَامَ اِلَيْهِ رَجُلٌ يُقَالُ لَه الْخِرْبَاقُ وَكَانَ فِي يَدَيْهِ طُولٌ فَقَالَ يَارَسُولَ اللّٰهِ فَذَكَرَ لَه صَلٰوتَه وَ خَرَجَ غَضْبَانَ يَجُرُّ رِدَاءَه حَتّٰى اَتَى النَّاسَ فَقَالَ اَصَدَقَ هٰذَا قَالُوا نَعَم فَصَلّٰى رَكْعَةً ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجْدَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ رواه الجماعة الا البخاري والترمذي.(۲)

ترجمه : د حضرت عمران بن حصين نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مازيګر مونځ وكړ نو په دريو ركعتونو ئې سلام واړاوه بيا ئې خپل كور ته تشريف ويوړ نو هغه ته يو سړي پاڅيده چې هغه ته خرباق ويلي شو او په لاسونو كې ئې اوږدوالي وُ نو وي ويل چې اي د الله جل شانه رسوله نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ئې د هغه مبارک فعل ذكر وكړ په غصه كې راوُت خادر ئې د ځان پسې راكوده تر دي پورې چې خلكو ته ورسيده نو وي فرمايل آيا دا رښتيا وائي خلكو وويل چې هو نو

---

(۱) بخاري كتاب الصلوة ج۱ص ۵۸ باب التوجه نحو القبلة.

(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۴ باب من ترك الركعتين او نحوها ...الخ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۶ باب في السجدتي السهو، نسائي كتاب السهو ج۱ص ۱۸۳ باب ما يفعل من سلم من اثنتين ....الخ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۶ باب فيمن سلم من ثنتين او ثلث ساهيا، مسند احمد ج۴ ص ۴۲۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

یو رکعت مونځ ئې وکړ بیا ئې سلام وګرځاوه بیا ئې دوه سجدې وکړې بیا ئې سلام وګرځاوه. د دې حدیث روایت د بخاري او ترمذي نه په غیر جماعت کړې دي.

﴿۷۹۹﴾ وَ عَن زِيَادِ بنِ عَلَاقَةَ قَالَ صَلّٰى بِنَا الْمُغِيرَةُ بنُ شُعبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَلَمَّا صَلّٰى رَكعَتَينِ قَامَ وَلَمْ يَجلِسْ فَسَبَّحَ مَن خَلفَه فَأَشَارَ اِلَيهِمْ اَنْ قُومُوا فَلَمَّا فَرَغَ مِن صَلَاتِه سَلَّمَ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَينِ وَ سَلَّمَ

رواه احمد والترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح.(۱)

ترجمه : زیاد بن علاقه ویلي دي چې مونږ ته مغیره ابن شعبه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونځ وکړو نو کله ئې چې دوه رکعته وکړل نو ناڅیده او کینه ناست نو ځوک چې د دوي نه روسته وُ هغو سبحان الله وویل نو مغیره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هغو ته اشاره وکړه چې وُدریږئ کله چې د خپل مانځه نه فارغ شو سلام ئې وګرځاوه بیا ئې دوه سجدې وکړې او سلام ئې وُګرځاوه. د دې حدیث روایت احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او ترمذي کړې دي او ویلي ئې دي چې دا حدیث حسن صحیح دي.

﴿۸۰۰﴾ و عَن اَبِي قِلَابَةَ عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ فِي سَجدَتَيِ السَّهوِ يُسَلِّمُ ثُمَّ يَسجُدُ ثُمَّ يُسَلِّمُ رواه الطحاوي و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : د ابي قلابه نه روایت دي چې حضرت عمران بن حصین رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د سهوي د دوه وُ سجدو په باره کې ویلي دي چې سلام به وګرځوي بیا به سجده وکړي بیا به سلام وګرځوي. د دې حدیث روایت طحاوي رَحِمَهُ اللّٰهُ کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

د ترجمة الباب نه غرض :د باب حدیثونه په دې باب کې صریح دي چې د سجده سهوي نه قبل او بعد کې سلام دي نهذا بعد السلام د سجده سهوي په اثبات کې د حنفیو مستدل به ګرځو.

﴿بَابُ صَلَاةِ المَرِيضِ﴾

د مریض د مانځه باب

﴿۸۰۱﴾ عن انسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ صَلّٰى رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَرَضِه خَلفَ اَبِي بَكرٍ قَاعِدًا فِي ثَوبٍ مُتَوَشِّحاً فِيه رواه الترمذي و قال هذا حديث حسن صحيح.(۳)

---

(۱) مسند احمد ج۴ ص ۲۴۷ ، ترمذي ابواب الصلوات ج۱ص ۸۳ باب ماجآء في الامام ينهض في الركعتين.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۹۹ باب سجود السهو.

(۳) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ص ۸۴ باب ماجآء [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: حضرت انس رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپله بيمارئ کې رومال باندې په داسې حال کې چې په مبارک سر باندې ئې خور کړې وُ د حضرت ابوبکر رضي الله عنه پسې په ناسته مونځ وکړ. د دې حديث روايت ترمذي کړې او ويلي ئې دي چې دا حديث حسن صحيح دي.

﴿۸۰۲﴾ و عَن عَائِشَةَ رضي الله عنها قَالَ صَلَّى رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم خَلفَ أَبِي بَكرٍ رضي الله عنه فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ قَاعِداً رواه الترمذي و صححه.(۱)

ترجمه: حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د حضرت ابوبکر رضي الله عنه پسې په ناسته په هغه ناروغئ کې مونځ وکړ په کومه ناروغئ کې چې وفات شوي وُ. د دې حديث روايت ترمذي کړې او صحيح ئې ګڼلې دي.

﴿۸۰۳﴾ و عَن عِمرَانَ بنِ حُصَينٍ رضي الله عنه قَالَ كَانَتْ بِي بَوَاسِيرُ فَسَأَلْتُ النَّبِيَّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ صَلِّ قَائِماً فَإِن لَمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِداً فَإِن لَم تَسْتَطِعْ فَعَلَى جَنبٍ رواه الجماعة الا مسلماً و زاد النسائي فَإِن لَم تَسْتَطِعْ فَمُسْتَلقِياً لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْساً إِلَّا وُسْعَهَا.(۲)

ترجمه: او حضرت عمران بن حصين رضي الله عنه ويلي دي چې ځما بواسيرُ نو ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه نو هغه وفرمايل چې په ولاړه مونځ کوه که د ولاړې طاقت دې نه وُ نو په ناسته ئې کوه او که په ناسته ئې نشي کولې نو په اړخ باندې ئې کوه. د دې حديث روايت د مسلم نه په غير جماعت کړې دي او نسائي دا الفاظ زيات کړې دي نو که د دې طاقت هم نه وي نو بيا ئې په ستوني ستاغ وکړه. الله جل شانه هر نفس ته د هغه د طاقت په اندازه تکليف ورکوي.

﴿۸۰۴﴾ و عن نَافِعٍ أَنَّ عَبدَ اللهِ بنَ عُمَرَ رضي الله عنه كَانَ يَقُولُ إِذَا لَم يَستَطِعِ المَرِيضُ السُّجُودَ أَومَا إِيمَاءً وَلَم يَرفَعْ إِلَى جَبهَتِهِ شَيئاً رواه مالك و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه: د نافع نه روايت دي چې عبدالله بن عمر رضي الله عنه به ويل کله چې ناروغ د سجدې طاقت نلري د سر په اشاره دي مونځ وکړي او خپل تندي ته دي څه شي نه اوچتوي. د دې حديث روايت

---

(۱) ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۸۳ باب ماجآء اذا صلى الامام قاعداً فصلوا قعودًا باب منه.

(۲) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ صـ ۱۵۰ باب اذا لم يطق قاعداً ...الخ، ترمذي ابواب الصلوة ج۱ صـ ۸۵ باب ماجآء ان صلوة القاعد على النصف ...الخ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۳۷ باب في صلوة القاعد، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة صـ ۸۷ باب ماجاء في صلوة المريض، مسند احمد ج۴ صـ ۴۲۶.

(۳) موطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر صـ ۶۰ باب العمل في صلوة جامع الصلوة.

Maktaba Tul Ishaat.com

مالک کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

دمريض مختلف حالات او مسئلې

اولنۍ مسئله : صَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَلْفَ أَبِي بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ قَاعِداً ددې روايت نه دا معلومه شوه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مرض وفات کې دامونځ دحضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په اقتدا کې اوکړو او دا هم معلومه شوه که مريض ته په ولاړې باندې قدرت نه وي حاصل نو په ناسته فرض مونځ هم کولې شي ځکه چې په داسي صورت کې فرض قيام دده ذمې نه ساقطيږي.

صلاة القاعد خلف القائم په جواز کې هيڅ شبه نشته لکه څنګه چې دباب روايات په دې باندې دلالت دي البته صلاة القائم خلف القاعد کې اختلاف دي ليکن دلته دا مسئله دبحث لاندې نه ده.

دويمه مسئله : دحضرت عمران بن حصين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حالت دمرض کې دمونځ تفصيل په مختلفو رواياتو کې مروي دي فقهاء فرمايي مريض که په يو طور باندې هم دقيام قدرت اونلري (نه پخپله اودريږي او نه په يو شي باندې ډډه ووهي چې اودريږي) نو هغه ته پکار دي چې په ناسته دې مونځ اوکړي او که په دې حالت کې که سجده اوکړي شي نو بهتره ورنه رکوع او سجده دې دسر په اشارې سره اوکړي. رکوع لپاره يې چې څومره سرلاندې کړي دي په سجده کې دې هغې نه زيات سرلاندې کړي ليکن دسر په زمکه لګيدل ضروري نه دي.

قوله "فان لم تستطع فقاعدا" : په ناسته که مونځ اوکړي شي نو دناستې طريقه به څه وي؟ په دې کې دامام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد افتراش اولى دي لکه څنګه چې په التحيات کې کيني، همدغه يو روايت دمزني رَحِمَهُ اللهُ دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه نقل کړې دي. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او احمد او صاحبينو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد تربيع ناسته اولى ده، همدغه يو روايت دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه دي.

دمعذور مونځ مستلقيا وي يا مضطجعا؟

که په يو طريقې سره هم ناسته مشکله وي نو بيا دي په ملاسته مونځ اوکړي. په ملاسته دمونځ دوه صورتونه دي. يو مضطجعا على يمينه يعنې په ښي اړخ باندې او دويم مستلقيا يعنې ستونې ستاغ خو په دې طور باندې چې مخ او قدمونه يې قبلې طرفته وي.

دجمهورو په نزد اوله صورت اولى دي اګر چې دواړه جائز دي، شافعيه دوجوب قائله دي، او دمالکيه او حنابلو په نزد صرف داستحباب درجه ده دجمهور دحديث الفاظ "فعلى جنب" نه استدلال کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

حنفيه دا وايي چې د مستلقي اشاره به د کعبې د فضا طرفته واقع وي او د کعبې فضا اسماني قبله ده په خلاف د مضطجع چې د ده اشاره به خپل قدمونو طرفته وي نه قبلې طرفته . د حنفيو د استدلال حديث الفاظ " فأن لم تستطع فمستلقيا " نه دي .

قوله " ولم يرفع الى جبهته شيئا " ، يعنې که په ملاسته يا په ناسته چې کله د سر په اشارې سره رکوع او سجده کوي نو د دې لپاره به څه شي نه راوچتوي او دا مکروه تحريمي دي او که راووچت کړي شو نو بيا هم سر تيټول فرض دي او پکار ده چې سر د رکوع په نسبت په سجده کې زيات ټيټ کړي . (البحر الرائق : ۱۱۲/۲ - ۱۱۳ ، الدر المنضود : ۳۵۴/۲)

﴿بابُ سُجُودِ الْقُرآنِ﴾
د قرآن کريم د تلاوت د سجدې باب

﴿۸۰۵﴾ عن عبدِ الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قَرَأَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ النَّجْمَ بِمَكَّةَ فَسَجَدَ فِيهَا وَ سَجَدَ مَن كَانَ مَعَه غَيرَ شَيخٍ اَخَذَ كَفًّا مِن حَصًى اَو تُرابٍ وَرَفَعَه اِلى جَبْهَتِه وَ قَالَ يَكفِينِي هٰذَا فَرَأَيتُه بَعد قُتِلَ كَافِراً رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مکه مکرمه کې د النجم سورت تلاوت نو په هغې کې ئې د تلاوت سجده وکړه او څوک چې ورسره ؤ هغو هم سجده وکړه خو ولې يو شيخ د خاورې او ګيټکيو يو موټې تندي ته را اوچت کړ وي ويل چې ماته دا کافي دي ما د دي واقعي نه روسته هغه ليدلي ؤ چې د کفر په حالت کې وژلې شوې ؤ . د دې حديث روايت شيخينو کړي .

﴿۸۰۶﴾ وعنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ بِالنَّجْمِ وَ سَجَدَ مَعَه الْمُسْلِمُونَ وَالْمُشرِكُونَ وَالْجِنُّ وَالاِنْسُ رواه البخاري .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د النجم د سورت سجده وکړه او د ده سره مسلمانانو ، مشرکانو جنياتو پيريانو ، او انسانانو سجده وکړه . د دي

---

(۱) بخاري ابواب ما جاء في سجود القرآن ....الخ ج۱ص ۱۴۶ باب ماجاء في سجود القرآن ...الخ ، مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۱۵ باب سجود التلاوة .

(۲) بخاري ابواب ماجاء في سجود القرآن ج۱ص ۱۴۶ باب سجود المسلمين مع المشركين

Maktaba Tul Ishaat.com

حديث روايت بخاري، كړي دي.

﴿۸۰۷﴾ وَعَنْهُ قَالَ صٓ لَيْسَ مِنْ عَزَائِمِ السُّجُودِ وَ قَدْ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْجُدُ فِيهَا رواه البخاري.(۱)

ترجمه : او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې د (صٓ) د سورت سجده په واجبو سجدو كې نه ده او په تحقيق ما نبي كريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ليدلي دُ چې په دي سورت كې ئې سجده كوله. د دي حديث روايت بخاري كړي دي.

﴿۸۰۸﴾ وَ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ فِي صٓ وَ قَالَ سَجَدَهَا دَاوُدُ عَلَيْهِ السَّلَامُ تَوْبَةً وَنَسْجُدُهَا شُكْرًا رواه النسائي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د (ص) په سورت كې سجده كړي وه او فرمايلي ئې دُ چې په دي كې داوُد عَلَيْهِ السَّلَامُ د توبې د پاره سجده كړي وه او مونږه پكې د شكر سجده كوو. د دي حديث روايت نسائي كړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۰۹﴾ و عن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّه قَالَ قَرَأَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَلَمَّا بَلَغَ السَّجْدَةَ نَزَلَ فَسَجَدَ وَ سَجَدَ النَّاسُ مَعَه فَلَمَّا كَانَ يومٌ آخَرُ قَرَأَ فَلَمَّا بَلَغَ السَّجْدَةَ تَشَزَّنَ النَّاسُ لِلسُّجُودِ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّمَا هِي تَوبَةُ نَبِي وَ لٰكِنِّي رَأَيْتُكُمْ تَشَزَّنْتُمْ لِلسُّجُودِ فَنَزَلَ فَسَجَدَ وَسَجَدُوا رواه ابوداود و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي ده ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منبر باندې د سورت قرأت فرمايه كله چې د سجدې ايت ته ورسيده راكوز شو نو سجده ئې وكړه او د ده سره خلكو هم سجده وكړه بيا چې كله بله ورځ شوه هغه د دي سورت تلاوت وفرمايه كله چې د سجدې ايت ته ورسيده خلك د سجدې د پاره تيار شوي دُ نو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دا د يو نبي توبه وه ځكن ما تاسو وليدئ چې سجدې ته تيار شوي استئ نو راكوز شو سجده ئې وفرمايله او خلكو هم سجده وكړه. د دي حديث روايت ابوداوُد كړي او اسناد ئې صحيح دي.

---

(۱) بخاري ابواب ماجاء في سجود القرآن ...الخ ج۱ص ۱۴۶ باب سجدة ص.

(۲) نسائي كتاب الافتتاح ج۱ص ۱۵۲ باب سجود القرآن السجود في ص.

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۲۰۰ باب السجود في ص.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۸۱۰﴾ و عَنِ العَوام بنِ الحَوشَبِ قَالَ سَأَلتُ مُجَاهداً عَنِ السُّجُودِ فِي ص فَقَالَ سَأَلتُ عَنهَا ابنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فَقَالَ أَسْجُد فِي ص فَتِلكَ هُؤُلَاءِ الأيَاتِ مِنَ الأَنعَامِ وَمن ذُرِّيتِه دَاوُدَ وَ سُلَيمَانَ إِلى قَولِه اولئِكَ الَّذِينَ هدَى اللهُ فَبِهدَاهمُ اقْتَدِه رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : عوام بن حوشب ويلي دي چې ما د مجاهد نه د (ص) د سورت د سجدي په باره کې پوښتنه وکړه هغه وويل چې ما په دي باره کې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه پوښتنه کړې وه نو هغه وويل چې زه د (ص) په سورت کې سجده کوم بيا هغه د انعام د سورت دغه ايتونه تلاوت کړل: ومن ذريته داؤد وسليمان تر دي قوله پورې چې (اولئك الذين هدالله فبهداهم اقتده). د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۱۱﴾ و عَن اَبِي سَلَمَة قَالَ رَأَيتُ اَبَا هرَيرَة رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَرَأَ إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ فَسَجَدَ بِهَا فَقُلتُ يَا اَبَاهرَيرَة اَلَم اَرَك تَسْجُدُ قَالَ لَو لَم اَرَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سَجَدَ لَم اَسْجُدْ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : د ابي سلمه نه روايت دي ده ويلي دي چې ما د ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ليدلي وُ چې د (اذا السماء انشقت) سورت ئې تلاوت کاوه نو په هغې سره ئې سجده وکړه نو ما ووېل اې ابوهريره ماته په سجده نه ئې ليدلي ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ ووېل چې که چرته ما نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نه وي ليدلي چې سجده ئې کړي وه مابه سجده نه وي کړي. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۸۱۲﴾ و عَن مُجَاهدٍ قَالَ سَأَلتُ ابنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ عَنِ السَّجْدَةِ الَّتِي فِي حم قَالَ أَسْجُدها بِآخِرِ الآيَتَينِ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : مجاهد وېلي دي چې ما د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه د (حم) د سورت د سجدي په باره کې پوښتنه کړې، وه هغه ووېل چې زه د دوه وُ ايتونو په اخر کې سجده کوم. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۴۸ باب سجود التلاوة.

(۲) بخاري ابواب ماجاء في سجود القرآن ...الخ ج۱ صـ ۱۴۶ باب سجدة إذا السّماءُ انشقّتْ، مسلم كتاب المساجد ج۱ صـ ۲۱۵ باب سجود التلاوة.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۴۷ باب سجود التلاوة

Maktaba Tul Ishaat.com

د تلاوت د سجدې احکام

په نوموړي حدیثونو کې د تلاوت د سجدې د حکم بیان دي چې په شرعي لحاظ سره د تلاوت سجدې څه حیثیت لري په دې مسئله کې د دریؤ امامانو او د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ ترمنځ اختلاف دي.
(۱) مذهب: امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ وائي چې د تلاوت سجده واجب ده (۲) مذهب: دري امامان صاحبان وائي چې د تلاوت سجده سنت ده. (۱) امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ د تلاوت د سجدې د وجوب په باره کې د تلاوت د سجدې په ټولو ایتونو استدلال کړې په کومو کې چې د امر صیغه راغلې ده ابن الهمام رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې د تلاوت د سجدې ایتونه په دریؤ حالاتو باندې مشتمل دي. اول دا چې یا خو به په هغې کې د سجدې امر وي لکه د علق په سورت کې (کلا لا تطعه واسجد واقترب) او دویم دا چې پکې د کفارو د سجدې نه انکار ذکر وي لکه په سورت انشقاق کې (واذا قرأي علیهم القرآن لا یسجدون) دریم دا چې یا به پکې د انبیاؤ علیهم السلام د سجدو حکایت وي لکه په سورت (ص) کې (وظن داود انما فتنّٰه فاستغفر ربه وخر راکعا وانآب). (۱)
نو بنا په دې باندې په امر باندې خو عمل کول په هر حال کې واجب دي او دغه شان د کفارو سره د موافقت نه په قرآن کریم کې نهي راغلي ده (یاایها الذین امنوا لا تکونوا کالذین کفروا آل عمران) الخ او بله دا چې د انبیاؤ علیهم السلام اقتداء هم واجب ده لکه (فبهداهم اقتده) انعام. (۲)
د دریؤ امامانو صاحبانو مستدلات په لاندې دوول سره دي: ائمه ثلاثه ؤ په هغه روایتونو باندې استدلال کړې دي په کومو روایتونو کې چې داسې راغلي دي: نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تلاوت ځيني ایتونه لوستلي دي او سجده ئې نه ده کړې. (۳) نو احنافو د دې په جواب کې ویلي دي چې د احنافو په نزد باندې د تلاوت په سجده کې علی الفور سجده واجب نه ده.
د تلاوت سجده به د دوه ؤ تکبیرنو ترمنځ کولې شي او لنې تکبیر سجدې ته د تلو په وخت کې ویلي شي او دویم تکبیر به د سجدې نه د پورته کیدو په وخت کې ویلي شي د تلاوت د سجدې د پاره د تشهد د لاسونو د اوچتولو او سلام ګرځولو ته څه ضرورت نشته کوم شرطونه چې د مانځه د صحت د پاره دي همغه د تلاوت د سجدې د پاره هم شرط دي په نیت کې د سجدې د ایت تعین شرط نه دي

---

(۱) فتح القدیر ج ۱ صـ ۳۸۲.
(۲) فتح القدیر ج۱ صـ ۳۸۲.
(۳) ترمذي باب ماجاء من لم یسجد فیه.

Maktaba Tul Ishaat.com

که په مانځه کې د سجدې ایت تلاوت شي او فوراً ئې سجده وکړه نو نیت ته پکې څه ضرورت نشته. یعني نیت پکې شرط نه دي.

د تلاوت د سجدې په شمار کې اختلاف : په نوموړي باب کې بله مهم مسئله د تلاوت د سجدې د شمار ده په دې مسئله کې هم د علماؤ اختلاف دي علامه عیني د تلاوت د سجدو د شمار په باره کې د دولسو اقوال نقل کړي دي خو مونږ به دلته مشهور مذهبونه ذکر کوؤ .لکه احناف ، شوافو او موالک ، شوافع او احناف په دې باندې متفق دي چې په قرآن کریم د تلاوت ټول سجدې څوارلس دي خو په تعین کې ئې لږ شان اختلاف دي د شوافعو په نزد باندې د سورت حج سجدې دوه دي او د سورت ص د سجدې ایت د تلاوت سجده نه ګڼي او د احنافو په نزد باندې په سورت حج کې دوه سجدې نشته بلکه یوه سجده ده کومه چې په دویمه رکوع کې ده . او د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې د سجدو د ایتونو شمار یوولس دي او د ده په نزد باندې په النجم او انشقت او په اقرأ کې د تلاوت سجده نشته.

او د احنافو د مذهب مطابق د تلاوت د سجدو تفصیل دا دي : په (۱) سورت اعراف .(۲) رعد .(۳) نحل. (۴) بني اسرائیل .(۵) مریم . (٦) حج (۷) فرقان (۸) نمل (۹) الم السجده .(۱۰) ص (۱۱) حم السجده (۱۲) سورت النجم ، (۱۳) انشقاق ،(۱۴) العلق. (۱)

د باب د حدیثونو تشریح : نوموړي باب اولني (۸۰۵) روایت چې عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د النجم په سورت کې د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د تلاوت د سجدې کولو واقعه بیان کړي . د بخاري شریف په یو روایت کې راغلي دي چې د دغه شیخ نوم امیه بن خلف ؤ او دغه واقعه د مکي مکرمي د فتح نه مخکې واقع شوي ده امیه ابن خلف د قریشو یو عزتمند سردار ؤ او د پوره اثر رسوخ والا کس ؤ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د اسلام په مخالفت کې به ئې په ټولو د ساز شونو کې پوره کردار اداء کاوه او په خپله لوئي باندې به ئې فخر کاوه لکه چې کله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د النجم په سورت کې د تلاوت سجده کوله او مسلمانان او مشرکان ټول په یو ځل په سجده پریوتل ده : تکبر په وجه سجده ونه کړه او یو موټي خاوره ئې تندي ته راوچته کړه .(۲)

او د باب دویم (۸۰۶) حدیث چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دې کې هم دغه واقعه بیان کړي چې کله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د سجدې ایت ته ؤرسیده نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د الله جل شانه د حکم د

---

(۱) ایضاح الطحاوي ج ۲ صـ ۳٦٤-۳٦٥.

(۲) د مقصود ج ۲ صـ ۹۸۱

Maktaba Tul Ishaat.com

تابعدارئ په غرض سجده وکړه نو ټولو مسلمانانو د هغه په متابعت کې سجده وکړه او دغسې مشرکانو د خپلو بتانو لات، منات او عزیٰ د نوم په اوریدو سره هم سجده وکړه.

اویا دا ده چې د مشرکانو د سجدې سبب دا وُ چې رسول الله ﷺ کله په مسجد حرم دننه د النجم د سورت ایتونه (افرأیتم اللات والعزیٰ ومات الثالثة الاخریٰ. الکم الذکر وله الانثیٰ) تلاوت کړل نو شیطان رجیم خپل اواز د رسول الله ﷺ د اواز سره مشابه کړ او دا الفاظ ئې وویل چې (تلك الغرانیق العلیٰ وان شفاعتین لترتجیٰ) نو د مشرکانو دا باور راغې چې نعوذ بالله من ذلك چې رسول الله ﷺ زمونږ دبتانو توصیف وکړ نو په دې وجه دوي ډیر خوشحاله شو او د رسول اکرم ﷺ سره په سجده پریوتل. ځینو مفسرینو په دې ځای کې دا تفسیر کړې دی چې دغه الفاظ شیطان نه وُ ویلي بلکه نعوذ بالله، په خپله د رسول اکرم ﷺ د مبارکې ژبې نه سهواً وتلي وُ دا قول بالکل غلط دی او حقیقت همدا دی چې شیطان ملعون خپل اواز د رسول الله ﷺ د اواز ،سره مشابه کړي او دغه الفاظ ئې ویلي وُ مشرکینو دا فکر کاوه چې په خپله محمد ﷺ دغه الفاظ ویلي دي او د مسلمانانو مشرکانو جنیانو او د ټولو بني ادمانو نه مراد دا دی چې کوم کسان چې د رسول الله ﷺ سره په دغه وخت کې موجود وُ او د دې درېم (۸۰۷) حدیث کې چې حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه ئې روایت کړې په دې کې د رسول الله ﷺ د سجدې ذکر شوی دی داسې چې دا سجده د واجبو سجدو نه نده او احنافو ویلي دي چې دا سجده د فرائضو سجدو نه نده بلکه د تلاوت د واجبو سجدو نه ده او د شوافعو په نزد د (ص) په سورت کې سجده نشته بلکه د دې په ځای په سورت حج کې دوه سجدې دي او احناف حضرات په سورت حج کې د یوې سجدې قائل دي. امام شافعي رحمه الله په سورت (ص) کې په لیس من عزائم السجود حدیث باندې استدلال کړي دي احنافو ویلي دي چې د عزائم السجود د نفي نه مراد دا دي چې دا سجده د شکر په طریقې سره واجب ده علماؤ ویلي دي چې د (ص) په سجده کې د نبي اکرم ﷺ سجده کول د حضرت داؤد علیه السلام سره د موافقت او د هغه د توبې د قبولیت د شکر په ډول باندې وه لکه چې د (۸۰۹) د ابوسعید خدري د روایت او د (۸۱۰) د عوام بن حوشب د روایتونو همدغه مفهوم دي او په (۸۱۱) حدیث کې چې د ابي سلمه نه روایت شوي دي (اذا السماء انشقت) په سورت کې سجده ثابته ده د دې نه د امام مالک رحمه الله جواب وشو همدارنګه د حضرت ابوهریره رضی الله عنه نه روایت شوي دي چې سجدنا مع رسول الله ﷺ في اقرأ باسم

Maktaba Tul Ishaat.com

ربك . واذا السماء انشقت .(۱) دغسي مفصل سورتونه د سورت حجرات نه تر سورت ناس پوري دا ټول مفصل دي . د حجرات د سورت نه تر بروج پوري ديته طوال مفصل ويلي شي او د سورت بروج نه تر سورت بينه پوري ديته اوساط مفصل ويلي شي او د بينه نه تر ناس پوري ديته قصار مفصل ويلي شي او په (۸۱۲) حديث کې چې د مجاهد نه روايت شوي دي عبدالله ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حم السجده کې د تلاوت د دوه ؤ ايتونو اخر مقرر کړي دي په دي باره کې د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه دوه قوله دي قديم قول ئې دا دي چې د لا يسأمون نه مخکې ايت باندې د تلاوت سجده ده چې هغه ايت (ان کنتم آياه تعبدون) دي دا د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت شوي دي او د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ جديد قول دا دي چې د تلاوت سجده د لا يسأمون په ايت باندې ده او دا د ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت شوي دي د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په مذهب کې صحيح خبره همدا ده احناف، او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ هم د دي قائل دي او صاحب د هدائې ويلي دي چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دغه ځاي باندې سجده کړې ده ...

﴿اَبْوَابُ صَلَاةِ الْمُسَافِرِ﴾

د مسافر د مانځه بابونه

وضاحت : دمسافرې ابتدا او انتها سره سره دسفر په حالت کې دمونځ مختلف احکامات دي نو ځکه ددې عنوان تر لاندې په مختلفو بابونو کې دسفر مسائل بيان فرمايي.

﴿بَابُ الْقَصْرِ فِي الصَّلَاةِ﴾

په سفر کې د قصر باب

﴿۸۱۳﴾ عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا زَوجِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهَا قَالَتْ فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكعَتَينِ رَكعَتَينِ فِي الحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَاُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ وَزِيدَ فِي صَلَاةِ الحَضَرِ رواه الشيخان .(۳)

ترجمه : د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارکې زوجې حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې په سفر او په حضر کې مونځ دوه دوه رکعته فرض کړي شوي ؤ د سفر مونځ په خپل حال برقرار پاتې شو او د حضر

---

(۱) ترمذي ج۱ص ۱۰۱

(۲) فتح القدير .

(۳) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ص ۱۴۸ باب يقصر اذا خرج من موضعه ، مسلم كتاب صلوة المسافرين وقصرها ج۱ص ۲۴۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

يعني د اقامت په مانځه کې زياتوالي وشو . د دې حديث روايت شيخينو کړي دي .

﴿۸۱۴﴾ و عن ابن عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ فَرَضَ اللهُ الصَّلَاةَ عَلٰى لِسَانِ نَبِيِّكُمْ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْحَضَرِ أَرْبَعاً وَفِي السَّفَرِ رَكْعَتَيْنِ وَفِي الْخَوْفِ رَكْعَةً رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې الله جل شانه دستاسي د نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ژبه مونځ فرض کړي دي، په حضر يعني اقامت کې څلور رکعته او په سفر کې دوه رکعته او په خوف او ويره کې يو رکعت . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۸۱۵﴾ وَ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صَلَاةُ السَّفَرِ رَكْعَتَانِ وَ صَلَاةُ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَانِ وَ الْفِطْرِ رَكْعَتَانِ وَالْأَضْحٰى رَكْعَتَانِ تَمَامٌ غَيْرُ قَصْرٍ عَلٰى لِسَانِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه ابن ماجه و النسائي و ابن حبان واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د سفر مونځ دوه رکعته دي د جمعې مونځ دوه رکعته دي د واړه اختر مونځ دوه رکعته دي د لوئي اختر مونځ دوه رکعته پوره دي قصر نه دي د محمد - په مبارکه ژبه باندې دا خبره ثابته ده . د دې حديث روايت ابن ماجه ، نسائي او ابن حبان کړي دي او اسناد يې صحيح دي .

﴿۸۱۶﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَحِبْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ فَلَمْ يَزِدْ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللهُ وَ صَحِبْتُ أَبَابَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَلَمْ يَزِدْ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللهُ وَ صَحِبْتُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَلَمْ يَزِدْ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللهُ ثُمَّ صَحِبْتُ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَلَمْ يَزِدْ عَلٰى رَكْعَتَيْنِ حَتّٰى قَبَضَهُ اللهُ وَ قَدْ قَالَ اللهُ تعالى لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ رواه مسلم والبخاري مختصرا .(۳)

ترجمه : حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په سفر کې وُم نو رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوه وُ رکعتونو زيات والي نه دي کړي تر دې چې وفات کړ ده لره الله جل شانه او زه د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په سفر کې وُم هغه هم د دوه وُ رکعتونو نه زيات مونځ نه

---

(۱) مسلم كتاب صلوة المسافرين وقصرها ج۱ص ۲۴۱.

(۲) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۷۶ باب تقصير الصلوة في السفر ، نسائي كتاب تقصير الصلوة في السفر ج۱ص ۲۱۱ ، صحيح ابن حبان كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۹ فصل في صلوة السفر رقم الحديث ۲۷۲۵ .

(۳) مسلم كتاب صلوة المسافرين وقصرها ج۱ص ۲۴۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي کړي او زه د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په سفر کې وُم هغه هم د دوه ؤ رکعتونو نه زیات مونځ نه دي کړي. تردي چې وفات کړه لره الله جل شانه بیا زه د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره ملګري وم هغه هم د دوه ؤ رکعتونو نه زیات مونځ نه ؤ کړي تردي چې وفات کړه لره الله جل شانه او په تحقیق الله تعالی فرمایلي دي چې خامخا په تحقیق ستاسي د پاره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ډیره ښه نمونه ده. دا حدیث مسلم او بخاري په مختصر ډول سره روایت کړي دي.

﴿۸۱۷﴾ وَ عن عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ یزیدَ قَالَ صَلّٰی بِنَا عُثمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِمِنًی اَربَعَ رَکعَاتٍ فَقِیلَ ذٰلِكَ لِعَبدِ اللهِ بنِ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَاستَرجَعَ قَالَ صَلَّیتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمِنًی رَکعَتَینِ وَ صَلَّیتُ مَعَ اَبِی بَکرٍ الصِّدِیقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِمِنًی رَکعَتَینِ وَ صَلَّیتُ مَعَ عُمَرَ بنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رَکعَتَینِ فَلَیتَ حَظِّی مِن اَربَعِ رَکعَاتٍ رَکعَتَانِ مُتَقَبَّلَتَانِ رواه الشیخان.(۱)

ترجمه : عبدالرحمن بن یزید ویلي دي چې مونږ ته حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منی کې ځلور رکعته مونځ وکړو نو دا خبره عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وکړي شوه نو ده استرجاع وکړه وي ویل چې ما د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په منی کې دوه رکعته کړي او د ابوبکر صدیق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مي دوه رکعته په منی کې کړي او د حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره مي په منی کې دوه رکعته کړي کاش چې خما برخه هم د ځلورو نه دوه مقبول رکعتونه وي. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۸۱۸﴾ وَ عَن اَبِی لَیلَی الکِندِیِ قَالَ خَرَجَ سَلمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِی ثَلَاثَةَ عَشَرَ رَجُلًا مِن اَصحَابِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِی غَزَاةٍ وَ کَانَ سَلمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَسَنَّهُم حَضَرَتِ الصَّلَاةُ فَاُقِیمَتِ الصَّلَاةُ فَقَالُوا تَقَدَّم یَا اَبَا عَبدِ اللهِ فَقَالَ مَا اَنَا بِالَّذِی اَتَقَدَّمُ اَنتُمُ العَربُ وَ مِنکُمُ النَّبِیُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَلیَتَقَدَّم بَعضُکُم فَتَقَدَّمَ بَعضُ القَومِ فَصَلّٰی اَربَعَ رَکعَاتٍ فَلَمَّا قَضَی الصَّلَاةَ قَالَ سَلمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَا لَنَا وَ لِلمُرَبَّعَةِ وَاِنَّمَا یَکفِینَا نِصفُ المُرَبَّعَةِ رواه الطحاوي و اسناده صحیح.(۲)

ترجمه : ابو لیلی کندي ویلي دي چې حضرت سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دیارلس کسه اصحابو سره په یوه غزا کې راوُواته او سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د دوي نه په عمر کې مشر ؤ د مانځه وخت شو نو د مانځه د پاره اقامت وشو نو صحابه ؤ وویل چې ای ابوعبدالله مځکې شه ابو عبدالله

---

(۱) بخاري ابواب تقصیر الصلوة ج۱ص ۲۴۷ باب ماجاء في التقصیر .....الخ .مسلم کتاب صلوة المسافرین وقصرها ج۱ص۲۴۳.

(۲) طحاوي کتاب الصلوة ج۱ص ۲۸۶ باب صلوة المسافر .

Maktaba Tul Ishaat.com

ویل چې زه نه مخکې کیلأم تاسو عرب استې او نبي د ستاسو نه دي ستاسي نه دي یو کس مخکې شي نو د دي خلکو نه یو کس مخکې شو نو څلور رکعته ئې وکړل نو کله ئې چې مونځ پوره شو سلمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وویل چې زمونږ د څلورو رکعتونو سره څه کار دي خمونږ د څلورو نیمائي کافي وُ . د دي حدیث روایت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحیح دي .

﴿۸۱۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ حُمَيْدٍ عَنْ اَبِيْهِ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ اَتَمَّ الصَّلَاةَ بِمِنًى ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ فَقَالَ يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ السُّنَّةَ سُنَّةُ رَسُوْلِ اللهِ وَ سُنَّةُ صَاحِبَيْهِ وَ لٰكِنَّهُ حَدَثَ الْعَامُ مِنَ النَّاسِ فَحِفْتُ اَنْ يَسْتَنُّوْا رواه البيهقي في المعرفة تعليقا و حسن اسناده .(۱)

ترجمه : عبدالرحمٰن بن حمید د خپل پلار په ذریعه د حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت کړي دي چې هغه یعني عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منې کې پوره مونځ وکړ بیا ئې خلکو نه خطبه وویله نو وي ویل چې اي خلکو بې شکه سنت د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت دي او د هغه د دوه وُ ملګرو سنت دي خو ولې په دي کال کې څه نوي خلک دي نو زه وُ یرېدم چې خلک دا هم سنت وګڼي . د دي حدیث روایت بیهقي په معرفت کې تعلیقًا کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۸۲۰﴾ وَ عَنِ الزُّهْرِيِّ قَالَ اِنَّمَا صَلّٰى عُثْمَانُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِمِنًى اَرْبَعًا لِاَنَّ الْاَعْرَابَ كَانُوْا اَكْثَرَ فِيْ ذٰلِكَ الْعَامِ فَاَحَبَّ اَنْ يُخْبِرَهُمْ اَنَّ الصَّلَاةَ اَرْبَعٌ رواه الطحاوي و ابوداود و اسناده مرسل قوي .(۲)

ترجمه : زهري ویلي دي چې بې شکه حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منې کې څلور رکعته مونځ وکړ ځکه چې په دي کال کې باندې چیان خلک ډیر زیات وُ نو دائې ښه وګنړله چې خلک په دي خبر کړي چې مونځ څلور رکعته دي دي حدیث روایت طحاوي او ابوداوُد کړي او اسناد ئې مرسل قوي دي .

قصر عزیمت دي یا رخصت ؟

فائده : په سفر کې څلور رکعتیز مونځ دوه رکعته کول "قصر" او پوره څلور رکعته کول "اتمام" ورته ویلي کیږي .

مسئلة الباب : قصر في السفر واجبٌ يعني عزيمت دي يا مندوب ومستحب يعني رخصت ؟

۱. دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دمشهور روایت مطابق قصر رخصت دي او اتمام افضل او عزیمت. دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ نه هم یو روایت داسي دي . (رحمة الامه ، ص: ۵۳)

---

(۱) معرفة السنن والآثار ، وايضًا سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ــ ۱۴۴ باب من ترك القصر في السفر غير رغبة عن السنة .

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ــ ۲۸۹ باب صلوة المسافر ، ابوداود كتاب المناسك ج۱ــ ۲۷۰ باب الصلوة بمنى .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲.دحنفیو په نزد قصر واجب او اتمام ناجائز دي ځکه چې په سفر کې هم دوه رکعت کول عزیمت دي.

شافعیه او دنورو ائمو دلائل:

۱... آیت " فَلَيْسَ عَلَيْكُمْ جُنَاحٌ أَنْ تَقْصُرُوا مِنَ الصَّلٰوةِ * إِنْ خِفْتُمْ أَنْ يَّفْتِنَكُمُ الَّذِيْنَ كَفَرُوا "دکوم نه چې معلومیږي چې دمسافر لپاره قصر دسهولت لپاره دي که هغه قصر اوکړي نو په دې کې هیڅ حرج نشته، دنفي حرج تقاضا داده چې که اوغواړي نو اتمام هم کولې شي کوم چې اصل دي.

۲... دحضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دسوال په جواب کې دحضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وینا " صدقة تصدق الله بها عليكم فاقبلوا صدقة" (متفق عليه)

معلومه شوه چې دقصر حکم لپاره دتخفیف او سهولت دي چې هغې لره یې تعبیر په صدقې سره اوفرمایلو او متصدق علیه باندې صدقه قبلول واجب نه دي.

۳. حضرت عائشه رضي الله عنها هر ځاي او حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په منی کې په حالت دسفر اتمام کولو.

دحنفیو دلائل:

۱... دحضور اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دمشهورو روایاتو په اعتبار سره پخپل سفرونو کې هم قصر ثابت دي، همیشه به یې قصر فرمایلو که اتمام جائز کیدلې نو کله خو به حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دبیان جواز لپاره داسې کولې.

۲... دعائشې رضي الله عنها حدیث: " فُرِضَتِ الصَّلَاةُ رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ فِي الْحَضَرِ وَالسَّفَرِ فَأُقِرَّتْ صَلَاةُ السَّفَرِ وَزِيدَ فِي صَلَاةِ الْحَضَرِ" معلومه شوه چې دسفر دوه رکعتونه دتخفیف په بناء باندې نه دي بلکې پخپلې اصلي فریضي باندې برقرار دي لهذا هغه عزیمت دي نه رخصت.

۳... دجمهور صحابه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ او دتابعینو رَحِمَهُمُ اللّٰهُ همدغه مسلک دي.

شافعیه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ ته جوابونه:

۱... په آیت کې نفي دجناح دایو داسې تعبیر دي کوم چې په واجب باندې هم صادق راځي او داسې دي لکه څنګه چې د سعي په باره کې ویلې شوي دي " فَمَنْ حَجَّ الْبَيْتَ أَوِ اعْتَمَرَ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْهِ أَنْ يَّطَّوَّفَ بِهِمَا " (البقرہ:۱۵۸) حالانکه سعي بالاتفاق واجب ده.

۲... حدیث " صدقة تصدق الله... الخ " نه داستدلال جواب دادي چې دداسې شي تصدق کوم کې چې دتملیک احتمال نه وي لکه دلته رکعتین نو هغه په حکم داسقاط کې وي یعني صاحب حق خپل

Maktaba Tul Ishaat.com

حق لره ساقط کړ لهذا ددې تحقق دبل کس په قبلولو باندې موقوف نه دې بلکه په هر حال کې ساقطیږي . همدارنګه " فاقبلوا صدقة " دامر صیغه ده دکوم نه چې معلومیږي چې قصر في السفر واجب دې . (الدر المنضود : ۴۸۲/۲)

۳... حضرت عائشه رضي الله عنها او عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دتاویل په کولو کې اتمام کوي چنانچې چې کله دعروه بن زبیر نه پوښتنه اوکړې شوه نو هغه جواب ورکړ : " تأولت کما تأول عثمان " معلومه شوه چې هغه سره داتمام هیڅ دلیل دنص نه، نه وو ورنه ضرور به یې وړاندې کولو . دحضرت عائشې رضي الله عنها تاویل دا وو چې دقصر مدار وجود مشقت باندې دې . دحضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دري تاویلونه مروي دي :

۱... حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوفرمایل : " تأهلت بمكة " ما مکه کور ګرځولې دې (لهذا زه اوس دسفر په مدت کې نه یم).

۲... حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منی کې داقامت نیت کړې وو .

۳... دامام زهري رَحِمَهُ اللهُ دروایت مطابق په دې کال باندیچیان خلک دیر وو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دهغه خلکو په رعایت کې اتمام اوکړو ترڅو چې رکعتونو په تعداد کې ورته څه اشتباه پیدا نشي .

﴿ بَابُ مَن قَدَّرَ مُسَافَةَ القَصرِ بِأَربَعَةِ بُرُدٍ ﴾

په څلورو بردو باندې د قصر د مسافې د اندازه کولو باب

﴿۸۲۱﴾ عَن عَطَاءِ بنِ أَبِي رَبَاحٍ أَنَّ ابنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَابنَ عَبَّاسٍ كَانَا يُصَلِّيَانِ رَكعَتَينِ وَ يفطِرَانِ فِي أَربَعَةِ بُرُدٍ فَمَا فَوقَ ذٰلِكَ رواه البيهقي وابن المنذر بأسناد صحيح .(۱)

ترجمه : د عطاء ابن ابي رباح نه روایت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په څلورو بردونو او منزلونو کې یا د دې نه زیات دوه رکعته مونځ کاوه او د روژې افطار به ئې کاوه . د دې حدیث روایت البیهقي او ابن المنذر کړي دي په صحیح اسناد سره .

﴿۸۲۲﴾ وَ عَنه عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّه سُئِلَ القَصرُ أَقصَرُ الصَّلَاةِ إِلَى عَرَفَةَ قَالَ لَا وَ لٰكِن إِلَى عُسفَانَ وَإِلَى جُدَّةَ وَإِلَى الطَّائِفِ اخرجه الشافعي و قال الحافظ ابن حجر في التلخيص اسناده صحيح .(۱)

---

(۱) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ صـ ۱۳۷ باب السفر الذي تقصر الصلوة في مثله الصلاة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او د عطاء ابن ابي رباح نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د مانځه د قصر په باره کې پوښتنه شوې وه چې ته د عرفات پورې مسافه کې قصر کوي هغه وويته وويل چې نه خو ولي د عسفان، جدي او طائف پورې مسافه کې قصر کوم. د دې حديث اخراج شافعي رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او حافظ بن حجر رَحِمَهُ اللهُ په تلخيص کې ويلي دي چې اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۲۳﴾ وَعَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ رَكِبَ إِلَى رِيمٍ فَقَصَرَ الصَّلَاةَ فِي مَسِيرَةِ ذٰلِكَ رواه مالك و اسناده صحيح. (۲)

ترجمه : د سالم بن عبدالله نه روايت دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ريم ترځاي پورې سفر کړي وُ نو هغه د خپل سفر په دوران کې د قصر مونځ کړي وُ. د دې حديث روايت مالک کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۲۴﴾ وَعَنْهُ أَنَّ عَبْدَ اللّٰهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رَكِبَ إِلَى ذَاتِ النَّصَبِ فَقَصَرَ الصَّلَاةَ فِي مَسِيرِهِ ذٰلِكَ رواه مالك و اسناده صحيح. (۳)

قَالَ النِّيمَوِي وَقَدْ رُوِيَ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خِلَافُ ذٰلِكَ.

ترجمه : او د سالم بن عبدالله نه روايت دي چې حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تر ذات النصب پورې سفر کړي وُ نو هغه په خپل دغه سفر کې د قصر مونځ کړي وُ. د دې حديث روايت مالک رَحِمَهُ اللهُ کړي او اسناد ئې صحيح دي.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې په تحقيق د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه د دې خلاف هم روايت شوي.

﴿۸۲۵﴾ عَنْ نَافِعٍ أَنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ أَدْنَى مَا يَقْصُرُ فِيهِ مَأْنٌ لَه بِخَيْبَرَ رواه عَبْدِ الرزاق و اسناده صحيح. (۴)

قال النيموي بين المدينة و خيبر ثمانية برد.

---

(۱) مسند امام شافعي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۸۵ باب الثامن عشر في صلوة المسافر رقم الحديث ۵۲۶، تلخيص الحبير كتاب صلوة المسافرين ج۲ص ۴۶.

(۲) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ص ۱۳۰ باب ما يجب فيه قصر الصلوة.

(۳) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ص ۱۳۰ باب ما يجب فيه قصر الصلوة.

(۴) مصنف عبدالرزاق كتاب الصلوة ج۲ص ۵۲۶ باب في كم يقصر الصلوة رقم الحديث ۴۳۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د نافع نه روایت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ټولو نه په کمه مسافه کې چې په هغې کې ئې قصر فرمایلي وُ په خیبر کې تر خپلې ځمکې پورې وُ . د دې حدیث روایت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې صحیح دي . نیموي رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي چې د خیبر او د مدینې تر منځ اته برده ده .

مسئلة الباب : په خومره مسافت کې قصر جائز دي ؟

۱. دائمه ثلاثه رَحِمَهُ اللهُ په نزد دقصر مسافت یعنې دشرعي سفر مقدار صرف دوه ورځې بغیر دشمول دشپې نه او یا یو ورځ او یو شپه ، یا دوه مرحلې او مرحله یو لوي منزل ته وایي . یا ځلور برد ، برد د برید جمع ده . برید وړوکي منزل ته وایي کوم چې دولس میله وي یعنې وارې ځلور منزلونه ، یا لوي دوه منزلونه . یا شپاړس (۱۶) فرسخ ، یو فرسخ دري میله وي لهذا شپاړس فرس اته ځلویښت (۴۸) میله شو .

۲... دحنفیو په نزد ددریو ورځو دسفر مسافت کوم ته چې دري مراحل هم وایي دا دواړه جلیل القدر صحابیانو به په دومره مسافت په سفر باندې قصر کولو دکوم تحدید چې تقریبا اربعة برد دي .

قوله " ولكن الى عسفان والى جده والى الطائف" : امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمایي دا مقامات دمدیني منورې نه ځلور برده باندې واقع دي .

ذات النصب: دا هم دمدیني منورې نه په ځلور برده فاصله باندې واقع دي .(التعلیق الحسن)

قوله " قال النيموي : وقد روي عن ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلاف ذلك : مصنف رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه چې څنګه ځلور بریده باندې قصر منقول دي دغه شان زیات مسافت هم منقول دي چنانچې دنافع درواېت مطابق دوي به کم نه کم دمدیني منورې نه تر خیبر پورې مسافت باندې قصر کولو کوم چې اته برده دي لهذا ددوي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مختلف روایات منقول دي .

﴿بَابُ مَا اسْتُدِلَّ بِهِ عَلَى أَنَّ مَسَافَةَ الْقَصْرِ ثَلَاثَةُ أَيَّامٍ﴾

باب دي په بیان دهغه روایتونو کې چې په هغه سره استدلال کولې شي په دي باندې چې د قصر مسافه دري ورځې ده

﴿۸۲۶﴾ عَنْ شُرَيْحِ بْنِ هَانِئٍ قَالَ أَتَيْتُ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَسْأَلُهَا عَنِ الْمَسْحِ عَلَى الْخُفَّيْنِ فَقَالَتْ عَلَيْكَ بِابْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَاسْأَلْهُ فَإِنَّهُ كَانَ يُسَافِرُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَسَأَلْنَاهُ فَقَالَ جَعَلَ

Maktaba Tul Ishaat.com

رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيمِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : شريح بن هانئ ويلي دي چې زه حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته راغلم ما ورنه په موزو باندې د مسح په باره کې پوښتنه وکړه هغې وويل چې ته ابن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورشه نو د هغه نه پوښتنه وکړه بې شکه چې هغه به د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره سفر کاوه نو مونږ د هغه نه پوښتنه وکړه نو ابن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دري ورځې او دري شپې د مسافر د پاره او يوه ورځ او يوه شپه د مقيم د پاره مقرره فرمايلي ده . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۸۲۷﴾ وَعَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَعَلَ لِلْمُقِيمِ يَوْمًا وَلَيْلَةً وَتُقْصَرُ الصَّلَاةُ فَقَالَ أَتَعْرِفُ السُّوَيْدَاءَ قَالَ قُلْتُ لَا وَلَكِنِّي قَدْ سَمِعْتُ بِهَا قَالَ هِيَ ثَلَاثُ لَيَالٍ قَوَاصِدَ فَإِذَا خَرَجْنَا إِلَيْهَا قَصَرْنَا الصَّلَاةَ رواه محمد بن الحسن في الآثار و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت ابي بکره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په موزو باندې د مسح په باره کې د مقيم د پاره يوه ورځ او يوه شپه او د مسافر د پاره دري ورځې او دري شپې مقرري کړي دي او د مانځه قصر به ئې کاوه نو هغه وويل چې سويدا پيژني ابي بکره وائي چې ما وويل چې نه خو ولي نوم مي ئې اوريدلي دي هغه وويل چې دا په درميانه تګ سره د دري ؤ ورځو فاصله ده کله چې مونږ دي طرف ته ووځو نو قصر مونځ کوو . د دي حديث روايت محمد بن الحسن په الاثار کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۲۸﴾ وَعَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبِيعَةَ الْوَالِبِيِّ قَالَ سَأَلْتُ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِلَى كَمْ تُقْصَرُ الصَّلَاةُ فَقَالَ أَتَعْرِفُ السُّوَيْدَاءَ قَالَ قُلْتُ لَا وَلَكِنِّي قَدْ سَمِعْتُ بِهَا قَالَ هِيَ ثَلَاثُ لَيَالٍ قَوَاصِدَ فَإِذَا خَرَجْنَا إِلَيْهَا قَصَرْنَا الصَّلَاةَ . رَوَاهُ مُحَمَّدُ بْنُ الْحَسَنِ فِي الْآثَارِ وَإِسْنَادُهُ صَحِيحٌ .(۳)

ترجمه : علي بن ربيعه الوالبي ويلي دي چې ما د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه پوښتنه کړي وه چې تر کومې اندازې پورې د قصر مونځ کولی شي نو هغه وويل چې سويدا پيژني ربيعه ويلي دي چې ما وويل نه خو ولي نوم مي ئې اوريدلي دي هغه وويل چې دا په درميانه تګ سره د دريو ورځو

---

(۱) مسلم كتاب الطهارة ج ۱ ص ۱۳۵ باب التوقيت في المسح على الخفين .

(۲) منتقى ابن الجارود ص ۳۹ باب المسح على الخفين .

(۳) كتاب الآثار ص ۳۹ باب الصلوة في السفر

Maktaba Tul Ishaat.com

ناصله ده کله چې مونږ دې طرف ته ډوډۍ نو قصر مونځ کوو. د دې حدیث روایت په اثار کې محمد بن الحسن کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۸۲۹﴾ وَعَنْ إِبْرَاهِيمَ بْنِ عَبْدِ اللهِ قَالَ سَمِعْتُ سُوَيْدَ بْنَ غَفَلَةَ الْجُعْفِيَّ يَقُولُ إِذَا سَافَرْتَ ثَلَاثًا فَاقْصُرْ

رواه محمد بن الحسن في الصحيح و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : ابراهیم بن عبد الله ویلي دي چې ما د سوید بن غفله الجعفي نه اوریدلي دي چې ویل به ئې چې کله ته دري ورځې سفر وکړې نو قصر کوه. د دې حدیث روایت په صحیح کې محمد بن الحسن کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

وضاحت : دباب ټول روایتونه دحنفیو مؤید دي اولني او دویم روایت مطابق حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمسافر لپاره دمسح مدت دري ورځې او دري شپې مقرر فرمایلي. معلومه شوه چې په سفر شرعي کې ددري ورځو اعتبار دې که ددري ورځو مسافت نه وي نو بیا به دمسح مدت نه پوره کیږي.

دریم روایت اثر دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دې کوم کې چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سائل ته دمسافت قصر حد "سویداء" سره اوکړ او چې کله سائل سویداء لره اونه پیژندو نو بیا حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددریو ورځو په درمیانه رفتار سره ددې تشریح اوکړه نو معلومه شوه چې ددې نه دکم مدت په سفر کې قصر نشته ځلورم روایت دسوید بن غفله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اثر دې او هغه بالکل واضح دې.

"التعليق الحسن" کې مصنف رَحِمَهُ اللهُ دحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول هم ذکر کړې دې چې "**تقصر الصلاة في مسيرة ثلاثة ليال**" (بحواله کنز العمال) همدرانګه حضرت عثمان، ابن مسعود، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ نخعي رَحِمَهُ اللهُ شعبي رَحِمَهُ اللهُ او نورو صحابو او تابعینو به هم ددریو ورځو دمسافت اعتبار کولو.

تقریب بین اقوال الائمه : شاه ولي الله رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې دحنفیو په نزد دري ورځې دسحر نه تر مانښامه پوري تلل لازم نه دي بلکې دصحیح قول مطابق که دري ورځې دسحر نه تر مانښامه تلل شروع کړي او تر زوال پورې روان وي بیا چرته دمه اوکړي نو دا هم صحیح ده او په همدومره مسافت باندې قصر کولې کیږي، بل طرفته ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ ددوو ورځو قول هم اختیار کړې دې دکوم مطابق چې دوه ورځې دسحر نه تر مانښام تلل معتبر دي. په دې اعتبار سره دائمه اربعو دواړه اقوال یو بل سره قریب دي همدغه وجه ده چې دمتاخرینو اکثریت دعوام الناس دآسانۍ لپاره ددریو ورځو دمسافت تحدید پنځلس یا شپاړس یا اتلس فرسخه سره کړې دې او اوس اته ځلویښت میل لره سفر

---

(۱) كتاب الحجة ج۱ صـ ۱۶۸ باب صلوة المسافر والمريض. اخبرنا ابو حنيفة عن عبدالاعلى وابراهيم بن عبدالله هو خطاء.

Maktaba Tur Ishaat.com

شرعي ګرځولې کيږي.
داهل ظواهرو قول دتولو نه جدا دي چې دقصر لپاره د مطلق سفر موجوديدل هم کافي دي ليکن ددوي په حق کې څه صريح مرفوع يا موقوف روايت نشته دي. (التعليق الحسن بتغير)

﴿بَابُ القَصرِ إِذَا فَارَقَ البُيُوتَ﴾
د کورونو نه د جدا کيدو په وخت کې د قصر باب

﴿۸۳۰﴾ عَنِ ابْنِ هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَافَرتُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَمَعَ أَبِي بَكرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كُلُّهم صَلَّى مِن حِينَ يخرُجُ مِنَ المَدِينَةِ إِلَى أَن يرجِعَ إِلَيهَا رَكعَتَينِ فِي المَسِيرِ وَالقِيَامِ بِمَكةَ رواه ابو يعلي والطبراني و قال الهيثمي رجال ابي يعلي رجال الصحيح.(۱)

ترجمه: حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره او د ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره او د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره سفر کړي دي دي تولو حضراتو د مدينې منوري نه د وتلو د وخت نه مدينې منوري ته د واپس تګه پورې د سفر په دوران کې او د مکې په قيام کې دوه رکعته اداء کړې وُ. د دي حديث روايت ابو يعلي او طبراني کړي دي او هيثمي ويلي دي چې رجال د ابو يعلي رجال د صحيح رجال دي.

﴿۸۳۱﴾ وَعَن أَبِي حَربِ بنِ الأَسوَدِ الدِّيلِي أَنَّ عَلِياً رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خَرَجَ مِنَ البَصرَةِ فَصَلَّى الظُّهرَ أَربَعاً ثُمَّ قَالَ إِنَّا لَو جَاوَزنَا هٰذَا الخُصَّ لَصَلَّينَا رَكعَتَينِ رواه ابن ابي شيبة و رواته ثقات.(۲)

ترجمه: د ابي الحرب ابن ابي الاسود الديلي نه روايت دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د بصري نه راوواته نو د ماسپښين مونځ ئې څلور رکعته وکړل بيا ئې وويل که چرې مونږ د دغه جونپړي تير شو نو خامخا به مونږ دوه رکعته مونځ کوو. د دي حديث روايت ابن ابي شيبه کړي دي او راويان ئې ثقه دي.

﴿۸۳۲﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّه كَانَ يقْصُرُ الصَّلَاةَ حِينَ يخرُجُ مِن شُعَبِ المَدِينَةِ وَيقْصُرُ إِذَا

---

(۱) مسند ابي يعلي الموصلي ج ۱۰ صـ ۲۵۶ رقم الحديث ۵۸۴۲ ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲صـ ۱۵۶ باب صلوة السفر نقلًا عن ابي يعلى والطبراني في الاوسط.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۴۴۹ رقم الحديث [illegible] الصلوة

Maktaba Tul Ishaat.com

رَجَعَ حَتّٰى يَدْخُلَهَا رواه عبد الرزاق و اسناده لا بَاسَ بِهٖ.(۱)

ترجمه : ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به چې کله د مدينې د دري نه وواته نو قصر مونځ به ئې کاوه او کله به چې واپس شو تر دي چې مدينې ته به ورسيده قصر مونځ به ي کاوه . د دي حديث روايت عبدالرزاق کړي او اسناد ئې لا بأس دي.

مسئلة الباب :تقريبي طور باندې دائمو اربعو رحمهم الله مسلک دادې : " اذا خرج من بيوت المصر او القرية قصر " يعني د کلي او د ښار د آبادئ د تلو نه پس په مونځ کې دي قصر شروع کړي. (اوګورئ: بداية المجتهد ، ص: ۱۳۸) دباب روايات په همدې مسلک باندې :لالت کوي.

﴿بَابٌ يَقْصُرُ مَنْ لَمْ يَنْوِ الْإِقَامَةَ وَإِنْ طَالَ مُكْثُهُ وَالْعَسْكَرُ الَّذِي دَخَلَ أَرْضَ الْحَرْبِ وَإِنْ نَوَوُا الْإِقَامَةَ﴾

دا باب دي چا چې د اقامت نيت نه وي کړي قصر به کوي اګر چې اوږده زمانه پرې تيره شي او هغه عسکر به هم قصر کوي کوم چې د کفر خاورې ته ننوتې وي اګر چې د اقامت نيت ئې کړې وي

﴿۸۲۳﴾ عَنْ عِكْرِمَةَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تِسْعَةَ عَشَرَ يَقْصُرُ فَنَحْنُ إِذَا سَافَرْنَا تِسْعَةَ عَشَرَ قَصَرْنَا وَإِنْ زِدْنَا أَتْمَمْنَا رواه البخاري.(۲)

ترجمه : د عکرمه نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نولسو ورځو پورې اقامت کړي وُ قصر به ئې کاوه . د دي حديث روايت ابوداوُد کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۲۴﴾ وَعَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أَقَامَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ عَامَ الْفَتْحِ خَمْسَ عَشْرَةَ يُقْصُرُ الصَّلَاةَ رواه ابوداود و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د عبيدالله بن عبدالله نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مکي کې د فتح په کال پنځلس ورځې اقامت کړي وُ قصر به ئې کاوه . د دي حديث روايت ابوداوُد کړي او اسناد ئې صحيح دي.

---

(۱) مصنف عبدالرزاق صلاة المسافر متى يقصر اذا خرج مسافراً رقم الحديث ۴۳۲۲ .

(۲) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ص ۱۴۷ باب ماجاء في القصر وكم يقيم حتى يقصر .

(۳) ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۳ باب متى يتم المسافر

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۸۳۵﴾ وَ عَن عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ المِسوَرِ قَالَ كُنَّا مَعَ سَعدِ بنِ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ فِي قَريةٍ مِن قُرَى الشَّامِ فَكَانَ يُصَلِّي رَكعَتَينِ فَنُصَلِّي نَحنُ أَربَعاً فَنَسأَلُه عَن ذٰلِكَ فَيَقُولُ سَعدٍ نَحنُ أَعلَمُ رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : عبدالرحمن بن المسور ويلي دي چې مونږ د حضرت سعد بن ابي وقاص سره د شام د کلو نه په يو کلي کې وُ هغه به دوه رکعته اداء کول او مونږ به څلور رکعته کول نو مونږ د هغه نه پدې باره کې پوښتنه وکړه نو سعد رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ وويل مونږ په دي ښه پوهيږو . د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۳۶﴾ وَ عَن أَبِي جَمرَةَ نَصرِ بنِ عِمرَانَ قَالَ قُلتُ لِابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ إِنَّا نُطِيلُ القِيَامَ بِخُرَاسَانَ فَكَيفَ تَرَى قَالَ صَلِّ رَكعَتَينِ وَإِن أَقَمتَ عِشرِينَ سِنِينَ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : ابي جمره نصر بن عمران ويلي دي چې ما ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ته وويل چې مونږ په خراسان کې اوږده زمانه تيره کړه نو ستا څه خيال دي هغه وويل چې دوه رکعته کوه اګرچې لس کاله تير کړي . د دي حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه کړي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۳۷﴾ وَ عَن نَافِعٍ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ ارتَجَّ عَلَينَا الثَّلجُ وَ نَحنُ بِأَذَربِيجَانَ سِتَّةَ أَشهُرٍ فِي غَزَاةٍ قَالَ ابنُ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ وَ كُنَّا نُصَلِّي رَكعَتَينِ رواه البيهقي في المعرفة و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د نافع نه روايت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ويلي دي چې په يوه غزا کې مونږ اذربيجان کې چې په مونږ باندې تر شپږو مياشتو پوري مسلسله واوره وُوربده حضرت ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ويلي وُ چې مونږ به دوه رکعت کول . د دي حديث روايت په معرفه کې بيهقي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۳۸﴾ وعنِ الحَسَنِ قَالَ كُنَّا مَعَ عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ بِبَعضِ بِلَادِ فَارِسٍ سَنَتَينِ فَكَانَ لَا يَجمَعُ وَلَا يَزِيدُ عَلٰى رَكعَتَينِ رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح.(۴)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۲۸۶ باب صلوة المسافر .

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ صـ ۴۵۳ باب في المسافر يطيل المقام في المصر .

(۳) معرفة السنن والآثار كتاب الصلوة ج۴ صـ ۲۷۴ رقم الحديث ۶۱۴۸ ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ صـ ۱۵۳ باب من قال يقصر أبداً ما لم يجمع مكثاً .

(۴) مصنف عبدالرزاق صلوة المسافر ج۲ صـ ۵۳۲ باب الرجل يغزو في أرض العدو فيطيل المقام ۴۳۰۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حسن ویلي دي چې مونږ د عبدالرحمن بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د فارس په بعض ښارونو کې دوه کاله وُ نو هغه به نه د جمعې مونځ کاوه او نه به ئې د دوه وُ رکعتونه زیات مونځ کاوه. د دې حدیث روایت عبدالرزاق کړي او اسناد ئې ضحیح دي.

﴿۸۳۹﴾ و عن أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَقَامُوا بِرَامَهُرْمُزَ تِسْعَةَ أَشْهُرٍ يُقْصِرُونَ الصَّلَاةَ رواه البيهقي و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرامو په رامهرمز کې نه میاشتي وخت تیر کړي وُ په دغه موده کې ئې د قصر مونځ کاوه. د دې حدیث روایت البیهقي کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

مسئلة الباب : که مسافر په یو کلي کې یو څو ورځې متعین دپاتي کیدو نیت اونکړي بلکې دهغه اراده دا وي چې بس نن سبا کې چې کله هم خپل غرض پوره کړم نو وطن ته به واپس لاړ شم لیکن تر دیر وخته پورې په دغه کلي کې پاتي شو نو هغه به په دې ټول مدت کې قصر کوي، دغه شان عساکر المسلمین که په دارالحرب کې ددشمن سره په ټکر وي او هغه هلته داقامت نیت اوکړي نو په دارالحرب کې دهغه دا نیت معتبر نه دي بلکه هغه به په دې وخت کې قصر کوي که څومره ورځې هم تیرې شي دا دواړه مسئلې دائمه اربعو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد متفق علیه دي البته امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ نه یو روایت دا چې په دې صورتونو کې به اتلس ورځې قصر کوي او دهغې نه پس به اتمام لیکن ددې باب دروایاتو نه دمتفق علیه قول تائید کیږي.

قوله " فنحن اذا سافرنا تسعة عسر قصرنا " دا دحضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رائ ده ورنه راروان روایت دهمده نه مروي دي دکوم مطابق چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دفتحې مکې په موقع باندې صرف پنځلس ورځې په مکه مکرمه کې قیام اوفرمایلو.

﴿بَابُ الرَّدِّ عَلَى مَنْ قَالَ إِنَّ الْمُسَافِرَ يُصَلِّي بِنِيَّةِ إِقَامَةِ أَرْبَعَةِ أَيَّامٍ﴾

په هغه چاباندې چې ویلي ئي دي چې مسافر د خلورو ورځو داقامت په نیت باندې مقیم ګڼلې شي د باب

﴿۸۴۰﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَرَجْنَا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الْمَدِينَةِ إِلَى مَكَّةَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ رَكْعَتَيْنِ حَتَّى رَجَعَ قُلْتُ كَمْ أَقَامَ بِمَكَّةَ قَالَ عَشْرًا رواه الشيخان.(۲)

---

(۱) سنن الکبری للبیهقي کتاب الصلوة ج۳ــ ۱۵۲ باب من قال یقصر ابدا ما لم یجمع مکثا.

(۲) الفرع ابواب تقصیر الصلوة ج۱ــ ۱۲۷ باب ماجاء فی القصر وکم یقیم ...الخ، مسلم کتاب صلوة المسافرین ج۱ــ ۲۴۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د مدينې منورې نه مکې معظمې پورې په سفر ؤ وتو نو د واپس راتلو تر وخته پورې ئې دوه دوه رکعته مونځ کاوه راوي ويلي دي چې ما وويل د څومره وخته پورې په مکه کې اوسيده هغه وويل لس ورځې. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿بَابُ مَن قَالَ اِنَّ الْمُسَافِرَ يُصَلِّيْ مُقِيمًا بِنِيَةِ اِقَامَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَومًا﴾

باب د هغه کس په باره کې دي چې ويلي ئي دي چې مسافر د پنځلسو ورځو د اقامت په نيت سره مقيم کيږي

﴿۸۴۱﴾ عَن مُجَاهِدٍ قَالَ اِنَّ ابْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ اِذَا اَجْمَعَ عَلَى اِقَامَةِ خَمْسَةَ عَشَرَ يَومًا اَتَمَّ الصَّلَاةَ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : مجاهد رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به کله د پنځلسو ورځو د ايسارېدو نيت کړي ؤ نو پوره مونځ به ئې ادا کاوه. د دې حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۴۲﴾ وَ عَنْه عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه اِذَا اَرَادَ اَنْ يُقِيمَ بِمَكَةَ خَمْسَةَ عَشَرَ سَرَّجَ ظَهرَه وَ صَلّٰى اَرْبَعاً رواه محمد بن الحسن في كتاب الحج و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د مجاهد نه روايت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې کله په مکه مکرمه کې د پنځلسو ورځو د ايسارېدو نيت کړي ؤ نو د اس د شانه به ئې زين لري کړ او څلور رکعته مونځ به ئې کاوه. د دې حديث روايت محمد بن الحسن په کتاب الحج کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۴۳﴾ وَ عَنْه عَن عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اِذَا كُنتَ مُسَافِرًا فَوَطَّنتَ نَفسَكَ عَلَى اِقَامَةِ خَمسَةَ عَشَرَ يَومًا فَاَتِمِّ الصَّلَاةَ وَاِن كُنتَ لَا تَدرِي فَاقصُر رواه محمد بن الحسن في الآثار و اسناده حسن.(۳)

ترجمه : د مجاهد نه روايت دي چې حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کله چې ته مسافر ئې او د خپل ځاي د پاره دي کوم ځاي کې د پنځلسو ورځو د پاره وطن جوړ کړي وي نو پوره مونځ

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۴۵۵ باب من قال اذا اجمع على اقامة خمس عشرة اتم.

(۲) كتاب الحجة ج۱ص ۱۷۰ باب صلوة المسافر.

(۳) كتاب الآثار ص ۳۸ رقم ۲۰۰

Maktaba Tul Ishaat.com

کوه او که ته نه پوهیږي چې څومره وخت به تیروم نو قصر کوه . د دي حدیث روایت محمد بن الحسن کړي دي په اثار کې او اسناد ئې حسن دي .

﴿۸۴۲﴾ وَ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيبِ قَالَ إِذَا قَدِمتَ بَلَدَةً فَأَقَمْتَ خَمسَةَ عَشَرَ يومًا فَأَتِمِّ الصَّلَاةَ رواه محمد بن الحسن في الحجج و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : سعید بن المسیب رَحِمَهُ اللهُ ویلي دي : کله چې ته کوم ښار ته ننوځي او د پنځلسو ورځو د اقامت نیت دي کړي وي نو پوره مونځ کوه . د دي حدیث روایت محمد بن الحسن په حجج کې کړي دي او اسناد ئې صحیح دي .

دقصر مدت : څومره ورځې داقامت نیت قصر لره باطلوي یا دقصر مدت څومره دي ؟

۱... دامام مالک او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد چې څلور ورځې یې دپاتې کیدو نیت وي نو دا مقیم دي بیا قصر کول جائز نه دي . او دا څلور ورځې به دیو دخول او دیوم خروج نه علاوه وي .

۲... دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد که دیو ویشت مونځونو نه دزیاتو نیت یې وي نو مقیم دي بیا قصر کول جائز نه دي دیو ویشت مونځونو دمجموعي مدت دځلور ورځو نه څه زیات دي .

۳... دامام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ مسلک دادي چې پنځلس ورځو نه کم مدت دقصر دي او پنځلس ورځې یا دډېنه دزیاتو پاتې کیدو نیت یې وي نو مقیم دي بیا قصر کول جائز نه دي .

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ استدلال :

۱... دسعید بن مسیب رَحِمَهُ اللهُ قول : "اذا قام اربعا صلى اربعا" . (ترمذي)

۲... مهاجرینو ته په مکه مکرمه کې ددري ورځو دقیام اجازت ملاو شوې وو .

جوابونه :

۱... دابن مسیب قول سندا مرجوح دي دویم په هغه حالت باندې محمول دي چې کله داقامت نه وي کړې شوي .

۲... دباب دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حدیث کوم چې دحنفیو دلیل هم دي ، مهاجرینو دقیام متعلق صریح دي کوم کې چې په مکه مکرمه کې تر لسو ورځو پورې دقیام ذکر دي او دا روایت متفق علیه هم دي .

---

(۱) کتاب الحجة ج۱ص ۱۷۱ باب مقام المسافر

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿باب صَلاَةِ الْمُسَافِرِ بِالْمُقِيمِ﴾

مقيم پسې د مسافر د مانځه باب

﴿۸۲۵﴾ عَنْ مُوسَى بْنِ سَلَمَةَ قَالَ كُنَّا مَعَ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِمَكَّةَ فَقُلْتُ إِنَّا إِذَا كُنَّا مَعَكُمْ صَلَّيْنَا أَرْبَعًا وَإِذَا رَجَعْنَا إِلَى رِحَالِنَا صَلَّيْنَا رَكْعَتَيْنِ قَالَ تِلْكَ سُنَّةُ أَبِي الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه احمد و اسناده حسن.(۱)

ترجمه : موسى بن سلمه ويلي دي چې د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره په مکه کې وُم ما وويل کله چې مونږ تاسو سره يو نو ځلور رکعته مونځ کوو او کله چې خپلو خيمو طرف ته واپس لاړ شو نومونږ دوه رکعته مونځ کوو هغو وويل چې دا د ابوالقاسم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سنت دي . د دي حديث روايت احمد کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

مسئلة الباب : دمونځ په وخت کې دننه دمسافر دمقيم امام پسې اقتدا کول صحيح دي او دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دې صورت کې به دامام په اقتدا کې به مسافر هم اتمام کوس قصر نه دي کول پکار که په پوره جماعت کې شريک وي يا په يو رکن کې شريک وي ، ليکن دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد که يو رکعت په جماعت سره اوکړي نو اتمام به کوي ورنه قصر متعين دي. (رحمة الامة :ص، ٥٤)

﴿باب صَلاَةِ الْمُقِيمِ بِالْمُسَافِرِ﴾

د مسافر پسې د مقيم د مانځه باب

﴿۸۲۶﴾ عَنْ سَالِمِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا قَدِمَ مَكَّةَ صَلَّى بِهِمْ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ يَقُولُ يَا أَهْلَ مَكَّةَ أَتِمُّوا صَلاَتَكُمْ فَإِنَّا قَوْمٌ سَفْرٌ رواه مالك و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : سالم بن عبدالله د خپل پلار نه روايت کړي دي چې حضرت عمر بن الخطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله مکي مکرمي ته راغي نو دوه رکعته ئي وکړل بيا ئي وويل اي د مکي خلکو خپل مونځ پوره کړي مونږ مسافر يو : د دي حديث روايت مالک رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

---

(۱) مسند احمد ج۱ص ۲۱۶.

(۲) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ۱۳۲ باب صلوة المسافر اذا كان امامًا ...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۸۴۷﴾ وَعَنْ صَفْوَانَ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ صَفْوَانَ اَنَّه قَالَ جَاءَ عَبْدُ اللهِ بْنُ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَعُودُ عَبْدَ اللهِ بْنَ صَفْوَانَ فَصَلّٰى لَنَا رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ انْصَرَفَ فَقُمْنَا فَاَتْمَمْنَا رواه مالك و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : صفوان ابن عبدالله بن صفوان ویلي دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عبدالله بن صفوان د ناروغۍ د پوښتنې د پاره راغې نو مونږ ته ئې دوه رکعته مونځ وکړ بیا هغه سلام واړاوه نو مونږه ودریدو مونځ مو پوره کړ. د دې حدیث روایت مالک کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

مسئلة الباب : دمقیم دمسافر پسې اقتدا کول صحیح دي که وخت باقي وي او که فوت شوي وي. داحادیثو په رڼا کې مسافر امام لره پکار دي چې دمونځ نه پس دې اعلان اوکړي چې مونږ مسافر یو لهذا تاسو خلک خپل مونځونه پوره کړئ دروایت الفاظ دادي: اتموا صلاتكم فانا قوم سفر (البحر الرائق : ۲/ ۱۳۵)

﴿بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيمِ بَيْنَ الْعَصْرَيْنِ بِعَرَفَةَ﴾

د ماسپښین او مازیګر ترمنځ د تقدیم د جمع باب

﴿۸۴۸﴾ عن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حَدِيثٍ طَوِيلٍ فِي حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ اَذَّنَ ثُمَّ اَقَامَ فَصَلَّى الظُّهرَ ثُمَّ اَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئاً رواه مسلم.(۲)

ترجمه : د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حج په سلسله کې په یو اوږد حدیث کې د حضرت جابر بن عبدالله نه روایت دي بیا ئې اذان وکړ بیا ئې اقامت وکړ نو د ماسپښین مونځ ئې وکړ بیا ئې اقامت وکړ نو د مازیګر مونځ ئې اوداوړو مونځونو ترمنځ ئې هیڅ مونځ ونه کړ. د دې حدیث روایت مسلم کړي دي.

﴿۸۴۹﴾ و عنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ غَدَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِن مِنًى حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ فِي صُبَيحَةِ يومِ عَرَفَةَ حَتّٰى اَتٰى عَرَفَةَ فَنَزَلَ بِنَمِرَةَ وَهِيَ مَنزِلُ الْاِمَامِ الَّذِي يَنزِلُ بِهِ بِعَرَفَةَ حَتّٰى اِذَا كَانَ عِندَ صَلَاةِ الظُّهرِ رَاحَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُهجِرًا فَجَمَعَ بَينَ الظُّهرِ وَالْعَصرِ ثُمَّ خَطَبَ النَّاسَ ثُمَّ رَاحَ فَوَقَفَ عَلَى الْمَوقِفِ مِن عَرَفَةَ رواه احمد و ابوداود و اسناده حسن.(۳)

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب قصر الصلوة في السفر ۱۳۲ باب صلوة المسافر اذا كان اماما ...الخ

(۲) مسلم كتاب الحج ج۱ص ۳۹۷ باب حجة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ .

(۳) مسند احمد ج۲ص ۱۲۹ ، ابوداود كتاب المناسك ج۱ص ۲۶۵ باب المسير الى عرفة

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله د سهر مونځ ادا کړ نو د مني نه د عرفي په ورځ سهر روان شو تر دي پورې چې عرفات ته راغي نمري ته ئي تشريف راوړ او نمره د هغه امام د راتلو ځاي دي کوم چې هلته د عرفي په ورځ راځي تر دي چې کله د ماسپښين د مانځه وقت شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاړ د ماسپښين او مازيګر مونځونه ئي يو ځاي وکړل بيا ئي خطبه وفرمايله بيا لاړ د عرفات په موقف باندي تشريف فرما شو . د دي حديث روايت احمد او ابوداؤد کړي او اسناد ئي حسن دي .

﴿۸۵۰﴾ وَعَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ سَمِعْتُ ابْنَ الزُّبَيْرِ يَقُولُ إِنَّ مِنْ سُنَّةِ الْحَجِّ إِنَّ الْإِمَامَ يَرُوحُ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ يَخْطُبُ فَيَخْطُبُ النَّاسَ فَإِذَا أَفْرَغَ مِنْ خُطْبَتِهِ لَزَلَ فَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا رواه ابن المنذر واسناده صحيح .[1]

ترجمه : قاسم بن محمد ويلي دي چې ما د ابن الزبير نه اوريدلي چې ويل ئي د حج د سنتو نه يوه دا هم ده چې امام د زوال نه روسته د خطبي ورکولو د پاره لاړ شي نو هغه به خلکو ته خطبه ووائي کله چې د خپل خطبي نه فارغ شو نو راښکته به شي د ماسپښين او مازيګر مونځ به يو ځاي وکړي . د دي حديث روايت ابن المنذر کړي دي او اسناد ئي صحيح دي .

مسئلة الباب :

" عصرين " نه مراد ظهر او د عصر مونځ دي بالاتفاق نهمه ذوالحجه باندې وقوف د عرفي په موقع باندې جمع تقديم سنت دي يعني د مازيګر مونځ دخپل وخت نه مخکې ظهر په وخت کې کول ، البته په دې کې دري ځايه اختلاف دې :

۱... په عرفه کې جمع بين الصلاتين لپاره د امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په نزد د امام الحج اقتداه او احرام شرط دې ليکن دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ او د صاحبينو رَحِمَهُمَا اللهُ په نزد صرف احرام کافي دی .

د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد بهتره داده چې د جمعې په شان په عرفات کې هم چې کله امام په منبر کيني نو مؤذن دې اذان اوايي دهغې نه پس دې امام خطبه اووائي او د منبر نه دې لاندې راکوز شي بيا دې مؤذن د مونځ لپاره اقامت شروع کړي د امام مالک رَحِمَهُ اللهُ نه هم يو روايت داسې مروي دې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې د امام خطبه ثانيه شروع کولو باندې مؤذن دې اقامت اووايي .

---

(۱) مسند احمد ج۲ص ۱۲۹ ، ابوداؤد کتاب المناسك ج۱ص ۲۴۵ باب الخروج الى عرفة .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳... دامام مالک رَحِمَهُ اللهُ په نزد دهر مونځ لپاره دې اذان او اقامت اوويلي شي ، دامام ابوحنيفه او ۴امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دماسپښين لپاره دې اذان اويلي شي او اقامت دې دهر مونځ لپاره جدا وي دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد هر مونځ کونکي لپاره دې صرف اقامت اويلي شي . (بداية المجتهد ،ص:۵۷۲)

﴿ بَابُ جَمعِ التَّاخِيرِ بَينَ العِشَائَينِ بِالمُزدَلِفَة ﴾

﴿۸۵۱﴾ عَن عَبدِ الرَّحمٰنِ بنِ يَزِيدَ قَالَ حَجَّ عَبدُ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فَأَتَينَا المُزدَلِفَةَ حِينَ الأَذَانِ بِالعَتَمَةِ أَو قَرِيبًا مِن ذٰلِكَ فَأَمَرَ رَجُلاً فَأَذَّنَ وَ أَقَامَ ثُمَّ صَلَّى المَغرِبَ وَ صَلّٰى بَعدَهَا رَكعَتَينِ ثُمَّ دَعَا بِعَشَائِهِ فَتَعَشّٰى ثُمَّ أَمَرَ أُرٰى رَجُلاً فَأَذَّنَ وَ أَقَامَ قَالَ عَمرٌو وَ لَا أَعلَمُ الشَّكَّ إِلَّا مِن زُهَيرٍ ثُمَّ صَلَّى العِشَاءَ رَكعَتَينِ فَلَمَّا طَلَعَ الفَجرُ قَالَ إِنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ لَا يُصَلِّي هٰذِهِ السَّاعَةَ إِلَّا هٰذِهِ الصَّلَاةَ فِي هٰذَا المَكَانِ مِن هٰذَا اليَومِ قَالَ عَبدُ اللهِ هُمَا صَلَاتَانِ تُحَوَّلَانِ عَن وَقتِهِمَا صَلَاةُ المَغرِبِ بَعدَ مَا يَأتِي النَّاسُ المُزدَلِفَةَ وَالفَجرِ حِينَ يَبزُغُ الفَجرُ قَالَ رَأَيتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَفعَلُهُ رواه البخاري.

قَالَ النَّيمَوِي الجَمعُ بَينَ الصَّلَاتَينِ بِعَرَفَةَ وَالمُزدَلِفَةِ لِلنُّسُكِ لَا لِلسَّفَرِ خِلَافًا لِلشَّافِعِي.(۱)

ترجمه : عبدالرحمن بن يزيد ويلي دي چې عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنهُ حج کاوه . مونږد ماسختن په تياره کې د اذان په وخت کې مزدلفي ته او يا مزدلفي ته نزدې ځاي ته راغلو نو هغه يو سړي ته د اذان حکم وکړنو هغه اذان وکړ بيا ئې اقامت وکړ او بيا ئې د مابنام مونځ وکړ او د دې نه روسته ئې دوه رکعته مونځ وکړ بيا ئې د ماسختن ډوډئ راوغوښته نو د شپې ډوډئ ئې وُخوړه بيا ئې امر وکړ چې د يو سړي ګمان پرې کيدي شو نو هغه اذان او اقامت وکړ عمرو ويلي دي چې زه په شک علم نلرم مګر د ذهير له خوا نه بيا ئې د ماسختن دوه رکعته ادا وفرمايل بيا چې کله سهر شو وي ويل چې بې شکه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ په دغه وخت کې هيڅ يو مونځ نه وُ ادا فرمايلي په غير د دې مانځه نه په دغه ځاي کې په دغه ورځ عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي وُ دا دوه مونځونه د خپل وخت نه اړول شوي وُ د مابنام مونځ پس د هغه نه چې خلک مزدلفي ته راغلل او د سهر مونځ کله چې سهر وخاته دوي ويلي دي چې ما نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ليدلي وُ چې داسي ئې کول . د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي دوه مونځونه په عرفات او مزدلفه کې د حج په وجه دي نه د سفر په وجه او

(۱) بخاري كتاب المناسك ج۱ ص ۲۲۷ باب من اذن واقام لكل واحدة منهما.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وائي چې دا دواړه مونځونه په عرفات او په مزدلفه کې د سفر په وجه ونه د حج په وجه.

مسئلة الباب: "عشائين" نه مراد مغرب وعشاء دي په مزدلفه کې دماښام او دماسخوتن په وخت کې جمع تاخير هم بالاتفاق سنت دي او ددې لپاره بالاتفاق دامام الحج په اقتداء کې کيدل هم شرط نه دي بلکې احرام کافي دي دحنفيو په نزد په دې کې يو اذان او يو اقامت مسنون دي. (البحر الرائق: ۳۴۰/۲)

﴿بَابُ جَمْعِ التَّقْدِيمِ فِي السَّفَرِ﴾
په سفر کې د تقديم د جمع باب

﴿۸۵۲﴾ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ فَزَالَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا ثُمَّ ارْتَحَلَ رواه جعفر الفريابي والبيهقي والاسمٰعيلي و ابونعيم في مستخرجه على مسلم وهو حديث غير محفوظ.(۱)

ترجمه: د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې وُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله به په سفر کې وُ او زوال به شوي وُ نو د ماسپښين او د مازيګر مونځ به ئې يو ځاي وکړيا به ئې سفر کاوه. د دې حديث روايت جعفر الفريابي، بيهقي، اسماعيلي او ابونعيم په خپل مستخرج کې علي المسلم باندې کړي دي او دا حديث غير محفوظ دي.

﴿۸۵۳﴾ و عن أَبِي الزُّبَيْرِ عَنِ الطُّفَيْلِ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَ أَنْ يَرْتَحِلَ قَبْلَ أَنْ تَزِيغَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الظُّهْرَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعَصْرِ وَ فِي الْمَغْرِبِ مِثْلَ ذٰلِكَ إِنْ غَابَتِ الشَّمْسُ قَبْلَ أَنْ يَرْتَحِلَ جَمَعَ بَيْنَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ وَ أَنْ يَرْتَحِلَ قَبْلَ أَنْ تَغِيبَ الشَّمْسُ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتّٰى يَنْزِلَ لِلْعِشَاءِ ثُمَّ جَمَعَ بَيْنَهُمَا رواه ابوداود وهو حديث ضعيف.(۲)

---

(۱) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ص ۱۶۲ باب الجمع بين الصلاتين، تلخيص الحبير كتاب صلوة المسافرين ج۲ص ۴۹ باب الجمع بين الصلاتين في السفر، وفتح الباري ج۲ص ۲۳۷ نقلاً عن الاسمٰعيلي، جعفر الفريابي والي نعيم.

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۱ باب الجمع بين الصلاتين.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د ابو الزبير په واسطه ابو الفضيل د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت کړي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د تبوک په غزا کې وُ کله به چې د تللو نه مخکې د نمر زوال شوي وُ نو د ماسپښين او مازيګر د دواړو مونځونو ترمنځ به ئې جمع وکړه او که د نمر د کلاګيدو نه مخکې به تلل نو د ماسپښين مونځ به ئې روسته کړ تر دې پورې چې مازيګر مانځه ته به راخکته شو او په مابنام کې هم دغسې که نمر به د تلو نه مخکې ډوب شوي وُ نو د مابنام او ماسختن ترمنځ به ئې جمع وکړه او که د نمر د ډوبيدو نه مخکې به تلل نو د مابنام مونځ به ئې روسته کړ تر دې چې ماسختن به راخکته شو بيا به ئې د دواړو مونځونو ترمنځ جمع وکړه . د دې حديث روايت ابوداؤد کړي او دا حديث ضعيف دي.

﴿۸۵۴﴾ وَعَنْ يَزِيدَ بْنِ حَبِيبٍ عَنْ أَبِي الطُّفَيْلِ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي غَزْوَةِ تَبُوكَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ زَيْغِ الشَّمْسِ أَخَّرَ الظُّهْرَ إِلَى أَنْ يَجْمَعَهَا إِلَى الْعَصْرِ فَيُصَلِّيهِمَا جَمِيعًا وَإِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ زَيْغِ الشَّمْسِ عَجَّلَ الْعَصْرَ إِلَى الظُّهْرِ وَصَلَّى الظُّهْرَ وَالْعَصْرَ جَمِيعًا ثُمَّ سَارَ وَكَانَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبْلَ الْمَغْرِبِ أَخَّرَ الْمَغْرِبَ حَتَّى يُصَلِّيَهَا مَعَ الْعِشَاءِ وَإِذَا ارْتَحَلَ بَعْدَ الْمَغْرِبِ عَجَّلَ الْعِشَاءَ فَصَلَّاهَا مَعَ الْمَغْرِبِ رواه الترمذي و ابوداود وهو حديث ضعيف جدا .(۱)

ترجمه : د يزيد بن حبيب په واسطه ابو الطفيل د حضرت معاذ بن جبل رضي الله عنه نه روايت کړي دي چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د تبوک په غزا کې وُ چې کله به ئې د نمر د زوال نه مخکې مزل کاوه نو ماسپښين به ئې روسته کړ تر دې چې د مازيګر سره به ئې جمع کړ بيا به ئې دواړه يو ځاي وکړل او که د نمر د زوال نه به ئې روسته مزل کاوه نو په مازيګر به ئې ماسپښين طرف ته جلدي کوله او ماسپښين او مازيګر به ئې يو ځاي کول بيا به ئې مزل کاوه او کله به ئې چې د مابنام نه مخکې مزل کاوه نو مابنام به ئې روسته کړ تر دې چې هغه به ئې د ماسختن سره يو ځاي ادا کړل او کله به ئې چې د مابنام نه روسته مزل کاوه نو په ماسختن به ئې جلتي کوله او هغه به ئې د مابنام سره ادا کاوه . د دې حديث روايت ابوداؤد ، او ترمذي کړي او دا حديث ډير ضعيف دي.

﴿۸۵۵﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ فِي السَّفَرِ إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ فِي مَنْزِلِهِ جَمَعَ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ قَبْلَ أَنْ يَرْكَبَ فَإِذَا لَمْ تَزِغْ لَهُ فِي مَنْزِلِهِ سَارَ حَتَّى إِذَا حَانَتِ الْعَصْرُ نَزَلَ فَجَمَعَ

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۲ باب الجمع بين الصلاتين ، وترمذي ابواب صلاة السفر ج۱ص ۱۲۴ باب ماجاء في الجمع بين الصلاتين .

Maktaba Tul Ishaat.com

بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ وَإِذَا حَانَتْ لَهُ الْمَغْرِبُ فِي مَنْزِلِهِ جَمَعَ بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْعِشَاءِ وَإِذَا لَمْ تَحُنْ فِي مَنْزِلِهِ رَكِبَ حَتَّى إِذَا كَانَتِ الْعِشَاءُ نَزَلَ فَجَمَعَ بَيْنَهُمَا رواه احمد و آخرون و اسناده ضعيف.(۱)

ترجمه : د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په سفر كې وُ كله به چې د هغه په ځاي كې د نمر زوال وشو نو د سوريدو نه مخكې به ئې د ماسپښين او د مازيگر ترمنځ جمعه وكړه او كله به چې د ده په ځاي كې د نمر زوال نه وُ شوي نو مزل به ئې كاوه تر دي چې د مازيگر وخت به شو نو راخكته به شو او د ماسپښين او د مازيگر ترمنځ به ئې جمع وكړه او كله به چې د ده په ځاي كې د مابنام وخت شو نو د مابنام او ماسختن ترمنځ به ئې جمع وكړه او كله به چې د ده په ځاي كې د مابنام وخت نه وُ شوي نو سور به شو تر دي چې د ماسختن وخت به شو نو راخكته به شو او د دواړو مونځونو ترمنځ به ئې جمع وكړه. د دي حديث روايت احمد او نورو كړي او اسناد ئې ضعيف دي.

د سفر په عذر جمع بين الصلاتين

مسئلة البابين : دسفر په عذر سره جمع بين الصلاتين جائز ده يا نه ؟ په دې كې دوه اقوال دي :

۱... دجمهور علماء او دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد بعذر السفر جمع بين الصلاتين جائز ده برابره خبره ده كه هغه تقديما وي يعني مازيگر مونځ دماسپخين په وخت كې او دماسختون مونځ دمابنام په وخت كې كول يا تاخيرا وي يعني ماسپخين لره دمازيگر په وخت كې ادا كول تقديما وي يا تاخيرا وي يعني ماسپخين لره دمازديگر په وخت كې او مابنام لره دماسختون په وخت كې كول.

۲... دحنفيو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد بعذر صورتا خو جمع بين الصلاتين كولې شي لكه دماسپخين او دمابنام لره په آخري وخت كې او مازديگر او ماسختون لره دوخت په شروع كې كول. ليكن حقيقتا يو مونځ دبل مونځ په وخت كې ادا كول تقديما وي يا تاخيرا وي ناجائز دي.

بهرحال ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دجواز قائله دي بعذر السفر او امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ، او صاحبين، نخعي رَحِمَهُمُ اللهُ حسن بصري رَحِمَهُمُ اللهُ دعدم جواز قائله دي .... دادي واضحه وي چې دعرفي او دمزدلفي جمع بين الصلاتين دې بحث نه خارج ده حُكه چې هلته مسئله متفق عليه ده.

دجمع تقديم دلائل :

۱... دباب دانس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث : "كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ فِي سَفَرٍ..." الحديث دغه

---

(۱) مسند احمد ج۱ص ۲۴۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

شان دباب نور روایات کوم چې دمعاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه مروي دي.

۲... "عن ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال: كان رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يجمع بين صلاة الظهر والعصر اذا كان على ظهر سير. ويجمع بين المغرب والعشاء". (بخاري بحواله مشكاة، ص: ۱۱۸)

جوابونه:

برسیره په دي باندي امام نیموي رَحِمَهُ اللهُ د دي باب اولني (۸۵۲) حدیث غیر محفوظ ګنرلي دي. امام ذهبي په میزان الاعتدال کې دغه حدیث راوړي او لیکلي ئي دي چې د دي حدیث راویان بنا بر تقابل منکر دي.

او د دي باب دویم (۸۵۳) حدیث چې ابي الزبیر روایت کړي دي د دي په سند کې هشام ابن سعد ابو عباد المدني دي او په ده باندي پوره جرحه موجود ده او دا کمزوري راوي دي.

او د دي باب دریم (۸۵۴) حدیث عن یزید بن حبیب ابوداؤد ج۱ص ۱۷۷ کې هم عن ابي الزبیر عن ابي الطفیل عن معاذ بن جبل لکه چې تیر حدیث کې تیر شوي دي خو ولي قتیبه ابن سعید د ابوالزبیر نوم بدل کړي دي او د یزید بن حبیب نوم ئي ذکر کړي دي او ابوداؤد دي خبري ته اشاره هم کړي ده ویلي ئي دي چې دا حدیث یواځي قتیبه روایت کړي دي او نووي ویلي دي چې دا حدیث منکر دي او د تقدیم د جمع په باره کې هیڅ داسي مضبوط حدیث نشته.

تلخیص الحبیر د باب **الجمع بین الصلوتین** او د اثار السنن مصنف امام نیموي رَحِمَهُ اللهُ هم په هو حدیث ضعیف جداً سره دي طرف ته اشاره کړي ده.

او د دي باب څلورم (۸۵۵) حدیث چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئي روایت کړي دي د دي په سند کې حسین بن عبدالله بن عبیدالله ابن عباس هاشمي المدني دي په ده باندي په اسماء الرجال کې سخته جرحه وارد شوي ده ابوذرعه ویلي دي چې مضبوط نه دي او نسائي ویلي دي چې متروک دي او احمد ویلي دي چې د ده حدیث منکر دي. (۱)

---

(۱) میزان الاعتدال ج۱ص ۵۳۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ مَا يَدُلُّ عَلَى تَرْكِ جَمْعِ التَّقْدِيمِ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ﴾

باب په هغه روایتونو کې دي چې په سفر کې د دوه ؤ مونځونو ترمنځ د جمع تقدیم په ترک باندې دلالت کوي

وضاحت : دلاندې دوو حدیثونو الفاظ "أخر" او د"ي،خر" نه معلومیږي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جمع تقدیم نه ده فرمایلي بلکې داسې جمع ئې فرمایلي کوم لره چې راوي په "جمع تاخیر" سره تعبیر کړي.

﴿۸۵۶﴾ عن أَنَسِ بنِ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا ارْتَحَلَ قَبلَ أَن تَزِيغَ الشَّمسُ أَخَّرَ الظُّهرَ إِلَى وَقتِ العَصرِ ثُمَّ نَزَلَ فَجَمَعَ بَينَهُمَا فَإِذَا زَاغَتِ الشَّمسُ قَبلَ أَن يَرتَحِلَ صَلَّى الظُّهرَ ثُمَّ رَكِبَ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د نمر د زوال نه مخکې د تلو اراده وفرمایله نو د ماسپښین مونځ به ئې تر مازیګره پورې روستې کړیا به د سورلئ نه راخکته شو دواړه مونځونه به ئې جمع او ادا کړل او کله به ئې چې تګ او مزل د نمر د زوال نه روسته ؤ نو د ماسپښین مونځ به ئې ادا وفرمایه او بیا به سور شو . د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۸۵۷﴾ وَ عَن عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيتُ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَعجَلَه السَّيرُ فِي السَّفَرِ يُؤَخِّرُ صَلَاةَ المَغرِبِ حَتَّى يَجمَعَ بَينَهَا وَبَينَ العِشَاءِ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : او حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لیدلي ؤ کله چې هغه - د سفر په دوران کې جلتي کوله نو د مابنام مونځ به ئې روسته کړ تردي چې مابنام او ماسختن به ئې یو ځای ادا وفرمایل . د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي.

---

(۱) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ص ۱۵۰ باب يؤخر الظهر الى العصر اذا ارتحل ...الخ ، مسلم كتاب المسافرين ج۱ص ۲۴۵ باب جواز الجمع بين الصلوتين في السفر . .

(۲) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ص ۱۴۹ باب هل يؤذن او يقيم اذا جمع بين المغرب والعشاء ، مسلم كتاب المسافرين ج۱ص ۲۴۵ باب جواز بين الصلوتين في السفر .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ بَابُ جَمعِ التَّاخِيرِ بَينَ الصَّلاتَينِ فِي السَّفَرِ ﴾

په سفر کې د دوه ؤ مونځونو تر منځ د جمع د تاخير باب

﴿۸۵۸﴾ عن اَنَسِ بنِ مَالِك رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا ارْتَحَلَ قَبلَ اَن تَزِيغَ الشَّمسُ اَخَّرَ الظُّهرَ اِلَى وَقتِ العَصرِ ثُمَّ يجمَعُ بَينَهمَا وَاِذَا زَاغَتْ صَلَّى الظُّهرَ ثُمَّ رَكِبَ رواه الشيخان وفي رواية لمسلم اَخَّرَ الظُّهرَ حَتّٰى يدخُلَ اَوَّلَ وَقتِ العَصرِ ثُمَّ يجمَعُ بَينَهمَا.(۱)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د نمر د زوال نه مخکې مزل او تګ کاوه ماسپښين به ئې د مازيګر په پوري روستي کړ بيا به ئې دواړه سره يو ځاي ادا کړل او کله به چې زوال شوي وُ د ماسپښين مونځ به ئې ادا کړ بيا به سورېده . دا حديث شيخينو روايت کړي او د مسلم په يو روايت کې دا الفاظ راغلي دي چې ماسپښين به ئې روسته کړ تر دي پورې چې د مازيګر اولني وخت به داخل شو بيا به ئې دواړه يو ځاي ادا فرمايل .

﴿۸۵۹﴾ وَعَنه عَنِ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا عَجِلَ عَلَيه السَّفَرُ يؤَخِّرُ الظُّهرَ اِلَى اَوَّلِ وَقتِ العَصرِ فَيجمَعُ بَينَهمَا وَيؤَخِّرُ المَغرِبَ حَتّٰى يجمَعَ بَينَهمَا وَبَينَ العِشَاءِ حِينَ يغِيبُ الشَّفَقُ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به کله په سفر کې چلتي کوله نو د ماسپښين مونځ به ئې د مازيګر د اول وخته پوري روسته او فرمايه يا به ئې دواړه يو ځاي ادا کړل او ماښام به ئې تر هغې وخته پوري روسته کړ چې کله به شفق غائب شو او ماښام او ماسختن به ئې دواړه يو ځاي ادا او فرمايل . د دې حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۸۶۰﴾ و عَن نَافِعٍ اَنَّ ابنَ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ كَانَ اِذَا جَدَّ بِهَا السَّيرُ جَمَعَ بَينَ المَغرِبِ وَالعِشَاءِ بَعدَ اَن يغِيبَ الشَّفَقُ وَيقُولُ اِنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا جَدَّ بِه السَّيرُ جَمَعَ بَينَ المَغرِبِ وَالعِشَاءِ رواه مسلم.(۳)

ترجمه : د نافع نه روايت دي چې ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به کله په سفر کې چلتي کوله نو ماښام او

---

(۱) بخاري ابواب تقصير الصلوة ج۱ص ۱۵۰ باب اذا ارتحل بعد ما زاغت الشمس ، مسلم كتاب المسافرين ج۱ص۲۴۵ باب جواز الجمع بين الصلوتين في السفر .

(۲) مسلم كتاب المسافرين ج۱ص ۲۴۵ باب جواز الجمع بين الصلوتين في السفر .

(۳) مسلم كتاب المسافرين ج۱ص ۲۴۵ باب جواز الجمع بين الصلوتين في السفر .

Maktaba Tul Ishaat.com

ماسختن به ئي دواړه يو ځاي ادا کول. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۸۶۱﴾ وَ عَنه عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَدَّ بِهِ السَّيرُ جَمَعَ بَينَ المَغرِبِ وَالعِشَاءِ إِلَى رُبعِ اللَّيلِ رواه الدار قطني.

قَالَ النِّيمَوِي هٰذِهِ الزِّيَادَةُ فِي المَرفُوعِ إِنَّمَا هُوَ وَهمٌ وَالصَّوَابُ وَقفُهَا وَفِيهَا اِضطِرَابٌ وَالصَّحِيحُ يُدُونِهَا.(۱)

ترجمه : د نافع نه روايت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کله به چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په سير کې جلتي وه نو ماښام او ماسختن به ئي د شپې تر څلورمي حصي پورې يو ځاي ادا فرمايه معنى دا چې ماښام به ئي روسته کاوه. دا حديث دار قطني روايت کړي دي.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې دغه زيادت په مرفوع کې وهم دي او د دي موقوف کيدل صحيح دي او په دې کې اضطراب دي او د دي نه په غير هغه روايت محفوظ دي.

﴿۸۶۲﴾ و عن جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ غَابَتْ لَه الشَّمسُ بِمَكة فَجَمَعَ بَينَهمَا بِسَرِفٍ رواه ابوداود والنسائي وفيه ابو الزبير المكي وهو مدلس.(۲)

ترجمه : د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په مکه مکرمه کې نمر پريوات نو هغه - دواړه مونځونه په سرف نومي ځاي کې يو ځاي ادا وفرمايل. د دي حديث روايت ابوداؤد او نسائي کړي دي او په دي کې ابوالزبير مکي دي او هغه مدلس دي.

تشريح : د نوموړي باب اولني (۸۵۸) حديث چې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه بخاري په ابواب التقصير الصلوة کې او د باب دويم (۸۵۹) حديث چې هغه هم د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت شوي دي او د دي باب دريم (۸۶۰) حديث چې د نافع نه روايت شوي دي چې هغه هم په مسلم کې دي او څلورم (۸۶۱) حديث چې ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت شوي دي او د دي باب پنځم (۸۶۲) حديث چې د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ابوداود روايت کړي دي. دغه ټول روايتونه په بنکاره په جمع تأخير باندې دلالت کوي خو ولې زمونږ د احنافو هم هغه جواب دي کوم چې مخکې تير شوي دي. چې دلته د جمع تاخير نه مراد جمع صوري ده نه جمع حقيقي.

---

(۱) دار قطني كتاب الصلوة ج۱ص ۳۹۲ باب الجمع بين الصلوتين في السفر.

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۱ باب الجمع بين الصلوتين، نسائي كتاب المواقيت ج۱ص ۹۹ باب الوقت الذي يجمع فيه المسافر بين المغرب والعشاء.

Maktaba Tul Ishaat.com

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې بعضي راوي ربع الليل او بعضي هوي من الليل او بعض راوي قريباً من ربع الليل الفاظ راوړي دي او په ابن خزيمه کې دي حتي کان نصف الليل او قريبا من نصفه الفاظ دي او همدغه د اضطراب وجه ده برسيره په دي باندې د نافع د شاګردانو نه حفاظو الي ربع الليل الفاظ نه دي ذکر کړي او همدا وجه ده چې مصنف يعني امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې (والمحفوظ بدونها).

﴿ بَابُ مَا يَدُلُّ أَنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الصَّلَاتَيْنِ فِي السَّفَرِ كَانَ جَمْعًا صُورِيًا ﴾

باب دي په بيان د هغه روايتونو کې چې په سفر کې د دوه ؤ مونځونو ترمنځ په صوري جمع باندې دلالت کوي

﴿۸۶۳﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لِوَقْتِهَا إِلَّا بِجَمْعٍ وَ عَرَفَاتٍ رواه النسائي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عرفات او د مزدلفې نه په غير مونځ په خپل وخت کې، ادا فرمايلي دي. دا حديث نسائي روايت کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۶۴﴾ و عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي السَّفَرِ يُؤَخِّرُ الظُّهرَ وَ يُقَدِّمُ العصرَ وَيُؤَخِّرُ الْمَغرِبَ وَيُقَدِّمُ الْعِشَاءَ رواه الطحاوي و احمد والحاكم و اسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په سفر کې د ماسپښين مونځ روسته کاوه او د مازيګر مونځ به ئې مخکې کاوه او د مابنام مونځ به ئې روسته کاوه او د ماسختن مونځ به ئې مخکې کاوه. دا حديث طحاوي رَحِمَهُ اللهُ احمد رَحِمَهُ اللهُ او حاکم رَحِمَهُ اللهُ روايت کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۸۶۵﴾ وَعَنْ كَثِيرِ بنِ قَارَوَنْدَا قَالَ سَأَلْنَا سَالِمَ بنَ عَبدِ اللهِ عَن صَلَاةِ أَبِيهِ فِي السَّفَرِ وَسَأَلْنَاهُ هل كَانَ يَجمَعُ بَينَ فَيءٍ مِن صَلَاتِهِ فِي سَفَرِهِ فَذَكَرَ أَنَّ صَفِيةَ بِنتِ أَبِي عُبَيدٍ كَانَتْ تَحْتَهُ فَكَتَبَتْ إِلَيهِ وَهُوَ فِي زَرَاعَةٍ لَهُ إِنِّي فِي آخِرِ يومٍ مِن أَيامِ الدُّنيا و أَوَّلِ يومٍ مِنَ الْآخِرَةِ فَرَكِبَ فَأَسرَعَ السَّيرَ إِلَيها حَتّٰى إِذَا

---

(۱) نسائي كتاب مناسك الحج ج۲ صـ ۴۴ باب الجمع بين الظهر والعصر بعرفة.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۱۳ باب الجمع بين الصلوتين، مسند احمد ج ۶ صـ ۱۳۵، مستدرك حاكم.

Maktaba Tul Ishaat.com

حَانَتْ صَلَاةُ الظُّهرِ قَالَ لَهُ الْمُؤَذِّنُ الصَّلَاةَ يَا اَبَا عَبدِ الرَّحمٰنِ فَلَمْ يلتَفِتْ حَتّٰى إِذَا كَانَتْ بَينَ الصَّلَاتَينِ نَزَلَ فَقَالَ اَقِمْ فَاِذَا سَلَّمتُ فَاَقِمْ فَصَلّٰى ثُمَّ رَكِبَ حَتّٰى إِذَا غَابَتِ الشَّمسُ قَالَ لَهُ الْمُؤَذِّنُ الصَّلَاةَ فَقَالَ كَيفَعُلُكَ فِي صَلَاةِ الظُّهرِ وَالعَصرِ ثُمَّ سَارَ حَتّٰى إِذَا اشْتَبَكَتِ النُّجُومُ نَزَلَ ثُمَّ قَالَ لِلْمُؤَذِّنِ اَقِمِ فَاِذَا سَلَّمتُ فَاَقِمْ فَصَلّٰى ثُمَّ انصَرَفَ فَالتَفَتَ اِلَينَا فَقَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا حَضَرَ اَحَدَكُمُ الْاَمْرُ الَّذِي يَخَافُ فَوتَهُ فَلْيَصْنَعْ هٰذِهِ الصَّلَاةَ رواه النسائي و اسناده صحيح.[1]

ترجمه: کثیر بن قارون ویلي دي چې مونږ د سالم بن عبدالله نه ده د پلار د سفر د مانځه په باره کې پوښتنه وکړه او د هغه نه مونږ دا پوښتنه هم وکړه چې هغه په خپل سفر کې د مانځه په یو شئ کې جمع والي کړي دي هغه دا خبره بیان کړه چې صفیه بنت ابي عبید د هغه په نکاح کې وه نو هغي خپل زوج ته په داسي حال کې خط ولیکه چې هغه په خپل فصل کې وُ چې بې شکه زه په اخري ورځي د دنیا کې او په اولی ورځي د اخرت کې یم نو هغه سور شو او د هغي په طرف ئې په تیز رفتاري سره سفر کاوه تر دي پورې چې کله دماسپښین دمانځه وخت نزدي شو نو مؤذن هغه ته وویل اي ابو عبدالرحمن مونځ نو ابن عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ده خبرې ته التفات ونه کړ تر دي چې کله د دوه وُ مونځونو منځني وخت راغې راخکته شو نو وي ویل چې اقامت وکړه. بیا چې ما کله سلام واړاوه نو وي ویل چې اقامت وکړه بیا هغه د مازیګر مونځ وکړ بیا سور شو تر دي پورې چې نمر ډوب شو نو مؤذن هغه ته وویل چې مونځ نو هغه ورته وویل چې داسي وکړه لکه څنګه چې دي په ماسپښین او مازیګر کې کړې وُ بیا هغه روان شو تر دي پورې چې کله ستوري زیات شو نو هغه د سورلئ نه راخکته شو او مؤذن ته ئې وویل چې اقامت ووایه کله چې ما د مانځه نه سلام وګرځاوه بیا ئې وویل چې اقامت ووایه هغه مونځ وکړ بیا ئې سلام واړاوه ما طرف ته متوجه شو او وي ویل چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي وُ کله چې یو ستاسي ته داسي کار پیښ شي چې د فوت کیدو نه ئې یریږي نو دغسي مونځ دي وکړي. د دي حدیث روایت نسائي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۸۶۶﴾ وَعَن نَافِعٍ وَعَبدِ اللهِ بنِ وَاقِدٍ اَنَّ مُؤَذِّنَ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ الصَّلَاةَ قَالَ سِرْ سِرْ حَتّٰى إِذَا كَانَ قَبلَ غُيُوبِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَصَلّٰى الْمَغرِبَ ثُمَّ انتَظَرَ حَتّٰى غَابَ الشَّفَقُ فَصَلَّى الْعِشَاءَ ثُمَّ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا عَجِلَ بِهِ اَمرٌ صَنَعَ مِثلَ الَّذِي صَنَعتُ فَسَارَ فِي ذٰلِكَ الْيَومِ وَاللَّيلَةِ مَسِيرَةَ

---

(۱) نسائي كتاب المواقيت ج۱ صـ ۹۸ باب الوقت الذي يجمع فيه المسافر بين الظهر والعصر

Maktaba Tul Ishaat.com

ثَلَاثٍ رواه ابوداود و الدارقطني و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : د نافع او د عبد الله بن واقد نه روايت دي چې د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مؤذن وويل چې مونږ ابن عمر وويل چې ځه ځه تر هغه پوري چې د شفق د ډوبيدو اول وخت ؤ نو د سورلئ نه راځکته شو د ماښام مونږ ئي وکړ بيا ئي انتظار وکړ تر دي پوري چې شفق غائب شو نو د ماسختن مونږ ئي ادا کړ بيا ئي وويل بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به چې کله د جلتئ کار مخي ته شو هغه به همدغسي کول لکه ما چې وکړ په دي سفر کي ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دي يوي شپې او يوي ورځي کي د دريؤ شپو او د دريؤ ورځو مسافه قطع کړي وه . د دي حديث روايت ابوداؤد او دار قطني کړي دي او اسناد ئي صحيح دي .

﴿۸۲۷﴾ وَ عَنِ ابنِ جَابِرٍ قَالَ حَدَّثَنِي نَافِعٌ قَالَ خَرَجْتُ مَعَ عَبدِ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي سَفَرٍ يرِيدُ اَرضًا لَه فَاَتَاه آتٍ فَقَالَ اِنَّ صَفِية بِنتَ اَبِي عُبَيدٍ لِمَّا بِها فَانظُرْ اِنْ تُدرِكها فَخَرَجَ مُسْرِعًا وَ مَعَه رَجُلٌ مِن قُرَيشٍ يسايرُه وَ غَابَتِ الشَّمسُ فَلَم يصَلِّ الصَّلَاةَ وَكَانَ عَهدِي بِه وَهوَ يحَافِظُ عَلَى الصَّلَاةِ فَلَمَّا اَبطَأَ قُلتُ الصَّلَاةَ يرْحَمُك الله فَالتَفَتَ اِلَيَّ وَ مَضٰى حَتّٰى اِذَا كَانَ فِي آخِرِ الشَّفَقِ نَزَلَ فَصَلّٰى الْمَغرِبَ ثُمَّ اَقَامَ الْعِشَاءَ وَ قَد تَوَارَي الشَّفَقُ فَصَلّٰى بِنَا ثُمَّ اَقبَلَ عَلَينَا فَقَالَ اِنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ اِذَا عَجِلَ بِه السَّيرُ صَنَعَ هٰكَذَا رواه النسائي و ابوداود والطحاوي والدارقطني و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د ابن جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي هغه ويلي دي چې ماته نافع حديث بيان کړي هغه ويلي دي چې زه په يو سفر کې د عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره وم هغه خپلي ځمکي ته تلل غوښتل يو راتلونکي راغي ورته وي ويل چې بې شکه صفيه بنت ابي عبيد (د ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بځه) د خپل کوم تکليف په وجه ئي (ته غوهتي ئي) ؤګوره فکر وکړه که په ژوند کې ئي ؤګوري نو ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په تيزئي سره راؤته او د ده سره د قريشو يو کس ؤ چې په جلتئ ورسره روان ؤ نمر پريوته او دوي لا مونږ نه ؤ کړي او کله به چې د ده زما سره ملاقات ؤ ده به په مانځه باندي پابندي کوله نو

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۱ باب الجمع بين الصلوتين ، دار قطني كتاب الصلوة ج۱صـ ۳۹۳ باب الجمع بين الصلاتين في السفر .

(۲) نسائي كتاب المواقيت ج۱صـ ۹۹ باب الوقت الذي يجمع فيه المسافر بين المغرب والعشاء ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۷۱ باب الجمع بين الصلوتين ، دار قطني كتاب الصلوة ج۱صـ ۳۹۳ باب الجمع بين الصلاتين في السفر ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۱۲ باب الجمع بين الصلاتين .

Maktaba Tul Ishaat.com

کله چې هغه تأخیر وکړ نو ورته وې ویل چې مونځ الله جل شانه دي په تا رحم وکړي نو ماته ئې وکتل او روان شو تر دي پورې چې کله د شفق اخري وخت شو راخکته شو د مانبام مونځ ئې وکړ بیا ئې د ماسخټن د پاره اقامت وکړ او په تحقیق شفق پټ شوی وُ نو مونږ ته ئې مونځ وکړ بیا مونږ طرف ته متوجه شو نو وې ویل چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به چې کله د جلتئ کار پیښ شو نو دغسې به ئې کول. د دي حدیث روایت نسائي، ابوداؤد، طحاوي او دار قطني کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۸۶۸﴾ و عَن عَبدِ اللهِ بنِ مُحَمَّدِ بنِ عُمَرَ بنِ عَلِي بنِ أَبِي طَالِبٍ عَن أَبِيهِ عَن جَدِّهِ أَنَّ عَلِيًا رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا سَافَرَ سَارَ بَعدَ مَا تَغرُبُ الشَّمسُ حَتَّى كَادَ أَن تَظلِمَ ثُمَّ يَنزِلُ فَيُصَلِّي المَغرِبَ ثُمَّ يَدعُو بِعَشَاءِهِ فَيَتَعَشَّى ثُمَّ يُصَلِّي العِشَاءَ ثُمَّ يَرتَحِلُ وَ يَقُولُ هٰكَذَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَصْنَعُ رواه ابوداود و اسناده صحیح.(۱)

ترجمه: د عبدالله بن محمد بن عمر بن علي بن ابي طالب نه د هغه د پلار په واسطه د هغه د نیکه نه روایت دي چې حضرت علي به چې کله سفر کاوه نو د نمر د پریوتو نه روسته به ته تردي پورې چې قریب وُ تیاره شي بیا به راخکته شو د مانبام مونځ به ئې وکړ بیا به ئې طعام راوغوښته د شپې دوډي به ئې وُخوړله بیا به ئې د ماسخټن مونځ ادا کړ. د دي حدیث روایت ابوداؤد کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۸۶۹﴾ و عن أَبِي عُثمَانَ قَالَ وَفَدتُ أَنَا وَ سَعدُ بنُ مَالِكٍ وَ نَحنُ نُبَادِرُ لِلحَجِّ فَكُنَّا نَجمَعُ بَينَ الظُّهرِ وَالعَصرِ نُقَدِّمُ مِن هٰذِهِ وَ نُؤَخِّرُ مِن هٰذِهِ وَ نَجمَعُ بَينَ المَغرِبِ وَالعِشَاءِ نُقَدِّمُ مِن هٰذِهِ وَنُؤَخِّرُ مِن هٰذِهِ حَتَّى قَدِمنَا مَكَّةَ رواه الطحاوي و اسناده صحیح.(۲)

ترجمه: ابو عثمان ویلي دي چې ما او ابن مالک یو ځای سفر کاوه او مونږ به په جلتي سره د حج د پاره سفر کاوه او مونږ به د ماسپښین او مازیګر ترمنځ جمع کوله دا یو به مو رامخکې کړ او دا بل مو روسته کړ تر دي چې مکي ته راورسیدو. د دي حدیث روایت طحاوي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۴ باب متى يتم المسافر.

(۲) طحاوي کتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۴ باب الجمع بين الصلاتين

Maktaba Tul Ishaat.com

د جمع صوري دلائل :

دا پورته مرفوع او موقوف روایتونه د حنفیو د دې نقطه نظر تائید کوي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د حضرات صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ چې کوم ځای مونځونو لره د خپل وختونو نه مقدم یا مؤخر کول نو دهغې نه مراد جمع صوري ده نه حقیقتا چې یو یې دبل په وخت کې ادا کول او د اسې کله کیدای شي چې قرآني آیتونه د مونځ وختونه جدا جدا متعین کوي :

۱... ان الصلوة كانت على المؤمنين كتاباً موقوتاً. (النساء: ۱۰۳)

۲... حافظوا على الصلوات والصلوة الوسطى. (البقرة: ۲۳۸)

۳... فويل للمصلين الذين هم عن صلوتهم ساهون. (الماعون: ۴-۵)

په دویم حدیث کې " يؤخر الظهر ويقدم العصر " الفاظ جمع صوري باندې صریح دي . په دریم حدیث کې " حتى اذا كان بين الصلاتين " نه معلومه شوه چې دیو مونځ وخت هم اونه وتلو او نه داخل شو لهذا جمع صوري شوه په څلورم حدیث کې دي : " حتى اذا كان قبل غيوب الشفق " او دا بالکل واضح دي په پنځم حدیث کې دي : " حتى اذا كان في آخر الشفق " ګوبا چې شفق مکمل نه وو غایب شوی لهذا دمابنام وخت اوس باقي وو نو ځکه جمع صوري شوه په شپږم حدیث کې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او په اوم حدیث کې د تابعینو رَحِمَهُمُ اللهُ جمع صوري باندې عمل مروي دي .

﴿ بَابُ الْجَمْعِ فِي الْحَضَرِ ﴾

په حضر کې د دوه ؤ مونځونو د یو ځای کولو باب

﴿۸۷۰﴾ عن ابن عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ جَمَعَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَيْنَ الظُّهرِ وَالْعَصرِ وَالْمَغرِبِ وَالعِشَاءِ بِالْمَدِينَةِ فِي غَيرِ خَوفٍ وَلاَ مَطَرٍ رواه مسلم و آخرون .

قَالَ النِّيسَوِي وَلِلْعُلَمَاءِ تَاوِيلاَتٌ فِي هٰذَا الحَدِيثِ كُلُّها سَخِيفَة إِلَّا الحَمل عَلَى الجَمعِ الصُّورِي (۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ماسپښین او مازیګر او د مابنام او ماسختن مونځونه په مدینه منوره کې په غیر څه ویري او په غیر د باران نه یو ځای ادا فرمایلي دي . د دې حدیث روایت مسلم او نورو محدثینو کړي دي .

(۱) مسلم كتاب المسافرين ج ۱ ص ۲۴۶ باب جواز الجمع بين الصلاتين في الحضر

Maktaba Tul Ishaat.com

امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د محدثينو د پاره په دي حديث کې مختلف تأويلونه دي چې ټول ضعيف دي بغير د دې نه چې په جمع صوري باندې يې محمول کړي.

بلاعذر جمع بين الصلاتين :د حديث باب مفهوم بالکل ظاهر دي ليکن بحث په دې کې دي چې بغير د خوف او مطر نه جمع بين الصلاتين في الحضر دائمه و اربعو نه يو هم قائله نه دي امام ترمذي فرمايلي دي چې بالاتفاق د دې حديث په ظاهر باندې عمل نشته.

تشريح:د نومورې باب (۸۷۰) حديث چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت کړي دي امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې. د محدثينو د پاره په دې حديث کې مختلف تأويلونه دي خو ولې په حقيقت کې دا ټول کمزوري تأويلونه دي. د دې نه زيات صحيح تأويل دا دي چې په صوري جمع باندې محمول کړي شي.

﴿ بَابُ النَّهْيِ عَنِ الْجَمْعِ فِي الْحَضَرِ ﴾

په حضر کې د دوه وُ مونځونو د جمع کولو نه د نهي باب

﴿۸۷۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَا رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى صَلَاةً إِلَّا لِمِيقَاتِهَا إِلَّا صَلَاتَيْنِ صَلَاةَ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ وَصَلَّى يَوْمَئِذٍ قَبْلَ مِيقَاتِهَا رواه الشيخان .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دي ليدلي چې په غير د خپل وخت نه ئې مونځ کړي دي په غير د دوه وُ مونځونو نه چې يو د مابنام او د ماسختن مونځ په مزدلفه کې او بل د سهر مونځ ئې په دغه ورځ کې د خپل وخت نه مخکې کړي دي. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۸۷۲﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أَمَا إِنَّهُ لَيْسَ فِي النَّوْمِ تَفْرِيطٌ إِنَّمَا التَّفْرِيطُ عَلَى مَنْ لَمْ يُصَلِّ حَتَّى يَجِيءَ وَقْتُ الصَّلَاةِ الْأُخْرَى رواه مسلم و آخرون .(۲)

ترجمه : د حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي خبردار په خوب کې نقصان نشته بې شکه نقصان په هغې کس باندې دي چې مونځ نه ادا کوي تر هغې پورې چې د بل مانځه وخت راشي. د دې حديث روايت مسلم او نورو محدثينو کړي دي.

---

(۱) مسلم كتاب الحج ج۱ص ۴۱۷ باب زيادة التغليس بصلوة الصبح ، بخاري كتاب المناسك ج۱ص ۲۲۸ باب من يصلي الفجر بجمع.

(۲) مسلم كتاب المساجد ج۱ص ۲۳۹ باب قضاء الصلوة الفائتة ...الخ ، طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۴ باب الجمع بين الصلاتين .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۸۷۴﴾ وَعَن عُثْمَانَ بنَ عَبدِ اللهِ بن مَوهبٍ قَالَ سُئِلَ اَبُو هرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ مَا التَّفرِيطُ فِي الصَّلاَةِ قَالَ اَن تُؤَخِّرَ حَتّٰى يَجِيءَ وَقتُ الاُخرٰى رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : عثمان بن عبدالله بن موهب ويلي دي چې د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه پوښتنه وکړي شوه چې تفريط څه شي دي هغه ويل چې ته مونځ روسته کړي تر هغې پورې چې د بل مونځ وخت پرې راشي. دا حديث طحاوي روايت کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۷۴﴾ وَ عَن طَاوسٍ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ لاَ يفُوتُ صَلاَةٌ حَتّٰى يَجِيءَ وَقتُ الاُخرٰى رواه الطحاوي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د طاؤس نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي مونځ نه قضاء کيږي تر هغې پورې چې د بل مانځه وخت راشي. دا حديث طحاوي روايت کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿اَبوَابُ الْجُمُعَة﴾

﴿بَابُ فَضلِ يومِ الْجُمُعَة﴾

د جمعې بابونه

د جمعې د ورځې د فضيلت باب

﴿۸۷۵﴾ عَن اَبِي هرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ذَكَرَ يومَ الْجُمُعَةِ فَقَالَ فِيهِ سَاعَةٌ لاَ يوَافِقُهَا عَبدٌ مُسلِمٌ وَهوَ قَائِمٌ يصَلِّي يسأَلُ اللهَ تعالٰى شَيئًا اِلَّا اَعطَاهُ اَياهُ وَ اَشَارَ بِيدِهِ يقَلِّلُهَا رواه الشيخان.(۳)

ترجمه : د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د جمعې د ورځې فضيلت بيان فرمايه نو هغه وفرمايل چې په دي ورځ کې يو وخت دي چې برابر به نه شي د دي ساعت سره يو بنده مسلمان چې هغه په دي وخت کې ولاړ وي مونځ کوي غواړي د الله جل شانه نه يوې شئ مګر خو وربه کړي الله جل شانه دغه شي هغه ته او رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ په خپل مبارک

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۴ باب الجمع بين الصلوتين.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۱۱۴ باب الجمع بين الصلوتين.

(۳) بخاري كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۸ باب الساعة التي في يوم الجمعة مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۱

Maktaba Tul Ishaat.com

لاس باندې اشاره وفرمایله او د هغه وخت لږوالې ئې بیان وفرمایه . د دې حدیث روایت شیخینو کړې دي .

﴿۸۷۶﴾ وَعَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُ يَوْمٍ طَلَعَتْ عَلَيْهِ الشَّمْسُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِيهِ خُلِقَ آدَمُ وَفِيهِ اُدْخِلَ الْجَنَّةَ وَفِيهِ اُخْرِجَ مِنْهَا وَلَا تَقُومُ السَّاعَةُ اِلَّا فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : د حضرت ابي هریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي بهتره ورځ چې په هغې نمر ختلي وي د جمعې ورځ ده په ده دي ورځ کې حضرت ادم عَلَيْهِ السَّلَام پیدا کړې شوي دي او په ده دي ورځ کې جنت ته ننوتي دي او په دې ورځ کې د جنت نه راویستل شوي دي او قیامت به قائم نشي مګر خو د جمعې په ورځ کې . د دې حدیث روایت مسلم کړې دي .

﴿۸۷۷﴾ وعن اَبِي لُبَابَةَ الْبَدْرِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ سَيِّدُ الْاَيَّامِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاَعْظَمُهَا عِنْدَ اللّٰهِ وَهُوَ اَعْظَمُ عِنْدَ اللّٰهِ مِنْ يَوْمِ الْفِطْرِ وَيَوْمِ الْاَضْحٰى وَفِيهِ خَمْسُ خِلَالٍ خَلَقَ اللّٰهُ عز وجل فِيهِ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام وَاَهْبَطَ اللّٰهُ فِيهِ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام اِلَى الْاَرْضِ وَفِيهِ تَوَفَّى اللّٰهُ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَام وَفِيهِ سَاعَةٌ لَا يَسْاَلُ الْعَبْدُ فِيهَا شَيْئًا اِلَّا آتَاهُ اللّٰهُ اِيَّاهُ مَا لَمْ يَسْاَلْ حَرَامًا وَفِيهِ تَقُومُ السَّاعَةُ مَا مِنْ مَلَكٍ مُقَرَّبٍ وَلَا سَمَاءٍ وَلَا اَرْضٍ وَلَا رِيَاحٍ وَلَا جِبَالٍ وَلَا بَحْرٍ اِلَّا هُنَّ يُشْفِقْنَ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ رواه احمد وابن ماجه وقال العراقي اسناده حسن .(۲)

ترجمه : د حضرت ابي لبابه بدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي . د ورځو سردار ورځ د جمعې ورځ ده او د ورځو ډیره لویه ورځ د الله جل شانه په نزد د جمعې ورځ ده او دغه ورځ د الله جل شانه په نزد ډیره لویه ده دواړه اختر د ورځې نه او د لوئ اختر د ورځې نه او په دي ورځ کې پنځه شیان دي په دي ورځ کې الله جل شانه ادم عَلَيْهِ السَّلَام پیدا کړي دي او په دي ورځ کې الله جل شانه آدم عَلَيْهِ السَّلَام ځمکې ته راکوز کړي دي او په دي ورځ کې الله جل شانه آدم عَلَيْهِ السَّلَام وفات کړي دي او په دي ورځ کې یو وخت دي چې سوال به ونه کړي د الله جل شانه ځیني بنده د یوشئ مګر الله جل شانه به هغه شي بنده ته ورکړي ترڅو پوري چې بنده د حرام شئ سوال : الله جل شانه نه وي کړي . او په دي ورځ کې به قیامت قائمیږي او هیڅ یوه مقربه ملائکه او فرشته نه شته او نه اسمان او

---

(۱) مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۲.

(۲) مسند احمد ج۳ ص ۴۳۰ ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۷۷ باب فضل الجمعة

Maktaba Tul Ishaat.com

نه ځمکه او نه بادونه او نه غرونه او نه دریاب مګر خو د جمعې د ورځې نه یریږي . د دي حدیث روایت احمد او ابن ماجه کړي دي . او عراقي ویلي دي اسناد ئې حسن دي .

﴿۸۴۸﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَامٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ وَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ إِنَّا لَنَجِدُ فِي كِتَابِ اللّٰهِ فِي يَوْمِ الْجُمُعَةِ سَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُؤْمِنٌ يُصَلِّي يَسْأَلُ اللّٰهَ فِيهَا خَيْرًا إِلَّا قَضَى لَهُ حَاجَتَهُ قَالَ عَبْدُ اللّٰهِ فَأَشَارَ إِلَيَّ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَوْ بَعْضُ سَاعَةً فَقُلْتُ صَدَقْتَ أَوْ بَعْضُ سَاعَةً قُلْتُ أَيُّ سَاعَةٍ هِيَ قَالَ آخِرُ سَاعَةٍ مِنْ سَاعَاتِ النَّهَارِ قُلْتُ إِنَّهَا لَيْسَتْ سَاعَةَ الصَّلَاةِ قَالَ بَلَى إِنَّ الْعَبْدَ الْمُؤْمِنَ إِذَا صَلَّى ثُمَّ جَلَسَ لَا يَحْبِسُهُ إِلَّا الصَّلَاةُ فَهُوَ فِي الصَّلَاةِ رواه ابن ماجه و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن سلام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما عرض وکړپه داسي حال چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشریف فرماؤ چې بې شکه مونږ د الله جل شانه په کتاب کې دا موندلي دي چې د جمعې په ورځ کې یو ساعت دي چې موافق او برابر به نه شي د دغه ساعت سره یو مؤمن بنده چې مونځ وکړي د الله جل شانه نه یو څه وغواړي مګر ده حاجت به پوره کړي شي عبدالله ویلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما طرف ته اشاره وفرمایله او یا د ساعت یوه حصه ده ما عرض وکړو چې تاسي رښتیا ویلي دي او یا د ساعت یوه برخه ده ماعرض وکړ چې هغه کوم وخت دي هغه وفرمایل چې د ورځې د ساعتونو نه اخري ساعت دي ما عرض وکړ چې دغه خو د مانځه وخت نه دي هغه وفرمایل چې هو بې شکه بنده مؤمن چې کله مونځ وکړي بیا کیني د مونځ نه په غیر ده لره بل هیڅ یو شئ بند کړي نه وي نو هغه په مانځه کې دي . د دي حدیث روایت ابن ماجه کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۸۴۹﴾ وَ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ فِي الْجُمُعَةِ سَاعَةً لَا يُوَافِقُهَا عَبْدٌ مُسْلِمٌ يَسْأَلُ اللّٰهَ عز و جل فِيهَا خَيْرًا إِلَّا أَعْطَاهُ إِيَّاهُ وَهِيَ بَعْدَ الْعَصْرِ رواه احمد و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت ابوسعید رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ او د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې بې شکه په جمعه کې یو وخت او ساعت دي چې موافق او برابر به نه

---

(۱) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۸۱ باب ماجاء في الساعة التي ترجى في الجمعة .

(۲) مسند احمد ج ۲ صـ ۲۷۲ .

Maktaba Tul Ishaat.com

شي د دغه ساعت سره يو بنده مسلمان چې سوال وکړي الله جل شانه نه د خير مګر خو وربه کړي الله جل شانه هغه ته هغه شئ او دغه ساعت د مازيګر د مانځه روسته دي . د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ کړي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۸۰﴾ وَ عَن جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَن رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يومُ الْجُمُعَةِ اِثْنَتَا عَشَرَةَ سَاعَةً لَا يوجَدُ فِيهَا عَبدٌ مُسلِمٌ يسْأَلُ اللهَ شَيئاً اِلَّا آتَاهُ اِيَّاهُ فَالْتَمِسُوهَا آخِرَ سَاعَةٍ بَعدَ الْعَصرِ رواه النسائي و ابوداود و اسنادہ حسن .(۱)

ترجمه : د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د جمعې په ورځ کې دولس ساعته دي موجود به نه کړي شي په دغه ساعت کې يو مسلم بنده چې د الله جل شانه نه سوال وکړي يو شئ مګر وربه کړي الله جل شانه هغه شئ دي بنده ته نو وَلټوئ دغه ساعت په اخري ساعت کې د مازيګر نه روسته . د دي حديث روايت ابوداؤد او نسائي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۸۱﴾ و عن اَنَسِ بنِ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عُرِضَتْ عَلَيَّ الْاَيَّامُ فَعُرِضَ عَلَيَّ فِيهَا يومُ الْجُمُعَةِ فَاِذَا هِي كَمِرْآةٍ بَيضَاءَ فَاِذَا فِي وَسطِهَا نُكتَةٌ سَوداءُ فَقُلتُ مَا هٰذِهِ قِيلَ السَّاعَةُ رواه الطبراني في الاوسط و اسنادہ صحيح(۲)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي پيش کړي شوي وي ماته ورځې چې په دي ورځو کې ماته د جمعې ورځ هم پيش کړي شوي وه نو ناګهانه هغه ورځ لکه د آيني په شاپانې سپينه وه خو ولي د هغې په منځ کې تور والي وُ نو ما وويل چې دا څه شي دي وويلي شو چې قيامت دي . د دي حديث روايت په اوسط کې طبراني کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۸۸۲﴾ وَ عَنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اللهَ تَبَارَكَ وَ تَعَالٰى لَيسَ بِتَارِكٍ اَحَدًا مِنَ الْمُسْلِمِينَ يومَ الْجُمُعَةِ اِلَّا غُفِرَ لَه رواه الطبراني في الاوسط و اسنادہ صحيح .(۳)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص ۱۵۰ باب الاجابة اية ساعة هي في يوم الجمعة .

(۲) المعجم الاوسط ج ۸ ص ۱۵۱ برقم ۷۳۰۳ ، مجمع الزوائد کتاب الصلوة ج۲ ص ۱۶۴ باب في الجمعة في السفر .

(۳) المعجم الاوسط ج ۵ ص [illegible] ، مجمع الزوائد کتاب الصلوة ج۲ ص [illegible] باب في الجمعة في السفر .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي بې شکه الله جل شانه تبارک وتعالی په غير د بخښني نه پريښودونکي هيڅ يو کس د مسلمانانو لره نه وي مګر خوبخښنه به وکړي شي هغه ته د دي حديث روايت په اوسط کې طبراني کړي دي او اسنادئې صحيح دي.

﴿۸۸۳﴾ وَ عَن سَلَمَة بنِ عَبدِ الرَّحمٰنِ اَنَّ نَاسًا مِن اَصحَابِ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِختَمَعُوا فَتَذَاكَرُوا السَّاعَةَ الَّتِي فِي يومِ الجُمُعَة فَتَفَرَّقُوا وَ لَمْ يختَلِفُوا اَنَّها آخِرُ سَاعَة مِن يومِ الجُمُعَة رواه سعيد بن منصور في سننه و اسناده صحيح.[1]

ترجمه : د حضرت سلمه بن عبدالرحمن نه روايت دي چې بې شکه د صحابه کرامو نه يو څه خلک راجمع شوي وُ دوي په هغه ساعت کې مذاکره کوله کوم ساعت چې د جمعې په ورځ کې دي بيا د خبرو نه روسته دوي بيل بيل شو او دوي په دي کې اختلاف نه وُ کړي چې هغه ساعت د جمعې د ورځې اخري ساعت دي . د دي حديث روايت سعيد بن منصور کړي په خپل سنن کې او اسناد ئې صحيح دي.

دجمعې په ورځ مقبول وخت کوم يو دي ؟

په دې باره کې څو اقواله دي :

۱... دورځې آخرينې وخت يعني دغروب نه لږ مخکې عند الامام ابي حنيفه.

۲... دامام خطبي لپاره په ممبر اودريدلو نه پس تر اختتام صلاة پورې عند الامام الشافعي رَحِمَهُ اللهُ.

۳... دامام دجمعې په مونځ کې دسورة الفاتحه ويلو نه پس تر آمين ويلو پورې .

۴... دا خاص وخت دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې وو ليکن اوس اوچت شوي دي . دا قول محدثينو رد کړي دی .

۵... دا وخت دجمعې په ورځ کې پټ دي او دليلة القدر او داسم اعظم په شان ددې تعين هم اوچت کړي شوي دی .

لهذا دجمعې په ورځ په کثرت سره دعاګاني غوختل پکار دي دباب دروايتونو نه دتولو نه داولني قول تائيد کيږي .

---

(۱) فتح الباري كتاب الجمعة ج۳ صـ ۷۲ باب الساعة في يوم الجمعة لفظاً عن سعيد بن منصور .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ التَّغْلِيظِ فِي تَرْكِهَا لِمَنْ عَلَيْهِ الْجُمُعَةُ﴾

باب په سختئ د ترک د جمعي کې دي په چا باندي چې جمعه واجب وي

﴿۸۸۴﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِقَوْمٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ لَقَدْ هَمَمْتُ أَنْ آمُرَ رَجُلاً يُصَلِّي بِالنَّاسِ ثُمَّ أُحَرِّقَ عَلَى رِجَالٍ يَتَخَلَّفُونَ عَنِ الْجُمُعَةِ بُيُوتَهُمْ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله رضي الله عنه نه روايت دي چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د داسي خلکو په باره کې فرمايلي دي څوک چې د جمعي د مانځه نه روسته والي کوي په تحقيق ما قوي اراده کړې چې يو کس ته حکم وکړم چې خلکو ته مونځ وکړي بيا د هغو کورونه وسيزم کوم چې د جمعي د مانځه نه روسته کيږي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۸۸۵﴾ وعَنِ الْحَكَمِ بْنِ مِينَاءَ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَأَبَا هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حَدَّثَاهُ أَنَّهُمَا سَمِعَا رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ عَلَى أَعْوَادِ مِنْبَرِهِ لَيَنْتَهِيَنَّ أَقْوَامٌ عَنْ وَدْعِهِمُ الْجُمُعَاتِ أَوْ لَيَخْتِمَنَّ اللهُ عَلَى قُلُوبِهِمْ ثُمَّ لَيَكُونُنَّ مِنَ الْغَافِلِينَ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : د حکم بن ميناء نه روايت دي چې حضرت عبدالله بن عمر او حضرت ابوهريره رضي الله عنهما هغه ته حديث بيان کړي دي چې د دي دواړو د رسول الله صلى الله عليه وسلم نه د لرګو په ممبر باندي اوريدلي ؤ چې فرمايلي ئي چې خامخا په تحقيق منع به شي خلک د پريښودل د مونځونو د جمعو نه او يا به الله جل شانه د دوي په زړونو باندي مهر ولګوي بيا به خامخا دوي د غافلينو نه شي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۸۸۶﴾ عَنْ أَبِي الْجَعْدِ الضَّمْرِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكَانَتْ لَهُ صُحْبَةٌ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ تَرَكَ ثَلاَثَ جُمَعٍ تَهَاوُنًا بِهَا طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ رواه الخمسة و اسناده صحيح.(۳)

---

(۱) مسلم كتاب المساجد صـ ۲۳۲ بيان فضل صلوة الجماعة وبيان التشديد في التخلف عنها ...الخ.

(۲) مسلم كتاب الجمعة ج۱صـ ۲۸۴.

(۳) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱صـ ۱۵۱ باب التشديد في ترك الجمعة ، نسائي كتاب الجمعة ج۱صـ ۲۰۲ باب التشديد في التخلف عن الجمعة ، ترمذي ابواب الجمعة ج۱صـ ۱۱۲ باب ماجآء في ترك الجمعة من غير عذر ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات والسنة فيها صـ ۸۰ باب فيمن ترك الجمعة من غير عذر ، مسند احمد ج۳صـ ۴۲۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه: د ابو الجعد ضمري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي او هغه صحابي دي چې په تحقيق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوک چې دسستوب په وجه د دريو جمعو مونځونه پريږدي الله جل شانه به د ده په زړه باندې مهر ولګوي. د دې حديث روايت پنځو محدثينو کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۸۷﴾ و عن جَابِرِ بنِ عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَن تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلَاثًا مِن غَيرِ ضَرُورَةٍ طَبَعَ اللهُ عَلَى قَلْبِهِ رواه ابن ماجه و آخرون و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه: حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوک چې د ضرورت نه په غير دري ځله د جمعې مونځ پريږدي الله جل شانه به د ده په زړه باندې مهر ولګوي. د دې حديث روايت ابن ماجه او نورو محدثينو کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۸۸۸﴾ وَ عَن أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَن تَرَكَ الْجُمُعَةَ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ مِن غَيرِ ضَرُورَةٍ طُبِعَ عَلَى قَلْبِهِ رواه احمد والحاكم واسناده حسن.(۲)

ترجمه: د ابي قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوک چې د جمعې مونځ په غير د ضرورت نه دري ځلي پريږدي په زړه به ئې مهر ولګولي شي. د دې حديث روايت احمد او حاکم کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

دجمعې په پريخودلو باندې زجر او توبيخ: دجمعې په فرضيت په باره کې ارشاد دي: "يا أيها الذين آمنوا اذا نودي للصلوة من يوم الجمعة فاسعوا الى ذكر الله ... الاية" (الجمعة). دآيت مبارکه او ډيرو نورو احاديثو په بناء باندې دائمه اربعو رَحِمَهُمُ اللهُ سره سره ډيره امت اتفاق دي. چې دجمعې مونځ فرض عين دي بغير دعذر دې ترک کول ګناه کبيره دي.

په زړه باندې به يې مهر اولګولې شي، په متعدد و احاديثو کې دا مضمون وارد دي چې کوم کس محض دغفلت او دتساہل دوجې نه بغير دعذر شرعي دري پيره دجمعې مونځ اونکړي نو الله تعالى به دده په زړه باندې مهر اولګوي يعنې داسې کس قساوت قلب کې مبتلا کيږي دکوم دوجې نه به دده په زړه کې دخير خبره نه ننوځي، او دطبع نه مراد دکفر مهر نه لکه څنګه چې په آيت کريمه کې دي (ختم الله على قلوبهم وعلى سمعهم .... الاية) ځکه چې دترک جمعې دوجې نه سړې کافر کيږي

---

(۱) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ج ۱ صـ ۸۰ باب فيمن ترك الجمعة من غير علذر.

(۲) مسند احمد ج ۵ صـ ۳۰۰، مستدرك حاكم كتاب الجمعة ج ۱ صـ ۲۸۰ باب التشديد في ترك الجمعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

نه . (الدر المنضود : ۴۰۳/۲)

﴿بَابُ عَدَمِ وُجُوبِ الْجُمُعَةِ عَلَى الْعَبْدِ وَالنِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ وَالْمَرِيضِ﴾

باب په عدم وجوب د جمعه کې دي چې په غلام (مړئ) ښځو ماشومانو او مريض باندې د جمعې مونځ واجب نه دي

﴿۸۸۹﴾ عَنْ طَارِقِ بْنِ شِهَابٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اَلْجُمُعَةُ حَقٌّ وَاجِبٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ فِي جَمَاعَةٍ اِلَّا اَرْبَعَةَ عَبْدٌ مَمْلُوكٌ اَوِ امْرَاَةٌ اَوْ صَبِيٌّ اَوْ مَرِيضٌ رواه ابوداود و اسناده مرسل جيد.(۱)

ترجمه : د حضرت طارق بن شهاب نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې جمعه حق واجب ده په هر مسلمان باندې په جماعت سره مګر خو په ځلورو کسانو باندې نه ده واجب. مړئ، ښځه. ماشوم او مريض. د دې حديث روايت ابوداؤد کړي دي او اسناد ئې مرسل جيد دي.

مسئلة الباب : دائمه اربعه رَحِمَهُمُ اللّٰهُ اتفاق دې چې غلام، نابالغ ماشوم او دمريض په ذمه باندې جمعه لازم نه ده صرف دامام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ نه يو روايت دې چې په غلام باندې هم لازم دي دداود ظاهري په نزد په غلام باندې هم جمعه لازمه ده (رحمة الامه، ص: ۵۷) ليکن دباب حديث دجمهور تائيد کوي.

قوله "واسناده مرسل جيد" : په اصل کې دحضرت طارق بن شهاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په باره کې صحيح دادې چې هغه حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لره په حالت دايمان کې کتلې وو ليکن هيڅ حديث يې تري نه دې اوريدلې. اوس لازمي خبره ده چې دده په هر روايت کې به دصحابي واسطه وي. دلته هم داشوي ده چې ديو صحابي واسطه ده ليکن هغه ځوک دي؟ دهغه ذکر نه دي کړې شوې لهذا سندا دا روايت مرسل شو ليکن مرسل صحابي کوم چې دجمهور په نزد مقبول دي او حجت دي بعضي حضراتو هغه واسطه ابوموسى اشعري رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ لره ګرځولې ده ليکن صحيح خبره داده چې ذکر يې نه دي شوې لهذا مرسل دي. (التعليق الحسن، ملخصا)

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۵۳ باب الجمعة للمملوك والمرأة

﴿بَابُ اَنَّ الْجُمُعَةَ غَيْرُ وَاجِبَةٍ عَلَى الْمُسَافِرِ﴾

باب د جمعي مونځ په مسافر باندي واجب نه دي

﴿۸۹۰﴾ عَنِ الْاَسْوَدِ بْنِ قَيْسٍ عَنْ اَبِيْهِ قَالَ اَبْصَرَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ رَجُلاً عَلَيْهِ هَيْئَةُ السَّفَرِ فَسَمِعَهُ يَقُوْلُ لَوْلَا اَنَّ الْيَوْمَ يَوْمُ الْجُمُعَةِ لَخَرَجْتُ فَقَالَ عُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اُخْرُجْ فَاِنَّ الْجُمُعَةَ لَا تَحْبِسُ عَنِ السَّفَرِ رواه الشافعي في مسنده و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د اسود بن قيس نه روايت دي چې زما پلار ويلي دي چې حضرت عمربن الخطاب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يو کس وليده چې په هغه باندي د سفر اثر وُ نو د هغه نه ئې اوريدلي وُ چې ويل ئې که چرته نن ورځ د جمعې ورځ نه وي نو زه به په سفر تلي وم نو حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وويل لاړ شه بې شکه جمعه د سفر نه څوک نه منع کوي. د دي حديث روايت شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په خپل مسند کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

مسئلة الباب: دائمه اربعو په نزد مسافر باندي جمعه واجب نه ده که د آذان آواز واوري او که نه. د حديث الباب نه د دې تائيد کيږي همدارنګه د طبراني په روايت کې دي: ليس على المسافر جمعة.

﴿بَابُ عَدَمِ وُجُوْبِ الْجُمُعَةِ عَلٰى مَنْ كَانَ خَارِجَ الْمِصْرِ﴾

کوم کس چې د بنار نه بهر وي په هغه باندي د جمعې د مانځه د نه واجبيدو باب

﴿۸۹۱﴾ عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُوْنَ (۳۲۲) الْجُمُعَةَ مِنْ مَنَازِلِهِمْ وَالْعَوَالِي الْحَدِيْثَ رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ويلي دي چې خلک به د خپلو ځايونو نه او د خوا و شا کليو نه د جمعې مانځه ته په نمبر سره راتلل. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۸۹۲﴾ وَ عَنْ حُمَيْدٍ قَالَ كَانَ اَنَسٌ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فِيْ قَصْرِهٖ اَحْيَانًا يَجْمَعُ وَ اَحْيَانًا لَا يَجْمَعُ رواه مسدد في مسنده الكبير و اسناده صحيح و ذكره البخاري تعليقًا وَزَادَ وَهُوَ بِالزَّاوِيَةِ عَلٰى فَرْسَخَيْنِ.(۳)

---

(۱) مسند امام شافعي الباب الحادي عشر في صلاة الجمعة ج۱ص ۱۵۰ رقم الحديث ۴۳۵.

(۲) بخاري كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۳ باب من اين توتي الجمعة ، مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۰.

(۳) فتح الباري كتاب الجمعة ج۲ص ۳۴باب من اين توتي الجمعة تعاليق للمسدد الكبير للمسدد تعليقًا كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۳باب من اين توتي الجمعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حُميد ويلي دي چې حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به په خپل کور کې وُ کله به ئې د جمعې مونځ کاوه او کله به ئې د جمعې مونځ نه کاوه . د دي حديث روايت مسدد په خپل مسند کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي او بخاري تعليقًا ذکر کړي دي او دا الفاظ ئې زيات کړي دي چې هغه د دوه فرسخه (شپاړس کلو ميټره) په فاصله کې په زاويه نومي ځاي کې وُ .

﴿۸۹۴﴾ وَ عَن اَبِي عُبَيدٍ مَولَى ابنِ اَزهَرَ قَالَ شَهِدتُّ العِيدَ مَعَ عُثمَانَ فَجَاءَ فَصَلّٰى ثُمَّ انصَرَفَ فَخَطَبَ وَ قَالَ اِنَّه قَدِ اجتَمَعَ لَكُم فِي يَومِكُم هٰذَا عِيدَانِ فَمَن اَحَبَّ مِن اَهلِ العَالِيَة اَن يَنتَظِرَ الجُمُعَة فَلْيَنتَظِرْهَا وَ مَن اَحَبَّ اَن يَرجِعَ فَقَد اَذِنتُ لَه رواه مالك والبخاري في كتاب الاضاحي .(۱)

ترجمه : ابو عُبيد مولى بن ازهر ويلي زه د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره د اختر مانځه ته حاضر شوم نو هغه راغې مونځ ئې وکړ بيائې سلام واړاوه نو خطبه ئې وويله او وې ويل چې په تحقيق سره ستاسي دپاره ستاسي په دي ورځ دوه اختونه يوځاي شوي د خواوشا د کلو د خلکو نه چې ځوک د جمعې د مانځه انتظار خوهوي نو د جمعې د مانځه انتظار دي وکړي او ځوک چې واپس تلل خوهوي نو ماهغه ته اجازت ورکړي دي. د دي حديث روايت مالک او بخاري په کتاب الاضاحي کې کړي دي .

﴿۸۹۴﴾ وَ عَن حُذَيفَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَيسَ عَلَى اَهلِ القُرٰى جُمُعَة اِنَّمَا الجُمُعَةُ عَلَى اَهلِ الاَمصَارِ مِثلُ المَدَائِنِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده مرسل .(۲)

ترجمه : حضرت حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د باندو په خلکو باندي جمعه نشته بې شکه جمعه د مدائن په شان د ښارونو په خلکو باندي شته . د دي حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئې مرسل دي .

﴿۸۹۵﴾ وَعَنِ الشَّافِعِي قَالَ وَ قَد كَانَ سَعِيدُ بنُ زَيدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ اَبُو هُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يكونَانِ بِالسَّبْخَة عَلَى اَقَلِّ سِتَّة اَمْيَالٍ يشْهَدَانِ الجُمُعَة وَ يدَعَانِهَا وَ كَانَ يروِي اَنَّ اَحَدَهمَا كَانَ يكونُ بِالعَقِيقِ يدْرِك الجُمُعَة وَ يشْهدُهَا وَكَانَ يروِي اَنَّ عَبدَ الله بنِ عَمرِو بنِ العَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ عَلٰى مِيلَينِ مِنَ الطَّائِفِ يشْهدُ الجُمُعَة وَ يدَعُهَا رواه البيهقي في المعرفة باسناده الى الشافعي .(۳)

---

(۱) موطا امام مالك كتاب العيدين ص۱۶۵ باب الامر بالصلوة قبل الخطبة بخاري كتاب الاضاحي ج۲ ص۸۳۵ باب مايؤكل من لحوم الاضاحي وما يتزوّد منها.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ ص ۱۰۱ باب من قال لاجمعة ولا تشريق الا في مصر جامع .

(۳) معرفة السنن والآثار كتاب الجمعة ج۱ ص ۳۱۵ رقم الحديث ۹۳ ـــ ۶۲۹۲ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : شافعي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې سعيد بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دواړه په سبحه نومي مقام کې وُ چې د شپږو ميلونه په لږه فاصله کې دي دواړه به جمعې ته حاضريدل او کله به ئې د جمعې مونځ پريښوده او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دا روايت هم کړي وُ چې يو په دوي کې د عُقيق په مقام کې اوسيده د جمعې مونځ به ئې پريښوده او کله به د جمعې مانځه ته راته. او هغه دا روايت هم کړي وُ چې عبدالله بن عمرو بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د طائف نه په دوه ميله فاصله کې وُ جمعې ته به کله راته او کله به ئې د جمعې مونځ پريښوده هم. د دي حديث روايت بيهقي په معرفت کې تر شافعي رَحِمَهُ اللهُ پورې په خپل اسناد سره بيان کړي دي.

مسئلة الباب : دښار نه بهر کس باندې جمعه

هغه کس چې دښار نه بهر يا په ښار کې دننه اوځي نو په هغه باندې آيا جمعه واجب ده يا نه ؟

۱... دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد خارج مصر باندې داذان په اوريدو سره جمعه واجب ده.

۲... د حنفيه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد خارج مصر اوځيدونکو باندې جمعه واجب نه ده که اذان واوري او که نه.

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ دلائل :

۱...عن عائشة : " قَالَتْ كَانَ النَّاسُ يَنْتَابُونَ الْجُمُعَةَ مِن مَنَازِلِهِمْ ومن القرى ". دخلکو دکلو نه ښار ته د جمعې اداکولو لپاره راتلل د حنفيه په خلاف د جمهور حجت دي ځکه چې حنفيه اهل قريه باند جمعه واجب نه ګڼي حال دا چې د مدينې منورې باندې چيان ښار ته صرف د جمعې لپاره راتلل كما قاله القرطبي وغيره. (التعليق الحسن)

عن عبدالله بن عمرو عن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال : الجمعة على كل من سمع النداء (ابوداود رقم :۱۰۵۶)

د حنفيو دلائل : ۱. د عائشې رضي الله عنها مذکور حديث " كان الناس ينتابون الجمعة .... " الحديث، که په اهل قريه والا باندې د جمعې مونځ واجب کيدو نو هغه به ځانله ځانله راتللو پر ځاى يو ځاى په جمع راتلل.

۲. د باب دويم حديث : " كَانَ اَنَسٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي قَصرِهِ اَحيانًا يَجْمَعُ " ، که خارج د مصر نه جمعه واجب وې نو حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به هميشه لپاره جمعې لپاره راتللو.

۳. د عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول : " مَن اَحَبَّ مِن اَهلِ العَالِيَة اَن يَنْتَظِرَ الْجُمُعَة " الخ که په اهل قريه والا باندې د جمعې مونځ واجب وې نو هغوي ته به د جمعې مونځ نه مخکې دواپس تللو اجازت نه وې.

۴. د حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قول : " ليس على اهل القرى جمعة " ، غير مدرک بالقياس قول صحابي، حديث مرفوع په درجه کې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

ائمه ثلاثو ته داستدال جوابونه :

۱... دعائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه استدلال صحيح نه دي ، حافظ ابن حجر رَحِمَهُ اللهُ او نور شافعيه هم دي لره غلط گرځولي دي ځکه چې د حنفيو په مسلک باندې صريح دي نه د جمهور.

۲... "الجمعة على كل من سمع النداء" پخپل ظاهر باندې محمول نه دي ورنه داهل مصر په هغه خلکو جمعه واجب نه ده پکار ځوک چې د اذان آواز وانه وري د حنفيو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد ددي حديث محمل په فناء مصر کې داوځدونکو خلکو دي يعني ديو ښار مضافات په دي معامله کې ددي ښار په حکم کې دي.

﴿بَابُ اِقَامَةِ الْجُمُعَةِ فِي الْقُرٰى﴾

په کلو کې د جمعې د مانځه د قائمولو باب

﴿۸۹۶﴾ عنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اِنَّ اَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِي الْاِسْلَامِ بَعْدَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْمَدِينَةِ لَجُمُعَةٌ جُمِّعَتْ بِجَوَاثَا قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْبَحْرَيْنِ قَالَ عُثْمَانُ قَرْيَةٍ مِنْ قُرٰى عَبْدِ الْقَيْسِ رواه ابوداود و اسناده صحيح.

قَالَ النِّيمَوِي قَوْلُه قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى الْبَحْرَيْنِ اَوْ قَرْيَةٍ مِنْ قُرَى عَبْدِ الْقَيْسِ تَفْسِيرٌ مِنْ جِهَةِ الرَّاوِي لَا مِنْ كَلَامِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَالْقَرْيَةُ قَدْ تُطْلَقُ عَلَى الْمُدُنِ وَ كَانَتْ بِجَوَاثَى آثَارُ الْمَدِينَةِ. وَ قَدْ قَالَ اَبُو عُبَيْدٍ الْبَكْرِي فِي مُعْجَمِهِ هِيَ مَدِينَةٌ بِالْبَحْرَيْنِ لِعَبْدِ الْقَيْسِ.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې بې شکه د جمعې اول مونځ چې په اسلام کې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد کې ادا شوي د دي نه روسته اولنی مونځ په بجواثا نومي ځاي کې شوي دي جواثا د بحرين د کلو نه يو کلي دي او عثمان ويلي دي او د عبد قيس د کلونه يو کلي دي. د دي حديث روايت ابوداؤد کړي او اسناد ئې صحيح دي.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې دا قول من قري البحرين او قرية من قرئ عبد قيس دا د راوي تفسير دي او د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کلام نه دي ، يعني جواثا د بحرين د کلو نه يو کلي دي او يا د عبد قيس د کلو نه يو کلي دي. دا د راوي تفسير دي د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کلام نه دي. او د قري اطلاق کله په

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۳ باب الجمعة في القرى.

Maktaba Tul Ishaat.com

بنار باندي کيږي او په جواثا کې ځيني اثار د بنار موجود دي او ابوعبيد البکري په خپل معجم کې ويلي دي چې دا په بحرين کې يو بنار دي د عبد قيس.

﴿۸۹۷﴾ و عَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ وَكَانَ قَائِدَ اَبِيْهِ بَعْدَ مَا ذَهَبَ بَصَرُهُ عَنْ اَبِيْهِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ اَنَّهُ كَانَ اِذَا سَمِعَ النِّدَاءَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ تَرَحَّمَ لِاَسْعَدِ بْنِ زُرَارَةَ فَقُلْتُ لَهُ اِذَا سَمِعْتَ النِّدَاءَ تَرَحَّمْتَ لِاَسْعَدِ بْنِ زُرَارَةَ قَالَ لِاَنَّهُ اَوَّلُ مَنْ جَمَّعَ بِنَا فِيْ هَزْمِ النَّبِيْتِ مِنْ حَرَّةٍ بَنِيْ بَيَاضَةَ فِيْ نَقِيْعٍ يُقَالُ لَهُ نَقِيْعُ الْخَضَمَاتِ قُلْتُ كَمْ اَنْتُمْ يَوْمَئِذٍ قَالَ اَرْبَعُوْنَ رواه ابوداود و آخرون و قال الحافظ في التلخيص اسناده حسن و لابن ماجه فيه قَالَ اَيْ بُنَيَّ كَانَ اَوَّلُ مَنْ جَمَّعَ بِنَا صَلَاةَ الْجُمُعَةِ قَبْلَ مَقْدَمِ رَسُوْلِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَكَّةَ.

قَالَ النِّيْمَوِيْ اِنَّ تَجْمِيْعَهُمْ هٰذَا كَانَ بِرَأْيِهِمْ قَبْلَ اَنْ تُشْرَعَ الْجُمُعَةُ لَا بِاَمْرِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَمَا يَدُلُّ عَلَيْهِ مُرْسَلُ ابْنِ سِيْرِيْنَ اَخْرَجَهُ عَبْدُ الرَّزَّاقِ.(۱)

ترجمه: عبدالرحمن بن کعب بن مالک د خپل پلار د نظر د ختمیدو نه روسته د هغه قائد ؤ ده د خپل پلار کعب بن مالک نه روایت کړي چې هغه به کله د جمع اذان واوريده نو اسعد بن زراره ته به ئې دا الفاظ استعمالول او ربه ئې ورته ويل نو ما هغه ته وويل چې کله ته اذان واوري نو اسعد بن زراره ته د ترحمه الفاظ استعمالوي يعني رَحِمَهُ اللّٰهُ ورته وائې هغه ووېل دا اول شخص دي چې مونږ ته ئې په حره د بني بياضه هزم انيت د نفيع کې چې دي ته نفيع الخضمات ويلي شي د يو ځاي نوم دي د جمعې مونځ کړي ؤ ما ورته وويل چې تاسي په دغه ورځ څو کسان وئ هغه ووېل څلويښت کسان ؤ. د دي حديث روايت ابوداؤد او نورو محدثينو کړي دي او حافظ په تلخيص کې ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي او په ابن ماجه کې د دي حديث الفاظ دا دي چې اي بچو ريه دا اول هغه کس دي چې ده د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مکي مکرمې نه د هجرت کولو نه مخکې ئې مونږ ته د جمعې مونځ کړي ؤ.

نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې د دوي دا د جمعې مونځ کول د جمعې د شروع نه مخکې په خپله رأيه وه او د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په امر نه وه لکه چې د ابن سيرين رَحِمَهُ اللّٰهُ مرسل په دي باندي دلالت کوي.

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج ۱ص ۱۵۳ باب الجمعة في القرى، ابن ماجة، ابواب اقامة الصلوات ص ۷۷ باب فرض الجمعة، صحيح ابن خزيمة كتاب الجمعة ج ۳ص ۱۱۳ رقم ۱۷۲۴

Maktaba Tul Ishaat.com

دا حديث عبد الرزاق خارج كړي دي.

﴿۸۹۸﴾ و عن كعب بن عُجرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ انّ النّبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَمَّعَ اَوّلَ جُمُعَة حِينَ قَدِمَ المَدِينَة في مَسجِدِ بَنِي سَالِمٍ في مَسجِدٍ عَاتِكة رواه عمر بن شبة في اخبار المدينة و لم اقف علي اسناده.

قَالَ النِّيمَوِي اِنّ كَثِيرًا مِن اَهلِ التّارِيخِ وَالسِّيرِ اِختَارُوا مَا في هٰذَا الخَبَرِ لٰكنّه يعَارِضُ بِمَا رَوَاه البُخَارِي في رواية حَتّٰى نَزَلَ بِهِمْ في بَنِي عَمرِو بنِ عَوفٍ وَ ذٰلِك يومُ الاِثنَينِ مِن شَهرِ رَبِيعِ الاَوّلِ وَ في رِوَايَة فَاَقَامَ فِيهِم اَربَعَ عَشرَة لَيلة.

قَالَ النِّيمَوِي وَ بَنُو سَالِمٍ كَانَت مَحَلَّة مِن مَحَلاّتِ المَدِينَة بِشَيءٍ مِنَ الفَضلِ.(۱)

ترجمه: د كعب بن عُجره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله مدينې منوري ته تشريف راوړو نو اول ئې د بني سالم په مسجد مسجد عاتكه كې د جمعې مونځ وكړ. دا حديث عمر بن شيبة په اخبار مدينه كې روايت كړي دي او په اسناد ئې پوه نه يم.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي ډيرو سيرت ليكونكو او مؤرخينو دا خبره غوره كړي ده كومه چې په دي حديث كې ده خو ولي د دي سره هغه حديث معارض دي كوم چې بخاري په يو روايت كې نقل كړي دي. تر دي پورې چې هغه د دوي سره په بني عمرو بن عوف كې خكته شو او دا د ربيع الاول د مياشتې د ګل ورځ وه او په يو روايت كې دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغو كې څوارلس ورځې قيام فرمايلي وُ.

او نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې بنوسالم د مدينې منوري د محلو نه يوه محله وه په شا او لرې فاصله سره.

﴿۸۹۹﴾ وَ عَن اَبِي هرَيرَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنّهم كَتَبُوا اِلَى عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يسْأَلُونَ عَنِ الجُمُعَة فَكَتَبَ جَمِّعُوا حَيثُ مَا كُنتُمْ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و سعيد ابن منصور وابن خزيمة والبيهقي و قال هذا الاثر اسناده حسن.

قَالَ العَينِي مَعنَاه جَمِّعُوا حَيثُ مَا كُنتُمْ مِنَ الاَمصَارِ اَلا تَرَى اَنّهَا لاَ تَجُوزُ في البَرَارِي. قال وَ في البَابِ آثَارٌ اُخرَى لاَ تَقُومُ بِمِثلِهَا الحُجّة.(۲)

---

(۱) تاريخ المدينة المنوّرة عمر بن شبة ج۱ صـ ۶۸.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ صـ ۱۰۱ باب من كان يري الجمعة في القرى وغيرها. صحيح ابن خزيمة صـ، معرفة السنن والآثار كتاب الجمعة ج ۴ صـ ۳۲۳ رقم الحديث ۶۳۳۴ عمل ج۳ صـ ۵۲، تلخيص الحبير ۲ صـ ۵۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي چې خلکو حضرت عمر رضي الله عنه ته خط وليکه او د حضرت عمر رضي الله عنه نه ئې د جمعې په باره کې پوښتنه وکړه هغه وليکل د جمعې مونځ وکړئ هر ځاي کې چې ئې تاسي د دي حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه ، سعيد بن منصور ، ابن خزيمه او بيهقي کړي دي او ويلي ئې دي چې دا اثر د دي اسناد حسن دي عيني ويلي دي چې د دي حديث معنى دا ده چې د جمعې مونځ کوئ په هر ځاي کې چې ئې تاسي د ښارونو نه آيا تاسي نه ګورئ چې په خنګلونو کې د جمعې مونځ روانه دي .

او نيموي رحمه الله ويلي دي چې په دي باب کې نور اثار هم شته خو په داسي اثارو باندي حجت او دليل نشي قائميدي .

په کلو کې دجمعې مونځ جائز دي يا ناجائز؟

په کلو او باندو کې د جمعې د مانځه مسئله د فقهي د مهمو مسائلو نه يو مهمه او مختلف فيه مسئله ده او په دي مسئله کې مذهبي اختلاف په لاندي دوۍ سره بيانيږي .

(۱) مذهب: په دي باره کې د امام احمد رحمه الله قول دا دي د ده په نزد باندي په هر لوي او واړه کلي او باندو کې د جمعې مونځ صحيح دي او غير مقلدين هم د دي قائل دي بلکه غير مقلدينو په دي مسئله کې زياته غلو او د حد نه تجاوز کړي دوي فقط په کلي نه بلکه په خنګل کې هم د جمعې مونځ قائل دي . (۱)

(۲) مذهب: د امام شافعي رحمه الله او د امام مالک رحمه الله مشهور قول دا دي چې په ښار او قريه دواړو کې د جمعې مونځ صحيح دي خو ولې د امام شافعي رحمه الله نه په دي باره کې څه صريح قول نه دي نقل شوي .

(۳) مذهب: د حنفي مذهب صاحبانو په نزد باندي د جمعې د مانځه د صحت لپاره ښار او لوي کلي شرط دي په وړو کلو او باندو کې د جمعې مونځ جائز نه دي بيا د حنفي مذهب صاحبانو په خپل مونځ کې د ښار په تعين کې د قديم او حديث قول په اعتبار سره اختلاف دي بلکه د ديوبند او زمونږ د علماؤ ترمنځ هم په دي کې اختلاف دي .

(۱) حضرت تهانوي رحمه الله ويلي دي چې د نورو شرائطو نه په غير د خلکو د شمار په اعتبار سره چې دري زره ابادي وي . (۲) مفتي کفايت الله صاحب رحمه الله ويلي دي چې ابادي دوه نيم زره وي خو ولې د ژوند ضروريات پکې سرته رسيږي لکه مثلا ، کولال دکانو نه د وړو مشين . موچي ،

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ صـ ۴۶۶

Maktaba Tul Ishaat.com

اهنګر ، دهوبي ، شفاخانه هسپتال ، ډاکخانه ، او مکتب (سکول) او داسي نور او د يو مسجد نه زيات مسجدونه وي نو هلته د جمعي مونځ صحيح دي . (۱)

په کلو کې د جمعي د مونځ د صحت دليلونه : د الله جل شانه فرمان دي : (واذا نودي للصلوٰة من يوم الجمعة فاسعوا الي ذكرالله وذروا البيع) په کلو کې د جمعي د مانځه د صحت قائلين په دليل کې وائي چې (فاسعوا) مطلق دي په دي کې د بنار او يا د قرئي څه ذکر نشته نو د دي وجهې نه د جمعي مونځ په هر ځاي کې جائز دي . احنافو په جواب کې ويلي دي چې سعي د ندا پورې موقوفه ده او په دي کې دا بيان نه دي شوي چې نداء (اذان) کول چرته پکار دي او چرته نه دي پکار او کله چې په قريه کې نداء نه وي نو هلته سعي هم واجب نه ده . (۲)

د حضرت نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ استدلال : حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوي رَحِمَهُ اللهُ د دي ايت کريمه نه د احنافو مذهب ثابت کړي دي او ويلي ئي دي چې زه دومره زياته پوهه نلرم خو ولي دومره ويلي شم چې په کلو کې د جمعي د مانځه عدم جواز د قرآن شريف نه ثابت دي . قرآنکريم کې فرمان دي (يٰاايها الذين اٰمنوا اذا نودي للصلوٰة من يوم الجمعة فاسعوا الى ذكرالله) معنى دا چې اي مؤمنانو کله چې مانځه ته د جمعي اذان وکړي شي نو منډه وکړئ د الله جل شانه ذکر ته .

په دي ايت کريمه کې د جمعي د مانځه د پاره د سعي حکم ورکړي شوي دي چې ، د سعي معنى منډه وهل او په جلتئ سره تلل دي او د سعي نوبت هغه وخت راتلاي شي چې هلته د لري مسافي کټ کول وي او په کلو کې داسي نه کيږي .

بيا ئي فرمايلي دي (وذروا البيع) يعني اخستل او خرڅول پريلاډئ معلومه شوه چې د جمعي حکم د هغه ځاي د پاره دي چې چرته لوي بازار او منډئ وي نو هلته د خريد و فروخت په معاملو کې خلک ډير زيات مصروف وي په کلو کې دا داسي مصروف کيدو بازار چرته دي او ورپسي الله جل شانه فرمايلي (فاذا قُضيت الصلوٰة فانتشروا في الارض وابتغوا من فضل الله) يعني معنى دا چې د مانځه نه روسته په ځمکه کې خواره شئ او د امدن په خپلو ذرائعو کې ورته د مصروف کيدو حکم شوي دي نه دا هم خيال ته راځي چې په دي سلسله کې داسي يو مقام او ځاي پکار دي چې هلته په

---

(۱) خزائن السنن ج ۲ صـ ۱۷۵ .

(۲) درس ترمذي ج ۲ صـ ۲۶۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کثیر تعداد سره مشاغل او ذرائع وي او دا په ورو کلو کې چرته وي. (۱)

د دې باب اولنې حدیث (۸۹۶) حدیث چې حضرت ابن عباس رضی الله عنه ئې روایت کړي دي. امام شافعي رحمه الله په دې دلیل نیولي دي چې په قریه کې د جمعې مونځ صحیح دي او دلیل ورباندې د حضرت ابن عباس رضی الله عنه (۸۹۶) نمبر حدیث دي. حنفي مذهب حضراتو د دې په جواب کې ویلي دي (۱) جواب: چې لفظ د قریه د راوي تفسیر دي او دا ځکه چې همدغه روایت په بخاري ج۱ ص ۱۲۲ کې دي او په هغې کې دغه لفظ نشته. (۲)

(۲) جواب: د قریه لفظ مصر او بنار ته هم ویلي شي په قرآن کریم کې دي (اخرجنا من هذه القریة الظالم اهلها) (پ ۵) د دې قرې نه مراد مکه مکرمه ده. دویم مقام (واسئل القریة التي کنا فیها) (پ ۱۳) او د دې نه مراد مصر دي دریم مقام (لولا نزل هذا القرآن علی رجل من القریتین عظیم) (پ۲۵) او د دې نه مراد مکه او طائف دي.

او زمخشري په کشاف کې لیکلي دي چې عرب مدیني او بنار ته قریه وائي. او امام بیهقي په سنن کبری ج۳ ص۱۷۹ کې لیکلي دي چې (قال رسول الله صلی الله علیه وسلم الجمعة واجب علی کل قریة وان لم یکن فیها الا اربعة یعني بالقریٰ المدائن) یعني معنی دا چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې جمعه په هره قریه باندې واجب ده اګر که نه وي په دې کې مګر خو څلور کسان مراد د قرې نه مدائن او بنارونه دي. (۳)

او بله خبره دا ده چې کله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مدیني ته هجرت وکړو نو په کومه ورځ چې ورسیده دغه ورځ د جمعې ورځ وه او رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ټولو نه مخکې د جمعې مونځ په مدینه منوره کې په بنوسالم کې کړي وُ او په دې باندې د ټولو محدثینو او مؤرخینو اتفاق دي او په قباء کې ئې څوارلس اویا څلریشت ورځې قیام فرمایلي دي خو ولې په دغه ورځو کې ئې هلته د جمعې مونځ نه دي کړي او د مسجد نبوي صلی الله علیه وسلم نه روسته ئې د ټولو نه مخکې چې د جمعې مونځ ادا کړي دي هغه په جواثا کې وُ او جواثا د بحرین د قریو نه یوه قریه وه.

---

(۱) حاشیه درس ترمذي ج ۲ ص ۲۶۷.

(۲) خزائن السنن ج ۱ ص ۱۷۷.

(۳) خزائن السنن ج ۲ ص ۱۷۷-۱۷۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) د دي باب دويم (۸۹۷) حديث چې عبدالرحمن بن كعب ئې روايت كړي دي او په دي باندې د جواز قائلينو استدلال كړي ويلي ئې دي چې په كوم كلي كې ځلوينښت كسان وي نو هلته د جمعې مونځ صحيح دي. احنافو حضراتو د دي په جواب كې ويلي دي چې دغه كار صحابه كرامو په خپله مرضي او په خپله رأيه كړي دي.

برسيره پردي باندې په مصنف عبدالرزاق ج ۱ ص ۱۵۹ كې په صحيح سند سره د محمد بن سيرين رَحِمَهُ اللهُ نه په تفصيل سره حديث روايت شوي دي چې په هغې كې په صراحت سره دا خبره شوې ده چې دغه د جمعې مونځ صحابه كرامو په خپل اجتهاد سره كړي ؤ ولې ځكه چې تر دغه وخته پورې لا د جمعې احكام هم نه ؤ نازل شوي. نو د دي وجهې نه په دغه واقعه باندې استدلال صحيح نه دي. (۱)

(۴) د دي باب (۸۹۸) حديث چې كعب بن عجره ئې روايت كړي دي دا هم د شرافعو مستدل دي او په دي كې تصريح شوې ده چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اول د قباء نه راغې بني سالم محلي ته او هلته ئې د جمعې مونځ ادا كړ او د بني سالم دغه محله يو ورځې شان كلي ؤ. امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د بني سالم محله د مدينې منورې په مضافاتو كې داخله وه ګويا كې په دي محله كې د جمعې مونځ كول داسې ؤ لكه چې په مدينه منوره كې ئې كړي وي همدغه وجه ده چې دسيرپه كتابونو كې داسې الفاظ دي: (اول جمعة صلاها بالمدينة) يعني معنى دا چې د دغه بني سالم د محلي نه ئې تعبير په مدينې سره كړي دي. (۲)

(۵) د دي باب اخري (۸۹۹) حديث چې ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت كړي دي هغه هم د جواز د قائلينو مستدل دي ولې چې په هغې كې د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپلو عاملينو ته خط ليږلي ؤ چې (جمعوا حيث ما كنتم)

علامه عيني د مصنف د حديث په جواب كې ويلي دي چې د حيث لفظ دلته په خپله ظاهري معنې باندې محمول نه دي ځكه چې د دي ظاهري مقتضي دا ده چې په صحراګانو كې هم د جمعې مونځ جائز دي سره د دي چې د دي په عدم جواز باندې د امت اجماع شوې ده نو د دي وجهې نه دا حكم عُمالو او حكامو ته ؤ چې هغوي عموماً په بنارونو او مركزي ځايونو كې اوسيدل. (۳)

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ ص ۲۶۹-۲۷۰.

(۲) درس ترمذي ج ۲ ص ۲۷۰-۲۷۱.

(۳) درس ترمذي ج ۲ ص ۲۷۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابٌ لَا جُمُعَةَ إِلَّا فِي مِصْرٍ جَامِعٍ﴾
فقط په لويو بانرونو کې د جمعې د مانځه باب

﴿۹۰۰﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فِي حَدِيثٍ طَوِيلٍ فِي حَجَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَأَجَازَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى أَتَى عَرَفَةَ فَوَجَدَ الْقُبَّةَ قَدْ ضُرِبَتْ لَهُ بِنَمِرَةَ فَنَزَلَ بِهَا حَتَّى إِذَا زَاغَتِ الشَّمْسُ أَمَرَ بِالْقَصْوَاءِ فَرُحِلَتْ لَهُ فَأَتَى بَطْنَ الْوَادِي فَخَطَبَ النَّاسَ إِلَى أَنْ قَالَ ثُمَّ أَذَّنَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الظُّهْرَ ثُمَّ أَقَامَ فَصَلَّى الْعَصْرَ وَلَمْ يُصَلِّ بَيْنَهُمَا شَيْئًا رواه مسلم.(۱)

قَالَ النِّيمَوِي وَكَانَ ذٰلِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ.

ترجمه : حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حج په سلسله کې په يو اوږد حديث کې ويلي دي نو مخکې لاړ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تر دي چې عرفات ته ورسيد نو يو قبه ئې وليده چې د ده د پاره د ډير کرهي لرونکي ځادر نه جوړه شوي وه نو هلته تشريف فرما شو تر دي پورې چې د نمر زوال وشو نو د قصواي نومي اوه په باره کې ئې امر وفرمائيې نو د ده صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره په قصواء باندې کجاوه کښودل شوه نو بطن وادي ته ئې تشريف ويوړ نو خلکو ته ئې خطبه وويله تر دي پورې چې حضرت جابر ويلي دي چې بيا ئې اذان وکړ بيا ئې اقامت وکړ نو د ماسپښين مونځ ئې وکړ بيا ئې اقامت وکړ نو د مازيګر مونځ ئې وکړ او د دې دواړو مونځونو په منځ کې ئې هيڅ مونځ ونکړ. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې دا د جمعې مونځ وُ.

﴿۹۰۱﴾ وَ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ أَوَّلَ جُمُعَةٍ جُمِّعَتْ بَعْدَ جُمُعَةٍ فِي مَسْجِدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي مَسْجِدِ عَبْدِ الْقَيْسِ بِجُوَاثَى مِنَ الْبَحْرَيْنِ رواه البخاري.

قَالَ النِّيمَوِي إِنَّ هٰذَا الْأَثَرَ يَسْتَفَادُ مِنْهُ أَنَّ الْجُمُعَةَ تَخُصُّ بِالْمُدُنِ كَالْمَدِينَةِ وَ جَوَاثَا وَ لَا تَجُوزُ فِي الْقُرٰى.(۲)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد کې د جمعې

---

(۱) مسلم كتاب الحج ج۱ صـ ۳۹۶ باب حجة النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

(۲) بخاري كتاب الجمعة ج۱ صـ ۱۲۲ باب الجمعة في القرى والمدن.

Maktaba Tul Ishaat.com

نه پس د ټولو نه مخکې د بحرين په جوائې نومي ځاي کې د ابن قيس په مسجد کې د جمعې مونځ شوې وُ . د دې حديث روايت بخاري کړې دي .

نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د دې حديث اثر نه دا خبر فهمېږي چې د جمعې مونځ د بنارونو پورې خاص دي لکه مدينه او جوائې او په کلو او قريو کې د جمعې مونځ نه دي روا .

﴿۹۰۲﴾ وَعَنْ أَبِي عَبْدِ الرَّحْمٰنِ السُّلَمِيِّ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَا تَشْرِيقَ وَلَا جُمُعَةَ إِلَّا فِي مَسْجِدٍ جَامِعٍ

رواه عبد الرزاق و ابوبكر بن ابي شيبة والبيهقي في المعرفة وهو اثر صحيح .(۱)

ترجمه : د ابو عبدالرحمن السلمي نه روايت دي چې حضرت علي کرم الله وجنبه ويلي دي چې جمعه او تشريق په غير د مصر جامع نه (مسجد جامع) نه صحيح نه دي . د دې حديث روايت عبدالرزاق ، ابن ابي شيبه او بيهقي په معرفت کې روايت کړې دي او دا اثر صحيح دي .

﴿۹۰۳﴾ وَعَنِ الْحَسَنِ وَ مُحَمَّدٍ أَنَّهُمَا قَالَا الْجُمُعَةُ فِي الْأَمْصَارِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ او د محمد بن سيرين رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې جمعه په بنارونو کې ده . د دې حديث روايت ابوبكر بن ابي شيبه کړې دي او د دې اسناد صحيح دي .

تشريح : د احنافو د پاره په کلو کې د جمعې د عدم جواز دليلونه : د دې باب ټول روايتونه د (۹۰۰ حديث نه نيولې تر ۹۰۳) حديث پورې دا ټول د احنافو مستدل دي (۱) د دې باب اولنې (۹۰۰) حديث چې حضرت جابر بن عبدالله ئې روايت کړې دي په دې کې په دې خبره باندې تصريح شوې ده او دا خبره په صحيحو روايتونو ثابته شوې ده چې د حجة الوداع په کال په عرفات باندې د وُدريدو ورځ د جمعې ورځ ده او دا خبره هم ټولو روايتونو په متفقه طور کړې ده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په عرفات کې د جمعې مونځ نه وُ ادا کړې بلکه د ماسپښين مونځ ئې ادا فرمايلې وُ غير د دې نه د دې بلده هيڅ وجه نشي کيدې چې د جمعې د پاره بنار شرط دي . (۳)

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب الجمعة ج۳ص ۱۶۸باب القرى الصغار برقم ۵۱۷۷ ، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۰۱ من قال لا جمعة ولا تشريق ...الخ ، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج۳ص ۱۷۹ باب عدد الذين اذا كانوا في قرية ...الخ . معرفة السنن والآثار كتاب الجمعة ح ۴ ص ۳۲۲ رقم الحديث ۶۳۳۰.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۰۱ باب من قال لا جمعة ولا تشريق الا في مصر جامع .

(۳) درس ترمذي ج ۲ ص ۲۷۲-۲۷۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

د دي باب دويم (۹۰۱) حديث هم د احنافو د پاره مستدل دي. او دا ځکه چې د جمعې مونځ په اول سن هجري کې او يا د دي نه هم مخکې فرض شوي وُ او په جواثي کې د بنو عبدالقيس د جمعې د مانځه واقعه د هجرت نه شپږ کاله روسته وُه او دا ښکاره خبره ده چې مسلمانانو او صحابه کرامو د شپږو کلونو په دوران کې اسلام تر لرو لرو کلو پورې رسولي وُ او بې شماره کلي د مسلمانانو په قبض کې راغلي وُ نو د ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روايت مطابق چې د مسجد نبوي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه په غير په بل ځاى کې د جمعې مونځ نه وُ قائم شوي دا د دي خبرې واضح دليل دي چې په ورو ورو کلو کې د جمع مونځ جائز نه دي.

(۳) د دي باب دريم (۹۰۲) حديث چې حضرت ابي عبدالرحمن السلمي د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت کړي په هغه حديث کې تصريح شوي ده چې تشريق او جمع دواړه په غير د مصر جامع نه په بل ځاى کې صحيح نه دي د بخاري ج ۱ ص ۱۲۲ حاشيه نمبر ۸ کې دي: استدل ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ بما رواه عبدالرزاق عن علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قال لا جمعة ولا تشريق الا في مصر جامع (۱) وكذا رواه ابن ابي شيبة عن طريق حجاج الخ وروي ايضًا بسند صحيح حدثنا جرير عن منصور الخ قال النووي حديث علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ متفق علي ضعفه فكانه لم يطلع الا على الاثر الذي فيه الحجاج ولم يطلع على طريق جرير عن منصور فانه سند صحيح ولو اطلع لم يقل بما قاله. كذا في العيني وقال ابن الهمام وكفى بعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قدوة اماما. يعني امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ د عبدالرزاق په روايت باندې چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه ئې روايت شوي استدلال کړي دي چې نه جمع شته او نه تشريق مګر په جامع مصر او بنار کې همدغسې د دي حديث روايت ابن ابي شيبه د حجاج د لارې نه کړي او همدغسې ابي شيبه هم د دي حديث روايت په صحيح سند سره کړي دي ناجرير عن منصور الخ پس په تحقيق دا صحيح مسند دي. نووي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حديث اتفاقي ضعيف دي گويا که نووي رَحِمَهُ اللهُ نه وُ خبر مګر په هغه روايت چې په هغې کې حجاج وُ او د جرير عن منصور په طريقه خبر نه وُ که چرته خبر وي نو دا خبره به ئې نه کوله. په عيني کې همدغسې دي او ابن الهمام ويلي دي چې علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کافي دي د قدوت او امامت په لحاظ سره. (۲)

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ صـ ۲۷۳-۲۷۴.

(۲) بخاري ج ۱ صـ ۱۲۲، حاشيه نمبر ۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۴) د باب اخري (۹۰۳) حديث چې حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ او محمد بن سيرين رَحِمَهُ اللهُ روايت کړي دي او فتوى ئې صادره کړي ده چې د جمعې مونځ فقط او فقط په ښارونو کې وي.

﴿بَابُ الْغُسلِ لِلْجُمُعَة﴾

د جمعې د پاره د غسل باب

﴿۹۰۴﴾ عَن عَبدِ الله رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِذَا أَرَادَ أَحَدُكُمْ أَن يَأتِيَ الْجُمُعَةَ فَلْيَغتَسِلْ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه: حضرت عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې ما د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئې کله چې يو ستاسي د جمعې مانځه ته د راتلو اراده وکړي نو غسل دي وکړي. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۹۰۵﴾ وَ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنهَا زَوجِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت كَانَ النَّاسُ يَنتَابُونَ الْجُمُعَةَ مِن مَنَازِلِهِمْ وَالْعَوَالِي فَيَأتُونَ فِي الْغُبَارِ فَيُصِيبُهُمُ الْغُبَارُ وَالْعَرَقُ فَيَخرُجُ مِنهُمُ الْعَرَقُ فَأَتَى رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ إِنسَانٌ مِنهُمْ وَ هُوَ عِندِي فَقَالَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَو أَنَّكُم تَطَهَّرْتُم لِيَومِكُمْ هٰذَا رواه الشيخان.(۲)

ترجمه: حضرت عائشې صديقې رَضِيَ اللهُ عَنهَا د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مطهري زوجي فرمايلي دي خلک به د جمعې مانځه ته د خپلو ځايونو او د خواو شا اطرافو نه نوبت په نوبت په ګردونو کې راتلل او بدن به ئې د خولو او ګردونو نه ډک وُ نو خولي به تري راوُتې د دوي نه يو کس رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ته په داسي حال کې راغې چې هغه ځما سره تشريف فرماوُ نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وُفرمايل کاش چې تاسو د دي خپلي ورځې د پاره ځان صفا کړي وي. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۹۰۶﴾ وَ عَنهَا أَنَّهَا قَالَت كَانَ النَّاسُ أَهلَ عَمَلٍ وَ لَم تَكُن لَهُم كِفَاءَةٌ فَكَانُوا يَكُونُ لَهُم تَفَلٌ فَقِيلَ لَهُم لَو غَتَسَلْتُم يومَ الجمعة رواه الشيخان.(۳)

---

(۱) مسلم کتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۷۹ واللفظ له ، بخاري کتاب الجمعة ج۱ صـ ۱۲۰ باب فضل الغسل يوم الجمعة .

(۲) مسلم کتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۸۰. بخاري کتاب الجمعة ج۱ صـ ۱۲۳ باب من اين توتى الجمعة .

(۳) مسلم کتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۸۰ ، بخاري کتاب الجمعة ج۱ صـ ۱۲۳ باب وقت الجمعة اذا زالت الشمس .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت عائشي رضي الله عنها ويلي دي چې خلک محنت کش او مزدور کاروُ او د دوي د پاره څه کتلي شوي جمع کړي شوي مال نه چې ډ نو د دي وجهي نه به ئي د جمعي پا ورځ هم کار کاوه نو د دوي نه به بوي ته نو دوي ته ويلي شوي وُ چې کاش تاسو د جمعي په ورځ غسل کولي . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي .

﴿۹۰۷﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم مَنْ تَوَضَّأَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَبِهَا وَنِعْمَتْ وَمَنِ اغْتَسَلَ فَالْغُسْلُ أَفْضَلُ رواه الثلاثة و قال الترمذي حديث حسن (۱)

ترجمه : حضرت سمُره بن جند رضي الله عنه ويلي دي چې رسول اکرم صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د جمعي په ورځ اودس وکړي ښه خبره ده او څوک چې غسل وکړي نو غسل افضل دي . د دي حديث روايت دريوْ محدثينو کړي دي او ترمذي ويلي دي چې حديث حسن دي .

﴿۹۰۸﴾ وَعَنْ عِكْرِمَةَ أَنَّ أُنَاسًا مِنْ أَهْلِ الْعِرَاقِ جَاءُوا فَقَالُوا يَا ابْنَ عَبَّاسٍ أَتَرَى الْغُسْلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَاجِبًا قَالَ لَا وَلَكِنَّهُ أَطْهَرُ وَخَيْرٌ لِمَنِ اغْتَسَلَ وَمَنْ لَمْ يَغْتَسِلْ فَلَيْسَ عَلَيْهِ بِوَاجِبٍ وَسَأُخْبِرُكُمْ كَيْفَ بُدِأَ الْغُسْلُ كَانَ النَّاسُ مَجْهُودِينَ يَلْبَسُونَ الصُّوفَ وَيَعْمَلُونَ عَلَى ظُهُورِهِمْ وَكَانَ مَسْجِدُهُمْ ضَيِّقًا مُقَارِبُ السَّقْفِ إِنَّمَا هُوَ عَرِيشٌ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم فِي يَوْمٍ حَارٍّ وَعَرِقَ النَّاسُ فِي ذٰلِكَ الصُّوفِ حَتّٰى ثَارَتْ مِنْهُمْ رِيَاحٌ آذٰى بِذٰلِكَ بَعْضُهُمْ بَعْضًا فَلَمَّا وَجَدَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم تِلْكَ الرِّيحَ قَالَ أَيُّهَا النَّاسُ إِذَا كَانَ هٰذَا الْيَوْمُ فَاغْتَسِلُوا وَلْيَمَسَّ أَحَدُكُمْ أَفْضَلَ مَا يَجِدُ مِنْ دُهْنِهِ وَطِيبِهِ قَالَ ابْنُ عَبَّاسٍ رضي الله عنه ثُمَّ جَاءَ اللهُ تَعَالٰى بِالْخَيْرِ وَلَبِسُوا غَيْرَ الصُّوفِ وَكُفُوا الْعَمَلَ وَوَسَّعَ مَسْجِدَهُمْ وَذَهَبَ بَعْضُ الَّذِي كَانَ يُؤْذِي بَعْضُهُمْ بَعْضًا مِنَ الْعَرَقِ رواه ابوداود والطحاوي و قال الحافظ اسناده حسن . (۲)

ترجمه : د عکرمه نه روايت دي چې يو څه خلک د عراق نه راغلي وُ نو وي ويل چې اي ابن عباس! ستا په خيال د جمعي په ورځ غسل واجب دي هغه وويل چې نه خو ولي دا کار ښه پاکيزه او بهتر دي

---

(۱) ترمذي ابواب الجمعة ج۱ص ۱۱۱ باب في الوضوء يوم الجمعة ، ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ص ۵۱ باب الرخصة في ترك الغسل يوم الجمعة ، نسائي كتاب الجمعة ج۱ص ۲۰۵ باب الرخصة في ترك الغسل يوم الجمعة .

(۲) ابوداؤد كتاب الطهارة ج۱ص۵۱ باب الرخصة في ترك الغسل يوم الجمعة ، طحاوي كتاب الطهارة ج۱ص ۸۳ باب غسل يوم الجمعة

Maktaba Tul Ishaat.com

چې چا غسل وکړ او که غسل ئې ونه کړ نو واجب پرې نه دي او زه به تاسو خبر کړم چې غسل څنګه شروع کړي شو خلک محنت کش ؤ د وړئ جامي به ئې اغوستلې په خپلو شاګانو باندي به ئې پيتې ورل د دوي مسجد تنګ او چت ئې تيت ؤ نو رسول الله ﷺ په يوه ګرمه ورځ کې تشريف راوړ او خلک په وړئ کې خوله شوي ؤ تر دي پوري چې د دوي نه بوي خاته نو د دي وجهې نه ځينو ځينو ته تکليف رساوه نو کله چې رسول الله ﷺ دغه بوي محسوس کړ وي فرمايل اي خلکو کله چې دغه ورځ شي نو غسل کوئ او پوري کوي دي يو ستاسي د بهتر هغه خپلې خوشبوي او تيلونه چې ورسره وي حضرت ابن عباس رضي الله عنه وويلي چې بيا الله جل شانه د جمعې ذکر په ښه او بهترې طريقې سره وکړ او خلکو د وړئ نه په غير نورې هي جامي اغوستې او د کارونو نه بند شو او مسجد ئې پراخه شو . او بعضې هغه بوي ختم شو چې ضرر به رساوه بعضو بعضو نه د خولې په وجه . د دې حديث روايت ابوداؤد او طحاوي کړي او حافظ ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي .

﴿۱۰۹﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رضي الله عنه قَالَ مِنَ السُّنَّةِ اَلْغُسْلُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ رواه البزار و اسناده صحيح .[1]

ترجمه : حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه ويلي دي چې د سنت د طريقې نه دي غسل د جمعې په ورځ د دي حديث روايت بزار کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

د جمعې غسل واجب دي يا مسنون ؟

نبي اکرم ﷺ غسل د جمعې د ادابو نه ګڼلې دي خو ولي د ائمه ؤ ترمنځ په غسل کې اختلاف دي چې آيا غسل مستحب دي که مؤکد سنت دي او که واجب دي په دي باره کې دري مذهبه دي :

(۱) مذهب : امام محمد رحمه الله په مبسوط کې ويلي دي چې د جمعې غسل حسن دي .

(۲) مذهب : اهل ظواهر د جمعې د ورځې غسل واجب ګڼري او د امام شافعي رحمه الله او د امام احمد رحمه الله نه هم يو روايت د وجوب نقل شوي دي او ابن قيم رحمه الله ويلي دي چې د جمعې د ورځې د غسل وجوب د وتر د وجوب نه زيات قوي دي او امام مالک رحمه الله طرف ته هم د جمعې د ورځې د غسل وجوب منسوب شوي دي . (۲)

---

(۱) كشف الاستار عن زوائد البزار ابواب الجمعة ج۱ص ۳۰۱ باب من السنة الغسل يوم الجمعة .

(۲) توضيح السنن ج ۲ ص ۵۵۳.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) مذهب: د احنافو او د اکثرو اهل علمو دي. د احنافو او د اکثرو اهل علمو په نزد د جمعي د ورځي غسل سنت مؤکد دي قاضي عياض مالکي ابن عبدالبر مالکي او خطابي شافعي او نور عام امامان او فقيهان. (۱)

د باب په حديثونو باندي د امامانو استدلال: (۱) د دي باب په اولني (۹۰۴) حديث کې چې د عبدالله رضي الله عنه نه ئې روايت شوي د **فليغتسل** د امر په صيغه سره تصريح شوي او دا بنکاره خبره ده چې د امر مفهوم وجوب دي دغه په بنکاره د وجوب د مدعيانو مستدل دي خو ولي د جمهورو علماؤ په نزد ځرنګه چې د جمعي په ورځ غسل کول واجب نه دي نو د دي وجهي نه دغه حديث او د دي په شان نور قول حديثونه په سنت باندي محمول دي ځکه چې د دي نه په غير د ډيرو نورو حديثونو نه ثابته ده چې د جمعي په ورځ غسل واجب نه دي خو بيا هم علماؤ ليکلي دي چې د جمعي په ورځ غسل نه کول مکروه دي.

(۲) د دي باب دويم په (۹۰۵) حديث کې چې د حضرت عائشي رضي الله عنها ئي روايت شوي دي د (**لو انکم تطهرتم ليومکم هذا**) الفاظ راغلي دي چې د دي الفاظو مقتضي دا ده چې غسل واجب نه دي خو که غسل وکړئ نو بهتره ده او دا حديث د جمهورو مستدل دي.

(۳) د دي باب په دريم (۹۰۶) حديث کې، چې د حضرت عائشي رضي الله عنها ئي روايت شوي دي داسي الفاظ راغلي دي چې (**لو اغتسلتم يوم الجمعة**) د دي الفاظو معنى عدم وجوب دي.

(۴) د دي باب په څلورم (۹۰۷) حديث کې چې سمره ابن جندب رضي الله عنه ئي روايت کړي دي د (**فبها ونعمت**) الفاظ راغلي دي. نو په (**فبها**) لفظ کې (ها) د ضمير مرجع يا خو (سنت) دي او يا خو (خصلت) دي او يا خو (فريضت) دي: که (ها) ضمير مرجع (سنت) شي نو د (ها) حرف جاره دي او په محذوف فعل پوري متعلق دي او د نعمت فاعل سنت دي نو معنى ئي دا شوه چې (**بالسنة اخذ ولعمت السنت**) او که په (**فبها**) کې د (ها) ضمير مرجع خصلت شي نو مفهوم به ئي داسي شي چې **فبهذه الخصلة الفضل ولعمت الخصلة هي** او که په (**فبها**) کې (ها) ضمير مرجع فريضت شي نو مدلول به ئي داسي شي **فبالفريضة اخذ ولعمت الفريضة**.

---

(۱) معارف السنن، ج ۴، ص ۲۲۱

Maktaba Tul Ishaat.com

(۵) د دي باب په پسځم (۹۰۸) حديث کې چې د عکرمه نه ئې روايت شوي دي او د دي حديث مفهوم او مدلول بالکل واضح دي چې غسل واجب نه دي.

(٦) د دي باب په شپږم (۹۰۹) حديث کې چې حضرت عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت کړي دي الفاظ ئې دا دي چې (من السنة الغسل يوم الجمعة) په دي کې د غسل په سنتيت باندي حکم شوي دي او په خپل مفهوم کې په دي خبره باندي صريح الدلالت دي چې د جمعې غسل واجب نه دي بلکه سنت دي.

او بعضو علماؤ ويلي دي چې د دي احاديثو نه د جمعې د ورځې د غسل وجوب استفاده شوي او د عکرمه روايت د حکم د وجوب د پاره ناسخ دي.

(آيا د جمعې دورځې غسل به د جمعې د مانځه د پاره کولي شي او که د جمعې دورځې د پاره به کولي شي) : په دي باره کې دوه قوله راغلي دي. (۱) يو قول دا امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ دي : د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندي د جمعې غسل د جمعې د مانځه د پاره دي او جمهورو هم دا خبره صحيح ګنړلې ده او دا ځکه چې د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا او د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حديث کې داسې الفاظ راغلي دي (اذا جاء احدكم الجمعة فليغتسل) يعني کله چې يو ستاسې جمعې ته حاضر شي نو غسل دي وکړي.

او دويم قول د حسن ابن زياد رَحِمَهُ اللهُ دي او د ده په نزد د جمعې غسل د جمعې د ورځې د پاره دي(۱) داؤد ظاهري امام محمد رَحِمَهُ اللهُ او په يو روايت کې د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ رأيه هم دا ده لکه چې بنائي دا خبره کړي ده او وجه ئې ورته داسې ويلي ده چې د جمعې ورځ د ټولو ورځو نه اشرفه او افضله ده نو د دي وجهې نه په دغه ورځ کې غسل سنت وګرځولي شو چې د فضيلت اظهار ئې وشي او بله وجه ئې دا ده چې په احاديثو کې د غسل اضافت د جمعې ورځې ته شوي دي نو دغه اضافت په دي خبره باندي دلالت کوي چې غسل د جمعې د ورځې د پاره دي نه د جمعې د مانځه د پاره.

او د دي اختلاف په نتيجه کې د دينه د يو څو مسائلو استنباط کيدي شي چې په لاندي دوو سره بيانيږي.

(۱) په بنايه کې ويلي شوي دي چې کوم يو کس د جمعې په ورځ غسل وکړي او د ده اودس مات شي او بيا په نوي اودس باندي د جمع مونځ وکړي نو د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندي د ده د جمعې د غسل ثواب ونه شو او د حسن بن زياد په نزد باندي د ده د غسل ثواب وشو. او معارف

---

۱) معارف ج ۴ ص ۲۲۱

Maktaba Tul Ishaat.com

السنن هم په ج۴ص۳۲۱ کې مختصره شان اشاره کړي ده او ویلي دي چې وثمرة الخلاف فيمن لا جمعة عليه وفيمن احدث بعد الغسل يعني د خلاف فائده په ګوډغه چا مرتب ده چې جمع وربانديفرض نه وي او يا په هغه چا باندي فائده مرتب ده چې غسل نه ورسته بې اودسه شي.

(۲) په کافي نوم کتاب کې راغلي دي چې که چرته يو کس د جمعې د ورځې د صبا نه مخکې اودس او غسل وکړي او په دي اودس او غسل باندي د جمع مونځ اداء کړي نو د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندي ده ته د غسل فضيلت حاصل شو او د حسن ابن زياد رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندي ده ته د غسل فضيلت حاصل نه شو.

(۳) په درمختار کې راغلي دي چې په کومو خلکو باندي د جمعې مونځ واجب نه وي لکه مسافر او بنځه او غلام شو په دوي باندي د حسن رَحِمَهُ اللهُ د قول په بناء غسل سنت دي او بنا په قول د امام ابويوسف رَحِمَهُ اللهُ باندي په دوي باندي غسل سنت نه دي. (۱)

﴿بَابُ السِّوَاكِ لِلْجُمُعَةِ﴾

د جمعې د پاره د مسواک باب

﴿۱۱۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي جُمُعَةٍ مِنَ الْجُمَعِ مَعَاشِرَ الْمُسْلِمِينَ أَنَّ هٰذَا يَوْمٌ جَعَلَهُ اللهُ لَكُمْ عِيدًا فَاغْتَسِلُوا وَعَلَيْكُمْ بِالسِّوَاكِ رواه الطبراني في الاوسط والصغير واسناده صحيح. (۲)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د جمعو نه په يوه جمعه کې فرمايلي ږ چې اي د مسلمانانو ډلي بې شکه دا يوه ورځ ده چې الله جل شانه دا ورځ ستاسي اختر ګرځولې ده نو بناءً تاسو غسل وکړي او مسواک ووښئ. د دي حديث روايت په اوسط الصغير کې طبراني کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

---

(۱) توضيح السنن ج ۲ صـ ۵۵۵-۵۵۶.

(۲) مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲صـ ۱۷۳ باب حقوق الجمعة من الغسل والطيب وغير ذلك ، المعجم الصغير للطبراني ج۱صـ ۱۲۹ ، المعجم الاوسط ج۴ صـ ۲۵۹ برقم ۴۴۵۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئلة الباب :د جمعې په ورځ خصوصیت سره مسواک کول مسنون دي تاسو په دې مذکوره حدیث کې "علیکم بالسواک" کې اوګورئ صیغه دامر ده لیکن بالاتفاق وجوب مراد نه دي بلکې استحباب یعني سنیت مراد دي داهل ظواهرو په نزد هم.

﴿بَابُ الطِّيبِ وَالتَّجَمُّلِ يومَ الجُمُعَة﴾

د جمعې په ورځ د زینت او د خوشبوي لګولو باب

﴿۹۱۱﴾ عَن سَلمَانَ الفَارِسِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ : قَالَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يغتَسِلُ رَجُلٌ يومَ الجُمُعَة وَ يتَطَهرُ مَا استَطَاعَ مِنَ الطُّهرِ وَيدَّهنُ مِن دُهنِهِ أَو يمَسُّ مِن طِيبِ بَيتِهِ ثُمَّ يخرُجُ فَلَا يفَرِّقُ بَينَ اثنَينِ ثُمَّ يصَلِّي مَا كتِبَ لَه ثُمَّ ينصِتُ إِذَا تَكلَّمَ الإِمَامُ إِلَّا غُفِرَ لَه مَا بَينَه وَ بَينَ الجُمُعَة الأُخرَى رواه البخاري .(۱)

ترجمه : حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي غسل به ونه کړي یو سړي په ورځ د جمعې او پاکي به حاصله نکړي څومره ئې چې د پاکئ د حاصلولو طاقت وي او د خپل د استعمال والا تیلو نه به تیل وُنه لګوي او یا به د کور د استعمال والا خوشبوي نه خوشبوي ونه لګوي او بیا راوځي خو د دوه وُ کسانو تر منځ جدائي رانه ولي چې کوم ځاي ورته پیدا شي په همغه ځاي کې بیا مونځ وکړي څومره چې ورته لیکلي شوي مقرر کړي شوي دي بیا چې شي کله چې امام خبري کوي مګر خو بخښنه به ورته وکړي شي د هغه ګناهونو چې د دي جمعې نه تر بلي جمعې پورې دي. د دي حدیث روایت بخاري کړي دي.

﴿۹۱۲﴾ وَ عَنه قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يا سَلمَانَ هل تَدرِي مَا يومُ الجُمُعَة قُلتُ هوَ الَّذِي جَمَعَ الله فِيه آبَاكَ أَو أَبَوَيك قَالَ لَا وَلكن أُحَدِّثُك عَن يومِ الجُمُعَة مَا مِن مُسلِمٍ يتَطَهرُ وَ يلبَسُ أَحسَنَ ثِيَابِهِ وَ يتَطيبُ مِن طِيبِ أَهلِهِ إِن كَانَ لَهم طِيبٌ وَ إِلَّا فَالمَاءُ ثُمَّ يأتِي المَسجِدَ فَينصِتُ حَتَّى يخرُجَ الإِمَامُ ثُمَّ يصَلِّي إِلَّا كَانت كَفَّارَة لَه بَينَه وَ بَينَ الجُمُعَة الأُخرَى مَا اجتَنَبَ المَقتَلَة وَ ذَلِك الدَّهرُ كُلُّه رواه الطبراني و قال الهيثمي اسناده حسن.(۲)

---

(۱) بخاري كتاب الجمعة ج۱ ص ۱۲۱ باب الدُّهن للجمعة.

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج ۶ ص ۲۳۶ رقم الحديث ۶۱۷۱ باب حقوق الجمعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي اي سلمانه آيا پوهيږي چې د جمعي ورځ څه شي دي ما وويل دا هغه ورځ ده چې په هغي کې الله جل شانه ستا والد او يا والدين جمع کړي وُ نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې نه زه تاته د جمعي د ورځي په باره کې بيان کوم چې نه به وي يو مسلمان چې ځان ښه پاک کړي او هي جامي واغوندي او د خپل اهل د خوشبوي نه ځان خوشبويه کړي که خوشبوي ورسره وي او که نه وي نو په اوبو غسل وکړي بيا مسجد ته لاړ شي نو چې اوسي تر دي چې امام راوځي بيا مونځ وکړي مګر خو کيږي دا کفاره د پاره د ده د دي جمعي نه تر بلي جمعي پوري تر څو پوري چې د تکليف د رسولو د ځاي نه ځان بچ کړي دغه ثواب ورته په ټوله زمانه کې ورسيږي . د دي حديث روايت طبراني کړي دي او هيثمي ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي .

﴿۱۱۳﴾ وَعَنْ أَبِي أَيُّوبَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنِ اغْتَسَلَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ وَمَسَّ مِنْ طِيبٍ إِنْ كَانَ عِنْدَهُ وَلَبِسَ مِنْ أَحْسَنِ ثِيَابِهِ ثُمَّ خَرَجَ وَعَلَيْهِ السَّكِينَةُ حَتّٰى يَأْتِيَ الْمَسْجِدَ فَيَرْكَعُ إِنْ بَدَا لَهُ وَلَمْ يُؤْذِ أَحَدًا ثُمَّ أَنْصَتَ إِذَا خَرَجَ إِمَامُهُ حَتّٰى يُصَلِّيَ كَانَتْ كَفَّارَةً لَهُ لِمَا بَيْنَهَا وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْأُخْرٰى رواه احمد والطبراني واسناده صحيح .(1)

ترجمه : حضرت ابو ايوب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې فرمايل ئې څوک چې د جمعي په ورځ غسل وکړي او خوشبوئ پوري کړي که خوشبوي ورسره وي او هي جامي واغوندي بيا د اطمنان او وقار په حالت کې راوځي تر دي پوري چې مسجد ته لاړ شي که د مانځه موقع وه مونځ وکړي او چاته تکليف ونه رسوي بيا چپ وي چې کله امام راوځي تر څو پوري چې د امام سره مونځ وکړي وي به کفاره د پاره د ده د هغي ګناه نه چې د دي جمعي نه تر بلي جمعي پوري دي . د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او ترمذي رَحِمَهُ اللّٰهُ کړي او اسناد ئې صحيح دي .

مسئلة الباب : خوشبو لګول او خائسته ميسر شده جامي اغوستل د جمعې د ادا بو نه دي .

---

(1) مسند احمد ج ۵ صـ ۴۲۰ ، المعجم الكبير للطبراني ج۴صـ ۱۶۱ رقم الحديث ۴۰۰۷ ، مجمع الزوائد كتاب الصلوة ج۲صـ ۱۷۱ باب حقوق الجمعة ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابٌ فِي فَضلِ الصَّلَاةِ عَلَى النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يومَ الجُمُعَة﴾

د جمعي په ورځ په نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ باندي د درود ويلو د فضيلت باب

﴿۹۱۴﴾ عَن اَوسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِنَّ مِن اَفضَلِ اَيامِكم يومَ الجُمُعَة فِيه خُلِقَ آدَمُ وَ فِيه قُبِضَ وَ فِيه النَّفخَة وَ فِيه الصَّعقَة فَاَكثِرُوا عَلَيَّ مِنَ الصَّلَاة فِيه فَاِنَّ صَلَاتَكم مَعرُوضَة عَلَيَّ قَالَ قَالُوا يارَسُولَ اللهِ وَ كيفَ تُعرَضُ صَلَاتُنَا عَلَيك وَ قَد اُرِمتَ قَالَ يَقُولُونَ بَلِيتَ قَالَ اِنَّ اللهَ عَزَّ وَجَلَّ حَرَّمَ عَلَى الاَرضِ اَجسَادَ الاَنبِياءِ رواه الخمسة الا الترمذي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : حضرت اوس بن اوس رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې ستاسي د افضلو او بهترو ورځو نه ورځ د جمعي ده په ده دي کې حضرت آدم عَلَيهِ السَّلَام پيدا شوي دي او په دي کې وفات کړي شوي دي او په دي کې به په شپيلئ کې پوکي کولي شي او په دي کې به دويم ځل شپيلئ وهلي شي نو په دي ورځ کې په ما باندي په کثرت سره درود ووائي ځکه چې ستاسي درود ماته پيش کولي شي اوس رَضِيَ اللهُ عَنهُ وويل چې خلکو عرض وکړ اي د الله جل شانه رسوله ځنګه به زمونږ درود تاته پيش کړي شي حال دا چې ته به خاوره شوي ئي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بې شکه الله جل شانه حرام کړي په زمکه باندي د انبياؤ عليهم السلام جسدونه مبارک بدنونه. د دي حديث روايت د ترمذي نه په غير پنځو محدثينو کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

د جمعي په ورځ د درود شريف لوستلو اهميت

د جمعي ورځ ، د ورځو سرداره ده او زمونږ رسو الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د ټولو مخلوقاتو سردار دي په دې ورځ باندي په حضور صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ باندي د درود او سلام ډير زيات فضيلت راغلي دی خلاد بن کثير ډير لوي بزرګ تير شوي دي دوفات نه څه وخت مخکې دده په بالاخانه کې يو کاغذ اومونډل شو چې په هغې کې يې ليکلي وو : " دا د خلاد بن کثير لپاره د دوزخ داور نه د نجات ذريعه ده " نو چې دده دکورو والا نه پوښتنه ددې په باره کې اوکړې شوه نو هغوي ورته اويل چې خلاد به د جمعي په ورځ زر (۱۰۰۰) پيره درود ويل : " اللهم صل على محمدن النبي الامي " د جمعي په ورځ دمازديګر

---

(۱) ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص۱۵۰ باب تفريع ابواب الجمعة، نسائي کتاب الجمعة ج۱ص ۲۰۳ باب اکثار الصلوة علي النبي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يوم الجمعة ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۷۷ باب في فضل الجمعة ، مسند احمد ج۴صـ۸، مستدرک حاکم کتاب الجمعة ج۱صـ ۲۷۸ باب الامر بکثرة الصلاة في الجمعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ نه پس اتیا (۸۰) پیره د درود ویلو فضیلت هم وارد شوی دی په یو روایت کې دي چې د جمعې په ورځ سل پیره د درود ویلو والا لپاره الله تعالی سل حاجتونه پوره کوي.

﴿بَابُ مَن اَجَازَ الجُمُعَةَ قَبلَ الزَّوَالِ﴾

دزوال نه مخکې د جمعې د مانځه د اجازت باب

﴿۹۱۵﴾ عَن سَلَمَةَ بنِ الاَکوَعِ رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ قَالَ کُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ الجُمُعَةَ ثُمَّ نَنصَرِفُ وَ لَیسَ لِلحِیطَانِ ظِلٌّ نَستَظِلُّ بِہٖ رواہ الشیخان.(۱)

ترجمه : حضرت سلمه بن الاکوع رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ ویلي دي چې مونږ د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ سره د جمعې مونځ وکړ بیا مونږ فارغ شو واپس راتلو او د دیوالونو سوري نه ډ چې د هغې سوري طلب مو کړي وي. د دي حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۹۱۶﴾ عَن سَهلٍ رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ قَالَ مَا کُنَّا نَقِیل وَ لَا نَتَغَدّٰی اِلَّا بَعدَ الجُمُعَة رواہ الجماعة و زاد مسلم في روایة و احمد والترمذي في عهد رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ.(۲)

ترجمه : حضرت سهل رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ ویلي دي چې مونږ نه قیلوله کړي وه او نه مو د غرمې ډوډۍ خوړلې وه مګر خو د جمعې د مانځه نه پس. د دي حدیث روایت د محدثینو یو جماعت کړي او مسلم په یو روایت کې د احمد لفظ او ترمذي د (فِي عهد رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ) الفاظ زیات کړي دي. یعني مسلم په یو روایت کې واحمد لفظ زیات کړي او ترمذي په یو روایت کې دا په زمانه د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ الفاظ زیات کړي دي.

﴿۹۱۷﴾ وَ عَن اَنَسٍ رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ قَالَ کُنَّا نُصَلِّي مَعَ النَّبِي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ الجُمُعَةَ ثُمَّ نَرجِعُ اِلَی القَائِلَة فَنَقِیل رواہ احمد والبخاري (۳)

ترجمه :حضرت انس رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ ویلي دي چې مونږ د نبي اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ سره د جمعې مونځ کاوه

---

(۱) بخاري کتاب المغازي ج۲ص ۵۹۹ باب غزوة الحدیبیة ، مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ .

(۲) بخاري کتاب الجمعة ج ۱ص ۱۲۸ باب قول الله عزّوجلّ فاذا قُضیت الصلوة ...الخ ، مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ ، ترمذي ابواب الجمعة ج۱ص ۱۱۸باب في القائلة یوم الجمعة ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۵ باب وقت الجمعة ، مسند احمد ج۵ ص ۳۳۶ ، مصنف ابن ابي شیبة کتاب الصلوات ج۲ص ۱۰۶ باب من کان یقیل بعد الجمعة .

(۳) مسند احمد ج۳ص ۲۳۷ ، بخاري کتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۸ باب القائلة بعد الجمعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

بيا د قيلولي او ارام ځاي ته واپس راغلو نو قيلوله مو وکړه . د دي حديث روايت احمد او بخاري کړي دي .

﴿۹۱۸﴾ وَعَن جَعفَرٍ عَن اَبِيهِ اَنَّه سَاَلَ مَتٰى كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي الجُمُعَةَ قَالَ كَانَ يُصَلِّي ثُمَّ نَذهَبُ اِلٰى جَمَالِنَا فَنَرِيحُهَا زَادَ عَبدُ اللهِ فِي حَدِيثِهٖ حِينَ تَزُولُ الشَّمسُ يَعنِي الزَّوَالَ رواه مسلم .(۱)

ترجمه : حضرت جعفر د خپل پلار په ذريعه روايت کړي دي چې هغه پوښتنه کړي وه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به کله د جمعي مونځ کاوه هغه ويلي دي چې هغه به د جمعي مونځ وکړ بيا به مونږ خپلو اوښانو طرف ته راغلو نو مونږ به هغوي ته ارام ورکړو عبدالله په خپل حديث کې دا الفاظ زيات کړي دي چې کله به چې د نمر زوال وشو . معنى دا چې مراد اوبه راوړه نکي اوه دي . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۹۱۹﴾ وَ عَن عَبدِ اللهِ بنِ السِّيدَانِ السُّلَمِي قَالَ شَهِدتُّ يَومَ الجُمُعَةِ مَعَ اَبِي بَكرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فَكَانَت صَلَاتُه وَخُطبَتُه قَبلَ نِصفِ النَّهَارِ ثُمَّ شَهِدتُّهَا مَعَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فَكَانَت صَلَاتُه وَ خُطبَتُه اِلٰى اَن اَقُولَ اِنتَصَفَ النَّهَارُ ثُمَّ شَهِدتُّهَا مَعَ عُثمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ فَكَانَت صَلَاتُه وَ خُطبَتُه اِلٰى اَن اَقُولَ زَالَ النَّهَارُ فَمَا رَاَيتُ عَابَ ذٰلِكَ وَلَا اَنكَرَه رواه الدارقطني و آخرون و اسناده ضعيف .(۲)

ترجمه : عبدالله بن السِّيدانِ السلمي ويلي دي چې زه د جمعي په ورځ د حضرت ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنهُ سره د جمعي د مانځه د پاره حاضر شوي وم د هغه مونځ او د هغه خطبه د زوال نه مخکې وُ بيا زه د جمعي مانځه ته د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ سره حاضر شوي وُم د هغه مونځ او خطبه تر هغه وخته پوري وه چې ورځ نيمائي شوه (زوال) وشو بيا ځه د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ سره د جمعي د مانځه د پاره حاضر شوي وم نو د هغه مونځ او د هغه خطبه تر دي وخته پوري وُه چې ما ويل چې د ورځې زوال وشو نو مانه دي ليدلي چې دا ئي عيب وګانړه او يا ئي بد وګانړه . د دي حديث روايت دار قطني او نورو محدثينو کړي او اسناد ئي ضعيف دي .

---

(۱) مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ وفي نسخة المسلم عندي " عن جعفر عن ابيه انه سأل جابر بن عبدالله متى كان ...الخ

(۲) سنن الدار قطني كتاب الجمعة ج۲ص ۱۷ باب صلاة الجمعة قبل نصف النهار

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹۲۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ سَلَمَةَ قَالَ صَلّٰى بِنَا عَبْدُ اللّٰهِ يعني إبن مَسعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَلْجُمُعَةَ ضُحًى وَ قَالَ خَشِيتُ عَلَيكُمُ الحَرَّ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده ليس بالقوي.(۱)

ترجمه : عبدالله بن سلمه ويلي دي چې مونږ ته عبدالله يعني بن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ځاخت په وخت کې د جمعې مونځ وکړو او وي ويل چې زه په تاسي باندې د ګرمۍ نه يريلأم. د دې حديث روايت ابي بكر بن ابي شيبه کړې دي او اسناد ئې قوي نه دي.

﴿۹۲۱﴾ وَعَنْ سَعِيدِ بْنِ سُوَيدٍ قَالَ صَلّٰى بِنَا مُعَاوِيَةُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَلْجُمُعَةَ ضُحًى رواه ابوبكر بن ابي شيبة و سعيد بن سويد ذكره ابن عدي في الضعفاء.(۲)

ترجمه : سعيد بن سُويد ويلي دي چې مونږ ته حضرت معاويه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د ځاخت په وخت کې د جمعې مونځ وکړو. د دې حديث روايت ابوبكر بن ابي شيبه کړې دي او سعيد بن سويد لره ابن عدي په ضعيفانو کې شمارلي دي.

﴿۹۲۲﴾ وَعَنْ مَصعَبِ بْنِ سَعدٍ قَالَ كَانَ سَعِيدٌ يقِيل بَعدَ الجُمُعَة رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده صحيح و هذا الاثر لا حجة لهم فيه.(۳)

ترجمه : مصعب بن سعد ويلي دي چې سعد به د جمعې نه روسته قيلوله کوله. د دې حديث روايت ابوبكر بن ابي شيبه کړې دي او اسناد ئې صحيح دي وهذا الاثر لا حجة لهم فيه. يعني: په دې اثر کې د هغوي د پاره هيڅ دليل نشته.

د جمعې د مونځ وخت کله شروع کيږي؟

د ماسپخين مونځ بالاتفاق د زوال نه مخکې صحيح نه دي، ليکن د زوال نه مخکې د جمعې د مانځه په صحت کې اختلاف: د زوال نه مخکې د جمعې د مانځه د ادا کولو په صحت کې دوه مذهبه منقول دي.

(۱) مذهب: د صحابه کرامو، تابعينو د مذاهبو د امامانو او د جمهورو علماؤ په نزد د زوال نه مخکې د جمعې مونځ جائز نه دي د جمهورو علماؤ په نزد باندې د جمعې د مانځه وخت همغه دي کوم چې د ماسپښين د مانځه وخت دي.

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۰۷ باب من كان يقيل بعد الجمعة ...الخ.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص۱۰۷باب من كان يقيل بعد الجمعة ...،الكامل في ضعفاء الرجال لابن عدي ج۳ ص۱۲۴۳.

(۳) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۰۶ باب من كان يقيل بعد الجمعة ...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۲) مذهب: د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ او د بعضي اهل ظواهرو په نزد د زوال نه مخکې د جمعې مونځ کول جائز دي د دوي په نزد باندي د جمعې وخت د لوي ځاخت نه شروع کيږي.

د اهل ظواهرو او د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ دليلونه: که څه هم د دي باب اته واړه روايتونه بنا بر ظاهر د اهل ظواهرو او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ د پاره د زوال نه مخکې د جمعې د مانځه د صحت دليلونه دي خو ولي که په غور او جور نظر ورته وُکتي شي او حقيقت په نظر کې ونيول شي نو د نومورو احاديثو نه يو هم د دوي په مدعى باندي دليل نه شي کيدي. چې تفصيل ئې لاندي راتلونکي دي.

(۱) د دي باب اولنۍ (۹۱۵) حديث چې سلمه ابن الاکوع ئې روايت کړي دي او اهل ظواهرو او امام احمد رَحِمَهُ اللهُ پرې دليل نيولي دي او ويلي ئې دي چې کله مونږ د جمعې مونځ وکړو او واپس راتلو نو د ديوالو سوري نه وُ چې د هغې په سوري سره مو فائده اخستي وي احنافو د دې په جواب کې ويلي دي چې د دي مبارک حديث مقصد دا دي چې د مدينې منوري د وړو وړو ديوالونو دومره سوري نه وُ چې مونږ په دي کې تللي وي. لکه چې د شيخينو د حديث نه چې (ثم لم نرجع حتى نتتبع الفيء) او د مسلم د روايت نه چې (وما نجد فيأ نستظل به) او د بخاري د حديث د الفاظو نه چې (ثم ننصرف ليس للحيطان ظل نستظل به) دي داسي معلوميږي چې د مطلق سوري نفي مراد نه ده بلکه د دومره اندازه سوري نفي مراد ده چې په هغې کې تلل وکړي شي.

(۲) د دي باب دويم (۹۱۶) حديث چې سهل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت کړي دي دا هم د زوال نه مخکې د جمعې د صحت د مدعيانو د پاره دليل دي او هغه دا دي چې لکه څنګه چې د قيلولې او د خوراک وخت د زوال نه مخکې دي نو د دي نه معلومه شوه چې دي خلکو د جمعې مونځ هم د زوال نه مخکې کړي وُ. حنفي مذهب علماؤ د دي جواب داسي کړي دي چې صحيح او درسته خبره ده چې د غداء لغوي معنى د زوال نه مخکې خوراک ته ويلي شي خو ولي د غداء اطلاق د زوال نه په روسته خوراک هم عرفًا او توسعًا شوي دي.

لکه چې د دي مثال د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دي فرمان کې راغلي دي او د پيش نمي په باره کې ئې فرمايلي دي (هلموا الى الغداء المبارك) يعني راځئ مبارک پيش نمي ته او د دي نه دا استدلال هيڅ وخت نشي کيدي چې د پيش نمي او د سحر طعام دي ئې د نمر د ختو نه روسته خوړلي وي.(۱)

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ ص ۲۷۷

Maktaba Tul Ishaat.com

او د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ د استدلال په مقابل کې امام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ د جمعې په وخت باندې په دې حدیث باندې استدلال کړي دي چې حضرت عایشې رضی الله عنها ویلي دي : و کانوا اذا راحوا راحوا الی الجمعة في هیئتهم ، معنی دا چې کله به راتله دیو جمعې ته په یوهینت او یو شان کې به راتلل په دې حدیث شریف کې د جمعې د پاره په رواح سره تعبیر شوي دي او رواح د زوال نه وروسته راتلو ته ویلې شي . (۱)

او ابن حجر رَحِمَهُ اللّٰهُ ویلي دي چې په دې حدیث کې د جمعې د مانځه د قبل زوال د پاره هیڅ دلیل موجود نه دي ځکه چې په حدیث شریف کې د قبل زوال خبره د دي د پاره شوې ده چې د مانځه نه مخکې د جمعې د مانځه د پاره انتظار د جمعې د پاره په مسجد کې کیناستل او د مانځه نه مخکې د جمعې د مانځه د پاره تیاري کول او بیا د جمعې د مانځه د اداء د وجهې نه ئې خپل روزانه معمول چې د زوال نه مخکې طعام خوړلې او د زوال نه مخکې قیلوله کول ؤ هغه ئې بدل کړل او د زوال نه وروسته ئې کړل او دا تري مراد نه ده چې مونځ ئې د قیلولې او د طعام د خوراک په وخت کې وکړ او قیلوله او طعام خوري ئې د خپل وخت نه روسته کړل . او زین ابن منیر دا دعوه کړې ده او د ده د دې دعوې نه دا خبره ثابتیږي چې د جمعې مونځ د زوال نه روسته شوې دي او دا ځکه چې د دوي عادت دا ؤ چې دوي به د زوال نه مخکې طعام خوړ او د طعام پسې به ئې قیلوله کوله او خاص د جمعې د ورځې په مناسبت صحابي دا خبرداري ورکړي دي چې مونږ د جمعې د پاره د تیاري کولو د مشغولیت په وجه طعام او قیلوله روسته کړي ؤ .

د دې باب دریم (۹۱۷) حدیث چې حضرت انس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ئې روایت کړي دي او د قبل زوال د مدعیانو مستدل دي د دې جواب همغه دي کوم چې د باب په اولني حدیث کې تیر شوي دي . او (۹۱۸) حدیث د حضرت جعفر چې د خپل پلار نه ئې روایت کړي او د عبدالله بن السیدان السلمي (۹۱۹) حدیث چې د امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ او د بعض اهل ظواهرو مستدل دي د دې حدیث نه احنافو جواب کړي دي چې عبدالله بن السیدان غیر معروف یعني مجهول العدالة دي . مصنف ویلي دي چې اسناد ئې ضعیف دي (۲)

او د باب (۹۲۰) حدیث چې عبدالله بن سلمه ئې روایت کړي دي حنفي مذهب علماؤ د دي په جواب کې ویلي دي چې د عبدالله بن سلمه نه په غیر د سعید بن سوید په طریقه باندې (۹۲۱) حدیث دي

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ صـ ۲۷۷-۲۷۸.

(۲) درس ترمذي ج ۲ صـ ۲۷۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

چې په دې کې د عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ځای باندې د حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذکر شوې دي او عبدالله بن سلمه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صدوق دي خو ولې د عمر په اخر کې د هغه حافظه ګډوډه شوې وه او سعید بن سوید ابن عدي په ضعفاؤ کې شمارلې دي.

او د باب (۹۲۲) حدیث چې مصنف روایت کړې دي د دي حدیث په باره کې په خپله مصنف ویلي دي چې د دوي د پاره په دي اثر کې هیڅ دلیل نشته.

﴿بَابٌ فِي التَّجْمِيعِ بَعْدَ الزَّوَالِ﴾

دزوال نه روسته د جمعې د مونځ کولو باب

﴿۹۲۲﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ عَبَسَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا نَبِيَّ اللهِ أَخْبِرْنِي عَنِ الصَّلَاةِ قَالَ صَلِّ صَلَاةَ الصُّبْحِ ثُمَّ اقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ حَتَّى تَطْلُعَ الشَّمْسُ وَ تَرْتَفِعَ فَإِنَّهَا تَطْلُعُ بَيْنَ قَرْنَيْ شَيْطَانٍ وَ حِينَئِذٍ يَسْجُدُ لَهَا الْكُفَّارُ ثُمَّ صَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى يَسْتَقِلَّ الظِّلُّ بِالرُّمْحِ ثُمَّ اقْصِرْ عَنِ الصَّلَاةِ فَإِنَّ حِينَئِذٍ تُسْجَرُ جَهَنَّمُ فَإِذَا أَقْبَلَ الْفَيْءُ فَصَلِّ فَإِنَّ الصَّلَاةَ مَشْهُودَةٌ مَحْضُورَةٌ حَتَّى تُصَلِّيَ الْعَصْرَ الحديث رواه احمد وآخرون.(۱)

ترجمه : حضرت عمرو بن عبسه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې ما عرض وکړ چې اي د الله جل شانه نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ! ماته د مانځه په باره کې خبر راکړه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمایل چې د سهر مونځ وکړه بیا د مانځه نه منع شه تر دي پورې چې نمر راوخیژي او بنه راپورته شي ځکه په تحقیق نمر د شیطان د دوه ژ نبکرونو ترمنځ راخیژي او په دغه وخت کې کفار نمر ته سجده کوي بیا مونځ وکړه ځکه بې شکه مونځ ګواهي ورکوي او حاضر کړې شوي دي تر هغې پورې چې سوري د نیزې نه کم شي بیا د مونځ نه منع شه بې شکه په دغه وخت کې جهنم ګرمیږي بیا چې نمر واوړي (زوال) وشي نو مونځ وکړه بې شکه چې مونځ ګواهي ورکوي او حاضر کړې شوي دي تر هغې پورې چې د مازیګر مونځ وکړي. الحدیث.

د دي حدیث روایت احمد رَحِمَهُ اللهُ او مسلم کړې دي.

---

(۱) مسند احمد ج۳ص۱۱۱ ، مسلم کتاب فضائل القرآن ج۱ص۲۷۶ باب الاوقات التي نهي عن الصلوة فيها.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹۲۴﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عَمرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَقتُ الظُّهرِ إِذَا زَالَتِ الشَّمسُ وَكَانَ ظِلُّ الرَّجُلِ كَطُولِهِ مَالَم تَحضُرِ العَصرُ الحديث رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د ماسپښين وخت چې کله د نمر زوال وشي سوري د هر سړي د ده د اوږدوالي په اندازه تر څو پوري چې د مازيګر وخت نه وي داخل شوي الحديث. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۹۲۵﴾ وَ عَنْ جَابِرِ بن عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَأَلَ رَجُلٌ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ وَقتِ الصَّلَاةِ فَلَمَّا دَلَكَتِ الشَّمسُ أَذَّنَ بِلَالٌ الظُّهرَ فَأَمَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَقَامَ الصَّلَاةَ الحديث اخرجه الطبراني في الاوسط و قال الهيثمي اسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې يوسړي د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د مانځه د وخت په باره کې پوښتنه وکړه نو کله چې نمر کولاٌ شو زوال وشو نو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ماسپښين اذان وکړ نو ده ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر وکړ نو د مانځه اقامت ئې وکړ الحديث. دا حديث طبراني په اوسط کې خارج کړي دي او هيثمي ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي.

﴿۹۲۶﴾ وَ عَنْ سَلَمَةَ بنِ الأَكوَعِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا نَجمَعُ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زَالَتِ الشَّمسُ ثُمَّ نَرجِعُ نَتَتَبَّعُ الفَيءَ رواه الشيخان.(۳)

ترجمه : حضرت سلمه بن الاکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي چې مونږ د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د جمعې مونځ وکړ کله چې نمر واوخوت بيا مونږ راواپس شو چې لټاوه مونږ سوري. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۹۲۷﴾ وَ عَنْ أَنَسِ بنِ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي الجُمُعَةَ حِينَ تَمِيلُ الشَّمسُ رواه البخاري.(۴)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جمعې

---

(۱) مسلم کتاب المساجد ج۱ص ۲۲۳ باب الاوقات الصلوات الخمس.

(۲) المعجم الاوسط ج ۷ص ۴۰۳ ، مجمع الزوائد کتاب الصلوة ج۱ص ۳۰۴ باب الوقت نقلاً عن الطبراني في الاوسط.

(۳) مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ ، بخاري کتاب المغازي ج۲ص ۵۹۹ باب غزوة الحديبية.

(۴) بخاري کتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۳ باب وقت الجمعة اذا زالت الشمس.

Maktaba Tul Ishaat.com

مونځ کړي وُ کله چې نمر مائل شوي وُ . د دي حديث روايت بخاري کړي دي .

﴿۹۲۸﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ صَلَّى الْجُمُعَةَ ثُمَّ رَجَعَ وَمَا نَجِدُ فَيْأً نَسْتَظِلُّ بِهِ رواه الطبراني في الاوسط و قال في التلخيص اسناده حسن .(۱)

ترجمه : جابر بن عبد الله رضي الله عنه ويلي دي نبي اكرم صلى الله عليه وسلم كله چې نمر زائل شو نو د جمعې مونځ ئې اداء کړ نو مونږ راواپس شو او مونږ دومره سوري وُنه مونده چې په هغې کې لاړ شو . د دي حديث روايت په اوسط کې طبراني کړي دي او په تلخيص کې ئې ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي.

﴿۹۲۹﴾ وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَبِي عَامِرٍ أَنَّهُ قَالَ أَرَىٰ ظِنْفِسَةَ لِعَقِيلِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ يَوْمَ الْجُمُعَةِ تُطْرَحُ إِلَىٰ جِدَارِ الْمَسْجِدِ فَإِذَا غَشِيَ الظِّنْفِسَةَ كُلَّهَا ظِلُّ الْجِدَارِ خَرَجَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ فَصَلَّى الْجُمُعَةَ قَالَ ثُمَّ نَرْجِعُ بَعْدَ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ فَنَقِيلُ قَائِلَةَ الضُّعَىٰ رواه مالك في الموطأ و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : مالک بن ابي عامر ويلي دي چې ما د جمعې په ورځ د عقيل ابن ابي طالب رضي الله عنه څادر ليده چې د مسجد ديوال طرف ته راځوړند وُ نو کله چې ټول څادر لره د ديوال سوري پټ کړ حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه راوُته نو د جمعې مونځ ئې وکړ مالک بن ابي عامر ويلي دي چې بيا راواپس شو مونږ د جمعې د مانځه نه روسته نو د ځابنت په شان قيلوله مو وکړه . د دي حديث روايت مالک په مؤطا کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۹۳۰﴾ وَعَنْ أَبِي الْعَنْبَسِ عَمْرِو بْنِ مَرْوَانَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ كُنَّا نُجَمِّعُ مَعَ عَلِيٍّ رضي الله عنه إِذَا زَالَتِ الشَّمْسُ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده حسن .(۳)

ترجمه : عمرو بن مروان د خپل پلار نه روايت کړي دي دوي ويلي دي چې مونږ مونځ وکړ د حضرت علي رضي الله عنه سره کله چې د نمر زوال شوي وُ . دي حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

د جمعه بعد الزوال دلائل

علامه حلبي رحمه الله په کبري کې ليکلي دي چې د زوال نه روسته د جمعې مونځ د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم د زمانې نه نيولي تر نن ورځې پورې د يو بل نه په ميراث راپاتې دي او همدا قول د

---

(۱) المعجم الاوسط ج ۷ صـ ۲۲۷ برلم ۶۴۳۹ ، تلخيص الحبير كتاب الجمعة ج ۲ صـ ۵۶.

(۲) مؤطا امام مالك كتاب وقوت الصلوة صـ ۶ باب وقت الجمعة .

(۳) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۱۰۸ باب من كان يقول وقتها زوال الشمس ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

جمهورو صحابه ؤ تابعينو او تبع تابعينو دي او امام شعراني ليکلي چې د دريؤ اماما نو قول دا دي چې د جمعې مونځ صحيح نه دي مګر د ماسپښين په وخت کې ميزان الکبرى ج۱ص ۲۴۴ امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په کتاب الام کې ج۱ص ۱۷۲ ليکلي دي چې زه د هرکوم کس سره ملاقي شوي يم د هغه پدې خبره کې اختلاف نشته چې د جمعې مونځ به نشي کولې تر څو چې د نمر زوال وشي . امام نووي رَحِمَهُ اللهُ د مسلم شرح کې ج۱ص ۲۸۳ کې ليکلي دي چې جمهورو صحابه ؤ تابعينو او تبع تابعينو ، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او امام ابو حنيفه رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې د جمعې مونځ روانه دي مګر پس نمر د زوال نه .

د جمهورو علماؤ دليلونه : (۱) د دي باب اولني (۹۲۳) حديث دي چې د عمرو بن عبسه نه ئې روايت شوي دي او په دي مبارک حديث کې دا الفاظ راغلي دي (فاذا اقبل الئ فصل) يعني کله چې سوري رامخې ته شي نو مونځ وکړه او د دي باب دويم (۹۲۴) حديث دي چې حضرت عبد الله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت کړي او په دي کې په دي الفاظو باندي تصريح شوي ده چې د ماسپښين وخت هغه دي کله چې زوال وشي .

همدغسې د دي باب دريم (۹۲۵) حديث چې حضرت جابر بن عبد الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت کړي دي چې په دي مبارک حديث کې داسې الفاظ منقول دي نو کله چې نمر مائل شو نو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د ماسپښين اذان وکړ او ده ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د مانځه د اقامت امر وکړو .

او د دي باب څلورم (۹۲۶) حديث دي چې حضرت سلمه ابن الاکوع رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روايت کړي دي چې مونږ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د جمعې مونځ وکړ کله چې زوال وشو او بيا راواپس شو او سوري مو لتاوه . لنډه دا چې په دي باب کې اته مبارک حديثونه ذکر شوي دي او دا ټول جمهورو علماؤ دليلونه دي چې مفهوم او معنى ئې په ترجمه کې واضحه شوي ده .

﴿بَابُ الْاَذَانَيْنِ لِلْجُمُعَةِ﴾

د جمعې د پاره د دوه ؤ آذانونو باب

﴿۹۲۱﴾ عَنِ السَّائِبِ بْنِ يَزِيدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ الْاَذَانَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ كَانَ اَوَّلُهُ حِيْنَ يَجْلِسُ الْاِمَامُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عَلَى الْمِنْبَرِ فِي عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَ اَبِي بَكْرٍ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا فَلَمَّا كَانَ فِي خِلَافَةِ عُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَكَثُرُوا اَمَرَ عُثْمَانُ يَوْمَ الْجُمُعَةِ بِالْاَذَانِ الثَّالِثِ فَاُذِّنَ بِهٖ عَلَى الزَّوْرَاءِ فَثَبَتَ الْاَمْرُ

Maktaba Tul Ishaat.com

عَلٰى ذٰلِكَ رواه البخاري والنسائي و ابوداود.[1]

ترجمه : د حضرت سائب بن يزيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې بې شکه د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د حضرت ابوبکر او د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا په زمانه کې به د جمعې اذان په هغه وخت کې کيده چې کله به امام په ممبر باندې کيناسته بيا کله چې د حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د خلافت وخت شو او خلک ډير شو نو حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د جمعې د ورځې په دريم اذان باندې حکم وکړ نو د زوراء په مقام باندې دغه دويم اذان وکړي شو نو په همدې باندې دا کار جاري پاتې شو . د دې حديث روايت بخاري، نسائي او ابوداؤد کړې دي.

مسئلة الباب : د دې باب اولني (۹۳۱) حديث چې حضرت سائب بن يزيد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ئې روايت کړي دي په دې مبارک حديث کې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه زمانه کې د هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جمعې په ورځ کې د اذان د معمول بيان کيږي نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله تشريف راوړ او په ممبر به تشريف فرما شو نو اذان به ويلي شو د جمعې د مانځه اولني اذان هغه دي چې د مانځه د وخت د شروع کيدو نه روسته ويلي شو د دې وخت مقرر شوي نه وُ د رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د زماني مبارکې نه روسته د حضرت ابوبکر او د حضرت عمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا د خلافت په دور کې هم په همدې باندې عمل کيده خو ولې کله چې حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ خليفه شو او هغه وکتل چې د يوې خوا د رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه زمانه کې د مسلمانانو شمار لږ وُ او د بلې خوا نه هغوي مسجد ته نزدې اوسيدل او بله خبره دا هم وه چې خلک به د رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دور حيات کې د رسالت په دربار کې همه وقت حاضر وُ او برسيره پردې اکثره مسلمانان د مسجد نه لرې علاقو ته خواره شوي او هلته ئې سکونت اختيار کړي وُ او هر څوک په خپلو خپلو کارونو کې مصروف شوي وُ نو د دې وجهې نه حضرت عثمان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا مناسبه وګڼله چې کله د مانځه وخت راشي نو اذان ويلي شي د دې د پاره چې د لرې علاقو خلک هم خطبې ته حاضر شي او دغسې د دې وخت اذان ته اول اذان ويلي کيږي نو بنا پردې دويم اذان نه مراد همدغه اول اذان دي او په حديث کې د دې اذان نه په دريم اذان سره تعبير شوي دي اګر چې په ظاهري لحاظ سره دا اول اذان دي خکه چې د دې اذان وقوع د ټولو نه مخکې ده خو ولې د رسول الله اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په زمانه کې دوه اذانونه مقرر وُ چې د خطبې اذان او بل تکبير يعني اقامت او دا اذان د هغه دواړو نه روسته شروع شوي دي نو د دې

---

(۱) بخاري کتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۴ باب الاذان يوم الجمعة ، نسائي کتاب الجمعة ج۱ص ۲۰۷ باب الاذان للجمعة ، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۵ باب النداء يوم الجمعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

وجهي نه ورته دريم اذان ويلي شي. او دغه دريم اذان هم سنت دي او دي ته بدعت نه شي ويل کيدي ځکه چې د خلفاء راشدينو افعال او مقرر شوي طريقي هم په سنتو کې شمار دي د وجهي د دي فرمان د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وعليكم بسنتي وسنت خلفاء الراشدين) الحديث.

خلاصه دا چې د جمعې دمونځ د اولنې اذان شروع د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په دور خلافت کې شوې وه دغه شان د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په وخت کې کيدل بيا ورته د خليفه راشد سنت وويل شو ليکن ديته د صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د موافقت او مکمل سکوت سره د اجماعي مسئلې درجه حاصله شوه.

﴿بَابُ التَّاذِينِ عِندَ الخُطبَةِ عَلَى بَابِ المَسجِدِ﴾

﴿۹۳۲﴾ عَنِ السَّائِبِ بنِ يزِيدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ يؤَذِّنُ بَينَ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَلَسَ عَلَى المِنبَرِ يومَ الجُمُعَةِ عَلَى بَابِ المَسجِدِ وَ أَبِي بَكرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رواه ابوداود. قال النيموي على باب المسجد غير محفوظ.(۱)

ترجمه: حضرت سائب بن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله د جمعې په ورځ په ممبر باندې تشريف فرما شو نو د ده مخې مبارکې ته به د مسجد په دروازه باندې اذان ويلي شو او د ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت په زمانه کې هم دغسې وُ. د دي حديث روايت ابوداوُد کړي دي.

او نيموي رَحِمَهُ اللهُ ويلي دي چې (على باب المسجد) الفاظ غير محفوظ دي.

د جمعې اذان په مسجد کې دننه صحيح دې

عام طور سره فقهاؤ داخل د مسجد لره مکروه او خلاف اولى ليکلي دي ليکن د جمعې د اذان ثاني په باره کې دوه روايته دي. د باب په روايا تو کې "على باب المسجد" دلفظ نه په ظاهره دا په ذهن کې راځي چې دا اذان خارج د مسجد نه وو چنانچې څه وخت مخکې داهل بدعت له طرفنه دا فتنه راوچته شوې وه چې اذان ثاني په مسجد کې کول بدعت او مکروه تحريمي دي ليکن د راوان باب په روايا تو کې "على المنبر" نه ظاهره همدغه ده چې دا اذان به د منبر سره امام ته نيزدې ويل کيدو او فقهاؤ هم "بين يدى الإمام" يعنې امام ته مخامخ اذان ثاني لره دامت تعامل گرځولې دي.

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ ص۱۵۰ باب الأذان يوم الجمعة

Maktaba Tul Ishaat.com

(وګورئ البحر الرائق: ۱۵۷/۲، حلبي کبير، ص: ۴۸۳)

دفع تعارض: ددې دواړو په حديثو کې په ظاهره تعارض دي دکوم دلري کولو طريقه چې امام نيموي رَحِمَهُ اللهُ دترجيح په صورت کې اختيار کړې ده يعنې د "علی باب المسجد" اضافه په دې روايت کې غير محفوظ ده.

په اصل کې سائب بن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه زهري او دزهري نه روايت کونکي ډير دي دهغې نه يونس، عقيل، ماجشون، ابن ابي ذئب، صالح او سليمان "عندالباب" نه دي ويلي، صرف محمد بن اسحاق "عندالباب" ويلي دی نو ځکه دا اضافه محفوظ نه ده همدرانګه دراروان باب په روايت کې دي چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دمنبر نه دکوزيدو سره اقامت شروع کولو، که چرې مؤذن به دروازې سره اذان ويلو نو محل اقامت ته په رسيدو کې به دخلکو څټونو باندې اوريدو کوم هغه ممنوع دي.

﴿بَابُ مَا يُدْلُّ عَلَى التَّأْذِينِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ عِنْدَ الْإِمَامِ﴾

دا باب دې په بيان د هغه حديث کې چې د جمعې په ورځ په اذان کولو باندې دلالت کوي دامام سره د خطبې په وخت کې

﴿۹۳۲﴾ عَنِ السَّائِبِ بنِ يزِيدَ قَالَ كَانَ بِلَالٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُؤَذِّنُ إِذَا جَلَسَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى الْمِنْبَرِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِذَا نَزَلَ أَقَامَ ثُمَّ كَانَ كَذٰلِكَ فِي زَمَنِ أَبِي بَكْرٍ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا رواه النسائي واحمد واسناده صحيح.(۱)

ترجمه: حضرت سائب بن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي چې د جمعې په ورځ به کله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ممبر باندې تشريف فرما شو نو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به اذان وايه نو کله به چې راخکته شو اقامت به ئې وکړ يا دغسې د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په زمانه کې وُ. د دي حديث روايت نسائي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

---

(۱) نسائي كتاب الجمعة ج ۱ ص ۲۰۷، باب الأذان للجلوس، مسند احمد ج ۳ ص ۴۴۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ النَّهيِ عَنِ التَّفرِيقِ وَالتَّخَطِّي﴾

د خلکو تر منځ د جدائي او د خلکو د پاسه د قدمونو اوچتولو نه د نهي باب

﴿۹۳۴﴾ عَن سَلمَانَ الفَارِسِي رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَنِ اغتَسَلَ يومَ الجُمُعَةِ وَ تَطَهرَ بِمَا استَطَاعَ مِن طُهرٍ ثُمَّ ادَّهَنَ أَو مَسَّ مِن طِيبٍ ثُمَّ رَاحَ فَلَم يُفَرِّق بَينَ اثنَينِ فَصَلَّى مَا كُتِبَ لَه ثُمَّ إِذَا خَرَجَ الإِمَامُ أَنصَتَ غُفِرَ لَه مَا بَينَه وَبَينَ الجُمُعَةِ الأُخرَى رواه البخاري.(۱)

ترجمه: حضرت سلمان فارسي رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي څوک چې د جمعې په ورځ غسل وکړي او ځان ښه پاک کړي څومره ئې چې طاقت وي او بيا تيل پوري اويا خوشبوئي ولګوي بيا لاړ شي او د وه ډ کسانو ترمنځ جدائي رانه ولي نو مونځ وکړي کوم چې په ده باندي فرض کړي شوي دي بيا کله چې امام راوځي بيا هغه چپ شي اوږه بخهل شي ده ته هغه ګناهونه کوم چې د دي او د راتلونکي جمعې ترمنځ شوي دي. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۹۳۵﴾ وَعَن أَبِي الزَّاهِرِيةِ قَالَ كُنتُ مَعَ عَبدِ اللهِ بنِ بُسرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ صَاحِبِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يومَ الجُمُعَةِ فَجَاءَ رَجُلٌ يتَخَطَّى رِقَابَ النَّاسِ فَقَالَ عَبدُ اللهِ بنِ بُسرٍ جَاءَ رَجُلٌ يتَخَطَّي رِقَابَ النَّاسِ يومَ الجُمُعَةِ وَالنَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ يخطُبُ فَقَالَ لَه النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ اِجلِس فَقَد آذَيتَ رواه ابوداود والنسائي واسناده حسن.(۲)

ترجمه: ابو زاهريه ويلي دي چې زه د عبدالله بن بسر رضي الله عنه سره د جمعې په ورځ وُم چې د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم صحابي دي يو سړي راغي چې د خلکو په څټونو باندي ئې قدمونه اوچتول نو عبدالله بن بُسر ويلي دي چې يو سړي د جمعې په ورځ راغي چې د خلکو په څټونو باندي ئې قدمونه اوچتول په داسي حال کې چې نبي اکرم صلى الله عليه وسلم خطبه ويله نو هغه ته نبي اکرم صلى الله عليه وسلم وُفرمايل چې کينه خلکو ته دي تکليف ورکړ. د دي حديث روايت ابوداوُد او نسائي کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

يوه غلطه طريقه: داولني صف دفضيلت حاصلولو لپاره دا طريقه اختيارول انتهائي غلطه ده چې دخلکو په څټونو باندې واوړي يا يو چاله دخپل ځاي نه پاڅوي او پخپله کيني بلکې ددې

---

(۱) بخاري كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۴ باب لا يفرق بين اثنين يوم الجمعة.

(۲) ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۹ باب تخطي رقاب الناس يوم الجمعة، نسائي كتاب الجمعة ج۱ص ۲۰۷ باب النهي عن تخطي رقاب الناس.

Maktaba Tul Ishaat.com

صحیح طریقه تبکیر الی الجمعه ده دکوم فضیلت چې په احادیثو کې راغلي دی یعنې دوخت په اول کې له تهولو نه وړاندې مسجد ته رسیدل او ددې فضیلت حاصلول.

تخطي رقاب، اکرام مسلم خلاف دې بلکې په دې کې ایذاء مسلم دې کوم چې حرام دې که هغه دجمعې ورځ وي او که غیر دجمعې ورځ. البته که په مخکیني صف کې خالي ځای باقي وي نو دهغې دپوره کولو لپاره دتخطي رقاب اجازت شته.

او جمهور علماء په دې باندې متفق دي چې د خلکو په څټونو باندې اوښتل مکروه دي خو ولې ځینو تحریمي مکروه ګڼلې دي او بعضو تنزیهي مکروه ګڼلې دي اول قول ته ترجیح ورکړې شوې ده خو د امام د پاره څه ناڅه ګنجائش شته.

﴿بَابُ السُّنَّةِ قَبْلَ صَلَاةِ الْجُمُعَةِ وَبَعْدَهَا﴾

د جمعې د مانځه نه مخکې او روسته د سنتو باب

﴿۹۳۶﴾ عَنْ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنِ اغْتَسَلَ ثُمَّ اَتَى الْجُمُعَةَ فَصَلّٰى مَا قُدِّرَ لَهُ ثُمَّ اَنْصَتَ حَتّٰى يَفْرُغَ مِنْ خُطْبَتِهِ ثُمَّ يُصَلِّيَ مَعَهُ غُفِرَ لَهُ مَا بَيْنَهُ وَبَيْنَ الْجُمُعَةِ الْاُخْرٰى وَفَضْلُ ثَلَاثَةِ اَيَّامٍ رواه مسلم.(۱)

ترجمه: د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دي چې نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي څوک چې غسل وکړي او بیا د جمعې مانځه ته ورشي او کوم مونځ چې ورته مقرر شوي دي هغه وکړي او بیا چې شي تر ځو پوري چې امام د خپلې خطبې نه فارغ شي او بیا د امام سره مونځ وکړي نو ډبه بخهلي شي ده ته هغه ګناهونه چې د دي او د راتلونکي جمعې تر منځ دي. او دري ورځې اضافه. د دي حدیث روایت مسلم کړې دي.

﴿۹۳۷﴾ وَ عَنْهُ قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ كَانَ مِنْكُمْ مُصَلِّياً بَعْدَ الْجُمُعَةِ فَلْيُصَلِّ اَرْبَعًا رواه الجماعة الا البخاري.(۲)

---

(۱) مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ فصل من اغتسل او توضاء واتى الجمعة ...الخ.

(۲) مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۸ فصل في اربع ركعات او الركعتين بعد الجمعة، ترمذي ابواب الجمعة ج۱ص ۱۱۷ باب في الصلوة قبل الجمعة وبعدها، ابوداؤد کتاب الصلوة ج ص ۱۶۱ باب الصلوة بعد الجمعة، نسائي کتاب الجمعة ج۱ص ۲۱۰ باب عدد الصلوة بعد الجمعة في المسجد، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۰ باب ماجاء في الصلوة بعد الجمعة، مسند احمد ج۲ص ۲۴۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : او حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي څوک چې تاسو کې د جمعې نه روسته مونځ کولو والا وي نو څلور رکعته دي اداء کړي. دا حديث د بخاري نه په غير د محدثينو يو جماعت روايت کړي دي.

﴿۱۴۸﴾ وَ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُصَلِّي بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جمعې د مانځه نه روسته دوه رکعته مونځ اداء فرمايلي وُ. دا حديث د محدثينو جماعت روايت کړي دي.

﴿۱۴۹﴾ وَ عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ إِذَا كَانَ بِمَكَّةَ فَصَلَّى الْجُمُعَةَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ تَقَدَّمَ فَصَلَّى أَرْبَعًا وَ إِذَا كَانَ بِالْمَدِينَةِ صَلَّى الْجُمُعَةَ ثُمَّ رَجَعَ إِلَى بَيْتِهِ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَ لَمْ يُصَلِّ فِي الْمَسْجِدِ فَقِيلَ لَهُ فَقَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَفْعَلُ ذٰلِكَ رواه ابوداود و قال العراقي اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د عطاء نه روايت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې کله هغه په مکه مکرمه کې وُ د جمعې مونځ ئې وکړو نو مخکې شو دوه رکعته مونځ ئې وکړيا مخکې لاړ نو څلور رکعته ئې اوکله چې په مدينه منوره کې وُ د جمعې مونځ به ئې وکړيا به خپل کور ته واپس شو نو دوه رکعته به ئې وکړل او په مسجد کې به ئې سنت او يا نفل مونځ نه کاوه نو د ده نه پوښتنه وشوه چې ته ولې داسې کوې نو هغه وويل چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دغسې کول. د دې حديث روايت ابوداوُد کړي دي او عراقي ويلي دي چې اسناد ئې صحيح دي.

﴿۱۵۰﴾ وَ عَنْ جَمِيلَةَ بِنْتِ سَحِيمٍ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُصَلِّي قَبْلَ الْجُمُعَةِ أَرْبَعًا لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ بِسَلَامٍ ثُمَّ بَعْدَ الْجُمُعَةِ رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ أَرْبَعًا رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۳)

---

(۱) مسلم كتاب الجمعة ج۱ص۲۸۰ فصل في اربع ركعات اوائر كتين بعدالجمعة واللفظ له، بخاري كتاب الجمعة ج۱ص۱۲۸ باب الصلوة بعد الجمعة وقبلها. ترمذي ابواب صلوة الجمعة ج۱ص ۱۱۷ باب في الصلوة قبل الجمعة وبعدها، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۴۱ باب الصلوة بعد الجمعة نسائي كتاب الجمعة ج۱ص ۲۱۰ باب صلوة الامام بعد الجمعة، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۸۰ باب ماجاء في الصلوة بعد الجمعة، مسند احمد ج۲ص ۱۱.

(۲) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۰ باب الصلوة بعد الجمعة.

(۳) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۱ باب الصلوع بالليل والنهار كيف هو.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د جبله ابن سحيم د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت كړي دي چې عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جمعې نه مخكې څلور ركعته اداء كړي وُ او د دي څلورو ركعتونو په منځ كې ئي په سلام سره جدائي نه وه كړي بيا ئي د جمعې نه روسته دوه ركعته وكړل بيا ئي څلور ركعته كړي وُ .د دي حديث روايت طحاوي كړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۹۴۱﴾ وَ عَن خَرشَة بنِ الحُرِّ اَنَّ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يكرَه اَن يصَلِّي بَعدَ صَلَاة الجُمُعَة مِثلَهَا رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د خرشه ابن الحر نه روايت دي چې حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جمعې د مانځه نه پس د جمعې په مثل يعني دوه ركعته مونځ كول ښه نه ګڼړل ١هـ د دي حديث روايت طحاوي كړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۹۴۲﴾ وَعَنْ عَلقَمَة بنِ قَيسٍ اَنَّ ابنَ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ صَلَّي يومَ الجُمُعَة بَعدَ مَا سَلَّمَ الإمَامُ اَربَعَ رَكعَاتٍ رواه الطبراني و اسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د عقلمه بن قيس نه روايت دي چې حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جمعې په ورځ د امام د سلام نه روسته څلور ركعته مونځ كړي وُ.د دي حديث روايت طبراني كړي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۹۴۳﴾ وَ عَن اَبِي عَبدِ الرَّحمٰنِ السُّلَمِي قَالَ كَانَ عَبدُ الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يامُرُنَا اَن نُصَلِّي قَبلَ الجُمُعَة اَربَعًا رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح.(۳)

ترجمه : ابو عبدالرحمن السلمي ويلي دي چې عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به مونږ ته حكم كاوه چې مونږ د جمعې نه مخكې څلور ركعته مونځ وكړو .د دي حديث روايت عبدالرزاق كړي او اسناد ئي صحيح دي

﴿۹۴۴﴾ وَ عَنه قَالَ كَلَّمَ ابنُ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ النَّاسَ اَن يصَلُّوا بَعدَ الجُمُعَة اَربَعًا فَلَمَّا جَاءَ عَلِي بنُ اَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَّمَهم اَن يصَلُّوا سِتًّا رواه الطحاوي و اسناده صحيح.(۴)

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۳۳ باب التطوع بعد الجمعة .

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ صـ ۳۶۰ رقم الحديث ۹۵۵۴ .

(۳) مصنف عبدالرزاق كتاب الجمعة ج۳ صـ ۲۴۷ باب الصلاة قبل الجمعة وبعدها برقم ۵۵۲۵.

(۴) طحاوي كتاب الصلوة ج۱صـ ۲۳۳ باب التطوع بعد الجمعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : ابو عبدالرحمن السلمي ويلي دي چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلکو ته د جمعې نه روسته د ځلورو رکعتونو تعليم ورکاوه نو کله چې حضرت علي بن ابي طالب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې نو هغه خلکو ته د شپږو رکعتونو تعليم ورکاوه. د دې حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۹۴۵﴾ وَ عَنه قَالَ قَدِمَ عَلَيْنَا عَبدِ اللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَكَانَ يصَلِّي بَعدَ الجُمُعَة اَربَعًا فَقَدِمَ بَعدَه عَلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَكَانَ اِذَا صَلَّى الجُمُعَة صَلَّى بَعدَهَا رَكعَتَينِ وَ اَربَعًا فَاَعجَبَنَا فِعلُ عَلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَاَختَرنَاه رواه الطحاوي و اسناده صحيح.[1]

ترجمه : او ابو عبدالرحمن السلمي ويلي دي چې مونږ ته عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې نو د جمعې نه روسته ئې ځلور رکعته وکړل نو د دې نه روسته حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راغې نو هغه چې کله د جمعې مونځ وکړو نو د جمعې نه روسته ئې دوه او ځلور رکعته وکړل نو زمونږ د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل خوښ شو نو همدغه مو غوره وګانړه. د دې حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۹۴۶﴾ وَ عَنه عَن عَلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه قَالَ مَن كَانَ مُصَلِّيا بَعدَ الجُمُعَة فَليصَلِّ سِتًّا رواه الطحاوي و اسناده صحيح.[2]

ترجمه : د ابو عبدالرحمن السلمي نه روايت دي چې حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کوم کس چې د جمعې نه روسته مونځ کوي نو شپږ رکعته دي کوي. د دې حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

د جمعې سنن قبليه او بعديه

په ذکر شوي باب کې د (۹۳۶ حديث نه تر ۹۴۶) حديث پورې د جمعې د سنتو په باره کې بحث کيږي د جمعې د سنتو په حقله اختلاف:

د جمعې دوه قسمه سنت دي: (۱) د جمعې د مانځه مخکې سنت. (۲) د جمعې د مانځه نه روسته سنت.

د جمعې د مانځه نه مخکې سنتو کې دري مذهبه دي:

(۱) د احنافو حضراتو په نزد د جمعې د مانځه نه مخکې ځلور رکعته سنت دي.

(۲) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندي د جمعې نه مخکې دوه رکعته سنت دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۳ باب التطوع بعد الجمعة.

(۲) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ص ۲۳۳ باب التطوع بعد الجمعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳) دمالکیو په نزد دفجر نه علاوه رواتب نشته او د ابن تیمیه رَحِمَهُ اللهُ په نزد د جمعې د مانځه نه مخکې بالکل سنت نه شته . (۱)

او دغسې د جمعې د مانځه نه روسته سنتو کې هم اختلاف دي په دې باره کې اصلاً دوه مذهبه دي:

(۱) د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد څلور رکعته دي او د امام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد باندې د جمعې د مانځه نه روسته فقط دوه رکعته سنت دي.

(۲) د احنافو مذهب: احناف په خپل منځ کې سره مخالف دي د امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد د جمعې د مانځه نه روسته څلور رکعته سنت دي او د امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ او امام محمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد د جمعې د مانځه نه روسته شپږ رکعته سنت دي او په همدې باندې فتوی شوې ده .

(۳) دمالکیو په نزد دفجر نه علاوه رواتب نشته.

دسنن قبلیه یو څو دلیلونه :

۱... حدیث د عبدالله بن مغفل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مرفوعا : " بین کل اذانین صلاۃ " (متفق علیه) ددې حدیث په عموم کې د جمعې اذان او سنت هم راځي .

۲... دباب حدیث نمبر ۹۴۱ " عَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّه كانَ يصَلِّي قَبلَ الجُمُعَة اَربَعًا لَا يفصِلُ بَينَهنَّ بِسَلَامٍ " .... الخ .

۳... حدیث نمبر ۹۴۲... " كانَ عَبدُ الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يامُرُنَا اَن نُصَلِّي قَبلَ الجُمُعَة اَربَعًا " .

۴... حدیث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بسند ضعیف : " كان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يركع قبل الجمعة اربع ركعات " .(معارف السنن : ۴/۴۱۴)

دسنن بعدیه یو څو دلیلونه :

۱.حدیث نمبر ۹۳۸: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَن كانَ مِنكم مُصَلِّياً بَعدَ الجُمُعَة فَليصَلِّ اَربَعًا.

۲... حدیث نمبر ۹۳۹: " اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كانَ يصَلِّي بَعدَ الجُمُعَة رَكعَتَينِ " .

۳... عمل دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: " عن عطاء انه رأي ابن عمر يصلي بعد الجمعة ... قال: فيركع ركعتين ثم يمشي الفس من ذلك فيركع اربع ركعات " . (ابوداود : ۱/۱۶۱)

---

(۱) معارف السنن ج ۴ ص ۴۱۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

۴... حدیث نمبر ۹۴۱ عمل دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ایضا .

۵... حدیث نمبر ۹۴۶ عمل دعلي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : "كان اذا صلى الجمعة صلى بعدها ركعتين واربعا".
بهرحال ... دجمعې سونځ نه پس حضرت ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څلور رکعته لوستل او ددې په باره کې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یو قولي حدیث هم دي ، طرفینو همدې لره واخیسته او حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او دابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ شپږ رکعته کول امام ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ همدې لره اختیار کړې دی او اکثرو مشائخو په همدې باندې فتوی ورکړه البته کول یې ناخوښه ګڼل نو ځکه فقهاء فرمایي چې اول څلور رکعته او هغې نه پس دې دوه رکعته اولوستلې شي .

﴿بَابٌ فِي الْخُطْبَةِ﴾
د خطبې په باره کې باب

﴿۹۲۷﴾ عَنِ ابنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يخطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يقعُدُ ثُمَّ يقُومُ كمَا تَفعَلُونَ الآنَ رواه الجماعة .(۱)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به په ولاړه خطبه فرمایله بیا به کیناست بیا به پاڅیده لکه چې اوس ئې تاسو کوئ . د دې حدیث روایت الجماعت کړې دي .

﴿۹۲۸﴾ وَعَنه قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يخطُبُ خُطبَتَينِ يقعُدُ بَينَهمَا رواه البخاري .(۲)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دوه خطبي ویلي د دواړو خطبو ترمنځ به کیناسته . د دې حدیث روایت بخاري کړې دي .

﴿۹۲۹﴾ وَ عَن جَابِرِ بنِ سُمرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَتْ لِلنَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خُطبَتَانِ، يجلِسُ بَينَهمَا يقرَأُ القُرآنَ وَيذكرُ النَّاسَ رواه الجماعة الا البخاري .(۳)

---

(۱) بخاري كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۵ باب الخطبة قائما ، مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ ، ترمذي ابواب الصلوة الجمعة ج۱ص ۱۱۳ باب ماجاء في الجلوس بين الخطبتين ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۶ باب الجلوس اذا صعد المنبر ، نسائي كتاب الجمعة ج۱ص ۲۰۹ باب الفصل بين الخطبتين ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوة ص ۷۹ باب ماجاء في الخطبة يوم الجمعة مسند احمد ج۲ ص ۳۵.

(۲) بخاري كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۷ باب القعدة بين الخطبتين يوم الجمعة .

(۳) مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۳ ، ترمذي ابواب صلوة الجمعة ج۱ص ۱۱۳ باب ماجاء في الجلوس بين الخطبتين ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۵۶ باب الخطبة قائما ، نسائي كتاب الجمعة ج۱ص ۲۰۹ باب السكوت في القعدة بين الخطبتين ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۷۹ باب ماجاء في الخطبة يوم الجمعة ، مسند احمد ج ۵ ص ۹۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه ويلي دي چې نبي كريم صلى الله عليه وسلم به دوه خطبي ويلي د دواړو ترمنځ به كيناسته د قرآن كريم تلاوت به ئې پكې كاوه او خلكو ته به ئې نصيحت كاوه. د دي حديث روايت د بخاري نه په غير جماعت كړي دي.

﴿۹۵۰﴾ وَعَنْ سِمَاكٍ قَالَ اَلْبَأَلِيجَابِرٍ رضي الله عنه اَنَّ رَسُولَ اللهِ صلى الله عليه وسلم كَانَ يَخْطُبُ قَائِمًا ثُمَّ يَجْلِسُ ثُمَّ يَقُومُ فَيَخْطُبُ قَائِمًا فَمَنْ نَبَّأَكَ اَنَّهُ كَانَ يَخْطُبُ جَالِسًا فَقَدْ كَذَبَ وَاللهِ صَلَّيْتُ مَعَهُ اَكْثَرَ مِنْ اَلْفَيْ صَلَاةٍ رواه مسلم. (۱)

ترجمه : سماك ويلي دي چې ماته حضرت جابر رضي الله عنه خبر راكړي دي چې رسول اكرم صلى الله عليه وسلم به په ولاړه خطبه ويله بيا به كيناست بيا به پاڅيده نو په ولاړه به ئې خطبه ويله نو چا چې تاته خبر وركړي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په ناسته خطبه ويلي ده په تحقيق دروغ ئې ويلي دي په الله جل شانه قسم دي چې په تحقيق ما د هغه سره د دوه ؤ زرو نه زيات مونځونه كړي دي. د دي حديث روايت مسلم كړي دي.

﴿۹۵۱﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ سَمُرَةَ رضي الله عنه قَالَ كُنْتُ اُصَلِّي مَعَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَكَانَتْ صَلَاتُهُ قَصْدًا وَخُطْبَتُهُ قَصْدًا رواه مسلم و آخرون. (۲)

ترجمه : حضرت جابر بن سمره رضي الله عنه ويلي دي چې ما د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره مونځ كاوه نو د رسول الله صلى الله عليه وسلم مونځ درميانه ؤ او خطبه ئې هم په درميانه حالت كې وه. د دي حديث روايت مسلم كړي دي او نورو محدثينو كړي.

﴿۹۵۲﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ اَبِي اَوْفٰى رضي الله عنه قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم يُطِيلُ الصَّلَاةَ وَيُقَصِّرُ الْخُطْبَةَ رواه النسائي واسناده حسن. (۳)

ترجمه : حضرت عبدالله بن اوفى رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به مونځ اوږد اوه او خطبه به ئې لنډوله. د دي حديث روايت نسائي كړي دي او اسناد ئې حسن دي.

---

۱. مسلم كتاب الجمعة ج ۱ ص ۲۸۳.

۲. مسلم كتاب الجمعة ج ۱ ص ۲۷۹ باب في الخطبة والصلوة قصدا.

۳. نسائي كتاب الجمعة ج ۱ ص ۲۰۹ باب ما يستحب من تقصير الخطبة.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹۵۳﴾ وَ عَنِ الحُكَمِ بنِ حَزنِ الكُلفِي قَالَ قَدِمتُ إِلَى النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سَابِعَ سَبعَةٍ أَو تَاسِعَ تِسعَةٍ فَلَبِثنَا عِندَهُ أَيَّامًا شَهِدنَا فِيهَا الجُمُعَةَ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مُتَوَكِّئًا عَلَى قَوسٍ أَو قَالَ عَلَى عَصًا رواه احمد وابوداود وسنادهٔ حسن.(۱)

ترجمه : حكم بن حزن الكلفي ويلي دي چې زه د نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره حاضر شوم چې د اوو كسانو نه اوم او يا د نهو كسانو نه نهم كس وم مونږ ده سره ډيري ورځې تيري كړي په دي موده كې مونږ هم په جمعه كې حاضر شو نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خطبه په داسې حال كې فرمايله چې په قوس او يا به ئې په همسا تكيه لګولي وه. د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ او ابوداؤد رَحِمَهُ اللهُ كړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۹۵۴﴾ وَ عَنِ ابنِ شِهَابٍ قَالَ بَلَغَنَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَبدَأُ فَيَجلِسُ عَلَى المِنبَرِ فَإِذَا سَكَتَ المُؤَذِّنُ قَامَ فَخَطَبَ الخُطبَةَ الأُولَى ثُمَّ جَلَسَ شَيئًا يَسِيرًا ثُمَّ قَامَ فَخَطَبَ الخُطبَةَ الثَّانِيَةَ حَتَّى إِذَا قَضَاهَا إِستَغفَرَ اللهَ ثُمَّ نَزَلَ فَصَلَّى قَالَ ابنِ شِهَابٍ وَ كَانَ إِذَا قَامَ أَخَذَ عَصًا فَتَوَكَّأَ عَلَيهَا وَ هُوَ قَائِمٌ عَلَى المِنبَرِ ثُمَّ كَانَ أَبُوبَكرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ وَ عُثمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يفعَلُونَ ذٰلِكَ رواه ابوداود في مراسيله و هو مرسل جيد.(۲)

ترجمه : ابن شهاب ويلي دي چې مونږ ته دا خبره رسيدلي ده چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به اول په ممبر باندې تشريف فرما شو چې كله به مؤذن د اذان نه چپ شو رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به پاڅيده اوله خطبه به ئې وفرمايله بيا به لږ شاني كيناست بيا به پاڅيده نو دويمه خطبه به ئې وويله تر دې پورې چې كله به ئې پوره كړه نو استغفرالله به ئې وويله بيا به راخكته شو نو مونځ به ئې وكړ ابن شهاب ويلي دي چې كله به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ پاڅيده نو اما به ئې راواخسته په هغې به ئې تكيه وهله په داسې حال كې چې دا به په ممبر باندې ولاړ وُ بيا به ابوبكر الصديق رَضِيَ اللهُ عَنهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ او حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنهُ هم همدغسې كول. د دي حديث روايت ابوداؤد په خپلو مرسلو حديثونو كې كړي دي او دا مرسل جيد دي.

---

(۱) مسند احمد ج ۴ صـ ۲۱۲ ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۶ باب الرجل يخطب على قوس.

(۲) مراسيل ابي داؤد ، ملحقة بسنن ابي داؤد صـ ۷ باب ماجاء في الخطبة يوم الجمعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

دجمعې دخطبې یو څو مسائل

اولنې مسئله : جمهور علماء او دائمه اربعو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد دجمعې خطبه واجب او دصحت صلوة لپاره شرط دي.

دویمه مسئله : حنفیه ، مالکیه او دجمهور علماء په نزد ضروري خطبه اولنې ده او دویمه خطبه سنت ، او امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ دخطبتینو دوجوب قائله دي حال دا چې دامام احمد رَحِمَهُ اللهُ نه هم مشهور روایت همدغه دي.

دریمه مسئله : حنی المقدرت په اودریدو سره خطبه ورکول دامام مالک او دامام شافعي رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد واجب ده ، لیکن دامام ابو حنیفه او دامحد رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد دا سنت ده.

څلورمه مسئله : جلوس بین الخطبتین دجمهور علماء په نزد سنت او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزه واجب ده.

پنځمه مسئله : دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ، احمد او دمالک رَحِمَهُ اللهُ قول راجح کې دخطبې پنځه ارکان دي : حمد وثناء صلاة وسلام علی النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، التذکیر یعني وعظ او نصیحت او وصیت بالتقوی ، القراءة ، الدعاء للمؤمنین والمؤمنات . بعضي حضراتو ددریو شیانو اضافه کړې ده خطبه په عربي کې کیدل ، جهرا ویل ، او په مسجد کې کیدل وغیره.

امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ او امام مالک رَحِمَهُ اللهُ په یو روایت کې فرمایي حقیقي خطبه مطلق ذکر ده یعني ذکر الله کما قال الله تعالی : " اذا نودي للصلوة من یوم الجمعة فاسعوا الی ذکر الله " ، لهذا ددوي په نزد صرف تهلیل یا تسبیح یا تحمید کافي دي. په دې کې شک نشته چې دامت تعامل دشروع نه په دې اجزاؤ باندې مشتمل دخطبې ورکول دي لیکن دحضرت عثمان په باره کې ثابت دي چې اولنې خطبه دخلافت دالحمدلله دویلو نه پس دوي باندې رقت طاري شو او آواز یې کیناست او بغیر داستغفارنه یې پرې نور زیاتوالي اونکړ او دمنبر نه راکوز شو او مونځ یې اودلو او داسي مجمع صحابو کې شوې وه.

صاحبین فرمایي : " لابد من کلام یسمی خطبة عادة " یعني داسي مختصر کلام کوم ته چې په عرف کې خطبه ویلې کیږي کم ازکم دتشهد مقدار وي.

شپږمه مسئله : دحضرت جابر بن سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث کې دي چې دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ او خطبه دواړه به معتدل وو یعني ددوي خطبه دومره اوږده نه وه چې اوریدونکي به تري ستړي شو او ددواړو دمعتدل کیدو لپاره دا ضروري نه ده چې دواړه دي برابر وي بلکې مونځ دجمعې دخطبې نه نسبة اوږده پکار ده ، دعبدالله بن مغفل په حدیث کې همدا وارد دي همدارنګه دمسلم شریف دیو

Maktaba Tul Ishaat.com

روایت الفاظ دادي : " ان طول صلاة الرجل وقصر خطبته مئنة من فقهه " دیو کس مونځ اوږدیدل او دخطبي مختصر کیدل ده دفقیه کیدو ښنبه ده .

اوه مسئله : دجمهور علماء او دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد مطلق مسلک دادي چې خطیب ته پکار دي چې په یو لرګي باندې یې ټیک لګولي اودریدلي وي ، ددې حکمت دا لیکلې شوې دي چې په دې سره لاسونو لره دعبث کار نه او دحرکت نه منع کیدل دي او دسکون کیفیت حاصلیدل دي .پاتې شوه مسئله دحنفیه نو دحنفیه فقهاء داحنافو کلام اګر چې ددې په باره کې مختلف دي لیکن په رد المختار کې په حواله دتهستاني دي لره په مثل دقیام للخطبه سنت ګرځولي دي.دغه شان دائمه اربعو قول ددې په سنیت باندې متفق شو(رد المحتار :۴۳۱/۲-۴۳۵، البحر الرائق :۱۴۶/۲-۱۴۸، رحمة الامة ،ص :۶۰)

﴿بَابُ كَرَاهَةِ رَفْعِ الْيَدَيْنِ عَلَى الْمِنْبَرِ﴾
په منبر باندې د لاسونو د اوچتولو د کراهت باب

﴿۱۵۵﴾ عَنْ حُصَيْنٍ عَنْ عُمَارَةَ بْنِ رُوَيْبَةَ قَالَ رَأَى بِشْرَ بْنَ مَرْوَانَ عَلَى الْمِنْبَرِ رَافِعًا يَدَيْهِ فَقَالَ قَبَّحَ اللهُ هَاتَيْنِ الْيَدَيْنِ لَقَدْ رَأَيْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَا يَزِيدُ عَلَى أَنْ يَقُولَ بِيَدِهِ هٰكَذَا وَ أَشَارَ بِإِصْبَعِهِ الْمُسَبِّحَةِ رواه مسلم و آخرون.(۱)

ترجمه : د حصین نه روایت دي چې عماره بن رویبه ویلي دي ده بسر بن مروان په منبر باندې په داسي حال کې ولیده چې اوچتوونکي وُ لاسونو خپلو لره نو عماره بن رُویبه وویل چې قبیح (محروم) دي کړي الله جل شانه دا دواړه لاسونه په تحقیق ما لیدلي وُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې د دي نه زیات نه وُ چې خپل لاس مبارک ئې داسي فرمایلي وي او اشاره به ئې وکړه په خپله مسبحه ګوتي سره . د دي حدیث روایت مسلم او نورو محدثینو کړي دي .

مسئلة الباب : دبعضې خطباء او دمقررینو دا عادت وي چې هغه دبیان په وخت کې لاسونه بار بار خوځوي او حرکت ورکوي دا شئ خلاف سنت دي .(الدرالمنضود :۴۳۳/۲)

---

(۱) مسلم کتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۷ فصل في الاشارة في الخطبة بالمسبحة .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ التَّنَفُّلِ حِينَ يخطُبُ الإِمَامُ﴾

دامام د خطبي په وخت کې د نفلو کولو باب

﴿۹۵۶﴾ عَن جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلَ رَجُلٌ يومَ الجُمُعَةِ وَالنَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يخطُبُ فَقَالَ صَلَّيتَ قَالَ لَا قَالَ فَصَلِّ رَكعَتَينِ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه: حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي يو سړي د جمعي په ورځ مسجد ته داخل شو او نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه فرمايله نو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل تا مونځ کړي سړي وويل چې نه نو رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې دوه رکعته مونځ وکړه . د دي حديث روايت د محدثينو جماعت کړي.

﴿۹۵۷﴾ وَعَنه قَالَ جَاءَ سُلَيك الغَطفَانِي يومَ الجُمُعَةِ وَرَسُولُ الله يخطُبُ فَجَلَسَ فَقَالَ لَه يا سُلَيك قُم فَارکَع رَكعَتَينِ وَتَجَوزْ فِيهِمَا ثُمَّ قَالَ إِذَا جَاءَ اَحَدُكم يومَ الجُمُعَةِ وَ الإِمَامُ يخطُبُ فَليرکَع رَكعَتَينِ وَليتَجَوَّزْ فِيهِمَا رواه مسلم و آخرون.(۲)

ترجمه: حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې سليک غطفاني د جمعي په ورځ راغي او رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه فرمايله نو سليک کيناسته نو ده ته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اي سليکه پاڅه دوه رکعته مونځ وکړه او زر تير شه په دي دوه وُ رکعتونو مختصرئي کړه بيا ئي وفرمايل چې کله يو ستاسي د جمعي مانځه ته راشي او امام خطبه وائي نو دوه رکعته دي وکړي او په دي دواړو رکعتونو کې دي لنډوالي وکړي. د دي حديث روايت مسلم او نورو محدثينو کړي دي.

﴿۹۵۸﴾ وَعَن سُلَيك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا جَاءَ اَحَدُكم وَالإِمَامُ يخطُبُ فَليصَلِّ رَكعَتَينِ خَفِيفَتَينِ رواه احمد والطبراني واسناده صحيح.(۳)

---

(۱) بخاري كتاب الجمعة ج۱ صـ ۱۲۷ باب اذا رأي الامام رجلاً جآء وهو يخطب ...الخ ، مسلم كتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۸۷ فصل من دخل المسجد والامام يخطب ....الخ ، ترمذي ابواب صلوة الجمعة ج۱ صـ ۱۱۴ باب في الركعتين اذا جآء الرجل والامام يخطب ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ صـ ۱۵۹ باب اذا دخل الرجل والامام يخطب ، نسائي كتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۰۸ باب مخاطبة الامام رعيته وهو علي المنبر ، ابن ماجة ابواب اقامه الصلوات صـ ۷۹ باب ماجآء فيمن دخل المسجد والامام يخطب، مسند احمد ج۳ صـ ۳۰۸.

(۲) مسلم كتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۸۷ فصل من دخل المسجد والامام يخطب .

(۳) مسند احمد ج۳ صـ ۳۱۷ المعجم الكبير للطبراني ج ۷ صـ ۱۶۱ رقم الحديث ۶۶۹۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه :حضرت سلیک رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ویلي چې رسول اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي کله چې یو ستاسي راشي او امام خطبه وائي نو دوه رکعته خفیف او مختصر مونځ دي وکړي . د دي حدیث روایت احمد رَحِمَہُ اللّٰہُ او طبراني کړي دي او اسناد ئې صحیح دي .

د جمعې د خطبې په وخت کې مونځ کول

د جمعې د خطبې په دوران کې د مونځ کولو په باره کې د ائمه وُ ترمنځ اختلاف دي چې په لاندې دول سره بیانیږي .

د جمعې د خطبې په دوران کې د مونځ په باره کې مذهبي اختلاف :

(۱) مذهب: د کوفي فقهاؤ او مالکیانو احنافو دا مذهب دي چې د جمعې د خطبې په دوران کې هیڅ قسم خبرې او یا مونځ جائز نه دي د جمهورو صحابه کرامو او تابعینو هم دغه مذهب دي .

(۲) مذهب : حنابله وُ او شوافعو ویلي دي کوم خلک چې د جمعې په ورځ د خطبې په وخت کې راشي د هغوي د پاره د تحیة المسجد دوه رکعته مونځ کول مستحب دي او د دي باب ټول روایتونه د حنابلهوُ او د شوافعو د پاره دلیلونه دي .

جمهورو علماوُ د دي جواب کې ویلي دي چې د دي سړي نوم کوم کس ته چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د خطبې په دوران کې د دوه وُ رکعتونو حکم کړي وُ سلیک بن هدبه وُ او یا سلیک بن عمرو غطفاني وُ او دا ډیر فقیر وُ نو رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ د خلکو نه د ده د پاره چنده غوښتله نو نبي اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ده ته حکم کړي وُ چې دا وُدریږي او دوه رکعته مونځ وکړي چې خلک د ده فقیریه خپلو ستر ګو وګوري او خلک ده ته صدقه ورکړي لکه چې د نسائي په ج۱ص ۱۵۸ کې بدې روایت راغلي دي یو سړي د جمعې په ورځ د فقر د بدحالئ په شکل کې راغې نو نبي اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ورته وُفرمایل چې تا مونځ کړي هغه ورته وویل چې نه نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ ورته وفرمایل چې دوه رکعته مونځ وکړه او تیزي ئې ورکوله په صدقه باندې . الحدیث .

او د فتح الباري په ج۲ص ۳۲۶ کې روایت دي : چې رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې (ان هذا الرجل دخل المسجد علي هیئة بذة الخ) یعني بې شکه دغه سړي مسجد ته د غریبئ په شکل کې راغلي وُ نو ماده ته حکم وکړ چې مونځ وکړي او زه امید کوم چې هر سړي د ده په حال خبر شي الخ او دموارد الظمئان په ص ۱۵۰ کې په یو روایت کې رسول اکرم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې دوه رکعته مونځ وکړه او بیا د دي په شان مونځ ونکړي ، (ارکع رکعتین ولا تعودن لمثل هذا) د دي پورته روایتونو نه معلومه شوه چې دا یوه جزئي واقعه ده او کلیه قاعده او ضابطه نه ده او بعض

Maktaba Tul Ishaat.com

راویانو دا د یوې قاعدې په شکل کې پیش کړي دي.
او نسائي په سنن کبرى کې ویلي دي چې دا واقعه په مانځه کې د خبرو کولو د نسخ نه مخکې وه نو کله چې په مانځه کې خبري منسوخ شوې نو په خطبه کې هم خبري منسوخ شوي ځکه چې خطبه د جمعې د مانځه جزء دي او شرط ئې دي. (۱) او دار قطني یو روایت نقل کړي دي چې (نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه بنده کړه تر دې پورې چې هغه سړي د مانځه نه فارغ شو او یا ناڅه چې د دې سړي مونځ د خطبې د شروع کیدو نه مخکې وُ. (۲)

﴿بَابٌ فِي الْمَنْعِ مِنَ الْكَلَامِ وَالصَّلَاةِ عِنْدَ الْخُطْبَةِ﴾
د جمعې د خطبې په وخت کې د مانځه او د خبرو کولو نه د منع باب

﴿۱۵۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا قُلْتَ لِصَاحِبِكَ يَوْمَ الْجُمُعَةِ أَنْصِتْ وَالْإِمَامُ يَخْطُبُ فَقَدْ لَغَوْتَ رواه الشيخان. (۳)

ترجمه: د حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي کله چې ته خپل ملګري ته د جمعې په ورځ ووائي چې چپ شه په داسي حال کې چې امام خطبه لولي نو بې فائده خبره دي کړي ده. د دې حدیث روایت شیخینو کړي دي.

﴿۱۶۰﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ دَخَلَ عَبْدُ اللهِ بْنُ مَسْعُودٍ الْمَسْجِدَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَجَلَسَ إِلَى جَنْبِ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَسَأَلَهُ عَنْ شَيْءٍ أَوْ كَلَّمَهُ بِشَيْءٍ فَلَمْ يَرُدَّ عَلَيْهِ أُبَيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَظَنَّ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهَا مُوجِدَةٌ فَلَمَّا الْتَفَتَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ صَلَاتِهِ قَالَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَا أُبَيُّ مَا مَنَعَكَ أَنْ تَرُدَّ عَلَيَّ قَالَ إِنَّكَ لَمْ تَحْضُرْ مَعَنَا الْجُمُعَةَ قَالَ وَلِمَ قَالَ تَكَلَّمْتَ وَالنَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْطُبُ فَقَامَ ابْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَدَخَلَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَ ذَلِكَ لَهُ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَدَقَ أُبَيٌّ أَطِعْ أُبَيًّا رواه ابو يعلى و اسناده صحيح. (۴)

---

(۱) ثاني ج۱ص ۱۵۷، ۴ حاشیه.
(۲) معارف السنن ج ٤ ص ۳۷۷-۳۷۸.
(۳) بخاري كتاب الجمعة ج۱ص ۱۲۷ باب الانصات يوم الجمعة، مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۱ فصل في عدم ثواب من تكلم والامام يخطب .....الخ.
(٤) مسند ابي يعلى ج۳ص ۳۳۵ رقم الحديث ۱۷۹۹، مجمع الزوائد ج۲ص ۱۸۵.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې عبد الله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مسجد ته ننوتي وُ او نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه لوسته نود اُبي بن کعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خوا ته کيناست نو د هغه نه ئي د يو شئ پوښتنه وکړه او يا ئي د هغه سره څه خبره وکړه نو حضرت اُبي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ته جواب ورنه کړ نو ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ گمان وکړ چې اُبي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپه شوي دي نو کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د خپل مانځه نه خلاص شو نو ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې اي اُبي څه شي منع کړي وي ته چې ماته دي جواب راکړي وي اُبي ووېل چې ته مونږ سره د جمعې په ورځ حاضر نه وي ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې هغه څنګه اُبي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ووېل چې ما خبري کولې او نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خطبه لوسته نو ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پاڅېده او نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورغلي نو دا خبره ئي ورته باده کړه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې اُبي رښتيا ويلي دي او د ابي اطاعت وکړه. د دي حديث روايت ابو يعلى کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۹۶۱﴾ وَعَنْ ثَعْلَبَةَ بْنِ أَبِي مَالِكٍ الْقُرَظِيِّ قَالَ إِنَّ جُلُوسَ الْإِمَامِ عَلَى الْمِنْبَرِ يَقْطَعُ الصَّلَاةَ وَكَلَامُهُ يَقْطَعُ الْكَلَامَ وَقَالَ إِنَّهُمْ كَانُوا يَتَحَدَّثُونَ حِينَ يَجْلِسُ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ عَلَى الْمِنْبَرِ حَتَّى يَسْكُتَ الْمُؤَذِّنُ فَإِذَا قَامَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى الْمِنْبَرِ لَمْ يَتَكَلَّمْ أَحَدٌ حَتَّى يَقْضِيَ خُطْبَتَيْهِ كِلْتَيْهِمَا ثُمَّ إِذَا نَزَلَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ الْمِنْبَرِ وَقَضَى خُطْبَتَهُ تَكَلَّمُوا رواه الطحاوي و اسناده صحيح(۱)

ترجمه : ثعلبه ابن ابي مالک قرظي ويلي دي په منبر باندي د امام کيناستل مونځ قطع کوي او د هغه خبري (خطبه ويل) خبرو لره قطع او ختموي ثعلبه ابن ابي مالک ويلي دي چې بې شکه هغوي به خبري کولې کله به چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منبر باندي کيناست تر هغې پورې چې مؤذن به چپ شو نو کله به چې حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په منبر باندي اُودريدهٔ هيڅوا به خبري نه کولې تر دي پورې چې دواړه خطبې به ئي پوره کړي بيا به چې کله حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خطبه پوره کړه او د منبر نه به راکوز شو خلکو به خبري کولې. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

---

(۱) طحاوي كتاب الصلوة ج۱ ص۲۸۴ باب الانصات عند الخطبة

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ مَا يَقْرَأُ بِهِ فِي صَلَاةِ الْجُمُعَةِ﴾

باب دې په بيان د هغه څه کې چې د جمعې په مانځه کې به ئې لوستلې کيږي

﴿۹۶۲﴾ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقْرَأُ فِي صَلَاةِ الفَجرِ يومَ الجُمُعَةِ الٓمٓ تَنزِيل اَلسَّجدَةَ وَ هل اَتٰى عَلَى الإنسَانِ حِينٌ مِنَ الدَّهرِ وَاَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقرَأُ فِي صَلَاةِ الجُمُعَةِ سُورَةَ الجُمُعَةِ وَالمُنَافِقِينَ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د جمع په ورځ د سهر په مانځه کې د (الم تنزيل السجده او هل اتى علي الانسان) سورتونه لوستل او د جمعې په مانځه کې به ئې د جمعې سورت او د منافقون سورتونه لوستل. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۹۶۳﴾ وَعَنِ ابنِ اَبِي رَافِعٍ قَالَ اسْتَخْلَفَ مَرْوَانُ اَبَاهُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَلَى المَدِينَةِ وَ خَرَجَ إِلَى مَكَّةَ فَصَلّٰى لَنَا اَبُوهُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يومَ الجُمُعَةِ فَقَرَأَ بَعدَ سُورَةِ الجُمُعَةِ فِي الرَّكعَةِ الآخِرَةِ إِذَا جَاءَكَ المُنَافِقُونَ قَالَ فَأَدرَكتُ اَبَاهُرَيرَةَ حِينَ انصَرَفَ فَقُلتُ لَه إِنَّك قَرَأتَ بِسُورَتَينِ كَانَ عَلِي بنُ اَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يقرَأُهُمَا بِالكُوفَةِ فَقَالَ اَبُوهُرَيرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ إِنِّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقرَأُ بِهِمَا يومَ الجُمُعَةِ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : د ابن ابي رافع نه روايت دي هغه ويلي دي چې مروان ابي هريره په مدينه منوره کې امير مقرر کړي وُ او په خپله مکي مکرمي ته تللي وُ نو مونږ ته ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جمعې مونځ وکړو وي لوسته د جمعې د سورت نه روسته په اخر رکعت کې (اذا جاءک المنافقون سورت) ابن ابي رافع ويلي دي چې کله ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سلام واړاوه ما ورسره وکتل نو ما ورته وويل چې تا دوه سورتونه لوستلي تلاوت کړي دي حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به دا دواړه سورتونه په کوفه کې تلاوت کول نو حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي دي چې لوستل به ئې دا دواړه سورتونه په جمع کې. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

---

(۱) مسلم كتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۸۸ فصل في قراءة الم تنزيل ...الخ.

(۲) مسلم كتاب الجمعة ج۱ صـ ۲۸۷ فصل في قراءة سورة الجمعة والمنافقين.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹۶۴﴾ وَ عَنِ النُّعمَانِ بنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقرَأُ فِي العِيدَينِ وَفِي الجُمُعَةِ بِسَبِّحِ اسمَ رَبِّكَ الأَعلَى وَ هَل اَتَاكَ حَدِيثُ الغَاشِيَةِ قَالَ وَإِذَا اجتَمَعَ العِيدُ وَالجُمُعَةُ فِي يَومٍ وَاحِدٍ يَقرَأُ بِهِمَا أَيضًا فِي الصَّلَاتَينِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت نعمان بن بشير رضي الله عنه ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به په دواړو اختر ونو او په جمعه کې د سبح اسم ربك الاعلیٰ او د هل اتاك حديث الغاشيه سورتونه تلاوت کول نعمان بن بشير ويلي دي او کله به چې جمعه او اختر په يوه ورځ کې يو ځای شو همدا دوه سورتونه به ئې په دواړو مونځونو کې تلاوت کول د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۹۶۵﴾ وَ عَن عُبَيدِ اللهِ بنِ عَبدِ اللهِ قَالَ كَتَبَ الضَّحَّاكُ بنُ قَيسٍ إِلَى النُّعمَانِ بنِ بَشِيرٍ يَسأَلُهُ أَيَّ شَيءٍ قَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَومَ الجُمُعَةِ سِوَى سُورَةِ الجُمُعَةِ فَقَالَ كَانَ يَقرَأُ هل أتاك حَدِيثُ الغَاشِيَةِ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : عبيدالله بن عبدالله ويلي دي چې ضحاک بن قيس حضرت نعمان بن بشير ته خط وليکه پوښتنه ئې تري وکړه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جمعې په ورځ د جمعې د سورت نه په غير بل کوم شي تلاوت کړي وُ نو نعمان بن بشير وويل چې هغه - هل اتاک حديث الغاشيه تلاوت فرمايلي وُ. د دې حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۹۶۶﴾ وَ عَن سَمُرَةَ بنِ جُندُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقرَأُ فِي الجُمُعَةِ بِسَبِّحِ اسمَ رَبِّكَ الأَعلَى وَهل أَتَاكَ حَدِيثُ الغَاشِيَةِ رواه احمد والنسائي و ابوداود واسناده صحيح.(۳)

ترجمه : د حضرت سمره ابن جندب رضي الله عنه نه روايت دي چې بې شکه نبي اکرم صلى الله عليه وسلم به جمعه کې سبح اسم ربك الاعلى الذي خلق فسوىٰ او هل اتاك حديث الغاشيه) تلاوت کول. د دې حديث روايت احمد رحمه الله، نسائي رحمه الله او ابوداوُد کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

---

(۱) مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۸ فصل في قراءة الم تنزيل .....الخ.

(۲) مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۸ فصل في قراءة الم تنزيل .....الخ.

(۳) مسند احمد ج ۵ ص ۱۷ ، نسائي كتاب الجمعة ج۱ص ۲۱۰ باب القراءة في صلوة الجمعة بسبح اسم ربك الاعلى ...الخ ، ابوداود كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۰ باب ما يقرأ في الجمعة.

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئلة الباب : افضل دادي چې دجمعې په مونځ کې سورة الجمعه او سورة المنافقون ي سورة الاعلى او سورة الغاشيه دې وويلې شي . البته حنفيه دا وايي چې دې لره دې متعين اونه ګڼلې شي بلکې کوم سورتونه چې په حديث کې راغلي دي هغې لره په مونځ کې احيانا په نيت دسنيت ويل مندوب او مستحب او موجب دبرکت دي .

﴿أَبْوَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ﴾
د دواړو اخترونو د مانځه بابونه

مسئلة الابواب : داخترونو مونځ دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په نزد واجب على الاعيان دي ، دامام مالک او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد سنت اودامام احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد فرض کفايه دي .(رحمة الامة ص ٦٢)

﴿بَابُ التَّجَمُّلِ يَوْمَ الْعِيدِ﴾
د اختر په ورځ د خائست د حاصلولو باب

﴿٩٦٧﴾ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَلْبَسُ بُرْدَةً الْأَحْمَرِ فِي الْعِيدَيْنِ وَالْجُمُعَةِ رواه ابن خزيمة بأسناد صحيح .(١)

ترجمه : د حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دواړو اخترونو او د جمعې په ورځ د سرو کرښو والا جامي اغوستې . د دې حديث روايت په صحيح سند سره ابن خُزيمه کړي دي .

﴿٩٦٨﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُ يَوْمَ الْعِيدِ بُرْدَةً حَمْرَاءَ رواه الطبراني في الاوسط واسناده صحيح .(٢)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د اختر په ورځ سره پټه لرونکي جامي اغوستې .دې حديث روايت په اوسط کې طبراني کړي دي اواسنادئې صحيح دي .

وضاحت : د هر يو مذهب او دين والاؤ د پاره په کال کې د خوشحالئ څو ورځې مقرري وي خو ولي اسلام په پوره کال کې د خوشحالئ دوه ورځې مقرري کړي دي او دا دوه ورځې هم د عظيم الشان

---

(١) وايضا اخرجه البيهقي في سنن الكبرى كتاب صلوة العيدين ج٣ــ ٢٨٠ باب الزينة للعيدين .

(٢) المعجم الاوسط ج ٨ ــ ٢٩٥ برقم ٧٢٠٥ ، مجمع الزوائد ابواب العيدين ج٢ــ ١٩٨ باب اللباس يوم العيد.

Maktaba Tul Ishaat.com

عبادتونو د مکمل کولو په وخت کې روا او مشروع شوي دي لکه چې د لوي اختر په ورځ کې د حج تکميل شوي دي او د واړه اختر په ورځ د رمضان المبارک د روژې تکميل شوي دي .(۱)

په ذکر شوي باب کې په دواړو روايتونو (۹۶۷ - ۹۶۸) حديثونو کې د رسول اکرم ﷺ د تجمل او د ښه لباس د اغوستو معمول بيان شوي دي .د جمعې او د عيدين لپاره حتی الوسع زينت اختيارول او عمده لباس اچول محمود او مطلوب دي خو په شرط ددې چې د ډېنه تکبر او د نورو په تحقير کې مبتلا نه وي .

﴿بَابُ اِستِحبَابِ الاَکلِ قَبلَ الخُرُوجِ یومَ الفِطرِ وَ بَعدَ الصَّلَاۃِ یومَ الاَضحٰی﴾
دواړه اختر په ورځ عيدګاه ته د تلو نه مخکې او د لوئ اختر په ورځ د مانځه نه روسته د خوراک کولو د استحباب باب

﴿۱۶۹﴾ عَن اَنَسِ بنِ مَالِکٍ رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ قَالَ کَانَ رَسُولُ اللّٰہِ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ لَا یغدُو یومَ الفِطرِ حَتّٰی یاکلَ تَمَرَاتٍ رواہ البخاري وفي روایۃ لہ ویاکلُھنَّ وِترًا .(۲)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ ويلي دي رسول اکرم ﷺ به د واړه اختر په ورځ تشريف نه وړ تر څو پورې چې کجوري به ئې وخوړي .د دې حديث روايت بخاري کړي دي او په يو روايت د بخاري کې دي چې هغه په طاق شماره کجوري خوړلې .

﴿۱۷۰﴾ وَ عَن بُرَیدَۃَ رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ اَنَّ النَّبِیَّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیہِ وَسَلَّمَ کَانَ لَا یخرُجُ یومَ الفِطرِ حَتّٰی یطعَمَ وَکَانَ لَا یاکلُ یومَ النَّحرِ شَیئًا حَتّٰی یرجِعَ فَیاکلُ مِن اَضحِیتِہٖ رواہ الدار قطني و آخرون و اسنادہ حسن .(۳)

ترجمه : د حضرت بريده رَضِیَ اللّٰہُ عَنہُ نه روايت دي چې نبي اکرم ﷺ به د واړه اختر په ورځ تشريف نه وړ تر هغې پورې چې خوراک به ئې وکړ او د لوي اختر په ورځ به ئې هيڅ خوراک نه کاوه تر هغې پورې چې واپس به شو د عيدګاه نه نو د خپلې قربانئ نه به ئې خوراک کاوه .د دې حديث روايت دار قطني او نورو محدثينو کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ ص ۳۰۶.

(۲) بخاري کتاب العيدين ج۱ ص ۱۳۰ باب الاکل يوم الفطر قبل الخروج .

(۳) دار قطني کتاب العيدين ج۲ ص ۴۵ ، مستدرك حاکم کتاب العيدين ج۱ ص ۲۹۴ ، ترمذي ابواب العيدين ج۱ ص ۱۲۰ باب الاکل ام الفطر قبل الخروج .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹۷۱﴾ وَعَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ مِنَ السُّنَّةِ اَن لَّا تَخرُجَ يومَ الفِطرِ حَتّٰى تَخرُجَ الصَّدَقَةَ وَتَطعَمَ شَيئًا قَبلَ اَن تَخرُجَ رواه الطبراني في الكبير والدارقطني والبزار و قال الهيثمي و اسناد الطبراني حسن.(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي د سنت طريقي نه ده دا خبره چې د واړه اختر په ورځ به عيدګاه ته نه وځي تر څو پوري چې صدقه وباسي او څه وخوري مخکې د وتو نه عيدګاه ته. د دي حديث روايت طبراني کړي په کبير کې او دار قطني کړي او بزار کړي او هيثمي ويلي دي چې د طبراني اسناد حسن دي.

﴿۹۷۲﴾ وَعَن عَطَاءٍ اَنَّه سَمِعَ ابنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَقُولُ اِنِ استَطعَمتُم اَن لَا يغدُوَ اَحَدُكم يومَ الفِطرِ حَتّٰى يطعَمَ فَليفعَل قَالَ فَلَم اَدَعْ اَن اَكلَ قَبلَ اَن اَغدُوَ مُنذُ سَمِعتُ ذٰلِكَ مِنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَاَكلُ مِن طَرفِ الصَّرِيفَةِ الاُكلَةَ وَاَشرَبُ اللَّبَنَ وَالمَاءَ فَقُلتُ عَلٰى مَا تَاَوَّلَ هٰذَا قَالَ سَمِعَه اَظُنُّ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ كَانُوا لَا يخرُجُونَ حَتّٰى يمتَدَّ الضُّحٰى فَيقُولُونَ نَطعَمُ لِقَلَّا نَعجِلَ عَن صَلَاتِنَا رواه احمد و قال الهيثمي رجاله رجال الصحيح.(۲)

ترجمه : د عطاء نه روايت دي ده د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه اوريدلي دي چې ويل ئي که چرته ستاسي طاقت وي چې ډوډۍ نه وخي يو ستاسي د واړه اختر په ورځ تر هغې چې طعام وخوري نو ودي کړي دا کار عطاء ويلي دي چې ما خوراک نه ډوډۍ پريښي مخکې د وتلو نه عيدګاه ته د کوم وخت نه چې ما د ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه دا خبره اوريدلي وه نو خوړه به ما ډوډۍ د چپاتي د يوي څنډې نه يوه مړۍ او سکل به ما شوده او ابوه ابن جريج ويلي دي چې ما وويل چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ دا د کوم څاي نه راخستي ده عطا ويلي دي چې ځما دا ګمان دي چې هغه به د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي وي عطاء ويلي دي چې خلک به د ګرمۍ تر شروع کيدو پوري عيدګاه ته وتل نو خلکو به ويل چې مونږ ډوډۍ خورو د دي د پاره چې په مانځه کې جلتي ونه کړو. د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ کړي دي او هيثمي ويلي دي چې د دي رجال صحيح رجال دي.

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج۱۱ــ ۱۴۲ رقم الحديث ۱۱۲۹۶ ، دار قطني كتاب العيدين ج۲ــ ۴۵ ، كشف الاستار عن زوائد البزار ، ابواب صلاة العيدين ج۱ــ ۳۱۲ باب الاكل يوم الفطر قبل الصلاة رقم الحديث ۶۵۱ ، مجمع الزوائد ابواب العيدين ج۲ــ ۱۹۹ باب الاكل يوم الفطر قبل الخروج .

(۲) مسند احمد ج۱ــ ۳۱۳ ، مجمع الزوائد كتاب العيدين ج۱ــ ۱۹۸ باب الاكل يوم الفطر قبل الخروج .

Maktaba Tul Ishaat.com

وضاحت : د ذکر شوي باب (۹۶۹ نه تر ۹۷۲) پوري به واړه اختر کې د افطار مسنونیت او په لوي اختر کې د امساک استحباب بیانیږي کوم چې د جمهورو مسلک دي . (۱)

د جمهورو علماؤ په نزد د واړه اختر په ورځ د اختر د مانځه نه مخکې لږ څه خوراک سنت دي او د دي باب په اول (۹۶۹) حدیث کې چې حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روایت کړي په دي خبره باندي تصریح شوي ده چې .نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به (یأکل تمرات) یعني هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به طاق شماره کجوري د اختر د مانځه نه مخکې خوړې . او د طاق مرتبي اطلاق په عربي محاوراتو کې د دریؤ نه نیولي تر اوو پورې کیږي او په هر یو کار کې د طاق مرتبي لحاظ ساتل بهتر دي ځکه چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي (ان اللّٰه وتر یحب الوتر) یعني : الله طاق واحد لا شریک ذات دي او طاق مرتبي ئې خوښې دي . او د کجورو تخصیص خو یا د دي وجهي نه وُ چې هغه وخت سره همدا کجوري موجود وي وي .

او بعضو علماؤ ئې حکمت دا خودلی چې کجوري خوږي دي او خوږ شي د سترګو نظر ته قوت ورکوي او بیا خاص کر د نهرې په حالت کې او خواړه د ایمان تقضی هم ده معبرینو علماؤ لیکلي دي چې په خوب کې څوک خواږه وګوري نو تعبیر ئې دا دي چې د ایمان خوږوالي به ئې نصیب شي نو د دي وجهي نه په ښه او خوږ شئ باندي افطار بهتر دي .

او د لوي اختر په ورځ د اختر تر مانځه پورې څه نه خوړل او امساک مستحب دي لکه چې د دي باب په (۹۷۰) حدیث باندي دا خبره ثابته شوي ده او دغه امساک د هر چا د پاره مستحب دي برابره خبره ده چې قرباني ئې کړي وي او که قرباني ئې نه وي کړي . (۲)

او د دي باب (۹۷۱) حدیث چې ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ئې روایت کړي دي د دي مفهوم او مضمون د لفظي ترجمې نه ښکاره او واضح شوي دي .

او د دي باب بل (۹۷۲) حدیث چې عطاء ئې روایت کړي په دي مبارک حدیث کې د واړه اختر په ورځ د اختر د مانځه نه مخکې څه ناڅه خوراک سنت او یا مستحب دي او د استحباب وجه ئې کیدي شي دا وي چې د رمضان المبارک په میاشت کې خلک د الله جل شانه په حکم د ورځې د خوراک سکاک نه بالکل بند شوي دي کله چې د الله جل شانه له طرف نه په دي ورځ کې ده ته د خوراک سکاک اجازت وشو او په دي کې د هغه رضا او خوشحالي ده .

---

(۱) درس ترمذي ج ۲ صـ ۳۲۳.

(۲) درس ترمذي ج ۲ صـ ۳۲۳-۳۲۴.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ الْخُرُوجِ إِلَى الْجَبَّانَةِ لِصَلَاةِ الْعِيدِ﴾

﴿۹۷۳﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى إِلَى الْمُصَلَّى الحديث رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې نبي اكرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به د واړه اختر او لوي اختر په ورځ عيدگاه ته تشريف وړ. الحديث. د دې حديث روايت شيخينو كړي دي.

داختر مونځ دې په عيدگاه كې وكړي شي

اصل دادي چې داختر مونځ په صحراء يعني عيدگاه كې اوكړي الا بعذر مثل المطر چنانچې دراروان باب په حديث كې دي چې يو پيره په مدينه منوره كې داختر په ورځ باران وو دكوم دوجې نه چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عيدگاه په ځاى په مسجد كې اوفرمايلو.

جمهور علماء او ائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللَّهُ (ابوحنيفه، مالک، او احمد رَحِمَهُمُ اللَّهُ) مذهب هم همدغه دي. په دې كې دامام شافعي رَحِمَهُ اللَّهُ اختلاف دې هغه فرمايي چې په اختر كې هم اصل همدغه دي چې اختر لره دي په مسجد كې ادا كړي شي، كه ټول خلک په مسجد كې راتللې شي.

ويلي كيږي چې حضور صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داختر د مونځ لپاره خروج الى المصلي دضيق مسجد دوجې نه وه. (الدرالمنضود:۲/۴۶۲بتغير) ليكن درواياتو اطلاق دجمهور مؤيد دي، همدارنګه حضرت علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په دور كې دضيق مسجد علت باقي نه وو بيا هم هغه عيدگاه ته تللو دغه شان په بلاد اسلاميه كې دشروع نه تر خروج الى المصلي لصلاة العيد معمول دي. (التعليق الحسن)

﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدِ فِي الْمَسْجِدِ لِعُذْرٍ﴾

په مسجد كې د عذر دوجې نه داختر د مانځه كولو باب

﴿۹۷۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ أَصَابَ النَّاسَ مَطَرٌ فِي يَوْمِ عِيدٍ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِهِمْ فِي الْمَسْجِدِ رواه ابن ماجه و ابوداود وفي اسناده عيسى بن عبد الاعلى وهو مجهول.(۲)

---

(۱) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۱ باب الخروج الى المصلى، مسلم كتاب صلوة العيدين ج۱ص ۲۹۰.

(۲) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ج ص ۹۴ باب ماجاء في صلوة العيد في المسجد اذا كان مطر، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۴ باب يصلي بالناس في المسجد اذا كان يوم مطر.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه زمانه کې خلکو ته د اختر په ورځ باران رامخې ته شو نو خلکو ته نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد کې د اختر مونځ وکړ . د دې حديث روايت ابن ماجه او ابوداؤد کړي دي او د دې په اسناد کې عيسي ابن عبد الاعلي دي او هغه مجهول دي .

﴿۹۷۵﴾ وَعَنْ حَنَشٍ قَالَ قِيلَ لِعَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ ضُعفَةَ مِنَ النَّاسِ لَا يستَطِيعُونَ الخُرُوجَ اِلَى الجَبَّانَةِ فَاَمَرَ رَجُلًا يصَلِّي بِالنَّاسِ اَربَعَ رَكعَاتٍ رَكعَتَينِ لِلمَغرِبِ وَ رَكعَتَينِ لِمَكَانِ خُرُوجِهِم اِلَى الجَبَّانَةِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و آخرون و اسناده ضعيف .(۱)

ترجمه : حنش ويلي دي چې د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويلي شو چې بې شکه کمزوري خلک عيدګاه ته د وتلو طاقت نه لري نو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يو کس ته امر وکړ چې خلکو ته څلور رکعته مونځ وکړي دوه رکعته د اختر او دوه رکعته عيدګاه ته د دوي د وتلو په ځاي . د دې حديث روايت ابوبکر ابن ابي شيبه او نورو محدثينو کړي دي او اسناد يې ضعيف دي .

﴿بَابُ صَلَاةِ العِيدَينِ فِي القُرٰى﴾
په کلو کې د اخترونو د مونځ باب

﴿۹۷۶﴾ قَالَ البُخَارِي اَمَرَ اَنَسُ بنُ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَولَاه ابنَ اَبِي عُتبَةَ بِالزَّاوِيةِ فَجَمَعَ اَهلَه وَ بَنِيه وَ صَلّٰى كَصَلَاةِ اَهلِ المِصرِ وَتَكبِيرِهِم التَّعلِي وَهُوَ مُعَلَّقٌ .(۲)

ترجمه : بخاري ويلي دي چې امر کړي وُ انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپل ازاد کړي شوي غلام ابن ابي عتبه ته په زاويه کې نو جمعه کړي وُ خپل اهل او ځامن او د اختر مونځ يې کړي وُ په شان د مانځه د بنار والاوُ او د تکبير د دوي . انتهي دا حديث معلق دي .

﴿۹۷۷﴾ وَعَنْ عَبدِ اللهِ بنِ اَبِي بَكرِ بنِ اَنَسِ بنِ مَالِك قَالَ كَانَ اَنَسُ بنُ مَالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اِذَا فَاتَتهُ صَلَاةُ العِيدِ مَعَ الاِمَامِ جَمَعَ اَهلَه يصَلِّي بِهِم مِثلَ صَلَاةِ الاِمَامِ فِي العِيدِ رواه البيهقي و اسناده غير صحيح .(۳)

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۸۴ باب القوم يصلون في المسجد كم يصلّون .

(۲) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۴ باب اذا فاته العيد يصلي ركعتين وكذلك النساء .

(۳) سنن الكبرى للبيهقي كتاب صلوة العيدين ج۳ص ۳۰۵ باب صلوة العيدين سنة اهل الاسلام ...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت عبدالله بن ابي بکر بن انس بن مالک ويلي دي چې ؤ انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې کله به فوت شو د هغه نه مونځ د اختر د امام سره نو راجمع به ئې کړ اهل خپل مونځ به ئې وکړ هغوته په شان د مانځه د امام په اختر کې . د دې حديث روايت البيهقي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۹۷۸﴾ وَعَنْ بَعْضِ آلِ أَنَسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ أَنَسًا كَانَ رُبَّمَا جَمَعَ أَهْلَهُ وَحَشَمَهُ يَوْمَ الْعِيدِ فَيُصَلِّي بِهِمْ عَبْدُ اللهِ بْنُ أَبِي عُتْبَةَ مَوْلَاهُ رَكْعَتَيْنِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة ورجاله ثقات لكن بعض آل انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مجهول .(۱)

ترجمه : د حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ال کې د يو کس نه روايت دي چې بې شکه انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به کله کله خپل خپلوان او غلامان د اختر په ورځ کې راجمع کړل نو مونځ به وکړ دوي ته عبدالله بن ابي عتبه د انس بن مالک ازاد کړي شوي غلام دوه رکعته . د دې حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه کړي دي او رجال ئې ثقه دي لکن بعضي آل انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مجهول دي .

په کلي کې داختر مونځ کيدې شي يا نه؟

۱. دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ (امام مالک ، امام شافعي ، امام احمد رَحِمَهُمُ اللهُ) په نزد کيدې شي .

۲. د حنفيو رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد په کلي او باندېچو کې داختر مونځ صحيح نه دې . (رحمة الامة ، ص: ٦٢)

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ استدلال : په کتاب کې د حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عمل درو مختلفو انداز سره مروي دي چې دوي ته به چې کله داختر مونځ نه ملاويدو نو هغه به د خپل اهل خانې سره اختر کولو .

جوابونه :

۱... اولني روايت په بخاري شريف کې معلق دي او د امام بخاري رَحِمَهُ اللهُ طرز معلوم دادي چې عموما د کومو په روايتو په سند کې چې لږ شان تامل وو هغه به يې معلق روايت کولو ، غرض د دې روايت سند قوي نه وو .

۲... په دويم روايت کې د عبدالله بن ابي بکر ، بن انس توثيق معلوم نه شو همدارنګه د حضرت انس نه د ده سماع هم معلومه نه ده .

۳... په دريم روايت کې بعض آل انس مجهول دي ، که مراد عبدالله بن ابي بکر دي نو دهغه حال مو بيان کړ .

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب [illegible]

Maktaba Tul-Ishaat.com

﴿بَابُ لَا صَلَاةَ الْعِيدِ فِي الْقُرٰى﴾
باب نشته مونځ د اختر په کلو کې

﴿۹۷۹﴾ عَنْ اَبِي عَبدِ الرَّحمٰنِ السُّلَمِي عَنْ عَلِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَا تَشرِيقَ وَلَا جُمُعَةَ اِلَّا فِي مِصرٍ جَامِعٍ رواه عبد الرزاق و آخرون و هو اثر صحيح.(۱)

ترجمه : د ابي عبد الرحمن السلمي نه روايت دي چې حضرت علي رضي الله عنه ويلي دي چې نه اختر شته او نه جمعه شته په غير د ښار لوي نه. دا حديث عبد الرزاق او نورو محدثينو روايت کړي دي او دغه اثر صحيح دي.

په مسئلة الباب کې د حنفيو استدلال : د حنفيو په نزد صلاة العيد في القرى صحيح نه دي د باب روايت اثر د علي رضي الله عنه دي اګر چې موقوف دي ليکن د غير مدرک بالقياس کيدو د وجې نه په حکم کې مرفوع دي. همدرانګه د خليفه راشد قول دي " وقد قال النبي صلى الله عليه وسلم عليكم بسنتي وسنة الخلفاء الراشدين " دريم دا چې د جمعې لپاره د مصر شرط دا حديث او د نص قرآني سره مؤيد دي بيا په صلاة عيد کې بطريق اولى به دا شرط وي. اثر د علي رضي الله عنه سند، اثر د انس رضي الله عنه د رجحا قوي دي لهذا په همدې باندې به عمل کيږي.

قوله " لاتشريق " : د اد شروق نه وتلي دي او د دې نه صلاة العيد مراد دي چې هغه هم د شروق شمس يعني طلوع آفتاب نه پس ادا کيږي.

﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَينِ بِغَيرِ اَذَانٍ وَلَا نِدَاءٍ وَلَا اِقَامَةٍ﴾
باب مونځ د دواړو اخترونو په غير د اذان، اواز او اقامت نه

﴿۹۸۰﴾ عَنْ عَطَاءٍ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وَ عَنْ جَابِرِ بنِ عَبدِ اللّٰهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَا لَم يكن يؤَذَّنُ يومَ الفِطرِ وَلَا يومَ الاَضحٰى رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : د عطاء نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رضي الله عنه او حضرت جابر رضي الله عنه ويلي دي چې د واړه اختر او د لوي اختر د ورځ اذان به نه ويل کيده. د دې حديث روايت شيخينو کړي دي.

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب الجمعة ج۳ص ۱۶۸ باب القرى الصغار برقم ۵۱۷۷.

(۲) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۱ باب الخطبة بعد العيد بلا اذان ولا اقامة ومسلم كتاب صلاة العيدين ج۱ص ۲۹۰

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۹۸۱﴾ وَ عَن جَابِرِ بنِ سُمرَة رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ صَلَّيتُ مَعَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ العِيدَينِ غَيرَ مَرَّة وَلاَ مَرَّتَينِ بِغَيرِ اَذَانٍ وَلَا اِقَامَة رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې د اختر مونځ کړي ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ سره يو ځل او دوه ځله نه په غير د اذان او اقامت نه. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۹۸۲﴾ وَ عَن جَابِرِ بنِ عَبدِ الله الاَنصَارِي رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّ لَا اَذَانَ لِلصَّلَاة يومَ الفِطرِ حِينَ يخرُجُ الإِمَامُ وَلَا بَعد مَا يخرُجُ وَلَا اِقَامَة وَلَا لِدَاءَ وَلَا شَيءَ وَلَا لِدَاءَ يومَئِذٍ وَلَا اِقَامَة رواه مسلم.(۲)

ترجمه : د حضرت جابر بن عبدالله انصاري رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي چې نشته اذان د پاره د مانځه د وړځي د وارې اختر نه د امام د راتلو په وخت کې او نه د امام د راتلو نه روسته نه اقامت شته نه اواز شته او نه کوم بل يو شي په دي ورځ نه اذان وُ او نه اقامت. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

مسئلة الباب: دنورو مونځونو برعکس داخترونو مونځ بغير داذان او اقامت دې عندالائمه الاربعه. البته " الصلاة جامعة " په شان داعلاناتو په ذريعې سره خلکو ته خبر ورکول پکار دي.

(بداية المجتهد ،ص: ۱۷٤، وروحة الامة ، ص: ٦۳)

﴿بَابُ صَلَاة العِيدَينِ قَبلَ الخُطبَة﴾

باب دي په مانځه د اخترونو کې مخکې د خطبې نه

﴿۹۸۳﴾ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَ اَبُو بَكرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ وَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يصَلُّونَ العِيدَ قَبلَ الخُطبَة رواه الشيخان.(۳)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ او ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنهُ او عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ به مونځ کاوه د اخترونو مخکې د خطبې نه. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۹۸۴﴾ وَ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ شَهِدتُ العِيدَ مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَ اَبِي بَكرٍ وَ عُمَرَ وَ عُثمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنهُم فَكُلُّهم كَانُوا يصَلُّونَ قَبلَ الخُطبَة رواه الشيخان.(٤)

---

(۱) مسلم كتاب صلوة العيدين ج۱ص ۲۹۰ .

(۲) مسلم كتاب صلوة العيدين ج۱ص ۲۹۰ .

(۳) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۱ باب الخطبة بعد العيد ، مسلم كتاب صلوة العيدين ج۱ص ۲۹۰ .

(٤) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۱ باب الخطبة بعد العيد ، مسلم كتاب صلوة العيدين ج۱ص ۲۸۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې زه حاضر شوي يم د اختر د مانځه د پاره د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او د ابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او د حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره دوي ټول وُ چې مونځ به ئي کاوه د خطبې نه مخکې. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۹۸۵﴾ وَ عَنْ اَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَخْرُجُ يَوْمَ الْفِطْرِ وَالْاَضْحٰى اِلَى الْمُصَلّٰى فَاَوَّلُ شَيْءٍ يَبْدَأُ بِهِ الصَّلَاةُ ثُمَّ يَنْصَرِفُ فَيَقُومُ مُقَابِلَ النَّاسِ وَالنَّاسُ جُلُوسٌ عَلٰى صُفُوفِهِم فَيَعِظُهُم وَ يُوصِيهِم وَ يَاْمُرُهُم فَاِن كَانَ يُرِيدُ اَن يَقْطَعَ بَعْثًا قَطَعَه اَو يَاْمُرَ بِشَيْءٍ اَمَرَ بِه ثُمَّ يَنْصَرِفُ قَالَ اَبُو سَعِيدٍ فَلَم يَزَلِ النَّاسُ عَلٰى ذٰلِك حَتّٰى خَرَجتُ مَعَ مَرْوَانَ وَ هُوَ اَمِيرُ الْمَدِينَة فِي اَضْحًى اَو فِطرٍ فَلَمَّا اَتَينَا الْمُصَلّٰى اِذَا مِنْبَرٌ بَنَاه كَثِيرُ بنُ الصَّلْتِ فَاِذَا مَرْوَانُ يُرِيدُ اَن يَرْتَقِيَه قَبلَ اَن يُصَلِّيَ فَجَبَذْتُه بِثَوبِه فَجَبَذَنِي فَارْتَفَعَ فَخَطَبَ قَبلَ الصَّلَاةِ فَقُلتُ لَه غَيرتُم وَاللهِ فَقَالَ اَبَا سَعِيدٍ قَد ذَهَبَ مَا تَعلَمُ فَقُلتُ مَا اَعلَمُ وَاللهِ خَيرٌ مِمَّا لَا اَعلَمُ فَقَالَ اِنَّ النَّاسَ لَم يَكُونُوا يَجلِسُونَ لَنَا بَعدَ الصَّلَاةِ فَجَعَلتُهَا قَبلَ الصَّلَاةِ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې وُ رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې راوتله به د واړه اختر په ورځ او د لوي اختر په ورځ عيدګاه ته اول شئ چې شروع به ئي پرې کوله مونځ وُ يا به ئي سلام واړاوه نو ويه درېده مخامخ خلکو ته او خلک به ناست وُ په خپلو صفونو باندې نو هغو ته به ئي وعظ او نصيحت وکړ او هغو ته به ئي امر کاوه په ځينو کارونو باندې او که چرته به ئي اراده وه چې يوه ډله جهاد ته ولېږي نو د هغې تعين به وفرمايه او که په يو شي باندې امر وکړي نو په هغې به ئي امر وفرمايه بيا به ئي واپس تشريف ويوړ ويلي دي ابو سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې هميشه خلک په دي باندې وُ تر دي پورې، چې زه د مروان سره راووتم او دا په مدينه کې امير وُ په لوي اختر او يا په واړه اختر کې کله چې مونږ عيدګاه ته راغلو نو ناڅاپه منبر وُ چې هغه کثير بن الصلت جوړ کړي او تيار کړي وُ نو کله چې مروان اراده وکړه چې وروخيژي منبر ته مخکې د مانځه نه نو ما هغه راکش کړ د جامو نه نو هغه زه راکش کړم نو په منبر اوچت شو نو خطبه ئي مخکې د مانځه نه وويله نو ما هغه ته وويل چې قسم دي چې تاسو سنت طريقې ته تغير ورکړ نو هغه وويل اي ابا سعيده په کوم شي چې ته پوهيدې هغه تير شوي دي نو ما وويل قسم دي په الله په کوم شئ چې زه پوهيږم هغه بهتر دي د

---

(۱) بخاري كتاب العيدين ج: ص ۱۳۱ باب الخروج الى المصلّى بغير منبر واللفظ له مسلم كتاب العيدين ج۱ ص ۲۹۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

هغې نه چې زه پرې نه پوهيږم نو هغه وويل چې خلک مونږ ته د مانځه نه روسته نه کيناستل نو ما خطبه د مانځه نه مخکې کړه . د دې حديث روايت بخاري کړې دي .

داخترونو خطبه

۱. داخترونو خطبه سنت ده په خلاف د جمعې چې هغه واجب ده او شرط هم ځکه په مونږ باندې مقدم ده او خطبه عيدين بالاتفاق د مونږ نه مؤخر ده ، په نورو احکامو کې د جمعې د خطبې په شان ده .

۲. دټولو نه مخکې مونږ باندې د خطبې تقديم حضرت عثمان رضي الله عنه کړې وو ليکن دده د تقديم منشا دا وه چې دهغه زمانې پورې د مسلمانانو ډير کثرت پيدا شوې وو اخيره پورې به عيدګاه ته خلک راتلل نو هغوي په دې خيال سره چې د خلکو داختر مونږ فوت نشي مونږ يې د خطبې نه مؤخر کړې وو . (بداية المجتهد ، ص: ۱۷۴ بتغير)

ليکن د باب حديث د ابن عباس رضي الله عنه نه معلوميږي چې حضرت عثمان به هم داختر مونږ مقدم کولو او خطبه به يې مؤخر بيا هغه طرفته تقديم د خطبې نسبت کول صحيح ند دي ، همدارنګه که چرته مخکې حضرت عثمان رضي الله عنه داسې کړې وي نو حضرت ابوسعيد رضي الله عنه مروان بن حکم باندې نکير ولې وکړ؟

د مروان په باره کې ليکلي دي چې هغه پخپله خطبه کې اهل بيت وعلي رضي الله عنه واصحاب علي رضي الله عنه باندې تعريض کول او دهغه مذمت به يې کولو ځکه چې ډير خلک د دې خطبې اوريدلو نه بغير به پاسيدل چې کله ده دا اوکتل نو بيا يې بل حرکت دا وکړ چې خطبه يې په مونږ باندې مقدم کړ ځکه چې بغير د مونږ نه خو خلک نه شو واپس کيدې نو ځکه مجبورا به دوي خطبه اوريدله .

(الدر المنضود : ۴۵۵/۲-۴۵۶)

﴿بَابُ مَا يُقْرَأُ فِي صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ﴾

باب څه شي به ئې لوسته په مانځه د اخترونو کې

﴿۹۸۶﴾ عَنْ عُبَيْدِ اللّٰهِ بْنِ عَبْدِ اللّٰهِ أَنَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ رضي الله عنه سَأَلَ أَبَا وَاقِدٍ اللَّيْثِيَّ رضي الله عنه مَا كَانَ يَقْرَأُ بِهِ رَسُولُ اللّٰهِ صلى الله عليه وسلم فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ فَقَالَ كَانَ يَقْرَأُ فِيهِمَا بِقَافِ وَالْقُرْآنِ الْمَجِيدِ وَاقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانْشَقَّ الْقَمَرُ رواه مسلم (۱)

---

(۱) مسلم كتاب صلوة العيدين ج ۱ ص ۲۹۱ فصل في قراءة ق والقرآن المجيد.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د عبيد الله ابن عبدالله نه روايت دي چې حضرت عمر بن خطاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ پوښتنه کړي وه ابو واقد ليثي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته چې څه شي به لوسته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لوي اختر او د واړه اختر په مانځه کې ابو واقد وويل چې هغه به په دي دواړو مونځونو کې قٓ والقرآن المجيد او اقتربت الساعة وانشق القمر) تلاوت کول. دا حديث مسلم روايت کړي دي.

﴿۹۸۷﴾ وَ عَنِ النُّعْمَانِ بنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقرأُ فِي العِيدَيْنِ وَ فِي الجُمُعَة بِسَبِّحِ اسمَ رَبِّك الاَعلٰى وَ هل اَتَاك حَدِيثُ الغَاشِية قَالَ وَ اِذَا اجْتَمَعَ العِيدُ وَالجُمُعَة فِي يومٍ وَاحِدٍ يقرَأُ بِهِمَا اَيضًا فِي الصَّلَاتَيْنِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تلاوت کاوه په دواړو اخترونو او په جمع کې د (سبح اسم ربك الاعلىٰ) سورت او د هل أتك حديث الغاشيه سورت او نعمان بن بشير ويلي دي چې کله به اختر او جمعه په يوه ورځ کې سره جمع شول تلاوت کول به ئې دا دواړه په دواړو مونځونو کې. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۹۸۸﴾ وَ عَن سَمُرَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يقرَأُ فِي العِيدَيْنِ بِسَبِّحِ اسم ربك الاعلى و هل اتاك حديث الغاشية رواه احمد وابن ابي شيبة والطبراني في الكبير واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به تلاوت کول په دواړو اخترونو کې د سبح اسم ربك الاعلىٰ سورت او د هل أتك حديث الغاشيه سورت. د دي حديث روايت احمد او ابن ابي شيبه او طبراني په کبير کې کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

داختر مونځ مستحب قرأت

۱. امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په اختر ونو کې په اولني رکعت کې سوره ق او دويم رکعت کې سورة القمر يا په اولني رکعت کې سورة الاعلى او دويم کې الغاشيه لره غوره کوي.

۲. امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په اولني کې الاعلى او دويم کې الغاشيه لره لوستل مستحب ګرځوي. (رحمة الامة ، ص: ۶۳)

---

(۱) مسلم كتاب الجمعة ج۱ص ۲۸۸ فصل في قراءة سورة الجمعة والمنافقين .....الخ.

(۲) مسند احمد ج ۵ ص ۷ ، مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۷۶ باب ما يقرأ به في العيد ، المعجم الكبير للطبراني ج ۷ ص ۱۸۳ رقم الحديث ۶۷۷۳ .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳... امام ابو حنیفه رَحِمَهُ اللهُ فرمایي چې په جمعه او اختر و نو کې د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د عمل په اقتداء کې سورة الاعلی او سورة الغاشیه لوستل مستحب او باعث داجر دي لیکن کله کله نور سورتونه هم ویل پکار دي ترڅو چې دلزوم او د تخیص احتمال نه وي. (رد المختار: ۱۷۳/۲)

﴿بَابُ صَلَاةِ الْعِيدَيْنِ بِثِنْتَيْ عَشْرَةَ تَكْبِيرَةً﴾

باب، مونځ د دواړو اخترونو د دولسو تکبیرونو سره

﴿۹۸۹﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي عِيدٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ تَكْبِيرَةً سَبْعاً فِي الْأُولَى وَخَمْساً فِي الْآخِرَةِ رواه احمد وابن ماجه والدارقطني والبيهقي و اسناده ليس بالقوي.(۱)

ترجمه: د عمرو بن شعیب نه د شعیب په واسطه د شعیب نیکه روایت کړي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اختر کې دولس تکبیرونه ویلي وُ او ه تکبیرونه په اول رکعت کې او پنځه تکبیرونه په اخر رکعت کې. د دي حدیث روایت احمد ابن ماجه دار قطني او بیهقي کړي دي. او اسناد ئي قوي نه دي.

﴿۹۹۰﴾ وَعَنْ عَمْرِو بْنِ عَوْفٍ الْمُزَنِيِّ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي الْعِيدَيْنِ فِي الْأُولَى سَبْعاً قَبْلَ الْقِرَاءَةِ رواه الترمذي وابن ماجه و اسناده ضعيف جدا.(۲)

ترجمه: د عمرو بن عوف المزني نه روایت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د اخترونو په اول رکعت کې د قرأت نه مخکې اوه تکبیرونه ویلي دي. د دي حدیث روایت ترمذي او ابن ماجه کړي دي او اسناد ئي ډیر ضعیف دي.

﴿۹۹۱﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَبَّرَ فِي الْفِطْرِ وَالْأَضْحَى سَبْعاً وَخَمْساً سِوَى تَكْبِيرَةِ الرُّكُوعِ رواه ابن ماجه و ابوداود و في اسناده ابن لهيعة و فيه كلام مشهور.(۳)

---

(۱) مسند احمد ج ۲ص ۱۸۰، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۲ باب ماجاء في كم يكبر الامام في صلوة العيدين، دارقطني كتاب العيدين ج ۳ص ۴۸، سنن الكبرى للبيهقي كتاب الصلوة ج ۳ص ۲۸۶ باب التكبير في صلوة العيدين.

(۲) ترمذي ابواب العيدين ج ۱ص ۱۱۹ باب في التكبير في العيدين، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۲ باب ماجاء في كم يكبر الامام في صلوة العيدين.

(۳) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۲ باب ماجاء في كم يكبر الامام في صلوة العيدين، ابوداؤد كتاب الصلوة ج ۱ص ۱۶۳ باب التكبير في العيدين.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په واړه او لوي اختر كې تكبيرونه ويلي وُ اوه او پنځه په غير د تكبير د ركوع نه . د دي حديث روايت ابن ماجه او ابوداؤد كړي او په اسناد كې ئې ابن لهيعه دي او د ده په باره كې مشهوري خبري دي .

﴿۱۹۲﴾ وَ عَنْ سَعِدِ الْمُؤَذِّنِ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْعِيدَيْنِ فِي الْاُولٰى سَبْعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَ فِي الْاٰخِرَةِ خَمْسًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ رواه ابن ماجه و اسناده ضعيف .(۱)

ترجمه : د سعد المؤذن نه روايت دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وُ چې تكبيرونه ئې ويلي دي د دواړو اخترونو په اول ركعت كې اوه تكبيرونه مخكې د قرأت نه او په اخر ركعت كې پنځه تكبيرونه مخكې د قرأت نه . د دي حديث روايت ابن ماجه كړي دي او اسناد ئې ضعيف دي .

﴿۱۹۳﴾ وَ عَنْ نَافِعٍ مَوْلٰى عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ شَهِدْتُّ الْاَضْحٰى وَالْفِطْرَ مَعَ اَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَكَبَّرَ فِي الرَّكْعَةِ الْاُولٰى سَبْعَ تَكْبِيْرَاتٍ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ وَ فِي الْاُخْرٰى خَمْسَ تَكْبِيْرَاتٍ قَبْلَ الْقِرَاءَةِ رواه مالك و اسناده صحيح .(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمرو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ازاد شوي غلام نافع ويلي دي چې زه په لوئ او واړه اختر كې د حضرت ابي هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره حاضر شوي وم نو هغه تكبير ويلي وُ په اول ركعت كې اوه تكبيرونه مخكې د قرأت نه او په اخر ركعت كې پنځه تكبيرونه مخكې د قرأت نه . د دي حديث روايت مالك كړي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۱۹۴﴾ وَعَنْ عَمَّارِ بْنِ اَبِي عَمَّارٍ اَنَّ ابْنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَبَّرَ فِي عِيدٍ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ تَكْبِيْرَةً سَبْعًا فِي الْاُولٰى وَخَمْسًا فِي الْاٰخِرَةِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة و اسناده حسن .(۳)

ترجمه : د عمّار ابن ابي عمار نه روايت دي چې حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تكبير ويلي دي په اختر كې دولس تكبيرونه اوه په اول ركعت كې او پنځه په اخر ركعت كې . د دي حديث روايت ابوبكر ابن ابي شيبه كړي دي او اسناد ئې حسن دي .

د اختر دتكبيرونو حكم او تعداد: اولنې مسئله : دتكبيرات عيدين حنفيه او مالكيه په نزد واجب دي او دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او دا حمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد مسنون دي .(المرام‌عود : ۲/۴۵۸)

---

(۱) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۹۲ باب ماجاء في كم يكبر الامام في صلوة العيدين .

(۲) مؤطا امام مالك كتاب العيدين صـ ۱۶۶ باب ماجاء في التكبير والقراءة في صلوة العيدين .

(۳) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲صـ ۱۷۶ باب في التكبير في العيدين واختلافهم فيه .

Maktaba Tul Ishaat.com

دويمه مسئله : دزايد تكبيراتو تعداد څومره دي؟

۱.دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ په نزد په اولني ركعت كې اوه تكبيرونه دي قبل القراءة او دويم ركعت كې پنځه تكبيرونه قبل القراءت ، ليكن امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد په اولني ركعت كې اوه تكبيرونه دتحريمې نه علاوه دي .

۲.حنفيو په نزد ټول زائد تكبيرونه شپږ دي : اولني ركعت كې دري تكبيرونه قبل القراءة او په دويم ركعت كې دري تكبيرونه بعد القرأت او قبل الركوع .(بداية المجتهد ، ص: ۱۷۵، البحر الرائق :۱۶۱/۲)

دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ **دلائل** : دباب ټول روايتونه دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ مستدل دي دكوم نه چې يو څو مرفوع او يو څو موقوف دي .

جوابونه : ۱. داولني روايت سند قوي نه دي ، راوي عبدالله بن عبدالرحمن طائفي متكلم فيه دي .

۲. دويم روايت كې راوي كثير بن عبدالله مزني باندې سخته جرح كړې شوې ده .۳. دريم روايت كې ابن لهيعه باندې كلام دي.۴.څلورم روايت كې عبدالرحمن بن سعد متكلم فيه دي.۵.آخر دوه روايتونه قابل داستدلال دي ، په هغې كې دائمه ثلاثه رَحِمَهُمُ اللهُ مطابق دولس تكبيرونه مروي دي ، ليكن دابن عباس آثار ددې په باره كې مختلف فيه دي حُكه چې دلته دهغه نه دولس تكبيرونه مروي دي او دراروان باب په اثر كې دحنفيه په شان اته تكبيرونه مروي دي دامام مالك رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد په اولني ركعت كې دتكبير تحريمې سره اوه تكبيرونه دي .

﴿بَابُ صَلَاةِ العِيدَيْنِ بِسِتِّ تَكْبِيرَاتٍ زَوَائِدَ﴾
باب د مانځه د اخترونو د شپږو تكبيرونو زوائدو سره

﴿۱۱۹۵﴾ عَنْ اَبِي عَائِشَةَ جَلِيسٍ لِاَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ سَعِيدِ بْنَ العَاصِ سَأَلَ اَبَا مُوسَى الاَشْعَرِيَّ وَ حُذَيفَةَ بنِ اليَمَانِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ كَيفَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكَبِّرُ فِي الاَضْحَى وَالفِطرِ فَقَالَ اَبُو مُوسَى كَانَ يُكَبِّرُ اَربَعًا تَكبِيرَهُ عَلَى الجَنَائِزِ فَقَالَ حُذَيفَةُ صَدَقَ فَقَالَ اَبُو مُوسَى كَذٰلِكَ كُنتُ اُكَبِّرُ فِي البَصرَةِ حَيثُ كُنتُ عَلَيهِم قَالَ اَبُو عَائِشَةَ وَاَنَا حَاضِرٌ وَسَعِيدُ بنُ العَاصِ رواه ابوداؤد و اسناده حسن .(۱)

ترجمه : د حضرت ابوهريره د ملګري ابي عائشه نه روايت دي چې سعيد ابن العاص د ابو موسى اشعري او د حذيفه بن اليمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ پوښتنه كړي وه چې څنګه وُ تكبيرونه د رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص۱۶۳ باب التكبير في العيدين .

Maktaba Tul Ishaat.com

په لوي اختر او وارې اختر کې نو وويل ابو موسی رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې ؤ رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې تکبير به ئې وايه څلور تکبيرونه په شان د تکبيرونو جنازو باندې نو حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې ابو موسی ريښتا ويلي دي نو ابو موسی وويل چې همدغسې ؤم زه چې تکبيرونه به مې ويل په بصره کې څو پوري چې زه په هغوي باندې حاکم ؤم او ابو عائشه ويلي دي او زه حاضر وم د سعيد بن العاص سره . د دي حديث روايت ابو داؤد کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۹۹۶﴾ وَ عَن عَلقَمَة وَالاَسوَدِ قَالَا كَانَ ابنُ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ جَالِسًا وَ عِندَه حُذَيفَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَ اَبُومُوسٰى الاَشعَرِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَسَاَلَهم سَعِيدُ بنِ العَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ التَّكبِيرِ فِي صَلَاة العِيدِ فَقَالَ حُذَيفَة سَلِ الاَشعَرِي فَقَالَ الاَشعَرِي سَل عَبدَ الله فَاِنَّه اَقدَمُنَا وَ اَعلَمُنَا فَسَاَلَه فَقَالَ ابنُ مَسعُودٍ يكبِّرُ اَربَعًا ثُمَّ يقرَاُ ثُمَّ يكبِّرُ فَيركَعُ فَيقُومُ فِي الثَّانِيَة فَيقرَاُ ثُمَّ يكبِّرُ اَربَعًا بَعدَ القِرَاءَة رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح .(۱)

ترجمه : علقمه او اسود ويلي دي چې ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ناست ؤ او د ده سره حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او ابو موسی اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤ نو پوښتنه وکړه د دي دواړو نه سعيد بن العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اختر د تکبيرونو په باره کې نو وويل حذيفه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د اشعري نه پوښتنه وکړه نو وويل اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې پوښتنه وکړه د عبدالله نه ځکه چې عبدالله زمونږ نه ډير مخکې دي او زمونږ نه ډير عالم دي نو پوښتنه وکړه سعيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نو وويل ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې هغه څلور تکبيرونه ويلي دي يا ئي قرأت لوستلي دي يا ئي تکبير ويلي دي رکوع ئي کړي ده نو پاڅيدلي دي په دوئم رکعت کې نو قرأت ئي لوستلي دي يا ئي څلور تکبيرونه ويلي دي د قرأت نه روسته . د دي حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۹۹۷﴾ وَعَن كردُوسٍ قَالَ اَرسَلَ الوَلِيدُ اِلٰى عَبدِ الله بنِ مَسعُودٍ وَ حُذَيفَة وَ اَبِي مُوسَى الاَشعَرِي وَ اَبِي مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ بَعدَ العَتَمَة فَقَالَ اِنَّ هٰذَا عِيدٌ لِلمُسلِمِينَ فَكَيفَ الصَّلَاة فَقَالُوا سَل اَبَاعَبدِ الرَّحمٰنِ فَسَاَلَه فَقَالَ يقُومُ فَيكبِّرُ اَربَعًا ثُمَّ يقرَاُ بِفَاتِحَة الكتَابِ وَ سُورَة عَنِ المُفَصَّلِ ثُمَّ يكبِّرُ اَربَعاً يركَعُ فِي آخِرِهِنَّ فَتِلك تِسعٌ فِي الْعِيدَينِ فَمَا اَنكَرَه اَحَدٌ مِنهمُ الطبراني في الكبير واسناده حسن .(۲)

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب صلوة العيدين ج۳ صـ ۲۹۳ باب التكبير في الصلاة يوم العيد برقم ۵۶۸۷ .

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ صـ ۳۵۰ رقم الحديث ۹۵۱۲

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : کردوس ویلي دي چې ولیدخط اوپیغام ولیږه عبدالله بن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ،حذیفه، ابوموسی اشعري او ابو مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ څرته د شپې په یوه برخه کې نو هغه ویلي وُ چې دا اختر دي د مسلمانانو څه طریقه به وي د مانځه نو هغو ورته وویل چې پوښتنه وکړه د ابوعبدالرحمن نه نو پوښتنه ئې وکړه د ابو عبدالرحمن نه نو ابوعبدالرحمن وویل چې هغه وُ دریده نو څلور تکبیرونه ئې وویل بیا ئې فاتحه د کتاب ولوسټله او د مفصل نه ئې یو سورت ولوست بیا ئې تکبیر نه وویل څلور په اخر کې ئې رکوع وکړه دا ښنبه تکبیرونه دي په اخرو نو کې نو انکار نه دي کړې د دي یو د دوي. د دي حدیث روایت طبراني کړي په کبیر کې او اسناد ئې حسن دي.

﴿۹۹۸﴾ وَعَنْ عَلْقَمَةَ وَالْأَسْوَدِ أَنَّ ابْنَ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ يُكَبِّرُ فِي الْعِيدَيْنِ تِسْعًا أَرْبَعًا قَبْلَ الْقِرَاءَةِ ثُمَّ يُكَبِّرُ فَيَرْكَعُ وَفِي الثَّانِيَةِ يَقْرَأُ فَإِذَا فَرَغَ كَبَّرَ أَرْبَعًا ثُمَّ رَكَعَ رواه عبد الرزاق و اسناده صحيح[1]

ترجمه : د علقمه او اسود نه روایت دي چې حضرت ابن مسعود وُ چې تکبیر به ئې وایه په اختر و نو کې اوه تکبیره څلور تکبیرونه مخکې د قرأت نه بیا به ئې تکبیر ووایه نو رکوع به ئې وکړه او په دویم رکعت کې به ئې قرأت ولوست چې کله به د قرأت نه فارغ شو نو تکبیر به ئې ووایه څلور تکبیرونه بیا به ئې رکوع کوله د دي حدیث روایت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۹۹۹﴾ و عَنْ كردُوسٍ قَالَ كَانَ عَبْدُ اللهِ بنُ مَسعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُكَبِّرُ فِي الْأَضْحَى وَالْفِطْرِ تِسْعًا تِسْعًا فَيُكَبِّرُ أَرْبَعًا ثُمَّ يُكَبِّرُ وَاحِدَةً فَيَرْكَعُ بِهَا ثُمَّ يَقُومُ فِي الرَّكْعَةِ الْآخِرَةِ فَيَبْدَأُ فَيَقْرَأُ ثُمَّ يُكَبِّرُ أَرْبَعًا ثُمَّ يَرْكَعُ بِإِحْدَاهُنَّ رواه الطبراني في الكبير و اسناده صحيح.[2]

ترجمه : کردوس ویلي دي چې عبدالله بن مسعود به تکبیر وایه په لوي اختر او واړه اختر کې ښنبه ښنبه تکبیرونه شروع به ئې وکړه نو څلور تکبیره به ئې وویل بیا به ئې یو تکبیر ووایه نو رکوع به ئې وکړه په هغې باندې یا به پاڅیده اخري رکعت ته نو شروع به ئې وکړه قرأت به ئې ولوست بیا به ئې تکبیر ووایه څلور تکبیرونه بیا به ئې د دي څلورو تکبیرونو نه په یو تکبیر سره رکوع وکړه د دي حدیث روایت طبراني کړي په کبیر کې او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۱۰۰۰﴾ وَعَنْ عَبْدِ اللهِ بنِ الْحَارِثِ قَالَ شَهِدتُّ ابنَ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَبَّرَ فِي صَلَاةِ الْعِيدِ بِالْبَصْرَةِ تِسْعَ تَكْبِيرَاتٍ وَإِلَى بَيْنَ الْقِرَاءَتَيْنِ قَالَ وَشَهِدتُ الْمُغِيرَةَ بنَ شُعبَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَعَلَ مِثْلَ ذٰلِكَ رواه عبد

---

(۱) مصنف عبدالرزاق کتاب صلوة العیدین ج۳ص ۲۹۳ باب التکبیر في الصلاة یوم العید برقم ۵۶۸۶ .

(۲) المعجم الکبیر للطبراني ج ۹ ص ۳۵۰ رقم الحدیث ۹۵۱۳

Maktaba Tul Ishaat.com

الرزاق و قال الحافظ في التلخيص اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : عبدالله بن الحارث ويلي دي چې زه د ابن عباس رضي الله عنه سره حاضر وم ده تکبير وويايه په مانځه د اختر کې په بصره کې نهه تکبيرونه او پې درپې والي ئې وکړ د دواړو قرءتونو په منځ کې ده ويلي دي چې زه د مغيره ابن شعبه رضي الله عنه سره هم حاضر وم چې د دي په شان کار ئې وکړ . د دي حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او حافظ په تلخيص کې ويلي دي چې اسناد ئې صحيح دي.

داحنافو دقول ترجيح :

۱- امام احمد بن حنبل رحمة الله عليه فرمايلي دي چې داختر ونو په تکبيراتو کې دنبي عليه السلام نه هيڅ يو صحيح او قوي حديث نه دي نقل شوي .(التعليق الحسن لالدي رقم الحديث ۹۸۹)

پرولو ائمه دصحابه کرامو اقوالو طرف ته رجوع کړې ده .(بداية المجتهد ،ص :۱۷۵)

۲ - دصحابه کرامو نه حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه دباب حديث نمبر ۹۹۴ کې دائمه ثلاثه په شان دولس (۱۲)تکبيرونه نقل شوي دي . ليکن په شرح احياء کې ددوي نه هم شپږ زائد تکبيرونه نقل شوي دي .(النوالمنصور :۲/۵۹۱) پاتې شو دحضرت ابن عباس رضي الله عنه عمل نو په هغې کې هم اختلاف دي .حديث نمبر ۹۹۰ کې دولس (۱۲)اوحديث نمبر ۱۰۰۱ کې د تکبيرافتتاح اودرکوع تکبير سره ددوي نه نهه تکبيرونه نقل دي .چه دهغې نه شپږ تکبيرونه زائد دي .

۳- حضرت ابو موسى اشعري رضي الله عنه (حديث نمبر ۹۹۶) دنبي عليه السلام نه په اولني رکعت کې سره دتکبير تحريمه ،څلور تکبيرونه اوپه دويم رکعت کې سره درکوع دتکبيرنه څلور تکبيرات نقل کړي دي .بياددي حديث تصديق حضرت حذيفه رضي الله عنه هم نقل کړي دي .احنافو دي لره اخيستلي دي ممکنه ده چې ددي په سند باندي دابو عائشه نامي راوي دوجې نه څه کلام وي ليکن واضحه دي وي چې ډيرو علماؤ ددي توثيق کړې دی .(التعليق الحسن)

۴- دحضرت ابن مسعود رضي الله عنه عمل په ټولو روايا تو کې يوشان نقل شوي دي .يعني په اولني رکعت کې دتکبير تحريمي سره څلور تکبيرونه اوپه دويم رکعت کې سره درکوع دتکبير نه څلور تکبيرونه .حضرت حذيفه ،ابو موسى اشعري ،ابو مسعود رضي الله عنهم ددي عمل تصديق کړي دي اوابو موسى اشعري رضي الله عنه وفرمائيل چې ابن مسعود رضي الله عنه زمونږ نه ډير مخکې اوډير پوهه دي . همدغه شان دمغيره بن شعبه نه هم ددي مثل نقل شوي دي .

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب صلوة العيدين ج۳ص ۲۹۲ باب التكبير في الصلاة برقم ص ۵۶۸۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

رکوع تکبیر ددي نه علاوه دي. والله اعلم.

﴿بابُ تَرك التَّنَفُّلِ قَبلَ صَلاةِ العِيدِ وَ بَعدَها﴾

باب دي په پريښودلو د نفلو کې مخکې د مانځه د اختر نه او روسته د مانځه د اختر نه

﴿۱۰۰۱﴾ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ يومَ الفِطرِ فَصَلّٰى رَكعَتَينِ لَم يصَلِّ قَبلَهُما وَلاَ بَعدَهُما رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ د واړه اختر په ورځ راوووت نو دوه رکعته مونځ ئې وکړ مونځ ئې نه وړ کړي مخکې د اختر نه او نه روسته د اختر نه. د دي حديث روايت د محدثينو يو جماعت کړي دي.

﴿۱۰۰۲﴾ وَ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ خَرَجَ يومَ عِيدٍ فَلَم يصَلِّ قَبلَهُما وَلاَ بَعدَهُما وَ ذَكَرَ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَعَلَه رواه احمد والترمذي والحاكم و اسنادہ حسن.(۲)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ روايت دي چې هغه د اختر په ورځ راوووت نو مونځ نه وړکړي مخکې د مانځه د اختر نه او نه روسته د مانځه د اختر نه او هغه يادہ کړه دا خبره چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ همدا سي کړي وو. د دي حديث روايت احمد رَحِمَهُ اللهُ، ترمذي رَحِمَهُ اللهُ او حاکم کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۱۰۰۳﴾ و عن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِي رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَا يصَلِّي قَبلَ العِيدِ شَيئاً فَاِذَا رَجَعَ اِلٰى مَنزِلِه صَلّٰى رَكعَتَينِ رواه ابن ماجه و اسنادہ حسن.(۳)

ترجمه : حضرت ابو سعيد خدري ويلي دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ به مونځ نه کاوه مخکې د اختر نه هيڅ يو شئ او کله به ئې چې واپس خپل کور ته تشريف راوړ دوه رکعته مونځ به ئې وکړ. د

---

(۱) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۵ باب الصلوة قبل العيد وبعدها ، مسلم كتاب العيدين ج۱ص ۲۹۱ ، ترمذي ابواب العيدين ج۱ص ۱۲۰ باب لا صلوة قبل العيدين ولا بعدها ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۴ باب الصلوة بعد صلوة العيد ، نسائي كتاب صلوة العيدين ج۱ص ۲۳۵ باب الصلوة قبل العيدين وبعدها ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۳ باب ماجاء في الصلوة قبل صلوة العيد وبعدها ، مسند احمد ج۱ص ۳۵۵.

(۲) مسند احمد ج۲ص ۵۲ ، ترمذي ابواب العيدين ج۱ص ۱۲۰ باب لا صلوة قبل العيدين ولا بعدها ، مستدرك حاكم كتاب العيدين ج۱ص ۲۹۵ باب لا يصلي قبل العيد ولا بعدها.

(۳) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۳ باب ما جآء في الصلوة قبل صلوة العيد وبعدها.

Maktaba Tul Ishaat.com

دي حديث روايت ابن ماجه کړي او اسناد ئي حسن دي.

﴿۱۰۰۴﴾ و عنِ ابنِ مَسعودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ لَيسَ مِنَ السُّنَّةِ الصَّلَاةُ قَبلَ خُرُوجِ الإِمَامِ يومَ العِيدِ رواه الطبراني و اسنادہ صحيح[1]

ترجمه : حضرت ابي مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي چې نه دي د سنت طريقي نه مونځ مخکې د وتو د امام ته په ورځ د اختر. د دي حديث روايت طبراني کړي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۱۰۰۵﴾ و عنِ ابنِ سِيرِينَ أَنَّ ابنَ مَسعُودٍ وَ حُذَيفَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا كَانَا ينهيانِ النَّاسَ أو قَالَ يجلِسَانِ مَن يرِيانِهِ يصَلِّي قَبلَ خُرُوجِ الإِمَامِ فِي العِيدِ رواه الطبراني و اسنادہ مرسل قوي.[2]

ترجمه : د ابن سيرين رَحِمَهُ اللّٰهُ نه روايت دي چې حضرت ابن مسعود او حضرت حذيفه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا به خلک منع کول او يا ئي ويلي دي چې کينول به دي دوارو هغه کس چې وبه ليده دوي هغه لره چې مونځ به ئي کاوه مخکې د راوتو د امام نه په ورځ د اختر. د دي حديث روايت طبراني کړي دي او اسناد ئي مرسل قوي دي.

داختر په ورځ نفلونه :

۱- داختر په ورځ ده اختر د مونځ نه مخکې يا وروستو نفل مونځ کول داحنافو په نزد مکروه دي. دامام او غير امام د تهرلو دپاره، قبل العيد خو مطلقا او بعد الصلاة صرف په عيد گاه کې، په کور کې يې لوستلې شي.

۲- د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد کراهت مطلقا صرف د امام په حق کې دي او مقتدي د پاره مطلقا جائز دي.

۳- امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د اختر د مونځ نه که مخکې وي او که روستو مطلقا جائز نه دي. (رحمة الامة، ص ۶۳).

۴- د علامه ابن رشد او د امام مالک رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد کراهت په هغه وخت کې دي چې کله د اختر مونځ، په عيد گاه کې وي او که چرته په جومات کې د څه عذر يعني باران وغيره د وجې نه وي نو بيا مکروه نه دي. [بداية المجتهد، ص ۱۷۷]

ليکن د حنفو رَحِمَهُ اللّٰهُ مطابق په عيد گاه کې مطلقا منع دي او په کور کې مطلقا جائز دي [الفقه، ص ۱۰۴].

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج ۱۷ صـ ۲۴۸ رقم الحديث ۵۰۰۰۰ (۶۹۲)

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج ۹ صـ ۳۵۳ رقم الحديث ۹۵۲۴

Maktaba Tul Ishaat.com

دليلونه :

دائمه ثلاثه مستدل په بنيادي طور باندي دباب اولني حديث دي .ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خرج يوم الفطر فصلى ركعتين لم يصل قبلهما ولا بعدها.....الخ . امام احمد دي لره مطلقا په نفي باندي حمل کوي ،امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ فرمائي که نبي عليه السلام امام وو ځکه يې نه دي لوستلي ليکن خلکو لره يې دلوستلو نه منع نه ده فرمائيلي .

امام مالک رَحِمَهُ اللهُ فرمائي درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ر اوتل عيد گاه طرف ته ور لهذا کراهت به هم دهغې سره خاص وي .

۲- احنافو ددوو احاديثو په مينځ کې تطبيق اختيار کړي دي .

(الف)په اولني حديث کې مطلقانفي ده برابره خبره ده که په عيد گاه کې وي او که په کور .

(ب)دحضرت ابو سعيد خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دحديث مطابق رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داختر دمونځ نه مخکې نفل خو چرته نه وولوستلي ليکن کورته دراتللو نه پس يې دوه رکعته لوستلي دي .معلومه شوه چه په عيد گاه کې مطلقامکروهه دي اوپه کورکې داختر دمونځ نه مخکې مکروهه دي اودمونځ نه پس مکروه نه دي .

﴿باب الذِّهابِ إِلَى الْمُصَلّٰى فِي طَرِيقٍ وَالرُّجُوعِ فِي طَرِيقٍ أُخْرٰى﴾

باب دتلو دي عيدگاه ته په يوه لاره او دواپس راتلو دي په بله لاره

﴿۱۰۰۶﴾ عن جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا كَانَ يَوْمُ عِيدٍ خَالَفَ الطَّرِيقَ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې وُ نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله به د اختر ورځ شوه نو لاره به ئې بدله وله .ذ دي حديث روايت بخاري کړي دي .

﴿۱۰۰۷﴾ و عن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا خَرَجَ إِلَى الْعِيدِ يَرْجِعُ فِي غَيْرِ الطَّرِيقِ الَّذِي خَرَجَ فِيهِ رواه احمد والترمذي وابن حبان والحاكم واسناده صحيح.(۲)

---

(۱) بخاري كتاب العيدين ج۱ص ۱۳۴ باب من خالف الطريق .

(۲) مسند احمد ج۲ص ۳۳۸ ، ترمذي ابواب العيدين ج۱ص ۱۲۰ باب ما جاء في خروج النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الى العيد في طريق ...الخ ، صحيح ابن حبان باب العيدين ج ۵ ص ۲۰۷ رقم الحديث ۲۸۰۴ ، مستدرك حاكم كتاب العيدين ج۱ص ۲۹۶ باب لا يصلي قبل العيد ولا بعدها .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ؤ نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې كله به ئې عيدگاه ته تشريف ويوړ واپس به راته په غير د هغي لاري چې تشريف به ئې وړي ؤ په هغي كې . د دي حديث روايت احمد ، ترمذي ابن حبان او حاكم كړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۱۰۰۸﴾ وَعَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَخَذَ يومَ العِيدِ فِي طَرِيقٍ ثُمَّ رَجَعَ فِي طَرِيقٍ آخَرَ رواه ابوداود وابن ماجه واسناده حسن .(۱)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شروع كړي وه په ورځ د اختر په يوه لاره كې يعني تشريف ئې وړيؤ او راواپس شوي ؤ په بله لاره . د دي حديث روايت ابوداؤد او ابن ماجه كړي دي او اسناد ئې حسن دي .

لاره بدله كړئ اوعيدگاه ته لاړ شئ :

فقهاؤ دلاري اختلاف لره مستحب ليكلي دي ، علماؤ دډير حكمتونه ليكلي دي .مثلا شهادة الطريقين وسكانهما من الثقلين يعني په ورځ دقيامت به دادواړه لاري اوددي لاري اوسيدونكي دده په حق كې به گواهي وركوي .داسلام پشان اوشوكت ظاهريدل وي او"حصول البركة للطريقين" .(الدر المنضود ٤٦٠ تفسير).

﴿بَابُ تَكْبِيرَاتِ التَّشْرِيقِ﴾

باب دي د تكبيرونو د تشريق

﴿۱۰۰۹﴾ عن اَبِي الْاَسْوَدِ قَالَ كَانَ عَبدُ الله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يُكَبِّرُ مِن صَلَاةِ الْفَجرِ يومَ عَرَفَةَ إِلَى صَلَاةِ العَصرِ مِن يومِ النَّحرِ يَقُولُ اَللهُ اَكبَرُ اَللهُ اكبرُ لا اله الا الله والله اكبر الله اكبر وَلِلهِ الحَمْدُ رواه ابن ابي شيبة واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : ابوالاسود ويلي دي چې عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به تكبير وايه د مانځه د سهر د ورځې د عرفې نه تر مانځه د مازيگر د ورځې د اختر پوري او داسي تكبير به ئې وايه : اَللهُ اَكبَرُ اَللهُ اكبرُ لا اله الا

---

(۱) ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۶۳ باب يخرج الى العيد في طريق ويرجع في طريق ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۳ باب ماجاء في الخروج يوم العيد من طريق ...الخ ، مسند احمد ج۲ص ۱۰۹.

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۶۵ باب التكبير من اي يوم هو الى اي ساعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

الله والله اکبر الله اکبر وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ ترجمه : الله جل شانه د ټولو نه لوي دي الله ټولو نه لوي دي د الله جل شانه په غير بل د عبادت مستحق او معبود نشته او الله د ټولو نه لوي دي الله د ټولو نه لوي دي او خاص الله لره هر يو حمد او ثنا ده .

﴿۱۰۱۰﴾ وَ عَنْ شَقِيقٍ عَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يُكَبِّرُ بَعْدَ صَلَاةِ الْفَجْرِ يَوْمَ عَرَفَةَ اِلٰى صَلٰوةِ الْعَصْرِ مِنْ آخِرِ اَيَّامِ التَّشْرِيْقِ بَعْدَ الْعَصْرِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د شقيق نه روايت دي چې حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به تکبير وايه پس د مانځه د سهر د ورځې د عرفې نه تر مانځه د مازيګره پورې د اخري ورځې د ورځو د تشريق پورې د مازيګر د مانځه نه روسته به ئې هم تکبير وايه . د دې حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبه کړې دي او اسناد ئې صحيح دي .

دتکبيرات تشريق په تعداد کې دصاحبينو قول غوره دي

دائمه ثلاثو په نزد تکبيرات تشريق سنت او داحنافو په نزد دراجح قول مطابق واجب دي .ددې په اولني وخت کې او په آخرني وخت په باره کې دالاندې مذکوره اقوال دي .

۱- دامام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد د عرفې په ورځ د سحر نه واخله تردیوم النحر مازيګره پورې ټول داته مونځونو نه پس به تکبير تشريق لوستلې کيږي (رحمة الامة ،ص ۶۰)

۲- دامام مالک او شافعي رَحِمَهُمَا اللّٰهُ به نزد ديوم النحر دماسپښين نه پس واخله تردايام تشريق دآخري ورځې پورې يعني دد يارلسم ذوالحجه د سحره پورې به لوستلې کيږي .

۳- دصاحبينو په نزد ديوم عرفې د سحر نه واخله تردايام تشريق دآخري ورځې مازيګره پورې ټول د دريشو مونځونو نه پس لوستلې کيږي .(البحرالرائق ۲/ ۱۶۰) همدغه امام احمد رَحِمَهُ اللّٰهُ هم فرمايلي دي (بغية المجهود ،ص ۱۷۸) د شوافعو په نزد هم په دې باندې معمول ليکلې شوې دي (رحمة الامة،ص ۶۵)

دامام صاحب دليل :

(۱)عمل دابن مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ .(۲)په اوچت آواز سره تکبير لوستل خلاف اصل دي .لهذا په حکم باندې اکتفاء کول احوط دي .

دصاحبينو دليل :

(۱)عمل دحضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ .(۲)همدغه قول دعمر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ هم دي او په عباداتو کې په زياتو

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الصلوات ج۲ص ۱۶۵باب التكبير من اي يوم هو الى اي ساعة .

Maktaba Tul Ishaat.com

باندي عمل کول احوط دي (البحر الرائق ۱۶۵).

﴿اَبْوَابُ صَلٰوةِ الْكُسُوفِ﴾

دنمر دتندر نیولو مونځ :

دکسوف معني ده چې نوره کیدل .دفقهاؤ په نزد مشهور دادي چې کسوف خاص دي دنمر سره اوخسوف دسپوږمي سره لیکن توسعادیواستعمال په دویم کې کیږي .صلاة الکسوف په جماعت سره سنت مؤکده دي بالاتفاق .(رحمة الامة ،ص ۶۵)

نمر تندر نیول او سپوږمي تندر نیول دالله دقدرت دوه ننبي دي .په دي کې انفرادي طور باندي ،نفل مونځ ،صدقې دعاګانې اوذکرونه کول پکار دي .

﴿بَابُ الْحَثِّ عَلَى الصَّلٰوةِ وَالصَّدَقَةِ وَالْاِسْتِغْفَارِ فِي الْكُسُوفِ﴾

باب دي په تیزولو کې په صلوٰة ، صدقه او استغفار باندي د نمر په توریدو کې

﴿۱۰۱۱﴾ عَنْ اَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ مِنَ النَّاسِ وَلٰكِنَّهُمَا آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ فَاِذَا رَاَيْتُمُوهُمَا فَقُومُوا فَصَلُّوا رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابو مسعود رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي چې بې شکه نمر او سپوږمۍ نه توریږي په مرګ د هیڅ یو کس د خلکو نه خو لي دا دوه نهي دي د ننبو د قدرت د الله جل شانه نه نوکله چې تاسودا دواړه وګورئ نو پاڅئ او مونځ وکړئ.ددي حدیث روایت شیخینو کړي دي .

﴿۱۰۱۲﴾ وَعَنِ الْمُغِيرَةِ بْنِ شُعْبَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ يَوْمَ مَاتَ اِبْرَاهِيمُ فَقَالَ النَّاسُ اِنْكَسَفَ لِمَوْتِ اِبْرَاهِيمَ فَقَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللّٰهِ لَا يَنْكَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَاِذَا رَاَيْتُمُوهَا فَادْعُوا اللّٰهَ وَصَلُّوا حَتّٰى يُنْجَلِيَ رواه الشيخان.(۲)

---

(۱) بخاري ابواب الکسوف ج۱ص ۱۴۲ باب الصلوة في کسوف الشمس ، مسلم کتاب الکسوف ج۱ص۲۹۹ فصل صلوة الکسوف وکفتان ...الخ .

(۲) بخاري ابواب الکسوف ج۱ص ۱۴۲ باب الصلوة في کسوف الشمس ، مسلم کتاب الکسوف ج۱ص ۳۰۰ فصل صلوة الکسوف وکفتان ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت مغيره بن شعبه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تور شوي وُ نمر په هغه ورځ چې وفات شوي وُ ابراهيم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نو خلكو به ويل چې تور شوي دي نمر د وجهي د مرګ د ابراهيم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بې شكه نمر او سپوږمئ دوه نښي دي د نښو د قدرت د الله جل شانه نه دا نه توريږي د وجهي د مرګ د چا نه او نه د وجهي د ژوند د چانه نو كله چې تاسو دا ژوګورئ نو د الله جل شانه نه دعاء وغواړئ او مونځ وكړئ تر هغې پورې چې روښانه شي . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

﴿۱۰۱۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ لَا يَنْخَسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ فَاِذَا رَأَيْتُمْ ذٰلِكَ فَاذْكُرُوا اللهَ وَكَبِّرُوا وَصَلُّوا وَتَصَدَّقُوا رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې بې شكه نمر او سپوږمئ دوه نهي د نهو د قدرت د الله جل شانه نه دي چې نه توريږي د وجهي د مرګ د چا نه او نه د وجهي د ژوند د چانه نو كله چې ګورئ تاسي دا نو الله جل شانه ياد كړئ او تكبير ووائي او مونځ وكړئ او صدقه وركړئ . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

﴿۱۰۱۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّهُ كَانَ يُخْبِرُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَا يَخْسِفَانِ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلٰكِنَّهُمَا آيَتَانِ مِنْ آيَاتِ اللهِ فَاِذَا رَأَيْتُمُوهُمَا فَصَلُّوا رواه الشيخان.(۲)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه حديث بيان كړي دي چې بې شكه نمر او سپوږمئ نه توريږي د وجهي د مرګ د چانه او نه د وجهي د ژوند د چانه ليكن دا دواړه نهي د نهو د قدرت د الله جل شانه نه نو كله چې تاسي دا اوګورئ نو مونځ وكړئ . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

﴿۱۰۱۵﴾ وَعَنْ اَبِي مُوسٰى رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ خَسَفَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَزِعًا يَخْشٰى اَنْ تَكُوْنَ السَّاعَةُ فَاَتَى الْمَسْجِدَ فَصَلّٰى بِاَطْوَلِ قِيَامٍ وَرُكُوعٍ وَسُجُوْدٍ مَا رَأَيْتُهُ قَطُّ يَفْعَلُهُ وَقَالَ هٰذِهِ الْآيَاتُ الَّتِي يُرْسِلُ اللهُ لَا تَكُوْنُ لِمَوْتِ اَحَدٍ وَلَا لِحَيَاتِهِ وَلٰكِنْ يُخَوِّفُ اللهُ بِهَا عِبَادَهُ فَاِذَا رَأَيْتُمْ شَيْئًا مِنْ ذٰلِكَ

---

(۱) كذا في ابواب الكسوف ج۱ ص ۱۴۲ باب العدلة في الكسوف ، مسلم كتاب الكسوف ج۱ ص ۲۹۵ فصل في صلوة الكسوف وكيفيتها ...الخ .

(۲) كذا في ابواب الكسوف ج۱ ص ۱۴۲ باب الصلوة في كسوف الشمس ، مسلم كتاب الكسوف ج۱ ص ۱۹۹ فصل صلوة الكسوف وكيفيتها .....

Maktaba Tul Ishaat.com

تَأَفْزَعُوا إِلَى ذِكْرِ اللهِ وَدُعَائِهِ وَاسْتِغْفَارِهِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابو موسى اشعري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تور شوي وُ نمر نو پاڅيده نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ويري په حالت كې هغه ويريده چې قيامت نه شي نو مسجد ته ئې تشريف راوړ نو مونځ ئې وكړ په اوږد قيام او په اوږده ركوع او په اوږدي سجدي سره مانه وُ ليدلي هغه هيڅكله چې داسي ئې كول او وي ئې فرمايل چې دا هغه نهي دي چې لږوي ئې الله جل شانه نه كيږي هغه د وجهي د مرگ د چانه او نه د وجهي د ژوند د چانه خودلي ويروي الله جل شانه په دي باندي بنده گان خپل نو كله چې تاسي د دي نه يو څه شي وگورئ نو ژيرږئ او د الله جل شانه ذكر طرف ته د الله جل شانه نه دعا غوښتلو طرف ته او استغفار طرف ته متوجه شئ. د دي حديث روايت شيخينو كړي دي.

﴿۱۰۱۶﴾ وَعَنْ أَسْمَاءَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ لَقَدْ أَمَرَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالْعِتَاقَةِ فِي كُسُوفِ الشَّمْسِ رواه البخاري.(۲)

ترجمه : حضرت اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر كړي وُ په ازادولو د غلام او مړئ سره د نمر په توريدو كې. د دي حديث روايت بخاري كړي دي.

﴿ بَابُ صَلٰوةِ الكُسُوفِ بِخَمسِ رُكُوعَاتٍ فِي كُلِّ رَكعَةٍ ﴾

باب د مانځه د كسوف دي په پنځو ركوع گانو سره په هر ركعت كې

﴿۱۰۱۷﴾ عَنْ أُبَيِّ بنِ كعبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ إِنكَسَفَتِ الشَّمسُ عَلٰى عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى بِهِم فَقَرَأَ سُورَةً مِنَ الطُّوَلِ وَرَكَعَ خَمسَ رَكَعَاتٍ وَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ قَامَ الثَّانِيَةَ فَقَرَأَ سُورَةً مِنَ الطُّوَلِ وَرَكَعَ خَمسَ رَكَعَاتٍ وَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ جَلَسَ كَمَا هُوَ مُستَقبِلَ القِبلَةِ يدعُو حَتّٰى الْجَلٰى كُسُوفُهَا رواه ابوداؤد في اسناده لين.(۳)

ترجمه : حضرت أبي بن كعب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تور شوي وُ نمر په زمانه د رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كې او بې شكه نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دي مونځ وكړ نو تلاوت ئې كړ يو سورت د طوالو سورتونو نه او پنځه ركوع گاني ئې وكړي او سجده ئې وكړه دوه سجدي بيا دويم ركعت ته پاڅيده

---

(۱) بخاري ابواب الكسوف ج۱ صـ۱۴۵ باب الذكر في الكسوف، مسلم كتاب الكسوف ج۱ صـ ۲۹۹ فصل صلوة الكسوف ركعتان.....

(۲) بخاري ابواب الكسوف ج۱ صـ ۱۴۴ باب من احب العتاقة في كسوف الشمس.

(۳) ابوداؤد كتاب الكسوف ج۱ صـ ۱۶۷ باب من قال اربع ركعات.

Maktaba Tul Ishaat.com

نو تلاوت ئې کړيو سورت د طوالو نه او رکوع ئې وکړه پنځه رکوع ګاني او سجده وکړه دوه سجدي بيا کيناست چې مخ ئې قبلې ته وُ دعاء ئې کوله تر دې پورې چې ختم شو تو روالي د نمر . د دي حديث روايت ابوداود کړې او په اسناد کې ئې لين او کمزوري دی .

﴿۱۰۱۸﴾ وعَنْ عَبدِالرَّحمٰنِ بنِ اَبِي لَيلٰى قَالَ اِنكَسَفَتِ الشَّمسُ فَقَامَ عَلِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ فَرَكَعَ خَمسَ رَكَعَاتٍ وَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكعَةِ الثَّانِيةِ مِثلَ ذٰلِكَ ثُمَّ سَلَّمَ ثُمَّ قَالَ مَا صَلَّاهَا اَحَدٌ بَعدَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ غَيرِي رواه ابن جرير وصححه.(۱)

ترجمه : عبدالرحمن ابن ابي ليلى ويلي دي چې تور شوي وُ نمر نو پاڅيده حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نو پنځه رکوع ګاني او دوه سجدي ئې وکړې بيا ئې فعل وکړه په دويم رکعت کې په مثل د دي بيا ئې سلام وارواوه بيا ئې وويل نه دي کړي دا مونځ هيڅوا پس د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ نه په غير ځما نه . د دي حديث روايت جرير کړي او صحيح ئې ګڼرلي دي .

﴿۱۰۱۹﴾ وعَنِ الحَسَنِ قَالَ نُبِّئتُ اَنَّ الشَّمسَ كَسَفَت وَعَلِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ بِالكُوفَةِ فَصَلّٰى بِهِم عَلِي بنُ اَبِي طَالِبٍ خَمسَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَينِ عِندَ الخَامِسَةِ ثُمَّ قَامَ فَرَكَعَ خَمسَ رَكعتٍ لَم سَجَدَ سَجدَتَينِ عِندَ الخَامِسَةِ قَالَ عَشَرُ رَكَعَاتٍ وَاَربَعُ سَجَدَاتٍ رواه ابن جرير.

قَالَ النِّيمَوِي اِتِّصَالُ الحَسَنِ بِعَلِي ثَابِتٌ بِوُجُوهٍ لٰكِنَّه لَم يشهدْ هٰذِهِ الوَاقِعَةَ عَلٰى مَا يقتَضِيهِ قَولُه نُبِّئتُ(۲)

ترجمه : حسن ويلي دي چې ماته خبر راکړې شوي چې نمر تور شوي وُ او حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ په کوفه کې وُ نو حضرت علي ابن ابي طالب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ مونځ وکړ حلکو ته پنځه رکوع ګاني او بيا ئې دوه سجدي د پنځمي رکوع سره بيا پاڅيده پنځه رکوع ګاني ئې وکړې بيا ئې سجده وکړه دوه سجدي د پنځمي رکوع سره بيا ئې وويل چې لس رکوع ګاني او څلور سجدي دي . د دي حديث روايت ابن جرير کړي دي .

نيموي رَحِمَهُ اللّٰهُ ويلي دي چې د علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ پورې د حسن اتصال په ډيرو وجوهو سره ثابت دي خو ولي دغې واقعې ته حاجر شوي نه دي او د دي خبرې ثبوت د دي قول کيږي چې نُبِّئتُ دي د دي جملې تقاضا دا ده چې هغه دي واقعه کې نه و شريک شوي .

---

(۱) ابوداود کتاب الکسوف ج۱ص ۱۶۷ باب من قال اربع رکعات .

(۲) ابوداود کتاب الکسوف ج۱ص ۱۶۷ باب من قال اربع رکعات .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئلة الابواب الخمسة : دصلاة الكسوف كيفيت :

دصلاة الكسوف دكيفيت په باره كي دالاندي اختلاف دي.

۱ـ دصلاة الكسوف طريقه داحنافو په نزد هغه ده كومه چې دنورو مونځونو ده .په اوږد قرأت سره به صرف دوه ركعته لوستلې كيږي اوپه هر ركعت كي به يوه ركوع وي.

۲ـ دائمه ثلاثوپه نزد دصلاة الكسوف طريقه دنورو مونځونو نه بالكل بدله ده .ددوي په نزد دصلاة الكسوف دوه ركعتونه دي په هر ركعت كي دوه ركوع گاني اودوه پري ولاړه (قيام)دي .يوه ركوع به اوكړي اوبيا به قيام طرف ته لاړشي ددويم قيام نه پس به بيادويمه ركوع اوكړي شي سجدي اوتشهد وغيره دنورو مونځونوپه شان دي.

دائمه ثلاثه دليلونه :

مؤلف رَحِمَهُ اللهُ دركوع په شميره كي پينځه بابونه راوړي دي .په اولني باب كي دپينځو ركوع گانو والاروايات دي ،په دويم كي دشلورو ركوع گانو والا ،په دريم كي دري ركوع گانو والا ،په څلورم كي دوو ركوع گانو والا ،اوپه پينځم كي ديو ركوع والا روايات دي.

دائمه ثلاثو مستدلات :د"باب كل ركعته بركوعين" دري روايانو نه دي.

(۱)حديث دعائشې رضی الله عنها نمبر ۱۰۲۶ ، "فاستكمل اربع ركعات في اربع سجدات".

(۲)حديث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۱۰۲۷ .

(۳)حديث دجابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۱۰۲۸ ، " فكانت اربع ركعات واربع سجدات".

ائمه ثلاثو رحمهم الله دركوع گانو والاروايانو لره راجح اونورو روايانو لره معلل اووهم دروانو مقرر كړي دي.

داحنافو دليلونه :

داحنافو دليلونه په پينځم باب ،"باب كل ركعات بركوع واحد" كي مذكور دي.

(۱)حديث دابي بكره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۱۰۲۹ فصل بنار كعتين (بخاری) په نسائي كي دي ركعتين كما تصلون اوپه ابن حبان كي دي ركعتين مثل صلاتكم.

(۲)حديث عبد الرحمن بن سمرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ۱۰۳۰ فقرأ سورتين وركع ركعتين (مسلم)اوپه نسائي كي دي فصلى ركعتين واربع سجدات.

Maktaba Tul Ishaat.com

(۳)حدیث قبیصة الهلالی رضی اللہ عنہ مرفوعا: "فاذارأیتموها فصلوا کاحدث صلاة صلیتموها من المکتوبة" (ابوداؤد ونسائی بسند صحیح)

(۴)حدیث سورة بن جندب رضی اللہ عنہ نمبر ۱۰۳۲ :" فصل فقام بنا کاطول ما قام بنا في صلاة قط ".....الحدیث (ابوداؤد ونسائی بسند صحیح)

(۵) حدیث عبد الله بن عمر رضی الله ۱۰۳۳ : " فقام رسول الله لم یکد یرکع ثم رکع فلم یکد یرفع ثم رفع" .... الحدیث.

(٦)حدیث محمود بن لبید رضی الله عنه نمبر ۱۰۳۴ : "ثم رکع ثم اعتدل ثم سجد ....الحدیث .(احمد بسند حسن).

(۷)حدیث نعمان بن بشیر نمبر ۱۰۳۵ : "ان رسول الله صلی فی کسوف الشمس نحوا من صلاتکم یرکع ویسجد" .(احمد ونسائی بسند صحیح)

(۸) حدیث نعمان رضی الله عنه نمبر ۱۰۳٦ مرفوعا: " فصلوا کاحدث صلاة صلیتموها". (نسائی بسند صحیح)

په دي کي په فعلی اوقولي دواړقسمه روایات دي .نبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم صلاة کسوف لره دسحرد مونځ په شان لوستلو حکم کړي دي .اوپه دي کي ئي هیڅ دیوي نوي طریقي تلقین نه دي فرمائیلي .

ائمه ثلاثوته جوابونه اودرکوع کانو دتعداد توجیه .

۱- روایات حدیثیه درکوع اوقیام دتعدادو په باره کي ډیر مختلف دي ، دیونه واخله تر دپینځو رکوع ګانو پوري ثابت دي .اودډیرو سندونه هم صحیح دي .لیکن دادنبي کریم صلی اللہ علیہ وسلم خصوصیت وو .ځکه چي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دي مونځ کي دعجائبو اود غرائبو مشاهده فرمائیلي ده اودعالم آخرت بعض مناظر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته اوخودلي شوه .جنت اوددي نعمتونه جهنم اودهغي مصیبتونه ،ځکه به نبي کریم صلی الله علیه وسلم دعاغوښتله اوکله پناه غوښتله اوکله به نبي کریم صلی الله علیه وسلم دمونځ په حالت کي مخکي طرف ته تللو دجنت دونود شاخونو دنیولو دپاره اوکله به دجهنم د یعني شعلو دبیخ کیدلو نه به روستو تللو اوددي خبرو باوجود به قرأت اوقیام دومره اوږد وو چي دمعمول به بالکل خلاف وو .نوځکه بعضي بعضي صحابه کرامو لره به کله کله دنبي علیه السلام دعایادپناه غوستلو دوجي نه داشبه کیدله چي شاید به اوس رکوع ته تللي وي بیابه پته اولګیده چي نه دي تللي .لهذا اودریدلو به لیکن

Maktaba Tul Ishaat.com

د دقيام مقدار به د ير اوږد وو ځکه به مختلفو خلکو ته دد ي نوبت راتللو نو داوجه شوه دراصل د تعدد رکوع په مجمع کي د داسي خبري پيش راتلل څه لري نه ده دلته زمونږ په زمانه کي چې په کوم جماعت کي رش ،ګډوالي او د خلقو د ير والي وي مثلا داختر په مونځونو کي په عيد ګاه کي د ننه د دي قسمه غلطي نوبت راتللي شي .

۲- فعلي روايا تونه ګويا چې مختلف او متعارض دي ليکن قولي روايا تو د تعارض نه سالم دي .په دي کي نبي عليه السلام صرف امت لره د يونه د زيا تو رکوع ګانو تعليم نه دي بلکه د دي خلاف ئي تصريح فرمائيلي ده چې دا مونځ د سحر د مونځ په شان اداء کړي .که چرته د يو نه زيا تي رکوع ګاني د مونځ جزء وو نو بيا به نبي عليه السلام دا حکم نه وو کړي .

دا حنافو وجوه ترجيح :

۱- د ډيرو رکوع ګانو والا ټول روايا تونه فعلي دي بلکه د يو رکوع والا روايات فعلي او قولي دي .

۲- د روايا تو په متعارض کيدلو په وخت کي به قياس او اصل لره کتلې کيږي په يو رکعت کي هم يو رکوع معلومه ده .

۳- احناف د ډيرو رکوع ګانو والا روايا تونو لره صحيح ګڼلو سره د تطبيق لاره اختيار کړي ده بلکه دائمه ثلاثو په قول باندي د يو رکوع والا روايات او د دوونه زيا تو رکوع ګانو والا روايا تو لره پريخودلي کيږي .

۴- ډيرو رکوع ګانو واله غير معلومي واقعه ده د نبي عليه السلام د دينهـکوت (خاموشي) فرمايل د اصل طرف ته د رجوع خبر و رکوي چې هغه يوه رکوع ده .

﴿ بَابُ كَمْ رَكْعَةً بِأَرْبَعِ رُكُوعَاتٍ ﴾

باب هر رکعت په څلورو رکوع ګانو سره

﴿۱۰۲۰﴾ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَنَّهُ صَلّٰى فِي كُسُوفٍ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ لَمْ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ قَالَ وَالأُخْرٰى مِثْلَهَا رواه مسلم وآخرون وفي رواية صَلّٰى ثَمَانَ رَكَعَاتٍ فِي اَرْبَعِ سَجَدَاتٍ .(۱)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نمر د تورېدو په باره کې مونځ کړي و هغه قرأت و لوست بيا ئي رکوع و کړه بيا ئي قرأت و لوست بيا ئي رکوع و کړه بيا ئي

(۱) مسلم كتاب الكسوف ج ۱ ص ۲۹۹ فصل صلوة الكسوف ركعتان ....الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

قرأت ولوست بيا ئي ركوع وكړه بيا ئي قرأت ولوست بيا ئي ركوع وكړه بيا ئي سجده وكړه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي او بل ركعت ئي د دي په شان وكړ . د دي حديث روايت مسلم كړي دي او نورو محدثينو كړي دي او په يو روايت كې دي چې هغه اته ركوع ګاني په څلورو سجدو كې وكړي.

﴿۱۰۲۱﴾ وَعَنْ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ فَصَلّٰى عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لِلنَّاسِ فَقَرَأَ نَحْوًا مِنْ قَدْرِ السُّوْرَةِ ثُمَّ رَكَعَ نَحْوًا مِنْ قَدْرِ السُّوْرَةِ ثُمَّ رَفَعَ رَأْسَهُ فَقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ قَامَ قَدْرَ السُّوْرَةِ يَدْعُو وَيُكَبِّرُ ثُمَّ رَكَعَ قَدْرَ قِرَاءَتِهِ أَيْضًا ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ قَامَ أَيْضًا قَدْرَ السُّوْرَةِ ثُمَّ رَكَعَ قَدْرَ ذٰلِكَ أَيْضًا حَتّٰى صَلّٰى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَامَ إِلَى الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ فَفَعَلَ كَفِعْلِهِ فِي الرَّكْعَةِ الْأُولٰى ثُمَّ جَلَسَ يَدْعُو وَيَرْغَبُ حَتّٰى انْكَسَفَتِ الشَّمْسُ ثُمَّ حَدَّثَهُمْ أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَذٰلِكَ فَعَلَ رواه احمد واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې نمر ته تندر ورسولي شو نو مونځ وكړ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خلكو ته نو تلاوت ئي كړ سورت يس او يا د دي په شان بل سورت بيا ئي ركوع وكړه په مثل د اندازي د سورت بيا ئي سر اوچت كړ نو وي ويل چې (سمع الله لمن حمده) بيا وُدريده په اندازه د سورت دعا ئي وكړه او تكبير ئي وويايه بيا ئي ركوع وكړه په اندازه د قرأت همدارنګه بيا ئي وويل سمع الله لمن حمده بيا همدارنګه وُدريده په اندازه د سورت بيا ئي ركوع وكړه په اندازه د سورت همدارنګه تر دي پوري چې څلور ركوع ګاني ئي وكړي بيا ئي سمع الله لمن حمده وويله بيا ئي سجده وكړه بيا پاڅيده دويم ركعت ته نو فعل ئي وكړ په مثل د فعل خپل په اول ركعت كې بيا كيناست دعاء ئي وكړه او ترغيب ئي وركړ تر دي پوري چې روښانه شو نمر بيا ئي هغو ته حديث بيان كړ چې بې شكه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ همدغسې فعل كړي وُ . د دي حديث روايت احمد كړي او اسناد ئي صحيح دي.

---

(۱) مسند احمد ج۱ صـ ۱۴۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ بَابُ ثَلَاثُ رُكُوعَاتٍ فِي كُلِّ رَكْعَةٍ ﴾

باب دري رکوع ګاني په هر رکعت کې

﴿۱۰۲۲﴾ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ الْكُسُوفُ الشَّمْسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ مَاتَ إِبْرَاهِيمُ بْنُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ النَّاسُ إِنَّمَا الْكُسُوفُ لِمَوْتِ إِبْرَاهِيمَ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى بِالنَّاسِ سِتَّ رَكَعَاتٍ بِأَرْبَعِ سَجَدَاتٍ الحديث رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي دي چې تندر نيولي وُ نمر په زمانه د رسول اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې په هغه ورځ کې چې ابراهيم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرزند ارجمند وفات شوي وُ نو خلکو به ويل چې نمر تندر نيولي د وجهې د وفات د ابرهيم رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه نو نبي اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ودريده مونځ ئې وکړ خلکو ته شپږ رکوع ګاني په څلورو سجدو کې الحديث. روايت د دي حديث مسلم کړي دي.

﴿۱۰۲۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى سِتَّ رَكَعَاتٍ فِي أَرْبَعِ سَجَدَاتٍ رواه النسائي واحمد واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ کړي شپږ رکوع ګاني په څلورو سجدو کې. د دي حديث روايت نسائي او احمد رَحِمَهُ اللَّهُ کړي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۱۰۲۴﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ صَلَّى فِي كُسُوفٍ فَقَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ قَرَأَ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ سَجَدَ وَالْأُخْرَى مِثْلَهَا رواه الترمذي وصححه.(۳)

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړ په توريد و د نمر کې نو قرأت ئې وکړ بيا ئې رکوع وکړه بيا ئې قرأت وکړ بيا ئې رکوع وکړه بيا ئې قرأت وکړ بيا رکوع وکړه بيا ئې سجده وکړه او بل رکعت ئې د دې رکعت په شان وکړ. د دي حديث روايت ترمذي کړي دي او صحيح ئې ګڼلې دي.

---

(۱) مسلم كتاب الكسوف ج۱ص ۲۹۷ فصل صلوة الكسوف وكعتان ...الخ.

(۲) نسائي كتاب الكسوف ج۱ص۲۱۵ باب كيف صلوة الكسوف ، مسند احمد ج۳ص ۳۱۸ عن جابر.

(۳) ترمذي ابواب صلوة الكسوف ج۱ص ۱۲۵ باب في صلوة الكسوف.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بابُ كلِّ ركعةٍ بركوعين﴾
باب هر رکعت په دوه رکوع کانو سره

﴿۱۰۲۵﴾ عَن عَائِشَةَ زَوجِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَت خُسِفَتِ الشَّمسُ فِي حَيوةِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ إِلَى المَسجِدِ فَصَفَّ النَّاسُ وَرَاءَهُ فَكَبَّرَ فَاقتَرَأَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً ثُمَّ كَبَّرَ فَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَهُ فَقَامَ وَلَم يَسجُد وَقَرَأَ قِرَاءَةً طَوِيلَةً هِيَ أَدنَى مِنَ القِرَاءَةِ الأُولَى ثُمَّ كَبَّرَ وَرَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً هُوَ أَدنَى مِنَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ ثُمَّ قَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الحَمدُ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ قَالَ فِي الرَّكعَةِ الآخِرَةِ مِثلَ ذَلِكَ فَاستَكمَلَ أَربَعَ رَكَعَاتٍ فِي أَربَعِ سَجَدَاتٍ وَانجَلَتِ الشَّمسُ قَبلَ أَن يَنصَرِفَ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ بي بي حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنهَا ويلي دي چې تور کړي شوي وُ نمر په ژوند د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ کې نو هغه مسجد ته تشريف راور نو صف جوړ خلکو روسته د ده نه نو تکبيرئي ووايه نو قرأت ولوسته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ په اوږد قرأت سره بيا ئي تکبير وکړ نو رکوع ئي وکړه په اوږده رکوع بيا ئي سمع الله لمن حمده وويله نو دريده او سجده ئي ونکړه او قرأت ئي ولوست په اوږد قرأت سره دا قرأت د مخکې قرأت نه لږ او کم وُ بيا ئي تکبير ووايه او اوږده رکوع ئي وکړه چې د اولي رکوع نه کمه وه بيا ئي وويل چې (سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد) بيا ئي وُويل سمع الله لمن حمده ربنا ولك الحمد بيا ئي سجده وکړه بيا ئي وُويل په بل رکعت کې په مثل د ۱ ي نو پوره شوي ځلور رکوع کاني په ځلورو سجدو کې نمر روښانه شو مخکې د سلام د ګرځولو نه. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۱۰۲۶﴾ وَعَن عَبدِاللهِ بنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ الخَسَفَتِ الشَّمسُ عَلَى عَهدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَصَلَّى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً نَحوًا مِن قِرَاءَةِ سُورَةِ البَقَرَةِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ القِيَامِ الأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَ دُونَ الرُّكُوعِ الأَوَّلِ ثُمَّ

---

(۱) بخاري ابواب الكسوف ج۱ ص ۱۴۲ باب خطبة الامام في الكسوف ، مسلم كتاب الكسوف ج۱ ص ۲۹۶ فصل صلوة الكسوف وكيفيتها ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

سَجَدَ ثُمَّ قَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَدُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلاً وَهُوَدُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَفَعَ فَقَامَ قِيَامًا طَوِيلاً وَهُوَدُونَ الْقِيَامِ الْأَوَّلِ ثُمَّ رَكَعَ رُكُوعًا طَوِيلا وَهُوَدُونَ الرُّكُوعِ الْأَوَّلِ ثُمَّ سَجَدَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَقَدْ تَجَلَّتِ الشَّمْسُ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تور شوي وُ تندر نيولي و نمر په زمانه د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې نو مونځ وکړ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو ودريده اوږد قيام ئې وکړ په مثل د قرأت د سورت بقري بيا ئې رکوع وکړه رکوع اوږده بيا اوچت شو نو ودريده په اوږدو ودريد و سره او دغه ودريدل د اولو وُدريدو نه کم وُ بيا ئې رکوع وکړه رکوع اوږده او دا رکوع د اولي رکوع نه کمه وه بيا ئې سجده وکړه بيا ودريده په اوږد قيام او دا وُدريدل د اولو وُدريدو نه کم وُ بيا ئې رکوع وکړه رکوع اوږده او دا رکوع کمه وه د اولي رکوع نه بيا اوچت شو نو ودريد و اوږدو سره او دا ودريدل کمه وُ د اولو وُدريدو نه بيا ئې رکوع وکړه رکوع وُلاړه او دا رکوع کمه وه د رکوع اولني نه بيا ئې سجده وکړه بيا ئې سلام واړاوه او په تحقيق نمر روښانه شوي وُ . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۱۰۲۷﴾ وَعَنْ جَابِرِ بنِ عبدِالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلَى عَهدِ رَسُولِ الله فِي يومٍ شَدِيدِ الحَرِّ فَصَلَّى رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَصحَابِهِ فَأَطَالَ القِيَامَ حَتَّى جَعَلُوا يخِرُّونَ ثُمَّ رَكَعَ فَطَالَ ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ رَكَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ رَفَعَ فَأَطَالَ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ قَامَ فَصَنَعَ نَحوًا مِن ذٰلِك فَكَانَتْ أَربَعَ رَكعَاتٍ واربع سَجَدَاتٍ رواه مسلم احمد وابوداود.(۲)

ترجمه : او حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي تندر نيولي وُ تور شوي وُ نمر په زمانه د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ورځ سخته ګرمه کې نو مونځ وکړ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اصحابو خپلو ته نو اوږد ئې کړ قيام تر دي پوري چې شو صحابه کرام چې غوږ ځيدل به بيا ئې رکوع وکړه نو اوږده ئې کړله رکوع بيا اوچت شو نو اوږد ئې کړ قيام بيا ئې رکوع وکړه نو اوږده کړه رکوع بيا اوچت شو نو اوږد قيام ئې وکړ بيا سجده وکړه دوه سجدې بيا وُدريده نو عمل ئې وکړ په مثل د دي عمل نو شوي څلور رکوع ګاني او څلور سجدې. د دي حديث روايت مسلم احمد او ابوداوُد کړي دي.

---

(۱) بخاري ابواب الكسوف ج۱ص ۱۴۳ باب صلوة الكسوف جماعة ، مسلم كتاب الكسوف ج۱ص ۲۹۸ فصل صلوة الكسوف ركعتان

(۲) مسلم كتاب الكسوف ج۱ص ۲۹۷ فصل صلوة الكسوف ركعتان ...الخ ، مسند احمد ج۳ص ۳۷۴ ابوداؤد كتاب الكسوف ج۱ص ۱۶۷ باب من قال اربع ركعات . ا

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ كُلِّ رَكْعَةٍ بِرُكُوعٍ وَاحِدٍ﴾
باب هر رکعت په یوي رکوع سره

﴿۱۰۲۸﴾ عَنْ أَبِي بَكْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كُنَّا عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَالْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَقَامَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُجَرُّ رِدَاءَهُ حَتَّى دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلْنَا فَصَلَّى بِنَا رَكْعَتَيْنِ رواه البخاري والنسائي وزاد كما تُصَلُّونَ ابن حبان وَقَالَ رَكْعَتَيْنِ مِثْلَ صَلٰوتِكُمْ.(۱)

ترجمه : حضرت ابي بكره رضي الله عنه ويلي دي چې مونږ د نبي اكرم صلى الله عليه وسلم سره وُ چې نمر تندر ونيو تور شو نو پاڅيده رسول اكرم صلى الله عليه وسلم په داسي حال كې چې خادر مبارك ئې د ځان پسې راخكوده د وجهې د تلوار نه تر دې پورې چې تنوت مسجد ته نو مونږه هم مسجد ته ننوتو نو مونږ ئې وكړ مونږ ته دوه ركعته . د دې حديث روايت بخاري او نسائي كړي او نسائي دا الفاظ زيات كړي دي لكه څنګه ئې چې تاسو كوئ . او د دې حديث روايت ابن حبان كړي دي او ده دا الفاظ زيات كړي دي او ابو بكره ويلي دي (دوه ركعته په شان د مانځه ستاسي) .

﴿۱۰۲۹﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمٰنِ بْنِ سَمُرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا أَرْمِي بِأَسْهُمِي فِي حَيَاةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا الْكَسَفَتِ الشَّمْسُ فَنَبَذْتُهُنَّ وَقُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ مَا يُحْدِثُ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْكُسُوفِ الشَّمْسِ الْيَوْمَ فَانْتَهَيْتُ إِلَيْهِ وَهُوَ رَافِعٌ يَدَيْهِ يَدْعُو وَيُكَبِّرُ وَيَحْمَدُ وَيُهَلِّلُ حَتَّى جُلِّيَ عَنِ الشَّمْسِ فَقَرَأَ سُورَتَيْنِ وَرَكَعَ رَكْعَتَيْنِ رواه مسلم والنسائي قَالَ فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ وَأَرْبَعَ سَجَدَاتٍ.(۲)

ترجمه : حضرت عبد الرحمن بن سمره رضي الله عنه ويلي دي په دغه وخت كې ما ويشتل كول په خپلو غشو باندې په ژوند د رسول الله صلى الله عليه وسلم كې چې ناڅاپه نمر تندر ونيو تور شو نو ما غشي وُغورځول او ما وويل چې خامخا ضرور به څه ګورم چې څه پېښې دي شي رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ته په تورو الي د نمر كې نن ورځ نو زه وُرسيدم هغه صلى الله عليه وسلم ته او هغه او چتونكي وُ دواړو مبارکو لاسونو خپلو لره دعاء ئې كوله تكبير ئې فرمايه حمد او ثنا ئې ويله او لا اله الا الله ذكر ئې كاه تر

---

(۱) بخاري ابواب الكسوف ج۱ص ۱۴۱ باب الصلوة في كسوف الشمس ، نسائي كتاب الكسوف ج۱ص ۲۲۱ باب كيف صلوة الكسوف ، صحيح ابن حبان باب صلوة الكسوف ج ۵ ص ۲۱۵ برقم ۲۸۲۴.

(۲) مسلم كتاب الكسوف ج۱ص ۲۹۹ فصل صلوة الكسوف وكعتان ، نسائي كتاب الكسوف ج۱ص ۲۱۳ باب التسبيح والتكبير والدعا عند كسوف الشمس .

Maktaba Tul Ishaat.com

دي پوري چې د نمر نه تورو الي ختم شو نو هغه دوه سورتونه ولوستل او دوه رکوع ئي وکړي د دي حديث روايت مسلم او نسائي کړي دي او نسائي دا الفاظ زيات کړي دي .عبدالرحمن بن سمره ربلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوه رکوع او ځلور سجدي وکړي .

﴿۱۰۳۰﴾ وَعَنْ قَبِيصَةَ الْهِلَالِيِّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَخَرَجَ لَزِعًا يَجُرُّ ثَوْبَهُ وَأَنَا مَعَهُ يَوْمَئِذٍ بِالْمَدِينَةِ فَصَلّٰى رَكْعَتَيْنِ فَأَطَالَ فِيهِمَا الْقِيَامَ ثُمَّ انْصَرَفَ وَالْجَلَتْ فَقَالَ هٰذِهِ الْآيَاتُ يُخَوِّفُ اللهُ عزوجل بِهَا فَإِذَا رَأَيْتُمُوهَا فَصَلُّوا كَأَحْدَثِ صَلٰوةٍ صَلَّيْتُمُوهَا مِنَ الْمَكْتُوبَةِ رواه ابوداود والنسائي واسناده صحيح .(۱)

ترجمه : قبيصه الهلالي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تور شوي وُ نمر په زمانه د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې نو بهر ئي د ويري په حالت کې تشريف ويوړ چې راخکوده ئي څادر خپل او زه د ده سره په دغه وخ په مدينه منوره کې وم نو مونځ ئي وکړ دوه رکعته او اوږد ئي کړه دي دوا،و رکعتونو کې قيام بيا ئي سلام وارواوه او نمر روښانه شو نو وي فرمايل چې دا نهي دي ويرول کوي الله جل شانه په دي سره کله چې تاسي دا ننبي وګورئ نو مونځ وکړئ په شان د نزدي مونځ چې کړي تاسي دفرض مونځونو نه د دي حديث روايت ابوداؤد او نسائي کړي دي او اسناد ئي صحيح دي .

﴿۱۰۳۱﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ بَيْنَمَا أَنَا وَغُلَامٌ مِنَ الْأَنْصَارِ نَرْمِي غَرَضَيْنِ لَنَا حَتّٰى إِذَا كَانَتِ الشَّمْسُ قِيدَ رُمْحَيْنِ أَوْ ثَلَاثَةً فِي عَيْنِ النَّاظِرِ مِنَ الْأُفُقِ اسْوَدَّتْ حَتّٰى آضَتْ كَأَنَّهَا تَنُّومَةٌ فَقَالَ أَحَدُنَا لِصَاحِبِهِ انْطَلِقْ بِنَا إِلَى الْمَسْجِدِ فَوَاللهِ لَيَحْدُثَنَّ شَأْنُ هٰذِهِ الشَّمْسِ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي أُمَّتِهِ حَدَثًا قَالَ فَدُفِعْنَا فَإِذَا هُوَ بَارِزٌ فَاسْتَقْدَمَ فَصَلّٰى فَقَامَ بِنَا كَأَطْوَلِ مَا قَامَ بِنَا فِي صَلٰوةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا قَالَ ثُمَّ رَكَعَ بِنَا كَأَطْوَلِ مَا رَكَعَ بِنَا فِي صَلٰوةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا قَالَ ثُمَّ سَجَدَ بِنَا كَأَطْوَلِ مَا سَجَدَ بِنَا فِي صَلٰوةٍ قَطُّ لَا نَسْمَعُ لَهُ صَوْتًا ثُمَّ فَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْأُخْرٰى مِثْلَ ذٰلِكَ رواه ابوداود والنسائي واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي په دغه وخت کې ما او يو هلک د انصارو خپلي دوه نښي ويشتلي تر دي پوري چې کله شو نمر په اندازه د دوه وُ نيزو او يا په اندازه د دريوُ

---

(۱) ابوداؤد کتاب الکسوف ج۱ص ۱۶۸ باب من قال اربع رکعات ، نسائي کتاب الکسوف ج۱ص ۲۱۹ باب کيف صلوة الکسوف .

(۲) ابوداؤد کتاب الکسوف ج۱ص ۱۶۸ باب من قال اربع رکعات ، نسائي کتاب الکسوف ج۱ص ۲۱۸ باب کيف صلوة الکسوف .

Maktaba Tul Ishaat.com

نیزو په سترګو د لیدونکو کې د غاړې د اسمان نه نو نمر تور شو تر دې چې ۇګرځیده هغه لکه تنومه . یعني د تنومه نومې بوټې د میوې په شان چې په دې بوټې او میوه دواړو کې لږ څه توروالي وي. نو زمونږ یو کس خپل ملګري ته وویل چې بوزه مونږ مسجد ته پس قسم په الله جل شانه دي چې خامخا به پیدا کړي د نمر دغه حالت رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په باره د امت خپل کې څه نوي خبره راوي ویلي دي نو دیکه راکړي شوه مونږ ته د تیز رفتارۍ د وجهې نه. یعني تیندک او یا د تیندلک ۇخورې مونږ نو ناڅاپه نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تشریف راوړۇ هغه راغې مخکې شو نو مونځ ئې وکړ نو اوږد قیام ئې وکړ مونږ سره چې داسې اوږد قیام ئې نه ۇ کړي مونږ سره په هیڅ مانځه هیڅ وخت نه اوریده مونږ هغه اواز راوي ویلي دي چې بیا ئې مونږ ته رکوع وکړه داسې اوږده رکوع چې نه ئې اوه کړي داسې اوږده رکوع په هیڅ مانځه کې هیڅ وخت نه اوریده مونږ هغه اواز راوي ویلي دي چې بیا ئې سجده وکړه زمونږ سره داسې اوږده سجده چې نه ئې وه کړي مونږ سره داسې اوږده سجده په هیڅ مانځه کې هیڅ وخت نه اوریده مونږ اواز د هغه بیا ئې فعل وکړ په مثل د دې فعل په دویم رکعت کې. د دې حدیث روایت ابوداؤد او نسائي کړي او اسناد ئې صحیح دي.

﴿۱۰۲۲﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ عَلٰى عَهْدِ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ يكد يركعُ ثُمَّ رَكَعَ فَلَمْ يكد يرفَعُ ثُمَّ رَفَعَ فَلَمْ يكد يسجُدُ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يكد يرفَعُ ثُمَّ رَفَعَ فَلَمْ يكد يسجُدُ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يكد يرفَعُ ثُمَّ رَفَعَ فَلَمْ يكد يسجُدُ ثُمَّ سَجَدَ فَلَمْ يكد يرفَعُ ثُمَّ رَفَعَ وَفَعَلَ فِي الرَّكْعَةِ الْاُخْرٰى مِثْلَ ذٰلِكَ رواه ابوداود وآخرون واسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې تندر نیولي ۇ نمر په زمانه د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې نو ودریده په مانځه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نزدې نه ۇ چې رکوع ئې وکړي وي بیا ئې رکوع وکړه نزدې نه ۇ چې اوچت شوي وي د رکوع نه بیا اوچت شو نزدې نه ۇ چې سجده ئې وکړي وي بیا ئې سجده وکړه نزدې نه ۇ چې اوچت شوي وي بیا اوچت شو نزدې نه ۇ چې سجده ئې وکړي وي بیا ئې سجده وکړه نزدې نه ۇ چې اوچت شوي و بیا اوچت شو او فعل ئې وکړ په بل رکعت کې د دې په شان. د دې حدیث روایت ابوداؤد او نورو محدثینو کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۱۰۲۳﴾ وعَنْ مَحْمُوْدِ بْنِ لَبِيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَسَفَتِ الشَّمْسُ يَوْمَ مَاتَ اِبْرَاهِيْمُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بْنُ رَسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالُوا اِنْكَسَفَتِ الشَّمْسُ لِمَوْتِ اِبْرَاهِيْمَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

---

(۱) ابوداؤد کتاب الکسوف ج۱ص ۱۶۹ باب من قال یرکع رکعتین.

Maktaba Tul Ishaat.com

إِنَّ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ آيَتَانِ مِن آيَاتِ اللهِ عزوجل اَلاَوَاِنَّهُمَا لاَ يَنكَسِفَانِ لِمَوتِ أَحَدٍ وَلاَ لِحَيَاتِهِ فَاِذَا رَأَيتُمُوهَا كَذٰلِكَ فَافْزَعُوا إِلَى الْمَسَاجِدِ ثُمَّ قَامَ فَقَرَأَ فِيمَا نَرىٰ بَعضَ آلِ كِتَابٍ ثُمَّ رَكَعَ ثُمَّ اعْتَدَلَ ثُمَّ سَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ قَامَ فَفَعَلَ مِثلَ مَا فَعَلَ فِي الأُولىٰ رواه احمد واسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت محمود بن لبيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تندر نيولي و نمر په هغه ورځ چې وفات شوي وُ ابراهيم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ځوي د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو خلکو ويل چې نمر تندر نيولي دي د وجهې د مرګ د ابراهيم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې بې شکه نمر او سپوږمئ دوه نهي دي د نهو د قدرت د الله جل شانه نه خبردار په تحقيق دا دواړه نه تورېږي نه متغير کيږي د وجهې د مرګ د چا نه او نه د وجهې د ژوند د چانه نو کله چې تاسي دا دواړه په دغه حالت کې وګورئ نو وُه ويريږئ مسجد طرف ته لاړ شئ بيا په مانځه وُدريده نو تلاوت ئې کړ زمونږ په خيال دا (الرکتب) د سورت څه برخه بيا ئې رکوع وکړه بيا نيغ او برابر شو بيا ئې سجده وکړه دوه سجدې بيا ودريده نو فعل ئې وکړ په مثل : هغې چې په اول رکعت کې ئې کړي وُ . د دي حديث روايت احمد کړي او اسناد ئې حسن دي

﴿۱۰۲۴﴾ وَعَنِ النُّعمَانِ بنِ بَشِيرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى فِي كُسُوفِ الشَّمسِ نَحوًا مِن صَلٰوتِكُم يَركَعُ وَيَسجُدُ رواه احمد والنسائي واسناده صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د کسوف مونځ کړي وُ په شان د مانځه ستاسي رکوع ئې وکړ او سجده ئې وکړه . د دي حديث روايت احمد او نسائي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي.

﴿۱۰۲۵﴾ وَعَنهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا خُسِفَتِ الشَّمسُ وَالْقَمَرُ فَصَلُّوا كَاَحدَثِ صَلٰوةٍ صَلَّيتُمُوهَا رواه النسائي وزاد فِي رِوَايَةٍ مِنَ الْمَكتُوبَةِ واسنادهما صحيح.(۳)

ترجمه : او د حضرت نعمان بن بشير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې نمر او سپوږمئ تندر ونيسي نو مونځ وکړئ په شان د نزدي مونځ چې کړي تاسو هغه اوس.

---

(۱) مسند احمد ج ۵ صـ ۴۲۸.

(۲) مسند احمد ج ۴ صـ ۲۷۱ ، نسائي كتاب الكسوف ج ۱ صـ ۲۲۰ باب كيف صلوة الكسوف .

(۳) نسائي كتاب الكسوف ج ۱ صـ ۲۱۹ باب كيف صلوة الكسوف .

Maktaba Tul Ishaat.com

د دي حديث روايت نسائي کړي او نسائي په يو روايت کې دا الفاظ زيات کړي دي لکه چې تاسي اوس فرض مونځ کړي دي. او د دي دواړو اسناد صحيح دي.

﴿ بَابُ الْقِرَاءَةِ بِالْجَهْرِ فِي صَلٰوةِ الْكُسُوفِ ﴾

باب دي د قرأت په جهر سره په مانځه د کسوف کې

﴿۱۰۳۶﴾ عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَهَرَ فِي الْخُسُوفِ بِقِرَاءَتِهِ فَصَلّٰى اَرْبَعَ رَكَعَاتٍ فِي رَكْعَتَيْنِ وَاَرْبَعَ سَجَدَاتٍ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رضي الله عنها نه روايت دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په زور قرأت کړي دي په کسوف کې نو مونځ ئې کړي دي څلور رکوع ګاني په دوه ؤ رکعتونو کې او څلور سجدي دا حديث شيخينو روايت کړي دي.

په صلاة الکسوف کې به قرأت سراوي اوکه جهرا؟

۱- دامام ابو حنيفه ،مالک ،شافعي او دجمهور فقهاؤ په نزد سرا قرأت مسنون دي.

۲- دامام احمد اوصاحبينو په نزد جهري قرأت مسنون دي.

دامام احمد اوصاحبينو دليل :

(۱) حديث عائشه رضي الله عنها. جهر في الکسوف بقرأته ،په ترمذي کې دغه شان دي. " ان النبي صلى الله عليه وسلم صلى صلاة الکسوف وجهر بالقراءة فيهما ". (ترمذي شريف ۱۲۶\۱)

دجمهورو دليلونه :

(۱) دراوان باب حديث سمرة رضي الله عنه نمبر ۱۰۳۸ : "لانسمع له صوتا".

(۲) حديث ابن عباس رضي الله عنه نمبر ۱۰۳۹ : "فلم اسمع له قراءة".

(۳) حديث محمود بن لبيد رضي الله عنه ۱۰۳۴ : فقرأ فيما ئرى بعض (الرکتب) په دي کې لفظ " فيما ئرى " (زمونږ په خيال کې ده دومره قرأت کړي) نه خبر معلوميږي چې قرأت سري وو ځکه که جهري وونو صيغه جزم (يقين) په استعمال کيده.

---

(۱) مسلم کتاب الکسوف ج۱ص ۲۹۲ فصل صلوة الکسوف رکعتان ، بخاري کتاب الکسوف ج۱ص ۱۴۵ باب الجهر بالقراءة في الکسوف.

Maktaba Tul Ishaat.com

امام احمد او صاحبينو لره جواب :

په ابوداؤد شريف کي حديث د عائشي رضی الله عنها لفظونه دادي په (حزرت قراءته فرأيت فرات انه قرأ سورة البقرة) کي دنبي کريم صلی الله عليه وسلم قرأت لره اوکتل نو اندازه مو اولګوله چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم به سورة بقرة لوستلي وي (ابوداؤد ۱ ۱۶۸) اوپه دويم حديث د عائشي رضی الله عنها کي دي "قرأ قراءة طويلة فجهر بها".

غرض په دي باب کي د عائشي رضی الله عنها نه جهراً اوسرا دواړه ثابت دي.

د حضرت عائشي رضی الله عنها ذکر شوي روايتونو کي تطبيق.

۱- په جهر والا روايت کي صلاة الکسوف نه مراد خسوف دسپوږمي وي لکه څنګه چي دبخاري اومسلم په يو روايت کي دي جهر في الخسوف. بعضي آياتونو لره يي جهرا لوستلي ددي دپاره چي تعليم وي، طحاوي رحمة الله عليه دې تاويل لره خوښ کړي دي. [حاشية طحاوي على المراقي ص ۵۴۵]

متأخرينو دمقتديانو دستړي والي په صورت جهري قرأت لره اختيار کړي دي. (درس ترمذي)

﴿باب الإخفاء بالقراءة في صلوة الكسوف﴾

باب د پټ ويلو د قرأت په مانځه د کسوف کې

﴿۱۰۲۷﴾ عن سَمُرَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى بِهِم فِي كُسُوفِ الشَّمسِ لَا نَسمَعُ لَه صَوتاً رواه الخمسة واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت سمره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړ صحابه ؤ ته په کسوف د نمر کې نه دي اوريدلي مونږ د هغه اواز. دا حديث پنځو محدثينو روايت کړي دي. او اسناد يې صحيح دي.

﴿۱۰۲۸﴾ وعنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ صَلَّيتُ إِلى جَنبِ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يومَ كَسَفَتِ الشَّمسُ فَلَم أَسمَع لَه قِرَاءَة رواه الطبراني واسناده صحيح.(۲)

---

(۱) ترمذي ابواب صلوة الكسوف ج۱ صـ ۱۲۶ باب كيف القراءة في الكسوف، ابوداؤد كتاب الكسوف ج۱ صـ ۱۶۸ باب من قال اربع ركعات، نسائي كتاب الكسوف ج۱ صـ ۲۲۲ باب ترك الجهر فيها بالقراءة، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ج۱ صـ ۹۱ باب ما جاء في صلوة الكسوف مسند احمد ج ۵ صـ ۱۴.

(۲) المعجم الكبير للطبراني ج۱۱ صـ ۱۰۰ [illegible]

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې مونږ کړي وُ ما د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوا کې په هغه ورځ کې چې تور شوي وُ نمر نو مانه و اوريدلي قرأت د هغه . د دي حديث روايت طبراني کړي او اسناد ئي صحيح دي .

﴿ بَابُ صَلٰوةِ الْاِسْتِسْقَاءِ ﴾

باب دي د مانځه د باران د غوښتو

﴿۱۰۳۹﴾ عَنْ عَبْدِاللهِ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ رَأَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يومَ خَرَجَ يستَسقِي قَالَ فَحَوَّلَ اِلَى النَّاسِ ظَهرَه وَاستَقبَلَ القِبلَةَ يدعُو ثُمَّ حَوَّلَ رِدَاءَ ه ثُمَّ صَلّٰى لَنَا رَكعَتَينِ رواه الشيخان وزاد البخاري جَهرَ فِيهِمَا بِالقِرَاءَةِ .(۱)

ترجمه : حصرت عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما ليدلي وُ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه ورځ چې د باندي راوتلي وُ د پاره د باران د غوښتلو عبدالله بن زيد ويلي دي چې هغه خپله شاه مبارکه خلکو طرف ته واړوله او د قبلي په طرف ئي مخ مبارک کړ خولي وُ دعا ئي کوله بيا ئي ځادر مبارک واړاوه بيا ئي مونږ ته دوه رکعته . د دي حديث روايت شيخينو کړي دي او زيات کړي دي بخاري دغه الفاظ هغه په زوره قرأت ويلي وُ په دواړو رکعتونو کې .

﴿۱۰۴۰﴾ وَعَنه قَالَ خَرَجَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِلَى المُصَلّٰى وَاستَسقٰى وَحَوَّلَ رِدَاءَ ه حِينَ اِستَقبَلَ القِبلَةَ وَبَدَأَ بِالصَّلٰوةِ قَبلَ الخُطبَةِ ثُمَّ اسْتَقْبَلَ القِبلَةَ فَدَعَا رواه احمد واسناده صحيح .(۲)

ترجمه : او عبدالله بن زيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې تشريف راوړ رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عيدګاه ته او د باران غوښتنه ئي وکړه او خپل مبارک ځادر ئي ولاړ اوه کله ئي چې قبلي ته مخ کاوه او شروع ئي په مانځه وکړه مخکې د خطبې نه بيا ئي قبلي طرف ته مخ کړ نو دعا ئي وکړه . د دي حديث روايت احمد کړي دي او اسناد ئي صحيح دي .

﴿۱۰۴۱﴾ وَعَنه قَالَ اِنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِستَسقٰى وَعَلَيهِ خَمِيصَة لَه سَوْدَاءُ فَاَرَادَ اَن يَاخُذَ بِاَسفَلِهَا فَيجعَلُه اَعلَاهَا فَثَقُلَت عَلَيه فَقَلَّبَهَا عَلَيه الاَيمَنَ عَلَى الاَيسَرِ وَالاَيسَرَ عَلَى الاَيمَنِ رواه احمد

---

(۱) بخاري ابواب الاستسقاء ج ۱ ص ۱۳۹ باب كيف حول النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ظهره الى الناس، مسلم كتاب صلوة الاستسقاء ج ۱ ص ۲۹۳ .

(۲) مسند احمد ج ۴ ص ۴۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

وابوداود واسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن زید رضی الله عنه ویلي دي چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د باران طلب او دعاء وکړه او په ده باندي د ده توره کمبله وه نو هغه اراده وکړه چې ونیسي لاندي طرف د دي کنبلي او وي ګرځوي او چت طرف د دي نو سخت شو په ده باندي دا کار نو هغه واړاوه بښې طرف د کنبلي په چپ طرف باندي او چپ طرف د کنبلي په هي طرف د هغې باندي . د دي حدیث روایت احمد او ابوداؤد کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۱۰۴۲﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضی الله عنه قَالَ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم يَوْمَ يَسْتَسْقِي فَصَلّٰى بِنَا رَكْعَتَيْنِ بِلَا أَذَانٍ وَلَا إِقَامَةٍ ثُمَّ خَطَبَنَا وَدَعَا اللهَ وَحَوَّلَ وَجْهَهُ نَحْوَ الْقِبْلَةِ رَافِعًا يَدَيْهِ ثُمَّ قَلَّبَ رِدَاءَهُ فَجَعَلَ الْأَيْمَنَ عَلَى الْأَيْسَرِ وَالْأَيْسَرَ عَلَى الْأَيْمَنِ رواه ابن ماجة وآخرون واسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت ابوهریره رضی الله عنه ویلي دي چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د باندي تشریف راوړه هغه ورځ چې د باران د پاره ئې دعاء کوله نو مونځ ئې وکړ مونږته دوه رکعته په غیر د اذان او اقامت نه بیا ئې مونږته خطبه ولوسته او دعاء ئې وکړه د الله جل شانه نه او وائې راوه مخ مبارک خپل په طرف د قبلې چې اوچتوونکي و دواړو لاسونو لره بیا ئې واړاوه څادر مبارک خپل نو وي ګرځاوه بښې طرف په چپ طرف باندي او چپ طرف په بښې طرف باندي . د دي حدیث روایت ابن ماجه کړي او نورو محدثینو کړي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۱۰۴۳﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رضی الله عنها قَالَتْ شَكَا النَّاسُ إِلَى رَسُولِ اللهِ صلی الله علیه وسلم قُحُوطَ الْمَطَرِ فَأَمَرَ بِمِنْبَرٍ فَوُضِعَ لَهُ فِي الْمُصَلّٰى وَوَعَدَ النَّاسَ يَوْمًا يَخْرُجُونَ فِيهِ قَالَتْ عَائِشَةُ فَخَرَجَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم حِينَ بَدَا حَاجِبُ الشَّمْسِ فَقَعَدَ عَلَى الْمِنْبَرِ فَكَبَّرَ وَحَمِدَ اللهَ عزوجل ثُمَّ قَالَ إِنَّكُمْ شَكَوْتُمْ جَدْبَ دِيَارِكُمْ وَاسْتِيخَارَ الْمَطَرِ عَنْ إِبَّانِ زَمَانِهِ عَنْكُمْ وَقَدْ أَمَرَكُمُ اللهُ عزوجل أَنْ تَدْعُوهُ وَوَعَدَكُمْ أَنْ يَسْتَجِيبَ لَكُمْ ثُمَّ قَالَ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ مَلِكِ يَوْمِ الدِّينِ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ يَفْعَلُ مَا يُرِيدُ اَللّٰهُمَّ أَنْتَ اللهُ لَا إِلٰهَ إِلَّا أَنْتَ الْغَنِيُّ وَنَحْنُ الْفُقَرَاءُ أَنْزِلْ عَلَيْنَا الْغَيْثَ وَاجْعَلْ مَا أَنْزَلْتَ قُوَّةً وَبَلَاغًا إِلَى حِينٍ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ فَلَمْ يَزَلْ فِي الرَّفْعِ حَتّٰى بَدَا بَيَاضُ إِبْطَيْهِ ثُمَّ حَوَّلَ إِلَى

---

(۱) مسند احمد ج۴ ص۴۰، ابوداؤد کتاب الصلوة ج۱ ص۱۶۴ جماع ابواب صلوة الاستسقاء ...الخ.

(۲) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص۹۰ باب ماجاء في صلوة الاستسقاء

Maktaba Tul Ishaat.com

النَّاسِ ظَهرَه وَقَلَّبَ أو حَوَّلَ رِدَاءَه وَهوَ رَافِعٌ يَدَيه ثُمَّ اَقبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ فَصَلّٰى رَكعَتَينِ فَاَنشَاَ اللهُ سَحَابَةً فَرَعَدَت وَبَرَقَت ثُمَّ اَمطَرَت بِاِذنِ اللهِ فَلَم يَاتِ مَسجِدَه حَتّٰى سَالَتِ السُّيولُ فَلَمَّا رَاٰى سُرعَتَهم اِلَى الكِنِّ ضَحِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَدَت نَوَاجِذُه فَقَالَ اَشهدُ اَنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ وَاَنِّي عَبدُاللهِ وَرَسُولُه رواه ابوداود وقال هذا حديث غريب اسناده جيد.(۱)

ترجمه : او حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنهَا ويلي دي چې شكايت وكړ خلكو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ته د باران د قحط په باره كې نو هغه امر وكړ د منبر په باره كې نو كېښودل شو ده ته په عيدگاه كې نو وعده ئې وكړه د خلكو سره يوه ورځ چې راوځي به خلك په دي ورځ كې حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنهَا ويلي دي چې راوتي ؤ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ په هغه وخت كې چې ښكاره شوي وه يوه برخه د نمر نو په منبر باندې كيناست نو تكبير ئې ووايه او حمد او ثناء ئې د الله جل شانه وويله بيا ئې وويل چې بې شكه تاسو شكايت كړي ؤ د خشكئ د ښارونو خپلو او د روسته كيدو د باران د خپل وخت نه د ستاسي نه او په تحقيق امر كړي تاسي ته الله جل شانه چې تاسي ئې د الله جل شانه نه وغواړئ او وعده ئې كړي ده تاسي سره چې قبوله به كړي دعاء ستاسي نو بيا ئې وويل :الحمد لله رب العالمين الرحمن الرحيم ملك يوم الدين لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ يَفعَلُ مَا يُرِيدُ اَللّٰهُمَّ اَنتَ اللهُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اَنتَ الغَنِيُّ وَنَحنُ الفُقَرَاءُ اَنزِل عَلَينَا الغَيثَ وَاجعَل مَا اَنزَلتَ قُوَّةً وَبَلَاغًا اِلٰى حِينٍ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيه فَلَم يَزَل فِي الرَّفعِ حَتّٰى بَدَا بَيَاضُ اِبطَيه ثُمَّ حَوَّلَ اِلَى النَّاسِ ظَهرَه وَقَلَّبَ اَو حَوَّلَ رِدَاءَه وَهوَ رَافِعٌ يَدَيه ثُمَّ اَقبَلَ عَلَى النَّاسِ وَنَزَلَ فَصَلّٰى رَكعَتَينِ فَاَنشَاَ اللهُ سَحَابَةً فَرَعَدَت وَبَرَقَت ثُمَّ اَمطَرَت بِاِذنِ اللهِ فَلَم يَاتِ مَسجِدَه حَتّٰى سَالَتِ السُّيولُ فَلَمَّا رَاٰى سُرعَتَهم اِلَى الكِنِّ ضَحِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى بَدَت نَوَاجِذُه فَقَالَ اَشهدُ اَنَّ اللهَ عَلٰى كُلِّ شَيءٍ قَدِيرٌ وَاَنِّي عَبدُاللهِ وَرَسُولُه رواه ابوداود وقال هذا حديث غريب اسناده جيد.

ترجمه : يعني هر حمد او ثنا الله جل شانه لره ده چې رب د ټول عالم دي رحمان او رحيم دي بادشاه د ورځې د جزا دي خاص تاته عبادت كوو او خاص تانه مدد غواړو نشته بل معبود مستحق د عبادت غير د الله جل شانه نه كوي هغه چې اراده ئې وكړي اي الله ته الله ئې نشته بل معبود غير ستا نه ته

---

(۱) ابوداود كتاب الصلوة ج۱ ص۱۶۵ رقم الحديث ۱۱۶۵ ـ ۱۱۶۶

Maktaba Tul Ishaat.com

غني ئي مونږ فقيران يو نازل کړه په مونږ باندي باران او ژوندۍ کړه موږ ته چې نازل کړي دي تا قوت او رسيدونکي حاجتونو زمونږ ته تر يو وخته پورې بيا ئي اوچت کړل دواړه مبارک لاسونه نو هميشه پورته ؤ تر دي پورې چې ښکاره کيدل دواړه ترخونه د هغه بيا ئي خلکو ته شا کړه او وائي راوه ځادر مبارک خپل او اوچت ؤ لاسونه مبارک د ده بيا خلکو ته مخامخ شو او راخکته شو نو مونځ ئي وکړ دوه رکعته نو راپيدا کړه الله وريځ ؤغريده او بريښنا شوه بيا باران وشو د الله جل شانه په اذن سره مسجد ته لانه ورسيدلي چې ناوي سيلابونه ؤبهيدل کله چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وليده چابکي د دوي بناګاهونو خپلو نه وي خندل تر دي پورې چې ښکاره شو مخامخ غاهونه مبارک د ده نو وي فرمايل چې زه ګواهي ورکوم چې الله جل شانه په هر يو شئ باندي قدرت والا دي او بې شکه زه د الله جل شانه بنده او د ده رسول يم . د دي حديث روايت ابوداود کړي دي او ويلي ئي دي چې دا حديث غريب دي او اسناد ئي جيد دي .

﴿۱۰۴۲﴾ وَعَن اِسحَاقَ بنِ عَبدِاللهِ بنِ كَنَانَةَ قَالَ اَرسَلَنِي اَمِيرٌ مِنَ الاُمَرَاءِ اِلَى ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَسئَلُه عَنِ الاِستِسقَاءِ فَقَالَ ابنُ عَبَّاسٍ مَامَنَعَه اَن يَسأَلَنِي خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُتَوَاضِعًا مُبتَذِلًا مُتَخَشِّعًا مُتَضَرِّعًا فَصَلّٰى رَكعَتَينِ كَمَا يُصَلِّي فِي العِيدَينِ وَلَم يَخطُب خُطبَتَكُم هٰذِهٖ رواه النسائي وابوداود واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : اسحاق بن عبدالله بن کنانه ويلي دي چې وليږلم زه يو امير د اميرانو نه ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته چې پوښتنه وکړه د ده نه د استسقاء په باره نو ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنهُ وويل څه شي منع کړي ؤ هغه لره چې هغه زمانه پوښتنه کړي وي راوتلي ؤ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عاجزي کوونکي زړه جامه اغوستونکي خشوع کوونکي زاري کوونکي نو مونځ ئي وکړ دوه رکعته لکه چې مونځ به ئي کاوه په اختر کې او خطبه به ئي نه ويله ستاسي د خطبي په شان . د دي حديث روايت نسائي او ابوداؤد کړي دي او اسناد ئي صحيح دي .

داستسقاء يو څو مسائل :

استسقاء دسقيانه ماخوذ دي يعني باران اود استسقاء معنى ده دالله تعالى نه باران طلب کول ددي مشروعيت په شپږمه هجري کې شوي اوداددي امت دخصوصياتونه دي (الدر المنضود ۴۶۳)

---

۱) نسائي كتاب الاستسقاء ج۱ ص ۲۲۶ باب كيف صلوة الاستسقاء ، ابوداود كتاب الصلوة ج۱ ص ۱۶۵ جماع ابواب الاستسقاء ...

Maktaba Tul Ishaat.com

اولني مسئله : په دي خبره باندي دټولو اتفاق دي چې داستسقاء دپاره په خلاص ميدان کې الله تعالى ته ډير ه زاري منت کول اودرحمت دباران دعا غوښتل سنت دي ليکن داستسقاء دپاره دخاص مونځ په باره کې اختلاف دي.

۱_ دجمهورو علماؤ ائمه ثلاثو اوصاحبينو په نزد استسقاء دپاره مونځ په جماعت سره مشروع اوسنت دي.

۲_ دامام اعظم رَحِمَهُ اللّٰهُ په نزد ددي حقيقت دعا اواستغفار دي يعني سنت استسقاء صرف دمونځ سره خاص نه دي بلکه صرف ددعا اواستغفار سره هم داسنت اداکيږي.

دائمه ثلاثو اوصاحبينو استدلال.

دباب په ډيرو روايتونوچې په کومو کې "صلى لنا ركعتين" ،"بدأ بالصلاة" او "فصلى ركعتين كما يصلى فى العيدين" وغيره لفظونه راغلي دي ددي نه داستسقاء دپاره دمونځ ثبوت ښکاره دي.

دامام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ دلائل:

۱- **قوله تعالى:** (استغفروا ربكم انه كان غفارا يرسل السماء عليكم مدرارا) (نوح)دباران نازل کيدل لره يې په استغفار باندي مرتب کړي دي.

۲- په يو څوډير احاديثو کې په سند صحيح سره داستسقاء،دپاره په دعااواستغفار باندي کافي کيدل نقل شوي دي .مثلاً دجمعې دخطبې په دوران کې **رفع رسول الله صلى الله عليه وسلم يديه فقال اللهم اغثنا .....**"الخ (بخاري شريف ۱۳۸\۱)"**فدعا فمطرنا من الجمعة الى الجمعة**" (بخارى شريف ۱۳۸\۱)وغيره.

۳- حضرت عمر رضى الله عنه داستسقاء دپاره دوتلو اومنبر باندي ودريدلواو (**استغفرو ربكم** ....الاية) تلاوت يې اوفرمايلو اوددعا اواستغفار نه علاوه يې هيڅ اونه کړل .(معارف السنن ۴۹۴\۱۴)

جمهورو ته جواب اوداحاديثو په مينځ کې تطبيق :

استسقاء دنبي عليه السلام نه تقريباً شپږځله نقل شوي ده ليکن په شپږو کې يوځل دمونځ ثبوت ملاويږي .نو بيامونځ ته سنت ځنګه ويلي کيږي ځکه چې سنت دنبي کريم صلى الله عليه وسلم دائمي معمول ياکم ازکم اکثر ته ويلي شي دلته دغه شان نه دي .لهذا په استسقاء کې کله مونځ اوکله دعا دواړه اوکله صرف دعااواستغفار مسنون دي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دویمه مسئله : دائمه اربعو رحمهم الله په نزد د استسقاء په مونځ کې به قرأت جهرا وي کما في روایة البخاري : " جهر فیهما بالقراءة ".

دریمه مسئله :دامام شافعي او داحمد رحمهم الله په نزد داستسقاء مونځ داخترونو په شان دولس تکبیرونو زوائدو باندې شتمل وي ددوي استدلال حدیث دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ : " فصلى ركعتين كما يصلي في العيدين " نه دي . امام مالک رَحِمَهُ اللهُ او ابویوسف رَحِمَهُ اللهُ په نزد په دې کې زوائد تکبیرات نشته بلکې دنورو مونځونو په شان صرف یوتکبیرتحریمه ده چونکه په اکثرو روایاتو کې مطلق "رکعتینو" ذکر دې ځکه دابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په حدیث کې به تشبیه په تکبیرات زوائد کې نه وي بلکې دمونځ په تعداد رکعات ، وخت مستحب ، خروج الی المیدان او عمومي اجتماع کې به وي . والله اعلم

څلورمه مسئله : په استسقاء کې "تحویل درداء" یعني ځادر اړول په غرض دتفاؤل (یعني چې په کوم حالت کې راشي په هغه حالت کې به واپس نه ځي) دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه ثابت دي . اوي دائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد دا تحویل دامام او مقتدي دواړو لپاره مسنون دې ځکه چې په روایاتو کې صرف دحضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دتحویل رداء ذکر راغلي دی لهذا غیر مدرک بالقیاس امر لره به په همدې مورد باندې بند پریخودلې کیږي. (بدایة المجتهد ، ص: ۱۷۴).

پینځمه مسئله : تحویل دردا ،طریقه داده که چرته ځادر ګول وي نو ځادر چې کوم سر په ښي اړخ باندې وي نو هغه به ګس اړخ باندې کړي اوچې کوم په ګس اړخ باندې وي هغې لره به په ښي طرف باندې کړي که چرته څلور طرفه وي نو اعلى لره به په اسفل او اسفل لره به په اعلى کړي او که چرته قباوي نو هغې لره به اولټه کړي یعني دننه طرف به بهر اوبهرني طرف به دننه کړي (الدرالمنضود :۴۶۵\۲)

شپږمه مسئله :دائمه ثلاثه (امام مالک ،شافعي واحمد)په نزد دمونځ نه پس خطبه اودخطبې دفارغ کیدو نه پس تحویل رداء ده اوامام ابو یوسف په نزد دمونځ نه پس خطبه اودویمه خطبه دتحویل رداء موقع ده(بدایة المجتهد ،ص :۱۷۴)دخطبې نه پس قبلې ته مخ کول اودعا غوښتل بالاتفاق دي .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ صَلٰوةِ الخَوفِ﴾

باب دویري مونځ

﴿۱۰۴۵﴾ عَن جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ اَقبَلنَا مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى اِذَا كُنَّا بِذَاتِ الرِّقَاعِ قَالَ كُنَّا اِذَا اَتَينَا عَلٰى شَجَرَةٍ ظَلِيلَةٍ تَرَكنَاهَا لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ فَجَاءَ رَجُلٌ مِّنَ المُشرِكِينَ وَسَيفُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُعَلَّقٌ بِشَجَرَةٍ فَاَخَذَه فَاختَرَطَه ثُمَّ قَالَ لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَتَخَافُنِي قَالَ لَا قَالَ فَمَن يَمنَعُكَ مِنِّي قَالَ اللّٰهُ يَمنَعُنِي مِنكَ قَالَ فَتَهَدَّدَه اَصحَابُ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَغمَدَ السَّيفَ وَعَلَّقَه قَالَ ثُمَّ نُودِيَ بِالصَّلٰوةِ فَصَلّٰى بِطَائِفَةٍ رَكعَتَينِ ثُمَّ تَاَخَّرُوا وَصَلّٰى بِالطَّائِفَةِ الاُخرٰى رَكعَتَينِ قَالَ فَكَانَت لِرَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَربَعَ رَكعَاتٍ وَلِلقَومِ رَكعَتَانِ رواه مسلم والبخاري تعليقاً.(۱)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې لاړو مونږ رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره تر دي پوري چې ورسيدو مونږ ذات الرقاع ته حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي کله به چې مونږ سوري والا ونې ته ورغلو نو هغه به مو رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته پريښوده حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې د مشرکينو يو کس راغې او توره د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په ونه کې زوړنده وه نو هغه ئې راواخسته او د تيکي نه ئې راوويسته بيا ئې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وويل چې آيا ته زما نه يريږې هغه ورته وفرمايل چې نه مشرک ورته وويل چې څوک به دي رانه خلاص کړي هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل چې الله به مې درنه خلاص کړي جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې وُراته دي مشرک لره اصحابو د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو توره ئې په تيکي کې ننويسته او زوړند ئې کړله حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وائي چې بيا اذان وکړي شو د مانځه نو مونځ ئې وکړيو ډلې ته دوه رکعته بيا دوي روسته شول او مونځ ئې وکړ بلې ډلې ته دوه رکعته نو راوي وائي چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څلور رکعته شو او د قوم دوه رکعته شو. د دي حديث روايت بخاري کړي دي تعليقًا.

﴿۱۰۴۶﴾ وَعَن عَبدِاللّٰهِ بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ غَزَوتُ مَعَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قِبَلَ نَجدٍ فَوَازَينَا العَدُوَّ فَصَافَفنَا لَهُم فَقَامَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُصَلِّي لَنَا فَقَامَت طَائِفَةٌ مَعَه وَاَقبَلَت طَائِفَةٌ عَلٰى

---

(۱) مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ ص۲۷۹ باب صلوة الخوف ، بخاري كتاب المغازي ج۲ ص۵۹۲ باب غزوه ذات الرقاع تعليقًا

Maktaba Tul Ishaat.com

العَدُوِّ فَرَكَعَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَن مَعَه وَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ انصَرَفُوا مَكَانَ الطَّائِفَةِ الَّتِي لَم تُصَلِّ فَجَاؤُا فَرَكَعَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِهِم رَكعَةً وَسَجَدَ سَجدَتَينِ ثُمَّ سَلَّمَ فَقَامَ كُلُّ وَاحِدٍ مِنهم فَرَكَعَ لِنَفسِهِ رَكعَةً وَسَجَدَ سَجدَتَينِ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما غزا کوله د رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د نجد چه طرف باندي نو مخامخ شو مونږ د دشمن سره نو مونږ صفونه جوړ کړل دوي ته نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پاڅيده مونږ ته ئي مونځ کاوه نو يوه ډله د ده سره وُدريده له او بله ډله دشمن ته مخامخ شوه نو يوه رکوع وکړه رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه چاته چې د ده سره وُ او دوه ئي سجدي وکړي بيا دوي واپس شو د هغه ډلې په ځاي چې مونځ ئې نه وُکړي نو هغو راغلل نو رکوع وکړه رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغو ته يوه رکوع او سجده ئې وکړه دوه سجدي بيا ئې سلام واړاوه نو پاڅيده هريو د دوي نه نو رکوع ئې وکړه ځانته يوه رکوع او سجده ئې وکړه دوه سجدي . د دي حديث روايت د محدثينو جماعت کړي دي.

﴿۱۰۴۷﴾ وَعَن نَافِعٍ اَنَّ عَبدَالله بنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كَانَ إِذَا سُئِلَ عَنِ صَلوٰةِ الخَوفِ قَالَ يَتَقَدَّمُ الإِمَامُ وَطَائِفَةٌ مِنَ النَّاسِ فَيُصَلِّي بِهِمُ الإِمَامُ رَكعَةً فَتَكُونُ طَائِفَةٌ مِنهم بَينَه وَبَينَ العَدُوِّ وَلَم يُصَلُّوا فَإِذَا صَلَّى الَّذِينَ مَعَه رَكعَةً إِستَاخَرُوا مَكَانَ الَّذِينَ لَم يُصَلُّوا وَلَا يُسَلِّمُونَ وَيَتَقَدَّمُ الَّذِينَ لَم يُصَلُّوا فَيُصَلُّونَ مَعَه رَكعَةً ثُمَّ يَنصَرِفُ الإِمَامُ وَقَد صَلّٰى رَكعَتَينِ فَيَقُومُ كُلُّ وَاحِدٍ مِنَ الطَّائِفَتَينِ فَيُصَلُّونَ لِاَنفُسِهِم رَكعَةً رَكعَةً بَعدَ اَن يَنصَرِفَ الإِمَامُ فَيَكُونَ كُلُّ وَاحِدَةٍ مِنَ الطَّائِفَتَينِ قَد صَلُّوا رَكعَتَينِ فَإِن كَانَ خَوفًا هُوَ اَشَدُّ مِن ذٰلِك صَلُّوا رِجَالًا قِيَامًا عَلٰى اَقدَامِهِم اَو رُكبَانًا مُستَقبِلِي القِبلَةِ وَغَيرَ مُستَقبِلِيهَا قَالَ مَالِك قَالَ نَافِعٌ لَا اَرٰى عَبدَالله بنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ حَدَّثَه إِلَّا عَن رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه مالك في الموطأ ثم البخاري من طريقه في كتاب التفسير من صحيحه.(۲)

قَالَ النَّيمَوِي إِنَّ صَلوٰةَ الخَوفِ لَهَا اَنوَاعٌ مُختَلِفَةٌ وَصِفَاتٌ مُتَنَوِّعَةٌ وَرَدَت فِيهَا اَخبَارٌ صَحِيحَةٌ.

---

(۱) بخاري ابواب صلوة الخوف ج۱ص ۱۲۸ ، مسلم كتاب فضائل القرآن ج۱ص ۲۷۸ باب صلوة الخوف ، ترمذي ابواب السفر والسجدة ج۱ص ۱۲۶ باب ماجاء في صلوة الخوف ، ابوداؤد كتاب الصلوة ج۱ص ۱۷۶ باب من قال يصلي بكل طائفة ركعة ، نسائي كتاب صلوة الخوف ج۱ص ۲۲۹ ، ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات ص ۹۰ باب ماجاء في صلوة الخوف مسند احمد ج۲ص ۱۵۰.

(۲) مؤطا امام كتاب صلوة الخوف ص ۱۷۰ ، بخاري كتاب التفسير ج۲ص ۶۵۰ باب قوله عزوجل وَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا...الخ

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د نافع نه روایت دي چې د حضرت عبدالله بن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه چې کله د ویري د مانځه په باره کې پوښتنه وکړي شوه وي ویل چې امام به د خلکو یوي ډلي ته مخکې شي نو دوي ته به امام مونځ وکړي یو رکعت نو شي به یوه ډله د دو نه د امام او د دشمن ترمنځ او مونځ نې نه وي کړي کله چې اوکړي مونځ یو رکعت هغه کسان چې د دوي سره دي نو روسته به شي دوي په ځای د هغه کسانو چې هغو مونځ نه دي کړي او دوي به سلام نه گرځوي او را مخکې به شي هغه کسان چې مونځ نې نه دي کړي نو مونځ به وکړي د امام سره یو رکعت بیا به امام سلام وگرځوي او په تحقیق مونځ وکړه دوه رکعته او اوبه دریږي هر یو د دي دواړو ډلو نه نو مونځ به وکړي ځانله ځانله یو یو رکعت روسته د سلام د امام نه نو شي به د هري یوي ډلي د پاره دوه رکعته او که چرته وي ویره سخته د دي نه نو مونځ دي وکړي پیاده په ولاړه په خپلو قدمونو باندي او یا په سورلئ سره چې مخامخ وي قبلي ته او که نه وي مخامخ قبلي ته ویلي دي مالک چې نافع ویلي دي زه ګومان نه کوم چې حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندي چې حدیث بیان کړي مګر د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه د دي حدیث روایت مالک کړي په موطا کې بیا بخاري د ده د طریقې نه په کتاب التفسیر کې د صحیح خپل نه.

ویلي دي نیموي رَحِمَهُ اللهُ چې د خوف د مانځه د پاره مختلف انواع دي او قسم قسم صفتونه دي د دي په باره کې صحیح اخبار راغلي دي.

دصلوة خوف (ویري مونځ) متعلق ځلور بحثونه :

اولنی بحث : دجمهورو دقول مطابق دټولو نه مخکې صلاة الخوف شپږمه هجري کې دغزوه ذات الرقاع په موقع باندي د "عسفان" په مقام کې لوستلې شوي وو.

دویم بحث :دجمهورو په نزد دا مونځ نه د ي منسوخ شوي بلکه اوس هم مشروع دي البته دامام ابو یوسف نه یو شاذ روایت دادي چې دامونځ دنبي کریم صلی الله علیه وسلم سره خاص وو .امام ابو یوسف رَحِمَهُ اللهُ دصلاة الخوف آیت (واذا کنت فیهم فاقمت لهم الصلاة) (النساء ۱۰۲) دمخاطب صیغې نه استدلال کړي دي چې کوم نبي کریم صلی الله علیه وسلم لره دي او دا امر غیر مدرک بالقیاس دي لهذا په مورد باندي به ددي انحصار کیږي (بدایة المجتهد ،ص.۱۴۲) لیکن دجمهور صحابه کرامو په نزد دنبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پس صلاة الخوف لوستل ثابت دي اوپه آیت کې خطاب صرف نبي علیه السلام لره نه دي بلکه دټول امت ائمه لره عام دي البته دصیغې مخاطبي فائده داده چې کله تاسو موجود یې نو خپل امت لره دصلاة الخوف طریقه په خپله ولولي اوو ښائي یعني په تعلیم قولي باندي اکتفاء مه کوي.

Maktaba Tul Ishaat.com

دريم بحث :د صلاة الخوف دکولو په طريقه کي ډير زيات روايات دي په دي کي ډير صحيح شپارس (۱۶) روايات دي چې په خپل مينځ کي يو بل سره بدل دي ، جائز ټول دي البته د احنافو په نزد اولى طريقه هغه ده چې دهغي ذکر په دباب په حديث نمبر ۱۰۴۶ او حديث نمبر ۱۰۴۷ کي راغلي دي يعني امير دلښکر به دوه جماعتونه جوړ کړي يو جماعت به د دښمن په مقابله کي و دريږي او بيو جماعت به د امام شاته و دريږي ،امام به دوي ته يو رکعت ولولي .چې يو رکعت ولولي نو د اجماعت به د دښمن په مقابله کي لاړ شي او چې کوم جماعت د دښمن په مقابله کي ولاړ وو نو هغه به د امام شاته راشي او امام به هغوي ته هم يو رکعت ولولي د امام به دوه رکعتونه وشي ځکه به هغه خپل مونځ په يو ازي والي کې پوره کړي او سلام به واړوي او دا دويم جماعت چې دکومو د امام سره يو رکعت لوستلي دي د دښمن په مقابله کې به لاړشي د دي نه پس به اوس اولنې جماعت خپل پاتې رکعت په دغه ځاى کې يا چې په کوم ځاى کې جماعت شوي وي هلته به لاړ شي او بيا به لولي او سلام دي واړوي بيا د دي نه پس دويم جماعت هم خپل پاتې شوي رکعت به دغه شان ولولي او مونځ به پوره کړي .

په دې طريقه کې خو به تلل په حالت د مونځ کې لازم راشي ليکن مخکې والې په امام باندې لازم نه راځي کوم چې د جمهورو په طريقه کې موندلي کيږي .دائمه ثلاثه په نزد اولى صورت دا دي چې کله اولنې جماعت د امام سره يو رکعت ولولي نو هغه په دغه وخت کې به خپل دويم رکعت ځانله ولولي او سلام به واړوي او د دښمن په مقابله کې به لاړ شي او بيا به دويم جماعت راشي امام به دوي ته يو رکعت ولولي او د اجماعت به هم په دغه وخت کې د ويم رکعت ولولي اوس د اچې امام به د دويم رکعت لوستلو نه پس د دي دويم جماعت انتظار اوکړي په سلام کې او دواړه به په يو ځاى سلام واړوي بيا به انتظار نه کوي بلکه امام به ځانله سلام واړوي د امختلف فيه ده، امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ او احمد رَحِمَهُ اللهُ فرمايي چې انتظار به اوکړي اوچې کله دويم جماعت د دويم رکعت نه فارغ شي نو دواړه دي يو ځاې سلام واړوي امام مالک هم مخکې خو د دي قائله وو بيا هغوي د دي نه رجوع اوکړه اووفرمايل ئې چې انتظار دي نه کوي .دشوافعو اوحنابلو استدلال دزيد بن رومان دروايت نه دي او د مالکيو استدلال د قاسم بن محمد دروايت نه دي .

که چرته په حالت د حضر کې صلاة الخوف لوستل وي نو امام به اولنې جماعت ته دوه رکعته او دويم ته دوه رکعته ولولي او د مانبام په مونځ کې به اولنې جماعت ته دوه رکعته او دويم ته به يو رکعت ولولي. (البحر الرائق ۱۴۹\۲ ،الدر المنضود ۵۴۹\۱ ..... ۵۰۰) .

څلورم بحث : صلاة الخوف د خپل مخصوص طريقې سره په هغې وخت کې لوستل اولى دي کله چې ټول خلک غوښتنه کوي ديو امام شاته په مونځ لوستلو باندې او که چرته داسې صورت نه وي

Maktaba Tul Ishaat.com

نو بيا اولى دادي چې دوه امامه ځانله ځانله يو يو جماعت ته پوره پوره مونځ ولولي(الدرالمنضود : ۴۹۸\۲ ،البحر الرائق : ۲ \ ۱۶۹) .

﴿ اَبوَابُ الجَنَائِزِ ﴾

دجنازي مسائل

دجنازي مسئلى :جنائز دجنازة جمع ده او جنازة كي دوه لغته دي بفتح الجيم و بكسر الجيم بفتح الجيم مري ته ويلي كيږي اوبكسر الجيم دهغي نعش يعني دكټ نوم دي چې په كوم باندي مري لره اوچتولې شي وقيل هما لغتان (البحر الرائق :۲ \ ۱۷۰).

﴿ بَابُ تَلقِينِ المُحتَضَرِ ﴾

باب قريب الموت شخص ته د كلمي تلقين

﴿۱۰۴۸﴾ عَن اَبِي سَعِيدِ الخُدرِي رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوا مَوتَاكُم لَا اِلٰهَ اِلَّا الله رواه الجماعة الا البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت ابوسعيد خدري رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې تلقين كوئ خپلو مرګاني مريضانو ته د لا اله الا الله . د دي حديث روايت د بخاري نه پرته غير د محدثينو جماعت كړي دي.

﴿۱۰۴۹﴾ وَعَن اَبِي هُرَيرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ، قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ لَقِّنُوا مَوتَاكُم لَا اِلٰهَ اِلَّا الله رواه مسلم.(۲)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې تلقين كوئ خپلو مرګاني مريضانو ته د لا اله الا الله . د دي حديث روايت مسلم كړي دي.

﴿۱۰۵۰﴾ وعَن مُعَاذِ بنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن كَانَ آخِرُ كَلَامِهِ لَا اِلٰهَ اِلَّا

---

(۱) مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۰۰ ، ترمذي ابواب الجنائز ج۱ص ۱۹۲ باب ماجاء في تلقين المريض عند الموت ، ابوداؤد كتاب الجنائز ج ۲ص ۸۸ باب في التلقين ، نسائي كتاب الجنائز ج۱ص ۲۵۹ باب تلقين الميت ، ابن ماجة ابواب ماجآء في الجنائز ص ۱۰۵ باب ماجآء في تلقين الميت ...الخ ، مسند احمد ج۳ ص ۳ .

(۲) مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

الله دَخَلَ الْجَنَّةَ رواه ابوداود وآخرون واسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت معاذ بن جبل رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې د چا په ژوند کې اخري خبره لا اله الا الله شي داخل به شي په جنت کې . د دي حديث روايت ابوداود او نورو محدثينو کړي دي .

مسئلة الباب : عندالجمهور تلقين مستحب دي او دتلقين نه مراد دادي چې دده سره کينې او کلمه ورته وايي نه دا چې ده ته ويلو دپاره اوايي .(بداية المجتهد:ص: ۱۸۲)

﴿ بَابُ تَوجِيهِ المُحتَضَرِ إِلَى الْقِبلَةِ ﴾
باب د مخ کولو د مړي دي قبلي طرف ته

﴿۱۰۵۱﴾ عَن اَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ قَدِمَ الْمَدِينَةَ سَأَلَ عَنِ الْبَرَاءِ ابْنِ مَعْرُورٍ فَقَالُوا تُوُفِّيَ اَوصٰى اَن يوَجَّهَ اِلَى الْقِبلَةِ فَقَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَصَابَ الْفِطرَةَ ثُمَّ ذَهَبَ فَصَلّٰى عَلَيهِ رواه الحاكم في المستدرك وقال حديث صحيح.(۲)

ترجمه : د حضرت ابي قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله مدينې منورې ته تشريف ويوړ نه پوښتنه ئې وکړه په باره براء ابن معرور کې نو خلکو وويل چې هغه وفات شوي او وصيت ئې کړي دۀ چې مخ دي ئې قبلي طرف ته واړوُلي شي نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې رسيدلي فطرت (دين) ته يا لاړ د جنازي مونځ ئې ورباندي وکړ . د دي حديث روايت حاکم په مستدرک کې کړي دي او ويلي ئې دي چې داحديث صحيح دي .

مسئلة الباب : دحنفيو په نزد توجيه مستحب ده دکوم چې طريقه داده چې قريب الموت کس ته دمرګ ظاهري علامات ښکاره کيدو نه پس ښي طرف باندې يا ستوني ستاغ قبلې طرفته يې کړي ، ددينه اولنې صورت ډير غوره دي .(حلبي کبير ،ص:۴۹۵) بعضي ائمو ددې انکار کړې دی .(بداية المجتهد ،ص:۱۸۲).

---

(۱) ابوداؤد کتاب الجنائز ج۲ص ۸۸ ، باب التلقين .

(۲) مستدرك حاكم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۵۳ باب يوجه المحتضر الى القبلة .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿ بَابُ قِرَاءَةِ يٰسٓ عِنْدَ الْمَيِّتِ ﴾

مړي ته د سورت يس د لوستلو باب

﴿۱۰۵۲﴾ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِقْرَؤُا يٰسٓ عَلٰى مَوْتَاكُمْ رواه ابو داود وابن ماجة والنسائي واعله ابن القطان وصححه ابن حبان.(۱)

ترجمه : د حضرت معقل بن يسار رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي : ولولئ يس خپلو مړو ته . د دي حديث روايت ابو داؤد ، ابن ماجه او نسائي کړي دي . او دا حديث ابن قطان معلول ګڼلي او ابن حبان صحيح ګڼلي دي .

قريب المرګ ته دسوره يسين ويلو حکمت

دلته دمرګ نه مراد محتضر دي يعني مرګ ته نزدي وخت دي دمرګ اثر ظاهريدلو باندي سورة ياسين ويل پکاردي (البحر الرائق :۱۷۱\۲) اوپه دي کې يې داحکمت ليکلي دي چې دغه وخت په سړي کې دتلفظ طاقت نه وي ددير کمزورتيا دوجي نه دي وخت کې هغه خپل هيڅ حاجت لره نه شي ښکاره کولي ليکن دمؤمن زړه په دي وخت بلکليه (ټول په ټوله) الله تعالى طرف ته متوجي وي نو په هغه باند ي سورة ياسين شريف په دغه وخت کې ځکه لوستلي شي چې دده په ايمان اودزړه په طاقت کې اضافه وشي .ځکه چې په دي سورة کې دشريعت مهارت اصول اوهغه لوي لوي مسئلي چې کومو لره علماؤ په خپلو تصنيفاتو کې بيان کړي دي . دمختلوامتونو حالتونه ،دتقدير ثابيتيدل اوداچې دبندګانو دافعالواسناد الله تعالى طرف ته ،دتوحيد اثبات، شرک نفي اودقيامت احوال ،دحشر اونشر منظر ، حساب کتاب ، ثواب اوسزا وغيره څيزونه ذکر دي دغه شان په حديث کې دي چې دهر شي دپاره زړه وي اودقرآن زړه سورة ياسين دي لهذا دي سورت لره دهغه مخکې لوستلو سره هغه ته به روحاني طاقت اوتسلي ملاو شي اودايمانياتواستحضاربه وي (په شرط ددي چې هغه دقرآن پاک په ترجمي پوهيږي)

---

(۱) ابوداؤد کتاب الجنائز ج۲ص ۸۹ باب القراءة عند الميت ، ابن ماجة ابواب ما جآء في الجنائز ص ۱۰۵ باب ماجاء في ما يقال عند المريض اذا حضر ، صحيح ابن حبان كتاب الجنائز ج ۴ ص ۳ فصل في المحتضر رقم الحديث ۲۹۹۱ .

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ تَغْمِيضِ الْمَيِّتِ﴾
باب د مړي د سترګو پټول

﴿۱۰۵۲﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ دَخَلَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَبِي سَلَمَةَ وَقَدْ شَقَّ بَصَرُهُ فَأَغْمَضَهُ ثُمَّ قَالَ إِنَّ الرُّوحَ إِذَا قُبِضَ تَبِعَهُ الْبَصَرُ فَضَجَّ نَاسٌ مِنْ أَهْلِهِ فَقَالَ لَا تَدْعُوا عَلَى أَنْفُسِكُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ فَإِنَّ الْمَلَائِكَةَ يُؤَمِّنُونَ عَلَى مَا تَقُولُونَ ثُمَّ قَالَ اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأَبِي سَلَمَةَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ وَنَوِّرْ لَهُ فِي قَبْرِهِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت ام سلمی رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابو سلمه ته راغي او د هغه سترګي کلا و او وازي پاتي شوي وي نو نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته سترګي پټي کړي بيا ئي وفرمايل چې بي شکه کله چې روح قبض کړي شي نو نظر ورپسي ولګي نو چغي کړي خلکو د اهل د ده نه نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دعا مه کوئ د خپل ځان په باره کې مګر د خير ځکه چې ملائکي امين وائي په هغه څه چې تاسي ئي وائي بيا ئي وفرمايل چې اي الله بخښنه وکړي ابوسلمه ته او اوچته کړي درجه د ده په هدايت موندونکو کې او خليفه ئي کړي په خپلو پسماندګانو کې مونږ ته او ده ته بخښنه وکړي اي د ټولو عالم پروردګاره او پراخه کړي قبر د ده او روښانه کړي قبر د ده . د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

مسئلة الباب : دتغميض په استحباب باندې دعلماؤ اجماع ده دکوم حکمت چې دا ليکلې شوې دي چې ددې شکل او صورت ګډوډ نشي دغه شان په دغه وخت کې به دده خوله هم بندولې شي ليکن ددې خيال ساتل پکار دي چې کله دمړ کيدو يقين يې وشي نو بيا به ورله سترګې پټولې شي په حديث باب کې مذکوره دعا " اللهم اغفر .... " الخ هر مسلمان ته پکار دي چې ياده يې کړي ترڅو چې دضرورت په موخه يې په مړي باندې اوايي .(الدرالمنضود: ۲۱۹/۵)

---

(۱) مسلم کتاب الجنائز ج۱ص ۳۰۰.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بابُ تَسجِيةِ المَيتِ﴾

﴿۱۰۵۴﴾ عن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَت إِنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَ سُجِّيَ بِبُرْدٍ حِبَرَةٍ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي بي شكه رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې كله وفات كړي شو پټ كړي شوي وُ هغه په ځادر يمني باندي. د دي حديث روايت شيخينو كړي دي.

مسئلة الباب : ديو كس دمړ كيدو نه پس په هغه ځادر اچول پكار دي كولاو نه دي پريخودل پكار ظاهره ده چې غسل كې خو به يې وخت لګي ليكن دا عمل په همدغه وخت كې كول پكار دي. (المرقاة المنصود: ۲۲۰/۵)

﴿بابُ غُسلِ المَيتِ﴾

باب د غسل د مړي

﴿۱۰۵۵﴾ عَن أُمِّ عَطِيَّةَ الأَنْصَارِيَّةِ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَت دَخَلَ عَلَينَا رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حِينَ تُوُفِّيَت اِبْنَتُه فَقَالَ اغْسِلْنَهَا ثَلَاثًا أَو خَمسًا أَو أَكثَرَ مِن ذٰلِكَ إِن رَأَيتُنَّ بِمَاءٍ وَسِدرٍ وَ اجْعَلنَ فِي الآخِرَةِ كَافُورًا أَو شَيئًا مِن كَافُورٍ فَإِذَا فَرَغتُنَّ فَآذِنَّنِي فَلَمَّا فَرَغنَا آذَنَّاه فَأَعطَانَا حِقوَه فَقَالَ اشْعِرنَهَا إِيَّاه تَعنِي إِزَارَه رواه الجماعة وفي رواية لَهُمْ إِبدَأْنَ بِمَيَامِنِهَا وَمَوَاضِعِ الوُضُوءِ مِنهَا.(۲)

ترجمه : حضرت ام عطيه الانصاريه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې تشريف راوړي وُ مونږ كره رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كله چې وفات كړي شوي وه لور مباركه د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو وي فرمايل چې غسل وركړئ تاسي ديته دري ځله او يا پنځه ځله او يا د دي نه زيات كه تاسي ئې مناسب ګڼئ په اوبو او په بيرو او په اخر كې ئې كافر ولګوئ او يا ئې فرمايلي وُ او يا د كافورو څه لږ شان شئ نو كله چې تاسو فارغ شوئ نو ما خبر كړئ نو كله چې مونږ فارغ شو نو خبر مو ورته وركړ نو رائې كړ مونږ ته يو ځادر چې دا ئې د بدن پوري نزدي ولګوئ يعني ازار ترې جوړ كړئ. د دي حديث روايت د

---

(۱) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص ۱۶۶ باب الدخول على الميت بعد الموت ... ، مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۰۶ فصل في كفن الميت ....

(۲) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص ۱۶۷ باب غسل الميت ...الخ ، مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۰۴ فصل في غسل الميت وتوأ ، ترمذي ابواب الجنائز ج۱ص ۱۹۳ باب ماجاء في غسل الميت ، ابوداود كتاب الجنائز ج۲ ص ۹۲ باب كيف غسل الميت ، نسائي كتاب الجنائز ج۱ص ۲۶۶ باب غسل الميت وتوأ، ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز ص ۴۰ باب ماجاء في غسل الميت وتوأ ، مسند احمد ج۶ص ۴۰۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

محدثينو يو جماعت کړي دي او د دوي په يو روايت کې دي چې شروع وکړئ تاسي په بني طرفونو د دي او په ځايونو د اودس د دي.

مسئلة الباب : مړي ته غسل ورکول د مسلمانانو په ذمه باندې فرض کفايه دي. ((رحمة الامة ،ص: ٦٧)

﴿ بَابُ غُسلِ الرَّجُلِ امْرَأَتَه ﴾

د سړي خپلې ښځې ته د غسل ورکولو باب

﴿۱۰۵۶﴾ عَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَت رَجَعَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ البَقِيعِ فَوَجَدَنِي وَاَنَا اَجِدُ صُدَاعًا فِي رَأسِي وَاَنَا اَقُولُ وَارَاسَاه فَقَالَ بَل اَنَا يَا عَائِشَةَ وَارَاسَاه ثُمَّ قَالَ مَا ضَرَّكِ لَو مِتِّ قَبلِي فَقُمْتُ عَلَيكِ فَغَسَلتُكِ وَكَفَّنتُكِ وَصَلَّيتُ عَلَيكِ وَدَفَنتُكِ رواه ابن ماجه وآخرون قَالَ النِيمَوِي قَولُه فَغَسَلتُكِ غَيرُ مَحفُوظٍ.(۱)

ترجمه : حضرت عائشې رضي الله عنها ويلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جنت البقيع نه واپس تشريف راوړو نو زه ئې په داسي حال کې ومندلم چې ځما په سر کې درد ؤ نو ما به ويل چې وارأساه يعني اي ځما سره نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل بلکه زه اي عائشې ولي زما سره تاته څه ضرر او نقصان دي که چرته مړه شوي ته ځما نه مخکې نو زه به پاڅم تاته به غسل درکړم زه به تاته کفن درکړم او مونځ د جنازې به درباندې وکړم او هغه به دي کړم. د دي حديث روايت ابن ماجه او نورو محدثينو کړي دي.

نيموي رحمه الله ويلي دي چې دا قول چې (فغسلتك) دي غير محفوظ دي.

﴿۱۰۵۷﴾ وَعَن اَسمَاءَ بِنتِ عُمَيسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَت لَمَّا مَاتَت فَاطِمَة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا غَسَلتُهَا وَعَلِي بنُ اَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رواه البيهقي في المعرفة واسناده حسن.(۲)

ترجمه: حضرت اسماء بنت عُميس رضي الله عنها ويلي دي چې کله مړه شوه فاطمه رضي الله عنها غسل ورکړ ما او حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه. د دي حديث روايت بيهقي کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

---

(۱) ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز صـ ۱۰۷ باب ماجاء في غسل الرجل امرأته ...الخ.

(۲) معرفة السنن والآثار كتاب الجنائز ج ۵ صـ ۲۳۱ رقم الحديث ۷۳۵۹ و ۷۳۶۱ سنن الكبرى للبيهقي كتاب الجنائز ج۳ صـ ۳۹۷ باب الرجل يغسل امرأته اذا ماتت.

Maktaba Tul Ishaat.com

آيا خاوند بنځې ته غسل ورکولې شي ؟

قال عبدالرحمٰن الجزيري رَحِمَهُ اللّٰهُ في مؤلفه كتاب الفقه علي المذاهب الاربعة : لا يحل للرجال تغسيل النساء وبالعكس الا الزوجين الخ . يعني معني دا چه نه دي حلال سړو لره چه غسل ورکړي بنځو ته او نه دي حلال بنځو ته چه غسل ورکړي سړو ته خو ولي زوجينو ته حلال دي چه هر يو د دوي دواړو نه يو بل ته غسل ورکړي مګر که بنځه مطلقه وي اګر که په رجعي طلاق سره طلاقه شوي وي نو په دغه وخت کې حلال نه دي چه يو د زوجينو بل ته غسل ورکړي او دا حکم د شوافعو او مالکيه وُ ترمنځ متفق عليه حکم دي .

او احنافو ويلي دي چه کله بنځه مړه شي نو خاوند ته جائز نه دي چه بنځي ته غسل ورکړي او دا ځکه چه د نکاح ملکيت ئې ختم شوي دي او د خپلې بنځي نه پردي او اجنبي شوي دي .

او که چرته خاوند مړ شي نو بنځي ته جائز دي چه خپل خاوند ته غسل ورکړي ځکه چه دا بنځه د خاوند په عدت کې ده او د بنځي په باره کې د خاوند زوجيت د مرګ نه روسته باقي دي اګر چه په رجعي طلاق سره طلاقه شوي وي او که چرته په بائن طلاق طلاقه شوي وي نو بنځي ته جائز نه دي چه خپل خاوند ته غسل ورکړي اګر چه په عدت کې ئې وي . (۱)

او حنابله وُ هم ويلي دي چه په رجعي طلاق سره طلاقي شوي بنځي ته جائز دي چه خپل خاوند ته غسل ورکړي او کومه بنځه چه په بائن طلاق طلاقه شوي وي هغې ته جائز نه دي چه خپل خاوند ته غسل ورکړي . انتهى

د شوافعو دليلونه : د شوافعو حضراتو مستدل د دي باب (۱۰۵۶) حديث دي چه حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ئي روايت کړي دي چه رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عائشي رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ته وفرمايل چه تاته څه نقصان او ضرر دي که چرته ته ځما نه مخکې مړه شوي نو زه به تاته غسل درکړم الخ . او همدغسي د دي باب (۱۰۵۷) حديث هم د دوي د پاره مستدل دي کوم چه د حضرت اسماء بنت عُميس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا نه ئي روايت شوي دي ويلي دي چه کله حضرت فاطمه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا وفات شوه نو ما او حضرت علي ابن ابي طالب رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ورته غسل ورکړ .

احنافو حضراتو په جواب کې ويلي دي چه د نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د نکاح عصمت په موت او مرګ سره نه منقطع کيږي لکه چه د بخاري شريف په ج۱ ص ۵۳۲ کې راغلي دي چه (عن الحكم سمعت

---

(۱) الفقه على المذاهب الاربعة ج ۱ ص ۵۰۴ .

Maktaba Tul Ishaat.com

اړاوائل الخ) ابوائل ويلي دي چه کله حضرت علي رضي الله عنه حضرت عمار او حضرت حسن رضي الله عنهما کوفي ته وليږل چه د دوي نه د جمل د جنګ د پاره د راوتلو طلب وکړي تر څو د حضرت علي رضي الله عنه سره نصرت وکړي کوم جنګ چه د حضرت علي رضي الله عنه او د حضرت عائشي رضي الله عنها تر منځ په بصره کې واقع شوي وُ حضرت عمار رضي الله عنه خطبه ولوسته نو وي ويل چه بي شکه خامخا زه ښه پوه يم چه حضرت عائشه رضي الله عنها په دنيا او اخرت کې د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم زوجه او بي بي ده خو ولي الله جل شانه ستاسي امتحان اخلي د دي د پاره چه تاسي د حضرت علي رضي الله عنه تابعداري کوئ او که حضرت عائشي رضي الله عنها تابه داري کوئ.

نو کله چه خبره داسي ده چه د نبي کريم صلى الله عليه وسلم او د ازواجو مطهراتو او د حضرت علي رضي الله عنه او د حضرت فاطمي رضي الله عنها تر منځ په وفات سره د نکاح عصمت نه باطليږي نو غسل د هغه چا چه د مړي عورت ته کتل ورته حلال وي اولي او بهتر دي د غسل د بل چانه نو حضرت فاطمي رضي الله عنها ته د دي وجهي نه حضرت علي رضي الله عنه غسل ورکړي دي چه حضرت فاطمه رضي الله عنها هم په دنيا او اخرت کې د حضرت علي رضي الله عنه زوجه او بي بي ده او په وفات سره ئي د نکاح عصمت نه باطليږي .

شوافعو حضراتو په دي باندي تمسک کړي دي او ويلي ئي دي چه ښځي ته خاوند غسل ورکولي شي او نوري ښځي ئي په ازواجو مطهراتو د نبي اکرم صلى الله عليه وسلم او په حضرت فاطمي رضي الله عنها باندي قياس کړي دي.

احناف حضرات وائي چه دا قياس قياس مع الفارق دي دا ځکه چه د ازواجو مطهراتو په وفات باندي د نکاح عصمت نه باطليږي او نه ختميږي او د دوي نه په غير د نورو ښځو د نکاح عصمت په مرګ سره باطليږي او ختميږي . نو د دي وجهي نه د نورو ښځو حکم د دوي نه جدا دي .

پورتني تحقيق او تشريح د ابن ماجه په صـ ۱۰۷ کې په نمبر ۱ حاشيه کې د نجاح په حواله ذکر شوي دي. (۱).

(۱) ابن ماجه صـ ۱۰۷، حاشيه نمبر ۱.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ غُسلِ المَرأَةِ لِزَوجِهَا﴾
باب د غسل د ښځې دي خپل خاوند ته

﴿۱۰۵۸﴾ عَن عَبدِاللهِ بنِ اَبِي بَكرٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّ اَسمَاءَ بِنتَ عُمَيسٍ امرَأَةَ اَبِي بَكرٍ الصِّدِّيقِ غَسَلَت اَبَابَكرٍ الصِّدِّيقَ حِينَ تُوُفِّيَ ثُمَّ خَرَجَت فَسَأَلَت مَن حَضَرَهَا مِنَ المُهَاجِرِينَ فَقَالَت اِنِّي صَائِمَةٌ وَاِنَّ هٰذَا يَومٌ شَدِيدُ البَردِ فَهَل عَلَيَّ مِن غُسلٍ فَقَالُوا لَا رواه مالك واسناده مرسل قوي.(۱)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن ابي بكر ن الصديق رَضِيَ اللهُ عَنهُ نه روايت دي چې اسماء د عُميس لور رَضِيَ اللهُ عَنهَا حضرت ابوبكر الصديق رَضِيَ اللهُ عَنهُ ته غسل وركړي وُ كله چې هغه وفات كړي شو بيا هغه راوُوته نو پوښتنه ئې وكړه د هغه چانه چې حاضر شوي وُ د مهاجرينو نه نو وي ويل چې بي شكه زه روژه يم او دا ورځ ده سخته د يخنئ نو آيا په ما باندې غسل شته نو صحابه كرامو وويل چې نه. د دي حديث روايت مالك كړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي.

مسئلة الباب :دا خبره متفقه ده چې ښځه خپل متوفى خاوند ته غسل وركولې شي (رحمة الامة، ص :٦٧) اول خو ددې په باره كې دصحابه كرامو عمل موجود دې ، ثانيا ددې دپاره هم چې په عدت كې في الجمله نكاح باقي وي دابوداود شريف په روايت كې دي چې مور بي بي حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها فرمايي چې كومه خبره ماته وروسته معلومه شوه كه دمخكې نه معلومه وي نو بيا به حضور صلى الله عليه وسلم ته غسل ددوي بيبيانو وركولې نه صحابو ، شارحينو ددې مطلب دا ليكلې دى چې ددښه مراد دنكاح تعلق باقي پاتې كيدل دي دعدت په موده كې. (الدر المنضود :۲۲۳/۵)

﴿بَابُ التَّكفِينِ فِي الثِّيَابِ البِيضِ﴾
په سپينو جامو كې د كفن ور كولو باب

﴿۱۰۵۹﴾ عَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ اَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَالَ اِلبَسُوا مِن ثِيَابِكُمُ البَيَاضَ فَاِنَّهَا مِن خَيرِ ثِيَابِكُم وَكَفِّنُوا فِيهَا مَوتَاكُم رواه الخمسة الا النسائي وصححه الترمذي وآخرون.(۲)

---

(۱) مؤطا امام مالك كتاب الجنائز صـ ۲۰۴ باب غسل الميت .

(۲) ترمذي ابواب الجنائز ج۱صـ ۱۹۳ باب ماجاء ما يستحب من الاكفان ، ابوداؤد كتاب اللباس ج۲صـ ۲۰۶ باب في البياض ، ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز صـ ۱۰۷ باب ماجاء ما يستحب من الكفن ، مسند احمد ج۱صـ۲۴۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي واغوندئ د جامو سپينو خپلو نه پس په تحقيق جامي سپيني ستاسي د پاره بهترې جامي دي او كفن وركړي په دي سپينو جامو كې مړو خپلو ته . د دي حديث روايت د نسائي نه په غير پنځو محدثينو كړي دي او ترمذي او نورو صحيح ګرځولي دي .

﴿۱۰۶۰﴾ وَعَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلْبِسُوا ثِيَابَ الْبِيَاضِ فَاِنَّهَا اَطْهَرُ وَاَطْيَبُ وَكَفِّنُوا فِيْهَا مَوْتَاكُمْ رواه احمد والنسائي والترمذي والحاكم وصححاه.(۱)

ترجمه : حضرت سمره ابن جندب رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې واغوندئ جامي سپيني پس دا ستاسي د پاره پاكيزه او بهتري جامي دي او كفن وركړئ په دي كې مړو خپلو ته . د دي حديث روايت احمد او نسائي ترمذي او حاكم كړي دي او ترمذي او حاكم صحيح ګرځولي دي .

مسئلة الباب : فقهاء كفن لپاره سپيني كپړې لره مستحب ګرځوي . ((رحمة الامة ، ص:۶۹)

﴿بَابُ التَّحسِينِ فِي الكَفْنِ﴾

باب په ښه والي د كفن كې دي

﴿۱۰۶۱﴾ عن جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا كَفَّنَ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ فَلْيُحَسِّنْ كَفَنَهُ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي كله چې كفن وركوي يو ستاسي نه خپل ورور ته نو ښه كفن دي وركړي . د دي حديث روايت مسلم كړي دي .

﴿۱۰۶۲﴾ وعن اَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا وَلِيَ اَحَدُكُمْ اَخَاهُ فَلْيُحَسِّنْ كَفَنَهُ رواه ابن ماجة والترمذي وحسنه.(۳)

---

(۱) مسند احمد ج ۵ ص ۱۰ ، نسائي كتاب الجنائز ج۱ ص ۲۶۸ باب الامر بتحسين الكفن ، مستدرك حاكم كتاب الجنائز ص ۳۵۴ باب الكفن في ابيض الخ .

(۲) مسلم كتاب الجنائز ج۱ ص ۳۰۶ فصل في كفن الميت في ثلاثة ثواب ....الخ .

(۳) ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز ج۱ ص ۱۰۷ باب ماجاء ما يستحب من الكفن ، ترمذي ابواب الجنائز ج۱ ص ۱۹۴ باب ماجاء ما يستحب من الاكفان .

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : حضرت ابو قتاده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي کله چې ولي کړي شي يو ستاسي د ورور خپل نوښه کفن دي ورکړي شي . د دي حديث روايت ابن ماجه او ترمذي کړي دي او حسن ئې ګڼلي دي.

﴿ بَابُ تَكْفِينِ الرَّجُلِ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ ﴾
سړي ته په دريۅ جامو کې د کفن ور کولو باب

﴿۱۰۶۳﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُفِّنَ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ بِيضٍ سُحُولِيةٍ لَيْسَ فِيهَا قَمِيصٌ وَلَا عَمَامَةٌ رواه الجماعة.(۱)

ترجمه : د حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته کفن ورکړي شوي ۅ په دريۅ سپينو جامو کې چې نه ۅ په هغې کې قميص او نه پګړئ . د دي حديث روايت محدثينو يو جماعت کړي دي.

﴿۱۰۶۴﴾ وَعَنْ أَبِي سَلَمَةَ أَنَّهُ قَالَ سَأَلْتُ عَائِشَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُلْتُ لَهَا فِي كَمْ كُفِّنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ سُحُولِيةٍ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : ابوسلمه ويلي دي چې ما حضرت عائشې رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه چې د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارکه بي بي ده پوښتنه کړي وه ما هغې ته ويلي ۅ چې په څو جامو کې کفن ورکړي شوي ۅ رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته نو هغې وويل چې په دري ۅ جامو . د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۱۰۶۵﴾ وعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ لَمَّا ثَقُلَ أَبُو بَكْرٍ قَالَ أَيُّ يَوْمٍ هٰذَا قُلْنَا يَوْمُ الِاثْنَيْنِ قَالَ فَأَيُّ يَوْمٍ قُبِضَ فِيهِ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قُلْنَا قُبِضَ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ قَالَ فَإِنِّي أَرْجُو مَا بَيْنِي وَابَيْنَ اللَّيْلَ قَالَتْ وَكَانَ عَلَيْهِ ثَوْبٌ فِيهِ رَدْعٌ مِنْ مَشْقٍ فَقَالَ إِذَا أَنَا مِتُّ فَاغْسِلُوا ثَوْبِي هٰذَا وَضُمُّوا إِلَيْهِ ثَوْبَيْنِ جَدِيدَيْنِ فَكَفِّنُونِي فِي ثَلَاثَةِ أَثْوَابٍ فَقُلْنَا أَفَلَا نَجْعَلُهَا جُدُدًا كُلَّهَا قَالَتْ فَقَالَ لَا إِنَّمَا هُوَ لِلْمَهْلَةِ قَالَتْ فَمَاتَ لَيْلَةَ

---

(۱) بخاري كتاب الجنائز ج۱صـ ۱۶۹ باب الكفن بلاعمامة ، مسلم كتاب الجنائز صـ ۳۰۵ فصل في كفن الميت في ثلاثة الثواب ...الخ ، ترمذي ابواب الجنائز ج۱صـ ۱۹۵ ، باب ماجاء في كم كفن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، ابوداود كتاب الجنائز ج۲صـ۹۳ باب في الكفن ، نسائي كتاب الجنائز ج۱صـ ۲۴۸ باب كفن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز صـ ۱۰۷ باب ماجاء في كفن النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ، مسند احمد ج ۶ صـ ۱۶۵.

۲ صـ كتاب الجنائز ج۱صـ ۳۰۶ فصل في كفن الميت في ثلاثة الثواب .

Maktaba Tul Ishaat.com

الثُّلاثَةِ رواه احمد والبخاري وقال رَدِعٌ مِن زَعفرانَ.(۱)

ترجمه : حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي كله چې ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ناروغه شو وي ويل دا كومه رڼا ده نومونږوويل چې د ګل ورځ ده وي ويل په كومه ورځ كې وفات شوي ؤ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونږ وويل د ګل په ورځ وفات كړي شوي ؤ وي ويل چې زه هم د دي وخت نه تر شپې پوري اميد كوم هغې ويلي دي چې په ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې جامه وه چې په دې كې د سور رنګ نهي نشاني وي ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې كله زه مړ شم نو ځما دا جامي ووينځئ او يو ځاي كړئ د دي سره دوي نوي جامي نو ماته په دي دريؤ جامو كې كفن راكړئ نو مونږ ووېل چې دا ټولي نوي كڅوړه عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي نو هغه ووېل چې نه دا د الائش د پاره دي حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي چې وفات شو ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د سه شنبې په شپه. د دي حديث روايت احمد او بخاري كړي دي او بخاري ويلي دي چې ردع د زعفران نشان ؤ.

مسئلة الباب : دائمه اربعو دې امر باندې اتفاق دې چې سړې په دريو كپړو كې كفن كول سنت دي، البته دامام ابو حنيفه رحمه الله په نزد دا دري كپړې ازار، رداء، او قميص دې ليكن دائمه ثلاثه رحمهم الله په نزد دري واړه لفافي. (رحمة الامة، ص: ۶۹)

﴿باب تكفين المَرأة في خَمسَة أثواب﴾

باب د كفن ورکولو دي ښځي ته په پنځو جامو كې

﴿۱۰۶۶﴾ عَن لَيلى بِنتِ قَانِفٍ الثَّقفِية رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَت كنتُ فِيمَن غَسَلَ اُمَّ كلثُومٍ اَبنَةَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عِندَ وَفَاتِها فَكَانَ اَوَّلُ مَا اَعطَانِي رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَلحِقَاءَ ثُمَّ الدِّرعَ ثُمَّ الخِمَارَ ثُمَّ المِلحَفَةَ ثُمَّ اُدرِجَت بَعدُ فِي الثَّوبِ الآخِرِ قَالَت وَرَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ جَالِسٌ عِندَ البَابِ مَعَه كَفنُهَا يُنَاوِلُنَاهَا ثَوبًا ثَوبًا رواه ابوداود وفي اسناده مقال.(۲)

ترجمه : ليلي بنت قانف ثقفيه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ويلي دي چې زه په هغه كسانو كې وم چې غسل ئې وركاوه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مبارکي لور ام كلثوم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ته په وخت د وفات د دي كې نو اول هغه څه چې راكړي ؤ ماته رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ازار ؤ بيا قميص ؤ بيا پورني ؤ بيا څادر ؤ بيا تنويستلي شوه په

---

(۱) مسند احمد ج ۶ ص ۴۵ بخاري كتاب الجنائز ج۱ص ۱۸۶ باب موت يوم الاثنين.

(۲) ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲ص ۹۴ باب في كفن المرأة.

Maktaba Tul Ishaat.com

بله جامه کې لیلي ویلي دي چې او رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ناست وُ د دروازي سره او د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره د ام کلثوم رَضِيَ اللهُ عَنْهَا کفن وُ راکوله به ئې هغه مونږ ته یوه یوه جامه . د دي حدیث روایت ابوداود کړي دي او په اسناد کې ئې خبري دي .

دښځې کفن :دجمهورو په نزد دښځې سنت کفن پینځه کپړې دي .هغه پینځه دامام شافعي او احمد په نزد دادي :ازار ،قمیص ،لوپټه ،لفافه ،یوبله کپړه ده چې دهغې سره پتونانو لره پټولي شي . زمونږه فقهاؤ ددې پینځو کپړو نه داسي تعبیر کړي دي ،ازار ،قمیص ،لفافه ،دوپټه (سربند)خرقه (سینه بند) چې دهغې په ذریعې سره ددې سینې پټولي شي خمار چې په هغې سرپټو لي شي اوبیا ددې په ذریعې سره وینښتو لره پټولي کیږي چې په سینه باندې پراته وي .

ترتیب ئې دغه شان لیکلي دي چې اول دي په تخته باندې لفافه خوره کړي شي بیاددې دپاسه ازار، ددې دپاسه خرقه، ددې دپاسه خمار اودپټولودپاسه قمیص اول به قمیص وروا چولي شي چې دنستورو واله نه وي ددې نه پس به په لوپټې سرپټولي شي اوپه سینه چې کوم ویښتان وي هغه به پټ کړي شي،ددې نه پس به په خرقه سره سینه پټولي شي بیا ددې نه پس به ازار په دي وروا چولي شي اول به په ګس طرف وروا چولي شي اوبیا ددې نه پس به په بني طرف وروا چولي شي ددې دپاره چې بني اړخ دپاسه پاتې شي بیاددې نه پس همدغه شان لفافه وروا چولي شي ((رحمة الامة ،ص ۶۹ .البحر الرائق :۲\۱۷۶ ،والد ر المنضود :۵\۲۴۰)

﴿باب مَاجاءَ فِي الصَّلوة عَلَى المَيتِ﴾

باب په باره د هغه روایتونو کې دي چې راغلي په باره د مانځه کې په مړي باندې

﴿۱۰۶۷﴾ عَن اَبِي هرَيرَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَن شَهِدَ الجَنَازَة حَتّٰى يصَلِّي فَلَه قِيرَاطٌ وَمَن شَهِدَ حَتّٰى تُدفَنَ كَانَ لَه قِيرَاطَانِ قِيل وَمَاالقِيرَاطَانِ قَالَ مِثلُ الجَبَلَينِ العَظِيمَينِ رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت ابوهریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایلي دي څوک چې حاضر شي جنازي ته تر هغې پوري چې مونځ وکړي نو ده د پاره د یو قیراط ثواب دي او څوک چې حاضر شي تر هغې پوري چې هغ کړي شي نو د ده د پاره د دوه قیراطه اجر دي د هغه نه پوښتنه وکړي شوه چې دوه قیراطه څومره شئ دي وي فرمایل چې په شان د دوه وُ غرونو لویو . د دي حدیث

(۱) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص ۱۷۷ باب من انتظر حتى يدفن ، مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۰۷ فصل حصول ثواب القيراط ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

روايت شيخينو كړي دي.

﴿۱۰۶۸﴾ وعَن عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا عنِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَامِن مَيتٍ تُصَلِّي عَلَيه أُمَّة مِنَ المُسلِمِينَ يبلُغُونَ مِائَة كُلُّهم يشفَعُونَ لَه إِلَّا شَفِّعُوا فِيه رواه مسلم.(۱)

ترجمه : د حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې نشته داسي يو مړي چې مونځ وكړي په هغې باندې د مسلمانانو يوه ډله چې رسيږي دوي سلو كسانو ته او هغوي ټول د ده د پاره شفاعت غواړي مگر خو قبول به كړي شي شفاعت د دوي د ده په باره كې. د دي حديث روايت مسلم كړي دي.

﴿۱۰۶۹﴾ وعَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعتُ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يقُولُ مَا مِن رَجُلٍ مُسلِمٍ يمُوتُ فَيقُومُ عَلَى جَنَازَتِه أَربَعُونَ رَجُلاً لَا يشرِكُونَ بِالله شَيئًا إِلَّا شَفَّعَهُمُ الله فِيه رواه احمد ومسلم وابوداود.(۲)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ما رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي وُ چې فرمايل ئي نشته يو سړي مسلمان چې مړ شي پس وُ درېږي په جنازه د ده باندې څلويښت سړي چې شرك ئي نه وي كړي الله جل شانه سره د يو شئ مگر خو قبول به كړي الله جل شانه شفاعت د دوي د ده په باره كې. د دي حديث روايت احمد او مسلم او ابوداوُد كړي دي.

﴿۱۰۷۰﴾ وعَن أَبِي سَلَمَة بنِ عَبدِالرَّحمٰنِ أَنَّ عَائِشَة رَضِيَ اللهُ عَنْهَا لَمَّا تُوُفِّي سَعدُ بنُ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَت أَدخُلُوا بِه المَسجِدَ حَتّٰى أُصَلِّي عَلَيه فَأَنكَرَ ذٰلِك عَلَيها فَقَالَت وَالله لَقَد صَلّٰى رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلٰى إِبنَي بَيضَاءَ فِي المَسجِدِ سُهيل وَأَخيه رواه مسلم.(۳)

ترجمه : د ابي سلمه بن عبدالرحمن نه روايت دي چې حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې كله سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفات شو ويلوُ چې راننه باسئ هغه مسجد ته د دي د پاره چې زه هم په دي باندې جنازه وكړم نو بدوگانه صحابه وُ دا په هغې باندې نو حضرت عائشي رَضِيَ اللهُ عَنْهَا وويل چې قسم دي په تحقيق مونځ كړي وُ رسول اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دوه وُ ځامنو د بيضاء باندې په مسجد كې چې

---

(۱) مسلم كتاب الجنائز ج۱ــ ۳۰۸ فصل في قبول شفاعة الاربعين.

(۲) مسند احمد ج۱ــ ۲۷۷ ، مسلم كتاب الجنائز ج۱ــ ۳۰۸ فصل في قبول شفاعة الاربعين ، ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲ــ ۹۶ باب فضل الصلوة على الجنائز.

(۳) مسلم كتاب الجنائز ج۱ــ ۳۱۳ فصل في جواز الصلوة على الميت في المسجد.

Maktaba Tul Ishaat.com

سُهيل او د ده ورور دي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۱۰۷۱﴾ وعن أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ فِي الْمَسْجِدِ فَلَيْسَ لَهُ شَيْءٌ رواه ابن ماجة وابوداود واسناده حسن.(۱)

ترجمه : حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ويلي چې رسول اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چې چا مونځ وکړ په جنازه باندي په مسجد کې نو د ده د پاره هيڅ ثواب نشته. د دي حديث روايت ابن ماجه او ابوداؤد کړي دي او اسناد ئې حسن دي.

﴿۱۰۷۲﴾ وَعنه أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَعَى النَّجَاشِيَ فِي الْيَوْمِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ وَخَرَجَ بِهِمْ إِلَى الْمُصَلَّى فَصَفَّ بِهِمْ وَكَبَّرَ عَلَيْهِ أَرْبَعَ تَكْبِيرَاتٍ رواه الجماعة.(۲)

ترجمه : او د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي چې په تحقيق رسول اکرم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خبر ورکړي وُ د نجاشي بادشاه د مرګ په هغه ورځ کې چې وفات شوي وُ په هغې کې او تشريف ئې راوړي وُ د صحابه کرامو سره عيدګاه ته نو د صحابه کرامو سره ئې صف جوړ کړ او په هغه باندي په جنازه کې څلور تکبيرونه وويل. د دي حديث روايت د محدثينو يو جماعت کړي دي.

﴿۱۰۷۳﴾ وَعَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى أَصْحَمَةَ النَّجَاشِيِّ فَكَبَّرَ أَرْبَعًا رواه الشيخان.(۳)

ترجمه : د حضرت جابر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ د جنازې کړي وُ په اصحمه نجاشي باندي نو څلور تکبيرونه ئې ويلي وُ. د دي حديث روايت شيخينو کړي دي.

﴿۱۰۷۴﴾ وَعَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ يَقُولُ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ وَارْحَمْهُ وَاعْفُ عَنْهُ وَعَافِهِ وَأَكْرِمْ نُزُلَهُ وَوَسِّعْ مَدْخَلَهُ وَاغْسِلْهُ بِمَاءٍ وَثَلْجٍ

---

(۱) ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز صـ ۱۱۰ باب ماجاء في الصلوة على الجنائز في المسجد ، ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲صـ ۹۸ باب الصلوة على الجنازة في المسجد .

(۲) بخاري كتاب الجنائز ج۱صـ ۱۷۷ ، مسلم كتاب الجنائز ج۱صـ ۳۰۹ فصل في النعي للناس الميت . ترمذي ابواب الجنائز ج۱صـ ۱۹۸ باب ماجاء في التكبير على الجنازة ، ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲صـ ۱۰۱ باب الصلوة على المسلم يموت في بلاد الشرك ، نسائي كتاب الجنائز ج۱صـ ۲۸۰ باب عدد التكبير على الجنازة ، ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائز صـ ۱۱۱ باب ماجاء في الصلوة على النجاشي ، مسند احمد ج۲صـ ۵۲۹ .

(۳) بخاري كتاب الجنائز ج۱صـ ۱۷۸ باب التكبير على الجنازة اربعًا ، مسلم كتاب الجنائز ج۱صـ ۳۰۹ فصل في التكبير على الميت اربعًا .

Maktaba Tul Ishaat.com

وَبَرِدِ وَنَقِّهِ مِنَ الْخَطَايَا كَمَا يُنَقَّى الثَّوْبُ الْأَبْيَضُ مِنَ الدَّنَسِ وَأَبْدِلْهُ دَارًا خَيْرًا مِنْ دَارِهِ وَأَهْلًا خَيْرًا مِنْ أَهْلِهِ وَزَوْجًا خَيْرًا مِنْ زَوْجِهِ وَقِهِ فِتْنَةَ الْقَبْرِ وَعَذَابَ النَّارِ قَالَ عَوْفٌ فَتَمَنَّيْتُ أَنْ لَوْ كُنْتُ أَنَا الْمَيِّتَ لِدُعَاءِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى ذٰلِكَ الْمَيِّتِ رواه مسلم.(۱)

ترجمه : حضرت عوف بن مالک اشجعي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې ماد نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي وُ په داسي حال کې چې مونځ ئې کاوه په يوه جنازه باندي فرمايل ئې اي الله ده ته بخښنه وکړي او په ده رحم وکړي او ده ته عفوه او معافات ورعطا کړي او ده ښه ملمستيا وکړي او د ده د ورننوتو ځاي (قبر) پراخه کړي او وينځي ده لره په اوبو واوره او يخ باندي صفا کړي ده لره د ګناهونو نه لکه چې پاکولي شي جامه سپينه د خيري نه او بدل کړه ده لره کور بهتر د کور د ده نه او اهل بهتر د اهل د ده نه او ښځه بهتره د ښځي د ده نه او وُساته ده لره د ازمائش او عذاب د قبر نه او د اور د عذاب نه او عوف رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي وُ چې ما اميد او ارزو وکړه چې کاش چې وي زه هم زه دا مړي د وجهې د دعاء د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دي مړي ته. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۱۰۷۵﴾ وعن أَبِي إِبْرَاهِيمَ الْأَنْصَارِيِّ عَنْ أَبِيهِ أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الْمَيِّتِ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا رواه النسائي والترمذي وقال حديث حسن صحيح.(۲)

ترجمه : ابوابراهيم انصاري د خپل پلار نه بيان کړي چې ده د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه اوريدلي وُ چې فرمايل ئې په مانځه کې په مړي باندي (اللهم اغفر لحينا الحديث) : اي الله بخښنه وکړي ژوندو زمونږ ته او مړو زمونږ ته او حاضرو زمونږ ته او غائبو زمونږ نارينه وُ زمونږ ښځو زمونږ ته او وړو زمونږ ته اولويو زمونږ ته. د دي حديث روايت نسائي او ترمذي کړي دي او ويلي ئې دي چې حديث حسن صحيح دي.

﴿۱۰۷۶﴾ وعن ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا صَلّٰى عَلَى الْمَيِّتِ قَالَ اللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا وَلِأَنَّا وَلِذُكُورِنَا مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ اَللّٰهُمَّ عَفْوَكَ عَفْوَكَ رواه الطبراني في الكبير والاوسط وقال الهيثمي

---

(۱) مسلم كتاب الجنائز ج۱ ص ۳۱۱ فصل في الدعاء للميت.

(۲) نسائي كتاب الجنائز ج۱ ص ۲۸۱ باب الدعاء، ترمذي ابواب الجنائز ج۱ ص ۱۹۸ باب ما يقول في الصلوة على الميت

Maktaba Tul Ishaat.com

اسنادہ حسن.[1]

ترجمه : د حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې كله په جنازه مونځ كاوه . دا دعا به ئې ويله :**اللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا وغائبنا ولا تاكنا وَلِذُكورِنَا مَن أحييتَه مِنَّا فَأَحيه عَلَى الإسلامِ وَمن توفيتَه مِنَّافتوفَّه على الإيمانِ اَللّٰهُمَّ عَفوَك عَفوَك** رواه الطبراني في الكبير و الاوسط وقال الهيثمي اسنادہ حسن.يعني : اي الله بخښنه وكړي ژوندو ژمونږ ته او مړو ژمونږ ته حاضرو ژمونږ ته او غائبو ژمونږ ته او ښځو ژمونږ ته او نارينه ؤ ژمونږ ته ځوک چې ژوندي كوي هغه لره ژمونږ نه نو ژوندي ئې كړه په اسلام باندي او ځوک وفات كوي هغه لره نو وفات ئې كړه په ايمان باندي اي الله غواړو مغفرت ستا عفوه ستا.

دجنازي دمونځ يو ځو مسئلي :

اولنی مسئله :بالاتفاق دجنازي مونځ فرض كفايه دي .(البحر الرائق :۲ \ ۱۷۹)

په حديث كي ددي ډير فضيلت راغلي دي .داسي خو دقيراط مقدار لغةً نيم دانق دي .دانق ديو درهم شپږمي حصي ته ويلې شي لهذا يو قيراط ددرهم دولسمه حصه شوه .ليكن داجر اوثواب په باب كي ددي څه نوري معني وي ځكه دصحابه كرامو په پوښتنه كولو باندي ارشاد وشو چې دقيراط نه مراد دنيكيو غر دي.

دويمه مسئله : دباب دوويم حديث مطابق چې دكوم كس دجنازي دمونځ لوستلو والا شميره سلو ته ورسيږي نو دهغه دا شفاعت دالله تعالى په نزد قبليږي .اوددي نه مخكې روايت كي دځلوېښتو ذكر دي .دغه شان په بعضي روايا تو كي ددريو صفونو ذكر دي چې په بعضي كې نه دسلو قيد شته اونه دځلوېښتو ددي شميري د اختلاف حل دادي چې دسوال كوونكو مختلف سوالونو كولو باندي محمول دي يعني ددي شميري حد ابتداء دنبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دطرف نه نه دي .(كما في التمهيد ۵\ ۲۵۰)

دريمه مسئله :بالاتفاق په جومات كي دننه دجنازي مونځ اداء كولو سره اداء كيږي .بياد شوافعو اوحنابلو په نزد دكراهت نه بغير جائز دي .البته امام شافعي بهر دجومات نه افضل مقرر كړي دي . د احنافو او موالكو په نزد جومات كي مكروه دي .ديو قول مطابق مكروه تحريمي اوديو قول

---

(۱) المعجم الكبير للطبراني ج۱۲ صـ ۱۳۳ برقم ۱۲۶۸۰ ، مجمع الزوائد كتاب الجنائز ج۳صـ ۳۳ باب الصلوة على الجنازة ، المعجم الاوسط للطبراني ج۲صـ ۸۱ برقم ۱۱۵۸

Maktaba Tul Ishaat.com

مطابق مکروه تنزیهي. بیا داحنافو په نزد کراهت دي ټولو صورتونو ته شامل دي (۱) مړي او مونځ کوونکي دواړه په جومات کي دننه وي. (۲) مړي دننه وي او مونځ کوونکي بهر وي. (۳) مونځ کوونکي دننه اومړي په طرف دقبلي دجومات نه بهر وي. (۴) مړي هم اوامام اوبه څو مونځ کوونکي دجومات نه بهر لیکن نور مونځ کوونکي په جومات کي دننه وي. (البحر الرائق ۱۸۶\۲ ـ ۱۸۷ رحمة الامة، ص: ۷۱)

دلیلونه :شوافعو اوحنابلو حدیث دعائشي نمبر ۱۰۷۰ نه استدلال کړې دي. چې په هغي کي دي چې نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسهیل بن بیضاء اودهغه دوررود جنازي مونځ په جومات کي فرمایلي وُ. حضرت عائشي رضی الله عنها ددي حدیث نه یي په جوازالصلاة الجنازة فی المسجد باندي استدلال کړې دي.

داحنافو اوموالکو استدلال:

حدیث دابو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نمبر ۱۰۷۱ نه دي چې په هغي کي دي: "من صلی علی جنازة فی المسجد فلیس له شیء" .په بل روایت کي دي فلا اجر له (حلی کبیر، ص: ۵۰۷ بحوالہ ابو داؤد، والنسائی) اوپه یو روایت کي دي فلا صلاة له .(البحر الرائق: ۱۸۷\۲ بحوالہ مسند طیالسی)

دحدیث عائشي رضی الله عنها تاویل اوتطبیق بین الحدیثین:

۱- په یوروایت کي دي: " فانکر الناس علیها" چې دکوم نه معلومیږي چې عام طور سره دصحابه کرامو په ذهنونو کي ددي کراهت وو آخر هغه ولي وو ؟ځکه حدیث دابی هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ راجح شو.

۲- دسهیل بن بیضاء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اوددې دورور واقعه جزئي ده اودمعمول خلاف، غالبا دځه عارض دوجي نه دامونځ په جومات کي لوستلي وو .ممکنه ده چې داعتکاف وغیره حالت وي ددي تائید ددینه کیږي چې دجنازي دمونځ دپاره دمسجد نبوي نه بهر باقاعده ځای مقرر وو اوهلته به دجنازي مونځ لوستلي کیدو اوحدیث دابی هریره دعمومي حالت حکم دي.

۳- یادزائد نه زائد حدیث دعائشي رضی الله عنها اواقعه دسهیل بن بیضاء دجواز دبیان دپاره ده چې دکراهت تنزیهي نفي کوونکي نه دي اوپه حدیث دابی هریره کي " لیس له شیء" او "لا صلاة له" کي دغي کراهت طرف ته اشاره شوي چې مونځ پوره نه دي. (حلی کبیر، ص ۵۰۷ الدرالمنضود: ۲۶۰\۵)

فائده :دالبحر الرائق په حاشیه کي علامه شامي دحرم شریف دخلکو عمل دمخکي نه دجنازي مونځ په جومات کي لیکلي دي لیکن دروایاتو حالتونه اودائمو مذهبونو تاسو کتلي شئ .والله تعالی اعلم .(البحر الرائق مع حاشیه منحة الخالق ۱۸۷\۲)

Maktaba Tul Ishaat.com

ځلور مه مسئله : دجنازي په مونځ کي د تکبيراتو په شمیره کي روایات مختلف دي .دصحابه کرامو آثار ددي په باره کي ددریونه واخله نهه پوري دي لیکن روستو بیا دصحیح احادیثو په بناء باندي په ځلورو باندي دفقهاؤ اوائمه اربعه اجماع مقرر کړې شوه.

پنځمه مسئله : ددریم تکبیرنه پس بالاتفاق دعالوستل دي .لیکن دعاګاني په احادیثو کي مختلف راغلي دي هیڅ یوه دعاخاص نه ده بلکه ټولې جائز دي .حدیث والا دعا ویل افضل دي که چرته چاته دایاده نه وي نو " اللهم اغفر للمؤمنين والمؤمنات" دې اولولي اودسلام نه پس دعا وغیره ونشته دي . (البحر الرائق :۲\۱۸۳)

فائده : په حدیث نمبر ۱۰۷۵ کي حضرت عوف بن مالک فرمایلي دي چې دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دادعا مي واوریدله نو ماداارمان اوکړو چې کاش داجنازه زماوي .دیر خوش قسمته حضراتو ته پس دمرګه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم دعا ملاؤشوي ده اودبعضي صحابه کرامو په قبر کي نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خپله ورکوزشوي دي لیکلي دي چې دحضرت ذوالبجادین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره دپینځو صحابه کرامو په قبر کي دنبي کریم صلی الله علیه وسلم کوزیدل ثابت دي . (الدرالمنضود :۲۴۶\۵)

﴿بَابٌ فِي تَرْكِ الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَاءِ﴾

باب دي په باره د پریښودل و د مانځه د جنازي کې په شهیدانو باندي

﴿۱۰۷۷﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَجْمَعُ بَيْنَ الرَّجُلَيْنِ مِنْ قَتْلَى أُحُدٍ فِي ثَوْبٍ وَاحِدٍ ثُمَّ يَقُولُ أَيُّهُمَا أَكْثَرُ أَخْذًا لِلْقُرْآنِ فَإِذَا أُشِيرَ لَهُ أَحَدُهُمَا قَدَّمَهُ فِي اللَّحْدِ وَقَالَ أَنَا شَهِيدٌ عَلٰى هٰؤُلَاءِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَأَمَرَ بِدَفْنِهِمْ فِي دِمَائِهِمْ وَلَمْ يُغَسَّلُوا وَلَمْ يُصَلَّ عَلَيْهِمْ رواه البخاري.(۱)

ترجمه : حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ویلي دي چې نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به جمع کول دوه کسان د شهداؤ د احد نه په جامه یوه کې بیا به ئې فرمایل چې کوم یو د دي دواړو نه زیات دي د حیثیته د قرآنکریم د یادولو نه نو کله به چې اشاره وشوه ده لره یو د دي دواړو ته مخکې کاوه به ئې هغه په لحد کې او فرمایل به ئې چې زه ګواه یم په دوي باندي په ورځ د قیامت کې او امر به ئې وفرمایه په هغولو د دوي سره په وینو خپلو کې او غسل به نه ؤ ورکړي شوي دوي ته او نه به مونځ د

(۱) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص ۱۷۹ باب القتلوة على الشهيد

Maktaba Tul Ishaat.com

جنازي شوي وُ په هغو باندي. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

دشهيد په جنازي به مونځ کولي شي يانه ؟

۱- دائمه ثلاثه (امام مالک ،شافعي ،احمد)په نزد به نه لوستلي کيږي.

۲- دامام ابو حنيفه ،صاحبينو او دجمهور تابعينو په نزد به لوستلي کيږي. (حلبی کبير ،ص ۵۱۹)

دائمه ثلاثه دليلونه :

۱- حديث دجابر رضی الله عنه "ولم يصل عليهم" يعني دعزوه احد شهيدانو دجنازي مونځ نه وولوستلي شوي.

۲- قال النبی صلی الله عليه وسلم: "السيف محاء للذنوب" دشهيد گناهونه معاف شو" والصلاة للمغفرة". (احمد ،دارمی)

۳- الله تعالی شهيدانو ته ژوندي ويلي دي او جنازه دمړي کيږي نه دژوندي.

دجمهورو تابعينو دليلونه :

۱- دمخکي باب اولني حديث چې په هغي کي داعرابی دشهادت نه پس لفظونه دي .فصلی يعنی نبي کريم صلی الله عليه وسلم دهغه شهيد دجنازي مونځ ولوستلو.

۲- حديث دابن عباس رضی الله عنه نمبر ۱۰۸۰ "فجعل يصلی عشرة عشرة" يعني نبي عليه السلام دشهيد دجنازي مونځ ولوستلو.

۳- حديث دعبد الله بن زبير رضی الله عنه نمبر ۱۰۸۱ چې ددي مطابق هم نبي کريم صلی الله عليه وسلم داحد شهيدانو دجنازي مونځ لوستلي وو .داحديث دصحابي مرسل روايت دي .حُکه حضرت عبد الله بن زبير رضی الله عنه په هغه وخت کي تقريبا دوه نيمو کالو وو ليکن سند قوي دي.

۴- حديث دابو مالک رضی الله عنه نمبر ۱۰۸۲ چې ددي مطابق هم داحد شهيدانو دجنازي مونځ لوستلي شوي داحديث دتابعی مرسل قوي دي.

۵- حديث دعقبه بن عامر رضی الله عنه "صلی علی اهل احد صلاته علی الميت" (بخاری شريف).

دائمه ثلاثه ددليلونو جوابونه :

۱- داحد په شهيدانو باندي دجنازي مونځ کولو والا روايت دومره ډير دي چې لامحاله په حديث جابر رضی الله عنه کي داتاويل کولي کيږي چې په وجه دپلار ،اوتره شهادت جابر رضی الله عنه ددوي دجدائي په غم کي وو دغه شان دپلار په دفن کيدو کي اودکور په نورو کارونو کي مشغول وو .چې کله نبي کريم صلی الله عليه وسلم داحد شهيدانو جنازه کوله نو جابر رضی الله عنه په هغه

Maktaba Tul Ishaat.com

وخت کې موجود نه وو بيادنبي کريم صلى الله عليه وسلم حکم وشو چې دې شهيدانو لره ددوي په وينو ګنده شوو کپړو سره خخ کړي .جابر رضى الله عنه په خخولو کې مصروفه شولهذا جابر رضى الله عنه چې کومه مشاهده کړې وه هغې لره يې بيان کړه .(بدائع الصنائع ۷۴۱۲) پس ددې نه صحابه کرامو په غزوه حمراءالاسد کې مشغوله شو داپه روایاتو کې تطبيق شو .

۲- صلاة على الميت نه مقصد دعادمغفرت نه ده بلکه ددرجاتو اوچت والې اودکرامت ظاهريدل هم دي ، همدغه وجه ده چې صرف د مسلمان د جنازي مونځ لوستلي کيږي دکافر نه لوستلي کيږي "والشهيد اولى بالاعزاء الكرامة" .(بدائع :۷۴۱۲ بتغير)

۳- شهيد په اخروي حکم کې ژوندي دي دالله تعالى ارشاد مبارک دې "بل احياء عند ربهم" (آل عمران ۱۶۹)په دنياوي حکم کې دنورو مړو په شان دي دده ميراث تقسيم کيږي دده نه پس دده دښځې سره نکاح تپهيک ده نواس دجنازي مونځ هم دنياوي حکم دي لهذا داحکم داخروي حکم منافي نه دي .(بدائع :۷۴۱۲)

﴿بَابُ فِي الصَّلٰوةِ عَلَى الشُّهَدَاءِ﴾

باب دي په باره د مانځه د جنازي کې به شهيدانو باندي

﴿۱۰۷۸﴾ عَنْ شَدَّادِ بْنِ الْهَادِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ رَجُلًا مِنَ الْاَعْرَابِ جَاءَ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاٰمَنَ بِهٖ وَاتَّبَعَهٗ ثُمَّ قَالَ اُهَاجِرُ مَعَكَ فَاَوْصٰى بِهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بَعْضَ اَصْحَابِهٖ فَلَمَّا كَانَتْ غَزْوَةٌ غَنَمَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ شَيْئًا فَقَسَمَ وَقَسَمَ لَهٗ فَاَعْطٰى اَصْحَابَهٗ مَا قَسَمَ لَهٗ وَكَانَ يَرْعٰى ظَهْرَهُمْ فَلَمَّا جَاءَ دَفَعُوْهُ اِلَيْهِ فَقَالَ مَا هٰذَا قَالُوْا قِسْمٌ قَسَمَهٗ لَكَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَاَخَذَهٗ فَجَاءَ بِهٖ اِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ مَا هٰذَا قَالَ قَسَمْتُهٗ لَكَ قَالَ مَا عَلٰى هٰذَا اتَّبَعْتُكَ وَلٰكِنِّيْ اتَّبَعْتُكَ عَلٰى اَنْ اُرْمٰى اِلٰى هٰهُنَا وَاَشَارَ اِلٰى حَلْقِهٖ بِسَهْمٍ فَاَمُوْتُ فَاَدْخُلُ الْجَنَّةَ فَقَالَ اِنْ تَصْدُقِ اللّٰهَ يَصْدُقْكَ فَلَبِثُوْا قَلِيْلًا ثُمَّ نَهَضُوْا فِيْ قِتَالِ الْعَدُوِّ فَاُتِيَ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَحْمِلُ قَدْ اَصَابَهٗ سَهْمٌ حَيْثُ اَشَارَ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَهُوَ هُوَ قَالُوْا لَعَمْ قَالَ صَدَقَ اللّٰهَ فَصَدَقَهٗ ثُمَّ كَفَّنَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِيْ جُبَّةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ قَدَّمَهٗ فَصَلّٰى عَلَيْهِ فَكَانَ مِمَّا ظَهَرَ مِنْ صَلٰوتِهٖ اَللّٰهُمَّ هٰذَا عَبْدُكَ خَرَجَ مُهَاجِرًا فِيْ سَبِيْلِكَ فَقُتِلَ شَهِيْدًا اَنَا شَهِيْدٌ عَلٰى

Maktaba Tul Ishaat.com

ذٰلك رواه النسائي والطحاوي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د حضرت شداد ابن الهاد رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دي چې بې شکه رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يو سړي د باندې چيانو نه راغي نو ايمان ئې راوړ په نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې او د هغه تابعداري ئې وکړه بيا ئې وويل چې زه تاسره هجرت کوم نو نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپلو ځينو اصحابو ته وصيت وفرمايه نو پس کله چې يوه غزوه وشوه نو نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د غنيمت مال حاصل شو نو هغه ئې تقسيم کړ او ده ته ئې هم حصه ورکړه نو ورئې کړه برخه د ده د ملګرو ته او ډهغه مسلمان سړي چې د صحابه ؤ نه روسته ئې د دوي حفاظت کاوه نو کله چې راغي نو ورکړه هغوي برخه د ده نو هغه ووېل چې دا څه شئ دي دوي ورته ووېل چې دا ستا د غنيمت برخه ده چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تاته مقرره کړي ده نو هغه واخسته او نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ئې راوړه نو وي ويل چې دا څه شئ دي هغه وفرمايل چې تاته مي په غنيمت کې برخه درکړي ده هغه ووېل چې ما په دي باندې ستا تابعداري نه ده کړې خو ولې ما ستا تابعداري په دي خبره کې کړې ده چې ؤ ويشتلي شم په دي ځاي باندې او اشاره ئې وکړه خپلې مرئ ته په غشي سره پس مړ شم نو چې داخل شم جنت ته نو هغه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل که چرې تا د الله جل شانه سره رښتيا ويلي وي نو رښتيني به کړي تا لره الله نو هغوي لږ شان وخت تير کړ بيا دوي ودريدل د دښمن په جنګ کې نو راوړې شو هغه نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چې راخستلي شوي ؤ په غشي لګيدلي ؤ کوم ځاي ته ئې چې اشاره کړې وه نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې آيا دا هغه دي نو صحابه ؤ ووېل هو نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل چې ده الله جل شانه ته رښتيا ويلي ؤ نو الله جل شانه هغه رښتني کړ بيا کفن ورکړ هغه ته نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په چوغه د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کې بيا ئې رامخکې کړ د جنازې مونځ ئې پرې وکړ او وُځيني الفاظ چې بنکاره شوي ؤ د مانځه د جنازې د رسول اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه : (**اللهم هذا عبدك خرج مهاجراً في سبيلك فقتل شهيد انا شهيد على ذلك**) اې الله دا ستا بنده دي ستا په لاره کې مهاجر راوتلي نو شهيد وژلي شوي دي او زه په دي باندې شاهد يم . د دي حديث روايت نسائي او طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۱۰۷۹﴾ وَعَنِ ابنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ أُتِيَ بِهِم رَسُولُ اللهِ يومَ أُحُدٍ فَجَعَلَ يصَلِّي عَشرَةً عَشرَةً وَحَمزَةُ هُوَ كَمَا هُوَ يرفَعُونَ وَهُوَ كَمَا هُوَ مَوضُوعٌ رواه ابن ماجة والطحاوي والطبراني والبيهقي وفي اسنادي

---

(۱) نسائي كتاب الجنائز ج۱ص ۲۷ / باب الصلوة علي الشهداء ، طحاوي كتاب الجنائز ج۱ص ۳۳۹ باب الصلوة علي الشهداء .

Maktaba Tul Ishaat.com

لين.[1]

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې راوړلي شوي ؤ شهداءداحدرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته د احد په ورځ نو شروع ئې کړي وه چې د جنازي مونځ وکړي په لسو لسو کسانو باندي او حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤ لکه څنګه چې ؤ د صحابه کرامو شهيدان به اوچتولي شو او حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به ؤ لکه څنګه چې ايښودل شوي ؤ هغه د دي حديث روايت ابن ماجه کړي طحاوي طبراني او بيهقي کړي دي او د دي په اسناد کې ضعف دي.

﴿۱۰۸۰﴾ وَعَنْ عَبْدِاللهِ بنِ الزُّبَيرِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَمَرَ يومَ اُحُدٍبِحَمزَةَ فَسُجِّيَ بِبُردِهٖ ثُمَّ صَلّٰى عَلَيه فَكَبَّرَ تِسعَ تَكبِيرَاتٍ ثُمَّ اُتِيَ بِالقَتلٰى يُصَلّٰى عَلَيهِم وَعَلَيه مَعَهم رواه الطحاوي واسنادهٖ مرسل قوي وهو مرسل صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.[2]

ترجمه : د حضرت عبدالله بن الزبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر کړي ؤ په ورځ د احد د حضرت حمزه په باره کې نو پټ کړي په څادر کې هغه بيا ئې مونځ کړي ؤ په هغه باندي نو نښه تکبيرونه ئې کړي ؤ بيا به راوړلي شو شهيدان او مونځ ئې وکړ په هغوي باندي او په حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندي د نورو شهيدانو سره. د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي او دا مرسل د صحابي دي.

﴿۱۰۸۱﴾ وَعَنْ اَبِي مَالِك الغَفَّارِي اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلّٰى عَلٰى قَتلٰى اُحُدٍ عَشرَةً فِي كُلِّ عَشرَةٍ حَمزَةَ حَتّٰى صَلّٰى عَلَيه سَبعِينَ صَلٰوة رواه ابوداود في المراسيل والطحاوي والبيهقي واسنادهٖ مرسل قوي.[3]

ترجمه : د ابي مالک غفاري نه روايت دي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د جنازي مونځ وکړ په شهيدانو د احد باندي په لسو لسو کسانو باندي چې په هرولسو کسانو کې حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ؤ تر دي

---

(۱) ابن ماجة ابواب ماجاء في الجنائزص ۱۱۰باب ماجاء في الصّلوة علي الشهداء ...الخ ، طحاوي كتاب الجنائز ج۱صـــ۳۳۸ باب الصّلوة علي الشهداء ، سنن الكبرٰى للبيهقي كتاب الجنائزج۴ ص۱۲ باب من زعم ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صلى على شهداء احد ، تلخيص الحبير كتاب الجنائز ج۲صـــ ۱۱۷ نقلًا عن الطبراني .

(۲) طحاوي كتاب الجنائز ج۱صـــ ۳۳۸ باب الصّلوة علي الشهداء .

(۳) طحاوي كتاب الجنائز ج۱صـــ ۳۳۸ باب الصّلوة علي الشهداء ، مراسيل ملحقة بسنن ابي داؤد صـــ ۱۸ ، سنن الكبرٰى للبيهقي كتاب الجنائز ج۴ صـــ ۱۲ باب من زعم ان النبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ على شهداء احد ، تلخيص الحبير ج۲صـــ ۱۱۷.

Maktaba Tul Ishaat.com

پوري چې د جنازي مونځ ئې وکړ په ده باندې اويا مونځونه . د دې حديث روايت ابوداؤد کړي دي په مراسيلو کې او طحاوي او بيهقي کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي .

﴿بَابٌ فِي حَمْلِ الْجَنَازَةِ﴾
باب دي په وړلو د جنازي کې

﴿۱۰۸۲﴾ عَنْ اَبِي عُبَيْدَةَ قَالَ: قَالَ عَبْدُاللهِ بْنُ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ مَنِ اتَّبَعَ جَنَازَةً فَلْيَحْمِلْ بِجَوَانِبِ السَّرِيرِ كُلِّهَا فَاِنَّهُ مِنَ السُّنَّةِ ثُمَّ اِنْ شَاءَ فَلْيَتَطَوَّعْ وَاِنْ شَاءَ فَلْيَدَعْ رواه ابن ماجة واسناده مرسل جيد .(۱)

ترجمه : ابو عبيده ويلي دي چې عبدالله ابن مسعود رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې څوک د جنازي پسې ځي نو د جنازي د کټ ټولو واړه طرفونه دي ټول اوچت کړي بې شکه دا سنت طريقه ده بيا ئې که خوښه شوه نوره نيکي دي هم وکړي او که خوښه ئې شوه پريږدي ئې دي . د دې حديث روايت ابن ماجه کړي دي او اسناد ئې مرسل جيد دي.

﴿۱۰۸۳﴾ عَنْ اَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ مِن تَمَامِ اَجرِ الجَنَازَةِ اَن تُشَيِّعَهَا مِن اَهلِهَا وَاَن تَحمِلَ بِاَركَانِهَا الاَربَعَةِ وَاَن تَحثُوَ فِي القَبرِ رواه ابوبكر بن ابي شيبة في مصنفه واسناده مرسل قوي.(۲)

ترجمه : حضرت ابودرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې د جنازي د پوره اجر او ثواب نه دا خبره ده چې د کور والاوْ نه ئې راواخلي او ټولو واړه خپې ئې اونيسي او په قبر باندې ئې خاوري واچوي د دې حديث روايت ابوبکر ابن ابي شيبه په خپل مصنف کې کړي او اسناد ئې مرسل قوي دي .

جنازي ته اوګه ور کول :

جنازي ته اوګه ورکول دمړي اکرام اونيک کار دي .دامام شافعي په نزد داطريقه سنت ده که يو کس مخکښ دواړه ښپې په خپلو دواړو اوګو باندې واخلي اودويم کس روستنې دواړه ښپې په خپلو اوګو باندې واخلي ،داحنافو اوحنابلو په نزد په ټولو کسانو ټولورو واړو ښپو لره يوه يوه اونيسي . (رحمة الامة ،ص ۷۲) امام مالک رحمة الله هم دغه شان فرمايلي دي .(المدونة ،ص ۱۰۸۰).

دامام شافعي دليل : ان النبي صلى الله عليه وسلم حمل جنازة سعد بن معاذ بين العمدين.

---

(۱) ابن ماجة ابواب اقامة الصلوات صـ ۱۰۷ باب ماجآء في شهود الجنائز .

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الجنائز ج۳ صـ ۳۳۹ باب من حمل [illegible]

Maktaba Tur Ishaat.com

دجمهورو دليلونه :

۱- حديث دابن مسعود رضی الله عنه ،"فليحمل بجوانب السرير كلها فانه من السنة" دصحابي يو عمل لره سنت مقرر كول دحديث مرفوع په حكم كي دي البته دابو عبيده بن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه دخپل پلار نه سماع (اوريدل) ثابت نه دي څكه سند اقوي دي .ليكن مرسل دي .

۲- قول ابي الدرداء رضی الله عنه وان تحمل بأركانها الاربع .

۳- ابن عمر كان يدور على الجنازة من جوانبها الاربع .(مصنف ابن ابی شیبه :۱۰۳\۳)

۴- په خلكو كي دجنازي اوچتولو داطريقه مشهوره ده اوداډيره آسانه ده اودغورځيدلو ديري نه محفوظ ده .(بدائع ۴۳\۲)

تطبيق بين الحاديث اوامام شافعي رحمة الله عليه لره جواب :

حديث دسعد بن معاذ رضی الله عنه سند ضعيف كيدلو سره سره په دي كي دوه احتماله نور هم دي يو داچي دهغي څاي دتنګ والي دوجي نه يې كړي وي دويم داچي دجنازي داوچتولو والا ضرورت شوي وي په نورو آثارو كي دعمومي حالت بيان دي چې دځلورو كسانو اوچتول دي. والله اعلم

بيادا حنافو په نزد مستحب دادي چې اول به دمخكې نه راشي اوښې ښيې لره به په خپلي اوګي باندې كيدي ددي نه پس به په هم دغه اړخ باندې روستو راشي اوروستنې ښپه به په اوګه كيدي بيابه دمړي ګس طرف ته راشي اوبه په خپله ګسه اوګه باندې په مخكښ ښپه كيږدي .ددي نه پس به په همدغه اړخ روستو راشي اوروستنې ښپه په اوګه باندې كيدي .يوي ښيې لره به لس لس قدمه اوچته كړي ددي دپاره چې څلوينښت قدمه شي څكه چې په يو ضعيف روايت كي ددې فضيلت راغلي دي (بدائع :۴۳\۲)

﴿بَابٌ فِي أَفْضَلِيَةِ الْمَشْيِ خَلْفَ الْجَنَازَةِ﴾

باب دي په بهترئ د تللو كې روسته د جنازي نه

﴿۱۰۸۴﴾ عَنْ طَاؤُسٍ قَالَ مَامَشَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتّٰى مَاتَ إِلَّا خَلْفَ الْجَنَازَةِ رواه عبدالرزاق واسناده مرسل صحيح.[1]

---

[1] مصنف عبدالرزاق كتاب الجنائز ج۳صـ۴۴۵ باب المشي امام الجنازة برقم ۶۲۶۲.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : طاؤس ويلي دي چې نه دي تللي رسول الله ﷺ تر څو پوري چې وفات شو مګر روسته د جنازې نه . د دې حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او اسناد ئې مرسل صحيح دي .

﴿۱۰۸۵﴾ وَعَنْ عَبْدِالرَّحْمٰنِ بْنِ اَبْزٰى رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كُنْتُ فِي جَنَازَةٍ وَاَبُوْبَكْرٍ وَعُمَرُ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا يَمْشِيَانِ اَمَامَهَا وَعَلِيٌّ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ يَمْشِيْ خَلْفَهَا فَقُلْتُ لِعَلِيٍّ اَرَاكَ تَمْشِيْ خَلْفَ الْجَنَازَةِ وَهٰذَانِ يَمْشِيَانِ اَمَامَهَا فَقَالَ عَلِيٌّ لَقَدْ عَلِمَا اَنَّ فَضْلَ الْمَشْيِ خَلْفَهَا عَلَى الْمَشْيِ اَمَامَهَا كَفَضْلِ صَلٰوةِ الْجَمَاعَةِ عَلَى الْفَذِّ وَلٰكِنَّهُمَا اَحَبَّا اَنْ يُيَسِّرَا عَلَى النَّاسِ رواه عبدالرزاق والطحاوي واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : عبدالرحمن ابن ابزى رضي الله عنه ويلي دي چې زه په يوه جنازه کې وم او ابوبکر رضي الله عنه او عمر فاروق عنهما دواړه مخکې د جنازې نه تلل او حضرت علي رضي الله عنه د جنازې نه روسته ته راوي وائي چې ما حضرت علي رضي الله عنه ته وويل چې زه دي ګورم چې ته د جنازې نه روسته ځي او هغه دواړه د جنازې نه مخکې ځي نو حضرت علي رضي الله عنه ووېل چې په تحقيق دا دواړه پوهيږي چې فضيلت د تلو روسته د جنازې نه په تلو باندې مخکې د جنازې نه داسې دي لکه فضيلت د مانځه د جمع په يواځې مونځ باندې خو ولې دوي دواړه غوره کوي او خوښوي چې اسانتيا وکړي په خلکو باندې . د دې حديث روايت عبدالرزاق کړي دي او طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۱۰۸۶﴾ وَعَنْ عَبْدِاللّٰهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ اَنَّ اَبَاهُ قَالَ لَهُ كُنْ خَلْفَ الْجَنَازَةِ فَاِنَّ مُقَدَّمَهَا لِلْمَلٰٓئِكَةِ وَخَلْفَهَا لِبَنِيْ اٰدَمَ رواه ابوبكر بن ابي شيبة واسناده حسن.(۲)

ترجمه : د حضرت عبدالله بن عمروابن العاص رضي الله عنه نه روايت دي چې د ده پلار عمروبن العاص هغه ته ويلي ؤ چې د جنازې پسې ځه چې د جنازې مخکې طرف د ملائکو د پاره او روسته طرف ئې د بني ادمانو د بارد دي . د دې حديث روايت ابوبکر بن ابي شيبة کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

د جنازې نه مخکې تلل بهتر دي او که روستو :

۱- دائمه ثلاثه په نزد د جنازې نه مخکې تلل افضل دي .

۲- د احنافو په نزد روستو تلل افضل دي دا اختلاف په افضليت کې دي جائز دواړه دي .

---

(۱) مصنف عبدالرزاق كتاب الجنائز ج۳ص ۴۴۶ باب المشي امام الجنازة برقم ۶۲۶۳ ، طحاوي كتاب الجنازة ج۱ص ۳۲۵ باب المشي امام الجنازة .

(۲) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الجنائز ج۳ص ۲۸۲ باب في الجنازة يسرع بها اذا خرج بها ام لا ، عن عبدالله بن عمر رضي الله عنه .

Maktaba Tul Ishaat.com

دائمه ثلاثه دليلونه :

عن ابن عمر قال ،رأيت النبي صلى الله عليه وسلم وابا بكر وعمر يمشون امام الجنازة(اخرجه ابوداؤد والنسائي)

داحناڤو دليلونه :

(۱) دباب اولني صحيح مرسل حديث " ماعشى رسول الله صلى الله عليه وسلم حتى مات الا خلف الجنازة":

(۲)حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وفرما يل چې قسم مې دې وي په هغه ذات باندې چې کوم ذات محمد صلى الله عليه وسلم لره برحق نبي جوړ کړي او راليږلي دي چې جنازې نه دروستو تللو والا فضيلت په مخکې تلونکو باندې داسې دې لکه دفرضو فضيلت په نفلو باندې [الدرالمنضود :۲۵۴/۵]

(۳) په روستو تللو کې به جنازې ته کتلې کيږي او دهغې نه به پند او نصيحت حاصلوي .

حديث دابن عمر رضي الله عنه تاويل او تطبيق بين الاحاديث :

۱- مخکې جنازې نه تللې ددې حضراتو عادت نه وو .

چې دهغې په بناء باندې دې لره افضل وګرځولې شي بلکه دجواز په بيان باندې محمول دي .

۲- که چرته داحضرات جنازې نه وروستو تللې نو جنازې ورلو والا به په تنګئ کې پرې وتل ددوي په ادب او احترام کې .ځکه به هغوي مخکې تللې دخلکو داساتيا په رعايت کې .دباب په اثر دعلي رضي الله عنه کې ددې بيان دې ، همدارنګه چې کله اثر دعلي رضي الله عنه نه روستو تللې معلوميږي نولامحاله به داموقوف روايت درفوع په حکم کې شي لهذا دتاويل نه علاوه بله لاره نشته .[بدائع الصنائع ۴۵/۲]

﴿بَابُ القِيَامِ لِلجَنَازَة﴾

باب د پاڅيدو دي د پاره د جنازې

﴿۱۰۸۷﴾ عَن عَامِرِ بنِ رَبِيعَة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الجَنَازَةَ فَقُومُوا حَتَّى تُخلِفَكُم أَو تُوضَعَ رواه الجماعة.(۱)

---

(۱) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص۱۷۵ باب القيام للجنازة ، مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۱۰ فصل في استحباب القيام للجنازة ...، ترمذي ابواب الجنائز ج۱ص ۲۰۱ باب ماجاء في القيام للجنازة ، ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲ص ۹۴باب القيام للجنازة ، نسائي كتاب الجنائز ج۱ص۲۷۱باب الامر بالقيام للجنازة ، ابن ماجة ابواب الجنائز ص۱۱۲ باب ماجاء في القيام للجنازة، مسند احمد ج۳ص ۴۴۶.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د حضرت عامر بن ربيعه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي كله چې وګورئ تاسي جنازه نو پاڅئ تر دي پورې چې تاسي روسته پريدي او يا كښودل شي . د دي حديث روايت د محدثينو يو جماعت كړي دي .

﴿۱۰۸۸﴾ وَعَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِاللهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ مَرَّ بِنَا جَنَازَةٌ فَقَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقُمْنَا فَقُلْنَا يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهَا جَنَازَةُ يَهُودِيٍّ قَالَ إِذَا رَأَيْتُمُ الْجَنَازَةَ فَقُومُوا رواه الشيخان.(۱)

ترجمه : حضرت جابر بن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې په مونږ يوه جنازه تيره شوه نو پاڅيده نبي اكرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو مونږه هم پاڅيدو نو مونږ وويل چې اي د الله جل شانه رسوله دا جنازه د يهودي وه نو وي فرمايل چې كله وګورئ تاسي جنازه نو پاڅئ . د دي حديث روايت شيخينو كړي دي .

مسئله : جنازې ليدلو سره اودريدل پكار دي او كنه ؟

۱- دامام نووي او بعضي شوافعو په نزد دجنازې تيريدلو په وخت كې اودريدل مستحب دي .

۲- دجمهورو علماؤ او ائمه ثلاثه (ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ ،مالک رَحِمَهُ اللهُ ،شافعي رَحِمَهُ اللهُ) په نزد كه چرته دجنازې سره دتللو اراده نه وي نو اودريدل پكار نه دي .دراجح قول مطابق دامام احمد رحمة الله عليه په نزد سړي ته داودريدلو يا نه اودريدلو اختيار دي .[الدرالمنضود ،۶۵۱/۵ _ ۶۵۲ ،هداية المجتهد ۱۸۸]

دبعضي شوافعو دليل :

دباب دواړه حديثونه :اذا رأيتم الجنازة فقوموا.

دجمهورو دليل : دمخكيني باب ټول حديثونه دجمهورو مستدل دي .

شوافعو ته جواب :

حديث دعلي رضي الله عنه :"كان رسول الله صلى الله عليه وسلم امرنا بالقيام في الجنازة ثم جلس بعد ذالک وامرنا بالجلوس "،دوجي نه اوس دجنازې احترام او دمرګ ديرې يادېدلو دپاره داودريدلو حكم منسوخ شوي ،بس صرف ليدلو سره عبرت حاصليږي.

يو ضمني مسئله : مقبرې ته رسيدلو نه پس مستحب دادي چې ترسوپورې جنازې لره داوګو نه په زمكه باندې نه وي كيخودلې شوي نو ددې نه مخكې دي څوک هم نه كيني او په زمكه كيخو دلو نه پس بغير دضرورت نه اودريدل پكار نه دي داحاديثونه دا دواړه حكمونه ثابت دي .

---

(۱) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص۱۷۵ باب من قام لجنازة يهودي ، مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۱۰ فصل في استحباب القيام للجنازة .....

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿بَابُ نَسخِ القِيامِ لِلجَنَازَة﴾

باب دي په نسخ دودريدو کې د پاره د جنازې

﴿١٠٨٩﴾ عَن نَافِعِ بنِ جُبَيرٍ أَنَّ مَسعُودَ بنَ الحَكَمِ الأَنصَارِي أَخبَرَه أَنَّه سَمِعَ عَلِي بنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يقُولُ فِي شَانِ الجَنَائِزِ أَنَّ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَامَ ثُمَّ قَعَدَ وَإِنَّمَا حَدَّثَ ذٰلِك لِأَنَّ نَافِعَ بنَ جُبَيرٍ رَأَى وَاقِدَ بنَ عَمرٍو قَامَ حَقّٰى وُضِعَتِ الجَنَازَة رواه مسلم.(١)

ترجمه: نافع بن جبير نه روايت دي چې مسعود بن حكم انصاري هغه ته خبر وركړي چې ده د حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه او ريدلي چې ويلي ئې دي د جنازو په شان كې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پاڅيده بيا كيناسته او دوي دا حديث د دي د پاره بيان كړي دي چې نافع بن جبير ليدلي ؤ واقد بن عمرو له چې پاڅيدلي ؤ تر دي پورې چې كېښودل شوه جنازه. د دي حديث روايت مسلم كړي دي.

﴿١٠٩٠﴾ وَعَنه عَن مَسعُودِ بنِ الحَكَمِ الزُّرَقِي أَنَّه سَمِعَ عَلِي بنَ أَبِي طَالِبٍ رضي عنه بِرَحبَةِ الكُوفَةِ وَهُوَ يقُولُ كَانَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ أَمَرَنَا بِالقِيامِ فِي الجَنَازَةِ ثُمَّ جَلَسَ بَعدَ ذٰلِك وَأَمَرَنَا بِالجُلُوسِ رواه احمد والطحاوي والحازمي في الناسخ والمنسوخ واسناده صحيح.(٢)

ترجمه: او د مسعود بن حكم زرقي نه روايت دي چې ده د حضرت علي ابن ابي طالب رضي الله عنه نه په يو ميدان د كوفه كه او ريدلي ؤ او هغه ويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم امر كړي ؤ مونږ ته په ودريدو باندې په جنازه كې بيا ناست شوي ؤ د دينه روسته او امر ئې كړي ؤ مونږ ته په كيناستو باندې. د دي حديث روايت احمد رحمه الله، طحاوي رحمه الله او حازمي كړي دي په ناسخ او منسوخ كې او اسناد ئې صحيح دي.

﴿١٠٩١﴾ وَعَن إِسمٰعِيلَ الزُّرَقِي عَن أَبِيه قَالَ شَهِدتُ جَنَازَة بِالعِرَاقِ فَرَأَيتُ رِجَالًا قِيَامًا يَنتَظِرُونَ أَن تُوضَعَ وَرَأَيتُ عَلِي بنَ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنهُ يشِيرُ إِلَيهِم أَنِ اجلِسُوا فَإِنَّ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ قَد أَمَرَنَا بِالجُلُوسِ بَعدَ القِيامِ رواه الطحاوي واسناده صحيح.(٣)

---

(١) مسلم كتاب الجنائز ج١ص ٣١٠ فصل في استحباب القيام للجنازة ...الخ.

(٢) مسند احمد ج١ص ٨٢، طحاوي كتاب الجنازه ج١ص ٣٢٨ باب القيام للجنازة.

(٣) طحاوي كتاب الجنازة ج١ص ٣٢٨ باب القيام للجنازة.

Maktaba Tul Ishaat.com

ترجمه : د اسماعيل زرقي نه روايت دي د ده پلار ويلي دي چې زه حاضر شوم يوي جنازي په عراق کې ما وليده څه سړي ولاړ چې د جنازي د اينبودلو انتظار ئې کاوه او ليدلي مي وُ حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې اشاره ئې کوله خلکو ته د دي چې کينئ بې شکه نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امر کړي وُ مونږ ته په کيناستو باندي روسته د وُدريدو نه . د دي حديث روايت طحاوي کړي دي او اسناد ئې صحيح دي .

﴿۱۰۹۲﴾ وَعَنْ زَيْدِ بْنِ وَهْبٍ قَالَ كُنَّا كُنَّا نَقُومُ إِلَى الْجَنَازَةِ عِنْدَ عَلِيٍّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ أَبُو مَسْعُودٍ قَدْ كُنَّا نَقُومُ فَقَامَ عَلِيٌّ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ذٰلِكَ وَأَلْئِمُ يهود رواه الطحاوي واسناده حسن.(۱)

ترجمه : زيد ابن وهب ويلي دي چې مونږ مذاکره کوله د وُدريدو په باره کې جنازي ته د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره نو ابو مسعود ويلي وُ چې په تحقيق مونږ به هم وُدريدو خو حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وويل چې هغه او تاسو يهوديان ئې . د دي حديث روايت طحاوي کړي او اسناد ئې حسن دي .

﴿ بَابٌ فِي الدَّفْنِ وَبَعْضِ أَحْكَامِ الْقُبُورِ ﴾

باب دي په ښخولو د مړي او په ځيني احکامو د قبرونو کې

﴿۱۰۹۳﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ لَمَّا تُوُفِّيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ بِالْمَدِينَةِ رَجُلٌ يلحَدُ وَآخَرُ يضرَحُ فَقَالُوا نَسْتَخِيرُ رَبَّنَا وَنَبْعَثُ إِلَيْهِمَا فَأَيُّهُمَا سَبَقَ تَرَكْنَاهُ فَأَرْسَلَ إِلَيْهِمَا فَسَبَقَ صَاحِبُ اللَّحْدِ فَلَحَدُوا لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه ابن ماجة وآخرون واسناده حسن.(۲)

ترجمه : حضرت انس بن مالک رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي کله چې وفات کړي شو نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مدينه منوره کې يو سړي ړ چې ابو طلحه نومېده هغه به لحد ويسته او يو بل سړي وُ چې ابو عُبيده نومېده هغه به شق ويسته نو صحابه وُ وويل چې د خپل رب نه خير غواړو دي دواړو ته خبر ليلأو په دوي کې چې هر يو مخکې راغي هغه بل به پريلأدو نو دواړو ته ئې خبر ورکړ نو د لحد والا مخکې راغي نو دوي لحد جوړ کړ د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پاره . د دي حديث روايت ابن ماجه کړي او نورو محدثينو او اسناد ئې حسن دي .

---

(۱) طحاوي كتاب الجنازة ج۱ ص ۳۲۹ باب القيام للجنازة .

(۲) ابن ماجة ابواب الائمة العشرون ص ۱۳۳ باب ما جاء في اللحد

Maktaba Tul-Ishaat.com

﴿۱۰۹۴﴾ وَعَنْ اَبِي اِسحَاقَ اَوصَى الحَارِثُ اَن يصَلِّي عَلَيه عَبدُالله بنُ يزِيدَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَصَلّٰى عَلَيه ثُمَّ اَدخَلَه القَبرَ مِن قِبَلِ الرِّجلِ وَقَالَ هٰذَا مِنَ السُّنَّة رواه ابوداود والطبراني والبيهقي وقال اسناده صحيح.(۱)

ترجمه : د ابي اسحق نه روايت دي چې وصيت کړي وُ حارث چې مونځ د جنازي دي وکړي په ده باندي عبدالله بن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نو مونځ د جنازي ئي وکړ په هغه باندي بيا ئي ننويسته قبر ته خپود طرف نه او وي ويل چې دا سنت طريقه ده . د دي حديث روايت ابوداؤد کړي او طبراني او بيهقي کړي دي او ويلي ئي دي چې اسناد ئي صحيح دي .

﴿۱۰۹۵﴾ وَعَنِ ابنِ عَبَّاس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَاَبُوبَكرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَعُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يدخُلُونَ المَيتَ قَبلَ القِبلَة رواه الطبراني في الكبير وفي اسناده عبدالله بن خراش وثقه ابن حبان وضعفه جماعة.(۲)

ترجمه : حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ننويستي وُ مړي قبر ته د قبلي د طرف نه . د دي حديث روايت طبراني کړي په کبير کې او د دي په اسناد کې عبدالله بن خراش دي او ثقه ګڼلي دي ابن حبان او کمزوري ګڼلي دي د محدثينو يوي ډلي .

﴿۱۰۹۶﴾ وَعَن عَلِي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ اَنّه اَدخَلَ يزِيدَ بنَ المُكَفَّفِ مِن قِبَلِ القِبلَة رواه عبدالرزاق وابوبكر بن ابي شيبة وصححه ابن حزم في المحلي.(۳)

ترجمه : د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې ده يزيد بن مکفيف ننويستي وُ قبر ته د قبلي د طرف نه . د دي حديث روايت عبدالرزاق او ابوبکر بن ابي شيبه کړي دي او صحيح ګڼلي دي دا حديث ابن حزم په محلى کې.

﴿۱۰۹۷﴾ وَعَن اَبِي اِسحَاقَ قَالَ شَهِدتُّ جَنَازَةَ الحَارِثِ فَمَدُّوا عَلٰى قَبرِهٖ ثَوبًا فَجَبَذَه عَبدُالله بنِ يزِيدَ

---

(۱) ابوداؤد کتاب الجنائز ج۲ص ۱۰۲ باب کیف یدخل المیت قبره ، سنن الکبرٰی للبیهقي کتاب الجنائز ج۴ص۵۳ باب من قال یسل المیت من قبل رجل القبر .

(۲) المعجم الکبیر للطبراني ج۱۱ص ۸۱ برقم ۱۱۱۲.

(۳) مصنف عبدالرزاق کتاب الجنائز ج۳ص ۴۴۹ باب من حیث یدخل المیت القبر برقم ۶۴۷۲ ، مصنف ابن ابي شیبة کتاب الجنائز ج۳ص ۳۲۸ من ادخل میتا من قبل القبلة علی ابن حزم کتاب الجنائز ج۵ص ۱۸۲ یدخل المیت کیف امکن...الخ.

Maktaba Tul Ishaat.com

رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَقَالَ إِنَّمَا هُوَ رَجُلٌ رواه ابن ابي شيبة واسناده صحيح.(۱)

ترجمه : ابي اسحق ويلي دي چې حاضر شوي ومه زه جنازي د حارث ته نو خوره کړه دوي په قبر د هغه باندي څه جامه نو راخلکو ده هغه عبدالله بن يزيد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او وي ويل چې بې شکه دا سړي دي. د دي حديث روايت ابن ابي شيبه کړي دي او اسناد ئي صحيح دي.

﴿۱۰۹۸﴾ وَعَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ إِذَا وَضَعَ الْمَيِّتَ فِي الْقَبْرِ قَالَ بِسْمِ اللهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه ابوداود وآخرون وصححه ابن حبان.(۲)

ترجمه : د حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې وُ نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله به ئي کښوده مړي په قبر کې نو فرمايل به ئي بسم الله وعلى سنة رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. د دي حديث روايت ابوداوُد او نورو محدثينو کړي او صحيح ګڼلي هغه، ابن حبان.

﴿۱۰۹۹﴾ وَعَنْ عَامِرِ بنِ سَعدِ بنِ أَبِي وَقَّاصٍ أَنَّ سَعدَ بنَ أَبِي وَقَّاصٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ فِي مَرَضِهِ الَّذِي هَلَكَ فِيهِ الْحَدُوا لِي لَحدًا وَانْصِبُوا عَلَيَّ اللَّبِنَ نَصْبًا كَمَا صُنِعَ بِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه مسلم وآخرون.(۳)

ترجمه : د عامر بن سعد ابن ابي وقاص نه روايت دي چې سعد بن ابي وقاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي وُ په خپل هغه مرض کې چې پکې وفات شو أوباسئ ماته لحد او وُدروئ ماته کچې خښتي لکه څنګه چې رسول اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کار شوي وُ. د دي حديث روايت مسلم او نورو محدثينو کړي دي.

﴿۱۱۰۰﴾ وَعَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صَلَّى عَلَى جَنَازَةٍ ثُمَّ أَتَى قَبْرَ الْمَيِّتِ فَحَثَى عَلَيْهِ مِن قِبَلِ رَأسِهِ ثَلَاثًا رواه ابن ماجة وابن ابي داود وصححه.(۴)

ترجمه : د حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مونځ وکړ په يوه جنازه باندي بيا ئي تشريف راوړ قبر د مړي ته نو وائي چوله خاوره په سر د مړي باندي دري ځله. د دي حديث روايت ابن ماجه کړي او ابن ابي داوُد کړي دي او صحيح ئي ګڼلي دي.

---

(۱) مصنف ابن ابي شيبة كتاب الجنائز ج۳ص ۳۲۶ باب ما قالوا في حد اللحد على القبر.

(۲) ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲ص ۱۰۲ باب في الدعاء للميت اذا وضع في قبره،صحيح ابن حبان كتاب الجنائز ج۶ص۴۳ برقم ۳۱۰۰.

(۳) مسلم كتاب الجنائز ج ۱ص ۳۱۱ فصل في استحباب اللحد.

(۴) ابن ماجه ابواب ماجاء في اقامة الصلوات ص ۱۱۳ باب ماجاء في حثوالتراب في القبر. تلخيص الحبير كتاب الجنائز ج۲ص۱۳۱ نقلا عن ابن ماجة وابن ابي داود في كتاب الفرد.

Maktaba Tul Ishaat.com

﴿۱۱۰۱﴾ وَعَنِ الْقَاسِمِ قَالَ دَخَلْتُ عَلَى عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا فَقُلْتُ يَا أُمَّهِ اِكْشِفِي لِي عَنْ قَبْرِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَصَاحِبَيْهِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا فَكَشَفَ لِي عَنْ ثَلٰثَةِ قُبُورٍ لَا مُشْرِفَةٍ وَلَا لَاطِئَةٍ مَبْطُوحَةٍ بِبَطْحَاءِ الْعَرْصَةِ الْحَمْرَاءِ رواه ابوداود وآخرون في اسناده مستور.(۱)

ترجمه : قاسم ويلي دي چې زه د حضرت عائشې رضي الله عنها په خدمت کې حاضر شوي وم نو ما وويل اي مورې! بنکاره کړه ماته قبر د رسول الله صلى الله عليه وسلم او د ده د دواړو يارانو صاحبانو قبرونه نو بنکاره ئې کړل ماته دريواړه قبرونه نه ډير اوچت ؤ او نه د ځمکې سره بالکل برابر ؤ د ميدان سورښن کانړي پرې پراته ؤ. د دي حديث روايت ابوداؤد او نورو محدثينو کړي دي او د دي په اسناد کې مستور الحال دي.

﴿۱۱۰۲﴾ وَعَنْ سُفْيَانَ التَّمَّارِ أَنَّهُ رَأَى قَبْرَ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُسَنَّمًا رواه البخاري.(۲)

ترجمه : د سفيان تمار نه روايت دي چې هغه ليدلي ؤ قبر مبارک د رسول الله صلى الله عليه وسلم هوار ماهي پشت. د دي حديث روايت بخاري کړي دي.

﴿۱۱۰۳﴾ وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ الرَّشَّ عَلَى الْقَبْرِ كَانَ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رواه سعيد بن منصور والبيهقي واسناده مرسل قوي.(۳)

ترجمه : جعفر بن محمد د خپل پلار نه روايت کړي دي د اوبو چنړکاؤ شوي ؤ په قبر باندې په زمانه د رسول الله صلى الله عليه وسلم کې. د دي حديث روايت سعيد بن منصور او بيهقي کړي دي او اسناد ئې مرسل قوي دي.

﴿۱۱۰۴﴾ وَعَنْهُ عَنْ أَبِيهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَشَّ عَلَى قَبْرِ ابْنِهِ إِبْرَاهِيمَ وَوَضَعَ عَلَيْهِ حَصْبَاءَ رواه الشافعي واسناده مرسل جيد.(۴)

ترجمه : جعفر بن محمد د خپل پلار نه روايت کړي دي چې بې شکه رسول اکرم صلى الله عليه وسلم چنړکاؤ کړي ؤ په قبر مبارک د خپل ځوي حضرت ابراهيم رضي الله عنه او ايښي ئې ؤ واړه واړه کانړي په

---

(۱) ابوداؤد كتاب الجنائز ج۲ص ۱۰۳ باب في تسوية القبور.

(۲) بخاري كتاب الجنائز ج۱ص ۱۸۶ باب ماجاء في قبر النبي صلى الله عليه وسلم.

(۳) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الجنائز ج۳ص ۴۱۱ باب رش الماء على القبر ...الخ، تلخيص الحبير كتاب الجنائز ج۲ص۱۳۳ نقلاً عن سعيد بن منصور في سننه.

(۴) مسند امام شافعي رحمه الله الباب الثالث والعشرون في صلوة الجنائز ج۱ص ۲۱۵ رقم الحديث ۵۹۹.

Maktaba Tul Ishaat.com

هغي باندي.

﴿۱۱۰۵﴾ وَعَنه عَن اَبيه اَنَّ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَشَّ عَلٰى قَبرِ والمَاءَ وَوَضَعَ عَلَيه حَصبَاءِ العَرصَبَةِ وَرَفَعَ قَدرَ شِبرٍ رواه البيهقي وهو مرسل.(۱)

ترجمه : جعفر بن محمد د خپل پلار نه روايت کړي دي چې بي شکه نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چنرکاو کړي وي اوبه په قبر مبارک د هغه او ايهي ئي وُ واړه کانړي د کانړو د ميدان نه او اوچت کړي ئي وُ قبر د ده په اندازه د ديوي ليشتي. د دي حديث روايت بيهقي کړي دي او هغه مرسل دي.

﴿۱۱۰۶﴾ وَعَن جَابِرٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ نَهٰى رَسُولُ اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اَن يُجَصَّصَ القَبرُ وَاَن يقعَدَ عَلَيه وَاَن يبنٰى عَلَيه رواه مسلم.(۲)

ترجمه : حضرت جابر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې منع کړي رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د پخولو د قبر نه او د کيناستو په قبر باندي او د ابادئ نه په قبر باندي. د دي حديث روايت مسلم کړي دي.

﴿۱۱۰۷﴾ وَعَن عُثمَانَ بنِ عَفَّانَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِذَا فَرَغَ مِن دَفنِ المَيتِ وَقَفَ عَلَيه فَقَالَ استَغفِرُو الِاَ خِيكم وَاسئَلُوا لَه بِالتَّثبِيتِ فَاِنَّه الآنَ يسأَلُ رواه ابوداود وصححه الحاكم.(۳)

ترجمه : حضرت عثمان بن عفان رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې وُ نبي اکرم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې کله به فارغ شو د خولو د مړي نه وبه دريده په قبر باندي نو فرمايل به ئي چې بخښنه وغواړئ د خپل ورور د پاره او سوال وکړئ د ده د پاره په ثبيت سره بي شکه دا اوس پوښتنه کيدي شي د ده نه د دي حديث روايت ابوداوُد کړي دي او حاکم صحيح ګنرلي دي.

د دفن کولو مسئلې

دقبر قسمونه :دقبر دوه قسمونه دي (۱) لحد (۲) شق.

شق :خو هغه دي چې زمونږ په طرفونو کې رواج دي يعني نيخ قبر ،او لحد ارخ والا قبر يعني دزمکې کنستلو نه پس قبلي طرفته يو غار کنده شان بله کنستلې شي او بيا مړي په هغې کې

---

(۱) سنن الكبرى للبيهقي كتاب الجنائز ج۳ص ۴۱۱ باب لا يزاد على في القبر على اكثر من ترابه .

(۲) مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۱۲ فصل في تسوية القبر .

(۳) ابوداود كتاب الجنائز ج۲ص ۱۰۳ باب الاستغفار عند القبر ...الخ ، مستدرك حاكم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۷۰ باب الاستغفار وسؤال التثبيت للميت ...الخ .

Maktaba Tul Ishaat.com

کیخودلې شي،دروستو طرفنه دې لره شلوي دکوم ځاي زمکه چې سخته وي هلته دا قبر جوړیدلې شي.

اولنې مسئله : دقبردواړه قسمونه جائزدي ،خو په درمیانه زمکه کې کوم یو افضل دي ؟ دوه قولونه دي ؟

۱_ دجمهورو په نزد لحد مسنون او افضل دي .[رحمة الامة ،ص ۷۳]

۲_ علامه کاساني دامام شافعي په نزد شق ته مسنون ویلې دي[بدائع :۲۰/۲]لیکن په کتاب الام(۲۷۶/۱) کې پخپله امام شافعي رحمة الله علیه فرمایلي دي چې په سخته زمکه کې لحد او نرمه زمکه کې شق اختیارول پکار دي .

دلحد دفضیلت دلیلونه :

۱- دنبي علیه السلام ارشاد دې اللحد لنا والشق لغیرنا .[ابوداؤد ،ترمذي،نسائی] یعني مونږ لحد لره اختیار کړې دي هغه زمونږ دپاره اولی دیدشق په مقابله کې او مخکني امتونو شق لره اختیار کړي دي .

۲- دنبي علیه السلام قبر مبارک لحد جوړکړې شوي وو چې دهغې صورت دا بیان کړې شوي دي چې په صحابه کرامو کې بو صحابي یعني حضرت ابو طلحه رضی الله عنه لاحد وو لحد جوړونکې وو او یو صحابي یعني حضرت ابوعبیده بن الجراح رضي الله عنه شقاق وو شق جوړونکې وو .دوصال نه پس یو یو کس دواړوپسې او لیږلې شو هلته حضرت عباس رضي الله عنه دعا اوفرمایله :"**اللهم خر لنبیک احب الامرین الیک**" او دوي مستجابو الدعوات وو نو لږ ساعت پس یو کس حضرت ابو طلحه انصاري رضي الله عنه ځان سره راوستلو او حضرت ابو عبیده رضي الله عنه په موقع باندي میلاو نه شو دې وجې نه لحدلره اختیار کړې شو .[بدائع الصنائع :۶۰/۲]

۳_ دلحد تائید حدیث دسعد بن ابي وقاص رضي الله عنه نمبر ۱۱۰۰ نه هم کیږي چې په سند صحیح سره روایت شوي دي چې دهغې الفاظ دادي:" **الحدوا لی لحدا وانصبوا علی اللبن نصبا کما صنع برسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ**".

دویمه مسئله : مړي نږدقبر کې دکوځولو څه طریقه کول پکار دي؟ددې په باره کې دوه قوله دي:

۱- دائمه ثلاثه په نزد مړي لره په قبر کې دنبي طرف نه داخلول اولی دي په دي صورت کې به کټ لره په اوګدوالي کې دقبر سره لاندي طرفته کیخودلې شي او بیا به په بتدریج مړي نږه په قبر کې دسر دطرف نه داخل کړې شي .

Maktaba Tul Ishaat.com

۲- دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه په نزد مړي لره به دقبلي دطرف نه قبر ته خکته کولې شي یعني کټ لره به دقبر بني طرف ته دقبر په پلن والي کې کیخودلې شي .بیائي دمړي تول وجود لره په یو ځل قبر کې داخل کړي .[بدائع الصنائع ،۶۱/۲] دا اختلاف هم په افضلیت کې دي جائز دواړه صورتونه دي .

دامام شافعي رحمة الله علیه دلیل :

حدیث نمبر ۱۰۹۵ عمل دعبدالله بن یزید رضی الله عنه "ادخله القبر من قبل الرجل وقال هذا من السنة"

دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه دلیلونه :

۱- حدیث دابن عباس " ان النبي صلی الله علیه وسلم ادخل فی القبر سلا ". [سنن کبری ۵۴/۴]

۲- حدیث دابن عباس نمبر ۱۰۹۶: " کان النبي صلی الله علیه وسلم وابوبکر وعمر یدخلون المیت قبل القبلة " .دي حدیث په سند باندي کلام دي .

۳- نبی اکرم صلی الله علیه وسلم ابو دجانه رضی الله عنه لره دقبلي دطرف نه قبر ته خکته کړي وو .(ترمذی بسند حسن)

۴- عن ابن عباس وابن عمر قالا یدخل المیت قبره من قبل القبلة .

۵- ابراهیم نخعی رحمه الله فرمائلي دي چې داهل مدیني والاعادت په اول کې په طرف دقبلي قبر ته دخکته کولو وو .لیکن روستو دزمکي دنرم کیدو دوجې نه هغوي د(سل) والا طریقه کړې یعني دبني طرفنه دداخلولو . (بدائع الصنائع :۶۲/۲)

ائمه ثلاثه ته جوابونه :

دنبی کریم صلی الله علیه وسلم قبر ته دداخلولو دطریقې په باره کې مختلف روایات دي .پخپله دابن عباس رضی الله عنه نه یو داروایت دې .چې نبی کریم صلی الله علیه وسلم لره دقبلي طرف نه په قبر شریف کیخودلې شوي دي لیکن دابن عباس رضی الله عنه دادواړه روایتونه ضعیف دي .علاوه ددې نه چې حضور صلی الله علیه وسلم دعائشې رضي الله عنها په حجره کې وصال فرمایلې وو او انبیاء کرام علیهم السلام چې کوم ځای کې ددینه پرده او فرمایي هملته دفن کولې شي اوس په حجره شریفه کې چې کوم ځای کې حضور صلی الله علیه وسلم دفن کړې شو په هغې کې قبلي طرفته ددیوال دنزدیکت دوجې نه څه ګنجائش نه وو چې کټ دې هغه طرفته کیدي لهذا دضرورت دوجې نه دویم صورت اختیار کړې شو .

دریمه مسئله: قبر نرد په کیږې سره پټول :دحنفیو رحمه الله په نزد صرف دښخي قبر لره دې پټ کړې شي .دسړي نه . لیکن دامام شافعي رحمه الله په نزد دسړي قبر لره هم پټول پکار دي ځکه چې مروي دي چې حضور صلی الله علیه وسلم دسعد بن معاذ رضی الله عنه قبر لره په کیږې سره پټ کړې وو لیکن ددې حدیث

Maktaba Tul Ishaat.com

ضد ضعیف دي ، دغه شان دا هم ممکنه ده چې دیو ضرورت په بنا باندې د حضرت سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قبر لره پټ کړې شوې وو مثلا کفن شلیدل یا دباران دوجې نه وو یا دګرمئ نه دبچ کیدو لپاره داسې کړې شوي وو .(بدائع مع الحاشیه :۶۴/۲) د حنفیو دلیل دباب حدیث نمبر ۱۰۹۸ دي کوم کې چې په صحیح سند سره مروي دي چې عبد الله بن یزید رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دسړي قبر لره دپټولو نه منع فرمایلې وه . والله اعلم

څلورمه مسئله : مړي لره په قبر کې دایخودلو په وخت کومه دعا ویل پکار دي ؟

ددې باره کې دباب حدیث نمبر ۱۰۹۹ کې دا کلمات وارد شوي دي : "**بسم الله وعلى سنة رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **وضعناک وعلى سنة رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ **سلمناک** " دالله په مبارک نوم سره مو کیخودلې او دالله درسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسنت مطابق موخاورو ته وسپارلې .(البحر الرائق :۱۹۳/۲)

نورې دعاګانې هم منقول دي مثلا مشهوره دعا : " **بسم الله وعلى ملة رسول الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ " یعنې دالله په نوم سره مو دفن کړي او دالله درسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دین مو خاورو ته وسپارلې. دغه شان : " **بسم الله وبالله وعلى ملة رسول الله** " . (بدائع :۶۲/۲-۶۳)

پنځمه مسئله : بالاتفاق قبر لره دجوړولو په وخت کچه خښتې استعمالول پکار دي ، په اور کې پخې خښتې نه . (رحمة الامة ، ص:۷۳)

شپږمه مسئله :دخاورې اچولو په وخت مستحب دي چې دسر دطرفنه دې شروع اوکړې شي او هر یو کس دې دري پیره په خپلو دواړو لاسونو خاوره وروواچوي کمافي الحدیث رقم ۱۱۰۱.

اومه مسئله : دقبر مستنب جوړول

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دقبر مربع او مسطح جوړول مستحب دي لیکن دامام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ ، مالک رَحِمَهُ اللهُ ، واحمد رَحِمَهُ اللهُ په نزد مستحب دادي چې داوښ دکوهان په شان دې جوړ کړې شي ، ددې اوچت والي دیو لیښت یا ددې نه څه زیات پکار دي .(رحمة الامة ،ص: ۷۳)

دامام شافعي رَحِمَهُ اللهُ په نزد دلیل حدیث دقاسم رَحِمَهُ اللهُ نمبر ۱۱۰۲ دې دکوم مطابق چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او دحضرات شیخینو قبرونه نه اوچت وو او نه بالکل زمکې سره لګیدلي وو .

دائمه ثلاثه رحمهم الله دلائل :۱... حدیث دسفیان تمار رَحِمَهُ اللهُ نمبر ۱۱۰۲ په صحیح سند سره چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر مبارک ته اوکتل چې کوهان نما جوړ شوې وو .

۲. حدیث نمبر ۱۱۰۵ چې دابراهیم بن رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر مبارک یو لیښت اوچت جوړ کړې شوې وو .

Maktaba Tul Ishaat.com

۳. مسطح هموار قبر داهل کتابو وي . دمسلمانانو لپاره ددې نه بچ کیدل بهتر دي. (بدائع :۲۵/۲).

امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ته جواب :

دقاسم رَحِمَهُ اللهُ دحدیث په سند کې عمرو بن عثمان مستور الحال دي همدارنګه دقاسم رَحِمَهُ اللهُ الفاظ "نه اوچت وو ته بالکل زمکې سره لګیدلي وو" دیو لیښت په مقدار کوهان نما اوچتیدو منافي نه دي . لهذا تطبیق وشو ممکنه ده ابتداءً مسطح وو لیکن بیا مسنم کړې شو . (بدائع : ۲۵/۲).

فائده : دحضرت عائشې رضي الله عنها په ژوند کې دقبرونو طرفته یوه پرده پرته وه وروسته بیا په حجره شریفه کې په مختلفو زمانو کې تعمیري تغیرات کیدل ، ددیوال دغورځیدو واقعه هم راغله دکوم ذکر چې په صحیح بخاري (۱۸۶/۱) کې هم ده . حضرت عمر بن عبدالعزیز ددې درې وارو قبرونو ګیر چاپیره په یو اوچت دیوال سره احاطه کړې اوس خو هغه قبور ثلاثه ته رسیدل هم ممکن نه دي . (حاشیه الدر المنضود : ۲۷۷/۵).

اتمه مسئله : دخاورې غورځولو نه پس په قبر باندې داوبو یو چانې کول پکار دي چې په دې سره خاوره برابریږي .(بدائع :۶۵/۲)

نهمه مسئله : حدیث نمبر ۱۱۰۷ کې دري خبرو نه منع کړې شوې ده ، دا دري وارې خبرې مکروه دي

۱... تخصیص یعني قبر لره په چونې سره پخول .

۲... په قبر باندې کیناسل ، خکه چې په دې کې دمسلمان سپک والي دی او ترک حرمت دې .

۳... بناء علی القبر یعني کانړي وغیره سره دې مرتب کړې شي یا قبر باندې خیمه وغیره لره دې قـ... کړې شي .(الدر المنضود :۲۸۰/۵، بدائع :۶۵/۲ ملخصا)

لسمه مسئله : ددفن کولو نه پس لږ وخت لپاره قبر سره پاتې کیدل او مړي لپاره دې دعا دمغفرت او همدارنګه دمنکر نکیر دسوالونو په جواب کې دثابت قدم پاتې کیدو دعا کول مستحب دي .

کما في الحدیث رقم ۱۱۰۸ ، تلک عشرة کاملة .

﴿بَابُ قِرَاءَةِ القُرآنِ لِلمَيِّتِ﴾

باب د قرآنکریم دتلاوت دي د پاره د مړي

﴿۱۱۰۸﴾ عَنْ عَبدِالرَّحمٰنِ بنِ العَلَاءِ بنِ اللَّجلَاجِ عَنْ اَبِيهِ قَالَ قَالَ لِي اَبِي اللَّجلَاجِ اَبُو خَالِدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يَا بُنَيَّ إِذَا اَنَا مِتُّ فَالحَدْ لِي فَإِذَا وَضَعتَنِي فِي لَحدِي فَقُل بِسمِ اللهِ وَعَلٰى مِلَّةِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ثُمَّ سُنَّ عَلَيَّ التُّرَابَ سَنًّا ثُمَّ اقرَأ عِندَ رَأسِي بِفَاتِحَةِ البَقَرَةِ وَخَاتِمَتِهَا فَإِنِّي سَمِعتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ

Maktaba Tul Ishaat.com

يَقُولُ ذٰلِك رواه الطبراني في المعجم الكبير واسناده صَحِيحٌ.(۱)

ترجمه : عبدالرحمن بن العلاء بن الجلاج د خپل پلار نه حديث بيان کړي دي ويلي ئي دي چې ماته خپل پلار لجلاج ابوخالد ويلي وُ چې اي بچيه کله چې زه مړ شم ماته لحد جوړ کړه او کله دي چې کښودمه زه په خپل لحد کې نو ووايه بسم الله وعلى ملة رسول الله يعني کيمي ښودي د الله جل شانه په نوم او اوُمي سپارلي په دين د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي بيا برابره کړه په مابانديِ خاوره بيا تلاوت کړه ځما سر طرف ته د بقري د سورت اولني ايتونه د (الم) نه تر مفلحون پورې او د بقرې د سورت اخري ايتونه ځکه چې ما اوريدلي وُ رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه چې د دي تلاوت ئي فرمايه. د دي حديث روايت طبراني کړي دي په معجم کبير کې او اسناد ئي صحيح دي.

دمړي لپاره ايصال ثواب

داهل سنت والجماعت په نزد مړي ته ايصال ثواب جائز دي او مړي ته ثواب رسيږي (رحمة الامة، ص:۷۴) دمړي دد فنولو نه پس سر طرفته دسوره بقره اولني آيتونه تر "المفلحون" پورې او خپو طرفته يې دسوره بقره آخري آيتونه "امن الرسول" نه تر ختم سورت پورې ويل مستحب دي (اوګورئ حديث نمبر ۱۱۰۸) دالله تعالى نه مو دا اميد دي چې اهل قبورو باندې به دعذاب تخفيف اوفرمايي يا دمغفرت ددعا په برکت سره به ورته عذاب بالکل معاف کړي، په يو روايت کې دي چې کوم کس مقبرې ته ددا خليدو نه پس دسوره يسين تلاوت اوکړي الله تعالى په هغه ورځ اهل قبورو باندې دعذاب تخفيف فرمايي او دغه کس ته ددې دتعداد په اندازه نيکي ملاويږي. (التعليق الحسن)

﴿بَابٌ فِي زِيَارَةِ الْقُبُورِ﴾

باب دي په زيارت د قبرونو کې

﴿۱۱۰۹﴾ عَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كُنتُ نَهَيتُكُم عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُورِ فَزُورُوهَا رواه مسلم.(۲)

ترجمه: حضرت بريده رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي وُمزه چې منع کړي

---

(۱) مجمع الزوائد، كتاب الجنائز ج۳ص ۴۴ باب ما يقول عند ادخال الميت القبر نقلا عن الطبراني في الكبير.

(۲) مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۱۴ فصل في انتقاب الى زيارة القبر.

Maktaba Tul Ishaat.com

مې وئ تاسي د زيارت د قبرونو نه نو زيارت کوي د قبرونو . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۱۱۱۰﴾ وَعَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا قَالَتْ كَيْفَ أَقُولُ يَا رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ قُولِي اَلسَّلَامُ عَلَى أَهْلِ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَيَرْحَمُ اللّٰهُ الْمُسْتَقْدِمِينَ مِنَّا وَالْمُسْتَأْخِرِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللّٰهُ بِكُمْ لَلَاحِقُونَ رواه مسلم.(۲)

ترجمه : حضرت عائشې رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهَا ويلي دي مقبري ته د رسيدو په وخت کې څه ووايم اي د الله جل شانه رسوله . هغه وفرمايل چې ووايه : اَلسَّلَامُ عَلَيكُم أَهلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَيَرحَمُ اللّٰهُ الْمُستَقدِمِينَ مِنَّا وَالْمُستَأخِرِينَ وَإِنَّا إِن شَاءَ اللّٰهُ بِكُم لَلَاحِقُونَ رواه مسلم. يعني : سلام دي وي په تاسو اي د مؤمنانو او د مسلمانانو د کورونو اهله او رحم دي وکړي الله جل شانه په پخوانو او روستونو زمونږ باندي او بې شکه مونږ که د الله جل شانه اراده وشي خامخا پيوسته کيدونکي يو په تاسو پوري . د دي حديث روايت مسلم کړي دي .

﴿۱۱۱۱﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُهُم إِذَا خَرَجُوا إِلَى الْمَقَابِرِ أَن يَقُولَ قَائِلُهُم اَلسَّلَامُ عَلَيكُم أَهلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَإِنَّا إِن شَاءَ اللّٰهُ بِكُم لَلَاحِقُونَ نَسْأَلُ اللّٰهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ رواه احمد ومسلم وابن ماجة.(۳)

ترجمه : حضرت بريده رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به صحابه کرامو ته تعليم ورکاوه چې کله به دوي مقبرو ته تلل دي وائي ويونکي د دوي نه السلام عليكم اهل الديار من المؤمنين والمسلمين وانا ان شاء الله بكم للاحقون ونسئل الله لنا ولكم العافية د دي حديث روايت احمد ، مسلم او ابن ماجه کړي دي . يعني: سلام دي وي په تاسو باندي اي د مؤمنانو او مسلمانانو د کورونو خلکو او مونږ که د الله جل شانه اراده وشي په تاسو پوري پيوسته کيدونکي يو او مونږ غواړو الله جل شانه نه ځان د پاره او تاسو د پاره عافيت . د دي حديث روايت احمد مسلم او ابن ماجه کړي دي .

---

(۲) مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۱۴ فصل في الذهاب الى زيارة القبور .

(۳) مسند احمد ج ۵ ص ۳۵۳ مسلم كتاب الجنائز ج۱ص ۳۱۴ فصل في الذهاب الى زيارة القبور ابن ماجه ابـواب ماجـاء في الامـر المكروه ص ۱۱۲ باب ماجاء فيما يقال اذا دخل المقابر .

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله دزيارت دقبرونو :په اول کې دقبرونو دزيارت نه منع کړې شوې وه بيا اجازت ورکړې شو ځکه خو دسړو لپاره بالاتفاق زيارت دقبرونو جايز دې البته دښځو په باره کې څه اختلاف دې ليکن دحنفيو په نزد راجح قول مطابق ښځې که دعبرت او دنصيحت حاصلولو لپاره دد عاء للاموات لپاره لاړې شي نو جائز او دزړو ښځو دپاره خو بالکل صحيح دي البته دځوانو ښځو لپاره مکروه دي او که دچغو او سرو او دژړا لپاره ځي نو بيا دچا لپاره هم جائز نه دي . (البحر الرائق مع الحاشيه : ۱۹۵/۲، والدر المنضود : ۲۸٤/٥ ملخصا)

﴿ بَابٌ فِي زِيَارَةِ قَبرِ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ ﴾

باب دي په زيارت د قبر د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ کې

﴿۱۱۱۲﴾ عَنِ ابنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مَن زَارَ قَبرِي وَجَبَت لَه شَفَاعَتِي

رواه ابن خزيمة في صحيحه والدار قطني والبيهقي وآخرون واسناده حسن .(۲)

ترجمه : حضرت ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنهُ ويلي دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فرمايلي دي چا چې زيارت کړي وي دقبر ځما واجب شوي دي د هغه د پاره شفاعت ځما .ددي حديث روايت ابن خزيمه په خپل صحيح کې او دار قطني او بيهقي او نورو محدثينو کړي دي او اسناد ئې حسن دي .

﴿۱۱۱۳﴾ وَعَن أَبِي الدَّردَاءِ رَضِيَ اللهُ عَنهُ قَالَ إِنَّ بِلَالًا رَأَى فِي مَنَامِهِ رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ لَه مَا هٰذِهِ الجَفوَةُ يَا بِلَالُ أَمَا آنَ لَكَ أَن تَزُورَنِي يَا بِلَالُ فَانتَبَه خَزِينًا وَجِلًا خَائِفًا فَرَكِبَ رَاحِلَتَه وَقَصَدَ المَدِينَةَ فَأَتَى قَبرَ النَّبِي صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَجَعَلَ يبكي عِندَه وَيَمَرِّغُ وَجهَه عَلَيه فَأَقبَلَ الحَسَنُ وَالحُسَينُ رَضِيَ اللهُ عَنهُمَا فَجَعَلَ يضُمُّهُمَا وَيُقَبِّلُهُمَا فَقَالَا نَشتَهِي نَسمَعُ أَذَانَكَ الَّذِي كُنتَ تُؤَذِّنُ بِهِ لِرَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فِي المَسجِدِ فَفَعَلَ فِعلًا سَطحَ المَسجِدِ فَوَقَفَ مَوقِفَه الَّذِي كَانَ يَقِفُ فِيه فَلَمَّا أَن قَالَ أَشهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ الله خَرَجَتِ العَوَاتِقُ مِن خُدُورِهِنَّ وَقَالُوا بُعِثَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ فَمَا رُئِيَ يَومًا أَكبَرَ بَاكِيَةً وَلَا بَاكِيَةً بِالمَدِينَةِ بَعدَ رَسُولِ الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ مِن ذٰلِكَ اليَومِ رواه ابن

---

(۱) صحيح ابن خزيمة شعب الايمان للبيهقي باب في المناسك ج ۳ صـ ۴۹۰ برقم ۴۱۵۹ ، دار قطني كتاب الحج ج۲صـ۲۷۸ كشف الاستار كتاب الحج ج۲صـ ۵۷ باب زيارة قبر سيدنا رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ رقم الحديث ۱۱۹۸.

Maktaba Tul Ishaat.com

عساکرو قال التقي السبكي اسناده جيد.(۱)

ترجمه : حضرت ابو الدرداء رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي دي چې بې شکه حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ليدلي وُ په خپل خوب کې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په داسې حال کې چې هغه ورته وفرمايل دا څومره زياتي دي اي بلاله چې آيا تاته دومره وخت او فرصت نه دي حاصل شوي چې ځما زيارت وکړي اي بلاله ! نو رابيدار شو هغه غمجن ويريد ونکي نو سور شو په خپله سورلئ باندي او قصد ئې وکړ مدينې طرف ته نو راغې قبر د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو شروع ئې وکړه چې ژړل ئې د قبر مبارک سره اولوغړاوه ئې مخ خپل په قبر د نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوري نو راغلل حضرت حسن رَضِيَ اللهُ عَنْهُ او حضرت حسين رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نو شروع شو بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې راجوخت ئې کړل ځان ته (معانقه) ئې ورسره وکړه او ځکل ئې کړل دواړه نو دواړو حضرت بلال رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وويل مونږ غواړو چې واورو اذان ستا هغه چې وي ته چې اذان به دي کاوه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته په مسجد کې نو وي کړ هغه يعني د دوي عرض ئې قبول کړ د مسجد په چت باندي اوچت شو او وُدريده په خپل هغه ځاي باندي چې وُدريده به په هغې باندي نو کله ئې چې د الله اکبر الله اکبر چغه وُوهله اوچت شو اوازونه د ژړا د مدينې نه او کله ئې چې د اشهد ان لااله الا الله چغه ووهله نو زيات شو اوازونه د ژړا په مدينه کې او کله ئې چې د اشهد ان محمد رسول الله اواز اوچت کړ نو راوُوتلي جينکئ د پردو خپلو نه او خلکو به ويل چې آيا راپاڅيدلي دي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نو نه وُه ليدلي يوه ورځ ډيره لويه ژړا کوونکو سړو او نه ژړا کوونکو ښځو په مدينه منوره کې روسته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه . د دي حديث روايت ابن عساکر کړي دي او تقي السبکي ويلي دي چې اسناد ئې حسن دي.

دروضې مبارک زيارت :سردار دو عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په قبر مبارک کې حيات دې او دا خبره د اهل سنتو د مشهور و عقائدو نه دهٔ.ځکه چې حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم امتي چې هم د حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په قبر مبارک باندې حاضر شي او سلام اوکړي ، نو حضور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دده سلام اوري او دسلام جواب هم ورکوي ، دغه شان دوصال نه پس هم روضه مبارک باندې حاضري او درود او سلام داسي يو عظيم سعادت دې کوم چې په پوره آدابو سره د حاصلولو کوشش کول پکار دي.

وفقنا الله لزيارة الحبيب المصطفى صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ آمين

وَصَلَّى اللهُ تعالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ

---

(۱) التحفة اللطيفة في تاريخ المدينة الشريفة لامام السخاوي ج۱ص ۲۳۱.

Maktaba Tul Ishaat.com